# د
# افغان ملي تاریخ

لومړی ټوک

لیکوال

قدرت الله حداد "فرهاد"



د ساکانو جنګیالي ۴۰۰۰ تر ۶۰۰۰ کاله د مخه

۱۳۹۰ هـ.ش

ظاهر کتب خانه

آدرس: ندیم مارکیټ ته مخامخ، عظیم مارکیټ

کښې 4 نمبر دوکان، جنګی محله پېښور.

0346-9195875 / 0332-5568531

# د افغان ملي تاریخ


PROPERTY OF
ACKU
23609

ACKU

ليکوال

قدرت الله حداد "فرهاد"

لیندی ۱۳۸۳هش




## د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: د افغان ملي تاريخ

ليکوال: قدرت الله حداد (فرهاد)

مهتمم: افغان اباسين پشدی

خپرونکی: د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز

چاپ ځای: د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز

د چاپ کال: لیندی ۱۳۸۳ هـ ل




د بيا چاپ حق له خپروونکي مرکز سره خوندي دی.



E-mail: scprd@psh.paknet.com.pk



ACKU



افغان پتپال او تهولنپال قدرت الله حداد "فرهاد"
د افغان ملي تاريخ ليکوال

# تړون

دغـه لنډه ليکنه چه د عمر په ډير پاخهٔ پوړکښې مې ليکلې د مست زمري خانګل خان تره خيل په ښکلي نوم تړم.

زما په اويا کلن ژوند کښې دالومړی ځل دی چه دغسې يوښيراز مست زمری پيژنم.هغه څوک چه مست زمری خانګل خان تره خيل په ژنيتوب کښې پيژني، نيک مرغه دي.

همدارنګه په دغه عمر کښې وپوهيدم چه داعليٰحضرت سکندرزمان ، والله، فاتح عادل شاه محمود هوتک ميرمن بي بي صاحب بيګم په شهدای صالحين کښې په ابدي خوب بيده ده .

دا زمونږ معنوي مور ده او دغـه نيک مرغي لرو چه په کابل کښې دهغې په حضور کښې داولاد په توګه حاضري ورکړو.

« ق حـــداد »

## دلیکنو لړلیک


| ګڼه | لیکنه | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | افغان ملي تاریخ | الف – بې |
| ۲. | افغان ملي تاریخ او محترم حداد صاحب | یو-دوه |
| ۳. | دساپي مرکز نه مننه او دساپیانو په باب نوې څېړنه | III-I |
| ۴. | -سریزه – ملي ویښتیا- افغان ځوان ته خبرتیا | V-IV |
| ۵. | دلیکوال په برخه کې | VI |
| ۶. | لویه خدایه | VII |
| | لومړۍ برخه | |
| ۷. | لومړۍ جګړه له انګلیسانو مونږ په خپله وسله وګټله | ۱ |
| ۸. | افغانستان او دوسلې جوړول | ۲ |
| ۹. | دغور وسله | ۴ |
| ۱۰. | افغان جزاییل | ۶ |
| ۱۱. | افغانستان او ۱۹ پیړۍ | ۷ |
| ۱۲. | میکناټن هم په جزاییل ووژل شو | ۱۰ |
| ۱۳. | په لومړۍ افغان انګلیس جګړه کې دانګلیس تلفات | ۱۲ |
| ۱۴. | پولي مصارف | ۱۳ |
| ۱۵. | خانګل خان تره خیل مست زمری | ۱۴ |
| ۱۶. | دجګړې پیل او دبرنس وژل کیدل | ۱۸ |
| ۱۷. | افغانستان او لویه جرګه | ۲۴ |
| ۱۸. | دوزیر محمد ګل خان مومند بابا عکس | ۲۷ |
| ۱۹. | د ۱۳۰۷ کال دلویې جرګې یوه څنډه | ۲۸ |
| | دویمه برخه | |
| ۲۰. | له لرغوني مهالونو | ۲۹ |
| ۲۱. | د غزنوي او غوري امپراتوریو نقشه | ۳۰ |
| ۲۲. | روناوی | ۳۱ |
| ۲۳. | تواریخ او دهیرودتس لیکنه | ۴۶ |
| ۲۴. | دداریوش دیرغل له امله دساکستان لویه جرګه | |

| | |
|---|---|
| ۲۵. پېتليان او ساسانيان | ۵۴ |
| ۲۶. ميرويس نيکه او ايران | ۵۸ |
| ۲۷. دميرويس بابا سياسي ليکونه اوډپلوماسي | ۶۰ |
| ۲۸. ولي پادشاه – افغان شاه محمود عليه رحمه کرمان ته ورسيد | ۶۱ |
| ۲۹. سياست پوه شاه اشرف افغان | ۶۷ |
| ۳۰. شاه اشرف او دترکيې له امپراتورۍ سره جګړه | ۷۱ |
| ۳۱. له ترکانو سره دافغانانو جګړه | ۷۴ |
| ۳۲. دافغان او روس جګړه | ۷۷ |
| ۳۳. دويم سند درشت قرأرداد | ۷۸ |
| ۳۴. شاه اشرف افغان اوسيمه ييز سياست | ۸۰ |
| ۳۵. داشرف اقدس امجداعلی اعليحضرت شاه اشرف افغان څېره | ۸۲ |
| ۳۶. دکپين دبحيرې دغاړو پښتانه | ۸۶ |
| ۳۷. نادر افشار او افغانان | ۹۲ |
| ۳۸. دنادر ليك دشاه حسين هوتك په نامه | ۹۴ |
| ۳۹. له هرمز نه دهالنډيانو او انګليسانو شړل | ۹۶ |
| ۴۰. شاه اشرف افغان او نادر افشار | ۹۷ |
| ۴۱. احمدشاه بابا او ايران | ۱۰۰ |
| ۴۲. داعلحضرت احمدشاه دړ دُران داختر لمونځ د مشهد په جامع جومات کې | ۱۰۲ |
| ۴۳. دامپراتورۍ نقشه | ۱۰۳ |
| ۴۴. امپرا تور تميور شاه دُر دُران او ايران | ۱۰۸ |
| ۴۵. فارسي ژبه | ۱۱۰ |
| ۴۶. دأمپراتور تيمور شاه دربار | ۱۱۱ |
| ۴۷. دافغانستان غربي ولايات | ۱۳۵ |
| ۴۸. دايران شهزادګان په کابل کې | ۱۳۷ |
| ۴۹. دامپرا تور تيمور شاه پېژندنه | ۱۴۰ |
| ۵۰. سرجان مالکم دانګليس سفير په ايران کې | ۱۴۴ |
| ۵۱. ناصر الدين شاه قاجار او افغان سيدجمال‌الدين | ۱۵۱ |

ACKU

| | |
|---|---|
| ۵۲. دایران دتاریخ لیکلو څو بېلګې | ۱۵۴ |
| ۵۳. دافغانستان او ایران داړیکو بهرنۍ خواوې | ۱۵۷ |
| ۵۴. ملي یووالی او تاریخي پیښلیك | ۱۶۳ |
| ۵۵. پښتون قومونه :- پښتانه | ۱۶۶ |
| ۵۶. پاکتیا،پکتانه،پکتون | ۱۶۸ |
| درېیمه برخه | |
| ۵۷. دافغان ملي تاریخ | ۱۷۵ |
| ۵۸. دکتاب لارښود | ۱۷۶ |
| ۵۹. دلرغوني تاریخ په لټه کې انقلاب | ۱۷۸ |
| ۶۰. دپښتون اړه له لرغوني تاریخ سره | ۱۹۰ |
| ۶۱. سومري خطه | ۱۹۱ |
| ۶۲. پښتانه او دنړۍ تاریخ | ۱۹۲ |
| ۶۳. دسیستان مدنیت | ۱۹۴ |
| ۶۴. احسانمن دخپل خالق خوشحال ختك | ۱۹۶ |
| ۶۵. دافغان ملي سیمه | ۱۹۷ |
| ۶۶. دویم ملي غورځنګ | ۱۹۸ |
| ۶۷. درېیم ملي غورځنګ | ۱۹۹ |
| ۶۸. دغزني خوځښت دملي دولت په لور | ۲۰۲ |
| ۶۹. سلطان محمود څنګه سړی و | ۲۰۹ |
| ۷۰. دکراماتو خاوند سلطان | ۲۱۳ |
| ۷۱. غزنویان اوملي تکل | ۲۱۹ |
| ۷۲. درېیم ملي تکل غور او غوریان | ۲۲۰ |
| ۷۳. دغوریانو جرړې، ونه او څانګې | ۲۲۲ |
| ۷۴. اوسنی تاریخي نظر او په دې برخه کې انقلاب | ۲۲۵ |
| ۷۵. سیف الدین سوري | ۲۲۷ |
| ۷۶. خرمیلان اود پیلانو جنګ | ۲۳۰ |
| ۷۷. علاوالدین غوري | ۲۳۱ |
| ۷۸. سلطان سلاطین غیاث الدین | ۲۳۴ |

| | |
|---|---|
| ۷۹. سلطان معز الدين | ۲۳۷ |
| ۸۰. لودي سکندر | ۲۴۱ |
| ۸۱. دمېړني آزاد خان افغان په آذربايجان کې مشري | ۲۴۳ |
| ۸۲. آزادخان او احمد شاه بابا | ۲۴۹ |
| ۸۳. سرخاني خان الکوزی دداغستان واکدار | ۲۵۳ |
| ۸۴. دپښتنو تاريخ دمېړنو تاريخ دی | ۲۵۷ |
| ۸۵. دبي بي زينبې ناري اود هغو اغېزه | ۲۶۱ |
| ۸۶. دمېړنو ياد اودرناوی | ۲۷۰ |
| ۸۷. دمېړنتوب او عياري، معاصر | ۲۷۴ |
| ۸۸. دپښتنو تاريخ دمېړنو تاريخ دی | ۲۷۸ |
| ۸۹. دغور ولايت | ۲۸۰ |
| ۹۰. ضحاك- سهاك | ۲۸۳ |
| ۹۱. مشالي شخصيت سلطان سکندر لودي | ۲۸۷ |
| ۹۲. اسلام او افغاني هويت | ۲۹۶ |
| ۹۳. افغانستان دچاپه اعتبار افغانستان دی | ۱۹۷ |
| ۹۴. دروسي کورني کمونستانو وار د ۱۳۵۷ دغوايي په اوومه | ۳۰۰ |
| ۹۵. دروسانو راتګ افغانستان ته | ۳۱۸ |
| ۹۶. اسلامي مجاهدين او دهغوی حکومت | ۳۳۹ |
| ۹۷. سوړ جنګ-دافغانستان قرباني کېدل | ۳۶۶ |
| ۹۸. پښتو ژبه او افغانستان | ۳۶۹ |
| ۹۹. اعليحضرت تيمور شاه او شل کاله دامپراتوری ساتل | ۳۷۴ |
| ۱۰۰. اعليحضرت شازمان | ۳۷۹ |
| ۱۰۱. افغانستان اود هغه تاريخي ژوند | ۳۹۵ |
| ۱۰۲. دافغان او انګليس درې جګړې | ۳۹۷ |
| ۱۰۳. حربي اتلولي او دهرات دفاع | ۳۹۹ |
| ۱۰۴. لوی افغانستان | ۴۰۴ |
| ۱۰۵. دلوی افغانستان نړېدل | ۴۰۶ |
| ۱۰۶. ملي پاخون او دانګليسانو شړل | ۴۰۸ |


ACKU

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۷. | دشاه زمان وروستی احوال | ۴۱۳ |
| ۱۰۸. | مکناټن ووژل شو او دده مړی دکابل په چوک کې وځړول شو | ۴۲۱ |
| ۱۰۹. | داحمدشاه بابا کورنۍ | ۴۳۱ |
| ۱۱۰. | دوزیر محمد اکبر خان لیك دشاه فتح جنګ په نوم | ۴۳۴ |
| ۱۱۱. | داحمد شاه بابا له کورنۍ سره دخلکو مینه | ۴۳۸ |
| ۱۱۲. | دشاه شجاع دحالاتو تحلیل | ۴۴۱ |
| ۱۱۳. | بارکزي او محمد زي | ۴۴۴ |
| ۱۱۴. | دشاه شجاع او امیر دوست محمد پرتله کول | ۴۴۶ |
| ۱۱۵. | ددوست محمد تسلیمیدل او افغان ملي تاریخ کې ترخه خاطره | ۴۴۸ |
| ۱۱۶. | دموهن لال اوبرنس کتنه له امیر دوست محمد سره | ۴۵۲ |
| ۱۱۷. | دخیبر له درې هاپلو یوه لاره دانګلیسانو دبدمرغۍ دافغان او انګلیس لومړۍ جګړه | ۴۵۵ |
| ۱۱۸. | دخیبر ها خوا یوه لار دانګلیس دبدمرغۍ دکتاب لنډه نتیجه | ۴۵۸ |
| ۱۱۹. | له شاه شجاع سره دبرنس کتنه | ۴۶۰ |
| ۱۲۰. | انګلیسان ولې وتلو ته مجبور شول؟ | ۴۶۱ |
| ۱۲۱. | دلوی افغانستان نړېدل او محمد زاییان | ۴۶۹ |
| ۱۲۲. | دختیځ افغانستان انګلیسانو ته سپارل | ۴۷۷ |
| ۱۲۳. | دافغان انګلیس دویمه نښته | ۴۸۲ |
| ۱۲۴. | دافغان -انګلیس هنګامه | ۴۸۶ |
| ۱۲۵. | درېیم جنګ له انګریزانو سره | ۴۹۷ |
| ۱۲۶. | دخپلواکۍ اعلامیه | ۴۹۹ |
| ۱۲۷. | دنادر خان راتګ او دهغه پاچا کېدل | ۵۱۴ |
| ۱۲۸. | محمد ظاهر شاه | ۵۲۲ |
| ۱۲۹. | تبلیغات له هرې خوا پیل شول | ۵۳۰ |
| ۱۳۰. | دسردار محمد داود راتګ دصدراعظم په توګه | ۵۳۱ |
| ۱۳۱. | دویمه دیموکراسي او اساسي قانون | ۵۳۶ |


ACKU

| | | |
|---|---|---|
| ۱۳۲. | دلرم درېیمه نېټه | ۵۴۱ |
| ۱۳۳. | اساسي قانون او پښتو ژبه | ۵۴۴ |
| ۱۳۴. | دپاکستان زړېدل | ۵۵۰ |
| ۱۳۵. | سردار محمد داوود او دده جمهوریت | ۵۵۲ |
| ۱۳۶. | داعلیحضرت محمد ظاهر شاه دوره او دابدالي دولت ختمیدل | ۵۶۸ |
| ۱۳۷ | چرخ افغان | ۵۷۳ |
| ۱۳۸. | دمرو ې او پنجد ې خبرې | ۵۷۹ |
| ۱۳۹. | دافغان او انګلیس دویمه جګړه | ۵۸۱ |
| ۱۴۰. | دافغان دملي تاریخ دپای خبرې | ۵۹۵ |
| ۱۴۱. | ژوندی مأخذ | ۶۰۴ |
| | دافغان ملي تاریخ ضمیمې | |
| ۱۴۲. | دهیرورټس تواریخ اوپښتون | ۶۱۴ |
| ۱۴۳. | دکوروش مرګ په افغانستان کې | ۶۱۷ |
| ۱۴۴. | سکائیان او داریوش | ۶۱۹ |
| ۱۴۵. | افغان - پښتون او دهغه تاریخي څېړنه | ۶۲۸ |
| ۱۴۶. | افغانستان دسیاوون په لور | ۶۳۰ |
| ۱۴۷. | کاسي پښتانه او بابل | ۶۳۶ |
| ۱۴۸. | کوشانیان | ۶۴۱ |
| ۱۴۹. | هیتالیان- یفتلیان | ۶۴۶ |
| ۱۵۰. | دملي تاریخ ترښت | ۶۵۲ |
| ۱۵۱. | تواریخ اوپښتون | ۶۵۶ |
| ۱۵۲. | سور،سریانی ، آشور | ۶۵۹ |
| ۱۵۳. | سکائیان- ساك | ۶۶۵ |
| ۱۵۴. | لویه جرګه او دهغې ضرورت | ۶۶۶ |
| ۱۵۵. | کاسیان | ۶۶۸ |
| ۱۵۶. | خلقت اوپښتون | ۶۷۰ |
| ۱۵۷. | افغان | ۶۷۳ |
| ۱۵۸. | دپام وړخبرې | ۶۷۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۵۹ . | شا او خوا حالات | ۶۷۷ |
| ۱۶۰ . | بوداق کندهاری اودملي يووالي غبږ | ۶۸۰ |
| ۱۶۱ . | خپلواك هرات | ۶۸۵ |
| ۱۶۲ . | د ابدال کلزايي اوګوډ تيمور خبرې | ۶۸۹ |
| ۱۶۳ . | محمد زشکي او تيمور | ۶۹۲ |
| ۱۶۴ . | سکائيان او پارس | ۶۹۴ |
| ۱۶۵ . | دطالبانو تکل او جګړه | ۶۹۷ |
| ۱۶۶ . | دافغانستان سياسي اودينې – مذهبي دريځ | ۷۰۰ |
| ۱۶۷ . | داوسنيو حالاتو کره کتنه | ۷۰۱ |
| ۱۶۸ . | طالبان څوك دي له کومه شول ؟ | ۷۰۳ |
| ۱۶۹ . | طالبان او ملي حاکميت | ۷۰۵ |
| ۱۷۰ . | طالبان او پاکستان | ۷۰۷ |
| ۱۷۱ . | ايران او طالبان | ۷۱۰ |
| ۱۷۲ . | پښتانه او دنړۍ نورې برخې | ۷۱۳ |
| ۱۷۳ . | نوی افغانستان | ۷۱۵ |
| ۱۷۴ . | يامستعان دتاريخ په لټه کې | ۷۲۰ |
| ۱۷۵ . | اتلسمه پېړۍ دټولوملتونو دپاره د غرور او خوشحالۍ پېړۍ | ۷۳۰ |
| ۱۷۶ . | څلورم ملي غورځنګ | ۷۴۳ |
| ۱۷۷ . | په تاريخ کې چوپتيا | ۷۴۸ |
| ۱۷۸ . | افغاني اسلام | ۷۴۹ |
| ۱۷۹ . | خوشحال خان | ۷۴۹ |
| ۱۸۰ . | دلومړي تکل اتلان | ۷۵۲ |
| ۱۸۱ . | ميرويس نيکه | ۷۵۳ |
| ۱۸۲ . | شاه محمود افغان | ۷۶۲ |
| ۱۸۳ . | دافغانانو بريد پر ايران باندې | ۷۶۳ |
| ۱۸۴ . | داصفهان فتح | ۷۶۵ |
| ۱۸۵ . | شاه اشرف افغان | ۷۶۹ |
| ۱۸۶ . | افغانان روسانو ته هم ماته ورکوي | ۷۷۳ |


ACKU

| | | |
|---|---|---|
| ۱۸۷. | یو بل افغان تاریخي ستوری | ۷۷۶ |
| ۱۸۸. | شاه محمود هوتك دهالنډ دکمپنۍ په راپورونو کې | ۷۷۹ |
| ۱۸۹. | شاه محمود ولي الله و | ۷۸۶ |
| ۱۹۰. | دایران دفتح په دوران کې ـ افغان حربي اتلان، سیاستمداران او اداري شخصیتونه | ۷۸۹ |
| ۱۹۱. | احمد شاه بابا دتاریخ چوپتیا ماته کړه - دافغانستان نوې امپراتوري | ۷۹۷ |
| ۱۹۲. | داحمدشاه بابا ټاکل کېدل | ۸۰۲ |
| ۱۹۳. | پښتانه او بلوڅ | ۸۰۶ |
| ۱۹۴. | داحمد شاه بابا دویم حربي سفر ۱۷۴۸ ع | ۸۰۹ |
| ۱۹۵. | آزاد خان افغان په اصفهان کې سکه ووهله | ۸۱۴ |
| ۱۹۶. | ولې احمد شاه بابا بنګال ته لاړ نه شو ؟ | ۸۲۰ |
| ۱۹۷. | داحمدشاه بابا شخصیت دافغان دپاره سرمشق | ۸۲۵ |
| ۱۹۸. | احمد شاه بابا او هندوستان | ۸۳۷ |
| ۱۹۹. | زرغونه انا او ددې سبق | ۸۳۸ |
| ۲۰۰. | دمیرویس نیکه سیاست | ۸۴۱ |
| ۲۰۱. | دوه لارې | ۸۴۹ |
| ۲۰۲. | پښتون دافغان ملي تاریخ کې | ۸۵۰ |
| ۲۰۳. | دپکتیسیا خاوره Pactycia | ۸۶۳ |
| ۲۰۴. | دپارس دساماني پادشاه فیروز مرګ دیفتلې پادشاه له خوا | ۸۶۴ |
| ۲۰۵. | چې نه کوي ؛ نو څه کوې ؟ | ۸۶۹ |
| ۲۰۶. | لومړني ملي نهضت ته تاریخي کتنه | ۸۷۴ |
| ۲۰۷. | دامیر خلف صفار حکم | ۸۷۷ |
| ۲۰۸. | لومړنی ملي تکل - اسلام او لوی افغانستان | ۸۷۸ |
| ۲۰۹. | سکزیان یا صفاریان | ۸۸۰ |
| ۲۱۰. | ساك ، ساکستان، سکیستان- سیستان | ۸۸۷ |
| ۲۱۱. | پارسي، فارسي یا دري ژبه | ۸۹۱ |
| ۲۱۲. | یعقوب لیث کوم اصول مونږ ته پرېښودل | ۸۹۷ |

# "افغان ملي تاريخ"

په دې کې شك نشته چې پښتنو خپل تاريخ ليکنو ته هېڅ پاملرنه نه ده کړې او د پېړيو د پوړيو په ترڅ کې د مېړني ژوندانه د پښتو پته نه لګيږي. د هېرودتس (۵۰۰) ق.م نه پس او د بابر (۱۵۰۴) نه وړاندې د (۲۰۰۰) کالو اوږده زمانه د پښتنو د تاريخي معلوماتو په هکله په اصلي معنو کې شنډه ده او داسې تاريخي معلومات په لاس نه راځي، چې د هغې نه د پښتنو مختلف اړخونه څرګند شي. له دې کبله دوی خپل هويت ته ډېر پر دي آن، چې له ملي هويت او له ځان څخه پردي شويو ته يې د ځان وريېژندلو زړه هم نه دی کړی، چې ورته ووايي زه څوك يم؟ او نور تر دې اندازې چالاکه دي، چې د دربارونو د پستو ګديو د ګټلو په لاره کې يې دوی په شا تېپولي او د اتلانو او سرښندونکو په تشو نومونو دېته هڅول شوي، چې د جګړې دوزخي اورونو ته وردانګي، په دې کې يې زړۀ نه دی وهلی، چې د څه او چا لپاره مري، سرونه دوی پرې قربان کړي او دربارونه يې پرديو او ميلمنو ته دوه لاسي ډالۍ کړي دي او په خپله يې د دربارونو په دروازو کې د نورو څوکيداري کړيده :

هغه د شاعر خبره :

چې ميدان د خونريزۍ شي، دی په شا تېپول کيږي
بيا له ځانه خبر نه وي برابر ځي روانيږي
پروا، نه کړي که برباد شي يا په بده ورځ قتليږي
نور څه نه لري په کور کې مېړنی د هر ميدان دی
دا افغان دی، دا افغان دی، دا افغان دی
دا چې هر چاته په مخکې تيارسۍ او خدمتګار دی
چې د مرګ او خون موقع وي نو همدی ورته په کار دی
خو چې وار د عزت راشي بيا هغه د نورو کار دی
دا چې بل ته حلاليږي بې خبره له خپل ځان دی
دا افغان دی، دا افغان دی، دا افغان دی دا افغان دی

دوی خپله توره په عمل کې ښودلې ده، خو په ليکلي توګه يې نه په خپله ورته زړه کړی دی او نه د نورو ورباندې پيرزوينه شويده، چې په تاريخ کې يې د هويت قدامت خوندي

پاتې شي. همدا علت دی،چې چا د تعصب له مخې بني اسرائیل بللي او چا ورته اریایان ویلي دي او چا بیا نور څه ګڼلي دي. یوازې دا نه،چې د دوی هویت ته یې د شك او تردید په سترګه کتلي،بلکې هڅه یې کړېده،چې په پوره سپین سترګۍ د دوی د استوګنې له اصلي ټاټوبي څخه منکر شي.

دا ورته کسر شان ښکاري،چې د سوس او اکسوس او ام البلاد دغه بومي او اصلي اوسېدونکي د افغانانو د هېواد اصلي وارثان وبولي، چې اوس د همدغو متعصبینو اولاده ځانونو ته په افغان ویلو شرمېږي او ځان ته افغانستاني وایي. حال داچې افغانستان د افغانانو ستر ملي کور او ټاټوبی دی او څوك،چې په دغه هېواد کې میشته وي هغه د افغان په نامه یادېږي. بخد، بخدي، پکتي او بلخ دغه د هېوادونو او بلادونو مور د تمدنونو د لېږدېدنې لرغونې سرچینه او د پنځېدنې لومړنۍ زانګو او ټاټوبی دی.

له دې څخه متعصب ترین اشخاص هم سترګې نه شي پټولی،چې جمشید او کنشکا د سروبیرغونو تر رپا لاندې د اریایانو په همدغه ټاټوبي کې د واکمنۍ په ګډۍ ناست او د خپل هویت او ماهیت دغه عظیم نښان یې رپانده ساتلی دی. دوی په ژمي کې پېښور ته لېږدېدلي او هلته یې واکمني کړې او په دوبي کې،چې هوا توده شوېده د خپلې واکمنۍ تخت یې دلته افغانستان ته رالېږدولی او په افغاني غرور او شهامت یې خپلې واکمنۍ ته دوام ورکړیدی. دا چې د پښتنو تاریخ داسې چا لیکلی دی،چې د پښتو او پښتنو سر سخت دښمنان وونو د خپل باطني خبث له امله یې د پښتنو د ژوندانه ډېر د ویاړ وړ اړخونه په تیاره کې پرېښودلي او د تعصب تر ګردونو، دوړو او غبار لاندې یې پټ ساتلي دي. په دې کې شك نشته چې :

"په پرون کې د مادي، شعوري او سلیقه یې تفاوتونو او اختلافونو څخه راپیدا شویو حوادثو علمي تحلیل او بیان، تاریخ دی"نو کوم شی،چې دروند پښتون محترم قدرت الله حداد فرهاد"د "افغان ملي تاریخ" په نامه راټول کړیدی د همدغو پېښو ډېر ښه تحلیل او بیان دی. خدای دې حداد صاحب ته خیر ورکړي،چې دغه ستر ملي کار یې په پوره ایمانداری او امانتداری،ترسره کړی دی. ده ته په دغه لاره کې د زیات بریالیتوب او توفیق هیله من یم.

د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز د موسس په توګه د "افغان ملي تاریخ" چاپ کولو له امله د مرکز د کار کوونکو له زیار څخه خوښي څرګندوم او په دغه برخه کې یې لا بریالیتوب غواړم.

امام الدین ساپی

# افغان ملي تاريخ

# او

# محترم حداد صاحب

"افغان ټولنپال ولسواك ګوند"چې افغانستان ته په پرديو نظريو سمبالو مزدورانو او بهرنو ګټو خوندي كولو ته استخدام شوو وطن پلورو عناصرو له خوا د ښي او ګيڼ افراطيت باندونو د تشكيل او د دې مفسدو عناصرو له خوا د خپلو سرو او تورو بادارانو په ګټه درمباړو په عكس العمل كې د وطن د يو اصيل او صالح بچي ربتيني خدمتګار (ارواښاد ديپلوم انجنير غلام محمد فرهاد) په مشرۍ د يوې ډلې وطنپالو او مسلمانو افغانانو له خوا جوړ او بې ځنډه يې د پرديو ايډيالوژيو په طوفان كې د اسلام د مبين دين په چوكاټ كې د افغاني مفاداتو ملي،ارمانونو،كلتور او تاريخي پولو د تحفظ اواز پورته او افغانانو ته يې د دې طوفانونو او ملي غدارانو د ناروا عزايمو د تباه كوونكو عواقبو نه خبرداري وركړ،چې په دې لار كې د دوی شريف او وطنپال ورور محترم قدرت الله حداد ټول شخصي مصروفيات شا ته او دې ملي دندې ته يې اوږه وركړه. د ګوند د نشراتي ارګان (افغان ملت) د مسوؤل مدير په صفت يې دغه ملي جريده په ډېرې ايمانداری، خلوص او د وطن پالنې په عالي روحيه په برياليتوب وچلوله او په دې ترڅ كې يې په ګوندي تنظيم ، مختلفو حزبي چارو كې يې هم فعاله ونډه واخيسته. دغو يې د كرغېړنې كودتا نه وروسته يې خپله مبارزه لاهم ګړندی كړه،چې د وحشي رژيم د زندان د تورو تمبو شا ته كړای شو.له بند نه د راخلاصېدو وروسته يې د هجرت لارونيوله او په پېښور كې يې د مهاجرو ګوندي ورونو مشري په غاړه واخيسته او خپل ملي رسالت يې سرته ورسولو. دا،چې حداد صاحب د يو ملي، مسلمان او درونډ پښتون شخصيت په صفت يو تاريخ پوه افغان دی او په مشخص ډول د افغانستان د ملي تاريخ په برخه كې پراخه مطالعه، معلومات او ملي نظريات لري او په دې لړ كې يې ډېرې ژورې څېړنې او ليكنې كړي دي،چې هم پر كتابي شكل چاپ او هم د خپل ګوندي اخپار (افغان ملت) او نورو افغاني خپرونو په وسيله نشر شوي دي، چې"د افغان ملي تاريخ"دغه اثر يې تر ټولو

مکمل، مدلل په حقايقو مبني او هر اړخيز دی،چې زمونږ د ملي تاريخ د هر تياره اړخونه يې پخپل قوي استدلال تاريخي شواهدو، مستندو علمي ميتودونو روښانه کړي دي،چې افغاني روڼ اندو، ملي عناصرو او وطنپالو افغانانو ته د ستمي فساد په دې کثيف ماحول کې د روښانه مثال په څېر دی. حداد صاحب ته د دې ارزښتناك اثر په تهيه کولو او افغاني ټولنې ته په وړاندې کولو، مبارکي ورکوم، کوروداني ورته وايم هيواد او افغاني ټولنې ته د لازياتو خدمتونو توفيق ورته له خدايه غواړم.«آمين».

شمس الهدا شمس

# د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز نه مننه او د ساپيانو په باب نوې څېړنه

د لوی خدای په نامه دا دی د "افغان ملي تاريخ" کتاب د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز په پاملرنې چاپ شو.
د دغه مرکز جوړوونکی او چلوونکی غښتلی امام الدين ساپی څو کاله د مخه زما "د ملي تاريخ فلسفه او پښتونولي" رساله په خپل هاند او خرڅ چاپ کړه،چې ډېرو تومن والو ولوستله، پر دغې رسالې ډېرې خبرې وشوې او د مخالفينو ما في الضمير د پښتنو په باب ښرګند شو. دغه مرکز ته ډېر ليکوال او پوهان راغلل او خواره شول. له ښې مرغې اوس غښتلی ليکوال هلته دی د دوی د کار اهميت په دې کې دی،چې کوم دولت د پښتو دپاره کار نه کوي او خپله پښتنو د دغه کار دپاره ملاتړلې ده. دا هم په تاريخ کې يو پړاو دی.
د افغان ملي تاريخ به نيمګړتياوې ډېرې لرې بيا هم له ډېرو آثارو کار اخستل شوی دی. د پښتنو پر تاريخ باندې لاډېر کار په کار دی.
پښتو او پښتونولي د کوم نژاد،نسل يا کول ميراث نه دی.دا د دريو مدنيتونو ميراث دی،چې څښتن تعالی دې دغه ميراث ميرات نه کړي،ځکه له سور، ساګ،پاکت دغه ميراث راپاتې دی. پښتو ويل، پښتو کول، پښتو ساتل د هر هغه سړي کار دی،چې له بشري لوړو مدنيتونو سره مينه لري. ګرشاه سب (غرغښت)، حکيم بيتني او سړبن نوم د استاد احمد علي کهزاد د څېړنو له مخې، په اوستا او بنداهش زړو کتابو کې راغلی دی "بودلف" آرمن شاه، موئيد بلخي او حکيم اسدي توسي بيا نامتو مؤرخ احمد علي کهزاد د پښتنو د دريو نيکه ګانو په باب دومره کار کړی،چې بل چا نه دی کړی او همدغه دليل دی،چې پښتو د نسل خبره نه ده د مدنيت خبره ده او مدنيت بشري ميراث دی.
له پښتو ويل سره پښتو کول په کار دي او پښتو ساتل،چې اوس ډېرو لفظي پښتنو دا کار پرېښودلی دی.
اوس ۱۳۸۳ لمريز کال دی، مونږ هغه پښتانه وينو،چې پښتو ويل، کول او ساتل يې تر خپلو ګېډو ښه بللي دي او هغوی هم وينو،چې پښتو پښتونولي يې د ګېډې دپاره خرڅه کړې ده، خو په دې باوري يو،چې پښتو به وساتل شي او تل به وي.

دلـــته کـــار د افلاتـــون د تدبیـــر نشـــته
کاروبـــار د عشـــق کیـــږي پخپـــل ســـر

د سیستان په تاریخ کې د ګرشاسب له خولې راغلي دي : "مونږ به داسې ښار جوړ کړو چې د خلکو دپاره اسامه (د پناه سیمه) وي او څلور زره کاله به پاتې وي، څلور زره کاله وروسته به محمد ص خپل دین څرګند کړي مونږ به د هغه پر دین ولاړ یو".

**ساپیان** Sapian :-

د پښتنو هره څانګه یو تاریخ لري،چې د هغو ټولو څېړل ډېر کار ته اړ دی. سور، ساک-پاکت، اور، متاني، لودي، هاتیك (هوتك) هر یو یې د یو مدنیت پورې تړلي دي،چې دېرش زره کاله یې نیولي دي. ما په خپلو رسالو کې پر هغو خبرې کړي دي،خو د ساپیانو خبره به اوس وکړم،چې دغه کتاب اوس په لاس راغلی دی. له همدغې موقع نه په ګټه اخستلو دا دی د هغه شرح په ۲۰۰۲م کې د امریکې د تاریخي کتابو د موسسې له پلوه یو کتاب چاپ شو. د کتاب نوم دی "لرغوني مدیترانه" د نړۍ یوه پیاوړې تاریخپوه دغه کتابِ لیکلی دی. د کتابِ له نامه داسې نه ښکاري،چې کتاب به د افغانستان په باب مطالب لري، مګر اړوند؛خبرې په کې ډېرې دي. دغه لیکوال او تاریخ پوه میخاییل کرانت نومیږي په څو پوهنتونو کې د پروفیسر یا پوهاند په توګه کار کوي.د ده له کتابو پنځوس کتابونه ډېر شهرت لري.

پښتانه څوك له یوې څانګې بولي څوك له بلې ډېرو ویلي،چې پښتانه بني اسرائیل دي. په اسرائیلو کې مذهبي خلك همدغې خبرې ته پکې وهي،چې یو یې صدراعظم بیګین هم دی،خو پوهان داسې نه کوي، چې د دغه کتاب لیکوال بل څه وایي : که څه هم دې یهود دی د کتاب په نهم مخ کې لیکي "د سپینز Speines یوه څانګه د Homo Sapiens یا ساپینز ده،چې چېرته د آسیا په شمال لویدیځ کې سره یوځای شوی وو. په پای کې د لویدیځ په لوري خوځېدلي او اروپا ته داخل شوي.دیرش زره کاله د مخه ترمیلاد ٥ . دغه ساپینز Sapiens لکه اولني خلك هوښیار او ښکلي وو.ورو ورو یې په انساني ژوند کې بدلون راوست او وسله او سامان یې جوړ کړو. ځینې خلك فکر کوي دغه نوم فرانسوي دی. دا په هېڅ وجه نه شي کېدای کومې نخښې نښانې،چې ایټالیې، یونان او افغانستان کې لیدل شوي."

"د کرنې دانې،غنم او نوره غله کسپين ته رسيدلې داسې فکر ګيږي،چې اصلي ځای يې افغانستان وي" (ديارلسم مخ). "له بين النهرين سره تجارت له ختيځ افغانستان سره موجود و او قيمتي ډبرې تاجرانو راوړې." ۸۴ مخ.
کله،چې د ختيځ افغانستان خبره وي او هغه خلك Sapiens ساپينز نوميږي او د پرش زره کاله د مخه وي،نو څه ګرانه خبره نه ده،چې همدغه ساپيان وي.
ما دلته د پوهاند ميخاييل کرانت نوم او کتاب وښود هرڅوك يې کتلی شي بيا د دې ساپيانو سراسپانيې نه را پورته کيږي .
په پای کې يو ځل بيا له امام الدين ساپي او د ساپي له مرکز نه مننه کوم او د دغو غښتلي قتيل صاحب او خليل جان مرستې د ستاينې وړ دي.
له محترم شمس الهدا شمس صاحب او محترم افغان اباسين څخه هم ډېره مننه. په پای کې هيله من يم،چې دغه کتاب او معلومات به د ټولو پښتو ښېرونکو دپاره ګټور وي.

ستاسو
ق. حداد

# سريزه

# ملي ويښتيا

# افغان ځوان ته خبرتيا

په دې حالاتوکښې افغان ځوانان په بيړه کښې دي، خدایځ لري!
ځوک دځوب دپاره ځې کوي، ځوک بيا ودانولو ته ځارودي. زۀ چه دژوند پاېناب ته رسيدلی يم؛هم په بيړه کښې يم.

که په څه پوهيږم او هغه ونه ليکم دغه معلومات به له ماسره يوځای نشت شي او که بې وليکم شتون شي.

داجزاييل ټوپک چه دامپراتور تيمورشاه په آهنګر خانه کښې جوړ شوی ؤ خو تر اوسه خبرې نه دي پرې شوې؟ که وي کومه کرښه به وي.مست زمری خانګل خان تره خيل ولې درسي کتابوته نه ؤ راغلی؟ او داسې نور.په دې لنډه ليکنه کښې چه پراسنادو ولاړه ده اوځای په ځای ياد شوي،دکابل جنګ . مست زمری، جزائيل او لويه جرګه ليکل شوې داځوارلس کاله وشول چه امريکه کښې يم. څه کم اته کاله پښېبور کښې ؤم. اتلس مياشتې پلځرخي.... له دې يادونې مطلوب دادی چه څه مې ليدلي ، لوستي اوريدلي ، غواړم هغه وليکم.

امريکا کښې دهيواد د مشرانو پيژندل اودرناوی دهرامريکايي دنده ده . انګليسي ژبه دامريکا درپي ( بيرغ) درناوی وروسته له هغه امريکايي بلل کيږي او تابعيت ورکوي.

زمونږ په افغانستان کښې سربيره پرنورو تاريخي مشرانو دميرويس نيکه او احمد

شاه بابا پيژندنه او درناوى دهر افغان وظيفه ده . هر افغان بويه په پښتو پوه شي. يوڅه ليک او لوست وكولاى شي . ماچه دملي تاريخ فلسفه او پښتونولي وليكله ستميانو يوكال داميد په اخبار كښې را پسې وليكل. او فاشست يې بللم . ما ورته وليكل پښتون دنژاد نوم نه دى. دا ديوې ژبې اويوهٔ عمل نوم دى.په ختمه پښتانه څو سود ميليونه دي؛ خو په ژبه اوكردار نه دي. مونږ يې پښتانهٔ نه شو بللاى.

او خوشحال خټک خبره روښانه كړې ده.

چه پښتون شوم په داهسې سپينه ږيره

خداى مې بيا مه كړه مغول وايم په ځيره

دلته دخوشحال مطلوب دادى: دهٔ چه مغلوته كاركاوۀ؛ مغل ؤ.اوس يې چه پښتنوته كوي؛ پښتون دى.

# د ليكوال په برخه كښې

له خيبره هاخوا كتاب دجان ويلر له خواليكل شوى. دغه كتاب په دې ډير مهم دى چه دكتاب ليكوال ددغه كتاب په ليكلو كښې ډير كتابتونونه لټولي. په لندن او ډهلي كښې يې دبهرنيو چارو د وزارتونو اسناد له آرشيفه اخستي او لوستي يې دي. بريټش موزيم ته تللى، په هند كښې يې موزيمونه او اسناد ليدلي. هغه شخصي ليكونه يې ليدلي چه ځينو افسرانو خپلو كورنيو ته ليږلي.

دده معلومات دافغان انگليس دلومړۍ جگړې په برخه كښې لومړى لاس معلومات دي. جان ويلر په ډيرو هيوادو كښې سفارتونه درلودل. اوس هم ژوندى دى.

دده كتاب دومره له كتابونه دى ليكل شوى لكه چه له اسنادو.

دده مخه چانه شود نيولى، ځكه د سي آى اى مرستيال ؤ. نه ورسره پيسې لږې وې نه وسايل. دى هغه خوار ليكوال نه ؤ چه په بايسكل به كتاب خانوته روان ؤ او دغرمې ډوډۍ به يې نه درلوده.

كوم تصويرونه چه دده اخستي، هغه همدا دده په كتاب كښې خواره شوي. دده دامريكې دولت ته دافغان - انگليس دلومړۍ جگړې يو بشپړ منظر وركړى. كه چيرې داځمنو چه په نولسمې پيړۍ كښې دافغانستان او انگليس صنعتي مهارت يو برابر ؤ، بيا به دا خبره هم ومنو چه هغوئ په سياست چليدلي او زموږ مشران له ځان او جهانه بې خبره ؤ. كوم معلومات چه امير دوست محمد د نړۍ په باب درلودل په دې كتاب كښې راغلي حتى نه پوهيدچين څه ډول يو هيواد دى اوبرنس نه يې معلومات غوښتل.

# لویه خدایه!

په دې لنډه لیکنه کښې دلوستونکو پاملرنه یوې یاڅو غوره خبروته را اړوم.
مخکښې تردې چه خپلو بنستیزو خبروته راواوړم؛څو وړې خبرې دلته لیکم چه څنگه دغو پاینابوته رسیدلی یم ؟

زهٔ دامپراتور تیمورشاه په آهنگرخانه کښې زیږیدلی یم او هغه دکابل دبالاحصار په خواکښې ود.

امپراتور تیمورشاه غازي به پخپله آهنگرخانې ته راتی اوله استادانو سره به یې خبرې کولې.

پښتان یا آهنگران د هغه مهال لوړ خلک ؤ. ( هرڅوک چه پوزه توره کړي پښ نه دی)
دوئ دخپل مهال هغه صنعتگر ؤ چه ددوئ مهارت به له انگلیسانو ولولو چه هغوئ دجزائیل ضرب لیدلی او ډزیې اوریدلی دی.

دپښانو دغرمې ډوډۍ له شاهي آشپزخانې یاپخلنځي راتله. تیمورشاه هم دوئ سره ډوډۍ خوړه. زهٔ چه دآهنگرانو کوڅه کښې گرځیدم دوو خبروته مې پام ؤ.
دوئ پښتانهٔ ؤ – دوئ مغرور ؤ.

وروسته دعزیزالدین وکیلی فوفلزایی په کتاب کښې ولوستل شول.
چه ددوئ استاد دامپراتور تیمورشاه درانی په زمانه کښې یوسړی ؤ چه په قوم ساپی ؤ او استاد پاینده خان نومیدهٔ. داحمدشاه بابا په وخت کښې استاد تره بازخان ؤ. چه پوه سړی ؤ.

له هغه مهاله چه پښتوب ویاړ ؤ او ویل یې: هرچاچه پوزه توره کړه آهنگر نه دی.
ترهغه مهاله چه زما خپلو ملگرو ماته پښ او ښار ( په حقارت) ویل ډیر توپیرؤ.

# لومړۍ برخه

## په دې ليکنې کښې دغه وينا وې راغلي دي:

۱- جزائيل ټوپک چه د امپراتور تيمورشاه په آهنگر خانې کښې جوړيدل .

۲- د افغان انگليس دلومړۍ جګړې تصوير .

۳- ملی اتل مست زمری خانګل خان تره خيل .

٤- زړه او نوې موضوع لويه جرګه .

يادښت : اخستنې په متن کښې يادې شوي په پاى کښې فهرست نه لري.

افغانانو
د افغان _ انګليس لومړې جګړه
په خپله وسله
ګټلې ده.

ملي اتل
مست زمری
خانګل خان تره خيل

# لومړۍ جګړه له انګليسانو


# مونږ په خپله وسله وګټله !

BEHOND The Khyber pass (له خیبره هاخوا) ټولولوستی دی. په دې کتاب وروسته له یوې ژورې څیړنې ویل شوي زمونږ (انګلیسان) ماته خوړل له دې ؤ چه جزائیل افغان ټوپک ترمسکټ انګلیسي ټوپکو رسا لیرې ویشتونکي ؤ.

هغه یعنی جزائیل ټوپک دافغان دآهنګرانو دمبارکو لاسونو کارؤ چه زمونږ شمله یې تراوسه جګه ساتلې .

څه وشول چه دغه صنعت ته په سپکه وکتل شول؟

فکر کول په کاردي اوڅیړنه غواړي .



جزاییل Jazail

ACKU

# افغانستان او د وسلې جوړول

## افغان جزائيل

in afghanistan the simple fact was that the natives cosually co-monded the heiyhts wher They Were mauch in thair element and fouyht with homemod lory barreld riffes -Jazail- which were more acc
rate and had longer ronge thear British mustkets ۲۵۸ مخ

حقیقت دادی چه افغانان په خپلو غرونو کښې سنگر تینگوي اوجگړه کوي ددوئ خپل وطني ټوپک جزائیل دی چه ډیره سمه نښه ولي اوگولی یې لیرې ځي.نظر دانگلستان جوړ شوو ټوپکوته.

دپاملرنې وړ ده چه مونږ په دې نازیدلي یو چه انگریزان موو هلي.اوس داهم دویاړنې خبره ده چه په څه شي مو وهلي؟

زۀ دغه وړه لیکنه هغو استادانو ته هم ډالۍ کوم چه ددوئ په لاس جزائیل جوړ شوي دي.

اوبیرته دهغوئ له پاکو ارواحو څان اوخپل ملت ته خیر او برکت غواړم.

الله تعالی دې دوئ ته دجنت لوړ مقامونه ورکړي

آمین یارب العالمین

« ق حـداد »

ترهغه ځایه چه ماسره استاد شته او بل کتابتون ته لاړ نه شم.دغه مسأله لیکم .

دکتاب نوم دی Fumk and wagnalls New Encyclopedia چاپ ۱۹۸۹م

ددغه کتاب په ۱۵ مخ کښې یوتصویر دی چه د ساکانوجنګیالي ښئي.دلویدیځې نړۍ دتاریخ پوهانو له څیړنو ښکاري چه د ۶۰۰۰ ترڅلور زره کاله مخکښې دساکو قوم فوق العاده جنګي خلک ؤ.دوئ ښارونه درلودل، د مرکزي اسیا ډیره ځمکه ددوئ په لاس کښې وه.

په دغه تصویرکښې لیدل کیږي چه ډال ،سیلابه ( لکه توره ) نیزه،داوسپنې خولۍ زغره والې جامې، دڅرمنې کرتۍ او پتلون لري.

ساکو شپږ زره کاله دمخه د جګړې ساز او سامان درلود ، دغه تصویر به دلته ورکړم.



The scene of Scythian warriors (left) represents one of the earliest and most signifticant imbalanced Kinship societies.

دغه تصویر په ښه وګورئ
د ساکانو جنګیالي ۴۰۰۰ تر ۶۰۰۰ کاله د مخه

# د غور وسله

دغورولايت چه اوس وران ويجاړ دی.په لسمه ميلادي پيړۍ کښې يې آباد ښارونه درلودل.په دغو ښارونو کښې فيروزکوه ، منديش اوآهنگران مهم ښارونه وو. له غور نه وسله شاوخوا هيوادوتـــه تلـــه . زرجنگي کلاوې پـــه کښې جوړې شوې وې.

سلطان علاءالدين غـوري او سلطان سنجر سلجوقي په دې ونښتل چه عـلاءالدين غوري پرسلطان سنجر سلجوقي سلاح بنده کړه . دغور له وسلونه يوه هم قلاب نوميده.

قلاب يوه يره لرونکی گرده چاړهٔ ډوله وسله وه چه په اوږدهٔ زنځير تړلې وه.

قلاب به له څومتره واټن پردښمن غورځيدهٔ . ترتورې اغيزمن ؤ . يوه فاصله به په مينځ کښې ؤ ؟ مگر دقلاب غورځول دغليم په لورې يومهارت غوښت؛ چه دقلابيانو ټولي پرې پوهيدل.

کله چه باروت پيدا شول بيا دقلاب اهميت لږ شو.

کله چه اعليٰحضرت شاه محمود په کال ۱۷۳۲ م کښې پرفارس وروډنگل دغه مهال « زنبورک » توپونه ؤ چه پراوښانو اينبودل کيدل اودجگړې ډگرته وړل کېدل . زنبورک توپ، جزائيل ټوپک ، توري. نېزې پـــه کارشوی ؤ. چه دهرډول وسلې ټولی بيل بيل ؤ.

دغه ټوله وسله په آهنگرخانو کښې جوړيده.

دافغانستان په ټولو سيمو کښې آهنگر خانې وې. او سپنه ترلاسه کيده. که تاسو دافغانستان مفصلې نقشې ته ځير شئ ډير ځايونه دآهنگرانو په نامه يادېږي.

آهنگران ځان دغور شهزادگان بولي. انگريزانو چه دجزائيل ضرب وليد. بيايې ددغه

صنعت په مقابل کښې داسې تبليغ پيل کړ چه دا اصيل کارنه دی.پښ توب ټيټ چاردی. بيا په هيښتيا سره وليدل شول چه دغه صنعت او صنعتگر چه د ټولني په لومړني سرکښې ؤ وروستي صف ته لاړل .

بيا څه وشول؟ زمونږ ټولنه بيکاره شوه .

اودا مثال پاتې ؤ « هرڅوک چه پوزه توره کړي آهنگر نه دی».

# افغان جزائیل Afghan Jozail

دجان ویلر John.H.Waller په کتاب کښې Behind the khyber pass په کتاب کښې په جزائیل ښایسته ښه بحث شوی دی.

دمیرمن سیل Loay sloe هغه میرمن ده چه له خپل میړهٔ ډګروال رابرټ باب سره راغلې وه ، میرمن سیل خپل یادښتونه په بشپړه توګه اخستي او د یوهٔ کتاب په توګه یې وروسته خپارهٔ کړي.

په افغانستان کښې میرعبدالرشید بیغم له جرمني ژبې په فارسي ترجمه کړ او په کابل کښې د « شبخون افغان » په نامهٔ خپور شو چه وروسته بیا د « پښتنو یرغل » په نامهٔ په پښتو ترجمه اوچاپ شو.

دله خیبره هاخوا کتاب په ۱۹٦مخ کښې دسیل له خولې داسې لیکي: « داسې لیدل کیږي چه انګلیسي مسکت ټوپک اغیزمن نه دی او په قشله کښې پراتهٔ دي او انګلیس دهماغو زړو ټوپکونه کار اخلي چه دواړه له افغان جزائیلو سره سیالي نه شي کولای. »

جنرال مکناټن وویل: د خـدای دپاره لارې چټک خـلاصی کـړئ چه زه لاړشم .
دمکناټن ددغې جملې متن ځکه دلته لیکم چه دده له خولې دی.

For gods soke Cloe The Passes quickly, that may get awoy

دادی دافغان جزائیلو زور.

افغانستان او نولسمه پېړۍ

# Predator and Prey



وزير محمد اکبر خان

جزائيل ټوپک، توره، نيزه، موزې او کالي
دا ټول په افغانستان کې جوړ شوي وو.
په شمله پېړۍ کې دا ټول روسي او امريکايي شول او يوې سټنې ته اړ وو.


ACKU

# Disaster



جګدلک کابل ته نږدې
نوامبر ۱۸۴۲ د انګلیسانو بدمرغي

یو افغان ایستلی توره پر انګریزانو یې دانګلي.



۱۳۴۵ هـ ش کال د لړم یولسمه د چهاردهي سره کلاه کې د غازي عبدالله خان اڅکزي د لومړي افغان انګلیس د جګړې اتل زیارت ته افغانان ورغلي وو.

انګريزانو بايد دافغان جزائيلو بيخ ايستلی وای.
دهمدغه کتاب ۲۲۲ مخ

ډګرمن تامس اولي ور THomos Oliver غوښتل خپل ډارشوي عسکر دبي بي مهرو دغونډۍ سرته وخيژوي. هيڅا دهغهٔ خبره ونه منله اوسره دهغه ډګرمن دجزائيلو په ګولۍ ولګيد اومړ شو. او داخبره دهغه وروستی جمله ده :

« خپلوخلکو زهٔ برباد کړم » Although my men desert me

۲۲۳ مخ ډګــرمن ايري EYRo دبي بي مهرو پهٔ غونډۍ کښې دخپلې ماتې شپږ علتـه بيانوي چه په دغو شپږو علتـونو کښې پنځه يې ددوئ تخنيکي غلطۍ دي او يويې افغان جزائيل چه نښې يې ليرې او سمې ويشتلې.

ډګـرمن ايري په خـپل تحليل کـښې ليکي : دانګليس دعـسکري قـومـاندانی کمزورتيا او د بي بي مهرو دغونډۍ جګړې زمونږ دقوتونو ملا ورماته کړه .

زمونږ مشران د Sita Ram پهٔ فکر کښې تللیؤ

سيتارام دهندو مذهبي ، عقيدوي او تاريخي داستان دی چه رام RoM پخــپله يوانسانؤ مګر تړولې مرستې له آسمانه ورته راتلې. څه به يې چه په زړهٔ کښې ګرځيدل هغسې به کيدل.

# مکناټن هم په جزائيل ووژل شو

په افغانستـان کښې په ټولو تاريخونو کښې ليکلي چه وزيراکبرخان مکناټن وژلی حال دا چه خبره غلطه ده.مکناټن يوۀ سپاهي وژلی دی.

د «فرهاد بابا په علوي سفر» کتاب کښې ليکل شوي چه مکناټن دميدان دټکانې اوسيدونکی چه نوم ئې رجب خان ؤ، وژلی دی.

داقصه مادارواښاد غلام محمد فرهاد له خولې اوريدلې وه چه غازي رجب خان هغه وخت مکناټن وواژۀ چه د وزيراکبرخان او مکناټن جګړه وه. وزيراکبرخان غوښتل هغه ژوندی ونيسي. رجب خان دوزيراکبرخان له تخرګ دټوپک ميل تيرکړ او هغه يې وواژۀ ډيرو خلکو ويل چه دا قصه سمه نه ده او يوځه له دې بابته چه رجب خان دفرهاد صاحب له ماماګانو څخه ؤ ، بلله . مګر دغه شفاهي قصه سمه وه . (۲۳٤مخ).

اکبرخان ناځاپه غبرګ کړ.وئې نيسئ،وئې نيسئ،درې تنه ئې ونيول او غره ته ئې پورته کړل. دغه درې کسان لارنس، مکنيزي او تربور Lawrence Macken Zie Trevoe

په سراج التواريخ کښې هم ويل شوي چه اکبرخان محمد شاه خان بابکرخيل ته ويل وئې نيسئ. دسراج التواريخ په حوا له« به لفظ افغاني ګفت» چه مطلوب يی پښتوژبه ده. (۲٤۱ مخ)

اکبرخان نه غوښتل مکناټن ووژني. هغه غوښتل چه ديوۀ قيدي په څېر يې وساتي. بلکه يوناڅاپه يوۀ احساساتي سړي هغه په لړ وخت کښې وويشته اومړيې کړ.

اکبرخان په داسې حال کښې چه ژړل يې قسم يې وخوړ چه مکناټن يې نه دی وژلی.

akbar khan had swrn to then that he had not been responsible for macknay-ten sd eath and wept

دکتاب په بیلوبیلو ځایوکښې دجزائیل یادونه شوې ، دانګلیسانو ماته اودافغانانو دلوي بري یوغټ د لیل همدا دی چه مونږ توپک باروت پخپله جوړول.

پروزیراکبرخان نوای معارک نور اعتراضونه لري چه ددهٔ تولي معامله ددې د پاره چه خپل پلار دوست محمد خان دانگریزانو له تبعیده خلاص او پادشاه یې کړي. دمکناټن نیول دهمدې دپاره ؤ څو په خپل پلار سره یې مبادله کړي. لکه چه نور انگریزان ئې هم دهمدې غرض د پاره ساتلي وو .

# په‌لومړی افغان انگليس جګړې کښې
# د انگليس تلفات

ددرسي اسنادو له‌مخې ، اووهٔ سوه خالص انگليس خاص عسکر (۳٤) انگليسي ښځې اوماشـومـان دوه‌زره (۲۰۰۰) دبنگال (۲۵۰) روزل شـوي بنگاليـان يو زر يوسل وپنځوس (۱۱۵۰) دکېمپ خدمتگاران، ٤۰۰ څلورسوه دشاه شجاع سوارهٔ ۱۲۰۰ دوولس زره عسکر ، چه‌ټول پنځه‌لس زره اته‌سوه يانژدې شپاړس زره تيري کوونکي انگليسي پوځ.

# پولي مصارف

په‌لومړي سرکښې دپوځ او جګړې خرڅ دهند کمپنۍ ورکاوۀ. بیا کمپنۍ دانګلستان دولت ته ولیکل: «نژدې‌دی چه‌دکمپنۍ دیګي هم‌خرڅ کړی شي» په‌یوۀ کال‌کښې دغه مصرف پنځلس میلیونه‌پونډه شوی‌دی.

دغه مصرف درې‌دوله‌ؤ: لومړی دجګړې مصرف

دوهم دلارو دساتلو مصرف

دریم داچیرویاهغوکسانوچه‌بیطرفي غوره‌کوي جګړه نه‌کوي.

دلته به په شلمی پیړۍ کښې د روس د شوروي اتحاد تلفات هم‌وښیو:

روسانو خپل تلفات پنځلس زره ښوولي، مګردا سمه‌نه‌ده.

سپین کتاب 1988 WHITE BOOK

په‌دغه کتاب‌کښې دافغانستان تاوان درې بلیونه‌ډالره ښودل‌شوی‌چه‌دغه مهال دیوۀ امریکایي‌ډالر بیه پنځوس افغانۍ‌اودوه پوله‌وه.

۶۲۶ شپږ سوه شپږ ویشت‌الوتکې او هلیکوپتر

۱۷۰۰ یو زرو اووه سوه ټینګونه.

۶۷۱۶ شپږ زره اووه سوه شپاړس ترانسپورتي ګاډي.

۳۲۳۳۹ درنې وسلې.

که‌دغوجګړه یزو وسایلو سره دوه دوه کسان مړه‌شوي وي‌بیا خبره چیرته رسي کله کله په‌خپلو دروغو کښې ورک شي.

خبره داده‌چه‌ولې دافغان انګلیس لومړۍ جګړه مونږ ته غوره بریښي؟

دادجزائیل برکت‌دی.په نولسمې پیړۍ کښې‌مو وسله خپله‌وه.

اسباب او سامان موخپل ؤ. په شلمه‌پیړۍ کښې داسې نه‌ؤ. مأخذ سپین کتاب دافغانستان دخارجه‌چارو وزارت.



مست زمری خان گل خان تره خیل

# خانگل خان تره خيل

## مست زمری

کله چه د خانگل خان نوم یادکړم نو ويلې ويلې شم.

دهغه دليل بـه درتـــه ووايم چه په عمر اعتبار نه دی په کار او دغه مهمه خبره به پاتې وي.

زما په تاريخي نظرونو کښې ډيرې خبرې شته چه زمونږ مؤرخينو نه دي ليکلي. کوم مهال چه زما دملي تاريخ فلسفه او پښتونولۍ رساله چاپ شوه؛ په هغه ستميانو يوکال را پسې وليکل لکه چه لويه گناه مې کړې وي.

زهٔ پوهيدم چه ماگناه نه ده کړې، يوازې وخت بدل شوی.د هغې تيرې زمانې ثواب اوس گناه ده .

په ۱۳۳۸ش کښې محمد داؤد خان صدراعظم ؤ. پوهاند صديق الله رښتين د پښتو ټولنې رئيس ؤ.په همدغې رسالې ماد رحمان بابا لومړی جايزه واخيسته اوداسې مهال کښې خپره شوه چــه مستر رباني جمهور رئيس اومستراحمد شاه مسعود ددفاع وزير او هرکاره ؤ.

داميد جريدې په امريکه کښې ماته وليکل دافغانستان له ملته عفو وغواړه. دخانگل خان تره خـيل مست زمــري خبروتــه راځــم.مخکښې ځينې ټکي بيانوي چه داهم په هغه کښې .

مادسردار آزادخان سليمانخيل په برخه کښې څوټکي په هغې رسالې کښې وليکل چه « د پښتنو په تاريخ کښې رڼاوی » نوميد. آزاد خان په آذربائيجان کښې حکومت

کاوه او اوس آذربایجان يوخپلواک جمهوریت دی.

همداسې سرخانې په ځينو تاريخونو کښې سرخانې خان ليکل شوی دی. الکوزی ؤ. دداغستان پاشاد اوبيا پادشاه شو.

دادی دریم شخصیت چه معرفي کوم هغه مست زمری خانګل خان تره خيل دی چه په رسمي او درسي تاريخونو کښې دهغه نوم نه دی راغلی.

مست زمری یاشیرمست دکابل او شېږ کروهي خلکو په همدې نامه یاداوهٔ.

## مست زمری خانګل تره خيل

دی د۱۸٤۲م کال دنوامبر دمياشتې دملي پاڅون اوملي بري يواتل ؤ په ختيه تره خيل اوکابل ته نژدې په تره خيلو کښې اوسيدهٔ. همدلته دپای منارحاجي صاحب لنګرخانه هم وه.

خان ګل خان تره خيل دیوې عظيمې جثې خاوند ؤ. غښتلی زړه ور او چست سړی ؤ. يو قوي آس دده په ورلو کښې ستړی کيدهٔ. حاجي صاحب پای منارچه يوعالم روحاني مشر ؤ. دی ښه پيژاندهٔ. حاجي صاحب فرمائي: « زديګر طرف خانګل تره خيل سر پشته بافوج آمد چوسيل »

| | |
|---|---|
| یل نامور خـــــان ګل شیرمست | درآن عرصه عريان نهنګی دردست |
| « بسی رابکشت اندران عرصه ګاه | همان پيلتن مـــرد لشکـر پنـــاه » |

داچه حاجي صاحب وائي: زديګر طرف خانکل تره خيل سرپشته بافوج آمد چو سيل څرګندیږي چه د تره خيلو يوځ ورسره ؤ او دهٔ يې مشري کوله. سر پشتـه هماغه دبي بي مېرو غونډی ده چه دانګليسانو په اعتراف اساسي ماته يې همدلته وخوړه. دانګريز ...که نه يوې جزائيل ماته کړه له بلې خوا داسې مست بيخوده زمريان هم ؤ چه حاجي

صاحب يې پيل تن او مست زمرى بولي.

دغه دوه صفته چه تاسو په يوهٔ سړي کښې ټول کړئ تاسوته به ديوهٔ قوي، غښتلي، ځرب سړي تصور پيدا شي چه زړه ور او غازي دى.

تاسو په دې ښه پوه شئ چه ددغه پيلتن شيرمست مونږ ته څه شى پاتې دي؟

ددهٔ دخولۍ مثال دى.( ... دخانګل خولۍ ترې جوړه شوې)

ماځکه وويل چه په خپل ځان کښې ويلې ويلې شم چه زمونږ د مست زمري داحال دى. چه يوبد مثال دى.دا دننګ اوغيرت ټوټه چه يوه عسکري قشله ددهٔ په نامه واى يا يوحربي ښوونځى.

په تيرو کلو کښې يومحترم سړى چه دننګرهار لوړ ماموريتونه ئې کړى ؤ.

دښې طبع خاوندؤ. ده چه ښې خوندورې خبرې وکولې زما علاقه ورسره پيدا شوه. غوښتل مې دى وپيژنم.

نوده نه مې دنامه پوښتنه وکړه. ده په کراره راته وويل:

له مانه زما خولۍ ډيره مشهوره ده. زهٔ پوه شوم څه مې ونه ويل. نوځکه په ځان کښې ويلې ويلې شم.

دمست زمري خانګل خان ډيرحق ددهٔ دپاره داکفايت کوى چه يو عاليشأن روحاني عالم دستر زيارت خاوند دتأليفاتو خاوند رسيدلى سپيځلى سړى چه مونږ ته يې ځلى زيارت دى دمست زمري داسى تمثيل کوي.

يوه ورځ چه انګريزان په چهاونۍ کښې محاصره ؤ، محاصره اوږده شوې وه، لارې پرې بندې وې. نو ويل يې له چهاونۍ نه وزو او دبي بي مهرو غونډۍ ته خيژو. غونډۍ موچه ونيوله بيا به حاکمه سيمه زمونږ په لاس کښې شي، ټول لښکرچه دحاجي له قوله ديرش زره سواره او پياده ؤ په چټکۍ سره دبي بي مهرو غونډۍ ته ورسيدل.

غازيان خبرشول ترانګريزانو لا مهم دوئ ونيوه چه غونډۍ به بيرته ترې نيسو. هريو له غازيانو له يوې خوا ورغلل. عبدالله خان غازي، امين الله خان غازي،

عبدالسلام خان او نور.

غازي مست زمری خانګل خان تره خیل سره اووه سوه کسانو، د یرانګریزان یې مړه کړل. مست زمری داسې لګیا و او جګړه یې کوله چه د توپکو په لوګیو کښې نه ښکاریده.

په دې پوه شولو چه خانګل خان تره خیل قوي سړی او ډیر ستر عمرئې د ځلوېښتو کالو اټکل کیږي. ځکه څوک چه داسې جګړه کوي او قامي مشر هم دی؛ بویه تر ځلویښتو دلږ و کلو نه وي.

زه په دې عقیده یم چه که چیرې په وطن مین یو سړی تره خیلوته لاړشي او دده دقبر پوښتنه وکړي هرومرو هلته دی. ځکه دده کلي او د جګړې د ګر سره نژدې و. که هلته شهید شوی نه وي نو پخپل طبیعي مرګ به وفات شوی وي.

زما بل اټکل دادی چه ښائې دده پاتې کسانو کښې چه په عزت او سیدل جنرال پیرمحمد خان تره خیل، دګروال غلام حیدرخان تره خیل، دګروال نورمحمد خان تره خیل یو وخت دسرحداتو رئیس. له همدغې کورنۍ وي چه ټول زړه ور، پاک نفسه او ښه خلک و.

دوئ ټول وفات شوي زامن به یې هم سپین ږیري وي. که زما دغه لیکنه ددوئ لاس ته ورغله، کولای شي ددې اثر له خپرونکي سره اړیکې ټینګې کړي.

کوم نور غازیان چه دلته یادشوي هریو یې ددومره قدر وړ دی او دهغوئ په برخه کښې څه ناڅه خپرونې شوې دي.

# د جګړې پیل او د برنس وژل کېدل

الکزاندر برنس مخکښې له دې چه په ۱۸۳۹ کښې دانګریزانو له لښکرو او شاه شجاع سره راشي، یوه پلا په پټه له موهن لال هندي جاسوس سره کابل ته راغلی ؤ.

دغه وخت دامیر دوست محمد خان ورور سلطان محمدخان په پېښور کښې ؤ. برنس او موهن لال خپل نومونه بدل کړي ؤ. هغه چه الکزاندر برنس ؤ.

په ځان یې دسکندر خان نوم کېښود او موهن لال (لعل محمد). دواړو دافغانانو جامې اغوستې وې.

موهن لال یو ذهین سړی ؤ. دده انګلیسي، هندي، فارسي او پښتو زده وه او دکمپنی له خوا استخدام شوي ؤ. برنس ځوان او عیاش ؤ. ځکه یې په پېښور کښې دسردار سلطان محمد خان له یوه زویه پوښتنه کړې وه چه کابل کښې دښځو او شرابو څه حال دی؟ د سردار سلطان محمد زوي داسې معلومات ورکړی ؤ چه د کابل ښځې بد اخلاقې دي او متل دی چه « د پېښور اوړه بې جوار نه وي د کابل ښځه بې یار ». (له خیبره هاخوا).

دشرابو په برخه کښې هلته ارمنیان او سیبري دوئ شراب خرڅوي، پخپله امیر دوست محمدخان هم په داسې ناروغیو اخته دی.

برنس بامیان او هزارجات ته هم تللی ؤ. هلته نه ئې دښځو په باب ډېر معلوماتونه درلودل.

# د برنس وژل

ACKU

د ۱۸٤۲م دنوامبر دوهمه افغان مشرانو: عبدالله خان اڅکزی، محمد شاه خان بابکر خیل، نایب امین الله خان، مست زمری خانګل خان تره خیل، عبدالسلام خان، سکندرخان لومړی حمله پخپله پیل کړه.

خاطره: وګورئ په نولسمې پیړۍ کښې کابل څنګه اباد ؤ؟

له ټولو داسې خبروڅرګندیږي چه الکزاندر برنس ډیر بداخلاق سړی ؤ. دی چه کابل ته ورسید او دامیر دوست محمد دربارته ورغی، امیرته یې ځان وپیژاند. امیر دوست محمد خان برنس ته وړاندیز وکړ چه دافغانستان دټولو قواوو سپه سالاري ومني. خو برنس یومامور ؤ داکاریې په خپل سر نه شو کولای.

کله چه همدغه بدسیرته برنس له شاه شجاع سره لاړ او هلته دکابل دښار حاکم شو

هماغه بد اخلاقي يې پيل کړه. عثمان خان دوزير رحمت الله خان چه په وفادارخان مشهور ؤ،پــــه خپل وخت کښې رحمت الله خان داعليحضرت شاه زمان امپراتور لوي وزير ؤ.

عثمان خان بيا دانګليسانو خدمتګار ؤ، چه تل به دبرنس سره ؤ او دشپې له مخې به يې دهغه دکور څارنه کوله. د زياتو پيسو په مقابل کښې شځې هم دبرنس د خوشحالۍ دپاره راتلې.

خپله دشاه شجاع دواقعاتو په کتاب کښې ليکل شوي چه شاه شجاع ته اطلاع ورکړی شوه چه شځې دماښام له خوا جوړې چهاونۍ ته روانې وي. شاه شجاع داخبره مکناټن ته وکړه.مکناټن په ځواب کښې وويل چه داکار دعسکرو صحت ته ګټه لري.

شاه شجاع کومه ورځ چاته وويل: داښځې ولې انګريزان خوښوي؟ هغه ورته وويل چه صاحبه دوئ خريلي ږيرې دي. خپل نارينه يې ږيرور دي. بيا شاه شجاع اجازه ورکړه دچاچه دښځو خريلې ږيرې خوښيږي کولای شي ږيرې وخريږي.

لنډه داچه د نوامبرپه دوهمه (۱۸٤۲ م) سهار وروسته له لمانځه غازيان دبرنس دکور په لوري وخوځيدل. هلته وليدل شول چه دا ډول ښځې هلته شته.

غـازيانو ددهٔ دکـور دروازه مـاته کـړه. ښځې يې اعدام کړې، سردارعثمـان د بالاحصار احوال ورکړ چه عسکر ورولیږي.

برنس په خوارهٔ خوب ويدهٔ ؤ چه شور او ځوګ يې واوريدهٔ

بدو گــفت برخـيــز وبگريز تيــز
کــه شــد گــرم بازار جنگ وستــيـز

چنان مــوج زن سـيـل لشکر شــده است
توگــويـی جــهــان بهم برشــده است

همـــــه حلقــــه بدر می زنــند
به چســتی دودســتی تبـــر می زنند

چوبرنس شنيــد اين خـــبــر تند شــد
چو شــمـــشـــيـر اوطبع اوکند شــد

کجادشت افغان پذیرد قرار
که تیغ آرد بدست رعشه دار

بیابل سړی ورته وایی:

رسیده است اینک اجل زیردر
تو مخمور نشسته ای بی خبر
دلیران کابل سنگ تبر
به بازوی مردی شکستند در
تنیش را نمودند از تیغ تیر
دوصدپاره واستخوان ریزریز

دعثمان نوم داسی راغلی:

بیامد ببالین برنس فراز
به نرمی برآوردش ازخواب ناز
وزیرملک عشمان خان بنام
که اکثر به شب کردی آنجا مقام

ددغې صحنې دغه شعري تصویر دی چه عبدالله خان اڅکزی ، سکندرخان پوپلزی، عبدالسلام خان بامیزایي ، خانګل خان تره خیل په ښو او لوړو نومو یاد شوي اوعثمان خان په بدنوم.

کله چه غازیان دبرنس کورته ننوتل لومړی یې ښځی مجازات کړې. ځینې یې تښتول کیدې هم چه هغوئ ملامت نهؤ او دانګلیسانو او وسله اونور مهمات.

دادتالان په توګه نه دراتلونکې جګړې دپاره یې وساتل.

انګریزان په دغه وخت چه لاعکاسي نه وه،رسام یې ځان سره بوتی چه دغه انځورونه وباسي. نو په دغو رسمونوکې ترتیب دکالیو وسلو اوودانیو لیدل کیږي دا هماغه دی چه هغه مهال ؤ.

نوتاسو هغو رسمونوته لږځیر شئ چه برنس په مینځ کښې پروت دی او هرغازي وارپرې تیروي.

ACKU

پاىيناب : که څه هم دغه لنډه ليکنه پردريو مسايلو ولاړه وه، چه افغان انګليس لومړی جګړه ، جزائيل او مست زمری خانګل خان تره خيل.

## زمونږ صنايع ولې له مينځه لاړل؟

ترنونسمې پيړۍ پورې زمونږ په آهنګرخانه کښې د اوسپنې ، مسو، زيړو، جستو او نورو فلزاتو کار روان ؤ.

پنې موخپلې جامې موخپلې، صابون موخپل، وسله موخپله ، مهندس موخپل، جزائيل موخپل.

په شلمه پيړۍ کښې مو هرڅه پردي شول .حتی تفکر اوذهنيت.

ددې وضع څيړنه په کارده او بيرته خپلو صنايعو اوتجارت ته راګرځيدل.

له احمد شاه بابا ، تيمورشاه امپراتور او شاه زمان وروسته ټول دولتونه شخصي او فاميلي ؤ.

زمونږ هيواد درې وارې دروسانو دمداخلې له کبله وران شو.

دوست محمد خان له روسيې مرسته وغوښته، وشيرعلي خان،ظاهرشاه او محمد داؤد همدغه ناسم سياستونه ؤ چه دوه پلا انګليسان هيوادته ننوتل . دريمه پلا روسان اوس ددې مهال دی چه زمونږ محققين يعنې څيړنوالان په سړه سينه په همدغو پورته يادوشوو موضوع ګانو فکر اوبحث وکړي.

دلته په امريکې کښې تل په خپلو ملي مسايلو بحث دوام لري. په ساعتو دخپلو پوهانو مشورې آوري. بيا فيصله دولت کوي.

دامريکې په خيال کښې دي چه نړۍ ترخپل کنټرول لاندې ونيسي دادجهاني دولت خوبونه ډير ليدل شوي.

مګر داخبره رښتيا ده چه اوس امريکه يوازنی قدرت دی. ددې وجه داده حادثه چه تيره شي دوئ دهغه دبيا پيښيدو دمخنيوي دپاره بحث کوي. تصميم بل څوک نيسي امريکه پخپله تيل لري . هغه ذخيره ئې ساتلې اودعربونه تيل اخلي . څنګه چه اوريدل

کيږي ددوو پيړيو تابيانيول کيږي.

داچه ځنګه به امريکه ورانه شي؟ دابله فلسفه ده .

مونږ بويه خپله لاره سمه کړو او هغه دپوهانو په آزاد بحث او تحليل موندل کيږي.

دتاريخ ګټه همداده چه تير هير نه شي اودناخوالو دبياراتلو مخه ونيول شي.

غـربي کلـتور او هوسونو زمونږ ملي صنايع او مهارتونه وخوړل . له خوندنه يې تاوان ډيرۀ.

دامريکې په مثال ورکولو خوشـحال نه يم . څه وکړو حقيقت داسې راغلی . بله موضوع دشخصيتونو وهل دي. لکه مست زمری خانګل خان تره خيل که دحاجي صاحب پای منار ځوبيتونه دعيني شاهد په توګه نه وای دابه ګرانه وه چه اوس هم مونږ پيژندلی وای.

دپښتو ژبه: دامسأله اروپائي ناسيوناليزم سره پيدا شوې.زمونږ تيرو مشرانو هم فارسي په دفترو کښې غوره ګڼلې وه .

اوس دازمونږ دنده ده چه پښتو سمه وروزو.

بهلول لودي ۱٤٥۱م کښې ډهلی ونيو. ددۀ تيوري داوه چه هند افغان کړي، وروستې سوريان دغه دواړه دولتونه مغلو دپښتنو په مرسته ړنګ کړل . دلته په کاردي چه دبې اتفاقۍ مخه ونيول شي.

محـمـدزائـيـانو دسدوزيو جـړړې ورواېستې. اوس که کوم سـدوزی وغـواړئ په کشمير، هند او پاکستان کښې يې موندلی شئ. متأسفانه چه په خوارۍ ئې فارسي ژبه لړ او ډيره ساتلې ده.

دهند په جنوب کښې ساکان دي. شميرئې دود سو، ميليونه دی، اوس ګورئ، مونږ چه پښتو پښتونولي وايو دافاشيزم نه دی. ځکه پرسـل اووينه ولاړنه دی . که ووايو اروپائيان ، امريکائيان، هنديان ، افغانان ټول ساک دي ډومره ليرې خبره نه ده . مونږ ته هغه پښتانه دي چه پښتو او پښتونولي ولري. او په دې باب مثالونه ډير دي.

شود ګی نوره بس دی - نوی ژوندون نوی کار .

PROPERTY OF ACKU 23609

# افغانستان او لويه جرگه

ډير خلک لګيادي پرلويې جرګې خبرې کوي. دوئ په خپل تاريخ نه پوهيږي. په اوسنۍ نړۍ او افغانستان خبرنه دي. لکه حسام الدين امامي، ايرانی ليکوال چه پښتو دپشت کوه بولي.[1]

دلويې جرګې خبره درې ځايه لري: سبا ماښام جرګې کيږي. لويه جرګه نه کيږي.

لومړی ځای يامورد: کله چه يوهٔ هيواد کښې اداره له مينځه تللې وي، يوشمير آغيزمن خلک دځانګړي قوت خاوندان راټول شي. ديوې ادارې، دولت ياحکومت دجوړولو هڅه وکړي. په (۱۸۰۹م) کښې ميرويس بابا لږ شمير هوښيار، اغيزمن دډګر خلک راټول کړل. (دخلکويووالی، دخاورې يووالی، ملي خپلواکي) ددوئ تګ لاره وه. په ۱۷٤۷م په کندهارکښې اغيزمنو مشرانو احمد شاه بابا دلـــوي افغانستان جــــوړونکی دافغانانو مشر وټاکه .

دوهم مورد ياځای: جوړه شوې اداره دهيواد تګ لاره يااساسي قانون دلويې جرګې تصويب ته وړاندې کړي. دغه مهال دټول هيواد استازي راشي. تګ لاره تصويب کړي. بيا همدغه قانون دټولو اقوامو، مذاهبو اولږکيو حقوق ساتي.

دريم مورد: که وخت وي د بهرني تيري په مهال کښې دلويې جرګې تاييد اوتصويب ضروري دی.

اوس په افغانستان کښې يوه اداره نشته. يونيم زردينی عالمان چه افغانان ؤ په اضطراري حالت کښې (چه يوازې کابل کښې پنځه بې سرحده حکومتونه ؤ) راټول شول. په د اسې وخت کښې چه شل کاله جګړه تيره شوې وه؛ ټولې ټولنيزې مؤسسې ړنګې وې. يوازې جومات پاتې ؤ. لله الحمد.

---

۱- يعنې دپښتو کلمه له همدې پشت کوه راوتلې. که امامي ايرانی بې لارې روان دی؛ وي دې.

دغې اداري پنځه نوي په سلوکښې خ ره تراداري لاندې راوستې ده .

په راتلونکې کښې لکه پخوا لومړی يوځوتنه پوهان کښېنې او اساسي قانون ياملي تگ لاره جوړوي.

دټول افغانستان استازي راځي او په لويه جرگه کښې به خپل معقول او مشروع حقوق مطرح کوي . بحث به کيږي.

نور استازي به په شرعي بشري اوملي دلايلو قانع کوي . همدغه به پراخ بنسټ دولت وي.

پرته له دې دجگړې دوام دی . لويه جرگه به چيرته جوړيږي ؟ که په بهرنۍ مرستې وي، نو جنگيالي به استخدام کړي. يو وروړ به بل وژني . اوس مسعود هماغه دی چه ځلورکاله يې په کابل جگړه وکړه .خو شل متره يعنې له پولي تخنيک نه خوشحال مينه يې له حزب وحدت نه ونه شوه نيولی . قهرمان داسې وي ؟

لکه دنجيب حکومت چه لا يوازې دکابل ښار په امن نه ؤ ، داځنگه ادار چي ؤ ؟ داسې ددفاع وزير مسعود دافغانانو دپاره يوتاريخي داغ دی.

دپخواني پادشاه اعليحضرت محمد ظاهرشاه پلويان ځکه دلويې جرگې خبرې کوي چه اوس يې پنځه سوه زره ډالره له امريکې اخستي. يو صورت مصرف به برابر کړي. دوه نورهم داسې چه په بن او قبرس کښې يادېږي.


هغوئ هم يو څه پيسې اخستي . داچه درې واړو جرگو ته دافغانستان پوهان اوتحصيل يافته اشخاص راټول شوي. دا دافغانستان دځلويښت کلن معارف محصول دی، ښه ورته وگورئ چه روم قبرس اوبن په ۱۹۹۹ - ۲۰۰۰م کلوکښې پرله پسې غونډې کوي. ميرويس نيکهٔ او احمد شاه بابادواړه نوابغ ؤ چه يوځل بيا يې افغانستان ته يووالی ،ځمکه ، هويت او حيثيت وباښهٔ .

مونږ به ددوئ احترام لرو ، دوئ به يادوو. په ژور ليد به ورته گورو. ددوئ په باب به خپل معلومات لوړوو.

ACKU

# جزاييل توپكونه

Afghan tribesmen with their long-barreled *jazails* outgunned the British and had the advantage of fighting from rocky promontories where English muskets could not reach them.



جزييل او غازيان
۱۸۴۲م




انځور - د حداد له ځانګړي آرشیف څخه

اوسنی معارف افغان افغان نه روځي"..... "مونږ د اجزاییل هم خواخوږي لرو. پښتانه زمونږ وروړنه او اجود دي او ددوي په غم او خوشحالی کې یو".

دروند مشر وزیر محمد ګل خان مومند بابا
د ۱۳۳۴ ه لمریز کال د لویې جرګې د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه نائب رئیس.




د ۱۳۰۷ ه لمریز کال په لویه جرګه کې اعلیحضرت غازي آمان الله خان د اساسي قانون یا نظامنامهٔ دولت د تشریح کولو په حال کې.
(انځور_ د حداد له ځانګړو انځورونو څخه)

دوېمه برخه

# له لرغوني مهالونو

## د افغانستان او ايران (پارس) حالاتو ته يوه تحليلي کتنه

ACKU




GHAZNAVID AND GHURID EMPIRES
FARTHEST EXTENTS

ACKU

# رونهاوی:

دتاريخي اسنادو له مخې افغـانستـان داسې يو هيواد دی چه دلتـه لومړنی عـقلمند انسان پيدا او د بشريت خوځښت دتاريخي آثارو په تاييد له دې ځايه پيل شوی دی.

کله چه غربي سرچينې په دې برخه کښې څه وايئ، نوداسې ليکي: « هغه ځای چه اوس افغانستان بلل کيږي ».

نوې خبره داده چه دافغانستان نوم خراسان او آريانا نه ؤ. مگر همدغې ناسمې خبرې دومره شهرت موندلی چه اوس يې سمول څه مهال غواړي.

دايران نوم ډير نوی دی او په شلمې پيړۍ کښې (۱۹۳۵م) را برسيـره شوی. ددغـه هيـواد نوم PERSIA يا پارس دی چه پـه دغې ليکنې کښې به پارس او ايران دواړه وڅيړل شي.

دا به ډيره ضـروري وي چه دتاريخ لوستـونکي پـه دې پوه شي چه آريانا ، خـراسـان ايران يا پارس کوم مفاهيم را نغاړي او افغانستان کوم نومونه درلودل.

نن سبا دافغانستـان او ايران خبره يوې ډيرې حساسې مرحلې ته رسيدلې او هغې ته دټولو افغانانو پاملرنـه او پر هغې پوهيدل ضروري دي. ځينې افغانان پاکستان ډير يادوې حال داچه پاکستان دشلمې پيړۍ ددوهمې نيمايي هيواد دی . (۱۹٤۷م ) زمونږ تاريخي گاونډ هند دی، دغه اوسنی پاکستان تر ۱۸۰۰م پورې دافغانستان برخه وه .

دپاکستان دوه حالته دي.* مونږ چه پښتونستان وايو که دغه پښتونستان افغانستان سره يوځای وي ټول پښتـونستان دی او لوې افغانستان بله معنی لري چه په هغه کښې به ټول پاکستان راځي .

خودا به داقتصادي، سياسي، عسكري قوت خبره وي. دافغانستان په راتلونكې كښې كه همدغه دطالبانو حكومت څوک پريږدي دهرې بدې پيښې مخه نيول كيږي.

دهند په پوره تاريخ كښې دهند طبـعي سرحـد زمونږ له خوا دهندوكش غـر او دپاكستان لـه پلوه دكراكورم غرونه ښودل شوي.نو افغانستان او پاكستان يودبل مرستې ته ضرورت لري. ځكه روسيه او چين هم ليرې نه دي .

دافغـانسـتـان رښتـيـاني گـاونډيان روس، چين ، هند او ايران دی. په تاريخ كښې زمونږ مقابله همدغو څلوروهيوادوسره ده . په دامينځ كښې ټول سني مذهبه مسلمانان دي.

دافغانستان جيوپوليټكس ياځمكنی سياست همدادی. چه‌خ ـ مسلمانو سني مذهبو گاونډيانو سره ښې اړيكې ولري. لكه پاكستان ، تاجكستان ، ازبكستان او تركمنستان . ددوئ اقتصادي او سياسي گټې يو شان دي او گډ تاريخ لري. ددغو څلورو هيوادو دفاعي مركز افغانستان او دافغانستان غرونه دي.

## ايران يا پارس

په نړۍ كښې آريائيانو دزاړه تاريخ له مخې ډيرغټ رول لوبـ ـی دی.آريائيان دافغانستان له شمال ختيځ لوري نه په ‌څپو څپو راغلي دي. دوئ كو ـبانی ژوند درلود .

دوئ دښو ورشوگانو پـه‌لټه كښې ؤ. دوئ ځای په ځای ميشته كيدل او څه په دروڅپو كښې دآمو او كسپين له برې خوا لاندې خوا او جنوب ته ورو ورو خوځيدلي چه په يو سر كښې ئې مينځنۍ اروپا ؛ بل سرېې دمديترانې پرغاړو او بل سرئې هند او جنوبي هند ته رسيدلی دی چه ‌څلورزره كاله مخكښې اټكل كيږي.

د تاريخي كيندنو اوموندنو له مخې دې نه مخكښې شپږو اوو زروكلوته هم رسيږي. ددوئ ژبه يوه وه او خپلو كښې گډ قوم ، بيلې ښې وې. له همدغو اريائيانو يوه ډله پارس ته لاړه . پارس داوسني جنوبي ايران يوه برخه يا يو ولايت دی.

په داسې حال كښې ددغو آريائيانو چه ورروسته‌دهخامنشيانو په نامه ياد شول. دلته

ميشته شول . ددوئ قومي ځانگې په افغانستان کښې وي.

هيڅوک په دې پوه نه شول چه ديونان په جگړو کښې ولې د اوسنيو پښتنو بيل بيل قومونه ددوئ مرستې ته ورتلل؟

سور، ساک، کاسي، لودي قومونو چه ددوئ پاتې خلک اوس هم په ژوندي توگه په افغانستان او په تيره په جنوبي اوشرقي لوې افغانستان کښې ليدل کيږي.

دغه رساله کومه اخباري مقاله نه ده چه دسياست دتقاضو په خاطر د ځينو ټکو څرگندونه وايو . گنداري، باکتري، پاکتي، ساکواو نور له هخامنشيانو سره مرسته کوله . ځکه يوخلک ؤ.

کومه خبره چه پوهاند حبيبي دافغان دکلمې په شرح کښې کوي هغه داده چه دداريوش په کتبو کښې دا په گان کلمه راغلې چه زرورته وايه شي او ددار يوش له خولې ويل شوي چه دی هم آپگان دی.

سره له دې احوال هيرودوټس په خپل تواريخ کښې ليکي چه هخامنشيان پاکتيسيا POCTICIA ته نه ؤ رسيدلي. پاکتيسيا له اباسين نه ترکابل، زابل او ننگرهار پورې ؤ. دغو سيموته چه اوسنی کابل، پاکتيا، پکتيکا، ننگرهار، پښتونخوا ته هخامنشيان نه دي راغلي . دباکتر، اوسني، سيستان يا ساکستان، کندهار خلک چه بشپړ خپلواک ؤ؛ يوازې د څه سوغات له ورکولو سياسي مرسته دقومي خپلوئ له امله چه په قومی لحاظ يې دوئ سره درلوده، کوله . کله چه خپلوئ بل صورت غوره کړه دهيرودوټس په حواله بيا ساکان چه هيرودوټس سکائيه هيواد بللی دی . پارسيانو دلته ماته خوړلې او ددوئ پادشاه کوروش هم وژل شوی دی.چه تفصيل ئې په بله رساله کښې راغلی او دلته به هم لنډ وکتل شي.

دساسانيانو يو پادشاه د «فيروز» په نامه هم په افغانستان کښې وژل شوی.

لکه چه مخکښې ويل شوي، پارس يو ولايت يا سيمه ده . څرنگه چه هخامنشيان له هغه ځايه وخوځيدل په امپراتوری ئې هماغه د پارس نوم کيښودل شو.

لکه‌چه غـور دافغانسـتان يو ولايت‌دی.کله‌چه غوريانو امـپراتوري جوړه کړه بيا پادشـاهان دغوري په نامه يادېدل.لکه سلطان غـياث الدين غـوري يا سلطان مـحـمد غوري .

درضا شاه پهلوي په‌زمانه کښې دوئ دايران نوم غوره کړ. بيا ايران دپارس ځای ونيوۀ. په‌بل عبارت‌د آريائيانو وطن او رضاشاه د آريامهر لقب ځانله وټاکه .

## ايران او ايراني شوي :

LEGCY OFPERSIA په‌کتاب کښې دا خبره روښانه شوې‌چه « زبان فارسي » ښکلې‌او خوږه ده . ايران پرهغو کسانو حساب کوي چه فارسي خبرې‌کوي.که‌څه هم چه دافغانستان‌چارواکو دفارسي کلمې پرځای‌دري په‌کارکړه . مگر په وروستيو کلو کښې په تيره بيا (۱۳۷۱هـ ل ) نه وروسته دري هم‌پاتی نه شوه .

دري به په هغه صورت کښې يوه معنی درلوده چه دافغانستان‌له تاريخي حالاتو سره روانه وای او پښتو کلمات په‌کښې پاتی وای.

لکه‌پوهاند، دپوهنې وزارت، پوهنتون، لويه‌جرگه، ښوونځی ، ښاغلی، ميرمن ، پيغله ، پلورنځی، درملتون، څارندوئ، نندارتون او نور لکه‌د شاهي مهال دري چه اوس ترې پښـتـو کلمـات وتلي او افـغـاني دري اصطلاحـات په ايراني فـارسي بدل شوي. دانشگاه، فروشگاه، مجلس کبير ملي ، دوشيزه،آقا او نور راغلي چه‌دې ته ايراني کـول وايئ LEGCY OF PERSIA کتاب کښې ويل‌شوي، ايراني شوي هغه دي چه فارسي وايی.

## فارسي ژبه

H.W.BAILEY دکمبريج په‌پوهنتون کښې د پارس ميراث دکتاب ټولوونکی دسانسکريټ ژبی پروفيسر ؤ.(۱۹٦۸م کښې ) ده‌نه هم‌دماشورې سرورک دی. دی وايئ هندي اروپايئ ژبې يوه کورنۍ ده او دآريائيانو دمهاجرت نيټه يو نيم زرکاله مخکښې تر ميلاده بولي، چه بيايې فارسي يوه څانگه شي.نو بيا سوريانيان څوک

دي اوکله راغلي دي؟ سورياني ژبه له کومه‌شوې؟ چه هغې ليک هم درلود. دتاريخ دغه برخې لا روښانه دي.

دلـيـکـوال (HWBOILEY) په‌عقيده فارسي په لسمه ميلادي پيړۍ کښې په اوسني ايران کښې څرگنده شوې.

عجيبه لا داده چه په‌همدغې لسمې پيړۍ کښې فارسي په غزني کښې وده وکړه او سلطان محمود هند ته ورسوله چه اوسنی ايران په‌ځان لا خبر نه‌ؤ. په‌فرقوي او مذهبي مسايلو کښې ډوب ؤ.

او دفارسي ژبه په سيستان کښې وه، چه په نهمه پيړۍ کښې د هغې لومړنی شعر وويل شو او ثبت‌شو.

اوس ايراني ليکوال چه دپهلويانو په‌شپيته کلنه دوره کښې ئې د پارس ژبې او تاريخ ته ډير کاروشو.اوس دوئ سلطان محمود غزنوي ايرانی شوی بولي. بيا خپل رسوخ په هند کښې شميري. ځکه سلطان فارسي ويله.

داسې ښکاري چه په‌هغه وخت کښې د ژبې تعصب نه ؤ او نه اوسنی ايران ؤ. سلطان محمود چه‌څلور سوه فارسي‌شاعران يې درلودل دفارسي ژبې په تاريخ کښې دلوړوالي يوځلی دی.

خبره اوس ورانه شوه چه ايران فارسي ژبه رسمی کړه اوځوک چه‌فارسي ووايئ ددوئ شي. په هند کښې بيدل، غالب او نور په سلهاؤ شاعران ليکوال فارسي قاموسونه لکه غياث‌اللغت برهان قاطع دحيدر آباد کتابتونونه . . .

ددې ډيره برخه‌دپښتنو په لاس ليکل شوي دي . لکه بهلول‌لودي، سکندر لودي او خلځيانو. په دې توگه ايران لومړی سلطان محمود ايرانی بولي. بيا ټول په‌دې حساب کښې راځي.

دپارسي ژبې لومړنی نښې په نهمې ميلادي پيړۍ يادريمې هجري لمريزې کښې په افغانستان کښې مينځ ته راغلې دي.

دسيستان تاريخ لومړنی فارسي شعرهماغه شعر بولي چه وصيف سکزي ديعقوب ليث ددفتر ليکوال ويلی دی.

ورووستـه به يې دلتـه بشپړ شعر وليکل شي. مگر ځينې دچهار مقاله عروضي په استناد د حنضله بادغيسي هغه مشهور نظم بولي چه عبدالله سجستاني ته په لاس ورغلی ؤ. ځرنگه چه عبدالله سجستانی، يا سيستانی ياساکستانی ديعقوب ليث صفاري په مهال کښې ياغی شوی ؤ، او دده دالهام سرچينه دغه شعر ؤ.

بزرگی گربه کام شيردر است شوخطرکن زکام شيرش بجوی
يابزرگـی عزونعمت وجـــاه ياچومردانــــت مرگ رويارووی

په هره توگه چه دی دواړه شعرونه په افغانستان کښې ويل شوي او د زمانې په صورت کښې هم په يوه وخت کښې دي. يادومره توپير نه لري. د فارسي قديم، ميانه او معاصر خبرې دومره اغيزمنې نه دي. ځکه موضوع په ايران کښې نه وه. هغه بل ځای چه فارسي ترې وتلې ده. چه بيا په لسمه پيړۍ کښې په غزني کښې خپلې لوړې څوکې ته ورسيدا وسته يې ومونډلې او په همغوتر اوسه چليږي.

اوس له ايرانيانو سره په غم اخته يو. مونږ دادعوی نه کوو چه ايران افغاني فلات دی.خو دوئ يې کوي.

دافغانستان او اوسني ايران دتاريخ بيلول گران دي او که بيل شي نودافغانستان برخه زښته ډيره ده. ايران يې تاريخچه پاتې کيږي. مگر داخبره بويه ومنو چه هغوئ ليکلي مونږ نه دي ليکلي.

دپښتو ادب دپټې خزانې په حواله هم همغه زمانې ته رسيږي چه امير کروړجهان پهلوان خپل دوياړنې شعر ويلی دی.

زه يم زمری، پردی نړۍ
له ما اتل نسته ...

دپټې خزانې په باب په خپله پښتنو سوالونه رامينځ ته کړل. چه نايابه ؤ. د عروضي

چهار مقاله چه هغه هم دغوري پادشاه په دربارکښې لیکل شوې دا چه دیوه فارسي شعر ذکریې کړی یو تصادف ؤ. پوهاند حبیبي د سرخ کوتل او داریوش په کتبو کښې ډیره پښتو موندلې ده، موږ وایو چه پوهاند حبیبي لوی پوهاندؤ. مگر دهغه مهمې څیړنې چه برلاسي لري نه را اخلو.

زه په غم دپښتانه يم دوځ نيولي مغلان

ايراني شوو افغانانو موږ دپاره دوه ربړه پېښ کړل. داچه دپښتو غليمان شول او هم يې ايراني خبرو او غلطو ادعاګانو ته مخه پرانيسته.

سلطان محمود غزنوي ځينې ترک بولي او بيا په نتيجه کښې وايي دغه غورځنګ دترکانو ؤ.

سلطان محمود دسبکتگين زوي او هغه دترک په نامه يادیدهٔ، خو د ساماني پادشاه غلام يا مريئ ؤ. چه په غزني کښې دحاجب سبکتگين په نامه مقرر شو. دغزني شا اوخوا خلک چه ډيريې غلځيان ؤ. پردهٔ راتول شول. سبکتگين په اسلام مشرف شو او دامير عادل نوم يې وګاټه. له پښتنو سره يې دوستي وکړه.

دی يې دامير په توګه وټاکه او له سامانيانو په څنګ شو. وروسته دده له مړينې دده زوي محمود پادشاه شو. دده پادشاهي له کسپين نه ترګنګاوغځيده. همدغه مهال دافغان نوم مشهور شو. ځکه محمود زابلي او افغان دیؤ. دی چه کله هند ته راونيده دولس زره پښتانه ورسره ؤ. دپښتنو په سیموکښې دده مخالفت چاونه کړ. ځکه يو خودی مسلمان ؤ. د پښتنو خوريی ؤ او ډير پښتانه ورسره ؤ. له بده مرغه ژبه يې فارسي وه او فارسي شاعران يې وروزل. څو پيړۍ وروسته اوسني ايران پرمحمود حساب وکړ. بل هيڅ دليل نه ؤ. ځکه هغه ژبه چه سکزيانو په سيستان کښې وروزله غزنويانو تعقيب کړه.

دژبې دموضوع اهميت له اروپايئ ناسيوناليزم يا ملتپالنې سره پيل شو چه اوس ايران له هغه يا فارسي ژبې کارواخيست او پښتو پاتې شوه افغانستان ته. افغانستان

هم پوره خپله نه کړه .

وروستـه (۱۷٤۷م) کښې چه احمدشاه بابا پادشاه شو، ده پښتـو ديوان لاره او يواديب سرۍ ؤ. لږه لږه پښتو مطرح شوه. مګر دفتري ژبه نه وه . هسې خو په هند کښې شير شاه سوري او فيروز شاه په شپاړسمې پيړۍ کښې پښتو پالله. مګر دديوان ژبه نـه وه . بهلول لودي دهند پادشـاه پښـتنوته بلنـه ورکـړه چه هندته ورشي او ديوه ځانګړي قوم په توګه دې ژوند وکړي. دمغلو په دوره کـښې پښتنو لوړ مقامونه او امارتونه درلودل . مګر دې وضع ته انګليسانو بله بڼه ورکړه چه حتى مسلمانان يې چه دانګليسـانو ترراتګ کال ( ۱۸۱۱م) پورې ئې حکومت کاوه ، تر هندوانو وروستـه کړل. د افغانستان بدمرغي هم ددوۍ له راتګ سره پيل شوه.

دانګليسـانو راتګ دهند لوئې وچې ته نـه يوازې پښـتنو نوابانوته زيانمن شو. ددکن مشر او هرځای کښې چه مسلمانان اوسيدل په غم اخته شول. دانګليسانو دوره ډيره اوږده شوه . دوه سوه کاله يادوه پيړۍ وه.

په پای کښې هند هم دوه بيادرې ټوټې شو . لاهم دټوکړې کيدو خطرونه شته . په هند کښې ګڼ شمير مسلمانان دي . پښتـانه هم غواړي چه داسلام تر«رېي» بيرغ لاندې خپل هويت وساتي. مګر ژبه او پښتونولي يې نه ده ساتلې.

په هند کښې تر اوسه فارسي ژبه اهميت لري. ښوونځيو او پوهنتونو کښې لوستل کيږي.مخکښې دانګريزانو له راتګه او وروسته تر ډيرو پورې فارسي دهند رسمي ژبه وه . په افغانستان کښې فارسي ژبه په دربارکښې چليدله. افغانستـان کښې پښتو او فارسي دواړه وې . مګر په عمل کښې ټوله فارسي وه .

## دري کومه ژبه ده ؟

په حقيقت کښې «دري» او«فارسي» دوي ژبې نه دي. يوه ژبه ده . د«دري» کلمه چه په« دره» يا «دربار» پورې يا به په دُر يا بل شي پورې اړه لري. په افـغـانسـتـان کـښې وروستـه دفـارسي ژبې دپاره په کارشوې، کله چه پارس پـه ايران بدل او ايران

پارس نهؤ ، يو بل حرکت په افغانستان کښې داوشو چه فارسي يې دري کړه.

حال داچه دواړه هلکاني ده . پارس پارس ، فـارسي فـارسي وه. عـجـيـبـه داده چه پارس کښې لا فارسي نـه وه چه زرنج کښې وه. څرنګه چه دسيستان په تاريخ کښې راغلي په دامهال کښې چه ديعقوب صفار په ستاينه کښې دغه شعر وويل شو وايي: « درآن زمان نامه فارسي نبود » .

ای اميری کـه اميـران جهـان خـاصه وعـام
بنده وچاکـــرومـــولای وسکانند وغــــلام
ازلی خطی ورلوح کـــه ملکی بدهيـــد
بی ابی يوسف يعـــقــوب بن ليث همـــام
بلتـــام آمـــد زنبـــيل ولتی خـــورد پلنګ
لتـــره شـــد لشکر زنبـيل وهبـاکـشت کـهنام
لمن الملک بخـــواندی توامـــيـــر ابقـــين
باقليل الفـــيـــه کـــه زاد وران لشکر کـــام
عـــمـــر عـــمـــار ترا خـواست وزوګـشت بری
تيغ توکـــرد مـــيـــانجی بميـــان دد ودام
عـــمـــراونزد توآمـــد کـــه توچون نوح بزی
درآکـــــارتـن وســـــراوبـاب طـعـــــام

دفـارسي او دري لومـړنی شـعـر به ياهمـدا وي يا دحنظله بادغـيـسي. په دواړه صورتونو کښې لومړنی فارسي شعر په داسې حال کښې چه اوسني ايران کښې ديواني اوليک لوست په عـربيؤ ، پيل شو. يعـقـوب ليث امـروکړچه عـربي دې له ديوانه وايستل شي . همدغه رواج غزني ته راغی. کابل او هند ته لاړ. بيا غوريانو ، لوديانو سوريانو ، خلځيانو دوام ورکړ. په شمال کښې سامانيانو خوارزميانو ورو زله .

په دري کښې دځوانمردی اصطلاحات پښتو تکي او شرقي خصوصيات موجود ؤ.

چه وروسته يې نور توپيرو موند چه ډير يې پښتو نوي لغات ؤ چه ، دپوهنې له پرمختګ سره ورګډ شول.

خـودې وضع دوام ونه کـړ. له( ۱۳۵۷ش) وروســتــه کـمـونسـتـي ادب بيـا په (۱۳۷۱ش) کښې سو چه ايراني خواته لاړ. او د خـــراسـان هنګامـه ورسـره يو ځاى شوه . ايران ددې خبرو ترشا ودريد.

## آريانا او خراسان :

وروستيو مؤرخينو داخبره کړې چه دافغانستان نوم پـه لرغونو مهالونو کښې آريانا ؤ، بيا خراسان شو او وروسته افغانستـان. پـه دې وختو کښې يوه درجه را تيټ شول چه خراسان اسلامى وايئ.

کله چه تاريخ ته ژوره کـتـنه وشي داخـبـره چوره غلطه ده چه وروستـه بـه يې دلايل وکتل شي.

دتاريخ له مخې او تاريخي اتلسونو او نقشو له کتلو اريانا يوازې دهرات سيمه ده. مګر په تاريخي اتلسونو کښې ، باکتر؛ اراکوسيا ، ساکستان او دسند حوزه پاکتيا ډير ليدل کيږي. خراسان هماغـه دخراسان اوسنى ولايت چه پرخپل ځاى ؤ ؛ اوس هم دى. لکه هرات چه هرات دى.

کـه چيرې دتاريخي مطالعـاتو مرکزونو داخبره نه واى بربنډه کړې مونږ به همغه « توهم » کښې پاتې وو.

زابلستان ، کـابلستان، ساکستان ( باکتربلخ بخت) هرات پـه خپلو ځايوکښې دي. کله پراخ اوکله يې لمنې لنډې وې.

دا يوازې ايران نه دى.هند هم غلطې نقشې او مـعلوماتونه ورکوي. طبري تاريخ چه معتبره تاريخ دى په ځرګند ډول وايئ چه « سيستان دآمو او اباسين ترمينځ پروت دى چه له خراسان لوي او وګړي يې ډير دي ».

مسعودي پـه مروج الذهب کښې وايئ چه « دچين او خراسان ترمينځ ځمکه دکوشان

خلج او ترک قلمرودی چه منظم دولت دی».

ددې خبرې يادونه ضروري ده چه خلځ او ترک غلځي او تره کي دي چه دافغانستان په تاريخ کښې ډيره ونډه لري.

دروسيې جنوبي برخه تو له دساکو په لاس کښې وه او لرغونو تاريخو کښې له هغې جملې دهيروډوتس په کتاب کښې په تفصيل ليکل شوي چه کوروش هم ددوئ له خوا ووژل شو.

دوهم فرهاد هم دوئ وواژهٔ.

ساساني فيروز ييتليانو وواژهٔ.

دريم يزدگرد سوريانو وواژهٔ.

شاه حسين صفوي هوتکو وواژهٔ.

ددې تاريخ معنی داده چه له هخامنشيانو ترصفويانو پورې بيا قاجاريانو پورې ددوئ پادشاهان دافغانانو له پلوه وژل شوي. لا هم دايران مداخلې دوام لري.

نادر افشار دافغانانو په لاس کښې ؤ. دهٔ سره احمد شاه بابا، آزادخان، آدم خان مرسته کوله. په سياست پوه افغانانو خپل دوه غليمان هند او ايران په دهٔ ووهل او دلوي افغانستان دجوړيدو لاره يې پرانيسته.

تاريخ کښې لومړني مدني خلک سوريان ؤ. چه دسند په حوزه کښې يې ښارونه او پادشاهئ جوړې کړې چه دافغانستان په ختيځ کښې ټاکسيلا او په لويديځ کښې مهرگړ دواړه داوسني افغانستان سرحد ته نژدې او داتلسمې پيړۍ ترپايه افغانستان ؤ. «سوي ښار» دسيستان يا اوسني نيمروز ولايت ته نژدې پروت دی. ددغو ښارونو دجوړيدو اټکل څلور زره کاله دمخه کيدای شي. مگر مسعودي د سوريانو مدنيت وروسته له توفانه ښيي. يعنې د نوح (ع) په توفان کښې چه د هغه اټکل اووه زره کاله کيږي.

سور، سوريا، سورج، سورياني، سومري سند، اباسين سين يو له بله ترلي دي. د

سندله حوزې داوبو له لارې اودوچې له لارې بين النهرين «دجله فرات» ته تللي او خپل مدنيت يې هلته رسولى. دوهمه څپه دساکوده. بيا دباکتر بلخ او پاکتيا خلک دي، ساکستان د ساکو پــه نوم دى. پکتيا دپښتنو په نوم دى. باکتر بلخ بختي هم دپښتنو په نوم دى.

دخراسان نوم اوآريانا ټول افغانستان نه شي اخستلای او په ساده اصطلاح يې احتوأ کوي. او دغه فکر ايراني تومنه لري.

دافغـانسـتـان نوم دپخلاينې نوم دى. ټول افـغـانان چه په هرقـوم پورې اړه ولري افغانان دي.

دايران جـمهور رئيس رفسنجاني په (١٣٧١ کـښې) دافـغـان شيـعـه گـانو په يوه غـونډه کښې وويل چه «دافغانستان نوم بايد دټولو افغانانو نمايندگي وکړي». ددوئ په فکر افغان يوازې پښتون کيداى شي.

ايراني شـوي خلکو پخه داومنله څرنگه چـــه افـغـانسـتـان خراسـانۀ. بيـادې خراسان شي.

ايران دجـهـاد پـه کلوکـښې (١٣٥٧ - ١٣٧٠ش) پورې خـپل سپـاه انقـلاب او پاسداران په مرکزي افغـانسـتـان کښې جوړ کړل. باميانو کښې يې پوهنتون ، هوائي ډگر دخميني جاده، ښوونځي ، کتابخانې جوړې کړې گواکې دلتـه ، يوکوچنى ايران شو. په کال (١٣٧١ش) کښې يې خپل نماينده نجفي مزارشريف ته وليږه. له مسعود پنجشيـري ، مزاري هزاره ، دوستم ازبک ، مومن تاجک ،نادرسيد ناصر، عظيـمي پرچمي او نورو سره کښيني او ديوه نوي حکومت ترتيبات ونيسى چه وليدل شول.

د مزارشريف اوپلخمري په لوري شيعه هزار گانو خوځيدل پيل کړل. مزاري چه مړ شو هلته مزارشريف کښې ښخ شو. چه ازبک وارخطا شول. دوستم ته يې وويل چه دادې څـــه وکـــړل؟ مزار شريف زمونږ ښارۀ. سني مذهب اوس يو شيـعـه مذهب ايرانى ښار شو.

کله‌چه په ( ۱۳۷۷ هـ ل کښې) طالبان هلته لاړل. دايران د قونسلگرۍ يوولس تنه مـامـورين ؤ او نورو ايرانيـانو وسلې راوړې او بيل بيل کـارونه يې کـول. دغـه قونسلگري دشمال داتحاددپاره وه ، نه‌دټول افغانستان دپاره.

ايران غـوښـتل چه هزاره شـيـعـه اونور شـيـعـه گـان او فـارسي ژبي راټول کړي. مزارشريف ، پلخمري، باميـان ، هزارجات له افغانستان څخه‌بيل کړي. هغه تاريخي بلخ چه‌مولانا جلال الدين بلخی ، ابن‌سينا او په سلهاؤ نور پوهان او شاعران چه‌ايران يې د خپل تاريخ يوه برخه بولي؛ ترلاسه‌کړي. په‌نولسمې پيړۍ کښې يې هڅه‌وکړه چه هرات ونيسي.

ايران په‌دووپښو را روان‌دی. شيعه مذهب او فارسي ژبې. چه ايران هغوئ حوزه فارسي زبان، بولي او خبره تر تاجکستان دايران شي.

که‌څه هم غزنويانو ، غوريانو او ابداليانو ټول ايران نه‌ؤ نيولی ، مگر تر نيمايي‌ئې ډير نيولی او دغـــزنويانـــو ، غـوريانو او ابداليـانو په دوروکـښې ايران کښې کـوم پادشاه نه‌ؤ.

صفـاريانو او هوتکو بشپړ نيولی ؤ. له دې بحث څخه مطلوب دادی چه‌دايران‌له جنجاله مونږ نه‌خلاصيږو. له‌هخامنشيانو ، ساسانيانو ، ترصفويانو قاجار ، افشار او اوس.

داخبره دپام وړده چه له‌ايران سره‌څه‌وکړو ؟

## سکا ، سکه ، سکايي ، ساک :

ساک يوداسې لوي‌قوم دی‌چه د هيرودوتس له‌قوله ، دآسيا لويه‌برخه‌ددوئ په لاس کښې وه . ځينې پوهان وايي‌چه پښتانه ټول ساک دي. دغه خبره له‌حقيقته دومره ليرې نه‌ده ، ځکه دومره لوي‌قوم‌چه يو سرېې په‌مصر کښې او بل سرېې جنوبي هندداورال له‌غاړو ترخزر اومديترانې پورې وتلی وي کيدای‌شي همغسې وي . ساک دافغانستان په‌ډيرو ځايو کښې پراته‌دي. کوم‌ځای کښې چه‌دوئ اوسي هغې سيمې

ته هم ساک وایي، کابل، گردیز، لغمان ، میدان هرچیرې چه ساک اوسي هم همغه ځای ته ساک وایي.

ساکو خپل هیواد سکائیه او ساکستان باله. اوس هم خپل داوسیدو ځای ته ساک وایي.

یوه خبره چه ماته په میدان کښې ثرگنده شوه هغه داوه چه په (۱۳٤۹ش) کښې زه ؤلسی جرگې ته له میدان نه کاندیدؤم. حاجي ملک حبیب ابراهیم خیل زما مشرؤ او په قوم ابراهیم خیل ؤ. دهٔ وویل: «ساک له مونږ سره دریږي. ځکه ابراهیم خیل هم ساک دي».

وروسته له پوښتنو اوڅیړنو څرگنده شوه چه دساکو یو شمیر خپل نوم ابراهیم خیل کړی دی. خو سره له دې دساکو په نامه هرچیرې میشته او کابل کښې دساکو سیمه شته چه دساکو بادرنگ مشهور ؤ. طلا قابلي ختکي[1]

اوستا او وید هغه لومړئ منابع دي چه اوسني ایران خپل تاریخ پر هغه مرتب کړی بیا شاهنامه د فردوسي چه سلطان محمود غزنوي ته یې لیکلې دی.

اوس به وگورو چه دغه دواړه سرچینې څه ډول دي؟

لومړی اوستا او ویدا زردشتی مذهبي سندرې چه له بلخ نه پاڅیدلې، زردښت هم دلته ؤ.

دوهم : دشاهنامې غوره برخه ساک ساکستان، زابل او کابل دی. اوس تاسو وگورئ چه پر کابل، زابل، بلخ او ساکستان څوک کولای شي خپل تاریخ ترتیب کړي؟ افغانستان که ایران؟

سلطان محمود غزنوي چیرته ؤ؟ اوسني ایران کوم بشپړ خپلواک تاریخ نه لري ددغه هیواد تاریخي ځایونه کابل، زابل، بلخ او سیستان دی. اوسیندونه چه مدنیت

---

۱- دایو ډول ډیر اعلی ختکی ؤ چه بیایې تخم ورک شو.

پرهغه دريږي. آمو، هيرمند او د کابل سيند دی، چه بيا باسين ترې جوړيږي.

تاوان چيرته دی؟ دافغانانو بې خبري؛ نه پاملرنه تاريخ ته په پښتنو کښې همداسې چه لنډی خوله په خوله راغلي تاريخي پيښې هم خولې له خولې دي.

تير تيردی. اوس چه وسايل ډير دي؛ دې خبروته پاملرنه په کارده.

داحمد شاه بابا ديوان په کندهار، کابل او پيښور کښې چاپ شوی. مگر د پيښور له چاپه هغه شعرونه ايستل شوي چه ملي بڼه لري.

ستادعشق له وينو ډک شول ځيگرونه
ستا په لاره کښې بايلي زلمي سرونه
تاته راشمه زړگی زما فارغ شي
بې له تامې انديښنې دزړه مارونه
دډهلي تخت هيرومه چه راياد کړم
زما دښکلې پښتونخوا دغروسرو
که تمامه دنيا يوخواته بل خوايې
زما خوښ دي ستا خالي تش ډگرونه
دحميد اودفريد دور به بيا شي
چه په توره پښتانه کاگوزارونه

يادا:

که دهند د ملکو فتحه مې روزي شوه
بس ايران لره په توغ په نغاره ځم

(اونور ....)

په هند کښې دغزنويانو، غوريانو، خلځيانو، لوديانو، سوريانو، دشپږوسووکلو پادشاهي وه. هندي نوی تاريخ د مغلو دورې ته ځي. بيا دانگليسانو دورې ته راشي او د پښتنو حکومتونه نه يادوي. ايران غزنويان خپل بولي. هنديان کوشانيان

اوهندوکش غر. نو زمونږ موجوديت په سوال کښې دی. مونږ په بشپړ يووالي، وطنپالنې او تورې ځان ساتلی شو. بله لاره نه لرو. او داځل قلم ورسره ضروري دی. په هند کښې دښوونځيو څخه هم دتاريخ په مضمون کښې دافغانانو داوږدې پادشاهۍ خدمتونه، علمي کارونه او ودانيو څخه سترګې پټوي. ايران دافغانستان تاريخي وياړنې دساکستان، غور، غزنې، بلخ، هرات خپل بولي. يوازنی دليل فارسي ژبه ده، چه هغه په زرنج، بلخ، بادغيس او غزنې کښې روزل شوې.

## اوستا، ويدا او زند:

دزند، اوستا او ويدا او دزردښت زيږيدنه ددې ټولو تاريخ اټکلي دی. او مذهبي سندرې هم وروسته ټولې شوې او ليکل شوې. لنډې او اصلاح شوې دي. او مهمه برخه هماغه ګاتونه دي چه دهغه انګليسي ترجمه شوی متن هم شته.

## «تواريخ» دهيرودوټس ليکنه

(٤٩٠ -٤٢٥ پخوا ترميلاده)

هيرودوټس دژوند مهال او کتاب څرګند دی چه يوسل نوي کاله دمخه دهغه انګليسي ترجمه خپره شوې. دغه کتاب هرڅه‌چه‌دی يوازنۍ سرچينه او منبع ده.

اوس به دپارس او ساکستان چه نن پارس ايران دی اوساکستان افغانستان دی.

دهيرودوټس مهمه خبره داده چه پاکتيسيا (پکتيکا) اوباکترا او بلخ يوخلک بولي يعنې داوسني هندوکش شمال او جنوب يادسند او آمو دواړه غاړې.

مونږ کولای شو دکوروش او داريوش جګړې، دهيرودوټس په تاريخ کښې وګورو چه څنګه ساکانو يا ساکستان هغه په شاووهلې، کوروش يې وژلی او داريوش يې شړلی دی؟

کله‌چه‌دکوروش اوداريوش خبره وي، هماغه هخامنشيان دي‌چه‌ددوئ قومي خپلوان افغانستان کښې ؤ.

هیرودوتس داخبره په ډاګه کړې چه له نورو هیوادو کوروش ته مالیه نه ورکول کیده یوازې سوغاتونه یې ورلیږل.

د هیرودوتس دتواریخ په (۷۹ مخ کښې) لیکلي «چه دکوروش ټوله پاملرنه بابل او بلخ ته وه. دسکائیانو دوضع له امله».

ښکاري چه بلخ او بابل کښې ساکان ؤ، چه (۹۸ مخ کښې) دکوروش او ماساګیتانو داستان راغلی، چه همدلته کوروش د ساکانو دیوې قبیلې له خوا وژل کیږي.

وایي: «وروسته دآسور له نیولو کوروش دماساګیتانو په فکر کښې شو. ددوئ ځمکه دجیحون له روده هاپلوده. دغه قوم ګڼ او جنګیالی دي. ځینې وایي دوئ دسکائیانو (ساکو) یوه برخه ده» «په دغه دوره کښې تومو روس (لکه تهموروس) دماساګیتانو ټولواکمنه وه. دا دخپل میړه له مړینې وروسته دحکمرانۍ په ګدۍ کښیناسته. کوروش هغې ته داسې پیغام ولیږۀ چه غواړي هغې سره واده وکړي. مګر ملکې تهموروس منفي ځواب ورکړ. ځکه پوهیدله چه کوروش واده نه کوي. غواړي ددې هیواد ونیسي. څرنګه چه کوروش په دې چل بري ته ونه رسید. دجګړې لاره یې ونیوله.».

دماساګیتو ملکې تهموروس وویل: «زما او ستا ترمینځ داسین دی. یا ته له سینده پورې ووزه زما لښکرې به یوه ورځ لار شاته شي. ته خپله جګړه هماغسې پیل کړه چه جګړه مار سرداریې کوي. یا ته خپلې لښکرې له سینده هغو مره شاته کړه. چه زه جګړه پیل کړم. په دې مهال کښې دلودیا پادشاه کرزوس چه له کوروش نه یې ماته خوړلې وه له کوروش سره اسیر ؤ. کوروش ورسره ملګری شوی ؤ. له ځان سره یې ګرځاوۀ چه ددۀ ترسترګو لاندې وي. کرزوس کوروش ته مشوره ورکړه که دښمن ستا خواته راشي بې جګړې یو ګام مخکښې دی. که تاسو لاړشئ تاسو به مخکښې یاست.

دملکې لښکرې شاته لاړې. کوروش له جیحون نه یوه ورځ لاروړاندې لاړ. کوروش دخپلو لښکرو یوه برخه هلته نقل کړه او پخپله له پاتې لښکرو سره بیرته دجیحون غاړې ته راغی.

دماساګیت لښکر پردوئ حمله وکړه. سخته جګړه وشوه. هلته دیوه چل دپاره ډوډۍ اوشراب دمیلمستیا په توګه جوړ پراته ؤ. د ماساګیت شهزاده سپارګاپیښ چه زلمی ؤ. له دسترخوانڅخه وخوړل. بېسده شو. دپارس لښکر پردوئ حمله وکړه. شهزاده هم اسیر شو. همدا چه سپارګاپیښ په سدراغی.وئې لیدل چه دی اسیر شوی له غیرته یې ځان وواژه. ملکه چه خبره شوه کوروش ددې نصیحت نه ؤ منلی. په ټول قوت یې حمله وکړه. داسې جګړه وشوه چه نه وه لیدله شوې. لاس او ګریوان شول. پارسیانو ماته وخوړه. ډیر سپاهیان یې مړه شول. کوروش یې هم مړ کړ.»

استاد قیام الدین خادم وایي تهمروس ملکې دکوروش سر دوینو په لوښي کښې ننه ایست او وئې ویل «وخوره ظالمه چه وینې دې خوښیدلې.» دا وه دکوروش او تهمروس جګړه او ددوئ یعنې پارسیان سبق.

یوه پلا داریوش هڅه وکړه چه ساکستان (لوي افغانستان) ته راشي که څه هم داریوش ژوندی ووت خو هیڅ ورته پاتې نه شول.

هیروډوټس ددغې جګړې تفصیل ورکوي چه څنګه داریوش له ډیرې ناهیلۍ اوخواشینۍ شرمیدلی له افغانستان څخه وزي.

داخبره سمه نه ده. کوروش او داریوش به دلوي افغانستان خاورې ته راغلي وي او هغه به یې نیولی وي. تر تواریخ د هیروډوټس لیکنه بل کوم غوره سند نشته.

دداریوش حمله ناڅاپي وه. د ساکستان پادشاه «ایدان تورسوس» سمدلاسه دلویې جرګې غږ وکړ. د افغانستان په تاریخ کښې همدغه یوه لویه جرګه وه چه تاریخ کښې ثبت شوې.

# دداريوش ديرغل لەامله
# دساکستان لويه جرگه

داريوش چەلەلويديځ هيوادوڅخه لکه بابل ډير شته ترلاسەکړی ؤ ، غوښتل يې دساکانو پر هيواد يرغل وکړي.

هيروډوټس دتاريخ پلار په دغه فصل کښې وايي: داريوش لەساکانوڅخەدغچ اخستلو په فکرکښې ؤ . ساکانو دمادانوڅمکه نيولې وه .

داريوش بې حـسـابـەلښکردرلوداوډيره زيرمـه ورسـره وه . کلەچەددې جگړې تفصيل وليکل شي بيا د اوسني ايران داخبرې بې ځايەدي چەهخامنشيان ګوندې ټول په لوي افغانستان کښې پاتې شوي وي.

مطلوب دادی چەدايران ترېگني مونږ سرەپای نەلري.

دتواريخ په (٢٧٤) مخ کـښې ويل شوي چه د سـاکـانو پادشاه ايدان تورسوس دټولو ساکي قومي مشرانوجرگه راوغوښته چه دداريوش ديرغل دمخنيوي دپاره يو تدبيراو پريکړه ترلاسه کړي.

کلەچەلويەجرگه راغونډه شوه . يوه عـجيبه صحنه چه دلويې جرگې غړو په ډيره خپلواکی (ديمـوکراسی) خپلې نظريې وويلې چه هيروډوټس هغەداسې بيـانوي:« داقوامو مشرانو چەدساکانو وړانديزونـه واوريدل داسې يوه نتيجه پەلاس رانه غله چه درأيو په اتفـاق وي. دبوديني، گلوني او سـرمـاتو اسـتـازو ومنله چەسکائيـانو سره مرستې تەچمتودي. مگر اگاتيرسي، نري، اندروفـاگي، ملانـکلاني اوتوري مشرانو داسې ځواب ووايه:

تاسو پرپارسيانو يرغل وکړ. که تاسو لومړی تيری نه‌وای کړی؛ حق ستاسو ؤ. مونږ به ستاسو ملګري وو او له پارسيانو سره به موجګړه کوله. حقيقت دادی چه تاسو هغه مهال له‌مونږ سره خبره ونه کړه. ترڅو چه تاسو غښتلی واست او پارس باندې مو حکومت کاوۀ. هرڅه برابرؤ. اوس چه هماغه مغلوب ملت غچ اخستلو ته پاڅيدلی، له‌مونږ سره مشوره کوئ، مونږ پارسيانو ته‌صدمه نه‌ده رسولی. مونږ اوس دغه کړکيچ ته نه‌وړاندې کيږو. اوس که هغوئ په‌نامړنتوب پرمونږ يرغل وکړي‌مونږ به جګړه پيل کړو. د هغوئ داچارزمونږ دپاره نه‌دی. تاسو پر هغو ورغلي ياست. دهغوئ جګړه تاسو سره ده!».

په‌دې لويې جرګې کښې چه د پښتنو دبيلوبيلو سيمو مشرانو ګډون کړی ؤ؛ دوئ په مړنتوب يا پښتونولۍ خپله‌فيصله کړې، هيرودوتس داتو قومو نومونه اوخصوصيات بيانوي‌چه هغه‌به‌په بل ځای کښې را واخلو.

څرګنده خبره ده چه‌دپښتنو په برخه کښې بايد دوه حقيقتـه هر پښتون په‌نظرکښې ولري چه‌پښتانه بني اسرائيل او عرب نه دي.

دوهم داچه‌پښتـون د نژاد نوم نه‌دی. دپښتـو اوپښتونولۍ خبره ده. که‌دنژاد خبره‌وي ساک او هخامنشيان يونژاد دی. مګر ساکان، او ددوئ اړوند قومونه په‌جرګې اولويې جـرګې مـيړانې او عـدالت عـقـيـده درلوده. نو ډيرو مـشـرانو د «ايدان سـورس» دساکودپادشاه خبره ونه‌منله. مګرچوره يې ردهم نۀ کړه. او ايدان سورس يې ګرم وباله اودومره يې ويل چه مونږ دجګړې په سرکښې نه‌دريږو خو درسره يو.

ورروسته‌له‌دغې فيصلې ساکانو غوره دا وګڼله چه‌داريوش په‌خپل لوي هيواد کښې لالهانده کړي چه‌ښه ستړی شو بيايې وټکوي. اودجګړې دغه صورت اوس هم په افغانانو کښې ليدل کيږي.

اوس به راشو ددغې جګړې تفصيل او نتيجې ته :

څرنګه چه په جرګه کښې بوديني، ګلوني، سرماتي دساکو ملاتړ کاوۀ اوآګاتيرسي، نري، اندروفاګي، ملانکلاني او توري ويلي ؤ چه دوئ پرپارس تيري نه دی کړی پارسيان به پردوئ تيری نه کوي.

مګر پارسيان ددغو ميړنو په اصولو نه پوهيدل. توپيردادی چه هخامنشان او سکائيان دواړو يوه ريښه درلوده. مګر دکلونو له تيرويدو يوهٔ پښتونولي پرېښې وه او بل نه وه پرېښې.

کله چه داريوش جګړه پيل کړه دغه ملاحظه يې نه درلوده چه څوک جګړه سمه بولي او څوک يې نه بولي.

دساکانو د جګړې اصول په دغه جګړې کښې داؤ چه خپل تکړه سوارهٔ يې دداريوش مقابلې ته وليږل او دوئ ته ئې وويل چه کله داريوش پرتاسو حمله وکړي تاسو به په شا راځئ. کله چه داريوش ودرېږي تاسو بيا ورشئ اوکله چه ورنژدی شوئ بيا شاته راشئ. چه داريوش ددرې څلور ورځو لارې په اندازه مخ ته راغی بيا پرې له شا او مخې حمله وکړئ.

دداريوش له مخې دخوړو او وښو زيرمې ليرې شوې وې. داريوش کومه جګړه ونه کړه او سپاهيان به يې وژل کيدل. دغې جګړې اوتيښتې په يوه پراخ هيواد کښې داريوش ستړی کړ . لکه چه بې ګټې تاوان وي.

نو «ايدان تورسوس» ته يې داسې يو پيغام واستاوۀ : « ای تښتيدونکی سړيه ترکومه به تښتې؟ ته له دې دوو لارو يوه درته وټاکه: که چيرې فکر کوې چه ماسره دمقابلې توان لرې نوددې پرځای چه په دې پراخه نړۍ کښې تښته مه ، پرځپل ځای اوسه او خپل زور ښرګند کړه او که چيرې زما د مخې کيدو قدرت نه لرې؛ له دې تښتيدلو څه ګټه؟

ښه به داوي چه دخپل سرور په حضور کښې اوبه او خاوره د اطاعت په توګه راوړي او خبروته کښېني ! ».

ايدان تورسوس دساکانو پادشاه ددار يوش ددغه پيغام په ځواب کښې داسې وويل: « ای دپارسيانو سره! ته زما دجګړې په لاره نه شې پوهيدای. زما تيښتې له ويرې او ډاره نه دي. هيڅکله له هيچا ويره نه لرم. کوم کارچه زه کوم ستاله نظره بايد ليرې نه وي.مونږ تل داسې کوو حتی د ښولې په مهال کښې هم. که غواړې چه پوه شې ولې جګړه نه کوم. دهغه دليل به درته ووايم. مونږ ښار اوکروندې نه لرو، مونږ دخپلو پلرو هديرې ساتو، مونږ ترهغو جګړه نه کوو څو چه زمونږ مقدساتوته خطر نه وي.

زما دغه ځواب ستا دګواښ د پاره دی چه تاځان زما سرور ښودلی. زه بې له خپل خدايه بل سرور نه لرم. زه تاته اوبه او خاوره نه استوم. ته دنورو شيانو وړئې. زما ځواب دادی چه ای بلا زمونږ له خاورې ووزه؟ »ددار يوش پيغام دسکائيانو مشران قهرجن کړل. دساکو سپاره تل هغوئ په مخه کول او خپل بری يې ښود. پارسيانو له خپلو پيادګانو مرسته غوښتله او سکائيانو پياده سپاهيانو سره جګړه نه کوله. چه سواره به يې دپارسيانو وتښتول دوئ به بيرته راتلل. دپارس لښکرې بې وزلې شوې.

داريوش نه پوهيده چه څه وکړي؟

ساکانو دوئ ته وويل: چه « ای دوستانو! که لکه مرغی والوزئ اوکه لکه موږک په سوړه ننه وزئ يا لکه چونګښه اوبو ته لاړشئ امکان نه لري خپل هيواد ته ژوندي لاړشئ. همدلته تاسو دسکائيانو په لومه کښې لويدلي ياست».

داريوش خپلو سردارانو ته وويل: «ښه به داوي چه دساکو له ځمکې ووزو!».

پارسيانو دشپې له خوا خپل څاروي ( بارووړنکي) خيمې او سامان پريښودل. دشپې له مخې په دې چل چه لښکرګاې ډک ښکاريده اوورونه بل ؤ. يوازې خرهٔ اوکچرې وې نه بل څوک ؤ. سکائيان پوه نه شول چه دا ددوئ يوچم ؤ. سبا يې وليدل چه

پارسیـان اوداریوش تښتیـدلي ، هغـه ؤ کـوروش او داؤ داریوش. دپارس لوي پادشاهان، چه ساکانو یادساکستان اویاسکائیه خلکو هخامنشان ، په مختورئ له خپلې خاورې وشړله کوروش یې اعدام کړ. اوداریوش دلښکرناتوانه برخه‌چه ښاروي، ښځې او ناروغان ؤ،هغه ټول پرېښودل.دساکو زره سوی مال او اسباب او دوئ وتښتېدل.

ساکانو منهې پسې وکړې خودوئ له سیند نه پورې وتلي ؤ. پورته تفصیل دهیرودوتس دتاریخ دپلارؤ.که دانه وای مونږ تل دامنلی‌وه چه هخامنشانو زمونږ هیواد نیولی دی.لکه څنګه چه ایران او ایراني شوي همداوايي.

داریوش چه‌په ماته اوستومانۍ دساکستان له خاورې ووت، ساکان دوه ځله په دوئ پسې ورغلل.خو ایرانیانو دتیریدو پل وران کړی ؤ.

داریوش چه کومه ماته دلته وخوړه دهغې دتلافۍ دپاره « ساروس » یعنې لویدیځ په‌لوري لاړ.

# پيتليان او ساسانيان

پوهاند حبيبي په خپلو ډيروليکنو کښې لکه «تاريخ مختصر افغانستان» پيتليان يفتليان ، اپتل ، ابدال بللي ابداليان ، پيتليان بولي.

سکائيان دسند حوزې ته راغلل. بيا هند ته لاړل . دګجرات له لارې جنوبي هندته وخوځيدل او د سيستان په سيمه کښې ميشته شول. په تخارستان ، يفتليان ميشته شول.

«طبري» چه په اسلامي نړۍ کښې لوي تاريخ لري. دهٔ ډير کتابونه ليکلي، خو دطبري تاريخ له مهمو تاريخونو څخه دی.

طبري دسيستان او خراسان په باب وايي سيستان ترخراسان لوي دی او وګړي يې هم ډيردي. بيا وايي دسند او بلخ دنهر ترمينځ دغه ټول سيستان دی.

په طبري کښې دساسانيانو دپادشاه فيروز او اخشنوار ديفتليانو دپادشاه دجګړې ترنورو ښه بيان کړی.

طبري کښې راغلي چه فيروز ديپتليانو په مرسته خپله پادشاهي ترلاسه کړې وه. کله چه يې ځان لږ په قوت کښې وليد. بيايې پرتخارستان يرغل وکړه اخشنوار ورته وويل چه زما او ستا ترمينځ يو تړون دی.

اخشنوار يفتلي خپل چمتووالی وښود او فيروز مخ په وړاندې راتهٔ. څلورورونه يې چه هريوه دپاشاه لقب درلود مخکښې راته . اخشنوار لومړی هغه تړون ياد کړ چه ددوئ ترمينځ ؤ. فيروز ونه منله . اخشنوار دطبري په قول دتړون پاڼه پرنيزې پورته کړه او غږيې وکړ چه خدايه دغه تړون ته عملي کړه!

جګړه پيل شوه . فيروز او ورونه يې ووژل شول. ټوله خزانه وسله او هرڅه ترې پاتې

شول.

طبري وايي چه دخراسان ولايت دپيتليانو لاس ته ورغی. دې نه مخکښې په پارسيا کښې داسکائيانو پادشاهي وه.

ددغه مهال نيتې دومره سمې نه دي. بيا هم دهمغه مهال شا او خوا کښې وي. وروسته له هغه چه سکندر مړ شو. ددهٔ سرداران هرځای پادشاهان پاتې شول. مگر په باکتر کښې داسې پادشاهي جوړه شوه چه يونان باکتري نوميده. لکه چه په لسمه ميلادي پيړۍ کښې غزنوي دولت جوړ شو، چه خپلواک ؤ. که څه هم دی دسامانيانو يو سردار ؤ. مگر دغزني دخلکو په غير کښې پريووت او له سامان سره يې پرې کړه.

باکتري يا باختري دولت هم داسې ؤ. ددوهم فرهاد اشکاني پادشاه له يوهٔ سلوکي پادشاه سره چه انتوخوس نوميده، جگړه شوه. سکائيانو دفرهاد ملاتړ وکړ. خو فرهاد بيا له ساکانو سره په جگړه شو. ساکانو دهٔ ته ماته ورکړه او پخپله هم دساکانو له لاسه ووژل شو او سکائيانو (ساکانو) پارس لاندې کړ. (١٢٥ پخوا ترميلاد) دوهم فرهاد داشکانيانو پادشاه وروسته له کوروش کبيره دوهم پارسي پادشاه ؤ چه ساکانو مړ کړ. «پيروز» يې دريم چه مخکښې يې ذکر راغی.

کوروش ٥١٤ کاله مخکښې له ميلاده دتهموروس ملکې په لاس ووژل شو.

دهيرودوتس دليکنې له مخې ساکان په مصر کښې له فرعون سره هم جنگيدلي.

په زاړهٔ تاريخ کښې ډير هغه مسايل نه ؤيکوم چه اوس له هغې جملې يواروپايي ناسيونالزم دی چه ژبه، هڅوب يعنې کلتور حتی نژاد اهميت لري. اروپائيان په خوله دنژاد نوم نه اخلي.خو په عمل کښې يې نړۍ له خپله نژاده ځار کړله.

پښتانه آريايي دي. د ايران پارسيان هم هنديان ټول يو خلک دی؛ خو اقتصادي گټې،ژبه،کلتور تاريخ دی چه خلک بيلوي.

اوسنی ايران سلطان محمود غزنوي، مولانا بلخي، زردښت او په سلهاؤ نور غټان چه په بلخ، هرات، غزني حتی کابل کښې دي دوئ يې ايراني بولي.

ځو څوک یوه خبره پورته نه کړي. دبل ورته پام نه کیږي. اوس ایرانیانو او ایراني شوي افغانانو داخبره وخوځوله.ځو دافغانانو پام شو.

دادی چه دسور، ساک او پاکت هیواد دمدنیت سرچینه ده. دادی لادې داروپایي او غربي تاریخ پوهانو کوروداں وي چه دوي تاریخي حقایق سم لیکلي دي.

په دې لیکنه کښې یوه خبره بې مدرکه نه ده لیکلې شوې. ځکه که نن څوک پوه نه شي سبا څرګندیږي چه سمه خبره نه وه.

بیرته به دافغانستان ایران تاریخي اړیکو ته راوګرځو. کله چه د اسلام دین خپور شو، ساسانیان په ایران کښې عربو دهغوئ هیواد چه ودان او سمسور ؤ؛ ونیوهٔ. یزدګرد ساساني پادشاه، یوځل لکه د تیرو ایراني پادشا هانو غوندې دافغانستان په لوري راغی او له باختریانو، ساکو اونورو افغان قومونونه یې مرسته وغوښتله. دهٔ لا پیغامونه نهٔ رسولي چه دی په یوه ژرنده کښې ونیول شو. بیا دماهویه سوري په لاس ورغی او هغه مړ کی.

په اسلامي دوره کښې ایران دخلافت برخه وه. مګر کابلستان چه کوشانیان ؤ خپلواک ؤ.تر آباسین پورې، سیستان، غزنی چه اسلامي مرکزونه ؤ؛ مګر خپلواک دولتونه یې جوړ کړل.

کله چه طاهري، صفاري او غزنوي خپلواک دولتونه جوړ شول؛ نو ددغو خپلواکیو وړم پر ایران ولګید.

یعقوب لیث صفار عربي له دیوانه وایسته. فارسي یې راوسته. بیا دایران صفوي دولت شیعه مذهب ورسره کړ او دهویت یوه بله نښه یې ورکړه. دتاریخي اسنادوله مخې هرکله چه افغانستان یوپیاوړی دولت وي، ایران کښې هیڅ دولت نه وي. ځکه په نهمه میلادي پیړۍ چه ساکستان کښې د سکز و دولت ؤ، ددغه دولت په ولقه کښې تول ایران یا پارس ؤ. همداسې غزنویان، غوریان ابدالیان او هوتک.

نن چه (۲۰۰۰ میلادي) کال دمارچ دمیاشتې اووه ویشتمه ده. راډیو ګانې وایي

بنگله دیش دانگلیسي پرځای بنگالي ژبه رسمي کړې ده. ددې معنی داده چه ملتونه په گټې او تاوان پسې نه گرځي. هرملت خپل هویت پیاوړی کوي.

دتاریخي څیړنو له مخې ایران دبغداد دخلافت په دوران کښې او د مغلو په یلغار کښې نه ؤ. مگر ساکستان، غزنی، کابلستان ؤ. یوازنی حکومت چه هلته جوړ شو؛ یوې روحاني صوفي کورنۍ داکاروکړ چه دهغوئ نسبي سلسله امام کاظم ته رسیږي. یعنې عرب ؤ. وروسته چه دې افغانانو صفوي سلسله پای ته ورسوله.

صفوي لومړی له بابر سره مرسته وکوله چه کابل ونیسي. بیایې دبابر دزوي همایون دشیرشاه سوري په مقابل کښې وهڅاوه. لښکر یې ورکړ. وروسته گورگاني کورنۍ یعنې هندي مغلو سره د کندهار په سرجگړې وشوې. که څه هم همایون دبابر زوي چه له شیرشاه سوري نه تښتیدلی ؤ؛ د شاه عباس صفوي دربارته لاړ او هغه لس زره عسکر ورته برابرکړل چه له شیرشاه سوري سره وجنگیږي.

همدغو صفویانوله بابر سره مرسته دافغانانو په ضد، همایون مغلي سره یې هم مرسته وکړه. دافغانانو په ضد او په پای کښې یې کندهار هم ونیو. خوچه افغان نابغه میرویس بابا او دده کورنۍ صفوي دولت ته سقوط ورکړ، اعلیحضرت شاه محمود افغان دشاه حسین صفوي تاج پرخپل سرکیښود. اکتوبر ۱۷۲۲م.

# میرویس نیکه او ایران

میرویس نیکه ډیره یوه اوږده لاره ووهله. دتجارت سره یې ځان دهندوستان او ایران له حالاتو پوه کـړ. په خپلو شخصي پیسوئې سوغاتونه اخستل او په ایران او هند کښې ئې ددولت ځینو اغیزمنو خلکوته ورکول. هیڅوک ددغه ځوان تاجر په انتهایي مطلوب نه پوهیدل.

دا نابغه په عربي، فارسي او هندي ژبو پوهیدهٔ. دی نه یوازې، په عادي تکلم پوهیدهٔ. په ادب تاریخ او فلسفه پوهیدهٔ. دپښتنو په مزاج، روایاتو او تاریخ خبرؤ.

ددهٔ په کلام کښې سحرؤ. ده دعربستان عالمان په عربي ژبه قانع کړل او یو اوږد بحث ئې ورسره وکړ. دایران په دربار کښې یې نه یوازې لاره ومونده. بلکه هغوئ ئې تر خپل تأثیر لاندې راوستل.

څوک چه د عربي په سراو صورت و نه پوهیږي څنګه دعالمانو په غونډه کښې د بحث او مشاجرې دپاره کښیني؟

د میرویس نیکه لومړی کار دولیانو سره ؤ. دهٔ سره لویه مفکوره وه. لکه پادشاه آسان یې خلکوته بخښل.

دهٔ پښتانه سم پیژندلي.ددوئ تربګني او اختلافات ورته څرګندؤ. نیکهٔ تجارت نه کاوهٔ. په بلوچستان، ایران او هندوستان کښې ئې دکار خلک لټول.

آفـرین د عـاشـقـانو پـه همت
چه په عشق کښې یک انداز وي یک جهت

په خدای مین، پرخلکو مهربان، وطنپال، ملتپال نیکه، (۱۷۰۶م) کال کښې ګرګین خان چه دصفوي دولت له خوا په کندهار کښې حکمران ؤ.دی بندي داصفهان

دربار ته واستاوۀ. مگر ده په فصيح ژبې خبرې کولې. چه ايراني اديبان ئې هيښ کړي ؤ. ده خپل دکار خلک پيژندل او لکه يو ولي دخلکو په زړونو پوهيدۀ. همالته يې په خپل شخصي مهارت نه يوازې ځان خلاص کړ. بلکه په دربار کښې يې دگلون حق ترلاسه کړ، نه يوازې دا چه د مشورو ورکولو صلاحيت يې وموند. نه يوازې مشوره چه ځان يې د پادشاه په فرمان دگندهار دښار کلانتر مقرر کړ. ميرويس خان غلځايي حاجي شوی گندهار ته راغی. هغه چه بندي اصفهان ته ليږل شوی، له ډيرونوو صفتو سره گرگين خان ته راغی.

دی حج ته تللی حاجي شوی ؤ.

دۀ دايران په دربار کښې دصفوي دولت مخالفين پيژندلي.

دۀ نوي ملگری موندلی ؤ.

دۀ دعربستان دغوره ديني عالمانو يوه فتوی درلوده.

دۀ يو منصب ترلاسه کړی ؤ.

ميرويس نيکه عادي سړی نه ؤ. ددۀ کومه خوا وڅيړوه ددۀ استعداد او لياقت که خدای پرستي، سخاوت، فصاحت، سياست .... ؟

ميرويس نيکه هغه پيسې چه په کړاو او تجارتي سفرونو گټلې وې ټولې ئې دافغان دلوي ارمان په لاره کښې برباد کړې.

ميرويس نيکه دايران په دربار کښې ځانله يو گوند درلود چه دايران صفوي دولت يې چټک اقدام ته پرې نه ښود. کوم وخت چه کندهار خپلواک شوی ؤ او گرگين وژل شوی ؤ.

# دميرويس نيكه سياسي ليكونه او ډپلوماسي!

ميرويس بابا په دې پوهيدۀ چه په ختيځ او لويديځ خواكښې يعني مغلي هند او صفوي ايران سره په يوۀ وخت مقابله نه شي كيداى. نو دۀ پخپلو مشهورو ليكونو كښې چه دهند مغلي پادشاه او دايران صفوي پادشاه ته ئې وليكل د هغو مضامين دومره مدبرانه وو چه دوه سياستې يې ونيولې، څو دهغه په مضمون پوه شول او دځواب په ليكلو بوخت ۇ.

دهند مغلي پادشاه ته يې ويلي ۇ:« كومې معاملې چه ايران سره لرو، له تاسو سره هومره نه دي او په دې وجه چه تاسو سني مذهب ياست.مونږ هم يو دبل په مرسته ښه ايسوو!» .

او صفوي دولت ته ئې ليكلي ۇ:« چه قوم زه وټاكلم او داښه شول چه كوم تند افغان يې نه ۇ ټاكلى . كه داسې شوي واى ښايي تاسوته مزاحمت ډير شوى واى. » .

مونږ دافغانستان خلك بايد په دې ډپلوماسۍ تل پوه واوسو. په داسې حال كښې چه نه پوهيږو.

دايران پادشاه دوه كسه دنصيحت په نامګندهارته وليږل چه دصفوي پادشاه له خوا ميرويس نيكه ته نصيحت وكړي. ميرويس بابا هغه دواړه له ځان سره بنديان وساتل په دې توګه يې نور وخت دځان دپاره وموند چه خپلې لښكرې اوجګړئيزې چارې پرمخ بوزي. اوداسې مهال يې بيرته وليږي چه ددوئ خبرې دپادشاه په درباركښې ويره خوره كړي.

# ولي پادشاه

## افغان شاه محمود عليه رحمه کرمان ته ورسيد

**د صفوي ايران فتح :** د۱۷۱۹ دنومبر په څلورمه شاه محمود افغان لارښود کرمان ته ورسيد . دنومبر په پنځمه اعليحضرت شاه محمود افغان په داسې حال کښې چه اسدالله خان سيستاني دجعفرخان زوي ورسره ؤ دکرمان په ښارکښې څرگند شو. افغانانو هر ډول وسله درلوده . شپږ اووه زره ؤ. محمود امروکړ دچا کورونه که وران شوي ورته جوړيې کړئ . دوئ کولای شي، په حکومتی باغو کښې واوسي.

افغان فاتح محمود وفرمايل څوک چه وسله نه لري دهغوئ سر او مال په امن کښې دی.خلک راغلل چه محمودشاه دميرويس زوي وگوري.

محمود دوئ ته وويل: په ډاډه زړهٔ خپلو کاروته لاړشئ. څوک ويره نه شي اچولی اوغلهٔ له خلکو نه شي پټولی ،بنديان موخلاصيږي او خوارهٔ به ارزانه شي.

هغه لاسونه به لنډ شي چه تر اوسه يې ستاسو ژوند په عذاب کړی ؤ . د هردين اومذهب خلک به خپل ديني مراسم پرځای کوي .

اعليحضرت وفرمايل، مسلمان، زردشتي، سني، شيعه، مسيحي ، يهود ، هندو چه دلته دي ټول په امن او آزاد دي.

په کرمان کښې د هالنډي تاجرانو ،انگليسي اوهندي تجارو مالونه واخستل شول مگر بيرته دوئ ته وسپارل شول . او هغو چه دخلکو په مال او ناموس تيری کړی بې توپيره اعدام کړی شول.

بلوڅانو او سيستانيانو دشاه محمود مرسته کوله . دکرمان ديني اومذهبي اقليتونه خوشحال او په کرار شول.

د (۱۷۲۱م) شاه محمود بيا له‌کندهاره وخوځيده. بندرعباس يې داکتوبر په پنځلسمه محاصره کړ.په‌دې يرغل کښې ځلور زره بلوڅانو دشاه محمود مرسته کوله.

شاه محمود امر وکړ « بې له توپک او وسلې دچا مال يا پيسې وانه خلئ ! »

انګليسانو صفوي پادشاه ته وويل چه مونږ به ترخپلې وسې ستا مرسته وکړو هغوئ به بيرته ستانه کړو. يوهٔ مأمور ورته ويل : افغانان شپاړس زره دي.ځلويښت زره عسکرويې مخه ونه‌نيوله شوه، انګليسان څنګه‌داکارکولی شي.

په‌دې مهال کښې دهالنډ او انګليس تجارتي کمپنۍ هلته وې او له دربار سره يې نيغې اړيکې درلودې.

په ۲۲ داکتوبر (۱۷۲۲) شاه محمود افغان اصفهان ته‌ورسيد.

شاه محمود امر وکړ:« دچا مال به نه‌اخلئ او داکار به‌تاسوته دوي ګټې ولري اوړې به‌مو سپکې شي او پرخپل نفس به‌حاکميت ومومئ».

مدبر پادشاه ولي‌الله د اخـــلاقو او‌عدالت نمونه په‌ګلناباد کښې ، ايرانۍ لښکرې تار ومار کړې.

په‌فرخ اباد دايران‌صفوي پادشاه (شاه حسين) دشاه‌محمود حضور ته‌راغی. شاه محمود افغان د تسليم شوي پادشاه مخې ته ودريد او‌ځوګامه وړاندې ورغی او دی يې په‌غيږ‌کښې ونيو او دهٔ ته‌يې‌داکا خطاب وکړ.

داکتوبر په ۲۵ اعليحضرت شاه‌محمود په‌داسې حال کښې د اصفهان ښار ته ننووت،چه د صفوي پادشاه تاج ئې پر سر ايښی ؤ.اصفهان ته نژدې په« هزارجريب کښې » هالنډيان، انګليسان او دفرانسويانو قونسل دهـرکلـي د پاره ولاړ ؤ. او د افغان پادشاه تعظيم يې‌وکړ.

شاه‌محمود چه‌اصفهان ته لانهٔ ننوتلی چه تاج يې له سره ايسته کړ او‌شاهي قصر کښې پر شاهي تخت کښېنناست.

دی يو خدای پرست ؤ. شاهي دبدبه يې نه خوښيده. دی فقير مشرب ؤ. دهٔ

ددښمنانو په تاييد هيڅ ښځې ته ونه کتل. پرخپل نفس حاکم ؤ. که څوک کوم وخت پر شاه محمود تحقيق وکړي تردهٔ مدبر هوښيار او زړور انسان نه دی ليدل شوی.

شاهي کورنۍ، شهزادګانو پادشاه او ټولو سره يې ښه وضع کوله. کله چه شهزاده طهماسب وتښتيد لښکريې ټول دهٔ ته ... ووېل چه ځوان شهزادګان دې مړهٔ کړی‌شي. کله چه ئې هغوئ مړهٔ کړل څوخپل وروڼه‌ونه تښتي اوهريو په يوه خوا کښې مخالفت ونه کړي.

کله چـه شهزادګان ووژل شول. شاه محمود وژړل او خپلې متې يې په غاښ کړې ايراني مؤرخينو ليکلي دي ليونی شوی ؤ. افغـان تاريخ پوهانو هم ليکلي چه‌دی ددماغ په اختلال اخته شو.

سليم عـقل وايي دی ولي الله ؤچه شـاهي تخت يې په‌لومړی ورځ پريښـود او شاهي تاج يې له سره ايستـه کړ. دچا مـال يې‌وانه‌خيـست. څوک يې ونه‌وژل چه دسياست په تقاضا څو تنه شهزادګان ووژل شول دهٔ وژړل او خپلې متې يې په‌غاښ کړې دا يو انساني حرکت ؤ.

شاه محمود قاتل نه‌ؤ. خو څوک چه حکومت کوي لږ او ډير داخبرې په کښې راځي مګر کـه‌دی ليونی دی نو سلطان بايزيد او عـارفان هم ليوني دي. ديوه مسلمـان دپاره دا ډول قـضـاوت اسـلامي نه‌دی. ايراني ليکوال ددهٔ په‌تفکر، زړه‌سـواندی آپرين نه‌وايي او ليونی ئې بولي.

په (١٩٩٣م) علي مزاري يو شمير تاجک دا فشار په غمجنې ييښې کښې دلاس لرلو په نامه نيولي ؤ. هغه يې دکابل دپوهنتون په‌چمن کښې چه‌دغه پوهنتون دوحدت دحزب نظامي مرکزؤ، غرغره کړل او ددغې، دموسيقۍ کسټونه ئې غږول او خوشحالي يې کولې. رښتينې افـغـانانو دواړه پيـښې غندلې، هم دافـشار و ناوړه پيـښـه هم په پوهنتون کـښې ديو شمير تاجکانو ديو شـمير نورو لـه امله اعدامول. د وحدت حزب په ايران کښې جوړ شوی ؤ او ايران يې ملاتړ کاوهٔ.

دنظار شورا چه داحمد شاه مسعود په نامه يو پنجشيرى ئې مشرۀ اودتاجکو په نامه يې فعاليت کاوۀ. ازبک مليشه او اسمعيليه فرقې لهشيعه گانو سره يوځاى شوې. هند، ايران، روسيې يې حمايه کوله؛ خبره بيرته هماغو تاريخي دښمنيوته تللې وه.

اعليحضرت شاه محمود افغان، عادل او زړه سواندۀ. دۀ له وژنې بده منله. (لکهارت) يو انگليسي ليکوال د صفويانو د سقوط په کتاب کښې ليکي: «څو د شاه محمود خپله نکاحي ښځه لهگندهاره رانهغله؛ شاه محمود ۲۲ کلن پادشاه هيڅ کومې ښځې ته ونه کتل». په (۱۹۹۳م) د بين المللي آژانسو په حواله دعلي مزاري په کورکې گوسل وپنځوس ښځې او دشوراى نظار وازبک مليشه په کورو او روغتونو ننوتل اوبې عزتي ئې کوله.

دا مقايسه ځکه دلته راغله چه په ايران کښې (۱۷۲۲م) افغانان ننوتل او هالنډي شرکت واگ ورځنۍ پيښې ليکلې. دعزت او ناموس له پلوه ايرانيان په امن کښې ۇ، او په دې باب انگليسي او هالنډي اسناد شته دى.

دافغانستان سترمصيبت دهمغو تاريخي دښمنانو له خوادى.

شاه محمود چه دايراني شهزادگانو پرمرگ ژړلې ليونى ۇ؟

شاه محمود چه دخلکو مالونه بيرته ورکړل ليونى ۇ؟

شاه محمود چه ايرانيو ښځوته تکري ورکړل ليونى ۇ؟

شاه محمود چه دايران دپادشاه له تاج سره داصفهان ښار ته لاړ نه شو او هغه يې له سره ايسته کړ ددې دپاره چه دايران دملت ملي ناموس ۇ ليونى ۇ؟

چه دايران دپادشاه پرتخت کښېنناست ليونى ۇ؟

پورته خبرې دعيني شاهدانو له قوله چه دوئ همالتهۀ او خپل دسترگو ليدلى حال يې بيان کړى.

شاه محمود چا نۀ دى پېژندلى. دى يو افغان ۇ. پښتون ۇ. پۀ پښتنولى ښکلى ۇ. او

پښتنولي په دۀ ښکلې وه.

اوس به يو څو جملې د « برافتادن اصفهان و بر آن محمود افغان » لۀ كتاب څخه چه دكتور ويليم فلورډ هالنډي له كتاب څخه ورځني ياد داشتونه دلته را اخلو.

دمارچ ۱۱ مه: خبر رسيد كه درميان راه شماری از سوی محمود كشف شده اما از محتوی آن وهويت فرستادگان آنها آگاهی در دست نيست. گذشت زمان اين مطلب را روشن خواهد ساخت. نزديكی ظهر كليه اسيران كه چهارتن بودند درجلو كاخ شاه آورده شدند به فرمان شهزاده كه اينک سلطان محمد ناميده می شود شكم های شان را پاره كرده، آنها سوار خر كرده درشهر گردانيدند. » (ص- ۱۰۹)

دمارچ ۱٦ : « امروز شنيديم كه ديشب سيصدوپنجاه افغان از دهكدۀ ارمنی حبا آباد كه تا باغ شاهی فرخ آباد نيم ساعت سواره راه است ديدن كرده اند. اينان به كسی آزاری نرسانده تنها مقداری جو وكاه گرفته اند. »

دمارچ ۱۷ : « شنيديم كه ديشب دو هزار به آبادی ارمنيان يعنی جلفا آمده ، بخش خاوری روستا را زير تسلط خود گرفته اند. يكی از ارمنی های گريخته می گويد افغانان به هيچكس آزار نرسانده ، به عكس به اهالی اجازه دادند خانه های خود را ترک كرده و همه سيم و زر خود را باخود ببرند. »( ص ۱۱٦ ).

دمارچ ۱۹ : « می گويند دوازده افغان كه از اردوگاه دور شده بودند توسط بيست ايرانی كه خود را درباغی پنهان كرده بودند محاصر شده پس از نبرد كوتاهی بابر جای گذاشتن چهار كشته، فرار كردند. سرهای اين چهارتن را بريده نزد شهزاده آورد شهزاده هر يک از آورندگان را دوازده تومان پاداش داد.

۲۰ مارچ : گزارش شده است كه گروهی از افغانان به كنار رود خانه سوی باختری چهار باغ درآمده ، پيش چشم ايرانيان به اسپ سواری وتفريح پرداخته اند. ازين كار ها معلوم می شود كه از ايرانيان هراسی ندارند ».

**د اپریل میاشت:** افغانان دجلفا (چیرته چه مسیحي ارمنیان اوسي) یوسړی کلانتر وټاکه او هغه ته ئې خلعت ورکړ.

زردښتیانو، ارمنیانو، کردانو او عربو دشاه محمود افغان مرستې ته چمتووالی څرگند کړ. پر دوئ باندې ایرانیانو ښه گومان نه درلود او هرځای یې هغوئ نه پوښتنې کولې او ځوروَل به یې.

څرنگه چه نومیالي افغان پادشاه جگړه گټلې وه. دهٔ ته وویل شول چه ایران به کرمان، سیستان مشهد دروسپارې خوته بیرته لاړ شه.

محمود دا ډول خبرې ونه منلې. داگست ۱۷۲۲ په ۱٦ ئې یو زرتنه ایراني اسیران خوشې کړل او هریوهٔ ته یې ځلور محمودي (دپیسو واحد) دلارې خرڅ ورکړ.

دنومیالي پادشاه په حکومت کښې ایران آسوده او له غلیمانو نه ساتل شوی ؤ خو دصفوي دولت پخواني غړي په خپلو غلچکو عملیاتو محمود په خپلو کړو پښېمانه کړ.

ددې لیکنې بل فصل به داعلیحضرت شاه اشرف افغان وي. دشاه محمود شخصیت او دوره څه ناڅه وښودله شو. مگر پرمحمود به راتلونکي ځلمیان ذدکتورا په سویه کاروکړي.

# سیاست پوه شاه اشرف افغان

ددې دپاره چه ایران او افغان اړیکې ولیدلی شي اوهر افغان پرې پوه شي هڅه کیږي چه له دغه مطلوبه بلې خواته پاملرنه ونه شي.

شاه محمود ، په پادشاهی کښې ریاضت ته مخه وکړه . له وچې ډوډۍ او اوبوپې پرته بل څه نه خوړل. د هرچا په وژلو یې ژړل . که څېل افغان ؤ که ایرانی؛ په ده باندې خلکو ویسا درلوده . مګر صفوي شوکمارو خلک نه پرېښودل . په اصفهان کښې بشپړ امنیت ؤ. پادشاه شاه محمود پخپله دشپې له پلوه پرامنیتي عسکرو ګرځیدهٔ ، هیڅا غفلت نه شو کولای.

شاه اشرف افغان دعسکري له پلوه یوښ ساری قوماندان، لومړی درجه دپلومات ، سیاست پوه،دلوړ عزم او لویې مفکورې خاوندؤ. په وروستیو کرښو کښې په لاروروستی برابرو اسنادوکښې پورتني او صاف څرګندکړي، چه ایران لهٔ ډیرو غښتلو دښمنانو لکه دلوېې روسیې پتر ، دترکیې عثماني امپراتوري اودهرمز جزیرې یې له انګلیسي قواؤ وساتلې. ایرانیان یې مني یایې نه مني دایران دپاره یې ډیر څه کړي که اشرفی طلاوې که سل اړخیزوادانی باغونه لاري.... چه ځینې یې اوس هم داشرف په نامه یادیږي.

په دغه تاریخ کښې دهخامنشانو له مهال تر اوسه پورې دافغانانو نیت دوئ ته ښه او ددوئ بد دی.

# اعلیحضرت شاه اشرف افغان

اشرف شاهان بلند احتشام
سایه حق داد رس خواص وعوام
هست به پا ازکرمش درجهان
سلسلهٔ عدل انوشیروان
نقش نگین سنبل پررنگ وبو
لوح جبین نوگل خورشید رو

ددغه شعر ویونکی ددهٔ دوخت شاعر دی او شاه اشرف یې پخپلو سترگو لیدلی دی شاه اشرف زمونږ وياړلی مشر دیرښکلی ؤ چه دگوتې غمي غوندې ؤ. تندی یې لکه غوټۍ او مخ یې لکه لمر ؤ.

عادل او دبرم خاوندؤ. له نیکه مرغه مونږ ددهٔ په برخه کښې ډیر معلومات لرو، چه مخکښې مو نه درلود. یوڅه به یې دلته راواخلو.

شاه اشرف دمیرعبدالعزیز زوي او دمیرویس بابا ورارهٔ ؤ. کله چه شاه محمود داصفهان پرتخت ناست ؤ؛ اشرف شاه دتهران والي ؤ. په واقع کښې دده پلار میرعبدالعزیز دمیرویس نیکه ورور وروسته دمیرویس له وفات څخه دکندهار مشر ؤ.

د دغې لیکنې له مخې کندهار ترغزني هرات، پشین غور او فارياب پورې ؤ. اوسنی بلوچستان دپښتنو او بلوڅو سیمې چه محمد خان بلوڅ، دافغان دولت لکه خارجه وزیر ؤ. دعثماني امپراتورۍ باب عالي ته هم دی دشاه اشرف افغان دایران سعادتمند پادشاه له پلوه تللیؤ.

میرعبدالعزیز یو مصالحتي لیک داصفهان دربار ته لیکلی چه ددهٔ د مرگ سبب شو

خو شاه محمود او شاه اشرف يو ځای د اَيران په فتح ووتل. يو ځای يې حکومت کاوۀ .

زبردست خان دشيراز فاتح دشيراز والي ؤ چه اصلی نوم يې محمود ؤ. همدغه زبردست خان داشرف شاه افغان په قومانده انگليسان اوهالنډيان له هرمزه وشړل.

سيدال ناصر په دوو جبهو کښې لۀ روس او ترک سره وجنگيد.

## د شاه اشرف ستاينه

قطره ای از شبنم فيض سحاب يک ورق از چهرهٔ او آفتاب

دلته دده ښايست ستايل کيږي. له دې خبرو مطلوب دا کوم عکس يا تصوير چه ئې ايستلی په هغه کښې دوئ نه دي پوهيدلي چه دی لهحده ډير ښايسته ؤ. الله تعالی ده ته هرڅه ورکړي ؤ. سياست، د زمری زړهٔ ، او دافلاتون عقل.

که موږ خپل مشران داسې پيژندلی وای يا مو خپلو زامنو ته ورپيژندلی وای چه لويديځه نړۍ يې ورپيژني او خپله يې پيژني. بيا هر افغان يو سالار ؤ. داهم يوڅه دآبا او انا په ژبه څه تاريخ ښودلي دي.

## اعليحضرت شاه اشرف افغان داصفهان پرتخت :

د (۱۷۲۵عيسوي کال د مارچ ۲۲) ؤ چه شاه اشرف اصفهان ته راغی . دی خبر شوی ؤ چه شاه محمود ناروغ دی او شاه اشرف يې ليدوته راغی. ده پخپله شاه محمود وليدی. دی ناروغ ؤ. طبيبانو خپله هڅه کوله. حتی دجلفا دمسيحيانو کشيش ددعـأ دپاره راغلی ؤ. کله چه شاه اشرف هلته ده سره دی، درې ورځې ژوندی بيا په حق ورسيد . شاه اشرف دده پرځای دڅارو واگې په لاس کښې ونيولې.

شاه اشرف ډير لايق سړی ؤ خو دغه مهال ترکانو او روسانو له يوې خوا او نادر افشار په خراسان کښې له شهزاده طهماسب سره يوځای فعاليت کاوه . يو بل روحاني هم سر راپورته کړ.

ترڅو چه شاه اشرف ترکان او روسان سُيد احمد مرعشي يې ووهل. دده لښکرې

خزانه مخ په کميدو وه چه نادر افشار وکولای شول سرپورته کړي . اشرف له هرات او ګندهاره مرسته وغوښته.هغوئ نندارہ کوله او دخپلې نندارې نتيجه يې ډيره ژر وليده مګر وخت تيرؤ . همدغه ښه سبق ؤچه پښتانه يې بويه هيرنه کړي. خو هيرکړی يې ؤ.

اعليحضرت شاه اشرف په داسې حال کښې له ترکانو سره دجګړې اعلان وکړ چه ملازاهد له ګندهاره دمرستې کولو ، منفي ځواب راؤړ.

په هرات کښې ابداليان په ګندهار کښې غلځيان په قدرت کښې ؤ. که په ملي ګټو پوهيدای بيا به دنړۍ په تيره بيا د آسيا نقشه بله وه.

کله چه شاه اشرف دچاروواګې ونيولې لومړی ئې خپله کابينه اودولت جوړ او لاندې شخصيتونه يې وټاکل :

| | |
|---|---|
| ۱- زلي خان | اعتمادالدوله |
| ۲- قادر خان | قورچي باشي |
| ۳- قاسم خان د بخيارې « سر » حاکم، تفنګچي باشي | |
| ٤- محمد امين بيګ | قو للر آغاسي |
| ٥- محمد نشان خان | ايشک آغاسي |
| ٦- ناصر خان | ديوان بيګي |
| ۷- اسمعيل سلطان | ميرآخورباشي |
| ۸- ميرزا رفعيا | مستوفي الممالک |
| ۹- ميرزا اسماعيل | دخاصه مستوفي |
| ۱۰- ميرزا ابراهيم | داعتماد الدوله منشي الممالک صاحب رقم |
| ۱۱- ميرزا احمد رفعيا | داصفهان کلانتر |
| ۱۲- ميرزا تقي | وقايع ليکونکی |

١٣- ميرزا محمد علي داصفهان مستوفي
١٤- ملازعفران ملاباشي
١٥- ميا صديق قاضي القضات

د (می په ٢٨) طهماسب صفوي شهزاده څلور زره سپاهيان برابر کړي او داصفهان په لوري خوځيدلی ؤ. ځکه شاه محمود مرحوم ؤ. اشرف لا نویؤ. شاه اشرف شهزاده مات کړ او دده دلښکرو مشر يې ونيوه. د شهزاده طهماسب صفوي دغه بيړه ددې سبب شوه چه يو شمير ايراني شهزادگان او نور مشران چه هلته تر نظارت لاندې ؤ، ووژل شي.

## شاه اشرف او د ترکيې له امپراتورۍ سره جګړه :

عثماني ترکيې او د پيتر روسيې دغه موقع مناسبه بلله چه دايران يوه برخه ونيسي.

مير محمد صديق فرهنگ د « افغانستان در پنج قرن اخير » په کتاب کښې داسې ليکي چه گواکې اشرف په دې جګړو کښې څه ترلاسه نه کړل، مگر داچه خپل دولت يې په دوئ باندې په رسميت وپيژاند.

کله چه رسمي اسناد وکتل شول خبره هسې نه وه. اشرف له هغو حدودو هم مخکښې لاړ کوم چه صفوي پادشاه منلي وو. چه وروسته به يې تفصيل راشي.

وروستيو مؤرخينو دميرويس، محمود، اشرف او احمد شاه بابا تاريخي کارنامې دايران او هند دوضع خرابوالی بللی او کوم نقش چه دغو نوميالو درلود هغه يې دومره نه دی ښودلی، څومره چه ؤ. صفاريانو، غزنويانو او ابداليانو هم دايران ترډوو برخو دير ترخپلې اداري لاندې درلودې. چه داټول ځوابې حرکتونه ؤ. يعنې دايران دتيريو نتيجه وه. ايران چه سلطان محمود غزنوي خپل بولي او په (١٩٦٨م) وروسته دايران پادشاه رضا شاه پهلوي همدغه مفکوره رامنځ ته کړه چه افغانستان ترغزني ددوئ ؤ. په دوه زره پنځه سوم کليز چه کوم جشن په شيراز کښې ونيول شو، د (صدا او تو) په پروگرام کښې يوه لويه نقشه دکوروش دزمانې وښودله شوه چه په هغې کښې ترغزني ورسيد. دغه پروگرام ټولو ميلمنوته چه پادشاهان او جمهور رئيسان ؤ وښودل شو. په

دې پروگرام کښې د افغانستان له خوا سردار عبدالولي د ظاهرشاه زوم گډون کړی ؤ .

سردار لا په ایران کښې ؤ چه ما دکابل دزرنګار په پارک کښې دزرهاؤ خلکو ترمخې دسردار پردې حرکت اعتراض وکړ چه ته ولې له دې نندارې پانه ځیدلې؟ دافغان ملت په جریده کښې هم داخبره راغله . داغلطه ده چه کوروش دهندوکش جنوب ته راغلی وي. کوروش دساکو له خوا په شمال کښې ووژل شو.

مګر سلطان محمود دخپل دولت دژبې په توګه فارسي په کاروله او ایران چه هغه مهال پارس ؤ. عربي ئې په کاروله.( ددولت دژبې په توګه) فردوسي شاهنامه سلطان محمود ته جوړه کړه او د شاهنامې اتل « رستم » ساک ؤ.

له مونږ نه دغه ناسم چارشوی دی چه پښتو ته مو پاملرنه ونه کړه . دا به سمه وي چه دتیرو پادشاهانو په مهال کښې ناسیونالیزم په اوسني صورت نه ؤ او ژبې دومره اهمیت نه لاره . اوس چه پوهیږئ بویه پرخپلو اعمالو نوی نظر وکړئ . زما په یاددي او تاسو هم پوښتنه وکړئ په افغانستان کښې هندوان، سیکان یهودیان ؤ او هندوانو هندي ژبه هندي کلتور یهودو هم داسې کول چه بیا وروسته د اسرائیل له جوړیدو لاړل.

دغه راز په اتلسمه پیړۍ کښې افشار، بختیار، بیات، قزلباش، چنداولي ... له ایران نه راغلي ؤ. ټولو خپله ژبه ،شیعه مذهب او نور دودونه وساتل. پښتنو په ایران ، پنجاب، اوهند کښې هرڅه پریښودل. پښتنو په کابل ، هرات او نورو ښارو کښې هم پښتو ژبه اوپښتونولي پریښوده.

دتیمورشاه دراني په وخت، پوپلزي، بارکزي، اڅکزي دکابل په ښار او شا اوخوا کښې میشته شول. دوئ پرکابل اغیزه ونه کړه .کابل پردوئ اغیزه وکړه. پښتو ترې پاتې شوه.

ایران وکولای شول چه دشیعه او فارسي ژبې شمیر ډیر کړي . حتی دري ژبه یې بیرته فارسي کړه.( که څه هم دواړه یوه ژبه ده) .

په دې حال کښې که دڅو کسانو پام نه وای دومره کار هم دپښتو دپاره نه کیدهٔ .

دعيني شاهدانو له قوله چه په (۱۷۲۵م) کښې هلتهٔ ملا زعفران، ملا باشي ښه سړی ؤ. دښې اداري خاوندان وو. د خلکو شکايتونه يې په ښه توګه اوريدل. عادل او مهربان سړی ؤ ددولت چارې يې په عدالت سرته رسولې.

الماس خان يو بل افغان چه دايران په افغاني دولت کښې دلويې رتبې خاوندؤ وفات شو. افغانان ددهٔ په مړينې خواشيني شول. دايران پخوانی پادشاه شاه حسين صفوي او اعتماد الدوله چه دشاه محمود افغان دحکومت په دوران کښې بنديان وو دالماس خان له ښې وضع خوشحال ؤ.

زبردست خان، سيدال خان ناصر دواړو له قم، ساوه او تهران څخه دطهماسب ميرزا خلک وايستل او امنيت يې پرځای کړ.

داعليحضرت شاه محمود افغان په مهال کښې دارمنيانو، بانيانو، يهودانو اونورو مذهبي ډلو څخه دجزيې اخستل معاف کړي ؤ. ملا زعفران همدغه کار داعليحضرت شاه اشرف په مهال کښې هم منلی ؤ. اوچانه يې د جزيې په نامه څه نه اخستل.

په دغه ورځنيو اطلاعاتو کښې دعثماني ترکيې اوروسيې سره دجګړو تفصيل راغلی چه زمونږ مؤرخين لکه غبار، فرهنګ له هغه بې خبره ؤ. نو ځکه ددوئ معلومات نيمګړي دي. اوس اسناد په لاس کښې دي.

ملا زعفران او ملا باشي پخپله د خلکو حال زده کاوهٔ اوڅوک يې نه پريښودل چه د چا مال او ځان ته ضرر ورسوي. د ناموس دساتلو سوال نه ؤ. ځکه دواحد فرد ناموس ته هم صدمه نه وه رسيدلې.

# له ترکانو سره د افغانانو جګړه

کله چه شاه اشرف سید احمد ته ماته ورکړه . دیوې اونۍ دپاره له اصفهان نه د باندې دهوساینې دپاره ولاړ.( ۱۷۲٦م) دجون میاشت وه . کله چه بیرته راغی دعثماني ترک له لوري خبر راغی چه یا سلطان حسین دایران پادشاه خوشې کړي او دپادشاه په توګه دې ئې وپیژني ، یادې جګړې ته چمتو شي.

ور پسې د ترکانو یو استازی راغی او ویل یې چه عبدالباقي خان دکرمانشاه حاکم او کورنۍ یې خوشې کړي. شاه اشرف له دې خبرو په قهرشو اودعبدالباقي خان دکورنۍ درې تنه بوډاګان یې ووژل او دهغوئ سرونه ئې دترک امپراتورته ولیږل او دغه پیغام یې ورکـړ:« زهٔ چه هرڅول لازم وبولم لـه خـپل رعـیت سـره همـاغـسې کـوُم.دپردیو مداخلې ته ضرورت نه لرم ».له عثماني ترکیې سره دجګړې چارې سمې شوې.

دعثماني پادشاه بل پیغام په دې مضمون راورسید:« اشرف شاه ته بویه عثماني سلطان ته دتسلیمـۍ دپاره پخپله احمـد پاشـاته لاړشي. سلطان به تادیوه سني هم مـذهبه پـه تـوګـه دایران دوالي پـه تـوګـه وپـیژني . ایران کـښې دې هرڅـو نه ځـایونه چه نیولي یایې له دې وروسته نیسې هغه به دتاوبولو. ته باید بې ځنډه تسلیم شې. خطبه دې دعثماني سلطان په نامه وویل شي او سکه دې ووهل شي. ».

شاه اشرف افغان عثماني سلطان ته داسې پیغام واستاوه: « که چیرې عثماني سلطان نه غواړي هغه معاهدې چه له صفوي پادشاه سره شوي په رسمیت وپیژني ، زهٔ به له خپلو سلطاني امتیازونو تیر نه شم او هغه سیمې چه اوس اوس مو نیولې هغه به په خپلو وینو ساتم. ».

دکال د۱۷۲٦ع د نوامبر په اتمه دافغان او عثماني ترک ترمينځ جګړه ونښته.

احمد پاشا ترکي والي او جنرال دوه سوه زره عسکر درلودل. شاه اشرف څلويښت زره عـــسکر برابرکـړي ؤ چه دترک عـــسکر يې څلوربرابره ؤ. په دې جګړه کـښـې د اعليحضرت شاه اشرف عسکرو دترکانو ديرش زره عسکر مړه کړل. دحويزه ولايت ٤٦ توپې، درې بيرغه او ډيره وسله يې ترې ونيوله او ترکانو سخته ماته وخوړه. دافغان سپاهيان ډير لږ مړه شوي ؤ.

د (۱۷۲٦ع) دنوامبر په اتلسمه داصفهان خلک او دايران دنورو برخو ګڼ شمير دبريالي سوبمن پادشاه اعليحضرت شاه اشرف افغان دهرکلي دپاره وتلي ؤ. او دهغه اتل افغان هرکلی په بې ساري توګه سرته ورسيد.

کله چه شاه اشرف دترک عثماني امپـراتورۍ ته بشپړ سبق ورکړ؛ روسان په شمالي ايران کښې وړاندې راغلل. د هغو وهل هم ضروري ؤ.

دايران دتاريخ دانجمن ۱۰۵ شمير سند

اوومه ماده ( مشارطه هفتم)

څرنګه چه د« حويزه » ولايت دبصرې اودبغداد د دارالاسلام ترمينځ پروت دی او تل له دې کبله چه دبصرې له شااوخوا دعربو بداخلاقان چه په نومړي ولايت کښې هستوګنه لري؛ د فساد سبب ګرځي. د آل عثمان ددولت دمعدلت او ضابطې له مخې او نومړی بدمرغه اوشقي خلکو دشخړو ليرې کول ددغه دولت له واجباتو څخه دي. هرکله چه دعثماني دولت مشران وغواړي چه هغه خپل کړي له همغه ورځې وروسته به افغان غازيان اوخوانين دهغوئ مخه نه نيسي او حويزه به عثماني دولت ته خوشې کړي. » .

له مادې څرګنديږي چه «حويزه» دايران په خاوره کښې نه وه او افغانانو نيولې وه چه موقعيت يې دبصرې او بغداد ترمينځ ؤ. افغانانو عثماني دولت ته پريښوده چه په

زوره يې نه‌شوه‌نيولى. داهم ددې دپاره چه هلته عربؤ . امنيت يې دافغانانو له‌خوا کيدهٔ . يعنې افغانان داعليحضرت شاه اشرف ترمشرۍ لاندې ډيرمخکښې تللىؤ.

افغان مؤرخينو د«حويزه» نيول دافغانانو له خوانه‌دي ليکلي. مگر دايران په رسمي اسنادوکښې راغلي دي.

داعليحضرت شاه اشرف رسمي لقب په‌رسمي اسنادوکښې داسې ليکل شوى:
(اشرف اقدس ارفع امجد اعلى پادشاه سعادتمند ايران) .

# د افغان او روس جګړه

داخبره د یادښت وړ ده چه شاه اشرف ترکانو ته وویل: « که چمتو نه یې چه هماغه معاهدې دې چه صفوي امپراتورانو سره کړې دې؛ ومنې ؛ زه به همغه سیمې چه نیولې مو دي خوشې نه کړم. » په دې صورت کښې چه رسمي اسناد یوځه وایي او افغان مؤرخان « فرهنګ » او « غبار » بل ځه ، نودادی درسمي قرار داد متن چه داخبره سپینه شي کوم چه ویلي ئې دي. اشرف له دواړو جګړو څه ترلاسه نه کړل پرته له دې چه ځان یې په روسانو او ترکانو په رسمیت وپیژاندهٔ. د اخبره اسناد رد وي. هو که خپله ایراني پادشاهانو وربښلې وي او هغه عربې ځمکې وي بیا نو دا داشرف شاه مکلفیت نه ؤ.

داسوال چه اشرف دایران دفاع کوله او هلته یې آبادئ کولې، شاه اشرف پښتون ؤ هغه ښکیلاکګر زبېښاکګر نه ؤ. داکارونه دښکیلاګګرو وي .دهٔ ایران خپل وطن باله. دی یې پادشاه ؤ. دده خپله خاوره وه . خپل یې رعیت ؤ. ساتنه ، آبادي او امنیت یې دده وظیفه وه.

د آزادخان سلیمانخیل ،احمدشاه بابا دشاه محمود افغان ،شاه اشرف افغان دوئ ټولو دخپلو تیرونومیالیو په څیر داوسني ایران، افغانستان او هند پادشاهي یوه بلله. دې بحث ته زیاته ادامه نهٔ ورکوُم .په نورو لیکنو کښې راغلي او رابه شي.

دسرخاني الکوزي خبره ده چه « ما داغستان دالکوزو په وینو ساتلی دی »یوه ډیره ارزښناکه خبره ده .

# دویم سند
# د رشت قرارداد

دغه قرارداد د (۱۷۲۹ع کال) دفبروری په میاشت کښې لاسلیک شوی، دغه تړون دسند له مخې داشرف اقدس امجد ارفع اعلی ډیر معتمد او محترم سپه سالار سیدال خان ناصر او دروسیې له خوا سرلښکر واسیلي لواشف لاسلیک کړی دی. اوولس مادې لري.

ددغه قرار په دوهمې مادې کښې راغلي: «اعلیحضرت امپراتور روسیه از سوی دولت معظم خود اراده کرده است که ایالت استرآباد ومازندران را که از ایالات ساحلی است؛ بمناسبت دوستی دیرینه که امپراتور روسیه نسبت به ایران دارد، به ایران واگذارکند. اما بدین شرط حتمي واستوار است که این ایالات به هیچ وجه به دولتهای دیگر واگذار نه شود».

حال داچه زمونږ خپل مؤرخین دایران درسمي اسنادو یادونه نه کوي. دوئ هم سترگې پټې کړې او داعلیحضرت شاه اشرف افغان دوئ مهمې فتحې چه دواړه له دوو غښتلو امپراتوریو پۀ مقابل کښې وې؛ نه یادوي. او که یادوي یې بیاهم ډیر سرسري. خو کله چه دشاه اشرف دشهادت خبره شي بیانوددوئ لیکانې زور واخلي.

دهمدغه تړون په دریمه ماده کښې راغلي: «د سمندر له کیڼ خوا به د روسیې په تصرف کښې وي اوښي خوا به داصفهان دسلطنت پادشاه (اعلیحضرت شاه اشرف) چه په ایران کښې ډیرو ځمکو خاوند دی دهغه په تصرف او تملک کښې دې وي».

دادی ددوو جگړو لاسوستی (نتیجه) چه په ډیره لږه موده کښې دروسي زار

امپراتورۍ او دعثماني امپراتورۍ ماتې وخوړه .

په کال (۱۹۹۹م) کښې ترکیه دافغانستان دامارت له مخالفینو سره ودریده اوازبک ملیشې سره یې دمرستې رسمي اعلان وکړ . ایران او روسیه ګډه پالیسي دافغانستان په برخه کښې پرمخ بيايي. شمالي مثلث دښمنان روسیه ، ایران، ترکیه، کله چه هند ورسره یوځای شي نومثلث په مربع بدل شي . پاکستان دامریکې امرونه مني. پاتې شو په دامنځ کښې یو افغان.

دغه لنډ مثال له دې کبله ورکړ شو چه ځمکنی سیاست او تاریخي ملي ګټې توپیر نه کوي دتاريخ ګټه هم داده ،چه یوه غلطي تکرار نه شي.

نن چه داکرښې لیکم د ( ۲۰۰۰ دوه زرم میلادي داپریل دمیاشتې پنځه لسمه ده ) ، دهند په خبرونو کښې وليدل شول چه دترکيې صدراعظم هند ته په رسمي سفر تللی دی، ترکیه پخوا دپاکستان ملګرې وه.

دترکيې صدراعظم وویل: « ترکي مغلان چه له بابر سره هندته راغلل دهغه ، پاتې کسانو دهند امپراتورۍ ته دیوه هندي په توګه ډیر خدمت وکړ، چه اوس یې هم آثار لیدل کیږي ».

ایران وایي دمغلو درباري ژبه فارسي وه . بابر چه په فرغانې کښې ماتې وخوړه دصفویانو په مرسته دکابلستان پادشاه شو. بیا پښتانه ورسره راغلل او تردغه وخته په هند کښې لودي پادشاهان دسلطان ابراهیم لودي دترۀ زوي دملتان حکموال علم خان لودي بابر ته بلنه ورکړه چه ډهلي ته راشي اوله ابراهیم لودي نه پادشاهي ونيسي. دې نه مخکښې ګوډ تیمور له محمودخلجي یاغلځي نه پادشاهي ونیوه. له دۀ سره هم دغور کلزائیان ؤ.

پښتانه په اوسني مهال کښې له دا ډول سیاستو فارغ دي. افغان سیاست نښته روسیه ،هند ،ایران ، ترکیه دافغانستان دطالبانو دحکومت مخالف سره ولاړدي. دا ځمکني سیاست دی چه له اتلسمې پیړۍ سره یوشانې دی.

## شاه اشرف افغان او سيمه ييز سياست ۱۷۲۵م اصفهان

افغان تاريخ پوهان د تاريخ له دې برخې ښويه تيرشوي او د هغه ټول اړخونه يې نه دي څيړلي.

ترهغه ځايه چه ماته اسناد په لاس راغلي دغه موضوع څيړم:

کله چه اشرف افغان د (۱۷۲۵م) د اپريل په (۲٦) داصفهان پرتخت کښيناست؛ ددهٔ دپادشاهۍ په وياړ په اصفهان، کاشان، مشهد، استرآباد، قزوين، تبريز، شماخي، رشت کښې ددهٔ پنامه سکه ووهله شوه، په دغه مهال کښې دده مبارک عمر شپږ ويشت کاله ؤ.

شاه اشرف افغان زړورسړی ؤ. په سياست کښې لوړی سياست پوه ؤ. پرخلکو گران ؤ. دده ترپادشاهۍ دمخه دفرانسې په دلالۍ، روسي او عثماني ترکيې ايران پخپلو کښې ويشلی او په دې باب يې يوتړون لاسليک کړی ؤ.

په دې توگه چه په ايران کښې شهزاده طهماسب، په شمال کښې روسان او غرب کښې ترکان ننوتلي ؤ. دې ته اړؤ چه ټولو سره مقابلې ته چمتوشي.

دشاه اشرف مناسبات له شاه حسين صفوي سره ښه ؤ. که څه هم شاه محمود افغان هم له شاه حسين صفوي سره چه له دهٔ سره نظر بند ؤ ښه وضع درلوده. خو شاه اشرف يې ډير مراعت کاوهٔ.

شاه اشرف افغان صفوي بندي پادشاه ته وويل: ستا زوي شهزاده طهماسب بويه له خپل ياغي توبه لاس واخلي. زه غواړم له هغه سره وگورم. تاسو ټول په ايران کښې په ښه توگه ژوند کولای شئ. اشرف وويل: له طهماسب سره دوه په دوه دقم او تهران ترمينځ په يوهٔ ځای کښې گورم. ځينې ايرانيانو شهزاده طهماسب ته وويل: چه داکار ونه کړي او تاسره لوي لښکردی.

شاه اشرف پخپله دطهماسب ليدوته وخوځيد. د خواجه عبدالعظيم له زيارت سره دطهماسب لښکرو پرشاه اشرف حمله وکړه. په دې جنگ کښې شهزاده ماته وخوړه او

مـازندران تـه‌وتښتـیـد. روسـانو اوترکـانو دایران یوه برخه نیـولې اوترکـانو غـوښتل چه دختیځ لور ي د ایران توري برخي ونیسي.

اشرف دوئ ته دسولې وړاندیزو کړ هغه داؤچه اسلامي ډیر هیوادونه‌او عربستان ددوئ په امپراتورۍ کښې ؤ.

عثماني خلیفه خادم الحرمین شریفین هم. نوشاه اشرف دیوهٔ مسلمان په‌توگه نه غوښتل چه صفوي پادشاه یا عثماني خلیفه سره بده وضع ولري. نو عثماني دربارته یې خپل یو استازی دعبدالعزیز په نامه‌ولیږۀ. عثماني دربار له روسیې سره دایران دتقسیم تړون لاسلیک کړیؤ. نه یې شول کولای دشاه اشرف استازي سره رسمي خبرې وکړي. شاه اشرف افغان دنونسو تنو افغاني عالمانو په لاسلیک درې پیغامه استولی ؤ.

# د اشرف اقدس امجد اعلی
# اعلیٰحضرت شاه اشرف افغان ځېره !

دغه نوميالی افغان پادشاه په هغه رسم کښې چه په افغانستان کښې داستاد بريښنا له لوري کښل شوی ؤ. استاد بريښنا ددهٔ د مبارکې ځيرې له وضع بې خبره ؤ.

افغانان د تاريخ په لټه کښې ډېرې تيارې بويه په اسناد و روښانه کړي. يوه وعده خپلو هيواد والو سره کړم چه يوه خبره به بې له سنده ونه کړم. د ايران په رسمي اسنادو کښې راغلي چه هلته ثبت دي. ددهٔ رسمي القاب داسې ؤ اشرف اقدس امجد اعلی پادشاه سعادتمند اصفهان. ددهٔ عدل او قيافت (ځيره) داسې ښودل شوې.

لومړی عدل :

اشـــرف شـــاهان بلند احـــتـــشـــام
ســـايه حق دادرس خـــواص وعـــوام
هـست به پا از کـــرمش درجـــهـــان
سلسلۀ عـــدل انوشـــيـــروان

دوم ددهٔ منوره ځيره :

نـقـش نـگـيـن، سـنـبـل پـر رنـگ وبـو
لـوح جـبـين نوگل، خـــورشـــيـــد رو
قطره ای ازشـــبنم، فـــيض ســـحـــاب
يـک ورق از چـهـــره او، آفـــتـــاب



اعلیحضرت شاه اشرف هوتك په خپل نیکمرغه مهال رود سرکې روسانو او اوعثماني ترکانو یعنې دواړو امپراتوریو ته ماته ورکړې ده.

هغه شعر، چې دده په پاچاهۍ کې ویل شوې دی او شاعر له نژدې لیدلی دی، دده یې داسې تشبه کړې ده، چې له پخوا یې د ښکلاکیفیت ښه ښیي.

نقش رنگین، سنبل پر رنگک وبو　　لوح حسن نو گل خرشید رو

نقش نگین، سنبل پررنگ وبو    لوح جین نوگل، خورشید رو

لومړی لیک دعثماني خلیفه په‌نامه دوهم دترکیې دصدراعظم (اعتماد الدوله) په نامه، دریم لیک دعثماني دولت دلوي مفتي عبدالله په‌نامه. دوئ یې دېرو مسایلوته رابللي ؤ چه روس کفار سره دیوه اسلامي خلافت دوستي، او ایراني قزلباش سره دوستي غواړي که یو سني مذهب‌غښتلي پادشاه سره؟

استازی د (۱۷۲٦م) په جون کښې استانبول ته ورسید او داسې یو تردد او دوه زړه توب سره یې دوئ مخامخ کړل چه‌دوئ دې ته اړشول چه‌دعربستان دمکې معظمې او مدینې منورې له‌مفتیانو فتوی وغواړي.

روسانو او ترکانو په (۱۷۲٤ع) دایران‌دویشلو خبره پخه کړې‌وه. نه‌پوهیدل څه وکړي. په‌دې‌مهال کښې احمد پاشا دترکانو مشر په همدان کښې چه‌ده دیوهٔ جنرال په توگه هغه نیولی‌ؤخبر ورکړ چه دشاه اشرف مذهبي مبلغین دترکانو په صفونو کښې ننوتلي او دا تبلیغ کوي چه‌سني مذهب باید سني مذهب‌سره جگړه ونه‌کړي. له عسکري فرقونیولې ترباب عالي یعنې درباره پورې سریداله شول. د شاه اشرف تبلیغات نوم اوسکه «اشرفی» په افغانستان، ایران، عثماني ترک او زار روس کښې یوه لویه هنگامه او ځوگ ؤ.

دعثماني مفتی عبدالله یوه پوښتنه داوه‌چه عثماني خلیفة‌المسلمین دی، بل خلیفه هم دریدلی‌شي؟ مطلوب یې د شاه اشرف ځواب نه‌ؤ.

ترکانو دحملې ترتیبات ونیول. چه‌تفصیل یې راغلی‌دی.

نادرافشار په‌ختـه ترکمن ؤ. چه قبیله‌یې دافشارو په نامه یادیدله. دی یو زړ ور بې زړهٔ سواندی(بې رحمه) سړی‌ؤ. د شاه اشرف لښکرې د روس او ترک او طهماسب په‌جگړو کښې ستړې شوې ؤ.

دهٔ د هرات له ابدالیانو او دکندهار له‌غلځیانو مرسته‌وغوښته. هغوئ مرسته ونه کړه‌چه تاریخ کښې بدنومي شول. دا لاځه کوې چه شاه‌اشرف په بده ورځ کښې

دخپلو غلځو له پلوه ووژل شو. همدغه ټکی دی چه هر افغان بويه له هغه پند واخلي.

شاه اشرف چه په شهادت ورسيد نژدې کندهار ته ؤ. بيا څه وشول ؟

ترکانو ته عقل سرته ورغی. شاه اشرف ته يې مرسته استوله چه داشرف دشهادت خبر ور ورسيد . هلته يې چه داشرف خبره نه وه منلې، نادر افشار چه دشاه اشرف له پلوه هوسا شو. د هرات پرابداليانو ورغی . دغه مهال شاه حسين هوتک دکندهار پادشاه دشاه محمود ورور دابداليانو مرستې ته هرات ته جنگيالي ورولېږل.

ترکانو، ابداليانو او غلځيانو ټولو خپل دوست شاه اشرف زړ ور او پوخ سياستمدار وروسته وپيژاند، خو څه گټه ؟

په تاريخ کښې مهمه موضوع همداده چه راتلونکې کښې هغه غلطۍ تکرار نه شي. په افغانستان کښې داکار ډير شوی چه د سدوزو اومحمدزو، خپل مينځي اختلافونو يوازې زمونږ امپراتورۍ برباد کړه ،چه په شرمو وشرميدلو. داتلسمې ميلادي پای او نولسمه پيړۍ ترشلمې پيړۍ پورې په همدغه تريگنيو اخته ؤ.

دشلمې پيړۍ په پای کښې دملي يووالي مزی بيخي وشليدی. دومره چه په يوويشتمې ميلادي پيړۍ کښې هغه ځوان نسل چه راپورته کيږي په لومړي پړاوکښې دې دغې تاريخي نيمگړتيا ته پاملرنه وکړي.

کله چه اشرف افغان دغه نوميالي غوښتل چه دکلات په لوري ور تيرشي اوخپل غلځي هوتک او نور راټول کړي. دقندهار شوراوک ولسوالۍ ته نژدې يو پښتون دابراهيم په نامه شاه اشرف وليد، دکندهارومغرور پادشاه شاه حسين هوتک کسانو پرده حمله وکړه . وايي چه ابراهيم ټوپک ورته ونيوۀ او د ټوپک پلته يې ولگوله . اشرف له تورې سره پرې وروغورځيدۀ ، ديوې ثانيې توپير کښې دټوپک گولۍ دشاه اشرف پر مبارک ټټر ولگيده . ماچه مبارک ټټر وليکه زۀ يوازې تاريخ ليکونکی نه يم. زما نيک احساسات له شاه اشرف سره دي.

## دکسپین دبحیرې دغاړو پښتانهٔ :

دتاریخ له پاڼو ښکاري چه ساک په ډیرې لرغونې زمانې کښې دکسپین دسمندرگي غاړوته راغلي ؤ. مسعودي وروسته هیرودوتس یوځل داخبره کړې چه د خزر پرغاړو شیرانیو او دوتاڼیو پادشاهۍ درلودې.

شیروانشاه دنادرافشار په خلاف په ښه توگه جگړه وکړه. سرخاني خان یوازنی سړی ؤ چه نادر افشار ته یې ماته ورکړه.

په ققفاز، آذربایجان، مازندران او داغستان کښې پخوا تر میلاده میشته ؤ. چه صفویانو، افشاریانو د هغوئ ستمې ایستلې. دوئ هم په بیلوزمانو کښې پښتونخواته راغلي چه اوس هم دوتاڼي شیرواني او جدون .... دلته شته.

نادر افشار په خپل یوهٔ سند کښې لیکي: « دهرات له ښارنه مې شپیته زره کوره وایستل خراسان، خوار او شهریار ته مې وشړل. »

دغه دکندهار غلځي یې مازندران ته ولیږل. نادر دفارس والي محمد علي ته دغه مطلوب لیکلی، دغه اشعار هم په همغه لیک کښې لیکل شوي:

« گرفتیم از دشمن نابکار هری رابه شمشیر تاقندهار »
« درین دشت شد بس که افغان شکار قزلباش گردید هرنوک خار »

داولې داسې وشول؟ همدغه سوال دی چه ځواب یې باید وویل شي.

جدون، دوتاڼي، شیرواني، الکوزي، ړنگښ په مازندران کښې، درې نیم زره کاله دمخه لودیا، متاني داوسني شمالي ایران څخه ترجنوبي ترکیې او کریمیا، ارمنستان، داغستان، آذربایجان، سغد، فرغانه، بلخ، هرات، خراسان، سیستان، سند، هند، ځکه هیرودوت ٤۵۰ پخوا ترمیلاده وائي چه د آسیا لویه برخه دساکانو په لاس کښې وه، یعنې سیحون، جیحون هیرمند او سند.

دایران په رسمي اسنادو کښې راغلي چه آزاد خان سلیمانخیل، چه له ابراهیم افشار څخه بیل شو پنځلس زره سلیمانخیل ورسره ؤ. شیروان شاه د نادر افشار نه ماته

وخوړه . خو دداغستان الكوزو نادر افشار تهماته ورکړه . بیا نادر افشار خپل الكوزي دعبدالغني ترمشرۍ لاندې وروسنل او سرخايي یاسرخاني خان الكوزي وويل خپل الكوزي نه شم وژلی. په شالاړ. مګر نادر ته تسليم نه شو. سيدال ناصر دقزوين والي ځ محمد خان بلوڅ ، اسلام خان دتهران والي ټولو خپله ميړانه وښودله.

لهبده مرغه دغوټولو هڅو او زړ ورتيا ځ ګټه ونه کړه .نادر افشار بری وموند. يو سرخاني خان الكوزي په داغستان كښې نادر افشارتهماتهورکړه چه هغه ته هم خپل الكوزي ورغلل.

پههغـو رسـمي اسنادو كـښې چهدايران دتاريخ پهټولنه كـښـې پراتهدي داعليحضرت شاه اشرف افغان هغهليكونه موجود دي كوم چهدغه پادشاه دتركيې او روسيې پادشاهانو تهليږلي دي.

داحترام له مخې دبادشاه نوم دليک په سركښې راغلی او هغهداسې دی:

« اشـرف شـاه اعلى اللهلوا دولتـه فن الافـاق فى اريكهالودوالوفـاق سـمى خليل الرحمن آدام الله تعالى اقباله مادار مدارالدوران».

اشرف شاه پهخپله دپلوماسۍ روس، فرانسه ، انګليس ، ترک او هالنډ حيران كړي ددهٔ پاليسي بويه وځيړل شي.

ددهٔ دتورې پهبرخه كښې همدا كافي دي چه (۱۷۲٦م او ۱۷۲۷م) دوه امپراتورۍ روسي او عثماني ئې په شا وتمبولې. پهداسې حال كښې چهدهرات ابدالي حكومت او دکندهار غلځي حكومت دهٔ تهدمرستی په باب منفي ځواب ورکړ.

مګر كوم بيت چهدده دحيا په برخه كښې ويل شوی : ډير عجيب دی. لومړی بيت:

كسى را رسـد كـبريا ومني	كهذاتش قديم است ووصفش غـني

يعنى خداى تعالى كبريا او غني دی.

از ماپوش ديده كهمابى ادب نهايم	كوتهتراست ازمـژه مانګاه مـا

دسند شميره (۱۰٦)

لهمونږ سترګې مه پټېوه مونږ بې ادب نه يو
زمونږ لهبنولند دي زمونږ کتل

اوس بهوګورو چه زمونږ حياناک، زړور او سياستمدار لاربنود لهروسيانو سره څه ډول يوه معاهده لاسليک کړې او شاه طهماسب ثاني دايران صفوي شهزاده چه دپادشاهۍ اعلان ئې کړیدی. څرنګهيوه لوز نامه لهروس سره کړې ده.

## ۱ - دشاه طهماسب : (۱۷۲۳م)

دوهمه ماده : «درمقابل اعليحضرت شاه، شهرهای دربندوباکورا با تمام توابع ونواحی شهرهای مزبور درکنار دريای خزرونيز ايالات گيلان ومازندران واسترآباد را بهتصرف وتصاحب ابدی بهاعليحضرت امپراتور سراسر روسيه واگذار می کند واراضی مذکوره را من الآن الی الابد متعلق بهامپراتور سراسر روسيه وتحت تابعيت وی خواهد دانست واعليحضرت امپراتور سراسر روسيه بدان سبب مايل اراضی مزبور را به عنوان پاداش متصرف شود. کهقشون اعزامی برای ياری بهاعليحضرت شاه ايران بايد درايران نگهداری شود. واعليحضرت امپراتور روسيهبرای نگهداری قشون از اعليحضرت شاه وجوهی مطالبه نخواهد کرد».

پهدغه تړون کښې چه د خزر بندرونه، دګيلان، مازندران او استرآباد ولايتونه يې ټول روسيې تهورکړي او دروسيې عسکر يې غوښتي دي چهدده دساتنې دپاره هلته واوسي خو خرڅ دې لهطهماسب څخه نهغواړي».

اوس وګورئ چه په (۱۷۲۹عيسوي) دفبرورۍ په مياشت په «رشت» کښې دشاه اشرف افغان او دپتر روسي امپراتور قرارداد تهچهدسيدال ناسر پهتوره سرته رسيدلی.

« بهنام ايزد متعال وبخشنده ومهربان موافقتنامهٔ ذيل اعلام می شود: « چون اعليحضرت امپراتور پتردوم پادشاه توانای سراسر روسيه وغيره وغيره کهدر دريای خزر وايالات ساحلی دريا با طرف ديګر يعنی پادشاه سعادتمند اصفهان در ايران

«اعليحضرت شاه اشرف افغان» خداوندگار اراضی بسیار وغیره وغیره همسایه است به ارادهٔ خداوند متعال اتحاد مقدسی درمورد مسایل نظامی وجلوگیری از به کاربردن اسلحه برضد یکدیگر برقرار کرده است».

نمایندگان تعیین شده از سوی اعلیحضرت امپراتور پتردوم پادشاه توانای سراسر روسیه وغیره وغیره، عالی جناب محترم سرلشکر واسیلی لواشف دارندهٔ نشان الکساندر فرمانده کل سپاهیان روسیه درگیلان وفرمانروای ایالات ساحلی بحر خزر در دارالمرز واز سوی پادشاه بسیار سعادت مند اصفهان ومالک اراضی وغیره وغیره وغیره سپه سالار بسیار معتمد وبسیار محترم محمدسیدال خان (ناسر) بیگلر بیگی ومحترم ترین عالی جنابان مستوفی عالی خاصه.

میرزا محمد اسماعیل وعمر سلطان وحاجی ابراهیم که در میان دربار های معظم ودولتهای کشور معظم واتباع آنها متفقاً اتحاد حقیقی ودایمی را مفید دانسته اند. این عهد نامهٔ دوستی ابدی شامل مواد ذیل منعقد می گردد.

ددغه تړون دوهمه ماده: «اعلیحضرت امپراتور روسیه از سوی دولت معظم خود اراده کرده است که ایالت استرآباد و مازندران را که از ایالات ساحلي است به مناسبت دوستی دیرین که امپراتور روسیه نسبت به ایران دارد به ایران وگذار کند.»

دلته لیدل کیږي چه هغه ولایتونه چه شاه طهماسب ثاني په (۱۷۲۳م) کښې روسیې ته ورکړي ؤ: شاه اشرف بیرته واخستل او کوم نوی سرحد چه د ایران افغاني دولت او روسیې ترمینځ وټاکل شو لنډه یې داده:

«ازسمت چپ به طرف دریا همه نواحي سابق الذکر باهمه متعلقات آنها درتصرف اعلیحضرت امپراتور سراسر روسیه والي الابد درتملک امپراتوري روسیه خواهد بود.

واز سمت راست در داخل اراضی از جا هایی که پادشاه سعادتمند اصفهان در ایران ومالک بسیاری از اراضی در اختیار خود دارد، درتملک دربار اصفهان خواهد بود. تا تصویب این قرارداد صلح واتحاد مقدس از جانب پادشاه سعادتمند اصفهان ومالک

بسیار أز سرزمین ها هیچکس به هیچ گونه حق ورود بدان نواحي وارتباط کتبي باآنجارا نخواهد داشت».

دغه ټرون لس مادې لري چه ټول داعلیحضرت شاه اشرف افغان خپلواکي عزت او احترام ښئي.

شاه اشرف یو قوي او پیاوړی دپلوماتۇ. دده ٔ سرلښکر سپه سالار سیدال ناسریو بیباکه جنرال ۇ. په ډار نهۇ خبر. که څه هم دی شاعرۇ اولطیف اشعار لري چه سړی حیران شي.

دسیدال داشعارو نمونه:

یار مالههسې گران سو
راتیر ترټول جهان سو
نورنه وینم پهسترگو جهان ټول راته جانان سو
دوي زلفې دې اوردې کړې
پرمخ دې راخپرې لړې

سرې اشرپۍ دې پهتندي باندې سپرې کړې
گرځې پهباغ کښې پهگلونو کښې نخرې کړې
پهاوردې وسوم یاره راته اور تازه بوستان سو

رستم د زمانې دزمري په شانې ځیگر دپښتوژبې ادب ته هم خدمت کوي.
دبي بي زینبو دغه ناره هم ولولئ:

نادر وښکې دسیدال مړنۍ سترگې
لـه زمریانو سوې خالي دوطن درگې

کوم قراردادونه چهدهٔ لاسلیک کړي، د افغانستان د بهرنیو چارو په وزارت کښې بویه درورکړي څو مأمورین دپلوماسي زده کړي او دومره بهدده په باب کفایت کوي.

**سپین سفیر:** محمد خان بلوڅ په (۱۷۲۸م) کال دشاه اشرف له خوا استانبول ته

ولیږل شو. دغه مهال عثماني امپراتورۍ افغان پادشاه ته دومره په درانه نظر کتل چه له خپلو کړو پښېمانه وه . ځکه د اسلام او سنت له امله اشرف شاه ددوئ ټولې ځمکې بیرته خوشې کړې.توپونه او بیرغونه اسیران او ټول جنګي سامان يې چه له ترکانو نیولی ؤ؛ بیرته ورکړل. نود ترکیې ملت فکر کاوه چه میړانه او مسلماني داسې وي چه اشرف وکړل.

کله چه سفیر محمد خان بلوڅ په هغه لورې وخوځید. د عثماني امپراتورۍ له خوا دسفیر لارې ، کورونه او ودانۍ سپین رنګ کړی شول او د یوه پادشاه په توګه یې دهغه هرکلی وکړ.

ترکانو دی یعنې محمد خان بلوڅ « خان سیواسي » وباله . یعنې سپین خان یا سپین سفیر.

# نادرافشار او افغانان

نادر دافشارو له قبيلې څخه دی او هغه دقرقلو په قوم پورې اړلري. چه په اصل کښې مغل دي. نادر ديوې بې وزلې کورنۍ څخه ؤ چه پلاريې په پوستين گنډلو ژوند کاوۀ او پلاريې اما مقلي نوميده. مگر نادر ديوۀ فطري استعداد خاوندؤ. دده خوي اوکړه يو معجون ؤ.

دميړانې، زړورتيا، ظلم، حرص، سخا او ښښنې عزم او تصميم تيز فکر....

دۀ افغانانو سره جگړې کولې او بيايې پردوۍ ويساهم کوله.

دی دصفويانو مخالف ؤ. بيايې له هغوسره خپلوي کوله، نادر افشار سني مذهب ؤ او غوښتل يې شيعه مذهب له بيخه وباسي. احمدخان ابدالي (احمد شاه بابا) ئې دگارډ مشر، آزاد خان سليمانخيل، محمد خان بلوڅ او ډير نوريې په ولايتونو گومارلي ؤ.

ده دافغانستان پرېښتنو، ازبکو او بلوڅو خپل دولت ساتلیؤ. کله چه دميرويس بابا کورنۍ ماته وخوړه نادر افشار د بي بي زينبو په پلوکښې دگندهار بنديان خوشې کړل.

دۀ چه کله سيدال ناصر دکلات په کلا کښې ونيو؛ نو هغه ته يې وويل:ته يو توريالی سړی يې. دی يې مړ نه کړ. سترگې يې ترې وايستې او له خپل قوم سره يې دکابل شکردرې کښې وساته.

دۀ سره د تسنن شوق ډيرؤ. د شاه عباس صفوي بدئې ويل او دوئ يې تورن کول چه ايران يې له اسلامي نړۍ جلا کړی دی. ده «نوروز» د«محرم وير» او ډير نورچه شيعه گانو کول، منع کړل.

ایرانیان دهغه یادونه په احتیاط سره کوي. په کرمان کښې یې دومره سترګې وایستلې چه کرمان دړندو ښار وبلل شو. شیعه عالمانو سره به ئې بحث کاوهٔ، بیا به یې بندیان کړل.

نادرافشار دپادشاهۍ په وخت کښې په پیسو پسې ګرځیدهٔ.

## د نادرافشار دپادشاهۍ وثیقه:

کله چه نادر افشار ایران سره یوکړ؛ نو شهزاده طهماسب یې له سلطنت نه وغورځاوه او دایران تاج یې پرخپل سرکښېښود. دمغان په دښته کښې یې دایران دټولو برخو عالمان او مشران راغونډ کړل. خپل مرام یې هغوته څرګند کړ. دایو داسې کارؤ چه همداسې یوه غښتلې سړی کولای شو چه سني مذهب په یوه شیعه هیواد کښې څرګند کړي.

د وثیقې متن: «وروسته له هغه چه شاه اسمعیل صفوي پادشاه شو دایران هیوادونه یې له ترکمانیه او افشار نه چه دسنت پیروان ؤ، خلاص کړل. د خپل دولت د ټینګولو دپاره ئې چه بیا دسني مذهب ته هیله څرګنده نه کړي دخپل دولت بنسټ یې پرسب او رفض کښېښود.( پرته له حضرت علي دنورو یارانو سپکول) څو مسلمانان دکفر مقابله ونه کړي. یو له بله د مذهب په نامه وخوري.

دا کار ددې سبب شو چه لګزي شیروان، افغانان، عراق، فارس او اصفهان، سیستاني ملک محمود، خراسان، رومیه ( ترکان) آذربایجان، همدان، کرمانشاه او روسیه دربند او ګیلان ونیسي. د ایران هیواد او خلک تر پښو لاندې شول.

ایران هرڅه چه ولیدل دصفوي دباغ ګلان ؤ. نوره د هغوئ سلسله ختمه شوه. دولس امامان به وي. مګر سب او رفض او نقاق به نه وي.

وروسته له دې به د حضرت ابوبکر صدیق، حضرت عمر او حضرت عثمان نومونه په محرابونو لیکل کیږي. ( شوال المکرم ۱۱۲۸ق).

نادر افشار دا امرهم ورکړ چه سني او شیعه به یوه کلمه وایي. نادرافشار داسلامي

وحدت وثيقه پرتهولو اسلامي عالمانو لاسليک کړه. بخارا، ايران، ترکيه، افغانستان، عربستان، کربلا .... چه يو اسلام دی خدای تعالی حضرت پيغمبر محمد(ص)، څلور خليفه گان دا به‌شريک وي، څلورمذهبه دې وي.

دافغانستان دعلماؤ نومونه دادي چه پروثيقه يې لاسليک شته .

دملاحمزه شيخ الاسلام افغان مهر.

دجمشيد ملا امام افغان مهر.

دافغان مدرس علي احمد مهر.

دملا محمد امين افغان مهر.

کوم مذهبي پروگرام چه نادر درلود؛ دافغانانو خوښ ؤ. له‌دې بابته يې په‌ايران کښې دولاياتو مشري کوله.

## د نادر ليک د شاه حسين هوتک په نامه :

دغه‌ليک چه‌دکندهار دپادشاه شاحسين هوتک په نامه ليکل شوی. ددغه‌ليک له متن نه‌داسې ښکاري چه مخکښې شاه حسين دهرات ابداليانوته څوک استولي وي او ويلی ئې وي چه له‌نادر افشار سره جگړه ونه‌کړي. ذوالفقار خان ابدالي داحمدشاه بابا ورور ابراهيم افشار ته ماته ورکړه او مشهد يې محاصره کړ. نادر دغه مهال دايران په شمال لويديځ کښې ؤ. بياچه نادر راغی الله يارخان هرات ته راغی. ذوالفقار خان او احمد خان دواړه راغلل گندهارته . او هلته شاه حسين بنديان کړل چه دايې لويه‌غلطي وه . ددغه مغروره سړي دا دوهمه غلطي وه.

او کله‌چه نادرافشار کندهار ته‌را ورسيد شاه حسين لس مياشتې مقاومت وکړ. او په نره وجنگيد.

## د نادرافشار لیک[1]

عالي جاه محمد حسین خان بالقابه بداند که شرحی که درباب مقدمهٔ ابدالی و روانه ساختن کسان خود به نزد آن طایفه از خردخالی برای اصلاح بعض مواد ورفع نزاع وفساد نگاشتهٔ خامه اظهار ساخته بودند. اگرچه قبل از ورود مومی الیهم به مفاد، کریمه ادع الی سبیل ربک بالحکمه والموعظه الحسنة وجادلهم بالتی هی أحسن ( سورة النحل) آن طایفه را به راه اطاعت ارشاد وترغیب به قبول متابعت وانقیاد نموده بودیم این دفعه نیز فرستاد گان آن عالیجاه رابرای اتمام حجت روانه هرات ساختیم که ادای سفارشات وتبلیغ مضمون نگارشات آن عالی جاه نمایند. بعد از مراجعت معلوم شد که به مفاد : وما ینفعکم نصحی ان اردت ان انصح لکم ( سوره هود ) برزبان قولا له قولا لینا (طه) باآن طایفه سخن گفتن به سرانگشت نرم سنگ سفتن است.

آن جماعت نه به آن طایفه در مقام اخلاص اند و نه آن عالیجاه درسده موافقت واختصاصه. په پای کښې لیکی : « قطع کار آن طایفه حواله به دم شمشیر تیز وطیور ارواح شان صید چنگال شهباز خونریزی خواهد بود. »

لنډه داچه ستا ( شاه حسین) خبره يې هم ونه منله . اوس به جګړه پيل کړو. همدغه د تاریخ پند دی چه ښه پام ورته وشي او د رحمان بابا دا بیت:

سم له لاسه چارې نه شي مرد هغه دی چه بیدار وي وغلیم وته له ورایه

---

۱ - نادر شاه وبازماندگانش همراه با نامه های سلطنتي واسناد سیاسي واداري تألیف دکتور عبدالحسن نوالي (۱۳٦۸ هش) .

# له هرمز نه د هالنډيانو او انګليسانو شړل

د شاه اشرف دڅلورکلنۍ پادشاهۍ مشغولا وې دومره ډېرې دي چه دڅ باندې شپه او ورځ يوه وه.

يوازې د روسانو، عثماني ترکانو، او ايراني شهزاده طهماسب جګړې نه وې انګليسان او هالنډيان هرمز جزيرې ته ننوتلي او دسمندر څنډې ددوئ له بېرو ډکې وې اشرف شاه افغان نه يوازې هغوئ ووهل. هالنډيان اوانګليسان يې دهرمز له جزيرې وايستل. ددغه فعاليت تفصيل په ورځينو يادداشتو کښې راغلی چه لږ وروسته به پرې پهٔ تفصيل خبرې وشي. له هغه دمخه ددې خبرې رڼاوی ضروري دی چه اتل پادشاه اشرف څنګه دنادرشاه افشار له خوا مات شو؟

# شاه اشرف افغان او نادر افشار

لکه چه وليدل شول دايران په شمال کښې ددوهم پتر لښکرو ماته وخوړه . په لويديځ کښې د عثماني ترک لښکرې تباه شوې. په تهران کښې د طهماسب لښکر او همداسې دجنوب لوري ته انګليسان او هالنډيان ننوتلي ؤ. په جنوب کښې د شيراز والي زبردست خان يو اتل ؤچه د د سيداحمد په ښهرلو او د انګليسانو اوهالنډيانو په وهلو کښې لويه برخه درلوده. زبردست خان له بې شماره جګړو سره هالنډي او انګليسي ژبې زده کړې وې .

ميرزا مهدي استرآبادي دنادر افشار منشي ممالک او وقايع ليکونکی ؤ . دی ليکي چه دشاه اشرف ماتې يو علت فرنګي توپچيان ؤ. دغه توپونه او توپچيان دروسانو ، فرانسويانو ، انګليسانو او هالنډيانو له خوا برابر شوي؛ ځکه دشاه اشرف، سيدال ناصر او زبردست خان جګړه دوئ دې نتيجې ته رسولي ؤ که شاه اشرف ټينګ شو نور اروپائيان روسان او ترکان هيڅوک دهغه مقابله نه شي کولی . نودنادر افشار پاڅون ددوئ دپاره يوناڅاپي غنيمت ؤ .

دوئ له نادر افشار څخه نه ويريدل ،ځکه ترشاېې څوک نه ؤ ؛ مګر ده دسني مذهب په نامه سنيان له ځان سره کړل او شاه اشرف ئې د صفوي تخت غاصب وباله.له همدې امله يې د شاه حسين صفوي خور ځان ته واده کړه او ځان ئې د شهزاده طهماسب مرئی کړ. خپل نوم ئې طهماسقلي کښېښود. کله يې چه بشپړ قدرت ترلاسه کړ بيا يې له شاه اسمعيل صفوي نيولې ترشاه حسين ټول محکوم کړل .

### دهرمز دجزيرې حالات :

د (۱۷۲۸م) داګست په (۲۰) انګليسان چه له بمبئي راغلي ؤ او هالنډيان

داعليحضرت شاه اشرف حضور ته ورغلل. وروسته له تعظيم چه دشاه په دربار کښې وشو. اعليحضرت شاه اشرف افغان دوئ ته داسې وويل: « تراوسه دهغو اروپائيانو په برخه کښې چه په دې هيواد کښې اوسيږي ما بشپړ معلومات نه درلودل. همدا چه زبردست خان بيرته راغی داروپائيانو په برخه کښې يې خبرې راته وکړې. ما زبردست خان ته ويلي چه بندرعباس ته دې ليک واستوي چه اروپائيان لکه د پخوا تجارت کولای شي. که چيرې هالنډيان کوم معمولي درخواست لري اعتمادالدوله ته دې ئې ووايي چه زما ترکتنې لاندې کار کوي[1] ».

وروسته اعليحضرت شاه افغان پوه شو چه سيداحمد سره انگليسانو مرسته کوله او د ورځنيو يادداشتونو په (۷۰ مخ) کښې راغلي: « انگليسها هرکمکی را که سيداحمد خواسته دراختيارش گذاشته اند: مانند توپ، باروت، نارنجک، توپچي و حتی جراح باشي خود را. » .

سيداحمد ته انگليسانو توپ، باروت، لاسي بمونه توپچي جراح، داچا منله. له نادر افشار سره هم اروپائيانو مرسته پيل کړه. يو خدای او يو پښتون بل چا دپښتانه مرسته نه ده کړې.خپل مټ خپل غيرت خپلې وينې.

اوس چه شاه اشرف، سيداحمد، شهزاده طهماسب، روسان، ترکان ووهلې نودهرمز خواته يې پاملرنه وکړه. چه انگليسان او هالنډيان له هرمزه وباسي. څومره اتلوالي ؟ د کال (۱۷۲۸م) د ډسمبر ۲۰، زبردست خان، خان خانان دشيراز والي اوندأخان ددۀ مرستيال، ښارته ننوتل. دسيداحمد وروستی توان يې ورختم کړ.

دغه دوه توريالي او بريالي پر شاه اشرف گران دي. د سيداحمد خان درې نيم زره لښکر آسان اوجگړيز سامان ئې ونيول. دی پخپله په کلا کښې محاصره او بياونيول

---

۱- د شاه اشرف د خولې څوخبرې چه هالنډيانو ثبت کړې دي.

شو. هغه ئې اصفهان ته له خپل وراره سره بوتی. هلته بې له دې چه پادشاه اشرف شاه افغان ته وښودل شي؛ وژل کيږي او وراره يې ددې د پارهٔ چه ژنی ؤ ژوندی اعتمادالدوله محمد امين خان ته سپارل کيږي.

«اتلام» دهالنډي شرکت نماينده وايي: « پنځه ويشت افغانان کولای شي يوښار ونيسي. ځکه همدا چه دافغانانو دراتگ غږ پورته شي؛ ايرانيان تښتي».

په ورځنيو يادداشتو کښې چه هالنډي شرکت د «واک» په نامه برابر کړي؛ ويل شوي «چه انگليسان غواړي بندرعباس لار او قشم ونيسي او هالنډيان غواړي دهرمز جزيره، خپله ددوئ بيرې په اوبو کښې ولاړې دي».

زبردست خان او ندأخان دغه ځايونه خپل کړل. چه تفصيل به يې ولولئ د (۱۷۲۸م) دنوامبر په لسمه ايشک آقاسي زبردست خان له کرمان نه بندرعباس ته راغی. له دغه ځايه يې دهرمز دجزيرې چارې ترڅارنې ونيولې. زبردست ليدل چه هالنډيانو هرمزيانو ته پنځوس زره تومانه ورکړي او له هغوئ څخه يې ديوه قرارداد له مخې دهرمزجزيره اخستې ده. انگليسانو هم ډيرې کشتۍ او وسلې رارسولي نژدې چه لکه دشرقي هند کمپنۍ چه کلکته يې اخستې وه؛ دلته هم دغه کار وکړي چه بيا په پای کښې ټول ايران ونيسي.

زبردست خان هالنډيانو ته وويل چه ښه کار مو کړی دی. اوس يې شاه اشرف افغان ته ورکړئ او خپل تجارت کوئ.

انگليسانو خپل بيرغ لا مخکښې د هرمز په کلا باندې درولی ؤ. زبردست خان درې تنه خپل يوزباشيان وليږل چه هرمزو اعليحضرت شاه اشرف افغان ته تسليم کړي دهالنډ اوانگليسانو بيرغونه دې کوز کړي. د هالنډ اوانگليس مشرانو ته دې ووائي چه تاسو اصفهان ته دشاه اشرف حضور ته لاړ شئ.

تر لږې جگړې وروسته افغانانو دوئ مات کړل. دهالنډيانو اوانگليسانو له لېږلو دې لاس واخستل شي او هرمزيانو ته دې ډاډ ورکړ شي چه له دوئ سره به ښه رويه

کـيږی اوکوم قـرارداد چه‌دوئ د پنځـوس زرو تومـانو په‌بدل کـښـېکړی له هغـه به ستـرګي پټې کړای شي. ايشک آقاسي زبردست خان پرته له‌دې چه هرمـز ته لاړ شي جګړه يې وګټله. هالنډيان او انګليسان يې له هرمزه وشړل. ځکه هرمزيان، انګليسان اوهالنډيان په‌دې خـوښ ؤ چه زبردست خـان ورنه شي. زبردست لکه د خـپل نوم زبردست له کبله پر اعليحضرت شاه محمود او اعليحضرت شاه اشرف دواړو خوږ اوګران ؤ . کله چه پر اشرف افغـان بده ورځ راغله تر اوسه داسې معلومـات په لاس کښې نه‌شته چه دی څه شو. په‌دغه مهال ځينو افغان مشرانو ځانونه مړه کړل او اسارت ته ئې ځانونه ورنه کړل.

## احمدشاه بابا او ايران :

ځينې ايراني ليکوال دشاه اشرف او شاه محمود يوه يوه ښه‌چاره وايي. بيا دنادر افشار يوولس کلونه تير شول اودخپلو له پلوه ووژل شو.(۱۷٤۷م) .

احمد شاه بابا دنادر افشار کورنۍ وساتله‌او دده زوي ئې دپادشاه په‌توګه ودراوه پخپله دګندهار په‌لوري وخوځيد. څه‌چه په‌ګندهار کښې تير شول هغه په خپل ځای کښې پريږدوو.

ايراني ليکوال له‌يوې خوا د افغانستان ډيره برخه خپله بولي. شاه‌محمود شاه اشرف او احمدشاه‌بابا ايراني بولي. بيا وايي ايران يې ونيوه . نو که خپل وي بيا نيول نشته ، که‌بل وي بيا ايراني نه‌دی.

شاه اشرف افغان دومره فعال سړی ؤ چه په‌دې دومره شپه‌او ورځ لويې سوبې بياهم ده ودانۍ جوړې کړې؛ چه‌اوس هم شته .

احمد شاه بابا د نادرافشار دګارډ قوماندان څلور زره پښتانه اوازبک دده تر قوماندې لاندې ؤ. ده دايران وضع ښه وکتله. په (۱۷٤۷م ) کښې دده خپله‌خوښه داوه چه‌ټول ايران ونيسي. خو پښتنو مشرانو مشوره ورکړه چه‌دافغانستان لرغونې خاورې اوخلک چه‌دهند په‌لوري پراته‌دي؛ بيرته‌خپلواک کړي. چه‌خپل پلرني اوموروني هيواد سره

ACKU

يوځای شي.

هرات کښې داحمد شاه بابا پلار نيکه اميران ؤ. بيا هم ددې پرځای چه دهرات په لور لاړشي . دکابل په لوري روان شو.په کلات غزني کښې يوازې ده دخلکو هرکلی او ستړي مشي ومنله . په وردگو کښې ورته وردگو په خپل ابتکار يوه ډوډۍ له يوه خروار وړو پخه کړې وه اودده ټول لښکرته يې ډوډۍ ورکړه. احمد شاه بابا دلته بيخي خوشحال ؤ. وردگو مشرانو سره ناستؤ. دوستانه د زړه خبرې ئې کولې.

# د اعليحضرت احمد شاه دُردُران داخترلمونځ دمشهد په جامع جومات کښې

که دهند دملکو فتحه مې روزي ســوه بس ایران لره په توغ پــه نغاره ځم

د (۱۱۲۹) لمریز کال د عقرب «لړم» په شپاړسمه دلوي اختر دلمانځه دپاره دمشهد داختر جومات (عيدگاه) ته افغان سپه سالارانو او خانانو سره راغی. وروسته له لمانځه یې عالمانو او مشرانو سره داختر مبارکي وکړه. بیایې د سخاوت لاس خلاص کړ. بې وزلو ته یې بشپړه اختر مبارکي ورکړه. د خلکو پــه دعاګانو خپلې پوځي ادې ته راغی.

د لړم په اووه لسمه بریالی بابا دخبوشان په لور وخوځید. د خبوشان ښاریې ونیوه دهمدغه کال دلړم په پای کښې دنیشاپور نیولو ته وخوځید. شاه ولي خان کڅکچي باشي یې دسبزوار اواصفهان دفتح دپاره وټاکه.

په کال (۱۷۵٤م) احمد شاه بابا مشهد، نیشاپور، تون، تبس، سبزوار، نزدې اصفهان او تهران ته ورسید.

امیر علم خان خزیمه عرب او حسن خان قاجار ووهل شول. د ایران ختیځه برخه او دخراسان ولایت داحمدشاه بابا دامپراتورۍ برخه شوه. څو چه اعلیحضرت احمد شاه بابا او تیمور شاه ژوندي ؤ په ټول ایران کښې کوم پادشاه نه ؤ. کریم خان زند ځان وکیل الرعایه باله.

یوه ایراني شاعر په دې باب داسې ویلي:

سری که گردن از امرت کشید گردونش برآستان تو آخرچوگوی غلطــان کرد

په ایران کښې دافشارو، قاجارو او زند ترمینځ جګړې وې چه دوئ سره په لښکرو

کښې يو شمير افغانانۇ اودغو افغانانو ددوئ سپه سالاري کوله . لکه آزاد خان سليمانخيل دابراهيم افشار بيا له کريم خان زند سره ، خوکله چه نادرافشار مړ شو آزادخان دآذربايجان واکدارۇ. په داغستان او ققفاز کښې دسرخاني خان الکوزي پاتې کسانۇ. الله يار خان او نور.

احمد شاه بابا هغو ځايوکښې چه پوځي واک د افغانانوۇنه ورته. ځکه دده اصول داسې ۇ.

کوم ځايونه ولايتونه او ښارونه چه دافغانستان په امپراتورۍ کښې راغليۇ دجوماتونو په محرابو کښې دځلورو خلفاۇ نومونه ليکل کيدل . البته دشيعه مذهب نوره ټوله خپلواکي پر ځای وه.

بله ځبره داده چه په ايران ، هند او بخارا خپله دهغوئ خلک پادشاهان او واليان ۇ.

محمودالحسني داحمد شاه بابا منشي چه دجګړې دګرونه يې ليدلي داسې انځور لري:

دهل ميخروشيد به سان شير — يلان را به پيکار کرده دلير.
گروهی ز افغان بافر وجاه — همه نامداران زرين کلاه
همه بوده از ملک احمد شاهي — که سازند ميدان ز دشمن تهی
زمهمند وورد گ بسی نامدار — که بودند هريک چو اسفنديار
گروهی ز قزلباش وازبک بهم — زده زشجاعت چو شمشير دم
گروهی ز سمرقند و دشت — که پيکان شان از حجرمی گذشت
بسی سيستاني وهم زابلي — ز افغان غلجايي وکابلي
گروهی ز تاجک وتاتار و روم — گروهی دلاور ز هرمرز و بوم

ددغه شعرله مخې دې جګړې ته دلوی افغانستان له هرې برخې مشران او سپاهيان راغلي[1] ۇ . د احمد شاه بابا دعالي افکارو ځرګندول هم راتلونکي نسلونوته پاتې دي

۱- په کال ۱۹۷۱م کښې کمونستانو ، ستميانو ددغه افغانستان روحيه ونه ساتله.

دلته به دهغه یونیم ځرک وښودل شي.

چه بې تا ، چاته تیښ نه شي ننګیالی زما ژوندن کړه
زړۀ زمادې مسلمان وي تفکر مې د پښتون کړه
زه دې وچ هډوکي شپیلم خوملت مې دې سلطان وي
دا زمادسخن سیوري په معنا کښې همایون کړه

« حمزه شینواری »

# عشق وطن

پس عشق توچسان زسرمن بدر شود ؟
« باشیراندرون شد ویاجان بدر شود »
شد سالها که داغ جدایي وفرقتت
میسوخت همچو شمع دل وجان عاشقت
شب ها به یاد وصل تو بیخواب مانده ام
در روز ها به فکر تو درتاب مانده ام
هرعلم وفن که خوانده وتحصیل کرده ام
نیت برای خدمت ونفع تو بوده ام
ای خاک پاک وای وطن خوش زمین من!
معشوق من، حبیب من ودلنشین من!
مسعود باش وشاد بزي، تاابد بمان!
درحفظ ودرترقي ومعموري وامان
رشک آور بلاد تمدن نشان شوی!
درشرق همچو شمس درخشان عیان شوی!

« محمودطرزي »

ACKU

پەدې دوو شعرونو کښې يو دول ملي احساس څرگنديږي چه احمد شاه بابا دهغه تعريف دافغان خيالاتو پەنامه کړی دی.

دافغانستـان او ايران تاريخ او کلتور کښې لکەچه ومولیدل ددواړو پەلرغوني تاريخ کښې ساک Sokajs برخەلري.

شاه عباس صفوي چەايرانيان هغەشاه عباس کبير بولي ، په اوولسمه ميلادي پيړۍ کښې شيعه مذهب او فارسي ژبه خپله کړه او پەدې توگەايران ايران شو. لەافغانستان څخه بيل شو.

افغانان برېالي شول چه په (۱۷۲۲م) کښې دصفويانو امپراتوري ماته کړي. ډير افغانان پەايران، آذربايجان، مازندران ، داغستان اونورو ځايوکښې خواره شول. شاه محمود ، شاه اشرف ، آزاد خان او سرخاني خان دشيروانو ، کردانو ، زردشتيانو ، عربو په مرسته دغەلويەسيمەخپلەکړې وه مگر هماغه شيعەمذهب او فارسي ژبې هغوئ ته يووالی وباخښه.

احمدشاه بابا څه موده وروسته (۱۷٤۷م) کښې امپراتوري جوړه کړه . مگر دهٔ مذهبي، ژبني ، نژادي تعصب نەدرلود. د عدالت اوگډژوند پرېنسپ يې امپراتوري وه. څه ډيموکراسي چه فيډرالي بڼه يې درلوده؛ لەهمدې امله د «تاين بي» مشهور تاريخ احمدشاه بابا غرب وهلي بولي. مگر افغان خيالات او پښتونولي يو خوراډير لرغونی عمل دی؛ چه هغەلەدغې مرحلې ډير مخکښې دی.

دصفويانو ددغه عمل پەمقابل دافغانستان دپاره سني مذهب اوپښتو ژبه وه ، احمد شاه بابا داسېونه کړل. دهٔ خپل ديوان په فارسي وچلا وه. دی پخپله د پښتو ژبې لوې اديبۇ. مگر ددهٔ سياست تراوسني سياست چەدادی درې پيړيوته نژدې دی، پرمخ ۇ.

ددهٔ دولت دارالامان دسولې او ورورۍ ۇ.څو تراوسه څوک پوه نه شول.

داحمد شاه بابا ځمکنی سياست دمرکزي آسيا ، ايران ، افغانستان اوهندوستان يوه

کاسه کول ؤ.

ښه اخلاق ، ځوانمردي، میړانه دده اصول ؤ .

« صورتی غم نه بست درعهد او »

احمدشاه بابا استرآباد ، سبزوار ، خواف چه دایران لویه برخه وه ؛ ونیول.محمد حسن قاجار دغه مهال جګړوکښې مات شو او په شالاړ.


وروسته قاجاریانو چه په اصل کښې له مترقي قوموڅخه ؤ، د ایران سلطنت تر لاسه او دوئ افغان سرداران لکه وزیر فتح خان او شاه محمود سدوزائي له ځان سره کړل او دغربي افغانستان ،ایرانی برخې ئې ونیولې . مګر دخراسان ولایت مشهد، نیشاپور، تون او طبس تر(۱۸۰۰م) پورې اود شاه زمان دسلطنت په دوران کښې دلوي افغانستان برخه وه . هرات، بلخ ، زرنج د افغانستان هغه ولایتونه دي چه علم، ادب او د خپلواکۍ فعالیتونه له همدغې خوا شوي دي؛ چه اوس ایران خپل تاریخ نیمګړی بولي. ځکه چه دغه ولایتونه د افغانستان دي. دا چه وایي افغانستان او ایران یو هیواد ؤ. دا په دې معنی نه ده چه افغانستان هغوئ نیولی ؤ.له افغانستان څخه دغه قومونه ایران ته تللي او هلته یې حکومتونه جوړکړي دي.

ساک، سور، پاکتیانو هغوئ ته تاریخ جوړکړی آزاد خان دیوه وحدت اعلان په ایران کښې وکړ. دغه مهال احمد شاه بابا دافغانستان امپراتور ؤ.

ستا دعشق له وینو ډک شول ځیګرونه
ستا په لاره کښې بایلي زلمي سرونه
تا ته راشمه زړګی زما فارغ شي
بې له تا مې اندیښنې دزړه مارونه
که تمامه دنیا یوخوا ته بل خوایې
زما خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه
دډهلي تخت هیرؤمه چه رایاد کړم

زمــا د ښکلې پښــتــونخــوا د غــروســرونه
دحــمــيــداودفــريد دور بـه بيــاشي
چه زۀ وکــانــدم پـه هرلوري تاخــتــونـه
درقــيـب دژوند مــتــاع به تارپه تارکــړم
چه پـه توره پښــتــانه کــاگــوزارونـه
احــمــدشــاه به دغــه ســتــاقــدرهيــرنه کــا
کـــه ونيـــسي دټمام جـــهـــان ملکونه

داحمد شاه بابا دغه مبارک کلام د ټولو پښتنو نارينه ؤ، ښځو ځوانانو، ماشومانو او دټولو افغانانو ملي سندره ده. ماهم له ياده وليکله.



EMPIRE OF AHMAD SHAH DURRANI
A.D. 1762

# امپراتور تيمورشاه دُر دُران او ايران

احمد شاه بابا يو پراخ هيواد ، اصول، اخلاق او ميراانه پريښوده .

ای احمده دنياتيره پرهرچاده ستا په توره به يووخت فخرپښتون کا

اوس به وگورو امپراتور تيمورشاه ته چه خـــپل پلار او افغان بابا يعنې احمدشاه څه ډول دستـورالعمل ورکړ؟ دغه اصول يوولس دي.د اد افغـانستـان داساسي قـانون سريزه ده.

هرافـغـان به مکلف وي چه ملي سندره ( ستـادعـشق له‌وينو. . . . ) او دغـه دوولس اصوله زده کړي.

۱- د مجرم سري دبدن غړي لکه غـــوږ او پــزه پرې کول منع دي.( څوک دې پرمخ ونه وهل شي ) .

۲- قبـايل او خلک بې اتفـاقي کولی نه شي ( خپل مـينځي شخړې به په‌جرگه سموي ) .

۳- څوک حق نه‌لري چه خپل نوکريا مرئی ووژني .

٤- هرڅوک کولای شي پرپادشاه او حکومت اعتراض وکړي.

٥ - دپوهانو او عـالمانو شورا دې تل مشـوره ورکوي او پادشاه دې خپل رعيت ته سلام واستوي.

٦- دقواعد اوقوانينو په عملي کولو پادشاه شهزادگان اميران او وزيران ترعـامو خلکو مخکښې مکلف دي.

۷- دعسکرو معاش به په‌خپل لاس بادشاه ورکوي.

۸- پادشاه او دهغه کورنی د هيواد له مالياتو يوه حبه‌ځانله نه شي اخستلای.

۹- غوره مالي سرتيتول دپادشاه او نورو اميرانو وزيرانو او واليانو په مخ کښې منع دي.

۱۰- کونده ښځه دې دمړۀ شوي سړي ورتې ته ورکړ شي نه پردي ته.( چه په هغه کښې داواک لري چه کوم يو کوي؟).

۱۱- دښځې طلاق بده خبره ده. افغانان مه پريږده ښځه طلاقه کړي. د ښځې طلاق بې همتي او بې رحمي ده.

په ټوله امپراتورۍ کښې هغه کسانو چه غوښتل‌ئې‌ به دې اصولو نه ګټه واخلي دولت يې حمايه کوله.

۱۲- لورته ميراث نه‌ورکول کيږي؛ ځکه کورنى مالي بنسټ له مينځه ځي او دميراث دپاره به دبداى سړي لور هرڅوک غواړي ....

دغه‌اصول افغاني دي. د نورو مداخله‌نه غواړي.

په اوسني ايران کښې افغاني قلمرو داسې دى: جنرال سرپرستي سايکس د« ايران په تاريخ کښې » دى ليکي: پل ابريشم ، سبزوار په‌لويديځ او ياميلۍ کښې دمشهد او تهران لاره.

احمدشاه ، عثماني امپراتورته ليکي: غربي خوا دقزوين سمندرگى « اصفهان» «لار» «چهر» او شيراز له کريم خان زندسره. ( دايران په نقشې کښې دې وکتل شي).

يعنې ترنيمايي ايران پورې دافغانستان په‌امپراتورۍ کښې ؤ.

داحمد شاه‌بابا امپراتوري دتيمور شاه په دورکښې کراره وه. خلک خوشحال او جنجال نه‌جنجال هغه مهال چه‌شاه زمان‌پادشاه شو رامينځ ته شو. خپله افغانان شهزادگان احمقان چه په ملي ګټو او د شا او خوا په حالاتو خبر نه‌ؤ. د افغانانو ستې يې په‌ايران او هند کښې وايستې. نور څوک ګرم نه‌دي. خپله افغانان‌دي.

زمونږ راتلونکي نسلونه بويه پرې‌نږدي چه هغه‌غلطۍ بيا پيښې شي.

# فارسي ژبـه

ځينو پښتنو منورينو او ځلميانو دا خپګان ښودلی چه احمد شاه بابا او امپراتور تيمورشاه څنګه پښتو ژبې ته پاملرنه ونه کړه.

دواړه پښتانه پلار او زوي ترشا زمان لمسي پورې پښتو شعرونه لوستل او درلودل، دلته دوه علته ليدل کيږي:

لومړی دا چه ژبې دومره اهميت چه اوس ئې لري؛ هغه مهال يې نه درلود او فارسي دهند په مغلي دربار، دعثماني ترکيې دربار او مرکزي آسيا کښې چليدله.

دوهم دا چه دامپراتورۍ نيمايي برخه له ايران، خراسان مرو مشهد، نيشاپور، سبزوار، تون، طبس، تربت حيدريه، پورې وُ. بيا دننه افغانستان کښې، ازبک، ترکمن، ... هندو، سندي، پنجابي، بلوچستان، کشمير.... دوئ يعنې دراني دولتونو هماغه ښه بللې وه. په تيره بيا امپراتور تيمورشاه ډير شاعران او اديبان راټول کړي وُ. مګر زما خبره داده چه نن يې ولې نه شو رسمي کولای؟ (۱۳۸۳ش) چه دوه زره۴ ميلادي کال دی.

مونږ هم څه دندې لرو چه هغه بويه ترسره شي. پښتنونه ځلميانو پښتنې پرېښودې له دې اوله هغه يې ښځې وکړې.

له پلار او نيکه پښتانه پښتونه وايي. احمد شاه بابا او امپراتور تيمور درانه پښتانه له نورو ځايو راوستل. په کابل کښې ئې کوڅې باغونه او ځمکې ورکړې چه کلونه تير شول پښتو ترې لاړه. پښتانه دې پخپله دې ته وګوري چه دايران اقليتونه، پښتانه، قاجار، افشار، شاهون، کرد، عرب، اذربايجان په فارسي ژبې وينا وال شول او خپل يووالی ئې دايراني ملت په توګه ترلاسه کړ.

# دامپراتور تیمور شاه دربار

همداسې چه په یوولسمې میلادي پیړۍ کښې غزنی دفارسي شاعرانو او لیکوالو بانډه وه . په اتلسمې پیړۍ کښې کابل دفارسي شاعرانو مرکزؤ.

په دغه عصر کښې توپیر دومره دی چه امپراتور تیمورشاه دپښتو شاعر او لیکوال ؤ ، پیرمحمد کاکړ او عبدالله خان دیوان بیګي‌او نور که پښتانه ؤ تولو فارسي شاعري کوله اودخپل مهال پاخه شاعران له هند او ایران څخه راغلي ؤ.البته ددوئ کور ؤ.

لکه واقف لاهوري، عشرت له هند څخه فروعي اصفهاني ، موسوي ، مهدي له ایران، څخه عاجز دکابل.

«افغان» ، حزین حیرت شاملو، ذکي، رضأ، هما ، شاه عبدالحکیم خراساني، شجاع، شهاب، لیکوال محمودالحسني، مظهرجانان ، محمد حیات، لچهمي رام پنډت، الشائي، بوسعید. میرزیان، عبدالله میرزا علي عسکر وصفي، میرزا شکیبا ، میرزا عطار او په سلهاؤ نور واړه او غټ دراني شهزاد ګانو تولو په یوه خوله پارسي شاعري کوله . داسې نه وه چه دشاهي کورنۍ ژبه پښتونه وه . دوئ په پښتو غږیدل . سم پښتانه ؤ. مګر دموضوع په اهمیت نه پوهیدل.

یوازې دامپراتور تیمورشاه اوسردارعبدالله خان دیوان بیګي دپښتو شعرونو نمونې شته چه دلته به راواخستل شي.

دامپراتور تیمور شاه دپښتو شعر نمونه:

نن مې بیا له توروسترګو سره جنګ دی
په لبانو یې دزړه دوینو رنګ دی

که پرې کړی سر په لاس ورلره ورشم
لا په دایې باورنه شي په زړه سنګ دی

ستادحسن لښکر راغی ځای به نشي
دعاشق دزړه میدان هرګوره تنګ دی

عشق اومشک پټيدای نه‌شي تيمورشاهه
چه پخپله ځان رسوا کـړي هغه‌رنگ دی

هسې دی ديار صـــــورت لکه گلونه
کـه‌وهلي يې پرمخ دي شنه‌خالونه
تيـرشـو عـمـردوصـال په‌انتظار کښـې
اوس پرزړه مې دهجـران لگي اورونه
دپتنگ په‌دود دې ياره په ژوندوسـوم
دبڼو به‌داروېرې يې زخـــمونه

راشه‌مينه پرخپل خدای کړه تيمورشاهه!
ځـــــه په‌کاردي دفاني دنيا کارونه

له‌دې نمونو دهمغه مهال پښتو ښکاري. لښکر، ميدان، جنگ، پرې کړی سر؛ ددهٔ له‌عسکري ژوند څخه‌ څرگند دی.

دامپراتور تيمورشاه اداره، سياست او عسکري لياقت روښانه‌دی. يوازې دبدبه شأن اوشوکت هوسايي دده تراحمد شاه‌بابا ډيرؤ. مگر ډير هيوادونه ئې په ختيځ، لويديځ او شمالي کښې په کرار ساتلي‌ؤ. يو دوو جگړوته چه‌لاړ برياليٰ بيرته راغی. ددهٔ کابل دبڼونو ښکلا، د پوهانو،کمبگرو له‌مخې دآسيا يو معظم ښار ؤ.ديوې نيمې پيړۍ داخلي او خارجي جگړو داسې وران کړ چه اوس ئې بنسټونه هم نه‌ښکاري.

کابل کښې د ايران، بخارا او هند شهزادگان‌اوسيدل او همدلته پاتې دي. په‌ايران، هندافغانستان کښې دده له خوا منظمې آبادۍ شوي.

ددغه لوي هيواد اقتصاد په تجارت‌اوصنعت ولاړؤ. خو ډيره برخه‌يې دځمکو باغونو دريابونه ماليه وه. ددهٔ کشتۍ په سيندونو او د سمندر پر غاړو کښې گرځيدې.

د محمدزايي سردارانو جگړو او د انگليس درې واره راتگ هيڅ نه‌دي پريښي. دغو جگړو دشاه زمان‌له‌دورې وروسته له (۱۸۰۰م) نه تر(۱۹۱۹م) پورې دوام درلود. محمدزايي سردارانو خپلې دښمنۍ د سردار پاينده خان تروژلو وروسته دومره وغځوله چه‌په افغانستان‌کښې داحمدشاه‌بابا د سدوزي قوم وگړي دگوتو په شمير

ACKU

پاتې شول. ټول يې هند ته وشړل او د دراني په نامه په هند او پاکستان کښې دعادي خلکو په څيراوسي. دوئ هم فارسي د ملي ژبې په توگه ساتلې ده.

دامپراتورۍ د دورې ژبه کشمير کښې سدوزي ډير دي. ځيني تر اوسه ځمکې او جايدادونه لري او کله رسمي لوېې عهدې يې هم درلودې.

مادد وئ ډير خلک د هند او پاکستان په سفرونو او هجرتونو کښې وليدل چه دهيواد ارمان ورسره ؤ.

دسردار عبدالله خان پوپلزي پښتو شعر

داحمد شاه بابا دپاره دعا ده:

ربه زرمې مدينه مکه مقام کړې    بې آرامه زړه مې څه خو په آرام کړې

په همدې توگه چه د حج په زيارت روان دی په پای کښې وايي:

په خدمت دې د مکې د مدينې ؤ    احمد شاه دسکندر قايم مقام کړې

بل ځای وايي:

يا رسول الله اقبال د شاه دران غواړه    ولې چه اقبال دده ادبار دی د ظلم

سردار عبدالله خان رښتيا داحمد شاه بابا مخلص او دهيواد خدمتگار ؤ.

بيا وايي:

د رسول له دغـــه يار له برکـــته    احمد شاه زما شاه د درست جهان که

سردار عبدالله خان وکيل الدوله دتورې د ميړانې هيڅ کمی نه درلود. خدای تعالی دې ټول په خپل رحمت کښې ولري.

داحمد شاه بابا عدالت او زړه سوی په ډير ولړو پادشاهانو کښې ليدل کيږي.

عزيزالدين وکيلی فوفلزايي دسردار عبدالله خان وکيل الدوله چه ذکرئې دلته راغلی، شپږم کهول دی. ده د تيمور شاه په کتاب کښې ترينځو سوو ډير دافغانستان داتلسمې پيړۍ غوره شخصيتو نومونه درج کړي؛ چه دا دده يو ستر خدمت دی.

په ايران او هند کښې هغه ولايتونه چه نيغ په نيغ په امپراتورۍ پورې نه ؤ تړل

شوي؛ نيمه آزادي يې درلوده . د مالياتو نيمايي برخه يې د امپراتورۍ مرکز ته ليږله .

ددغو علمي ، روحاني، سياسي ، لښکري او اداري شخصيتونو مونه چه امپراتوري يې چلوله ؛ دالفبا په ترتيب ليکل شوي؛ نه درتبې منصب له مخې.

ددغو نومو له مخې سياسي او اداري مقامونه هم څرگندېږي. دغه شخصيتونه دافغانستان پرخلکو حق لري چه لويه ځمکه او لوړ حيثيت يې ورته گټلی ؤ.

ددوئ مبارک نومونه دادي ، چه داحترام دپاره يې لوستل ملي ضرورت دی:

آدينه محمد روحاني مشر اورگنجي

اقتال قربان د ايوان حاکم.

اقتال بهادر درستاق حاکم.

ابوظفر محمد جلال الدين شاه عالم د ډهلي ددارالخلافه پادشاه.

ابوالمنصور شجاع الدوله دهند نواب

ابو احمد خان درانی ليکوال او خان

ابوالفيض خان راغي ددرواز حاکم.

ابونصر خان دهرات دښار کلانتر.

ابو محمد عبدالغفور« نساخ » شاعر

ابراهيم خان جمشيدي دچهار ايماق له خانانو څخه.

احمد خان بارکزی، دجهلم او سند ترمينځ ددوآبه حاکم.

احمد خان دعبدالله خان مردان زي فوفلزايي زوي فوج دار.

احمد خان نورزايي پټان خيل امير اخور .

احمد خان بنگښ دهند دفرخ آباد والي.

احمد خان دهرات قاضي القضات.

احمد خان دمحمد شاه خان هزاره زوي هروي.

احمد خان د کابل ددارالسلطنه مير عدل.

احسن بخت دهند گورگاني شهزاده .

اختيار خان مُهر لرونکی .

اختر خان نورزايي خان .

ادرک خان دکندهار ددفتر داروغه

ادينه بيگ خان د هندوستان له نوابانو

ارسلاخان د هندوستان له نوابانو

ارسلاخان مومند خان

آزاد خان پوپلزی د کشمير والي

آزادخان سليمانخيل د آذربائيجان مشر

اسدالله خان نورزائي خان

اسحق خان قرايي د اوسني ايران دتربت حيدريه حاکم.

اسلام خان فوفلزايي نسقيحي باشي دهرات دلښکر سردار.

اسلام خان سرکاني خان

اسداللهشاه روحاني مشر کشمير

اشرف خان د گنډاپور والي.

اعظم خان غلزايي د سيستان والي

اعظم خان ( ملا ) دکشمير دولايت اميرلښکر .

اعظم خان داسلام خان زوي فوفلزايي خان دقلات او کابل دکلانو خاوند

آقايي خان هزاره دمحمد شاه زوي دهرات بيگلر بيگي .

اکبر خان سدوزی فوفلزايي خان

اکــرم خــان فوفلزي د سردار عبدالله خان ديوان بيگي زوي د کندهار دچهار بولک حاکم

الله يار خان دباجارو قومي زعيم او حاكم .

الله يار خان قليجي داصفهان دسبزوار والي

الله يار خان جهرچي باشي

الله ويردي خان شاملوي سر رشته دار هراتي

الله ويردي خان دمحمد حسين خان زوي د خبوشان والي

الله داد بيگ غزنوي .

الله يار خان فورملي پيشخدمت حضور

التفات خان خواجه سرا

النتوش خان جمشيدي «خان» هراتي

آموخان خان داشرف خان سلمانخيل زوي دقلات، توخ او هزاره حاكم

امان الله خان مستوفي

امان الله خان د سردار جهان خان سرلښكر ورور فوفلزايي

اميرخان قوللر آقاسي دديوان بيگي زوي

اميراصلان خان جوانشير د چنداول خان

امير خان باجوړي خان

امام ويردي خان دهرات د ښار كلانتر

امرسنگهه راجا دپنجاب

انگوخان پوپلزي خان

ايشان ملامحمد اسمعيل دبخار دچوبين مدرسې مدرس .

باقر خان جلاير .

برخوردار خان اچكزي د حضور ددفتر سررشته دار .

برگداى سلطان د حضرت شاه ولايت مآب دروضې متولي .

بهادر خان لكن خيل اندړ خان.

ACKU

بهادرخان محمود زايي خان.

بهادرخان دفيض طلب زوي دهشت نغر حاكم (والي)

بهادرخان دفيروز خان لوهاني زوي دتهراد پرگنه‌دار احمد آباد پالن پور.

بهادر خان عباسي دبهاول پور والي.

بهرام خان فوفلزي دتاشقرغانو حاكم.

بهرام فيروز كوهي دهرات دچهار ايماق سردار.

بهكين خان ماليري دجمو حاكم.

بوستان خان.

پاينده خان دباركزو سردار لقب سرفراز خان.

پاينده خان گربز صافي آهنگر باشي دطره باز خان زوي.

پاينده خان دمدد خان اسحق زي زوي.

پير دوست دپوپلزو دقوم خان

پهلوان خان فوفلزايي دكشمير فوج دار.

نايب بيگ بيگتاى واقف پتياله يي مشهور شاعر دديوان خاوند.

توكل خان دكاشغري قلماق خان.

توران خان گنداپوري.

جعفرخان افشار دكابل چهاردهي.

جعفرخان جوانشير كئكچي باشي.

جعفرخان قرابيات دنيشاپور والي.

جمعه گل خان دكندهار دمالياتو وكيل.

جواهر سنگهـ دلاهور دتهاردپرگنې والي.

جهاندار شاه دگورگاني عالي گهر زوي

حاجي جمال خان دبارك زو سردار

حاجي کريمداد خان عرض بيگي فوفلزايي دکشمير صوبه دار

حاجي ميريزنيکه چه زيارت ئې د کندهار په ذکر شريف کښې دی. مشهور په نيکه روحاني.

حاجي شيخ عبداللطيف خان مستوفي وکيل الرعايا.

حاجي علي خان.

حاجي خان تيموري هراتي

حاجي هاشم خان عرب

حافظ شربت خان

حاجي خان کاکړ

حبيب خان دبهادر شاه خان «فقير» زوي دسند والي

حسين خان دحيدر خان زوي قوم شاملو دهرات او سيدونکی.

حسين علي خان دهرات خزانه دار.

حسين قلي بيگ خياط باشي.

حسن خان کپوک محمودلو پيش خدمت.

حفيظ الله خان

حميداخندزاده داوچ اوسيدونکی روحاني مشر.

حيدر خان دمحمد حسن خان سيستاني زوي.

حيدرخان خاگواني پيش خدمت

خان زمان خال دبنو مستاجر.

خان خانان خان انتظام الدوله دډهلي وزير.

خالقداد خان هراتي.

خدای نظرخان دبلخ والي.

خداداد خان دشورا بک او پښين له ساداتو.

خدا داد خان «ملا» د کندهار له متنفذینو ( نفوذ لرونکی ) .
خدا داد خان علي زايي.
خدايار خان عباسي دسند ديوې مودې والي.
خدادادخان راجا دچناب اوجيلم ترمينځ ددوابې راجا .
خدابخش خان ملاباشي رئيس العلمأ د کندهار .
خليل الله خان قابچي باشي.
خنجر خان دهرات دبردراني مشر.
خواجه محمد سعيد دسلطان بابا لاشو اولاده او متولي هرات.
خيرالله خان قابچي باشي.
داؤد خان عباسي دبهاول خان زوي رکن الدوله.
درياخان بامي زايي فوفلزايي
درويش علي خان هزاره ديوې مودې دهرات والي.
درويش تايمني خان چه دتيورې کلا داحمد شاه بابا په وخت کښې ده جوړه کړې وه.
دلاورخان ملقب په مدد خان اسحق زي سرلښکر .
دوست محمد خان دوزير شاه ولي خان زوي.
دولت بيگ خان جوانشير عرض بيگي.
دولت محمد خان خليچاني هروي عالم.
دولي خان کرداز ملي مشر.
ذال بيگ خان فوفلزايي.
ذوالفقار الدوله دابوظفر جلال الدين شاه عالم د ډهلي لوي وزير.
ذکي خان ليکوال چه د تيمور شاه دژوند حالات يې په هرات کښې ليکلي.
رام نراين د ډهلي دديوان خاص منشي.
رستم خان راجا دکشمير دآزاد خان فوفلزايي خسر

رحيمداد خان مستوفي.
رحيم يار خان دکابل ددارالسلطنه جبا دار.
رحمت الله خان دفتح الله خان سدوزايي زوي.
رحمت الله خان بامي زی فوفلزايي ددريا خان زوي.
رحمت الله خان دسردار کريمداد خان عرض بيگي مشر زوي.
رحمت الله داوي دپښتو ژبې شاعر
رضاُ قلي خان منيرالدوله ددربار آمر او دډهلي دخالصه ديوان مستوفي.
رضاُ قلي خان نوايي شاعــر او ليکوال چه دتيمور شاه لــه مړيني وروســـته تهران ته لاړ.
زر داد خان فوفلزايي.
زعفران خان خاگواني.
زمان خان دحليم خان فوفلزايي زوي.
زمان خان دحاجي کريمداد زوی عرض بيگي.
زين خان مومند.
زين خان فرملي.
سردار جهان فوفلزايي دلښکر دسردار« دستور معظم»
سردار قلندر خان فوفلزايي دخالصه املاکو مميز.
سرفراز خان فوفلزايي دپنجاب ددوابې فوج دار.
سرفراز خان دپېښور قوم خليل يو متقي عالم.
سرفراز خان ريکا مشهور په ريکاباشي.
سربلند خان دگجرات صوبه دار.
سردار خان دکوهدامن مشر ( نواب سردار ) .
سلطان خان دقصوردولايت والي.

سعادت يار خان دملتان والي.
سعادت خان اپريدی ، خان.
سعد الله خان روهيله درامپور نواب.
سعادت خان هوتک ملقب په‌سرفراز خان داکوړي حاکم.
سعيد خان ، خان.
سعادت خان منشي.
سعدالدين انصاري جناب حضرت شيخ ده يحيی.
سيد علي اکبر شاه اختي ليکوال.
سيد نانک شاه روحاني زعيم گنداپور.
سيد عبدالکريم پيش خدمت.
سيد شريف دحيدرآباد ناظم دآصف جاه نظام الملک
سيدنجيب کونړي روحاني مشر ملقب په پيربابا.
سيد عبدالحسين عرب ملي زعيم.
سيد مرتضی « قانع » شاعر.
شاه ولي خان لوي وزير.
شاه ولي خان دفتح خان زوي کمال زايي.
شاه ونجي خان دشغنان حاکم.
شاه ترک خان ددرواز شاه
شاه رخ افشار دمشهد پادشاه.
شاهداد خان فوفلزايي يوه موده دجلال آباد حاکم.
شاه منصور ددرواز بدخشان حاکم.
شاهباز خان د حضور پيشخدمت.
شاه نظام الدين اشاري روحاني زعيم اوليکوال.

شاه عبدالستار اشاري روحاني زعيم کندهار.
شاه صفي الله مجددي فاروقي روحاني زعيم کابل.
شاه غلام حسين مجددي فاروقي (حضرتجي) روحاني زعيم کندهار.
شاه غفران الله مجددي روحاني زعيم کابل.
شاه عبدالحکيم خراساني شاعر.
شجاع الملک ددکن نواب دآصف جاه زوي.
شمس الدين يغماني قاضي عالم روحاني زعيم.
صادق خان دهرات فوج دار.
صادق خان دولي محمد خان زوي جوانشير.
صافي سلطان دياقوجري ، پشهي، يزدري ، کره يي ، جاغوري مشر.
صالون خان اسحق زايي دلاش جوين والي.
صوفي اسلام کرخي هروي روحاني زعيم دهرات.
صوفي عارف دبابا لاس دزيارت متولي.
طره بازخان گربز صافی د ملتان اوسيدونکی د آهنگری استاد.
طره بازخان فوفلزايي خان.
ظفرخان يوسف زايي اتمان خيل دفتح خان زوي دمظفر آباد والي.
عاقبت محمود خان کشميري.
عاقبت محمود خان قاضي.
عاقرخان خان
عالم علي خان کشميري.
عبدالله خان اردو باشي.
عبدالله خان امير لښکر.
عبدالله خان دسرهند حاکم.

عبدالله خان عصرالدوله ، عضد دربار .

عبدالله خان ایشک آقاسي باشي.

عبدالله خان شا آقاسي.

عبدالله خان ضبط بیگي .

عبدالله خان دیوان بیگي.

عبدالله خان وکیل الدوله .

• عبدالله خان قاضي دکابل.

عبدالله خان کوچنی خواجه دنواب عبدالصمد سیف الدوله زوي.

عبدالله خان دنواب علي محمد خان زوي رو هیله.

عبدالله خان الکوزی دمیرهزار خان له مړینې وروسته دکشمیر صوبه دار.

عبدالله خان کوه زوري غوري هروي دتیمور شاه ددربار منشي.

عبدالله خان مهرجاني دمیرزا عبدالغفار مستوفي زوي قوم جوانشیر .

عبدالله مفتون شاعر او خطاط هراتي .

عبدالله سرور دمیر عبدالهادي منشي باشي زوي.

عبدالله خان دحیواناتو داروغه دشاه زمان پیش خدمت کرکراق باشي لقب جانثار دکابل والي مقرر شو.

عبدالله خرقه پوش د کندهار روحاني مشر.

عبدالله خان مردان زی فوفلزایي.

عبدالله فاضل شاعر او عالم هرات .

عبدالخالق خان سدوزایي دشکار پور حاکم مستاجر.

عبدالغفار جدید الاسلام.

عبدالحق اخوندزاده دخرقې مبارکې متولي.

عبدالرحیم خان دکریمداد خان پنځم زوي.

عبدالرحيم خان دعلي رضأ خان زوي مستوفي.
عبدالرحيم خان د کندهار دښار قاضي .
عبدالحميد خان دوزير شاه ولي خان زوي
عبدالصمد خان محمودزايي دسرهند حاکم .
عبدالکريم خان فوفلزايي دديره جاتو ناظم
عبدالکريم خان اسحق زايي امير آخور .
عبدالکريم کشميري مؤرخ ( بيان واقع ) .
عبدالشکور خان دعرض بيگي کريمداد دوهم زوي
عبدالکريم خان دسردار رحيمداد بارکزي زوي.
عبدالله خان شهاب شاعر، منجم، ښکلي ليکونکی او مصور .
عبدالعلي خان ( ميش مست ) دترشيزوالي.
عباسقلي خان قرابيات دنيشاپور والي.
عبدالاحد سلجوقي دهرات لوي عالم.
عتاب خان تايمني دهرات دغور خان.
عجب سنگهـ د بهار دولايت دجسروته راجا .
عشرت خان فورملي دچهاردهي خان
عشرت بيگ غزنوي.
عشرت شاعر.
عزيزالدين محمد عالمگير دوهم د ډهلي افغان تاکلی پادشاه.
عطائي خان دوزير شاه ولي خان وراره.
عطاء محمد خان علي زايي.
عطاء محمد خان ملقب په حاضر خان.
علم خان ايشک اقاسي باشي. ( ديوهٔ تن دوه منصبه)

علم خان وكيل الدوله .

علم خان نورزايي.

علم خان علي زايي دماليا تو حاكم .

علم خان باجوړی.

علم رضاء خان شيرواني دنوروز علي خان زوي قزلباش.

علي رضا خان موسوي مستوفي.

علي بهادر دشمشير بهادر زوي دمرهته حاكم مستاجر .

علي قلي خان « واله » داغستاني ملقب په ظفر جنګ .

علي مردان خان زنګويي دطبس والي.

علي اكبر خان دغزني دالكای مستاجر .

علي اكبر خان وركزايي .

علي اكبر خان بمروردي منشي او شاعر .

علي اكبر شاه رختي منشي.

علي اكبر سيد دغزني دسراب خان.

علي محمد خان خاګواني.

علي محمد خان دعلي رضا زوي شيرواني قزلباش.

علي خان ملقب په عبدالشافي طبيب .

عنبرين خان دميرزا محمد هاشم زوي.

عيدي دمراد غزنوي زوي « شاعر ».

غازي الدين خان دهندوستان نواب

غازي الدين داسلام خان فوفلزايي زوي.

غفار خان كروسي.

غلام محمد خان دهندوستان واقعه ليكونكی .

غلام جيلاني خان دبلوكانو دنظام سركار.

غلام علي خان دشاه عالم نامې مؤلف .

غلام محمد دروهيله نواب .

غزنين خان دديوان عالي ميرزا .

فتح الله خان سدوزى ( وفادارخان) خاص نديم.

فتح الله خان امين الملک (دكابل قلعه فتح الله خان دده په نامه ده).

فتح الله خان قاضي.

فتح الله خان د كندهار والي.

فتح الله خان دسند والي

فتح الله خان يوسفزى اتمان خيل دمظفر آباد والي

فتح خان علي زايي خان.

فضيلت خان هزاره د تنه خاتون حاكم.

فيض الله خان د كابل قاضي القضات.

فيض الله خان درو هيله نواب .

فيض الله خان خليل مومند.

فيض طلب د پښور د هشتنغر والي

فيض الله خان فوفلزايي خان

قاسم علي خان دبنگاله صوبه دار.

قباد خان ملقب په قوت خان دقطعن والي.

قطب الدين دسلطان والي دقصور (قصور) والي .

قليج خان مستحفظ دپل خاتون.

قليج خان تموري دهرات قلعه دار.

كرم خان فوفلزايي دسردار عبدالله خان وكيل الدوله زوي.

کریم خان دسردار جهان خان زوي.

کرامي خان موسوي دديوان عالي ليکونکی .

کمال خان دکابل جبادار باشي.

کشن خان دقلماق دقوم سردار.

گدا محمد خان فوفلزايي .

گرگ علي خان يساول ديمگان والي.

گل محمد خان فوفلزايي مستوفي.

گل محمد خان کبرلو جوانشير چنداول.

گل محمد خان فوفلزايي جهرچي باشي ملقب په زنگي خان.

گل محمد خان خراساني دسند والي.

گل محمد خان داسلام خان زوي فوفلزايي .

گل محمد دوزير شاه ولي خان زوي.

گل محمد خان دعلي رضأ شيرواني زوي قزلباش .

گلستان خان اچکزايي مستوفي.

گوربخش رای ددفتر ليکونکی .

گلاب سنگهـ بهنگي دامرتسر راجا دجهدا سنگهـ راجا زوي دپنجاب څلورم دوآبه.

لعل محمد خان «عاجز» طبيب او شاعر.

لجيت سنگهـ راجا دحيند دسيمې مستاجر

لچهمي رام پنډت دذوالفقار الدوله دډهلي دپادشاه دصدراعظم منشي.

محمد مراد ياب خان دسند والي.

مخمد ادريس خان قاضي.

محمد غوث خان خطيب يوه موده دپيښور قاضي.

محمد بهاول خان رکن الدوله دبهاولپور والي

محمد بهاول دبهاولپور دوالي وراره.

محمد شاه خان هزاره دهرات بیگلربیگي .

محمد اعظم خان خټک د پیښور دکاله باغ مستاجر.

محمد مهدي خان دمیرزا محمد هاشم خان زوي.

محمد زمان خان دکریمداد خان عرض بیګي دریم زوي.

محمد حسین خان دحفیظ الله خان زوي.

محمد بهادر خان

محمد خان دفتح الله خان زوي.

محمد کریم خان.

محمد شفیع خان د الله ویردي خان زوي.

محمد قاسم خان دمحمد سعید خان زوي.

محمد اسمعیل خان پنی فوج دار.

محمد پناه خان «رجا» شاعر .

محمد خان محمودزايي .

محمد رحیم خان بارکزايي (امین الملک دشاه محمود درانی په دولت کښې)

محمد خان (عطار دقم) ددربار منشي .

محمد رضا خان برنابادي دغوریان دمالیاتو وکیل.

محمد کاظم خان برنابادي دهرات دخالصه جاتو وزیر.

محمد شریف خان منشي قزلباش.

محمد قاسم خان ددیوان اعلی له میرزائیانو.

محمد کلان خان دسردار علم خان وکیل الدوله زوي.

محمد بابر خان د کندهار مدرس.

محمد قربان خان دقدوة السالکین ملا گندم علي زوي هروي.
محمد شریف خان دملتان والي.
محمد حسین خان دخبوشان حاکم.
محمد قلي خان شجاع الدوله دبهار ناظم.
محمد اکبر خان جهرچي باشي دزنگي خان جهرچي باشي زوي.
محمد تقي خان دیزد والي.
محمد بیگ خان پیشخدمت.
محمد ابراهیم «خان».
محمد عظیم خان دمیر هزار خان الکوزي زوي.
محمد شاه خان هزاره.
محمد رسول اخندزاده الکوزي د کندهار دشاه جامع مسجد خطیب.
محمد خان تایمني غوري.
محمد حسین خان دسیستان دنرماشیر اوسیدونکی.
محمد فاضل خان دملا پیرمحمد زوي هغه دملا الیاس زوي (عالم).
محمد پناه خان رجا شاعر.
محمود خان خواجه سر قللراقاسي.
محمود خان قراچه داغي دفراشخاني داروغه.
محمود خان قرابیات.
محمود خان سپاه منصور منشي.
محمود خان حسینی منشي او داحمد شاهي تاریخ لیکوال.
محمود خان دنصیر خان بلوڅ زوي.
محمود خان قاضي.
محبت خان علي زایي.

محبت خان (صوفي) دکابل د (ده یحیی عالم او متقي).

محبت خان د کچ او مکران مستاجر.

محب علي پارسي د قلعه‌قاضي اوسیدونکی.

مجدالدوله دألور داکبر آباد برخې صوبه دار.

مراد خان فوفلزایي دکندهار دښار دودانولو آمر دکابل مراد خاني ددهٔ په نوم ده.

مرتضی خان فوفلزایي داختیار خان زوي د حضور مهردار.

مرتضی خان دکریمداد خان څلورم زوي.

مرتضی خان دمظفر آباد هریچي.

مستفید خان

مشکي خان خواجه سرا.

مصري خان دسردار جهان خان زوي

مظفر جنگ خان بنگښ دفرخ آباد والي.

معراج الدین خان دسلطان خان زوي دقصور والي.

معالج خان ددربار حکیم.

ملا ځلي خان عالم او ملي زعیم.

ملامحمد جان خان دهرات دبردراني مشر.

ملا میرزاخان سلجوقي هروی عالم.

ملا دولت محمد خان شکارپوري عالم او ملی مشر.

ملا ولي اسحق زایي دکندهار ملاباشي.

ملادولت محمد خان کندهاری نور زایي.

ملادوست محمد خان کندهاري.

ملاعبدالحکیم پیښوری عالم او شاعر نورزایي.

ملا میر حسین ده یحیی کابلي عالم او شاعر.

ملا عبدالرحمن کوفاني هروي.

ملک مير لطف الله نعماني.

ممش خان کرد چناراني.

مولاداد خان علي زايي جماعه دار.

مود هوجي راود رکهوجي راو زوي دبرار صوبه دار.

مهتر جان خان اسحق زايي.

مهدي علي خان کشميري خان.

مهدي خان جلاير دسردار مراد خان مرستيال.

مهدي خان قزلباش ميرزا او شاعر

مهدي علي خان دوزير شاه ولي خان زوي.

مهدي خان راجا دهني کيپ راجا.

ميان غلام شاه خان ملقب په شاه ويردي دسند والي.

ميان عبدالحميد خان دکندهار روحاني مشر.

ميان فقيرالله علوي نقشبندي دعبدالرحمن جلال آبادي زوي شکارپوري زعيم .

ميان محمدي پيښوری دشيخ عمر قدس سره زوي.

ميان منير شاه پيښوري عالم او لوي شيخ .

ميان نور محمد ميناره روحاني زعيم او قاضي.

ميان عبدالکريم کشتي قدس سره.

مير فتح علي خان دسندوالي.

مير علي خان دقاين والي.

ميرمحمد اصغر دجناب مير زيور الدين ( پاچا صاحب پای منار ) زوي د برکي قوم سالار.

ميرزالي خان دنايب امين الله خان لوگری پلار دبرکي قوم مشر.

میرزا محمدهاشم په هرات کښې د تیمور شاه دراني خوش نویس او منشي.
میرزا جان جانان (مطهر) شاعر.
میرزا مؤمن خان دهرات ددربار طبیب.
میرزا قلیج خان مین باشي شاعر، منشي تخلص الفتي.
میرزا دلسوز ملقب په خیراتي خان.
میرزا حیدر بیگ.
میرزا قلندرخان قلندر خان او شاعر.
میرزا مهدي خان درصوي قدس دآستانې متولي.
میر محمدخان عرب زنگویي دطبس والي.
میرغلام علي خان آزاد بلگرامي شاعر او مؤرخ.
میرزا عزیز محمد په بلخ کښې دشاه ولایت مآب دزیارت متولي.
میرزا میر عبدالهادي خان موسوي دحضور منشي باشي.
میرمحمدعلی مستوفي وروسته منشي‌باشي ملقب په‌کفایت خان.
میرعبدالاحد منشی دمیرعبدالهادي منشي باشي زوي.
میرزا کاشف خان (دمیرزا محمدهاشم پلار) ددیوان اعلی مأمور له (اعمالو)
میرهوتک خان فوفلزایي داخبار داروغه.
میرنصیر خان دبلوچستان والي.
میرسلطان شاه دبدخشان والي.
میر سلطان‌محمد شاه دمیر سلطان شاه زوي.
میرعبدالکریم خان دحضور پیش خدمت دافغان او بخارا دتاریخ مؤلف.
میریحیٰ قتالي دهرات روحاني زعیم.
میرامام‌الدین حسیني‌چشتي مؤرخ.
میرشاه عالم سرابي غزنوي له‌ساداتو اوبانفوذو خلکو څخه.

نادرميرزا دشاه رخ شاه افشار زوي.

نصرالله ميرزا دشاه رخ شاه افشار زوي.

نصرالله خان بارکزايي قاضي دارغستان دچل ماکواوسيدونکی.

نصرالله بيگ دقطغن والي.

نصيري اصفهاني شاعر.

نورالله خان ملقب په اخلاص قلي خان هوتک دحاجي رنگو خان زوي جاگيردار .

## ډيره اسمعيل خان، بنوں او اورگون

نواب خان الکوزی ايشک آقاسي .

نور محمد الکوزی خان.

نورالدين خان فوفلزايي داسلام خان زوي.

نوربيگ خان ليکوال او عامل .

نوروز علي خان قراچه داغ خان.

نوروز علي قزلباش .

نجيب الدوله دډهلي دشاه جهان حاکم او مستاجر.

نجم الدين خان کشميري دقادريه دشجرې مؤلف عالم اوشيخ

نجم الدين خان دسلطان خان زوي دقصور والی.

وجيهه الدين وجيهه الدوله .

ولي محمد خان جوانشير چنداول.

ولي محمد خان غزنوي دغزني دولايت امين.

ولي خان اسحق زايي دکندهار ملاباشي.

هارون خان د سردار حاجي جمال خان بارکزي زوي.

هدايت علي خان د علي رضا زوي شيرواني قزلباش.

يار محمد خان سدوزايي سردار او خان .

ياقوت خان خواجه سر قللر آقاسي.

يحی خان نسقچي باشي .

يزدان بخش دشاه رخ شاه افشار زوي.

يسين خان عمرخان زايي بارکزايي .

يسين خان کندهاری معمار باشي.

يعقوب علي خان فوفلزايي محسن الملک .

دپورته ياد وشوو رجالو نومونـه دتاريخ دڅيړونکي ياهرافغان دپاره پهزړه پورې دي . پهدې فـهـرست کـښـې قـوم، منصب او شـخـصـيت څـرگنديږي . کـه چيـرې په ځيروکتل شي مونږ تهډيرې خبرې را په گوته کوي. لکهقومونه ، مقامونه ، چه پښتانه هندي ، ايراني او نورچه دلوي افـغـانـسـتـان چارې يې پرمخ بيولې؛ پهدوئ کښـې روحاني اديب ، ليکوال ، مؤرخ، طبيب، کسبگر نومونه ليدل کيږي اوډير دپاملرنې وړدي . لکه پښتنو غلځي د ابدالي او ابدالي دغلځي نومونه ايښي.

دنوم له مخې فکر کيږي يو ايرانی به وي.خو هغه به هم پښتون وي . په اتلسمه پيړۍ کښې د اوسني ايران دغه سيمې په لوي افغانستان پورې تړلې وې:

# د افغانستان غربي ولايات

۱- مشهد : دغه ولايت کښې شاه رخ افشار داحمد شاه بابا له خوا پادشاه ؤ. چه دايران دپادشاه په نامهٔ. په ټول ايران کښې ئې پلويان اومخالفين درلودل او هغه ولايات که ليرې همؤ؛ دمشهد تابع ؤ .

۲- ترشيز : دغه ولايت دافغانستان ؤ. د امپراتور تيمور شاه په پادشاهۍ کښې عبدالعلي خان دياغيتوب خيال وکړ. خودترشيز خلکو تيمورشاه ته عريضې ورکړې چه دوئ دعبدالعلي له لاسه خلاص کړي. امپراتور تيمورشاه هغه پرځای کښينا وه .

شهاب ترشيزي شاعر په دې مضمون امپراتور تيمور شاه ته يو شعر وليکه:

ترشيز ولايتست چون خلد برين
افتاده بدست بد نژاد بيدين
مپسند که درعهد جهانداري چون تو
دردست چنان بود ملک چنين
فرمان تو کوه راکمر بشکافد
شمشير تو شيررا جگر بشکافد
وقتی است که ذوالخمار سلطانيه[۱] را
شمشير سرانداز تو سر بشکافد

پښتو ترجمه :

ترشيز دخبت په شاني ولايت دی
ديوه بدنژاد بيدين لاس کښې لويدلی

[۱]- امپراتور تيمورشاه ترشيز کښې فلسفهٔ سلطانيه جوړه کړې وه

مه غواړه تا غوندې ديو جهاندار په مهال كښې
دداسې په لاس كښې وي داسې ځای
ستا فرمان دغرهٔ ملا ماتوي
ستا توره دزمري ځيگر باسي
هغه مهال دی چه دسلطانيې ذوالخمار
ستا سرغور ځوونكې توره سرمات كړي

۳- خبوشان.

٤- باخزر، كيلك، كاخك او خباند.

٥- تربت حيدريه.

٦- قاين.

۷- يزد

۸- طوس فردوسي طوسي دهمدې ځای ؤ.

۹- طبس.

۱۰- تبريز

۱۱- نيشاپور.

۱۲ سبزوار.

فريرز مؤرخ وايي: تيمورشاه په عدل او انصاف نامتوؤ. هغه زړهٔ سواندی او د پاسته طبيعت خاوندؤ.

دامپراتور تيمورشاه په برخه كښې يوځه ناروا هم ويل شوي؛ چه دهغه وجه بله خبره ده. چه بل ځای به خبرې پرې وشي.

جنرال سرپرسي سايكس يو كتاب لري. دايران دتاريخ په نامه اوسيد محمد تقي داعي په فارسي ترجمه كړی. په كتاب كښې يوه خبره شوې چه مالږ حيران كړي.

دامپراتور تيمور شاه غربي قلمرو:

افغانان به هيڅکله داخيره هيره نه کړي چه يو مهال ددوئ لويديځ سرحد د ابريشم پول دسبزوار او ياميلې کښې دتهران او مشهد واټ سره ؤ.

**دايران شهزادګان په کابل کښې :** د ايران خلک له افغانانو خوشحال ؤ. څرنګه چه اشرف افغان پادشاه په لنډه موده کښې درې برخې لوی قدرتونه له ايران څخه په شاه کړي.د پتر روسي لښکرې په شمال کښې؛ دترک لښکرې په غرب کښې، انګليس او هالنډ له هرمزنه، سره لدې يولږ ودانۍ لده نه په اصفهان اونورو ځايوکښې يادګار پاتې دي. محمودي. او اشرفي ايرانۍ پيسې وې. تراوسه هم ياديږي.

همداډول، احمدشاه ، تيمورشاه ، شاه زمان په افغانستان ، ايران او هند کښې دعامو خلکو خوښ ؤ.

**۱ - شهزاده ميرمحمد علي صفوي:** دی يواديب، شاعر او مصلح سړی ؤ. دده نسب حضرت موسی کاظم ته رسيده اودمور له پلوه دصفوي پادشاه د لمسيانو له لړۍ څخه ؤ. د افشار او صفوي کورنۍ دښمني ډيره اوږده شوه. د ايران خلک دصفويانو په ياد په ده پسې ودريدل. دی پوه سړی ؤ. حالت يې ښه نه ليد. نودبصرې له لارې هند ته لاړ. هلته له شاعرانو سره بلدشو. ددوهم شالم دهند دپادشاه لوي وزير هم له موسوي ساداتو ؤ؛ چه دلوي وزير اوذوالفقارالدوله په منصب ټاکلی شوی ؤ. ذوالفقار الدوله په ښکاره ددغه شهزاده هرکلی کاوه ، خو په زړه کښې ورسره جوړ نه ؤ. ميرمحمد علي چه فروغي يې ادبي نوم ؤ؛ په ځان پوه شو.

کله چه امپراتور تيمورشاه هند ته لاړ. ذوالفقار الدوله يې په خپل مقام بيرته وټاکه نوشهزاده ميرمحمد علي فروغي دده حضور ته ورغی.

امپراتور تيمورشاه دفروغي هرکلی وکړ او ځان سره يې کابل ته راووست. کابل کښې ئې مياشتنی بشپړ خرڅ ورکاوهٔ. فروغي له امپراتور او افغانانو سره مينه پيداکړه او خپل ادبي خدمت يې دلوي افغانستان دپاره وکړ. او په کابل کښې ترپايه

پاتې شو. که څوک پسې وګرځي اوس به يې هم قبرو موندل شي.

## دفروغي څو شعرونه

کله چه امپراتور تيمورشاه وفات شو او امپراتور شاه زمان دهغه پرځای کښيناست يوه عجيبه پيښه وه، چه يو ښه پادشاه لاړاو بل ښه پادشاه راغی. فروغي هغه په خپله ژبه داسې تمثيل کړه. چه دده ادبي قدرت ښيي.

دونقش چه دلخواوچه جانکاه نشست
خورشيد برآمد از افق، ماه نشست
ازگردش مهروماه تيمور زتخت
برخاسته نواب زمان شاه نشست

که څه هم په شعرکښې دمبالغې لاره وي، مګرشاعر دهيڅ دپاره يادظالم اوناپوه دپاره شعرنه وايي. کوم ستايل چه دامپراتور تيمورشاه شهزاده فروغي کوي؛ يايومؤرخ يوعسکري جنرال اودرې واړه بهرني وي او مونږ يې نه کوو دابه څه بې انصافي وي. دلته به دفروغي هغه شعر راواخلو چه يو صفوي شهزاده يې وايي.

لومړی دفروغي غرور او استغنأ وښيم:

فروغي آنکه نيايد بچشم سلطنتش گدای درگه سلطان کامگار من

دايو صوفيانه رنګ دی چه دحقيقي سلطان ددر ددرويزګر په نظرکښې سلطنت نه راځي.

فروغي اصفهاني، په دغه لاندې شعر کښې نه داچه امپراتور تيمورشاه ستايي دافغان امپراتور اودده هيواد يعنې افغانستان چه وروسته له ده مخ په خرابيدو شو، په خپل مهال کښې ښيي.

خدایی که درسقف گردون گردان — برافروخته ازکواکب مشاغل
بصنعت عیان سازد ازخاره سنبل — بقدرت پدید آورد آدم از گل
که نبود مرا روشني بخش دیده — بجز خاک درگاه سلطان عادل
سپهر سخا افتخار سلاطین — جهان کرم مقتدای قبایل
خدیو جهان شاه تیمور کامد — جهان معاني سپهر فضایل
کمین چاکرش صدچودارا وهرمز — کهین بنده اش صد چوجمشید هرقل
شه نامداری بلند اقتداری — کزاقبال فرخنده وبخت مقبل
براطوار شاهان ورسم سلاطین — نهد دست رد وکشد خط باطل
ولی زین وآنم چه غم شهریار را — بحالم چولطف توگردید شامل
گزند خطاب وکمند عتابت — که نظم جهان زین وآن است حاصل
گشاید پلنگان زساحل بدریا — برآرد نهنگان زدریا به ساحل
پرستار امرتو اهل زمانه — چوطفلان نادان چه پیران کامل
دعاگوی ذاتت خلایق سراسر — چه عارف چه عامي چه دانا وچه جاهل
حریم درت قبله گاه سلاطین — غباردرت آبروی افاضل
بشرق بغرب است حکم توجاري — به بر و بحر است لطف توشامل
هرآن سروروسرفرازي که یکسره — شرفیابي خدمت کرد حاصل
زرفعت تقدم نماید زاقران — زحشمت تفاخر کند برامائل

او بیا وایي:

تاهست روزگار ترابخت یارباد — دایم بکام خاطر تو روزگار باد
در روز رزم هرکه فدای توساخت جان — دایم غریق رحمت آمرز کار باد
فعل هلال شکل سمند مرادتو — درگوش روزگار همي گوشوار باد
هر روز حشمت تو فزون ترزروزپیش — هرسال دولت تو فزونتر زپار باد
یارب ممالک تو زحسن سلوک تو — پیوسته چون محاسن توبی شمار باد
یارب همیشه بادعطارد زپرتوت — همواره مشتریت وقایع نگارباد
یارب بنای دولت تودرجهان مدام — همچوبنای همت تو استوار باد

د شاه رخ زامن، د هند دنوابانو زامن، د هند د پادشاه زامن او نور شهزادگان او مشران په کابل کښې اوسیدل. شاعران لیکوال روحاني مشران، صنعت کاران، معماران او آهنگران ئې راغونډ کړل.

ACKU

# د امپراتور تیمورشاه پیژندنه!

مونږ د ښوونځي اونږو تاریخو کښې لوستي ؤ چه تیمور شاه هوسایې، غوښتونکی سړی ؤ او دده لـه نرم طبیعت نه محلي مشران وروسته له ده یاغي شول. داډول ذهنیت زمونږ په ذهن کښې پاتې ؤ.

بله خبره دارا ووته چه دده قزلباش ډیر پالل او پښتو ته یې پاملرنهٔ کوله. عیاش ؤ صدیق فرهنگ په (۱۹۸۸م) کښې ولیکل چه تیمورشاه په خپل حرم کښې درې سوه ښځې درلودې او هره میاشت یوه ښځه زیاتیدله. بیا لیکي مگرویښ سړی ؤ.له هرې جگړې بریالی بیرته راغلی.

اوس به همدغه خبره وڅیړو:

دملي تاریخ د پاره ددهٔ ویښتوب، زړورتیا او هیواد پالنه ضروري ده. دښځو معامله یې څوک څه کوي؟

بیادرې سوه ښځې دومره ډیرې دي چه په یوه کلي کښې هم نه ځائیږي نو په یوهٔ کورکښې چه د پادشاه هم وي څنگه ځایږي؟ څنگه اداره کیږي؟ نور گارډ اوخدمتگاران څنگه ځاییدل؟ او یو سړی څنگه ټولوته رسیدای شي؟ تیمورشاه دهند دپادشاه لور اودایران دپادشاه لونې کړې وې، څو نورې دځینو قومي مشرانو چه ټولې لس تنه نه کیدې. نو دیوې شهزادگۍ ساتل چه یوه یې ایرانۍ او بله هندي وه دوئ سترگې نه درلودې.

دتیمور شاه خسران برحال پادشاهان ؤ. هر میاشت کښې یوه بله راتله. چه دکال دولس شي. په دې صورت باید ددهٔ دپادشاهۍ ترپایه پنځه سوه شوې وای.

په( ۱۹۷۹م ) چه روسان راغلل. دا خبر خپور شو چه پنجشیر کښې اته سوه

ټانکونه وهل شوي . مونږ هم په لومړي نظر منلې وه . د پنجشير دره کښې چه اته سوه ټانکونه ودريږي چه يو څه فاصله هم ولري. ( شل متره ) دا څومره کيږي؟ بيا چه اته سوه په يوه تنګه دره کښې وي په کابل کښې به څومره او په پکتيا کښې به څومره وي؟ ژر پوه شو چه يو صفر به زيات غورځيدلى وي.

کله سړى بې له سنجشه يوه خبره هم ومني . مونږ چه کابل کښې ؤ. حتى اخبارو کښې وليکل شول چه ظاهرشاه د نړۍ دريم پانګوال دى. حال دا چه د نړۍ خولا پريږده چه دافغانستان هم نه ؤ.

مطلوب دا چه دا يو ډول تبليغات دي چه يوازې په کوڅو کښې وي؛ نه کتابو کښې.

دتيمور شاه دوره په ټوله امپراتورۍ کښې د تهران اومشهد له سړکه ترګنګاه پورې له آمو تربحر هند پورې کراره کراري وه . په شلوکلونو کښې ايله څلور پيښې وشوې چه امپراتور په خپله ورغلى او عاملين يې سم کړي دي.

دهٔ دوه نيم سوه کشتۍ درلودې او تجارت ښه روان ؤ . عدالت خپور ؤ. دى ظالم سړى نه ؤ.

که سړى په ځير وګوري کومه دښمني چه دسدوزو اوبارکزو ترمينځ ولويده ؛ وروسته دسردار پاينده خان بارکزي تروژلو چه شاه زمان مړ کړ؛ بيا لومړى ، وزير فتح خان او شاه محمود سدوزايي چه ماما او خوريى کيدل. يعنى د سردار پاينده خان خور دتيمورشاه ميرمن وه او شاه محمود سدوزى دهغې له ښته پيدا ؤ ، د ايران قاجاريانوته ورغلل. غربي ولايات ئې ورته پريښودل. له هغوئ يې مرسته ترلاسه کړه . بيا انګليسانوته تسليم شول . ترڅو چه داحمد شاه بابا کورنۍ يې ټوله وايسته.

نن سدوزيان چيرته دي؟

په هند، پاکستان ، او افغانستان کښې د ګوتو په شمار دي.

مونږ داپوښتنه ونه کړه چه د احمد شاه بابا قوم څه شو؟

کله انګليس او ايران لاس سره يو کړ. افغانستان له ختيځ اولويديځ کوچنى کيدهٔ څودې حال ته را ورسيد. په دوو سووکلو کښې د تيمورشاه مقبره په کابل کښې

ACKU

چاجوړه کړه؟ هغومره چه‌شاه زمان جوړه کړې وه هغومره پاتې ده. حال داهغه ساحه چه‌باغ عمومي یادیدله یعنې د پل خشتي جومات نه ترشاه دو شمشیرې پورې دکابل له‌سین نه‌تر میوندواټ پورې چه منځ‌ئي هم په کښې راځي، دده د مقبرې باغ ؤ.

دلته‌هم محمدزایي دولتونه په‌تیره دظاهرشاه څلویښت کلنې پادشاهۍ کښې دمقبرې باغ له منځه ولاړ.

دتیمورشاه په دوران کښې دوه‌ایراني شهزادگان کابل کښې اوسیدل؛ چه له فروغي سره‌درې کیدل. یعنې دوه افشار او یوصفوي ؤ.

په‌دې ترتیب له (۱۸۰۱م) بیا تر (۱۹۷۹م) پورې دایران اغیز پر سلطنت پروت ؤ. ځکه ظاهرشاه یوه کلمه پښتو ونه‌ویله، او محمد داؤد په کندهار کښې دجنرال‌شاهپوراحمدزي په ترجمانۍ خبرې وکړې.

ددې کرښو لیکوال په (۱۳٤۱ هـ ش) کال کښې په تهران کښې افغاني‌لوي سفیر محمدعثمان امیرته وویل‌چه مونږ دسرې میاشتې‌مرسته دایران‌زلزله ځپلوته راوړې ایراني‌مطبوعاتو دهغه‌ذکرنه‌دی کړی او دنورو هیوادویادوي. بیا دوي کرښې لنډ خبرپرې ولیکل شو. مگر سفیر وویل: «برادران ایراني‌باما محبت دارند».

شاه‌زمان او ایران:

امپراتورشاه زمان (۱۷۹۳ - ۱۸۵۱م) له‌ډیرزړبورونوسره مخامخ شو. ده ته‌یې د «آس دشا پادشاه» وویل: ځکه‌دی هروخت په سفر کښې ؤ. دخراسان اوهند ترمینځ په‌منډو ؤ. او دده پادشاهي ددې خبرې ښه‌ثبوت دی‌چه‌په یوه وخت کښې دواړوخواؤسره جنگیدل گران کارؤ.

شاه‌زمان چه‌ډیرگړندی‌سړی‌ؤ له هرې خواگرم شو. په‌دې مهال انگریزانو ډهلي ته

ځان رسولی ؤ. سکهانو هم يوه مشري او انتظام موندلی ؤ.

مگر ترټولو گرانه خبره سلطان محمود ددهٔ ورور ؤ، چه په شاه محمود سدوزايي ياديږي. وزير فتح خان چه ددهٔ ماما او لوي وزير ؤ؛ يو نا کراره کلک او خاين سړی ؤ.

ترټولو مهمه داده چه ملي گټې دوئ په پام کښې نه نيولې. شاه زمان په ملي گټو پوهيدهٔ.

کورني ځينې تاريخ ليکونکي پراعيلحضرت شاه زمان دا اعتراض لري چه تا شاه محمود دوه پلا ونيوه ولې دې مړ نه کړ؟

بهرنيو مؤرخينو دا نيوکه کوله چه شاه زمان لومړی بايد له ايران سره معامله خلاصه کړې وای، بيا يې هند ته مخه کړې وای. دشاه زمان انتظار ټول هندوستان درلود چه هنديې له انگليسانو خلاص کړی وای.

مگر انگليسانو ايران دځان ملگری کړ. له دواړو خواؤ يعنې له شرق او غرب نه پر افغانستان حملې کيدلې.

شاه زمان دخپلواکۍ اتل بلل کيده اودهند د ميسور استازي دده حضورته راغی چه پرهند حمله وکړي.

په داسې حال کښې دهند ملي پرگنو دشاه زمان په لوري کتل. انگليسانو بله چاره نه درلوده چه دايران دقاجاري دولت نه مرسته وغواړي. دايران قاجاري پادشاه آغامحمد يوډير ظالم سړی ؤ. بياهم دخراسان دولايت په نيولو ايرانيانو ورسره مرسته کوله.

ددرة الزمان په کتاب کښې دانگلستان دسفير نظرچه ايران ته تللی ؤ، داسې راغلی:

« زمان شاه د افاغنهٔ. سلطان زهٔ ديوځغښتلي دښمن په توگه په هند کښې پيژنم. زمان شاه پرته دبل له مرستې چه له بهرنه وي؛ کولای شي په خپلو متو په مساعد وخت کښې پرهندوستان حمله وکړي. زمان شان هله درولی شو چه ددهٔ په تومن کښې نفاق ته لمن ووهو.» .

# سرجان مالکم د انگلیس سفیر په ایران کښې

د زمان شاه فصل په ملي تاریخ کښې په دې ډیر اهمیت لري چه له همدې ځایه دافغانستان امپراتوري یالوي افغانستان نړیږي.

شاه زمان پخپله یو ملي اتل دی. مگر دده اخلاق داسې ؤ چه وروسته دی په خپلو اخلاقو گرم او ملامت وگڼل شو. اوس چه داجریان ولیکل شو تاسو لوستونکي پخپله قضاوت وکړئ چه ده څه باید کړي وای؟

دې نه مخکښې ددرة الزمان له مخې اعلیحضرت شاه زمان ملي اتل او دایران له دولت سره دده کړنه لیکم:

په کال (۱۲۱۰ هـ ق) کښې چه شاه زمان په هند او پنجاب کښې لگیا ؤ، قاجار آغامحمد دزیارت په پلمه مشهد ته ننووت.

شاه رخ دافغانستان له پلوه هلته پادشاه ؤ. هغه یې مړ کړ. دهغه زوي نادرمیرزا کابل ته راغی. آقا محمد شاه چه له شاه زمان نه په ویره کښې ؤ؛ خپل استازی چه محمدحسین خان قراکوزلو نومیده؛ له ډیرمال او تحفو سره دشاه زمان دربار ته راولیږهٔ. په دې کښې دوه کیفیته ؤ: یو داچه د مشهد ددریو کلو د خراج په اندازه یې سوغات ورولیږهٔ او بله داچه دهٔ وویل غواړم بخار اونیسم.

افغان اتل شاه زمان مخکښې له دې چه دایران سفیر ومني؛ هغه ته یې وښودله چه دی غواړي هندوستان فتح کړي او انگلیسان له هغې ځمکې وُباسي. نو دایران سفیر ته یې خپل عسکري رسم گذشت وښود. کله چه د ایران سفیر د افغانستان دلښکرو څرنگوالی آقا محمد قاجار ته څرگند کړ. دی پوه شو او دخراسان له حدودو یې خپل لښکر په بشپړه توگه وایست.

شاه زمان خپل سفیر گدامحمد چه په گدوخان مشهورؤ ؛ تهران ته واستاؤه. کله چه د آقا محمد قاجار دربارته تی ؛ د همغه مهال له دود سره سم « امین خلوت » لکه ددربار وزیرؤ گدا محمد یې له لاسه ونیوه. آقامحمد قارجار ته یې وویل: دادی ددراني پادشاه سفیر گدا محمد قدم بوسی یعنې پښو ښکلولو ته حاضر دی. افغان سفیر په قهر شو او دامین خلوت لاس ئې پورې واههٔ او وئې ویل: داخه چتیات « شطحیات » وایې. آقامحمد قاجار حیران شو. امین خلوت ته یې وویل ځوک دیوهٔ معظم دولت سفیر داسې نه معرفي کوي.

اوس به وگورئ چه شاه محمود سدوزی او وزیر فتح خان ماما او خوریی څه کوي؟ په کال (۱۲۱۲) هـ ق چه آقامحمد قاجار ووژل شو ؛ فتح علي خان قاجار ددهٔ پر ځای د تهران پر تخت کښیني.

شاه محمود سدوزی او وزیر فتح خان دفتح علي شاه قاجار دربار ته ځي. دخراسان ولایت هغه ته سپاري او له شاه زمان سره د مقابلې دپاره مرسته اخلي. یعنې دخپل ورور په مقابل کښې. شاه زمان او شاه محمود دواړه دتیمورشاه دراني زامن دي.

کله چه شاه زمان ته رسیږي شاه محمود دمقابلې توان په ځان کښې نه ویني. نو خپله مور چه دسردار پاینده خان خوروه ؛ قرآن شریف په سر شاه زمان ته لیږي. د شاه محمود مور خپل تکری وغورزوي او قرآن شریف ورباندې کښیږدي. شاه زمان دغه عذر او ننواتې ومنلې. مگر هیواد ته لویه صدمه ورسیده. شاه زمان باید دانه وای منلې؟

ځکه دی پوهیدهٔ چه اسلام او پښتونولۍ دوئ صرف خپل ځانونه خلاصوي. نو په کار ؤ چه دې خبرو ته یې نه وای کتلي؟ چه ورته وئې کتل بیا هیواد برباد شو. ددې خبرې قضاوت گران دی. بیا هم بویه قضاوت وشي!

ځکه سیاست بدفن دی. اخلاق اوصداقت په کښې نه ځایږي.

بل وار چه شاه محمود پادشاه شو (۱۸۰۹م) قاجاریانو بیغمه دخراسان افغان ولایت ونیو. هغه ولایت چه صفاریانو، غزنویانو، غوریانو، ابدالیانو تر (۱۸۰۹)

پورې ساتلی ؤ . دادی دشخصي اوکورنیو جګړو له کبله له لاسه ووت او قاجاریان په دې قانع نه شول. دوئ څو ځله فتحعلي شاه ،قاجار، محمد شاه قاجار ،ناصرالدين قاجار حملې وکړې او هراتیانو ئې کلکې مقابلې وکړې. صوفي اسلام هم دهرات په ساتنه کښې شهید شو.

وروستې سکهانو په پنجاب کښې پښې ټینګې کړې او لوي افغانستان مخ په نړیدو شو. ځکه ملي مصالح چـــا نه ؤ پیژندلي او دبارکزو سردارانو د سدوزو هیڅ ډول روغه ونه منله.

همدغه شاه محمود او وزیرفتح خان دشاه شجاع اوشاه زمان لاس ته ورغلل. خو هغوبیا وبخښل او دوئ بیا وتښتیدل. ایران ته یې پناه یوړه او قاجاریانو بیا مرسته ورکړه.

د شاه زمـان وروستـۍ خـبره چه دی زوړ ، ړوند اوناتوانه ؤ داده: « پادشاهي بې توري اوتوره بې هدفه نه وي».

شاه زمان په سرهند کښې ښخ دی. او دی دهیرولو سړی نه دی.

**قاجاريان او ددوئ خيانتونه:** قاجاریانو ایران ته خیانت کړی، کله روس، کله فرانس، کله انګلیس او نورو سره لکه عثـماني ترک په هرواریې دایران خاورې له لاسه ورکړي. بیا دیو څه ترلاسه کولو دپاره پر افغانستان راغلي اودهرات دنیولو هڅه یې کړې دهروسانو او ترکانو چه ددوئ ولایتونه یې نیولی ؤ بیادقاجاري پادشاهانو مخه هرات ته ګرځوله.

په هرات کښې افغانانو دوئ څو ځله مات کړل . مګر محمد زايي سرداران پخپله دایران دربارته تلل او له هغوئ ئې مرسته غوښتله . لکه کندل خان، پردل خان، شیردل خان وزیر فتح خان او نور.

یوهٔ تاریخپوه چه شل دیرش کاله ئې په مـینځنی آسـیا کـښې څـیړنه کړې او تر (١٩٩٠م) ئې دسیمې حالات څیړلي ددهٔ کتاب A history Of the Middle East

نوميږي او دده نوم پتر مانسفيلد Peter Mansfielod دی، دغه دوره داسې بيانوي:

کله چه افغانان اصفهان ته ورسيدل روسيې اوترکيې دايران شمالي او لويديځې خواوې نيولې وې. صفوي شهزاده طهماسب تښتيدلی ؤ. يو لاروهونکی نادرقلي افشار هم له ده سره يوځای شو.

افغانان دروس، ترکيې، انګليس او هالنډ ترفشار لاندې ؤ. چه نادرافشار وشول کولای شهزاده طهماسب صفوي له مينځه يوسي اوځان پادشاه کړي. په کال (۱۷۳٦م) کښې نادرشاه افشار پادشاه شو.

په کال (۱۷۳۹م) کښې نادرافشار دغلځيانو دتعقيب په نامه په هند وروددنګل او له هنده يې د طاؤس په نامه جواهر نښان تخت او ډير سره او سپين له ځان سره راوړل. په خيبرکښې پښتنو له نادر افشار سره کلکې جګړې وکړې. نادر افشار دسرحد پښتنوته څرګنده کړه چه دی يوسني مذهب مسلمان دی. تر ډهلي پورې ځي او څه کسان غواړي ونيسي. بيرته راځي او پارس ته ځي.

په همدغه توګه ګوډ تيمور هم ننوتلی ؤ چه دوئ آذانونه او لمونځونه کول او ويل يې چه هندوان مسلمانوي.

په (۱۹۹۲م) مولوي تره خيل وويل: «چه پښتانه د قرآن په مقابل کښې نه دريږي» مګر هغوئ چه پښتانه نه ؤ تر ۲۰۰۰ کال پورې دطالبانو سره جنګيدل. ګوډ تيمور اوبابر په همدې نامه پادشاهي کوله. په (۱۷۰۹م) ميرويس بابا دعربستان دعلماؤ فتواُ ترلاسه کړه. څو کندهار کښې پاڅون جـــوړ شـــو او دصفوي حکومت والي ګرګين خان يې مړ کړ.

نادرافشار سمرقند اوبخاراته هم ولاړ. دی افشار، يو ترک او په جګړې ښه پوهيده افغان زمري سيدال ناسر يوه پلانژدې وژلی ؤ.

مدد اسحاق زي پرنادر حمله وکړه: دواړه ځله ټپي شو او مړ نه شو.

قاجار هم يوه ترکمني کورنۍ وه. چه حسن خان قاجار، کريم خان زند او آزاد خان

سلمانخيل وروسته د نادر افشار له مړينې په سيالۍ کښې ؤ . آزاد خان سلمانخيل کريم‌خان ته ماتـه‌ورکړه . بيا دوئ دواړه يو لاس شول . کريم خان زندوکيل الرعيأ شو او آزاد خان دده ملګرى او خپلوان ؤ . آزاد خان سلمانخيل سره پنځلس زره کسان ؤ . آقا محمد قاجار په ۱۷۹۷م مړشو . دى يو ظالم سړىؤ چه دکرمان دښار خلک يې ړانده کړل چه دړندو د ښار په نامه ياديده . مګرده دشاه زمان ترمهال پورې ونه شول کولاى دخراسان‌ولايت ونيسي. له‌ده وروسته ددهٔ وراره فتحعلي شاه‌قاجار دايران پادشاه شو. بيا همدغه سړي پرهرات حمله‌وکړه.

عـمـومي حـالات داسې‌ؤچه روسـانو شمـالي پـه ايران‌کښې ولايات ونيـول او عثماني دولت دايران لويديځ ولايات ونيول.

ناپليـون بوناپارت داسې پلان درلود چه دايران او افغانستان له‌لارې، پرهند حمله وکړي. په‌دې باب يې روسيـه قـانع کړه . دروسيـې زار پاول Tsar Paul دغـــه پلان دعملي کيـدو امکان درلود . مګرانګريز وارخطا شو. دغـه پلان عـملي نه‌شـو. په ( ۱۸۰۱م ) کښې روسي زار پاول ووژل شو . روسانو دربند او باکو ونيول . فتح علي شاه قاجار له‌فرانسې مرستهٌ وغوښتله . دفرانسې پرسيان Franco persian دتړون له مـخې بايد فـرانسې مـرستـه کړې واى .( ۱۸۰۷م ) ناپليـون قـرار داد له‌نظره وغورځاوه او سمدلاسه يې له روسي زار سره سوله وکړه او پارس ( ايران) دروسي Tsar Alexond-er په‌مقابل‌کښې يوازې پاتې شو. روس هغه تولې‌ٌ علاقې خپلې کړلې. دګلستان تړون لاسليک شو . مګر معامله پاى ته ونه رسيده . روسانو سربيره پرجورجيا ، باکو درې نورې ولسوالۍ هم ونيولې .

فـتحعلي شاه په (۱۸۲٤م) کښې مجبورشو له روسيې سره‌جګړه اعلان‌کړي. جګړې نوره‌هم بدمرغي ايران ته راوسته او روسانو نور امتيـازونه ترلاسه‌کړل . لکه عثـماني دولت او دروسانو تجارت په‌ايران کـښې وړياؤ او‌روسي رعيت‌هلتـه يعنې ايران کښې لکه ايرانيان اوسيدل . ميډل‌ايسټ تاريخ Middll east ۱٤۰مخ .

انګليسان ددې دپاره چه روسيې ، فرانس ، ايران او هند تر مينځ يو ديوال جوړ کړي نو په (۱۸۳۹م) کښې افغانستان ته ننوتل . يعنې دغه بدمرغي روس ، فرانس او ايران مونږ ته جوړه کړه . دافغـان انګريز لومړۍ جګړه پيل شوه. چه دغه جګړه دافغانستان په تاوان دروس ، فرانس او ايران په ګټه . ځکه دانګليسانو نظامي او سياسي حيثيت برباد شو. ايران هم دغه ګټه چه دخراسان ولايت يې نيولی ؤ؛ مګر په شمال او لويديځ کښې ئې داسې ولايات بايلودل چه نن هغه مستقل هيوادونه دي.

فتحعلي شاه له روس سره په جګړه کښې حتی په ژمي کښې هم خپلو لښکروته خرڅ او معاش ورنه کړ. چه لږ ترلږه فرانسه بايد دغه پيسې ورکړي ؟ فتحعلي شاه له فرانسې نه انګليـسـانوته مخ واړاوه . يوازې يو ځلمی سکاټ تورن ايران ته لاړ .د ايران پادشاه يې ځانته را واړاوه چه دغه سړي جان مالکم نوميده. په (۱۸۱٤م) ايران ومنله چه دانګليس له هيڅ مخالف سره په سياسي، نظامي، او تجارتي معامله نه کوي. ددې قرارداد په مقابل کښې انګليسانو ومنله چه هرکال به ۱۵۰۰۰۰ پونډه ايران ته ورکوي.

کله چه فتحعلي شاه مړ شو.ددهٔ ځلمی وراره محمد شاه قاجار دايران پادشاه شو چه ددهٔ حالات به وڅيړو.

د خراسان ولايت له افغانستان څخه دنولسمې پيړۍ په سر کښې بيل کړی شو. د هغه دپاره په داخل کښې شاه محمود سدوزي ، وزير فتح خان په خارج کښې روسيه ترکيه فرانسه ايران چه ايران په کښې ډير تاوان وګاله .

جورجيا ، باکو دربند آذربايجان او ډيرې ځمکې يې دهرات په تمه له لاسه ورکړې او خراسان يې نيولی ؤ. هغه هم دروسي او فرانسوي مشاورينو سره محمد شاه قاجار څلورمياشتې دهرات ښارته نژدې پاتې شو. افغانانو کلک مقاومت وکړ. ايرانيانو دښار يو برج ونيـو او خپل بيرغ يې پرې ودراوه چه پوره نهٔ پورته. يوه ستړي ستومانه افغان جنګيالي ايراني بيرغ چه وويشت بيرغچي اوبيرغ دواړه ولويدل.

سویه ونه شوه . ایرانیان په شا ووهل شول . شاه محمد قاجار چه خپل عسکر، صاحب منصبان او شهزادگان له لاسه ورکړي ؤ ځورند سربیرته لاړ.

د ځمکني سیاست له مخې ایران تهافغانستان ددوستۍ لار نیولې نهدغلبې. اوس په کـال( ۲۰۰۰م)[1] ځمکنی سیاست دادی چهټول هغه هیوادونه چه دچین، اروپا ، روسیې او هند ترمینځ پراتهدي.( افغانستان ، ایران، پاکستان ، تاجکستان ، قرغزستان ، قزاقستان ، ازبکستان ، ترکمنستان ، ترکیه ، عراق ، سوریه ، لبنان، اردن اوعربستان) یو دول نژدیوالی او همکاري ولري.

ځکه لویدیځ هیوادونه روسیه ، چین او هندراتلونکي کښې لوي پلانونه لري او له دغو مینځې هیوادونه هیڅ کوم په یوازې سرخپلهدفاع نهشي کولی. که دنولسمې پیړۍ په سرکښې پارس (ایران) دیوه انګلیس پهخوله نهوای کړې اواعلیحضرت شاه زمان يې پرينښی وای، شاه زمان انګليسان لههند نهشړل. بيا ګلف کښې نهپاتې کیدل . آیران او افغانستان بهسرلوړي ؤ. بیا انګلیسانو دایران خپلواکي هم ترې واخیسته .

---

۱- ددې کتاب مسوده پهکال ( ۲۰۰۰م) کښې تیاره شوې

# ناصرالدين شاه قاجار او
# افغان سيد جمال الدين

ناصرالدين شاه چه په فـارس کښې يې ځمکې له‌لاسه ورکړې او انګليسـانو ډير امتـيـاز ترې واخست چه وروستـه بـه‌خبـرې پرې وشي؛ په‌داخلي اصلاحـاتو يې لاس پورې کړ. ( ۱۸۸٦م ) کښې ئې سـيـدجـمـال الدين افـغـان ته‌بلنه ورکړه چه ايران ته ورشي.

دا داسې يو مـهـال دی‌چه پارس يا ايران خپله‌خپلواکي له‌لاسه ورکړې ده . شاه غوښتل خپله اردو غښتلې کړي. چه‌دهغه دپاره يې تنخواه نه‌شوه ورکولی. رشوت او اختلاس ډيرؤ . مدرکونه‌لږ او نيمګړيؤ.

نودايران شتمنۍ يې سره خرڅولې او خارجيانوته يې امتـيـازونه ورکول. له هغه شميرنه يوه انګليسی تبعې ته Boron julus بارون جـوليس دی‌چه( ۱۸۷۳م) کښې ټول ايران يې په‌لاس کښې ؤ. Govering oll pezsia داسې امتياز چه داويا کلو دپاره يې دايران دريل ټولې لارې دبارون جوليس په انحصارکښې وې. دغه راز دايران معـادن‌او دولتي ځنګلونـه سره‌له هغوځمکو چه نه‌و ې کرل شوې ؛ په راتلونکی کښې هم دهرډول اقتصادی مؤسساتو جوړول په‌ايران کښې ددهٔ په‌لاس کښې ؤ . فابريکې، ټلګراف، پوسته او نورې عامه چارې.

همدغـه انګليس دايران دګـمرکـاتو پيسې هم ټولولې او لـــه دې ټولو ګټمونه‌يې پنځلس اوشل په سلو کښې ايـران تـــه ورکـــولې. نوريې پخـــپله اخســـتل . د

ACKU

A history of the middle east کتاب په ۱٤٤مخ کښې ليکي چه داسې يوسرايښودنه په تاريخ کښې نه ده ليدل شوې.

په همدغه مهال کښې چه ايران بيخي تسليم شوی ؤ ، امير شيرعلی خان دانگليس تولې غوښتنې رد کړې وې. غازي محمدجان عثمان خان او ملا مشک عالم له انگليسانو سره لاس اوگريوان ؤ او کيوناری له خپلو عسکرو سره په بالاحصار کښې وسوځول شول.

دسيدجمال الدين ليکنې او ويناوې مشهورې وې، ناصرالدين شاه دی، ايران ته ورؤغوښت، اوسيد دده په دربارکښې ډير دوستان وموندل او يو ځوک ځواک يې راؤست. تول ايران دافغان ويناوې واوريدې. افغان سيدجمال الدين دومره اغيزه درلوده چه لکه صدر اعظم وپيژندل شو او د وزيرانو غونډې به يې جوړولې. مگر چيرته کېدي شي چه انگليسان دې په يوه هېواد کښې هومره نفوذ ولري. بيا نو څنگه ممکنه وه چه سيد هلته پاتې کيدې. پادشاه ناصرالدين شاه افغان ، سيدجمال الدين نه وژلی شو او نه يې قيدي کولی شو. نو افغان جمال الدين ته يې وويل: له ايران څخه ووزې او همدغه پيښه دده دوژلو سبب شوه چه د سيد يو اخلاصمند، پادشاه ووژل شي.

سيد جمال الدين افغان اسلامي پيوستون غوښت. مگر دی، يو اصلاح غوښتونکی ؤ.پرمختگ او اصلاحي پروگرامونه يې غوښتل . يعنې له اوسنيو بنسټپالو سره يې ډير توپير درلود .

اوس ايراني ليکوال نه وائي چه ناصرالدين شاه قاجار له دې کبله چه هغه سيد له ايرانه وايست او هغه يې د سيد په انتقام مړکړ. حال داچه په تولو مخکښنيو ايراني آثاروکښې داخبره راغلې ده .

ايراني ليکوال تاريخ داسې بيانوي چه دخپلواک افغانستان غزنويان ، غوريان،

صفاريان او هوتک دننه په ايران کښې يولړ پېښې بولي او هنديان شپږ سوه کاله دغزنويانو دغوريانو، خلځيانو، لوديانو او سوريانو دولتونه دسلطنت په نامه يادوي، کوشانيان او دسند مدنيت هم دځان او دهند بولي.

نو افغانستان ته څه پاتې نه‌شول. په داسې حال کښې چه ايراني منابع اوس هم هماغسې فکر کوي.

زمونږ فارسي ژبي ليکوال په وروستيو کلو کښې له (۱۹۸۰ تر ۱۹۹۹ م) پورې ددوئ په پلۀ تللي دي.

ACKU

# د ايران د تاريخ ليكلو څو بېلګې

كتاب ( هرات درعهد محمد شاه قاجار ) ( ١٨٤٧ - ١٨٣٤م ) ٢٤ مخ :

« بامرګ سلطان محمود غزنوي وضعف جانشينان وی دسته ديګر از تركان بنام سلجوقي به قدرت رسيدند و سلسله سلجوقيان را بنياد نهادند .در اين عهد حدود ايران از مديترانه تاديوار چين واز خوارزم وحدود قبچاق تانزديكي قسطنطنيه بود . ».

دكتاب ليكوال نادر نصيري مقدم وائي چه د سلطان محمود غزنوي له مړينې وروسته سلجوقيان قدرت ته ورسيدل. په دغه مهال كښې دايران حدود دچين له ديواله ترمديترانې اوله خوارزم اوقبچاق له حدودو قسطنطنيې ته نژدې رسيدل . يعنې ايرانيان دسلجوقي دولت حدود دايران بولي.

سلجوقيان دافغانستان په شمال كښې ؤ . د سلجوق زوي چه يو ترک ؤ ؛ سلطان محمود غزنوي ته عريضه وركړه چه موږ مالداره يو؛ څه ځمكه راكړه . سلطان محمودغزنوي دده د قوم ( ٤٠٠٠ ) كسانو ته اجازه وركړه چه په افغانستان كښې واوسي، سلطان ته خپلو مشاورينو وويل چه داكار مه كوه . چه ميلمه به كوربه شي . بيا سلطان محمود امر وكړ چه دوئ نه شي كولای وسله ولري.

موږ كه داسې ووايو چه سلجوقي دولت دافغانستان دولت ؤ؛ ځكه همدلته دسلطان محمود په اجازه ميشته شوي وو. افغانان ؤ . دايراني ليكوال تر دعوې ډېره پرځای ده ځو موږ كله هم داسې نه دي ويلي .

غوريانو، سلجوقيان له صحنې وايستل او غوري سلطنت يې دګنګا اوبنګال سيموته ورساوه .ټول هنديې ترلاسه كړ .

په ۱۵٤۰ م کښې شیرشاه سوري په هند کښې دلودیانو دلاسه وتلی دولت بیرته ترلاسه کړ. همایون دبابرزوي ایرأن ته ولاړ اوطهماسب صفوي ده ته مرسته ورکړه؛ بیرته یې دهند دنیولو هڅه وکړه.

صفویانو دهمایون پلار بابر ته هم مرسته ورکړې وه؛ چه کابل ونیسي اوکابل یې ونیوه. بیایې په هند کښې دلودي خانانو په مرسته ډهلی فتح کړ او ابراهیم لودي په شهادت ورسید.

**ساکستان یاسیستان:** په (۱۸۷٦م) کښې دانګلیسانو یو هیئات راغی. دایران دخوشحالۍ دپاره یې دسیستان یوه لویه برخه ایران ته ورکړه او د سرحد یو انګرېزي مامور ئې دمکمهان په نامه وټاکه.

دسیستان خلک امیرشیرعلي خان ته راغلل. عریضې یې ورکړې. چه مونږ نه غواړو دایران رعیت واوسو. ته دجهاد امر راکړه. جنګ مونږ کوو. شیرعلي خان له انګلیسانو غوښتل چه دا کار ورته وکړي.

مګر امیرشیرعلي سخت خپه شو. انګلیسانو شپاړس لکه روپۍ ورکړې اودی یې بیرته خوشحاله کړ.

نن په همغه برخه کښې چه پرون زمونږ وه؛ یو زوړ ښار دځمکې لاندې وموندل شو چه دسوي ښار یاشهر سوخته په نامه یادیږي.

ددغه ښارګوټي آثار ښيي چه درې زره کاله مخکښې ددغه ښار اوسیدونکي په رنګ جوړولو او په کارولو پوهیدل. کرنه یې کوله. مالداري، نساجي، ځرمن جوړول او فلزي اسباب...

قاجاري پادشاهانو خپله غیر دامیردوست محمدخان ورونو ته خلاصه کړه. لکه چه په دې سلسله کښې سردار کهندل خان اوشیردل خان په (۱۲۵۲هـ ق) کال محمدشاه قاجارته ورغلل. دوئ دکندهار دسردارانو په نامه یادیدل. محمدشاه قاجار په کندهار کښې په رسمیت وپیژندل شو او محمدشاه پرهرات ورغی. څلور میاشتې

دهرات د برجونو خواکښې پروت ؤ.

کله‌چه هرات ترمحاصرې لاندې ؤ. محمدشاه قاجار سردار کهندل‌خان ته وويل ورشه فراه ونيسه؛ چه دهرات محاصره نوره هم کلکه شي. ځغه‌ځلور زره خپل کندهاريان له ځان سره کړل او دهرات دمقابلې دپاره وجنګيد چه‌دامهال دکامران شاه او وزير يارمحمدخان په‌لاس کښې ؤ . محمدشاه قاجار دايران پادشاه چه‌دافغانانو ټينګتيا هک پک کړ؛ لوي منصبداران اوشهزادګان يې مړه شول.

نو په‌ډيرې نا اميدۍ بيرته تهران ته‌وخوځيداو دانګليسانو دبيړيو راتګ ئې دفارس وخليج ته‌خپله پلمه‌کړه.

# دافغانستان او ایران د اړیکو بهرنۍ خواوې

څنګه چه اتلسمه پیړۍ کښې روسانو، ترکانو، هالنډیانو، انګلیسانو، فرانسویانو په ایران کښې بیلې بیلې ګټې درلودې اوحضوریې درلود.

په نولسمې، شلمې پیړۍ کښې هماغه سیاستونه فعال ؤ. افغانان یوازې ؤ نودابې انډوله جنګ زمونږ په ډیرلوی، مادي اوسیاسي تاوان ؤ. دلته دمطلوب درونولو دپاره دانګلیسانو یولیک چه له لندن نه یې دهند ګورنر ته لیږلی اودهغه یوه کاپي دایران په رسمي اسنادوکښې ثبت ده. په کال (۱۳۷٤ هـ ل) کښې دبین المللي سیاسي څیړنو ددفتر له خوا خپور شوی؛ دلته یې لیکم. په ځیرتیایې ولولئ. څو دځمکني سیاست اړخونه رونبانه شي.

دغه لیک د کال (۱۸۳۸م) داکتوبر په ۱٤ له لندن څخه دهندوستان دانګلیسي واکدار په نامه لیږل شوی دی.

## دلیک متن:

«کله چه مونږ په دې خبره موافقه وکړه چه د بمبئې دحاکم له خوادې یوه قوه د فارس خلیج ته لاړه شي دقوې له تګ او (بوشهر) ته دهغه له رسیدلو او په ایران کښې دخارک دجزیرې له نیولو خبر شو.

دایران له مسئولو کسانو څخه کومه اجازه نه وه اخیستل شوې. دایران له پلوه کوم مقاومت نه دی ښودل شوی.

زمونږ نماینده په بوشهر کښې ددې انتظاردرلود چه دانګلیس دقواؤ پرمرکز به کومه حمله وشي؛ خو حمله ونه شوه. ددې خبرې اتکل هم نه کیده چه ایرانیان به

دخپلې خاورې دنيـولو تماشه کوي. لږ ترلږه د ايران پادشاه چه دپرديو دعسکرو له راتلو خبر شو خپل سياست بدل نه کړ ،چه يابې دانگليس د نماينده تقاضاً منلى واى ياداچه دانگليس دقواؤ دوتلو دپاره به په ساحلي غاړو کښې کوم عمل وکړي.

مونږ ددې خبرې تاييد کوو چه دايران پادشاه بايد پەدې پوه شي چەدهغه واقعي گـټې چيـرته دي؟ بايد ورېل شي د نتـيـجې لاس ته راوړل ډيره مـوده نيـسي. دانگلستان قوتونه بەقاطع عمليات دايران پەجنوبي ولايتونو کښې ونه کړي. مونږ له دې تعجب نه کوو کله چه «مکنيل» دايران دپادشاه اردو پريښې ده ترهغه دمخه په خارک کښې هغه پادشاه ويلي چه خارک تەدې نوره قوه وليږي.

د «مکنيل» دغه پريکړه ددې دپاره وه چه که چيرې ستاسو ليږل شوى استازى په کابل او کندهار کښې له ماتې سره مخامخ شي؛ بيا په تاسو دروسيې دسفير «کنت سيمونيچ» دمرستې هغه وعدې چه تاسوته ئې درکړي تاسو به روسانوته ډاډ ورکړئ چه روسان به دهندوستان په نيولو بريالي شي. پەدې توگه به ئې په خارک کښې بې اهميته وبولي. دغه قوتونه پەښکاره ديوه مهم گام دپاره کافي نەدي.

لەدې سره سره چه « مکنيل » اړشوى چه پنځه زره عسکر بوشهرتەچه نيمايي يې انگليسي وي، وغواړي.دا کـيداى شي . مخکښې لەدې چەدهغـه ليک تاسو ته ورسيږي ، داسې گام اخستى وي. څرگنده ده چەدايران په خاورکښې د انگلستان دقواوو پلي کيدل بەدايران پادشاه دې تەاړباسي چه نظامي عمليات وکړي اوله دې گړۍ د انگليس ، ايران جگړه پيل شي. کله چه زمونږ قوتونه ايران ته ننوزي خلک به ورسره په جگړه شي. د ايران پادشاه به ونه شي کولاى د حالاتو مقابله وکړي. ښايي پلازمينه سقوط وکړي. دغەپرمختگ چه په ښکارەبه دپادشاه دخلع کيدو دپاره وي،دايران پادشاه بەاړباسي چه له هغه يوازني قوت نه چەدى ژغورلى شي؟ مرسته وغواړي او روسيه بەونه شي کولاى چەخپل متحد تەدمرستې له ورکولو ډډه وکړي. کەڅه هم يو انقلابي غورځنگ به تردې دمخه پادشاه له پښو ورغورځوي. روسان به

خپل پرمختګ ته دوام ورکړي او دايران شمالي ولايتونه به ونيسي او له دې ګډوډۍ نه به ګټه واخلي. له بلې خوا به دانګليس او روس ترمينځ اختلاف پيدا شي.

په دې توګه به دمنځنۍ آسيا ولايتي جګړه په يوه لويه او نړيواله جګړه بدله شي.

سره له دې چه دداسې يوې جګړې له پيښېدو به څه اندېښنه نه وي. موږ دا غوره ګڼو چه په دې بدوحالاتو کښې دجګړې له پېل کېدو ځان وژغورو. مګر دايران پادشاه سره له دې هم چه په بدولارو بېول کېږي او په ظاهر کښې د انګليس مخالف دروس او انګليس په مرسته پادشاه شوی او دهغه پادشاهي ديوهٔ ضمني قرارداد له مخې تضمين شوې ؛ تردې حده چه دهغه ناسم کړهٔ وړهٔ هم دټړون د له مينځه وړلو اجازه نه ورکوي.

زموږ معاهدې له ايران سره حاوي مواد دهندوستان دامنيت په اړه لري. دايران پادشاه بويه هغه امتيازات چه موږ دهند د سرحداتو په مقابل کښې ورکړي ؛ جبران کړي.

دايران اوسني پادشاه موږ ته وښودله چه دی نه يوازې خپل تعهداتوته احترام نه لري؛ بلکه هرهغه هيواد چه پياوړی وي او دهيوادو دنيولو څخه خوند اخلي لاره ورته خلاصوي . دهغه دوضعې څرنګوالي دانګليس دپادشاه له استازي سره دغليمانو په توګه دی. درسمي دښمنۍ څرګندونه يالږ ترلږه داړيکو پرې کول دي.

دانګليس پنځه زره عسکر چه بوشهر کښې پلي کېږي دايران دپادشاه د خلعې او د ايران ددولت دنړيدو دپاره بس دی.

موږ نه غواړو چه تاسو قواوې له خارک نه وباسئ . مګر هله چه مستر «مکنيل» خپل اختلافات د ايران له پادشاه سره پای ته ورسوي. او د هغه ټولې غوښتنې ومنل شي او بشپړه داډ ترلاسه شي او هغه د خارک د جزيرې د خوشې کولو وعده ورکړې وي. په هره توګه چه وي هوښيارئ به دا وي چه ايران سره د دې موافقې ته ورسيږو چه د خارک جزيره د تل د پاره انګليسانوته پرېږدي. دغه جزيره به زموږ د بېړيو د پاره

يوتم ځای وي دانگلستان تجارت به دفارس په خليج کښې حمايه کړي. اودهندوستان او انگلستان ترمينځ به تگ او راتگ منظم او اسان کړي. يا دا چه جزيره وپلورو . ددې دپاره چه جزيره خپله کړو هرډول زيار ايستلو ته چمتويو. که څه هم د «مکنيل» خط مشې دادی چه نه غواړو د ايران جنوبي ولايتو باندې بريد وکړو او هغه ونيسو. مگر داچه انگلستان خپل نفوذ او برلاسي په افغانستان کښې تأمين کړي، دې سره موافقه لرو. که چيرې دايران پادشاه له هرات نه ووزي او د انگلستان له مختار وزير سره ښې اړيکې وساتي او کومه بې احترامي يې چه دانگليس نماينده «مکنيل» سره کړې. جبران کړي احتياطي گامونه چه په نظر کښې دي ضروري نه دي. مگر تاسو بيړه وکړئ چه افغانستان کښې خپل نفوذ بيا ترلاسه کړئ او دهغه هيواد له قومي مشرانو سره داده اړيکې ټينگې کړئ.

دايران پادشاه دې ديوۀ فرمان په ترځ کښې دانگلستان دسفارت دټولو غړو حمايت وغواړي اوغوريان دې خوشې کړي او د بوشهر حاکم دې ليرې کړي چه د انگليسانو بې احترامی ئې کړې او تجارتي عهدنامه دې دانگليسانو په خوښه لاسليک کړي».

په دغه ليک کښې چه دانگلستان ددولت سياست دافغانستان، ايران او روسيې په برخه کښې روښانه دی؛ دهر هغه چا د پاره چه په سياست پوهيږي په زړه پورې دی.

په ايران او افغانستان کښې په شلمه پيړۍ کښې (۱۹۷۹م) يوځای بدلون راغی. په ايران کښې اسلامي انقلاب وشو. په افغانستان کښې کمونستي حکومت راغی دايران اسلامي جمهوريت له امريکې سره اړيکې ويجاړې کړې چه د روسانو د پاره په زړۀ پورې ؤ.

دايران اسلامي جمهوريت دقاجاري پادشاهانو زاړه سياست ته دوام ورکړ. په ايران کښې يې دنصر، وحدت اسلامي . اوحرکت اسلامي آصف محسني په نامه افغاني ډلې جوړې کړې. په باميان اومزارشريف کښې يې پاخه سنگرونه جوړکړل.

سید علي بهشتي داتفاق اسلامي په نامۀ یوه شورا په هزارجاتو کښې جوړه کړه. چه ایران ته د مذهب په لاره کښې نژدې او په سیاست کښې بیل ؤ. ایرانیانو د نصراو سپاه انقلاب او پاسداران انقلاب اسلامي په نامه خلک برابرکړل. نصراو سپاه دهزاره قومي مشران مړۀ کړل. په زرهاؤ هزارگان شهیدان شول. ځو د شورای اتفاق کار وران کړي.

په نور افغانستان کښې له روسانو سره جګړې رواني وې. سیدلم لم یوسپین رږیری چه دبدمعاشۍ سابقه یې درلوده؛ په دې وخت کښې په نره دروسانو اوکمونستانو په ضد ودرید. دی یو قوي پنډ سړی ؤ. دجګړې په ډگر کښې شهید شو. ددۀ مړی یې دبامیانو په کوچني بازار کښې وځړاوۀ. ایرانیانو دداسې زرورو خلکو پر ځای علي مزاري را پیداکړ او محقق او خلیلي.

ایرانیانو ملي هزارگان لهصحنې لیرې کړل. پهبامیانو کښې یې لویه ایرانۍ مؤسسه جوړه کړه.

په کال (۱۹۹٤م) کښې طالبانو د هزاره وحدت حزب له کابله وایسته. په (۱۹۹٦م) کښې طالبانو کابل ونیو. په (۱۹۹۸م) کښې یې د مزارشریف نه دوحدت حزب وایست. له همدغو ایرانیانو ئې دوه نیم لکه عسکر د جنرال یحیٰی صفوي په مشرۍ دافغانستان پولو ته راوستل. عجبه داوه چه په کال (۱۷۲۲م) افغانانو داعلیحضرت شاه محمود افغان په مشرۍ صفوي دولت له پښو غورځولی ؤ.

طالبانو غږ وکړ چه نړۍ اوملګري ملتونه دې همداسې اوس دایران مخه ونیسي او که جګړه پیل شوه مونږ چه هرځومره د ایران خاوره ونیوله بیرته بهئې نهخوشې کوو.

بیادې هغهمهال دملګرو ملتونه مونږ ته نه وایي چه بیرته خپلو سرحدوته لاړ شئ. کله چه طالبانو مزارشریف ونیو؛ هلته دایران قونسلګري لهډیرو مأمورینو سره موجوده وه. پهدې حال کښې نهه تنه دهغوئ پهخوله دپلوماتان اویوتن ایرانی ژورنالست ووژل شول. ۲۵ تنه نور موټرچلوونکی ؤ چه تل یې دوحدت حزب دپاره

فعاليت کاوه . موټر چلوونکي طالبانو خوشې کړل.

تر اوسه چه دوه زرم ميلادي کال دی ايرانيان وايي چه دډپلوماتانو وژونکو ته سزا ورکړئ.

کله چه ايران خپل جوړکړي مرکزونه لکه مزارشريف اوباميان له لاسه ورکړل؛ بيايې همدغه يوه پلمه دډپلوماتانو نيولې . مگر وروسته له هغه ئې بيا پر افغانستان اقتصادي بنديزونه ولگول. د ايران اوترکمنستان له لارې مالونه تلل راتلل. په هرات اوجلال آباد کښې ئې ايراني قونسلگرۍ پرانيستې دي. دتاريخ په اوږدوکښې ايران دافغانستان په برخه کښې کرار نه کښېني.

# ملي يووالی او تاريخي پېښليک

ددې برخې دليکلو هڅوونکی د پښتونخوا ملي او سياسي شخصيت افضل خان يوسفزی دی.

دی په صوبايي اوفيډرالي کابينو کښې په بيلو مهالونو کښې وزيرؤ . دؤلسي جرگې غړی او نورو سياسي او ټولنيزو هڅو کښې اوڅارؤ.

دۀ يوه وړه رساله د «قامی وحدت» ترعنوان لاندې ليکلې او په ۱۹۹۹م کال کښې چاپ شوې، خان لالا افضل خان د هغه يونسخه ماته امريکې ته راليږلې وه چه ماته ډيره په زړه پورې وه.

دسرحد مشرانو لکه قاضي عطاؤالله او نورو په شعر، تاريخ اوداستان کښې يودردښودلی، په عمل کښې دپښتونخوا ټولو خلکو په بيلو بيلو لارو ددغه درد اظهارکړی او کوي يې.

اوس خبره بربنډه شوې او هغه داده چه «پاکت»، «ساک» «سور» يو قوم دی.«اور مدنيت»،«لوي مدنيت»، «متاني مدنيت» اولوديان[1] هم پښتانه دي. تاريخي کاسيان دبابل، کابل، زابل، اراکوسيا، ساکستان، سوريان اوداټول په نړۍ کښې له جنوبي هنده تر اورال اوله کوچنۍ اسيا (ترکيې) ترکاشغر پورې بيا اروپا کښې دوئ خوارۀ بريالي اوتوريالي ؤ.

داڅوک منلی شي چه سومريانو هغه چارې ترسره کولې چه نن يې امريکا ترسره کوي. دمهال توپير څلورزره کاله دی.

په تاريخ کښې پښتون څوک دی؟ افضل خان وايي: « هر پښتون افغان دی ،

---

۱-کوچنۍآسيا يا اوسنۍ ترکيې ته نژدې لوديا قوم پروت ؤ. دوئ پادشاهي درلوده.غښتلي خلک وو.

هرافغان پښتون نه دی».

ازبک ، تاجک ، هزاره ، ترکمن، بلوڅ .... دي.

زما فلسفه په دې برخه کښې بله ده . چه دلته به وښودله شي. کلمه «زما » ويلې شي معنی داده چه زه ددې فلسفې په خوايم:

پښتون دنژاد نوم نه دی. هرڅوک چه پښتونولي وکړي پښتون دی. يا هغه څوک چه پرپښتو او پښتونولی ولاړ وي.

که څوک په تاريخ کښې ځيرنه وکړي څرگنده به شي چه تاريخپوهانو خبره زمونږ کورته رسولې . بيايې نه دي ويلي داکور دچادی؟

دمـثـال په توگـه اوڅـار تاريخ پوه« تاين بي» Mankina and، Arnold Toynbee Mother Eorth په کـتـاب کـښې وايي:« مـاد » قوم او د« پارت قـوم» چه د مـيـديا او پارتيا په نامه يې امپراتورۍ درلودې.دروم او يونان په گاونډ کښې وو ، چه کمزوري شول دافغانستان جنوب ته راغلل، بيانو څه شول؟ پښتانه شول. دغه راز «لودي» ، «متاني» او شيرواني ... ټول دلته شته او پښتانه دي . ساک هم پښتانه دي. په هند کښې څو سوه ميليونه دي. هنديان شول. حال داچه ساک دافغانستان شمال څخه دمديترانې په غاړه اروپاته اوله هندوکش تيرشوي گجرات بيا جنوبي هندته تللي، پښتانه پاتې نه شول . دغه ډول اروپا کښې دافضل خان خبره سمه ده چه دپښتنو ځمکه ډيره پراخه ده چه زه هغه دافغانستان حوزه بولم . په حقيقت کښې لوي افغانستان دی.

په دې کـښـې شک نشتـه چه د پښـتـون دکلمې تعلق له Pact-Pacticia او Pocty له کلماتو سره دی چه هيرودوټ ( ٤٩٠ (٤٢٥ ق م ) BC په خـپـل تاريخ کښې څوڅوځلې يادکړی چه پاکتيسيا همدغه پکتيا ده او هيرودتس داهم وايي: چه مخامنشيان دغو سيموته نه دي رسيدلي. هيرودتس پاکتيان زړور اوجنگيالي بولي. چه د څرمنې لنډې کرتۍ اغوندي.

پاکـتي وسله توره او خنجروه . دوئ سـره زر له هندوسـتـان نه راوړل. کـه چيـرې «تواريخ » وکتل شي يعنې د هيروډتس کتـاب چه يوازنی لرغونی تاريخي کتاب دی. هند، سند، پاکتيسيا ، سکائيه، پارس، چين اوليديا د بيلو بيلو هيوادو په توګه يادوي.

اوس هندي تاريخـونه سند چه دپاکـتيـا برخـه ده ، هند او سکائيـه چه شـمـالي افغانستان دی؛ د ساکو ځمکه وه . ايراني تاريخونه هغه ايران بولي، خو هيروډتس داسې نه کوي. دی په هغه مهال کښې ژوندی ؤ چه دسکائيانو او پارسيانو شخړه وه سکائيان يعنې ساکان له ايران تيرشوي،دفرعون جګړې ته تللي ؤ. يعنې اوسنی ايران ددوئ ؤ.

# پښتون قومونه

## پښتانه

### سور، ساک ،کاسي ، متاني ، لودي ، مادي ، شيرواني ، پارتي

بيادوئ اړوند قومونه لري. لکه چه هيروډتس دساکو په قومونو کښې دغه قومونه دوي: توري، نري، بوديني ،گلوني، سرماتي ،اندړ . . .

تاريخي اتلسونه داخبره په اثبات رسوي چه پښتانه دآسياپه لويه برخه کښې اوسيدلي.دوئ ښارونه امپراتورۍ مدنيتونه Civilizations جوړکړي دي . دعرب له بحيرې او دخليج له لارې چه آباسين هلتـه توئيـږي بين النهرين تـه تللي د« اور » UR مدنـيت، متاني مدنيت يې پريښودلی دی. د آباسين سرچينه په پغمان کښې د أونۍ دره ده . پای ئې د عربو بحيره ده اولومړنی بشري مدنيت په دغه حوزه کښې جوړ شوی.(...٤ ق م ) BC

This extensive urafan civilization is thought to have developed from the-earlier neolithic Cult ured of afghanistan and baluchistan to the west (marga-ret oliphant) که چيرې دغربي نړۍ علمي سرچيني او تاريخي زاړه اتلسونه نه وای. بس د افـغانستـان خراسان پښتـانه هم يوازې دسليمان په غرهٔ کښې بني اسرائيل ياعرب ؤ او دميرمحمد صديق فرهنگ خبره « په وروسته پيړيو کښې پيښور او کندهارته لاړل ».اوس هم کوشانيان ، هنديان دي او ساکان ايرانيان. نه خبره داسې نه ده .د هند، چين ، پارس اوماوراء النهر ترمينځ يو روڼ حقيقت پروت دی. چه هغه افغان او افغانستان دی.

ښاغلي فرهنگ او نورو تاريخپوهانو د غه لويه غلطي کړې چه غلځي اومتاني په

بي بي متو پورې يادوي . حال داچه متاني درې زره کاله دمخه موجود ؤ چه يومدنيت يې درلود . او داخبره چه (غلځي) (غل زي) دي سطحي اوبازاري ده .
( وگورئ د مسعودي او د تاين بي کتابونه) .

## دتاريخ مقدمه :

تاريخ که څه هم ثابت مضمون پريښى، مگر تاريخي نظر بدليږي. د هغه وجه داده چه نوي کتابونه ، اسناد ، فرامين ، د ځمکې لاندې آثار ، خزانې ، گانې ومونډل شي. فلزي اسباب ، ښښتې چه دکيندنو په صورت کښې را پيدا شي.

همدغو مسايلو زمونږ مرسته کړې چه مونږ له هندي او ايراني انحصار نه باسي او هغه کتابونه اتلسو نه چه دنړۍ په پوهنتونو کښې شته ، دهغو شتون زمونږ تاريخ روښانوي. خوکله څغوئ هم زمونږ د غلتوب له کبله په ځرگند ډول خبره نه کوي پروفيسر «تاين بي» خبره ځرگنده کړې چه په خپل وروستي تاريخ کښې ئې دافغانستان ددولسو زرو کلو په حدودو کښې تاريخ ځرگند ښودلى. دى اوددهٔ کتاب په نړۍ کښې اوځار دى.

# پاکتيا، پکتانه، پکتون

دپکتـون دکلمې پيوستون له باکتر، باختر، بلخ سره دی چه هيرودتس يې بيانوي يوروڼ حقيقت دی.

مگر دپاکتيا ولايت ياهيواد دانهٔ چه اوس دافغانستان په جنوب کښې دی. لرغونې پکتيا دښاغلي « بيلو » له قوله چه غبار را اخستی دی‌داسې ؤ:

له‌شمـاله کـابل - پيښـور. جنوب ته د عـرب بحيـره ختـيځ ته د سند رود (اباسين) لويديځه خوا بلوچستان گندهار.

دپاکتيا ښارونه‌او قصبې دادي:

گرديز، خوست، ارگون، تل، وانا، کرم، ډيره غازي خان ډيره اسمعيل‌خان، شکارپور، تبتـه، جيکب آباد، سيالکوټ، کراچی، بنو، دامان، گالاچي، جام پور، کائمون، گنده کوټ، غوث پور، نور پور، يعقوب آباد او نور...

هيرودوتس د باکتراو پاکتيا خلک يو خلک بولي. سکندر مقدوني هم وايي چه په بين‌النهرين او سند کښې يې يوشانې خلک ليدلي.

اوس گورئ چه لومړنی مدنيت په افغانستان کښې ؤ. د پښتون تعلق له‌پاکتيان پکتيس سره دی. داخبرې هيڅ ډول شک نه‌پريږدي چه پښتانه دباکتراو پکتيا دي چه‌درې زره کاله مخکښې ترميلاده دمدنيت او ښار يو خاوندان ؤ. هغه هم‌داوسنی اروپا په سويه پرمختللي.

که د ميرزکې ياتخت‌بايي آثارمونږ ته‌وښيي چه‌سورمدنيت‌او امپراتوري زمونږ ده نوحه؟ که‌مونږ ځان نه‌پوهوو، نه‌خوځوو. ښه به‌داوي چه ووايو مونږ پښتون کيدای نه شو؛ ياعزم وکړو چه شو.

زه دافضل خان لالا دزړهٔ په خوا له پوهيږم. پرهغه مې يوه اضافه وکړه.

## د هند او سند موضوع :

په ټولو تاريخو او تاريخي اتلسو کښې د هيروډوټس په تواريخ کښې هند بيل اوسند بيل دی. دسند حوزه دهيروډوټس په وينا، دپکتيسيا Pactycia پورې اړه لري.

هيروډټس وائي: يوهيأت پکتيسياته لاړ چه وگوري دسند اوبه په کوم حد کښې بحرته تويږي.

هيروډټس زياتوي چه پاکتيانو له هند نه سره زريا طلا را وړه.له همدې خبرې دوه نيم زره کاله تير شوي.

دسند ناوه دافغانستان (لوي افغانستان) پخوانۍ ساکستان (سيستان) سورستان ياسند دی چه قندهار، کندهار، گندهار، باگرام، پېښور، زرنج، هرات او بلخ يې مهم مرکزونهٔ.

دا دباکتر، بلخ، بخد، ساک او سوریاني چه دجله او فرات يابين النهرين ته رسيدلي؛همدغه دسند مدنيت دی. وروسته دگندهارا مدنيت شو. چه دعربو بحيره او خليج سره نښلوي. دا چه د افغانستان نوم خراسان دی، چوره غلطه ده. دآريانا نوم هم نه دی. دهري ياهرات سيمه آريانا ده.

طبري تاريخ چه په اسلامي دوره کښې ترټولو معتبر تاريخ دی وايي:« دسند او بلخ دنهر ترمينځ سيستان (ساکستان) دی چه تر خراسان لوي دی او وگړي يې هم ډيردي!».

کومه تاريخي کرونولوجي چه خان لالا افضل خان ورکړې؛ هغه پر خپل ځای پريږدم، يوه بله کرونولوجي په لنډه توگه ورکوم چه دپښتنو دپاره به ډيره گټوره وي.

۱ – په جنوب لويديځه آسيا کښې چه ډير پخوا دعقل خاوندان شول هغوئ ساپيان

Sopian وبلل شول.

۲- پنځلس زره کاله دمخه انسانانو ښکار زده کړ.

۳- اووه زره کاله دمخه لوي افغانستان کښې کرنه وشوه.( ويدا او اوستا ) .

٤- څلورزره کاله دمخه سوريانانو په لوي افغانستان کښې لومړی ښار مدنيت او دژیرو فلزو کارول پيل کړل. دسند حوزه يالوي افغانستان او تاريخي اتلس کښې سومري امپراتوري ياده شوې.

۵- دسوريا په نامه دلمر رب النوع له عاجو جوړه شوې، دهغه يوه نمونه دکابل په خيرخانه کښې وموندل شوه .

٦-( پنځه سوه ق م) BC هخامنشيانو دساکو په مرسته امپراتوري جوړه کړه . وروستی پانه دي وکتل شي .

۷- په همدغه مهال کښې دميديا امپراتوری هم وده وکړه . له باکتره ترليديا پورې.

۸- په ( ٤٥٠ ق م) کښې کوروش هخامنشي پادشاه دساکو ديوې قبيلې له خوا چه ماساگيت توميده ، په شمالي افغانستان کښې دټولواکمنې تومورس په امر ووژل شو. هيرودوتس په خپل لومړي کتاب کښې دغه موضوع په تفصيل ليکلې ده .

۹- له ( دوه پنځوسو تردوسوو ق م ) BC يوبل حالت چه دباکتر لويه پادشاهي وه موریاکورنی په هند کښې او پارتيا سلوکيدپه پارس کښې .

۱۰ سل کاله وروسته ترميلاد AO دکوشان امپراتوري داورال له بحيرې ترگنگا پورې له کاشغر تر پارتيا پورې.

۱۱- دامهال په نړی کښې څلورامپراتوری دي.لوي افغانستان کښې کوشانيان، چين، پارتيا او روم چه په خپلو کښې يې تجارتي اړيکې درلودې.

۱۲- په څلورسوه وروسته له ميلاده افغانستان کښې کوشانيان ، هند کښې گوپتا ، پارس کښې ساسانيان، يورپ کښې روميان غښتلي وو .

۱۳- په‌درې سوه شپیته م AD په لوي افغانستان کښې یپتلیان ( ابدالیان) پیاوړي شول.

۱٤-( په‌درې سوه شپته م) په شا اوخوا کښې اخشنو اريفتلي ( یپتلی) پادشاه پرساساني پادشاه پیروز بری وموند او هغه یې وواژهٔ.

۱۵- پنځه‌سوه میلادي کښې لوي افغانستان کښې یپتلي پادشاهانو شمالي، هند، خراسان ماوراء النهر یوه کاسه کړل.

۱٦- په‌شپږ سوه پنځوس م AD کښې اسلامي نړۍ پراخیدله.

۱۷- شپږسوه پنځه پنځوس کښې اسلام لوي افغانستان ته راورسید.

۱۸- په اته سوه یو شپیته کښې یعقوب صفارسکزي ( ساکزي) بیالوي افغانستان تأمین کړ. خراسان او پارس یې ونیول او پر بغداد یې حمله‌وکړه. خو یعقوب ددجلې غاړه کښې مات شو.

۱۹- په نهه سوه شپیته کښې غزنویانو ( تره کو، غلځوچه عربو ، ترک وخلج بلل) دخزر له څنډو تر گنگا پورې لوي افغانستان بیرته تأمین کړ.

۲۰- میرویس اوددهٔ ملګرو دپارسیانو لښکر دخسروخان دگرگین دورارهٔ ترمشرۍ لاندې پنځه ویشت زره پوځیان (کندهارته نژدې) ووژل او دومره یې پرینښودل چه دغه احوال د ایران پادشاه ته ورسوي.

۲۱- په (۱۷۱۹ م ) کښې فاتح شاه محمود افغان کرمان ونیوهٔ.

۲۲- د (۱۷۲۲م د اکتوبر په ۲۲) اعلیحضرت شاه محمود اصفهان ته ننووت. په هزار جریب کښې انگلیسانو، هالنډیانو او نورو اروپايي تاجرانو او نمایندگانو د ځلمي پادشاه اعلیحضرت شاه محمود افغان تعظیم‌وکړ.

۲۳-( ۱۷۲۵م) اعلیحضرت شاه محمود دتقوىٰ رياضت‌له کبله ناروغ شو.ده دپادشاهۍ په‌مهال وچه ډوډۍ له اوبو سره خوړه. ددې دپاره‌چه دخدای تعالىٰ په دربار کښې يو عاجز بنده وي، دی ديوهٔ ولي الله مقام ته‌رسيدلی ؤ.

۲٤- اعليحضرت شاه محمود د (۱۷۲۵ د مارچ په ۲۷) امر وکړ چه دايران له خلکو دې اخستل شوي جايدادونه بيرته ورکړ شي.

۲۵ - اعليحضرت اشرف د (۱۷۲۵م داپريل په ۲۵) دشاه محمود دپوښتنې دپاره اصفهان ته راغی اودرې ورځې يې ورسره تيرې کړې.

۲٦- اعليحضرت شاه اشرف (۱۷۲٦م دنوامبر په اتمه) دعثماني ترکانو دوه لکه لښکر مات کړ او ديرش زره يې ترې ووژل.

۲۸- اعليحضرت بريالی شاه اشرف په ډير عظمت دنوامبر په اتلسمه بيرته اصفهان ته راغی. په زرهاؤ افغانان، ايرانيان اروپائيان يې هرکلي ته ولاړؤ.

۲۹- د (۱۷۲۷م) په اوړي کښې سپه سالار سيدال خان ناصر روسي مارشال لواشف ته په رود سر کښې سخته ماته ورکړه.

۳۰- روسان دسپه سالار سيدال ناسر دتورې په زور دخزر له جنوبي غاړې ووتل (۱۷۲۷م).

۳۱- د (۱۷۲۹م) کال دنوامبر په (۲۵) حربي نابغه سياستپوه اعليحضرت شاه اشرف په شهادت ورسيد.

۳۲- (۱۷٤۷م) دجون په ۲۷ دافغانانو داقبال لمر اعليحضرت احمد شاه بابا پر تخت کښينوست.

۳۳- د (۱۷۷۲م) تيمورشاه درانی دلوي افغانستان امپراتور شو. اعليحضرت تيمورشاه يو مدبر، زړور، عادل پادشاه ؤ.

۳٤- (۱۷۹۳م) اعليحضرت شـــاه زمان دلوي افغانستان د امپراتورۍ پر تخت کښيناست.

۳۵- (۱۷۹۷م) کښې دميسور، بنگال استازي کابل ته راغلل.

۳٦- په همدغه کال کښې دډهلي پادشاه له اعليحضرت شاه زمان څخه دخپل زوي دولايتعهدۍ تصديق واخيست.

٤٧- (۱۸٤۲م) دافغان انگلیس لومړۍ جگړه دانگلیسانو د شپاړس زره پوغ په تباهۍ سرته ورسیده.

۳۸- (۱۷۷۲م) د افـغـان انگلیس دوهمـه جگړه دکـابل پـه بالاحـصـار کـښې دانگلیس دپوغ تباهي اوسوئیدل .

۳۹- په (۱۹۱۹م) کښې دافغان انگلیس دریمه جگړه او سیاسي خپلواکي .

٤٠- په (۱۹۷۹ م) د افغان اوروس جگړه .

٤١- (۱۹۸۹م) دکمونست روسانو ماته او وتل.

٤۲- په (۱۹۹۳م) په کابل کښې د تاجک ، ازبک ، هزاره ناتوانه حکومت .

٤۳- په (۱۹۹٤م) د طالبانو خوځښت له کندهاره .

٤٤- طالبان کابل ته ننوتل.

٤٥- په۱۹۹۸م دمزارشریف اوبامیانو تأمینیدل.

## توضیح او رونیول

په وروستیـو کلو کـښې دافـغـانـستـان پـه بـاب ډیرې خبرې شوې او په هغـه دافغانستان په لرغوني تاریخ نوې خبرې شوې دي.

دمثال په توگه دامریکې دنړۍ کتاب World book کښې ٦۹مخ (۱۹۹۹ م) کال داسې لیکل شوي :

prehistric hunting people lived in whot is now afganistan as early as 100.000 year ago After many thous and of year the people learned how to form and to herd animals. Agricultural villages then developed. By about 4000+2000 BC,a number of these villages hod grown into somol cites

په لرغوني تاریخ کښې کوم ځای چه اوس افغانستان دی؛ ښکاري خلکو ژوند کاوهٔ چه سل زره کاله دمخهٔ. وروسته له څو زرو کلو دوئ زده کړل چه څنگه څاروي وروزي

ځمکې يې وکرلې.

## ساکا، ساک، سکيتين[1]، سکه، سکاد، ساکو:

بيل شکلونه دي

هيرودوټس ويلي دي ساکــو دآسيا ډيره برخه په لاس کښې درلوده . داخبرې تراوسه پرخپل قوت پاتې دي.

و . ج و. گل ســانگ W.J.Vogeesong پهخپل کتاب کښې ( دهخامنشيانو تنظيم اوامپراتوري ) ليکي : « ساکانو دختيځ نيمائي برخه د يوې اتحادئې په توگه ترخپل کنټرول لاندې درلوده چه په هغه کښې ماديان، ساکان او پارسيانۀ او ساکو دارستوکراسی لويهبرخه جوړه کړې وه . »٠

By

Kipling

When youer wounded and left on Afghanistan,s plarins

And the women come out to cut up what remans .

jest roll your ripee and blow out your brains

An i go to youer cawd like asoldier

کپلنگ دانگليس شاعرشعر ۱۸٤۲م

کله چــه پريوتې ټپي دافغانستان پرځمکه

افغـان ميرمن راشي تانه واخلي پاتې ژوند

ټوپک دربانديې واړوي بادکړي ستامــاغزهٔ

وخوځيږي لکه يوعسکر اولاړه شي ستا تش سنگرته .

1- sakasol

2- Sakasorpscythien

دریېمه برخه

# د افغان ملي تاریخ

۱- لرغونی تاریخ ۴۰۰۰ - ۳۵۰۰ مخکښې تر میلاده .

۲- پښتون او افغان

۳- لومړی ملي تکل دلوي افغانستان سکزیان

۴- دوهم ملي تکل غزنویان

۵- دریم غوریان

۶- څلورم ملي تکل هوتک

۷- پنځم ملي تکل ابدالیان

۸- افغان انګلیس لومړی جګړه

۹- د افغان انګلیس دوهمه جګړه

۱۰- دریم افغان انګلیس دریيمه جګړه

۱۱- د روسانو راتګ اوواپسي

۱۲- اسلامي مجاهدین

۱۳- طالبان

ACKU

# دکتاب لارښوونه

دافغان تاريخ لومړی دپنځو ملي تکلونو پر بنا ء راتولې شوې خبرې دي چه وروسته تراسلام پنځه ملي زيږنده غورځنګونو نهضت په همدغه خاوره کښې چه افغانستان بلل کيږي، رامينځ ته شوی. په دغو کښې لومړی دصفاريانو ملي غورځنګ دی چه په زرنج او بست وزيږيد او بيايې پراختياوموندە. په لويديځ کښې نژدې بغدادته ورسيد او په ختيځ کښې ( جنوب ختيځ ) ترسند پوره وغزيد.

دوهم په غزني کښې دغزنويانواودريم په فيروز کوه کښې دغوريانو.

څلورم دهوتکو چه دکندهارسرحد له ترکيې سره ولګيدچه( دغه وخت عثماني امپراتوري ده) .

پنځم دابدالي دراني نهضت دی چه تر ۱۳۵۷ هـ ش پورې ؤ.

په دې ترتيب يو فصل بل ور باندې زيات شو چه د افغان، افغانستان مفهوم دپښتنو په اعتبار څنګه مينځ ته راغی او څنګه افغان يو نوی مفهوم وګرځيد چه هرڅوک په افغانستان کښې اوسيږي افغان دی.

دغه تيوري داعليحضرت احمد شاه بابا رحمةالله عليه ده.

په پای کـښې داعليحـضـرت مـحـمـد ظاهرشـاه پادشاهي ده چه له (۱۳۱۲ تر ۱۳۵۳هـ ش) پورې يې دوام درلود. له (۱۳۵۲ - ۱۳۷۲هـ ش ) چه افـغـانســتـان بربادی سره مخامخ شو.تردې وروسته به دنورو تاريخ ليکونکو کاروي.

يوشمير ايراني ليکوال دافغانستان له تاريخ څخه سترګې پټوي او داسې ښيي چه دا دايران ختيځه برخه ده. حتی افغاني ليکوال هم کله کله قلات ايران يادوي خو که څوک په تاريخ کښې ژوره څيړنه وکړي په حقيقت کښې خبره معکوسه ده.

ددې خبري علت دادی چه افغاني ليکوالو دبشپړې څېړنې موقع نه درلوده . کله چه زهٔ امريکې ته راغلم هلته دغه فرصت ؤ چه څه ډير کتابونه وکتل شي او دغه انګيرنه بدله شي . البته ايران دتاريخي آثارو په اعتبار بډای دی اودهغه يوه وجه داده چه افغانستنان يرغلګرو له يوې مخې ويجاړ کړی او ښارونه له بيخه نړيدلي يو وارنه څوواري داسي شوي دي.

په تيره بيا دکمونستي کودتا او شوروي يرغل پروخت چه بيا دمجاهدينو په نوم يې دهغه وروستی ستې هم وايستلې.

خو زما غوښتنه له راتلونکو افغانانو څخه داده چه په دې بدمرغه پيښبودې بې زړهٔ کيږي نه. د هغه داثبات دپاره ډير مدرکونه شته . يعني دباندې له افغانستان نه اودوئ دې هڅه وکړي چه بيا آثار راټول کړي. دتصوير او کاپی له مخې په هره توګه چه وي هغه دې خپلو اولادونو ته وښئي اودهغه له مخې دې بيا افغانستان ودان کړي.

زمونږ هڅې بې پايلې پاتې شوې ځکه حالات داسې ؤ چه کمونيزم او سياسي اسلام دواړه دملي تاريخ دښمنان ؤ او دواړه په قوت راغلل خپله خرابي يې وکړه. خو بيا دلارې ليکې ورکه ول يا پريښبودل نه دي په کار.

که دغه وخت بربادي ډيره وه ، خوښه خبره داده چه تعليم لرونکي ډيردي او دنيا سره نژدې شوې ده . وسايل هم ډير دي.

# د لرغوني تاريخ په لنه کښې انقلاب!

پخوا يولړ نظريات دلرغـوني تاريخ او مدنيت په اړه موجود ؤ. اوس هغـه نظريات بدليږي او دهغه وجه نوې کيندنې دي چه نوي حقايق رابرسيره کوي. دمثال پـه توګه دپښـتنو داصل نسب پـه باب درې نظريې وې چه پښتانه يې آريائي ،بني اسرائيل او عرب ګڼل ،اوس څرګنديږي ښايي دا يوهم نه وي اوڅلورم نظر رامنځ ته شي اوهغه داچه دوئ به سوري وي، او سوري به تر آريائي پخوانی قوم وي. همدغه بدلون او انقلاب دی. بله داچه تاريخپـوهانو فکر کاوه چه د مصر يا سومري مـدنيت به پخـوانی او لومـړنی مـدنيت وي. اوس ښکاري چه دسند مـدنيت پرې لرغـونی وي او وروسـتي مدنيتونه ټول له هغه اغيزمن وي.

په الهامي توګه يا شاعری کښې پښـتنو يوې خبرې ته اشاره کوله. خو څرګند يې نه شول ويلی.

۱- خوشحال خان

احسانمن دخپل خالق يم سره دواړه بدبختيو

اول دا چه زهٔ پښتون يم اوبيايم خوشحال خټک

۲- احمد شاه بابا

ای احمده دنيا تيره په هرچاده

ستا په توره به يو وخت فخر پښتون کا

۳- حمزه وايي: پښتون د انسانيت په سر کښې ولاړ دی.

٤- غني وايي: خدايه شکرچه دپښتون له نروجوده دې پيداکړم.

بشرچه لومړی روڼ حقيقت ليدلی، هغه لمردی چه دهغـه له راختو سره به هره خوا رڼا

شوه. هوا به توده شوه او دلمرله لويدو سره به تيارهٔ او سارهٔ پيدا شول. يا نورې بلاوې.

وروورو« سور » يالمر ددوئ دپاره مقدس او معبود شو. سور چه په هندي كښې هغه ته سورج وائي فارسيان مهر، عرب شمس او انگليسي كښې سُن SUN ، جــرمني Sune زوني يا رونائې ټول يو مطلوب راڅرگند وي.

په پښتوكښې سور ډيرې معناوې لري چه هغه مو يادې كړې .لكه‌سور – سرخ رنگ سور– تود (گرم) سور– گل – سور – جدي.

سرياني سوري سومري او سوريا دلمردخاوند زوي ته وايه شي؛ چه‌دسوريا دعاج مجسمه‌دكابل دخيرخانې په‌غونډۍ كښې موندل شوې . اودكابل موزيم ته‌سپارل شوې اوس نبايي چيرته تللې وي، يا به وي اويا. . . ؟

په (۱۳۷٦هـ لمريز) كال كښې دطاليانو حكومت اعلان وكړچه دسورياني خط يوه كتيبه هم موندل شوې چه هماغه اهميت لري .

سومرلكه ( سورلمر ) په‌بين النهرين دجله‌فرات « سومري » مدنيت او«اكه » يا « كلاه اسور » چه‌اروپائيان يې لومړى څير په كاروي عرب يې؟

دويم دوئ دنړۍ لومړى مدنيت درې زره كاله مخكښې ترميلاده يا درې نيم زره كاله گڼي.خو دوئ سامي نژاد نهٔ.په‌دې كښې شك ؤچه دوئ په آريايي څپو كښې راغلي وي. مگر ددې سوال ځواب دوئ يعنې اروپايي پلټونكو ته‌دامشكل ؤچه ددوئ دراتگ مهال اوڅرنگوالى معلوم نهٔ.Woolley بيا د C.leonard په‌كتاب كښې ويل‌شوي چه دوئ به ژبه او خط له آريائيانو اخستى وي .

داسې هم كيداى‌شي. مگرنورې نښې نښانې شته چه سومريان له‌همدې ځايه تللي دي بيا به په‌دې شک بحث كيږي . چه تراريائي مهاجرتو مخكښې خلک‌دي. كيداى شي آريائي نه‌وي او كه‌آريائي نه‌وي بيا به‌څوک وي؟

دلته‌مطلوب دانه‌دى‌چه‌پښتانه به‌وي.خو زه ټول شكونه دلته‌يادوم او دپښتون په برخه كښې مادنژاد پلټنه پريښې‌ده . ځكه‌پښتون اوسيدل بله خبره ده‌چه په‌نژاد پورې

اړه نه لري.

په هند، ايران ماوراءالنهر اونورو ځايو کښې په مليونو ميليونو پښتانه دتاريخ په وينا شته.خو دهغوئ فيزيکي شتون دامعنی نه لري چه پښتانه دي؛ څو پښتو ونه کړي اوپښتو ونه وائي بيا به هم پښتانه ونه بلل شي.

دسومرين Sumerians کتاب چه پروفيسر C.Leonard woolley ليکلی او په (۱۹٦٥م) کښې چاپ شوی.

په دغه اثر کښې په غوڅه توگه ويل شوي: پخوا داسې فکرکيده چه دمصر مدنيت دنړۍ لومړنی مدنيت دی. مگر اوس څرگنده شوې چه سومري مدنيت ترټولو ړومبنی مدنيت دی.

پخوا ويل کيدل ښائي دوئ آريائيان وي خو اوس څرگنديږي چه مخکښې ترآريائيانو دسند يا اندوس مدنيت پيل شوی او سومريان هغوئ سره اړه ولري. په Mesopotamia ميسو پوتاميا داور UR په نامه يوښار په شگو کښې ښخ شوی ؤ؛ ښائي چه دمصر، يونان او ټولو نه مخکښې د سومريان مدنيت همدا وي.

سومريانو- خط درلود، دمهال ويشنه دوئ کړې وه چه درې زره پنځه سوه کاله مخکښې تر ميلاده رسيږي.(۳۵۰۰) BC او دټولو مدنيتو په سر کښې ولاړ دی.

په دغه اثر کښې دسيلاب ذکر دی. چه مخکښې او وروسته له سيلابه دورې دي مسعودي (۳۳۲ هـ لمريز) کال کښې خپل کتاب مروج الذهب ليکلی او پروفيسر Woolley په (۱۹٦٥م) يعنې ديوزرو اووه شپيته کال په واټن کښې دمسعودي ذکردادی: وروسته له توفانه لومړنيو خلکوچه پادشاهي جوړه کړه او تاج يې پرسرکښيښود، سوريانيان ؤ. دوئ ونې، غنم اونورې غلې وکرلې نور پادشاهان ددوئ تابع شول. ددوئ لومړنی پادشاه سوشان نوميده. دده پادشاهي سپاړس کاله وه. خپل مخالفين يې وټکول.وروسته دسوريانې پادشاهانو يو لست ورکوي.

ترټولو مهمه خبره داده چه مسعودي وائي ددوئ هيواد دسند اوهندترمنځ په

حدودکښې ؤ. د هند یو پادشاه ددوئ له پیاوړتیا وډار شو او دسندوهند څخه دغزني بست او لعن اوداور ته راغی.

سرياني پادشاهان چه مسعودي يادوي دادي، له دې وروسته به هغه پادشاهان وښیو چه پروفیسر WOOLEY یې راپیژني.

۱- سوشان ، ۲- بربر ، ۳- سیماسر ، ٤ -تستر، ٥- اهریمون ، ٦- هوریا، ۷- ماروب ، ۸- خلنجاس . دهرپادشاه دپادشاهي کلونه هم ښيي .

دغه لست چه په وروستيو کرښو کښې ښودل کيږي؛ خپله سوريانيانو په خپل خط ليکلی چه دمسعودي له لست سره توپير لري. مگر مهمه داده چه دواړه يو شان روان دي او ډيرې خبرې يې سره سرخوري.

۱- الوليم ALOLIM

۲- اله گار A.Lu. gow

۳- اتمی ان لوانىا E n- me - in Lv an na

٤- ان می گال انىا En Me en golan na

٥- دوموزي Du Mu Zi

٦- انسيب زي انىا En Sib Zian na

۷- دودو dvdo

يو کال وروسته له توفان نه چه مسعودي يې په مروج الذهب کښې ذکر کړی؛ اوهماغه دغزني بست، داور اوسيستان پادشاهان دي.

B, the kings afgan the flood (lEA)

| | |
|---|---|
| 1-GA ur | ۱- گا اور |
| 2-Gul lad nindaba anna | ۲- گل لادنیدا باانىا |
| 3- ? | ۳- ؟ |

4-? ٤- ؟

5-Ba ٥- با

6-? ٦- ؟

7- Ga li bu um ٧- گالي بو اوم

8- Ka lu mu mv ٨- کالو مومو

9- ka ga gi i ٩- کاگاگي ايب

10-Ti iz ga ١٠تي ايزگـــــــا

11-il ka u ١١- ال کو او

12-il ta sa do um ١٢- ال تاسادو اوم

C, the first dynasty of Erech

1- Mes Ki ag gu seir (son of ۱- دلمرخدای زوي مس کنبـي اگه گو سیر

the sun god )

2- En me kar ٢- ان مي کار

3-(the god )lugalbanda shepherd

4-(the god) dumvzi, the fisher man

the first dy nasty of u,r

About(3100-2930bc)

1- Mes an mi pad - da

(iA- A- an mi pda - da )

2- Mes - kiag md Nommar)

The secand Dynasty[The Dynasty of Awana to Aal 3 Kings 350 years)

1-?

ACKU

2- Da - da-sig
Ma Ma gal- la
3- ka- al- Bu the Dynas ty of Akshak
vnzivlv vrur
the Dy nasty of AGade
sargan
Rimush
Naram-sin

patasis of Lagash
ur 13ou
Nom-makhni
ur- gar
Dar- azag
lubau
lu-gula
ur Ningirsu
ur- lamol
the third dynasty of ur
(ab out 2 2 M8 - 210bc)
ur- Nammu
Dungi
Bur sin
Gimrl- sin
ibi sin

دادهغو پادشاهانو یولست دی چه خپله سوریانو ثبت کړی چه ډیر اهمیت وړ دی او

ACKU

ځکه مو دهغه يوه برخه دلته راوړه چه ژبپوهان ترې ګټه واخلي او عام لوستونکي هم د« اور »او« ورور » له نومو سره اشنادي او داچه دهغوئ ژبه آريائي وه پهښه توګه څرګنديږي .

داچه په تاريخي معلوماتو کښې انقلاب راغلی؛ دهغه بلهوجه داندوس يا سند مدنيت دی چه له سومري مدنيت سره نښتي دګه

دسند له حوزې څخه دګجرات لهلارې جنوبي هند تللي چه نن دوه سوه مليونه وګړي لري او دهغوئ ژبه دبلوچستان لهبراهوي ژبې سره پيوستون لري. دغه مدنيت څلور زره کاله مخکښې له ميلاده دی. دسومري پادشاهانو له لستسره دکلونو شميره هم شتهچهدلته دهغهله ليکلوډډه وشوه. څوک چهدقيق مُعلومات غواړی بويه اصلي مأخذ وګوري.

بله موضوع داده چهدکلونو په حساب د « اور » (UR) لومړی کهول کله ( ۳٦۰۰ ) مخکښې ترميلاده کله ( ۳۱۰۰ ) مخکښې لهميلاده راغي چه تر اوسه حل شوې نهده.

مخکښې موداخبره وکړه چهدبشر په مخکښې هغه روڼ حقيقت چهؤ. هغهلمرؤ او دوهم حقيقت چه د بشر پرروح اوجسم يې اغيزه کړې هغه « اور » دی اورهم رڼا لري هم تودوالی.لکه لمر.

نودلمر پالنه داور پالنه ددين پهڅير راغلل. دلمرپالونکي (آفتاب پرست) او اور پالونکي (آتش پرست) شوي ؤ . البته دغهدواړه دژوند دپاره ډير ضروري دي.

دغهټول بحث چه ما را اخستی اصلي مطلوب دافغانستان دتاريخ هغه برخه دهچه تت پاتي ده.

هن،د سند، ايران ياديږي‌او دهغوئ ليکوالو په دې برخه کښې هاند کړی چه ټولوآثاروتهدغه خبره ورسوي. دهند او ايران ترمينځ افغانستان دټولو مدنيتونو ټاټوبی دی. په سند خلاصه کيږي.

پروفیسر Woolley دامریکې او انګلستان دآرکیالوجستانو مشر دی. وايي چه دسومري پادشاهانو دلومړي لست پادشاهان چه اته تنه دي . ددوئ دکلونو شماره ( ٤٦٠٠٠ ) یعنې شپږ څلویښت زره کلوته رسیږي چه سړی شکمن شي او سریې له سره نه ورځي.

په هره توګه چه وي دغه لست لومړنی ریکارډ دی چه مونږ په ډیرو مسایلو خبروي.

واکدارانو کال زیګاسا Lagal zaggisa او دهغه قصه په سومري آثارو کښې :

دغه سازګوني پادشاه اصل ونسب نه لري مګر دولت یې ځلاندۀ. ځمکه ئې پراخه شوه .

یوه ورځ یوې میرمنې یوماشوم معبد ته راؤړ او یوه مؤید ته یې وسپارهٔ.هلک هلته یوځـه شو او لومړني آداب لیک لوست یې زده کړل. بیا دپادشاه په شااوخوا کښې یو کار ورته وموندل شو . په ځواني کښې دپادشاه له مخالفینو سره یوځای شو او دخپل « نایک » ستنه یې وایسته او پخپله پادشاه شو. ددنوې امپراتورۍ دپاره یوه نوې پلازمېنه جوړه کړه .

سره له هغه هم Mesoptania مسوپوتانیا خپل پخواني شهرت درلود.

دی پوه سړی ؤ.

دسومریانو په خیر داور UR لړی هم ډیره اورده ده . داچه داور UR ، سور، کاسي، متاني، اونورې کلمې لکه Zi-Laar انا .

دپادشاه نوم Laar MiHi اته کاله پادشاه ؤ.

UMzi شپږ کاله پادشاه ؤ.

Gal Anna

Dumuzi

Ur Bar

Ur gan

Ur Ningirso

Ur Lamx

Ur Namma

په دې هم پوهيږو چه سوري، متاني، کاسي، ساک د پښتنو ژوندي قومونه دي پښتانه که څه هم په خپل ماضي او حال خبر نه دي. بيا هم يو خوځښت او يون په دې کښې ليدل کيږي او بيا مهال د دوئ د ښه راتلو نکي د پاره مناسب ښکاري.

کاسيان شپږ سوه کاله په بابلان کښې حاکمان ؤ او لومړي د پلوماسي هم دوئ پيل کړه چه خپل سفيريې مصرته وليږه، او دا پيښه درې زره کاله مخکښې له ميلاده، دده په دې ليکنه کښې مطلوبونه ډيردي. يو هم دا چه لويديځ او غربيان، تخنيک لري او علم په ختيځ کښې ؤ. د اخلاقو لــه اړخــه غرب مخ په ورانيدو دى او راتلونکې نړۍ به بادار نه لري.

د کاسي پادشاهانو لست دبابلان له کتاب څخه د Doan Oates ليکنه.

دا د کمبريج په پوهنتون کښې د تاريخ او آرکيالوجي پروفيسره ده.

وروسته له سومري پادشاهانو له لست څخه دادوهمه لړۍ ده. د پادشاهانو نومونه دادي. دا ښه خبره ده چه مونږئې بويه په نامه وپيژنو اودنورو غوندې يې مشهوره کړو دغو پادشاهانو شپږ سوه کاله په بابل کښې پادشاهي کوله.

| | |
|---|---|
| ۱- گنداش | 1- Gandash |
| ۲- بورنابوريش | 2- Burna Buriash |
| ۳- کاشتيلي اشو | 3- kashtiliashu111 |
| ٤. آگوم کاکريمسي | 4- agumII (kadrime) |
| ٥- آگوم | 5- agamIII |
| ٦- کارا ايندااش | 6- kara indash |
| ۷- کاداشمن انيلسل | 7- kadashmam EnilI I |
| ۸- کاداشمن هربي | 8- kaigalzu I |
| ۹- کوريکسالزو | 9- kurigalru |
| ۱۱- کارا هرداش | 11- kara- hardosh |
| ۱۲- نازي بگاش | 12- Nazi- maruttash |
| ۱۳-نازي ماروتاش | 13- Nazi- Bugash |
| ۱٤-کاداشمن تورگو | 14- kadashman EnlilII |
| کا ۱٥- داشمن انيليل | 15- kadashman- tangu |
| ۱٦- توکولتي نينوردا | 16- Tukulti- Ninurda |
| ۱۷- انليل نادين شومو | 17- Enlil-nadin- shumi |
| ۱۸- کاداش هرب | 18- kadashm- Harbi II |
| ۱۹- ادادشومادينا | 19-adad shamar- usur |
| ۲۰- ادادشوماشور | 20- adad shuma-usur |
| ۲۱- ملي شيپاک | 21- meli- shipak |
| ۲۲- ځباباشومايدينا | 22- Zababa Shua oddma I |
| ۲۳- انيليل نادين الهي انيليل شاموشود | 23- Enlil- nadin-ahmo Enlil shuiusur |

ACKU

دسومر – کاسي – متاني په برخه کښې دژبې او هستوګنې توپير دادی چه دوئ ډير پخوا راغلي دا چه دسند له حوزې راغلي يادا ورسي له غونډيو. په دې تر اوسه پوهيدل ګران مګر که نښانې وليدلی شي همدغه پښتانه کاسيان دي چه اوس يې هم خپل نوم ساتلی؛ که څوک داسې وائي چـه څنګه يې خپل نوم ساتلی ؟ زهٔ يوبل مثال ورکوم.

دسيند مدنيت: د آباسين ،سند، اندوس سرچينه دپغمان له غرونو څخه دی چه هغې ته داونې دره وائي په پای کښې دغه سيند دهند په سمندرګي کښې توئيږي اودغې حوزې ته دسند حوزه وايي چه ترنولسمې پيړې پورې دافغانستان برخه وه (۱۸۰۹م) وروسته انګليسانو له افغانستان نه بيله کړه اودکراچی بندريې هلته جوړ کړ.

په وروستيو څولسيزوکښې په دغه ساحه کښې ديوهٔ بشپړ مدنيت څرَه له خاورو راڅرګنده شوه.

Mohen Jo daro and Harappa دی او دغـه ښار له نوښار نه پنځـه ميله دختيځ خواته پروت دی. دغه سيمه يعنې دسند دحوزې مدنيت له افغانستان څخه (کابل) ډهلي پورې اودهماليې لاندې غونډيو څخه ترېمبئي پورې غځيدلی چه دغه سيمه دلويديځې اروپا له کچ سره برابره ده ،چه له عراق، مصر او يونان څخه ډيره لويه ده. په دغه ټوله ساحه کښې د سند مدنيت خپور ؤ او همدغه مدنيت دی چه دغرب له شلمې پيړې له مدنيت سره يوشان ؤ. يعنې دومره په علمي صورت مخکښې ؤ. تخنيک ، علم حساب، هندسه ، فيزيک ، کيميا «وزن» «واټن» «مهال ويش» هرڅه ددوئ ؤ؛ چه بيائې دآسور اکه اومصر ساحه نيولې بيا اروپا ته په همدغه حساب چه مونږ وايو افغانستان دنړۍ دمدنيتو مور ده . نوځکه وايو چه ای دهيواد خلکو ولې مو دا ميراث نه خپلوئ!!!

داندوس دمدنيت يو ښار چه په Mohenjodaro Harappa کښې موندل شوی؛ بل

په مهرگره Mehrgarh کښې د کویټې په شمال کښې چه اتکل کیږي څلورزره کاله دمخه ترمیلاد وي دغه مدنیت مالداري، کرنه،اوبدل.رنگ اور. هرڅه ؤ. دوئ غنم پیژندل.

ما په خپل پښتو نولۍ رسالې کښې لیکلي ؤ چه لومړی دمالدارۍ مدنیت راغلی، بیا دکرنې دواړه داوستا او ویدا دورې وې پوهاند حبیبی هم دامنلې وه . مگر دسند دمدنیت له موندلو سره هغه نظریات سم نه ؤ. دوئ ونې، میوه، اوریشې جوار اوتول حبوبات کرل.

د مصر کلده.آشور.یونان داټول وروسي دي اومخکښې د سند حوزه ده . په دې صورت کښې چه ټاکسیلا په حسن ابدال اومهرگره په بلوچستان کښې دي. لوي افغانستان په دې سیمې کښې راځي.

له بلې خوا په سومري تاریخ کښې چه څلورزره شپږ سوه کاله مخکښې ترمیلاده دي ؛ دغنمو اوجوار وکرل رواج درلود.

په تاریخ کښې ناڅاپه بدلون ډېرې تیارې روښانه کړې . او هغه داده چه نوي ښارونه دځمکې له تل نه وایستل شول او پخواني نظریات یې په نویو ( مثبتو اسنادو ) نظریاتو بدل کړل.

پارتیان اوماد اولودي متاني، کاسي، سکائیان ټول آریایي ژبه لري او د روم اویونان ددباو له امله بیرته دانډوس حوزې ته راغلي .

# دپښتون اړه له‌لرغوني تاريخ سره

څوکاله دمخه دغه‌فکر پيدا شو چه پښتون دنژاد نوم نه‌دی .ديوه کرکټر نوم‌دی . داچه‌څنگه اوکله پښتون – پښتو او پښتونولي پيدا شول ؟ لاتر اوسه بشپړه څيړنه غواړي.

هيروډوټ دپاکتيا او باکتر – گډون مناسبت وښود. ددواړو شتون ( پاکتيا – بلخ باکتر) پخپله يوکلک برهان‌دی. پښتون – پښتو – پښتونولي دکوم نابغه کاردی. دا ثابته‌ده‌چه‌اوسني پښتانه په‌اصل کښې دغه قومونه‌دی: پارتيان، ماديان، کاسيان ، سکائيان ،لوديان، سوريان، کوشانيان، بفتلسان‌دي. متاني ژبه آريايي، سانسکريټ څنگه‌په پښتو واوښته؟ چا واړوله. پښتونولي يې‌خپله‌کړه او پښتون ترې جوړ شو. اوس يوه غټه لويه سرمايه زمونږ په‌لاس کښې‌ده . پام پرې وکړئ . دا پانگه يوازې خدای تعالی دغو پښتنونو ته ورکړې.

G.starr دمشيگن د پوهنتون د تاريخ پروفيسر چه پنځوس کاله شوونه ئې کړې ده . دی دلرغونې نړۍ په‌کتاب کښې ليکي،پارتيان کوچيان ؤ. په ۲٤۷ BC کښې دپارتياځمکه چه اوسنی ټول ايران داوسني ترکمنستان يوه برخه ارمنستان څخه يې يوه امپراتوري جوړه کړه.

له‌کوشان او روم سره گاونډ ؤ. وروسته له هغه‌دروم يونان فشارونه زيات شول. دوئ يعني پارتيان بيرته افغانستان ته‌لاړل. څه ئې جنوب شرقي سيموته او يو څه ئې بيا هند ته‌هم ننوتل. (پروفيسر گي ستار دلرغونې نړۍ تاريخ ٦۲٦ مخ ).

وگورئ پارتيان پښتانه شول که نه‌شول؟ او په هند کښې هنديان شول.

دکتاب ليکوال وائي له بده مرغه پارتيانو له‌ځانه کوم ليکلی تاريخ نه‌دی پريښی او څه‌معلومات د روميانو له تاريخ څخه چه ددوئ يعنې له پارتيانو سره

گاونډۍ ، اخستل شوی.

**سومري خط:** سومريانو خط درلود . له دې کبله دوئ تاريخ ته ننوتلي.

سومريان دختو په تابلتو ليکل . بيا يې پخول چه کلک شي په دې توگه يې داسې يو کتابتون جوړکړ چه دهرعلم معلومات يې درلودل . له کيميا ، بيالوجي ترادبيات او اشعارو.

نن د نړۍ په موزيمو کښې پنځه زره سومري کتبې ياتابليتونه شته چه ډول ډول معلومات يې خوندي ساتلي.

ماهم يوه کتبه درلوده چه محمد هاشم ورور په جلال آباد کښې په نی زارگي موندلې وه . بيا ئې ماته راوړه ، چه کابل کښې پاتې شوې او پرې خبر نه يم.

په دې برخه کښې څه ليکلی شوي نه دي، دلرغوني مدنيتو په کتاب کښې کوشاني امپراتوري اوسکائې ايراني بولي. نو زمونږ نسلونوته په کاردي چه هرڅه پرخپل ځای ثابت کړي .

سرخ کوتل، طلاتپه،هډه،درونټه اونوروځايو کښې لکه باميان ، بگرام، کاپيسا کښې ډير ذخاير لا هم موجود دي.دهرافغان دا وظيفه ده چه پرهغه پام وکړي اودولت سره مرسته وکړي.

په داسې حال کښې چه داليکنې پرمدارکو ولاړې دي ؛ بيا هم پام کوو چه نور تاريخپوهان په دې ډول پلټنو پيل وکړي چه د تاريخ څېړنه ډله يزه شي.

په افغانستان کښې تر اوسه په دې توگه کار نه دی شوی. دخلکو پام دخپل تاريخ اهميت ته راگرځول ډير ضروري دي.

دسومريانو مخکښېتوب په دغو څانگو کښې دی:

لومړی ښوونځی ،لومړی تجارتي غونډه ،لومړی تاريخ پوه ، لومړی تکس، لومړی درملتون، لومړی متل ويونکی ،لومړی کتابتون، لومړی عشقي سندره ، لومړی قانون صنعت او په لسهاؤ لومړني بشپړ هنرونه او فنون له دوئ راوتلي . چه اوس

سومرپوهان هغه راڅيري او دا ټول هنرونه او فنون دوياړ وړدي. كه چيري دسند دحوزې مدنيت له خاورونه واى راوتلى اودسنداوآموترمينځ ساحه چه لوي افغانستان دى؛ په دايرة المعارفو كښې په هغه باندې يرغل شوى؛ دهند او ايران ترمينځ ويشل شوى.

چين ،ساماني، خوارزمي، خراسان ،ايران هند، باكتر، كوشان ياد شوى دى چه دافغان، افغانستان، پښتون، پښتونخوا خبره په كتبې نه ده راغلې. دهغه وجه افغان تاريخپوهانو دومره كړې چه يوڅه ئې خپلو خلكو ته ليكلي مگر نوروقومونو دبهرنيو ژبو په قوت غلط معلومات وركړى او هغوئ چاپ كړى دى.

اوس ځينې بهرني مؤرخين وائي چه دافغانستان جنوب او ختيځ ته څوك نه دي رسيدلي نه هخامنشان اونه سكندر. ځينې يوازې په يوه لاره هندوستان ته تير اودغه ځايونه ئې پرخپل حال پريښي دي.

## پښتانه او دنړۍ تاريخ

دسړي يا بشر او انسان تاريخ دپښتنو له تاريخ سره يوځاى خوځيدلى، داخبره په لومړي سركښې دچامغزوته نه لويږي. ځكه تاريخي مطالعه يې لږه وي.

يوه كلمه ده «هبوط» پيدايښت د بشر چيرته، كله اوڅنگه پيدا شو؟

تاريخ پوهان وائي بشر په جنوب لويديځ آسيا كښې پيدا شوى. افغانستان چيرته پروت دى؟ دآسيا په جنوب لويديځ كښې.

مسعودي وائي: ديار هبوط په كندهار كښې دى. مونږ اوس ديار هبوط ته «دهراوت» وايو او هلته كندهار كښې شته.

كله چه انسانان دعقل او پوهې خاوندان شول؛ هغوئ ته يې ساپيان Sapian ويل، او كوم لومړنى مدنيت چه بين النهرين كښې جوړ شو، هغه ته د« اور » UR مـدنيت وائي. په تاريخ كښې دغه خبرې ثابتېدلى شي. دپښتنو اورچه مړ شي، بياغروته لاړ شي.

پښتانه څوک دي؟

پاکت: Pact

پاکتي: Pacty

پاکتیسیا: Pacticia

دا درې کلمې په همدغه صورت هیروډوټ دوه نیم زره کاله دمخه بیان کړي. اوس چه دغه درې کلمې په جمله کښې راوړو، داسې دي:

پاکت سړی، پاکتي جامې په پاکتیسیا کښې اغوندي.

تردغو مهالونو پورې ډیر لږ آثار موجود ؤ. زموږ مؤرخین په افغانستان او پښتونخوا کښې د پښتنو دتاریخ په شرح نه دي بریالي شوي او ناسمې خبرې ئې ډیرې کړي. ما سره که بخت ملګری شي، مالیکلي دي چه تصحیح اوچاپ شي.

بخت، بختي، بلخ، دهیروډوټ دخبرو یوبل شکل دی. بختیانو بختي اوښان له بلخه راوستل. (شرح تاریخ سیستان).

پښتون یوکرکټر دی. پښتانه په پښتونولۍ یادیږي، په نسل اونژاد نه یادیږي. دپښتانه تاریخ مفصل دی. مګر پیچلی نه دی. یاداسې ښکاري، چه دهغه موندل هیڅ تکلیف نه لري.

پوهاند حبیبي په وروستیو وختونو کښې حقایق درک کړل. خووهې نه شول کولای مستقل یې ولیکي. ده ځینې حقایق چه نوي اوسم ؤ، د« تاریخ مختصر افغانستان» کتاب په ضمن کښې ولیکل. یادګردیزي په لمن لیک کښې، عمروفا ونه کړه او په دې کار بریالی نه شو.

افغانستان کښې د تاریخ لیکلو موضوع ډیره نوې وه. زیاتره دهندي تاریخو څخه اخستل شوې خبرې وې. هغه هم چه انګریزانو دخپل ضرورت له مخې لټولې.

پښتنو چه داسیا لویه برخه په لاس کښې لرله. له سغد اوفرغانې نیولې ترهند پورې او دخزر له شمالي او جنوبي غاړو تر چین پورې. بیادوئ دمدیترانې غاړوته

رسيدلي، لويديځې اروپا ته تللي، شپږ زره کاله دمخه انگلستان ته رسيدلي.

« دنړۍ دتاريخ تحليل له لومړي سره تر اوسه پورې» کتاب داستاد آرنولډ ټاين بي وروستی کتاب دی چه په (۱۹۷۷م) کښې يې چاپ کړی. دغه کتاب کښې چه دمؤرخ د شهرت له مخې بې ساری دی، وائي: افغانستان او پښتانه له لومړي سره تر اوسه دنړۍ په تاريخ کښې لويه برخه لري. که چيرې هرپښتون له خپله تاريخه خبر شي؛ هغه به يا مبارز شي يا به اعتراف وکړي چه حيف دپښتانه دنامه چه په ده اښودل شوی.

پښتانه بې له شکه ددريو مدنيتونو بنست ايښودونکي دي:

دسيحون او جيحون دامو دواړه خواوې.

دسيند مدنيت داباسين دواړه خـواوې.

**د سيستان مدنيت:**

ددغه دتاريخ څېړل او پرې پوهيدل پخپله يو پراخ کارغواړي. هيڅ پښتون دې په زړه کښې دا خبره نه گرځوي چه ددوئ تاريخ دبشر له تاريخ سره نه دی پيل شوی. پښتانه په يوې بشري څپې کښې له شمال شرقي افغانستان څخه چه اوس چين دی، راغلي اوکاشغرېې هلته پريښې.

**بايلودل:**

پښتانه په تاريخ کښې په نفاق بايلودې او په اتفاق يې گټلې ده. دا بدې خاطرې ډيرې دي. خو ډيرې نژدې يې دادي:

په شپاړسمه پيړۍ کښې په هند کښې بادشاهتونه دلوديانو وو. بهلول لودي، سکندر لودي، ابراهيم لودي....

دابراهيم لودي په زمانه کښې چه دی يو ښکلی اومغرور سړی ؤ، دولت خان لودي دپنجاب مشر او عالم خان لودي دملتان مشر چه يو يې دابراهيم تره اوبل يې ورته زوي ؤ کابل ته راغلل. محمد ظهيرالدين بابر مغل ته يې بلنه ورکره چه ډهلی له ابراهيم

لودي نه‌ونیسي ، بابرنه منله‌بیایې ویل چه‌پښتانه داخوي لري. ځکه په ۱۵ پېړۍ کښې یې ګوډ تیمورته بلنه ورکړې وه‌چه‌سلطان محمود غلځي اوملوخان له‌قدرت څخه وغورځوي او په‌دې باب یې یوه بده خبره هم کړې ده.

بیا عدلي سوري دشیرشاه سوري لمسی دسلیم شاه زوي پادشاه ؤ. دنیازي سردارانو ورسره پریوته. همایون دبابر زوي یې په‌عزت راؤغوښت. د هند پادشاهي یې ورکړه.

په (۱۸) پېړۍ کښې شاه اشرف هوتک داصفهان پادشاه‌ؤ. نادرافشار ورته پاڅید، په هرات کښې ابدالیان او په کندهار کښې غلځیان پرقدرت ناست‌ؤه دواړو‌ته یې لمن ونیوله. خو چا مرسته ورسره ونه‌کړه. نادر شاه دی یعنې اشرف په شیراز کښې اله یارجان په هرات کښې شاه‌حسین په کندهار کښې ووهل. په ۱۹ پېړۍ کښې د بارکزو او سدوزو جنګونو هغه‌امپراتوري چه احمد شاه بابا جوړه کړې وه ، رنګه کړه ، څه‌دایران لمن ته وغورځیدل او څه‌د انګریزانو. د پښتنو روڼ تاریخ نفاق خراب کړ. تاسو تر څو کولائ شئ دغه مرض سره مجادله وکړئ. چه‌خدای مه‌کړه په دې وخت کښې ننګرهار، پکتیا ، کندهار او نور بې اتفاقه نه‌شي. چه په شرمو به‌وشرمیږو .

درست پښتون یو پښتون – پیوستون پیوستون

# احسانمن د خپل خالق (۱۶۱۳ - ۱۶۸۹)
# خوشحال ختټک

کله‌چه دخوشحال ختټک نوم یاد شي ، نو دپښتـانه په ذهن کښې دهیلو، غـیرت اودپښتون دخپلواکۍ څپې خورې شي.

خوشحال پښتواو پښتون یوه غوره مسأله وبلله. ددغه واقعیت دتحقق دپاره یې له تورې او قلم سره په‌داسې یوه‌تپـه تیـاره کښـې مـیـدان ته راودنګل چه‌دغـه‌جرأت اوغیرت اوس هم‌دپښتـانه دپاره محال‌دی؛ هسې خو به‌هرڅوک پښتو وایي اوځان به پښتون بولي، خو هغه‌قواعد او اصول چه خوشحال وضع کړي پر هغه سمیدل، پرخپلو تولو اصولو ،ژوند او احساس نوی‌نظر غواړي یاداچه دغه‌تېره دې نه‌اوچتوي.

احسانمن دخپل خالق یم سره دواړو بدبختیو
اول داچه زه پښتون یم‌او بیا یم‌خوشحال ختټک

دلته خوشحال پښتون اوسیدل اوخپل شخصیت ته‌په‌داسې نظر ګوري چه ګواکې پښتون‌اوسیدل په‌هرقیمت ارزي،او پښتون دده غوندې یو شخصیت وي.

دی وایي چه زهٔ پښتون نه ؤم ورروسته پښتون شوم‌اودا لاره یې وښودله ، که‌څوک پښتـون نه‌وي نو تصـمـیم دې وکړي چه پښتـون کـیـږي ؛ او دا چه څوک پـه ختـه پښتون وي یا پښتو وائي پښتون نه‌دی. دی وایي:

هیڅکله هغوئ افغانان نه‌بولي باید له‌دغو اصولو نه‌دوئ هم کارواخلي.

# د افغان ملي سيمه

مخکښې ترډې چه دوهمې دورې یادوهم افغان ملي غورځنګ باندې خبرې وکړو دغه یادونه ضروري ده چه د افغان ملي سيمه د تاريخ په اوږدو کښې دچين اوپارس دترکستان ( مرکزي اسيا ) اوهند ترمينځ سيمه تل افغاني سيمه ده . چه کله پراخه شوې اوکله کوچنۍ شوې ده.

په اتلسمه پيړۍ کښې احمدشاه بابا حوزه یو وار بيا تأمين کړه اودافغانستان سياسي سرحدونه يې له طبيعي سرحدونو سره تطبيق کړل.( م غبار ) .

په پنځو ملي نهضتوکښې لومړۍ هڅه دحوزې یاسيمې تأمين دی. لکه چه خدای ددغو سيمو دخلکو زړونه او روح په واحد چوکاټ کښې پاللي وي .

## دويم ملي غورځنګ :

۳۰۰ هجري کال کښې لومړی ملي غورځنګ دبغداد دخلافت دبيلوبيلو کوښښونو په وجه له مينځه دتلو په حال کښې ؤ. اميراسمعيل ساماني د بغداد دخليفه له خوا ولمسول شوچه دسيستان دولت ړنګ اوپخپله دهغوسيمو پاچا شي. صفاري دولت دشمال له خوا دساماني پادشاه له خوا اوجنوب کښې د غزني له خوا او د غرب له خوا خپله دخلافت فشار ورباندې ؤ.

مگر په غزني کښې دغزنويانو ملي غورځنګ جوړ شو او په چټکۍ سره حوزه تأمين شوه . له تورې بحيرې نه ترېنګال پورې دمرکزي اسيا هيوادونه ترچين پورې له غزني نه اداره کيدل .

دتاريخ له پاڼو ځرګنديږي چه دپښتنو سيمو درې زرو کلو راهيسې په تاريخ کښې خپله خپلواکي ساتله . له باج او خراج نه خلاص ؤ اوهر تيری کوونکی ددوستۍ او رعايت له لارې دوئ سره چليدلی دی له سکندره تر مغلو عربو او ايرانيانو هم . مگر

دملي وحدت اوملي خپلواکۍ دپاره ديوه غوره اقدام ضرورت ليدل کيده ،چه په دريم ملي غورځنګ کښې پښتانه په نيغه راپاڅيدل.

سلطان محمود غزنوي د غزني ښار آباد کړ چه دفيروزې ماڼۍ دنړۍ له عجايبو څخه وه . ده غوره پوهان راغونډ کړل او دفارسي شاعرانو ته يې زياته پاملرنه وکړه، فردوسي ده ته شاهنامه وليکله او دی يې دشاهنامې په وسيله له تاريخه خبر کړ شاهنامه دجنګيالو داستانونه ؤ او يوډول دجنګ روحيه يې روزله. دسيستان درستم داستان اودساساني ايراني پادشاهانو قصې وې اودمحمود شهرت اوعظمت يې په يوه بيت کښې داسې ښودلی دی:

کودک چولب از شيرمادر بشست    درګهواره محمود ګويد نخست

دده په دربارکښې څلورسوه شاعران ؤ. اولياً او نور پوهان پرده راغونډ ؤ، ميرغلام محمد غبار ليکي چه ده دشريعت پابندي ډيره درلوده اومذهبي سبقونه يې جاري کړل اوهغو علوموته يې چه پخوا پهاسلام کښې ؤ پاملرنه نه درلوده . لکه طب، رياضي، هندسه اودستورو پيژندنه . مګر پوهانو خپل تحقيقات او علمي څيړنې کولې.

سلطان محمود له بغداد څخه اطاعت په هيڅ صورت نه کاوه.مګر دښواړيکو دساتلو په فکر کښې ؤ. دده قدرت له خلافت نه ډيرزيات ؤ، سلطان دسومنات بت چه دهند له مشهوربتانو څخه ؤ اوله جواهراتو ډک ؤ. مات کړاو معبديې وران اودصندل مشهوره دروازه يې ترې راوړه. کله چه انګريزانو پرافغانستان بريد کاوه؛ هندوانو ته يې ويل : چه مونږ څو دصندل دروازه بيرته راوړو او هندوان يې ځان سره ملګري کړل.

غزني ته چه راغلل يوه هسې دروازه يې واخيسته ، هيچا دصندل دروازه نه وه ليدلې ځکه څو پيړۍ تيرې شوې وې.

په دغه دوره کښې داسلام دين په هند کښې خپور شو. ملي حوزه او دهغه دشااوخوا دولتي امنيت تأمين شوی ؤ. د فارسي ادب لوړو درجوته رسيدلی ؤ اوخلکو خپله سلطان محمود يوولي بالهٔ . دهند په مسلمانانو کښې اوس هم ډير ګران سړی دی.

# درېيم ملي غورځنګ

دملي تاريخ په‌لټه کښې څرګنديږي چه‌پښتانه خورا لرغوني توکم‌دی. دوی ټول عمر خپلواک اوسيدلي يرغلګرو دوئ په‌خپلو سيمو کښې خپلواک پيژندلي اودهند په‌لوري ورتيـر شوي؛ دوئ دغرونو پادشاهان ياملک الجبال دعربو په‌ژبه ياد شوي دي.

دلته لومړی يو‌ه‌ژوره څيړنه چه‌د پوهاند دکتور حسن کاکړ له‌خوا شوې دافغان او پښتون پــه باب راوړل کيږي چه‌افغانان او پښتانه‌له‌ډير تردده په‌دې برخه‌کښې خلاص شي.

دمؤرخ غبار اومشهور ژبپوه مارګنستيرن له نظره دپښتون ياپختون کلمه ترافغان نه‌پخوانۍ ده . دغه کلمه دلومړي ځل دپاره د (ويدا) مذهبي کتاب کښې دپکتماس په بڼـه راغلې. د تاريخ پلار هيـرودوټس نژدې دوه نيم زره کـالـه‌دمـخـه دپکتيـان يادپکتيـوکا داوسيدونکو په نامـه راوستې . مګر مارګنستيرن ناروېژي ژبپوه دغه کلمه تردې لاهم پخوانۍ بولي.

يوناني ليکوال دسکندر دراتګ په‌وخت کښې داسپه‌زايي يايوسف زايي ذکر کوي يعني دغه خلک ښه‌آسونه‌لري او ښه سوار کارخلک دي، پښتانه د «داديک» په نامه ياد شوي دي چه دچترال اوبدخشان له‌لارې تاجکستان ته‌تللي.

يوه ورځ راقم الرحروف د وزيرمحمدګل‌خان مومند په مجلس کښې‌ناست‌ؤ اوهغه کلوس يوه ډنمارکي ژبپوه ته توضيحات ورکول. وزيرصاحب وويل: چه پښتانه مشر ورورته داديک وائي او تاجيک مـشـر ورورد‌ی. چه ژبه يې له‌لاسـه ورکـړې او نور خصوصيات اوځيرې يې هماغه‌د پښتانه دي .

د سلطان محمود داحفادو اودغور دمحلي پادشاهانو ترمينځ شخړه پيدا شوه . دغزني پادشاه دغور دجرګي غړي مړه کړل. علاؤالدين غوري پرغزني ورودانګل هغه ښکلی ښارېي وسوځاو او دغزني پادشاهي يې ړنګه کړه.

چه ځان يې علاؤالدين ودينارو باله اودغه سکه هم ماسره شته چه دسپينو زرو ده او علاؤالدين ودنيائې پرې ليکلي. دغزني امپراتوري يې ترلاسه کړه. افغانيه او سوريان، لوديان همدغه خلک دي چه شپږسوه کاله يې هند کښې پادشاهي وکړه او د چنګيزخان له آفت سره پای ته ورسيده . شيرشاه سوري چه کوم اداري نظام په هند کښې پرېښې په ډيرو برخوکښې هغه اوس هم چليږي. يوه پارسي ژبې شاعر ويلي:

دشيرشــاه سوري لـــه هيبته وزه اوليوه يوځای اوبه څکي

په دغه دوره کښې هم حوزه تأمين وه . مګر دپای تخت اومرکز خبره په هند کښې وه. د جام څلی غورکښې او دډهلي قطب مينار چه په هند کښې ډير مشهور دی؛ ديوه وخت نښې دي او په يوه سبک جوړ شوي .

دغوريانو دملي غورځنګ څيړنه ډير مفصل فصل دی. يوازې د محمد غوري په برخه کښې زيات کتابونه ليکلی شوي او په پټه خزانه کښې دده په مرګ يوه ويرنه شته چه دپښتوادب يوشهکاردی. په هند او پاکستان کښې دغور دسلسلې په باب څيړنې روانې دي خو په افغانستان کښې دلودي پښتانه کتاب دپوهاندرشاد ليکنه ديادونې وړدی.

## افغان بس دی:

روايت کا چه کوم چا ځان شيرشاه ته معرفي کاوه. دخپل ځای، قبيلې اوتعريف يې پيل کړ . شيرشاه پرې ږغ کړچه «افغان بس دی»!

يعني يوتعريف کفايت کوي چه دملي وحدت په برخه کښې خورا ښه ارشاد دی.

دشيرشاه نوم فريدخان ؤ. بيايې کوم زمري مړ کړ. داسې چه زمري پرده حمله وکړه

او ده د خپل ځان ددفاع په لړ کښې زمری له پښو وغورځاوه.نو دده نوم شیرخان شو. کله ئې چه دهند پادشاهي ترلاسه کړه ؛ نو شیرشاه سوري شو. دده ملي احساسات اوارېکې خپل ملت سره ژورې وې.

احمدشاه باباځو پیړۍ وروسته خپل ارتباط داسې بیانوي:

د حمید اودفرید دور بـــه بیا شي　　　　که زه وکاندم په هرلوري تاختونه

سلطان حمید لودي پادشاه اوفرید هماغه شیرشاه دی چه دواړه غوري پښتانه بلل کېږي.

ملي تاریخ له یولړ خصلتو اوملي اهدافو څخه جوړېږي چه دیوه ملت غړي یې یو په بل پسې تعقیبوي.

ACKU

# دغزني خوځښت د ملي دولت په لور

کله چه دصفاريانو سکزي دولت کمزوری شو او عمروليث صفاري د بغداد په محبس کښې ووژل شو. يوملي دولت په هيواد کښې نه ؤ. ديعقوب صفار او عمروليث صفار ښې ورځې تيرې شوې وې.

وصيف سکزی په شعرکښې دهغو ورځو ارمان کوي چه دوه بيته يې داسې دي:

مملکتی بود شده بی قیاس
«عمرو» برآن ملک شده بودراس
ازحد هند تابحد چین وترک
ازحد زنگ تابحد روم وگاس

وصيف سجزی چه ديعقوب اوعمروليث دديوان سرليکوال ؤ دصفاري دولت جغرافيا بيانوي چه هماغه لوي افغانستان دی.

له هند نه نيولې ترچين او ترکستان تر روم اوزنگ اوگاس پورې په دغه دولت کښې اودهغه مهال دجغرافيې له مخې روم ترکيه زنگ اوگاس دقفقازاتو برخې دي.

دافغان سکزي دولت چه دوصيف دوينا له مخې له هند څخه ترچين ترک او له زنگه تر روم پورې ؤ ، ديوې ناځاپې بدې پيښې په اثرچه عمروليث داسمعيل ساماني په لاس کښې ولويد او هغه د بغداد دربارته تسليم کړ. دصفاريانو دولت وار له واره بې وسې کيدۀ څو سامانانيانو ، سيستان ونيو. ساماني دولت هم دبلخ ؤ . مگر دبغداد خلافت دفرمان له مخې ډيره سيمه وربښلې شوې وه . په هغه کښې ماوراء لنهر ټول راتې .

دسکزيانو دولت داسې يو دولت ؤ چه تراوسه يې خلک ارمان کوي. نوسکزيان او

غلځيـان دسـامـاني دولت پـه حـالاتو پوهيـدل چه دخلافت له پلوه تولهسيـمـه يادلوي افغانستـان سيمه ورسپارل شوې؛ دادی چه لومړی دحاجب الپتگين ترمشرۍ لاندې راغونډ شول.د (۹۶۱م) الپـتگين يو غلام ؤ. چه دغلامانو په بازار کښې پيرودل شوی ؤ. خو ډير غښتلی سړیؤ. لهغلامۍ نهسپهسالارۍ ته ورسيد. بيا غزني تهراغی اودغزني خلکو چه هماغه غلځي سکزي اونور پښتانه ؤ دده ملاتړ وکړ.

همدا چه الپتگين (۹۶۳م) کښې مړشو خلکو دده زوي پهپادشاهۍ ومـانهاو داددې نښـه وهچه لهسامـاني دولت سره اړيکې غـوڅې شوې وې. دده زوي اسحاق نوميده.

خلک دساماني دولت دعـکس العمل په انتظارکښې ؤ. خوهلته د پادشاهۍ د پاره خلک ډيرؤ. اميران او سپه سالاران خپلواک شويوو.

پهخراسان کښې هم ساماني والي علي سيـمجوري ياغي شوی ؤ چهسبکتگين هغه ماتې کړ. وروسته د ساماني دولت لهخوا دسبکتگين زوي د خراسان امير او مشر وټاکل شو چه له هغه وروسته سلطان محمود غزنوي مشهور پادشاه ؤ.

دامهال يوځانگړی مهال دیچهمنصوربن نـوح دسامـاني دولت پادشاه هغهلويه سيمه نهشي اداره کولیچهدخلافت پهمرستهيې ترلاسه کړې وه.

هرځای چه يوسپهسالار ياغيشي بيا بل سپهسالارساماني پادشاهته ټينگووهي چهدیبهياغي سپهسـالار ايل کـړي. لههغهپادشـاه پيسې، وسلې اوخـرڅ واخلي. لاړشي هغه سپهسالار مات کړي. خو سيمهبيا ځانته ونيسي.

اميرسبکتگين او دده زوي امير محمود داکاروکړ. چهبيا يې خراسان غزنې پورې وتاړه. سبکتگين چهدښو اخلاقو خاوندؤ دامير عادل نوم يې گټلیؤ.

**افـغـان شـال:** د بيهقي لهليکنې داسې ښکاري چه افغان شال دتصميم نيولو مرکزوي دبيهقي پهتاريخ کښې پنځهځايه افغان شال ياد شوی دی.

افغان شال سبکتگین دپادشاه په توگه وټاکه. وروسته له ډیرو خبرو سبکتگین دغزني مشر شو.

دلته ځو مشکله دي چه تاریخ لیکونکی پرته له دې چه دتاریخ لیکلو په مقصود پوه شوی وي د یوه پادشاه دخوشحالولو دپاره، اودځان دبخششی دپاره یې تاریخ لیکلی وي لکه چه دبیهقي تاریخ دسلطان مسعود غزنوي دپاره لیکل شوی. بل داچه وروسته مخالفینو لکه انگلیسانو، ایرانیانو داسې څه لیکلي، چه مونږ ناروا خلک وښیي. مگر دا پوښتنه څوک نه کوي چه روایا ناروا مونږ ستاسو سیموته نه یو درغلي تاسو زمونږ کورته په زور راغلي یاست. که یونانیان دي، که عرب که ایرانیان که مغل که انگلیس او روس یا اوس چه (۱۹۹۹م - ۱۳۷۸هـ ش) امریکا په مونږ پورې ځان موښي دغه ډ ول ټوله نړۍ غواړي زمونږ تاریخ پټ کړي.

دمثال په توگه له (۹۷۰م) چه سلطان محمود هند ته تللی بیا تر (۱۷٤۷م) پورې چه احمد شاه بابا دهند په لوري وخوځید، په هند کښې د مسلمانانو پادشاهي وه. یوې خوا پښتانه هلته نوابان اومحلي مشران ؤ. بلې خواته غزنویان ،غوریان ،لودیان، سوریان ،داټول پښتانه ؤ مگر دهند تاریخونه دمغلو دوره اوبیا انگلیسان یادوي او د شپږ سوو کلونو تاریخ گونگ پریږدي. یا ایرانیان چه غوریان ،غزنویان ،ابدالیان اوصفاریان ایراني بولي.

هند کوشانیان او یفتلیان هندیان بولي. نو په افغانانو کښې دا احساس نه شته؟

مطلوب داچه خبره په « افغان شال » کښې ده.په سکزي اوخلجي یاغلځي سپاهیانو کښې ده .

حتی مرحوم غبار نه وائي چه دملتان مشر شیخ حمید لودي ؤ . چه سبکتگین غزنوي سره جوړ شو. سبکتگین دپښتنو په خوښه پادشاه شوی ؤ او پښتانه ورسره هند ته تللي وو. یعنې دی افغان ؤ. افغانانو په جرگه دی دپادشاه په توگه منلی ؤ.

کەخبرە دپښتو لیک لوست وي چە پە غزنوي دربار کښې نەوە . نو پښتو خو تر اوسه پورې نەشتە . هیڅیرې پښتو دهیواد رسمي ژبە نەدە.(۱۹۹۹م ۱۳۷۸هـش) کەلەدې وروستە داکاروشي ، یعنی طالبان یې عملی کړي نوښه به وي اودغزنویانو لوي وزیر حسن میوندی ؤچه هغه میمندي لیکي.

دغزني مشران چەد ساماني دولت پە کمزورتیا پوهیدل. د خراسان ،سیمەیې دیوې جګړې پەترڅ کښې ونیوه چەدخلافت اوساماني دولتو لەخوا امیر سبکتګین تە دناصرالدین اوامیر عنوانونەورکړل شول.

همداچه پە خطبەکښې دبغداد دخلیفه نوم اخستل کیده او پە سکەکښې ضرب کیده دغزني د پادشاه دنوم پە څنګ کښې، پە اسلام کښې خلیفـة المسلمین دیووالي او اسلامي اخوت دپاره یوه اړتیا وه. خو کله خلیفەګان داسې ثەبنأ کړي چەاسلامي امت حیران کړي او پەډیرو زیار ایستلو یې سم یاایسته کړي.

مګر امیر سبکتګین دامیر عادل پەنامه اوځار ؤ. او دده زوي محمود چەځان یې سلطان وباله، پوه او زړه ورسړی ؤ .

سلطان محمود پەځینو جګړو کښې پخپله جګړه کوله. کلەچە سلطان محمود علي سیمجوري ونیوه نو هغه تەیې وویل:« داسلام لە تاریخ څخه خبریې؟ هغه وویل هو بیایې ورتە وویل : دطبري تاریخ دې لوستی ؟ هغه وویل هو.

سلطان وویل ستاکارونه تاریخ پوه او تاریخ لوستي غوندې نەدي! ».

لەدې ښکاري چە محمود پخپله پەدې خبرو پوهیده او دەدهند پە تاریخ کښې دافغان نوم مطرح کړ او افغانانوتەیې جاه ګیرونه ورکړل.

مونږ داخبره پەخپله ملي فلسفەکښې مطرح کړې چەپښتون دنسل یانژاد نوم نه دی. دیوه کړه وړه نوم دی. میړانه او میړنتوب دی .

پە (۹۹۸م) القادر بالله دبغداد د خلیفه لەخوا سلطان محمود تە دیمین الدوله

او امين الامت لقبونه ورکړل . چه دا دسلطان محمود په رسميت پيژندل ؤ. چه سلطان پرې خوشحالي کوله . سلطان محمودله هند څخه ډير څه راوړل او هغه يې پاک اوستره مال باله . سلطان محمود دسومنات بت پر هندوانو خرڅ نه کړ او داخبره يې مشهوره ده چه « زه بت ماتوونکی يم . نه بت پلورونکی » ده په دغه زيرمه جوماتونه جوړول. مگر سلطان محمود په سيستان کښې چه هلته امير خلف پادشاه ؤ ؛ سخت ورانی وکړ. هغه دزرنج ښار وران کړ. خلک يې ووژل لکه چه يو بل مهال علاؤالدين غوري غزنی ړنگ کړ.

محمود امير خلف بن احمد چه دحصار تاق په نامه يې يوه ډيره کلکه کلا درلوده ونيو. امير خلف د صفاري له کورنۍ څخه ؤ. مخکښې مو ويلي چه ديعقوب صفار او عمرو ښې خاطرې په سيستان کښې وې. چه ددوئ په نامه يعنې دوئ ته منسوب دډيرو اميرانو اطاعت دسيستان خلکو کړ. خوشا اوخوا حالات بدل شوي وو. دوئ هغه چارې ونه شوې کولای چه يعقوب او عمرو صفار کړې وې. د غزني، ساماني، بغداد دولتونه درې واړو دسيستان دولت غوښت او له هغه يې ويره درلوده .

په حقيقي توگه سلطان محمود او نه علاؤالدين غوري ښه نه دي کړي چه خپل ښارونه يې سوځولي. همدغه له تاريخ څخه عبرت نه اخستل دي چه په (۱۹۹۲م) کال کښې کله چه رباني او مسعود او گلبدين کابل په راکټونو، وويشت ، افشار اوچنداول دمسعود رباني له خوا وران اوهلته بې ناموسئ وشوې . بيا هماغه شيعه او هزاره دايران په وينا له خپل غليم يعنې مسعود او رباني سره ودريدل . که چيرې څوک په ملي تاريخ پوهيدای، زرنج، غزنی ،کابل، زابل او ډير ځايونه به وران شوي نه ؤ . نن به ددنيا عجايب دفيروز بن کبک قصر په زابل او فيروزي قصر په غزنی کښې ؤ او دتاق کلاه په سيستان کښې موجود ؤ اودارالامان قصر به په کابل کښې موجود ؤ. سراج العمارة به په جلال آباد کښې سلطان محمود، دلوي افغانستان يووالی تأمين

کړ. اصفهان، ډهلی ، خوارزم له آمونه هاخوا دماوراءلنهر ډيرې ځمکې يې ونيولې اودوهم ملي نهضت يې رامينځ ته کړ. شعر ادب ، نجوم او طب ډيره ترقي وکړه . ښارونه لکه غزني، بست، لښکرگاه اوډير نور ځايونه آباد شول.

مهمه داوه چه افغانستان په تاريخ کښې مطرح شو. په هند کښې په ايران او ماوراُلنهر کښې حضرت غزنين چه په افغانستان کښې ؤ خلکو وپيژاند« افغان شال » کښې بهرني نمايندګان منل کيدل. دافغان شال مشر به بهرنيو استازو ته ور خلعتونه دافغانستان دپادشاه چه حضرت غزنی يی پلازمينه وه، ورکول کيدل.

په دغه سلطنت کښې ، غلځي، سکزي ، سوري اونور پښتانه موجود وو. دبيهقي دتاريخ په تعليقاتو کښې راغلي : عتبي دسلطان دلښکرو په برخه کښې الفتح الواهي (۲ ج ٨٤) مخ کښې وايي : « فخرج السلطان فی عساکر الترک والهندوالخلج وافغانيه والغزنويه . »

دغه عبارت عربي دی؛ خوکه چيرې دغه عبارت دهمغې زمانې له احوالو سره تحليل شي؛ تول افغانان دي، ځکه کابل هغه مهال له دې کبله چه هلته کابلشاهان ياکوشانيان ؤ؛ هند بلل کيده . څرنګه چه صورت الارض هم هغه ، هند بولي چه حاجب الپتګين دکابل اودهند دنورو ځايو « حاجبات » اخستل . ترک دپوهاند حبيبي او نورو دشرح په اساس « تره کي » دي. هند کابليان دخلج غلځيان دي. افغانيه بيا پښتانه او غزنويان يعنې دغزني خلک دي. ديوه عرب ليکوال دپاره دغه تفکيک يا بيلوالی ګران دی. عجبه داده چه افغان تاريخپوهان هم سم نه دي پوهيدلي يايې تشريح کړي نه دي.

غزنوي دولت دلوي افغانستان دجوړيدو دپاره ورروسته له صفاري دولت څخه يوه مهمه مرحله وه، چه مونږ يې دوهم ملي تکل بولو.

هغه مخالفين چه پښتون يې نه دی خوښ وائي پښتانه د سلطان محمود په

لښکرو کښې د اجيرو عسکرو په ډول هند ته تللي دي.

سلطان محمود دهند لويه برخه پښتنوته په لاس ورکړه. ترشپاړسمې پيړۍ پورې ددوئ حکومتونه ؤ.

په مغلي دوره کښې هم هند د پښتنو په لاس کښې ؤ. اوډيرولايتونه يې په لاس کښې لرل.لکه: روهيله ، اوده، پټنه ، پټانکوټ اوډير نورځايونه. ځينې پښتانه ځوانان په دې دليل چه سلطان محمود پښتو ژبه نه وه را برڅيره کړې.دهغه وجه داده چه هغه مهال فارسي لکه يوه سيمه ايزه ژبه وه او دکوم خاص هيواد ژبه نه وه . ايران هغه مهال وجود نه درلود . په غزنوي او غوري دورو يا صفاري ايران دافغانانو په لاس کښې ؤ . هوتکو بشپړ ونيو اواحمد شاه بابا په دوره کښې له نيمائي ډير دافغانستان برخه وه . داچه ايران خپل نوم له پارس يا فارس نه ايران کړ او فارسي ژبه يې خپله رسمي ژبه کړه ؛ د خپل ملت دپاره يې ښه کړي دي . مونږ چه په وروستيو پيړيو کښې د صفويانو تردورې پورې دآسيا لويه برخه مو په لاس کښې لرله، ولې يودم له هرڅه تيرشو ؟ اوس ولې جوړنه يو ؟

تاريخ دراتلونکي رغاونې دپاره له دې کبله بويه ولوستل شي.

# سلطان محمود څنګه سړی ؤ

سلطان محمود په وينه مينځوي، رنګ او ويښته يې هم سره نجن ؤ. ډير هوښيار او پوه سړی ؤ.

ده له شعر او ادب سره مينه درلوده. پوهان به يې راټولول او ددوئ قدر به يې کاوه. غزني د پوهې او عرفان مرکز ؤ. دده سلطنت له تورې بحيرې ترګنګا جمنا غځيدلی ؤ. دايران ډيره برخه اودهند او ماوراء لنهر ځمکې ددهٔ په سلطنت کښې راتلې.

ده د ټولو سيمو شتمني غزني ته راوړه او داسې يو ښاريې جوړکړ چه په نړۍ کښې ئې ساری نه ؤ.

د غزنويان متأخر کتاب په ۱٤٦ مخ کښې ليکل شوي:

«کله چه سلجوقي عسکرو غزني ونيوه. په شرابو چړچو او لوټماريې لاس پورې کړ داعيانو له کورويې زښته ډير د سپينو زرو قابونه، له ديوالو واخستل. د سپينو زرو، نلونه او بهڅک (شيردهن) حتی په باغچو کښې دسپينو زرو نلونه دګلونو دخړوبولو دپاره موجود ؤ.

وروسته سلطان سنجر سلجوقي دلوټمارو مخه ونيوله. چه سړی دداسې يوه ښار چه دفيروزې قصر هلته تصورنه شي کولای. مګر دغزني په باب داديبانو په وسيله چه هلته پنډ شوي وو. ځينې معلومات ترلاسه شوی.

دهمدغه کتاب اوهمدغه مخ په يوه بله برخه کښې راغلي چه سلطان سنجر پخپله هم له غزني نه خپله شوکه وکړه. له هغې جملې نه پنځه تاج، اووه لس دسرو زرو اوسپينو زرو تختونه، يو زرو درې سوه سيټه قيمتي فلزات اوجواهرات.

يعني مخکښې تردې په غوريان دسلطان علاؤالدين په مشرۍ را ورسي،

سلجوقيانو غزنی لوټ کړی ؤ. (۱۱۱۸م داپريل ۱۸) د غزني پادشاه سلطان محمد ملک شاه زوي چه ناروغ ؤ،له دې غمه مړ شو.

دافغانستان دخاورې پراختيا، زيرمه اوبډائي او وداني هرڅه دهغه مهال په لومړۍ درجه هيوادوکښې ؤ. لکه‌چه نن ۱۹۹۹م کښې امريکه ده. (۱۱۷۸م) امريکه لاښکاره شوې نه وه دولسمه پيړۍ وه. امريکه درې پيړۍ وروسته وموندل شوه.

سلطان محمود غزنوي دپښتنو په طبيعت برابر پرته له سني او سنتي اسلام څخه له شيعه، اسماعليه، ملحد، هندو ټولو سره مخالف ؤ.

دده پلار سبکتگين که څه هم د البتگين مرئی ؤ. خوده ځان ترک نژاد نه باله. په يوه توگه يې ځان آريايي ښوده.

ځينې خلک داسې گومان کوي چونکه سلطان محمود يا سبکتگين ترک ؤ. نو پادشاهي دترکانو وه. خبره داسې نه‌وه. هغه پخپله غلام ؤ، چه دخپل لياقت له‌مخې د حاجب امير او والي شو. بيايې چه محلي خلکو سره لاره جوړه کړه ياغی شو او خپلواکه پادشاهي ئې جوړه کړه. يعنې اصلي سرداري دخلکوده. څوک چه ور وي هغه ودروي.

که چيرې سبکتگين يا البتگين ترک ؤ. دامعنی نه‌لري چه ترک راغلي ؤ يوازې يو سړی ؤ.

دوئ هرڅه په مشوره او دخلکو په خوښه کول. پخواني دولتونه دااميرانو په‌لاس کښې وو. وروسته هرڅه چه‌دوئ غوښتل، هماغه کيدل. سلطان محمود دهيواد غليمان پرې نه ښودل. ټول يې خواره‌ګړل. مگر دوه مرکزه دده په مقابل کښې کلک دريدل لومړی غور اودوهم زرنج. ځکه دواړو د قدرت دعوی اوتاريخي سابقه درلوده.

په‌غور کښې يې دغور مشران پريښودل او په سيستان کښې يې دامير خلف سره

ښه‌وضع وکړه او ده ته‌يې اختيـار ورکړ په کومه توګه چه‌اوسيږي اوچيرې چه اوسيږي په احترام او عزت به‌وي.

اعليحضرت سلطان محمود په‌داسې حال کښې چه‌افغان او اسلام ته‌يې ډيرې هڅې کړې او ډير بريالی ؤ.

ده ځلور زره سلجوقيانوته اجازه‌ورکړه چه په شمالي افغانستان کښې ديره شي اوداېې ورسره ومنل چه دوئ به‌وسله نه‌ساتي مګر همدغه ځلور زره سلجوقيانو سره ترکمانان ، ازبک او ډول ډول خلک يوځای شول او د سلجوقيانو امپراتوري يې جوړه کړه. چه‌يو سريې اروپا او بل سر يې غزني ته‌ورسيد .

هغه مهال څوک په‌دې نه پوهيدل چه‌دغه‌زره سوی به‌کوم سرته‌رسيږي .

دغـزنويانو دولت دوه پيړۍ دوام لاره. څـو چه غـوريانو دهغـوئ ځـای ونيـو او دافغانستان امپراتوري نوره هم‌پراخه شو.

دغزني پادشاهان داوو: (۹۷۷م - ۱۱۸٦م)

ابومنصور سبکتګين غزنی هند(۹۷۷) مارچ. دی دقره‌بچکم زوي دی.

قره‌بچکم ښايي چه‌ډير قوي ځـه‌ؤ. چه‌د«غويي زوي» نوميده . ياپه‌دې نامه ياديده.

ابواحمد محمد (۱۰۳۰م مى)

لومړی ابوسعيد مسعود (۱۰۳۰ - اګست).

بيا ابواحمد محمد (۱۰٤۰م).

ابوالفتح مودود (۱۰٤۱م).

دوهم مسعود (۱۰٤۸م).

ابوالحسن علي ، ابوالحسن عبدالرشيد (۱۰٤۹م) په (۱۰۵۲م) طغرل سلجوقي غزنوي‌ونيوه .

ابوشجاع فرح زاد غزنوي (۱۰۵۹م).

ابومظفر ابراهيم (۱۰۵۹م).

ابوسعيد دريم مسعود (۱۱۱۵م).

ابوالملوک ملک ارسلان (۱۱۱۶م).

ابوالمظفر بهرام شاه (۱۱۱۷م).

خسروشاه (۱۱۵۷م) د هند او غزني پادشاه

ابوالمظفر خسرو ملک (۱۱۶۰م ۱۱۸۶م)

دغزنويانو په مهال کښې دلوي افغانستان لويديځ اوشمالي افغانستان سيمې که دسلجوقيانو له پلوه نيول کيدې، مگر په هند کښې ددوئ پادشاهي ټينگه وه . دوئ به‌چه غزني کښې کمزوري شول؛ له ختيځ اوجنوب افغانستان نه به مرسته ورسره کيدله.

دجنوب اوختيځ او جنوب لويديځ افغانستان اهميت له همغو وختو څخه څرگند ؤ.

# دکراماتو خاوند سلطان

امیر سبکتگین اوسلطان محمود دکراماتو او عدل درلودلو له کبله مشهورځ.

دسلطان محمود قبر عام زیارت دی او تشریفات نه لري.

کوم وار چه سلطان دسومنات بت راوړي یوه هندو چه قافله چي ؤ ؛ سلطان او لښکريې په غلطه لار بوولي نژدی ؤچه ټول له تندې مړه شي. سلطان محمود چه په کیفیت پوه شو. له لښکر لیرې پر خاورو درب دربارته پریووت. په سجده شو.بیا په شپه کښې ورته یوه رڼائي ترسترگو شوه. امريې وکړ چه په دغه خوا یون وکړئ. څوگړئ وروسته دوئ له خطره خلاص شول.

سبکتگین په امیر عادل مشهورؤ. هیڅکله يې درعیت مال نه دی ضایع کړی. حتی پر حیواناتو يې زړه سوی درلود.

نودافغانستان دینداره خلک پردوئ راټول شول. دوئ دلوي افغانستان په خدمت کښې هیڅ کمی نه درلود.

غزنوي دولت لومړی ضربه له همغو سلجوقیانو ولیده ؛ چه سلطان محمود ، دلورینې له مخې په شمالي افغانستان کښې میشته کړي وو.

دسیف الدین سوري له شهادت وروسته غوریانو ترهغه پراخه امپراتوري جوړه کړه دغه مهال دغزنویانو دوه پیړۍ تیرې وې. او وروستیو سلاطینو هغه صلاحیت نه درلود.

**سلطان مسعود غزنوي ته د بونصر نصیحت:** بونصر مشکان د سلطان محمود غزنوي دديوان مشرؤ. کله چه مسعود پادشاه شو بونصر هغه ته نصیحت وکړ. څکه مشکان سپین ږیری او مشر سړی ؤ : « زما څښتن دې پوه شي چه تیر شوی امیر

(د سلطان محمود مسعود پلار) بوميږنې ؤ. چه دهغه سارى په نړۍ کښې نهٔ. په هره لاره، او دهغـه مـهـال اوروزگـار لکه يوه سـينگار کـړې ناوې وه او همـداسـې وه. په چاروکښې يې بشپړ پام کاوهٔ. د هغه په لاندې باندې پوهيدهٔ او سمه لاره به يې نيوله او پخپله هم په سمه لار لاړهٔ. زهٔ دا غواړم چه نن هم دهغه په پل قدم کيښودى شي او هيڅوک پرې ننبودل شي چه دومره ووايي چه که هغه داکار داسې کړى واى ښه به ؤ دهغه لاره سمه وه چه دومره لوې هيوادونه يې خپل کړل غليمانوهم پرې قناعت وکړ، اوس هم همغسې ده.

دبونصر مشکان خبره داوه چه د پلرو لاره چه لويي برې ئې په برخه شول؛ سمه وه. دغه نصيحت ځکه دلته وليکل شو چه په پام کښې دې وي.

مونږ هم بويه چه دسلطان محمود، ميرويس بابا، احمد شاه بابا لار خپله کړو. ټينگه ئې کړو. له دې امله دهغه د وينا يوه برخه دلته ليکو چه سلطان مسعود په نيشاپور کښې دخراسان خلکو ته کړې وه.

«دغه ښار يو مبارک ښاردى دغه ښار او دهغه اوسيدونکي راته گران دي. کومې هڅې چه تاسو زما دپاره کړي، د خراسان په نوروښارونو کښې نه دي شوې. يو څه چارې په مخ کښې دي. چه تاسو پوهيږئ ډير ژر به فيصله شي. د خداى په فضل او چه لههغه وزگار شود خراسان خلکو باندې به څو څو ځله نظروکړو او دغه ښارته به بشپړه پاملرنه لرو.

اوس سمدواره به امروکړو چه دحسنک باطل دودونه اوکړه لهمينځه وايستل شي په نيشاپور کښې دې کارونه اومرافعې دپخوا په شان وي. مونږ چه په هرات کښې وو؛ دحسنک او دهغه دقوم له ناکردو خبريدلو اونه موخوښيدې. مگر څه مو نه شول کولاى. کله ئې چه مهال راغى خپلې جزاوې ئې وليدې.

هره هفته کښې به دوه پلا مظالم (دمظلومانو پوښتنه) وي اودمظلومانو پوښتنه به په خلاص ځاى کښې وي. هرڅوک راتلاى اوخپلې ناخوالې ويلى شي او بشپړ

انصاف بهورسره کېږي (دنيا و) د اجرأ دپاره بهغازي حاجب سپهسالار ولاړوي . او بايدچهد باندې له مظالم ځای نه هغه نورې ځانګې او د يوان پرې خبرکړی‌شي. هرڅه‌چه وړوي لههغوئ سره به وشي.

مونږ امرکړي چه نن زندانونه وکتل شي او دقيديانو پښې دې پرانيزي. څو زمونږ دراتګ هوسائي هرچاته ورسيږي اوکه چيرې وروسته له هغه بيا څوک ناوړهٔ کاروکړي خپله سزاٗ به ووينې».

کله‌چـه دخـراسـان خلکو دسلطان مسعود وينا واوريده ، دخوشحالئ چغې يې پيل کړې.

دغزني په دربار کښې اديبان اوشاعران ډيرو. نوحالات ډيرګونګ نه دي پاتې که‌څه هم دغه ښاراوآثارڅوڅوځله تالا شوي اوکتابونه سوځول شوي او تبتول شوي دي. لکه‌چه په ( ۱۳۷۱هـ ل ۱۹۹۲م ) کښې د رباني د مردار حکومت په څلور کلنه دوره کښې د افغانستان کتابونه په پيښور کښې دومره ډيرشول چه‌په تول خرڅيدل .

دسلطان مسعود له‌تګ سره خراسان اونور غربي ولايات لکه طبرستان، کاشان، ري اونور په‌کرار شول . بيا دغزني ددولت له‌کمزوري کيدوسره سلجوقيانو پارس ونيو او دافغانستان‌ختيځ ولايات هم په‌کښې راغلل. داهماغه سلجوقيان ووچه سلطان محمود غزنوي دزړهٔ سواندئ له مخې شمالي افغانستان کښې ميشته کړي وو.

وروسته له صفاريانو غزنويانو دلوي افغانستان « رپی » جنډه وساتله اودآسيا دتاريخ يوه مهمه برخه‌وه.

د سلطان محمود دوه صفتونه : شاعرانو اوليکوالو سلطان محمود دجګړې په‌ډګر کښې داسې يو اتل بالهٔ چه د فردوسي دشاهنامې له‌اتلانو بروي او په‌علمي او ادبي ډګر کښې يو اديب او شاعر وي.

ددهٔ په اولادوکښې دکتاب ډير ارزښت ؤ . هر يوهٔ، يو سلطنتي کتابتون درلود. څرنګه چه مسعود سعدسلمان نامتو شاعر کله‌چه له بنده خلاص شو . دسلطان

مسعود غزنوي دکتابتون مشر ودرول شو.

هغه سيمې چه دغزنوي سُلاطينو له واکه وتلې وې هغوئ به غوښتل چه بيرته ددهٔ دسلطنت په سيمه کښې راشي.

کله چه سلطان سنجر(١١م ٢ ٠ ١١م) په بغداد کښې ؤ؛ د ماوراءالنهراو خراسان خلکو او خانانو غوښتل غزنويان ددوئ سيموته ورشي.

په مشرق کښې يعنې همداسې خلک سره له دې چه مذهبي توپيرؤ دغزنوي پادشاهانو اطاعت په داسې حال کښې کاوهٔ چه حتى غزنى هم دغزنويانو له لاسه وتلی ؤ.

عثمان مختاري شاعروايي:

بهندوستـان بکن کـاری چنان کـاری باحـشـمت
کـه عـبـرت نامـه یی سـازند مـردان درخـراسـانش
ترا ای مـشـتـری طلعت ملک جـاهی چنان سـازد
کـه هشـتـم چرخ پندارد زهفـتـم چرخ کـيـوانش

مگر حالات بل ډول ؤ. چه ددوئ لياقت څه ګټه نه درلوده. څو سوري او موسوي دوه غوري شهزادګان د علويانو په لمسون ووژل شول او سلطان علاؤالدين غوري پرغزني دبدل په نيت يلغاروکړ. او يوه بله ملي دوره دغوريانو پيل شوه.

خاين افراد کله خپله سزا هم ويني. کله چه علاؤالدين دغه ډله خائنان پهٔ غزني کښې ونيول دغزني دخاورې يوه يوه بوجۍ خاوره يې ور پهٔ شاکړه. دفيروزکوه په خوايې وخوځول.

دلته تاريخي نصيحت دادی چه د هرچار د بلې ورځې عواقب په نظر کښې ونيول شي. دغزني د ښار په قصرونو کښې دبډايانو يادولتي لوړ رتبه اشخاصو په کورونو کښې دسرو او سپينو زروقابونه (چوکاټ) موجود ؤ. پرديوالو او پيزارو باندې اشعار، پندونه آيات اونازولو او لادو نومونه حتى د سلطان مسعود په قصر کښې د ښځو بې

پردې رسمونه‌وو. کله چه دی دهرات والي ؤ. همدا چه د سلطان محمود پلار خبر شو پوښت استازی بې ورلیږهٔ چه حقیقت معلوم کړي، مخکښې تردې چه‌استازی هلته ورسیږي، دهٔ رسمونه له‌مینځه ایسته کړل. استازي خپل رپوټ کښې سلطان محمود ته وویل چه دهٔ داسې څه ونه‌لیدل. مگر مسعود وروسته له هغه‌وکړل؟

همدا چه مسعود پوه شوچه دپلار له‌غصې بچ شو؛ بیایې دومره ځان سم کړ چه ددهٔ په وروسته نسلونوکښې بیا ددوهم مسعود او دریم مسعود نوم راغلی؛ چه‌دا دمسعود گرانښت ښيي.

دسلطان محمود په سکوکښې دخلیفه نوم نه‌دی راغلی او دالیکل شوي «الله دټولو تختونو او پادشاهانو خاوند دی» او داډیره ښه جمله ده. چه‌دهرمسلمان زړهٔ ته لویږي.

کله‌چه علاؤالدین غوري دسلجوقي له‌بنده خلاص شو.(چه تفصیل به‌یې دغوریانو ددریم ملي تکل په برخه کښې‌راشي).

په‌غزني کښې خسرو ملک غزنوي پادشاه ؤ. (۱۱۵۹م) غوري پادشاه ده ته وویل چه‌د کندهار او هلمند له سیمو دې خپل عسکر وباسي او هغه‌دې ددهٔ ورارهٔ ته چه (وروسته لوي امپراتور) معزالدین محمد غوري کيږي وسپاري. خسروملک هغه نه سپاري.علاؤالدین غوري دشعر په ژبه ورته وائي: داسی نه چه د پاره دیوهٔ تکینا د- دغزنوي ټول ملک کړې برباد».

خسرو ملک زړور، هوښیار او جرار سړی ؤ. مگر دغزنوي دولت د زوال شامت راغلی ؤچه دهٔ هم‌څه ونه شول کولای.

خسرو ملک خپل‌ډیر وخت په لاهور کښې تیراوهٔ او ادیبان یې پرځان راټول کړي عرفي په جوامع الحکایات کښې هغه‌ته اشاره کوي.

څخرمدبر یوبل شاعر دخسروملک زړورتیا او ښې ویشتلو ته‌داسې اشاره کوي.

خـــــسـرو تيــــرى كـــه درشب تارزند
برســــينه مـــــور وديده مــــــارزنـد
خــواهد كـــه همــان تيـــر دگـــربارزند
پيكان ديگر برســـــر ســـوفـــــارزنـد

ابوالمعاني نصرالله ، يانصربن محمد بن عبدالحميد دخسرو ملک منشي ؤ . دخسرو ملک غزنوي په زمانه کښې لاهور دفارسي ادب مرکزؤ. چه عرفي دهغه يوشمير حکايتونه راټول کړي دي.

له دې وروسته وار د غوريانو دى چه دادى هغه گورو.

ACKU

# غزنويان او ملي تکل

کله چه دصفاريانو دولت کمزوری شو، نو په غزني کښې محلي مشرانو سبکتگين په مشرۍ ومانهٔ. سبکتگين دسلطان محمود غزنوي پلار چه ډيرو مؤرخينو ترک بللی دحکومت کوونکو کورنيو په کتاب کښې چه ديوې ډلې ليکوالو له خوا ليکل شوی؛ په دې کښې شک لري، او سبکتگين خپله شجره ياکوري، ساسانيانو ته رسوي او داهم ورسره وائي چه ډير خلک چه د پادشاهۍ شوقمن وو، خپله شجره ئې داسې جوړوله چه يوه پادشاه ته رسيدله او دا دود په ختيځو هيوادو کښې ډير دی.

سبکتگين په ظاهره کښې ځان د سامانيانو تابع باله. خوښکاري چه ځان يې له جنجاله خلاص کړی ؤ او خپلواک حکومت ئې کاوهٔ. په کال (۹۹۳ م) کښې نوح ساماني هغه ته دناصرالدين لقب ورکړ او ددهٔ زوي محمودته يې سيف الدوله لقب ورو باښه. په داسې حال کښې چه د سبکتگين طاقت تر نوح پورته ؤ. دا يوازې په دې وجه چه نوح ښه ورسره کړي ؤ. سبکتگين ځان ددهٔ له خوا حاکم باله

سبکتگين او محمود لومړی خپلې خاورې ته د ختيځ له لوري پراختيا ورکړه او د (افغان اشراف او مغل) د کتاب په حواله دولس زره پښتانه له دهٔ سره هندوستان لاړل.

سلطان محمود دهندوستان ډيره برخه ونيوله. بخارا او سمرقند او په لويديځ کښې ترتورې بحيرې پورې[1] لاړ او د ايران لويه برخه هم ددهٔ په لاس کښې وه. چه اصفهان هم په کښې ؤ. دغزني ښار په آسيائي ښارو کښې بې سارۍ ؤ. قصرونه، مدرسې او علمي مرکزونه يې درلودل.

مگر ټول هندوستان دمحمد غوري په وخت کښې فتح کړای شو او اسلامي حکومت يې دلومړي ځل دپاره هلته جوړکړ.

---

۱- حکومت کوونکې کورنۍ: ستالين پل، او بارتولډ خليل او هم، سعيد سليمان ليکوال.

# دريم ملي تکل غوراو غوريان

دلوي افغانستان دجوړولو اوساتلو دپاره په زرهاؤ کاله ميليونونه افغانان ځار شوي دي، مخکښې تر اسلام ساکان، کوشانيان، يفتليان او وروسته له اسلامه صفاريان، غزنويان، غوريان، هوتک اوابداليان. په افغانستان کښې دغور سيمه مهمه سيمه ده اوغوريان اوڅار خلک دي.

**دغــور ولايت:** دافغانستان په اوسني ملکي تشکيلاتو کښې غور يو ولايت دی. ددېرشو ولاياتو په ترڅ کښې، په حقيقت کښې همدغه دغور اوسنی ولايت له څه پراخوالي سره په ګاونډيو ولاياتو کښې لکه ارزګان، غزني، باميان، کندهار په تاريخ کښې يو قوي هيواد ياد شوی دی.

دغور صنايع په تيره بيا وسلې لکه قلاب، توره، سيلاوه، زغره، نيزې، ګرزونه په نړۍ کښې نامي دي.

آهنګران په غور کښې مشهور دي. کله چه تاسو پرغور خبرې کوئ يافکر کوئ هغه بل مهال ؤ چه هلته قوي انسانان اوسيدل چه دديوانو کارونه يې کول. آهنګري آهنګران هغه هم په دغه سويه چه سلاح يې صادرولهٔ؛ د اوسپنې ويلول او په کارول که اوسنۍ نړۍ سره مقايسه شي دا هنر له امريکې سره برابر دی.

دغوريانو وسله ترهغـه پورې نامي وه چه باروت، توپ او ټوپک پيـدا شـول. اودغورلوړوالي ته يې له جنګي نظره صدمه ورسوله. ځکه چه داور وسله پيدا شوه. دټپ وسلې اغيزه لږه او ډيره لږه شوه.

دغوريانو پــــه زمانه کښې دصنايعو خاوندانو په نورو سيمو کښې پانګه په کاراچوله، او هلته يې نوي مرکزونه جوړول. همداوجه ده چه دآهنګرانو په نامهٔ په ټول

افغانستان کښې باغونه او سیمې څرګندې دي.

اوس هم آهنګران ځان دغور او له اوښارو خلکو بولي. په داسې حال کښې چه ناپوه دغه فن اوخلکوته په هغه اعتبار چه دوئ ئې لري؛ نه ګوري.

احمدشاه بابا او امپراتور تیمورشاه درانی دآهنګرانو محل یاآهنګرخانه خپل ارګ ته نژدې راوستله اوله شاهي آشپزخانې څخه یې دغرمې ډوډۍ ورلیږله او پخپله به یې هم ډوډۍ ورسره خوړه.

عزیزالدین وکیلي فوفلزایي په خپل تاریخ تیمورشاه دراني کښې د کابل آهنګرخانه اودبالاحصار نژدې والي په متعلق همدغه تفصیل بیانوي. کوم آهنګرچه دافغانستان په نورو سیمو کښې اوسیږي دوئ د خپلې ونې اوښانګو یوځانګړی تفصیل چه ځان دغور شهزادګان بولي لري.

ناپوه خلک دوئ ته په ټیټ نظر ګوري. اودوئ ناپوهانو ته.

داچه په غور کښې فیروز کوه او آهنګران دوه مهم ښارونه ؤ؛ چه دواړو دپایتخت یا پلازمینې حیثیت درلود.

غورته ډیر لنډ غزنویان او دشمال خواته سلجوقیان پراته ؤ. دواړو سره یې لاسونه پاستهٔ کړل. بله خبره داوه هغه ډلې چه له مذهبي اړخه ئې بل ځای ګوزاره نه کیده لکه قرامطه اسماعلیه اونور؛ هغوئ ته راتلل او دغوري پادشاهانو په پناه کښې اوسیدل. دې مسألې دوئ ته نورې لانجې پیښولې چه دهغوئ مخالف دولتونه ؤ چه په دې سیمې کښې راتلل.

پښتونولي هم لویه خبره ده. کلونه ددوئ پناه راوړونکو په سرجنګیدلي بیا چه غلیم بله چاره نه ده موندلې؛ یو شهزاده به یې له لارې وایست چه هغه به پادشاه شو بیا به یې خپل مطلوب پوره کاوه:

# دغوریانو جرړې، ونه او څانگې

دپښتون دغه نومیالی ټبر یوه څرگنده شجره لري. دلته به دهغه عام او خاص تعبیر دواړه راواخلو: ملک الکلام مولانا فخرالدین مبارکشاه المروزي ددغو نومیالي سلاطینو نسب نامه په نظم کړې اوددغو سلاطینو (غوریانو) دسلسلې سرېې مشهور ضحاک ته رسولی چه د ضحاک په اړه به وروسته خبرې وکړو.

دغه حکم دماه ملک دسلطان السعید غیاث الدین والدنیاابوالفتح محمدبن سام دلور له خوا ورکړ شوی دی.

## شهزادگۍ ماه ملک څوک وه ؟

دملک الکلام مولانا مبارک شاه المروزي دخولې خبره ده چه محترمې شهزادگۍ زه وغوښتم او وئې ویل دغوري سلاطینو احوال ولیکم.

محترمه ماه ملک یوه مدبره پوهه شهزادگۍ وه چه ددې صفات، په ډیرو ډیرو پیغلو کښې نه دي لیدل شوي او هغه داسې:

په تاریخ پوهیدله. خط یې لکه مرغلرې ښکلی ؤ. حافظه د قرآن وه. هرکال بې دوه رکعته لمونځ کاوه چه نیم قران به یې په لومړي رکعت کښې وایه اونیم قرآن به یې په دوهم رکعت کښې پنځم داچه دی میړگ ونه کړ.

شپږم کله چه ددې نومیالۍ امپراتور پلار سلطان غیاث الدین وفات شو؛ دا اووهٔ کاله پرجای نماز ناسته وه او لمریې په سترگو ونه لید او خپل پلارته یې دعاکوله.

آیا دداسې یوې پیغلې نوم هم په دومره خپرونو کښې چه اته‌سوه کاله په مینځ کښې تیرشوي رانه‌غی. خدای تعالی دې دې ته جنتونه ورکړي. آمین.

مطلوب داچه دهمدغې مبارکې شهزادگۍ په حکم دغوریانو تاریخ لیکل

شوی دی.

دضحاک دنسب سلسله يې ترآدم عليه‌السلام رسولې او بيا کښته ترغياث‌الدين غوري پورې.

که چيرې دا سلسله په اوسنۍ ژبه بيان کړو د ضحاک نوم عربي شوی؛ که نه په اصل کښې سهاک ياساک دی. دوهم ددهٔ اولاد سام، شنشباني اوسوري ياد شوی دی.

وائي ضحاک ډيرکلونه ژوندی ؤ اودنيايې نيولې وه. هغه يې په‌اوو اقليمو ويشلې وه. له‌دهٔ (ضحاک) سره يوه‌شپيلۍ وه‌چه اووهٔ سوري يې درلودل. په هراقليم کښې به‌چه ښورښت رامينځ ته شو. له‌هماغه سوري نه‌به‌غږ پورته شو. ضحاک به بيادهغه تدبير کاوهٔ. ځينې خلک وائي ضحاک کوډگرؤ. ځينې وائي ددهٔ پوهه اوذکاوت له‌حده زيات‌ؤ. او په سلهاؤ نورې قصې لري.

ضحاک ته يوآهنگر پاڅيد اوخلک يې وپارول. له‌دې څرگنديږي چه‌دصنايعو خاوندان دډير رسوخ خاوندانؤ. لکه صنعتي نړۍ او د ضحاک شپيلۍ هم يوډول کمپيوټرؤ.

که‌دا خبرې مبالغه وي؛ مبالغه هم له يوڅه حقايقو نرچينه اخلي. پخپله مينځ ته نه‌راځي. او مبالغه داچه‌لږوته ډيرووائي، او په‌کښې يوڅه وي.

کومې خبرې چه طبقات ناصري دغوريانو دسوابقو په اړه کړي هغه به‌وگورو بيا به ددغې زمانې څيړنو اونتايجوته راشو.

وائي ضحاک « سهاک » دعلوان زوي ؤ هغه دعلاق هغه دغوض هغه دآرم، هغه دسام‌او هغه‌دنوح (ع) زوي ؤ. ځينې مؤرخينو ويلي چه ضحاک د اروند اسپ زوي ؤ.

ځينې داسې روايت کوي کله چه ضحاک ماته وکړه دهغه دوه ورونه اودوه زامن نهاوند ته‌لاړل. مشر ورور يې سور نوميدهٔ. هغه امير شو اوکشر ورور يې چه‌سام

نومیدهٔ ، سپه سالار شو.

امیر سور یوه لوردرلوده او سپه سالار سام یو زوی درلود چه په وړکتیٔ یې سره ورکړي ؤ. یو له بله سره خواږه ؤ . سپه سالار سام مړ شو . زوی یې یو زړور او پوه ځوان ؤ چه حاسدان یې وموندل . حاسدانو امیر سوري ته شکایتونه وکول.داکا خوایې ترې بده کړه او وېې غوښتل نجلۍ یوهٔ بل پادشاه ته ورکړي. نجلۍ خبره شوه . داکازوي ته ئې خبر ورکړ. دواړهٔ له هغه ځایه وتښتیدل او دغور غرونوته راغلل او په مندیش کښې یې واړول .

دخدای تعالی(ج) رضاوه . ددوئ له نسله لوی او معظم پادشاهان څرگند شول. ددوئ کورنۍ په شنسب مشهوره شوه.په هند ، سند، امیر فولاد ، امیربنجي، دوهم امیر سوري، دریم محمد سوري، سلاطین پادشاهان او امپراتوران دترکیې او عراق له سرحدو ترجنوبي هند پوري ورسیدل.

ACKU

# اوسنی تاريخي نظر

# او

# په دې برخه کښې انقلاب

په کال ۱۹۲۰م د سند په حوزه کښې په ميليونو پخې خښتې وموندل شوې. چه دملتان اولاهور داورګاډي په لاره کښې انګليسانو له هغوکار اخست. په دې حال دوئ ته داسوال پيدا شوچه داپخې خښتې دکومې زمانې وې. تاريخ پيژندونکو په کيندلو اولټون پيل وکړ.

ثابته شوه چه دبشر زوړ مدنيت نه په مصر کښې دی، نه په يونان کښې او هغه دلته همدغه انقلاب چه پخوانيو نظرياتو تغير وموند اوخبره بلې خواته وګرځيده.

همدغه مدنيت دسور، سومري، سورياني دی چه بيا بين النهرين ته تللی اودغه اړيکه ثابته شوه.

سهاک دسور بله ځانګه ده؛ چه عربو ضحاک کړې ده. همداچه غوري معظمو پادشاهانو له خپل نوم سره سام وايه، دهغه وجه هم داده. چه سور او سام سره ورونه وو. دپخوانی نړی خوځښت دهمدغو قومونو له پلوه شوی او دغه مبحث دهمدغه اثر په لومړی برخه کښې هم راغلی دی.

اميرکروړ جهان پهلوان چه لومړی پښتو حماسه شعر له ده ٞ را پاتې دی، هغه هم سوري ؤ.

« زهٔ يم زمری پردې نړی له ما اتل نشته»

دغوړتاريخ ډيره ځيړنه غواړي؛ چه ډير ښارونه او جنګي کلاګانې. صنايع، ادب اوعرفان يې ترټولو لوړۇ . او په زړورتيا کښې بې ساري خلک ۇ، دوئ دغـور وړې غزنۍ سيمې نه له غزنويانو، سلجوقيانو او خوارزمشاهانو سره جګړې کولې. په پای کښې يې ټول په شا وټمبول . داخبره بويه وڅيړل شي چه ددې طاقت عوامل چيرته وو.دننه په غورکښې که د باندې له غوره؟ دباندې يوازې تجارت کيدای شو چه دغور صنايع نامي وې .

غور دافغانستان يوه مرکزي سيمه ده . دهغه ټول وياړ په افغانانو پورې اړه لري داچه په( ۱۹۹۸ م) کښې پاکستان غوري راکټ جوړکړ ؛ ددې معنی به دانه وي چه افغانستان نور نشته . بلکه داسې به ووايو چه پاکستان په غوري سلطنت کښې يوه برخه وه .

غوري امپراتورۍ کښې ماوراءلنهر ،ايران، هندوستان او افغانستان شامل ۇ.

# سيف الدين سوري ۱۱۱۷م

دی دغور پادشاه ؤ . په فيروزکوه کښې د ضحاک، او شنسب کورنی څخه سيف الدين سوری بوزړور پوه ، ښکلی او غښتلی پادشاه ؤ.

په رعيت ګران ؤ. ده دغزني دنيولو هڅه وکړه ځکه دغزني دربار دغور له استازو سره ښه وضع نه ود کړې.

سيف الدين سوري له خپل وزير مجدالدين موسوي سره دغزني په لور وخوځيدل او هغه يې ونيوه . سيف الدين دخورا برم سړی ؤ . عادل او زړه سواندی ؤ. دی چه دغزني پرتخت کښېنوست. دسلطان لقب يې واخيست. بهرام شاه غزنوي له غزني وتښتيد دهند په لوري او هلته ناست ؤ . له غزني يې لاس ختلی ؤ.

سيف الدين سوري د غزني خلک ونازول اودوئ ته يې سوغاتونه ورکړل. په غور کښې سلطان بهاؤ الدين چه دامپراتور غياث الدين او امپراتور معزالدين پلارؤ پادشاهي کوله.

مخکښې تردې چه دغوريانو دحالاتو نور تفصيل ته ورسيږو بويه وويل شي چه دغور پادشاهان چه ټول شنسباني او ديوه پلار اولاد دی. په څلورو برخو ويشل شوی . لومړی هغه برخه چه په حضرت فيروزکوه کښې وه . دوهم هغه چه په باميانو کښې وه. دريم چه دغزني د سلاطينو په نامه ياديږي چه اعليحضرت سلطان معزالدين محمد سام غازي يې پادشاه ؤ . څلورم هندوستان. چه له همدغو مراکزو يو دلويه امپراتوري اداره کيده.

دغور لومړني پادشاهان په عربي ملکونو کښې دملوک الجبال په نامه يادېدل چه دغرونو پادشاهان ؤ.

بیرته راګرځو دسیف الدین سوري پادشاهی ته . په غزني او هغه بدې ورځې چه بیا راغلې او غزني ښار وران او وسوځید.

سیف الدین سوري چه دغـزني رعیت یې راټول کړی پرهغو یې ویسا وکړه . ټول کارونه یې هغوئ ته وسپارل. یعنې هرڅوک پرخپل ځای پاتې شول. یوازې پادشاه بدل شوی ؤ.

دغـور خلک بیـرته غـور ته لاړل. یو شـمـیـر غـزني کـښـې پاتې شـول. (ټول مسلمانان دي. ټول دافغانستان دي) خوچه ژمی راغـی ډیره واوره وشوه ، دغزنې ځینې لارې بندې شوې. په تیره بیا دغور دغزني پخوانیو ماموړینو چه سیف الدین سوري هرڅه دپخوا په څیر ورپریښي ؤ ؛ بهرام شاه غزنوي ته یې هندکښې ولیکل «لارې بندې دي. غزني کښې خپل خلک دي. غوریان دګوتو په شماردي. بیره وکړه او راشه».

بهرام شاه په بیړه راغی. سوري پادشاه او وزیر دواړو جګړه پیل کړه . حیران ؤ. دوئ ته دنه منلو خبره وه . سوري او موسوي دغـور په لوري ولاړل چه دبهرام شاه لښکر ورپسې ؤ . دوئ یې ونیول. بیا ئې پر اوښ سپاره کړل. د غزني ښارته یې ننه ایستل.

دطبقات ناصري د وینا له مخې دښار په کوڅوکښې ئې وګرځول. له تحقیر اوبې عزتی سره ډمانو ښځو ډمبکي غږول. له کورونه یې ایرې خاورې او نجاست ددوئ پرمبارکو سرو اچول . بیا ئې په ونو پورې میخ کړل. پر پله یې مړي وځړول. علویانو، ډمانو اوماموړینو په دې فضیحت او رسوایي کښې ډیره برخه واخسته . چه هوا توده شوه داخبرې غورته ورسیدې. علاؤ الدین غوري دسیف الدین غوري سوري ورور ملا وتړله چه دخپل بې وزلي ورور بدل واخلي.

تردې د مخه دغور پادشاه سلطان بهاء الدین غوري دغزني په لور دبدل په نیت وخوځید. هغه دګیلان په سیمه کښې ناروغ او بیا وفات شو. علاؤالدین غوري

دفيروزكوه پرتخت كښيناست. دغور او غرجستان لښكريې راټول كړ . د غزني په لور وخوځيد. له بلې خوا بهرامشاه غزنوي چه خبرشو دغزني او هندي سپاهيانئې سره غونډ كړل او دواړه دكندهار شا اوخواته ورسيدل.

سلطان بهرامشاه غزنوي خپل استاز علاؤالدين ته واستول. له دغه پيغام سره !« بيرته غورته لاړ شه او دپلرو په ملک قناعت وكړه.زما دمقابلې طاقت نه لرې. چه زهٔ پيل راولم» .

استازي چه سلطان علاؤالدين ته دبهرام شاه پيغام بيان كړ؛ علاؤالدين وويل:« كه ته پيل راولې، زهٔ خرميل راولم . ماستا هيڅوک نهٔ . وژلي اوتا زما وروڼه وژلي دي. تهخبر نه يې چه حق تعالى فرمائي ( ومن قتل مظلوما فقد جعلنا لولله سلطانا فلايسرف فى القتل انه كان منصورا ) .

كله چه استازي بيرته لاړل . دواړو خواؤ دجګړې تياری وكړ.

مخكښې مو ويلي چه د غور خلک په قوت كښې لكه ديوان داسې دي . هرسړی د يوهٔ ديو غونډې او په پهلوانی او قوت كښې لكه امير كروړ د سلو تنو جنګيالو زورېې درلود .

علاؤالدين غوري خپل دوه سر لښكر او پهلوانان راؤغوښتل چه دواړه خرميل نوميدل .دغه دوه خرميل په رښتيا چه ديوان وو. دجسمي قدرت او شجاعت خاوندان وو .

# خرميلان او د پيلانو جنگ

پيل په دغه مهال کښې لکه اوسنی ټانک داسې ؤ او په هندي صورت جگړه کښې ئې ډير مهم رول لوباوه.

دواړه خرميلان چه يو يې خرميل سام نوميدهٔ او بل خرميل نجي. دواړه دغور دهيوادو رئيسان بلل کيدل. علاؤالدين غوري خرميلانوته وويل: بهرامشاه ماته ويلي چه زهٔ پيل راولم. ما ويلي ؤ زهٔ خرميل. نن به تاسو دواړه يو يو پيل په ځمکه وهئ دواړو لاس پرتندي کښېښود. يعني په سترگو دکښتو از په برخه کښي دواړه لښکرې سره مخ شوې. د بهرام پيلانو رامنډه کړه.

دواړو خرميلانو چه له آسونو کښته شوي وو: ملاوې ټينگې کړې. په منډه اوچټکتيايې د پيلانو خېټوته ځانونه ورسول او له خنجر سره يې د پيلانو خيټې وشيرلې، خرميل سام نجي باندي مړ پيل ولوئيدهٔ او هلته مړ شو او د سام حسين خرميل په چټکۍ ووت. مگر دواړه پيلان وژل شوي ؤ.

علاؤالدين غوري چه داحالت وليد چه يو خرميل مړ شو که څه هم داؤد شاه د بهرام شاه غزنوي زوي ماته خوړلې وه.

علاؤالدين غوري په غصه سرجامې واغوستې او پخپله جنگ ته ورگډ شو حاضرينو وويل چه صاحب! سرې جامې دې ولې واغوستې هغه وويل سرې جامې مې ځکه واغوستې چه ټپي شم؛ د وينو رنگ مې ښکاره نه شي چه دوستان به مې خوابدي او زرهٔ ماتي شي او غليمان به زرور او خوشحال شي.

بهرام شاه درې پلاترغزنې پورې ترتيبات ونيول. خو ټينگ نه شو. سلطان علاؤالدين غوري دومره په قهرؤ چه هيڅ ئې نه اوريدل او مخ پرغزني روانؤ. (۱۱٤۹م ۱۱٥٦م)

**علاؤالدين غوري :** دغه شنسباني سوري غوري پادشاه په شرقي تاريخ کښې جهانسوز معرفي شوی. چالاک او غوړژلی. کاتب هذا سطور ( قدرت الله حداد ) چه اته شپيته کلن يم لا په همدې عقيده ؤم چه مخکښې بيان شو. کله چه مې د تاريخ په پاڼو کښې وليدل؛ دی يو ميړنی افغان ؤ. او ډېرو صفاتو خاوند. لکه اديب عالم پهلوان ميړنی اوځوانمرد.

دبهرام شاه لښکرو چه د پيلانو لويدل اودغور دپادشاه سرټږجامې او پخپل تن جګړه کښې وليد؛ نو په شالاړل او علاؤالدين په قهر تعقيبول. څو دغزني ښارته ورسيد. بهرام شاه دډريم ځل دپاره دغزني عام خلک جګړې ته راؤبلل. بيايې هم ماته وخوړه اوعلاؤالدين په ډېر غضب ښارته ننووت په ځان نه پوهيدهٔ . هم دورونو وژنه او هم په جګړه کښې دغزني له خوا دځرميل غوندې يوځوان اونور دوستان له لاسه ورکول.

نو اووه ورځي شپې يې د غـزني ښکلی ښاروسوځاوهٔ ( ۱۱۵۰م) دغـزنوي پادشاهانو مقبري يې پرته له دريو تنو ونړولې.

علاؤالدين په زرهاؤ خلک مړهٔ کړل . د سوري شهزادګانو مړي يې فيروزکوه ته يووړل. په ډېر احترام. بيائې نو په شعرکښې ځان وستايه او د زړو ښځو او بوډاګانو په عذريې دنورو خلکو له وژلو ځان وژغورهٔ اود خپل ورور د پاره يې دقرآن ختم وکړ . دی شاعر او شعريې په دې مضمون دی .

زهٔ هغه يم چه مهال زما پـه عـدل وياړي

زهٔ هغه يم چـه خزانه زماله ښښنې ژاړي

دی دفيروزکوه پرتخت کښيناست. خپل نوميالي وريرونه يې بنديان کړل اودهغوئ دپاره ئې دښه ژوند وسايل برابرکړل. ددهٔ عقيده داسې وه چه دنوميالـيـو او لويو شخصيتو مراعت ښائي په هرحال کښې وشي.

دغور پادشاهانو دسلطان سنجر سلجوقي رعايت کاوهٔ او هرکال يې وسله ورليږله علاؤالدين غوري هغه وسله بنده کړه. سنجر دغور په لور وخوځيد . علاؤالدين هم

دجگړې دپاره چمتو شو. سلطان سنجر یو هوښیار او میړنی سړی ؤ. هرات ته نژدې د «ناب» په سیمه کښې سره مخامخ شول. دغور دلښکر ښي لاس ته شپږزره کسان دسنجر خواته واوښتل او په دې توگه دعلاؤالدین غوري لښکر مات شو. اودی دسلطان سنجر په لاس کښې کښېووت.

کله چه دسلطان سنجر خلکو (منصبدارانو) دعلاؤالدین پښو او لاسونو ته ځنځیرونه اچول. دهٔ وویل: یو مطلوب لرم چه باید یو په یو سلطان سنجر ته وویل شي. خبره سنجرته ورسیده. هغه وویل چه مطلوب؟ دې ووایه!

علاؤالدین وویل: ماته داسې زولانې او ځنځیرونه راوړئ چه زما په نظرکښې ؤ چه سلطان سنجر به پرې تړم، سنجر وپوښتل هغه څه ډول ؤ؟ علاؤالدین غوري وویل: ماتاته د سپینو او سرو زرو ځنځیرونه راوړي ؤ ځکه ته پادشاه یې په هرحالت کښې باید له عادي خلکو توپیر ولرې.

سلطان سنجر پخپله هغه دطلا اونقرې ځنځیرونه اوشاهانه جامې ولیدې. ځان سره یې فکروکړ. داسې سړی ددوستۍ دی. نه ددښمنۍ. نو سلطان سنجر پر علاؤالدین غږ وکړ، علاؤالدینه! ته زما وروریې. زما ځاروي او خزانه درسره یوسه. گټه یې اخله. که غزان مې مات کړل؛ بیرته به یې وغواړم. که هغوئ زه مات کړم. ښه به داوي چه ته یې وخورې چه دهغه لایق یې. سلطان علاؤالدین له ډیر مال او ځاروو سره فیروزکوه ته راستون شو.

دغور زمریالي خلکو وروسته له دې نورې سیمې ونیولې. لکه بامیان، تخارستان بست، د اور اودخراسان دتولک کلاورته دتولک خلکو په خپله خوښه خوشې کړه او یوه شاعر دا بیت سلطان علاؤالدین ته ووایه.

براسپ نشسته‌ای ورلک فورلک
مقصود توتولک است اینک تولک

معنی یې داده چه پرآس ناست کښته پورته گرځې، ستا مقصود دتولک دی. دادی

تولک.

وروسته له سلطان علاؤالدين غوري دده زوي سيف الدين محمد پادشاه شو. دی يو ښه منظر، عادل، جواد او پرخلکو زړه سواندی پادشاه ؤ.

خپل دتره زامن يې چه دپلار په مهال کښې يې بنديان کړی شوي وو؛ خوشې او بشپړه آزادي يې ورکړه. دغه دوه نوميالي غياث الدين او معزالدين ؤ چه يويې سيف الدين سره پاتې شو اومعزالدين خپل تره ته باميان ته لاړ. دده تره ملک فخرالدين هلته پاديشاه ؤ. سلطان سيف الدين سوري دخپل پلار خلاف قرامطه او ملاحده مړهٔ کړل. دينداري په غور کښې ډيره شوه.

مگر سيف الدين چه دغزانو دجگړې دپاره مروته لاړ؛ هلته دده سپه سالار عباس شيش د خپل ورور په کسات مړکی. او په دې توگه غوريانو نوميالی بريالی غياث الدين غوري دحضرت فيروزکوه پرتخت کښيناوهٔ؛ چه دپښتانه پرمخ داقبال ور پرانستل شو.

# سلطان سلاطين غياث‌الدين ۱۱٦۲ - ۱۲۰۲م

۱۱۷۲م کښي چه غزانو سلطان سنجر له پښو غورځولی ؤ. بيا غزني هم غـزانو ونيو. د سلطان غياث‌الدين غوري لومړی کارداهم ؤچه يو دروند لښکر يې غزني ته وليږه چه غزان له هغه ځای وباسي. غزانو چه سنجر او خسرو ملک غزنوي يې مات کړي وو، دفتوحاتو په نيشو کښې وو. کله چه دغور لښکر غزني ته نژدی شو، غزانو کلک مقاومت وکړ، نژدی ؤ دغور لښکر مات شي.

ځکه دغزانو زړور لوي رېی (شاه علم) ئې دغوريانونه ترلاسه کړ او دخپلو عسکرو په لور لاړ. کله چه د غوري ښي اوکيڼ اړخ سپاهيانو وليدل چه لوي رېی د غـزانو په لښکر ورننوت دوی فکروکړ چه سوبه ددوی شوه. په خپل بيرغ پسې يې الله اکبر کړل. خدای تعالی بری ورکړ. له غـزني ئې غزان وايستل او سلطان معـزالدين يې دغزني دپادشاه په توګه وټاکه او دسلطان محمود په مرکز کښيناست.

بيا دغزني اوغور لښکر دهرات په لور لاړ. هلته دهرات خلکو خپله پلوي وښودله بيا نيمروز بيا ګرګان، بلخ، تالقان، ميمنه، اندخوی، پنجده، مرو، سلطان شاه، جلال الدين خوارزم شاه ځو پلاماته وخوړه اودبغداد دخليفه المقتضي خلعتونه دسلطان غياث‌الدين غوري په نامهٔ را ورسيدل.

دسلطان غيـاث الدين غوري قدرت دهندوستـان ختيځ اودچين ترسرحد ورسيد دجيحون له غاړو ترهرمز پورې خطبه ددغه نوميالي سوري افغان په مبارک نامه ويله کيده او دري ځلويښت کاله ددهٔ د دولت ستوری ځليده. عدل، علم عرفان تولې امپراتوری ته ورسيد. په دغه امپراتوری کښې عرب، عجم، هند او هرڅوک شامل شول. ددهٔ مبارک عمردري شپيته کاله ؤ. مبارکه هديره ئې دهرات دجامع جومات په

خوا کښې ده.

دغـه دوه ورونه یعنې سلطان غیـاث‌الدین اوسلطان معـزالدین ډېرو کـمالاتو خاوندان وو. له هغې جملې به دوه مثاله ورکړشي چه‌دپښتون تېر هرچاته څرگند شي.

لومړی داچه‌یو وروړ سني مذهب اختیـارکړ اوبل شیعـه. په‌دې ترتیب ټول مسلمـانان خوشحال وو. تصوف او نورو فـضایلو رواج ومـوند. او دوهم به‌یې هم همدلته ذکر شي.

کله‌چه غیـاث‌الدین سام پادشاه شـو، معـزالدین محمـد سام خپل تره ملک فخرالدین سره په‌بامیانو کښې ؤ. له تره یې اجازه واخیسته او دفیروز کوه په لوري وخوځید او کله‌چه‌یو لږ بریاوي ترلاسه شوي ملک فخرالدین ځان دپادشاهۍ مستحق او وارث وباله. دامهـال په بلخ کښې علاؤالدین قماج سنجري ملک ؤ او په هرات کښې تاج‌الدین یلدز، ملک فخرالدین دواړونه مرسته وغوښتله. دواړه پوهیدل چه دشنسبـاني سوري کورنۍ مشر ملک فخرالدین دی.نولښکرې یې دفیـروزکوه په لوري وخوځولې، غیاث الدین اومعزالدین هم‌خپلې لښکرې چمتوکړې.

دهرات ملک تاج‌الدین یلدز غـورته نژدې ؤ. ژر را ورسیـد او غـوښتل یې چه مخکښې تردې علاؤالدین قماج اوملک فخرالدین را ورسیږي. فیروز کوه ترلاسه کړي. دوه میړني « عـیاران» له‌لښکر دپاره مونږ دوه کسـه بس یو. غیـاث الدین سلطان اجازه ورکړه. دواړه په‌آسانو سواره شول. په بیړه لکه دباد د هرات د لښکرو په‌لور په منډه شول او توره یې ښوروله چه زمونږ له‌یلدز سره کاردی. سپـاهیانو په اشاره وروښود چه‌هلته دی.

دوئ تاج‌الدین‌یلدز وپیژاند. په‌توره ئې وواهه. له‌آسه یې‌وغورځاوه او په‌منډه شول. دیلدز عسکرو چه داعیاري او زړورتیا ولیده اوملک هم ټپی شو نو په شالاړل.

بیاغوري‌لښکر د بلخ په لوري لاړ او قماج ئې ونیو او مړئې کړ.

سلطان دعلاؤالدين قماج دبلخ دملک سرپرې مينځه . په جعبه کښې يې خپل تره ملک فخرالدين ته وليږه . ملک فخرالدين لاجعبه کتله چه دغورلښکر محاصره کړ. خوسلطان غياث الدين اومعزالدين را ورسيدل دواړه ورونه له آس پلي شول . دتره لاسونه يې ښکل کړل. په ادب او لاس په نامه ورته ودريدل. بيايې بوتی اوپرتخت يې کښيناوه. فخرالدين ملک چه داحال وليد، وئې ويل ستاسو څه او څه کري په ما ريشخند وهئ . جگ شه او د باميانو په لوري يې حرکت وکړ. دواړه ورونه يوپادوه کروه لار ورسره په احترام لاړل اوخپل تره يې دباميانو په لور رخصت کړ. دغه مهال ملي رېبی يا بيرغ تور او سور ؤ.

# د سلطان غياث الدين فتوحات

هرات، بلخ، فارس، کالپور، تخار، خرروان، حروم داور نيشاپور، لاهور، ملتان، خوارزم، مرو، پنجده، خجته، ساکتان اونور . . . .

## سلطان معزالدين (۱۱۹۰م - ۱۱۲۳م)

په دغه مهال کښې سلطان غياث الدين محمود دسلطان غياث الدين غوري زوي په فيروزکوه کښې پرتخت کښينوست. قطب الدين ايبک په لاهور او هند، ناصرالدين قباچه په سند او اچه کښې د ملک تاج الدين يلار په غزني، سلطان بهاؤالدين سام په باميان کښې پخپله سلطان معزالدين سام دژمي له مخې په لاهورکښې ؤ او په اوړي کښې غزني ته راتی. دهٔ لکه خپل ورور يو پراخ هيواد وساتهٔ.

له توري بحيرې تر گنگا جمنا پورې له ماوراءلنهر نيولې تر هرمز پورې، دهٔ ټول هند داسلام په دين روښانه کړ.

سلطان معزالدين محمد غوري زوي نه درلود. هغه سپه سالاران اواميران چه ده روزلي ؤو. له دهٔ وروسته پادشاهان شول. قطب الدين ايبک په تاريخ کښې ددوئ دغلامانو په نامه يادېږي. څنگه چه پښتانه نه پخپله غلامي کوي نه غلامان ساتي. دغه ښاغلي چه خلک يې غلامان بولي معزالدين محمد غوري خپل زامن بلل. د سلطان محمود غزنوي له دورې نه مغلي کورنيو پورې شپږ پيړۍ دا سلسله روانه وه داسې نه چه ټول غلامان وو. غلځيان، لودي، سوريان له همدغو اميرانو څخه پادشاهان شول.

سلطان معزالدين محمد غوري سوري شنسباني دحيدر زمان اورستم ثاني لقبونه هم گټلي وو. دی يو زړور بې باکه غورځنده ميړنی ؤ.

دهٔ په ډهلي کښې پر رای گوبنده ورتيوپ کړ او دهغه دوه غاښونه يې مات کړل او بل په خوارزم کښې د خوارزم پر پادشاه باندي وغورځيد. ددهٔ بريدونه دزمري وي. دهٔ هم سالار حسين « خرميل » درلود چه خوراميانی ئې په شا وتمبول.

کله چه سلطان غياث محمد سام په هرات کښې وفات شو سلطان معزالدين په خراسان کښې سمدلاسه راغی اودچارو واگې يې په لاس کښې ونيوې. ددهٔ فتوحات ترغياث الدين وړاندې لاړل او دهند ډيره برخه يې ونيوله او ډير لږ پاتې ؤ چه خوارزم ته وخوځيد.

په خرميل پوه نه شو چه داکوم لقب ؤ. يا منصب. خودومره پوهيدای شوچه داکلمه په عيارانو پورې اړه لري. دغوريانو په دوره کښې لکه دصفاريانو دعيارانو ياميړنو دوره وه.

سلطان معزالدين محمد سام سوري، د منهاج السراج دوينا له مخې، دومره عادل ؤ چه ليکل يې گران چار دی.

سلطان معزالدين چه په غزني کښې د ملاحده له خوا په شهادت ورسيد؛ د غزني په خزانه کښې يو زر پنځه منه الماس موجود ؤ. ( نه پوهيدل کيږي چه من هغه مهال بيادجواهرو په برخه کښې څومره درون ؤ ) .

دسلطان معظم معزالدين دسلطنت دوره دوه ديرش کاله او اته مياشتې وه.

ددهٔ داوري پلازمينه غزني او خراسان ؤ. او دژمي لاهور اوهند. قاضي القضات نظام الدين ابوبكر.

دټولو هيوادو لښكري قاضي شمس الدين بلخي ؤ.

نژدې ملكان ( واړهٔ پادشاهان ) ملك حسام الدين كرماخ ، ملك عزالدين خرميل ، ملك مبارزالدين محمد عيش ، ملك ناصرالدين حسين اميرشكار ، چتردار ملك

اختیارالدین، ملک شیرملک وجیري (کیدای شي وزیري وي) ملک‌الدین سور، امیر حاجي غازي.

د سلاطینو غونډه (چه طبقات ناصري کښې دایره لیکل شوې) ملک ضیاءالدین، سلطان علاؤالدین محمود، ملک بدرالدین دگیلان، قطب الدین، ملک ناصرالدین بامیان، توقیع نصرمن‌الله د سلطان معزالدین محمدبن سام غوري هغه بندګان چه پادشاهۍ ته رسیدلي دادي: سلطان تاج‌الدین یلدز، سلطان ناصرالدین قباچه، سلطان قطب‌الدین ایبک، سلطان غیاث‌الدین عوض خلج، سلطان علاؤالدین خلج.

ACKU

# فتوح او سوبې

کالیور، مالوه، بهار، لکنهؤ، کالنجر، مانبوري، کوکه‌نبوراک ،مرو ، طوس ، جناباد ، نسا ء، باورد ، سبزوار ، شارستان ، پنجده ، خوارزم ،لاهور ، ملتان ، سیالکوټ تبرهنده ، اجمیر ، هانسي ، سرستي ، کهرام،میرټ، ډهلی، کول ،بنارس، تهنگر ، بدوان ، سوالک، اودهندوستان ډیره برخه .

سلطان معزالدین غوري دغور ،لوي افغانستان‌هند ایران، خراسان یعنې دختیځ لوي پادشاه ؤ.

دی یوتکړه سپه سالار، عادل بادشاه ،لوي سیاستمدار ،میړنی ؤ. چه مستو زمریانو او پیلانو باندې یې حملې کولې، اوبې له خدایه له‌هیڅ موجود نه‌یې ویره نه درلوده.

دی دافغانستان او اسلام ویاړلی شخصیت‌دی. دده مبارک مرقد په غزني کښې اودسلطان غیاث‌الدین مبارک مرقد په‌هرات کښې دی.

دسلطان معزالدین محمد غوري له مړینې وروسته دچنگیز او مغلو بلا راغله.

دغور دمعظمو پادشاهانو رپی یعنې بیرغ توراوسور ؤ. ښي لاس اوکیڼ لاس ته درول کیدل . دافغانستان بیرغ تورسور او زرغون شو. دروسانو تر یرغل پورې همدغه رنگونه ؤ. بیا ولیدل شي څه کیږي؟

# لودي سكندر (۱٥۱۷ - ۱٤۸۹م)

## او دده د پراخ نظر پاياب د ملي تاريخ برخه

بهلول لودي ۸۹ - ۱٤٥۱م څلويښت كاله دهند پر شمالي برخې ترېنګال پورې يو پياوړی سلطنت جوړكړ. ده دخضر خانيه له ساداتو ډهلی ترلاسه كړ. دده په مهال كښې ډير پښتانه له افغانستان نه هلته لاړل او ديوې غوره طبقې په توګه يې ژوند كاؤه.

وروسته له هغه چه بهلول ارواښاد شو. دده زوي سكندر لودي دډهلي دسلطنت پرتخت كښيناست. (دهند په يوه نوي تاريخ كښې) په ۱۲۰ مخ كښې داسې راغلي: سكندر لودي، دهند په ټولو سلاطينو كښې هوښيار پوه، غوره، زياركښ، ښكلی سلطان ؤ. چه دډهلي پرتخت ناست ؤ. دهٔ پخپله شعرونه ويل او پوهان ئې پرخپل ځان راټول كړي ؤ. له هرې خوا يې پوهاند خلك ورېلل او دوئ ئې هڅول چه كتابونه وليكي. د روغتيايي څېړنو مركز يې جوړ كړی ؤ. د هغه نوم يې « مدينة الشفاء » ايښی ؤ. دلته ډول ډول درمل او ناروغی پلټل كيدې بيا دعامو خلكو دپاره وركول كيدې، دهٔ پوخ سلطنت درلود. موسيقی ته يې ډيره پاملرنه وكړه اونوې « لاريی » او آهنګونه يې جوړكړل چه د « سكندرشاهي لهجه » په نامه ياديدل. خلكه د خپل استعداد له مخې په ادبياتو موسيقی، حساب، كميا، درمل او نورو صنايعو دپاره روزل كيدل. همدا شانې سكندر لودي دمذاهبو ترمينځ د پخلاينې لاره غوره كړې وه.

لكه داسلام اوهندو مذهب ترمينځ يو ډول دګډ ژوند كولو لاره سكندر لودي داسې ښودله چه دی يوښه پير اوملا دی او په ديني مسايلو پوهيږي.

دهٔ داسې يو نظام جوړكړ چه د هرډول عقيدې د پاره لاره خلاصه وه. له پورتنيو توضيحاتو داسې ځرګنديږي چه وروسته مغلي دولتونو ددهٔ سياست تعقيب كړی وي.

قطب مـينار چه ددهٔ په مهـال کښېږ بشـپړ شـوی دهند دلويو اديانو لکه اسلام اوهندوتوب ننبې لري.

ددهٔ خپلواکي دوٌلس دپاره وه چه ده ځان يوکلک مسلمـان عـادل سلطان معـرفي کاوهٔ .د نورو اديانو سرد يې تعصب نه درلود اوخلک خپلواک ژ چه هره لاره دخپل دنيا او آخرت دپاره غوره کوي . دده په مهال کښې ډيرخلک په اسلام مشرف شول. ځکه جبر اواکراه نه وه . نه چادچا مخه نيولی شوه . همدا ؤ دهٔ چه دوه مذهبي طريقې يوه د اسلام کـبيـر په نامهٔ اوبل د راهي ننډا په نامـهٔ په (۱٥۳۸- ۱٤٦۹م ) نانک د سيکهو مذهب را وايست چه اسلام اوهندوتوب يې سره شريک کړل .

( يو خـــدای ،خالق دی. له خدای تعالی سره مينه درلودل) په لومړي سرکښې همدا ؤ . رښتيا خبره داده چه داکرښې ليکم دا دهغو ځوانانو تشويق او هڅول دي چه دغه سپين ږيري ته يې کوي. او زما دزړهٔ دبن گلان دي. يو ملي درد او يوکمی شته چه ځوانانو دزړو لن نيولې او زړو دځوانانو چه ان شاالله له دې مبه يو څه ترلاسه شي.

جوته خبره ده چه دلږو او نيمگړو معلوماتو ليکل هم ترنه ليکلو ښه دي. ځکه هره خبره چه وليکلی شي دتاريخ برخه وگرځي، او دبل دپاره يوسند دی.

دآزاد خان دغه تصوير چه دلته په دې رساله کښې ليدل کيږي په لومړی مرحله په تاريخ کامل ايران کښې وليدل شو؛ چه ديوې ډلي له مخې کوم مصورايستلی ځکه « فوتو » نه ښکاري.

بيـا يوقلمي ډيرخام رسم ترې شوی بيـا يو رسامـې « فـرحت » وايسـتـه . په وروستی مرحله کښې ددريو تصاويرو له کتلو وروسته انجنيرشاه زمان درمل رسم کړ چه دآزادخان شخصيت اوبرم ښيي. که چيري هغه لومړی تصوير چه اتلسمې پيړی کښې ايستل شوی ؤ ؛ نه وای، دغه تصويرته رسيدل گران ؤ . پرته له احمد شاه بابا چه دهغه تصوير هم مصور ايستلی نورزياتره تخيل دی او دآزاد خان تصوير خيال نه دی. څه ناڅه حقيقي څيره ده .

# دمیړني آزاد خان افغان په آذربایجان کښې مشري

د لوی خدای په نامهٔ دادی دیوه غیرتي عیار په برخه کښې څومره معلومات چه لرم هغه تاسو ته ړالی کوم.

پښتانه میړني خلک دی او میړانه یې پښتونولي ده. دا دیوهٔ کړهٔ خبره ده؛ نه دکوم نسل اونژاد او داخبره په ډیرو مدارکو ثابته شوې ده.

آزاد خان په درې نومونو یادیږي: افغان، غلځی، سلیمانخیل.

سیدال خان ناسر توریالی ؤ. آزاد خان میړنی اوعیارؤ. دواړه خوارهٔ ملګري وو.

کله چه نادر افشار کندهار ونیو؛ سیدال خان په ربړ او کړاو کښې پاتې شو؛ نو خپل عیار ملګری ور په یاد شو «ناره»:

سیدال خان ویل لښکر مې سو بزې بزې
آزاد خان سلیمانخیل مې توري شپې وخوړ که ورځې
آزاد خان سلیمانخیل «بیامنګولې سرې کړې»
پرمیدان ورګډ شو، دمراد علي غاړې بیخ یې ورته پریکړې.

دلته یوبل مهم عنصر شته چه دهغه شتون تاریخ جوړوي او هغه دمیرویس نیکهٔ لور او دشاه محمود افغان خور ده. یعنې بي بي زینب چه سلامونه دې پردې وي. دا نارې او شعرونه دهغې دي. کله چه پرپښتنو له خپلې بې اتفاقۍ بدې ورځې راغلې وې. او زمونږ مبارکه بي بي هغه صحنې داسې تمثیلوي: «که زور دی د خدای له لویه زوره.

چالیدلې زینبووه اوس زخمیانو ته له کوره وزي سرتوره.

مونږ چه دبرم يوه دوره يادوو: په هغه کښې دډيرو ملي عناصرو شتون دی. دامهال سيدال خان آزاد خان، مدد خان او په زرهاؤ نور دي چه د مقاومت کرښې يو په بل پسې جوړوي.

زينب دپښتنو بي بي محترمه مبارکه، توريالۍ ننګيالۍ ده چه دهغې داشعارو له مخې مونږ په مسايلو پوهيږو. زنيبو وايي:

که ثاخي له شنه زړه مې وينې ثاخي

اصفهان پرون زمونږ ؤ نن نادرته په کښې نراوښځې ناځي

دې ملي اتلان په خپلو تاروکښې ياد کړي دي. دې لوي خدمت کړی دا زمونږ اوستاسو حقداره خـور ده.کـه نازو اناده، زرغونه مورده او زينبه خورده . خو چه د آزاد خان قصه پاتې نه شي.

# آزاد خان افغان

دپوهاند حبيبي دپيښليک پهچواله زمونږ ميړني اتل په ۱۷۵۵ کښې پهاصفهان کښې پهخپل نامه سکه ووهله. چهددغې سکې نمونې داصفهان په موزيم کښې شته.

تاسو ښهپام وکړئ. په دهلي او اصفهان کښې دافغان په نامه په يوه مهال کښې سکه وهل کيده!

آزاد خان يوعيارۀ. دی وروسته دکندهار له سقوط او دسيدال خان لهړنديدو نه دايران شمال تهتللی او پهآذربايجان کښې ئې خوارهٔواره سليمانخيل ټول کړي؛ نور ميړني څهآذري کردي عرب او ايرانيان ئې هم په لښکر کښې شامل کړي او هلتهيې يوقدرت ترلاسهکړی: « زهٔ پهدې نهپوهيږم چهدی څنګه لهقندهاره چهد کندهار ددفاع پهمهال کښې له نادرشاه افشار سرهٔ څنګه هلتهورسيد ».

خو دا دواړه ثابتې دي.

آزادخان دزړې او هنر خاوندۀ. پهميړنتوب کښې پهلوان ۀ او په ادبياتو کښې هم يوڅه برخهلري، سيدال خان ناصر هم شاعرۀ؛ چهپته خزانه کښې يې شعرونه راغلي. پهنوروژبو پوهيدل توره او قلم دواړه په کارول دادپښتنو ميراث دی. لهامير کروړه نيولې ترخوشحال خان پورې بيا ميرويس نيکهاو احمد شاه بابا.

هره چاره د پښتون ترمغل ښهده
اتفاق ورڅخه نشته ډير ارمان

ارمان بيا ارمان اوس بل ارمان دپښتو ژبه ده . چه تر اوسه پښتوته پوره پاملرنه نه ده شوې. دادی تردغهګړی پښتو رسمي ژبه نهده اعلان شوې. آزاد خان سرهاته زره

سلمانخيل وو چه دده ترقيادت لاندې پوره وجنگيدل . په پای کښې تريوه حده له ايران څخه افغانستان ته راغلل اوداعليحضرت تيمورشاه په بادشاهۍ کښې په لغمان کښې ميشته شول. دکابل هوت خيل څخه نيولې ترلغمان پورې دوئ پراته ؤ . ځای ځای.خوپښتانه ځان نه پيژني. ساکزي په ساکو کښې سليمانخيل په چهاردهي کښې توخي په ريشخورو کښې پوپلزي په ديوان بيگي کښې يعنې دکابل په شا او خواکښې ټول دوئ دی . مگر ډيرو پښتو پريښوده. دکابل شا اوخواکښې ساک هوت خيل، تره خيل، اورياخيل ،سليمانخيل ، پوپلزي ، بارکزي پراته او په دې صورت کښې کابل په پښتنو کښې راگيرؤ . مگر په کابل کښې حاکم فرهنگ ياهڅوې غير پښتني پاتې شو. ټول پادشاهان هم پښتانه.کار او بيکاری دې ته وايي چه دکابل په ژرنده کښې پښتانه دل شول.

آزادخان په داسې حال کښې چه يو افغان ؤ؛ څنگه دهٔ وکولای شول د آذربايجان ؤلس پرځان راټول کړي؟ دا موضوع دڅيړنې وړ ده . او له دې داسې ښکاري چه دی دهغوئ په ژبه ډير ښه پوهيدهٔ اوده سره د ميړنتوب فکرؤ چه ميړني پرميړني راټوليږي . همداسې ده پښتونولي چه په حقيقت کښې مړنتوب دی. دآزادۍ مفکوره پښتانه په پښتونولۍ پښتانه کيږي نه په نسل او نژاد.

دپښتنو په قائدينو کښې داخبره ليدل کيږي تاسو غوريان او سوريان وگورئ چه دهندوستان پادشاهي يې خپلو نوکرانو ته پريښوده .

يا په کال (۱۹۹۷م) کښې دغزني دغلځو له خوا سلطان محمود دامير عادل سبکتگين پرځای پادشاه شو. د سلطان لقب يې اختيار کړ. دی ديوهٔ غلام زوي ؤ. خودغه غلام دامير عادل لقب گټلی ؤ.

دلته دوه کيفيته ليدل کيږي . يو دا چه پښتانه په نسل اونژاد پسې نه گرځي. ميړنيو توريالیو او عادل خلکو پسې روان دي. که سلطان معزالدين محمد غوري سوري بن سام دآسيا لوي امپراتور ؤ. واک اوواگ يې خپل يوهٔ نوکر قطب الدين

ايبک ته ورکړ.

دغور يو مشر ابدال کلزی گوډ تيمورته تسليم نه شو. څوچه گوډ تيمور لاس وروغځاوه او د وروری غرپي پرې وکړ.

سلطان سنجر علاؤالدين غوري ته د وروری لاس اوږد کړ. خبره دا ده چه علاؤالدين غوري، ابدال کلزی،آزاد خان، احمد شاه بابا ټول ميړني خلک وو.

## ميړانه او ميړنتوب څه شی دی؟

خوشحال خان وائي: «ميړنی نه مورلري نه پلار»

په ښکاره يوه ترخه غوندې خبره بريښي. مگر حقيقت دادی چه ميړنی پخپله ميړنی وي. پخپله خبره دريدل دزړهٔ او د خولې خبره يوه کول. دنورو گټه دځان ترگټې ښه بلل، په حق قضاوت کول، مظلوم له ظالمه ساتل.ددغو صفاتو مجموعه پښتونولي ده.چه افغانولي او افغانيت هم ورته وائي ميړني ته، عيار، پتي اوغازي وائي.

ميلمه ساتل. سيمه يا پناه ورکول، پښتانه داخبره طبيعي گڼي. چه دښيگړتوب په ښه والي حتی حيوانات هم پوهيږي دمروج الذهب په تاريخ کښې راغلي چه سورياني پادشاه په غزني کښې دخپلې مانۍ پربام ولاړ ؤ چه يوه مرغۍ چغيدله. دځلمي پادشاه پام شو. چه کتل يې يو مار د مرغۍ ځالې ته روان ؤ. د؟ غشی په ليندۍ کښې کښيښود مارېې وويشت. گړی وروسته مرغۍ ورو ورو وزرونه خوځول. ددهٔ په لوري راتله. پادشاه وويل: دا له مانه دمار دوژلو په وجه مننه کوي.

مظلوم له ظالمه خلاصول پښتانه دطبيعت يوه برخه بولي اوخوشحال خان عيار ميړني پتې او غازي داسې معرفي کوي:

پــه جهان دميړنو دي‌دا دوه کاره         يا به وخوري ککری يابه کامران شي

دخوشحال په ديوان کښې دميړنو پرځای ننگيالو راغلي دي خودننگيالي اوميړني توپير نشته. ننگيالي ميړني دي.ميړني ننگيالي او دلته دميړني بحث دی.

دتاريخ کامل ايران په بله برخه کښې ليکل شوي : « کريم خان زند دوه غښتلي غليمان درلودل چه يويې آزاد خان افغان ؤ او بل يې حسن خان قاجار . قزوين ته نژدې دکريم خان او آزاد خان ترمينځ جگړه وشوه. آزاد خان کريم خان ته دومره کلکه ماته ورکړه چه دی اړ شو چه اصفهان او شيراز هم پريږدي دکيلو يه غرونوته وتښتي .

دلته يوه پيښه کيږي: په « کمارج » کښې چه ډيره نرۍ لاره ده ، دغرونو په مينځ کښې يې له آزادخان سره جگړه پيل کړه . په دغې جگړې کښې دآزادخان لښکرمات شو . کال (۱۱٦۷ع) ».

له پورتنيو جملو څخه څرگنديږي چه په لږه موده کښې دايران دسلطنت دپاره درې تنه چمتو شوي وو چه کريم خان زند، آزاد خان افغان او حسن خان قاجار ؤ . مگر آزاد خان په يوه دره کښې راگير شو . کريم ددرې واړه سره ونړول او په خپله له خپلو لښکرو سره دمينيح ځايه درى ته کوز شو. دواړه خوا وې تړلې وې او کلک تاوان يې آزاد خان ته واړاوهٔ.

آزادخان يې له صحنې نه وايست چه په دې مهال کښې کريم زند د ورورۍ لاس وروغځاوهٔ . چه دعمرتر پايه له دهٔ سره په عزت اوسيدهٔ. آزاد خان سره لا هم ډير خلک وو چه کريم خان ساتل . کريم خان زند ځان دايران پادشاه اعلان نه کړ. په ځان باندې يې دوکيل الرعيا نوم کښينبود . دى هم يوميړنى ؤ.

# آزاد خان او احمد شاه بابا

افغان مؤرخ عزیزالدین وکیلي پوپلزایي چه اوس هم ژوندی دی؛ دوکیل الدوله عبدالله خان له کرړې څخه دی. دی ښه خطاط اومؤرخ دی. ده چه کوم کتابونه داحمد شاه بابا او تیمورشاه دراني په باب لیکلي؛ ډیر مهم سندونه لري او ددغو اسنادو یوه لویه برخه دده کورنی میراث دی چه په کتابوکښې یې له هغوګټه واخیسته. څرګنده خبره ده چه دده تألیفات پردوو روښانو مدارکو ولاړ دي.

ددراني تیـمـورشـاه مـؤلف وایی: « آزادخـان داحـمـدشـاه بابا پلان ونه مـانه اوګنډاسنګه په خپل کتاب دراني احمدشاه کښې وایي آزادخان د احمدشاه بابا پلان ونه مانه.

داخبره ډیره ځیرنه غواړي چه حقیقت څه ډول دی. او هم دپلانو تفصیل باید څرګند شي.

ددراني احمدشاه په کتاب کښې ویل شوي چه آزاد خان دخلکو په مخ کښې خپل پلان څرګند کړ. داسې چه په راتلونکي مهال کښې دسولې دتأمین دپاره اوددې دپاره ټول غښتلي وو هندوستان، افغانستان او ایران یوه کاسه شي. بیا به هیڅ یو کمزوری نه وي ټول به د وروری په فضا کښې ژوند کوي.

اوس څرګنده نه ده چه د پلان تفصیل څه ډول ؤ. مسلمه خبره داده دا یو سیاسي اقتصادي اونظامي پلان ؤ.

زه په همغه حدودو کښې خبرې کوم چه اسناد راسره دي، پخپله کتابخونه کښې ددوو سوو په شمار کتابونه لرم. هغه کوم چه کتاب واخلم نه په امانت. که چیرې نور مدارک په لاس راغلل بیا به یې دمقالې به توګه ولیکم.

**دآزاد خان مړینه او د احمدشاه باباخپګان:** په کال ( ۱۷۶۰م ) احمد شاه بابا د آزاد خان په مرګ خورا ډېرخپه شو چه یو ننګیالی افغان چه دافغان په ننګ ئې توره تړلې وه ، له دې نړۍ نه لاس په سرشو. ددراني احمد شاه کتاب کښې لیکل شوي «کله چه احمد شاه (بابا) دآزاد خان له مرګ نه خبر شو؛ دی ډیر خپه ؤ . کتاب وائي د احمد شاه (بابا) دوه ګونې حالت ؤ . خواشینی په دې ؤ چه یومیړنی افغان مړ شواو خوشال په دې ؤ چه خپل یوازنی حریف یې له مینځه ولاړ. » .

اوس چه د آذربایجان واکدار آزاد خان افغان روح له تنه بیل شو؛ یو بل افغان به یادکړو چه هغه دداغستان پښتون پادشاه سرخاني خان الکوزائي دی.

آزاد خان افغان تل دافغان په نامه یاد شوی ؛ دڅانته غلځی یا سلیمانخیل نه ویل.

دا چه آزاد خان سره اته زره سلیمانخیل وو؛ دوئ ټول افغانستان ته نه دي ژاغلي یوازې ددهٔ کورنۍ راغلې چه تیمورشاه دراني لغمان کښې ځمکې ورکړې.

احمد شاه بابا ږکولای شول درست ایران اوهندوستان ونیسي. دایران اودهند یوه برخه یې ترلاسه کړې مرو او سرخس ددهٔ په لاس کښې ؤ.

چه دهند دملکو فتحه مې روزي سوه　　　　بس ایران لره په توغ په نغاره ځم

(احمد شاه بابا)

مګر احمد شاه بابا له بخارا نه یوازې خرقه مبارکه راوړه . دایران یوه لویه برخه یې دنادر افشار لمسي شاه رخ او هندیې مغلي پادشاه ته چه هغه هم احمد شاه نومیدهٔ پریښود. البته په دغه ساحه کښې سکه ددهٔ وهله کیده او چلیده . خطبه ددهٔ په نامه وه . په دې خبره څوک سم نه شي پوهیدای چه احمد شاه بابا آزادخان ته څه وړاندې کول؟

ګنډاسنګه دې خبرې ته اشاره کوي چه آزاد ویل احمد شاه بابا دې دپادشاهي مقام دمیرویس بابا کورنۍ ته پرېږدي او احمد شاه بابا داکارنه شو کولای . څکه هغو کسانو چه احمدشاه بابائې دپادشاهي ګډۍ ته ورساوه؛ هغو خلکو دانه منله .

البتـه ددې دپاره چه‌داسې يـو لـــوي پلان‌عـملي شي ددې دپاره يومناسب فـرصت اولويې جرګې تـه‌ضرورت ؤ.

هركله كه‌داسې يوكاركيږي دهغه مركز به‌افغانستان وي. ځكه چه افغانستـان غزنې هيواد دی څوک پرې راتلای نه‌شي.

خلك يې ميړني اوجنګيالي دي. په‌هره توګه چه وي د حوزې خپلواكي ساتلای شي.

په‌پښتنو كښې غلځي اودراني دي او نور غـرغښت اوكرلاڼي داسې نه‌دِه چه فيصله ددراني ياغلځي وي. يوه پادشاهي هله ټينګېدای شي چه دټولو پښـتنو خوښه اوسلاوي. يعنې تا كونكي نه‌غلځي دي نه‌ابدالي. تاكونكي نور پښتانه دي چه داوضاعو حالاتو، شخصيت اوپلان له‌مخې څوک ټاكي. يعنی غلځي اوابدالي په خپل عمل ثرګندوي. فيصله به‌دټولو لويه‌جرګه كوي. ميرويس نيكه‌له‌كندهاره دخپلواكۍ بيرغ پورته كړ او كله‌چه‌دپښتنو دبې اتفاقۍ له‌كبله‌چه‌اعليحضرت شاه اشرف يې دنادر شاه افشار په‌مقابل كښې يوازې پريښود نونادرلومړی دهرات‌ابداليان ووهل. بيا يې دكندهار غلځي او دغه‌پيښه به‌دټولو پښتنو غلځي دراني، غرغښت او كرلاڼ هريوهٔ فرد فرد ته يوښه سبق وي او چه‌پيړۍ پيړۍ يې‌بايد په يادولری. په تيره بيا دپښتون‌ځوان نسل دې دپښتون او پيوستون ساتنه په‌غاړه واخلي او له رحمان بابا دي واوري:

مرتبه به‌دې دمچ او دميږي شي زرهٔ په غورو غوښومه‌تړه همای

له‌دې مطلوب دادی‌چه پښتـون بويه‌لوړ هدف ولري. په‌ځاني ګټـو پسـې دې ونه ګرځي. مونږ تر اوسه‌چه دوه مشران يادول؛ ميرويس نيكه او احمد شاه بابا. اوس دريم هم‌شته‌چه آزاد خان پلار دی. يعنې پلار، بابا، نيكه شو. آزادخان دخپل قابليت له مخې يولوي سړی دی‌چه‌دهٔ يوه آسيايي حوزه تأمينوله‌او هغه‌دسكائيانو ياساكانو دولت يې جوړاوهٔ. چه‌دآسيا لويه برخه‌يې په‌لاس كښې وه.

داحمد شاه بابا پلان ددهٔ له اشعارو او عمل څرګندیږي :

د رقیب د ژوند متاع به تار په تار کړم چــه په تورو پښتانــه کا ګوزارونه

دعزیزالدین فوفلزائي په قول له آزاد خان سره اته زره سلیمانخیل وو. مګر ددهٔ د ژوند ځینې برخې تراوسه روښانه ، نه دي. چه دهٔ دنادر افشار په زمانه کښې څه کول؟ ګنډاسنګهـ وایي دی دنادر افشار یو جنرال ؤ . افغان تاریخ کامل وایي چه دنادرافشار تر وژنې وروسته آزاد خان په آذربایجان کښې دخپلواکۍ اعلان وکړ.

دامــان الله هوتک دخــپلواکــۍ لمرڅــرک اودبي بي زینب لــه اشعــارو داســې څرګندیږي چه دی د کندهار ددفاع په وخت کښې په کندهار کښې اوبیا دایران شمال ته لاړ.

څوچه ډیر اسناد اوکتابونه وکتل شي یا د آذربایجان د همغې زمانې تاریخ وکتل شي.

لوستونکي به فکر کوي چه دا اته زره سلیمانخیل څه شول؟ دهغه ډیره برخه په آذربایجان کښې دهٔ، او په داغستان کښې ورته الکوزي ویل کیږي چه د پنځوس زره په حدودو کښې داسې پښتانه تراوسه ایران کښې شته چه اوس لا هم پښتو وایي. په هجرت کښې دافغان روس جګړې کښې نور هم ورغلل . په مازندران کښې ډیر بنګښ اوسي؛ مګر لکه دهند پښتانه پښتو او پښتونواله یې پریښې . د (خانواده های حکمران مسلمان ) په کتاب کښې ددغو پښتنو حکمرانانو ذکر راغلی چه دوئ د آسیا په ډیرو ځایو کښې حکومتونه کړي دي.

# سرخاني خان الكوزى

# دداغستان واكدار

په دې ورځو كښې چه (۱۳۷۸ش) داسد يا زمري مياشت ده ؛دداغستان خلك دروس په مقابل كښې پاڅيدلي او په يوې نابرابرې جګړې ئې لاس پورې كړى. اوس د چېچنيا اوداغستان نوم لوړ دى. په ټولو مطبوعاتو اوراډيو ګانو كښې يې نوم اوريدل كيږي. داهم دروسيې يو جمهوريت دى.

له نيكه مرغه په دغه جمهوريت كښې هم يوه پښتانه دسرخاني خان ياسرخائي خان الكوزي په نامه حكومت كړى. سرخاني خان هم لكه آزاد خان يو غښتلى پښتون دى. سرخائي خان له يو شمير الكوزو سره هلته پادشاه شو. دده له حكمروايي چه الكوزي خبر شول كرار كرار پسې ورتلل. داڅرګنده خبره ده چه الكوزي به هلته ډير وي او نن به په دغو جګړو كښې برخه لري.

دسرخاني خان الكوزي په باب خورشيد جهان دميرزامهدي تاريخ جهانگشيان له قوله يولږ په زړه پورې معلومات وړاندې كوي. ددغه عاجز په فكربنايي دغه ميرزا مهدي به دنادر افشار منشي وي كه چيرې داسې وي دهغه خبرې چه په همغه مهال كښې له هرې خبر ې خبريدهٔ . ډيرمهم سنددى. داچه سرخاني خان څنګه دغه لوړ مقام ته ورسيد چه اوس هغه وڅيړو.

دآزاد خان په برخه كښې مونږ نه پوهيږو چه كه دهٔ د كندهار په دفاع كښې برخه اخستې وي نوڅنګه دنادر افشار جنرال شو ؟

كيداى شي ددهٔ د غښتلي توب له كبله يې دى خپل جنرال ټاكلى وي. مګر

دسرخاني خان ژوندليک روښانه دی. يوازې دده هوښياري اوګړنديتوب کافي ؤ.

وائي سرخاني خان الکوزی له يو شمير الکوزو سره دروم سلطان (عثماني پادشاه) ته لاړ. څرنګه چه ده خپل کارونه په ډيرکفايت سرته رسول. د سلطان له خوا دداغستان دوالي په توګـه مقـرر شو. ددوئ يولقب پاشا دې. چه پاشا جنرال يا والي ته وائي. دده د پاشـايي په دوران کـښې ډيرو الکوزو هلتـه ځمکې ترلاسـه کـړې. سرداري او زمـينداري يې ونيـوله. څرنګه «شـمـخـان» «جارو» ډير استـعـداد ترلاسـه کړ او دداغستان ښه ځايونه يې ونيول.

سرخاني خان دالکوزو او نورو ابدالي پښتنو په مرسته ټول ياغيان له غرو راکوز کړل. د ترک له عثماني امپراتور سره دهغه قدر ډير شو. دداغستان ټول واک اوواګ دده شو. داهغه مهال دی چه نادرشاه افشار (۱۷۲۹م) کال په حدودو کښې دعثماني ترکيې پر متصرفاتو بريدونه کول.

دترکيې عثماني امپراتور دنادرشاه يو لړ شرطونه ومنل. کله چه امپراتور خپلو واليانو يا پاشايانو ته خبرورکړ ټولو ومنل. مګر سرخاني خان الکوزي هغه ونه منل اونادرافشار ته يې په توره اوميړانه ځواب ورکړ.

دسرخاني خان دغه ميړانه چه نورو «پاشايانو» وليده هغوئ د سرخاني په لاره لاړل سرخاني الکوزي سربيره پرهغه دموسی خان په لاس نادرافشار ته سخت جواب ورکړ چه: «مادداغستان اوشيروان هيوادونه دالکوزو په توره فتح کړي، سلطان احمد خان عثماني شهنشاه (هغه مهال دروم په نامه ياديده. نه دترکيې. ځکه چه شرقي روم ؤ) حق نه لري چه ماته ستا په برخه کښې مثال راکړي (مثال -فرمان) نادرافشار چه داخبره واوريده په غصه شو. نو له ډيرو لښکرو سره يې دداغستان اوشيروان په لوري حرکت وکړ او سم دواره ئې حمله وکړه. سرخاني خان بريالی شو چه دهغه يو څه پوځ ونيسي يا يې په شا وتمبوي.

يوه پلا سرخاني خان سوله وغوښتله. نادر افشار وويل چه سرخاني دې

پخپله راشي. سرخاني باندې داخبره بده ولگيده. وېې ويل مانه غوښتل چه دواړه خواؤته مسلمانان مړهٔ خوته ډيرمغروريې زهٔ به دې غرورمات کړم.

وروستـه له دې نادرشاه افشارته دافکرورغی چه راځه پښتون په پښتـانه ووهه. نوالکوزی ته يې الکوزيان راوستل. داسې چه عبدالغني خان الکوزی يې سره له الکوزو اوابدالي لښکرو داغستان ته ولېږهٔ. دلته دسرخاني د پاره ډېره گرانه شوه چه مخکښې مسلمانان ؤ، يعنی ايرانيان اوس الکوزي. وروريې درته راوسته.

د جگړې په ډگر کښې يې خپل الکوزي وليدل. له جگړې يې لاس واخيست. برې دنادرشو. چه تيره يې په تيره وهله. الکوزی يې په الکوزي وواههٔ ميرزا قوام الدين قزويني ددغـسې پېښې تاريخ په ابجد حروف په يوه بيت کښې داسی راوستی.

چوخــوانـدندالخـيــرفــيـــمـاوقـع

بـريـدنـد شـــاهـانزشــاهـی طـمـع

له تاريخي پېښو داسې ښکاري چه نادرافشار دسرخاني له ماتې وروستـه کندهارته خوځيدلی وي. چه سيدال ناصر دشاه حسين دمرستې دپاره هلته تللی ؤ. د شاه حسين هوتک زوي چه محمد نوميده، هم له نوميالي سپه سالار سيدال ناسرسره يوځای په ډگرکښې جنگيده.

سرخاني دنادر لاس ته ورنه غی. مگر نادرافشار دهغه خزانې دقموق په ښارکښې ترلاسه کړې. نادر هغه الکوزي چه ددهٔ په اسارت کښې ؤ؛ هغه وبښل. وروستـه له سرخاني خان ددهٔ قوم يعني الکوزي يوځل دنادر مخې ته ودريدل. مگر داځل نادر له ځانه سره پښتانه درلودل. دکندهار د ښار فتحه چه لس مياشتې اوږده شوه، دغه مهال بياهم نادر درې سوه ابدالي پښتانه دښار پرديوالونو وروخيژول.

سرخاني خان الکوزي يوتکړه پښتون ته ابدالي ياغلځی دعبدالغني خان الکوزي لښکر دهغه مخې ته ودريدل او هغه يې په شاتلو ته اړکړل. نه پښتون ؤ نه ابدالي.

داحـمد شـاه بابا عـبدالغني خان الكوزي سره له دې چه ددهٔ خپل ؤ، هغه يې دبې پښتـوگی يعنی دپښـتنولی سره دمخـالفت په جرم اعـدام کړ. له هغې جملې دسرخاني خان الكوزي تكول اونورې داسې خبرې چه له عاطفې ليرې وې.

اصلي كـيف دپښـتنو خوځښت دی. چه په اتلسمې پيړۍ كښې ميرويس نيكه وخوځـول. په پاى كـښې اسلام خـان په تهـران كـښې، آزاد خـان آذربايجـان كـښې اوسرخـاني خان په داغستان كښې دخپلواکۍ رپې وربول. احمد شاه بابا په ډهلي کښې داغسـتان اوشيـروان ځنگ پـه ځنگ پراته دي. خوشيرواني اوالکوزي هلتـه نشتـه. هغه په افغانستان کښې دي.

دتاريخي تحليل له مخې آزاد خان سليمانخيل اوسرخاني خان دواړه افغان اتلان ؤ چه يويې غلځی او بل يې ابدالي دی. لکه دنادر افشار پـه مهال كښې لومړی دهرات ابدآلي وتکول شول، بيا د كندهار غلځي. هغه ځوک چه تاريخي فكر لري دواړه پښتانه دي اودغلیم دپاره يودي. سرخـاني خـان تـه خـپل الكوزی ودريد. د كندهار پـه ښـار ابداليـان وختل. د نادر افشار دپاره. او دا هم كيدای شي چه هلتـه احمد شاه بابا بندي ؤ. دهغه او ذوالفقارخان دپاره.

كه دا ومنل شي چه تاريخ د راتلونكي د پاره وي نو دغه نيمگړتياوې بويه سمې نه شي اودادځوان نسل کار دی.

# د پښتنو تاريخ د ميړنو تاريخ دی

يوه مهمه منبع په تاريخ کښې چه هغه دهيروډوټ تواريخ دی چه ٤٨٥ پخوا تر ميلاده ؤ. دغه منبع دپښتنو په باب ځرګندې خبرې لري. دده کتاب تواريخ نوميږي. په تواريخ کښې دپاکت، پاکتي، پاکتيا نومونه راغلي او پرځپل ځای په کار شوي پاکت، پکتويس، پښتو، پاکتي هغه څه چه په پښتنو پورې اړه لري لکه پاکتي جامې، پاکتي ژبه ... پکتيکا ياپاکتيا دپښتنو ځمکه. هيروډوټ ځينې نورقومونه يادوي چه هغه پښتانه دي. لکه سکائيان، لوديان، ماد، او پارت، توري، نرې، سرماتي، بوديني ... ددوئ لباس دودونه، جرګې، جګړې، پناه ورکول او دهغه ساتل، پاکلمني، ميړانه هرڅه ښودل شوي.

په دې کتاب يعنې تواريخ کښې ځيړنه په خپله يوکار دی چه تفصيلي کار غواړي هلته چه دلوديا ملکه وائي: « زه يوه لودي مېرمن يم. يوڅوک ماووينې چه دوهم پيدا شي بويه چه مړ کړی شي! ».

ياداچه سکايي پناه وړونکی غليم ته نه سپاري. تردغه مهال چه اوس له هغه دوه نيم زره کاله تيردي. دپښتونولۍ درک معلوم دی.

**په نهمه ميلادي پيړۍ کښې نارينتوب:** کله چه دخلافت اعمالو اوعاملانو دباج وخراج خبره آسمان ته وخيژوله. نو په سيستان کښې سکزو دميړنو دولت جوړ کړ. په دې دولت کښې نارينتوب عملي شو او دوئ يو مرام درلود چه دغه مواد او تشکيل په کښې ليدل کيږي.

امير

سرهنګ

نقیب

عریف

هرلس میړني یو عریف ( پیژندونکی)

هرلس عریفه یونقیب ( مشر )

هرلس نقیبه یو سرهنگ

هرلس سرهنگ یو امیر

په دې توگه لس زره میړني دیوڅامیرترحکم لاندې اودامیرانو شمیر څرگند نه ؤ. که لس امیران وای نو سل زره میړني نارینه یا عیار ورسره وو. چه دامیر په سرکښې پادشاه ؤ. په دې توگه وروسته لومړی ملي تکل دیعقوب صفار ترمشری لاندې مینځ ته راغی.

## د میړنو مرام:

۱- روحي او بدني روزنه. یعنی میړنی به په روحي روزنه کښې د خدای تعالی دحکم مطابق لمونځ کوي اوبدني روزنه کښې به تکړه پهلوان وي.

۲- زغم درلودل.

۳- دظالمو بډایانو داسې ویرول چه دفقیرانو او بې وزلو مرسته وکړي.

٤- مظلوم دظالم له لاسه خلاصول.

٥- دروغ نه ویل؛ دروغجن ته سخته سزا ورکول.

٦- میړني ځانته پیسې نه ټولوي تش لاس وي.

۷- ځان داسې معرفي کوي زه یو فقیر میړنی یم چه دمسکینانو میړنو اوځوانمردانو خدمت زما وظیفه ده.

۸- میړني له کمزوري نه بدل نه اخلي.

۹- میړني اسیران نه ځوروي.

۱۰- رښتیا وائي رښتیا اوري او قضاوت پخپله کوي.

۱۱- دهرچا پروړی او مالگه یې چه خوړلې وي له هغه سره به خیانت نه کوي.

۱۲- میړني پرخپله ژبه اوخبرې ولاړ وي. عمل او قول یې یو دول وي.

۱۳- صابر به وي.

۱٤- خپل تاوان مني، دبل نه مني.

دځوانمردانو دولت په افغانستان کښې داسې دولت ؤ چه وروسته څلورملي نهضته پرهغه ودريدل.

لومړی ملي تکل : يعقوب او عمرو صفار.

دوهم تکل : امير عادل سبکتگين سلطان محمود.

دريم ملي تکل : سلطان غياث الدين غوري سوري سام اوسلطان معزالدين محمد سام سوري.

څلورم ملي تکل : ميرويس نيکه ، محمود افغان او اشرف افغان.

پنځم ملي تکل : احمد شاه بابا ، شاه ولي خان وزير سپه سالا خان جهانخان.

دوئ ټول پښتانه میړني اوعیاران چه دافغان دځوانمردانو ټولي جوړ وي.

په دې ټولي کښې په زرهاؤ ځوانمردان او میړني ولاړ وو.

سپه سالار سیدال ناسر ، آزاد خان افغان، سرخاني خان. دافغان انگلیس دلومړی جګړې ملي اتلانو ته دپای منارحاجي صاحب نوي لقبونه ورکړل. او هغه دادي:

۱- خانگل خان تره خیل لقب « مست زمری » د بې بې مهرو پر غونډۍ چه دانگلیس په لاس کښې وه ورو خوت .لکه مست زمری.

۲- نایب امین الله خان لوگری لقب « نر زمری »

۳- عبدالله خان اڅکزی لقب « غوریدونکی زمری»

٤- عبدالسلام خان لقب « اژدهار »

دپای منار حاجي صاحب په خپل یوه نظم کښې دبې بې مهرو دغونډۍ جګړه ترسیم کړې؛ چه په هغه کښې ئې پورتني مشران په همدغو لقبو یاد کړي. دده نظم

دخېرلو دی چه په بل کتاب کښې وربانديٍ خبرې شوي. دافغانستان د خاورې تاريخ اوشهرت هويت او پېژندنه دهمدغو مېړنو مشرانو محصول اومیراث دی.

که چیرې ددوئ اخلاق اوکړه وڅېړل شي ؛ داسې ښکاري چه ټول ديوې زمانې اوديوې فاميلي تربيې خلک دي.

دافغان‌دغه نېکمرغي ده چه مېړني مشران، پراخه خاوره اوننګيالي خلک لري.

ثن هم کیدای شي چه دټوکړې کیدو او بدمرغی، ناتار نه دهمغو مشرانو په‌ څېر چه دلته یاد شول اومېړنو دهمغه مرام له مخې خپله «تومن» سرلوړی کړی. که داهمدغه طالبان وي نو خدای تعالی دې توفيق ورکړي او که نه‌وي وګورئ چه راپیدا به‌شي او که‌همدوئ وي نو خدای تعالی دې دوئ ته هم توفیق ورکړي اومونږ ته يې هم‌راکړه.

حمد او ثناء اوشکر دالله‌دی.

# د بي بي زينبې نارې او دهغو اغېزه

دا د ميرويس بابا لور ده او د اعليحضرت فاتح شاه محمودٔ هوتک خورده. د پلار په کور کښې ئې له ملا نورمحمد غلځي څخه ديني علوم، ادبيات، تاريخ او دهغې زمانې کتابونه لکه دايرة المعارف دکيميا، هندسې اونورو سائنسي علوم ولوستل اود منطق او اصولو تدريس ئې هم وکړ. دا مبارکه يوه ډيره هوښياره او ذهينه ميرمن وه. بي بي زينبه شاعره او اديبه وه. ددې په شعر کښې چه پښتو نارې دي؛ وقايع او ملي اتلان ښې ورځې بدې ورځې اونور حالات ثبت دي.

حاجي امان الله هوتک اومولانا يعقوب ناصري دمزارشريف داسديې دمدرسې مدرس دسيوري په کليو گرځيد او دشاه عالم خان له کورنۍ څخه يې داناري راټولې کړې چه ليکلي او اوريدلي بياېې ثبت کړې. حاجي امان الله خان پخپله دحاجي انگوخان له کورنۍ څخه دی. چه دده خپل اسناد لکه عزيزالدين وکيلی فوفلزايي چه نسل په نسل پاتې دي او ډير معتبر مدرک دی.

امان الله خان هوتک په کال ۱۳۳۰ کښې دهوتکو نارې چاپ کړې. د چاپ ځای کابل مجله وه، چه د پښتو ټولنې له خوا خپريده. مولانا يعقوب ناصري د سيدال خان له کورنۍ يعنې هغه ناصر چــه له سيدال سره شکردې ته راغلي او هم له قلات څخه هغه راټولې کړې.

بياوروسته ديوې رسالې په توگه چاپ شوې. پته خزانه هم دبي بي زينب يو شعر لري.

بي بي زينب دشاه حسين دمشاورې حيثيت درلود. دکندهار او اصفهان ترمينځ

ليکونه هم دې استـول او خپل نظريې ورسره ليکه. مبارکه بي بي له بدې ورځې مجبوره شوه چه نادرافشارته پلو ونيسي او خپل بنديان او زخميان وغواړي. نادرافشار کله چه پوه شو چه په پښتونولۍ کښې د ښځې عذر ډېرغټ اهميت لري بيايې د بي بي په پلو کښې بنديان او (۱۰۰۰ تنه) زخميان ورکړل. ځکه دي پوهيده چه پښتانه په پښتونولۍ تړل يو دي.

وروسته له هغه نادرافشار شاه حسين مازندران ته وليږه او هلته يې په زهرومړ کړ. پاتې کورنۍ يې کابل ته نقل کړه.

کله چه دمزارات کابل په حواله داعليحضرت شاه محمود دميرمنې قبر دکابل په شمال کښې وموندل شو؛ امکان لري چه دامبارکه به هم هلته چيرته وي. دافغانستان او ايران ملکه (بي بي) صاحبه نوميده. په (۱۳۷۸ش) دجوزا په مياشت کښې دبي بي صاحبې دقبر د ترميم غوښتنه ديوه فيکس په ترڅ کښې چه ښاغلي عبدالحکيم مجاهد ته ورکړ شو دافغانستان داطلاعاتو او کلتور له وزير اميرخان متقي څخه وشوه.

معظمه ملکه يوازې نه وه راغلې. ددغه عاليشانې کورنۍ نورغړي هم هلته شته همداسې چه دمعظمې ملکې قبرلوحه درلوده نوربه ئې هم لري. له دې توضيحي خبرو دبي بي زينبې ويرنه دشاه محمود په مرگ اوناري دهوتکو دپادشاهۍ دپای ويراو د کندهار دنړيدلو په شپو ورځو کښې ويل شوي ؛ نوځکه هغه ؛ دنويو ځوانانواو پيغلو دپاره دلته وليکل شي.

# د اعلیٰحضرت شاه
# محمود افغان دمړيني مرثيه

اعلیٰحضرت شاه محمود دډيرو مأخذونو په اعتبار دپادشاهۍ په ښوورځوکښې يوناڅاپه دتصوف اوعرفانّ خواته لاړ. اعليحضرت شاه محمود هوتک د۱۷۲۲ع داکتوبر په ۲۲ چه داصفهان ښارته ننووت ده دايران دپادشاه تاج چه سلطان حسين صفوي په خپل لاس دهغـه پرسر ايښىٔ لـه سره ايستـه کړ او په شاهي تخت ئې له کښيناستو څخه ډډه وکړه. په شاهي تالار کښې هغو دوه نسوه ښکلو ارمني اوايراني ښځو او پيغلوته چه په سپينو جامو کښې يې دسپينو زر شمع دانونه به لاس کښې وو؛ دوه صفـه ولاړې وې ونه کتل. دده ناروغي کـمزوري وه . ځکه چه ده به يوه تورته وچه کلکه ډوډۍ له اوبو سره خوړه . تر پايه يې رياضت اوعبادت کاوه. دی پرخپل نفس او غـرور حاکم شو اودرياضيت له دوام سره يې لکه اهل الله خپل ژوند له لاسه ورکړ.

داچه په داسې يوه حساس مهال کښې ده ولې تصوف او رياضت اختيارکړ؟ دپښتنو مشرانو اعتراض هم داؤ. مگر دهٔ خپل قدرت ددنيا له کشش اوداقتدار اودبدبې په مقابل کښې وښود.

دشاه محمود فطرت دظلم نهٔ. هغه چنگيز يا هلاکو نهٔ. هغه پښتون ؤ . دظالم په جنگ کښې زمرىٔ .د مظلوم په وژلو کښې دسياست په تقاضا ددهٔ په وس کښې نه وه ځکه کله چه ئې ايراني شهزادگان ووژل ، شاه محمود ډير وژړل اوخپلې ملتې يې په غاړې کړې. د شهزادگانو دوژلو علت داؤ چه دوئ ته ئې شاهي قصر، نوکران اوهرڅه پرېښې وو. ددوئ او د شاهي کورنۍ اودپادشاه تولو حرمت پرځای ؤ. شاه محمود به شاه حسين صفوي ته داکا خطاب کاوهٔ او له ځانه سره به ئې کښيناوهٔ . دغرمې

ډوډۍ به خوره. چه شهزاده طهماسب وتښتيد او له شاه محمود سره ئې جګړه پيل کړه. دشهزاده طهماسب دا په نظرکښي نه راتلل چه ددهٔ ورونه اوکورنۍ هلته ده.يا دا چه افغانانږ ښه وضع ورسره کړي. نو دسياست اودولتمدارۍ په تقاضا ځلمي شهزادګان ووژل شول. په هساغه ډول چه د شهزادګانو پلار ژړل؛ ده هم ژړل. له دې بحث نه مطلوب دادی چه شاه محمود فقير ،زاهد او عارف شوی ؤ. د افغانستان ايران پادشاهي ورته دخدای تعالی دعظمت په مقابل کښې هيڅ نه ښکاريدې. نودهٔ خپل روحي عظمت وښود. چه له شاهانه دبدبې فقيرانه دوهی ته لاړ.

زمونږ ملي قايد اعليحضرت شاه محمود ولي الله هم ؤ. ځکه کوم قوت چه ده د آمارهٔ نفس په مقابل کښې وښود، بل چانه دی ښودلی.

دښمنانو ويل اختلال مزاج ورته پيدا شو. افغان مؤرخينو هم داخبرې وليکلې. بايد ووايو کله چه يو عارف او صوفي ليونی وي؛ نو دخدای (ج) دوستان به ټول ليونيان وي؟ له نېکه مرغه چه ددې قسم خبرې کول محض يو بکواس وي.

## مرثيه دشاه محمود جنت آشيان دبي بي زينب

| | |
|---|---|
| ږغ سو چه وروز تير له دنيا سونا | کندهار واړه په ژړا سونا |
| زړه مې په ويرکښې مبتلا سونا | چه شاه محمود له ماجلا سونا |
| داروڼ جهان راته تورتم دی نا | زړه دبيلتون په تيغ کړم دی نا |
| هوتک غمجن په دې ماتم دی نا | وپاچهۍ تاج موبرهم دی نا |
| چه شاه محمود تير له دنيا سونا | کندهارواړه په ژړا سونا |
| ځوان ؤ، ميړه دتورې جنګ ؤنا | ولاړ د قام په نام وننګ ؤنا |
| دښمن له ده په وينو رنګ ؤنا | پرميدان شيرؤ ياپلنګ ؤنا |
| افسوس چه مرګ ده په خواسونا | کندهارواړه په ژړا سونا |
| اصفهان پاته تاج ښکورعالمه | چه شاه محمود سونن په ګورعالمه |
| دپښتون لمر سوتيماره تورعالمه | راته دښمن به کړي پيغورعالمه |

پاته سو تخت وتاج د تول اصفهان — زړه يې راسوړ سو كاخوښي دښمنان
وائي پښتون اوس بې پاچا سونا — كندهار واړه په ژړا سونا
اسمانه بيادې څه ستم كاځرگند — وشلاوه تاچه د پښتون وو پيوند
دښمن دې بيازمونږ په ويركاخورسند — چه شاه محموددې كاپه قبركښې بند
پركور موويرشور و غوغا سونا — كندهار واړه په ژړا سونا
هوتكو ژاړئ محمودشاه څه سونا ؟ — پښتنو ستاسو لوي سپاه څه سونا ؟
له اصفهانه ترفراه څه سونا — پاچاچه ؤ حشمت پناه څه سونا
د پښتون پرتم فنا سونا — كندهار واړه په ژړا سونا
محموده ځوان وې ولې ولاړې له ما — له تخت وتاج زهر څه سوې جلا ؟
اصفهان ولې پاته سونا له تا — سر كړه راپور ته چه څه كاندي اعدا ؟
دښمن ولاړ بياشاوخواسونا . — كندهار واړه په ژړا سونا
اورم ناري دغم چه كړمه فرياد — پښتون په مرگ دشاه محمود سوبرباد
زړونه چه تل ؤښادمن سو ناښاد — دساند وړغ دی چه راوړينه يې باد
ماتم زده پيرو برنا سونا — كندهار واړه په ژړا سونا
وروره مقردې ستامولاكاجنت — دردې كاتاته پس له مرگه راحت
روح دې شه ښاد په لويه ورځ دقيامت — مخ دوه روڼ دخداى په مهرومحبت

ACKU

بي بي زينبه يوه سياستپوه وه . يوه عاليشانه پښتنه وه . دا دملي اتلانو اودتوريالیو قامونوستائيواله وه. مونږ كولای شو له دې ډېر څه زده كړو. د سيدال ناسر سترگې چه نادر افشار وايستې، ښكاري چه پرپښتنو يې ډيره بده اغيزه وكړه.داسې چه ډير كلونه ئې په دې غم ژړلي.

پښتني لا د سيدال په سترگو ژاړي — نادرله قامه نور سپين ږيري غواړي

يوبل ځای وايي:

كه ځاله ده زړه مې دغم گي ځاله

ماويل را به سليمانخيل سي اوس خبر شوله ړندوالي دسيداله .قامونوته دخلکو طمع وي چه راشي اوملت له عذابه خلاص کړي، په پښتنو کښې په سوونو قامونه دي. هرقام ځانله يوه فرقه عسکر لري چه داسې عسکر هيڅ بل ملت نه لري.

نادر افشار چه دسيدال سترګې ړندې کړې؛ شهزاده محمد دشاه حسين زوي هم له ده سره ؤ. نو هغه يې بندي کـړ او زولنې يې ورواچولې او پښتنوته هغه مناسب نه ښکاريده.

( ناره)

ليونۍ له ډېرۀ ګوره مه پښتنې دي

محمد خان نادر نيولی په پښو کښې يې بې ډوله زولنې دي.

بې بې زينې داسې سبق پښتنوته پريښی، چه بيا هيڅکله بې اتفاقه نه شي. ځکه ښکاره خبره ده چه شاه اشرف هوتک له روسانو او ترکانو سره په جګړو کښې ستړی ؤ ځکه دوي امپراتوری يې وهلې وې، دلوي پيتر امپراتوري او عثماني امپراتوري ددې خبرې په اهميت څوک نه پوهيدل، روس او ترک ته ماته ورکول آسانه کار نه ؤ. په دغه ستړې ستومانتيا کښې نادر افشار پياوړی شو. نو اشرف هوتک دهرات له ابداليانو او دکندهار له غلځيانو مرسته وغوښته. دواړو مرسته ونه کړه. نادر چه له اشرف فارغ شو؛ نو لومړی يې دهرات ابداليان اوبيا يې د کندهار غلځيان له پښو وغورځول؛ چه دغه نارې د هغو بدمرغيو دي چه بې بې زينبې ثبت کړې دي. قومونه يې هځولي، مشران يې هڅولي يعنی دمطبوعاتو کارئ کاوه.

ددې نارې هرچيرې ويل کيدې چه مثالونه به يې ورکړی شي.

لومړی مثال داعليحضرت شاه اشرف ويجاړ حال.

( نارې)

شاه اشرف ويل ماته جوله دې غم سو

اوس به نادر کله مات سي، چه زما پښتني عسکر ډېر کم سو

دوهم :

که زمری دی اشرف دجنگ زمری دی

اشرف خان ته قام رانغی دنادرځکه پراشرف خان بری دی.

دنادرافشارملاتړ دروسي لښکرو له خوا کیده. چه دوئ په او دسرکښې ماته خوړلې وه . نوداعلیحضرت شاه اشرف له مخالف سره یې مرسته کوله.

دزینبې بي بي دزړه تیرمات اوداسې ناره یې له خولې ووتله .

که ځاځي له شنه زړه مې وینې ځاځي.

اصفهان پرون زمونږ ؤ نن نادرته نراوښځې په کښې ناځي .

دبي بي زینبې له یوې نارې څرګندیږي چه داعلیحضرت فاتح ولي الله شاه محمود مبارک تابوت کندهارته رسیدلی، بیا تراوسه چه مونږ اوڅه نوروته په افغانستان پښتونخوا ، امریکا او اروپا کښې داسې فرصت نه دی مساعد شوی چه مونږ دخپل ملي اتل پر قبر پنځه تنه ودریږو او ددعا لاس پورته کړو او قبریې زیارت کړو.

د بي بي زینب ناره له ملا زعفران څخه مننه کوي چه دشاه محمود ورور مبارک تابوت یې راوړی.

دزعفران احسان مې زړه دی وروره وړی

یو مې راوسپتل وریرونه بل یې دی دشاه محمود تابوت راوړی

بدې ورځې وې، د پښتنو بې اتفاقي او په ملي ګټودنه پوهیدو له کبله راغلې وې بیا داحمد شاه بابا امپراتوري په همدې ډنګه شوه چه ورونه سکه ورونه یو بل ته را پاڅیدل . په نولسمې پیړۍ کښې پښتانه له انګریزانو سره په جګړه لګیا ؤ.

په همدې عین مهال کښې د امیر شیرعلي خان او امیرافضل خان ترمینځ شپږ زره افغانان په شش ګاو کښې مړه شول . هلته دملت اسلام اوخاورې دپاره جنګ ؤ. دلته دتخنیک جنګ ؤ. ځکه امپراتور تللی ؤ او دافرهنګ اوس بویه خپل شي. پښتانه

ځوانانو کښې لړشانته څوک پيدا دي.

پښتانه په کندهار کښې سخت وجنګيدل. حقيقت دا ؤ چه اوبهٔ ترورخه اوړيدلې وې. سيدال خان سپه‌سالار دلته هم دجګړې مشر او سم زمری دی. خو ورځې بدې دي.

ناره:

چه‌نادر ايستلې ترغرهٔ رسالې دي

سيدال خان‌باندې ورووت پرورستو بل باندې حملی دي

ګرځوله سيدال اسپه‌لنډه‌لنډه

شاه حسين هم ورووت ايرانيان يې ترنادره کړه په‌منډه

شاه حسين دغه مغرور بنايسته زرور پادشاه داسې جنګيري چه‌ټول دوست‌دښمن هک اريان‌دي.

ناره:

که‌جنګه دورځې سخته جنګه

شاه حسين پرشا نه ځي ويره کوي د راتلونکي وخت له ننګه

له‌جګړې نادر بيرته په‌شا وزي

شاه حسين دجګړې زمری شاه حسين په‌ښار کله ننوزي

کله‌چه‌نادر دامـقـاومت‌وليـد وئې ويل:« مـينديې‌دې کـښـېنې داسـې زامن‌دې وزيږوي!»

( ناره )

که‌باسي نادر کلات‌ته پوځ باسي

ډارکوي له‌دې خبرې، سليمانخيل، انډر، ساک په‌جنګ نه‌راسي.

ساک همغه میړنی قوي قام چه‌ګومان کيږي ټول پښتانه ددوئ له‌پښته او په ځانګو ويشل شوي، ساکستان، سکائيه چه‌سيستان شوی؛ ددوئ په نوم‌دي

اوساک ترانگلستان پورې تللي، او هلته ئې سکاټلنډ جوړکړی....

تاسو وليدل چه پښتو ادب دقوم د چوپړې دپاره په کار شوی او بي بي زينب ددغه غورځنگ سرواله وه. دپښتون دوياړ شمله همداده.

پښتنو کښې لويان ډيردي. دهغوئ لوي ملتپال سلطان سکندر لودي دی چه شيرشاه سوري وريسې دی. خوشحال خان ددوئ خبرې د شعر په ژبه کړي؛ پخپله هم يو توريالی مشرؤ.

مگر په اتلسمه پيړۍ کښې سربيره پرميرويس نيکه، احمد شاه بابا، شاه محمود، شاه اشرف، آزاد خان سليمانخيل، سيدال ناسر او سرخاني الکوزي ديادولو وړ ميړني دي.

# دمېړنو یاد او درناوی

په افغانستان باندې په لروبره پښتونخوا کښې تاریخونه لیکل شوي، خوهسې چه ښائي نه دي لیکل شوي. چه دغه کار راتلونکو نسلونوته پاتې دی.

کله چه په کال ( ۱۳۵۹هـ ل) کښې د پښتونخوادشعرهاراوبهار دډار مسټر فرانسوي پوه چاپ شو، دپوهاند حبیبي دعمر وروستي کلونه وو. دڅه کوم مضمون په دغه کتاب باندې لیکلی ددغه کتاب څېړنه اوتشریح يې نوي نسل ته پرېښې ده. پوهاند صاحب داسې لیکي: « دډېرې خواشینې او افسوس ځای دی چه دپښتو ډیرکتابونه په نامه پېژنو چه دزمانې ناوړو زمونږ له لاسه ایستلي دي. » .

دهوتکو نارې اود بي بي زینبې هم دمولانا یعقوب ناسري په څخه چه په کلات کښې وریسې کلي په کلي گرځېدلی او هغه زاړه کاغذونه پوهاند حبیبي ولوستل پوهاندصاحب دهغو په کتلو دومره خوشحال ؤ لکه چا کوم ډیر قیمتي شی وربخښلی وي. بیايې دلغاتو تشریح وکړه . له هغې جملې یوه لویه ناره دبي بي زینبې وه چه یوځای کښې راغلي:

خدایه څه شوه د زرملې سپاره او پلي

شاه برج نادر په کور کښې اوس له غرڅه دنارنج سرونه ولي

مونږ په دې نه پوهیدو دنارنج سرونه ولې یعنې څه؟ پوهاند صاحب وویل « نارنج دشاه حسین دقصر نوم ؤ » .

کله چه په کندهار دا حال ؤ، څوک نه ؤ چه د زابل، پکتیکا او پکتیا پښتانه راټول کړي اوټولو پښتنو د خپل دغه غفلت بیه ورکړه . نادر په غلځو پسې تر هندوستانه لاړ . یوشمیر غلځي لکه اشرف خان توخي او نورو پښتنو دنا[illegible] ومنله.

( ناره ):

خو شاه حسين له ميدانه ونه ووت

بيا به دغه افشار وايي پښتون قام دې په جګړه کښې نامرده

مونږ په دې پوه شو چه دسيدال خان قبر په شکردره کښې دی. هلته دهوتکو نارې مولانا يعقوب ناسري راوړي وې. دافکر پيدا شو چه دسيدال خان ناسري يعنې ددغه زمري قبرته يو لوحه جوړه کړو. په دې تصميم مو ننګيالی ناسري خبر کړاو خبره دشکړدرې ناسروته ورسيده. تصميم داسې ؤ چه عام دعوت به کوو. ټول دې شکردرې ته راشي. ډوډۍ به د شکردرې ناصر ورکړي.

دامهال جنرال عبدالرحيم ناصري دداخله وزارت دامنيې رئيس اودپولېس او ژاندارم سربولندوي ۱۳٤۸ هـ ش.

کله چه دا اعلان وشو يوشمير مخالفو خلکو دا آوازه واچوله چه په دې پلمه خلک ټوليږي. بيا کومه بدامني کيږي چه د حکومت ستنې وښوروي. . داخبره سمه نه وه. يوازې د سيدال ناصر درناوی ؤ.

په لومړی وار حکومت پرې نه ښودوو. حکومت سره موخبرې وکړې. اودا اجازه مو واخيسته اوحکومت ته مو ډاډ ورکړ چه دايو تاريخي اوکلتوري حرکت دی.

پوهاند حبيبي د سيدال ناسر د قبرلوحه وليکله چه عيناً پرسپينې ډبرې وليکل شوه پوهاند صاحب بيا وکتله چه سمه وي.

دکتور عبدالحکيم طبيبي دفاتح رود سرسيدال خان ناسر تر عنوان لاندې يولوي مضمون وليکه. ددکتور هيواد پال په نامه خيرمحمد رسام ته دناسر دکوچيانو عکسونه.

دنايب سالار غلام نبي خان ناسري عکس او دبي بي زينبې دا ناره

نادروښکې د سيدال ميړنی ستر ګې

لـــه زمـريانو سوې خـالي دوطن درګې

یعني میړنی ستـرگې څنگه وې ددهٔ سترگې عـقاب ته ورتـه وې. رسم ئې هم وایستل شو. دامان‌الله سلطان دگلنا باد تصویر هم وایستل شو. دزمري میاشت وه شکردرې ته‌لاړو.

دسـیدال دکلي امام‌دقـرآن شریف قـرأت وکړ، او غـونډه په مبـارکـو آیتو پرانستل شوه.

دکابل دښار پښواني ښاروال ډپلوم انجنیر غلام محمد فرهاد په خپلې ویناکښې وویل: «بسم الله الرحمن الرحیم مخکښې تردې مو دڅهاردهي په قلعه سرخ کښې دغازي عبدالله خان اڅکزي دافغان انگلیس دلومړي جگړې اتل پرقبر همداسې یوه غـونډه وکـړه. مونږ ته یې کـفن کـشـان وویل. دوئ دکـفن او تاریخ پـه‌حرمت نه پوهیدل. اوس تاسو وگـورئ چه‌دیوهٔ ملي قهرمان قبرته‌په‌احترام ولاړ یو او دهغه حرمت‌او یادونه‌کوو. هر ملت چه‌خپل تاریخ ته‌په سپکه وگوري دهغه ملت سپکتیا ده خدای تعالی‌دې زمونږ اتلان وښیي او دهغوئ د روحانیت له برکته دې زمونږ هیواد او ملت وساتي!».

بیا مـولانا قیام‌الدین خادم دغونډې مطلوب بیان کړ. دهٔ وویل چه‌داغـونډه په‌دې مطلوب کیږي چه ځوان نسل له‌خپل تاریخ سره آشنا شي.

دوطنپالنې احساس پیدا شي. مونږ چه له کابله شکردرې ته راغو او دیوهٔ ملي اتل درناوی کوو. دعاً مو له کوره هم کولای شوٌ. دا ددې مظاهره ده چه مونږ دخپل تاریخ په بند کښې یو او تاریخي مشران پرمونږ حق لري.

خوافسوس چه دوه سوه اویاکاله وروسته مودې خبرې ته‌پام شو.

بیا دتگاب پښوانی وکیل محمد عمر ساپي وینا وکړه. ساپي صاحب وویل چه‌دا مو ډیر ښه اقدام کړی.مونږ ټول خوشحاله یو. زهٔ تاسوته بلنه درکوم چه‌په یوهٔ مناسب وخت کښې تگاب ته‌راشئ. هلته به‌دغازي عثمان خان ساپي درناوی وکړو. دعثمان خان غازي په کورنۍ کښې ځینې اسناد شته. هغه به‌خپارهٔ‌شي او ددغه غازي تورہ

او ټوپک بهوګورو چه دده په کورنۍ کښې د تبرک په توګه ساتل شوي.

يوه وويل: وکيل صاحب! په دې تبرک دې زمونږ او ټولو افغانانو سترګې روښانه شي.

وکيل صاحب وخندل او وئې ويل سمه ده. وروسته له غونډې به يې په عزت او احترام د ملي امانت په توګه موزيم ته وسپارو.

بيا پيغلې کبرا مظهري د ننګرهار دبي بي زينبې مبارکې هغه مشهوره ناره چه وايي:

که سردی اصفهان د ملکو سردی

چه اصفهان نژدې کوي سيدال ناسردی

زمونږ د سپين روبو احساسات نري شول. په ژړا شول. وئې ويل زمونږ وخت لړ دی نوی نسل ته ووايئ چه مونږ غونډې درانه خوبونه پريږدي.

بيا هغه لوخه چه پوهاند حبيبي ليکلې وه؛ د سيدال ناسر پرقبر کيښودل شوه او لاسونه د آسمان خواته پورته شول چه ای خالقه! ددغه زمري زړه زمونږ په زړو کښې کښيږده او دده سترګې زمونږ د سر په کوپړۍ کښې. آمين يارب العالمين

# دمېړنتوب او عيارۍ معاصر

اروانښاد شـهيد عبدالقدير پياوړی دوردگو دمولوي محمد ابراهيم زوی ؤ. دهٔ دارالمعلمين لوستی ؤ. په بيلو بيلو ښوونځيو کښې يې د استاد په توگه کار کاوهٔ. دپښتو په ادبياتو کښې پياوړی اوښه شاعرؤ .

قدير پياوړی ملي مجاهد ؤ . د (۱۹۷۹م) کال په اکتوبر کښې چه دحفيظ الله امين بدمرغه دوره وه، داکتوبر په لسمه مې په محبس کښې دا اعلان وارید: «يو شمير مفسد وعناصرو غوښتل چه دکابل ښاراوخوا امنيت ويجاړ کړي دامنيتي ويښو قواؤ له خوا ونيول شول» په دې ترځ کښې يې ويل چه دغه حرکت دغلام محمد فرهاد ترمشرۍ لاندې کيدهٔ.

دډگرجنرال سراج الدين او جنرال دکتور عبدالمجيد سپين غر او قدير پياوړي اونورو نومونه واخستل شول.

قدير پياوړي په( ۱۹۸۰ع) کښې جهاد کاوهٔ. بيا ايران ته لاړ. له هغه ځايه پېښور ته راغی. هيچرې دهٔ ته ديوهٔ باسواده په توگه کارنه ورکول کيدهٔ. دهٔ خپله دوډۍ دلاس په تناکو موندله او مبارزه يې دافغان په نامه کوله. يعنې دحقيقي مجاهدينو په ليکه کښې ولاړ ؤ.

له بده مرغه عبدالقدير پياوړی په (۱۹۸۸م ) ميلادي کال کښې دخپل اخواني ډول فاميل له خوا په شهادت ورسيد. ځکه ده دخدای وطن اوملت شعار لاندې کارکاوه.

قدير پياوړی دعياری اومېړنتوب شاعر ؤ چه دادی دهغه دشعر يوه نمونه چه دده دمفکورې پراخوالی او دوطنپالنې احساس په کښې ډير ښه ليدل کيږي.

# عیاري

عشق اوردی په کښې سوځي پتنګان هم
عیارۍ کول خوکار نه دی آسان هم
چه په لاس کښې ککرۍ خپله وانخلي
خوشې لاپې دي ځوک نه کړي په میدان هم
خپل وطن جوړول کار د عیارۍ دی
داثبوت دی په تاریخ کښې په ښه شان هم
عیاري هسې روښانه لاره بویه
د هغو پرمخ لري چه لوي ارمان هم
د یعقوب[1] په څیر د عزم څښتن غواړي
که هر څووي د مسګر[2] له خاندان هم
په ډیر مال هم په دې لاره سفر نه شي
قرباني ده ددې لارې توښه دان هم
د میرویس له هوښیارۍ نه پند په کاردی
د محمود په څیر په لار روان دوان هم
د فرید[3] غوندې چه زړه ورسره نه وي
وژلی نه شي د ځنګلو نو زمریان هم

---

۱- یعقوب دساکستان لوی پادشاه یعقوب صفار.
۲- صفار دمسګر معنی لري.
۳- فرید دشیرشاه سوري نوم دی.

داحمد دتورې شرنګ يې خور آهنګ دی
ددې هسې لوي منزل دمسلمان هم
دمحمود لقب خوهله سلطان کيږي
چه نسکور کړي سومنات دهندوستان هم
دافغان مجاهد برم چه نن لوړ دی
په ګوزارېې استکبار دی په لړزان هم
داهمه کارونه تول په عياری شي
دميوند دملالی دی بيادوران هم
دکابل په زړهٔ کښې سورتنور جوړ شوی
په کښې سوځي دپرديو غلامان هم
کابلرود اوآباسين تل سره يودي
خوشې خيال دې ورته نه کړي دښمنان هم
دخوشحال په څيرورداګي سرهٔ دګرته
عياران دننګ دغولي دي زمريان هم
دزوال پرمخ روان يې هردښمن دی
په شرمونو شرميدلی په جهان هم
که په نن که په سبادی نسکوريږي
دخوړين شوي استعمار زاړهٔ بتان هم
داتکل دی دنن وخت دعيارانو
ماته نشته که وي پاتې يو افغان هم
دشهيد دتکو سروينو پيغام دی
زمزمه غوندې په غوږ کښې دهرافغان هم

یابه جوړشي دآ وطن دافغانانو

یابدله به دنیا شي په بیابان هم

ددښمن غوړونه خلاص کړه ای «پیاوړیه»

دې تصمیم ته رسیدلي عیاران هم

په دغه شعرکښې چه په گرمو شپو ورځو کښې ویل شوی؛ د افغانستان د خاورې او ملي مشرانو ښه یادونه په کښې شوې.چه پخپل نوعیت کښې یوابتکاري، نوی اوبې ساری شعردی.

# دپښتنو تاريخ د ميړنوتاريخ دی

اوس دپښتنو رڼاوي ليدلی کيږي. ددغو رڼاؤ له برکته به، دغه ټکول شوی ملت خپله لار بيامومي او په راتلونکي کښې به وکولای شي خپل غړي راټول کړي، خپل «دود» وپيژني. خپله ځمکه او خپل تاريخ.

دافغانستان سيمه دميړنو سيمه ده. ددغــه ملــت مشران پخــپله ميړني او پهلوانان وو.

دا يوازې امير پولاد او امير کروړ سوري نه دی چه پخپلو متهو نازيدل. شيرشاه سوري لومړی فريد خان ؤ او چه زمري سره ئې پنجه ورکړه بيا شيرخان شو. کله چه بابر مغل له ابراهيم لودي څخه دډهلي تخت ونيو شيرخان سوري دغه تخت بيرته ونيو بيا شيرشاه شو. (۱۵٤۰م) او پـــه هند کښې يې داسې نظام ټينګ کړ چه تر اوسه دهغه نظام نښې نښانې په هند کښې ليدل کيږي.

دشيرشاه پاچاهي ډيره لنډه وه. څلورکاله چه دده کار نامې لکه دپيړی داسې دي. دده نوم په هند او آسيا کښې دومره تازه دی لکه چــه هرچـــاليدلی او پيژندلی وي تراوسه څوځله دهند او پاکستان په پوسته (ډاګ) ټيکټ کښې دده ځــــيره راغلې ځکه دی ؤ چه په نوې نړۍ کښې يې پوسته (ډاګخانه) رواج کړه.

شيرشاه هرڅه چه ترلاسه کړل په خپل قوت او فراست يې ترلاسه کړل. وروسته له سکندر لودي دی دوهم پښتون پادشاه دی چه دهندوستان په تاريخ کښې بې ساری دی. له دې کبله دهند تاريخ وائي چه غوري سلاطينو دهند ځمکه افغاني کړې وه. هندوستان له ډيرې پخوا زمانې نه آريائيانو، سوريانو، سکائيانو خپل کړی ؤ. دا چه نن هند يا ايران يا ماوراء النهر بيل بيل هيوادونه دي دژبو کلتورونو او اديانو بيلوالی

دی. نه دنسل اونژاد.

پښتون چه اصلي ستمه ده، خپله ژبه ئې پښتو او خپل هڅوب يعنې پښتونواله يې نه ده خپله کړې اودا لويه ناسمي ده چه پادشاهانو يې فارسي ويلې ده. يوازې احمد شاه بابا چه پښتو ديوان لري.

ددې ستړې ناسمی، د پاره داوسني نسل وظيفه ده چه هغه اوس اصلاح کړي، اوله ټولو علمي، تخنيکي وسيلو کار واخلي.

پښتون دتاريخ لـه مخې پـه ځان ويسا لري. پښتون پخپله مخکښ دی،بل ته نه گوري. پښتون له ځانه پيل کوي، بل ته نه کښينی. پښتون ځان ستي کوي بل نه ستي کوي، پښتون پرځان (نفس) زورور دی ځان پردۀ نه دی زورور.

سلطان معزالدين غوري سوري بن سام پرپيل حمله وکړه، سکندر لودی پرزمری حمله وکړه-تاريخ ښيي چه پښتانه پادشاهان پخپله دملت په مخ کښې ځاروتلي. احمد شاه بابا چه آباسين ته ورسيد، ځينو لښکريانوئې دۀ ته وويل بابا لــه سين څخه څنگه پورې وزو؟ بابا وويل بسم الله الرحمن الرحيم خدايه دچارو واگې ستاپه لاس کښې دي او اوبوته يې ځان وغورځاوۀ او له اوبو پورې ووت.

کله چه دبابا په پيروی لښکر اوآسان سين ته وغورځيدل دسين او به بندې شوې سطحـه يې جگه شوه. په بـل لوري يې لاره وکړه. پورې وتل آسانه شول. د حضرت موسی (ع) معجزه تکرار شوه. افغانانو په سترگو وليدل. دبابا حضورته ودريدل؛ وئې ويل: بابا ته پيغمبر نه يې د آخرې زمانې پيغمبر محمد (ص) دی چه نبوت پردۀ ختم دی. مگر خدای شاهد دی چه ته دخدای نازولی او ولي الله يې. سلام پرتا احمد شاه بابا.

# دغور ولايت

دغورولايت: په افغانستان کښې له ديرشو ولايتو يو ولايت دی چه باميان، ارزگان، هلمند، فراه، هرات، بادغيس، فارياب اوجوزجان پورې نښلې.

غور يوه غرنۍ سيمه ده چه په تاريخ کښې لوي نوم لري. د غرجستان په نامه ياد شوی چه سيمه يې پراخه ده .دغورځينې سيمې په شا اوخوا ولاياتو کښې گډې شوي.

**دغور تاريخي ښارونه:** په غورکښې په زرهاؤجنگي کلاگانې دي. دغوريانو په سلطنت کښې «فيروز کوه» پايتخت اومهم ښارؤ.

دوهم دمنديش ښاردی،دريم آهنگران او نورښارونه وو چه دبلاد غور په نامه يادېدل.

دغور پادشاهان دغرونو دپادشاهانو په نامه يادېدل؛ چه په عربي ملک الجبال بلل کېدل.

مخکښې تر اسلام او وروسته تر اسلام غور دلوړ نوم خاوندؤ . کله چه دغور اصلي اوسېدونکي دهند دفتوحاتو په مرحله کښې له غوره ووتل. او دهند په هيوادو کښې مېشته شول. بيا غورخېل تاريخي نوم له لاسه ورکړ. دغوريانو دبرم يوه نښه پاتې ده چه هغه دجام ځلې دی. اوس لړ کوړ شوی. خدای دې وکړي چه لکه د جگړې ځلې ونه لوېږي.

دتاريخ له ځېړنو داسې ځرگندېږي چه دغور نوميالو داسې يوماشين فعال کړیؤ چه ددوئ اقتصاد پرې ولاړؤ.

دغور وسله: غوريانو دهغه مهال ډېره ښه اسلحه جوړوله. دغور وسله نوروهيوادوته تله او په شا اوخوا هيوادو کښې خورا نامي وه. دسلطان سنجر سلجوقي او علاؤالدين غوري په همدې وسله جگړه پيل شوه. چه علاؤالدين پر سنجر هغه وسله بنده کړه چه

دغور پادشاهانو ورکوله .

پخپله غوريانو يو ډول وسله درلوده . هغې ته به ئې قلاب وايه قلاب پريو زنځير تړلی ؤ چه له ليرې پرد ښمن اچول کيدهٔ . د غور جنګيالي دقلاب په استعمال کښې تکړه وو.

کله چه ګوډ تيمور دچين له لوري باروت له ځانه سره راوړل اودهغه دجوړولو طريقه يې چاته نه ښوده . دغور وسله چه توره ، خنجر، سيلاوه ، ګرز ، نيزه اوقلاب ؤ؛ له کاره ولويدل اوخپل قوت يې له لاسه ورکړ. بيا دباروتو دوره پيل شوه او دغور زغره وال عسکر په باروتو مات شول.

## سوريان څوک دي؟

غوريان په اصل کښې سوريان دي، پخپله يې هم دسور او سام نومونه له خپل نامهٔ سره ويلي ياليکلي دي.

کله چه دسور خبره شي بيا موضوع يو پراخ بنسټ لري چه هغه بايد په تاريخ کښې وڅيړل شي.

سور ، سورياني، سومر، سومري، آشور دايوه معنی لري او دسند په حوزې پورې تړلي دي. که مونږ دسند په مدنيت خبرې وکړو تر هغه ځايه چه مالوستي دامريکې، انګلستان، اونوروهيوادو په پوهنتونوکښې دسومري مدنيت ځانګړي ماهران شته چه دپوهاند په سويه درس ورکوي. پنځه زره سومري کښې چه دڅلور زرو کلو مدنيت ښئي اوس هم شته ددغوکتبو شتون دتاريخ په څيړنه کښې يو انقلاب راوستی. تر ( ۱۹۲۰م) پورې داسې فکر کيدهٔ چه د مصر او يونان مدنيتونه به لرغوني وي . مګر په دغه کال ( ۱۹۲۰م ) چه دسند مدنيت وموندل شو اودسند اوبين النهرين اړيکې په همغه لرغوني مهال کښې دتاريخ بڼه واړوله .

دلرغون پيژندونکو لـه خوا ډير سوالونه وشول چه سومري په بين النهرين کلده آشور يا سومراکه کښې که سامي وي نوژبه يې ولې نه ده اولرغونې سانسکريټ

دی؟ اوکه دا او هغه خلک یو وي نو کله دلته راغلي؟

سـورلمرته وائي. سـوريا دلمر رب النوع دی. چه دهغـه دعـاجـومـجـمـسـه دکـابل دخیرخانې په غونډۍ کښې ترلاسه شوه. آشوري کتبې کابل کښې هم موندل شوي؛ ماهم کابل کښې يوه ټوټه درلوده چه اوس يې په سرنوشت خبر نه يم.

دسند دحوزې مدنيت او سور، سوري، غـور ، غوري شنسب ، سام ټول هغه شکونه ليـري کوي چه څـوک وواېي پښتـانه بني اسرائيل دي ياعرب. حتى تراريائيـانو هم مخکښې خلک دي.

دوئ جنوبي هندته دګجرات لهلارې تللي او هلتـه دوه سوه ميليونه دي. انقلاب هم دادی چه دا ډول نظريې ومنو.

# ضحاک-سهاک

منهاج السراج په طبقات ناصري کښې د غورشاهي کورنۍ دضحاک له پښته بولي. ضحاک په پښتو کښې سهاک یا ساک دی. که چیرې داخــبره ومنو ، ساک د سوریاسورد ساک څانګه ده چه دوه صهم قومونه دی، هیرودوټ دساک په برخه کښې ډیر معلومات ورکوي. دپاکت، پاکتي، پاکتیسیا ، ساک ، لودیا او ماد په برخه کښې ډیر وضاحت لري.

پوهاند حبیبي وائي ضحاک دسهاک معرب یاعربي شوې بڼه ده. په تاریخو کښې داخبره ډیره راغلې چه ضحاک دنیا نیولې وه او کوډ ګرۀ. پېریان یې هم په حکم ؤ. په اوږوئې دوه ماران وو. چه له دې بابته ضحاک ماران بللی شي. همداسې چه سکندر ذدؤښکرو څښتن بالمی شي؛ سلطان سکندر ذوالقرنین همدغه معنی لري.

دسلطان سکندر ذوالقرنین توپیر دیونان له سکندر سره ډیر خلک نه شي کولای حال داچه سلطان سکندر ذوالقرنین پښتونؤ او افغان پادشاهانو دغه لقب پرځان کښېښود. لکه سلطان محمود، سلطان شهاب الدین ، سلطان غیاث الدین ، سلطان سکندر چه قرآن شریف کښې دهغه ذکر راغلی. هغه ساک ، سکانتاه ،سکاندار ، داسې مبدأ لري.

پښتون په څرګنده یو ملت دی. یو خلک دي اویوه ځمکه لري ، دوئ ، ډیر لرغوني خلک دي او تاریخ ددوئ په زړۀ کښې پروت دی .

نه دوئ پوهیږي چه دوئ دکوم مادي او معنوی میراث خلک دي؟ نه نور. داچه دپښتون په باب لیکم دالیکل نه دي. یوه چیغه ده. یو فریاد دی.

پښتــو یو « کړه » دی دژوند دلوړتیا اوښه والي د پاره دا دکوم نسل خبره نه ده.

هرڅوک پښتون کيدای شي، که چيرې له غيرت اوميړانې زړه توري شي. بيايې پريښودای شي. خو په پښتني ټولنې کښې اوسيدای نه شي. يوې بلې ټولنې ته ځي اوکه اوسي دګاونډ په توګه چه د پښتني ټولنې پښتونولۍ ته به د احترام په سترګه ګوري خودغيرت، همت، دپت او عزت اصول به ساتي.

دميړنو دميړنتوب قصي ډيرې دي. که يوازې سکندر لودي باندې ځبر نه وشي دهغه پيژندل هم يو تخصص غواړي. ځکه د تاريخ له مطالعې ښکاري چه د پښتون ملتپالنې مُبتکر ستر شيرشاه سوري دی. دی دقطب جوړول اودطبي علومو لومړنۍ اکيډمي هم ده جوړه کړې ده. په خدای، توره علم او عرفان ئې عقيده درلوده او يوښه ميړنی ؤ.

## لومړۍ مرکه:

دښوونځي په کتابو کښې مې لوستي ؤ، بشر ددې د پاره ټولنه جوړه کړه چه خير دځان کړي اوشر له ځانه ليرې کړي او په امن ژوند وکړي.

ددغه مطلوب دپاره شرايع رامينځ ته شول قوانين ... پښتنو تيره ومونډله اوپښتونولي يې خپله کړه. دوئ پخواتر اسلام او وروسته تر اسلام ددينې عقايدو په څنګ کښې خپل اصول او قوانين درلودل.

دژوند غايه او هدف دخدای عبادت دی. حلاله نفقه، په سپيڅلتيا اوسيدل.

دخدای عبادت، په ځان او په روح، سپيڅلتيا دځان او د روح؛ بيا ډيرو اصولو ته ضرورت وی څو داهدفونه ترسره شي.

آفتونه، داړونکي حيوان او انسان، حرص، حسد، بغض داهم شته. دځان ساتنه فرض دي.

داټول هغه څه چه وويل شول انساني ژوند يې له کړاوونو سره مخ کړی. په تيرومهالونو کښې وګړو، هرڅه پيژندل او هرڅه يې دخپلې هوساينې دپاره کول.

د اوسني مهال لوي توپير ماشين او تخنيک دی چه گراني چارې يې آسانه کړې اوگرانې يې گرانې کړې. لکه په توره يو سړی وژل کيده؛ په ټوپک لس وژل کيږي.

په بمونو لا ډير. تراتوم بم پورې خبره سوونو زرونو ته ورسيږي. لرغونو وگړو فلز پيژاند، په اوبدلو پوهيدل. حساب او روغتيايي چارو، رنگ، نقش په هرڅه پوهيدل.

دچنگيز آفت اودانگريز آفت په تباهۍ کښې يوشان ؤ.

مونږ نه شرقي پاتې شو او نه اروپائي شو.

هندوستان ته وگورئ يو سر چيرته بل سرچيرته؟ يو سر اروپايي بل سر حيواناتو سره ژوند. پاکستان هم داسې دی چه نه اسلام خپلولی شي نه ډيموکراسي. دواړه چه وزگار پاتې شي بيا په کشمير راولگيږي اوکشميريان به ددوئ دحرص او فريب تاوان گالي.

دافـغـانسـتـان اوپښـتنوکـار په دې لاښـه دی چه په دوئ کـښـې بهلول لودي، سکندرلودي، شيرشاه سوري، شهاب الدين غوري، ميرويس بابا او احمد شاه بابا تير شوي او ډير نور چه له هريوهٔ يې څه اغيزه پاتې ده.

پښتانه چه انگريزانو ژوبل کړي دا نورونه ؤکړي. په هندوستان کښې ئې ددوئ هغه جرړې وايستلې چه اووه سوه کالو کښې غزيدلې وې. يعنې له لسمې پيړۍ چه سلطان محمود هندته راغۍ، بيا سلطنت ؤ.

څومغلان راغلل او وريسې انگريزان. يعنې دچنگيز له اولادې انگريزته ورسيد دمغلو په دوران کښې که څه هم پښتانه سلاطين تللي ؤ. خو دخاقانو، نوابانو، په توگه دوئ پاتې ؤ. لوي لوي ځايونه يې په لاس کښې وو.

انگريزانو دوهسوه کاله په هند کښې د پښتنو بيخ وبنياد وايست. کوم پښتانه چه احمدشاه بابا (۱۷۴۷م) کښې تول کړي ؤ؛ بيرته خوارهٔ شول. حلاله ډوډۍ تري واخستله شوه.

څوک چه حلاله ډوډۍ ونه خوري دهغه ژوند مردار شي. انگريزانو دهند پخوانۍ بنه واړوله. د مسلمانانو حکمراني يې ختمه کړه. هماغه چه له لسمې پيړۍ ترنولسمې

پیړی په هند کښې پاتې وو.

دهند مسلمانان درې برخې شول:

۱- لویه برخه یې هند کښې پاتې شول.

۲- بنګال.

۳- پاکستان.

کیدای شي کشمیر یې بله برخه وي.

دهند بنسټ پالونکي هندوان ورپسې دي. لاهم ددوئ جـړړې باسي. کـه څـه هم دهند قانون پرمذهب نه دی ولاړ.

پاکستـان ملي یووالی نه لري، ژبه نه لري، یوکلتورنه لري. هغه هیـوادونه چه له بیلو ژبو اوکلتورو جوړوي یوه ورځ به لکه یوګوسلاویا ټوکړې ټوکړې کیږي.

د اکثرالاقوام ملتونه ټول په خطر کښې دي.

ښائي چه مونږ په دغې سیمې کښې لومړی د پښتنو په توګه سره غونډ شو؛ بیا دمسلمانانو په صورت.

انګریزانو مسلمانان وویشل او ترغې ترغې یې کړل. بیایې په اقتصادي ستونزو اخته کړل.

## دوهمه مرکه:

په دې پوهیږو چه سلطان سکندر لودي نه خبره چیرته لاړه؟ له دې خبرو تیښتـه نشته خبره دېراخ فکرې ده. چه پایاب یې څه دی؟

مطلوب ته به راوګرځو، لږ وروسته.

پښتانه ایله څلورسوه کاله، له مغلو او انګریزانو سره وجنګیدل. بیا چه انګلیس هند پرینښود؛ روسیې پرافغانستان را ودنګل بیا جګړې شوې.

اوس پښتانه باید غیرت په دوډۍ بدل نه کړي او له رحمان بابا واوري.

مرتبه به دې دمچ اودمیرې شي

زړهٔ په غورو غوښومه تړه همایٔ

# مثالي شخصيت سلطان سکندر لودي

چه خدای ونه غواړي سکندر غوندې، شخصيت نه شي جوړيدای . دلته دغه پښتون شخصيت د يوهٔ مثال او سرمشق په توگه معرفي کيږي:

مطلوب دا چه پښتانه ځلميان دې ئې ولولي او ودې ئې پيژني. مونږ ډير سلاطين، امپراتوران او پادشاهان لرو چه دبشريت تاريخ پرې ښکلی دی.

ماکولای شول اعليحضرت احمد شاه بابا ، ميرويس بابا ، اعليحضرت شاه محمود هوتک ، اعليحضرت شاه اشراف هوتک، يعقوب ليث ، ياد لرغوني تاريخ څخه مثال راواخلم داچه ولې سکندرلودي؟ کله چه تاسو دهغه صفات ولولئ بيا به خپله قضاوت وکړئ چه ولې موډيرې خبرې نه دي پرې کړې.

يوه ښکلې خيره ، يو کلک جنگيالی، پوخ سياست پوه، يو عالم ددين ، يو پرهيزگار، يو عارف ، يومهربان ، زړهٔ سواند ، اديب ، ليکوال ، ساينس پوه ، يوغيرتي او تاريخ پوه ، شعر پيژندونکی . . .

بيلابيلې خېگړې په دهٔ کښې وې. په پای کښې يو عادل پادشاه ؤ . « دهندُ نوي تاريخ » کتاب کښې راغلي چه دهند په ټولو سلاطينو کښې دی يو او ځار او وتلی سړی ؤ.

ACKU

# پراخ نظره پادشاه

دسکندر لودي په‌زمانه‌کښې دمسلمانانو اوهندوانو ترمينځ مشکل نه پيدا کيدهٔ اودی په‌دواړو دينو ښه‌پوهيدهٔ . يوښه مسلمان. ملااو همداسې دهندو په‌دين پوهيدهٔ. په‌دواړو کښې ديني عالم ؤ . ددواړو له‌ديني عالمانو سره ئې خبرې او مباحثې کولې.

دهند په نوي تاريخ کښې دده په‌باب داخبره شته‌چه: سکندرلودي دبيلو فکري او ديني ډلو اومؤسسو دزغمولو قدرت درلو د او هيڅ ډول تعصب يې نه‌درلوده .

مگر پاياب دا شو چه‌دوه فکري ديني ښونځي يالارې جوړې شوې چه يوه اسلامي او بله هندويي وه. د RAMANANDA په‌پلويانو کښې يو مسلمان بيسواده سړی دکبير په نامه‌ؤ. ددهٔ دژوند ځانگړې لارې اوشاعرۍ په‌مليونو مسلمانان او نور خلک جذب کړل. دغه‌سړی ( ۱٤٤۰-۱۵۱۸م) کښې ژوندی ؤ. دده تلقين له خدای تعالی سره مينه‌وه . خدای تعالی خالق پيژندل ، او پر يو خدای واحد اولاشريک ايمان درلودل.

بابه نانک (۱۵۳۸- ۱٤٦۹ ) له هندوايزم او اسلام څخه‌دريم مذهب دسيکهـ په نامه راوايست. مطلوب له‌دې بحث دا چه‌دسکندرلودي پراخ نظر او ډيموکراسي يادعقايدو آزادي بې ډېر ليرې سرحد ته ورسوله؟

خپله‌سکندر په دواړو اديانو ښه پوهيده اوتل به‌يې بحثونه کول اوخلک داسلام خواته راتلل. مگر په هرمهال کښې غولونې شته. دادی‌چه دمختلط دين قصه رابرسيره شنوه او که‌داسې نه‌وای شوې نو د سکندرلودي دمسلمانولو طريقه جبر زور توره‌تهوپک نه‌ؤ. دهٔ په پراخ منطق خلک روزلي وو. او په خوښه او بلنه‌يې خلک

مسلمانول، روحاني جذبه يې درلوده. چه ځان يې پيرباله.

بهلول لودي دسکندر لودي پلار دده پهروزنه کښې هر ډول هڅه وکوله.

**سکندر:** مخکښې لهدې چهد سکندر لودي دلوړ اوغوره شخصيت په باب نورې خبرې وشي پهکاردي چهدسکندر دنوم په باب هم څه وضاحت ورکړی شي. د سکندر نوم پهسکا، ساک، سکايي پورې اړهلري.

ساکستان، سجستان بيا سيستان شوی، سجاوند سکاوند، سکاندره يعنې دسکائيانو دره، سکانشاه، سکائيه، سکاندار يعنې دسکائيانو مشر چهسکندر شوی حتی ويل کيږي چه د سهاک معرب ضحاک دی.

دلتهددې مبحث ځای نهددې دپاره چهپاتې نه شي په تور اوسپين مو راوستل.

ستادعشق خبرې تورې نه دي گلگون دي
داپه داچـــه نوشته په جگر خون دي

## مثالي شخصيت سکندر لودي ( نظام خان ) :

پهدې ليکنهکښې مثالي شخصيت سکندرلودي معرفي کيږي چه په پنځلسمې ميلادي پيړۍ کښې دده نظام اوعلمي کارونو مثال پهنړۍ کښې نهليدل کيده او پرمختللې نړۍ لکه اروپا، امريکا کښې دهغه لارې او اصول عملي کيږي. مگر سکندر لودي هغهپنځه سوه کاله دمخه طرح او عملي کړي وو. چهدلتهبه ئې مثالونه وکتل شي.

۱- دعلمي څېړنو مرکز جوړول اوستورواحوال معلومول.

۲- دطبي څيړنو مرکز «معدن الشفاء» چه هلته لوي طبيبان پهطبي څيړنو لگياوو اوخپلې «څــيړنې يې عامو طبيبانوته ورکولې، څو دخلکو پهمعالجه کښې له هغه گټه واخلي.

۳- د پوهنې په طريقو څيړنه کول له هغې جملې په مدرسو اوښوونځيو

کښې دزد کونکي وهل او رټل منع ؤ.

٤- دموسیقۍ مرکز د «لحجات سکندرشاهي» په‌نامه دموسیقۍ داصولو تنظیم.

٥- داسې یومرکز جوړول چه‌دهرښار دبې‌وزلو شمیر معلوم کړي چه‌دولتي مرستې لکه اوسنی «سوسیال» ورکړشي.

٦- دده دسلطنت پـــه ټـولـه سیمـه کـښې دده‌قانانو ځورول منع ؤ او دهغـوئ پوښتنه کیدله.

٧- دارالتألیف «سکندري».

٨- دعدالت په‌وړاندې ددین، رنګ اونژاد توپیرنه‌کول.

تاسو که ځیرشئ سکندرلودي یومدني پوه سړی ؤ چه نن هم‌په‌نړۍ کښې دهغه ساری نه‌لیدل کیږي.

٩- ادبي ټولنه چه هغه کښې شاعران اولیکوال راټول شوي وو.

داعلان له‌مخې دنړۍ له هرګوټه عالمان، عرفاء، لیکوال راتلل اودهند په‌علمي مرکز آګره کښې اوسیدل اوټول سهولتونه ددوئ د پاره موجود وو.

١٠- دهغوکسانو پاتې ورثې ته معاش ورکول چه‌دسرخلک یې په‌جګړوکښې شهیدان شوي وو.

١١- پاکلمني د ژوند یو شـرط ؤ. دبدلمنۍ لمنه ټوله شـوې وه. پخـپله پادشـاه دشرعي اصولو تابع و، په شخصي او ټولنیز ژوند کښې داتفصیل په‌مرأت الافاغنه کښې راغلی. شاعرانو دی په‌ښه‌توګه ستایلی چه دده خاوره هرچیرته یوسي. هلتـه نیک مرغي او عشرت راشي.

١٢- دپادشاه سکندرلودي په‌دربار کښې هغه‌څوک داعتبار خاوندؤ چه صدقات یې ورکول او داړو (محتاجو) خلکو اړتیا یې پوره کوله.

١٣- دده دجاسوسۍ څانګه دومره پیاوړې وه چه‌خلکو ویل: دده باخبري له‌دوو حالتو لیرې نه‌ده. یادی په‌خپل رعیت کښې پیریان لري. یادی په‌کشف اوکرامت

داکارکوي.

۱٤- سـواد زده کول عـام ټول خلک کـه سپـاهي ؤ کـه تاجر دسواد په زده کـولو مکلف وو.

دده دعدل او پوهې شهرت ډيرؤ اومثـالي سلطنت ؤ. چه دنورو دتقليد مرجع بلل کيده.

۱٥- دسکندر شاهي ډاک فعـالؤ. ټولـه ورځ فرامـين اوهدايات ليکل کـيدل اوډاگيانو هغه رسول. تکړه آسان ددوئ دپاره حاضر او چمتو وو. څيړنه کيدله دسپاه په ټولنه کښې دښو سوابقو اوکورنيو رعايت کيدۀ او د جاسوسی مرکز دهغه ټول فردي او اجتماعي خصوصيات څرگندول. بيا به دکرلو ځمکه سربيره پرمعاش ورکول کيده. چه له خپلې آيندې هم ډاډه او مطمئن وي.

لنډه داچه سکندر لودي دهندوستان پرهغو ټپو مرهم کيښود چه گوډ تيمور ايجاد کړي وو.

شيخ جمال دهغه دزمانې شاعر او صوفي وائي:

ما را زخاک کويت پيراهن است برتـن آنهم زآب ديده صدچـاک تابدامــن

## ددغه لوي پادشاه لويه نيمگړتيا

دغه جمله زمونږ لـــه خولې لړه لويه ده، ځکه کيدای شي هغه مهال دغه احساس نه ؤ. دده نيمگړتيا داده چه دده په سلطنت کښې فارسي ژبې د ملي ژبې حيثيت درلود چه څو سوه کاله بيا دهند رسمي ژبه وه. دمغلو ترزوال اودانگريز ترراتگ پورې (۱۸۰٥-۱۷۹۷م) بيـا تر (۱۹٤۷م) چه انـگريزان ووتل دوه سوه کـاله چه کـمـپنی هندورسيده (۱۷٦٤).په دغه لويه موده کښې دهند ټول ټولنيز اړخونه بدل شول.

دفارسي ژبې په برخه کښې داخبره دپاملرنې وړده چه له لومړي مهاله تر اوسه چه مونږ په خلاصو سترگو حالات څارو اوگورو؛ بيا هم پښتو ژبه د يوه هيواد رسمي او ملي ژبه نـه ده اومونږ په خپل مهـال کښې داکار نه دی کړی چه ملتپالنه دورځې

ضرورت دی. هنديانو هندي پاکستانيانو اردو، بنگاليانو ،بنگالي ترکانو ترکي، ازبکو ازبکي ، ترکمنانو ترکمني کړه.خو مونږ دا توان و نه موند چه‌داکاروکړو؛ ولې؟

سکندرلودي په هندوانو فــارسي زده کــوله.ځکه فــارسي ژبه ده ته ملي‌ژبه ښکاريدله.

فارسي ژبه په دريمې هجري پيړۍ کښې په زرنج کښې سکزيانو رواج کړه. غزنويانو هند ته ورسوله او مغلو ترکيې ته. نو غلځيانو سوريانو، لوديانو هغه ملي ژبه بلله.

۱۷- شورا او ډيموکراسي: لودي سکندر يوه انتصابي شورا درلوده اوټولې چارې شورا پرمخ بيولې؛ دغې ليکنې کښې کولای شو د سکندرلودي‌د شورۍ دچارواگو اوامیرانو نومونه‌له‌خورشيد جهان نه‌راواخلو. له‌نيکه مرغه هغه مهال هرچايو نوم اويو کمکی نوم چه‌د قوم نوم به وُ؛ درلود. او له‌دې دوه مطلوبه ترلاسه شي.

۱- کمکی نوم

۲- کوم قومونه وو؟

دشورا او مشورې موضوع خبره‌له مطلق العنانۍ وباسي او يو ډډول ډيموکراسي احساس کيږي. کله‌چه پادشاه او اميران ټول پښتانه وي.

دهند سلطنت يو پښتني دولتۀ. دسلطان محمود غزنوي وروسته ؛ شپږ اووه پيړۍ دغه سلطنت دغوريانو، خلځيانو ،لوديانو، سوريانو، خضرخاني اونورو غوري‌او غزنوي دولتو په لاس کښې ۇ.

په‌افغانستان کښې وروسته له ۱۹۷۳ بيا ۱۹۹۹ م پوري سخت‌ملي بحران راغی اودغه کړکيچ تر اوسه چه‌دغه کرښې ليکل کيږي ؛ نه‌دی ختم شوی.

اوس دومره شوي چه‌پښتانه شاعران او ليکوال هرخوا پر خپلو ملي مسايلو خبرې‌کوي.دا ددوئ ملي دنده ده چه پښتو ژبه خپل‌مقام ته ورسوي.

دبهلول لودي په مهال کښې چه د سکندرلودي پلارۇ يو ملا په نامه‌دملا قارن،

چه خورشید جهان کښې ئې نوم راغلی دجمعې دلمانځه په‌وخت کښې د هغه قوم یادونه‌وکړه چه (دیگر) ته نور،( برادر) ته ورور او( مـادر) ته مـور وایي. سلطان بهلول لودي په‌داسې حال کښې چه دستمال يې خولې ته نیولی ؤ؛ وئې ویل: « بس کن ملاقارن ماهم بنده گان ایم». یعنې بس کړه ای ملاقارنه.مونږ هم دخدای هست کړي یو.

اوس چــه ځوانان داحکایت اوري دبهلول‌لودي په زغم اوتحمل شاباس وایي. ځکه‌دوئ دغه زغم په‌ځان کښې نه ویني.

لودي سکندر په حقیقت کښې دوه شوراگانې درلودې. دپوهانو او امیرانو، دده تومني (وطني) چارې دجرگوله‌لارې کیدلې.

دهند پراخه ځمکه ددغو افغان‌مشرانو له خوا اداره کیده. دده نامي امیران دري پنځوس تنه‌ؤ: خان جهان خان‌لودي، احمد خان لودي، شیخ زاده فرملي، خانخانان لوهانی، اعظم همایون خان سرواني، دریا خان دمبارک خان زوي لوهانی، نایب‌بهار عالم‌خان لودي، جلال‌خان لودي نایب کالپي، شیرخان لودي داټاوه حاکم، ابراهیم خان سرواني، بابوخان سرواني، حسین‌خان فرملي، نایب سهارن، سلیمان خان فرملي سعید خان لودي، تاتارخان فرملي، شیخ جمال فرملي، شیخ احمد فرملي، شیخ عثمان فرملي، شیخ جان لودي، تاتار خان دتجاره حاکم، شیخ زاده محمدالوف، کالا بهادر فرملي، احمد خان لودي، حسین خان‌لودي، کبیرخان‌لودي، نصیرخان لوهانی، غازي خان لودي، میاں چمن کنبوه حجاب، مجدالدین حجاب، شیخ ابراهیم خاص حجاب، شیخ عمرخاص حجاب، میاں بهوره خان، عبدالواحد حجاب، شیخ عثمان خاص حجاب، شیخ صدیق خاص حجاب، نصرالله دراپړۍ حاکم، اصغرخان دډهلي حاکم. شیرخان لوهانی عماد الملک کنبوه او عالم خان‌لودي، بهگین‌خان، ظهیرخان لوهانی، عمرخان‌سرواني، جبارخان سرواني، ستارخان جلواني.که تاسو په

ځیر سره دغه امیران وګوري، پرته له دروتنو نور ټول پښتانه دي او دغه فهرست له نیکه مرغه خورشید جهان کښې راغلی دی.

اوس څرګندیږي چه پښتني دولت ؤ او ملي ژبه یې فارسي. هغه مهال دغه ژبه دایران رسمي ژبه نه وه. خلکو بې له تعصبه هغه خپلوله.څرنګه چه سلطان بهلول لودي پښتنوته بلنه ورکړه چه هندوستان ته دده سلطنت ته راشي. دخورشید جهان په حواله، «جدامجد شیرخان با پسرخود حسن خان ازوطن سوریان واقع دامان قیسي بهندوستان رسید» .

له دې لنډې جملې داسې ښکاري چه د شیرخان نیکه له خپل زوي سره دسوریانو له سیمې له قیسي (کسې غر) نه هندوستان ته ورسید. قیسې غر هماغه کسې غر یا سلیمان غر دی چه دسوریانو سیمه وه.

دخورشید جهان له عباراتو داسې ښکاري چه د شهنامې په توګه یو کتاب جوړ شوی چه سکندر نامه نومیده.اودسلطان سکندر لودي احوال اوکړهٔ په کښې راغلي اودغه کتاب شیرشاه سوري لوستی ؤ او هغه یې دځان دپاره یو سرمشق ګرځولی ؤ. کله چه دی یوجاګیردار ؤ خپله سیمه ئې سمسوره او بډایه ګرځولې وه.

نو داسې ښکاري چه لودیانو دسوریانو دپاره لاره پرانستله اوشیرشاه سوري له سکندرلودي څخه زده کړې وو.

دادی دپښتنو چار چه یو دبل پر پل؛ پل کښیږدي نه چه یو دبل پل وران کړي. لکه چه محمدزائیانو دسدوزائیانو او سدوزدهوتکو. له دې دې داسې تعبیرونه شي چه خدای مه کړه داعلیحضرت احمدشاه بابا شخصیت ته به اشاره وي. اعلیحضرت احمدشاه بابا په سدوزو. غلځو اوټولو پښتنو کښې اوڅاراو غوره شخصیت ؤ. هغه یعنې احمدشاه بابا له لودي سوري زدکړه کړې وه. چه وائي «د حمید او د فرید دور به بیا شي چه زهٔ وکاندم په هرلوري تاختونه» سلطان حمید لودي او فرید شیرشاه سوري دی. رښتوني پښتانه یودبل چارې بشپړ کړي.

ددې رسالې دليکلو تگ تکی دلـودي سکندر مثالي شخصيت او د هغـه پيروي ده.

حضرت پيغمبر (ص) فرمايلي دي دانسان شرافت په علم او ادب دی : نه په مال او نسب. پښتونولي هم په عمل اوميړانې پورې اړه لري نه په نسب. په نسب که دبيټ نيکه زوي وي اوپښتونولي ونه لري؛ پښتون نه بلل کيږي. دلته مو د علم او ادب پر ځای پښتونولي راوسته . چه پښتونولي علم او ادب ته وايه شي. ميړانه اوميړنتوب هم ادب دی او په هغه پوهيدل علم دی.

مونږ ته يوه مهمه خبره څرگنده شوه اوهغه داده چه بهلول لودي دسکندرلودي، سکندر لودي دشيرشاه سوري اوهغه دخوشحال خان ميرويس نيکه او احمد شاه بابا لارښود ؤ. ځکه نوخوشحال وايي:

ومغلو ته به هغه چارښکاره کړم چه راضي را څخه روح د فريد خان شي

داچه خوشحال دفريد خان يعنې شيرشاه سوري روح ته مسئووليت لري؛ ډيره ښه خبره ده. مونږ هم دغو ټولو ته مسئووليت لرو او پر خپل مسئووليت نه پوهيږو. د تاريخ لوستلو همدغه ضرورت دی چه سړی پرخپل مسئوليت پوه شي.

په ماينونوالوزول څوک چه ماين دلوبو دشيانو په توگه جوړکړي، پوهيږی چه داماشوم له ځمکې پورته کوي يائې بې له توپيره په کليو او ښارونو کښې عام خلک وژل يائې په مکتبونو کښې زدکونکې وژل، دا د مغرب بد معاشي ده چه وژونکې وسلې جوړوي اوخلک پرې وژني. غرب دشرق په برخه کښې بې رحمه دی «چيرته لندن چيرته چترال دی».

انگريزانو ويل مغربي مدنيت په شرق کښې خور وي. کله چه غربي هڅوب چاخپل کړ بيادغرب مالونوته بازار پيدا شي.

اوس داسې دولتونه په اسلامي نړۍ کښې شته چه بياددين دپاره کارکول غواړي اوس که دين ټولې نړۍ ته رسوي داڅوک نه مني. پاتې شوه د زور خبره . هغه خو کلک مخالفين لري «دخدای په ځمکه د خدای نظام» .

مونږ اسلام سره جـوړ يو. مگر د ناسيونالستي حرکتو پـه مقابل کښې چه شا و خواورسره مخامخ يو.

# اسلام او افغان هويت

اسلام افغان هويت دی. په همدې هويت مسلمانان پاڅيدلي ،صفارئ، غزنوي، غوري، هوتک، ابدالي امپراتورۍ يې جوړې کړې. اسلامي نړۍ چه جوړه شي مونږ به خوشحال يو.

يعقوب صفار خليفه ته وويل : زه هره ورځ يو سل او يارکعت لمونځ کوم او داسلام دپاره پاڅيدلی يم. دافغانستان جنوب اوشرق ته دده په مهال کښې اسلام خپور شو چه بيا غزنويانو ، هندوستان ته ورساوه او غوريانو ټول هندوستان ته. مونږ دافغان پاليسۍ په رڼا کښې تل د اسلامي هيوادو سره دريدلي يو.

روس او شوروي اتحاد اودهغوئ لاسپوڅو ته ملت داسلام په نامه راځگ شو.

دلوي جهاد په دوران کښې ( ۱۳۵۷- ۱۳۶۵ هـ ش) ټول ملت يو موټی ؤ . يوازې مسعود دسالنگ ساتلو دپاره دروسانو په حکم څوک هلته نږدې نه پريښودل او تل به يې «گلبدين » سره جگړه وه. چه ټوکه پټاکه شوه. په پای کښې دپښتون او تاجک خبره شوه اوداجريان ټولوته څرگند دی.

دخراسان مضمون، خراسان او اسلامي افغانستان ، اکثريت وجود نه لري ،ټول اقليتونه دي، پښتانه پاکستانيان دي، داټولې خبرې ددې دپاره وي ،چه دهويت بحران راولي اواکثريت دې ته اړباسي چه خپل اکثريت ، ثابت کړي. په نتيجه کښې په ډير لږ وخت کښې دهويت بحران راغی.

# افغانستان دچا په اعتبار افغانستان دی؟

نن ، پرون اوسبا به اکثریت اکثریت وي، خو خپله يې کله چه ډډه يې په پاسته ځای ولگیږي، بیانوله ژبې ،کلتور اوتاریخ واوړي. ترڅو چه هوسا خوب ناکراره شي داکاردمحمدظاهرشاه په دورکښې وشو. دمړې گیلې فارسي پیل شوه . چه هغوئ ته يې پښتونهای پارسي گوی وایه.

دې خبرې ډیرتاوان ورساوه. هویت دورکیدو لاره ونیوله. چه داموضوع دایران اوپاکستان په گټه وه. پاکستان دهویت دموندلو په هڅه کښې دی. ایران هماغه هخامنشیان اوساسانیان یادوي. په داسې حال کښې چه ایران کښې وروسته له اسلام نه ایراني حکومت نـــه دی راغلی. پنځو قومونو هلته حکومت کړی لکه: صفوي (اصلاً عرب).

۲- افغان اعلیحضرت شاه محمود هوتک او اعلیحضرت شاه اشرف .

۳- افشار ( ترکمان).

٤- قاجار ( ترک )

٥- پهلوي ( ترک )

په افغانستان کښې چه د ایران لویه برخه يې په لاس کښې وه ؛ هم پنځه حکومتونه راغلي .

۱- صفاري ( سکزي)

۲- غزنوي.

۳- غوري.

ACKU

٤- هوتک

٥- ابدالي .

په دې کښې يوازې غزنويان دپښتنو په خوښه او مرسته راغلي. څلور نور پښتانه دي،تراسلام مخکښې کوشانيان، يفتليان، ساکان ټول دهمدغې خـاورې وو. پـه پخواني تاريخ کـښې او پنځـو نورو دورو کـښې تاجک، ازبک، هزاره ، مطرح نه ؤ. يوازې وروسته له امان الله خان دسقا و زوي او بيا رباني مسعود په بدرنګۍ مطرح شول چه دوارو دوام ونه کړ. په لرغوني افغانستان کښې پرته له پښتنو نورڅوک مطرح نه دي.

دافغانستان په شمال اوجنوب کښې تل پښتانه مسلط وو. د آمو پردوارو خواؤ چه داخبرې دهيرودوټ له خبرو څرګنديږي . مسعودي دخزر پر غاړو د شيرواني ، دوتائي او نورو قومونو پادشاهي ښيي .

خورشيد جهان کښې ليکل شوي؛ چه دفيروز شاه سوري په دربار کښې پښتو او پښـتونولي وه اوداخبره د شکايت په توګـه ليکل شوې.مګر داسې نه ده چه پښتو اشعار او ليکل نه وي شوي؛ خو له مينځه تللي. بهلول لودي دروه خلکو ته وليکل چه راشئ هندوستان ته اوديوې غوره تولنې په توګه ژوند وکړئ اود «وريت جوسي »د ليکنې له مخې پښتانه لکه ميږي ور روان شول. مګر که ليک پادشاهي فرمان ليدل شوی وای چه پښتوؤ کـه فارسي. کـه چيرې همدغـه ليک شتـه وای، دهغـه د شتـون دهويت دپاره لويه ښه وه .

مطلوب له دې مـثالوداچه ليک ډير اهميت لري. هره پيښـه ، ليد، اوريد ، بـويه وليکل شي. په مهم اونامهم پسې يې مه ګرځئ . دسبا ورځې دپاره مهم دي.

په (۱۳۲۰ - ۱۳۲۸ هـ ل) پورې دسليمانخيل په نامه کابل کښې يو سړی ؤ چه پهلواني يې نه وه کړې. خـودکـابل پهلوانان يې څـملول . دکـابل بې عـقلو داخبـره را وايسته « چه دده خور پهلوانه ده او هغې سره خپل تمرين کوي. » که چيرې همدغه جمله

دچا په يادواى نوددوئ په وروستيو تبليغاتو پوهيداى شول . سليمانخيل ځاني غښتلى ؤ. چا هم ددهٔ تمرين نه دى ليدلى. نو بيا ناروا خبره را ايستل له عقل ، منطق، ادب اواخلاقونه ډېر ليرې دي. دا يوښه مثال دى دتاريخ دپاره په لاندې دليلونو لومړى، يوپهلوان مو وپيژانده. دوهم دهغه له قدرتي قوت نه خبر شو. بيا درقيب ډلو په تبليغ پوه شولو.

دپښتونخوا دشعر په هاراوبهاركښې په كتاب برهان شاعر كښې داحمد شاه بابا دوه جنرالان ستائي اوداحمدشاه بابا دزړه ستن يې بولي چه‌سمندخان اومؤمن خان دغه اتلان دخداى دي دوئ مونږ نه پيژندل . اوس مو دبرهان له شعره وپيژندل.

# د روسي کورنۍ کمونستانو وار
# د۱۳۵۷ دغوايي په اوومه

د خلقيانو يوازنی پيغام دا ؤ چه دنادرخان دکورنۍ وروستی غړی (محمد داؤد) نسکور شو.

د افغانستان خلکوته دغه پيغام بيخي بې معنیٔ ؤ. ځکه نادرخان که دخلکو ډير خوښ نه ؤ نو بديې هم دومره نه ايسده.له نادرخان څخه يوه اخلاقي گيله داوه چه له امان الله خان سره يې ځوانی ونه کړه او بيايې دسقو له زوي سره چه يايې په قرآن نه وای بښلی يايې نه وای وژلی، نادرخان ديوه غازي په توگه لوړ حيثيت لاره . په هر ولايت کښې چه ده کارکړی خلک ځنې خوښ ؤ.

بله خبره دغلام نبي څرخي دوژلو وه چه ديوه عسکر په توگه خلکو پيژانده اوځوتنه نور لکه عبدالرحمن لودين يادغلام محی الدين انيس، بندي کيدل او هلته مړ کيدل. مگر نادر اصلاحات پيل کړل. د خلکو نمايندگان يې ځان سره وساتل. بيادظاهرخان ځلويښت کلنه دوره دومره هوساوه چه خلکو ده ته احترام درلود او له ده سره يې مينه درلوده چه يوسړی يې هم نه ؤ وژلی.

حتی دشرعي قصاص ورثې ته ده پخپله عذرکاوه. چه په عمري بند قانع شي او له وژلويې لاس وکاږي. نودنادرخان دکورنۍ تگ ښه زيری نه ؤ.

دظاهرشاه دولت په افغانستان کښې يو کامل دولت ؤ چه دامير دوست محمد له وخته په تجربو رامينځ ته شوی ؤ. دافغانستان له اقتصادي اواجتماعي احوال سره مناسب ؤ. پرته له دې چه سوسيالستي نوم ولري؛ ددولت برخه په ټولو اقتصادي

ACKU

مهمو مؤسسو کښې ډیره وه . په‌حقیقت کښې دولت به خلک له ځانه سره شریکول. وړیا پوهنه، روغتیا ، دعامه‌ګټې د فعالیتونو سرته رسول ؛ پرته له‌دې چه پرخلکو ټکس یامالیه زیاته‌کړي. دولت به غنم او شکره ګرانه اخسته ؛ خو خلکوته به یې ارزانه ورکوله.

دکمونستانو لومړی غږ دنادرخان دکورنۍ دوروستي غړي له‌مینځه تلل هم هیڅ دوهمه برخه یعنې مترقي اصلاحاتو کښې نوې خبره یا پلان ورسره نه‌ؤ.

دځمکې ویشل پربې ځمکو باندې ډیر پخوا پیل شوي ؤ . هلمند ، ارچي ، ننګرهار هرچیرې به‌چه دولت ځمکه جوړه کړه هغه به‌یې ناقلوته ورکوله . اجتماعي اصلاحات دښاروالیو له‌خوا سرته رسیدل.مدني محکمې هم‌جوړې شوې. نودوئ هیڅ یو پلان وړاندې نه‌شو کړای. یوازې افغانستان یې دروسیې اقماروکښې ورګډ کړ چه وتلوسره هیواد برباد شو.

افغانستان په لومړۍ عمومي جګړې کښې (۱۹۱٤م) اودوهمې عمومي جګړې (۱۹۳۹-۱۹٤٥م) دوه ځلې خپله بیطرفي وساتله . بویه داچه په سړې جګړې کښې ئې هم ساتلې وای. دهیواد پوه خلک په‌دې خبره پوهیدل. حتی عام خلک.

په( ۱۹۲۹م) کله‌چه امان‌الله خان لاړ . غلام‌نبي خان څرخي له روسي قواؤ سره یادهغو په‌مرسته مزارشریف ته ننووت. مګر همدا چه امان‌الله خان ورته وویل چه دا به‌دانګلیس دپاره دنیغې مداخلې پلمه شي نو غلام نبي بیرته ووت.افغان پوهان اوسیاستمداران په‌دې پوهیدل چه افغانستان باید دشرق او غرب دمسابقو او زور وهلو میدان نه‌شي. مګر دسردار محمدداؤد ناپوهي وه ، چه امریکائي سګرټ یې په روسي اورلګیت ولګاوه چه‌په پای کښې دی هم وسوځید اوکورنۍ ئې هم اور واخیست.

په راتلونکي کښې باید پردي غمونه خپل کورته رانه وړو. بیطرفي عنعنوي سیاست دی اوباید چه‌په عمل کښې وساتل شي. په‌هرسطحه چه وي.

همداچه کمونستانو کودتا وکړه . د شپې له اتو بجو وروسته دخلکو په‌تګ اوراتګ

ACKU

بندیز ولگید. حال داچه د محمد داؤد په کودتا کښې داکارنه ؤ شوی.

دریشخورو قواؤ مقاومت وکړ او تردرېیمې کارتې پورې را ورسیدل. ددرېیمې کارتې پرلوي سړک او دارالامان پرسړک تمامه شپه سخت جنگ روان ؤ.

غلام حیدر رسولي چه له قرغې نه دارالامان ته راغلی ؤ؛ غوښتل یې چه پکتیاته لاړ شي. په لارې ونیول شو او وژل شو. ده ته خپلو دوستانو هم پناه ورنه کړه.

نورمحمد تره کي دومره پراخ صلاحیت ضابطانوته ورکړ چه هر یوه هرڅومره چه وژل پوښتنه نه وه، دپلچرخي په محبس کښې ډګروال سیدمحمد چه دبگرام په هوايي ډګر کښې یې وظیفه وه ویل: کله چه دافغانستان راډیو اعلان وکړ چه تره کی ببرک اونورکمونستان ونیول شول نو په بګرام کښې عسکري صاحب منصبانو دخوشحالۍ غونډه جوړه کړه. سبا چه دوئ بريالي شول خوشحالي کوونکي یې مړه او بندیان کړل.

لیکونکي د یوه څلمي انجنیر چه دمیدان دټکانې ؤ؛ احمد شاه نومیده، دهغه په باب یې له ډګروال سیداحمد نه پوښتنه وکړه. ډګروال وویل دکودتا په درېیمه ورځ یوضابط او دوه مسلح عسکر دفترته ننوتل. نور مامورین یې یوې خواته ودرول انجنیر احمد شاه چه تدریسي مدیرؤ؛ له نوروبیل کړ. ضابط په کله شنکوف دیرش ګولۍ وویشت. بیا یې پوښتنه وکړه چه دغه خاین موو پیژاند؟ یوه وویل: نه! ضابط وویل: دا هغه خاین ؤ چه پروسږ کال یې زما درسي بورس څنډولی ؤ!!! دایوه وړه بیلګه وه چه په زرهاؤ داسې شخصي انتقامونه اخستل شوي.

دنورمحمد تره کي فرمانونه یو په بل پسې خپریدل. چه اووته ورسیدل نو خلک را پاڅیدل. له بلې خوا دملي مصئونیت دپخواني لستونو له مخې خلک ډلې ډلې نیول کیدل. دغه خلک او ددوئ په باب معلومات هلته ؤ.دبندیانو شمیر ورځ په ورځ ډیریده. ځکه ملي مصئونیت په خپلو دفترونو کښې دټولو اغیزمنو شخصیتو لستونه درلودل. دا دالمان اوهندوستان په سیستم یوه سلسله وه چه څنګه په ډیموکراسي نظام

کښې خلک وپيژندل شي.

دوئ غوښتل مخکښې تردې چې اغيز من خلک څه سره غوټه کړي. نو ددوئ نيول پيل شول. هيڅوک په خپله گناه نه پوهيدل. بنايي لهدغو خلکو څخه ډيرو ددوئ سره مرسته کړې وای. يا بې غرض او بيطرفه پاتې وای.

دسردارمحمد داؤد، دکابينې غړي، جنرالان، موسی شفيق، رحيم پنجشيری، عبدالله روکی، جنرال قدير خليق، صلاح الدين غازي دسپه سالار شاه محمود خان کشری زوې، نور احمد اعتمادي، دشاهي کورنۍ ټول غړي په دوه دري لومړيو ورځوکښې بنديان شول. او بيا دغسې پسې راوستل کيدل، صباح الدين کشککي، غفور روان فرهادي، جنرال نيک محمد سهاک، ځينې دؤلسي جرگې وکيلان پخواني واليان، دپوهنتون استادان، دمساوات او افغان ملت غړي په يوه مياشت کښې د بنديانو شمير څلور زروته ورسيد. دغسې په ولاياتو کښې، صدارت کښې، بالاحصار او د دهمزنگ په محبس کښې دبنديانو بهير روان ؤ. لس زرو ته ورسيدل دولس زره شول. بيا نو وژل پيل شول چه شمير يې گران ؤ. خوکوم لست چه په (١٣٥٨ش) کښې حفيظ الله امين په داخله وزارت کښې وځړاوه؛ دولس زره تنه ؤ. چه په هغه کښې ډير داسې خلک ؤ؛ چه نومونه يې په لست کښې نه وو. بيا هم دهغو بنديانو درک ونه لگيد، په محبس کښې بنديانو ويل چه دپوه او تعليم لرونکو شمير اووه ويشت زروته رسيږي چه دتره کي او حفيظ الله امين په لنډ وخت کښې وژل شوي ؤ.

په وژل شوو کسانو کښې د خلق او پرچم غړي هم ؤ. چه هر يوه يو دبل په بدل کښې وژل. د زرهاؤ خلکو نومونه اخستل گران دي. دولاياتو دوژل شوو کسانو پيژندل په کابل او دکابل په ولاياتو کښې نه څرگنديده.

شول

ليکونکي په خطرناک بلاک کښې (يو بلاک په دې نامه ياديده) هغه خلک وليدل چه دمحمد داؤد په جمهوری رياست کښې داخوانيانو په نامه نيول شوي ؤ. هغه يې

ټول ووژل؛ چه بلاک ترې ډ ک ؤ. بیا ډله ایزې وژنې پهلومړي بلاک کښې دسترګو لیدلی حال دی.د (۱۳۵۸ کال ) غبرګولي پهمیاشت کښې دوه پلا ترسلو ډیرخلک ووژل شول.

هغه خلک چه پولیګون کښې وژل کیدل ، هغه پرته لهدې حسابهدي. دغهډول دوئ دمخه ترکودتا خپل مخالفین پهاردوکښې هم پیژندل.

خلک لهفرامینو وویریدل اوداچه هره شپه خلک له کورونونه وړل کیدل. کمونست غټانو کههرڅومره خپل کفروکمونستې پټوله؛ خوورونه پټوله.

یو علت چه خلک را پاڅیدل داچهدهرولایت دکارخلک او سپین روبي نیول شوي وو؛ کلهچه کمونست حکومت وغوښتل چه لهساپو سره پهکونړ کښې خبرې وکړي دهغوئ لومړی شرط داؤ چه زمونږ بندیان راکړي.که ګناه پرې ثابته شوه مونږ پخپله سزا ورکوو. کمونستانو ددوئ خلک وژلی وو. په هرولایت کښې همدا حال ؤ.

تره کي به پهبې شرمـی ویل ۹۸ په سلوکـښـې دانقـلاب پلویاندي. دوه په سلوکښې مائوستان ،مرتجعین او پخواني حاکمان او تنګ نظره ناسیونالستان دي.

حتی کله چهدی له خپلې کابینې سره مسکوتهلاړ هلته یې همدغه خبره وکړه داسې ګومان کیده چه روسانو ورته ویلی وي دوه په سلو کښې مخالفین له مینځه یوسئ .دکلیو ښځې سواد ته رابلل ،دګروی لغوه کول، دښځو ولور ۳۰۰ افغانی ټاکل اودځمکو ویش چه داتو فرمانو په اثرخلکو ولیدل نو پوه شول چه ژوند لهدې حکومت سره ګران دی.ځکه دا حکومت کهپاتې شي دزوي اولور دځمکې اوشتمنی واک دخلکو له لاسه لاړ داچه دهیواد خپلواکي او بیطرفي لاړه؛ نوهیڅ پاتې نه شول. ځکه پاڅون پیل شو. او له پاڅون سره هجرت ملګری شو.

کلهچهدافغانستان دخلکو دمقاومت خبرونه نړی کښې خپاره شول . دنړی ټول خلک لکهچهلهخوبه راویښ شي « له شوروي اتحاد سره مقاومت پاڅون جګړه » هغه چه نیمه اروپایې لاندې کړې او مرکزي آسیا ئې لاپخوا خوړلې وه . دلته چه امریکا

پوه شوه خدای تعالی عسکر په لاس ورکړل. نو سره جگړه يې توده کړه.

په تاريخ کښې د زمانې تيريدل هرڅه روښانه کوي. دغه راز کمونستان چه دافغانستان تعليم لرونکي ؤ؛ نه يوازې په خپل تحليل کښې تيروتل؛ بلکه پاخه وطن پلرونکي هم ثابت شول. هغه‌څه‌چه بيا وروستـه په‌هيـواد راغلل؛ دهغه بيرته کمول يادهغه تاوان پوره کول لومړی داچه امکان‌نه لري. دوهم دپيړۍ مهال او فرصت‌له‌لاسه ووت. هغه چه وائي «وخت سره زردی» داسره زر لاړل ديو شمير خائنينو دسر سوغات شو.

**نورمحمدتره‌کی:** ترکودتا څو ورځې وروستـه تره‌کي خپله وينا وکړه. خيال محمد کتهوازي ته‌چه دمطبوعاتو دوزارت معيين ؤ وئې ويل: کله‌چه ببرک کارمل دده دوينا فارسي متن لولي دانقلابي شورا دمرستيال په‌توگه دې دده نوم نه‌اخلي يوازې ديوه نطاق په‌توگه فارسي متن لولي.

که‌څه هم‌چه خلق او پرچم يو شوي‌ؤ. تره‌کی دانقلابي شورا رئيس اوکارمل يې مرستيال‌ؤ. خودوئ په زړونو کښې هغسې مخالف ؤ.

نورمحمد تره کی يوبې زړه سړی ؤ. خو دده تحليل داؤ چه شوروي اتحاد يو لوي طاقت دی. افغانستان دومره پوروړی ؤ چه ظاهرشاه او محمد داؤد ځانونه نه شول خوځولی. په دغه دوو دوروکښې دتره کي دپاره دشوروي اتحاد ديوه پلوي حتی نوکر په‌حيث ده ته چا ونه شول ويلای چه داته څه کوې؟ آخر دلته قانون دی. دولت دی.

**له تره‌کي سره څوخبرې:** کله‌چه محمد داؤد ميوندوال اودده ملگري ووژل. ليکونکی تره کي سره په‌درېيمه کارته کښې په‌لاره کښې مخامخ شو. تر دغه وخته دی يو عـادي سړی دی. البتـه کمونست پيـژندگلوئي له‌پخوا وه. همدغـه وخت‌دی (۱۳۵٦ دکب دمياشتې ۲۹) چه‌په هندوستـان‌کښې مخـالفينو پراندېراگـاندي اعتراض درلود چه انتخابات‌سم سرته نه دي رسيدلي. انديراگاندي موافقه وکړه چه

له سرد دې انتخابات وشي.

ليکونکي تره کی ته وويل: تاسو وګورئ محمد داؤد خپل مخالفين مره کړل اندیراګاندي له سره انتخابات وکړل اوبیایې هم انتخابات وګټل.

تره کي وويل: محمد داؤد خپل سپي ووژل . داتـــول کـــه ميوندوال ؤ که خان محمدخان او نور دا ددوئ سپي وو. اندیراګاندي خو د خلکو له نمایندګانو سره انتخابات وکړل. ده وويل: چه دخلکو سړي څوک نه شي وژلی . ليکونکي ورته وويل: په افغانستان کښې مامورين منورين دي. منورين مامورين داهم دبيرته پاتې کيدو يو ه نښه ده.

تره کي وويل: مونږ په اته ويشتو ولايتو کښې خلک لرو. ستاسو په ياد دي چه (۱۳٤۹هـ ش) مونږ په ټولو ولاياتو کښې دکارګر ورځ ونمانځله. اوس عيني اوذهني شرايط انقلاب ته آماده دي اومحمد داؤد شپې لنډې دي.

ليکونکي ورته وويل: دا به ډيره خطرناکه شي! تره کي وويل څنګه؟ ليکونکی: زه چه ۱۳۵۰ دوري په مياشت کښې هندته دبنګله ديش کانفرانس ته تللی ؤم؛ هلته مې په کلکته کښې دمهاجرينو کيمپونه وليدل چه لويه مسأله وه . دلته که داسې يوحرکت وشي. اومهاجرين پاکستان او ايران ته لاړ شي خبره اوږده به شي اوملک به برباد شي.

تره کي وويل : که مسأله خارجي شي شوروي اتحاد به هغوئ ته اجازه ورنه کړي چه مهاجرينوته په خپلو خاورو کښې ځای ورکړي.

نورمحمد تره کی کمونستي نظريات په پښتو ويل.دده مهارت په دې کښې ؤ چه مسايل به يې ساده کړل چه عام خلک نه پوهيدل دی کمونستي نظريات بيانوي. چه کارمل او حفيظ الله امين داکمال نه درلود . هغوئ څرګند کمونستي لغات استعمالول دنورمحمد تره کي هغه ريډويي فلم شته چه دده دزيږيدو دکليزې مراسم ښئي. اوديرو خلکو سره شته، په يوه برخه کښې تره کی يوازې ناست دی. څوک ورته وائي تاسو

ولې هلته چه نور ميلمانه دي نه ورځې. تره کی په عاجزۍ سره وايي: نه پوهيږم ماته يې ويلي دلته کښينه . دې نه ثرگنده ده چه له ده نه واک تللی وو.

کله به چه قبايلي مشران يا دولاياتو خلک راغوښتل کيدل نو تره کي به دوئ ته ويناوې کولې، دتره کي تموله وظيفه همدغه اودفرامينو لاسليک کول وو.

**له بيـرغ سـره لوبې:** دافغانستان بيرغ لومړی محمد داؤد بدل کړ چه بازيې پرې کښيښود ، ورپسې کمونستانو چه تموله سره او يوه خواکښې يې خلق ليکل شوی ؤ. خلق هم داسې چه له ليرې نه ښکاري چه لوراوستىک دی که خلق. يعنې لکه دروسانو بيرغ ( شوروي اتحاد ) دبيرغ دپوړته کولو په مراسمو کښې ډومره خلک وو چه ښايي دښار کورونه تش شوي وو او په بې خوندۍ سره يې خوشحالي کوله . هغه خلک چه کمونستانو له پوهنتون ښوونځيو ، دفترونو، مغازو او دکانو څخه په زوره راوستلي ؤ نورمحمد تره کي او روسانو فکر کاوه چه ؤلس له دوئ سره دی.

دغه بيرغ دخلکو زړونه وځورول او هغه يې بيرغ نه دکمونستانو دناموس پرتوگ وباله او له ډيرې کرکې سره مخامخ شو.

تره کی داوبو دسرځگ ؤ . حفيظ الله امين او ببرک کارمل هر يوه هڅه کوله چه وروسته له تره کي دگوند او هيواد مشري واخلي. تولې وژنې يې يودبل پرغاړه اچولې چه مقابل لوری ملامت کړي. په دې کشمکش کښې هم ډير خلک ووژل شول.

د (۱۳۵۷کال) دزمري دمياشتي پنځلسمه شپه وه؛ چه دکمونستانو عسکرو ليکونکی له کوره ، سره له کتابو ، کاغذو البومو يوه تومانچه چه اميرالمجاهدين نيازعلي خان له وزيرستانه ورته راليږلې وه ؛ يوړ . دوه شپې وروسته خوشې کړی شو.

شپاړس ورځې وروسته چه قادر، رفيع ، شاهپور احمدزی ديوې دسيسې په نامه ونيول شول، کشتمند هم په کښې ؤ. يعنې ددفاع وزير جنرال قادر ، کشتمند، جنرال رفيع، لوي درستيز جنرال شاهپور احمدزی ونيول شول . په راډيو کښې اعلان وشو چه

دا دخلق د رژيم پرضد يوه دسيسه وه . قضايي تحقيق دوام لري. په همدغه شپه يوځل بيا عسکر راغلل.ليکونکی يې بوتلو، داځله په صدارت کښې ؤ او هلته بې روسي مشاورين وليدل چه دتحقيقاتو دجريان څارنه يې کوله .

دوئ په دې پلمه ډيرخلک ونيول چه په دسيسه کښې شريک وو. کارمل او ملګري يې مخکښې له کاره ايستل شوي او سفارتونوته استول شوي وو.

دتره کي دپاره نوره ګرانه شوه چه دخلق او پرچم يووالی (وحدت) مات شو او دی حفيظ الله امين ته پاتې شو. په عسکري صاحب منصبانو کښې لويه تصفيه راغله هره شپه به په سلهاؤ محبس ته راوستل کيدل. طاهر بدخشی اوملګري يې هم ونيول شول. پخوانی لوي درستيز غلام فاروق يوازې په دې نيول شوی ؤ چه دده ښځه اودشاهپور احمدزي ښځه سره خويندې وې . دومره بنديان او وژنې چه ګواکې دولت نورکار نه درلود. پکتيا، کونړ نورستان، دره صوف کښې خلک پاڅيدل اوجګړې پيل شوې. عسکري افراد هم ياغي شول. روسان وارخطا شول چه ددوئ لاس پوخی حکومت نن سبا رنګيږي او بل حکومت جوړيده نوهغه به د شوروي اتحاد مخالف حتی دښمن به وي. دکمونستانو لويه خطا داوه چه صالح خلک يې ورک کړل. څه مره اوڅه وتښتيدل. نو صحنه اخوانيانو اودپاکستان نوکرانوته تشه پاتې شوه.

په دې وخت کښې دوزيرستـان له خوا پرخوست حمله وشوه. شوروي اتحاد پرپاکستان باندې اعتراض وکړ چه داخود نقشې په حساب دپاکستان خاوره ده ، دپاکستان حکومت سمدستي له خوست څخه مجاهدين بيرته وغوښتل او هغه پراګنده مجاهدين چه دکابل ښارته نژدې شوي وو؛ هغوئ يې هم بيرته وغوښتل.

عزيزالرحمن الفت يو کتاب وليکه ( دپردې ترشا لاسونه).له دغسې حقايقويې پرده پورته کړه چه دتره کي حکومت خودرنګيدو په حال کښې دی. مګر ددوئ مخالفين په بيلو طريقو بيرته ايستل کيږي. دغه کتاب کښې داهم ليکل شوي چه محمد امين واکمن په ډهلي کښې د ډهلي راډيو پښتو نطاق ځان دافغان ملت لوي

منشي معرفي كوي او داسې مصاحبې كوي چه افغان ملت يوچپي گوند معرفي كوي په دې سبب كمونستانو افغان ملتيان بنديان كړل او ډيرې ووژل. له بلې خوا مجاهدين دوئ په خپلو ليكوكښې نه پريږدي. هغه خلک چه دغه گوند ته ښه نظر لري هغوئ ځانونه ليرې كړل. كمونستانو غلام محمد فرهاد مجبوركړ چه اعلان وكړي دافغان سوسيال ډيموكراټ گوند په نوم كوم گوند نه دی موجود . په دې صورت يوازنی ملي گوند چه په عسكري او غير عسكري خلكو كښې يې اغيزه درلوده ، شنډ پاتې شو.

د۱۳۵۷ دكب په مياشت كښې دافغان ملت پلويانو يوه كودتا په نظركښې ونيوله او څوكسه جنرالان هم دعوت شول چه په سر كښې ئې جنرال سراج الدين دپكتيا دقول اردو پخوانی قوماندان ؤ.

په هغه ورځ چــه په كونړ كښې دننگرهار والي بهرام الدين په كيرهاله كښې څوارلس نيم سوه عام خلک ووژل: بيگاه دی او څو كسه روسي مشاورين هم ووژل شول.

مخكښې تردې چه دغه حركت دجگ تورن رحمت الله ورد گ دانضباط دټولي دقوماندان له خوا عملي شي داحركت كشف شوی ؤ . د ننگرهار د قواؤ داركان رئيس ډگرمن عبدالله ناصري چه د سور جرنيل محمد عمرخان ناصري زوي ؤ. محمد عمرناصری داستقلال په جگړه كښې (۱۹۱۹ع) په ډكه كښې انگريزي قواؤ ته ماته وركړې وه . ډير زړور سړی ؤ .

سورجرنيل دسيدال خان ناصر داتلسمی پيړۍ حربي نابغه له اولادې څخه ؤ عبدالوكيل صداقت پخوانی وكيل او جگړن شمس الهدا شمس دواړه سيداحمد گيلاني ته پيښور كښې ورغلل. او د ملي كودتا موضوع يې ورسره مطرح كړه. پير سيداحمد گيلاني له دوئ څخه وغوښتل چه دكودتاچيانو لست دې ده ته وركړي څودی يې خپلو صاحب منصبانو ته په اردو كښې معرفي كړي. دوئ دا اعتبار وكړ او

گيلاني ته ئې لست ورکړ.

څه وشول؟

کمونستانو څلورسوه صاحب منصبان دکابل، ننگرهار، مزار شريف له قطعاتو ونيول اوټول يې ووژل.

کله چه ليکونکی د۱۳۵۹هـ ل ) کال په مرغومي کښې پيښوورته روان ؤ. دهوايي قواؤ پيلوټانو ورته وويل چه له پاکستاني او تنظيمي مقاماتو څخه ديوه هوايي ميدان غوښتنه وکړه چه موږ طيارې وروړو او له هغه ځايه دحکومت ټول مرکزونه بمبارد کړو. په پېښورکښې بيادلست غوښتنه وشوه اوليکونکې د مخکښېنۍ تجربې په اساس داکارونه کړ.

ليکونکی چه پوه شودپردې ترشا لاسونه نورڅه کوي نو هسې يې شپې اړولې.

نورمحمد تره کی چه له جبهو او جگړو خبريږي، اردوماته گوډه ، بنديخانې ډکې او د بانک پيسې مخ په خلاصيدو دي. هغه درې سوه پنځوس مليونه ډالره چه محمد داؤد ديوهٔ اقتصادي پلان په تيره بيادکابل دښار پلان دپاره ساتلي وو؛ محمد داؤد دکابل ۲۵ کلن پلان داسې ترتيب کړی چه يوډيرعصري ښار به ؤ. دگذرگاه دغرهٔ او دتلويزيون دغرهٔ ترمينځ چه دکابل سيندبهيږي يوهوايي پل په نظرکښې ؤچه په دواړو غونډيو کښې يوه يوه قهوخانه وي اوغرونه لار ولري. سمسوربه وي .ددغه پلان خاکه په کابل ښاروالی کښې ليدله کيدله.

د(۱۳۵۸هـ ش ) کال د وږي په مياشت کښې تره کی هاواناته لاړ چه هلته دبيطرفو هيوادو په کنفرانس کښې گډون وکړي. دا دده دپاره يوه تفريح وه چه د هيواد دمشرتابه خوند هم وگوري. ځان په خلکو هم وپيژني . دنړۍ مشران هم وگوري.

تره کي په هاوانا کښې ضياؤالحق دپاکستان نظامي او ملکی مشر هم وليدا او خبرې يې ورسره وکړې چه که پاکستان دمخالفينو ځاله ونه گرځي. فيډل کاسترو دکيوبا جمهور رئيس چه دکنفرانس رئيس هم ؤ کله چه دتره کي نوم لوست؛ تقريباً

غلط يې ولوست. يعنې دکمـونيـزم دبنې ددې نوې گل نوم هم دچازده نهؤ . تره کې اوږده وينا په پښتـو وکړه او مطبوعـاتي کنفرانس کښې يې گډون وکړ. يوه ټوکه يې يوې ژورنالستې پيغلې سره وکړه . چه پخوا به تاغونډې شکلې پيغلې په يو لک افغانۍ وې. اوس وړيا دي. ددې خبرې په معنی هغه نه پوهيدله اوفکريې کاوه چه دښځو قدر اوقيمت لږ شوی دی.

تره کی چه بيـرته هيـواد ته راتی په مـسکو کـښـې تم شو. هلتـه يې بريژنيف دشوروي اتحاد مشراو نورو سره وکتل. هغوئ په مشکلاتو پوه وو. نوداسې ترتيب ونيول شو چه يوځل بيا خلق او پرچم دزړه له کومې يوځای شي. امين ايستـه کړی شي. دريم داچه متحده ملي جبهـه جوړه او نور خلک هم حکومت کښې داخل کړای شي . ليکونکی دغه وخت په محبس کښې ؤ . دتره کي دهاوانا کنفرانس او په مسکو کښې يې هغه مراسم وليدل چه افغان زد کوونکي دحزب غړو ته کوله.( په محبس کښې وروسته له هغـه چه دجوزا دمياشتې په (۸) يو سل اتيـا کسه بنديان ووژل شـول. د بنديانو روحيـه خرابه شوه . نو کـمونستـانو په هردهليـز کښې يوتلويزيون کښيـښود ) په مسکو کـښې تره کي، دحزب دوحدت اونويو تشکيلاتو خبره وکړه ښکاره ده چه حفيظ الله امـين په هرڅه پوهيـدی چه ده هم هرڅه له لاسه ورکړي ، يوې خوا دکـارمل او پرچم دښـمني، دخلکو دښـمني دتره کي بې اعتـمادي او داچه روسانو ده نه څه غوښتلي ؤ. نودکابل په هوايي ډگر کښې دتره کي تودهرکلی وشو.

ډيرې قـاليـنې ورته هوارې شوې وې.خو دا دتره کي وروستـۍ شپـې ورځې وې. دژوند وروستی خوند، سم چه دخلق کور يا ارگ ته ورسيد ؛ مشکلات پيل شول.

د (۱۳۵۸) دوږي په ۲۳ دکـابينې درې غـړي، وطنجار، گلاب زوي ، مزدوريار داکسا رئيس د بدليدو اعلان وشو. له دې اعـلان سره خلک پوه شـول . د حفيظ الله امـين ډله پيـاوړې شـوه . د تره کي کـمـزوري په حقيـقت کـښـې د افـغـانسـتـان دکمـونستي گوند وار له واره بې وسي کيدهٔ. ځکه مخـالفين دپاکستـان له لارې

پیاوړي کیدل. خلک هم ورسره وران وو. نور نو نه نورمحمد تره کی ، نه حفیظ الله امین او نه ببرک کارمل پیاوړی پاتې ؤ د کمونستانو یوازنی هیله اوسترګې روسیې یا شوروي اتحاد ته آوښتې چه هرڅومره ژر یوځي اقدام وکړي. دا ددوئ د پاره یوازنی د ژوند لاره وه . ددوئ غړي وژل کیدل. څه یې په خپلو کښې وژل. څه هم خلکو وژل . هره ورځ داردو صاحب منصبان نیول کیدل . د بندیانو یوه زیاته برخه همدغه عسکري صاحب منصبان وو.

عام خلک دې ته تمهؤ چه نن یا سبا به داسلام مجاهدین بریالي شي، نو دمجاهدینو دودې دشپې ځای، جامې مینځل، دټپیانو معالجه، دخلکو په غاړه ؤ. له کابل څخه چای، بوره ، درمل، توکر او نقدې پیسې ورتلې. پلار او مور موافقه درلوده چه ددوئ کمونست اولاد مړ کړی شي. دوئ چه ددین ، وطن او خپلو هیوادوالو پرضد را پاڅیدلي، باید مړه کړی شي.

د(۱۳۵۸ هـ ل ) دوړي په ۲۳ چه دجمعې ورځ وه؛ نورمحمد تره کي حفیظا الله امین دخبرو دپاره وربولي . څو په مهمو مسألو له ده سره خبرې وکړي، امین په تلفون ورته وائي چه زمونږ له ملګرو نه څوک هلته حاضردي؟ هغه دیو څوکسو نومونه اخلي. چه امین پرهغو ویسانه لري وائي چه اوس څه ضروري کارونه لرم چه دا خلاص شي بیا به د رشم. بیا امین وایي چه یوازې زه او ته سره ګورو. تره کی داخبره هم مني. بیا ورځي، کله چه امین ارګ ته رسیږي پرده دټوپک وار کیږي. دی نه وژل کیږي خو سید داؤد تږون وژل کیږي. کله چه دسیسه شنډیږي او د امین خلک قابو کیږي نو اسلم وطنجار ،شیرجان مزدوریار، ګلاب زوي د شوروي اتحاد سفارت ته ننوځي او پناه اخلي.

حفیظ الله امین دحزب پلینوم را غواړي. دنورمحمد تره کي استعفی دناروغی له کبله اوځان دانقلابي شورا دمشر په توګه فیصله کوي. دوړي په ۲۵ داخبره اعلانیږي. د وړي ۲۶ حفیظ الله امین خپله وینا کوي او بسم الله الرحیم وایي؛ داچه حفیظ الله

امـين دلومـړي ځل دپاره ( بسم الرحـيم) وايي، ددې صـحنې ويډويي كسټ هم په امريكې كښې په افغاني هټيوكښې موجود ؤ او خرڅيده . مخكښې تردې چه وينا په تلويزيون كښې خپره شي امـين دخپلې وينا تمرين كـوي او چه ( بسم الله الرحمن الرحيم ) ئې ووايه وئې خندل او ملګروته يې وويل چه سم مې ووايه!

امين په خپله وينا كښې له پاكستـان او ايران سره نرمي وښودله او شوروي اتحاد ئې دپخوا په شانې ونه ستايه.

يو ه پلا خو خلق او پرچم سره بيل ؤ . اوس د تره كي ملګري او پلويان اودامـين هم سره بيل شول.

څو ورځې دتره كي حال معلوم نه ؤ. دهمدغه كال د تلې (ميزان) په ١٨ دتره كي دمرګ اعلان داسې وشو: « دانقلابي شورا پخواني رئيس نورمحمد تره كي دهغې سختې ناروغۍ له امله چه څه موده مخكښې ورتـه پيښه شوې وه پرون سهر مړ شو انالله واناالـيه راجعون . دمرحوم جنازه دهغه كورنۍ هديره كښې خاوروته وسپارله شوه ». نور نو هغه دانا او توانا رهبر نه ؤ او د نورمحمد تره كي قصه پای ته ورسيده وروستـه بيا ځينو خلكوچه تره كى وژلى ؤ؛ ويل چه تره كي خپل ساعت او حزبي كارډ يوه افسرته وركړ چه داحفيظ الله امـين ته وركړه . بيـايې دى څملاوه او پرخوله ئې بالښت وركيښود . خولې نه يې ساه وختـه، او په دې توګه دده رول اوكردار ختم شو.

**حفيظ الله امين:** حفيظ الله امين چه يوازې پاتې شوى ؤ ؛ غوښتل يې چه خلك پرځان راټول كړي. ده داسې وښودله چه خپلې شخړې پاكستـان او ايران سره غوارې هوارې كړي او عدالت ، مصئونيت او قانونيت شعارېې وركړ.

كله چه امين دانقلابي شورا مشر شو تره كى له مينځه لاړ. دپلچرخي په محبس كښې ځينې بنديان سخت وارخطا شول.

١- دهرات دمظاهروبنديان لكه عبدالله رستاخيز، دكتور عبدالكريم يورش .

۲- ستميان لکه طاهربدخشی.

۳- هغه کسان چه له قادر، کشتمند او رفيع سره نيول شوي وو.

٤- پخوانی صدراعظم نوراحمد اعتمادي.

۵- هغه خلقيان چه د تـــره کـي پلويان وو او بنديان شوي وو لکه دکتور زرغون حنيف يرغل.

٦- اخوانيان لکه قاضي هدايت دلوي څارنوال مرستيال

۷- دکتور علي احمد دجمهوريت دشفاخانې پخوانی رئيس.

ليکونکي چه دغه محبس کښې ؤ؛ دوئ ته د ا ورکاوه چه دعدالت، مصئونيت اوقانونيت شعار به يو څه عملي کوي چه په عمل کښې ئې خلکو ته وښيي. ددوئ انديښنه او ويره بې ځايه نه وه.

په داسې حال کښې چه انقلابي محکمې جنرال عبدالقادر، سلطانعلي کشتمند او جنرال رفيع په اعدام محکوم کړي وو. امين ددوئ د اعدام سزا عمري بندته راکښته کړه. مگر په همغه شپه چه دا اعلان وشو په همغه شپه يې تورن جنرال شاهپور احمدزی او ځيني نور ووژل.

د (۱۳۵۸ هـ ل) دلړم (عقرب) په دريمه شپه يې عبدالله رستاخيز، دکتور عبدالکريم يورش، طاهر بدخشی، قاضي هدايت، دکتور زرغون، حنيف يرغل اونور ووژل. يوه ورځ نوراحمداعتمادي له ليکونکی پوښتنه وکړه چه څه فکر کوئ؟ ليکونکي ورته وويل: تاسو مخکښې تردې چه ونيول شوئ پاکستان کښې دافغانستان سفير واست. اوس چه امين غواړي پاکستان سره مناسبات سم کړي نو ستاسو د پاره د خلاصيدو موقع ده. بل خطر خو بيخي نشته، ماښام په اعتمادي پسې خلک راغلل. په تيره بيا دده خپل موټر (ليکونکی) د هليزته ورغی. ورته ئې وويل دغه دی صدراعظم صاحب زما خبره رښتيا شوه! اعتمادي په خپگان وو: ودرېږه وروره چه ځنگه کيږي. دی هم لاړ ووژل شو.

دکتورعلي احمد دجمهوریت شفاخانې رئیس یې هم بوتی.

عدالت مصئونیت او قانونیت باندې ټول پوه شول. امین پر تره کي داېره واچوله چه ده شخصیت پرستي راوستې وه، هغه دحزب ځای نیولی ؤ. ټولی وژنې یې پرتره کي واچولې او ده وویل وروسته د وري له ۲۵ - کال (۱۳۵۸ هـ ل) دی مسوول دی. خودده دوژنو شمیر هم ډیر جگ لاړ. امین په یوه مرکه کښې وویل څوک چه پټې معاملې کوي پټ به له مینځه ځي.

امین بـه هره ورغ کله تجاران، کله دپوهنتون استـادان ورغوښتل اوخبرې به یې ورته کولې. د اساسي قانون دتسوید کمیټه یې جوړه کړه. خوداټولې معاملې دده د پاره گټه نه درلوده. ځکه یوخو پرده اعتبارچانه درلود. دوهم داچه مخالفین تکړه شوي او پاکستـان او ایران ته کډوال روان وو. مـهاجرت دوام درلود. ببرک کـارمل اوملگري یې فعال وو. نور خلک به یې مخکښې کول اودوئ به ورپسې وو.

امین دتره کي ،وطنجار، مزدوریار اونورو هغو کسانو ښځې او ماشومان بندیان کړل کوم چه دشوروي سفارت کښې پټ وو. بندي خانې ډکې وې.

یوه شپه امین اعلان وکړ چه سیاسي بندیان خوشې کوي. ټول بندیان خوشحال شول. خو امین یو شمیر هغه کسان چه له اجباري عسکرۍ څخه تښتیدلي ؤ هغوئ یې قطعاتو بوتلل چه دغه دی سیاسي بندیان مې خوشې کړل.

خو دامین ترټولو مهم کارداؤ چه ددولس زره وژل شوي کسانو نومونه یې دداخلې وزارت پردیوالونو وځړول چه گواکې دتره کي پـه وخت کـښې وژل شـوي. دامـین دعدالت، مصئونیت او قانونیت دشعار په برکت په صدارت ،ارگ او دفاع وزارت کښې په زرهاؤ ښځې او ماشومان له عریضو سره تلل او خپل خلک یې غوښتل چه دهمدغه کار پهاثر ده لستونه وځړول. خو وژل شوي خلک ډیرؤ. چه نومونه یې په لستوکښې نه وو. خلکو به په دوو ورځو کښې دغه لستونه لوستل او بې سواده خلکو به هرچا ته زارۍ کولې چه دغه نومونه راته وگوري. داچه لستونو بندیان نه شو پوره

کولای؛ نو آوازه گڼه شوه چه بنديان سايبرياته ليږل شوي؛ بيا تر ډيره خلک په دې طمع وو چه بنديان به هلته وي. ځينې داسې دروغ آوازې به هم خپريدلې چه دصابون په کارتنو کښې ددغو بنديانو خطونه ليدل شوي خلکو داتمه درلوده چه کمونستان ترغۍ په ترغې شول. نن يا سبا به له مينځه لاړشي. همداسې هم کيدل چه بريژنف د شوروي اتحاد مشر امروکړ چـــه افغانستان دې ونيول شي.وروسته د (کي.جي بي) اسناد په امريکا کښې په کال( ۱۹۹۰م) کښې خپاره شول، چه دغه تصميم ده ونيواو دده ليک هم خپور شو.

په دې صورت کښې لومړی روسي عسکرافغانستان ته ننوتل . (۲۷) ډسمبرکال (۱۹۷۹م) او په راتلونکي کال ( ۱۹۸۰م) کښې مرکزي کميټې دامسأله تصويب کړه داسې ښکاري چه شوروي اتحاد دکمونست گوند مرکزي کميټه په داسې حال کښې چه روسي عسکر افغانستان ته ننوتلي وو دمجبورۍ له مخې يې هغه تصويب کړ . حتی يوه روسي ژورنالست وويل: چه برژنف دغه وخت بيخي له کاره وتلی ؤ.

ډسمبر په (۲٦) هوايي پل وتړل شو. پرله پسې الوتکې راتلې. بنديانو دمحبس له انگړ څخه کتل. په بنديانو کښې داسې صاحب منصبان وو. چه په روسيې کښې يې تعليم کړی ؤ؛ دوئ له الوتکو سره او د توپونو له غږ سره آشناوو او پوهيدل چه څه ډول قوه راروانه ده او داتکل له مخې دومره ليږې دی.

عسکري جنرالان اوسياست پوهان، د پوهنتون استادان چه دپلچرخې په لومړي بلاک کښې بنديان وو؛ ټولو تبصرې کولې. ځينو ويل چه که روسيه افغانستان ونيسي اوسياسي پولې ماتې شي نو هرڅوک به هرچيرې ننوزي داکارامکان نه لري. ځينو ويل چه روسانو وروستـه له نړيوالې دوهمې جگړې هيچرې عسکرنه دي ليږلي اوداکار عقل نه مني. ليکونکي وويل داڅلېر ويشت گړۍ کيږي چه الوتکې راروانې دي. داکه چاکليټ هم راوړي مونږ زورنه لـــرو. هرڅه چه وي حـــالات څه بل ډول دي. داعسکردي. چه راغلل.

جنرال یحیی نوروز، جنرال زکریا ابوي، جنرال غلام فاروق، جنرال عظیم او نورعلي سلیمان دپلومات غفور روان فرهادي، صباح الدین کشککي ، دکتور سید عبدالله کاظم استاد ، دکتور عزیز لودین، دکتور اختر مستمندي استاد ، دکتور نادر عمر استاد ، عزیزالله واصفي وزیر ، عبدالاحد کرزی قومي مشر ، کمال شینواری قاضي....

دغه وخت بندیان له پخواني افغاني فکر سره وو. وروسته بیا په بیلولارو لاړل.

ACKU

# د روسانو راتگ افغانستان ته

په داسې حال کښې چه کمونستان دهیواد په کرارولو کښې پاتې راغلل؛ پخپله هم ځو برخې شول. حفیظ الله امین چه پوهیده دده رقیب ببرک کارمل را روان دی؛ نو خپلې وروستنی هلې ځلې یې وکړې. دروسیې له سفیر سره یې وکتل، دپاکستان دخارجه چارو وزیر صاحب زاده یعقوب ته یې دخبرو بلنه ورکړه . هغه هم را روان ؤ دواړه خواوې یعنې امین او روسان په بیړه کښې وو. د پاکستان خارجه وزیر دراتلو افغانستان دخبر له مخې باید دډسمبر په ۲۷ راغلی وای. چه روسي عسکرو وار ړومبی کړ.

امین په هره توگه چه کیدای شول د ببرک کارمل مخه نیوله. لەدې امله کوم مقاومت چه امین له روسانو سره وکړ یا غوښتل یې غرب ته نژدې شي. ځینو ویل چه دی ناسیونالستي فکرلري؛ خو اوس دده دپاره ناوخته ؤ.

امین په آخره ورځ غوښتل یوه وینا وکړي او دروسانو راتگ خلکوتهووایي اوټول پرچمي بندیان ووژني.مگر روسانو دغه مجال ورنه کړ. حتی داستادانو غونډې ته هم دده دورتگ مخه ونیوله شوه ، اودی په تپه تاج بیگ کښې ووژل شو. وروسته دده کورنۍ محبس ته راوستل شوه چه یوه لوریې تپې شوې هم وه. په همغه حالت کښې یې راوسته.

امین دتره کي کورنۍ محبس ته راوستې وه . کله چه د تره کي مرگ اعلان شو دتره کي فامیل وژرل اوبدې ورځې یې وکړې چغې ئې وهلې. په وتلو شول. دبندي خاني قوماندان امر وکړ چه دوئ ووهئ بیایې په لرگیو اوکمربندونو سخت ووهل. په تیره دتره کي میرمن یې ډیره ووهله. د بندیانو زړه پردوئ بد نه شو او هیچا ورسره همدردي نه درلوده ځکه دغه وخت هم دحضراتو سخې بندیانې وې او دشاهي کورنۍ

ACKU

ښځې څه موده ترمخه بندیانې وې چه بدسلوک ورسره کیده.

دافغانستان خلکو له هغه وخته له دې ویره درلوده چه په کال ۱۳۰۵ هـ ش کښې بخـارا تـــه روسان ننوتل او دبخارا خلک افغانستان ته راغلل. دغو بخارایانو ډیرې قـصې له ځانه سره راوړې وې. دغـه بخـارایان لا دلتـه وو چه روسـان دلتـه راغلل. هرڅوک خپه ؤ.روسان د کال ( ۱۹۷۹ع دډسمبر په ۲۷ ) راغلل.( ۱۹۸۰ع) په مارچ کښې دکابل خلک پاڅیدل.ټولو اذانونه وکړل. دمکتبو نجونې سړکوته ووتې د«مرگ یاخپلواکی» شعارونه یې ورکړل. هیڅا په خپل ژوندصرفه نه کوله. ماشومان، ښځې زاړه ځوانان را پاڅیدل، هیلوکوپټرونه گرځــــیدل. پرمظاهـــرو دگولیو باران ؤ. ډیرې شهیدانې اوشهیدان اوبندیان شول.

نجونو خـپل ټکري افـغـان عـسکروته ورکـړل چه دا پرسـرکـړئ. پرچمـیـانوته یې پیغـورونه ورکول، روسانو ببرک کارمل ته ویل چه یوه چاره وکړه. تاخـو ویل چه زه دخلکو په نبض پوهیږم. هغه خپلې ویناوې کولې؛ چه دادپاکستـان ،اسرائیلو او امریکې لاس دی. روسان زمونږ دوستان دي اوزمونږ ددفاع د پاره راغلي.

د(۱۳۵۹هـ ش ) پسرلي دوینو پسرلی شو. دکاندارانو خپل دکانونه بندکړل. د ښوونځیو زدکوونکي په تیره بیا اووه کلنو ماشومانو چغې وهلې «روسانو زمونږ له وطنه ووزئ»ناهید، وجیهه په همدغو مظاهروکښې شهیدانې شوې. د رابعه بلخي، عایشه دراني، زرغونې، ملالی، دزنیب هوتک ښوونځي، رښتیا چه دایو ملي پاڅون ؤ« مونږ نه شرق غواړو نه غرب. مونږ افغانستان غواړو »، مرگ یا خپلواکي! مړدې وي شرقي او غربي استعمار! داؤ ددوئ شعارونه، روسان په ټانکو کښې گرځیدل او کله به یې پرخلکو دکلاشنکوف ډزې کـولې. پرچمـیـانوته نجونو ویل خپله مورمو روسانوته ورکړه.

افـغان پیغلو خپل ښکلي تیونه هغـو افغاني عـسکروته چه دروسانو پـه خدمت

کښې ؤ ښودل او ويل چه دا د تاسو د پاره دي نه د روسانو د پاره! سلام پرافغانانو!

دا داطريش په يوه اخبار کښې ليکل شوي ؤ:

يوې سپين سرې ښځې چه دافغانستان دمقاومت خبرونه يې اوريدل، وايي دا زما وظيفه ده چه هرسهار مخ دافغانستان په لوري کړم او ووايم سلام پر افغانانو.

يو وړوکی ماشوم په شهر آراء کښې اورلگيت سره د روس ټانک لاندې ننوتلی غوښتل يې په اورلگيت هغه وسوځوي.

دافغانستان دخلکو له عام پاڅون او ملي احساساتو بهرنيو هيوادونو گټه واخيسته. دټولې نړۍ مطبوعاتو، راډيوگانو يومخ دافغانستان خبرونه ورکول. حبيب کرزی چه يو افغان ډپلومات ؤ؛ ويل چه له جرمني څخه فرانسې ته په اورگاډي کښې تلم څنگ ته مې يوه سړي پوښتنه وکړه دکوم ځای يې؟ ما ويل افغانستان. سړي ودريد سرتر پايه ئې راته وکتل افغانستان؟ ما ويل هو! زه فکر نه کوم چه افغانان به عادي خلک وي! ته که بيرته لاړې دافغانستان کانړو او اوبوته مې سلامونه ووايه!

له پوهنتون څخه دومره زدکونکي وايستل شول چه دانجنيرۍ پوهنځی بيخي وتړل شو. يوځل بيا: مورې لنډۍ ټوپک مې راکړه = غزاله ځم پروطن ځان شهيدؤمه!

دافغانستان دملت دغه پاڅون تاريخ نه هيروي، که مونږ ونه وايو په زرهاؤکتابو کښې راغلي دي.

ليکونکی چه دکال (۱۳۵۸ هـ ل) دمرغومي په ۱۶ له پلچرخي څخه ووت: دسړيو يوبهير ؤ. ويل کيږي او يازره کسان وو. چه د خپلو بنديانو د پاره راغلي وو. ښځو پرخپلو سرو خاورې بادولې اومخونه يې په څپيړو وهل، او د خپلو بنديانو نومونه به ئې په خوله اخستل. خو مړي چا دي ژوندی کړي په ژړا؟

ددې پرځای چه اووه ويشت زره خلک خلاص شوي وای څلـــور زره ژوندي ووتل: «بريالي محمود د ببرک کارمل ورور وينا کوله چه داټول جنايات دحفيظ الله امين

دي کوم بنديان چه د امين له چرې پاتې ؤ هغه مو پرته له سياسي توپيرنه خوشې کړل».خوچا غوږ نه ورته نيوه.هرچا غوښتل خپل بنديوگوري.

غلام محمد فرهاد چه نوي(۹۰) ورځې بندي ؤ؛ ده ته چا جامې نه وې ورکړې په همغه جاموکښې چه بندي شوی ؤ په همغو جاموکښې ووت. ږيره يې ډيره اوږده شوې او په تن ډير زهيره ؤ. هغو خلکو چه پيژانده چه دی د کابل ښاروال اودبريښنا لوي رئيس فرهاد دی نژدې به ورته راغلل تعظيم به يې وکړاو بيرته به تلل.

فرهاد دامين له اقتدارنهوروسته د۱۳۵۸ دتلې په لومړيو ورځو کښې ديوې کودتا په الزام ونيول شو . جنرال سراج الدين ، قدير پياوړی ، جنرال عبدالمجيد سپين غر اوځينې نور له ده سره نيول شوي چه گواکې غوښتل يې دکابل داطرافو وضع خرابه کړي. دفرهاد دنيولو خبر په ټوله نړۍ کښې خپور شو. انتوني ارنولډ امريکايي ليکوال ( دروس يرغل پرافغانستان) کتاب کښې پردغې واقعې څه ډيرې خبرې کړي چه البتـه خارجيان هسې نه پوهيږي لکه څنگه چه دهيواد خلک پوهيږي. فرهاد دافغانستان پرخلکو گران ؤ. په تقوی کښې يې شهرت درلود. دکابل خلکودی ځلورواړې دخپل نماينده په توگه وټاکه.

دژړا انگولا زړه دردؤنکې منظره وه. دپلچرخي له محبسه بيا دمحمودخان ترپله پورې لس کيلومتره دانسانانو موج موجود ؤ.

روسان په لارو کښې له ټانکو سره ولاړ وو. افغانستان ته روسان راغلي ؤ . خلک ځوړند سرونه گرځيدل او ديوه توفان په طمع وو. او دا توفان را روان ؤ. په عسکري قطعاتوکښې، هيواد پالو ځوځي افسرانو هرځای کښې د عملياتو په ترڅ کښې وسله خلکوته پرېښودله ،او مجاهدينوته يې دروسي قواؤ دحرکت خبر ورکاوه. دملت په افرادوکښې داسې څوک نه ؤ پاتې چه په يوه توگه يې دروسانو په خلاف يوډول فعاليت نه کاوه.

شهادت د وطن اودين په لاره کښې دهرچا هيله وه ، پخپله وړي وو خو مجاهدين يې ماړه ساتل. ميندو پخپله هغه زامن چه دکمونستانو خدمت کښې وو ياکمونستان وو مجـاهدينو ته پهلاس ورکـول چه دا ووژني او ددوئ په مـرګ يې خـواشينی نه کـوله. داهغـه عـيني ليدنې دي چه د باندې او دننه خلک پرې پوهيـدل . کتـابونه او اخبـارونه پرې ډک، سندرغـاړو په سندرو، شـاعـرانو پهاشعـاروکښـې د روسـانو او کمونستانو پرضد خپل تأثرات څرګندول.

په ټولو وزارتونو کښې روسي مشاورين ننوتل . يوسل شل زره عسکر اومربوطه کاريګروسره لکه طبي، لوژيستک، ورکشاپ، سياسي مشاورين، پوځي مشاورين نژدې دوو لکوته رسيـدل. څرنګه چه افـغـانستـان له روسـانو سره ګډ سرحد درلود هرڅـومـره بهچه ددوئ عـسکر وژل کـيـدل يابه يې ټانکونو اور اخـست يا بهئې هليکوپټرونه لويدل . دومره بهبيرته راغلل اوشمير بهنه کميده . په لومړي سرکښې خلک په ټانکو وختل اوټانک دچلوونکي دمخې ښيښـه به يې پهختوککړه کړه چه خپلهلار بهيې نهليدله. بيـا به يې جګړه ورسره پيل کړه. يابهيې په کومـه روايتي طريقه پهښيښه يې بوتل کښې د بم په څير يوڅه جوړول اوټانکونه به يې الوزول .

کلهچه روسي عسکرو دکابل ډک بازارونه وليدل. نو په چوريې شروع وکړه . هرڅه به يې خـوړل. يوه روسي صـاحب منصب ويلي ؤ چهدومـره نعـمت او پريمـاني په کمونستي کښې نشته. دپلچرخي دمحبس کانتين ته راغلل. ډېرو اوخرابو سګرټو په توپير نه پوهيدل . ارزانهسګرټ يې څکول.کهڅه هم دوئ پيسې نه ورکولې. دچور په حساب ؤ. ميوه ، کلچې، چاکليټاو هرڅه يې خولې ته اچول . دغه پرچمي ښځې پورته منزل کښې او پرچميـان کښتـه مزل کښې جـميلې ، پلوشې يوې څـو پرچمي نجونو پر رفيع او قادر اوکشتمند باندی غږوکړ چه « سترګې مو روښانه روسي ملګري راغلل » .

روسانو هغه سیستمونه په کارکړل چه دمرکزي آسیا په هیوادوکښې یې مخکښې تردې کړي وو. دمثال په توګه په ښوونځیو، پوهنتونو کښې د سوسیالیزم درس ورکول دتاریخ بڼه ګرځول او هغه دزیارکښو مبارزه دفیوډالانو پــه مقابل کښې ښودل. مطبوعات او راډیو تلویزیون یو مخ دروسانو په دود رامینځ ته شو.

په ښوونځیو کښې لومړنی حزبي تشکیل اوبیا اتحادیې وې. دښوونکو اتحادیه دملایانو اتحادیه (ذهني کارګر) دملي تجارو اتحادیه. دکارګرو، دلیکوالو، اوپه سلهاؤ داسې اتحادیې جوړې شوې چه ټوله ټولنه ترڅارنې لاندې راشي. دصحنې بله خوادخلکو مبارزه جهاد اومقاومت ؤ، چه اوس په پاکستان او ایران کښې دمجاهدینو په نامه مرکزونه، کمپونه جوړ شوي وو. دامریکې غږ دپښتو او فارسي څانګې جوړې کړې. په مونشن کښې دځپلواکۍ غږ راډیو جوړه شوه. دسمو معلوماتو راټولو دپاره دامریکې په مرسته ځوخبري مؤسسې جوړې شوې. امریکا په نیغه راګډه شوه سعودی عربستان په ټول عربستان کښې چنده ټوله کړه او خپلو خلکو ته ئې چه دمجاهدینو له جملې څخه وو؛ ورکړې.

پاکستان او عسکري جاسوسي: هرهغه څوک به چه له افغانستان څخه هلته مهاجر کیدل هغه به یې نیوه، دده نه به ئې ټول معلومات اخستل. که دغه سړی ددفـاع دوزارت ؤ نودعسکري تشکیلاتو دوسلې اندازه او ډول. دنورو لوړ رتبه صاحب منصبانو په باب معلومات به یې ورکول. دغه ډول دداخله وزارت، مطبوعات، معادن او صنایع هر ریاست یا وزارت به چه ؤ؛ ددوئ نه به ئې اړوند معلومات اخستل. دلته دافغانستان په باب داسې محرم څه پاتې نه شول چه پاکستان نه وي ټول کړي. دغه ډول معلومات به بیا دامریکې دCIA له خوا کمپیوټر کښې ساتل کیدل. او اصل به یې دپاکستان دپولیسو سره ؤ. په پای کښې دوئ ته لویشت لویشت، پانه پانه، احصائیې، عکسونه دوسلې نمونې، او د روسي وسلې خصوصیات هرڅه ددغو افغانانو له خوا ورکړل شول. افغانانو غوښتل چه روسان

ددوئ له خاورې ووزي. پاکستان ، ایران، عربستان ، غرب او امریکه ئې خپل دوستان بلل. دوئ پوهيدل چه مونږ څه نه شو کولای،ګوندې دوئ له دغو معلوماتو څخه په ګټه اخستلو روسان ووهي.

پیلوټانو دالوتکو نوعیت شمیر هرڅه په ګوته کول. توپچي هم دغسې. په پای کښې دوئ په هرڅه پوهيدل او هغه به یې په کارول. ټول ماهرین پاکستان ته ولیږدیدل.کله به‌چه دخلکو جهاد دروسانو په مقابل کښې کمزوری شو بیا به له امریکې‌ ماهران راغلل او ددې پوښتنه به‌یې کوله‌چه وجه‌څه‌ده؟ هغوئ به‌خپل مشکلات ووایه. دوئ به هغه ورته پوره کړل. دوسلو دوړلودپاره یې یابوګان برابرکړل . داسې دوربینونه چه په توره تیاره کښې یې هم‌لیدلی شول . دغو دوربینو ( لیرې‌لید ) دآسمان‌له یوه ستوري یادیوه دشپې لیدساعت څخه خپله رڼا اخستله‌او هرڅه به یې ښودل . داسې خلک وو چه هم دپرچم او خلق غړيؤ. هم یې دکمونستي دولت خبرې ایستلې اوخپلو خپلوانو یاملګروته‌به یې ویل . هغه به بیا پاکستان ته رسول . حتی څه‌چه په‌مرکزي کمیټې کښې پیښیدل . په دې کښې مطلب دا ؤ چه‌دوئ خپل‌اعتبار دغرب په‌مقابل‌کښې هم ساته. که سبا کمونستان‌له‌پښو ولویږي، ددوئ دپاره دتم کېدو او پښې ایښودو یوځای‌وي. ددغه عمل یو مثال دجمهوري ګارډ دقوماندان ( د نجیب پـــه وخت کښې ) جنرال فاروق ظریف‌دی چه په ( ۱۹۹۰ع) کال کښې امریکاته راغی او دلتـه هرڅه ورته برابرؤ او دده ورور فرید ظریف چه دنجیب مشاور او مخکښې تر هغه په ملګروملتو کښې دافغانستان نماینده‌ؤ.بیا ورورسته محمدخان جلالر دتجارت وزیـــر پـــه سلهاؤ المان، امریکا او نوروځایوته لاړل . صمد اظهر دپولیسو عمومي قوماندان المان ته ،جنرال قادر میاخیل استرالیا ته دغه‌سړی د«خاد مرستیال هم ؤ » حسن شرق چه (۱۹۸۸ ع) صدراعظم ؤ.

دپاکستان آی اس آی په هرګروپ مجاهدینو کښې خپل کسان درلودل. خبره

جوماتوته هم ورسيده. کوم قوماندان به‌چه ملي روحيه درلوده هغه به‌چه پښورته راغی دلته به ووژل شو. لکه نسيم اخوندزاده ، ولي کړوخيل او په سلهاؤ نور ليکوال لکه سيد بهاؤالدين مجروح، عزيزالرحمن الفت. داسي ښکاريدله چه دغه تصفيه اوپاکول يوازې دانه ده چه دروسانو مقابله وشي. دلته دوئ چارې سرته رسيدلې له يوې خوا دروسانو سره مقابله او له بلې خوا په دې ترڅ کښې دافغانستان ملي او تاريخي هويت دتل دپاره له مينځه وړل. دافغانستان آبادی ډيرې له مينځه تللې . دروسانو ترلښکرو ډير مجاهدينو وران کړل . هغو خلکو به‌چه ويل دآباديو څه گناه ده؟ بايد ونه نړيږي . دوئ به ځواب کښې ويل : چـرت مه خرابوئ همدا چه جگړه خلاصه شوه بيا بين‌المللي مرستې راځي ټول له سره نوي جوړيږي.

د پاکستان دپوليسو شپږ بيلې ادارې دي. لکه عسکري ،داخله وزارت، صوبايي ، فيډرال، خارجه‌وزارت اوسپيشل برانچ. سربيره پرهغه دتهران، اسلام آباد او ډهلي ترمينځ دامريکې دسفارتونو له خوا هم معلوماتونه ټوليدل او يوبل ته به‌يې ليږل . بله اداره دصنعتي او اروپايي هيوادونو وه چه‌دوئ هره اونۍ اسلام آباد کښې معلوماتونه سره يو له بله ورکول. عربي هيوادونه او ايران دخپلو سفارتو او قونسلگريو په وسيله مخبرانوته معاشونه ورکول. دايران سياسي نمايندگيو له‌خپلو مخبرانو څخه قلمي کتابونه سکې‌اونورتاريخي شيان اخستل. سيد عبدالحسين واعظ فکرکاوه چه دا به يوه عندالله مرسته وي. هلته‌چه ورغی ده ته‌يې وويل: چه موږ شخصي ليکوته چه‌دمهمو يا پوهو خلکو ترمينځ ليکل شوي‌او دوئ هغه‌ايسته غورځولي وي، هغه هم‌اخلو. واعظ ويل دايران پيسې وريانه وې، دی دشيعه مذهبو يومشرؤ. پاکستان دټولو خارجي هيوادو معلوماتونه دافغانستان په باب ترلاسه کول.

پاکستان هغه خلک چه‌دوئ مخکښې دخپل سياست مخالف پيژندل هغوئ به‌يې اسلامي حزب ته وسپارل چه‌له‌مينځه يې يوسي چه مسؤوليت يې ددوئ په‌غاړه نه وي

لکه نور علم خان دمیدان پخوانی وکیل او دده دوه زامن، ډاکټر صمد درانی او په زرهاؤ نور چه د پوهنتون زده کوونکي او استادان وو.

لیکونکی د (۱۹۸۰ع) په جنورۍ یاد (۱۳۵۹هـ ش) د مرغومې په۱٦ پېښور ته ورسید. په همدغه ورځ پاکستان د ٤۲ سیاسي گروپو څخه یوازې شپږ تنظیمه په رسمیت وپیژندل او نورې غیر قانوني وبلل. ددغو شپږ تنظیمو مشران عادي خلک ؤ. دوئ سیاسي، اداري او عسکري سابقه نه درلوده. په دوئ کښې سید احمد گیلاني او صبغت الله مجددي دومره خپل او خپلوان په پاکستان درلودل چه پاکستاني وو. په پاکستان کښې هم داعتبار خاوندان وو. خو پاکستاني اعتبار یعنې ددولت له خوا. پاتې هغه خلک چه ددذوالفقار علی بهتو د صدارت په دوره (۱۹۷٤م) کښې پاکستان په خپل بست کښې نیولي وو. لکه استاد رباني، انجنیر گلبدین، احمد شاه مسعود...

لیکونکی ددې خبرې شاهد دی چه غلام محمد صافي دکونړونو وکیل دکمشنر په دفتر کښې کمشنر ته وویل: مونږ تاسو باندې حق نه لرو که مونږ ته لږ راکوئ یا ډیر خو زه هم یو پخوانی وکیل یم او ځینې نور هم. تاسو ماته دمیاشتې پنځه سوه روپۍ راکوئ، او ځینو وکیلانو ته د میاشتې دوه زره یادرې زره. زمونږ ترمینځ دا توپیر ولې دی؟ کمشنر ورته وویل: هغوئ په افغانستان کښې هم زمونږ دوستان وو؛ دلته هم. غلام محمد صافی په خبره پوه شو او وئې ویل: ښه صاحب ډیره مهرباني!

ډگروال عثمان خان دلغمان اوسیدونکي ویل: چه دانگریزانو دوخت لستونه دلته موجود دي چه ځینې خلک هلته په افغانستان کښې اوسیدل او دلته یې معاشونه اخستل. هغه لستونه له دوئ سره دي. تا ولیدل چه څو ورځې دنایب سالار عبدالله شاه جي زوي ونیول شو. په تحقیقاتو کښې څرگنده شوه چه دشاه جي زوي دی کوم چه افغانستان کښې دنادرشاه په وخت کښې دحربي فابریکو رئیس ؤ. سمدستي خوشې او مرسته ورسره وشوه. هرسړی به چه پاکستان ته له افغانستان څخه راغی

یوه مـوده وروستـه به وپوهیـدی چه په رسیـوتړل شـوی دی . نه ورانديږ تلی شي نه وروسته او که داکاروکړي مرگ یې آسانه‌دی. نو چـاته به چــه له پاکستان څخه وتل بل هیوادته میسر شول یوه شپه‌یې هلته نه‌تیروله.

ملت په تیره بیا مهاجریرغمل نیول شوي‌وو. هرمهاجر په دې مجبورؤ چـه یوه تنظیم‌څخه کارډ واخلي او ځان ورسره وتـړي . بیا به راشن پاس ورکول کیده . چه دبین‌المللی مرستو غنم ، غوړي اوخوراکي شیان واخلي. همداسې خیمې او دکمپ مصئونیت شپږو تنظیمو ، پولیس دتحقیق دفتر ، بندیخانې درلودې . دوئ کولای شول هرڅوک بندیان او اعدام کړي. هیڅ پوښتنه حتی گیله هم چا نه‌شوه کولای.

یوه سړي دسترگو لیدلی حال داسې بیان کړی، دسیاف ددفتر یو پیردار پـــه څه شخصي مـشکلاتو خپه‌ؤ.یو آمر تیرشـو . خو پیردار ورته ولاړ شـوی نه‌دی اودده احترام یې نه‌دی کړی .

آمـر دده سپکاوی وکـړ. نورهم خپـه‌شـو. غـرمـه یې چه ډوډۍ ورته راوړه ده له خپگانه‌ډوډۍ ونه خوړه. آمر چه‌خبرشـو ده ډوډۍ ونه خوړه نو فتوای ورکړه چه‌دده کفران د نعمت کړی . دخـــدای تعالی ورکړې روزي یې رد کړې اودا په اسلام کښې کفر دی. پیردار په همغه ورځ اعدام شو.

عبدالرسول سیاف چــه د کابل لــــه محبسه دحفیظ الله امین په دوره کښې ووت پېښورته راغی اوهلته د شپږو تنظیمو داتحاد رئیس شو. بیا چه اتحاد ړنگ شو دی داتحاد اسلامي دمشر په‌توگه پاتې‌شو. ځکه هغه‌پیسې چه‌داتحاد په وخت کښې ټولې شوې وې ده وساتلې. په‌دې صورت دا اووم تنظیم پاتې‌شو.

دتعلیم یافتـه ؤ دپاره دژوند لاره نه‌وه . له‌دوئ څخه‌ډیر تنظیموتـه نه‌تلل. دپېښور په‌ښار کښې یې عادي مزدوری کولې.

لومړئ درجه نازولي، گلبدین‌داسلامي حزب ؤ. دوهمـه‌درجه د رباني جـمعیت اسلامي ؤ؛ چه هرکـال دزرو میلیونو ډالرو مرستـه زیاته برخه‌دوئ اخستـه. دا زر

میلیونه ډالر هغه مبلغ دی چه وروسته (CIA) څرګند کړ او په واشنګټن پوست کښې دغه څرګندونه خپره شو. نورې چـه عربو او نور هیواد ورکولې هغه تریادشوي رقم په څـوواره ډېرې دي. له دومره بې حسابه پانګې سره دوئ هرڅه کولای شول. ملت تش لاس اودوئ ته اړؤ.

ضیاؤ الحق ویل چه زه هم یو مهاجریم. دمهاجر په حال پوهیږم. ده پاکستان دمغلي هندوارث باله او په آسیـاکښې یې دجنوب دمسلمانانو دوکالت دعوه کوله، او پاکستان یې داسلام قلعه بلله. دده پروګرام ډیر پراخ ؤ. نه یوازې افغانستان بلکه مرکزي آسیاته یې سترګې نیولې وې. په پېښور کښې دمرکزي آسیا دمطالعاتو مرکز موجود ؤ. چه پرمرکزي آسیایې پراخه مطالعه کوله. ددغه مرکز بنیاد پراخ ؤ او لکه دپېښور پوهنتون دومره مصرف او وسایل یې درلودل. ددغه مرکز مطالعات خارجه وزارت ته ورکول کیدل.

دمرکزي آسیا تاریخ، کلتور، اقتصاد، سیاسي جغرافیا، خلک، ټولنیز اړیکي دهغو ارتباط له افغانستان سره، ادبیات هرڅه څیړل کیدل؛ دمطالعاتو دمرکز ارتباط په امریکا کښې دنبراسکا له مرکز سره ؤ. هلته دافغانستان څانګه هم وه. دکتور انورخان دمطالعاتو دمرکز مشرؤ.

د (۱۳۵۹هـ ش) کال د غوئې میاشت په ۲۰ دکتور انورخان او عظمت حیات خان دلیکونکي دفترته پېښور کښې راغلل او د نورو خبرو په ترڅ کښې ئې دا پوښتنه هم وکړه چه روسان به ګوندې له افغانستان څخه وزي؟ لیکونکي اووه دلیله وویل چه روسان وزي. او هغه داؤ.

۱- په اقتصادي لحاظ دجنګ مصرف په افغانستان کښې په ورو ورو دروسیې اقتصاد کمزوری کوي. ځکه په افغانستان کښې زراعت، تجارت داخبرې اودېخوا په تناسب لس په سلو کښې نه دي پاتې؛ نو دافغانستان خرڅ هم ددوئ په غاړه دی. له معاشو نیولې ترمصرفي کالیو پورې.

۲- دروسيې خلک له افغانستان سره جګړه يو ضروري او مهمه جګړه نه بولي.

۳- دروسيې پرتأثير لاندې هيوادوته دپاڅون فکر پيدا کيږي. ځکه هغوئ ګوري چه روسيې سره جګړه کيداى شي.

٤- غرب دروسيې په مقابل کښې متحده پاليسي غوره کوي.

٥- دغرب دپاره دپراخو تبليغاتو زمينه برابريږي.

٦- اسلامي هيوادونه سره نژدې کيږي.

۷- دنړۍ هيوادونه دروسيې په دوستۍ ويسانه کوي.

دکتور انور خان عظمت حيات خان ته وويل: چه دغه دليلونه يادداشت کړي. چه په دې سلسله کښې څه انفرادي دلايل هم ددوئ په کار وو. ليکونکي دغه دليلونه دافغان ملت په جريده کښې هم خپاره کړل.

داچه دپاکستان په نظر کښې د افغانستان خوړل آسانه شوي؛ دهغه دپاره ډير دليلونه شته. مګر د جنرال حميدګل هغه ليک چه ضياؤالحق ته ئې ليږلی ؤ او دنوموړي مکتوب کاپي ووتله ددغه مدعا ډيره ښه بيلګه ده.

ددغه ليک کاپي د ليکونکي په آرشيف کښې شته:

تورن جنرال حميدګل د آی، اس آی د مشر له خوا دجنرال ضياؤ الحق دپاکستان دجمهور رئيس په نامه Focus Qn Apoadlonrtal د (۱۹۸۸ع) دجون ديرشمه.

ورروسته له دې چه دجينوا قرار داد لاسليک شو، شوروي اتحاد مجبوردی خپلې قواوې له افغانستان څخه وباسي. دا دافغانستان دجګړې برى دى کوم چه پاکستان په هغه کښې لويه برخه درلوده. مونږ ته يې يو تاريخي مهمه موقع په لاس راکړې ده. کله چه روسي قواوې له کابله ووتلې؛ دلته دقدرت يو خلا پيدا کيږي چه مونږ بايد هغه ډکه کړو. مونږ بايد دغه تاريخي موقع له لاسه ورنه کړو؛ چه هيڅکله په لاس نه وه راغلې.

مونږ يوه نوي ابتکارته ضرورت لرو، چه دهند د توسعه غوښتنې مقابله وکړو کوم

چه يو پياوړی نظامي ماشين لري.

داضروري ده چه پاکستان يو کنفدريشن له افغانستان سره جوړکړي. دغه کنفيډريشن بهداسلام ترشعار لاندې وي او له اسلامي هيوادوڅخه به دهغه دتاييد په لټه کښې شو چه د منطقې دثبات د پاره ضروري دي چهدکمونيزم مخهونيسي.

داخبره زمونږ پهوس کښې ده ځکهداوو تنظيمومشران پهبشپړه توگه پرمونږ تکيهلري. ځينې له هغوڅخه لهمونږ سره يوځای کارکوي او دپوره همکارۍ وعده يې کړې ده. مونږ بايد دغهکاميابي سرته ورسوو اومجاهدينو سره بشپړه مرسته وکړو. په تيره بيا حکمتيارترټولو پياوړی دی او زمونږ داعتبار وړدی. کله چه روسان ووزي دکابل حکومت يوه مياشت هم نهشي پاتې کيدای. هلته بايد يو آزاد اسلامي حکومت راشي چهدپاکستان پلوي وکړي او په داوطلبانه توگه له پاکستان سره کنفيډريشن جوړکړي او امنيتي سرحدونه لهمينځه لاړ شي. يوگډ اقتصاد جوړ شي. دا به مونږ ته يوه لاره پيداکړي چهدافغانستان ديورانيومو ذخيروته ورسيږو (طبيعي ذخيرې) او زمونږ اتمي پروگرامونه به د نورو هيوادو له احتياجه خلاص شي او دکنفيډريشن پيشنهاد بههم دافغانستان اسلامي حکومت کوي.

دليک په وروستۍ برخه کښې داچه ترکيه او ايران بهرابلل کيږي؛ ليکل شوي.

ډگروال يوسف چهپه ( آی اس آی) يا دنظامي پوليسو ادارې کښې کارکاوه. ده يوکتاب وليکی په کتاب کښې دامريکې د CIA او ISI د گډ کار او عملياتو بيان راغلی چه ورروسته بهځينې مطالب ترې واخستل شي.

په (۱۹۸۰م) کښې چه دافغانانو مقاومت څرگند شو. امريکې موضوع په کانگرس کښې مطرح کړ. پهدې موضوع باندې ډير بحثونه وشول. پهپای کښې دې فيصلې ته ورسيدل.

۱ - دسمو معلوماتو دپاره دې يو دفتر پېښور او يو دفتر اسلام آباد کښې پرانستل

شي.

۲- مجاهدينو سره دې دوسلو کمک وشي. ددغو وسلو مؤثريت دې وکتل شي.

۳- دلته بايد يوه تجربه وشي چه بيا په نورو هيوادوکښې کارځنې واخستل شي.

٤- د بشر دحقوقو راپورونه اودبين المللی عفوې راپورونه دې په غوروکتل شي او پراخ تبليغات دې سرته ورسيږي.

اروپائي هيوادو لکه انگلستان، جرمني، فرانسي او نورو خپل خپل دفترونه دافغانستان په نامه پرانيستل او مسأله په گډه ملگروملتو ته وسپارل شوه چه ځوکاله عمومي مجمعې تصويب وکړ چه خارجي لښکرې دې له افغانستان څخه ووزي. روسانو تل داخبره کوله چه دافغانستان خلک خوشحال دي .خو دافغانستان حکومت دپاکستان او ايران، چين او نورو پانگه والو هيوادوته پريښودل کيږي چه خپل هيواد آباد کړي.

پاکستان له دې موقع څخه چه روسان او کمونستان افغانستان ته راغلي ؤ کومې گټې واخستې؟

۱- په نړۍ کښې يې اهميت وموند چه دافغان دمهاجرو زياته برخه او دمقاومت مرکزونه هلته ؤ.

۲- په بيليونو ډالره چه تنظيمونه راتلل له هغو څخه دوئ څو ډوله گټه اخستـه. دغه ډالر همالته په موادو، وسلو او نورو ضروري شيانو بدليدل. دوئ يوسهميه هم اخستله. په زرهاؤ پاکستانيان دکمشنرۍ په نظامي او پوليسي ادارو کښې په کارواچول شول. ډير کورونه جوړ شول او په کرايه ورکړل شول.

۳- پاکستان به نوې وسلې اووسايط ځانته اخستل. خپل زاړه به يې مجاهدينوته ورکول .

٤- پاکستان خپل هوايي ډگرونه اولارې جوړې کړې چه دضرورت په وخت کښې

کارترې واخستل شي.

۵- دبلیونو ډالرو زیاته برخه په پاکستان کښې د رو ملیونو مهاجرو مصرفول چه غیر مستقیم دپاکستان گټه وه.

٦- په زرهاؤ جاسوسان یې دننه په افغانستان کښې وگومارل چه په راتلونکي کښې ددوئ په گټه کار وکړي.

٧- دافغانستان دعوى پرتاريخي خاورو چه له پاکستان سره ده له مینځه لاړه دپاکستان لاس پر افغانستان برشو.

٨- رهبرانو پخپله خوښه اود رشوت په توگه دوئ ته ډیر پیسې ورکولې.

دصوبه سرحد بودجه پیاوړې شوه او نورو صوبوته هم ورکول کیده چه جنرال فضل الحق دصوبه سرحد دهغه وخت گورنر پردې خبرې اعتراض وکړ.

٩- هغه تعليمي مؤسسې چه دافغانانو دپاره جوړیدې له دریو برخو یوه برخه پاکستانیان تربیه کیدل اوپه سلهاؤ نورې گټې یې اخستلې او د پاکستان پرمختگ چټک شو.

ډگروال یوسف چه کوم کتاب د خرس دتلک په نامه لیکلی: ددهٔ مطلب دجنرال اختر عبدالرحمن څخه دی چه د روس دجنگ دگټلو اتل یې بولي. چه دی هم دوهم یا دریم سړی دی چه په نړۍ کښې یې دیوه لوي طاقت یعني اتحاد جماهير سوسيالستي شوروي په ماتولو کښې برخه درلوده.

مگر دغه کتاب افغانانوته ډیرې خبرې په گوته کوي چه دراتلونکي کول ( نسل) دپاره ډیر اهمیت لري. حتی باید کومې غلطۍ چه مونږ کړي یا کوم نیت چه پاکستان زمونږ په برخه کښې دراود یا امریکې او غربي نړۍ څنگه دافغانانو په وینو سودا وکړه داخبرې حتی بایـــد درسي کتابو کښې راشي چـه یوملت بیا دغسې یوه غلفت سره مخامخ نه شي.

داچه خرس ( روسیـه ) څنگه دافغـانسـتـان په تلک کښې ولویده، یوه برخه یې دروسـانو غلطي. یـوه برخـه یې دافـغـانانو غلطي او یوه لویه برخـه یې دغـرب هوښیاري وه.

۱- ایډیولوژیک غلطي : دا چه کمونستـانو ویل مونږ توپ ( خیـز ) اچولی او بورژوازي دوره مـو ترشاکړه . نوکه تولنه په دیکتـاتورۍ او تیـري له یوې دورې واړول شي هغه ارمـان خو دوئ سره پاتې شو. د کمونزم په اویا کلنه دوره کښې بورژوازي تمایل موجود ؤ او په پای کښې یې سرپورته کړ. له افغـانسـتـان څخه محصلینو امریکایي زاړۀ کالي هلته وړل او خلکو اخستل اوخپل نوي کالي یې نه اغوستل.

۲- پراختیا غوښتنه : له کمونستي شعارو سره ، پراختیا غوښتنه مل کول.

۳- مخالف په نظر کښې نه نیول: دوئ چه افغانستان ته راتلل مخالف طاقتونه یې هیرکړي وو.

۲- دافغانانو غلطي : کمونستان چور دروس غلامان وو. نورو خلکو هم دهغه نظام سره مخالفت کاوه چه ددوئ په گټه تینګ ؤ. پرته له دې چه کمونستان وي دشاهي نظام مخالفت یو دود گرځیدلی ؤچه دهیواد ددښمنانو په گټه ؤ.

دگروال یوسف وایي : چه دروسانو له نظامي یرغل سره سم چه د (۱۹۷۹ع) دډسمبر په میاشت کښې (۱۳۵۸- دمرغومي اتمه) سرته ورسید. جنرال ضیاؤالحق دپاکستان جمهور رئیس، جنرال اختر عبدالرحمن ته وظیفه ورکړه چه وضع وڅیړي او ده ته دې یو راپور ورکړي. جنرال اختر عبدالرحمن جنرال ضیاؤالحق ته وړاندیز وکړ چه،دافغانستان له خلکو سره دې دوسلو او مهماتو مرسته وشي. ځکه که افغانستان روسان ونیسي پاکستـان ته نژدې کیږي . په دې وخت کښې ضیاؤالحق ذوالفقار علي بهټو اعدام کړی ؤ. پـــه نړۍ کښې یې حیثیت ټیټ شوی ؤ . ضیاؤالحق غوښتل چه ځانته به

يو حيثيت پيدا کړي . جنرال اختر داهم ويلي ؤ چه افغانستان به د روسانو دپاره ويتنام شي. همغسې چه امريکه په ويتنام کښې ناکامه شوه روسيه به هم افغانستان کښې پاتې راشي.

ضياؤالحق موضوع ومنله . تر دغه مهاله امريکې ننداره کوله. چه څه کيږي. کارټر دامريکې جمهور رئيس دهغو امريکايي يرغملو په فکر کښې ډوب ؤ چه په تهران کښې دخميني پلويانو دامريکې دسفارت کار کوونکي نيولي وو. په همدغه وخت کښې دامريکې سفير ( ډابس) په کابل کښې ووژل شو. ( څو تنو دامريکې سفير يرغمل ونيو اودکابل هوټل ته يې بوتي. ديرغمل نيوونکو او عسکرو ترمينځ ډزې وشوې. دکابل دخلکو گومان داؤ چه دتره کي په ضد کودتا وشوه . دده عکسونه يې وغورځول اوخوشحال ؤ).په دغه اخ وډب کښې دامريکې سفير ووژل شو. يرغمل نيوونکي هم ووژل شول.

ډگروال يوسف وايي جنرال اختر نيغ له ضياؤالحق سره ارتباط درلود . له دغو خبرو صدراعظم هم نه خبريدۀ. موږ دمجاهدينو دروزنې کار پيل کړاو دوئ مو په داسې ډول د تربيې ځاى ته رواستل چه دوئ نه پوهيدل چيرته راغلي؟ تولې خبرې پټې وې حتى پاکستاني صاحب منصبان هم نه خبريدل.

له امريکې څخه د سي آى اې الوتکې دشپې راتلې او هوايي ډگر کښې پرته له جنرال اختر حتى دامريکې دسفارت خلک يا سفير به هم نه ؤ. الوتکې پيچلي سامان درلود. مخابره ، عکاسي څه او څه ... دسي آى اې دبودجې زياته برخه په افغانستان انگولا ، نيگاراگوا کښې خرڅيده . په( ۱۹۸۷ع) د سي آى اې بودجه ۳۰ ديرش بيليونو ډالرو ته ورسيده چه ديخوا په تناسب دوّسوه په سلو کښې زياته وه. ويليم کازې دريگن امنيتي مشاور هم راته. دسي آى اې مشر چه پاکستان ته راته -Sog clam ؤ چه شايي اصلي نوم يې نه ؤ . تردې دمخه چارلي ويلسن سناتور له يوه هيئت سره افغانستان ته په پټه تللى ؤ . د سي آى اې مشر وويل: له روسانو حرام زادگانو

په دويتنام كسات واخلو.

ټول كارونه دريگن ،سي آی اې، ضيا ءالحق او دجنرال اختر عبدالرحمن په لاس كښې وو. دهيڅ قدرت مشوره او مصلحت چا په نظر كښې نه نيوه. دكمونيزم وهل او له پښو غورځول ؤ. په دې ترڅ كښې كله كله دافغانانو دتلفاتو خبرې هم كيدلې. مگر دا دوينې تويـيــدل بايد تروروستي برې پورې دوام درلوداى. داچه وروستــه تربرې دافغانستان يادقرباني دگډ به څه حال وي؟ په دې چا فكرنه كاوه.

دكتاب له مخې دستهلايټ په وسيله عكسونه ترلاسه كيدل. بيا د آی اس آی يادپاكستان نظامي استخباراتو ته وركول كيدل. دټولو جبهاتو څارنه دسي آی اې او آی اس آی له خوا سرته رسيده. حتی شعارونه او دتبليغ او خپرونو كار ددوئ په لاس كښې ؤ؛ كوم چه تنظيمونو خپرول.

دغه وخت دافغانستان تاريخ ، كلتور هرڅه بدل ؤ . يوازې اسلام او اسلامي ملت ؤ . دوئ ويل: «مـونږ دخـاورې او اوبو دپاره جگړه نه كـوو. مـونږ دخـداى دپاره جنگيږو ».داشعار ډير مذهبي دی.مگر شعار ددوئ نه ؤ. امريكې كښې جوړ شوی ؤ.

ددې دپاره چه درون فكرو ټولنه پښبور كښې نه وي نودمهاجرت لړۍ پيل شوه.

دامريكې دمهاجرت ددفتر خلكو افغانان تشويقول چه امريكې ته لاړشي. اسلام آباد اوكراچۍ كښې دمهاجرت دفترونه پرانستل شول. دغه خلك د ملايانو له خوا ملامت كيدل چه تاسو دغرب پيښې كولې اسلام موپريښی ؤ. نودغه ورځې پرمونږ راغلې. سي آی اې نه غوښتل چه منطق يا ملي گتې په نظر كښې ونيول شي. نودپوهو خلكو مخه يې نيوله. يا يې غرب ته مهاجر كول. يا يې پراپېگنډه وريسې كوله. دډوډۍ دموندلو لارې يې پرې تړلې وې. بنديانول يې او وژل يې. نو سي آی اې نيغ ضياؤالحق او آی اس آی سره اړيكې درلودې. دافغانستان ملت ترې منفي شوی ؤ. مگر دافغانستان خلكو په سر او مال جهاد كاوه. ځكه دوئ مجبور وو چه خپله خاوره ناموس او دين وساتي او دوئ دافكر نه شو كولای چه دروسانو تروتلو وروسته

به هم ددوئ ربړونه‌اوکړاوونه پاتې وي. له‌دې نه‌خوشحال ؤ؛ چه‌په نړۍ کښې يې نوم وګاټه او په غرب کښې ئې دوستان وموندل. چه‌ وروسته تر بري‌به‌يې هيواد ودان شي.

دګروال يوسف دکتاب په‌پای کښې وايي: دروس او امريکې ترمينځ دا موافقه هم وشوه چه دمجاهدينو دپاره به‌ددې بري تبليغات نه‌کيږي. دغه ماده په لومړي سر کښې ساده ښکاريدله. مګر په حقيقت کښې ډيره پيچلې اوګرانه‌وه چه مجاهدينو وروسته (۱۹۹۲ع) په کابل ذاسې څه وکړل چه روسان له خلکو هيرشول او وروسته به ډيرې خبرې پرې وشي.

دجنرال اختر دغه تيوري ډيره خطرناکه وه چه ويل يې: « کابل بايدوسوځول شي » دی وايي دهرڅا په لاس کښې‌چه‌کابل وي ټول افغانستان دهغه په‌لاس کښې دی. پرکابل‌چه وګړي يې دوومليونوته رسيدلی وو. راکټونه ووريدل. دننه‌په ښارکښې هره ورځ خلک وژل کيدل چه‌عام خلک‌وو. حکومتي مأمورين او روسان دترور او بم ايښودو له لارې وژل کيدل. دکابل له‌مينځه تلل دجنرال اختر پلان ؤ.

دډګروال يوسف په‌کتاب کښې راغلي چه لس زره راکټه پرکابل غورځول شوي، دی وايي په‌دې کښې بې ګناه خلک وژل کيږي؛ او دلته دقوماندان عبدالحق له خولې‌وايي: « که د روسيې دسفارت له‌څنګه زما کوروي نوزه به‌يې په راکټ نه ولم؟ ما چه‌ځان مرګ ته چمتو کړی زما کورنۍ به هم چمتو وي ».

دکابل خلک څو ډوله په‌ربړ اخته ؤ: راکټونه پرې راتلل.دکمونستي رژيم پوليسو نيول، ګرانې وه ؛ روسان ؤ چه وروسته دماښام له اتوبجويې پرهرڅا ډزې کولې. ددوئ ناروغان دشپې له مخې مړهٔ کيدل. ځکه دکټور او روغتون ته نه شول تلای. دورځې له مخې ددوئ ځوانان په لارو کوڅو کښې نيول کيدل. او جبهوته استول کيدل . هغو کسانوچه وسه درلوده مهاجر کيدل. يوازې بې‌وسې خلک پاتې‌وو.

## روسانو غوښتل دافغانستان بڼياد دروسيې دنورو لاس

## لاندې هيوادوغونډې بدل کړي اوټول خلک په سازمانوکښې تنظيم کړي:

۱- داسلامي شئونو وزارت جوړول چه ملايان، اوقاف او حج په خپل کنټرول کښې ولري.

۲- په پوهنې کښې دسياست دمضمون زياتول اودغه مضمون کښې دغه درسي مواد زد كوونكوته ورښودل کيدل. له اووم ټولگی تر دولسم او بيا پوهنتون اوعسکري ښوونځيو کښې.

الف : سوسياليزم او دهغه برى په نړۍ کښې.

ب : طبقاتي مبارزه.

ج : د کارگرې طبقې انقلابي غورځنگ.

د : څرنگه عامه شتمني دتوليد په منبع بدليداى شي.

هـ : کمونيزم دسوسياليزم لوړه مرحله.

عادلانه جنگونه دسوسياليزم دبري په خاطر، اودسوسياليزم بين المللي وظيفه. په دغه برخه کښې دوئ خپلې ټولې جگړې دننه او دباندې تفسير اوتوجيه کولې هرڅوک چه دسوسياليزم مخالف وي بايد ووژل شي. نورې اړيکې دانسانانو په نظرکښې نه نيول کيدل.

۳- کارگر دکارگرو په اتحاديو کښې.

٤- بزگر په زراعتي کوپراتيفو کښې.

۵- ځوانان دځوانانو په سازمان کښې.

٦- ليکوال اوشاعران دليکوالو په اتحاديه کښې.

۷- ميرمنې دښځو په اتحاديو کښې.

۸- داقوام او قبايلو دنمايندگانو عالي جرگه.

۹- ژورنالستان دژورنالستانو په اتحاديه کښې.

ددې ټولو اتحاديو په سرکښې دخلق ډيموکراتيک گوند بيا اتحاد شوروي (روسيه) په بله خوا کښې د سي آی ای - آی اس آی مهاجر په تنظيمو ويشلی ؤ.

داخلي جبهې ددوئ ترکنټرول لاندې وې. نودافغانستان ملت په دوو برخو وويشل شو. دامريکې او روسيې.

په دغه وخت کښې خان عبدالغفارخان دپښتنو مشر وويل:« جنگ دروس او امريکې دی؛ په کښې دل شول پښتانه! ».دی په دې حقه خبره ملامت شو چه جنگ دکفر او اسلام دی. داسې ولې وايې؟ ملي او قومي ملي اوروحاني مشران هک حيران وو. ځکه دواړو خواؤ سره په بليونو ډالر، درنې او سپکې وسلې وې. يوې خوايې خپلې جگړې ته عادلانه ويل. بلې خوا دکفر اسلام پرملي قوتونو يوه ٔهم صرفه نه کوله دواړو فتوی درلوده چه دوئ ووهي.

اعليحضرت محمد ظاهرشاه په روم کښې خپلې خبرې کولې اوخلک يې يووالي ته رابلل. نوريې هيڅ په وس نه ؤ پوره. مگر دی پرعامو خلکو گران ؤ. دغو دواړو خواؤ دده گرانښت لږ نه شو کړی. تر پايه ورڅخه بيريدل.

پرافغانستان داسې ناتار راغی چه نور نو هغه اعتراضونه چه خلکو پرامير عبدالرحمن خان يانورو پادشاهانو درلودل، دخلکو هيرشول اوټولو يو حيثيت وموند. يونيم ميليون مړي، يوميليون معيوب، پنځه مليون مهاجر دومره غټ شمير دی چه له تير ټول تاريـــخ ســـره دمقايسې وړ نه ؤ. يوازې دچنگيز له زمانې سره مقايسه کيدای شي.

# اسلامي مجاهدين
# او د هغوی حکومت

دلیکنې دغـه برخـه بهدامـریکې لهنظره پیل کـړو . ځکه دسـړې جگړې یوه خـوا روسیه یا شوروي اتحادؤ. بله خوایې امریکه وه.

جرالډ شالیان امریکایي لیکوال چهدسړې جگړې یونومیالی مفسر دی؛ خپلې څیړنې امریکایي چاروا کوته داسې ښیي:« په افغـانسـتـان کـښـې له۱۹۷۸ - ۱۹۷۹ع) پورې ملت پخپله پاڅید او کمونستانو سره ئې جگړه پیل کړه او دروسیې عسکرو له راتلو سره یې زور واخست . کهڅه هم دغه پاڅونونه یولاس نه وو تو ټې ټوټې ؤ.

دا دواړه جگړه لیکونکي دوه پلا افـغـانسـتـان ته لاړل او (۱۹۸۰) په لومـړیو میاشتو کښې ئې داسې نتیجه واخیستـه : دپیښور په ښارکښې له نیم درجن څخهډیر تنظیمونهدي چهدغه اووه تنظیمه نه ستراتیژي لري. نه سازمان، نه کوم سیاسي یا اجتماعي پروگرام. نه د راتلونکي دپاره کوم نظر. نه پخپلو کښې کومه پخلاینه. سیمهایز او قبیلوي شکل لري. هیڅ هم نه لري چه چاته وښیي نهدانتخاباتو کمیټه. نهدمیرمنو دیوځای کیدو پروگرام . نهپرې ذخایرو سره اړیکی. نهدروغتیا مرکزونه همدارنگه دخلکو داقتصاد دپاره واړهٔ صنایع چه جبهو کښې خلک پخپلو پښو دروي چه په نوروهیوادوکښې ئې داړه جگړه مار لري. افغاني ناسیونالسم ته لاره نشته . دغه تنظیمونه هیڅکله نهشي کولای یوه متحده جبهه جوړه کړي. که یې جوړه کړي نن وي؛ سبا نهوي.

دوئ دغربي هیوادو دمرستو د پاره یو له بله سره رقابت لري. دوئ ددې پرځای چه له دننه افغانستان څخه خلک جذب کړي؛ بین المللي مرستو پسې ګرځي. هریوځان ښه نوکر ښيي؛ څو پیسې تر لاسه کړي. شخصي مخالفت ددوئ ترمینځ رواج لري.

دوئ د انسجام توان نه لري. روښ فکري پیدا پرخي په کښې نشته. دوئ د خلکو د ژوند داقتصادي او اجتماعي ښه والي زیری نه لري.

یوه بل امریکني ښاغلي ښونوال بارنټ آر روبین دامریکې دکانګرس ترمخې په (۱۹۹۰ع) کښې داسې شاهدي ورکړه :

« دامریکې سیاست له (۱۹۸۰م) څخه تر (۱۹۸۸م) پورې داؤ چه شوروي اتحاد (روسیه) پر افغانستان باندې دخپل تیری لړه بیه په نظامي، سیاسي او اقتصادي لحاظ ورکړي. ځینو تحلیل کوونکو داسې فکر کاوه چه شوروي به هیڅکله له افغانستان څخه ونه وزي. مګر د هغوئ فکر داؤ چه شوروي اتحاد باید دخپل جسارت لوړې بیې باندې پوه شي. یو شمیر نور په دې فکر کښې وو چه دیر نظامي دباو کولای شي هغوئ وتلوته اړکړي. په (۱۹۸۵) او (۱۹۸٦ع) کښې څرګنده شوه چه شوروي وژي. نو امریکې خپلې مرستې زیاتې کړې.

په تولـه دغه موده کښې دتنظیمو دسیاست په برخه کښې موږ فکر نه کاوه. تولې مرستې د ضیاؤ الحق او آی اس آی ترسر پرستی لاندې کیدلې.

دتنظیمـو رول داؤ چه دشوروي دنظامي مصرف دزیاتیدو دپاره وسله دننه افغانستان ته رسي ( دوئ هم پوهیدل چه دوئ بل رول نه لري) سیاستمداران د هغو رهبرانو تاریخ پسې نه ګرځیدل کوم چه پاکستان په رسمیت پیژندلي وو.

کله چه روسان له افغانستان څخه دباندې ووتل. موږ دا هڅه وکړه دغه رهبران چه موږ وسلې او پیسې ورکړې او دهغوئ ملګري وو. د افغانستان دمشروع رهبرانو په توګه وپیژنو. په پاکستان کښې ئې تنظیم کړو. نوځکه موږ په دې هڅه کښې ؤ

چه دشوروي اتحاد تروتلو وروستـه دوئ به ترعـمومي پاځون پورې نور وسلو او مرستوته اړنه وي. بايد قدرت په لاس کښې ونيسي. مګرداسې ونه شول ؛ چه دوئ د نوي حکومت ترجوړيدو پورې دانتقالي دورې حکومت په لاس کښې ولري».

( داسې ښکاري چه دپيښور د رهبرانو حکومت خلک غورځوي اونوی حکومت به جوړيده) نوموړي خپلې شاهدئ ته داسې دوام ورکوي: ( ۱۹۷٤ع) کال څخه را په دې خوا يعنې مخکښې ترکمونستي کودتا اودشوروي اتحاد له تيري وروستـه پاکستـان داوو رهبرانو لـه جملې څخـه له ګلبدين ، رباني اوخالص سره مرستې کولې. (دمحمد داؤد دجمهوريت په وخت کښې ) دغه اسلامي رهبران چه وروستـه سياف هم ورسره شو ؛ له لومړي سرڅخه تراوسه دافغانستـان دخلکو دسرنوشت دپاره نه؛ بلکه له خپله نظره ديوه اسلامي حکومت د پاره خبرې کوي.

دپاکستان نظاميانو په لومړي سرکښې نژدې اړيکې له رهبرانوسره ، په تيره بيا له ګلبدين سره ټينګې کړې ، څـو دخپل شمال لويديځ صوبې مصئونيت چه پاکستان ته له انګريزانو مـيـراث پاتې ؤ؛ تأمـين کـړي. وروستـه دشوروي له يرغل څـخـه پرافغانستـان باندې د پاکستـان او دهغه عسکري حکومت ؤ؛ چه شپږ رهبران يې وټاکل ؛ نه کوم انتخابي افغاني هيئت چه دغه تصميم يې نيولی او رهبران يې ټاکلي وای. دغه رهبران مذهبي وو؛ نه ناسيونالست يا دقبايلو مشران. په نتيجه کښې سعودي عربستان ډيرې پيسې ولګولې او دعبدالرب رسول سياف اووم تنظيم مينځ ته راغی .

کله چه امريکې عـلاقـه پيدا کړه. دا پاکستـان ؤ چه وئې ويل کوم رهبران دې دامريکې له نمايند ګانوسره وګوري؟ څرنګه چه څرګنده ده د(۱۹۷۹م) کال دمی په مياشت کښې د سي آی اې نمايندګانو هغو رهبرانو سره چـــه پاکستان درولي وو. په پيښور کښې وليدل. دغه رهبران له ټولو افغانانو سره مخالف دي. ځينې دغرب

اغيزې لاندې بولي . چاته ناسيونالست وائي . دوئ چمتونه‌دي خپل تنظيمونه پراخ کړي. که‌دغه راپور ومنو؛ زمونږ نفوذ مخ په کميدودی .

دهمدغه څيړونکي روبين رايټ يو راپور دلاس انجلس تايمز (۱۹۸۹ع) دنوامبر په ۱۹ کښې خپور شوی. وايي چه‌امريکې او عربستـان غوښتل يوځه مجاهدين تريخوا زيات پياوړي‌کړي نو اووه سوه پنځلس ميليونه ډالر يې ورکړل چـه ( ۲۸۰ ) ميليونه ډالره امريکې ورکړل؛ پاتې عربستان.

روبين رايټ په پای کښې وايي:

لومړی : مونږ ونه شول کولای چه خپل‌اهداف وروسته دروسانو تر وتلو روښانه او څرگندکړو.

دوهم : مونږ په زړهٔ طريقه فکر کاوهٔ. چه‌په افغانستان کښې به دوه قطبه وي او په بين‌المللي برخه کښې به‌هم دوه‌قطبه وي ( روس – امريکه).مگرپه‌دواړو برخو کښې يو زيات شمير قدرتونه ؤ. چه‌خپل فعاليت‌کوي .

دريم : داچه زمونږ سياست په‌خپل اجرائيوي سيستم يوله بله‌تړلی نه‌دی . يوداچه منازعه پيچلې ده او څو اړخونه‌لري اوبله داچه دداسې نمايندگانو له‌پلوه عملي کيږي چه ددوئ عقايد ددوئ ددولتو له سياست څخه بيل‌دي افغانستان به‌دساړهٔ جنگ په پای کښې دمنطقې دهيوادو د رقابت او زور وهلو ډگر وگرځي. تنظيمونه به بوپربل بری ونه مومي.

د۱۹۸۸ داپريل په ۱۹ په جينوا کښې يو قرارداد دپاکستان ،افغانستان ،شوروي اتحاد اوامريکې دبهرنيوچارو دوزيرانو ترمينځ لاسليک شو. په‌دغـه‌تړون کښـې راغلي‌ؤ چه دشـوروي اتحـاد لښکرې د(۱۹۸۸م) دمی له ۱۵ په وتلو پيل کـوي چه داکار( ۱۹۸۹م) دفبروری په ۱۵ پای ته ورسيد او شوروي‌لښکرې ووتلې.

تردغه‌ځايه پورې دامريکې سياست‌ددوئ له‌قوله دلته راوړل شوچه گواکې دوئ

په هرڅه پوهيدل. خو د افغانستان ملت چه په خپلو وينويې دشوروي اتحاد لښکرې وايستلې درهبرانو وظيفه يوازې د آی اس آی اوسي آی اې له لاسه اخستل او دننه افغانستان ته ليږل ؤ. نو ښکاره ده چه جګړه خلکو يا ملت کوله.

دجنيوا په کنفرانس کښې دا موافقه شوې چه په يوه مياشت کښې به دتنظيمو دفترونه بنديږي او دوسلې درول به په ټپه دريږي.

خو وليدل شول چه دجنيوا دتړون له مخې يوازې روسي عسکر ووتل. په پيښور دتنظيمونو دفترونه ونه تړل شول او وسله راتله.

په ايران کښې د ايران د اسلامي دولت له خوا اته واړه حزبونه يوځای شول. او د حزب وحدت اسلامي په نامه، دحرکت اسلامي حزب چه ايت‌الله شيخ آصف محسني يې مشرؤ؛ پيښورته راغی. نو په (۱۳۷۰هـ ش) کښې دتنظيمونو شمير نهوته ورسيد. چه ټول اسلامي اومنطقوي وو. بيا په (۱۳۷۱هـ ش) جنبش ملي اسلامي شمال دجنرال دوستم په مشرۍ جوړ شو؛ چه لس شول. په (۱۳۷۳هـ ش) کښې طالبان پيدا شول. يوولسوته ورسيدل. دننګرهار شورا هم شوه. داټول قدرتونه وسله بند وو. او يوۀ يادوه دريو بهرنيو هيوادو څخه مرسته ورسره کيدله. چه په خپل ځای به خبرې پرې وشي.

دملګرو ملتو مؤسسې په داسې حال کښې چه هر کال به يې دخارجي لښکرو وتل له افغانستان څخه غوښتل؛ خود روسي يادشوروي اتحاد نوم يې نه اخست. په دې ډول دملګرو ملتو فيصله به چه هرڅومره کلکه وه؛ له دغه ټکي سره چه دروسيې نوم په کښې نه راتی. کمزورې ښکاريدله. دجينوا تړون هم بشپړ عملي نه شو. چه په پای کښې يوځل بيا ملګرو ملتو د (۱۹۹۱) کال دمی په مياشت کښې يو دحل صورت يامیکانزم را وايست. داځله دنورو قوتو په څنګ کښې د اعليحضرت ظاهرشاه پخواني پاچا يادونه هم وشوه او هغهٔ پنځه فقرې درلودې چه دواړه خواوې يعنې امريکه او روسيه به خپلو پلويانو ته وسله نه ورکوي. دواړه خواوې به اوربند مني.

دافغانستان له عنعناتو سره سم به انتخابات کيږي.

وروسته له نوامبره دمجاهدينو يو هيئت چه رباني او دوحدت د حزب نماينده هم ورسره ؤ؛ مسکوته لاړل. هلته ئې دروسيې دبهرنيو چارو له وزير او د تاجکستان له خارجه وزير سره وکتل او يوه څرګندونه خپره شوه . چه اسلامي مؤقتي حکومت به جوړيږي . د روسي بنديانو دخوشې کيدو خبره هم وشوه . ملګرو ملتو وويل د باندې له افغانستان څخه دې له افغاني قومي مشرانو څخه يوه جرګه جوړه شي. يو انتقالي حکومت به جوړيږي. نجيب الله چه په افغانستان کښې ددولت مشر دی؛ هغه به قدرت دغه انتقالي حکومت ته سپاري. په دې منظور څوارلس کسه وتاکل شول چه دافغانستان دپخوانيو مأمورينو څخه وو. که ايران ، پاکستان او عربستان دغه صورت منلی واي؛ ددوئ پلوي دلې هم نه را پاڅيدلې. داميکانيزم بريالی کيدهٔ. درې حزبونو دغه پيشنهادونهٔ مانهٔ. دامريکايي منابعو له قوله داکار هم دپاکستانؤ چه نه يې غوښتل دقدرت انتقال يوهٔ سالم حکومت ته وشي؛ نوو ران يې کړ.

دنجيب الله حکومت ددفاع دوزير شهنواز تنې دکودتا په اثر چه ګلبدين سره يې جوړه کړې وه؛ کمزوری شو . که څه هم کودتا ناکامه شوه او دخلق خوا په اردو کښې پاتې نه شوه؛ يا لږه پاتې شوه او پرچم خوا په خپل حال وه. مګر پـــه دې وخـــت کښې پياوړی ؤ. ځکه دتنې دکودتا سره خلقيان وتښتيدل او څه ئې ونيول شول.

د(١٩٩٢ع ) کال اپريل کښې دوستم مزارشريف ته لاړ .د مزار وضع ګډه وډه شوه.نجيب الله ددفاع دوزارت معاون جنرال عظيمي مزار شريف ته واستاوهٔ.عظيمي هلته ټول عسکري قطعات دوستم ته چه دازبکو دمليشو مشرؤ؛ وسپارل . ترد غه وخت پورې نجيبُ الله نه پوهيدهٔ چه څه روان دي؟ يعنې هغه پټه دسيسه چه پرچمي جنرالانو ، مليشه قوماندانانو ، خارجه وزير عبدالوکيل، دوطن په ګوند کښې فريد مزدک دحزب منشي؛ په مجاهدينو کښې شورای نظار او دوحدت حزب يوه پراخه جبهه جوړه شوې وه چه دببرک کارمل له خوا رهبري کيدله .

دلته دمجاهدؤلس دهغه مضمون يوه برخه را اخلم چه ددوکتور محمدحسن کاکړ تاريخ پوه په قلم ليکل شوې (۱۷٦) گڼه د ۱۳۷۱ دلنيدۍ مرغومې).

دمزارشريف دسيسه د ۱۳۷۱ دنوروز په ورځو کښې جوړه شوه چه ددغې دسيسې په نتيجه کښې دنجيب الله پرچمي رژيم له مينځه يوړل شو، او هم دملگرو ملتو دمؤسسي هغه تجويز ناکام کړل شو، چه ددغې مؤسسې پخواني سرمنشي هاويرپريز ډکويار دافغانستان دکشالې دهوارولو په مقصد د (۱۹۹۱ع) کال په مې کښې وړاندې کړی ؤ.

دغه تجويز ډير پرمخ بيول شوی ؤ. ټولو هغه د باندني حکومتونه چه دافغانستان په کشالې کښې اغيزمن وو. لکه پاکستان، عربستان، ايران امريکې او شوروی اتحاد (روسيی) په گډون هغه منلی ؤ. د يوڅو افغاني تنظيمو پرته دافغانستان دپخواني پادشاه په شمول نورو ټولو تنظيمو هم دغه تجويز منلی ؤ. د حکمتيار په سروالی اسلامي حزب دتجويز مخالفت وکړ. خو دغه مخالفت هسې جدي نه ؤ. لکه چه (۱۹۸۸ع) کښې يې کړی ؤ. اوسنی تجويز بينن سيوان دسرمنشي خاص استازي دغې مرحلې ته رسولی ؤ چه لومړی به يو پنځلس کسيز کميسيون له بيطرفو کسانو څخه جوړيږي چه دکابل له رژيم څخه اقتدار ترلاسه کړي. بيا به دغه کميسيون په ٤٥ ورځو کښې دملگرو ملتو ترڅارنې لاندې داپريل په آخر کښې په ترکيه يا جينوا کښې دمجاهدينو ۱۵۰ کسيزه جرگه جوړوي او جرگه به انتقالي حکومت مأمورکوي، او هغه به تردوو کلو پورې انتخابات ترسره کوي، اما دبينن سيوان غتهه تيروتنه داوه چه نجيب الله يې د پاکستان دحکومت په اصرار پخوا تردې چه دقدرت انتقال عملي شيء، په رسمي ډول په استعفی ورکولو راضي کړ. د مارچ په اتلسمه نجيب الله دغه څرگندونه وکړه او له خپلو نظامي منصبدارانو څخه يې وغوښتل چه دحکومت په انتقال کښې مرسته وکړي. غوره داوه چه لومړی د قدرت د انتقال شرايط برابر شوي وای

او وروستـه دغـه څرګندونه شوې وای. په هرحال پخوا له وختـه دغې څرګندونې دنجیب الله ګوندي رقیبان وهڅول چه دخپلې ډلګۍ دڅغورلو په خاطر په داسې حال کښې چه دنجیب الله ډلګۍ به مأمون شوې وي، په یوه افراطي اقدام لاس پورې کړ چه دهغه نتیجه لومړی دمزار دسیسه او ورپسې دکابل کودتا شوه.

زهٔ دغه دسیسه اوکودتا دهغې لیکنې په اساس برابرؤم کومه چه یوهٔ خبیر افغان په تیرجون کښې د «یادداشت درباره واقعات افغانستان» ترنامه لاندې لیکلې دي.

دنجیب الله په سروالۍ د کابل پرچمي حکومت ستونزې په تیر ډسمبر کښې دشوروي اتحاد تررنګیدو وروستـه زیاتې شوې، شوروي اتحاد ترهغه پورې دکابل رژیم ته دمیاشتې ددرې سوه میلیونه ډالرو په شا اوخوا کښې خوراکي مواد، وسلې، او دضرورت وړ نور شیان استول. دغو مرستو دکابل رژیم پرځای ساتلیؤ. نور نو دکابل حکومت نه شول کولی، دنوروشیانو په جمله کښې، د عبدالرشید دوستم په قوماندانۍ جوزجاني ملیشهؤ ته خوارهٔ او نقدې پیسې ورکړي .دغو ملیشهؤ دکابل مزار دلارې دانتقالاتو په چور اوتالان پیل وکړ. جنرال جمعه اڅک دشمال دزون قوماندان ددغو وران کاریو مخه نیوله. خو نجیب ددوستم په غوښتنه جمعه اڅک له مزارنه ایستـه کړ او دحیرتانو بندرته یې دجنرال عبدالمومن په ځای مقرر کړ. نجیب نور تغییرات هم راوستل. جنرال مومن له دغه امر نه سروغړاوهٔ . نجیب دمارچ په اتلسمه جنرال نبي عظیمی ددفـاع دوزارت لومړی مرستیـال اودکابل دګارنیزیون عمومي قوماندان مزار شریف ته واستـاوهٔ چه دشمـال نارامـه وضع آرامـه کړي. دکابل له ګارنیزیون څخه وسله وال کنډکونه هم مزارته واستول شول . په دې وخت کښې دوستم چه دخپل ولي نعمت نجیب په ضد جګ شویؤ، دمزار وضع نـارامـه کړې وه . نبي عظیمي هم خپل طرف واړاوهٔ او له دوستم سره ملګری شو.

دنوروز په ورځ هلته مزارکښې يوه مهمه غونډه وشوه . چه دنجيب دنسکورولو تجويز ونيول شو. په دغه غونډه کښې (چه په نتيجه کښې افغانستان وروستۍ بربادۍ ته ورسيد) دغو اشخاصو ګډون کړی ؤ. جنرال عظيمي ددفاع دوزارت مرستيال ( دغه عظيمي دبريګېډير عظيم خان لمسی دی چه مؤرخ غبار دغه سړی دانګريزانو ايجنټ بللی) احمد شاه مسعود دشورای نظار سروال، عبدالرشيد دوستم ، آزاد بيګ، نجفي دايـــران دپټو پوليسو اســتازی، عبدالعلي مزاري دايران پلوي دحزب وحدت مشر.

دغې غونډې کښې فيصله وشوه چه : احمد شاه مسعود به دآينده دولت مشر. علي مزاري صدراعظم، دوستم ددفاع وزير، عظيمي داخله وزير.

( آزاد بيګ يو ازبک دی چه د بخارا ترسقوط وروسته چه پلاريې شاهي خزانه دارؤ ؛ په همغه وخت کښې ( ۱۳۰۷ هـ ل) انګليسي هند ته وتښتيد او هلته يې ډير جايداد واخست.

په پيښور کښې (۱۹۸۳م ) دغه آزاد بيګ په خپلو ځمکو کښې د خراسان کمپ جوړکړ چه دغه وخت دی يو پاکستاني تبعه دی).

دمزار په غونډه کښې دنجيب دچپه کولو د پاره دوه کميسيونه جوړ شول: نظامي او سياسي. په سياسي کميسيون کښې يوازې دببرک کارمل پرچميان وو. لکه محمود بريالی او د کارمل ورور) ، فريد مزدک ( چه دغه وخت د وطن د حزب منشي ؤ) ، سيداکرام پيګير، نجم الدين کاوياني، ياسين صادقي ، آدينه سنګين. په نظامي کميسيون کښې ۳۲ تنه وو چه په هغه کښې ۲۵ تنه هغه صاحب منصبان چه دببرک کارمل دډلګۍ وو، پنځه تنه يې دنظار دشورا، دوه تنه دکياني سيد ناصر نادري چه دغه وخت داتيايمې فرقې قوماندان ؤ ( مليشه).دکارمل ډلې مهم کسان داؤ: نبي عظيمي، جنرال آصف دلاور لوي درستيز، دوستم، جنرال مومن، جنرال بابه جان . له شورای نظار څخه، ډاکټر عبدالرحمن ، محمد فهيم دشورا مرستيالان ، دولت مير

پنجشيرى دشوراى نظار داستخباراتو رئيس ، ثارنوال محمود پنجشيرى دپنجشير دشوراى نظارآمر او قوماندان پناه دسالنگ آمر.

دوشنبه داپريل ديارلسمه دعمل ورځ وټاکل شوه . په دغه ورځ بريد جنرال هاشم رود وال دعالي نظامي قوماندانۍ آمر اتلس ( مسافروړونکې) الوتکې مزارته واستولې. دغه وخت اسلم وطنجار ددفاع وزير کابل کښې نه ؤ او رود وال دغه صلاحيت درلود. ددهٔ خبره داده چه له مزار څخه ليږل شوي عسکر بيرته کابل ته انتقال کړي؛ کوم چه دمخه هلته استول شوي وو. د دهدادي فرقې مقاومت وکړ خو جنرال عظيمي او دوستم پرهغو موفق شول. ددهدادي فرقې الوتکې درلودې.له بگرام او شين ډند څخه هم هلته الوتکې استول شوې وې. خو دهدادي کښې مسافروړونکې الوتکې نه وې. دخالي په ورځ د اپريل په څوارلسمه دغو الوتکو ددې پرځاى چه دکابل دگارنيزيون عسکر بيرته راوړي ددوستم مليشه يې راوستل څه يې گارنيزيون څه يې بالاحصار او څه يې دکابل هوايي ډگر کښې ځاى په ځاى کړل. په دې ډول دنجيب حکومت چپه کيدوته نژدې شو.

نجيب الله ته له دغې پيښې څخه وطنجار او ددهٔ ورور جنرال احمدزي خبروركړ ؛ نجيب پوهيدى چه کارمل ددهٔ په ضد توطيه کوي. دغې منبع چه نجيب سره داپريل په ۱۱ ليدلي؛ وويل: نجيب دهٔ ته دتوطيې خبره کړې وه . دنجيب يو وزيرهم خبرؤ چه څو ورځې وروسته دنجيب پرضد توطيه کيږي . دايې هم زياته کړې چه توطيه گر غواړي يا پرافغانستان حکومت وکړي يا افغانستان تجزيه کړي. نجيب غوښتل ددفاع عالي شورا راوبولي چه په هغه کښې دگوند نظامي او ملکي لوړيان وو. امادشاهد په قول دوطن دحزب ټولې رهبرۍ دسليمان لايق په شمول دنجيب پرضد عمل کاوهٔ » .

دمقالې ليکونکى وايي ددغه مخالفت علت شخصي اوسياسي ؤ ؛ ځکه نجيب ډېر غيرحزبي خلک په لوړو مقامو کښې مقرركړي وو.

پورته خبرې لرې مفصل نقل شوې چه وروسته بيا ډير مصيبتونه راغلل چه سرچينه ځرگند وي . احمدشاه مسعود چاريكاروته راغی او د بگرام هوايي ډگر پرچمي صاحب منصب جنرال امام‌الدين ورته تسليم كړ. په دغه ورځ چه وضع گډه وډه وه خلقي پيلوټان اعدام شول.

وكيل خارجه وزير چه دببرک دترور زوی ؤ ؛ چاريكاروته لاړ او احمدشاه مسعود سره يې ددولت دتسليمۍ خبرې وکړې.

داپريل په شپاړسمه دپرچمي جنرالانو يوې پنځه كسيزې شورا په كابل كښې كودتاوكړه او نجيب يې خلع كړ. نجيب غوښتل چه دملگروملتو په مرسته هند ته لاړشي مگر ددوستم مليشه ؤ چه هوايي ډگر يې نيولی ؤ،هغه پرې نه ښود. تردې دمخه توطيه گرو غوښتل په نجيب باندې يوه وينا وكړي چه توطيه پرې ومني اوهم ووايي چه دروسيې قواوې دې راشي. خو نجيب دملگروملتو دفترته پناه يووړه.

احمدشاه مسعود په‌چاريكاروكښې وويل: څوچه دپېښور د رهبرانو ترمينځ يوه موافقه ونه‌شي ؛ زهٔ كابل ته نه ځم . پاكستان چه‌ددغو حالاتو فكرېې نه‌كاوهٔ. داپريل په ۲٤ دپېښور داوو تنظيمونو رهبران سره غونډ كړل چه گلبدين په‌كښې نه‌ؤ. يو لاسليک منظور كړ چه صبغت‌الله مجددي دنجات دجبهې مشربه ددوومياشتو دپاره جمهور رئيس وي. بيا به‌دڅلورو مياشتو دپاره رباني راځي اوجمهوررئيس به وي.

صدراعظم به د حكمتيار له گوند څخه وي. چه هغه معلم‌فريد چه دكابل دشمالي ؤ؛ دصدراعظم په‌توگه معرفي كړ. خارجه وزارت سيداحمد گيلاني، داخله سياف، امنيت او پلان حزب وحدت...

داسلامي دولت اعلان وشو . حزب وحدت ( هزاره شيعه‌ايران پلوي) دخميني له عكسو سره كابل ته ننوتل . دريمه او څلورمه كارته يې ونيوله. دادی چه پركابل دوينو ، بې ناموسۍ، چور او تالان سيلابونه راغلل.

ACKU

احمدشاه مسعود ددفاع وزیر شو. خوبانکونه او مطبوعات یې هم پهلاس کښې ونیول. لهدې وروسته چه هزاره دښار غربي خواکښې ؤ. ازبک ملیشه ختیځ خواکښې. اسمعیلیه یاکیاني په تایمني کښې. شمال غربي دنظارشورا اودارگ په شاوخوا کښې. کله چه پنجشیریان ارگ ته ننوتل؛ خارجي ژورنالستانو ددوئ فلمونه واخستل. پهدغه فلمو کښې لیدل کیږي چهدوئ د نجیب‌الله د پرچمي رژیم مشر لهبوټانو سره دده پرکټ او بستره وختل. په تشناب کښې په تپ کښې شملاستل اوسگرټ یې په خوله کښې. تلویزیون او نور سامان ئې په شاکړی. یوه عجیبه منظره داوه چه یو پنجشیري قاشقې او پنجې اخستې اروپایي ژورنالست ورته وایي داڅه کوې؟

دهٔ په اشاره ورته وویل: دې سره سړي‌ډوډۍ خوري. دغه فلمونه پهنړۍ کښې خپارهٔ شول. ازبک ملیشه چه د شرابو روږدي وو، دخلکو مالونه اخستل اوخرڅول یې شراب یې پرې اخستل. پرښځو او نجونو تیري پیل شول. ټول دفترونه چور شول. موټر، لارۍ ټول غلا شول عمومي ترانسپورټ چه درې زره لارۍ درلودې ټول وتښتول شول. بیا خبره فابریکوته ورسیده. هغه وایستل شوې. پاکستان ته نقل شوې.د شپې او ورځې ډزې وې. هوا خړه شوه. امنیت ورک شو. دټوپکو مردکو ماشومان ژوبلول. چه داټولې خبرې په رسمي راپوروکښې راغلې. چه څو ټوټې بهیې دثبت شوو اسنادو له مخې ولیکل شي. دموزیم او آرشیف په برخه کښې به هم دپوهانو مفصلې مقالې ولیکل شي. د صبغت الله مجددي له خوا عمومي بخښنه اعلان شوه.

نورنو هیڅوک گناه گار نه ؤ. ببرک کارمل مزارشریف ته لاړ. پرچمیان، خلقیان دخاد یامخفي پولیسو کارکوونکي ټول وبښل شول. نورو داړه ماروچه ولیدل خبره داسې ده؛ چه دخولې یوه گیله هم څوک نه کوي. هرڅه یې چه کولای شول هغه یې کول. لهیوې خوا داحال ؤ. له بلې خوا پـــه یوازې شک دیوهٔ ښوونکي لاسونه

پري کړي شول. ګلبدين حکمتيار د غوائي په نهم (۱۳۷۱) د خلقيانو په مرسته ښار په مينځ کښې دکورنيوچارو وزارت ونيوهٔ. ارګ ته هم ورسيد. دښار جنوبي برخې ته ورسيدل. خو په څو وروستيو ورځو کښې په شالاړ. په داسې حال کښې چه د ريشخورو فرقه اودبګرامي توپچي غونډ ده نيولي ؤ. ددې ماتې په سبب څوک پوه نه شول. څوک وايي چه دپاکستان په خوله يې وکړل. څوک وايي مقابل لوری چه دپرچمي منصبدارانو، ددوستم مليشه، شورای نظار اوحزب وحدت يوې خواته ؤ؛ د سياف په ګډون نور زور برابر نهٔ. دسياف وهابي حزب او وحدت حزب شيعه په خوشحال خان مينه کښې په جګړه شول. خبره دپښتون اوهزاره شوه ځکه سياف دپغمان او هلته پښتانه ؤ. حال داچه که هزارګان يوسر شيعه ګان وو پښتانه وهابيان نه وو. مولوي حقاني غوښتل چه دوئ سره بيل کړي. په هغه يې هم ډزې وکړې. جلال الدين حقاني دځدرانو قوماندانؤ، دغه وخت هزارګانو دڅو پښتنو پرسرميخونه ټکوهل کانتينرونه ئې وغورځول. بيا يې اوروړته کړ. پښتنو هم هزارګان ونيول؛ په عذابويې مړهٔ کړل. حال داچه دواړه خواووته بې ګناه او عادي خلک وو. پښتنو دومره هزارګان مړهٔ کړل چه محض بدل واخستل شي او موضوع يې نوره پرېښوده.

حالات ژر ژر بدليدل. سياف وهابي رباني سره ؤ. نو دوحدت ورسره ورانه شوه. حزب وحدت چه دوه ورځې دمخه درباني ملګری ؤ؛ سمدلاسه ورسره دښمن شو.

National Geographic مشهورې مجلې (۱۹۹۳ع) کال داکتوبر په مياشت کښې څلورمه ګڼه د «سوله آسانه نه ده» په افغانستان کښې دريچارډمکنيز په قلم او فوټوګرافي، خپور کړي دي چه دتصوير له اړخه دافغانستان وضع ډيره ښه ښيي.

په ۵۸-۵۹ مخ کښې د کندهار نړيدلی ښاردی چه يوڅت هم په کښې نه ښکاري دافغان او روس دجګړې ميراث په ۶۰-۶۱ دکابل ډ ک دکانونه دي چه څوميرمنې سودا اخلي په ۶۲-۶۳ مخونو کښې د شورای نظار مجاهدين د پرچم له عسکرو اومنصبدارانو سره يو ځای کيږي او دولتی ټانکونه تسليموي.

په ٦٤ - ٦٥ مخونه ازبک مليشه پرشاهي ياجمهوري ارگ ډزې کوي. په ٦٩- ٦٨ دخښتو پخواني داشونه دي. په ٧٢ مخ کښې يوه چادري کړې ميرمن ده چه زخمي ماشوم يې په غيږ کښې دی. په ٧٤- ٧٥ مخونه کښې مرستون دی چه دوه ليونيان په کښې پاتې دي. په ٧٦ مخ کښې يوه ميرمن په چادري کښې ناسته ده دخپل ځلمي زوي عکس ئې په لاس کښې نيولی؛ خلکوته يې ښيي؛ کهمړی يا ژوندی يې چاليدلی وي. پرديوال درباني لوي عکس ځړول شوی دی. په ٧٧ مخ کښې دشورای نظار افرادو يو سړی چه لاسونه ئې ترشا پرې تړلي سريې زخمي په غاړه کښې کاغذونه کومې خواته بيايي. يايې بازار کښې گرځوي. په ٧٨- ٧٩ مخونو کښې شپږ ماشومان ديوه گاډي ټول بکسو کښې ناست دي. چيرته روان دي. په ٨٠ -٨١ مخونو کښې دکندهار رنگ بازاردی. په ٨٢ مخ کښې دکابل دصرافی بازاردی چه سيکهان ناست دي دافغانيو غټې گيډۍ په ډالرو بدلوي چه درې زره افغانۍ يو ډالر کيږي. په ٨٣ مخ کښې دکابل ديوې ناوې اوزوم عکس دی. دکرارو شپو په ٨٥ - ٨٤ مخ دافغانستان قيمتي تيرې په خپل سر ايستل کيږي. او وړل کيږي. داکار اسلامي مجاهدين کوي. په ٨٦-٨٧ مخونو کښې ماشومان دټانک دتوپ له ميلې سره لوبې کوي. په ٨٨-٨٩ مخونو کښې بې کوره ميرمنې دشپې په تياره کښې دښته کښې ناستې دي. مجله ليکي چه دنجيب حکومت په دغو جملو پای ته ورسيد. نجيب الله کوښښ وکړ چه د ۱۹۹۲ په شپاړسمه په دوويجو وتښتي او خپل فاميل سره په هند کښې يوځای شي.

نجيب الله او د هغه وړوکی گروپ دازبک مليشو له خوا ودرول شو. دوئ غوښتل چه م. م سپين اوشين بيرغ الوتکې ته ننوزي. مليشه ؤ وويل: مونږ ته امردی چه نه څوک تلو اونه راتلوته پريږدو. يوه ځوان تورن ورته وويل: نجيب الله وويل: هغه يوازې غواړي چه خپل کوچنيان اوميرمن وگوري چه مخکښې هند ته تللي. تورن ونه منله.

بيا ئې په سره سينه وويل: هرڅوک غواړي خپله کورنۍ وګوري. هغه جمهور رئيس نجيب الله پورې واهه. بيا نجيب الله دملګروملتو يوهٔ دفترته ننووت او په دې توګه کمونست رژيم پای ته ورسيد.

نجيب الله چه وروسته له ببرک کارمل څخه ددولت مشر شو. دهٔ ملي روغه جوړه اعلان کړه. که څه هم دخاد يادمخفي پوليسو مشرۀ مګر دده کار داؤ؛ چه دمجاهدينو په ليکوکښې چاودپيداکړي اوکله چه په (۱۹۸۸ع) کښې روسي لښکرې ووتلې؛ نجيب الله درې کاله نورهم پاتې شو. په دغه وخت کښې ده هڅه وکړه چه بيطرفه خلک راولي. ددهٔ په وخت کښې مطبوعات تريوهٔ حده آزاد وو. په يوه توګه انتخابات وشول. دوطن حزب يې د پرچم پرځای تأسيس کړ. هغه اعتراف وکړ چه کمونستي په افغانستان کښې ځای نه لري. په عمومي توګه پرخپلو وعدو ودريد. هغه يو اړخيز اور بندوکړ. وېې ويل مونږ پرمجاهدينو حمله نه کوو. که هغوئ حمله وکوي مونږ دفاع کوو.

احمد شاه مسعود په تخار کښې له نجيب الله سره ومنل چه دده سيمه به دسولې سيمه وي. دغه مطلب په اخبار هفته کښې خپور شو. مسعود دغه وخت واده وکړ او عادي ژوند يې پيل کړ. دمسعود اوګلبدين ترمينځ په شمالي ولاياتو کښې ترخې پيښې شوې. يود بل قوماندانان ئې ووژل. د تالقانو ښار دمسعود مرکزؤ. تر څو چه دشمال دسيسه اوکودتا جوړه شوه مسعود يوځل بيا فعال شو.

دمسعود ويډيويي کستهونه امريکه کښې شته. چه ده سيدجمال سره له څو سووکسانو اعدام کړل. دغه کسان دګلبدين وو. چه څه موده مخکښې يې دمسعود قوماندانان وژلي وو.

## دامريکې سياسي دريځ کله چه په افغانستان د اسلامي مجاهدينو اوربل شو:

کله چه دشوروي اتحاد امپراتوري ړنګه شوه او اسلامي جاهدين کابل ته ننوتل؛

د افغانستان په تاريخ کښې داسې بدې ورځې نه وې راغلې چه اسلامي مجاهدينو سره راغلې . په تيره بيا افغانانو په تيرو پيړيو کښې نه دانگريزانو؛ نه دهندوانو، نه د ايرانيانواو بالاخره د هيچا ناموس ته په سپکه نه ؤ کتلي. مگر اسلامي مجاهدينو دخپلو افغانانو ناموس ته په پراخه پيمانه په سپکه وکتل چه په کابل دشوراى نظار افراد په افشار ، چنداولو او دريمې کارتې کښې ياهزاره حزب وحدت په سوونو ښځې له لاروکوڅو تښتولې کړې يا ازبکو مليشو.

په دغه تود شرم بازار کښې د امريکې دکانگرس دخارجه کميټې ليک ته گورو :

په لومړي ليک چه (۱۹۹۲ ع) داپريل په ۳۰ ليکل شوى :

رئيس جمهور بوش سپينه ماڼۍ

۱٦۰۰ پنسلوانيا واټ شمال لويديځ

واشنگټن ډي سي ۲۰۵۰۰

ښاغلى جمهور رئيس !

تاسوته په کاردي څو يوڅټک فکر او اضطراري عمليات ددې دپاره پيل کړئ چه دافغانستان له خلکو سره بشري مرستې وشي . هغه مؤسسې چه له دغسې مسايلو سره په حکومت کښې اړه لري او د ملگروملتو څانگې دې داکاروکړي. داسې ښکاري چه امريکه اوملگري ملتونه گوري چه وضع په افغانستان کښې يو څه روښانه شي. البته يوه اوږده سلسله دمرستوورکولو دغسې يوې روښانې وضعې ته اړتيا لري . مونږ فکرکوو چه يوې فوري مرستې ته ضرورت څرگند دى.

دکابل له جگړو څخه په دى ډيرو نژدې ورځو کښې يو شمير خلک تښتيدلي چه خوراک ،خيمو او کمپلوته ضرورت لري. او اړ دي چه بيرته ميشته شي هغوښاريانوته چه کابل کښې پاتې دي. د هغوئ د پاره هــم خواړه، برابرشى. دابه ددوئ دمهاجرت مخه ونيسي. که همالته مرستې ورکړ شي هغوئ چه کولاى شي دامنيت په صورت کښې هلته پاتې شي دابه زمونږ په گټه وي. مونږ پوهيږو چه دفوري مرستو دپاره

هلته مصئونيت نشته. خوځيني دواطلبانه مؤسسې شته چه دغه مرستې ورسوي. يعنې کابل او جـلال آباد ته. مونږ فکرکوو چه که له هوا نه دغه مرستې ورسيږي؛ ښه به وي.

Leeh.Hamilton

او درې غږي يې

د (۱۹۹۲ع) دجولای په دوهمه درئيس جمهور بش په نامهٔ دکانگرس دولسي جرگې يو ليک داسې ليکل شوی: سوړ جنگ پای ته ورسيد. مجاهدينو بری ترلاسه کړ او دنجيب الله رژيم له پښو وغورځول شو. هلته تراوسه سوله نشته. مونږ په بليونو ډالر هلته خرځ کړي. اوس که امريکه کابل کښې خپل سفارت خلاص نه کړي هلته به وضع استقراروونه مومي او ښايي افراطي ډلې قدرت ترلاسه کړي او دامريکې ضد يو موقف به ونيسي. ددغو مجاهدينو يوې برخې زمونږ موقف دخليج په جنگ کښې تاييد کړی ؤ. مونږ بايد ددوئ اتحاد له امريکې سره وساتو. نوښه به داوي چه پيترتامسن دې هلته سفير مقررشي او کابل کښې دې سفارت پرانستل شي.

## شپږ تنو نمايندگانو دغه ليک لاسليک کړی دی:

دغه وخت رباني جمهور رئيس دی او احمد شاه مسعود ددفاع وزير. حکمتيار مخالف دی. نو امريکه ويره لري چه گلبدين حکمتيار قدرت ترلاسه نه کړي. چه هغه افراطي دی. گاونډيان هر يو ځانته هڅه لري. خو د افغانستان ملت لويې تباهی سره مخامخ شو.

نور نو هغه دروس شکن لښکرو خبرې نشته اودکابل خلک وتښتيدل. هستي اوشته يې له مينځه ولاړل. په زرهاؤ مړهٔ شول.

اوس وگورو چه رياست جمهوري يا سپينه مانۍ څه ځواب ورکوي؟

اگست ۱٤- ۱۹۹۲ع

ستاسو له ليک څخه تشکر چه دسفارت دبيا خلاصولو په برخه کښې مو ، مونږته ويلي دي چه کابل کښې پرانستل شي. مونږ دې سره موافقه لرو. څو هلته يو پراخ بنسته حکومت جوړ شي. مونږ يوه لسيزه کيږي چه په دې لاره کښې کارکوو. ددغه کال په اپريل کښې چــــه د نجيب الله حکومت نسکور شو. دايو لوي گامؤ . په دې لاره کښې.

امريکه غواړي چه له نژدې څخه له نوي حکومت سره په کابل کښې کاروکړي مونږ دافغانستان دولت په رسميت پيژندلی او تل په مسايلو کښې سره خبرې کوو چه دامريکې دسفارت دخلاصولو دپاره په کابل کښې زمينه برابره شي . دجون په مياشت کښې مو پيټرتامسن کابل تهوليږهٔ چه مونږ غواړو هلته سوله راشي او حکومت دټولو افغانانو دمنلو وړوي. زمونږ مأمورين دننه افغانستان ته تللي چه د خلکو دژوند دوسايلو مرسته وکړي. يو هيئت مو کندهارته هم تللی له دغو فعاليتو سره سياسي مرسته هم ملگرې ده. دافغانستان حکومت دبيا ودانولو دپاره مرسته غواړي. په وروستيو اونيو کښې دامريکې دسفارت مانۍ پهراکټ ولگيده .داښکاره ددې نخښــهده چه هلتــه اوســـيدل زمـــــونـــږ کارکوونکو تهخطردی. مونږ به حالاترته گورو چه کله حکومت هلته ټينگتيا مومي !؟

ستاسو صميمي

BAONT SCOWCROFT

سپينه مانۍ

لهدې ليک څخه ثرگنديږي چه کهڅه هم هلتـه دامريکې سفارت نشتـه؛ مگر دامريکې مرستې اواړيکې درباني لهنيمگړي حکومت سره موجود دي.

پهکال ( ۱۹۸۸ع ) کله چه دجنيوا تړون دافـغانسـتـان دبهرنيوچارو وزير وکـيل (پرچمي) او دپاکسـتـان دخارجه چارو وزارت له خوا زين نوراني لاسليک کړ او د شوروي اتحاد خارجه وزير شيورد نادزې اودامريکې د بهرنيو چارو وزير شولتځ

دضامنانو په توگه لاسليک کړ. نو په کابل کښې يوسپين کتاب خپور شو.

په دغه کتاب کښې ويل شوي چه دجگړې په اتو کلو کښې افغانستان ته لس بليونه ډالر اقتصادي تاوان رسيدلی. په کتاب کښې د ملکي خلکو زړهٔ دردؤنکي دمړو عکسونه خپاره شوي چه د مجاهدينو د راکټو په اثر شهيدان شوي او ددوئ د ويرجنو کورنيو؛ ويرجنې صحنې تمثيلوي. دروسي عسکرو د وتلو عکسونه چه دافغانستان دملت په ميړانه وتلوته اړ شوي. په يوه برخه کښې شوروي اتحاد ته اؤښتی زيان داسې ښودل شوی:

١- ٦٢٦ هيلوکوپتر اوالوتکې غورځول شوي.

٢- ۷۵ . ۱،۰ ټانک له مينځه وړل شوي.

٣- ٦٧١٦ ترانسپورتي وسايل.

٤- ٣٣٩ ، ٣٢ توپونه او بيلې درنې وسلې.

کله چه دومره دجگړې وسايل له مينځه ځي؛ نوهرڅوک اټکل کولای شي چه دافغانستان انساني او عمراني زيان به څومره وي؟

کله چه دشوروي اتحاد اقتصادي تاوان شپږ سوه بليونه ډالره اټکل شوی چه په نتيجه کښې ئې دشوروي اتحاد امپراتوري له مينځه لاړه. داروپا او امريکې اونورې نړۍ عسکري مصرف په بليونو ډالرو راټيټ شو. ځکه نور شوروي اتحاد نه ؤ او دنظامي ډلو او پکتونو ضرورت نه ليدل کيده.

هغو افغانانو چه په اخلاقي معيارونو فکرکاوه؛ په دې هيله وو چه وروسته دروسانو ترماتې به په نړۍ کښې زمونږ ددغې لويې قربانۍ قدر وشي او هيواد به را ودان کړي خوڅرگنده شوه چه داسې نه وه. سيمه ايزو هيوادو امريکې او روسيې څه نورپروگرامونه درلودل چه بل تالان راغی. تالان، ناتار او ويرژلی حالات لاډير شول.

ترهرڅه دمخه يو هيواد په تاريخ کښې ځان تينگولی شي. ترټولو دمخه وگورئ

چه له تاريخي او كلتوري آثارو سره څه وشول.

په دې برخه كښې په دوو مقالو استناد كيږي چه يوه د محمد ابراهيم عطايي ده. دغه سړى كانديد اكاډميسن دى. بله (دنانسي ډوپري) ده چه پنځه ويشت كاله يې دافغانستان پرمسايلو كاركړى دى. لومړى ليكوال افغان اودوهم امريكائي دى. دغه مقاله په ناروي كښې ددعوت د جريدې ٤٥-٤٤ گڼه كښې خپره شوې ده.

د١٩٩٣ په وروستيو مياشتو كښې زه په ډهلي كښې وم. يوه ورځ دهندوستان دتاريخ ټولنې بلنه راكړه چه هلته دهند يو څو نورو مؤرخينو سره آشنا شم. په دې كښې دكشمير د پوهنتون يو استاد چه اصلاً اپريدى پښتون ؤ؛ خو پښتو يې هيره وه؛ هغه راته وويل: چه دافغانستان دموزيمو آثار دډهلي تربازارو رارسيدلي. بله ورځ له استاد سره دډهلي چاندني چوک دبازار يوه دكان ته لاړو او هلته مو وليدل چه رښتيا دموزيم سكې او دبودا مجسمې پرتې دي. دكاندار وويل: چه دغه آثار له پاكستان څخه په قاچاق دلته راځي.

په هغو وختو كښې له ډهلي څخه اسلام آباد او بيا پيښورته راغلم. په دغو بازاروكښې مې دومره دموزيم آثار وليدل چه نور باوري شوم چه دكابل موزيم چه په نړۍ كښې ئې يو ولسم مقام درلـــود، اودگريكو بوديک ممتاز آثار پـــه كښې ساتل شوي وو؛ په بشپړه توگه لوټ اوچور شوى دى.

څه موده وروسته كابل ته راغلم. يوه ورځ مې داسلامي مجاهدينو د يوه سړي په وسيله ځان تردارالامان پورې ورساوۀ. هلته د لوټ شوي موزيم دودانۍ له مينځه تير شوم. موزيم كنډوالهؤ. اسلامي مجاهدين لاهم لگيادي كلنگونه اومتې يې په لاس كښې روغ آثار اومات بلې خواته كوي او هم يو څه روزي په كښې لټوي.

زۀ دافغانستان دعلومو داكاډيمۍ رئيس وم، سمدستي مې داسلامي مجاهدينو ددولت له رهبرانو او مقاماتو سره دليدلو غوښتنه وكړه. هغوئ راته وويل: دابدكاردى. خوداكار حزب وحدت كوي. ( شيعه هزاره ايران پلوي چه دكابل غربي او

جنوب غـربي څنډې يې نيولې وې. ) ددولت حکمرانان دجمعيت اسلامي وو. چه د وحدت له حزب سره په جگړه بوخت ؤ. بيايې راته وويل: دحزب وحدت دغـه عمل تاسو ليکوال په مقالو کښې وغندئ. ما ورته وويل: چه موزيم هغه وخت لوټ شو چه حزب وحدت هلته نهٔ رسيدلی. هغه وخت دجمعيت او شورای نظار په لاس کښې ؤ. حزب وحدت دهغه ريښې وايستلې. په هغو ورځو کښې مې واوريدل چه ملي آرشيف لوټمار لاندې دی. داکېډمې يوه همکارته مې وويل: چه په تغييرلباس هلته ورشه. وگوره څه حال دی!؟

هغـه وويل چه هلتـه ټوپک والا ناست ؤ. بخـارئ بله وه. کـاغـذ اوداخـبـارو کلکسيونونه يې وراچول اوځانونه يې تاوده ساتل. په کاغذ کښې مې يوکوچنی البوم وليد. هغه مې پورته کړ چه دامير عبدالرحمن خان دکشر زوي د سفر البوم دی. چه دانگلسـتـان دملکې ويکټوريا سره يې کتلي ؤ. ټوپک والا اسلامي مجاهد ته مې وويل دابه زهٔ په پيسو واخلم. البوم يې زماله لاسه واخست. چه شهزاده له ملکې سره ولاړ دی. مـاته يې وويل: تـوهم بت پرست هستې! له دې خبـرې سره سم ئې البوم دبخارئ اورته حواله کړ. وئې ويل دابه لگيرې ځکه چه غوړ دی.

بله ورځ مې واوريدل چه ملي گـالري لوټ شـوې او په آسمـائي واټ کـښـې يې چوکاټونه خرڅيږي او نقاشي يې ايستلې شوې پـه ختو کښې پراته دي.

يو ورځ مې په بس کښې ديوهٔ سړي په لاس کښې د سودا کڅوړې وليدې چه دسراج التواريخ له پاڼو جوړې شوې وې . دکابل عامه کتابتون، د پوهنتون کتابتون، د ملي آرشيف اکاډيمي ، خطي نسخې يومخ پاکستان ته نقل شوي او دباطله کاغذ په توگه هم خرڅ شوي دي.

اوس به وگورو دنانسي دوپرې تحقيقي مقاله چه په کال ( ۱۳۷۳هـ ل ) دمرغومي په لسمـه دوفأ په جريده کـښې خپره شـوې ده : د (۱۹۹۲ع) کال دمی په نولسمـه په

دارالامان کښې دموزيم پهچت باندې ونښت. دا موزيم چه تقريباً شپږ ميله دکابل وجنوب ته پروت دی، ددې راکټ دلګيدو له امله دڅلورمې او پنځمې ميلادي پيړيو يوه زياته برخه رنګارنګ ديوالي نقاشي چهد بلخ په شمال لويديځ کښې ددلبرجان دتپې پهکيندلو کښې لاس ته راغلي وو؛ داور په لمبو کښې وسوځيدل . دچت له رالويدو سره په ټنو خښتو او سمنټو شګو دبرونز اوختو لرغوني لوښي پــــه ځان کښې را ونغښتل او د پاسني دهليز غولي باندېئې دبې ډوله شيانو ډيران جوړکړ. په دې توګه دافغانستان موزيم چهدنړۍ دډيرې بډائې کلتوري پانګې په توګه پيژندل کيده ؛ داسلامي جګړه مارو قرباني شو.

دافغانستان موزيم دکال( ۱۹۲٤ع) په نوامبر کښې د اعليحضرت امان‌الله خان لهخوا دکوټې باغچه‌پهمانۍ کښې چه د اميرعبدالرحمن خان په وخت کښې په ارګ کښــې جـوړه شوې‌وه. په رسـمي توګـه پرانسـتل شــو. وروسـتـه پـه کـال (۱۹۳۱ع)کښې تاريخي آثار دارالامـان کښې اوسنۍ مانۍ ته يوړل شـول. پهدې وخت کښې يوهکورنۍ جګړه پيښـه شـوه.( سقوي) اود هغې‌په ترڅ کښـې د خطي نسخو يوعالي کلکسيون چه داميرعبدالرحمن خان پهمقبره کښې ساتل کيده ؛ لوټ شو اودتل دپاره دملت لهلاسه ووت . د(۱۹۲۲ع) کال له سپټمبرنه وروسته ديوې ديپلوماتيکې معاهدې له مخې دفرانسويانو په مرسته علمي څيړنې پيل شوې.

وروســـتـــه لهنړيوالې دوهمې جګړې ډيرې کــيندنې دنورو هيـــوادو لهخـــواچه ايټاليا ،امريکه، جاپان، بريتانيا او هندوستان پــــه کښې شامل ؤ؛ سرته ورسيدې، دافغانانو په لارښودنه لومړنۍ کيندنه پههډه کښې ۱۹۹۵ کښې ترسره شوه.

دلرغون پيژندنې ټول هيئتونه ديوې رسمي معاهدې له مخې مکلف شوي وو چهله کيندنو لاس ته راغلي شيان به دافغانستان حکومت تهسپاري. په (۱۹٦٦ع) کال ددې مقصود دپاره دافغانستان دلرغون پيژندنې انستي ټيوټ جـــوړ شو. وروسته دغه انستي ټيوټ خـــپل ارزښناک آثار موزيم کښې د ننداري د پاره کتبښودل.

دغـه آثار دافغـاني دپنځـوس زرو کلو تاريخ يو بې‌ساری تصـويرؤ. دځينو آثارو ساری په بل‌هيڅ ځای کښې نه دی ليدل شوی.

دپاليولتهيک يـــا «پېراوعصر» «د مينځنۍ دورې پخ تيغ» مصنوعات چـه (۳۰-۵۰) (ديرش پنځـوس) زره کـاله د مـخـه جـوړ شـوي وو؛ په (۱۹٦٦ع) دبدخشـان کيندنو کـښـې را وايستل شول. په‌لاس ته راغلو شيـانو کښې د انسـان دکوپړۍ ځينې برخې شاملې وې چه ددوا‌ړو «نيـاندرتال» او «هوموسايين» انسان ځانګړتياوې په کښې ليدل کيږي.

له‌دې څخه دا واقعيت څرګنديږي چه افغانستان دبيلابيلو مدنيتونو دودې او پيږۍ دټکنالوژۍ دتکامل انتقالي سيمه وه.

دپاسني پاليـولتـهيک شل زره کلنۍ پورې مـربوط مـعلوم چقـمـاقي سـامـان‌چه (۱۹٦۲ع‌او ۱۹٦۵ع) کلونو کـښـې دبلخ ولايت په «آق کـوپرک» کـښـې لاس ته راغلل. دومره عالي کيفيت او ښايست لري چه‌لرغون پيژندونکو آق کوپرک صنعت ګري دپاسني پاليولتهيک «ميکلانژ» وباله. ددغې دورې په بې ساري شتمنيو کښې دانسـان يوه تورل شوې څيره هم وه چه اټکل کيږي په‌آسيا کښې لومړنۍ تورل شوې مجسمه وي او لرغونتيا يې پنځلس زره کلوته رسيږي. د پنځه طلايي او دولس نقريي‌لوښو پارچو، دوه زره پنځـه سوه کـاله مـخکښې ترمـيلاده‌ښودلي. دبدخشـان دبالول په غـونډۍ کـښـې دلاجوردو کـان ته‌نژدې مـوندل شوې وې. په دغوټوټو کښې دهند، ايران بين‌النهرين، مرکزي آسيا هنري بيلګې ليدل کيږي، چه مخکښې ترميلاده دوه نيم زره کاله يادرې زره کاله‌دمخه دلاجوردو تجارت معمول ؤ.

په‌کال (۱۹٦۳ - ۱۹٦۵ع) په‌کندهار کښې‌ځينې يوناني آرامي کتيبې وموندلې شوې چه د آشوکا دفرمانونو په‌لړ کښې ترټولو لويديځ فرمان ګڼل کيږي. فرمان په يوناني ژبه ؤ.

په‌کال (۱۹۷۸م) کال د جوزجـان په ولايت کښې شبرغـان ته نژدې ديوويشت

زرو طلايي کانو يوه حيرانوونکې خزانه وموندل شوه، چه مخکښې تر ميلاده لومړۍ پيړۍ ښئي. له بلې خوا څنگه چه خزانه په لويْ کوشان پورې اړه لري؛ د هغـه د سلطنت پراختيـا ښيي چه له هنده نيولې تر دغوځايو پورې رسيدلې وه او دگوبي صحرايې نيولې وه.

په (۱۹۳۷ع - ۱۹۳۹ع) کلونو ترمينځ د (۱۷۷۲) په‌شمير دلاسي شيانو يو لوي کلکسيون دکابل په شمال کښې دپروان دولايت په بگرام کښې (لرغونې کاپيسا) څخه لاس ته راغلې. د کلکسيون له مطالعې څخه څرگنديږي چه کاپيسا کله دوريښمو دلارې په سر پروت ؤ. هندوستان او چين يې له روم سره نښلاوه. دکوشانيانو ړومبنی پايتخت ؤ. دغې کورنۍ ډير پراخ قدرت درلود.

دغه راز له بگرام څخه دلاس ته راغلو شيانو ښايست او تنوع دکوشانيانو شتمني اوپراخوالی ښيي. په دغو شيانو کښې دهند په‌سبک کارډه عاجونه، چينايي لوښي، بې شميره رومي بروڼزي شيان، او الکساندر ښيښې په گډون ؤ.

کومې کيندنې چه‌په کال (۱۹۵۲ع) کښې دهندوکښ (ايندوکځ) شمال ته د بغلان په سرخ کوتل کښې پيل شوې د هغې په لړکښې د مشهور کوشاني امپراتور کنشکا (۱۲۸م) مجسمې چه دکوشاني ژبې‌لومړنۍ اوږده کتيبه‌چه‌په يوناني خط ليکلې شوې ده.

سره له نورو آثاروچه‌دايران او مرکزي آسيا هنري ارزښتونه‌په‌کښې ليدل کيدل لاس ته راغلل. دغـه اثار دگندهارا د هنر په باب نوي معلومات وړاندې کړل. څرگنده شوه‌چه افغاني سيمه هغه تجربوي منطقه ده چه لومړنۍ ځل لويديځ شکلونه دهندي اومرکزي آسيا له شکلونو سره گډ شوي ښکاري.

که‌څه هم‌دکنشکا په سکو کښې دايراني، هندي اومرکزي آسيا دمعابدو خدايان او الهې انځور شوې دي؛ خوکنشکا په‌خپله دبودايي دين‌لوی پلوی ؤ. په حقيقت کښې‌ده، دبودا تصور رامينځ ته کړ او هغه يې دپخوانيو سمبولونو پرځای معمول

کړ.

له دغو ټولو دوروڅخه يعنې دميلاد څخه دمخه له اتمې پيړۍ څخه نيولې ترنن پورې څه دپاسه ديرش زره سکې وې. دنړۍ يو ډير قيمتي کلکسيون ؤ. د يوناني باختري زيرمه چه په تصادفي توگه کندز کښې وموندل شوه؛د اوسنۍ زمانې لسم کلکسيون ؤ.

شپږ سوه هغه سکې وې چه مخکښې ترميلاده په دريمې او دوهمې پيړۍ پورې تړلې وې ؛ د بشري صنعت پربنسټ بې سارې پانگه وه .

دنژادي کلکسيون په لړ کښې د کافرانو داجدادو شل لرگينې مجمسې وې چه له نورستان څخه لاس ته راغلې وې.

په موزيم کښې تاريخي آثار په گرافيکه توگه د افغانستان دکلتوري ميراث، بډايتوب ښود. مهمه داده چه هر افغان دخپلو تاريخي ميراثونو اودهغې غناء درک کړي؛ افغانان بايد په خپلو لرغونو برياليتوبوووياړي. له بده مرغه ډيرلږ افغانان په دې مسايلو پوهيږي» .

تردې ځايه دنانسي ډوپرې امريکايي افغانستان پيژندونکي خبرې وې. مگردغه بډايي داسلامي مجاهدينو له خواله مينځه وړل شوي دي. ډير لږ پاتې دي.

د کال ( ۱۳۷۱ هـ ل ) دغويي په مياشت کښې احمدشاه مسعود چاريکاروته ورسيد. مزارشريف سقوط کړی ؤ او ددوستم مليشه دکابل هوايي ډگرکښې ميشت وه . وکيل دنجيب خارجه وزير دوه پلا چاريکارته لاړ اوددولتي قواؤتسليمي يې هغه ته څرگنده کړه . مسعود دکمونستانو دعفوې په باره کښې هغوته ډاډ ورکړ اوداچه دوئ کولای شي هرهيواد چه دوئ قبلوي هلته لاړ شي.

دقوماندان عبدالحق دخولې خبره ده چه گلبدين دکابل په جنوب کښې ؤ. ددفاع وزيروطنجار محمد اسلم او داخله وزير پکتين دوئ ته وويل : چه مونږ کابل ته دننوتلو پروگرام نه لرو. مونږ سره دملگروملتو پلان دی. که مسعود ننوزي مسئووليت

بەددە وي د (١٩٩٢ع) داپريل ٢٤ دېپښبور پەگورنرهاوس کښې د جهادي تنظيمو مشرانو، دپاکستان صدراعظم نواز شريف او دآی اس آی رئيس غونډه وکړه او حضرت صبغت‌الله مجددي يې ددوو مياشتو جمهور رئيس وټاکه.

مسعود هم دا ومنله چەلومړی دې مجددي لاړشي بيا به زه لاړ شم. مسعود په يوه مرکەکښې وويل: مونږ کولای شو په يوازې ځان قدرت ترلاسه کړو. مونږ خپل ملگري بې اسرې نەکړل. دوحدت حزب هزاره دايران پلوي دخميني تصويرونه کابل تەراوړل او دکابل غربي برخه يې ونيوله. د پغمان دوهابيانو ډله دعبدالرسول سياف ترمشرۍ لاندې دعربستان پلوي وو. دا دواړه ډلې په ميرويس ميدان، خوشحال خان مينه کښې خوا پەخواوې. ازبک مليشه، هوايي ډگر، مکروريان يعنې ختيځ کابل کښې وه. د اسمعيليه مليشې ټايمني او شمال برخه ونيوله. پرچميانو مسعود او درباني خلکو مرکز دادی چه دکابل او افغانستان شرميدلې بد مرغي پيل کيږي.

دغه شرميدلې خبرې دنړۍ په خپرونو کښې راووتلې. دې ډلو په لومړنيو شپو ورځوکښې په سپکو او درندو وسلو دومره هوايي ډزې وکړې چه گواکې خوشحالی کوي. چەبری ترلاسه شوی. ډير خلک اوماشومان په دغو ډزو او دگوليو پەلگيدلو مړه شول. توپکوالا په ښارکښې گرځيدل او خلک يې ځورول. يوې ښځې تەيې دکابل دسيند لەغاړې سره وويل چه سم اسلامي جامې واغونده! هغې وويل: تاسو هم خپل ځانونه سم کړئ. دغه ښځه يې سيند تەورغورځوله .تردې پرته دهلکانو او نجونو تښتول هم پيل شول. صبغت‌الله ددوومياشتو دپاره ؤ. چه وخت يې پوره شو. ده غوښتل خپله موده اوږده کړي خو مسعود چەددفاع وزيرؤ؛ دی يې بيرتەکړاو دپيښبور دفيصلې پەبناء رباني راغی چەځلور مياشتې به دی جمهور رئيس وي. دلته رباني او مسعود ته موقع پەلاس ورغله. چه بيانو ډيرې بدې ورځې پرکابل راغلې.

اسلامي حزب چەپەلومړي سر کښې د ارگ تردروازو رسيدلی ؤ او داخله وزارت يې هم نيولی ؤ، په شالاړ.

ژورنالستان کابل کښې ډیر وو. ویډیویي فلمونه اوراپورونه اخستل کېدل چه دملګرو ملتو دبشر دحقوقو، بین المللي بخښنې اوټولې نړۍ ته داخبرې ورسیدلې چه پیغلې، نجونه او ښځې هلکان ازبک ملیشه تښتوي. هزارګان دپغمان دوهابیانو په خاطر چه هلته ډیر پښتانه دي، پښتانه ونیول. هزارګانو په بې رحمۍ د پښتنو په سرونو میخونه ټک وهل. او کانتینرو کښې ئې اچول. بیا به یې اورورواچاوه. یو دبل ښځې یې تښتولې. تیونه به ئې ترې پرې کول او لوڅولې به یې... ددې خبرو تفصیل به‌بیا راشي.

دافغانستان په‌تاریخ کښې دمیرمنو اوښځو احترام دناموس په‌توګه له‌ډیرو لرغولو زمانو څخه دود ؤ. سم دواره‌دې خبرو افغانان‌ډیر خواشیني کړل.

# سوړجنګ ـ د افغانستان قرباني کېدل

د (۱۹۹۲ع) کـال دفـبـرورۍ پـه ۲۳ شـپـه دبي بي سي راډيو، دبيڼ سـيـوان دملګروملتو دلوي منشي دمرستيال لهخولې وويل: چه دافغانستان موضوع دساړه جنګ وروستۍ مسأله ده. بايد ژرحل شي.

ددغه کال دهمدغې مياشتې په سرکښې دامريکې جمهوررئيس جارج بوش پخپله کالنۍ ويناکښې وويل: چه سوړ جنګ امريکې وګاټه. مګر دايې ونهويل چه هلته يوملت قرباني شو او يو ملک وران شو اودغه هيواد اوملت افغان او افغانستان دی.

په (۱۹۸۹ع) کال دفبرورۍ په ۱۵ چهدشوروي اتحاد لښکرې له افغانستان څخه ووتلې؛ دامريکې داستخباراتو رئيس وويل: مونږ دکال زرميليونهډالره افغان مجاهدينوته ورکړي. مګر يولوي کارمو وکړچه هغهد شوروي اتحاد ماته وه. ددغه کار په مقابل کښې زرميليونه ډالر دکال هومره ډيرې پيسې نهوي.

کله چه نازي جرمني ماته وخوړه په (۱۹٤۷ع) کښې انګريزان لههندوستان څخه ووتل اودپاکستان په نامه يو نوی هيواد زمونږ پهخوا کښې جوړ شو. د پښتنو سيمې پهدغه نوي هيواد کښې راغلې. د افغانستان په کرارسياست کښې يوښکاره بدلون راغی. دنادرخان کورنۍ چه په آرام افغانستان کښې حاکمانوو. پهدريو پلمويې ځان تر (۱۹۷۳-۱۹۷۸ع) پورې وساته. لومړی پلمه پښتونستان. دوهمه اقتصادي پنځه کلن پلانونه او دريم ډيموکراسي.

دسردارمحمد داؤد جمهوريت او كمونستي رژيمونه دسور جنگ پای وو. اوس به په تفصيل سره دغه موضوعات وڅيړو.

١- دپښتونستان موضوع: دلوي افغانستان هغه پراخې سيمې چه وروسته پښتونستان وبلل شو؛ داوسني پاكستان دوه صوبې دي چه دسرحد صوبه او دبلوچستان دی. د سرحد صوبه لومړی له سردارانو څخه سيكهانو ونيوله. البته دانگليسانو په مرسته چه امريكايي جنرال هارلن اوفرانسويان هم ورسره وو او بيا انگليسانو له سيكهانو خپلې كړې او بلوچستان پخپله انگليسانو دامير دوست محمد په وخت كښې ونيو. چه تفصيل ئې مخكښې راغلی دی.

داحمد شاه بابا په وخت كښې اداري او ټولنيز اصول داوو چه ټول افغاني قومونه په يوه اداره كښې شامل وو. دلوي افغانستان په ساتلو كښې ټولو برخه اخيسته. نو ځكه ميرزا عبدالسميع دامير دوست محمدخان دناكامۍ اوظاهري لښكر كشۍ نه د پيښور په لور وروسته خپل قلم مات كړ. دامير ددربار لوي منشي ؤ. او دافغانستان قومونه دې ته حاضر وو چه دامير تر شرعي حكم لاندې قربانۍ وركړي.

گارډين. لندن ١٤ مارچ كال (١٩٩٥ع) داسې ليكلي: زمونږ خبريال له كابل څخه خبر راكوي په دريمه كارته كښې حكومتي عسكرو او قوتونو (رباني او مسعود) په داسې حال كښې چه غواړي په چهارآسياب دطالبانو پرمركز حمله وكړي، په ښاركښې په غلا او تالان لاس پورې كړ. دريمه كارته حكومتي قواؤ (رباني - مسعود) تيره هفته دوحدت له حزبه او طالبانو نه ونيوله. د خالي په ورځ د رباني قواؤ چه داحمد شاه مسعود تر قوماندې لاندې وې؛ كله چه طالبان له سيمې ووتل؛ په تيري او ظلم يې پيل وكړ او د سړك دغاړو ټول كورونه يې چور كړل. ديوې طبي مؤسسې كاركوونكي وويل: شپږ واقعې يې ليدلې چه دخلكو پرښځو جنسي تيری شوی؛ يوه بل طبي كاركوونكي وويل چه داكار بيخي ډير شوی. مگر له شرمه خلك پټه خوله پاتې دي. دغه خبريال ليكي چه ده يو سړی وليدد عزيزي په نامه چه سپاړس كسيزه خيلخانه ورسره وه. دواړه لاسونه يې مات وو. او يوې زړې ټوټې سره ئې تړلي په

غاړه كښې ئې اچولي ؤ . عزيزي وويل: د رباني - مسعود عسكرو په دواړو متهو په بيل وواهه ( په تيـرو څنډو ) دهغـه لاسـونه يې مـات كـړل او ډيرئې ډبولی ؤ. دعـزيزي ميرمنې هڅه كوله چه‌عسكر پرې نه ږدي چه دده كور تالاكړي؛ خوحكومتي عسكرو ددوئ كور چوراوتالا كړ. دګارډين داخبار خبريال وايي : ده حكومتي عسكر ( رباني مسعود ) ليدل چه د خلكو مالونه يې په شاكړي او په ځينو ځايو كښې يې د مالونو پرويشلو دعوی درلوده.

اخبار وايي روغتونو ويلي چه په‌دغه ورځ سل تنه وژل شوي او زركسه ټپيان ؤ چه ددريمې كارتې خلک وو.

دفرانسې EVENEMENT DU JEODI هفتگي مجله پاريس ١٥ مارچ (١٩٩٥) ملا نقيب الله دكندهار دقـول اردو قـومـاندان ( د رباني دجـمـعـيت) طالبـانو ته پنځـه ميليـونه فرانسوي ماركه وركړي څو طالبان دهغـه ساتنه وكړي. خو طالبانو پيسې واخستې او دده پروايې ونه كوله.

تريس وايت دفرانس پرس خبريال وايي : دمارچ ١٩٩٥١٤ :

په‌كوټه سنگي كښې دحزب وحدت ( هزاره شيعـه د ايران پلوي) له يوه مـحبس څخه د (١٠٩) يوسل نهه تنو ښځو جسدونه موندل شوي چـه تازه وژلی شوې وې چه‌دعلي مزاري خلكو دبې نامـوسی دپاره تولي كـړې وې. خوكله‌چه دوئ سيمـه پريښودله ؛ هغوئ يې وژلی دي. نور بنديان ئې ياو وژل يا تښتيدلی دي.

دي ټايت اخبار چه دجرمني په هامبورگ كښې خپريږي، په ١٠ د مارچ ١٩٩٥ ليـكلي د كندهار پخـوانيـو مـجـاهدينو پرخـپلو خلكو ډير ظلمـونه كـول . يوه لوي قوماندان چه‌ټانكونـه او وسله‌بند خلک يې درلودل؛ په رښا ورځ ئې له هرموټرنه دوه ميليونه‌افغانۍ اخستې او خلک يې لوټول. زنې (هلكان) به يې ساتل‌او‌واده به‌يې ورسره كاوه . او پرهلكانو به يې په ښكاره ډول د خلكو تر مخې تيری او بې نامـوسي كـوله. ديوې مـرسـتې كوونكې مـؤسـسـې يوه كـاريگر وويل وضع ويرونكې ده. خيلخانې دي‌ته اړوې چه‌خپل هلكان اونجونې پټې وساتي.

# پښتو ژبه او افغانستان

مـونږ وليـدل چه روښـانيـانو اودخـوشـحـال، حـمـيـد بـابا او رحـمـان بابا پـه مهالونوکښې پښتوژبه يوازنۍ ژبه وه چه د افغانستان په ختيځه برخه کښې دمغولو د تعدى اوحاکميت په مقابل کښې په همدغې ژبې سياسي اوټولنيزه مبارزه پيل شوه او دپښتنو دپاڅولو دپاره ددوئ خپله ژبه په کار شوه. په (۱۷۰۹م) ميرويس بابا دغه مشال چه تت بريښېده بيا روښانه کړ. د پټې خزانې په حواله ميرويس بابا يوې جرگې ته د رحمان بابا شعرولوست.

مگر داچه افغاني دولت جوړشو؛ ددفترژبه سمدلاسه پښتونه شوه کيداى او د صفوي دولت مأمورين چه افغانان وو. لاپاتې وو. ددې د پاره وخت په کار ؤ. چه دغه وخت په لاس رانه غی. ځکه ميرويس بابا، وروسته له څلورو کلو وفات شو او وروسته له هغه شاه محمود دايران په فتحه لگيا شو. يعنې بيا هم فرصت نهٔ ؤ.

په (۱۷٤۷م) کښې احمدشاه بابا افغاني امپراتوري جوړه کړه. بيـا هم دومره جگړې او داداري نظام ټينگولو وخت برباد کړ چه تفصيل يې راغلی او ژبې ته موقع نه وه. که څه هم احمدشاه بابا دپښتو ژبې اديب او شاعر ؤ .

له کال (۱۸۰۹م نه تر۱۹۱۹م) پورې له يوې پيړۍ نه زيات وخت په دريو جگړو له انگليس او اتو جگړو له ايران سره ۳۵ جگړو داميرانو اوشهزادگانو ترمنځ هرڅه برباد کړل اوشرقي افغانستان دانگليسانو په قلمرو کښې راغی. ټولو افغانانو غوښتل چه افغانستان نيمگړی پاتې نه شي.

هغه کسان چه دافغانستان په تاريخ او سياسي جغرافيه کښې مطالعه لري هغوئ پيښور، کابل، کويټه، کندهار، بلخ او هرات دافغانستان اصلي ښارونه بولي.

کله‌چه ما په (۱۹٤۸م) محمد گل‌خان مومند دکابل په‌گذرگاه کښې ولید. دده نظر داسې ؤ: «د ملي وحدت دپاره په ملي‌ژبې سبق او ددولت اداري چارې په پښتو اړول دملک دخپلواکۍ دپاره ضروري‌ده. ده ویل: « وروسته‌له هغه‌چه نادرخان پادشاه شو مادکورنیو چارو د وزارت په‌مانۍ کښې دغه ضرورت څرگندکړ او زما وینا د اصلاح په ورغ پاڼه کښې چه مدیر یې ښاغلی محمدامین خوگیانی ؤ؛ خپره شوه. دده نور دلایل دا ؤچه دفارسي د پاره په ایران، تاجکستان او نوروځایو کښې کارکیږي. که‌په افغانستان کښې پښتو ونه روزل شي نن، پښتو اوسبا به‌پښتون کورنه لري».

تردې وروسته( ۱۹۳٦م) دمعارف ژبه پښتو شوه اوډیره ښه نتیجه یې ورکړه. کتابونه پیدا شول اوټولو شاگردانو پښتوزده کړه او کله‌چه معارف کښې پښتو یوه‌ژبه او معارف بیرته دري یا فارسي‌شو؛ هماغه زدکوونکوچه پښتو یې ویلې وه؛ وروسته هم په پښتو پوهیدل ترهغو چه سبق یې په‌فارسيؤ او پښتویې دیوې ژبې په‌حیث ویلی وه‌او وروسته چه دافیصله وشوه‌چه دپښتنو په سیمه کښې دې پښتو او دنورو ژبو په سیمو کښې دې په همغو ژبو سبق ورکول کیږي چه‌له هغه جملې نه یوازې فارسي رایجه شوه؛ نه ازبکي او ترکمني. نو دیوه ازبک دپاره‌بله‌ژبه که‌فارسي وای یا پښتو؛ دې خبرې دهغه‌دپاره توپیرنه‌درلود. اما دغې خبرې پخپله دملي وحدت بنسټ کمزوری کړ.

دلته څو خبرې دبحث وړدي: لومړی داچه پښتو دډیرو افغانانو ژبه ده. دوهم داچه مونږ باید هغه افغان پښتانه چه‌دانگریزانو له‌پلوه بیل ساتل شوي؛ دهغوئ‌د پاره دامیدونو مرکز به‌همدغه ځای ؤي.

د امیرشیرعلي خان‌داصلاحاتو په دوره کښې ( ۱۸۷۰م) پښتو ژبې ته پاملرنه وشوه ددولتي مأمورینو دمأموریت نومونه، عسکري نومونه او قوماندې په پښتو شوې. په (۱۸۸٤م) په سراج‌الاخبار کښې پښتو راغله. په‌انفرادي صورت هم غلام‌محي

الدين خان ددارالمعلمين مدير په سراج الاخبارکښې يو اعلان خپور کړ چه هر چــا لس جملې په پښتو وليکلې؛ دی به له خپله جيبه پنځه روپۍ انعام ورکړي.

دمولوي حسن هندي له قوله چه دامـان الله خـان په وخت کـښـې دپوهنې وزارت دتأليف رئيس ؤ[1] امان الله غازي پښتو جرگه جوړه کړه. چه له بيلوبيلو سيمو څخه پښتو لغات راټول کړي او د پښتو ژبې دپياوړي کـــيدو دپاره يې په کار کـــړي. امان الله خان غازي پښتو ژبې سره ډيره علاقه درلوده اوغوښتل يې چه پښتو رسمي کړي او په دغه نيت يې يو مجلس جوړ کړ. د ( انقلاب افغانستان) اردو کتاب ليکي چه دغه وخت دايران سفير ډير فعاليت وکړ چه دغه کار ونه شي. کله چه ددولت دشورا غونډه جوړه شوه؛ امان الله خان غازي حاضرؤ، يوه هندي مولوي چه همدغه حسن ؤ پوښتنه وکړه : پښتو چه رسمي کيږي دا به دننگرهار په لهجه وي که دکندهار؟

امـان الله خان غـازي وويل چه دکندهار لهجه خوږه ده . مولوي وويـل: دکندهار لهجه ښځينه يا زنانه ده . امان الله خان دومره په قهر شو چه تومانچه يې وايستله چه دغه سړی مړ کړي، دمجلس خـــوند خراب شو او ترڅو چه بيا دغې مسألې ته پاملرنه کيدله دامان الله خان غازي پادشاهي ړنگه شوه . يعنې خارجي لاسونه تل په تيره بيا داعليحضرت امان الله خان په وخت کښې دومره فعال وو. چه غازي امان الله خان په هرمثبت عمل کښې ناکامه کړی شو.

دنادرخان اوظاهرخان په اوږده دوره کښې سره لــه ډيرو مشکلاتو دپښتو دپاره کار وشو. مگر دغه موقع لاس ته رانغله چه پښتو رسمي ژبه شوې وای.

داسې فکر کيږي که په هغه شکلونو کښې چه پير روښان ، ايمل خان اوخوشحال خان او نورو کړی وو او دولت جوړ شوی وای هرومرو به ددولت ژبه پښتو وای. ځکه هغه وخت پښتو روزل شوې و ه او معياري وه. حميد بابا ، رحمان بابا ، خوشحال خان

---

۱- دغه سړي په هند کښې په اردو ژبه دامان الله خان په باب دوه کتابه وليکل. يو له بله يې متضادې خبرې درلودې

بابا ، عبدالقادرختهک او نورو غوره شاعرانو ډیر آثار لیکلي او عام خلک ددوئ له آثاروسره بلدوو. په ډیرو جوماتوکښې ددوئ اشعار لوستل کیدل .ددوئ پرشعرونو تبصرې کیدلې او دوئ ته په درانده نظرکتل کیدل . هر یوه پلویان درلودل اوخپل ادبي مکتبونه یې وو.

ایران او انګلستان او وروسته پاکستان کـه څه هم په ښکاره دپښتو مخالفت نه کوي ؛ مګر په عمل کښې پښتنوته دیني او مذهبي مسایل وړاندې کوي چه دوئ په هغو مشغول شي. په داسې حال کښې چه د پیر روښان اوخوشحال خان دمبارزې ، ټولنیز او ادبي مکتب موجود دی چه بیا هیڅ پاملرنه ورته نه ده شوې. پښتانه هم په بیلو بیلو لارو تللي چه خپلو پښتونه یې پخپله تخرنیولې ده .

کله چه افغانستان کښې دروس دنوې امپراتورۍ یعنې شوروي اتحاد لاس وهنې پیل شوې له هغه جملې نه ئې د ژبې ، سمت اونسل خـــبرې راپورته کړې. هدف داؤ چه ملي جوړ شوی وحدت ړنګ کړي. وروسته چه روسان ووتل بیا نو په بد شکل غیرپښتانه قومونه کابل ته ننوتل چه ډیرې بدې اوشرمناکه خاطرې ترې پاتې شولې. یو سبب هم داؤ دعمومي ګټو پوهه ورکه شوې وه.

تراحمدشاه وروسته پرته له شاه زمان پادشاهان داحمدشاه بابا داصولو په عملي کولو قادرنه وو. نودوئ ټول دده روح ته دخجالت په حال کښې وو اونه یې غوښتل چه دده پرکارنامو رڼا واچوي.

په( ۱۳۳۵هـ ش ) کښې زه تاشقرغان ته تللی ؤم . دغه وخت مدیر فیض محمد چه یو روڼ فکره سړی اودکتابخانې خاوندؤ؛ ددغه ښارګوټي ښاروال ؤ . له ده سره په ښار کښې ګرځیدو چه بالاحصار ته ورسیدو او فیض محمدخان وویل چه دتاشقرغان نوم احمدشاه بابا ایښی ، داسې چه ده کله دښار د بنسټ تیږه ایښوده نوخلکونه یې پوښتنه وکړه چه تاسو پخپله ژبه تیږې ته څه وایاست؟ هغوئ وویل« تاش» اوښارته څه وایاست؟ خلکو ووی« قرغان ». نو بابا وویل ددې ښارنوم به تاشقرغان

وي. له دې ځرګندېږي چه احمد شاه بابا دخلکو ژبې ته داهميت په نظر کتل. مادغه مطلب دافغان ملت په جريده کښې وليکی چه ددغه ښار نوم بايد تاشقرغان وای چه اوس خلم شوی او دې خبرې دولتي مشرانو ته خوند ورنه کړ. ځکه دغه وخت ځينې لرغوني نومونه ايښودل کيدل لکه نيمروز، جوزجان، تخار او نور.

احمد شاه بابا په واقعي صورت د عدالت او برابرۍ په اصولو يو دولت جوړ کړ. چه په کار ؤ دده ليکه نيوله شوې وای او انحراف نه وای شوی.

# اعليحضرت تيمورشـاه
# او شل کاله د امپراتورۍ ساتل

تاريخونه دتيمور شاد په باب دومره ډيرې خبرې نه کوي. ځکه تيمورشاه استراحت غوښتونکی سړی ؤ. که څه هم داحمد شاه بابا دوخت امپراتوري يې وساتله او په جګړو کښې بريالی ؤ.

دتيمورشاد دوخت مهم بدلون دمرکز تبديلي له کندهاره کابل ته ؤ. چه دغه کار مثبت او منفي اړخونه درلودل. له هغې جملې نه شرقي اوجنوبي ولاياتوته نژدې کيدل، اوداچه دقومي مشرانو او په خبره پوه د ابتکار خاوند خلکو څخه چه دميرويس بابا او احمد شاه بابا په ارشاداتو پوهيدل. لېرې شو.

اعليحضرت تيمورشاه داحمدشاه بابا ملي اصول پرېښودل او يوڅه سياست يې داحمدشاد بابا تعقيباوه. څرنګه چه دده حربي اتلان هم تر يوه حده له ځان نه خپه کړل زيات خطرونه پيدا کيدل. مګر دملي تاريخ په لټه کښې ليدل کيږي چه دافغانستان خلک خپل يوه مشر ته د ملي ګټو په خاطر زياته معافي هم ورکوي او زيات مسايل دهغه شخصي بولي. له همدې امله دتيمورشاه اعمال دزغم وړدي. ځکه تيمورشاد سړد له دومره راحت غوښتلو دضرورت په وخت کښې لکه احمد شاد بابا په جنګي سوبو نووتلی او بريالی بيرته راغلی چه موږ به يې لږ تفصيل وګورو.

ځينې خلک داګوته نيسي چه دافغانستان اقتصاد پرغنائمو اوکړنې ولاړ ؤ او ښايي

له اول سرد له دغسې کړ اوونو سره مخامخ ؤ. د مثال په توګه صدراعظم شاه ولي خان چه په اشرف الوزرا - يادېدی؛ وروسته داحمدشاه بابا له علوي سفره خپل زوم شهزاده سليمان چه دکندهار والي ؤ ؛ پادشاه اعلان کړ. په داسې حال کښې چه احمد شاه بابا تيمورشاه ټاکلی ؤ . لومړنۍ حادثه وه چه په نتيجه کښې دشاه ولي خان په مرګ تمامه شوه. حال داچه شاه ولي خان يو مدبر اداره چي زړور سرلښکراو تراحمد شاه بابا وروسته په امپراتورۍ کښې دوهم سړی بلل کېدی، چه اعليحضرت تيمورشاه دهغه له همکاريو محروم ؤ.

په ملي تاريخ کښې د ملي ليکي پرېښودل ملي بربادي ده ،او په ملي تاريخ کښې ملي ليکه نيول ملي کاميابي ده.

که څه هم داعليحضرت تيمورشاه په ژوند کښې لوی افغانستان پرخپل حال پاتې ؤ او دمخالفينو غورزونه تاوشول؛ مگر بدې اغيزې يې وروسته ښکاره شوې. مثلاً ډير ډير اولادونه اوهريو دقدرت دنيولو دپاره را پاڅېدل.

په داسې حال کښې چه خارجي عوامل هم له داخلي مسايلو سره لاس ګرېوان وو. زمونږ لوی کوربې وران کړ. هغه انګرېزان چه احمدشاه بابا يې دهند دشاهنشاه په حيث پېژانده ؛ کابل ته را ورسېدل . خوهيڅ افغانانو ته دغه عوامل په ګوته نه کړل چه ستاسو بې اتفاقي اولنډ پاري ددغو بدمرغيو سبب دی.

سوال دادی چه آيا فردي، کورنی او قبيلوي مسايل په دې ارزېدل چه دمليونو افغانانو لوی کور وران شي؟

دغه خبرې بايد داعليحضرت تيمورشاه په بحث کښې نه وای ليکل شوې. ځکه هغه امپراتوري ساتلې وه اوجګړو کښې هـم بريالی ؤ. مگر زېږنده عوامل دده په عصر کښې پيدا شول.

هغه لوی افغانستان چه د پير روښان ، خوشحال خان او ميرويس بابا په تکلونو مينځ ته راغی او احمدشاه بابا هغه بشپړ کړ او عملي صورت يې ورکړ؛ په دې لارد

کښې به سلهاؤ زره سرونه قرباني شول. ځینې مؤرخین وائي تیمورشاه له احمدشاه بابا سره به ډېرو برو کښې نه نوازې زیات توپیر درلود؛ بلکه په مخالف ټکي کښې ولاړ ؤ. دکابل دچهارباغ څښې قصې چه دتیمورشاه دنشاط او خوشحالۍ ځای ؤ؛ دعامه افغانو له نظره هم دانتقاد وړ ؤ. مګر داعلیحضرت تیمورشاه لوی او مهم خصوصیت دا ؤ چه دجنګ په وخت کښې یې د یوه ښه سرلښکر ښه غوره کوله.

ثاني اعلیحضرت تیمورشاه یو ډېر ښه پادشاه وای چه له احمدشاه بابا سره نه وای مقایسه شوی. احمدشاه بابا یو کامل انسان ؤ؛ چه په بشري عقل حتی دپښتنو هم دوه عیب په کښې نه دی موندلی

حربي اتل سرلښکر سردارجهان خان له تیمورشاه څخه خوابدی ؤ. د سردارجهان خان دنوري په ښپېښنا پرنسټاپور پاخه: دهلي او آګره بریسمدلي وداو افغاني برې پرې رونیانه وه.

سردارجهان خان خپل انتقاده نه یو لیک کښې داعلیحضرت تیمورشاه په نامه څرګند کړی دی. دروسته دغه دول انتقاد وزیر محمدګل خان مومند دظاهرشاه دعصر پر حکومتو هم درلود.

په ملي تاریخ کښې داخبره دقت وړ ده چه غیر پښتون افغانانو ته دې صلاحیت ددوی دلیاقت په اندازه ورکړ شي. که لیاقت او مهارت او صداقت مطرح وي څه عیب نه لري. سه هم دی او که څرنګه پادشاه یادولتي مشرانو له دغوره مالي، استراحت او تشریفاتو برابرونې دخپلې ځانې ځمو دپاره کوي؛ دابیله خبره ده.

حربي اتل سردارجهان خان تیمورشاه ته داسې لیکلي:

دروسته له القابو: هغه کسان چه نامهذب مذهب لري (مطلب کشمیریان او قزلباشان) په زړه کښې غله، د شیطان خوي او دانسان مخونه یې دي، کلونه کلونه دخدعې او خیانت او درواغجنو له لارې تا یا که ګوله دوی ترلاسه کوي.

دغلامانو مینځې دا او دادي په نامه دربار ته ننوتلي؛ اوس یې دغلامۍ ساطری

اوچتری اخستلو ورځې تيرې شوې. غواړي چه دسلطنت اخوان او اعيان واوسي او هغه احسانونه هيروي چــــه ستاسو لوي محترم پلار او مونږ تاسو ددوئ په برخه کښې کړي دي.

او پادشاه له خپلو دوستانو خوابدی کوي. لکه پليد قاضي القضات شيطان خوی اوڅو نور ملعون قزلباش او کشميري، مونږ او پادشاه دکندهار په خاوره او اوبو روزل شوي يو. عمر مو تيرکړی، هدمو يو دی. هيڅکله به مونږ په هيڅ خدمت کښې بيرته رانه شو. ذيعقدة الحرام مياشت (۱۱۸۹) دغه ليک په کابل کښې دتيمورشاد دراني کتاب کښي خپور شوی دی.

حربي اتل سردارجهان خان په ځرگند ډول پادشاه (تيمورشاه) هغو ټکوته متوجه کوي چه ورورسته دهـواد د بربادۍ سبب کيږي. همدا ووچه وزيرصاحب محمد گل خان مومند خپې خلک دظاهرشاد په سلطنت کښې هم يادوي.

يعنې کله چه محمد ظاهرشاه له سلطنت نه خلاص شو؛ دسلطنت يومهم رکن هم له ده سره نه ؤ. حتی په يارس کښي افغاني لوي سفير حاضر نه شو چه په تلفون کښې ورسره خبرې وکړي. محمد گل خان مومند وويل چه د نادرشاه او ظاهرشاد په دورنت کښي افغانستان د قومونو داسې څوک نشته چــــه ملــــت سره مينه ولري. يا قوم ولري چه هغوی پوښتنه ځپې وکوي. بيا به يې مثالونه ورکول چه کابينه کښې د پادشاه کورنی ده؛ يا يې قومه خلک.

اعليحضرت تيمورشاد په شمالي ولاياتو کښې دقباد خان قطغني پاڅون چه دمرکز نه اطاعت نه ئې سرغړاؤه؛ مات کړ او په کندهار کښي دعبدالخالق پاڅون. په کال (۱۷۷۹ ع) کښې ئې د سکهانو سره جگړه وکړه. هغوئ يې مات کړل او دپنجاب ولايت يې بيرته ونيو اوکشمرته هم لاړ. دهغه ځای چارې يې تنظيم کړې. مشهد او نيشابورته هم ورغی او دو؛ ويشت کاله يې داحمدشاه بابا دوخت لوي افغانستان

ورساته.

په کال( ۱۷۸۹ع) کښې اعليحضرت تيمورشاه د بخارا پادشاه ځگړه وکړه اومرو څخه چه افغاني خاوره وه او دبخارا پادشاه مرادبيګ نيولې وه، هغه يې بيرته وشاړه او بخارايانو ته ئې سخته ماته ورکړه اوبيا ئې سوله ورسره وکړه .

اعليحضرت تيمورشاه په کال ( ۱۷۹۳ ) کښې وفات شو او دکابل په عمومي باغ کښې ښخ شو. چه اوس يې مقبره د ښار په مينځ کښې ده . دغه مقبره دشاه زمان په وخت کښې جوړه شوه ؛ خو تر اوسه نه ده بشپړه شوې.

په ملي تاريخ کښې داهم يوسوال دی چه د اعليحضرت تيمورشاه مقبره ولې نه ده بشپړه شوې . د فرهاد صاحب دښاروالۍ په دوره کښې له د باندې نه يوڅه ترميم شوې ده؟

# اعليحضرت شاه زمان

وروسته له احمدشاه بابا په ملي تاريخ کښې اعليحضرت شاه زمان يوه داسې روښانه څېره ده چه ملي تاريخ يې په ښه نامه يادوي. شاه زمان ته که ربرونه نه وای پيدا شوي نه يوازې يې لوی افغانستان ساته؛ بلکه هندوستان ته يې هم د انګريزانو له اشغال څخه نجات ورکاوه.

اعليحضرت شاه زمان په ملي تاريخ کښې يو مدبر، هيله من، سياستمدار او زړور سرلښکر پيژندل شوی. دغه دوران دی په ملي تاريخ کښې داهميت وړدی چه زمونږ دود دښمنان سره يو کيږي او لوي افغانستان کوچنی کيږي. دې خبرې ته پاملرنه په کار ده چه دغه عوامل ښه وپيژنو او که چيرې دافغان بچي ته دهمت او سرلوړي هيله پيدا کيدله نو په کار دي چه بيا دغه عوامل ښه وپيژني.

کله چه اعليحضرت شاه زمان پاچا شو بهرني او کورني حالات ډېر له خطره ډک وو. بهرکښې انګليسانو دهند زياته برخه نيولې وه. ايران کښې هم قاجاري حکومت ټينګ شوی ، ايران ددې دپاره چه دافغانستان غربي ولايات، لکه نيشاپور ، مشهد او هرات ونيسي؛ هم روسانو نه مرسته وغوښته او هم يې انګليسانو سره دلوي افغانستان پرخلاف په ( ۱۸۰۰ م ) کښې يو تړون لاسليک کړ او په ښکاره يې دا ومنله چه که اعليحضرت شاه زمان دهند خواته حرکت وکړی ايران به پرغربي ولايتو حمله کوی او که چيرې اعليحضرت شاه زمان دايران په لوري وخوځيږي؛ انګليسان به په شرقي ولايتو ورڅانګي.

نو يو خارجي ليکوال وايي داعليحضرت شاه زمان پادشاهي دآس پر زين تيره

شوه

ملي شعور، ملي درک نه ؤ؛ چه افغاني مشران خپلو ملي دښمنانو ته متوجه وای دوئ پخپلو کښې سره اړه شول او تر اوسه دغه ملي شعور او ملي وجدان نه دی پیدا شوی. په هغوئ کښې چه پیدا شوی دښمنانو په لومړي سرکښې له منځه وړي او باقي ملت نه دی پوهېدلی.

له دغې لیکنې نه اصلي تګ تېکی دادی چه د ملي رغاونې او ملي رنګونې عوامل وپېژنو. چه افغانان په تېره بیا نوی کول (نسل) درغاونیو په لاروا وچارو پوه وي.

اوس داعلیحضرت شاه زمان شخصیت دخپل او پردي له نظره ګورو:

فریر دافغانستان په کتاب کښې لیکي: «شاه زمان هوښیار، زړور، پوه او فعال مېړنی ؤ. هغه تل دآس پرزین سر پور له پړې ځګ ي بلې ځګړې ته روان ؤ. د افغانستان خلک هغه ته د تیمورشاه تر نورو زامنو ډېر احترام درلود!».

سرې وبلیم جان وایي: «په هند کښې دانګلیس ټول دښمنان دکابل خواته ګوري او ټولو شاه زمان ته بلنه ورکړې چه هند ته راشي. وزیر علي او سلطان ټیپو او دجوناګړ راجا ټول دافغانستان پادشاه ته ربلوي چه هندوستان ته راشي او د افغاني لښکر ټول خرڅ به دوئ ورکړي. حتی درامپور نواب غلام محمد پخپله دشاه زمان دربار ته راغلی».

افغانستان په نولسمه پېړۍ کښې وائي: تاریخ شهادت ورکوي او خارجي مؤلفین ټول اتفاق لري چه شاه زمان یو ستر د نقشه درلوده. دده غوښتل چه داحمد شاه بابا امپراتورۍ بېرته ژوندۍ کړي. خود یو قوي او محکم دولت دتشکیل داساس له مخې يې دملک ټیولو په جنبه اکتفا ونه کړه او غوښتل يې چه افغانستان یو مقتدر او متمدن دولت وګرځوي. چه نه یوازې د سیاسي او نظامي قوې مظهر وي بلکه په خنیغ کښې دعلم، پوهې، تهذیب او تمدن مرکز هم وپېژندل شي»!

له بده مرغه دغه نومیالی افغان مشر له سختو داخلي کړکیچو سره مخامخ شي او دشاه له پلوه یعنې دخپل ورور او محمدزائیانو له خوا وهل کېږي. انګرېزان او

ACKU

ایرانیان دده له بریدونو خلاصیږي او دشاه زمان دپاره ربړونه جوړوي.

اعلیحضرت شاه زمان د ۱۷۹۸ په سرکښې لهیو لوي لښکر سره دهند په لوري حرکت کوي او نیغ په لاهورکښې اړوي. کله چه شاه زمان لاهورته رسیږي دهند په مسلمانانو او هغو ټولو خلکو کښې چهوپوهیدل انګریزي دکاندارانو ددوئ ملک نیولی. یود عجیبه ولوله شور اوځوګ پیدا کیږي او په ټول هندوستان کښې داعلیحضرت شاه زمان افغان ډندورې غږیدلې او خلک دده انتظار کښې وو. چه افغان ژغورونکی شاه زمان لاهورته رسیدلی. حتی مرهټه او نور هندوان هم داځله خوشحال وو. چه انګریزان بهددوئ له خاورې وایستل شي. انګریزان سخت وارخطأ شول اوحاضر وو، چهپه شمالي هند کښې افغاني حکمروايي په رسمیت وپیژني خو په دې شرط چهدفرانسې او روسیې مخهونیسي. چه په دې وخت کښې بې غوښتل هند تهځانونه ورسوي.

داسې ویل کیږي چه دناپلیون بناپارټ نماینده همدشاه زمان حضورته راغلی ؤ. خو له بده مرغه داعلیحضرت شاه زمان ورور محمود چه دهرات والي ؤ پرکندهار راځي اوځان پادشاه اعلانوي.

اودکابل پهلوري حرکت کوي، دادیچهملي شعور او وجدان نشته. چه په دغسې یود حساس وخت کښې ددې پرځای چه دخپل مدبر ورور ملاوتړي؛ داسې ورور چهددد له هیبته ختیځ ،لویدیځ روس او انګلیس په ویره کښې دي د بخارا ،ایران او هند پادشاهان خپل موجودیت پهخطر کښې ویني. په آسیا کښې افغانستان اودهغهلښکر اوسرلښکر یوازنی ، هیـواد دی چه کولای شي انګریزان له هند څخـه وشړي او اعلیحضرت شاه زمان پههمدغه نیت هندته تللی دی. اوس دې هر افغان یو پلا ځان دشاد زمان پهموقعیت کښې وګوري چه څهباید وکړي؟ په داسې حال کښې چه محمود لهایراني پادشاه څخهمرسته اخستې او نیشاپور او مشهداو نورو غربي سمو

په سوداكولو كښې دي چه دزړهاؤ افغانانو وينې هلته توېې شوې دي.

دملي تاريخ دغه دوران ډير سخت دوران دی چه دمليونو نو پښتنو او افغانانو دتباهۍ موجبات راغونډ وي.

اعليحضرت شاه زمان دهندوستان دمليونو مليونو خلكو هيلې هم ( يوشمير بې خبرو او له ملي شعوره بې برخو افغانانو دغلطو اقداماتو په اثر) تر پښو لاندې كړې او بيرته دكابل او كندهار په لوري راوخوځيږي، داده دملي خيانت نتيجه. چه دلويو دعوو خاوند بيرته راګرځي.

څـــــنې زه لويې دعـــوی لرم پــــــه زړه كـــښـــې
مګر څـــــه كـــړم چه پښـــتـــــون واړه بې ننګ دي

خوشحال

د بې ننګه پښـــــتـــــانه لــــــه لاســـــه
لويې پريښـــــوده ونيـــــوله كـــــمــــه مـــا

مګر اعليحضرت شاه زمان له هغو كسانو څخه نه دی چه خپل هوډ پريږدي.

مـــــردان خـــــپل هوډ نه پريږدي لـه لاســـه
كـــــه بې ســــرشي دخـــوني زمـــري تـرزامـــه

دبخارا پادشاه هم پرشمالي سيمو رادنګلي ؤ. مګر شاه زمان دبخارا پادشاه دايران پادشاه او سكهان پول وځپل او ځينې ددله ويرې پخپله پهشا لاړل.

**ځوانمردي او نا ځوانمردي:** اعليحضرت شاه زمان كندهار ته ځي؛ محمود تښتي دهرات په لور په شاځي. شاه زمان ورپسې هرات ته ورځي؛ محمود دهرات په ښار كښې ځان كلابندوي او شاه زمان ته دخپلې مور په لاس توبه نامه ليږي او عذر غواړي. اعليحضرت شاه زمان دمحمود دمور چه ددد هم ميره دد؟ عذر منې محمود په معافي ورکوي. بيرته يې دهرات والي ټاكي. مګر محمود څه مـ... روسـ...

ACKU

دکابل دنیولو پههڅه کښې دایران دقاجاري دولت پهمرسته روانیږي.

مؤرخ میرغلام محمد غبار وائي: چه اعلیحضرت شاه زمان شخصي او کورنی عواطفوته ولې پرملي گټو غوره اهمیت ورکړ؟ که چیرې یې دمحمود او دهغې دمور عذر نه وای منلی او محمود یې نیولی وای لوي افغانستان به نهؤ وران شوی! مگر دښځې پلو اچول او ننواتې منل هم دپښتنو یو خصوصیت دی؛ خوځوانمردي او ناځوانمردي دود مختلفې خبرې دي. البته په ملي تاریخ کښې لویه غلطي وه.

دملي تاریخ پهاوږدو کښې نصیرخان بلوڅ داحمدشاه بابا په مقابل کښې ښورش وکړ؛ مگر کله چه نصیرخان پخلا شو؛ نه یوازې پخپله نصیرخان بلوڅ پرخپل قول صادقؤ؛ دده اولاد هم وفادار پاتې شو. نه یوازې وفادار پاتې شول چه نصیرخان دهند پهجنگي سفر کښې وروسته له هغه داسې کارنامې وکړې چه که دی نهؤ وای پخلا یا احمدشاه بابا دده پخلاتوب نه وای منلی لوي تاوان پهملي تاریخ کښې پیښیدی.

تیټ او پست خلک نورهم ډیر پیدا شول چه پهخپله موقع کښې بهاشاره ورته وشي.

دغه وخت هم انگلیسان دروحانیونو په جامه کښې اوهندي میاگان لکه میا غلام محمد افغانستان ته راځي اودا سلام پرده یې پرمخ اچولې وي.

مؤرخین وایي چه شاه زمان غوښتل مرکزي حکومت پیاوړی کړي او قومي مشرانو ته کار ومأمورو خلکوته ورکړي او یو شمیر قومي مشران پهدې فکرکښې شول چه دشاه زمان پرځای بل څوک دافغانستان په پاچاهي وټاکي. مگر دغو مشرانو وضع دخپلو شخصي گټو پربنا ـ سنجوله او هغه بدلون چه پههند، ایران او اروپا کښې راغلی وو په هغه نهپوهیدل. نوځکه یې دغسې یوله خطرډک اقدام وکړ. یا پهبل عبارت ملي شعور کمزوری ؤ نو چه دغه دسیسه کشف شود دهغو مشرانو اعدام شول چه په هغو کښې سردار پاینده خان هم ؤ.

ACKU

وروسته د پاینده خان زامنو په تیره بیا وزیر فتح خان چه چلباز او بې پښتو سړی ؤ د تیمور شاه زامن یې د پادشاهۍ په طمع استعمال کړل او وروسته یې سرد وجنګول چه په نتیجه کښې د محمدزو بې غـیرته کورنۍ مینځ ته راغله. چه یو یادوه کسه به یې سه خلک وو.

په (۱۷۹۳ م) له بده مرغه نصیرخان بلوڅ مجرب ځوانمرد سپین ږیری شوی ؤ. شاه زمان پېښورته راغی او هلته یې واوریدل چه دده بل ورور همایون پرکندهار حمله کړې. د بخارا امیر شاه مراد بلخ ته ننوتلی. کله چه شاه زمان بیرته کندهارته لاړ همایون هرات ته وتښتید. او بل یاغی شهزاده محمود سره یوځای شو، شاه زمان کله چه کابل ته راغی د بخارا سفارت د عذر د پاره راغی.

اعلیحضرت شاه زمان په دووکلوکښې لوي افغانستان تأمین کړ. په (۱۷۹۵ م) کښې اعلیحضرت شاه زمان یوځل بیا دهند په لوري وخوځید چه انګریزان له هغه څخه وډار شوي. بیا خبر شو چه آقامحمد قاجار ایراني پادشاه نیشاپور او مشهد ته ... تیمور شو بیرته راوګرځید. په (۱۷۹٦ ع) ... پېښورته راغی. په (۱۷۹٦ ع) لاهورته ننووت، په (۱۷۹۷ ع) شاه زمان لاهور کښې ؤ چه دهند د پادشاه شاه عـالم لیک ورته راغی اوده ته ئې بلنه ورکړې وه چه هندوستان ته تشـریف راوړي. شاه زمان انګلیسانو ته خبر ورکړ چه دی غواړي هندوستان ته له سل زره لښکر سره ورشي، دوئ دې په شالاړشي. له بده مرغه د غسې یو تاریخي لحظه کښې له افغانستان څخه خبر ورسید چه محمود بیا باغي شوی نودغه وخت شاه زمان بود شو چه مخکښې ځل که ئې دده اوده د مور عذر نه وای منلی دغه بد مرغي به نه وه ور پېښه شوې. نو شاه زمان بیا دهندوستان د ټولو هغوخلکو هیلې چه په انګریزي لومو کښې نښتي وو، خاورې کړې او د خپل احمق ورور او د نورو خاینو خلکو د ترارۍ د پاره راوګرځید.

په دې وخت کښې آقامحمد قاجار د ایران پادشاه ... شو ... دده زوي فتحعلي شاه

پاچا شـو. محـمود او دده زوی کـامـران، ایران ته پناه یووړه. دایران پادشـاه دهغو هرکلی وکړ. شاه زمان هرات ته ورورسید ایرانیانو دخراسان ولایت مشهد او نیشاپور خوشې کړي وو. شاه زمان بیرته دافغانستان لهخوا هلته حاکمان مقررکړل. پخپله بیـرته کـابل تـه راغی چهدهند په لوري حـرکت وکړي. دی لا په کـابل کـښې ؤ چه محمود لهلس زره ایراني قوې او نورو خپه شوو بارکزو او الکوزو په وسیله پرهرات اوفراه حمله وکړه. مگر دهرات مدافعینو دقیصر او زمان خان په مشری هغوئ مات کړل. محسود داپلا بخاراته وتښتید اوهلته یې پناه واخیسته. له هغهځایه خوارزم اوبیرته ایران ته لاړ او هلته یې هرکلی وشو.

مطلب دا چه اعیلحضرت شاه زمان د ایران، انگلیسانو اوسکهانو لهگډو عملیاتو سره مخامخ ؤ. داخلي خپلچارو او جاهلانو ترټولو بداوخطرناک حالات پیدا کړل. اتل اعلیحضرت شاهزمان اته کاله پرآس سپور لهپنجابه تر نیشاپوره مندې وهلې. دومره قوی سوق او اداره په تاریخ کښې ساری نهلري چه دلوي افغانستان دتأمین دپاره وکړی دی چهملي تاریخ دده پـر هلوځلو آفرین وایي او دده پرداخلي مخالفینو لعنتونه.

دکال (۱۷۹۸م) داکتوبر په میاشت کښې شاه زمان بیا لاهور ته راغی. داپلا سکهانو هم اطاعت وکړ. د انگلیسانو نماینده (مرزامهدي علي) دانگلیس حکومت ته لیکي: د ایران پهمرسته مو شاه زمان دومره مشغول کړی چه لږترلږه درې کلو پورې پرهندباندې حمله نهشي کولای».

پهدې وخت کښې بیـا خبـر راغی چه دایران پادشاه فتحعلي شاه او محـمود بیادخراسان ولایـت تــه ننوتلي. د (۱۷۹۹ع) په سرکښې شاه زمان لهلاهور نه بېبسورته راغی چــه د ایران ددفع دپاره لاړشي. ایرانیانو منظم عسکر نهدرلودل او ښه اسلحه یې هم نهدرلوده. مگر شاهزمان منظم عسکر توپخانه او ښه وسله درلوده انگریزانو ایران ته مشاورین ورلیږلي وو او هغوئ یې دغې حملې ته هڅولي وو.

افغاني لښکرو دایران پادشاه بیا په شا وتمباوه. میا غلام محمد هندي داسلام په جامه کښې کندهارکښې اوسیده او په پټه دانګریزانو سرئ ؤ چه د یوې بلې دسیسې کاروکړي. پاینده بارکزی، عظیم الکوزی، رحیم علیزایي، نورالله بابري، اسلام پوپلزی، حکمت سرکاني، سلطان نورزی، خضرعلیزی، زمان پوپلزی، جوانشیر ارسلان، جعفرجوان شیر، شریف قزلباش، دمیا غلام محمد هندي په کورکښې دشاه زمان دغورځولو دسیسه جوړه کړه. دغو افغانانو دهندوستان دخلکو دخلاصون دلوي افغانستان دتأمین دایران ددسیسو فکر ونه کړ اودداسې فعال اونه ستړی کیدونکي پادشاه په مقابل کښې راجګ شول. سرجان مالکم انګلیس ایران کښې ناست اودایران دپادشاه مشاور هم دی. شاه زمان دسیسه کوونکي اعدام کړل.

پرنس ملکم خان ارمني لیکي: که دغه مصیبت افغانستان ته نه وای چه افغانستان بې په وینو کښې ډوب کړ او که ایران دانګلیسانو په چالونو پوهیدای هندوستان او شرق دانګلیسانو له استعمارڅخه خلاص شوئ ؤ او شاه زمان بې له خارجي مرستې دا قدرت درلود چه په یوازې ځان دانګریزانو بیخ بنیادوباسي. پورتني مطالب اونور انګلیسي مدارک دقاضي عطاؤالله دپښتنو تاریخ په کتاب کښې راغلي چه غبار، فرهنګ، رښتیا اونورو لیکوالو له هغه څخه نقلاً ځیني برخې را اخستې دي.

مالکم په خپلو لیکونو کښې خوشحالي ښیې چه افغاني قومي مشران دهغې دسیسې په اثر چه د میا غلام محمد هندي په وسیله ترتیب شوې وه؛ وژل شوي او اوس ټول مربوطه خلک دشاه زمان پرضد پاڅیدلي په یوه لیک کښې مالکم لیکي: دانګلیس دګټو دپاره دخراسان ولایت باید خپلواک وي او که چیرې دافغانستان یا ایران ترلاس لاندې وي نوایران تر افغانستان ښه دی. ځکه دایران د پادشاه قوت دافغانستان دپادشاه ترقوته ډیرکم دی.

په بل لیک کښې لیکي: شاه زمان دانګلیس دقدرت په هند کښې یوقوي دښمن دی اودی کولای شي بې له خارجي مرستې پرهندوستان ورودانګي.

په بل ليک کښې ليکي: «هيڅ يو شی د شاه زمان دهندوستان نيولو مخه نه شي نيولی پرته له دې چه دهغه په ملک کښې نفاق پيدا شي او شاه زمان موقع ونه مومي چه له هند څخه انگريزان وشړي».

بل ځای ليکي « افغانان ترنورو آسيايي خلکو مغرور، کبرجن او کينه ناک دي » په بل ليک کښې ليکي: له اوسنيو حالاتو داسې ښکاري چه سږکال اوبل کال به دافغانستان له پلوه کوم خطر هندوستان ته متوجه نه وي. ځکه محمود له خراسان څخه دقندهار په لوری خوځيدلی او دکندهار شا اوخوا سيمې يې نيولې ناراضي دراني مشران له محمود سره يوځای شوي شاه زمان دژمي له واورونه کندهارته ملي نه شي. دايران پادشاه وعده کړې چه ترهغې به پرخراسان حملې کوي څو شاه زمان به مصروف وساتل شي او پرهندوستان دحملې فرصت پيدا نه کړي. ددراني مشرانو نفاق او اختلاف يو ښه وخت مساعد کړی چه ايران افغاني خراسان ونيسي.

دملي تاريخ لوستونکي اوس پوهيدای شي چه په ملي گټونه پوهيدل څومره خطرلري اوموږ يې څنگه تباه کړي يو؟

مخکښې تردغو حوادثو شهزاده همايون هم دمرکزي دولت دمخالفت اوياغې کيدو په وجه ړوند شوی ؤ که څه هم پوه نصيرخان بلوڅ دده شفاعت وکړ او شاه زمان وباښه مگر دی بيا هم په بغاوت سرشو.

په کال (١٧٩٦ع) کښې دډهلي سفيرسيد محمود دشاه زمان حضورته راغی او شاه زمان دډهلي دپادشاه يولړ اجراآت وکتل او په دې ترڅ کښې ئې دهند دوليعهد تصديق هم وکړ. دغه وخت دسردار پاينده خان زوي فتح خان ايران ته وتښتيد او ياغي محمود سره يوځای شوی ؤ. سردار پاينده خان دميا غلام محمد هندي په دسيسه کښې اعدام شوی ؤ.

پوهاند حبيبي داعليحضرت شاه زمان ددولت رجال يادلوي افغانستان تشکيلات داسې معرفي کوي. کال (١٧٩٩م) له دې کبله چه په ملي تاريخ کښې د افغان دبرم

روستي كلونه دي. اوس چه دغه اتر ليكم يوسل يو نوي كاله ترې تيريږي.

## ددولت مشر اعليحضرت شاه زمان

۱- صدراعظم رحمت الله خان ملقب په وفادار خان چه ماددغه سړي كړوسي سردار عارف په پېښور كښې وليد. (۱۹۸۰ع) سدوزى.

۲- وزير شير محمدخان مختار الدوله ددرانو سردار.

۳- نورمحمد خان بابر امين الملک دمالياتو (وزير) مهتمم.

٤- ميرزا علي رضا مستوفي ديوان اعلى.

٥- ميـر هوتک خـان پوپلزى دامنيت داروغـه اوهـركـاره باشي. يعنـې د استخباراتو مشر.

٦- التفات خان او يوسف خان خواجه سرا (د دربار) مشران.

## ولايات:

۱- كشمير - عبدالله خان پوپلزى.

۲- ملتان - مظفرخان سدوزى

۳- ديره جات - عبدالرحيم هوتک

٤- سند - ميرفتح علي تالپور

٥- قلات بلوستان - نصيرخان بلوخ او بيايې زوي محمودخان بلوخ.

٦- پېښور: زردادخان پوپلزى.

۷- كابل: عبدالله جان جان نثار خان.

۸- لهيه - محمد خان سدوزى.

۹- هرات شهزاده قيصر.

۱۰- كندهار شهزاده حيدر.

۱۱- شمالي ولايات محلي ميران.

۱۲- جيلم احمد خان باركزى.

۱۳- قصور - نواب جمال خان
۱٤- کالاباغ - ملک عظیم خان
۱۵- خبوشان (ایران) - امیرگونه خان.
۱٦- اسفراین (ایران) - ابراهیم خان .
۱۷- نیشاپور(ایران) - عباسقلي خان بیات
۱۸- اسفزار ( ایران) - ابراهیم خان کرد.
۱۹- دکابل مستوفي - جلال خان پوپلزی .
۲۰- مشهد - دنادر لمسیان .
۲۱- لاهور - رنجیت سنگهـ

داعلیحضرت شاه زمان ټول عسکر سل زره سپاره او نور پیاده بلل کیدل. لوي افغانستان د اسیالوي طاقت دانګلیس، ایران او شهزادګانو او سردارانو دشومو هدفونو ښکار کیږي . چه تفصیل به یې بیان‌شي او ملي تاریخ دوئ دملي خائنانو په حیث پیژني. نه وزیر فتح خان وزیر با تدبیر ؤ، نه‌دوست محمد خان امیر کبیر. نه عبدالرحمان خان سیاست پوه ؤ. ټول یو شمیر هرزه برزه او بې کفایته مخلوقات وو. ملي تاریخ به هر هغه څوک محکوم کړي چه له خارجي هیوادونه د سیاسي قدرت داخستلو دپاره مرسته وغواړي.

په ښوونځي کښې موږ ته ملي تاریخ را په ګوته نه شو. ملي الاب مینځ ته رانه غی.نو له بده مرغه وروسته تردې د ملي تاریخ هغه اړخونه ګورو چه لوي افغانستان ورانیږي . اعلیحضرت شاه زمان چه د شرق ناپلیون ؤ، دخپل ورور محمود او نورو افغاني عناصرو په لاس چه په سرکښۍ یې وزیر فتح خان ؤ . هغه‌چه موږ ته دښوونځي په تاریخونو کښې‌وزیر با تدبیر را پیژندل شوی ؤ.

شاه زمان خپل سفیر دایران پادشاه ته واستاوه ؛ چه‌دمحمود او نورو شهزادګانو له حمایې نه لاس واخلي او د ایران پادشاه هم ومنله. ځکه وزیر رحمت‌الله خان

(وفادار خان) ويلي چه دافغانستان لښکر لـه هرډول پيښې سره مقابلې ته چمتودی. اعليحضرت شاه زمان له هراته بيرته کندهار او کابل ته راغی. په کابل کښې خبر را ورسيد چه مـحمود اوتښتـيدلي دراني سرداران دايران پـه مرستـه پرته له د ې چه خراسان او هرات تهلاړشي دترشيز لهلارې فراه ته راغلي او نيغ کندهارته نژدې شوي او د کندهار سرلښکر مهر علي خان د هغوئ مقابلې ته ووت اودومره وجنگيد چه شل ورځې بې خاينهاردو ودروله. مگر دننه پهښار کښې چمکار خلک پيدا شول. مهر علي خان مخکښې ترډې چه کندهار پرېږدي ؛ پهلنډه موده کښې يې دوه خائنان حسن خان او امام بخش اعدام کړل.

شاه زمان د کندهار خواته روان شو. مگر دانگليسانو او ايرانيانو جاسوسانو بد تبليغات شروع کړي وو. له بلې خوا دمحمود لښکر زيات اويوموټی ؤ. ځکه دپاينده خان لهوژلو وروسته دراني سرداران دمحمود ملگري وو. مگر دغه سرداران په ملي سطح د خپلو اعمالو په نتيجه نه پوهيدل چه څومره خطرناک کارکوي.

نو شاه زمان بيرته کابل ته راغی؛ څو پېښورته راشي او يوښه لښکر برابر کړي. ځکه دمـحمود لښکر پهحقيـقت کښې دانگليس ايران او ناپوهو دراني سردارانو لښکردی، نو شاه زمان چه يوهوښيار اومدبر سړی ؤ؛ لهډيرولږ کسانو سره د پېښور په لوري وخوځيد. کله چه شينوارو ته ورسيد دملاعاشق په کلا کښې چه يوه کلکه کلا وه؛ ددمې جوړولو دپاره پاتې شو. شاه زمان وليدل چهدخاين عاشق په کلا کښې بندي دی او دکلا شا اوخوا ټوپک والا خلک ولاړدي.

محمود کابل ته ورسيد او دشاه زمان له أيساريدو خبر شو. له کابل نه محمود خلک وليږل او اعليحضـرت شـاه زمـان ئې ونـيوه او دده سـترگې يې ړندې کـړې. لوي افغانسـتـان کښې تياره شوه. دشاه دسترگو له رڼا سره يوځای دلوي افغانستان برم لاړ. دکابل فتح دمحمود اودرانـي سردارانو له خوادنيشاپور، مشهد، اسفزار اونورو سيمو په بيه تمامه شوه. چهدايران لاس ته ورغلې. داؤ لومړی خيانت چه د احمد شاد

بابا له روح او اخلاقو سره وشو. وروسته له دغه تاريخ څخه لوي افغانستان مخ په ځوړروان شو. بربادي شروع شوه.

دافغانستان په ملي تاريخ کښې د ملاعاشق ناځواني او خيانت يوډير نامطلوب حساس تاريخ دی. عاشق بدنوم پرېښود او دداسې اتل سره يې خيانت وکړ چه هندوستان، ايران او روسيه دده له نامه سره ښوريدله. عاشق سره زمانې وفاونه کړه دی هم کابل کښې محاکمه او اعدام شو. مګر کومه ضربه چه ده لوي افغانستان ته ورسوله، دايران او انګليس لښکرونه شوه رسولای. ياده تاريخي بدنامي واخيستنه اوخپله هم دخلکو ترمخه ديوه خاين په نامه اعدام شو.

دپښتونوالې او ځوانمردۍ له مخې له خپل ميلمه سره څوک داسې نه کوي. دا په ملي سطح ملي خيانت دی. په ملي تاريخ کښې ملي اتلوالي او ملي خيانت بايد دواړه په ګوته شي.

داعليحضرت شاه زمان برخې تر احمدشاه بابا ډير اهميت درلود. ځکه احمد شاه داسې وخت کښې اتلوالي کوله چه ايران کښې قوي دولت نه ؤ. روسان ليرې وو. او دمينځنی آسيا دولتونه په مينځ کښې پراته وو. مګر دشاه زمان په وخت کښې انګريزانو دهند پرسياست بری موندلی ؤ. د ايران مرکزي دولت دقاجار کورنۍ جوړ کړي او روسان هم د مرکز په لورخوځيدلي وو. ناپليون هم له روسانو سره او هم له ايرانيانو سره غوښتل چه هند ته لاره خلاصه کړي. بل قوي عامل د سکهانو وحدت او قوت ؤ چه ددوئ عسکر دانګريزانو له پلوه منظم شوي وو. انګريزانو رنجيت سنګه دسکهانو مشر ته د شيرپنجاب لقب ورکړ او هغوئ ئې د افغاني سيمو نيولوته و لمسول. دانګريزانو سياست داؤ چه دافغانانو قوت کم شي. نرسکهان ژر له صحنې ايستلی شي.

ټول مؤرخين او خپله انګريزان اعتراف کوي چه شاه زمان په يوازې ځان بې له خارجي مرستې په هندوستان کښې د انګريزانو مقابلې ته وردانګلی شي.

مگردغه‌ستر ملي قوت زمونږ پخپل لاس کمزوری شو. یا محمود د شاه زمان وروږ یا وزیر فتح خان دپاینده خان زوي یاملا عاشق اونور بارکزي او دراني سرداران اومحمدزي دغه ټول ملي تاريخ ته محکوم دي.

افغانان هرکله چه‌دبیارغاوني فکرکوي نو خپل دوستان او دښمنان دې وپیژني او ملي خصلت دې خپل کړي. (۱۸۰۱م) د لوي افغانستان د نړیدلو کال دی. اوس به په خواشینۍ سره دغه حالات هم وګورو.

شاه محمود سدوزی بې کفایته دخراسان دولایت‌له‌لاسه ورکولو سره کابل کښې پادشاه شو.

سم‌چه شاه محمود دوزیرفتح خان او نورو سردارانو په‌مرسته اوبهرکښې د ایران او انګلیس په‌خوښه پادشاه شو او شاه زمان پــه ټپوسترګوبندي شو؛ عبدالرحیم خان غلځی را پاڅید او غزنی یې ونیو. له بلې خوا شاه شجاع د شاه زمان وروږ په پېښور کښې لښکر جوړکړ او خلک ورسره شول. دلته ددې خبرې یادونه ضروري ده چه‌شاه شجاع په‌ژوند کښې دوه مرحلې لري. یوه مرحله‌یې ښه‌ده او دوهمه مرحله‌یې ډیره بده ده. د اچه ولې دی دومره بې همته شو؛ دهغه وجه هم شخصي کینه اوزړه بدوالی دی؛ چه‌دنورو سردارانو په مقابل کښې چه ملي مسائل یې په ذهن کښې لاندې کړي‌وو. کله چه عبدالرحیم خان غلځی بیا را پاڅید. وزیرفتح خان دعبدالرحیم غلځي ملي احساسات قبیلوي وښودل‌او دراني قبایل یې ترې بیل کړل.

ایرانیانو مشهد او نیشاپور ونیول او افغاني حکمرانان یې اعدام کړل. وزیر فتح خان دشاه دوست لقب وګاټه. شاه محمود سدوزی دبالاحصار په‌ارګ کښې په‌عیش لګیاؤ. جنرال احمدخان نورزایي چه یواتل سرلښکرؤ. نواب میر او لوي روحاني میرواعظ دشاه محمود سدوزي مخالف‌شول. دلته مجبور یو چه‌له شاه محمود سره سدوزی ولیکو چه عادي ذهن یې کله له شاه محمود هوتک سره یوشانې ونه بولې.

دکابل، کوهستان لوګر او قلات او غزني غلځیو په ګډه شاه‌شجاع ته‌بلنه‌ورکړه

چه کابل ته‌راشي. دغـه وخت وزیر فتح خان پېښور کښېږ. په نيـتجه کښې شاه محمود سدوزی یا یاغي محمود خلع شو او شاه شجاع وروسته له‌دريو کلو دمحمود له پادشاهۍ څخه پادشاه شو. مگر دلوي افغانستان دخراسان ولایت نیشاپور اومشهد له‌لاسه ووتل.

وزیر فتح خان چه‌حالات داسې وليدل؛ له پېښوره کندهار ته لاړ او له کامران دمحمود له زوي سره يو ځای شو، کله‌چه‌شاه شجاع پادشاه شو؛ سمدلاسه يې جنرال احمد خان نورزایي کندهار ته واستاوه. وزیر فتح اوکامران وتښتیدل. ملاعاشق يې کابل ته راوغوښت. دکوه نورالماس چه دده په‌کلا کښې شاه زمان‌ایښې‌ؤ؛ هغه‌يې ځنې واخست او عاشق يې مړکړ. وزیر فتح خان له شاه شجاع څخه عفو وغوښته او وبخښل شو. کابل ته راغی. مگر کله‌چه شاه شجاع پېښورته لاړ؛ فتح خان کندهارته وتښتید اوشهزاده قیصر چه‌دکندهاروالي ؤ ؛ هغه يې وپاراوه چه ځان پادشاه اعلان کړي او هغه‌داسې وکړل کله‌چه شاه شجاع کندهارته متوجه شو فتح خان بیا وتښتید او قیصر ته تسلیم شو او بیرته دکندهاروالي مقرر شو.

دشاه شجاع اوله‌دوره پادشاهي تريوې اندازې پورې ښه تیریږي. مگردشاه شجاع دوهمه دوره او هغه‌ترون چه‌دده ؛ رنجیت سنگهـ او انگلیسانو ترمنځ چه دلاهور ددرې اړخيز ترون په نامه یادیږي؛ د ملي تاریخ يوه ډیره بدمرغه مرحله ده ، چه‌هغه به هم‌وگورو چه‌دانگلیسانو دپاره څومره کامیابي او دافغانانو دپاره څومره ستره ناکامي ده او وروستني ترونونه دافغانستان بدمرغي بشپړوي.

مطلب داچـه افغـانان ښائي په دقت سره دغـه‌مطالب وگوري اوخپل‌مړاتلونکې لاره وپیژني .

په( ۱۸۳۸م) کال کښې شاه شجاع په لاهور کښېږ اوکابل کښې هماغه یاغي محمود یا شاه محمود سدوزی دوزیر فتح په‌مرسته ددوهم‌ځل دپاره پرتخت ناست ؤ.

شاه شجاع ددې دپاره چه محمود له پښو وغورځي او پخپله پادشاه شي نودلاهور

په ترون کښې يې ، کشمير ، اټک ، چچ هزاره کېمبل پور ، پېښور هشنغر، کوهاټ، هنگو، ملتان، ډيره غازي خان، ډيره اسمعيل خان د تل دپاره پريښودل او دسند په باب هره فيصله چه رنجيت سنگهه اودهغه وکيلان يې وکړي؛ شاه شجاع به هغه ومني.

دلاهور په ترون کښې شجاع ته شاه ويل شوی؛ بيا وروسته تر هغه ټول پادشاهان دجناب، والي کابل ياامير په نامه يادشوي اودلوي افغانستان د پوره د له مينځه وړلو د پاره يې کار شروع کړی او دغه حکم له لندن نه راغی چه افغانستان ددنيا له نقشي وايستلی شي . مگر دافغانستان خلکو دغه مقاومت کړی چه افغانستان دنړی په نقشه کښې پاتې شي.

# افغانستان او د هغه تاريخي ژوند

ښه به داوه چه په دغه عنوان کښې مو افغانستان او دهغه تاريخي فلسفه ويلې واى؛ نه تاريخي ژوند. د ملي تاريخ په څير نه کښې، د غور له ملي غورځنگ څخه وروسته د پښتنو نقش په څرگند ډول دتاريخ ډگرته راځي. يا دغرونو پادشاهان سمې ته راکوزيږي.

مقصود داچه وروسته له هغه پښتون دافغانستان په تاريخ کښې مهم نقش يامهمه برخه لري. يعني وروسته له (۱۱۵۲م) پښتانه غزنوي امپراتورۍ ترلاسه کوي او هند ته ځي. هلته اووه پيړۍ پاتې کيږي او ترپايه پورې خپل اقتدار دپادشاهانو او نوابانو په شکل ساتي. بيا پښتانه دپير روښان اوخوشحال خان په مشرۍ له مغلو سره پرله پسې جگړې کوي. د ميرويس بابا په‌مشرۍ صفوي دولت ددوئ په‌لاس ړانيږي او احمدشاه بابا ډهلى ته رسيږي. دلوى افغانستان په ورانولو کښې هم ددوئ برخه ليدل کيږي او ملي مبارزو کښې دانگليس په‌مقابل کښې او هم دروسانو په‌راتگ او ايستلو کښې. مگر په وروستيو کلو او اتلسمه پيړۍ کښې د افغانستان بيلابيل قومونه په‌ملي مبارزوکښې پوره ونډه لري. په‌هندوستان کښې پښتنو خپله ژبه او کلتور له‌لاسه ورکړى او هند هڅه کوي‌چه دپښتنو خاطرې ورو، ورو هيرې کړي. هند پوهيږي چه مغل اوس په يوه فاصله کښې پراته‌دي. نو دمغلو خاطرې يادوي. پاکستان هم‌غواړي چه پښتانه دانگريزانو دسياست په دوام ددنيا له نقشې محوه کړي او د اسلام تر نامه لاندې يې له خپلوتولو کلتوري او تاريخي مسايلو څخه خلاص کړي. ايران او حتى روسيه هم دغه‌مخکښ قوم اوپياوړى افغانستان نه غواړي. لوى افغانستان دلوي افغان قوم له‌خوا، په اتفاق او قربانۍ جوړ شوى.

بياهم قوم تباهي ليدلې چه دتاريخ له لوستلو سره بايد دغه حقايق وپيژندل شي او راتلونکې لاره څرګنده شي.

مؤرخ غبار وائي: انګريزانو غوښتل دافغانستان خلکو ته د وياړ هيڅ ټکی پاتې نه شي. مقدسات ونه لري. انګريزانو او ايرانيانو دافغان د سپکاوي د پاره يو ډول تبليغات کړي چه افغانان مشوش شي او ملي غروربې ووژل شي. غبار ددغو تبليغاتو مثالونه ورکړي دي.

د افغان دملي تاريخ په ليکلو کښې مؤرخين د پيښو په شرح کښې وړو خبرو پسې هم تللي ؛ مثلاً وروسته د اعليحضرت شاه زمان له خلع کيدلو دافغان انګليس ترجګړې پورې دکابل دتخت نيولو دپاره محمدزايي اوسدوزي سردارانو دومره هڅې کړې او دومره ښکته پورته شوي اودلوي افغانستان خاورې يې له لاسه ورکړي چه تفصيل يې لوستونکي له سترِيا سره مخامخوي. د مثال په توګه شاه محمود سدوزی دوه پلا پادشاه شوی، شاه شجاع دوه پلا. امير دوست محمد دوه پلا. امير شيرعلی خان دوه پلا. په دې ترڅ کښې ځينې نور سدوزي شهزادګان هم پادشاهان شوي. دلنډې مودې دپاره ددغه اودهغه په لاس کښې معمولي کم عمره بې تجربې خلک وو.

افغان ملت داحمد شاه بابا دستر نامه په احترام ددهٔ له کورنۍ سره وفادارۀ ، دی او وي به. مګر وزير فتح خان چه تاج بخش بلل شوی ؛ دغه تاج دومره په سرونو وګرځيد چه تاريخ يې ستړی کړ او دغه ټول د محمدزايي سردارانو د خودغرضۍ په وجه ؤ. وزير فتح خان له ډيرې چالاکۍ لومړی ړوندکړی شو. بيا دشاه محمود او دده دزوي کامران له خوا ووژل شو. لکه ملا عاشق چاچه زمان شاه سره خيانت کړی؛ فتح خان او عاشق دواړه په خپله سزا ورسيدل او تاريخي تور نوم يې وګاټه. مګر په دغه دوران کښې دافغانستان خلکو خپل جنګي صلاحيتونه ښودلي چه دملي تاريخ زد کوونکي يې بايد ولولي چه هغه عبارت دی ، دهرات دفاع ، دافغان او انګليس درې جګړې.

# د افغان او انګلیس درې جګړې

بله مهمه برخه د پښتنو هغه پرله پسې قرباني دي چه د لوی افغانستان په یوه برخه کښې یې د مغلو له زمانې څخه د پاکستان تر جوړیدو پورې ورکړې دي، او تر پایه پورې، انګریزان په دې بریالي نه شول چه دغه قوم خپل تابع کړي.

دا زمونږ د پاره ځوروونکې وې چه د شاه شجاع، امیر دوست، عبدالرحمن خان او نورو محمد زو پادشاهانو له خوا یولړ تړونونه انګریزانو سره لاسلیک شول او د دغو میلیونونو پښتنو ژوند او قسمت مو پریښود او د دوئ د غو ټولو پادشاهانو ته د وویل چه تاسو مونږ یوازې مه پریږدئ، جنګ مونږ کوو خو تاسو خپل حساب بیل مه ګڼئ.

مؤرخ غبار لیکي «چه په دغه اوږده موده یعنې سل کاله کښې د خپلې خپلواکۍ د پاره وجنګیدل. د پښتنو دغه سترې قربانۍ داسې شمیري: په دیرشو کلو کښې انګریزانو اووه دیرش یرغلونه د پښتنو په سیمو وکړل. انګریزانو اعتراف وکړ چه تر پښتنو ښه جنګیالي په نړۍ کښې نشته. په یومیل لاره کښې مونږ نه شوکولای پردوئ ورودانګو او د پښتنو دغه غزاګانې دانګلیس دامپراتورۍ حیثیت تل له خاورو سره برابرکړی.

هو! د افغانستان ضعیف او ټیټ خصلتو پادشاهانو هیڅکله د دوئ دوینو په قیمت ځان خبر نه کړ. له بلې خوا پاکستان د اسلام تر نقاب لاندې هماغه دانګریزانو سیاست عملي کړ. نو د نړۍ یو ستر طاقت د اسلام او افغاني ورونو زمامدارانو له پلوه وټکول شو. امیرعبدالرحمن خان ته ملاپیونده له قرآن او پښتني بیبیانو سره راغی او ورته وئې ویل چه که مسلمان یې قرآن ومنه او که پښتون یې د ښځی پلو ومنه. خو عبدالرحمن نه مسلمان نه افغان؛ بلکه د خپل هوس او انګریزانو نوکرؤ.

نودافغانستان دسیاسي تاريخي فلسفې درک او پوهيدل گران شوي، يوې خواته افغاني سيمي او پښتانه د پاکستان په سياسي مؤسسه کښې او بلې خواته افغانستان که دمحمدزو له بې خاصيته پادشاهانو څخه خلاص شو . نو د روس د نوکرانو او خپله روسي تاريخي غلطۍ په‌لومه‌کښې خراب تراب اوبرباد شو. دريم سياسي مشکل دغير پښتنو افغانانو احساسات دي . چه‌يولړ خاين روڼ فکره يې لمسوي. نو درې عمده عوامل چه داخلي بلل کيږي له خارجي عواملو سره چه‌يوځای شي دافغانستان دپاره گران شي چه‌عبارت دی، داسلام‌نقاب ضعيف اوبې خاصيته اوخود غرضه محمد زائيان .دافغاني نورو ورڼو احساسات چه په‌غلطه استعمال شي؛ اوخارجي سياسي غرضونه.

حال داچه له‌پاکستان نه‌ځان ساتل يوه طريقه غواړي . له‌ايران‌نه‌ځان ساتل بله طريقه ايجابوي. له روس او چين نه‌بله‌لاره غواړي. امريکه ځکه نه‌يادوو چه دپاکستان سياسي مؤسسه پخپله په اوسني وخت کښې دامريکې يوه پايگاه يا اډه ده . نو افغان بايد دغه‌گرانه سياسي‌فلسفه زده کړي.

ميرويس بابا او احمدشاه بابا په دغو احوالو په پوره ډول پوهيدل چه دوئ د شخصي تقوی او صلابت له‌کبله دلوي افغانستان په جوړولو بريالي شول . دوئ د لوي افغانستان خلک يوه کړل او خلک له‌دوئ سره ودريدل.

محمدزايي پادشاهانو پرتاريخ او خلکو تکيه ونه‌کړه. دوئ پرانگريزانو تکيه درلوده.همدا چه انگريزان له هندوستان څخه ووتل؛ دوئ هم ورک شول . مگر افغانستان په وينو کښې ودريد.

# حربي اتلوالي او د هرات دفاع

لکه‌چه مخکښې مواشاره وکړه داعليحضرت شاه زمان دسترگو له تياره کيدو سره پر لوي افغانستان تياره راغله. د حريصو سردارانو تگ او راتگ د کابل پرتخت کښيناستل او کښته کيدل او د سدوزو کمزوري پادشاهان چه‌دسردارانو په‌لاس کښې وو؛ دانگريزانو نوکري په‌خارج کښې، بيلتون اوظلم په‌داخل کښې، دا دمحمدزايي سردارانو لنډه پيژندگلو ده.

مگر دافغان‌ملت حربي اتلوالي تل دنړی په تاريخ کښې دحيرانتيا سبب گرځيدلی له هغه جملې نه‌دايران دپادشاه فتحعلي شاه يرغل دهرات پرښارباندې دی .دايران پادشاه ، شهزادگان اوټول لښکر هرات ته راغلی وو. چه دغه افغاني ښارونيسي وروسته دنيشاپور اومشهد له نيولو دابل گام ؤ چه‌دايران گوډاگي پادشاه فتحعلي شاه قاجار غوښتل پورته يې کړي مگر هراتي افغانانو په يوازې د ايران‌دولت ته‌ماتې ورکوي چه اوس به‌يې تفصيل وگورو

ايرانيانو دسر او مال په‌ورکولو هيڅ ترلاسه نه‌کړل او داسې ماته‌يې وکړه چه‌دايران په تاريخ کښې وروسته داصفهان ترسقوط داعليحضرت شاه محمود افغان په‌لاس دا دايرانيانو دپاره يو بل تاريخي سبق ؤ.

غبار ليکي چــه‌دهــرات دفاع د منځنۍ آسيا په تاريخ کښې يو بې‌مثاله حربي نبوغ دی.

سراج التواريخ ترټولو دغـه جنگ چه‌د ايران ټول عسکري او ايلا جاری پوځ راغونډ شوی ؤ؛ پادشاه شهزادگان فرانسوي او روسي جنرالان هم ورسره وو. په تفصيل ليکلي دهغه وجه دا وه چه لا داسې خلک موجود ؤ چه‌دغه صحنې يې په سترگو ليدلې وې يايې له‌خپلو مشرانو اوريدلي وې.

میرمحمدصدیق فرهنگ په افغانستان درپنځ قرن اخیر کښې د وزیر یارمحمدخان په باب ځینې منفي خبرې لیکلې چه دغبار او سراج التواریخ، د پښتنو تاریخ او نورو کښې نه دي لیدل شوې. ښکاري چه ده په دې برخه کښې یوازې ایراني تاریخونه کتلي دي. وزیریارمحمدخان دهرات د مدافعینو په سرکښې ؤ او وروسته له نژدې یوه کال جنګ او کلابندی نه دهرات وضع بېډېره خرابه وه. مګر دغه حالات دیارمحمدخان په شخصیت کوم تأثیر نه شي درلودای.

داچه ولې دشاه زمان له دورې نه دهرات دفاع ته راغلو؟ وجه داده چه نورې پېښې دملي تاریخ او دملي رغاونې دپاره کومه ګټه نه لري. لنډه داچه سردارانو په خپلو کښې جنګونه کړي، خارجي دښمنانوته یې موقع په لاس ورکړې چه دهیواد پراخې سیمې ترلاسه کړي.

دهرات دفاع سربېره پردې په مېړانه د افغانستان دیوه مهم ولایت دفاع شوې ده. ځینې نور ملي خصوصیات هم لري. له هغه جملې نه دملي وحدت او رغاونې ښې انګازې لري. د مثال په توګه پښتانه، تاجک، ازبک، شیعه اوسني دغوټولو په شریکه دایران ددولت دمکملې قوې مقابله کړې او دافغان واقعیت یې ثرګند کړی دی.

تاریخ: په (۱۸۳۸م) محمدشاه قاجار د ایران پادشاه شخصاً دافغان له سرحد تیرشو چه افغانستان مرکزی دولت نه لري. محمدزایي سردارانو لوی افغانستان په خپلو کښې لکه شخصي ملکیت ویشلی د کندهار سرداران، دکابل سرداران دپېښور سرداران او نور هرات کښې سدوزايي شهزاده کامران په نامه ناست دی او یارمحمد خان وزیر دچارو واګې په لاس کښې لري او دوزیر فتح خان دوژولو په وجه د فتح خان ورونه یعني همدغه سرداران له ده سره همدردي نه بلکه دښمني لري. دکندهار سردارانو دایران پادشاه ته داډ ورکړی ؤ چه دوئ به دایران سره دهرات په نیولو کښې مخالفت ونه کړي. اوس که دملي تاریخ لوستونکي دا ډول خبرې ولولي

ملي غروريې ضعيفه كيږي، دهرات شا اوخوا ديرش ميله دايرانيانو له خوا وران شو. روسي او فرانسوي توپچيانو دهرات ښار تر اور لاندې ونيو. مخكښې ئې ويلي ؤ چه دايران په لښكرو كښې، روسي او فرانسوي جنرالان موجود وو. روسانو دايران شمال لويديځ برخې نيولې وې او دهغه په بدل كښې يې ايران سره مرسته كوله. چه هرات ونيسي او فرانسې دناپليون د پلان په اساس غوښتل چه دهند په لوري لاره خلاصه كړي. د ايران قاجاري پادشاهان كله روس كله انگليس اوكله فرانسې سره يوځاى كيدل. ياتپولو په ايران كښې ځانته خلك اوتنخواه خواره درلودل. د صدراعظم، شهزادگانو او پادشاه په سويه. نو دغه يرغل يو متحده يرغل ؤ. محاصرې نهه مياشتې دوام وكړ. په هرات كښې په طبيعي صورت قحطي راغله. مگر دميمنې له لوري ازبكو ارتزاقي مواد رسول. د جنگ اسيران خرڅيدل چه ځينو ايرانيانو يارمحمد خان (آدم فروش) بللى. يوه افغاني اسير په محمد شاه قاجار باندې حمله وكړه چه دنورو افغاني اسيرانو دوژلو سبب شو. وزير يارمحمد خان ماشومانو ښځو او بوډاگانوته اجازه وركړه چه له هرات څخه ووزي او محمد شاه خراسان ته وليږل.

شيرمحمد خان افغان په يوه حمله كښې شپږ سوه آسونه چه دايران لښكروته يې آذوقه رسوله؛ له منځه يوړل. مؤيدالدوله ايراني مشر اودده كسان يې له مينځه ايسته كړل. ازبك اوهزاره افغانان پرآصف الدوله ايراني حمله وكړه. ايرانيان يې سخت تاواني كړل. شير محمد خان هزاره، زمان خان جمشيدى، شاه پسند خان فيروز كوهي او خليفه عبدالرحمان تركمان دولس سوه داوطلب جنگيالي برابركړل او زر تنه كندهاري داوطلب په خپله راغلل؛ چه ټول ووژل شول. ځوانمردانو له كرخ اونورو علاقونه په زرورتيا غله هرات او پوځ ته رسوله. د ايران پوځ شپږ ديرش زره كسه وو. په داسې حال كښې چه د هرات پوځ پنځه زره تنه وو. انگليسانو روسانو اوفرانسويانو دهرات دغې دفاع او مقاومت ته په حيرانتيا كتل.

محمد شاه دايران پادشاه چه دايران له ټول طاقت سره يوازې دهرات دنيولو دپاره چه دلوي افغانستان يو ولايتي ښاردی خپل حيثيت په خطر کښې وليد. نو په تمام طاقت يې داسې ترتيبات ونيول.

دلته بايد ووايو د هرات ښار بيل برجونه او دروازې درلودې چه هرې يوې يې ځانته نومونه درلودل. دايران له خوا محمد خان د تومان امير دکندهار دروازې ته مامورشو. محمد والي سالار دغرب دروازې ته. امير بهادرجنگ دخاکستر برج ته، صمصام الدوله دعراق دروازې ته سيمنوف روسي او پروسکي پولينډی دنقب وهلو او استحکام مأموران شول. د خشک دروازې مخامخ توپونه ودرول شول.

محمد شاه دعمومي حملې امروکړ او په يوه ورځ څلوېښت زره دتوپ گولی پرهرات وغورځول شوې. ملا عبدالحق دجهاد اعلان وکړ. خلکو کفنونه واغوستل نوکان يې ونيول غسلونه يې وکړل او دروازې يې پرانستلې. پر ايرانيانو ورغلل. ملي بيرغونه يې ورپول. هو! افغانان ورغلل چه ورځ تمامه شوه محمدولي ايرانی سپه سالار پروسکي پولينډی، سالار سرخوش خان افشار، شيرخان سرهنگ، نبي خان قره گوزلو، خانلرخان، اسمعيل خان سرهنگ، محمد ولي خان سرهنگ، مهدي قلي خان سرهنگ، باقرخان دسپرو مشر له زروتنو نورو سره ووژل شول. امير بهادر جنگ، سکندرخان قاجار، محب علي خان سالار، محمد علی خان سالار، محمد خان سردار، له خپلو سپاهيانو سره وتښتيدل. جعفرخان قره چورلو، عبدالله خان ياور، رشيد خان سرهنگ، عبدالحسين بيگ ياور، علي مردان خان سرهنگ زخميان وو. دايران جبه خانه وسوځول شوه. دادی چه سپروافغانانو د ايران ملاماته کړه اوداسې ماته يې ورکړه چه په شرمويې وشرمول. وروسته له نهومياشتويې دغه نتيجه ترلاسه کړه.

سراج التواريخ ليکي چه درې وارې د ايران بيرغ دهرات پر يوه برج ورپول شو؛ خو يوافغان به وروخوت لښکري بيرغچي او بيرغ به يې کښته را وغورځول. د هرات د آزادی اعلان به يې وکړ او ملي بيرغ به يې ورپاوه.

دهرات دفاع د مينځنۍ آسيا په‌حربي تاريخ کښې ديوې‌اتلوالۍ په حيث تلپاتې شوه. د ايران پادشاه په‌منډه بيرته‌تهران ته ستون شو. په داسې حال کښې چه ايراني رجال او عمده خلک يې وژل شوي وو.

پورتنۍ پيښې انګليسي، افغاني، ايراني او روسي مؤرخينو په‌زياتو تفصيلاتو ليکلې چه‌پخپله يوځانګړی کتاب ترې جوړيږي.

ترهغه‌ځايه‌چه خبره په ملت پورې اړه لري. افغان ملت خپل‌نقش په سمه‌توګه سرته رسولی او چه‌دپادشاهانو او سردارانو ارادو اونيتونو ته وکتل شي؛ بيانو شرمناکې خبرې ډيرې ليدل کيږي. له‌دې بابته ددوئ له تفصيلي احوال تيريږو. يوازې هغه سيمې چه دلوي افغانستان څخه بيلې شوې، له خپلو سنويانيتهو سره راخلو. ځکه دملي تاريخ وير دلوي افغانستان په‌رنګيدو کښې دی. بيا به هم دملت مبارزې وګورو. او دافغان انګليس درې جګړې؛ وروسته به د روسانو راتلو او بيا و..لو ته راشو.

د شاه شجاع لومړی دور پادشاهۍ کښې سرداري او خاني دومره پرمخ تللې وه چه‌په خارج کښې دسکهانو دولت‌جوړيدل . اود انګريزانو خوريدل په هندوستان کښې او په ايران کښې دمرکزي دولت جوړيدل دروسانو پرمخ تګ دمرکزي آسيا په لور دفرانسې هلې، ځلې داټول هغه عوامل ؤ چه شاه شجاع غوندې يوه مړي دهغه‌مقابله نه‌شوه کولای.

دملي‌شعور کمزوري تل زمونږ ملامت کړې. په‌داسې حال‌کښې چه خارجي غليمان چارچاپير د افغانستان په لوري دحرکت‌په‌حال کښې وو. سرداران او خانان په‌شخصي دښمنيو لګيا وو. اصلي ملي‌مفکوره ورکه وه.عمومي ملي‌ګټې چا په زړه کښې نه‌ساتلې او تر اوسه هم‌دغه ماده له‌مونږ نه ورکه ده. مونږ په خوله‌دغه‌خبره کوو چه‌دملي ګټو په خاطر له‌شخصي ګټو تيريو. خو په عمل کښې هغه نه شو ترسره کولای.

# لوي افغانستان

يو تاريخپوه وگانكوفسكي د دراني امپراتورۍ كتاب په‌لومړي مخ كښې ليكي: دغې عظيمې امپراتورۍ څه‌دپاسه دوه ميليونه كيلومتره مربع مساحت درلود چه دغه‌اندازه دكارل ( كيسر ) دامپراتورۍ په نسبت تقريباً دوه چنده زياته وه. په كال (١٧٦١م) كښې چه‌دراني احمد شاه (بابا ) دقدرت په‌اوج كښې ؤ؛ دلوي افغانستان مساحت دبل هر وخت نه‌وسيع ؤ.

په داسې حال كښې چه اوس اته‌سوه زره كيلو مترمربع پراخوالى لري. يعنې وروسته دكال ( ١٧٦١م) نه مونږ دملي شعور دنه درلودلو په‌وجه يو ميليون دوه سوه كيلومتر مربع ځمكه له‌لاسه وركړې ده. ( ناخلفه مه شه لوي دچاپه‌در ) ديو وگانكوفسكي په‌عقيده احمدشاه بابا كندهار ، غزنى، كابل، پښور ، هرات په‌لومړي سركښې خپلواک او متحد كړل چه‌دامپراتورۍ اساسي هسته وه . يعنې دلوي افغانستان جوړيدل او دافغانانو متحد كيدل په كال ( ١٧٦١ع) كښې بشپړ شول. ليكونكى وايي: احمد شاه دخراسان مهم ولايت او دغه توابع په امپراتورۍ كښې شامل كړل. بيا وروسته يې دهرات په‌ولايت پورې مربوط كړل. احمد شاه بابا ( ١٧٥٤ع) دسيستان ولايت هم متحد كړ او په امپراتورۍ كښې شامل شو. سند او بلوچستان هم آزاد او په‌لوي افغانستان كښې شامل شول . بهاول خان دسند حكمران چه پوره نوم يې محمد مبارک بهاول خان ؤ؛ كندهارته په‌امپراتورۍ كښې د شامليدو د پاره راغى. نصيرخان بلوڅ داحمد شاه بابا دملگري او مرستيال په‌حيث امپراتورۍ ته ښه خدمتونه‌وكړل.

ډير مؤرخين لوي افغانستان يو فيډرالي دولت بولي . چه اوسني فيډرالي دولتونه

ACKU

په همغه اساس جوړ شوي. احمد شاه بابا که څه هم پادشاه ؤ؛ مگر مطلقه پادشاه نه ؤ؛ تل يوې شورا دهيواد چارې ترسره کولې. مونټ ستيوارټ الفنستين دکابل سلطنت په کتاب کښې ليکي : ۲٤۸ مخ « پارسيان له پخوانه يوه مطلقه حکومت ته په تسليميدو روږدي دي او تل خپلو واکمنو سره علاقمن دي. خو هغه کورنۍ چه ترډيرې مودې په دوئ حاکمه وه دپښتنو له خوا نسکوره شوه ».

ددغه ليکوال په عقيده پښتانه مطلقه حکومت نه مني. ټول مشران په حکومت کښې شريکوي.

دغه يو روسي ليکوال چه په خپل شکل پنځه مرحلې شميري چه يوه يې غلامي ده وايي ؛ چه پښتنو د غلامۍ دوره نــه ده تيره کــړې اوسم دفيوډالي دورې ته داخل شوي دي.

# د لوي افغانستان نړيدل

داحمد شاه بابا سياست دلوي افغانستان په جوړولو کښې ستراهميت درلود. چه مخکښې بيان شوي دي. دلته دومره ويل کيږي چه احمد شاه بابا يو مهربان سړی ؤ اوخپل قوم سره يې ډيره مينه درلوده. ناځوانمردي يې هيڅ سره نه کوله. دکابل سلطنت ليکوال وايي: داحمد شاه تر لاس لاندې ملکونه دده د ميړانې په وخت کښې دخراسان له لويديځ نه ترسرهنده او له آمونه سمندر (بحرهند) پورې غزيدلې امپراتوري وه. که چيرې دده پلانونه تعقيب شوي وای؛ بې له کومه شکه به دغسې يو حکومت په دغې تولې لويې امپراتورۍ کښې زر او آسانه مينځ ته راغلی وای او دومره به شوي وای چه خپل استقرار يې خوندي کړی وای.

دغبارد مسير تاريخ پــه حواله لوي افغانستان په دغو کلونو کښې وران شو.

١- شاه محمود سدوزي په کال ١٨٠٣ دخراسان ولايت قاجاري ايران ته پريښود.

٢- داټک کلا (١٨١٢ ع) د سکهـ حکومت ته پريښودل شوه.

٣- دملتان ولايت (١٨١٨ع) د سکهـ حکومت ته پريښودل شو (شاه شجاع).

٤- کشمير دمحمدزائيانو په دوره کښې (١٨١٩ع) د سکهـ حکومت ته پريښودل شو. (اميردوست محمد).

٥- ديره غــــازي خــــان (١٨٢١ع) د سکهـ حکومت ته پريښــــودل شو. (اميردوست محمد).

٦- ديره اسمعيل خان (١٨٢١ ع) د سکهـ حکومت ته پريښودل شو.

٧- د پېښور ولايت (١٨٢٢ع) د سکهـ حکومت ته پريښودل شو.

٨- دسند ولايت (١٨٤٣ع) انگليسانو ته پرېښودل شو.

٩- بلوچستان ولايت (٦ - ١٨٥٤ع) انگليسانو ته پرېښودل شو..

١٠- د مرو ولايت (١٨٨٤ع) روسانو ته پرېښودل شو.

١١- کوړک ، پشين ، لنډی کوتل (١٨٧٨ع) انگليسانو ته ( دگندمک معاهده ).

١٢- په کال (١٨٩٣ع) کښې سوات، باجوړ ، چترال او نوی وزيري داورچاگي اوچمن انگليسانو ته ( اميرعبدالرحمن ).

په کال (١٨٨٥ع) دپنجده سيمه دروس لاس ته ورغله . (عبدالرحمن خان).

په کال ( ١٨٧٢ع) دسيستان لويه برخه دانگليس په پريکړه ايران ته ورسيده . (اميرشيرعلي ).

# ملي پاڅون او د انګليسانو شړل

مخکښې ترډې چه دانګليسانو مقابل کښې دملي پاڅون شرحې ته راشو؛ په لنډه توګه ترهغه مخکښې عوامل بيانوو. دافغانانو دولتي تشکيلات په اتلسمه پيړۍ اودنولسمې پيړۍ په سرکښې اودولتي عوايد تجارت او نور مسايل، په بيلو کتابو کښې راغلي دي، داچه افغانانو دولت جوړکړ، سمدلاسه دټولو مسايلو تنظيم ګران کارؤ او ورسره جګړې پيل شوې. مګر دالفنستن راپور يا کتاب او دګنډاسنګهـ په کتاب کښې په تفصيل بيان شوی. مګر ترډوارو کتابو د مير غلام محمد غبار کتاب داحمد شاه بابا په باب ښه تفصيلات لري او هغه هم داده چه دی ديوه افغان په حيث اساسي ټکي را اخلي. د مثال په توګه دلوي افغانستان د بربادۍ په برخه کښې دومره ويل کافي دي چه دلوي افغانستان خزانه داحمد شاه بابا له دورې نه دامير دوست محمد خان ترډورې پورې له اويا مليونو څخه پنځه ويشت زروته رسيدلې وه ( دراني امپراتوري) لکه چه مخکښې مو د مساحت پـه لحاظ ويلي ؤ چه دوه ميليونو مربع کيلومترونه اته سوه زروته راکوزه شوې وه.

که چيرې مونږ وکـولای شو د پورته تللو او کښته راتللو عوامل وپيژنو نو يوڅه پوهيدلي يو.

چه دغـه عـوامل په لنډه صورت داسې دي (١٨٠١م) کـال کـښـې جـان مـالکم دانګليس سفـير په تهران کښې يوتړون بشپړکړ چه که دافغانستان پادشاه ( شاه زمان) پرهند باندې حمله وکړي، دايران لښکرې به پر افغانستان حمله کوي. دغه وخت فتحعلي شاه قاجار دايران پادشاه ؤ او دهغه سرچپه که افغان پادشاه په ايران حمله وکړي. دانګريز پوځ بـه افغانستان د بريد لاندې ونيسي.

وريسې شهزاده محمود او وزير فتح خان له ايران څخه راغلل او کندهارې ونيو. شاه زمان له کابله ورغی. دلته دشاه زمان لښکرې ځکه ماتې شوې چه مشهور جنرال احمد خان نورزی چه پخوايې دلوي افغانستان دپاره ډير خدمتونه کړي وو. دغه مشهور او زړور جنرال چه معلوم نه دی ولې دشاه زمان له لښکرو واوښت او دفتح خان عسکرو سره يوځای شو چه دا پخپله يوه تاريخي غلطي وه. کله چه شاه محمود دکندهار په نيولو بريالی شو، دايران دپادشاه دمبارکۍ پيغام ورته ورسيد.

شاه محمود که څه هم کابل ونيو؛ مګر دخراسان ولايت ئې له لاسه ووت. يوازې په دې چه يوه ورور د بل ورور پادشاهي ونه منله.

کله چه شاه شجاع له شاه محمود څخه پادشاهي ونيوله نو هغه يې رک روغ زنداني کړ او بايد هغه يې له ملا عاشق سره يوځای وژلای وای. حتی شاه زمان اجازه ورنه کړه چه محمود ړوند شي. کله چه شاه محمود په بالاحصار (کابل) کښې بندي ؤ؛ شاه شجاع پېښور کښې ؤ ؛ چه شاه محمود او شهزاده عباس له بندي خانې وتښتيدل. يوه کوهدامن او بل کندهار کښې پادشاهي اعلان کړه او شاه شجاع هم لا پادشاه ؤ. يعنې په يوه وخت کښې درې پادشاهان (!)

امان التواريخ يو تاريخ دی چه تراوسه چاپ شوی نه دی دغه تاريخ عبدالمحمد مؤدب سلطان اصفهاني دچهره نما دجريدې مدير ليکلی اووه ټوکه دی او په ملي آرشيف کښې موجود دی.

چهره نما پـــه قاهره کښې پـــه فارسي او عربي خپريدله او له اعليحضرت امان الله خان سره يې ډيره مينه لرله. ماچه چهره نما کتلی په هره ګڼه کښې به يې يا دامان الله خان تصوير چاپيده. يا به دده او افغانستان په باب مطالب په کښې وو. چهره نما عقيده درلوده چه زر به افغانستان يو معظم هيواد شي او خپلې خاورې به ترلاسه کړي. د شرق د ټولو روشنفکرو د الهام منبع امان الله غازي او هغه هيواد ؤ چه امان الله خان په هغه پورې مربوط ؤ. لکه اقبال، مؤدب سلطان او نورو په

هندوستان، ایران، ترکیه، مصر او نورو هیوادو کښې افغانستان یوازنی هیواد ؤ چه دشرق دخپلواکۍ ډیوه یې بله کړې وه اودغو هیوادوته داهیله پیداوه چه دآزادۍ دکاروان سالاري؛ دوئ یعنی افغانان کوي. دامان الله خان ددورې ذکر به په خپل ځاي کښې وشي. دلته یوازې دعایشه دراني هغه توته شعر را اخلو چه په امان التواریخ کښې راغلی او دشاه محمود سدوزي څهره هم لږه په کښې څرګندیږي:

شـاه مـحـمـود کـه وصـفش بزبان نايد راست
حـيف کـز مملکت خـويش بسي بی خـبـر است
مـال دنيـا به خـران دادن ونعـمت به سگان
قـوت ارباب، خـرد جـمله زخـون جگر است

کال (۱۸۱۲م) کښې فتح خان او شاه محمود بیا ملګري او شاه شجاع سره په جګړې کښې شول. شهزاده کامران دمحمود زوي دایران دپادشاه په خواهش وزیر فتح خان ړوند کړ. په نتیجه کښې دوزیر فتح ورونه پاڅیدل. پرته له هراته چه شاه محمود او کامران ته پاتې وو. ټول افغانستان یې ونیو او پخپلو کښې یې لکه میراثي مال ترکه کړ. یعنې دمستقلو پادشاهانو په صورت یې وویشه. اوسم له دغو حالاتو سره رنجیت سنګه کشمیر ونیو او دوهم مهم ولایت له لوي افغانستان څخه بیل شو. په (۱۸۲٤م) کښې عبدالمنصور دشکارپور افغاني حاکم هم وشړل شو.

په (۱۸۲۹م) کښې شاه محمود دخپل زوي له پلوه یعنې شهزاده کامران له خوا ووژل شو. مګر لوي افغانستان ته یې لویې صدمې ورسیدې.

په دغو حالاتو کښې شاه شجاع داسې عقدې ونیوه چه دده شخصیت دهغو عقدو په وجه بدل شو او دادی چه درې اړخیزه معاهده یې له انګریزانو او سکهانو سره په کال (۱۸۳۸م) لاسلیک کړه او دلوي افغانستان لویه برخه یې سکهانو ته پریښوده او دی دانګریزانو دلاس پوځي په حیث دکابل پادشاهۍ ته ځان ددوهم ځل دپاره رسوي او امیر دوست محمد دبخارا په لوري تښتي.

دافغـانسـتـان خلکوله امیـر دوست نه غوښـتلي ؤ چه افغـاني خاورې له سکهانو ونیسي او ده هم د خلکو دغولولو دپاره داسې سکه ووهله .

امـــیــــر دوست مــحـــمـــد بعـــزم جنگ وجـــهـــاد

ســکـه زد بـرســـــــیـم وزر نـاصــــــرش حق بـاد

ده نه جنگ وکـړ او نـه جـهـاد . حـتـی یوه پلایې بریالی پوځ له جـمـرود نه بیـرتـه راوګرځاوه. داسې چه هري سنګه د سکه د قواؤ سپه سالار هم دافغانانو په لاس وژل شوی ؤ . مګر دوست محمد له انګریزانو مشوره وغوښتله. په داسې حال کښې چه وزیر اکبرخان غوښتل پېښور بیرته ونیسي . په زرهاؤ پښتنو ده ده مرسته کوله .

مګر سره له دې هم انګریزانو د شاه شجاع مرسته وکوله او دپاتې افغانستان پادشاهي یې ورته ونیوه . دا پلاشاه شجاع یوخاین او ډارن سړی ؤ. حال دا چه په لومړي ځل پادشاهۍ کښې بریالی بلل کیده .

دلتـه بـه دانګلیس دهیئت ذکر وکړو چه دشاه شجاع شخصیت څرګند شي . او وپوهیږو چه شخصي دښمني سړی له کوم ځایه کوم ځای ته رسوي.

یو بل عامل دشهزادګانو دماماګانو دی. بارکزي سرداران ځکه له محمود سره ودریدل چه دی دبارکزو خوریی او شاه زمان دیوسف زو خوریی ؤ.

احمد شاه بابا خپل مخالفین بخښل. شاه زمان هم خپل ورور شاه محمود څو واري وبخښه . حتی شاه زمان دپوهاند حبیبي په حواله اجازه ورنه کړه شاه محمود چه شاه زمان یې ړوند کړی ؤ؛ ړوند شي. لومړی ځل چه دشاه زمان دپادشاهۍ په اوله کښې شاه محمود یا دهغه وخت شهزاده محمود چه دهرات والي ؤ او یاغي شو؛ شاه زمان دی ونیو. خو د خپلې مور ( ناسکه) په عذرېې پریښود. مؤرخین وایي چه باید محمود یې مړ کړی وای. دلته قضاوت مشکل دی چه قساوت ښه دی که ترحم ؟

په اسلامي پښتني او اخلاقي لحاظ شاه زمان نه شي ملامت کیدای. مونږ دغه مرافعه پریږدو.

په (۱۸٤۰م) کال کښې د افغانستان خلکو شاه شجاع محکوم کړی او خپلې ټولې هیلې یې چه داحمدشاه بابا له لمسي څخه درلودې له خاورو سره وبللې. نو دادی چه دانګلیس دشړلو او مقـابلې دروند بارېې بې لهدې چهدولت، اوپادشـاهي موجوده وي پخپلو اوږو واخیست چهملي تاریخ کښې اهمیت لري.

مونږ مجبور یو چهدا یادونه هم وکړو دشاه زمان له وختـه دانګلیسانو جاسوسانو؛ دمیا، ملااو پیر په نامه دهندي مسلمانانو څخه ټول افغانستان کښې ګرځیدل او پخپله انګریزان هم لکهبرنس او پاټنجر دسوداګرو په جامه کښې راتلل. بیا وروسته دې نتیجې ته ورسیدل چهدسوداګرو پهنامهلږو خلکو سره اړیکې پیدا کولی شي او له عامو خلکو لیرې پاتې کیږي. نو ښه یې داوګڼله چه دخلکو له اسلامي جذباتونه په استفاده په سلهاؤ میاګان، پیران او ملایان او ملنګان را ولیږي. د غبار په قول چه وروسته له هغه ددوئ وظایف پای ته ورسیدل. انګریزانو هم کوم اهمیت ورنهکړ. لهدین اودنیا پاتې شول. ځینې یې ترې تم شول چهمړيئې هم څرګند نه شول.

ددغو جاسوسانو پهسرکښې لومړی جاسوس میا غلام محمد هندي دی چه په نتیجه کښې سردار پاینده خان او نور ددۀ پهلمسون د شاه زمان په مقابل کښې دسیسې په کار اچولو ته تیار شوي وو.

# د شاه زمان وروستی احوال

اوس تاسو يوه پلا بيا اعليحضرت شاه زمان وګورئ. بيا نو ورسره خدای په اماني وکړئ. په کال (۱۸۰۸ع) کښې دانګليسانو يو لوي هيئت دالفنستن په مشرئ له ډهلي نه دپېښور په لوري وخوځيد چه دالفنستن په قول دافغان مغرور پادشاه (کاشکې ترپايه مغرور پاتې وای) وګوري او دفرانسې ناپليون دنقشو په باب خبرې ورسره وکړي.

هيأت درې څلورسوه کسان مأمورين، عسکر او عمله ورسره وو. داکتوبر په دیارلسمه وخوځيد چه د لارې تفصيلات يې مونږ ته په زړهٔ پورې نه دي. يوازې داچه دلوي افغانستان حدودوته داخليږي؛ تردغه وخته يوازې دخراسان ولايت له لاسه وتلی او نوره امپراتوري لاشته او دشاه شجاع لومړی دور پادشاهي ده. پادشاه هم پېښور کښې دی. پېښور کښې يوه هفته پەدې خبرې وشوې چه هيأت په کوم ترتيب اوکومو شرايطو دپادشاه په حضور مشرف شي.

الفنستن پخپله داسې ليکي: په مينځنۍ کوټه کښې پادشاه دسرو زرو په مرصع تخت کښيناست. د پادشاه څـيره لـه برمه ډکه اوشاهانه وه. دده جامې او تاج له جواهراتو ډک وو. دده شاوخوا ګارډ ټول غلي او آرام ولاړ ؤ. د پادشاه له ښکاره کيدو سره مونږ ټولو خولۍ له سره ايسته کړې. (اروپايي ادب دی) او په ډير تعظيم موسرونه ټيټ کړل. وروسې موخپل لاسونه ده ته ددعا په هيله پورته ونيول. دلته خاص باشي زمونږ نومونه له درناوي او ادب نه قرأت کړل».

دغه لومړنی سفارت ؤ چه دانګليسانو له خوا اجراء شو. مګر مونږ پخپله خپل حالت څنګه خراب کړ هغه مخکښې بيا ن شوی. دغه وخت دانګليسانو او افغانانو

ترمينځ مستقلې ځمکې پرتې وې چه يوه برخه يې د.سکهانو په لاس کښې وه.

دهمدغه سفر په پای کښې محمود کندهار نيسي اودکابل په لوري روانيږي. شاه شجاع خپل فاميل راولپنډۍ ته ليږي چه ړوند شاه زمان هم ورسره دی.

الفنستين داسې ليکي: دجولای په لسمه (۱۸۰۹) مو له‌شاه زمان‌سره وکتل. دشاه زمان ليدنه‌دپادشاه ترليدنې مونږ ته‌لږ په زړه پورې نه‌ؤ. شاه زمان يو وخت په هندوستان او پارس کښې دغټ نامه او اعتبار خاوندؤ. دی مو په داسې حال کښې وليد چه‌په خيمه کښې پر قالينې او نمڅي هوارې وې. شاه زمان‌په يوه لوي کوچ ناستؤ، مونږ ده ته‌مخامخ تر هانه‌ولاړ ؤ چه‌ده دکښيناستلو اجازه راکړه. دده لباس ساده او ارت يې لستونو کوټ يې اغوستیؤ چه وريښمين گلان پرې گنډل شوي ؤ. پر سرېې توره لنگۍ وه. ځيره يې ډيره شاهانه وه دغه‌وخت‌دی څلويښت کلن ښکاريده غږ اوحرکت يې جگ او منظم ؤ. اوږدمخ اوښکلې ږيره يې درلوده.دده ځيره په هيڅ صورت يوه ړانده ته نه‌پاتې کيده.سره له‌دې چه سترگې يې ژوبلې وې خو بيا هم تورې پرېښدلې او دده ځيرې ته‌يې تازگي ښله کله چه به چاور سره خبرې کولې مخ به‌يې هغې‌خواته اړاوه. دده ځيره غمجنه اوله‌خپگان نه‌ډکه وه.کله‌چه مونږ کښيناستلو زياته چوپتيا خوره شوه.خوده پخپله چوپتيا ماته‌کړه اودشاه شجاع دبدبختيو په باب کښې بې خبرې وکړې او دشرايطو دښه کيدو هيله يې وکړه. داؤ دنوميالي پادشاه يوآخري منظرچه ومولید.

دافغانستان ملت‌چه‌دغه‌حالات ځيرلي له بلې‌خوا دوئ غواړي چه د احمد شاه‌بابا په کورنۍ کښې داسې‌سړی پيدا کړي چه دغه‌لوي افغان باباته يو ځه ورته وي. سرداران هم پخپلو مينځو کښې او هم‌دسدوزو له کورنۍ سره مخالفت‌لري. له بله پلوه انگريزان زمونږ ملک ته رانوتلي په داسې حال کښې چه سکهان دغه وخت مستقل دولت‌لري. خو هغه‌يې پرېښې دی او پر افغانستان يې‌رادنگلي دي. ددې دپاره چه که‌افغانستان نه‌وي نودسکهانو دواړو اړخوته انگريزان پاتې کيږي او

دغسې يو دولت په هغه وخت کښې کومه معنی نه شي درلودلای.

په لنډه موده کښې میرویس بابا او احمدشاه بابا ارمانونه خاوروته سپاري. داحمدشاه بابا ملي نبوغ په دې کښې دی چه لوي افغانستان ته ئې وحدت او یووالی ورکړ. دخپلواکۍ، یووالي او تیري له مینځه وړل هغه بنستیزې خبرې وې چه لوي افغانستان جوړ شو. دافغانستان ملت په دغه تاریخي ضرورتونو پوهیدی او دا هڅه یې کوله چه دافغانستان واکمني داحمدشاه بابا په خیلخانه کښې پاتې شي. مگر افغاني لویان ددغو خبرو له درک او پوهیدو نه عاجز پاتې شول. لومړی دلوي افغانستان جوړونکی عوامل او دوهم بهرني سیاسي مقاصد وو.

شاه شجاع هم دومره تړکول شوی ؤ چه تولې ملي گټې یې یوې خواته پرېښودلې اویوازې یې غوښتل بارکزي سرداران چه دسردار پاینده خان او وزیر فتح خان پرمړینې پاریدلي وو؛ په شاوتمبوي. که څه هم دغه سردارانو هم پخپلو کښې جگړې کولې؛ له بده مرغه ددې نه هم اصلي هدف که څه هم شخصي ؤ ؛ پاتې شوي ؤ.

دسردار پاینده خان میرمن چه دلویې ادې په نامه یادیږي. رښتیا هم محترمه ادې وه. دغې ادې حتی داحمدشاه بابا دخیلخانې پلوي کوله چه ملک وران نه شي او پخپله یې حکمونه ورکول او دخپلې کورنۍ دیووالی دپاره یې ډیرې هڅې وکړې.

دنوای معارک کتاب نقل کا چه میکناټن وروسته له پادشاه (شاه شجاع) دوهم سړی یاوزیراعظم ؤ چه تولې چارې یې په لاس کښې وې. انگریزانو دکابل په ښارکښې ځایونه نیولي وو. عادي ژوند یې روان کړی او خپل عیشونه یې کول. انگلیسي او هندي ښځې یې راوستلې وې او نورې شا اوخوا سترگې نه غړولې خلکو چه ولیدل پاچا بې واکه اوسم یوانگریزي حکومت دی، نو په شکایتونو سر شول.

کتاب روایت کا دغه وخت ۱۸٤۱م دانگلستان ملکې میکناټن دهغو بریالتوبو په

صله کښې چه د افغانستان پـــه برخـه کښې دده ترلاسه شوي وو ؛ دټول هندوستان فرمان چلوونکی مقرر کړ.

میکناټن شاه شجاع ته یولیک واستاوه چه دکابل او نور افغاني مشران په یوه پلمه خپل څنګ ته دروغواړه. بیا به دوئ ټول ونیسو او وزه به یې هندوستان ته بوزم اوستا پاچهي به کراروي.

شاه شجاع د مکناټن دلیک ځواب ورنه کړ. خو افغاني مشران یې لکه عبدالله خان اڅکزی، امین الله خان لوګری، عبدالسلام خان پوپلزی، سکندرخان، نواب زمان خان، محمد شاه خان بابکر خیل ، میر حاجي اونور مشران وروغوښتل او دوئ ته یې دمکناټن نیت څرګند کړ. او دځان له پلوه یې اختیار ورکړ. هر ډول ګام چه دوئ ښه ګڼي هغسې دې اوچت کړي. دوئ دشاه شجاع له درباره ووتل .د شپې د کابل په یوه کورکښې سره جرګه شول. او یولړ تصمیمونه یې ونیول. دوئ داسرو تاړه چه ګرده به ملي پاڅون ته تیاری نیسي اودهیواد ګوټ ګوټ ته به خبر ورکوي. خودوئ داپریکړه هم وکړه چه ډیل به کوي څو یو نوی تیری دانګریزانو له خوا وشي؛ او هماغه به پلمه او دیون کولو بنسټ وګرځوو په پاک قرآن لوړه وشوه.

اوس نو ټول غوږ او سترګې دي چه انګریزان کوم قدم بې ځایه اخلي . دکابل په نارینه اومیرمنو کښې خوشحالي لیدله کیدله . ددې دپاره چه مشرانو سره اتفاق کړی څه کیدونکي دي. هرښځه اونارینه دجهاد هیله من دی. هوا داسې سبق به ورکړي چه بیادې خواته کاره ونه ګوري.

رابرټ برنس چه دکابل والي دی په انګلیسي او هندي ښځو موړ وو. یوې کابلۍ ته یې هوا شوې وه. چه دخپلو اړیکو په لاره یې دعبدالله خان اڅکزي یو مینځه وموندله. کله چه غازیان دیـــوې پلمې په انتظار کښې ؤ ؛ دایوه ښه پلمه په لاس ورغله چه غزا شروع .

ACKU

دنوامبر په دوهمه کله چه غازي عبدالله خان دسهار لمونځ وکړ دنورو غازيانو په سرکښې په شنه سهرکښې دبرنس کلاته ورسيدل. دبرنس ساتونکي يې ووژل اوکور ته وردننه شول.

دوه انگليسي دوه هندي اويوه همـاغـه ښځه يې ونيـوله اووېې وژل. برنس په مـقـاومت لاس پورې کـړ، خـو ژر دغــازيانو په لاس ورغـی اوله کـوره دباندې يې دپاريدلو افـغـاني غـازيانو تولي ته يې ورغـوځارکړ. دده مـرستيالأن خزانه‌دار او نوکران دغـازيانو په سرو منگولو توټې توټې شـول. خـو دا کفايت نه‌کـوي هر غـازي بـايد يوانگريز ووژني ځکه افـغـان توره ايستلې؛ ځنگه يې بيـرته سپـينه په تيکي کړي. اوس نوغـازيانو دکـابل د ښار اوسيـدونکي انگريزان يو په بل پسې ونيـول. افغاني ښځو ددوئ وينې توبولې ځکه‌دغـو ميرمنو دغازيانو لمنې نيولې چه مـاته‌يې راکړه چه‌تږې يم وينې يې څښم.

دانگليسـانو له چهاونۍ نه منظم لښکر راغی؛ خـو افـغـاني زمـريانو دسـوی دغـوښې په شان وځيرل. شاه شجاع له‌بالاحصارنه په‌دوربين دغه ننداره کوله او له سـتـرگويې اوښکی بهيـدې چه زه‌څه‌بدمـرغـه ؤم چه‌دغسې ننگيـالي ملت ته‌مې انگريزان راوستل، اوس‌چه‌داښځې او ماشومان او پيغلې جنگيرۍ اوزه ورته گورم. انگريزانو دهرغـازي دسربيه کيښوده. خو ملت غازي ملت‌دی. دکوهدامن، چهاردهي اوشااوخـوا لوگر مـيدان غـازيان راتلل او عـبدالله خـان اڅکزي ته‌يې‌داد ورکـاوه چه جنگ ته‌دوام ورکـړه. هر افـغـان توريالی دی. ننگيـالی دی. جنگيـالی‌دی. يا الله مدد!

نوای معـارک ليکي: شاه‌شجاع مخکښې تردې افغاني غـازيانو ته ويلي ؤ چه زه په دغسې يو چال کـښې نښتی يم. خودغـازيانو د پاره له خپلې خزانې څخه خرڅ ورکوم. په‌داسې حال کښې چه غزا روانه وه؛ غـازي عبدالله خان‌ټپي شو. نورغـازيان اوکابليـان پريشانه شول. مؤرخ احمد علي کهزاد ليکي: چه عبدالله خان په‌ټپي حالت

كښې پرآس سپور شو او د کابل په ښار کښې وگرځيد. څو غازيان نور هم تشويق شي. کله چه عبدالله کورته راغی دشپې يې ساه وختـه او شهيد شو. دده جنازه دچهاردهي په قلعه سرخ کښې پريوه غونډۍ دفن کړی شوه. د جنازې ترخښولو وروسته ، ملا مـؤمن غلزي ، امـين الله خـان لوگـري ، شـمس الدين بارکـزي ، گل مـحـمـد خـان او عبدالعزيزخان ، محمد شاه خان بابکرخيل ، سکندرخان باميزي ، عبدالسلام خان پوپلزي سره جرگه شول او د غزا ددوام فيصله يې وکړه .

کله چه دعبدالله خان اڅکزي دشهادت خبر خپور شو کابليانو او دشاا وخوا خلکو وسلې واخيـستې اودانگريزانو دچونۍ شا اوخـوا يې سنگرونه ونيـول. دکـابل ټول دکـانونـه وتړل شـول . نارينه اوښځې دغـزا په عـزم را ووتل. انگريزانو د چهـاونۍ پر برجـونو توپـونـه وخيـژول. ټول وسله بند شـول او د ننه چهـاونۍ ته ننوتل. غـازيانو ډولونه اوسرناوغـږول او په خوشـحـالۍ شول. ملي لارښود جرگې چه مـخکښې يې نومونه يادشول؛ هرې ډلې جنگيالو ته ځايونه وټاکل او دغره پرسر ئې (آسمايي او شيردروازه) افغاني ملي بيرغونه ورپول او افغان خپلواکي اعلان شوه.

انگريزانو چـه دغـه حـالت وليـد؛ جنرال سيل لـه خپلو لښکرو سره له چهـاونۍ ووت او غازيانو سره يې د جگړې اعلان وکړ.

غازيانو فـاتحې ولوستلې او پرې راتوئې شول. تاريخونه وايي چه دافغـانانو دغـه جنگ او زرورتيـا هيڅـو ک نه شي تعريفولای . غـازيانو شاهي کلا ونيـوله . انگريزان بيرته په چهاونۍ ننوتل. دغه جنگ پنځلس ورځې دوام وکړ او انگريزان کلابندپاتې شول. دغه دی دانگريزانو ملکي اوعسکري مؤظف خلک له ټول ښارڅخه ونيول شول او يو په بل پسې ووژل شول . بالاحـصار ياشاهي کـلا هم د غـازيانو په لاس کـښې اوشاه شجاع هم له دوئ سره ملگری دی.

دنوامبر ددوهم (١٨٤١ع) ملي پاڅون دې مرحلې ته رسيدلی چه انگريزان وتلو ته حاضر شوي او خبروته چمتو شوي وو. ددوئ وسله او توپخانه هم غـازيانوته په لاس

ورغلي وه. پاچا او شاهي کلاهم دغازيانو په لاس کښېوو. چه دملي پاڅون انګازې هرې خواته خپرې شوې. له هندوستان څخه نوې لښکرې همراوخوځېدې، چه دبخارا پادشاه سرداراکبرخان ته اجازه ورکړه چه هيوادته راشي، چه دده کړه وړه به وروسته وکتل شي.

اميردوست محمدخان چه دکوهستان اوکاپيسا بريالي غازيان پرميدان پرېښي وو او پخپله مکناټن ته تسليم شوى ؤ. داوخت په هندوستان کښې ؤ او انګريزان هغه سره هم دخبرو په حال کښې وو. مؤرخين وايي چه اميردوست محمد د غازيانو له سترو برياليتوبو بيخي بې خبره ؤ اودومره دى دپادشاهۍ ليوال ؤچه ده او نورو سردارانو هيڅکله دملت توره په نظر کښې نه ده نيولې.

دسرداراکبرخان په رسيدو مشران خوشحال شول او دى يې خپل مشر ومانه او يوګټلى ميدان يې وده ته وسپاره . خوداکبرخان ټول حرکت په دې خوا ؤ چه خپل پلار بيرته پرتخت کښينوي.

کوم قرار داد چه ملي مشران يې مني هغه کښې افغان ملي درايت بيخي څرګندي. دمؤرخينو په قول دغه وخت دولت نه ؤ.يوازې خلکو اوددوئ مشرانو دجنګ لاربښوونه کړې؛ بيا د افغانستان پاچهانو چه منظم عسکرې هم لرل ؛ داسې قرارداد ياتړون نه دى شوى. شاه شجاع اميردوست محمد نه نيولې داستقلال ترجګړې حتى دافغانستان دخپلواکۍ تړون هم هغه درونډ والى او پوخوالى نه لري.

داهغه دوران دى چه انګلستان په تاريخ کښې لويه ماته کړې ده چه په نتيجه کښې دانګليس ټول پوځ چه له شپاړس زرو تراتلس زرو پورې بلل شوى؛ تباه کيږي او ددوئ ټوله توپخانه، خزانې، ذخيرې، وسلې او وسايل غازيانوته په لاس ورځي. ددغې ماتې توردا غ تراوسه دانګليس په تاريخ کښې پاتې دى. مګر اميردوست او نورو ترده وروسته پاچهان دومره بې زړه خلک وو، چه دافغانستان له لاسه وتلې خاورې يې پرېښودې او پرېښودل خولا پرېرده چه له سرحده هاخوا پښتانه

سل کاله وجنګیږي اوبې غیـرته پادشاهان ورته ګوري چه پنځه دیرش منظم[٣] او لوي جنګونه حساب شوي دي.

دسرداراکبر په راتلو ملي مشرانو دده تودهرکلی وکړ. سرداراکبرخان په حالاتو پوه ؤ چه انګریزانو پوره ماته خوړلې. نور پوځونه هم دپښتنو له لاسه په خیبرکښې وهل کیږي.نو په ډاډه زړه ئې مکناټن ته لیک واستاوه اودخبرو اترو غوښتنه یې وکړه.

مکناټن چه دټول هندوستان دفرمان چلولو په ارمان ؤ؛ داکبرخان په لیک ځکه خوشحال شو چه دهغه پلار ددوئ په لاس کښې ؤ. له بلې خوا شاه شجاع دپخوانیو دبدبو په حساب خواشیني بریښده. نوشاه شجاع دنایب امین الله خان لوګري پرخوا زیاته پاملرنه چه دغه پاملرنه دبارکزو سردارانو خوابدوله. دغه خبره هم دمکناټن په ګټه وه. مګرورروستیو پیښو موضوع بل ډول کړه چه حتی دشاه شجاع سدوزي په مرګ تمامه شوه. دنواب زمان خان زوي شجاع الدوله چه شاه شجاع سدوزي خپل نوم پرهغه ایښی ؤ؛ شاه شجاع سدوزی پرهغه ورځ وواژه چه شاه شجاع دانګلیسانو سره دجنګ دپاره چمتو شوی ؤ او هغه لښکرسره چه دکابل سیاه سنګ کښې دجلال آباد په لوري دحرکت په حال کښې ؤ؛ وخوځید. ناڅاپه شاه شجاع دځینو جواهراتو په فکر بالاحصارته لاړ اوچه بیرته لښکرځای ته راتی شجاع الدوله له خپلو عسکروسره برید پرې وکړ اوهغه یې مړکړ. دغه وخت کوم پروګرام چه دغزا موجود ؤ؛ معطله شو.

# مكناټن ووژل شو او دده مړی د کابل په چوک کښې وځړول شو

دايوه په زړه پورې موضوع ده چه مكناټن له يوې خوا خبروته چمتو ؤ او له بلې خوا ئې خپل خلک وگومارل چه سردار اكبرخان مړ كړي اوددغه كاردپاره ئې پيسې ټاكلې وې او دغه سند دسرداراكبرخان لاس ته ورغی. بله موضوع هم وه چه داسې يو يادداشت ئې ملي مشرانوته وليږه چه مخكښيني ترون سره ئې توپيردرلود. اكبرخان وويل چه ترون او يادداشت توپيرلري چه بايد بيا خبرې پرې وشي. مكناټن خبروته حاضر شو. په ټاكلي ځای په ټاكلې ترتيب او شرايطو چه مخكښې خبرې پرې شوې وې؛ کوم صورت دخبرو چه مؤرخينو ليکلی مكناټن دسردار اكبرخان په لاس نه دی وژل شوی؛ مگر داچه اكبرخان دملي مشرانو دهيئت مشرؤ دمكناټن قتل دده له خوا بلل کيږي. لکه چه هري سنگه هم دجگړې د صورت له مطالعې سره دده په لاس نه دی وژل شوی چه دواړو باندې به خبرې وکړو.

لومړی دهري سنگه وژل (١٨٣٦م) كال كښې ؤ چه دوست محمد خان كابل نيولی ؤ. خلكونه شول كولای ددې زغم ولري چه پېښور يې دسكهانو په لاس كښې وي. نودوست محمد خان ته چه بايد جهاد وكړي او پېښور بېرته له سكهانو خلاص كړي. دوست محمد وويل: زه خو اميرالمؤمنين نه يم. خلكودی اميرالمؤمنين كړ. نوتر جمرود پورې لاړ. په ستره بيغرتۍ ئې ميدان پريښود. د جگړې پرځای ئې له انگريزانو وغوښتل چه سكهان مجبوره كړي چه پېښور خوشې كړې. له دغه تاريخه دا رواج شروع شو. بيا محمدزايي پادشاهانو هيڅكله پرملت اوخلكو حساب ونه كړ. وايي چه ملااسمعيل نومې يوه غازي پر سردارشمس الدين ددوست پرورور غږ

وکړ چه په شامه ځـه؛ اسلام دې غرق کړ. افغانانو پرسکهانو ورودانګل. هري سنګه ئې مړ کړ. دی د سکهانو سپه سالار ؤ. سکهانو ماته وکړه. دپښور دتخليې ترتيبات ئې نيول. چه سرداران ټول په شاه لاړل او ګټلی ميدان ئې پريښود. امير دوست محمد ته دانګريزانو ځواب داؤ: «مونږ ددوو مستقلو دولتو په چاروکښې لاس نه وهو. مونږ به يو تجارتي نماينده درولېږو».

تاريخونه ليکي؛ افغانان بيدريغه دسکهانو په لښکرورننوتل چه هري سنګه مړ کړی شو. سرداراکبرخان ته داسې وټړل شو چه اکبرخان او هری سنګه يوبل نه دی پيژندلی. سرداراکبرخان وروسته پوهيدلی چه هري سنګه ئې وژلی دی. دغه توره په يوه سپاهي د چانه لوريده. ويل کيږي چه جنګ کښې خپل او پردي نه پيژندل کيدل. افغاني سپاهيانو چه سرداران د تيښتي په حال کښې وليدل نو پخپله ئې پرسکهانو ورودانګل.

دغه ډول دمکناټن دوژلو صورت تاريخونه داسې بيانوي چه دوئ خبروته کښيناستل. مکناټن ته دنورو خبرو په ترڅ دغه سند هم وښودل شو چه مکناټن دسرداراکبرخان پرسر پريکولو انعام ايښی ؤ. دغه وخت مکناټن ته منطق پاتې نه شو. محمد شاه خان بابکرخيل وويل چه وخت تيريږي. سردار اکبرخان اومکناټن سره لاس اوګريوان شول. رجب خان نومې سپاهي دسردار اکبرخان دځنګل له مينځه دټوپک ميل تيرکړ اومکناټن ئې وواژه. ښارته آوازه لاړه چه مکناټن د سردار اکبرخان په لاس ووژل شو. بيا نودغه آوازه همدغسې پاتې شوه.

سردار اکبرخان زړورسړی ؤ. مګر يوازنی هدف ئې دخپل پلاردوست محمد راوستل او پاچا کول ؤ؛ چه وروسته به دده نورعمل ته هم وکتل شي. چه ده ددغه يوازني مطلب دپاره څومره جفاګانې وکړې.

دوست محمدخان هغه سړی دی چه دکوهستان بريالي غازيان ئې پريښودل او سهار وختي مکناټن ته دتسليميدو دپاره په پټه له غازيانو بالاحصارته راغلی ؤ او

خـپله توره ئې له مـلاخـلاصـه کـړه . پـه دواړو لاسويې مکناټن ته وړاندې کـړه . او مکناټن يوه انگليسي توره بيرته دده ترملا وتړله چه دغـه پخپله يوتړون ؤ . چه افغاني توره ئې ورکړه. انگليسي توره ئې واخيسته .دمکناټن مړی اوڅو نورو انگريزانو مړي دکابل دښار په چوک کښې د خلکو د تماشې دپاره اوچت وځړول شول.

يوځل خبرې وشوې. انگليسـانو خپله ټوله درنه وسله پريښوده . خزانه او نور سامـان ئې پريښـودل. خپل لوي بيـرغ ئې چه دملکې ويکټوريا تصوير پرې کـښل شوی ؤ ؛ په اوږه کړ او دجلال آباد په لور وخوځيدل. څه افغانان ددوئ بدرگه شول چه دغـازيانو له حـملو وسـاتل شي. سم ددوئ لهوتلو سـره غـازيان پرې راتويې شـول. افغانستان په نولسمه پيړۍ کښې کتاب ليکي چه دوئ ويلې مونږ درنه وسله نه وړو. نو سردار اکبرخان دوئ ته وويل چه ددرنې وسلې وړل له تړون څخه سرغړونه ده او ددوئ ترمينځ تريخوالی پيدا شو . نوای معارک وايي چه سردار اکبر خلک منع کول. مگر غازيان نهدريدل او پهپای کښې دافغانستان ځمکه او خلک دانگريز دپاره يو ستر عذاب جوړ شو . امريکائي کتاب ليکي: غازيانو ځکه دسردار اکبرخان خبره نه منله چه دی هم يو غـازي بلل کيده . کوم قانوني حيثيت ئې نهدرلود چه دده خبره څوک ومني.

افغانان داولوالامر خبره مني. لکه وروسته بهوکتل شي ددوئ غلط او غير ملي اوامرېهم منلي دي.

لندهدا چه لوي بيرغ او دملکې ويکټوريا تصوير غازيانو واخيست چهانگليسي پوځ ته سخته تمامه شوه او په خپل ټول طاقت ئې جگړه پيل کړه . مگر غـازيانو دوئ ټول مړه کړل چه دملي پاڅون له لومړی سرنه تر پايه پورې اتلس زره انگليسي پوځ تبـاه شو چهدانگريزانو په استـعـماري تاريخ کـښې دغـه مـاته دوئ هيـڅکله اوهيچيرې نهوه ليدلې.

جلال آباد کښې انگليسي پوځ د اجرأت ونه کړ چه د کابل په لوري وخوځيږي.

په غزني کښې هم انګليسي پوځ تباه شوه. او دافغانستان پاکه خاوره دانګريزانو له وجوده پاکه شوه. افغانان پوهيدل چه دافغاني امپراتورۍ د ورانولو عامل همدغه انګريزان دي چه دايران دصفوي پادشاهانو په مرسته يې داحمدشاه بابا لوي دولت کمزوری او تجزيه کړی شو. دريم عامل ئې هم زمونږ خپل محمدزايي سرداران وو. ځکه د احمدشاه بابا اصول وروسته تر شاه زمان څخه نه عملي کيدل. شخصي جاه طلبي او کرکه حاوي شوه. ملي شعور ورک ؤ چه که مونږ له تاريخ څخه دغه سبق وانه خلو، دملي او شخصي ګټو توپيربه نه شوکولای؟ دغه سبق به بيا او بيا تکرار کړو.

ددغې ليکنې بنيادي تګ تکی همدغه دې چه دبربادۍ اوآبادۍ عوامل وپيژنو، کومه لارمو ونيوله چه لوي افغانستان جوړ شو!؟ او کومه لاره مو ونيوله چه وطن مو وران شو!؟ دغه دواړه لارې بايدوڅيړل شي او راتلونکي نسل ته وسپارل شي. کله چه جنرال احمدخان نورزي غونډې يوجنګي اتل له خپل ديرش زره تکړه سپاهيانوسره دشاه زمان خوا پريږدي، او دوزير فتح خان اوشاه محمود سدوزي پرخوا تسليمږي. له همدغه ځايه دشاه زمان ماته او دمحمود بې کفايته پادشاه برۍ شروع شي. لکه اوسنی کودتاوې. هغه اردو چه دملي دفاع د پاره وه پخپله د وطن دبربادۍ سبب شوه او تولـه اردو دخپل ملت پرضد وجنګيدله چه نتايج به ئې پرخپل ځای وکتل شي. ديوې ورځې اتلان دتاريخ مخ توري شول.

همدا ؤ چه دمکناټن تروژلو او دانګليس داتلس زرو عسکرو تر تباهۍ وروسته کله چه دجنرال پالک په مشرۍ دانګليس غچ اخستونکی لښکر راغی؛ دغه سردار اکبرخان بې له مقاومته په شاراځي اوانګريزانوته لاره خلاصه پريږدي. نو مرزا عطأمحمد ليکي چه ای سرداره ته خو تش لاس له بخارا راغلې. اتلس زره انګريزان تباه شول. ملک خپلواک شو. اوس چه دانګريزانو اسلحه سامان اوخزانې دتوريالي ملت په متو تاته پاتې دي، څنګه په شاځې؟(!) او له جلال آباده تر باميان پورې داسې تښتې چه دپښې ګردې څوک نهويني.

نواى معارک دا هم ليکي چه سردار اکبرخان دا ومنله چه دکابل څلورچتي دې وسوزول شي.

غچ اخستونکی لښکر خپل غچ اخلي. کابل، غزني او استالف کښې عام قتلونه کوي خو سردار په باميانو کښې بريتونه تاووي. دغه سردار چه نه ئې مکناټن وژلی نه ئې هري سنګه او هم ئې له جلال آباده ترغزني او کوهستان پورې انګريزانو ته ميدان تش پريښود. زمونږ په ذهن کښې دومره لوي اتل دی چه سيدال خان، اونصيرخان موهيرشوي، زبردست خان غوندې حربي اتل او سياست پوه هيڅوک نه پيژني. چا چه د شيراز اودخليج دجزاير او هرمز باندې افغاني بيرغ رپولی ؤ.

دافغان انګليس لومړی جګړې مونږ ته دغه نتيجه راوړه چه يو تسليم شوی فراري تسليم طلبه امير مو بيرته پادشاه کړ.

بله عجبه خبره تاسوته وکړم چه يو امريکايي ليکوال انتهوني ارنولډ د روسانو ديرغل په دوران کښې زمونږ پرګران افغانستان باندې (۱۹۷۸-۱۹۸۸م) د « سوابق تاريخي تهاجم روس برافغانستان» کتاب کښې ليکي: « ددوهمې عمومي جګړې په ترځ کښې افغانانو دريمه موقع له لاسه ورکړه چه خپلې له لاسه وتلې خاورې تر لاسه کړي.ددوهمې عمومي جګړې په وخت کښې دروس او المان مناسبات ښه وو. افغانستان ته ئې دغه موقع برابره کړه چه ترسندپورې خپلې خاورې ترلاسه کړي. نازي المان چمتو شو چه دافغانستان دسرحدونو مصئونيت د هغه د يوازني دښمن په مقابل کښې يعنې دانګليس په مقابل کښې تضمين کړي. نازي المان حاضر ؤ چه دافغانستان سرحدونه ترکراچۍ پورې په رسميت وپيژني. په دې شرط چه افغانستان پر برتانوي هند باندې يرغل وکړي او شرقي سرحدونه ئې نارامه کړي.

په تيرو وختونو کښې هم افغانانو دغسې موقع درلوده چه خپلې خاورې ترلاسه کړي. لومړی ځل (۱۸۵۷م) ؤ چه په انګليسي هند کښې د انګريزانو پرضد عمومي پاڅون ؤ. که چيرې افغانانو دهغه وخت پرهند حمله کړې واى؛ حتماً انګريزان له

هند څخه وتل او دافغانانو په تاريخي بريالیتوبو تمامید له . (امیردوست محمد خان پادشاهي) .

دوهم ځل د لومړۍ عمومي جګړې وخت ؤ چه انګریزان له جرمنیانو سره په جګړه بوخت وو. چه جرمنیانو اوترکانو په شریکه غوښتل د انګلیسانو پرضد د افغانستان ملاتړ وکړي. مګر دواړه پلا دافغانستان پادشاهانو خپل تړونونه له انګلیسانو سره محترم وګڼل.

دریم ځل : « ۱۷ داګست کال ( ۱۹٤۰ع) یوځل بیا دغه فرصت افغانانوته په لاس ورغی » .

توضیح : لومړی( ۱۸۵۷م) کال کښې امیردوست محمد خان پادشاه ؤ . ټول هندوستان ئې چه هندوان، مسلمانان اوپښتانه وو؛ په سره اورکښې پریښودل . دغه حرکت په تاریخ کښې د بلوای هــند پـــه نامه یادیږي او په همدغه نامه یومستند کتاب هم موجود دی.

دهند مسلمانانو او پښتنو له امیردوست محمد څخه یوازې دجهاد اعلان دیوه مسلمان پادشاه په حیث غوښت ، مګر دغه ډارن فرصت طلبه سړي دا کارونه کړ .

دوهم د (۱۹۱٦) دامیرحبیب الله خان پادشاهي وه . دجرمني اوترکانو هیأت په کابل کښې پـه داسې حال کښې چه د هند آزادۍ غوښتونکو مشرانو څخه راجه مهندرپرتاب او مولوي برکت الله هم کابل ته راغلي ؤ. داستریا یا اطریش نماینده هم حاضرؤ. حبیب الله خان ویل چه انګلستان وروسته له عمومي جګړې زمونږ استقلال په رسمیت مني اوله لاسه وتلې ځمکې هم بیرته راکوي. جرګې څومیاشتې دوام درلود . مګر امیر دومره سخت شرطونه کښیښودل چه جرګه ناکامه ولاړه .

او دریم ځل (۱۹٤۷م) کال دهند آزادۍ اودپاکستان جوړیدل ؤ. افغانستان بریتانیا اودهند حکومت ته ولیکل چه دافغانستان سرحدات تراباسین پوري پښتانه دي. ښایي چه دوئ پخپله دافیصله وکړي چه آزادپاتیږي، که له افغانستان ، هندیا

پاکستان سره گډيږي (۱۳ جون ۱۹٤۷).

دانگليس حکومت افغانستان ته ځواب ورکړ چه ۱۹۲۱ کال په تړون کښې سرحدونه منل شوي ځکه هندوستانيانو ته دقدرت دانتقال په وخت کښې بايد افغانستان په شمال غربي سرحد کښې هيڅ ډول مداخله ونه کړي. (۳ جولای ۱۹٤۷).

په (۱۹۲۱ع) کښې امان الله خان پادشاه ؤ. دامان الله هم دغه اشتباه وه چه پښتانه ئې په ډاگ پريښودل او دخپل نيکه امير عبدالرحمن دوخت سرحدات ئې ومنل. دانگليسانو دغه دليل ؤ چه که دډيورند تړون تريوه فشار لاندې ؤ؛ امان الله خان خو مستقل ؤ او خلکو هم منلی پادشاه ؤ. نتيجه داسې کيدای شي چه محمدزايي پادشاهانو په يوه ډيره لږه محدوده ساحه کښې خپله پادشاهي غوښتله او همدا وجه وه چه محمدزائيان د شاه شجاع سره په لومړي دور پادشاهۍ کښې پخلا نه شول. کله چه شاه شجاع (۱۸۰۹م) کښې دلومړي ځل دپاره پرتخت کښېناست لومړی ئې دمحمدزايي سردارانو دپخلاکولو کارشروع کړ. ددوست محمد خوايې وکړه او وزير فتح خان ته ئې دوزارت منصب ورکړ. دغه وخت که سرداران په خپل قول ولاړ وای؛ ښايي شاه شجاع هم دومره نه وای بدمرغه شوی او امپراتوري هم نه ړنگيدله.

همدغو سردارانو شاه شجاع رنجيت سنگهـ ته وسپاره او بل سردار داتک کلا دپيسو په مقابل کښې پررنجيت سنگهـ خرڅه کړه. چه وروسته به خبرې پرې وشي.

دملي تاريخ په لټه کښې سرداران کوم اعتبارنه لري. مگر ددوئ ددوام لرونکي اقتدار په وجه ملي تاريخ نه دی روښانه شوی او دوئ وروسته له اميردوست محمد خان نه ديوې پيړۍ تاريخ ته اعتبار ورکړی؛ چه له بده مرغه ددغه تاريخ سمول ډير کار غواړي که دافغانستان په (نولسمه پيړۍ کښې) چه يوه محافظه کار وزير ليکلي او افغانستان دتاريخ په مسير کښې ډير حقايق بربنډ کړل. دغه ډول افغانستان په پنځو وروستيو پيړيو کښې هم ډير څه ويلي دي. بيا هم د سردارانو د

موجوديت په‌اثر که‌څه هم پراقتدار باندې نه‌وو. واقعيتونه هسې چه‌په‌کاردي نه‌دي ويل شوي.

دځــوان نسل د پاره دتاريخ بيــان لايوڅــه وخت غــواړي. يوڅــو مــثــالونـه دکال(١٨١٤م) په‌لومړيو وختوکښې چه شاه شجاع دکشمير له‌حاکم عطأمحمد خان سره نظربند ؤ؛ وزيرفتح شاه شجاع ونيواو روغ رمټ ئې رنجيت سنگهـ ته تسليم کړ او رنجيت سنگهـ په اول سرکښې له هغه سره ښه وضع کوي. کله چه شاه شجاع دکوه نور د الماس له ورکولو انکارکوي نو هغه دومره په عذابوي چه دکوه نور الماس په زور ورڅخه اخلي. وزير فتح خان عطاء محمد خان بندي کوي او خپل ورور سردار عظيم خان دکشمير حاکم مقرروي چه کشميريانو بلای عظيم باله. دکابل په ښار کښې تردې آخرووختو مشهوره وه‌چه‌عظيم خان له هغوکوټوهم ماليه اخيسته چه مخ په لمروې. عظيم خان پرپيسو مين ؤ. خپله خزانه ئې له‌ځان سره گرځوله.

فتح خان چه دمحمدزائيو په تاريخوکښې دوزير باتدبير په نامه مشهور شوی يوخوئې شاه شجاع لاس تړلی رنجيت‌سنگهـ ته وسپاره. حال داچه شاه شجاع چه لومړی ځل پادشاه شو؛ دی ئې وزير وټاکه او دپښتــو جرگـه ئې ورته وکړه. دوزير باتدبير بل کار داؤ چه عطاء محمدخان ئې بندي کړ. دده ورور ئې آزاد پريښود هغـه هم داټک کـلا خرڅـه‌کړه. وزير فـتح خـان چه لـه رنجـيت سنگهـ نه‌داټک کـلا وغوښتله. رنجيت سنگهـ په کـشميرکښې حقوق غوښتل. نوجنگ ونښت. د سرحد پښتـانه ورسره ودريدل. سکهـانو مـاته‌وکړه. په دغـه‌وخت کښې فـتح خان واريدل چه‌دوښت محمدسکهانو نيولی؛ گټلی جنگ ئې پريښود او پېښور ته راغی. هلته ئې وليدل چه‌دوست محمدخان‌مخکښې ترده رسيدلی دی.

بيا چه‌په‌کشمير کښې دسکهانو سردار ديان سنگهـ محاصره شو؛ سردار عظيم خان هغه له محاصرې خلاص کړ. افغانانو ورته وويل: سردار صاحب داڅه حکمت دې‌وکړ. ده وويل چه ددۀ نيکه محکم چند زما ملگری ؤ(!) بيا فتح خان او دوست

محمد خان هرات ته لاړل. هلته ئې د سدوزايي حکمران دښځې ګاڼه دهغې لهځانه واخيسته او نور جواهرات ئې غلاکړل. بيرته کشميرته راغی او خپل ورور عظيم خان سره پاتې شو څو چه اميرکبير اوبې نظير شو(!)

په تاريخي لنډه کښې دمحمدزو پادشاهانو دملي تاريخ لهنظر مثبت عمل نهليدل کيږي. مګردوئ پهډير مهارت اوسرسختی اوهرډول ملي خيانت لکه ايران کښې پناه اخستل، انګليسانو تهپه ګنډلي ميدان تسليميدل.

ماانګليسي هغه رسم ليدلی چه اميردوست لوڅ سر خپله افغاني توره په دواړو لاسومکناټن ته په بالاحصار کښې تسليموي. (۱۸ سپتمبر کال ۱۸٤۰ع). دغه راز رسمونه چه دانګليسي رسامانو له خوا ځای پهځای رسم شوي. يوه مجموعه ئې له دکتور طبيبي سره وه. ځکه اميردوست محمد خان پوهيدلی ؤ چهشاه شجاع انګليسانو دوهم ځل پاچا کړی او د قدرت منبع هماغه دی. دا هغه وخته دی چه دکوهستان او شمالي خلک دميرمسجدي ترمشری لاندې پهچاريکار، ګلبهار، باميان کښې انګريزان مات کړي وو او تر سرای خواجه پورې غازيانو برلاسي درلوده .چه امير دوست محمد خان دغازيانو له مينځه تري تم شو.

ويل کيږي چه مکناټن په بالاحصار کښې په فکرکښې ډوب ؤ چه احوال ورته ورسيد. دوست محمد خان راغلی. مکناټن فکروکړ چه بالاحصار محاصره شوی، ځکه ټول خبرونه داسيوو. چه غازيان دکابل شا اوخواته رسيدلي او انګليسي کنډکونه په شمالي کښې تباه شوي. مکناټن په وارخطايي وويل څومره خلک ور سره دي؟ هغه ورته وويل: صاحبه يوازې دی. سر او پښې ئې لوڅې دي. دغسې يوه شرمناکه تسليمي بيخي سابقه نه لري. هغه هم ګنډلی ميدان. داسې ښکاري چه دوست محمد خان سره دخپلواکۍ او دانګريزانو د وتلو سوال نه ؤ. يوازې داچه دکابل پادشاه وي. مکناټن دوست محمدخان ته وويل چه دلته به دهستوګنې ترتيب دبالاحصار په يوه برخه کښې درته ونيسو. دوست محمد وويل: صاحبه دلته شاه

شجاع هم شته. ما هندوستان ته وليږئ او هلته مې وساتئ. که په دغه حساب امير بې نظير وي نوکيداى شي.

هماغـه ؤ چه په کوهستـان کښې دانګليسـانو يو غنډ عسکر ووژل شـول او خلک ترهغې نه کښېناستل ځو يې انګليسـان تباه نه کړل. ځکه ملت تل په ملي ګټو پوهيدی.

پيښې ليک کښې ليکل شوي: اميردوست محمد خان له هنده راوستل شو اوبيا دکابل پرتخت کښيناست اونايب امين الله خان لوګری ئې بالاحصار کښې بندي کړ.

محمد شاه خان بابکرخيل هم ددغه امير له خوا تعقيب اوورک شو. لکه څنګه چه بيا اميرعبدالرحمان خان په دوهمې جګړې کښې (افغان انګليس دوهم جنګ) محمدجان خان وردګ اوملامشک عالم اونور مجاهدين لکه صاحب جان تره کی په دغه سرنوشت اخته کړل.

# د احمدشاه بابا کورنۍ

مونږ به بیرته د سردارانو کردارونو ته راوګرځو. مګر ددې خبرې معلومول هم په کار دي چه داحمدشاه بابا په اولاد کښې څه خصوصیات پیدا شول چه سردارانو ته موقع په لاس ورغله؟!

احمدشاه بابا پخپله دومره لوي سړی ؤ چه ددوئ داحوال پیژندل که څه هم په سوونو کتابو کښې راغلی؛ مګر بیا هم دده دشخصیت درک لګول هم یوشخصیت غواړي. عادي افغانان ئې له درک یا پیژندلو نه عاجزدي.

دده تواضع، عدل، انساني اخلاق، وطن پالنه، خلاق استعداد او هوښیاري یوه داسې رڼاده چه هروخت که هغه ته لږه پاملرنه وشي؛ په فردي لحاظ شخصیت اوکه په ملي سطح درک او وپیژندل شي؛ ملي عظمت ئې نتیجه ده.

ترده وروسته تیمورشاه په آسیائي پادشاهانو کښې لوي شاهنشاه دی. مګرملي خصوصیات ئې تراحمدشاه بابا ډیرکښته وو.

اعلیحضرت شاه زمان چه داحمدشاه بابا په تعقیب روان ؤ؛ زمانه بدله شوې وه.

اعلیحضرت تیمورشاه هوښیار اوزړورسړی ؤ. خوله هوښیارۍ اوزړورتیا سره راحت غوښتونکی، دبدبه خوښوونکی او د ښو خوړو شوقي هم ؤ. نرمې خبرې نرم خلک ئې خوښیدل. قومي مشران ئې یو قدم وروسته ودرول. خپل خاص تنخواه خواره اونوکران چه زیاتره قزل باش او د شا او خوا ملکونو مهاجروو؛ هغوئ ئې مخکښې کړل، چه مخکښې یولیک ته اشاره شوې چه په دې باب ده ته یوه قومي مشرلیکلي وو.

دلته داحمدشاه بابا او تر هغه مخکښې میرویس بابا اصلي هدفونه هیر شوي وو.

هغه داچه میرویس بابا او احمدشاه بابا افغاني دولت جوړ کړ چه خپلواک، پیاوړی او دپښتون عنصر په کښې لوي نقش ولري.

ولې؟ ددې دپاره چه افغانستان دمغلي، هند، ایران او مرکزي آسیا هیوادونو ترمینځ ورک ؤ. درې واړه اسلامي ؤ. کوم دلیل دخپلواکۍ دپاره موجود نه ؤ. آزادي، خاوره او له ظلمه خلاصیدل دمیرویس نیکه او داحمدشاه بابا دنبوغ برکت ؤ چه پښتانه قومي مشران او غیر پښتانه مشران ئې له ځان سره کړل. لومړی غیر پښتون عنصر؛ بلوڅ ؤ چه دافغاني امپراتورۍ دپاره ئې له حده زیاته مرسته کړې. بیا تاجک، ازبک، هزاره او نور. نو تیمورشاه څنګه کولای شوای اصلي قصه هیره کړي؟

شاه زمان چه هرات ته ورسید؛ یاغي محمود خپله مور ورولیږله او قرآن شریف او جرګه. شاه زمان محمود سدوزی وباخښه. مګر دغه بخښنه چه د قرآن، مور او هم ښځه قومي مشران وو؛ آیا شاه زمان دغه نه وای منلې؟ دین، پښتونولی، انسانیت دخپلوۍ عاطفه هرڅه تللي وو او چه هغه ئې ومنله؛ نو دا دشاه محمود ګناه وه چه هغه هم دتیمورشاه زوي ؤ او دغه مقدسات ئې تر پښو لاندې کړل چه تاوان ئې یوازې ده ته نه؛ بلکه ټول هیوادته ورسید.

شاه زمان چه دمحمود لاس ته ورغی؛ دشاه زمان سترګې ئې ړندې کړې. بیا چه محمود دشاه شجاع لاس کښې ولویید همدغه ړانده شاه زمان وویل چه سترګې ئې مه ړندوئ چه دا دانسان ربایي ده او له هغه محروم کیدل ډیر زور غواړي. دا ؤ داعلیحضرت تیمورشاه ددوو زامنو لنډه مقایسه؛ دافغانستان دامپراتورۍ نړیدل بې له کوم شکه.

د تاریخي شواهدو پر بناء دا د سردار پاینده خان د اولادې کاردی چه وړاندې بې بیان شوی؛ وروسته به بیان شي. سراج التواریخ لیکي: در اواخر سال ۱۲۳۲هجري وزیر فتح خان را باچندی از برادرانش که مامور خدمتی نبودند وسی هزار سوار جانب

هرات گسيل فرمود و درين سفر وزير فتح خان چنان دست به خود و احسان گشود که درمدت ششماه وجوه عطايايش نودوشش لک روپيه بحساب آمد ».يعنې وزير فتح چه له کابله تر هرات لاړ په شپږو مياشتو کښې ئې شپږ نوي لکه روپۍ خلکوته وبخښلې. په داسې وخت کښې چه ديوه سپاهي دمياشتې اته روپۍ تنخواه وه، شپږ نوي لکو روپيو بخښل څومره ډيرې دي؟ له دې مطلب دادی چه وزير فتح خان په پيسو خلک اخستل او همدغه دراني خزانه وه چه سردارانو ترلاسه کړه. دلته او هلته ئې خلکوته ورکړل او ځانونه ئې داعتبار خاوندان کړل او کله چه ملک وران او کمزوری شو او دوئ دانگريزانو په مرسته پادشاهان وو؛ بيا ددوئ سخاوت چا ونه ليد. (بالاخره امير عبدالرحمان له انگريزانو څخه دکال شپاړس لکه روپۍ تنخواه اخسته).

څه کم لس ميليونه روپۍ په شپږو مياشتو کښې هغه وخت دهرې معجزې دپاره کافي پيسې وې. سره له هغه امير دوست محمد دحاجي فيروزالدين سدوزي حکمران دښځو له غوږو اولاسو گاڼه وايستله. او دسردارعظيم خان خزانه چه له کشميره ئې ترلاسه کړې وه؛ د قيمت له لحاظه دهغه وخت په هيوادو کښې يونادره سرمايه وه چه ليوني زوي حبيب الله ته ئې پريښوده.

دهند، سند خزانې چه په پيلانو بار راوړل شوې دادی چه سردارانو په زبردسته چالاکۍ اوبې حيايي ترلاسه کړې. ځانونه ئې ضعيف پادشاهان کړل او دوئ نه اصلي هدف پاتې شو. نه خپلواکي او نه خاوره. په نتيجه کښې دا چه سردارانو يوه اوږده موده دانگليس ترسيوري لاندې پادشاهي وکړه او په تاريخ کښې سرداران دپير روښان، خوشحال خان، ميرويس بابا او احمد شاه بابا په مخالف قطب کښې واقع شول.

همدغه ډول که سرداران له شاه محمود، شاه اشرف، سيدال ناصر او زبردست خان. آزاد خان او محمدخان بلوڅ سره مقايسه شي؛ کيدای شي ددوستانو او دښمنو فرق

ولري چه‌سرداران دښمن او هغوئ یعـني محمود، اشـرف، سیدال او زبردست خان ملي دوستان وو.

پرته له هغو تاریخونو چه‌ د محمدزائیانو په دورکښې لیکل شوي؛ نور مؤرخین داخبره نه‌کوي چه مکناټن د وزیر اکبرخان په‌لاس وژل شوی، یاهري سنګهـ. پښتانه دتاریخ په رڼاکښې لیکي چه دغه دواړه غازیانو وژلي دي.

کله‌چه دانګلیس پوځ دجلال آباد په لور روان ؤ. وزیراکبرخان چه دغه‌وخت لا په وزیر نه‌یادیده، دمحافظ په‌توګه انګلیسي پوځ سره روان ؤ. مګر غازیانو دده مخ ته ونه‌کتل. انګریزان ئې تباه کړل.

دنوای معارک مؤلف وایي‌چه اکبرخان دامیردوست محمد خان خبره له‌انګریزانو سره پخه کړه چه هغه‌به راځي. پاچا به وي او پخپله‌بامیانوته لاړ او له هغه‌ځایه تاشقرغان ته‌ورسید. څه موده وروسته شهزاده فتح جنګ پادشاه کیږي او وزیراکبر خـان دهغـه دوزیر په حـیث ټاکل کـیـږي. اوس هغـه‌لیک ته‌پاملرنه وکړئ چه وزیراکبرخان یې‌قرآن شریف په حاشیه‌کښې لیکي (فتح جنګ دشاه شجاع زوي ؤ).

## دوزیر اکبرخان لیک دشاه فتح جنګ په‌نوم سراج التواریخ ۱۸٤مخ:

په دغه نیک مرغه زمانه‌کښې‌چه سپهرمکان، سلطان بن‌سلطان ابن‌الخاقان شاه فتح جنګ چه‌پادشاه‌دی او بنده د الله محمد اکبر دامیردوست محمدزوي دوزارت په رتبه سرلوړی کړی یم. د هغوئ دخاطر د تسکین د پاره اوخپل دظاهر او باطن دتسلۍ دپاره ماعهد کړی او قسم په واحد اولاشریک خدای عزوجل او محمد رسول الله (ص) داوتعالی او ټولو پیغمبرانو اوکبارو څلوریارانو او ائمه اطهار رضوان الله علیهم چه ممدوح سلطان په زړه اوځان په‌پادشاهی پیژنم او دهغه اطاعت لازم بولم اوپرته له هغه‌څوک پادشاه نه بولم. بې ددین‌اودولت له‌خدمت بله لاره نه‌نیسم. په خپل‌ځان؛ سر اومال دممدوح پادشاه خدمت کوم. او هغه‌کار به‌چه پادشاهۍ سره ورنه

وې ونه کړم . د ممدوح سلطان دحکم محکوم به یم. دهغه امر پرځان ، ملک او لښکر عملي کوم. بلکه واجب او لازم بولم . هرڅوک چه ممدوح سلطان په پادشاهۍ ونه پيژني او له حکم څخه ئې سرغړونه وکړي؛ زه چه محمد اکبر دامیردوست محمد خان زوي يم دهغه دسر دمال اوناموس دښمن به یم. که چيرې زه دسلطنت مال، ځان او ناموس سره دښمني وکړم ، ظاهر او باطن کښې په اشاره یاکنایه یادبل چاپه اشاره اوالقا دهغوئ يعنې د خدای او رسول دامر مخالف به یم. یادخیانت او غدر لاره ونيسم؛ دخدای عزوجل، دمقربو ملايکو په لعنت اوغضب دې و رسم . د آخرالزمان پيغمبر ، دامامانو او دين دشرع دمجتهدينو له نفرين سره دې مخامخ شم او که چيرې په خپل دغه اقرار ثابت قدم اوراسخ دم ونه اوسم د خدای له رحمت او د حضرت مجتبی محمد مصطفی صلی الله علیه وآله وسلم له شفاعت نه دې بې نصيب شم. فقط مهر اودستخط مې وکړ. محمد اکبر

اوس چه هر مسلمان افغان دقرآن شريف په حاشیه کښې دغسې يو تعهد ولولي؛ نو اعتبار ورباندې کوي. مگردې نه مخکښې ده له انگريزانو سره دامیردوست محمد دبیرته راتگ خبره پخه کړې او ډیر چټک له خپل دغه تړون څخه واوښت او داخبره ئې پلمه کړه چه فتح جنگ انگريزانو ته لیک لیږلی دی.

داسې کیدای شول چه په اقرارکښې بې دغه تکی ځای کړی وای. له دغو پیښو وروسته (١٨٤٢ع) کال کښې داحمدشاه بابا کورنۍ ټول کسان دهند په لوري بوتلل شول اوکابل امیردوست محمد ته وسپارل شو. د احمدشاه بابا کورنۍ کښې واړه شهزادگان، میرمنې او ړوندشاه زمان ؤ . چه وروسته په سرهندکښې وفات او هلته ښخ دی، او دافغانستان پنځه نوي کلنه امپراتوري ړنگه شوه . سردارانو چه افغاني توره ئې له ملاخلاصه کړې او انگلیسې توره بې ترملا تړلې وه ؛ يو سلو اووه دیرش کاله ماته گوډه پادشاهي وکړه.

سراج التواريخ ليکي : په جلال آباد کښې عبدالعزيز خان دجبارخيلو خان، داحمد شاه بابا کورنۍ ته ورروستی احترام‌او عزت وکړاو بيايې د پېښور په لور وليږل. کله‌چه‌اميردوست په‌بخاراکښې نظربندۇ او شاه شجاع کابل کښې دانگريزانو په مرستـه‌پادشاه ۇ . د سراج التواريخ لــه قوله دوست محمدخان خپل فاميل ته وويل: چه تاسو ټول کابل ته‌لاړشئ. شاه‌شجاع مو په عزت ساتي. لکه ځنگه چه زما د زوي غلام حيدرخان فاميل سره ښه وضع کوي او ښه ئې ساتي. دلتـه بيادغه دوه اخلاقه ځرگنديداى شي.

په دې ترتيب په‌افغـانسـتـان کـښې داحـمـد شـاه‌بابا هيڅـوک پاتې نه‌شـول اوسردارانو په‌ظاهره د سر پاينده خان د وژلو بدل واخيست . حال داچه خپلم پاينده خان اوميرمن ئې لويه ادې ښه افغانان ۇ . مگرداچه له‌دوئ نه ډير خپلچاري زامن پاتې شول. خو دهغوئ مقام داحترام وړدی. البتـه پاينده‌خان په هغه‌جرگـه کښې‌ۇ چه دمياغلام محمد هندي په‌کورکښې جوړه شوې وه او غوښتل ئې شاه زمان‌معزول کړي. اما دا ويلی شو چه پاينده خان دد سيسې په عمق او ريښونه پوهيدی.

داحمد شاه بابا دکورنۍ ډيرغړي په‌کشمير، هنداو پاکستان کښې ميشته‌پاتې شول . داسې‌چه دوخت‌له‌تيريدو نه داهيره شوه چه‌دوئ ځوک دي هرځه‌ئې بدل شول. په‌کابل کښې دشهزاده عبدالعزيز په نامـه يوه سړي ژوند کاوه، چه ويل کيدل داحمد شاه بابا له کورنۍ دی . دغه سړي تجارت کاوه او دگلانو روزلو شوق ئې درلود. له سياستـه ليرې گرځيده . يو بـل سړی د شهزاده احمدعلي دراني په نامـه له هندنه کابل تـه‌راغی. دادبي انجمن اودکابل راډيو رئيس ۇ . لهجـه ئې هندي فـارسی وه. يوه سړی ۇ . خو سياست ته ئې مخ نه شواړولی . دا وخت د ظاهرشاه د پادشاهۍ لومړۍ لسيزه وه .

دغـه راز ما په پېښور کښې د وفادارخان د اعليحضرت شاه زمان دلوي وزير دوه ورونه وليدل چه د وفادار خان اولادو ځخه ۇ چه مشر ورور ئې په سردارعارف

مشهورۀ او له افغانستان سره ئې ډېره مینه درلوده. دغه وخت به دی داتیاکلو ۀ. کال (١٣٦٦ هـ ش ). مګر یوازي دانه‌دي په زرهاؤ خلک هند، پاکستان او کشمیر کښې میشته‌دي چه‌دسدوزی، دراني او محمدزي په نومونو یادیږي. لنډه داچه داحمدشاه بابا دکورنۍ وروستی پړاو همداؤ.

# داحمدشاه بابا له کورنۍ سره دخلکو مینه

دلته په کاردي یوڅوخبرې په دې باب هم وکړو چه داحمدشاه بابا له کورنۍ سره دافغانستان خلکو څومره مینه درلوده؟

احمدشاه بابا ته ملت دومره احترام درلود چه د هغه داندازې معلومول څه آسانه کار نه دی. مگر ډیر وروسته دغه اندازه څه معلومیدای شي. ملت ده ته بابا ویل. خو بابا سپین ږیري یا د ډیر عمرخاوندنه ؤ. پنځه ویشت کلن پادشاه شو. پنځوس کلن وفات شو. مگر داچه سپین ږیري افغانانو ده ته بابا ویل اوس ئې هم وایي. دا داحترام گلونه دي چه دهغوئ مبارک حضورته ئې وړاندې کوي.

اعلیحضرت تیمورشاه داحمدشاه بابا په اعتبار ښه آرام وچلید. شاه زمان سره ملت په سراومال ودرید. بالاخره ئې دشاه شجاع په لومړي وار ښه هرکلی وکړ. حتی شاه شجاع چه ډیره لویه خطا وکړه بیا هم خلکو ورسره همکاري کوله. چه دانگریزانو له منگولویې خلاص کړي. حتی دده دمرگ یاقتل په وخت کښې یوه شاعرڅوشعره ویلی چه نور افغاني مؤرخین اولیکوال دغه د شاعرغوړ مالي بولي. مگر نظرونو رو شواهدوته فکرکیږي؛ دمره پادشاه غوړه مالي کومه معنی نه لري. دادشاعر دزړه آوازدی. دادی شعر:

شاعرغلام محمد درویش دباقرشاه فقیه لمسی

طرفـــه ترنقــــشـــۀ بـه کـــابـل شـــد
خـــارج از مـــرکـــز تعـــقل شـــد

سلطنت زیب شه شجاع الملک
متوکل علی التوکل شد
بامدادان پی غزا بیرون
تا تن چند بی تأمل شد
در رهش از قضای ربانی
قاتلش با کسان مقابل شد
آن سکندر منش فلاطون عقل
بند در مطرح تغافل شد
از قضأ وقدر بسمع همه
چونکه پنهان خطاب اقتل شد
پس چنان دست جور بگوشدند
که بیرون از حد تحمل شد
تن سمین وجسم نازک شاه
از دم تیغ پاره چون گل شد
رفت زین ملک دون بخلد برین
صاحب حشمت وتجمل شد
موي سر بسیکه کند اهل حرم
پر سراسر سرا از سنبل شد
از پی جمع ماده تاریخ
صورت عقل محو بالکل شد
هاتفم گفت آه ونالـه برار
شمع دولت به صبحدم گل شد

په دغه شعر کښې ویل شوي : شاه غزاته روان ؤ. هغه پادشاه چه دسکندر په څیرؤ

او دافلاطون عقل ئې ؤ، قاتلانو مړکړ.

دنواى معارك په حواله شاه شجاع غوښتل نايب امين الله خان لوگرى خپل لوى وزير وټاكي او نواب زمان دنواب اسد خان زوى (چه دوزير فتح خان ورور ؤ) دځان دپاره لوى وزارت مناسب باله. نو دنواب زمان زوى شجاع الدوله هغه ورځ شاه شجاع وواژه چه شاه شجاع له بالاحصاره ووت او دسياه سنگ په لورى روان ؤ. هلته افغاني لښكر چه مخ په جلال آباد دغزا دپاره تې دشاه شجاع انتظار كاوه. دسياه سنگ او بالاحصار ترمينځ ووژل شو او لښكرې سره پاتې شو؛ حالات بدل شول.

دشاه شجاع وژنه دشخصي اختلاف په وجه وه او يوه سردار مړكړ.

# د شاه شجاع د حالاتو تحليل

څرنګه چه شاه شجاع په تاريخ کښې نوم بدی دی اوله بلې خوا داحمدشاه بابا لمسی دی او په حقيقت کښې درانی وروستی پادشاه دی. دده دحالاتو څه تجزيه په کارده. دلته د (افغانستان درقرن نزده) کتاب څخه چه دظاهرشاه ددورې ديوه وزير له خوا يعنې سيد قاسم رښتيا ليکلی؛ څو کرښې را اخلو. دغه کتاب کښې دسردارانو بداعمال ډير ليکل شوي؛ مګرله دې امله چه‌ليکونکی وزيرؤ او ظاهرشاه پادشاه، دځينو کلماتو په اضافه ئې داسې‌رنګ ورکړی چه ګواکې داسې پيښې شوي، خو سرداران ښه‌خلک ؤ. پاملرنه وکړئ: « لنډه داچه فتح خان دشاه محمود سدوزي دپاره ډيره هڅه وکړه؛ مګرهغه ضعيف اوراحت غوښتونکی ؤ. شاه زمان هم دبينايي له نعمته محروم شو. نو خلک د شاه‌شجاع په خوا ودريدل. دشاه‌شجاع دراتګ په ورځ دبابر د باغ په خوا کښې دکابل او اطرافو څخه پنځلس زره (ځينو يولک پنځوس زره ليکلي) خلکو دهغه هرکلی وکړ. شاه شجاع جاه طلب، زړه ور دزغم او صبر سړی ؤ. مګر دده په‌کوښښونو دملت هيلې ترسره نه شوې.

شاه شجاع نواب اسد خان‌دپاينده خان زوي چه د شاه زمان دړندولو په وجه بندي ؤ؛ له بنده خوشې کړ. ددې دپاره‌چه فتح خان او دهغه وروڼه پخلاکړي، شاه شجاع فکر کاوه چه دسردار پاينده خان دوژلو په وجه دغه وروڼه پاڅيدلي دي.

فتح خان دشاه شجاع دربارته راغی او په غزني کښې دشيرمحمد خان له خوا چه دشاه شجاع لوي وزير ؤ؛ دده هرکلی وشو. دوست محمد خان ته‌ئې يولک روپۍ ورکړې. ددې دپاره چه دښمني بيخي ورکه شي. ددوست محمد خان خوريې هم‌وکړه مګر دغو ټولو هڅو څه ګټه ونه رسوله او سردارانو خپل مخالفت ته دوام ورکاوه».

دغه دوره په دې مهمه ده‌چه دتاريخ اوښتون‌دی. يعنې امپراتوري په امارت

بدليبږي. دراني امپراتوري په محمدزايي امارت بدليدل پرته له دراني يامحمدزي يوملي مصيبت دی؛ چه ژوره كتنه غواړي .

داهم څرگنده ده چه ملي مشران په بهرني حالاتو نه پوهيدل. كه دوئ دبهرنيو دښمنانو په دسيسو پوهيدای؛ دملي رغاونې دپاره بهدوئ له شخصي اختلافاتو تير شوې وو. كه ملي رغاونه موجوده وای خارجي طاقتونه بريالي كيدای نهشول. اوس به افغانستان په آسيا كښې يو داسې طاقت وای چهدنړۍ په معظمو دولتوكښې به شميرل كيدای. كه داحمدشاه بابا سياستونهاوملي اخلاق اوقوانين پرځای پاتې وای بيا به دغه حالات نه راتلل.

مگر سردارانو پهخپلو ظالمانه دسيسو هغهاخلاق خو لاپريږده چه داحمد شاه بابا له اولادې ئې څوک پهافغانستان كښې پرې نښودل. وروسته ترهغه چه شاه شجاع دوزير فتح له خوا رنجيت سنگهـ تهورکړ شو. دوهم پادشاه ايوب شاه ؤ؛ چه دفتح خان وراره نواب محمدزمان رنجيت سنگهـ ته تسليم کړ او په لاهور كښې مړ شو. په لاهور كښې اوس هم يوه محله دايوب شاه په نامه يادیږي.

ايوب شاه دتيمورشاه زوې ؤ. چه سردار عظيم خان په پادشاهۍ منلی ؤ. مگر پردل خان سردار هغه ونيو. داسې چه له هغهئې دملاقات خواهش وکړ او چه بالاحصارته ننوت دهغه دنيولو اقدام ئې وکړ. د ايوب شاه زوي شهزاده اسمعيل مدافعه وكوله؛ خو ووژل شو. داسې ښكاري چه ايوب شاه يو اخلاقي سړیؤ. چه دلاهور خلكو پهښهنظرورته كتل او دده محله اوهديره دده په نامه يادیږي او قبريې ښه ساتل شوي.

داحمد شاه بابا دكورنۍ حالات پههند ياهنداو پاكستان كښېدځيرلو وړدي. چه دا يو بيل كار دی. مگر د سردارانو عمل چهملي گتمې ئې ترشخصي بديو اوگتوځاركړلې؛ هم په بشپړه توگه د څيړلو وړدي. كه څه هم دغهوخت (اوس) دسردارانو كار پای ته رسيدلی او دوئ په نسلي انحطاط اخته دي. خو تاريخ بايد خپل قضاوت وكړي.

مونږ افغانان باید دافغاني تاریخ رمز درک کړو. دبربادۍ عوامل په گوته کړو. ځو په راتلونکي کښې د یو لړ خطاگانو مخه ونیول شي. که مونږ دا کار ونه کړو. بیا هم تیاروکښې خپله لاره ورکوو. په تیره بیا په دې زمانه کښې چه دافغان دتاریخ دمغشوشولوکار په بیړه روان دی.

کال (۱۸٤۲م) دافغانستان دپاره ډیرمهم کال دی. په دې ترتیب چه د افغان انگلیس لومړۍ جگړه او د افغان ملت دتورې بریښ، داحمد شاه بابا دکورنۍ خاتمه اودسردارانو امارت جوړیدل په دغه کال کښې پیل شوي.

یوخارجی مؤرخ وایي په کال (۱۷٦۲م) کښې داسې ښکاریده چه ټول هندوستان داحمد شاه بابا په لاس کښې وي او که چیرې دی هلته پاتې وای دده د شخصیت او پوهې له مخې دغه لوی ملک به دتل دپاره له افغانانو سره پاتې ؤ.

دنوامبر ددوهم ملي پاڅون افغانستان ته دومره حیثیت ورکړ چه خپلې ټولې له لاسه وتلې ځمکې ئې بیرته ترلاسه کولی شوې. مگر داسې و نه شول. دغه وخت وزیر اکبرخان او نورو سردارانو له انگلیس څخه یوازې امیر دوست محمد او د هغه امارت وغوښت.

دشاه شجاع په دوهمه بد مرغه دوره کښې سربیره په موجوده افغانستان او هغه سرحدي ځمکې چه دډیورند او گندمک دتړنونو په اثر بیلې شوې وې؛ د بلوچستان سیمه ئې هم درلوده. مگردوست محمد په کابل اوکوهدامن قانع ؤ. یوه ورځ د پښتونستان یوه مشر وویل: ملت باید یوه هوښیاري کړې وای؛ سردارانو چه دکابل پولاوونه او میوې یې غوښتلې؛ دغه به ئې بې له جنجاله ورکولی او ملک به ئې ددوئ له شره خلاص کړی ؤ ځکه په دوئ کښې دلویې هیڅ اثر نشته. کله ایران ته تسلیم. کله انگریزته اوکله روس ته. چه انگریزان لاړل؛ دوئ هم ختم شول. که دغه قضاوت دسردارانو په برخه کښې ډیرسم نه وي نو ډیرکم هم نه دی.

اوس به یوې بلی خبرې ته را شو چه هغه دبارکزیو اومحمدزیو توپیردی.

# بارکزي او محمدزي

په تاريخ کښې ډيرځله محمدزي ،بارکزي ياد شوي. لکه بارکزي ورونه يابارکزي سرداران. بايد وويل شي چه دمحمدزي نوم وروسته له سردار پاينده خان څخه مشهور شوی. داچه محمدزي په بارکزو ورګډيږي په پښتنوکښې دامعمول دی چه يو په بل ګډيږي بالاخره څلورو پلروته رسيږي. چه غرغښت بېټن، سړبن او کرلاڼ دی. البته داڅلور واړه سره ورونه‌دي. د محمد او بارک ترمينځ آته پلاره نور هم تير شوي. له دې امله چه محمدزي په شميرکښې ډيرلږوو. نود ضرورت په‌وخت کښې ځان بارکزو پورې تړي په حقيقت کښې دوئ بارکزوته هم مخه نه ده ورکړې.

په دې دليل چه‌پښتانه ټول په‌پلروکښې سره يوځای کيږي چــه محمدزي بارکزي بلل هم سړبني. مګر زمونږ مطلب له محمدزو يا سردارانو څخه يوازې دوزير فتح خان ورونه او د هغوئ اولاددی چه ملي تاريخ کښې ښه نوم‌نه‌لري او ددې خبرې مسؤول‌دي چه لوی افغانستان ددوي په‌لاس تجزيه شوی، امپراتوري ئې په امارت بدله‌کړې اوسخت ور پورې نښتي .دوئ دسکهانو په مقابل کښې ماته وخوړه او انګريزانو ته تسليم شول. مګر په‌محمد زو کښې په نسبي صورت ځينې کسان ښه هم وو. مګر يو سپيڅلی او بشپړ افغان پــه دوئ کښې پيدا نه شو. که څه هم په دوئ کښې وزيراکبرخان ، شيرعلي‌خان ، ايوب خان او امان الله خان ښه ياديږي خو دتاريخ له ژورې کتنې سره څرګنديږي چه له انګريزانو سره ددوئ تعلقات موجود ؤ .

امير شيرعلي خان ددوست محمد خان تعلقات وساتل. وزيراکبرخان تعلقات

وساتل چه مخکښې ورته اشاره شوې ده . حتی دافغانستان په پنځو وروستيو پيړيو کښې کتاب دايوب خان دمکاتبو يادونه کوي. امان‌الله خان داستقلال له تړون سره دډيورند خط ومانه او له خط هاپلو افغانان ئې دانګريزانو ظلمونوته پريښودل .

په ۱۳۲۷ کښې انګريزانو دپښتونستان دداعيې په مقابل کښې هماغه دامان‌الله ۱۹۲۱ تړون ذکر کړ چه خبره فيصله ده . ځکه امان‌الله خان يوخپلواک پادشاه ؤ.

ACKU

# د شاه شجاع او امیر دوست محمد پرتله کول

۱- شاه شجاع دانګلیسانو په لاس کښې کښیوتی اسیرؤ ؛ چه کابل ته د انګریزانو ترسرپرستې لاندې راغی.

امیر دوست محمد آزاد ، دبریالیو وطنپالو مجاهدینو په سرکښې ولاړؤ چه پرخپلو پښو رضا او رغبت راغی . سراوپښې ئې لوڅې کړې مکناټن ته تسلیم شو.

۲- امیر دوست یوازې د کابل، جلال آباد، غزني او کوهستان پادشاه ؤ. شجاع سربیره پردې د بلوچستان او سند علاقې هم درلودې.

۳- شجاع دانګریزانو خلاف لیکونه ولیږل او خلک ئې په دې پوه کول چه انګریزانو بدلوزي کړې او غواړي دلته پاتې شي.

امیردوست محمد له هیڅ مناسبې موقع نه ګټه وانه خسته چه ذکریې په تفصیل سره راغلی دی.

شاه شجاع اوامیردوست محمد دواړه تریوشانې قراردادونو لاندې دانګریزانو شرطونه منلي؛ حال داچه دمحمدزو ددورې تاریخونه شاه شجاع بد او امیردوست محمد ښه بولي. چه دخلکو ذهن تراوسه داصلاح وړ نه دی.



Emir Dost Mohammad, the leader of he Afghans who was deposed by the British in favor of Shah Shuja in 1839, eturned to power after British forces in Kabul were annihilated during their ll-fated retreat in 1842.



Shah Suja, Afghan king, who was assassinated by enemies after his British protectors left Kabul.

Author's Collection

ACKU

# د شاه شجاع د وژلو

## په برخه کښې د روح الله ليک

دزواياى تاريخ په( ۱۳۱مخ) کښې د نايب امين الله خان دزوي ليک چه روح الله نوميده ، خپل پلارته داسې ليکي: زما څښتنه ،صاحبه اودهيلو مرجع !

« دشاه شجاع دحالاتو په برخه کښې چه کوم ليک تاسو ليږلى ؤ؛ را ورسيد. له رقعې پوه نه شوم چه دغه کار ستاسو په خوښه شوى؛ يا پرته ستاسو له خوښې؟ دادى مجيد خان مو در وليږه . هيله ده چه پوره احوال راوليږئ چه مونږ پوه شو. تر اوسه ډير انديښمن يو. مجيد خان يوساعت هم مه ځنډوئ.

په دې برخه کښې دحق تعالى اراده همداسې وه . لومړى خو داسې بايد نه واى شوي اوس چه شوي دي زما څښتن دې په دې خبرې پسې نه ګرځي اوداسلام دپاره دې هڅه وکړي. نور هغه صاحب مې خوښمن دى. دلته خــيريــــت دى. دهغه ځــاى احوال ليکلى راوليږئ.

ستاسو وړوکی مريی روح الله

# د دوست محمد تسليميدل
# او افغان ملي تاريخ کښې ترخه خاطره

په داسې حال کښې چه د بمبيي لښکر د کابل د شا اوخوا له غازيانو سره لاس او گريوان ؤ او هره ورځ يې تلفات ورکول او هيڅ پرمخ نه شو تلای. د (۱۸۳۹ع) دډسمبر په ۱۷ د گرمن ډيني DENNI خبر ورکړ چه دوست محمد د ازبکو له سپرو سره باميانو ته رسيدلی او يوازې شپږ ميله له مونږ نه ليرې دی. بله ورځ يې وويل چه څلور سوه افغانان چه دوه توپونه ورسره دي په کلا راغلل. دوست محمد سره شپږ زره ازبک سوار کاران دي او موقف يې ډير خطرناک دی. که څه هم افغانان مو د توپخانې تر اور لاندې نيولي.

مکناټن ميجر راولس ته وليکل: «زه په تا اعتماد کوم. زه عصباني شوی يم او خپله موازنه مې له لاسه ورکړې؛ دافغانانو پاڅونونه پای نه لري!».

بله اطلاع راغله چه دوست محمد له مجاهدينو سره دکوهستان خواته لاړ چه کابل ته نژدې او پرکابل باندې دحملو تياری روانې دي. ډگروال سيل له الکساندر برنس سره يوځای شو چه دکوهستانيانو مخه ونيسي او هيله من به شو چه دوست محمد ونيولی شو. کتاب (له خيبره هاخوا) وايي چه ددوست محمد نيول يوه غوره آرزو او اتلوالي ده. انگليسان تتمدرې ته راغلل . دډگروال سيل مرستيال ايډورډ کنولي ووژل شو. له دوست محمد سره سربيره ازبک سپاره دکوهستان مجاهدينو سره يوځای شول. له باميانو نه هم انگريزان ووتل او کابل ته نژدې راغلل چه دمرکز دفاع وکړي شاه شجاع وپوهيدی چه دوست محمد را نژدې شو؛ مکناټن هم وارخطا شو. مکناټن برنس او سيل باندې په غصه شو چه ولې مو دښمن پرينبود چه کابل ته نژدې

يوازې شل ميله مسافه پاتې ده. چه کابل ته ورسيږي او مرکز سقوط وکړي. دنوامبر دوهمه ورځ ډيره لهخطره ډکه وه . پروان ،کوهستان ، باميان ټول آزاد شول.

دوست محمد داسې شعارونه ورکول: « دخداى او پيغمبر په خاطر انگريزان له خپلې پاکې خاورې وشړئ. په ماپسې راشئ کنه زه مو يو له لاسه وتلى سړى يم ».


دغه شعار ډير عجيب دى . له لاسه وتلى څه معنى؟ يا زه ورک يم (!)

بيرته دکتاب خبروته ځو: له دوست محمد سره غازيان هم په وړاندې روان وو. انگليسي عسکرو ماته وکړه. ازبک او کوهستاني لکه تندر غورځيدل؛ سياسي افسر لارډفيليډ ووژل شو او انگريز يوازې غوښتل خپل ټوپک وساتي.

برنس مکناټن ته يو عاجل ليک وليږه . دنوامبر (۳ - ۱۸۳۹ ع) « چه ملي قواوې مخ په کابل در روانې دي؛ يوازې که دمرکز دفاع وشي نور افغانستان له لاسه وتلى دى » . د برنس له عاجل پيغام سره مکناټن خپلې قواوې ځاى پر ځاى کړې او ديوه بد سقوط په انتظار کښې کښيناست . غربي او شرقي غلځو د هرډول مرستې لارې تړلې وې.

يو واربيا کتاب پريږدو خپلې خبرې کوو. له حالاتو داسې ښکاريږي چه همدغه د (۱۸۳۹ ع ) دنوامبر دريمه دانگليس د بشپړې ماتې او تباهۍ تاريخ ؤ. د (خيبرهاخوا ) کتاب له مستندو راپورونو له مخې چه همدغه دافغانستان په ملي تاريخ کښې دلوي برى تاريخ دى؛ مگر وگورئ چه سردار دوست اوس څه کوي؟

دوست محمد بريالي غازيان پريږدي. ( هماغه کتاب) لکه د نجات فرشته دمکناټن پښوته دريږي او ټول انگليس ته نجات ورکوي. ( تصوير ته پاملرنه وکړئ) او خپله توره مکناټن ته ورکوي او بيا خپل تش لاس مچوي چه له خپله کاره راضي دى او دزړه له کومي تسليم شوى. داخبره مشهوره ده چه کله مکناټن واوريدل چه دوست راغلى. ده فکر وکړ چه کار تمام شو او دى هم ونيول شو. مگر قصه عکس ددغه تصور ؤ. سردار تسليم شوى پخپله خوښه او رضا . داده د افغان د ملي تاريخ ترخه خاطره چه معافي نه لري. مونږ کولى شو ډيرې خبرې په دې موضوع وکړو.




Rising in the background is the almost impregnable fortress and citadel of Ghazni reduced by the British Army of the Indus during its 1839 invasion of Afghanistan to clear the way to Kabul. In the foreground are two historic minarets.

مگر دعادت له مخې ځينې خلک د پيرنگي دخولې خبرې خوښوي. نوودې گوري (دخيبرهاخوا يوه لار دانگليس دبدمرغۍ ليکونکی جان والر ۱۸۵-۱۸۶ مخونه) دنيويارک چاپ انگريزانو سره دغه سوالونه ددوست محمد د ناڅاپي تسليمۍ په برخه کښې مطرح وو.

۱- دوست محمد په څه سبب ځان تسليم کړ. په داسې حال کښې چه بری يې ترلاسه کړی ؤ. ښايي چه ده فکرکاوه. چه انگريزان بېرته پر پروان باندې حمله وکړي اودی به ونيول شي.

۲- بله فرضيه انگليسانو سره داده چه دبري په يوه پړاوکښې تسليميدل به ښه وي ترڅوچه د ناکامۍ په صورت کښې تسليم شوی وای.

۳- دده دکورنۍ يو شمير غړي پنجاب ته ليږل شوي وو. دا به دهغو په خاطر وي. دا ؤ دانگريزانو فکر دتسليميدو په برخه کښې. موږ افغانان يوبل ښه سره پيژنو. دوست محمد او ټول سرداران جاه طلب اوبهرني طاقتوته تسليم او داخل کښې

زمريان‌دي. دوست محمد يو بې‌غيرته‌بداخلاق (دبرنس درپوټ له مخې‌چه دی يې ليدلی ؤ) سړی ؤ؛ چه دملي تاريخ پرمخ يو تور داغ دی.

برنس او موهن لال چه‌دی يې څوکاله مخکښې دکابل دامارت‌په‌وخت کښې ليدلی اوذکريې راغلی ؛ لاهغه وخت ده غوښتل‌چه‌دعسکرومشري برنس ته وسپاري.

دملي تاريخ له نظره د (١٨٣٨ع) برې به‌ډيره لويه‌فتحه وه‌ترهغه‌چه (١٨٤٢ع) کښې وشوه . ځکه ازبک سپرو، کوهستاني غازيانو اوغربي او شرقي غلځيانو که يو ځای په يرغل لاس پورې کړی وای؛ نه يوازې افغانستان بلکه لوی افغانستان به بيرته جوړ او آزاد وای. دغه وخت سم ملي پاڅون جوړؤ . څلورکاله وروسته خو ملي قواؤ هرو مرو خپل‌لومړنی طاقت‌له‌لاسه ورکړی ؤ. دنورو تاريخونو له‌نظره خو (١٨٤٢ع) اهميت لري. مگر دملي تاريخ (١٨٣٩ع) ډېر اهميت ورؤ.

# د موهن لال او برنس کتنه له امیردوست محمد سره!

دکـال ۱۸۳۲ دفـبـروري په ۱۱ برنس او دهغـه ملګري له لاهورڅخـه کـابل ته دامیردوست محمد دلیدلو په مقصود وخوځیدل اودوئ په پېښورګښې یوه میاشت پاتې شول. په دغـه وخت کښې دوئ د سردار سلطان محمد دامیردوست محمد دناسکه ورور میلمانهؤ. سلطان محمد له کابل سره مقاومت کاوه او رنجیت سنګهـ ته یې باج ورکاوه. نورنجیت سنګهـ د پېښور ددرلودلو دعوی کوله. څرنګه چه برنس غوښتل دوست محمد ملګری کړي او ددوست محمد او رنجیت سنګهـ ترمینځ داخبره وه چه سلطان محمد ددوست محمد پر ځای رنجیت سنګهـ ته باج ورکاوه. نو برنس نه غوښتل زیات وخت په پېښور کښې تیر کړي. برنس وایي سلطان محمد دیرش نکاحي او غیر مشروع ښځې درلودې او شپیته اولادونه یې وو او دی سم نه پوهیدی چه څو اولاده لري؟

دسلطان محمد دوو زامنو برنس ته دکابل په باب څه معلومات مخکښې له مخکښې ورکړل چه هغه دادي: کابل متغیره هوا لري، خلک یې ښکلي دي او ښه بازار لري مګر قیمتونه اوچت دي. په ژمي کښې سړکونه په واورو او یخو پټ وي. چه دښویدلو امکان زیات دی. او ډیرې ښځې بداخلاقه دي او دامتل یې ورته وو ایه چه دپېښور وړه بې جوارو نه وي او دکابل ښځې بې یاره. برنس وایي مګر په افغانستان کښې داخبرې توکې نه دي. ما پخپله یوه صحنه ولیده چه خلک راټول وو. معامله داوه چه یوه افغان خپله ښځه کوم پردي سره لیدلې وه او دواړه یې وژلي ؤ. دغه سړي خلکوته داخبره څرګـنده کـړه چه ما دواړه په دغو بدو روابطو ووژل. او افغاني

غيرت بله لاره نه لري.

دکابل دخوځيد په وخت کښي په ۱۹ داپريل الکساندر برنس او دده ملگرو افغاني جامې واغوستې. الکساندر برنس خپل نوم سکندر کړ او ځان ئې ارمني ښود. موهن لال خپل نوم حسن جان کړ او مسلمان. دموهن لال اسلامي تعاليم او قواعد زده وو او پرځای کول يې. برنس اوملگري يې کابل ته را ورسيدل. بيا دبابر دلچسپي دکابل له ښکلا سره بيانوي. دی وايي چه دکابل نفوس به دشپيتو تر اتيازرو په شااوخواکښې وي دوه منزله کورونه دلرگيو په مرسته جوړ دي او درې ميله دايره به يې نيولې وي. کابل له پيړيو يوتجارتي ښاردی. دبرنس موهن لال او دده دملگرو په عقيده چه دوئ په هند کښې داسې بازارنه دی ليدلی او هرڅه يې دهند تر بازاروښه دي. د شپې له خوا د هردوکان په سر يو څراغ رڼاکوي؛ دهرصنعت او تجارتي مال برخې په دغه بازار کښې معلومې دي. لوئ بالاحصار چه بې شميره پادشاهان يې ليدلي؛ دښار دښکلا يوه مهمه برخه ده. دکابل په يوه برخه کښې ارمنيان اوسيږي. دغه ارمنيان نادر افشار راوستي اودلته يې ميشته کړي. دوئ تجارت کوي او وبين يامي هم خرڅوي او په کال (۱۷۳۸ع) کښې کابل ته راغلي دي. دارمنيانو يوه مشر چه سايمن Simon نوميده اودکابل خلکو سليمان ورته ويل. برنس ته وويل چه دوست محمد ( مې ) يا مشروب منع کړي اوډير خلک يې بيکاره او بې روزگاره کړي اوهم يې هيله څرگنده کړه چه له دوست محمد نه ددوئ دکار دوهم ځلې اجازه واخلي.

په کابل کښې قزلباش هم شته. چه اصلاً افغانان نه دي او له نادرافشار سره راغلي. دوئ ته په ښه نظرنه کتل کيږي. مگر له نظره نه دي غورځيدلي. با نفوذه خلک په کښې شته. اوس دوئ دوست محمد سره خپلوئ لري اوځان شاهي کورنۍ بولي اوکارونه يې په لاس کښې دي. ددوست محمد مورله دغو خلکو څخه ده.

برنس اوموهن لال اودکتور گيرارډ له نواب عبدالجبار سره دامير دربارته لاړل. دوست محمد د برنس له هيئت څخه تود هرکلی وکړ. امير له برنس څخه ډير سوالونه

وکړل. لکه په اروپاکښې څومره پادشاهان دي؟ او ددوئ مناسبات په خپلوکښې له څه قراره دی؟ داچه انګلستـان بډای دی؟ دا دهند له امله دی چه ډیره پانګه لري؟ دوست محمد علاقه څرګنده کړه چه دچين په باب معلومات ترلاسه کړي او پوښتنه يې وکړه چه چينايان جنګيالي خلک دي؟ ولې دوئ بل رقم خلک ښکاري؟ ضمناً دائې هم وويل اروپاييـانو دومره وسله ټوله کړې څومره چه روسـان يې لري. دغو خلکوچه اميردوست محـمـد له نژدې ليـدلی؛ وايي ده په څوارلس کلنۍ کښې سړی وژلی اوبيايې په هرات کښې دخپل فاميل ښغلا کړيده او له هيڅ ډول نشې خلاص نه ؤ. ښځو سره يې علاقه درلوده. دوست محمدبرنس ته وويل چه دده دعسکرو سرپرستي په غاړه واخلي. دوست محمد زياته کړه سدوزي کورنۍ ختمه شوې. دبرنس ماموريت داؤ چه روسيې ته نژدې ملکونه له روسيې سره له نژدې کيـدو وژغوري او په دې منظور هيأت له کابل څخه بخاراته روان شو. دبخارا امير دجاسوسانو دغه انګليسي هيئت نه ؤ منلی او حتی اجازه يې نه ورکوله چه دبخارا ښارته ننوزي. دغه سړی اميرنصرالله نوميده. (جولای ۱۸۳۲م).

برنس يو ځلمی ماجرا خوښوونکی سړی ؤ. مخکښې تردې چه دی د شاه شجاع لښکرو سره کابل ته راشي؛ مهم ماموريتونه يې سرته رسولي وو. همدا چه دبخارا څخه انګلستـان ته لاړ؛ دانګليس پادشاه په شاهي مانۍ کښې دهغه هرکلی وکړاو دده په اعزاز ميلمستياوې وشوې. ددغه سړي معلومات او اطلاعات ؤ چه دبيلو بيلو هيوادو دتباهۍ سبب شو او دی په انګلستان کښې ديوه قهرمان ياتل په حيث پيژندل کيده.

# دخیبر له درې هاپلو یوه لاره
# د انګلیسانو د بد مرغۍ
# دافغان انګلیس لومړۍ جګړه

دا دهغـه کـتاب نوم دی چه جان ایچ ، وایلر John.H.Waller لیکلی دی. رانډم هاؤس نیویارک چاپ کال ۱۹۹۰ .

دغـه کـتـاب یو نـوی کـتـاب دی چه ښایسـتـه ډیر مـعلومـات لري. کله چه مـاخـپل یادداشتونه غونډول او له هرې مرحلې چه تیریدم نو یو نوی اثر به پیدا شو چه زما کار به یې نیمګړی کړلو . هرو مرو به مې دغه آثار لوستل اوخپل یادداشتونه مې اخستل.

دکتاب په سر کښې ددې خبرې ذکر دی چه دانګریزانو شپاړس زره عسکر مړه شول. سربیره پرهغوئ ددوئ فامیلونه اودکمپ کارکوونکي چه داهم په زرهاؤ وو.

دکتاب لیکونکي دخپل اثر دلیکلو دپاره ډیره څیړنه کړې ؛ لکه چه وایي : ماددغه کتاب په څیړنه کښې په تیره بیا دامریکادکانګرس په کتابتون کښې ، دانګلستان کتابتون، دهند ددفتر کتابتون اوسندونه، د نیشنل پورټریټ ننداړتون او دلندن دملي لښکر موزیم. کومه مهمه خبره چه دافغاني تاریخ ویاړؤ ؛ هغه په جهاد کښې دافغان میرمنو برخه ده ؛ چه دافغان روس جګړه یو مخ پر هغه پرده وغوړیده . هیڅ اشاره ورته ونه شوه. که څه هم سم نیمایي جهاد دوئ وکړ ؛ مګر متعصبو او بې غیرتو دانه یادوله. مګر په بازارکښې یې خرڅولې. لویه لویه دانګلیس او روس ترمینځ وه چه په دې لویې لوبې به بیا خبرې وکړو. او دانګلستان مشهور لیکوال اوشاعر په نولسمې پیړۍ کښې کپلنګ Kipling داچه افغاني میرمنې څنګه له خپلې

خاورې دفاع كوي؟ دكتاب ليكوال وايي لەحيرته سړى يخ ووهي؛ يعنې كنګړ شي.

کـه ته تېپي شـوې او پريوتې دافـغـانسـتـان په ځمکه
پښـــتنه راځي او غـــوځـــوي ســـتـــاپاتې ژوند
لاس غـځـوي ستـاتوپک تەاو بادوي سـتـا مـاغـزه
درومي ســتــا قـــرارگـــاه تەلکه يوســپـــاهي

تاسو پوهيږئ د شعر ترجمەلەيوې ژبې بلې ژبې ته دشعر قوت كموي مگر بياهم اثريې کتلی شئ. ددغه ليكوال پەعقيده لويەلوبەپای نەلري. دا دوه سوه كاله وشول چەلويەلوبه دوام لري.

تاريخ دتيـرووختـو هنداره دەاوپوسبق دى. داوس د پاره دې افـغـانان له خـپلې تاريخي هندارې څخه پوښتنه وكړي. چه چا هغوئ ته ډير تاوان رسولی؟

كه چيرى روسانو تاريخ سره مشوره كړې واى هيڅكله بەيې پرافغانستان نه واى دنگلي . هماغه غلطي چه انگريزانو كړې وه؛ روسانو وكړه.

دهندا او روسيې ترمينځ قوي افغانستان ددواړو پەگټه ؤ . پەداسې حال كښى چه ثابتـه شـوې افـغـانان دخپلواكى دپاره ډيره بيـه وركـوي. دروسانو مـداخلې پـه افغانسـتـان كښى امـريكې ته موقع وركړه چەځانتـه سيـاسي او نظامي رغـاونې په پاكستـان او خيلج كښې وكړي. ددې پرځای چه پخپله په افـغـانستـان كښې يې وكړي.

له خيبره هاخوا لار كتاب كښې يوې مهمې موضوع ته اشاره كيږي؛ داسې چه: كله په(١٨٣٩ع) كښې انگليسان افغانستان ته ننوتل، د خپلې سلاح پەښەوالي يې يقين درلود اودافغانانو وسله ورته ابتدايي ښكاريدله، ددوئ دغه اعتماد غلط ؤ. افغانانو پەخپله يوډول اوږده توپک جوړكړي (وطني ساخت) چه جزائيل نوميدل چه دانگريزانو ترمسكټس Muskets ئې ليرې او صحيح نخښې ويشتې . دانگريزانو توپخانه او مهمات دافغانستان په دروكښې بې فايدې او پەدوهمه درجه وسله

کښې راتلل. دانګرېزانو او روسانوځاني تاوان په (۱۸٤۲-۱۹۹۸ع) کښې سايي مساوي وي؛ مګر سياسي تاوان يې ګران دی چه اتکل شي دافغان انګليس دلومړۍ جګړې ناکامه خاطره له انګرېزانو سره دسنګاپور او جاپان ترشکست پورې په دوهمه عمومي جګړه کښې په خپل قوت پاتې وه.

وروسته دکتاب ليکوال يو بل مهم قدم اخلي او له کپتان کنولي انګليس چه د بنګال مشر دی، خوشحالي څرګندوي چه دلومړی ځل دپاره يې دروس دامپراتورۍ اودانګليس دامپراتورۍ درقابت موضوع په مرکزي آسيا کښې تشريح کړه چه همدغه لويه لوبه ده. له وينو ډکه لويه اوددغې لويې لوبې دلوبو ميدان افغانستان دی چه نه يوازې جګړه او عسکري لوبه ده. دجاسوسۍ پراخې شبکې او نور روحي فعاليتونه دي. او وايي چه د کپلنګ انګليسي ليکوال دې کورودان وي چه په خپل شعر او رومان کښې يې دغې موضوع ته شهرت ورکړ او مدارک يې برابر کړل. ډير ماجرا جو ځوانان د امپراتورۍ خدمت ته راغلل اودوينو دکمپوټ ( يوډول خواړه) په خوراک يې شروع وکړه. دبري په تمه. ډير فوق العاده ماهر عسکر وجنګيدل اومړه شول. د انګليس وطنپرست جاسوسان راغلل چه خپل هيواد دبري پولې ته ورسوي. مګر دباتورو افغانانو کاميابۍ پرې نه ښودل اوډير مړه شول او نور له خپلو ملکو راغلل چه کمپنۍ ته خدمت وکړي او خپل باداران بريالي کړي. لويې لوبې دوئ تباه کړل. دغه جاسوسان له ايران څخه نيولې ترتبت پورې خواره وو او تر (۱۹۰۷) پورې يې پای او انجام نه درلود.

# Gateway



Courtesy of the Directors, National Army Museum, London

**The British Army of the Indus invading Afghanistan in ۱۸۳۹ enters the Bolan pass on its way to Kandahar, Ghazni and the British goal, Kabul. Transit through these rugged gorges was made possible by a fragile agreement with Baluchi tribesmen who, however, all too often honored it in the breach.**

# د خيبرهاخوا يوه لار دانګليس
# د بدمرغۍ د کتاب لنډه نتيجه

د ملي تاريخ دپاره ديوه ښه محقق دتحقيق نتيجه به په دې مونږ ته په زړه پورې وي چه ليکوال ښايسته ډير سندونه او کتابونه په انګلستان او هندوستان کښې له نظره تيرکړي رښتيا چه کوم اسناد ده ته ديوه امريکايي لوړ رتبه مامور په حيث ښودل شوي؛ ديوه عادي څيړونکي د پاره به چاڅانته دومره زحمت نه وي ورکړی. نو دلته يې دافـغـان انګليس دلومړۍ جګړې غټ ټکي را اخلو. ځکه دهمـدغـه تاريخي وقايعو نتايج مونږ ترډغو وروستيو کلو پورې متأثره کړي يو:

په افغانستان کښې دانګليسانو بدمرغۍ يوه بده لاره ونيوله. حتی مخکښې ترهغه چه دانګليسانو څلور زره پنځه سوه ګارنيزيون عسکر په کابل کښې له مينځه لاړ شي او دهغـه دولس زره کمپ دکابل په شاوخوا جنګونو کښې د هغوئ يو زرو پنځه سوه عسکر وژل شوي يا سخت ټپيان شوي. چه ټول اتلس زره ښودل شوي. (حال داچه افغاني ليکوالو ترډې لږ ښوولي). (ودې کتل شي دجان والر دخيبرهاخوا کتاب مخ ۲۸۰) په حقيقت کښې مخکښې تردې چه دغه بدحالات رامينځ ته شي په جګړلک کښې څلور ديرش Combat کمبټ سپاهيان لګياوو او له افغانانو سره جنګيدل. اقتصادي تاوان هم له اندازې جګ ؤ چه دکال يو مليون پنځه ويشت زره انګليسي پونډه کيدل او دغه پيسې دهندوستان له خلکو اخستل کيدې، نه دانګليس له حکومت نه .د (۱۸٤۲ع) کال په آخر کښې دهند حکومت يوه اعلاميه خپره کړه او په هغه کښې يې دګورنر جنرال آکلنډ سياستونه محکوم کړل. دايوه خوښې ويره وه چه

روسان به‌له افغانستان سره نظامي تړون وکړي او هندوستان ته به راتير شي.

ددغې حـادثې اهميت په‌دې کښې دی چه مـاتې نه خوړونکی انګليسـانو دافغانانو دجزائيل توپکو په مقابل کښې چه په افغانستـان کښې دننه جوړيدل او دانګليسـانو تخنيک چه‌پرمخ تللی وه. له مقابلې نه عاجز شول او ماته‌يې وخوړه اوخپلې امپراتورۍ ته ئې لويه صدمه ورسوله.

# له شاه شجاع سره دبرنس کتنه

کله چه شاه شجاع دمحمود له خوا په (۱۸۰۹م) کښې له پادشاهۍ ولوید؛ هغه ناآرامهؤ او دبیا پادشاه کیدو په فکرکښې ؤ. په لودیانه کښې برنس ورسره وکتل. برنس وایي نازک رنگه جامې یې په ځان کښې وې. په ټوپۍ باندې یې یوشین ځلانده زمرد بریښیدی. شاه شجاع وویل دی غواړي مخکښې له دې چه روان کال پای ته ورسیږي خپل هیواد ته لاړشي او افسرده نه ښکاریده. ده ویل په ناحقه دی لیرې شوی دی. ده زیاته کړه شاه محمود دومره اختیارنه لري. لکه چه وزیر فتح خان یې لري. الفنستمون چه په (۱۸۰۹ ع) کښې شاه شجاع لیدلی ؤ؛ ویلي دي شاه شجاع دیوه شریف او باکرامت سړي په څیردی. مگر دی په ټوله امپراتورۍ کنټرول نه لري. شاه شجاع لکه خپل نیکه (احمدشاه بابا) دقبایلو ملاتړ په یوه مخصوص چوکاټ کښې نه درلود. احمدشاه بابا یو فیډریشن له داخلي آزادیو سره ساتلیؤ چه په یوه مرکز پورې تړلي ؤ. او داسې یوه مطلقه پادشاهي لکه دایران نه وه مگردغه وخت قبایلي مشرانو خپلو گټو ته کتل؛ نه دافغان شاهي ملي مرکزته. دغه خلک دکابل مرکزي طاقت باندې نه پوهیدل اونه یې منل. دوئ د خارجي دښمنانو دپاره دقوي دولت په اهمیت خبرنه ؤ مگر د خارجي حملو په صورت کښې به تریوه حده یوځای شول.

برنس یو ځلمی ماجـرا لټـوونکی سـړی دی او له ده سـره ملگری یوهندی ماجرالټوونکی موهن لال. موهن لال انگلیسي ژبه په ښه توگه زده کړه. فارسي او نورې ژبې یې زده وې. دکمپنۍ دپاره یو مساعد سړي موهن لال د جاسوسۍ او خبر رسولو کار هم کاوه. دمنشي وظیفه یې هم لرله. وروسته دغه سړی دامیردوست محمد په دربارکښې مقرر شو. که څه هم چه دې په اصل کښې دکمپنۍ مامورؤ. موهن لال وظیفه لرله چه دوست محمد دانگلیس سره په ښه رویه او پیش آمد راضي کړي.

# انگليسان ولې وتلوته مجبور شول؟

د(١٨٤١ع) دوبی تير شواودمني سړه هوا ولگيده. يوازې د مني سړه هوا نه وه؛ دافغانستان خلک هرې خواته دغزا دپاره تاوده شوي وو. جنرال ناټ دلويديځ له غلځيانو سره لاس اوگريوان ؤ او اکبرخان دشمال خلک پاڅولي وو. د«آکلنډ» دخوښې په خلاف اوس دکارخلکو دافغانانو مشري کوله؛ اوشاه شجاع بې دانگليسانو له مرستې ملک نه شو اداره کولی. که څه هم دوست محمد تسليم شوی ؤ. شاه شجاع خلکو خپل نه باله او مکناټن مواجب درولی وو. جنرال ناټ کافي مشکلاتوسره مخامخ ؤ. د خيبراو جلال آباد لاره شرقي غلځيانو اودکندهار لار غربي غلځيانو تړلې وه. هرافغان پادشاه په دې خبروپوهيدی، مگر مکناټن نه پوهيدی. مکناټن دقبايلو داخلي آزادي ختموله، اودا يو قبايلي فيډريشن ؤ اولندن ددغه اشغال داقتصادي مصرف په خاطر سخت پريشانؤ. ځکه دغه مصرف دکال يو ميليون پنځه ويشت زره انگليسي پونډه کيدل؛ چه ډيرزيات ؤ او ويل يې چه په مکمل صورت بايد له افغانستان څخه ووزي او پرخپلې غلطۍ يې اعتراف کاوه دلندن دغه نظريات لا د(١٨٤١ع) په پسرلي کښې د هندوائيسرای ته ابلاغ شوي وو. آکلنډ خپل د شورى خلک راؤغوښتل. د مارچ مياشت وه چه پردغه مشکل بې خبرې وکړې، اودې فيصلې ته رسيدلی وو. چه دافغانستان اشغال ته نور دوام ورنه کړي. مکناټن په مشکلو شرايطو کښې گيرؤ. له يوې خوا قومونه نه په زور او نه په زارو کراريدل. کمپنۍ نورې پيسې نه درلودې چه د جگړې مصرف ورکړي. آکلنډ يوازې غوښتل چه انگريزان ژوندي را ووزي. مکناټن پنځه ريجمينټ نور عسکر غوښتل.

دجان ایچ والر لـه تحلیل څخه داسې څرگندیږي چه دانگلیسانو په وتلو کښې هغه پاڅونونو ډېراثردرلود کوم چه په ختیځ ؛ لویدیځ اوجنوب کښې غلځیانو سرته رسول. دوئ ډېره هڅه وکړه چه غلځیان دخبرو اترو له لوري غلي کړي . څرنگه چه مکناټن په بیلو لیکونو کښې دهند انگلیسي گورنرجنرال ته څرگنده کړې ده . مکناټن غوښتل چه ژر غلځیان کښینې او دی چه دبمبئي گورنرټاکل شوی ؤ هغه دندې ته لاړشي. داهم دمکناټن دهغو خدمتو په بدل کښې ؤ. چه ده په افغانستان کښې دانگلیس دپاره سرته رسولي ؤ . مگر داخبره سمه نه وه. ځکه اور ترابرولاندې ؤ . او د جنگ خرڅ دومره زیات ؤچه کمپنۍ وویل دومره پاتې دي چه دیگونه اوکاسې هم خرڅ کړو.

ځکه یوملیون پنځه ویشت زره انگلیسي پونډه یوسل وشپیته کاله دمخه دومره غټ مصرف چه دهند کمپنۍ یې له مفلسۍ سره مخامخ کړه. له اوضاعو داسې ښکاري چه انگلیسانو دکابل په ښارکښې عادي ژوند شروع کړی ؤ. دمثال په توگه دآسونو دزغلولو مسابقې کیدلې اوکریکټ لوبې اوداسې محفلونه وو چه انگلیسان اود کابل خلک به یوځای ؤ . حتی په ژمي کښې دیخ پرمخ دښویدلو لوبه اوداسې نور. مگر په انگلیسي راپوروونو کښې دغربي اوشرقي غلځیانو شورښ دانگلیسانو دپاره مشکله وه چه دکابل کندهاراوکابل جلال آباد لارې به بندې وي او مقامي افغانانو خواړه او د څارویو واښه پرانگریزانو په گرانه بیه خرڅول.

برنس یوعیاش اوبداخلاقه سړی ؤ . ده ځکه د ښار په مینځ کښې کورنیولی ؤ چه په ظاهرکښې معلومات ترلاسه کړي. په باطن کښې له ښځو سره آشناشي . کله چه انگریزان پوه شول چه افغانان په دې خبره سخت عکس العمل ښیي. نو دهند له مختلفو سیمویې عسکروته ښځې برابرولې. مگر بیا هم دغې مسألې دخلکو احساسات راوپارول. چه پاڅون وشو غربي اوشرقي غلځیان لا مخکښې پاڅیدلي وو.

په داسې حال کښې چه د شمال له خوا ددوست محمد ددروغو دجهاد اعلان خلک

راپارولي وو. د غرب او شرق غلځيانو مواصلاتي لارې بندې ساتلې وې. دکابل دشپږ کروهي خلک چه دانګليسانو اعمال يې له نژدې ليدل اودجنګ او اوسيدو مصرف له حده زيات جګ لاړ. نو انګليسان په سختو شرايطو کښې ګير راغلل. پرته له وتلو يې بله چاره نه وه دشاه شجاع په برخه کښې يو انګليس داسې ليکلي: « له شاه شجاع څخه نه دافغانستان خلک خوښ ؤ او نه انګليسان ». ځکه ملاعبدالشکور دده وزير ډيره ژر خلکوته وښودله چه شاه شجاع کوم اختيار اوصلاحيت نه لري او دخلکو مخ يې له شاه شجاع څخه انګليسانوته واړاوه. لکه چه په دوهم افغان انګليس جګړه کښې سپه سالار داؤدشاه دغه کاروکړ چه دخلکو اوعسکرو مخ ئې له يعقوب خان څخه کيوناري انګليس نماينده ته واړوه.

لکه چه مخکښې راغلي. برنس اوموهن لال په (۱۸۳۲ع) کښې له دوست محمد خان سره په کابل کښې وکتل او همغه وخت دوست محمد برنس ته پيشنهاد وکړ چه دده د عسکرو مشري په غاړه واخلي او دائې په حقيقت کښې داښودله چه دوست محمد غواړي دانګليسانو تر سيوري لاندې ژوند وکړي او په داسې مشکل وخت کښې چه شاه شجاع خپل اعتبار په دواړو خواؤ کښې له لاسه ورکړی ؤ. نوانګريزانو دوست محمد مناسب سړی باله؛ چه افغانستان وروسپاري. لکه چه په دوهم افغان انګليس جګړه کښې عبدالرحمن په نظر کښې ؤ. مګر دوست محمد دتسليمی په کارکښې ډيره بيړه وکړه. يا په بل عبارت په نره توره يې هم اخستلی شوه. ځکه لکه چه مخکښې ويل شوي انګليسان په هرصورت وتلوته مجبور شوي ؤ. غربي او شرقي غلځيانو او دکابل پاڅون ورو وروهم شروع ؤ او د شمالي او کوهستان خلک ښه جنګيدلي وو. دمنطق او محاسبې په حساب بريالی مغلوب ته تسليم شو.

(۱۸۳۱ع) کښې انګريزانو تصميم ونيوه چه رنجيت سنګهـ ديوه دوست په توګه وساتي. څو دافغانانو او ددوئ ترمينځ ديوه ديوال حيثيت پيدا کړي. دغه وخت که څه هم افغانستان کښې کورني اختلافات ډيروو. مګر سره له دې دانګريزانو يوازنی

رقيب ؤ . نورنجيت سنگهـ ته يې دپنجاب د زمري خطاب ورکړ او يوه درنه تحفه يې دبرنس په لاس ورولېږله.

رنجيت سنگهـ ډېرهوښيارؤ . مگر کـه لـه دغـه هوښيـارۍ سره دومـره نورهم هوښياروای چه ددې پرځای چه انگريزانو سره لاس يوکړي او افغانانو سره وجنگيږي. که عکس ددې افغانانو سره يې لاس يوکړی وای او انگريزانو سره جنگيدلی وای دا به دټول شرق اوهندوستـان د پاره گـټـور کـارؤ. مگر ايران اوسکهـانو دانگريزانو ملگرتيا وکړه او دواړه دافغانستان پرضد وجنگېدل . نه يوازې سکهان بلکه دغه ټول محـمدزائي سـرداران هم دخپل هيـواد پرضدولاړوو. کله چه سکهـان دې خبرې ته متـوجه شول بيا او به له ورخـه تېرېوې. او تر دې مـخکښې سيد احمـد بريلوي دتقوی اودين په جامـه کښې افغانان لەسکهـانوسره جنگولي وو. دا دوهم پيرؤ چه وروسته لەميا غلام محمد ځخه چه دشاه زمان پەوخت کښې راغلیؤ او افغانستان ته يې داسې اوربل کړ چه تر يوې پيړۍ مړنه شو.

الکسـانـدر برنس لـه کـومې لارې هندوسـتـان ته راغی؟ داهم په زړه پورې دی. دفارس له خليج ځخه بو شير، شيراز، تهران، استرآباد، مشهد ،سرخس، مرو، بخارا، بلخ، خلم، کندز، باميان، کابل، جلال آباد، پېښور، اټک، امرتسر، لاهور، لوديانه، ډهلی، ملتان، خيرپور، حيدرآباد، بمبيي ، ولې؟ ددې دپاره چەدلوي افغـانستان ټولې سيـمې وگوري او خپل راپوورونه غونډ کړي. برنس دڅو مذاهبو پەزده کولو کښې استعداد درلود . دی په هندي، فارسي، اسلام او هندو مذهب ښه پوه ؤ. ترهرڅه لا بده داده چه نه يوازې افغـانان آرامه نه شول او دهندوستـان دامپـراتورۍ سرحد تل ناکراره ؤ.بلکه له روسيې سره هم دمرکزي آسيا مسأله حل نه شوه اوکومه کاميابي ترلاسه نه شوه او روسانو خپل پرمختگ تەهماغسې دوام ورکړ. او انگريزان دسرحد لە افغـانانو سره پەخونړو جنگونو بوختؤ او لگيـاپاتې شول. دکپلنگ خبره چه (دسولې دوام لرونکي جنگونه) (!) دهند دامپراتورۍ د ساتنې دپاره.

تاريخ وقايع و سوانح افغانستان
تأليف عليقلي ميرزا اعتمادالدوله به تصحيح مير هاشم محدث
(١٣٦٥هـ ش) چاپ اول

دانگريزانو تيرى يوازې په‌كابل كښې نه‌ؤ. هرچيرې چه‌دوئ وو؛ هلته دغه حال ؤ.ددوئ مأمورينو او عسكري مشرانو هره نارواكوله.

افغانان پاڅيدل. دوئ هې پسې واخستل كه‌لږ مقاومت يې كړى واى دغه ورځ په هندوستـان كښې هم پرانگريزانو راتله. او دهغه ځاى راجه‌گانو سره له‌ټولو سستيو كابل ،غزني پسې اقتدأ كوله او انگليسان يې پسې اخستل.

دكندهار دپاڅون تفصيل داسې دى‌چه مخكښې دكابل له‌پاڅون څخه‌پرگرشك زمين داوركښې اختـرخان‌عليزي داسې‌مقاتله له‌انگليس سره وكړه او‌داسې يې هغوئ مات كړل چه‌چانه ؤ اوريدلي. نو ځكه «رانسن» دكندهار حاكم، ددهراړت د او مشران راټول كړل او دكدوخان مومند په‌لاس يې وركړل چه غزني ته‌يې ورسوي. دغلځو مشرانو چه‌هلته خپل بيخ پوخ ليده. د مقراو غزني ترمينځ په موشكي پركدوخان وغورځيدل؛ بنديان يې خوشې كړل. كدوخان وتښتيد. لومړى غزني او بيا كندهارته‌لاړ. په‌ډير كړاو يې چاپارخانې ته‌ځان ورساوه. پښتنو چاپارخانه محاصره كړه. هغه يعنې كدوخان ئې‌سره له شپږ ديرش كسو ووژل. په دغه وخت‌كښې نواب محمدزمان خان محمدعطاء خان، سيدال خان او ميرعلم خان‌له كابله له‌لښكر سره كندهارته واستول؛ په شهرصفا كښې تم شول.

په‌همدغه وخت كښې تاج محمدالكوزايي،قلندرخان كاكړ. «گلدين» انگليس چه دجانبازوسپرو مشرؤ، د هرات له دروازې دباندې وواژه او دهغه خزانه او څه يې‌چه درلودل ترلاسه ئې كړل. تاج محـمـد خان دعطاء محـمـد خان لښكرته ورغى اوقلندرخان دچاپلانې كلي ته‌لاړ او انگليسان ورپسې ورغلل او هلته يې‌مړكړ او دهغه سريې دكندهار په چارسوق كښې ځوړند كړ. په‌دې ترڅ كښې شهزاده صفدرجنگ

دشاه شجاع زوي چه له انګليس سره جوړنه ؤ. د ښكار په پلمه له كندهاره ووت. ډهلي ته لاړ. عطأ محمد خان او نور لښكر له هغه سره يوځاى شو او په ګډه دكندهار په لور وخوځيدل په خاليشك كښې چه له ښاره دوه فرسنګه ليرې دى له انګليسانو سره مخامخ شو . انګريزانو دصفدر جنګ لښكر په شا وتمبوو. او دوه وارې بيا دانګليس عسكرو له افغانانو سره د شهزاده سكندر د شهزاده تيمور اوميرزا احمد خان وزيري په مشرى له شهزاده صفدر جنګ سره جګړه وكړه . دوهم وار شهزاده سكندر ماته وخوړه اودكندهار په لوري لاړ او ميرزا احمد خان له صفدرجنګ سره يو ځاى شو او دې خبرې دوئ پياوړي كړل. له كلک نه چارشاهي ته راغلل. يوه مياشت هلته وو.

څوچه افغان غازيان له هرې ګوښې راټول شول او انګريزانو سره په جګړه بوخت شول او هغوئ يعنې انګريزان يې مات كړل. دوه سوه ئې ترې مړۀ كړل او دوه سوه يې بنديان ونيول. په دغه جګړه كښې په سلهاؤ تورې ماتې شوې. غازيانو اسيرانوته بلنه وركړه چه اسلام ومني. هغو چه اسلام ومانه پرې يې ښوول. هغوئ چه ونه مانه مړه يې كړل.

وروسته له دې بري شهزاده صفدرجنګ دلښكر مشرانو او كشرانو ته شپږ سوه كشميري شړۍ اوآسونه او نورشيان انعام وركړ.

انګريزان له دې ماتې بې واره شول. په ښاركښې يې جهرواهه چه درې ورځې دې څوک له كوره نه وځي. وروسته له هغه يې په رشوت وركولو پيل وكړ. لكه محمدګلان پوپلزى ، محمدرحيم نورزى ، ميرافضل پوپلزى يې له ځانه سره كړل. هغوئ ته يې وظيفه وركړه چه دافغانانو لښكر كښې بيلتون راولي . او دغه خانانو همدغسې وكړل.

دافغانانو لښكر دارغنداب له رود څخه پورې ووت . څرنګه چه دانګريزانو لښكرته هغوئ نژدې شول. افغان لښكرټول دښار په لوري راغى او دزاړه ښار په

حسن شاهي کښې ديره شو او دشپې له مخې يې يرغل پيل کړ. او دهرات دروازه يې وسوځوله.ښارته ننوتل . څو تنه يې مړه کړل. دانگليس پلوي خانان يې څه ووژل او څه وتښتيدل. هغه لښکر چه کلک کښې ؤ . هم ښارته نژدې راغلل. دانگليس لښکر دپيرپامال له لارې له پياده نظام سره له زاړه ښارڅخه ورشوته ووتل . په زړه ور شو کښې بله جگړه پيښه شوه . افغانانو د هغوئ ليکې ماتې کړی‌او د هغوئ توپخانه يې ونيوله دانگريزانو نورلښکر را ورسيد. افغانان په شالاړل دشوئين په لوري لاړل دانگريزانو لښکر دشپې په ورشو کښې پاتې شو، سبا سرده ته ولاړل. صفدر جنگ او محمد عطأ خان خاکريزته ووتل . له هغه ځايه له ويرې دهيرمند د ابوالحسن کليوته لاړل . او عطاء محمد خان نيشن ته لاړ. « ليچ » انگليس چه دغه وخت دغلځو په کلات کښې ؤ ؛ دکلات کلا ړنگه کړه اوکندهارته راغی چه‌راسن انگليس هلته ؤ.

دکندهار دښارکلا کلکه وه . هغه يې هم ورانه کړه. داکارهم‌ليچ وکړ . چه دکلات کلايې نړولې وه . ليچ انگليس لويې او مشهورې کلاگانې‌ټولې ونړولې. لکه دحبيب الله اخوندزاده الکوزايي دخواجه‌ملک په‌کلي کښې دنورمحمد خان پوپلزايي کلا اودپاميري يحيی خان کلا په دهله کښې.

دغفارخان الکوزي کلا، درباط دخليفه کلا، دحضرت صاحب کلاگانې يې هم ونړولې. محمد عطاء‌خان ابوالحسن کښې شهزاده صفدر جنگ ته راغی.

په‌دې وخت کښې اخترخان غلزی هم له‌خپل لښکر سره ابوالحسن ته راغی. دی له صفدر جنگ سره يوځای شو او شهزاده صفدر جنگ ته يې وويل: چه‌دانگريزانو يولښکر له خزانې او اسباب سره له شکارپور څخه شالکوټ ته راغلی او کندهارته‌را روان دی. د شهزاده لـه خوا مسالوخان اڅکزی ، محمد صديق خان باميزی، ميرافضل خان اڅکزی له يوه لښکر سره وگومارل شول چه په فوشنج کښې له نورو اڅکزو ، کاکړو تيزينو سره دې دانگريزانو لښکر لوټ کړي. چه کندهارته ونه رسيږي. دافغانانو لښکر په کچلاغ کښې چه‌ډيرې غونډۍ لري. دانگريزانو پر لښکر

راتويې شول اودوئ ته ئې سخته ماته ورکړه . چه دانگريزانو اووه سوه لښکر ووژل شو. خزانه، وسله او سامان ترې واخستل شول . دانگريزانو لښکر د پاينده خان تيزني کلا ته لاړل. اسبابونه يې وسوځول. او پاتې شالکوټ ته لاړل.

وروسته له دې سوبې شهزاده صفدرجنگ د ابوالحسن له محالو،کوه نگارته چه کندهارته نژدې دی؛ لاړ. دانگليسانو لښکر چه تول سواره اوپياده په چاونۍ کښې دشهزاده له‌لښکروسره په جگړو کښې شول. شهزاده داځلې ماته وخوړه. چه‌دغه ماته په افغانانو بده ولگيده. وئې غوښتل شهزاده ونيسي او بندي يې کړي اوپرده باندې شکمن شول. ځکه‌ميرابوالحسن کله کله دانگريزانو دمشرانو له خوا راتې‌او ده سره به‌يې خبرې کولې چه شهزاده تيمورواييي‌چه ښاربه بې له غلبې تاسوته پريږدو. صفدر جنگ خبره افغان مشرانوته وکړه. تول رالسن ته ورغلل او انگليسانوته‌يې وويل: چه‌کندهار شهزاده صفدر جنگ ته‌پريږدي. انگريزانوچه دکابل د پيښې اوريدلې ؤ. خپل درانده اسباب يې وسوځول. هغوئ چه فاميلونه درلودل؛ د شالکوټ له‌لارې شکارپورته‌لاړل. پاتې دجنرال ناټ په مشرۍ دکابل په‌لوري وخوځيدل. شهزاده صفدر جنگ شپږ مياشتې دکندهار حکمراني وکوله. ترڅوچه سردارکهندل خان‌دايران‌ددولت په مرسته راورسيد. شهزاده‌صفدرته يې ماته ورکړه . هغه‌يې‌ونيوه اولوديانې ته‌يې واستاوه. کوم‌چه انگريزانو مات‌نه‌کړ. سردارکهندل مات‌کړ.

# د لوی افغانستان نړيدل او محمد زائيان

د خراسان ولايت چه دافغانستان يو مهم ولايت دی او مهم ښارونه يې مشهد ، نيشاپور ، تون ، تبس او تر شيزؤ؛ هغه وخت زمونږ له لاسه ووت چه دسردار پاينده خان تروژلو وروسته فتح خان سردار ، تښتيدلي ياغي شاه محمود پسې ايران ته لاړ اودايران په مرسته يې يو لښکر برابر کړ اوداعليحضرت شاه زمان مقابلې ته په داسې حال کښې راغلل چه نوموړي اعليحضرت لاهور ترلاسه کړی او دهند په لوري دانګليسانو دښړلو دپاره روان ؤ . له جنوبي هندڅخه سلطان ټيپو د ميسور پادشاه او له شمال نه اعليحضرت شاه زمان دغه مهمه وظيفه په غاړه اخستې وه .

دځرګندې تباهی کتاب چه يو ه انګليس ( پترک مکراري) ليکلی دی وايي:« مارکويس ولزلي دهند اعلی حاکم دانګليس حکومت ته دشاه زمان د حملې خطرداسې بيان کړی دی : دغه خطر په ټول هندوستان کښې سخت حساسيت رامينځ کړی؛ له ( اوده ) نه نيولې تر ميسوره پورې ناکراري ده. هر مسلمان ليرې اونژدې په بې صبری او هيله مندی سره داسلام دقهرمان ( زمان) دراتګ په تمه دی».

مګر انګريز خبرنه ؤ چه سردار فتح خان دشاه زمان مخه دهند له حملې څخه اړولی شي.

نتيجه داچه مشهد او نيشاپور ، تون ، تبس له لاسه ووتل او انګريزان محفوظ پاتې شول. دغه دوزير با تدبير (!) لومړی حرکت ؤ . دغه وخت داتلسمې پيړی پای ؤ او نولسمه پيړی شروع شوې وه .(١٨٠١م) اودريمه خبره داعليحضرت شاه زمان

نړۍ ليدونکې سترگې دنواب اسدخان دوزير فتح دورور له خوا ړندې شوې. مگر کـاشکې دوي په دومـره بدل قـانع واى. لکه چه وروستـه به وکـتل شي. ټول افغانستان ددوئ له لاسه په سره اورکښې وسوځيد. او په دوهم قدم کښې پنجاب، کشمير، ملتان، ډيره اسمعيل خان، ډيره غازي خان، د سردارانو دخپلچاريو قرباني کيږي.

البته دملتان په برخه کښې يو توپير شته چه اوس به يې په گوته کړو. په داسې حال کـښې چه مـونږ گـورو سـرداران له هرولايتـه روغ رمټ راوزي. دکـابل پولاونو او دکـوهدامن مـيوو ته ځـان رسوي. يوه ســـردارهم په تاريخ کښې پروطن سـرنه دى ايښى. دوئ هډو داسې شهيد نه لري.

په هغـو شپـو او ورځـو کـښې چه سرداران دوزير فـتح خان دوينو په بدل کـښې راپاڅيدلي ؤ؛ رنجيت سنگهـ د سيکهانو شرچه تل يې له موقع گټه اخستله اوسخت هوښيار سړى ؤ چه حالات يې داسې وليدل نودافـغاني خاورو دنيولو هڅه يې پيل کړه. لومړى ئې دملتـان خواته پاملرنه وکړه ـ ردا همـاغـه رنجـيت سنگهـدى کله چه داعليـحضرت شاه زمـان دوه توپونه پهسيند کښى ډوب شوي وو؛ دغـه توپونـه يې له اوبو په ډير تکليف وايسـتل او په شـاه زمـان پسې يې پښـورته وليږل او شـاه زمان چه دده دغـه اخـلاص ته وکـتل نودى يې دپنجاب والي وټاکه. دغهواقعه پښتانه د تاريخ په رڼاکښى بيانوي. مگر په (١٨١٨م) کښى چه شاه زمـان يو بې وزلى ړوند ؤ؛ پر افـغاني ملتـان يې لښکر وروُست. سـردارانو ملک وران کړى ؤ او رنجيت سنگهـ لهدې موقع گټه واخستله. مظفرخان دملتـان افـغاني حاکم ؤ. ارواښاد مظفرخان پوهيدى چه مرکزي دولت نشته، او مرسته ده ته نهرسيږي د سيکهـ لښکر هم ډيردى. مگر افـغاني روح ده ته دغـه اجازه ورنـه کړهچه ژوندى وتښتي. ارواښاد مظفرخان له دوو زرو سپاهيانو سره د سيکهـ له پنځــه لس زره

سپاهيانو سره داسې په نره وجنګيد چه دوه زره افغاني عسکر پخپله ارواښاد او د هغه دوه زامن يوه لور او ټوله کورنۍ شهيدان شول . د خدای رحمت دې پردوئ وي.

بيانو ملتان له لاسه ووت او دسيکهانو لښکريې هم نيمايي ته ورسول. مګر دمظفر خان بيا چانوم وانه خيست او نه يې کوم سړک ياښوونځي پرنوم ونوماوه ؟ چا د مظفر نوم ياد ساتلی دی ؟

رنجيت سنګهـ په حقيقت کښې دشاه زمان له خوا دپنجاب والي مقرر شوی ؤ. افغانی بيرغ ، افغاني سکه چليدله. عايدات يې مرکزي حکومت ته ورکول . حتی دشاه شجاع په لومړي وار پادشاهۍ کښې همدغه رنجيت سنګهـ والي ؤ. مګر کله چه دوزير فتح خان ورونو هرچيرې بغاوت شروع کړ؛ کندهار بيل، کابل بيل، پېښور بيل د سردارانو ترمـنځ وويشل شو. نورنجيت سنګهـ چه پښتون نه ؤ - مسلمان نه ؤ - افغان نه ؤ. څه مسئووليت يې لاره چه مستقل شوی نه وای؟ د سردارانو چه خپل ملک او ناموس ؤ ؛ پسې ونه ګرځيدل.

رنجيت سنګهـ له موقع نه ګټه واخيسته. د۱۸۱۸م کال په آخرکښې يې پرپېښور حمله وکړه. سردار يارمحمد خان ماته وکړه . د يوسفزو غرونو ته لاړ. که څه هم بيرته يې پېښور ونيو؛ مګر دوام يې ونه کړ. وروسته له يوې بلې بيشرمۍ چه دلته به يې ذکر وشي پېښور هم له لاسه ووت.

په کال ( ۱۸۱۹م ) کښې رنجيت سنګهـ د غازي خان پر ديرې حمله وکړه. سردار نواب محمد زمان خان مقابله ونه کړه . وتښتيد اوکابل ته راغی.

دې نه مخکښې کله چه رنجيت سنګهـ له پېښوره فارغ شو؛ سردار يارمحمد تښتيدلی ؤ . کشميرته لاړ. هلته سردار نواب عبدالجبارخان چه دکشمير حکمران ؤ کابل ته وتښتيد او خپلو نورو سردارانو سره يوځای شو. کله چه ملتان، ديره غازي خان او کشمير دسيکهانو لاس کښې ولويدل؛ نو رنجيت سنګهـ دسند او پېښور قطعي نيولو ته متوجه شو. ځکه پر لوي افغانستان تالا ګېډه وه او په دې چورکښې

رنجيت سنگهـ ترټولو سردارانو تکړه ؤ.

په کال (۱۸۲۱ع) کښې رنجيت پرډيره اسمعيل خان حمله وکړه او هلته يې پر افغاني حاکم محمد نواب دسيکهانو خراج ومانه.

په دغه وخت کښې سردار محمد عظيم خان ايوب شاه سره کابل کښې ناست ؤ. هغه بيشرمي داده چه سردارعظيم له خپلې خزانې سره نوښارته لاړ او هلته يې مرکز اختيارکړاوټولو افغاني علاقوته يې اعلان وکړ چه جهاددی. يابه دسيکهانو حکومت منئ يابه دشيرشاه او احمدشاه نوم ساتئ. يابه اسلام وي يابه کفر؟ سمدلاسه يوسفزي، ختک، سالارزي، افريدي، مومند له هرې خوا ننگيالي ځلميان راټول شول دخزانه چې سردارعظيم ترمشرۍ لاندې چه دی دايوب شاه وزير او هرڅه ؤ راټول شول.

دا دافغان تاريخ يوه لويه بيشرمي ده چه پښتنو سرونه ورکول او سردار د يوه نندارچي په توگه دسيند په دې غاړه ناست ؤ او دظفر کاکاخيل په وينا له نندارې هم سترې شو په شا پښبورته راوتښتيد.

پښتانه دتاريخ په رڼاکښې ليکي: يو طرف ته داخونړۍ جگړه جاري وه او بل طرف ته عظيم خان دخپل پوځ سره ديوه خاموش تماشائي حيثيت اختيارکړی ؤ. هغه نه خودغازيانو مدد ته په سيندورپورې وتوانه يې د سيکهانو پرتوپخانه حمله وکړه. چه له همدغه ځايه يې پرغازيانوگوله باري کوله. شپه په شپه عظيم پښې ايستلې وې. ولې غازيان پرې خبر نه وو. غازيانو د خپل پروگرام مطابق جنگ شروع کړ. ولې غرمه غرمه دوئ ته دعظيم خان دتېښتې حال معلوم شو.

کله چه پښتانه غازيان پوه شول چه اعلی قوماندان سردارعظيم خان دسرادر پاينده خان زوی بې لەجنگه له خپل فوځ اوخزانې سره تښتيدلی دی، يوگټلی ميدان يې سيکهانوته پاتې شو.

کتاب وايي: دسيکهانو او پښتنو داجنگ د نوښار يادپيرسباق دجنگ په نامه

مشـهوردی . دوادي پـښـور دپښتنو جرأت اوشجاعت یو ژوندی مثال دی. په دې جنگ کښې چه پښتنو غازيانو ځومره نقصان موندلی دهغې یوه سرسري اندازه د هغې وسیع مقبرې نه لگیدلی شي کومه چه دکابل دلور دریلوي ستهیشن نه په قبله دترکي غونډۍ سره تراوسه موجوده ده دنوښار ددې جنگ په حقله د هغې زمانې یوه ؤلسي شاعر (مويزي) يوه چاربیته ویلې ده چه دهغې نه د پښتنو دجوش د عظیم خان دکردار او د پښتنو دعظیم نقصان اندازه لگیدلی شي. په دې غرض يې زه دلته دښاغلي قاضي عطاؤالله خان مرحوم د تاریخ پښتون نه سره د شکریې درج کوم.

قـــاصـــد دپادشـــاه راغـی یوسف زی اونږیده
پـه نـیت دغـــزالارشــه پـه نـوښــاروژړیده
قــاصــد دپادشــاه[1] راغی رالیـــږلی عظیم خــان
داولـه يې جــرگـــه کـــړل مـــلایان اوملکان
داروگـــولی په مـــادي ورکـــوم به خـــرڅ تـاوان
الفـــاظ يې خـــوږ شکروو په هرچاښـــه لگیـــده
الفـــاظ يې خـــوږ شکر وویرې راضي یوسف نـامـــه شـوه
راتلل به ځـای ترځـای نه نه يې خـوب نه يې دمـــه شـوه
خـپل کـورپه هرچااورشـه پیـښـه داسې عـلامـه شـوه
توکل دعـــايې وکـــړه ســـیـــلابونه بهـــیـــده
توکـل دعـــايې وکـــړه اکـــوزي وو پـه زرگـــونـه
راتلل يې مـــشـــران دسـیند پـه غـــاړه لکه غـــرونـه
دزغـــرويې حلقې وې دوشـــالې يې پـه ســـرونـه
دحـــسن پـه صـــفت يې پادشـــاهان هوســـیـــده

---

[1] ۱ - دپادشاه قاصد سردارعظیم خان چه داحمد شاه بابا دکورنۍ یوشریف اخلاقی سړی یې دایوب شاه په نامه پادشاه باله، نورټول اختیارده په لاس کښې ؤ ځکه چه افغانانو داحمد شاه بابا کورنۍ ته هم احترام درلود.

ACKU

د حسن په صفت به يې لگيا يم ځوځو کاله
گلونه د گلاب ؤ خزان توی کړه ځما لاله
ساتل به مې ندو خوښندو الله وروستل قضا له
اجل يې په ډير ووو دلته هسې لوبيده
اجل يې په ډيروو اشيزه او کړله توره
رحمت په سالارزو شه مدعائي کړه ظهوره
نران دي گندای زي سرونه نه اړيږي له تربوره
خاوند د خدوخيل له پيښي کله تښتيده
د پيښې نه جا روزي نور يزي دي اگداران
مدام يې صف جنگي وي د ښکلو په ميدان
الله نوم چه به يې واخيست ترې به مات شولو سيکان
د نخښو د گمنډ يې رنجيت اوويريده
د نخښو په گمنډ کښې شهيد شوی دی پيرخان
د قام په مخکښې مړ شه فيض طلب او الطاف خان
شيرواو محب الله ورونړه ميرات شوسرورخان
سمعيل زي دلوي ملا سره لعلونه تويده
سمعيل زي دلوي ملا په مخکښې مړه شوامانت
معصم او عادل شاه دي الله کاندي په جنت
ښکلي جنگ يې وکړو په ميدان کښې ښه ساعت
په مرگ يې د آسمان ملايک ټول اوژړيده
په زمکه ژاړي جونه ملايک دي په آسمان
يوچړق په ناړه پريوت اخوند خيل شوبنديوان
د مرگه پورې پلار د حضرت دين کوي ارمان
ميراث يې پالنگونه په ميدان خاورې کيده

میـــراث یې پالنګونه په مـیـدان شـولو یوازې
ژاړي خـویندې مـیـاندې کلمې یې کـړې آغـازې
دخـاورونه شـوې لاندې هغـه ښې پګړۍ درازې
په صـفت یې مـوېزی لکه فـولاد اویشـیـده
صـفت دیوسف زوکـوم چه قـتل یې کـړو ځـان
په مـخکښې یې تمام شـو پیـرمـلاوصاحـبزادګـان
په دوزخ کـښې به کـفـاروي په جنت کـښې مـؤمنان
هربیت د مـوېزي لکه مـرجـان بیّـعـه کـیـده

سردارعظیم خان په کشمیر کښې دبلای عظیم لقب وګاټه. او په نوښارکښې ئې دوبای عظیم لقب وګاټه.

کتاب وایي: « دنوښار دجنګ دوه خرابې نتیجې وختلې . یو خوداباسین نه په قبله چه دپښتنو علاقه وه؛ دسیکهانو په قبضه کښې راغله اوبلېداچه دپاینده خان خیلو ترمینځ دخپل خپل اقتدار دزیاتولو په غرض داسې شرمناک سازشونه شروع شول چه دهغې په نتیجه کښې په لوي پېښور د سیکهانو قبضه راغله».

سرداریارمحمد خان اوسردارسلطان محمد دسیکهانو خراج ومانه. دادی چه لوي افغانستان دمحمدزي سردارانو په لاس وران شو. عظیم خان خپله خزانه ځان سره ګرځوله اوکابل کښې مړ شو. خزانه دده لیوني زوي سردار حبیب الله ته ورسیده اودغې خزانې د هغه سر هم وخوړ.

په پای کښې رنجیت سنګهپېښورته را روان شو او په لاره څه چه په مخه ورغلل هغه یې تباه کړل د بالاحصارکلا چه د پېښور د احمد شاهي دورې یادګارؤ؛ په توپونو ونړول شوه . دپېښور باغونه وران شول . چه د پېښور توله ښکلا او تاریخي نښې یې کنډوالې کړې بیایې سردار یارمحمد خان ته وسپاره او خپل خراج یې اخستی.

مګر رنجیت سنګهـ چه دانګلیسانو دیوه پیشتاز حیثیت یې درلود؛ کله چه عظیم

خان مړ شو او دوست محمد خان پر کابل قبضه وکړه. سيکهانو د پېښور سردارانو ته وويل چه د رنجيت سنگهه کورنۍ د پېښور تماشې لـه درځي. تاسو پخپله هم له ښاره ووزئ او سپاهيان موهم و باسئ. سردارانو دغه خبره هم ومنله. په دې ترتيب ليدل کيږي چه لوي افغانستان دسردارانو په لاس نړيږي.

او وروسته مرو اوپنجده روسان نيسي. د سيستان مهمه برخه ايرانيان، سوات، باجوړ،چترال، چمن، شال قوشنج، کورم، لنډی کوتل دسردارپاينده خان داولادې له خوا انگليس، روس، ايران ته ورکړ شوې.

نوموړ گورو هغه فاميل چه د شاه محمود سدوزي له خوا په افغاني ولاياتو کښې وټاکل شول او لوي هيواد يې دتباهۍ خواته بوتی. دا فاميل د سردار پاينده خان او محمدزی بلل يې سم نه دي. ځکه دمحمد اولاد بلل هم يو زيات شمير خلک احتوأ کوي. بارکزي بلل يې هم لويه گناه ده. همدغه پاينده خيل ددوئ دپاره سمه ده که څه هم پاينده خان پخپله ښه سړۍ و او دغې خبرې ته مو مخکښې هم اشاره کړې.وخت په وخت دپاينده خيلو منفي کارنامې په گوته کوو. ددوئ مثبتې کار نامې دهغوئ د بنيادي خيانتو په مقابل کښې دومره نه دي چه دوئ ته صفايي ورکړي. لکـــه د شيرعلي څه لږ وډير اصلاحات يانور.... مگردوئ تسليم طلبه خلک ؤ.

# دختيځ افغانستان انګليسانوته سپارل

که څه هم دغه موضوع دلوي افغانستان دنړيدلو مبحث دی. مګر دغه برخې له سردارانو څخه سيکهانو نيولې وې. انګريزانو څنګه ونيولې؟ دا خبره ياموضوع ډيره په زړه پورې ده چه هر افغان يې بايد پخپله خاطره کښې وساتي. غبار په افغانستان درمسير تاريخ کښې وايي چه د ملتان افغاني حاکم مظفرخان شپږ مياشتې دسيکهانو قوي لښکرسره په نره مقابله وکړه . کاشکې يوه سردار شپږ هفتې چيرې مقابله کړې وای. مګر د خپلو سره په مقابله اوکورنيو جګړو کښې ډير بهادر خلک وو.

اميردوست محمد دانګليسانو شرطونه ومنل او ترپايه يې دهغه مخالفت ونه کړ ځکه ده افغاني توره لا پخوا له ملاخلاصه کړې او انګريزته يې سپارلې وه. خو کله چه رنجيت سنګهـ مړشو ؛ دزامنو او کورنۍ ترمينځ ئې تاوتريخوالی راغی. انګريزان دنور هند له چارو بيغمه ؤ . په (١٨٤٨) سيکهانو ته متوجه شول. په سند کښې په ملتان کښې خلک هرچيرې له سيکهانو او انګريزانو سره جګړې ته تيار شول. مګر سيکهان پوهيدل چه په يوازې سر دانګريزانو مقابله ګرانه ده . نو اميردوست محمد او افغانستان ته يې رجوع وکړه اودمرستې غوښتنه ئې ترې وکړه دوئ پخپلو غوښتنو کښې ووېل چه سيکهان به ورروسته دانګريزانو له وهلو افغاني شرقي ولايتونه بيرته تسليم کړي. خلک ټول دې خبرې ته تيار شول چه دانګريزانو په مقابل کښې ودريږي خپلې خاورې به هم ترلاسه کړي او غزا به هم وشي.

څرنګه چه افغانانو دانګليس لښکر دکابل او جلال آباد ترمينځ تباه کړی دافغان دتوري خرپ لا تازه ؤ . هرچا په هند او پنجاب کښې دامنله چه افغانان کولی شي دانګريزانو کوپړۍ ماته کړي او ددې خبرې عملي مثال تيرشوی ؤ. نوامير دوست محمد

له يوې خوا دملت او خلكو احساساتو ته كتل. له بلې خوا دى چه خپله افغاني توره ئې په اخلاص انگريزانو ته سپارلې، مگر دا دامير دوست محمد دزړه خبره وه چه دى دانگليس په مقابل كښې توره نه باسي. خو مجبورؤ چه دلښكرود تيارى امر وركړي. اميردوست له پنځلس زره عسكرو او نورو ملي قواؤ سره وخوځيد. ميدان داسې تش ؤ چه امير دوست محمد په آسانۍ پېښورته لاړ. ځكه سيكهان په پنجاب كښې مشغول وو. كلنل هربرټ داټک انگليسي قوماندان چه واوريدل افغاني لښكر راغى داټک كلا يې پريښوده اووتښتيد. افغاني لښكراټک ته ورسيد. سند، پنجاب اوهند كښې انگازې گډې شوې خلكو خوشحالى كولې. ټول افغاني ولايات لكه سند، بلوچستان، كشمير، ملتان دافغانستان د (پادشاه) امير هركلى كاوه. او سترگې په لاروو. او دغه ولايات له پرديو عناصرو سيكه او انگليس تش وو. ښكاره خبره ده چه دغه خلک له سيكه او انگليس سره دښمنؤ. سيكهانو او انگليس پخپلو كښې پنجاب كښى اړم وو. يا په بل عبارت تللې ځمكې بيرته ترلاسه شوې وې.

اميردوست محمد لكه سردار عظيم چه په نوښار كښې ننداره كوله ،د اټک پرغاړه كيښناست اوننداره يې كوله او خپل زوي يې چه سردار اكرم تو ميده له پنځو زرو عسكرو سره گجرات ته دانگريزانو مقابلې ته وليږه چه جنگ تود شو دشيرسنگه اوانگريزانو سره دجگړې نه چه لومړى سرى وتښتيد هغه سردارمحمداكرم خان داميردوست محمد خان زوي ؤ. (٢١ فبرورى ١٨٤٩م) چه د سيكه په لښكرو كښې يې ماته گډه كړه. عملاً دانگريزانو په گټه يې پښې وايستې.

چه سيكهانو پر سردار اكرم خان لعنتونه ويل. دوه مياشتې نوره هم سيكهانوجگړه وكړه چه تيت وپرک شول او اميردوست چه دسيكهانو ماته اودانگريزانو برى وليد نو بيرته راروان شو. انگريزانو وليدل چه اميردوست محمد خپلې علاقې نه نيسي. دده پر اخلاص يې آفرين وويل . له سيكهانو وروسته يې ټولې

علاقې او ولايتونه په خپله قبضه کښې ونيول. داسې چه اميردوست له خپل لښکر سره په شالاړ او ميدان يې انگليسانو ته خالي پرېښود.

اوس به داسې فکروکړو چه پنجاب خوله سيکهـ پادشاهی سره لاړ ختم شو نوامير که لړ هم افغان وای؛ بايد هلته له خپلو لښکرو او قومي او قبايلي خلکو سره استوار ناست وای؛ انگريزانو سمدلاسه حمله نه کوله. ده به په يوه ملي قوت خبرې شروع کړې وای. نـا ممکنه خبره وه چه ترډېره حده دافغاني حقوقو په حاصلولو نه وای بريالی شوی. ځکه سرداراکرم دامير زوي له خپلې ماتې سره سيکهان کمزوري کړل لږ ترلږه ددغې مرستې برخه خوبه يې غوښتې وه. مگر جنگ خولا پرېږدئ چه دخبرو مقابلې ته هم حاضر نه ؤ.

اوس ملي تاريخ ددغـه سړي په برخـه کـښې څـه قـضـاوت کـوي؟ ده تـه اميرکبيروواي يا بينظير؟ حال داچه محمد زائيانو ده تـه دغه خطابونه کول. وايي چه پاتې افغانستان يې په ځان پورې وتاړه. چه تاريخ ته سړی وگوري چه پاتې افغانستان ده ته پاتې شو اودمقابلې څوک نه ؤ پاتې؛ ده چه جلال آباد خپل کړ 3هم ده ته يوه فتحه ښکاريده.

همدغه وجه وه چه امير نايب امين الله بې بندي کړ او محمدشاه خان ترآخره ورسره جنگيده. او پاينده خيلو خومخکښې يو تړون کړی ؤ چه سند يې اوس هم موجود دی. دوئ افغانستان خپل ميراثي ملکيت بللی؛ په ملي قوت خبره ځکه سرته نه رسيده چه امير انگريزانو منلی ؤ. دهغوئ له نظره امير دکابل والي ؤ او په انگليسي اسنادو کښې دکابل والي بلل شوی. درې اسنادوکښې هم دوست محمدوالي بلل شوی چه وايسرا ی يا د هند انگليسي حکومت مقرر کړی؛ حتی داسې اسناد هم مؤرخ غبار ذکرکړي چه دانگليس حکومت ويل چه افغاني ختيځ ولايات بايد افغانستان ته پرېښودل شي؛ مگر امير هغه دسردرد باله.

دلوي افغانستان په نړېدلو کښې مونږ وليدل چه دسردار پاينده خان دوژلو انتقام

چه داعليحضرت شاه زمان پرضد توطيه کښې يې ګډون او بيا دوزير فتح وژل دهغه دولي نعمت يعني شاه محمود سدوزي له خوا سردارانوته يوه پلمه وه کـه دبدل يا انتقام موضوع له وژلو سره چـه دواړه دنواب اسدخان د وزير فتح خان ورور چه شاه زمان يې ړوند کړ انتقام يې شجاع الدوله د نواب زمان د زوي له خوا واخستل شـو. مګر داسې نه وه . ددوئ خـپله خپلچـاري اوخـائنانه فطرت ؤ چه دملک له دښمنانو سره يې لاس يوکړ اوخپل يادافغانانو ملک يې وران کړ. دوئ سيکهان، انګليسـان او ايرانيـانو ته ورغلل. په هره بې شرمـی چه کيدله خپل اقـتداريې په محدود اوکوچني افغانستان کښې وساته.

دملي تاريخ په لټه کښې مونږ وينو چه داخلي مهم حربي شخصيتونه لکه احمد خان نورزی مدد خان اسحق زی له بهرني عواملو بې خبره وو. پاينده خيل خو په ځه ويشتلي نه وو. او دوئ دلوي افغانستان په ورانولو کښې تر بهرني طاقتو ډيره برخه واخيـسـتـه. دتاريخ هرڅيړونکی دسردارانو مهارت ته په فکر کښې شي. مګر دلته دشاه محمود سدوزي ځيره دسړي مخې ته ورڅرګنده شي. چه دغه ټوله موقع دغه بې انديښنې اوبې شخصيته سړي په لاس ورکړه.

مونږ غواړو په تاريخي مفاهيمو کښې پوره اوښتون راشي:

لومړی داچه دافغانستان دجوړولو ضرورت څه ؤ ؟ هغه ضرورت اوس هم موجود دی.

دوهمه داچه دملي ګټو پيژندل او دهغه له شخصي، کورني او قبيلوي ګټو بيلول اوس هم مونږ خپل ملک په همدې دوو ټکو ساتلای شو.

دغه ليکونکي دنيمې پيړۍ پيښې په خپلو سترګـوليدلې ياپې له با خبرو خلکو اوريدلې دي.

دريمه خبره به داوي چه افغاني روح وپيژنو. که دغه روح ونه پيژنو. بيا به هم هيڅ ډول بری ترلاسه نه کړو.

وروسته تردې بیا هم ملي تکلونه وګوروچه افغان ملت دخپل ملي موجودیت دپاره کړي؛ هاخوا اودې خوا افغانانو.

مـا یو اثر دلویو اروا ګـانو ترعنوان لاندې لیکلی ؤ. دغـه اثر پـه کـال(۱۳۴۱هـ ل) دافغانستان دمطبوعاتو دوهمه درجه هنري جایزه واخیسته.

دغه اثر کښې هغه روحي ناکراري ښودله شوې وه چه دډیورنډ خط نه هاخوا پښتنوکښې موجوده وه . چه یوه پیړۍ یې پرله پسې قربانۍ ورکړي او ۳۵ لویې جګړې یې له انګریزانو سره وکړې او پاکستان هم په دې لاره کښې ډیره هڅه وکړه چه دپښتنو او بلوڅو روحي ناکراري او دمبارزې احساس کمزوری کړي. دلته یو نقاب داسلام په نامه دپاکستـان پرمخ پروت دی. دغه نقاب هندي مغلي پادشاهانو هم درلود؛ چه ددغـه نقـاب لاندې اسلام ؤ، دبغـداد خلافت هم دغـه نقـاب درلود؛ چه یعقـوب صفار هغـه بې پردې کړ اوافغـاني لومړنی نهضت یې پر پښـوودراوه. مونږ کولای شو دغه غورځنګ ته د زرنج اوبست غورځنګ ووایو.

تاریخي پیښې تر ډیره حده تاریخونو کښې یو شان وي خوهر مؤرخ مخکښې تردې چه تاریخ ولیکي یاوڅیړي؛ یو عمده هدف یې په نظرکښې وي. په دغه لیکنه کښې عمده هدف دافغانستان دخلکو کرداردی چه په حقیقت کښې له کورنیو او بهرنیو د ښمنانو سره یې مبارزه کښې دی او دافغان اوافغانستان موجودیت یې ساتلی دی.

دافغـانستـان دملي روح شرح چه افغـانستـان یې ساتلی، ډیره ګرانه ده . افـغـان اوسیدل افغان پاتې کیدل ؛ یو لړ خصوصیات غواړي؛ چه بیان به یې اوس میسر نه وي او احمد شاه بابا دافغاني روح یوعجیب ژوندی مثال دی چه وړاندې افغان مشران یې ټول تعقیب کړي دي اودهغو په لاره تللي دي.

# د افغان انگلیس دوهمه نښته

په تیرو پاڼو کښې مو ولیدل چه افغان امپراتوري او لوي افغانستان له (۱۷٤۷م) کال څخه دري پنځوس کاله پاتې شو اوبیا تر (۱۸٤۲ع) پورې ورو، ورو ماتیده او دسردار پاینده خان زامنو بې غمه دغه افغاني خاورې سیکهانو، ایران او انگریزانو ته خوشې کړې او په دم غنیمت یې شپې تیرولې.

دافغان انگلیس دوهمې جگړې همدغه یوه پلمه درلوده چه روسان دافغانستان له لارې هندته نژدې کیږي.

افغاني مؤرخین په دې خبره ټینگار لري چه دافغانستان دورانیدو سبب په ایران کښې دقاجاري دولت، په هند کښې دانگلیسانو موجودیت اودسیکهانو ددولت جوړیدل ؤ چه لوي افغانستان پر له پسې کوچنی شو. مگر دوئ داخبره هیره کړې چه که شاه محمود او وزیر فتح خان دیوه افغان زړور پادشاه شاه زمان په مقابل کښې ایران ته نه وای تښتیدلي او له قاجاري پادشاه څخه یې مرسته نه وای اخستې خراسان له لاسه نه ووت او که جنرال احمد خان نورزی دشاه محمود په مقابله کښې دشاه زمان لوری له خپلو دیرش زرو عسکروسره نه وای پریښی ، د شاه زمان ملا به نه وه ماته شوې. یاداچه دپاینده خان زامنو هرځای بلوانه‌وای جوړه کړې؛ افغاني ملي گټې یې په شخصي اقتدار اوعداوت نه وای بدلې کړې؛ نه یوازې ملک به ساتلای شوی ؤ؛ بلکه نورې ویاړنې به ترلاسه‌شوې وای. مونږ مخکښې په انگلیسي آثارو کښې ولوستل چه انگریزان پوهیدل یوازې شاه زمان پرته له خارجي مرستې کولای شي انگریزان له هندوستان څخه وباسي. آیا که‌دغه کارشوی وای ددنیا تاریخ به اوس بل‌ډول نه ؤ؟

زه په دې تينګه عقيده لرم چه موږ تراوسه هم ملي ګټې نه پيژنو او خپلې پښې مو پخپله ماتې کړې دي. که انګريزانو په هند کښې ماته خوړلې وای دغه دردونکې استعماري دوره به پرنړۍ باندې نه وای تيره شوې. انګليس خو دښمن ؤ. دښمن هرڅه کوي. مګر افغان مسلمان داسې ولې کوله؟

اوس به راشو ددوهمې جګړې طور طريقه به وګورو:

اميردوست محمد چه دوهم وار يوه مات اوګوډ افغانستان ته راغی. دانګريزانو په مقابل کښې يې خپل اطاعت په خورا مطيعانه توګه وساته. څوچه په (۱۸۶۳م) دجون په مياشت کښې مړ شو او په هرات کښې ښخ شو. البته هرات ورروسته له ډيروکلو په مرکز پورې وتړل شو او دده زوي امير شيرعلي خان امير شو. له دې وروسته دسردارانو ترمينځ په خپلو کښې دکوچني افغانستان دامارت دپاره ډيرې جګړې و شوې. هر سردار ديوه بادار په لټه کښې ؤ. چه باداران يې په هند او ايران کښې لټول ډير خلک په دې خپل مينځي جګړو کښې ووژل شول. انګليسانو کله يو او کله بل په رسميت پيژانده.

په همدغه کال کښې (۱۸۶۳ع) د سوات د اخوند عبدالغفور او مولوي غبدالله ترمشرۍ لاندې پښتنو مجاهدينو بيا انګريزانو سره لاس واچاوه. دامبيلې په کوتل کښې يې ۹۰۸ تنه انګريزان ووژل.

دهمدغه کال په نوامبر کښې پنځلس زره تنه مجاهدين په قتل ګړ کښې له انګريزانو سره وجنګيدل. دغه جنګ څو مياشتې جاري ؤ. په زرګونو پښتانه شهيدان او زيات شمير انګريزان ووژل شول. مګر په افغانستان کښې سردار افضل خان سرداراعظم اوسردارعبدالرحمن خان له امير شيرعلي خان سره جنګونه کول. چه له دولس زرو زيات افغانان په کښې ووژل شول.

ملي تاريخ بايد ووايي چه په همدغه وخت کښې دواړه خوا وې افغانان يعنې سرحد او دغه دافغانستان خوا افغانان په ګډه له انګريزانو سره جنګيدلي وای؛ وضع به

بيـخي بل شانې وه. مګر سرداران انګريزانوته تابع وو. نو له انګريزانو سره د سرحد افغانان په نره جنګيدل.

په همدغه جريان کښې انګريزانو دولس لکه روپۍ اودولس زره ټوپک امير شيرعلي خان ته ورکړل. له بلې خوايې پر اتمانخيلو او مومندو خپلې حملې شروع کړې.

په سرداري جريان کښې هيڅکله ددغه خوا او هغې خوا افغانانو سرنوشت يو ونه بلل شو. هغوئ له انګريزانو سره جهاد کاوه اودوئ پخپلو کښې جنګونه کول او دهندانګريزي وايسراى ته يې پر له پسې دځان دتاييد ليکونه استول.

په لومړي افغان انګليس او دوهم افغان انګليس جنګ کښې دروسانو يو نماينده کابل ته راغى. که څه هم اميردوست او شيرعلي نه غوښتل چه دغه نمايندګان کابل ته راشي. خو هغوئ راتيرشول او راغلل چه دغه کار له تړونو څخه مخالف ؤ. کوم چه دغو اميرانو له انګليسانو سره کړي وو. نوانګريزانو دواړه پلاوې پر افغانستان لښکر راؤست او اميران دواړه پلاوې د شمال خواته وتښتيدل او کابل يې انګريزانوته پريښود. دوئ دروس او انګريز په غم کښې نه ؤ. دوئ امارت غوښت. دغه امارت دوئ ته که روس ورکړى واى يا انګليس. دوئ ته يې توپير نه کيدى. خو روسان کمزوري وو. اوخپلې ګتې يې په ايران اومديترانه کښې ساتلې. يوازې به يې انګريزان بيرول چه دادى مونږ افغانستان کښې مداخله کوو او هند ته نژدې کيږو. مګر چه په پاريس يابرلين کښې به دوئ يوې موافقې ته ورسيدل. نو افغانستان به يې انګريزانوته پريښود.

دانګريز او روس په مقابل کښې ملت ولاړؤ او سردارانو داسې ښودله چه ملت مونږ اداره کولى شو او مونږ ستاسو دپاره خدمت کوو.

يوه انګليس ويلې چه دافغانستان ملت يو ښه ملت دى. په دې شرط چه سم لاربنود ولري. نو سردارانو ته په تمهٔ چه ددوئ سرپرستي به وکړي او که نه افضل

خان ، اعظم خان اوشیرَعلي خان سره ورونه وو. ددوئ يې څه؟ چه زرهاؤ افغانانو ددوئ دپاره وينې تويې کړې او شرقي افغانستان کښې يو سم ملي اسلامي جنګ دافغانانو اوانګريزانو ترمينځ روان ؤ او دغه سيمې لا تردې وخته په افغانستان پورې تړلې وې. کوم چه جنګ حق او ضروري ؤ دا کههغه؟ نو ملي تاريخ دغه اساسي ټکي بايد په ګوته کړي.

# دافغان - انگلیس هنگامه

په‌نامه دهغه خـدای مې دابیان‌دی    چه‌یونوم یې په نومونوکښې سبحان‌دی
«رحمان‌بابا»

تاریخ د هغو پیښنو ثبت‌دی‌چه په یوه هیواد اوټولنه کښې پیښې شوې وي. په پښتنوکښې تاریخ د روایاتو په څیرله یوې خولې بلې ته ویل شوی دی.

لومړنی تاریخ هیرودوټ لیکلی . چه دوه نیم زره کاله دمخه‌لیکل شوی‌دی.دغه تاریخ په یونانې ژبه ؤ او تر اووه لسمې پیړۍ یوازې هغه څوک پرې پوهیدل‌چه یونانی ژبه یې زده وه.

دغه‌دول عربو په‌څلورمه هجري‌پیړۍ کښې څو تاریخونه اوجغرافیه «اوستا» «ویدا» او یوشمیر نورې کتبې وې ولیکل؛ چه زره زمانه‌یې ښودله.

په‌افغـانستان کښې تاریخونه ، نه‌دي ساتل شوي. که څه هم له اتلسمې پیړۍ وروسته د اروپائیانو له قوله ورځني حالات لیکل کیدل. لکه‌په اصفهان کښې دیوه هالنډي شرکت. افغـانستـان کـښې تاریخ هم دنظم اولنډیو په‌څیربیـانیده . چه دجنگنامې په‌صورت به‌ؤ . داحمدشاه‌بابا په‌مهال کښې لیکوالو او شاعرانو حالات لیکل . له بده مرغه چه‌دښمنانو کتابونه سوځولي‌دي. اوخلکو هم‌پاملرنه نه‌کوله . داحمدشاه‌بابا منشي واقعات لیکل . دافغـان انگلیس دلومړۍ جگړې یوشعر پیدا شوی چه‌له‌یوې خوا بشپړ نه‌دی. له بلې خوا دشاعر نوم نه دی څرگند . داسې اټکل کیږي چه دپای منار پاچا صاحب ویلی وي.دغه شعر په. فارسي‌دی . مگر یوه غوره خبره ترې څرگندیږي . هغـه داچه‌دکـابل د بي‌بي‌مـهرو غـونډۍ او لومړنۍ‌افغـان انگلیس جگړه ښیي چه مشران او غـازیان ټول شااوخوا پښتـانه دي داخبر مناسبه نه بولم ؛ خو اوس داخبره رابرسیره شوې ده.

داچه واقعه ثبت شوې ښه شوي دي . هره واقعه چه ثبت نه شي تاريخ نه بلل کيږي. دغه شعر چه زه دهغه په سپړلو لگيا يم؛ دافغانستان دادبياتو دتاريخ په کتاب کښې خپور شوی. که دکتاب نوم ادبيات فارسي افغانستان وای بيا به څه ښه وای ځکه پښتو ادبيات په کښې نشته.

ديوه ملت پيوستون ښه خبره ده . مگر هغه تاريخي پيښې چه په کال (١٣٥٢هـ ش) کښې يعنې د محمدداؤد ترکودتا وروسته رامينځ ته شوې؛ د افغانستان د ټولو بنسټونو د ا (قتصادي کلتوري) دايستلو دپاره ، يو په بل پسې اغيزمن ؤ . ترڅوچه طالبانو برى و موند: مونږ دامنلې وه چه په تاريخي سوبمنو لښکر وړلو کښې زمونږ هزاره ،تاجک ، ازبک او نور وو. دوئ اصفهان او دهلي ته تللي دي. خو داسې نه ؤ لکه اوس چه ١٩٩٨ - سپتمبر - اکتوبر دايران دپوغ مخې ته څوک ولاړ دي؟

پښتانه افغانان دي. تاجکو او نورو خو له همدغه حکومت يا اداري سره د جگړې تياری کاوه. او جگړو په شمالي او شمال کښې دوام درلود. که په همدغه حالت کښې طالبانو وکولای شول پرد غوکړاؤنو برى ومومي؛ ستر برى به وي. په دغه شعر کښې چه دافغانستان دادبياتو دتاريخ ١٤٧ مخ کښې ( دچاپ کال ١٣٣٦ مؤلف حيدر ژوبل) راغلی ؛ وگورئ کوم اتلان او کوم خلک دی؟

١- يکی روز «لات» آن سگ کينه ور — که اوبود سرخيل فوج کفر
٢- به چونی دلش چو بسيار تنگ — برآورد لشکر به آهنگ جنگ
٣- همه لشکرش بود تاسی هزار — پياده ده وبيست بودش سوار
٤- بچابک عنانی سپاه برکشيد — سرپشته ئ بی بی مهرو رسيد
٥- به پشته رسيد هرطرف فوج فوج — چه درياهمی زدبهر گوشه موج
٦- زسوی مسلمان يکی صف شکن — همان عبدالله خان يل تيغ زن
٧- بهمرای فوج خود آمدززير — ببالا برآمدچوگرگ دلير
٨- زديگرسرپشته آمددوان — همان شيرجنگی امين الله خان
٩- ديگرسوفرس تازآمدچوشير — سرپشته عبدالسلام دلير
١٠- زديگر طرف خان گل تره خيل — سرپشته آمدچوسيل
١١- بهمراه تيپ سواران خويش — زديگرعلمها علم برده پيش
١٢- به هفتصدجزاين جيش درركاب — نموده به جنگ فرنگی شتاب

ACKU

۱۳- یل نامور خانگل شیر مست — درآن عرصه عریان نهنگی بدست
۱٤- بهرتیپ انبوه جوان مرد شیر — شده حمله زن چون هژیر دلیر
۱٥- بسی رابکشت اندران عرصه گاه — همان پیلش مرد لشکرپناه
۱٦- چنان کرد درگوشه پشته جنگ — که می گشت پنهان بەدود تفنگ
۱۷- درآن پشته ازجنبش فوجها — چودریای عمان زده موجها
۱۸- زهرملک غازی جوانان گرد — ببود چهل هزار راکسی می شمرد
۱۹- ولی بود جنگی سپاه ششهزار — چوکردم سوارمسلمان شمار
۲۰- همان عبدالله یل پیل زور — چوشیران تاخت برفوج گور
۲۱- برآمد سرپشته چون اژدها — عنان کرد سوی فرنگی رها
۲۲- هم زفرمل وزرمت واندری — رسیدند لشکردرآن داوری
۲۳- زتوخ وهوتک هم زکاینگروم — شده جمع لشکرزهرمرزبوم
۲٤- چوشد هردوجانب صف آرابجنگ — دزادزبرآمد زتوپ وتفنگ
۲٥- چوکرناچیان شد به کرنازدن — برقصیدن آمد کف طبل زن
۲٦-چنان کوس غریدبرپشت پیل — کەرفته خروشش دومیل

ددغه شعر له تاريخي تحليل څخه دغه لاندې حقايق لاس ته راځي.

په لومړي بيت کښې ئې دانگريزانو مشر ته «لات» چه د «لارډ» وران شوی شکل دی،ويل. څوک بەچه دانگريزانو پلوی ؤ هغه ته به يې «لاتي» ويل. لکه «سردارولي محمدخان لاتي داميردوست محمدخان زوي».

پەشپږم بيت کښې عبداللەخان « يل تيغ زن» عبدالله خان اڅکزی ښيي چه دافغان انگليس دلومړۍ جگړې يو اتل ؤ. ښکاري چەدغه عبدالله خان غښتلی اوڅرب سړی ؤ چه « يل » يې بللی دی.

پەاتم بيت کښې جنگي زمری نايب امين الله خان لوگری ښيي. دغه اتل دبي بي مهرو غونډۍ تەچه حاکمه منطقەوه او هلته انگليسان وو؛ وخوت.

په نهم بيت کښې زړور عبدالسلام خان پوپلزی ښيي چەپاس غونډۍ تەولاړ.

په‌لسم بیت کـښې یومـړنی اتل دخـانگل تره خـیل په نامـه یادوي‌چه تکړه سوارکارؤ. دغه اتل تاریخ کښې ډیرلږ یاد شوی؛ حال دا چه دغه شعرکښې درې ځایه دی په ښه صورت یاد شوی او له بده مرغه یوازې د خانگل له خولی مو اوریدلی ؤ.نه دده نوم. په یوولسم بیت کښې خانگل افغاني بیرغ مخ ته وړي «علم» بیرغ دی.

په‌دولسم بیت کښې فرنگی انگلیس ته وایي.

په‌دیارلسم بیت کښې بیا خانگل تره‌خیل‌مست زمری بولي چه توره په‌لاس هرې خواته‌غورځي. ( لکه مست زمری).

په‌پنځه لسم‌بیت کښې خانگل« پیل‌تن‌لښکر‌پناه» بولي چه‌ډیر انگریزان‌یې له تورې تیرکړل.

مونږ پوهیدای شو چه خانگل تره‌خیل « پیل‌تن» یعنې‌ډیر ځرب او غښتلی سړی‌ؤ او«لشکرپناه» دا معنی لري چه لښکر په ده‌ډاډه ؤ.

په‌شپاړسم بیت کښې بیادخانگل صفت‌دی‌چه‌داسې جگړه یې کوله‌چه‌د توپک په لوگي کښې پټ شه.

په نونسم بیت کښې دغازیانو‌شمیر ښیي.

په شلم‌بیت کښی وایي؛ خوجگړې ته شپږ‌زره تللي‌ؤ اوشاعر هغه شمیرلي‌دي.

په یوویشـتم بیت کښې بیـا عبدالله خان اڅکزی یادوي چه پیـل زور پهلوان ؤ او لکه‌زمري یې حمله‌کوله.

دوه‌ویشتم بیت: لکه ښامار‌عبدالله خان‌پرغونډی وخوت.

په‌درویشتم بیت کښې‌جنگیالی قومونه یادوي. فرمولي، زرمتي، او انړ

په‌څلیرویشتم بیت کښې‌توخي، هوتک اوکونړي.

شپږ‌ویشـتم‌بیت «کرناچیـان» او«ډهل» غږونکي‌یادوي. یعنې په غزاگانوکښې

ډمامې غرېدلې چه‌دادود بايدهير نه شي.

اوو ويشتم بيت وايي‌چه‌دپيل پرشا «کوس» غرېده. چه دډمامې يوه برخه وه. کله چه دتاريخ له مخې چه نوراسناد نه وي ؛ دغـه اوو ويشت بيتـه ډيرمـواد په‌لاس ورکوي چه دافغان انګليس دلومړۍ جګړې يوه برخه مونږ ته ځرګندوي. يعنې، ملي اتلان، جنګيالي قومونه، وسله ،ډمامه‌جګړئيز موقعيت حتى که رسام غوښتلي وي کولای شي دبي‌بي مهرو د غونډۍ جګړه د۱۸۴۲م کال دنوامبر د مياشتې چه‌جګړه دنوامبر په دوهمه نېټې وه ؛ رسم کړي.

په‌دې اووه ويشت بيتونوکښې چه‌دسترګو ليدلی حال دی له شمارلو نيولې، ترډمامی رسيدلې ؛ په‌دغه ډګرکښې ټول کردار دپښتنو دی. دتاريخ دڅيړنې له مخې په‌اصفهان (۱۷۲۲م) ډهلي (۱۷۶۱م) او کابل (۱۸۴۲م) کښې په (۱۹۹۸ع) کښې دايران دلښکرو په‌مقابل کښې په لويديځ سرحد کښې يوازې يو قوم چه پښتون دی؛پروت دی اوتاجک افغان په همدغه وخت کښې له‌دولت سره په جګړې اختـه ؤ او تاريخ دا وايي‌چه تاجک ، هزاره ،ازبک د بهرني تيري سره يو ځای د ملي ګټو په مقابل کښې وجنګيدل. دومره ويلای شو چه‌ټول تاجک ،هزاره ، ازبک داسې نه‌وو. يوشمير دپيسو شوقيان ؤ.

په‌افغانستان کښې آثارورک شوي، ويل کيږي داعليحضرت شاه زمان په‌وخت کښې، ډيرې ودانۍ وې. خو هغه له بيخه ايستل شوي؛ نوکتابونه چيرته پاتې دي؟

راتلونکې ځوانانوته ډيرکړاوونه په‌مخ کښې پراته‌دي. په تيره بياديوه سم تاريخ ليکل . دافغان روس په‌جګړې کښې چه‌دغه ليکوال په‌پښوركښې ؤ ؛ له نظامي جهادي آمرانو څخه‌يې پوښتنه کوله چه‌دجګړې زور چيرته دی؟ په‌لومړۍ‌درجه پکتيا ،کندهار او ننګرهار کښې دی. داخبره به‌هيڅکله چانه وه کړې چه‌ددوئ اعمالو دانه‌ځرګندولی.

دتاريخ پەدې سريزه کښې غواړم څه نورمسائل هم رامخې ته کړم او هغه داچه دلرغوني مهال جغرافيه ډيره بدله شوې.په ترکيې کښې دغه خلک چه اوس دي؛ دا نهٔ.درې زره کاله دمخه هلته يوقوم اوسيده چه هغه ته يې «لودي» ويل «لوديا» يې ځمکه وه او هغه تاپ وچه کريميا بلل کيږي هغلته نورخلک اوسيدل.د خزر دسمندر پرغاړو نورخلک وو. لکه جدون او شيرواني؛ مگر اوس مونږ دکريميا کاميرخيل، لودي، شيرواني جدون اونور قومونولرو .ددې خبرې تاييد مؤرخ غبار دبارتولډ او نورو تاريخ پوهانو لەقوله کړی چه پەکال ( ۱۳۱۰هـ ش) کښې دغه ليکنې دکابل مجلې په نهمه گڼه کښې خپرې شوې دي. )

غلځيان هغه روايت پورې چه دشاه حسين غوري دی؛ اړه نه لري. دغه غلغ خلغ يو ډير پخوانی قوم دی چه ډير پخوا دلته اوسيدلی دی. صورة الارض، مروج الذهب او نوروکتابو کښې ددوئ اوصاف دحکومت د نظم او نورو صفاتو بيان شوي.

ترټولو لامهمه خبره داده چه طبري ليکلې ده ؛ ژوره پلټنه غواړي : طبري وايي: دسند او دبلخ دنهر يعنې آمو ترمنځ داټوله ځمکه سيستان دی . يادسکائيانو ده . دغه جمله پەاصل کښې عربي او فارسي ترجمه کښې داسې ده.

« سيستان بزرگتر از خراسان ومرزهای آن بيشتربود کەبا کندهاروترک واقوام بسيار جنگ داشتند و ناحيه مابين سند تانهر بلخ مقابل آن بود وپيوسته از خراسان بزرگتر بود ومرز آن سخت تربود ومردم آن بيشتر».

پەدغودروکرښو کښې ټولو چه د افغانستان نوم خراسان نهٔ . کەؤ( ۲۰۱۵ مخ طبري) نوسيستان ؤ اوسيستان پەاصل کښې ساکستان دی . چەپارسايانو اوعربانو هغه، سيستان اوسجستان بللی دی. په ترجمو کښې هم داسې راغلي دي.

په دوهمې کرښې کښې دسند او آمو ترمينځ داسيمه افغانستان دی. دهغه مهال سيستان. پەدريمه کرښه يا عبارت کښې وايي:«سرحدونه يې کلک او خلک يې ډيرؤ» په پخواني متونو کښې چه دترک ذکر راغلی هغەله ترکيې ترکمنستان او

ترک سره اړه نه لري. کوم جنګونه چه په کندهار کښې وو؛ د هغه تفصیل نه دی راغلی.

تاریخ په ډیرو برخو کښې ګونګ دی چه څیړنه غواړي.

دطبري په یوه بله برخه کښې راغلي حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم ابوذر غفاري ته وایي: ای ابوذره څلورتنه له پیغمبرانو سریاني دي آدم، شیث، نوح او اخنوخ. طبری ٦٢٧ مخ.

ابوذرغفاری گوید: پیغمبر صلی الله علیه وسلم بمن گفت ای ابوذر چهارکس از پیغمبران سریانی بودند.آدم، شیث، نوح و اخنوخ و او اول کس بود که باقلم خط نوشت وخداوند سی صحیفه به اخنوخ فرستاد».

په داسي حال کښې چه حضرت پیغمبر صلي الله علیه وسلم داخبره کړې؛ مونږ ته پوخ سند دی.

سریاني څوک دي؟

سوریاني هغه خلک چه دمسعودي له قوله وروسته له توفانه یې پادشاهي جوړه کړه په غزني، کندهار او بست کښې ئې پخه پادشاهي درلوده؛ چه دهند پادشاه ترې په ویره کښې و. دسوریانیانو له پیاوړتیا، تاریخ کښې ثابته ده چه خط دسوریانیانو اختراع او ایجاد دی.

په لوي افغانستان کښې دپښتنو موجودیت له اوستا او ویدا نیولې تر هیرودټ پورې هماغه پنځه زره کلن تاریخ دی چه حساب پرې کیږي. په دې سریزه کښې غواړم ووایم چه «ساکستان» پاکتیسیا» سوریا، لودیا.... دپښتنو دبیلو بیلو قومونو نومونه دي چه دسند، هیرمند، سیحون اوجیحون او دخزر په دواړو خواو کښې تر ترکیې پورې دتاریخ په اوږدو کښې اوسیدلي دي.

ساکستان دساکو ځمکه، سوریا دسورلودیا دلو... چه په دوو رسالو کښې

خبرې پرې شوي او هغه بەددغه بشپړوونکي ضـميمې وي. زما په زړه کښې يوه خبره ګرځي راګرځي. چەسل وارې يې وکړم لکه چه نەمې ده کړې، او هغه داده موږ دپوهاندرښتين ، پوهان حبيبي ، مولانا خادم، ګل پاچا الف اوعبدالرؤف بينوا دعمر په لحاظ دوهم رديف بلل کيږو. موږ هم بوداګان شو. مګرخبره لاهماغسې نيمګړې پاتې ده.

تاسو ځوانان په نره اوزغرده ووايـاست چه لوی افغانستان، تاريخي افغانستان دادی، پښتـون يې قـوم دی. پښتـونولي يې لاره ده. او په ترتيب يې ثابتـه کړې چه راتلونکی نسل ورته چمتوشي .

لکه باز زما نظر پەلوي لوي ښکاردی نەچەګرځي ګونګټ نيسي ېادخورک يم ځان وپيژنئ!! خپل جهان وپيژنئ! وړو وړو مسايلو پسې مه ګرځئ!. رحمان بابا وايي:

که تمام جهان په ګېډه باندې وخوري ياد به نه شې په درود او په دعاء

په تاريخي رسالو کښې ماليکلي چه سور پښتو کلمەده . پەډيرو معناؤلکه لمر، ډيرتود ، جدي، ګل، رنګ، قوم ، نوم .... او په پښتوکښې تر اوسه پەهمدغو معناوو مروجه ده. او تاريخونه يې تاييدکوي. بيا دا نوم دسور، سوريا، سارګوتي ، آسور، سومري ، سورياني .... په اشکالو آوښتی اورا اوښتی دی. داسې وايەچه يو لەبل نه هندي ،عربي، يوناني توپير کوي.

په پای کـښې دا اونور آريايي قـومونه يوەسرچينه لري چەداورسي ستپونەدي اودسانسکريټ ځانګې ،ژبې يې. ژبه ده پەشکل اوصورت کښې يوشان دي او هغه خصوصيات لري چه آريايي قومونه يې لري.

لکەچه مروج الذهب کـښې ويل شوي خزلجيان ښايستـه دنګ خلک دي. چه همدغه خلجيان ، غلځيان يادوي.

په اصل کښې دافغانستان دپاره يوسم ملي تاريخ نەدی ليکلی شوی؛ چه دهغه له

مخې هر افغان خپله تاريخي دنده وپيژني او ځان ديوه ملي هويت خاوندوبولي. موږ په غربي نړۍ کښې وينو چه له لومړي ټولګي څخه ترپايه پورې تاريخ سره يوځاى روان وي. خو ملي تاريخ دتاريخ هغه برخې اخستل دي چه ښه سرمشق اوښه مثال وي. مرحوم غبار او فرهنګ تاريخ نه دى ليکلى. يو شکايت دى. تاريخ دى مګر ملي تاريخ نه بلل کيږي.

ملي تاريخ بويه وليکل شي. ډير تاريخ پوهان دې پرهغه رېږوګالي او ښايسته ښه تاريخ دې ترتيب کړي چه افغان ملت ته دوياړ او ويسا منبع وي.

موږ دښوونځي په تاريخ کښې لوستل چه شاه زمان دشاه محمود خپل ورور له لاسه ړوند شو. يا دامير شيرعلي او امير محمدافضل خان ترمينځ په جګړه کښې دولس زره افغانان مړه شول. دوئ هم يودبل سکني ورونه وو. دواړه دامير دوست محمد خان زامن وو.

دا ټول حوادث دبې اتفاقۍ ترعنوان لاندې راتلاى شي او تفصيل ته يې ضرورت نه ليدل کيږي. که څه هم حقيقت وي. ملي صادقان اوملي خائنان بويه وپيژندل شي.

دمثال په توګه ميرمحمدصديق فرهنګ ليکي چه تيمورشاه دراني په خپل حرم کښې دري سوه ښځې درلودې. مګردى وينښ سړى ؤ. له هرې جګړې بريالى راغلى دى. په ملي تاريخ کښې دده هغه هڅې اهميت لري چه ده دهيواد دساتنې او خوشحالى دپاره کړي؛ راځي. همدغه مطلب عزيزالدين وکيلي دتيمورشاه دراني په کتاب کښې داسې ليکلي چه تيمورشاه دخپلې امپراتورۍ له هرې برخې دهمغه وخت له ايجابانو سره ښځې کړي. چه دهغوئ دوستي جلب کړي نه دعياشۍ دپاره.

په پخوانيو پادشاهانو کښې دا دستورؤ چه دهرې قبيلې څخه يې ودونه کول. په دواړو صورتونو کښې دا دده شخصي عمل بلل کيداى شي چه سياسي بڼه يې هم درلوده. دري سوه ښځې له ضرورته ډيرې دي مګر دا نوم چه پادشاه يوه قبيله خپل زوم وبولي او رابطه ئې پيدا شي؛ يوه خبره هم ده. بله موضوع په ملي تاريخ

کښې داده چه په افغانستان کښې دپښتنو په اعتبار داثابتيږي چه اويستا . ويدا او دهيرودوټ په تواريخو کښې دپښتنو دقومونو نومونه راغلي او هماغه قومونه اوس هم شته.

دافغانستان په تاريخ کښې کوم ټکی چه د يادولو وړدی هغه دادي:

١- افغـانستـان دبشر دپيدايښت ځمکه ده . تاين بي او نورپوهان وايي چه بشر دآسيا په جنوب لويديځ کښې پيدا شوی؛ چه دسند حوزې او کندهار پورې رسيږي.

٢- په مدني شويو قومونو کښې لومړی سوريانې دي چه په سوري سوريا پورې اړه لري.

٣- پښتـانه قومـونه لکه سکا ،سوري، لودي، کاسي او مـدنيتـونه دي. لکه دسند دحوزې مدنيت دهيرمند اوسيحون اوجيحون .

٤- ترک او خلج همدغه تره کي خلجي دي: چه اريائيان دي.

٥- خـراسـان هيـڅکله دافـغـانسـتـان نوم نه ؤ. او دا خـبـره بيـخي غلطه ده دافغانستان نوم خراسان نه ؤ. نه مخکښې تراسلام او نه وروسته له اسلام څخه .

٦- هيرودوټ درې نومونه يادوي، شمال د ايندوکښ يعنې هندوکش له کاشغره ترشـمـالي ايران پورې باکـتـر سکائيـه اولوديا دي. ايندوکښ د(هندوکش) جنوب پاکتيسيا Pacticia چه پکتيکا پښتونخوا همدغه کلمه ده .

٧- باکتر بلخ چه« باکتريا » ورته ويلی شي . په شمال کښې بلخ ،سغد، فرغانه ياد آمو سيند دواړه خواوې دي. دپاکتريانو چه پاکتر او پاکتيا شوي؛ د پښتنو سيمې وې.

٨- مکناټن په (١٨٤٢ع) کښې وزير اکبر خان نه دی وژلی. يوه سپاهي وژلی دی

٩- دشاه شجاع او اميردوست محمد خان توپير نه ؤ. خويو يې نيک نوم لري او بل يې نه لري.

١٠- دافغانستان دنړيدلو لوي عمل دمحمدزيو اوسدوزوبې اتفاقي وه چه محمدزائيانو ملي گټې نه پيژندلې اوخبره يې شخصي کړې وه.

١١- افغانستان د ايران فلات نه دی.

١٢- سکائيانو دهخامنشيانو اوساسانيانو مخه نيولې او هخامنشيان پاکتيسياته نه دي رسيدلي اوداخبره دروغ ده . هيرودوټ هم داخبره کوي چه جنوب دهندوکش ته تگ آسانه نه ؤ.

بجرم عشق توام ميکشند غوغانيست
توهم برسر بام آی چه خوش تماشايست

ACKU



آمین امان الله خان

# درېيم جنگ له انگريزانو سره

اميرحبيب الله چه خپله عقيده له انگليس سره او تړونونه يې په ډير اخلاص وساتل اودخوند امارت يې کاوه. په (۱۹۱۹ع) دفبرورۍ په شلمه ووژل شو. داميرحبيب الله دوژلو علتونه ډير ښودل کيږي. خو ښکاره خبره داده چه دده عيش او هوس، دانگليس رحم ته کتل؛ دده حيثيت يې را تيټ کړی ؤ. مؤرخين دده مرگ دمشروطه غوښتونکي ديوځوان له پلوه چه شجاع الدوله نوميده او وروسته دامان الله خان په سلطنت کښې لوړومنصبوته ورسيدی؛ چه مرحوم غبار دغه حکم کوی چه شجاع الدوله دامنيت وزير ده ته ويلي چه دده امير حبيب الله وژلی دی. ځينې داعليحضرت امان الله خان مور په قضيه کښې دخيله بولي.

مگرما چه دکابل له سپين ږيرو اوريدلي[1] د يحيی خان کورنۍ چه نادرخان يې لمسی دی؛ دغه قتل ددوئ باله. حتی قاتل يې احمدشاه خان ددرباروزير باله. ځکه دغې کورنۍ غوښتل چه په دوهمه مرحله کښې پادشاهان شي.

مگر اعليحضرت امان الله خان دملي انديښنې خاوندؤ. ده اشتباه گانې ډيرې کړې؛ کـه چيرې دده د شهـزادگۍ دور او پادشاهۍ دور په ژوره وکتل شي؛ په مجموع کښې دمحمدزايي په کورنۍ کښې همدغه يوسړی ؤ. دغې نتيجی ته زه وروسته له دغې لاندنۍ مطالعې رسيدلی يم:

افغانستان دفاتحينو لويه لارکتاب ليکي: د (۱۲۹٦هـ.ش) دکب په نهمه امان الله خان په کابل کښې دپادشاهۍ اعلان وکړ.

---

۱- سراج الدين خپمه جوړونکی چه دواقعې په وخت کښې هلته ؤ.

دهمدغه کال دحوت په دیارلسمه یې انګلیسانوته ولیکل: وروسته له القابو زماپلار دیوشمیر خائنانو له لاسه ووژل شو. دخدای په امید او مرسته دپادشاهۍ خولۍ مې په کابل کښې دافغانستان په پایتخت کښې پر سرکښېښوده. په دغه وخت کښې ټولو خلکو او عسکري قطعاتو په شور اوځوګ زما هرکلی وکړ. داخبره باید زیاته کړم چه خپلواک او مستقل افغانستان په هره ګړۍ او موسم کښې چمتودی چه ددوستۍ دټولو قاعدو په نظر کښې لرلو سره هرډول ددوستۍ او تجارتي تړون او قرارداد او نور چه ددواړو هیوادو دپاره ګټهوروي دمساوي او برابرو حقوقو له ساتلو سره دانګلستان له عالیه حکومت سره لاسلیک کړي.

په دغه لیک کښې امان الله خان دخپلواکۍ اومساوي حقوقو مسأله دخپلې پادشاهۍ مسأله او د پلار دوژل کیدو مسأله په ښه صورت ځای کړې او لیک هم دیر لنډ دی.

# د خپلواکۍ اعلاميه

دخپلواکۍ اعلاميه هم ډيره مختصره ده! چه داعليحضرت امان‌الله خان‌له خوا اعلان شوه: « زه ځان او خپل هيواد له كورني او بهرني نظره په تمامه معنی خپلواک، مستقل او خود مختاره اعلانوم. زما هيواد به وروسته له دې لکه دنړۍ د نورو قدرتونو اوهيوادونو په څېر خپلواک وي. هيڅ خارجي قدرت ته‌به‌دسر ديوه ويښته په اندازه اجازه ورنه کړشي چه زمونږ په داخلي او خارجي مسايلو کښې لاس وهنه وکړي. که‌څوک وغواړي په دې کار لاس پورې کړي ( توره يې پورته) په‌دې توره به يې سرپرې کړو! ».حاضرينو نعره كړه الله اکبر او نصرمن‌الله وفتح قريب. تل‌دې وي افغانستان! ژوندی دې وي امان الله غازي.

دافغانستان دخپلواکۍ اعلان په هيواد کښې دننه او د باندې يوه زلزله پيدا کړه. په ټول هندوستان کښې په عربي هيوادو کښې دافغانستان دې مهم اقدام ته حيران وو. ځکه انگليس په نړۍ کښې يوازنی طاقت ؤ چه په نيول شوو ځمکو کښې بې لمرنه ډوبيده. دهندوستان دمسلمانانو ، هندوانو هيجان زيات شو. انگريزانو يو نوی سخت قانون جاري کړ. ډير خلک يې بنديان کړل او عام قتل يې شروع کړ. دهمدغې مياشتې په پای کښې امان الله دانگريزانو پرضد په يوه عامه جلسه کښې يوه هيجاني وينا وکړه او په هغه کښې ئې دامرتسر عام قتل وغانده. په دغې پيښې کښې انگليسي جنرال « دير » دخلکو په‌گنه‌گونه باندې داور امر وکړ. په لسو مينټو کښې يې ۳۷۹ کسان ووژل. (۱۲۰۰۰) کسان زخميان، امان‌الله خان‌چه دغه واقعات بيانول؛ نو وئې ژړل او زياته يې کړه داځه‌ظلم او ستم‌دی چه زمونږ پر هندي ورونو باندې کيږي. يوازې دانه‌دی‌ټول مقدس ځايونه‌او بغداد ددغو ظالمانو په‌لاس

کښې لويدلی دی . زه تاسو ته وايم چه که جهاد کوئ دغه يې وخت دی. ( ټولو نعره وکړه الله اکبر جهاد او غزا کوو. امان الله خان وويل تاسو نه ماليه نه اخلم . تاسو خوراکي شيان دجهاد دپاره برابر کړئ. بدايان دې وسله په بيه واخلي اوبې وزلو ته يې دی دضمانت په مقابل کښې ورکړي. په ټول هيواد کښې د ډيورنډ له کرښې هاپلو اودې پلو غوغا جوړه شوه. نارينه ښځې عالم او عامي په يوه صف کښې ودريدل.

د (۱۹۱۹ع) داپريل په ۱۵ ويکټوريا دانگلستان ټولواکمنې امان الله خان ته وليکل چه انگلستان دپخواني تړونو له دوام سره علاقه لري . يعنې چه خپلواکي په دپلوماتيکو لارونه ترلاسه کيږي اوښايي چه توري ته لاس شي. همدا ؤ چه دجگړې دپاره ملت چمتو ؤ . عسکري قطعې هم چمتو شوې چه دهند يعنې انگليس پرخاورو بريدوشي. طبيعي ده چه لومړی شرقي او جنوبي خاورې مخې ته راتلې. چه ټول پښتانه اوخپل خلک ؤ. هغوئ هم په ټول قوت جهاد ته حاضر وو. لکه چه څرگنده ده سپه سالار صالح محمد جلال آباد ته، سپه سالارمحمد نادر پکتياته او سردار عبدالقدوس کندهارته تاکل شوي وو. لومړني ترتيبات داسې ووچه يوه پلا دې دغه قوې داور خطونو ته ورسيږي او هلته دې د مرکز د امر انتظار وکړي . دلارو په اوږدو کښې نارينه اوښځو پردغو ملي قوتونو گلونه اوخواږه شيان شيندل او داسې جوش او هيجان ؤچه د هرچا په سترگو کښې دافغاني غيرت اوښکې ولاړې وې. اعليحضرت امان الله خان ديوۀ سپاهي جامې په ځان کړې؛ د حرب په وزارت کښې دعمومي قوماندان په حيث ناست او پخپله به يې دچاروڅارنه کوله. نقليه عصري وسايل نه ؤ. له ټانگو ، آسونو او اوښانو څخه استفاده کيده. مگر ملت عزم کړی ؤ دجنگ تيارئ کيدې. ځوانانو په بازارونو جوماتونو کښې شعارونه ورکول . هرچا به په تورو او ټوپکو لاس واهه. ځينې ليکوال وايي چه دچارو تنظيم په سمه توگه کېدۀ اوجاسوسانو بدې آوازې نه خپرولې. نونه يوازې لوی افغانستان آزاديدی؛

بلکه هندوستان به هم دانګريزانو له پنجو وتلی وای. دافسوس خبره داده چه وسايل لږ وو. ارتباط سم نه تأمينده.

يوه سپين‌ږيری راته دخپل سترګو ليدلی حال داسې بيان کړ چه په ټانګو کښې پخه‌ډوډۍ او غوښه جلال آباد ته لیږل کیده. عبدالعزيز خان حربیه وزير يو ټانګيوان چه چټکي يې نه کوله په څپیړه وواهه. امان الله خان دغه وخت له کومې را پیدا شو. ټانګه وان يې په غیږ کښې ونیو او دلاسايې کړ. وروسته يې وزيرته وويل دلته يې چه ته په څپیړه ووهې؛ په لارې کښې يې عسکروژني. د هر افغان قدر پرخپل ځای دی. په تاريخ کښې هرلوستونکی باید هغه زمانه اووسايل په نظر کښې ولري.

لومړی سرې او قوه چه سرحدته ژروررسیده؛ دصالح محمد سپه سالار قوه وه. که څه هم چه لا داور قومانده نه وه ورکړی شوې. شرقي قوه لږه د ډيورنډ له تحميلي کرښې ورتیره شوه. له انګريزانو نه ئې داوبو چینه هم ونيوله. زرشاه شينواري دانګليس محلي پلويان ووژل. د سرحد کشمنر روزکيپل امان الله خان ته دهند دوايسرای له لارې وليکل چه زرشاه شينواري چه د هند او افغانستان دښمن دی؛ باید ووژل شي. مګر امان الله خان ونه منله.

امان الله خان انګريزانوته داسې وليکل: «ستاسو حکومت ښايي چه زمونږ حکومت ديوه خپلواک حکومت په حيث وپيژني اود هغه جغرافيايي او سياسي اهميت ته دې د احترام په نظر وګوري. داسې ښکاري چه تاسو زمونږ هيلې په نظر کښې نه نيسئ. له زرو افسوسونو سره بايد وويل شي چه ستاسو له ليک نه داسې ښرګنديږي چه تاسو دغه حقيقت نه منئ. افغانستان چمتودی چه دمساوي حقوقو په اساس له تاسو سره قرار دادونه امضاء کړي او ستاسو له حکومت سره ددوستۍ اړيکي ولري. که تاسو حاضر شئ خپل ظالمانه قوانين فسخ کړئ او د خلکو حقوق په رسميت

وپيژنئ. اوسني خطرناک حالات به په مثبته توګه بدلون ومومي اودنړۍ پرمخ به دبدمرغيو دروازې وتړلی شي. دا يوحق دی چه حق بايد وغوښتل شي. هيله لرم چه ستاسو حکومت به له ژوراو بشپړ پوخ فکرڅخه کار واخلي اود خبرې په ژورتيا به پوه شي.

مګر انګليسان حاضر نه شول چه دغه ليک ته مثبت ځواب ورکړي. بله لاره پاتې نه شوه. د(۱۹۱۹ع) دمی په دريمه جګړه پيل شوه. انګريزانو پېښور دافغاني پوسته خانې آمرغلام حيدر چه دامان الله خان ابلاغيې يې په پښتنو او مسلمانانو کښې ويشلې وې او دهند خپلواکي غوښتونکی لکه ملاپ سنګهـ عبدالجليل ډاکتر کوش يې ونيول او ډهلي ته يې وليږل.

مخکښې تردې انګليسي چاونۍ په باغ کافرکوټ کښې افغانانو نيولې وې. تل وانه د توچي دره دسپين وام کلا، شيوا، درسمند ته ورسيدل. افغاني قواوې دپرمختګ په حال کښې وې. له پېښوره عافيت غوښتونکي د وتلو په حال کښې وو. له سپين بولدک سره افغاني عسکر ترورستي سړي پورې تن په تن، برچه په برچه وجنګيدل. افغاني قواوې يونيم ميل له کربښې ورواوښتلې. چمن هم ونيول شو او کويټه ترفشار لاندې راغله. د فقيرزی مرغه اود هندوباغ شا او خوا تپې اوغونډۍ ونيول شوې. اپريديو دره بازار ونيوه. بارلي، علي مسجد کښې انګريزي تهانې ونيولی شوې.

دلته ددې خبرې ذکر ضروري دی چه دغه پرمختګونه وړاندې وروسته ؤ اوسرحدي پښتانه يا شرقي او جنوبي افغانانو په جوش او پښتني غيرت يرغلونه اوبريدونه کول، مګر افسوس چه مرکز يعنې کابل کمزوری ؤ. دلته دولتي مأمورين اوراحت غوښتونکي مشران وويريدل او د سولې دپاره هلې ځلې روانې شوې.

په داسې حال کښې په همدغه وخت کښې [illegible]نې که عين ورغ نه وي؛ يوه ورځ وړاندې يا وروسته انګليسي کشمنر روزکيپل په ديارلسم د می (۱۹۱۹ع) دهند

وایسرای ته ولیکل: «افغانان په زرورتیا جنګیږي، مګر د هغوئ د قوماندې کدر کمزوری دی او ترانسپورتي وسایل نه لري. پراخې مانورې نه شي کولای. مونږ زیاتره دقومونو او ځایي خلکو له خوا ویره لرو. هغوئ ټول دجهاد په نامه خپله لوړه ایماني وظیفه بولي چه وجنګیږي او داؤطلبانه د جګړې ډګر ته رادانګي!».

نوموړی کمشنر بیا لیکي: په لنډیکوتل کښې دتهاڼې له اووسووڅخه یوازې سل تنه پاتې دي او د هغوئ افسران وایي چه ددغو افرادو ضمانت نه شي کولای. په جمرود کښې دپنځوسوو عسکرو له جملې نه یوسل وپنځوس تنه حاضر دي. مونږ غواړو چه دغه افراد هم خلع سلاح کړو. څو د عمومي قیام په صورت کښې خلکو سره یوځای نه شي»!

جان مني دانګلیس پولټیکل ایجنټ په سمله کښې وایسرای ته ولیکل: «د ټل ښار له لاسه وتلی؛ نودجلال آباد دنیولو پلان دی وځنډیږي، ځکه دومره ترانسپرټي وسیلې نه لرو چه دواړو جبهوته ورسیږو. مونږ باید دافغانستان په خاوره کښې له پرمختګ څخه ډډه وکړو. ځکه د افغانستان ټولو خلکو دسرحد په دواړو خواؤ کښې پتیلې چه د افغانستان دحکومت ملاتړ وکړي او له انګریزانو یا مونږ سره وجنګیږي. ټول خلک مونږ ته دحقارت په نظر ګوري او مونږ تیري کوونکي بولي.»!

له دغو لنډو راپورو څرګندیږي چه په دریم جنګ کښې افغانان بریالي وو. چه ټول افغانستان یالوي افغانستان آزاد کړي او بالاخره هند له انګلیسانو آزاد شي. مګر همدغه وخت یو شاعر دامان‌الله خان په باب وایي:

دلـم بپاکـی دامان غنچه می لـرزد

که بلبلان همه مستند وباغبان تنهاست

داټول دملي تاریخ هغه برخې دي چه که پاملرنه ورته وشي او راتلونکې وسنجول شي لږ ترلږه به مستقبل سم شي. دمثال په توګه که مونږ داستقلال اعلامیه به سرو زرو

ليکلې وای او هغه مو سرمشق گرځولی وای؛ هيڅوک دخارج نوکران نه جوړيدل ...
«هيڅ خارجي قدرت ته به دسرديوه ويښته په اندازه اجازه ورنه کړی شي چه زموږ په داخلي او خارجي مسايلو کښې لاس وهنه وکړي. که څوک وغواړي په دې کار لاس پورې کړي؛ په دې توره به يې سرپرې کړو».

که کوم داخلي سړی دخارجي دپاره په خپل هيواد کښې بې ددې اعلاميې په اساس سر د پرې کيدوؤ؛ موږ وليدل د روسانو دمداخلې په دوران کښې څومره خلک دخارجيانو دپاره لگياوو چه دملي تاريخ په حکم مباح الدم ؤ.

انگليسي جنرال مونرو په خپلو يادداشتو کښې ليکلي دي: «وضع ډيره خطرناکه ده. که چيرې محمدنادر له څو محدودوکسانوسره په دغه عمل لاس پورې کړي افغانان خپلو هدفونوته رسيدل».

مگر سره له دې چه مجاهدين دپرمختگ په حال کښې وو او انگليسان يې په شاتمبولي وو؛ دبري په دغه بريد کښې دکابل نه دجنگ دمتارکې اعلان وشو چه دټول افغانستان خلک ترسند پورې هک حيران شول. په دې چه ارتباطات او اطلاعات کمزوري وو. په خپل بري او پرمختگ نه پوهيدل.

په وزيرستان کښې سمدلاسه پښتنو يوه لويه جرگه وکړه. ملا حمزه الله دوزيرستان يوې مشر جرگې ته يوه هيجاني وينا وکړه چه په ملي تاريخ کښې بايد ثبت شي. حضرت حمزه الله رحمة الله عليه په خپلې وينا کښې وويل: کله چه امان الله خان دخپلواکۍ اعلان وکړ؛ سپه سالار نادرخان خوست ته ورسيد. زموږ قومونو سمدستي دانگليسانو پرضد ملا وتړله. له (وانا) نيولې (سرکي) پورې ټولې انگليسي چهاونۍ يې ترکاکرستان پورې چور کړې او ددولتي عسکرو دپرمختگ لاره يې خلاصه کړه. ښايي چه دجنگ ددوام په صورت کښې افغانستان ته مشکلات پيدا شوي وای. مگر دا په کارنه ؤ چه موږ يې پرميدان يوازې پريښې وای. سره له هغه دوزير واومسعودو غيرتمند تراوسه جهاد ته دوام ورکوي او حاضر نه دي چه انگريز ته

سرتيټ کړي. انګريزانو يوه لويه قوه وزيرستان ته راليږلې؛ چه له مونږ څخه انتقام واخلي. مګر زمونږ قوم داسې ورسره جنګيدلی چه ترقيامته به يې په خاطروکښې پاتې شي اوهيربه يې نه کړي . بيا حضرت ملک هفته خان رحمة الله عليه دواړه وينا وکړه . هغه د ملاحمزه الله رحمة الله عليه خبرې تاييد کړې اووئې فرمايل: مونږ نن په دې جرم چه دخپلو ديني او قومي ورونو يعنې افغانستان سره مو مرسته کړې دانګريزانو طيارې پرمونږ بمبارد کوي. بله هيڅ ګناه نه لرو؛ پرته له دې چه خپلو ورونو سره مو د هغوئ د حق په خاطر په جهاد کښې ګډون کړی. البته دا زمونږ ايماني وظيفه وه . اوس بايد د کابل حکومت هم مونږ يوازې پرې نږدي اودغه شعريې ووايه :

بجرم عشق توام ميکشند غوغايست

توهـم برسربام آی خـوش نمايست[1]

دافغانستان د خپلواکۍ له اعلان سره سم دهند دمسلمانانو او هندوانو دمرکزي آسيا دمسلمانانو اوټولو مسلمانانو مخ دافغانستان خواته را واوښت. اعليحضرت امان الله خان په داسې حال کښې چه ډير ارمانونه ئې درلودل . مګر دومره پوخ سياستمدار نه ؤ. دده ذاتي شرافت ډيرو؟ په چل ول نه پوهيدی. يو شهزاده ؤ. ډيره هڅه يې کړې وه چه ډيرڅه زده کړي. ښه نطاق او صميمي وطن پرست ؤ . مګر تر ډيره حده زيات د غربي مدنيت ليوال ؤ. چه په کارنه ؤ.دميرويس بابا او احمدشاه بابا له ملي اخلاقو ښه باخبره نه ؤ . تردې لا بده داوه چه ښه همکار او مرستيالان يې نه درلودل . په دربارکښې لا دانګليس پلويان ډير ؤ.په ملي تاريخ کښې دده هيلې، زړورتيا ، صميميت ، وطن پرستي دقدر وړ دي.مګر د شيرشاه سوري، ميرويس بابا او احمدشاه بابا دپائې سړی نه ؤ او له دې سره سره لکه دنورو محمدزايي پادشاهانو

---

۱ - د«نګاهی به عهد سلطنت اماني» دسيد رسول ليکنه څخه په ډيره مننه اخستل شوې

مطلب آشنا او خپلچاری نه ؤ.

دافغانستان لـه خپلواکۍ ګټلو مونږ خپله خپلواکي بشپړه نه شو بللی. ځکه دډیورنډ منحوسه کرښه ومنل شوه او همدغه د لیل ؤچه شپږویشت کاله وروسته په (۱۹٤۷ع) کښې انګلیسانو دهند دتقسیم اودپاکستان دجوړیدو په وخت کښې دافغانستان دحکومت غوښتنه چه دپښتنو او بلوڅو دحقوقو په برخه کښې وه؛ رد کړه، او وېي ویل: چه (۱۹۲۱ع) ستاسو ددولت اوسرهینری ډابس په تړون کښې د ډیورنډ کرښه منل شوې، بیا دخبرو ضرورت نه لیدل کیږي.

کـه څه هم چه امـان الله وروستـه ترخپلواکۍ دشرقي اوجنوبي افغانستان په برخه کښې هڅې کولې. د خیوا او بخارا په برخـه کښې یې داستقـلال غوښتنه وکړه. ترمشهد پورې یې فعالیت درلود. دپنجده موضوع یې هم پورته کړه. مګر ددغسې لویې داعیې دپاره ده دومره توان نه درلود اود دولت ارکان په نورو فکرونو کښې وو. روشنفکرو لا دجمهوریت غوښتنه کوله. نادرخان په بل فکرکښې ؤ. دده ماما دخپل ځان په غم کښې ؤ. یعنې پراخه ملي مفاهمه او پوهه نه وه. نو ځکه دژورې مطالعې له مخې امان الله خان سپین افغان دی، چه وروسته به یو نظر پرې وځلغوو.

امان الله خان کابینه جوړه کړه اوسردار عبدالقدوس خان یې صدراعظم وټاکه. مګر وروستـه لـه عبدالقدوس خان څخه وزارتونه ؤخو صدراعظم نه ؤ. د صدراعظم کار هم ده په غاړه اخستی ؤ. امـان الله خان له وطني تکرڅخه جامې جوړولې. نوريې مجبورول چه له وطني تکر څخه دريشي جوړه کړي. دصوت غازي په نامه دسواد زده کولو عـام پروګرام مـینځ ته راغی. دلومړي ځل دپاره اساسي قـانون دنظامنامې په نامـه جوړ شو او پراخ اصلاحات شروع شول. دتعجب خبره په دې کښې ده چه دلږو سواد لرونکو په وسیله پراخ دپلوماتیک، عمراني او عرفاني کارونـه وشول. مرحوم میرغلام محمد غبار داعلیحضرت امان الله دوره په دوه برخو ویشي: پنځه لومړي کلونه او پنځـه وروستـي کلونـه چه لومـړۍ برخـه یې ښـه بولي او دوهمـه برخـه ده

اشتباهګانې شميري. عبدالمجيد زابلي چه په څو کابينو کښې د اقتصاد وزير ؤ؛ دغه وخت چه کـال (١٩٩١ع) دی، دی په امريکي کښې لا ژوندی دی. دده عمـر ترسلو بايداؤښتی وي ځکه دی وايي چه دامير حبيب الله خان په وخت کښې (١٩١٩-١٩٠١) ده په مسکوکښې تجارتي کوټه درلوده. زابلي په يوه مرکه کښې چه له محلي راديو څخه نشر شوه؛ وويل: امان الله خان ښه سړی ؤ. مګر کومې خريدارۍ چه ده له اروپا نه کړې وې له اقتصادي نظره دافغانستان په ګټه نه وې او ددې وجه داوه چه دا دده کارنه ؤ. زابلي دتنيو جوړولو فابريکه وښوده چه امان الله خان اخستې وه. ده ويل لومړی بايد نساجي صنعت راشي تنۍ پرڅه شي پوړې تکوهلی شي؟

اصلي خبره داده چه دامان الله خان په مغزوکښې دپرمختګ او غربي پرمختګ شوق ؤ. آبادي، دتاريخي حقوقو حاصلول، افغانستان ته حيثيت ورکول، ځای په ځای شوي وو. خارج کښې انګليس غوندې دښمن؛ داخل کښې ددولت دارکانو بې کفايتي؛ لاس په لاس دده کار وران کړ. مګر له امان الله خان څخه دومره توقع هم نه ده په کارچه له يوې خوا دانګليس ددسيسو مقابله وکړي، تاريخي حقوق له بلې خوا حاصل کړي او پرمختګ هم راولي. مګر که د افغانستان داستعداد بشري او طبيعي امکانات په نظرکښې ونيول شي؛ دامان الله خان ښه نيت دافغانستان ډيرې چارې سمې کړې وې.

په دربار کښې دوزيرانو خاص سلوک ؤ. چه دغه دخاص سلوک خلک دظاهرشاه په وخت کښې هم موټر لېدل. د مثال په ډول موټر دولتي مقام نه درلود. په مخالفينو کښې ولاړ وو. مګر ددولت وزيرانو موټر سره ارتباط ساته او ددولت په ټينګيدو کښې يې مرسته نه کوله. هغه وخت هم دا سوال ؤ چه تاسو يادا وکړئ يا هغه: يو بل مثال دغه وزيرانو او لوړ رتبه ماموريتو وروسته دظاهرشاه مخالفت هم کاوه: لکه صباح الدين کشککي دمطبوعاتو وزير. دظاهرشاه په زمانه کښې، خليل الله خليلي سفير، مصاحب مشاور او مستقل رئيس دوزيرانو دشورا منشي.... وروسته دظاهرشاه

له پادشاهۍ دهغه سخت مخالف وو. چه ليکنې او آثارې خپاره شوي. ځينې جنرالان واليان او په سلهاؤ لوړ رتبه مامورين چه پادشاه ته يې ذات اقدس، حضور ملوکانه ويل؛ خو چه ظاهرشاه له پادشاهۍ خلاص شو. بيا مخالف وو. يوله تعليم يافته ؤ چه دکتور نصري نوميده او د اطلاعاتو او کلتور دوزارت د نشراتو رئيس ؤ او زه دافغان ملت مسؤول ؤم؛ ټول سانسور دده له پلوه ؤ. مگر دحق شناس په نامه يې په پادشاه پسې ډير خپرونې وکړې. نوکه چيرې دامان الله خان په شا اوخوا کښې هم دغسې دوه مخي خلک ولاړ وو؛ نو دامان الله خان کاميابي مشکله وه. سيد رسول په خپل کتاب (عهد اماني) کښې ليکي کله چه داستقلال په جګړه کښې افغاني قواوې له ډيورنډکرښې ورتيرې شوې وې وايي: جنرال سميع په دغه وخت کښې له شپږ کسو اطريشي اتباعو سره چه لومړۍ عمومي جګړې کښې روسانو سره اسير ؤ بالشويکانو خوشې کړی ؤ. جلال آباد ته ورسيد، جنرل سميع دانګليس له نماينده حافظ سيف الله سره وکتل او کومه رويه چه له هغه سره کابل کښې شوې وه اوداچه افغانانو باغ منطقه اوکافرکوټ نيولی؛ پښېماني وښودله او زياته يې کړه امان الله خان په دې خبره خپه دی. ده زياته کړه چه اميرامان الله دځو احمقانو له خوا لکه محمود طرزي او عبدالقدوس احاطه شوی ؤ که نه امير دجنګ په فکرکښې نه ؤ. دغه ته مونږ خاص سلوک ووايه.

د «عهداماني» کتاب دامان الله خان په مخالفت کښې ليکل شوی او دروسانو دنظامي مداخلې په دوران کښې ليکل شوی. ليکوال چه دامان الله خان دمحکومولو په هڅه کښې دی؛ مگر ده ډيرکمزور مواد راټول کړي؛ چه دامان الله خان محکومول خولا پريږده چه دده پرلوړ شخصيت يې بشه رڼا اچولې. چه په دغه فصل کښې ماله هغه بشپړه ګټه واخيسته. کتاب چه داتحاد اسلامي مجاهدين افغانستان دفرهنګي کميټې له خوا چاپ شوی؛ په ۳۴ مخ کښې داسې ليکي: د مې په ۲۴ (۱۹۱۹ ع) انګليسي طيارې پرکابل حمله وکړه. دسهار په شپږو بجويې ښار بمبارد کړ. يوه سانحه وه چه خلک يې ويرجن کړل او نظامي قواؤ هوايي دفاع نه درلوده.

ACKU

نظاميانو او خلکو پرطيارو ډزې کولې.

امان الله دصلحې داعادې په فکر کښې ؤ. خو انګليسانو له زوره کار اخستی. انګليسي استعمار سربيره پرهوايي حملوخپلې جاسوسي شبکې او خپل استخدامي باندونه فعال کړل او په خلکو کښې ئې داخبرې خپرې کړې چه امان‌الله دجنګ اصلي مسؤل دی او هغه دی چه افغانان يې دمرګ پنجوته وسپارل. مګر امان الله خان دخلکو يوه لويه ټولنه جوړه کړه او هغې ته يې له جوشه ډکه وينا وکړه او په خپله وينا کښې يې له خلکو پوښتنه وکړه. چه آيا هغوئ دی دجګړې مسؤل بولي؟ خلکو دالله اکبر په نعرو پرانګريزانو لعنت ووايه او انګريزان يې دجنګ مسؤلين وبلل. او وعده يې وکړه چه دخپلو وينو تروروستي څاڅکي به جهاد ته دخپلواکۍ په لاره کښې دوام ورکوي».يعنې واقعيتونه دغه شان وو.

کتاب بيا ليکي دمی ۳۱ انګليسانو دسولې غوښتنه وکړه. په دغو شرطونو:

لومړی: افغاني قواوې دې له هغوځايو څخه چه اوس هلته دي شل ميله په شالاړې شي او انګليسي عسکر به په خپلوځايو کښې وي.

دوهم: انګليسي الوتکې دې داطلاعاتي الوتنو اجازه ولري او که دافغانستان په خاوره کښې چيرته کښته شي. دافغانانو له حملودې مصئونې وي (هغه‌وخت لا طيارو ځنډ پروازونه نه شول کولای. ابتدايي تخنيک يې درلود).

دريم: دډيورنډ دکرښې دواړه خوا اقوام او قبايل دې وپوهول شي چه دانګليس پرضد دې له هرډول اقدام نه ځان وژغوري او دغه قومونوته دې داور بند خبرورکړ شي.

امان‌الله خان دغو غوښتنو ته منفي ځواب ورکړ. او نورشرايط يې وړاندې کړل او اوربند د۱۹۱۹ دجون په دريمه اعلان شو».

له دې خبرو څرګنديږي چه انګليسان له دولتي قوتو څخه نه ويريدل. دوئ دلوي افغانستان له ملت نه‌ويريدل.

ترخپلواکۍ وروسته‌دلوي افغانستان د شرقي برخې نمايندګان کابل ته راغلل.

څو امان الله خان ته ووايي چه دډيورنډ کرښه ونه مني او ټولې پښتني سيمې دې په قرارداد کښې شاملې کړي او کنه دوئ جهادته حاضر دي.

دغه وخت امان الله داخبره مينځ ته را وغورځوله چه انګليسانو ومنله او افغانستان کښې ددولت ځيني ارکان امان الله له جګړې وېراوه. له بده مرغه چه دډيورنډ کرښه بې ومنله. ډابس انګليس چه دافـغـانسـتـان پريشـاني وليـده، نو۲۲ دنوامـبـر (۱۹۲۱ع) دمحمود طرزي خارجه وزير په نامه يو ليک راوليږه چه دتړون ضميمه بلل کيږي . څرنګه چه دسرحدي قومونو احوال دافغانستان ددولت دانديښنې سبب دی؛ په دوستـۍ سره تاسو مشـفق مـهـربان ته اطلاع درکوم چه دبرتانيې دولت دټولو سرحدي اقوامو په برخه کښې دروغ نيتې خيالات لري او په هره لاره چه وي ، نيت لري چه له هغوئ سره مروتمندانه رويه وکړي. په دې شرط چه دبرتانيې په اتباعو باندې چپاؤ ونه کړي. هيله ده چه دغه مکتوب به ستاسو دتسلۍ باعث شوی وي (سرهينري ډابس)!

نو ويلی شو چه دافغانستان ديوې برخې خپلواکي ترلاسه شوه او دبلې برخې يې پاتې ده .

دخپلواکۍ دتړون په ۱۱ ماده کښې دومره ويل شوي که دواړه دولتونه په خپلو سرحدي برخو کښې مهم نظامي عمليات کوي مقابل لوري ته به خبرورکوي .

چه داهم عملي نه شو او بيا دهند تر آزادۍ پورې پښتـانه اوانګريزان لاس اوګريوان په جګړه بوخت ؤ.

دهغو ليکنو له مخې چه دامان الله خان دشخصيت په برخه کښې شوي؛ داصلاحاتو او انقلاب کتاب دی؛ چه (ليون بلاداد) نومې امريکايي ليکلی . دغه کتاب دامان الله خان پرشخصي اخلاقو اوشخصيت ښه مطالب لري. چه کولای شو دملي تاريخ په لړ کښې هغه وکتل شي . ليکونکي د بيلو ليکوالو او د پلوماتانو نظريات کښلي چاچه امان الله خان ليدلی . ددوئ له خبرو داسې څرګنديږي چه امان الله خان بې

له شکه هیواد پالونکو، زړور اودلوړ استعداد خاوندؤ . دومره چه حیرانوونکی اوجذاب بریښېده. زه په‌دې ډاډه یم چه دامـان‌الله خـان د ژوند او شـخـصـیت څـرنگوالی دلوستونکي دپاره په زړه پورې دی. حتی دده شخصیت، افکار اوکړه وړه دترتیب او تعقیب وړ دي.

مونږ په‌مفصله‌توگه دده له‌ژوند او افکارو بې خبره یو. یوخو دوخت په‌لحاظ دی مونږ ته‌نژدې او مـا پخپله د امـان‌الله خـان نژدې همکاران او دوستـان لیـدلي او خبرې مې ورسره کړي. له هغې جملې نه‌دده یاور محمودخان، دحرب اوداخلې وزیر عبدالعزیزخان، محمدگل‌خان مومندچه دده جنرال ؤ ؛ په تاریخ کښې دغه‌خبرې ډیراهمیت لري. که څوک داسې فکروکړي‌چه ځه تږول خبردي؛ یابه‌یې‌څوک ولیکي په‌داسې حالاتو کښې خبره پاتې کیږي.

یوکمکی مثـال: په‌کال (١٣٤٥هـ ش) کښې دتجارت په‌اتاقو کښې یو پیاده‌ؤ: اصلاً دچهاردهي ؤ . غلام محمد نومیده . غلام‌محمد په‌ځوانۍ کښې ددارالامان په باغ کښې‌باغبان ؤ . ده ویل: دپسرلي ورځی وې یوه ورځ باران شوی ؤ. ځمکه‌ځه لمده وه . چه امان‌الله خان له خپلو همکارانو سره‌دارالامان ته راغی.دعمارت ځای لوړ ؤ.دغونډۍ په سر د نوي قصر کار شروع ؤ. امان‌الله خان په منډه شو او پرغونډۍ وخوت خپلو همکارانوته یې وویل چه راځئ راوخیږئ تاداو وگورئ! هغوئ نه شوای ختلای. بیوئیدل، امان‌الله خان ورته وویل : زه تل تاسوته‌وایم چه ورزش کوئ او ډوډۍ ډیره مه خورئ او دغه دی زه تاسونه مخکښې یم . زما هره خبره ستاسو په‌خیرده.

د (پلاداد) کتـاب کښې داسې راغلي چه امان‌الله خان له سپورټ سره علاقه درلوده . خپل همکاران یې هم تشویقول . فرق دادی‌چه لومړۍ خبره یوه بیسواده پیاده کړې او دوهمه خبره یوه امریکایي لیکوال.

دغه ډول دابه یومثال وي‌که چیرې دخپلو سپین ږیرو قصې اودسترگو لیدلي

حالات موانه وريدل؛ يو وخت به‌دې ته اړ شو چه خارجي آثارو کښې يې ولټوو.

موريس فوسي دفرانسې سفير دامان‌الله خان په باب ليکي: دغه ځلمی پادشاه دخپل عمر دکلونو په نسبت په‌سياسي چارو کښې حيرانوونکی شعورلري. په ډيره زړ ورتيا خپل مشخص هدفونه پرمخ بيايي. کله چه ماوليد جنرالي لباس يې اغوستی ؤ. توري غټې سترګې، سپين پوستکی له سترګوېي اقتدار، حزم او اعتدال ښکاريده. امان‌الله خان له خپلې ذکأ، شهامت اود سياسي مسألو په پوهيدلو هرڅوک تأثير لاندې راولي. امان‌الله خان دغه‌کفايت لري چه پيچلې سياسي مسئلې د خپلو ګاونډيانو په باب (روس او انګليس) په پوره ډاډينې مطرح او خپله فيصله صادره کړي. دکوټلې او مضبوطې ارادې خاوندی دی. تراوسه‌يې د زمانې صيقل نه‌دی ليدلی. ډيربرياليتوبونه ئې ترلاسه‌کړي. د مثال په‌توګه په‌لږه موده کښې‌ئې افغانستان ټولې نړۍ ته وپيژاند. کلمات نه شي کولای چه ددغه شخصيت لوړوالی وښيي.

سرهينري ډاب که‌څه هم له امان‌الله سره تعصب لري؛ دخپل ملاقات په باب له امان‌الله خان سره داسې ليکي:« اعليحضرت امان الله‌خان دخپل تاريخ په زړه پورې شخصيت دی. دوستانه کړه وړه. خوشحاله طبعيت، رسميات او تشريفات يې نه‌دي خوښ. يوازې په رسمي او ڤاتو او درباركښې رسمي لباس آغوندي. پرته له هغه ساده او کم مصرف جامې يې په‌ځان کښې وي. کله هم‌زيره عسکري کرتۍ بې له کميسه اغوندي. خپلو درباريانوته وايي آزادۍ سره مناقشه اومباحثه وکړئ. غازي اعليحضرت يو، تندمزاجه سړی دی اودکارډيرقدرت لري. بې دجمعې له ورځې‌چه‌په مذهبي مراسمو کښې بوخت وي؛ ټوله هفته‌کارکوي. ترنيمې شپې کارکوي. ايله که څلور ساعته خوب ولري. دآس سپرلي او پياده ګرځيدل يې خوښ‌دي. ډير پوخ نخښه ويشتونکی دی. ماهرډريور دی.

اميرشکيب ارسلان باامان‌الله خان درسويس ملاقات وبا او مصاحبه نمود

امیرشکیب تمام مقالات وانتقادات را که درجراید عربي نوشته شده بود با او درمیان گذاشت.

اودرجواب گفت مطالب واخباری که به اونسبت داده می شود سه دسته‌اند.

یک دسته چیزهای بود که اوخود نیز به عجله واشتباه خود اعتراف کرد وگفت که هیأت وزیران او را ازین مسایل آگاه نکرده بودند وقسمت دیگر هم مسایلی است که راویان طبق عادت مبالغه‌کرده وبزرگ نشان‌داده اند. ویکدسته هم مطالبی بود او آنهارا دروغ وتهمت صرف خواند، امیر ارسلان ادامه میدهد: اواظهار نمود که قصد انجام فریضهٔ حج دارد. سپس من هم به‌ابن سعود پادشاه عربستان نامه‌یی نوشتم واو هم ازوی احترام فروان بعمل آورد.

حاضرالعالم الاسلامی نوشته ارسلان مجلد اول جزء دوم ص ۲۱۸

# د نادرخان راتگ او د هغه پاچا کیدل

په کال (۱۹۲۹ع) کښې نادرخان او دهغه ورونه یوه فعاله کورنۍ وه. امان‌الله خان تردغه وخته پورې دکندهار د خلکو په غوښتنه هڅه کوله که وکولای شي بیرته امنیت ټینګ کړي. مګر کله‌چه‌دنادرخان له راتګ څخه پاړه چنارته خبرشو تریوه وخته‌نه پوهیدو چه نادر دڅان دپاره لګیادی. همدا چه په‌دې خبره پوه‌شو نو وئې ویل‌چه تراوسه‌خو یوازې دسقو دزوي خبره وه او اوس نادرخان، ورونه او کورنۍ یې او د حضرت مجددي کورنۍ را پاڅیدل. دیوې لنډې وینا په ترڅ کښې یې وویل: زه نه غواړم دڅان دپاره دافغانستان خلک لکه‌د پخوانیو پاچاهانو او شهزادګانو ووژنم. ما افغانستان خپلو موافقو او مخالفو ته پریښود. د افغانستان خلک دې پخپله فکر او فیصله وکړي. زما هیله د افغانستان خپلواکي او پرمختګ دی.

د امان الله خان مطلب داؤ چه که‌لارنیوونکي او غله دا کارکوي دا شرعي ده‌چه دهغوئ مخه ونیوله شي. مګر یو سپه‌سالار او سفیر یا یوه مشهوره روحاني کورنۍ چه راپاڅي؛ نو معلومه ده چه دمخالفت ساحه وار له واره پراخه شوه.

نادرخان د پېښور سردار سلطان محمد چه دامیردوست محمد وروړؤ ؛ له اولادې څخه‌دی. یعنې سلطان محمد په‌ملي تاریخ کښې ښه نوم نه ؤ ګټلی چه تفصیل یې مخکښې راغلی. مګر نادرخان او ورونه یې له لومړي سرنه په‌بیلو مراحلو کښې قدم په‌قدم دغه زمینه برابرکړه چه پادشاهي ترلاسه‌کړي. د امیر حبیب‌الله په‌وخت کښې خپلوي، له امیر سره اطاعت او خدمت او رسوخ پیدا کول.

که‌څه هم‌چه افغاني مؤرخین لکه میرغلام محمدغبار، پوهاند عبدالحی حبیبي

او نور دامير حبيب الله قاتل، شجاع الدوله خان دامان الله دوخت دامنيت وزير بولي مگر دشجاع الدوله كورنۍ دغه خبره رد كړې او په دې باب يې په اخبار هفته كښې يومضمون ليكلى ؤ.

دنادرخان له پلان څخه ښكاري چه دامير حبيب الله خان په قتل كښې دنادرخان لاس ؤ. څرنگه چه غبار په مجمل صورت ليكلي چه يوه مشر صاحب منصب قاتل ته له قتل څخه وروسته نجات وركړ. دغه وخت لوي صاحب منصب دحادثې په ځاى كښې همدغه نادرخان ؤ. څرنگه چه نادر په لومړي سر كښې ونيول شو او بيا ژر خوشې كړى شو؛ ديوه كابلي سپين ږيري له قوله چه په همدغه وخت كښې حاضر ؤ؛ سراج الدين نوميده او كاريې دخيمو او تجيرونو جوړول او درول ؤ. دامير حبيب الله قاتل احمد شاه دنادرخان ددربار وزير ؤ. مگر داخبره چانه شوه كولاى؛ ځكه نادرخان لږ وروسته دحربيې وزير شو اود استقلال په جگړه كښې يې داسې برخه واخيسته چه ښه نوم يې وگاټه . مگر دنادر خان او امان الله مخالفت پيدا شو. نادرخان دسفير په حيث فرانسې ته لاړ. دده ورور سردارهاشم خان په مسكو كښې سفير ؤ. داځه اتفاقي خبره نه ده چه نادرخان او ورونه يې په مناسب وخت كښې له افغانستان څخه ووتل اودسقو په راپرځولو كښې بيرته يوځاى شول. اوپادشاهي يې ترلاسه كړه چه ډيره موده يې دوام وكړ.

استاد محمد ابراهيم صفأ وويل: چه نادرخان به هغه خلک سره پالل چه دامان الله خان له خوا رټل شوي وو. څرنگه چه ددوئ كورته هغه وخت تللى ؤ چه دصفأ ورور اخترجان دامان الله خان پرضد ديوه اقدام په اثر اعدام شوى ؤ اوداخترجان پلار ناظر صفرخان ؤ چه د امير عبدالرحمن په وخت كښې امين الاطلاعات ؤ او بيا دقطغن اوبدخشان نايب الحكومه ؤ. دغه راز كله چه جنرال محمدگل مومند وزگار ؤ؛ هم نادرخان له هغه سره خپل مناسبات ټينگ كړل.

دا به ډيره اوږده شي چه مونږ دنادرخان دحركاتو جزئياتو ته ورگډ شو. په هرصورت

نادرخان غوښتل چه دامیرعبدالرحمن خان کورنۍ چه دامیردوست له وخته یې پرله پسې پادشاهي په لاس کښې وه؛ دغه لړۍ وغورځوي او په درې پړاؤ کښې بریالی شو چه دغه کاروکړي.

کله چه نادرخان په ۱۹۲۹ کښې داکتوبر په ۱۹ پادشاه شو، اپریدو اونورو پښتنو پښتنو پښتونور چه دانګریزانو په لاس کښې ؤ؛ حمله وکړه. نادرخان له انګریزانو سره دپخواني تړون تصدیق وکړ. او دغه رازیې له شوروي اتحاد سره دبیطرفۍ او تجاوز نه کولو تړون لاسلیک کړ چه له دواړو خواؤ یې خپل خاطر ټول کړ.

مګر دنادرخان راتګ په لاندې دلیلونو دپادشاه په توګه دخلکوخوښ نه ؤ.

لومړی : داچه نادر په هند کښې دهغه ځای ملي مبارزینو ته ځرګندوله چه زه امان الله خان بیرته دپادشاه په توګه ساتم. یوازې غواړم چه دغه اور مړکړم( پښتانه دتاریخ په رڼا کښې) .

دوهم : داچه دی دسلطان محمدخان له اولادې څخه ؤ او هغه یعنې سلطان محمد طلائي په حرص اوناځوانۍ کښې مشهورسړی ؤ.

دریم : داچه نادرخان په دې هم پیژاندل شوی ؤ چه هرومرو دامیر حبیب الله په قتل کښې دده لاس ؤ.

څلورم: له امان الله خان سره دده اختلاف څه نور مسایل هم دامیر حبیب الله په دربارکښې دده په باب موجود وو.

خلکو سره ( دنادرخان) دجنوبي محاذ دقوماندان په حیث یوه ښه خاطره موجوده وه که ده واقعاً دیوه سپاهي په حیث دامان الله دپاره دغه فداکاري کړې وای؛ دخلکو انتظارهم داؤ . دده نوم اوحیثیت بهدیر لوړ ؤ.

کله چه نادرخان پاچا شو؛ دده یولړ وژنې او دامان الله خان دپلویانو رټل اویوه سخته جاسوسي درلودل، دی دیوه ظالم په توګه معرفي کړ. په خلکو کښې داخبره شایع وه چه نادرخان ظالم سړی دی. بیاهم ترنادرافشاره ښه سړی دی او ترهغه ظالم

نه‌دی . د نادرخان له راتـگ سره یوه ویره پیدا شوه . دامان‌الله خان پرضد یې شخصاً تبلیغات کول او مطبوعات یې ترخپل کنټرول لاندې ونیول.

کله‌چه غـلام‌ محي‌الدین انیس دبحران و نجات کتـاب لیکي دغـه کتـاب ده ټول وکوت اودکتاب عکسونه یې منظورکړل . استاد ابراهیم صفاء ویل چه دغـلام نبي څرخي عکس یې بدل کړ او دیوه فرانسوي اخبار څخه یې یوعکس ورکړ چه په هغه کښې غلام‌نبي خان دفرانسې په یوه محکمه کښې دکټارې ترشا ولاړ دی. اودغه عکس د بحران و نجات په کتاب کښې چاپ شو.

غلام‌محي‌الدین انیس‌چه دنادرخان له‌راتگ یې وروسته هم‌ځوګنې دانیس جریده خپره کړه؛ له نادرخان څخه یې هیله‌وکړه‌چه دامان‌الله خان‌دوخت ځینې شیان‌دې اصلاح کړي . مگر دامان‌الله خان هغه‌پروگرام دې عملي شي‌چه دهیواد دپرمختگ دپاره هغه جوړکړی ؤ. فکر کیږي چه په دومره وړه خبره غلام‌محي‌الدین انیس بندي شو. (لومړی گنه‌انیس له‌ماسره موجود ؤ) او همالته وفات شو.

جنرال غلام‌دستگیر خان بارکزی‌چه‌دامان‌الله خان شاهي قوماندان ؤ؛ خپله دبندي کیدو قصه داسې بیان‌کړه : دنادر دراتگ په‌لومړیوشپو ورځو کښې مادد‌ارالامان په باغ کښې قدم واهه ؛ چه له بې څخه ووتم؛ دنادرخان موټر را ورسید. زه یې چه ولیدم له موټره کوزشو . روغبړیې راسره وکړ. وروسته‌له‌څوشیبو یې پوښتنه‌وکړه خلک څه وایي‌اوڅه فکر کوي؟ په تیره بیا روڼ فکران چه دافغانستان خپلواکي ما گڼلې که امان‌الله‌خان؟

دستگیرخان وایي مافکروکړچه یومعقول‌ځواب ورکړم چه‌دی هم خپه نه‌شي‌او دامـان‌الله خـان‌په حق کـښې هم‌ظلم نه وي . نوومې ویل:« چه خلک وایي دافغانستـان استقلال ستاسو په توره او دامان‌الله‌.خان‌په اراده اوتدبیر اودملت په ملاتړ گټیل شوی». نادر وخندل او زه یې په شا وټپولم‌چه حقه خبره همدغه ده . وروستـه‌له‌څو نورو خبرو نادرخـان خپل مـوټرته وخوت او مـا خپل قدم وهلوته دوام

ورکړ. مگر زړه مې ودربیده چه دغه‌سړي ولې بې مقدمې داسې پوښتنه وکړه ؟ همدا ځ چه په سبایې زه‌بندي کړم.

جنرال دستگیر چه په کال (۱۳۲۷-۱۹٤۸ ع) له بنده خلاص شو. مگر خپل حواس یې له لاسه ورکړي وو. ( دازما خپله‌خاطره‌ده): یوه ورځ دشیرپور بس کښې دده وڅنگ ته کښیناستم. جنرال دنگ سړی ځ. له بس نه‌یې سرک ته‌کتل. یوه پلا په‌خندا شو. ماورته وویل چه جنرال صاحب څه‌دې ولیدل؟ ده وویل دغه ځوانان بلاکوی! ماویل څنگه؟ ده وویل له تشو اوبو سره خپلو ویښتانو ته څو قاته ورکوي!

بله‌قصه چه کابل کښې شایع ده؛ داوه‌چه‌دامان‌الله په‌طرفدارۍ ځینې شپه‌پاڼې خپریدلې. نادرخان دضبط احوالات رئیس ته وویل چه دغه خلک ونیسه. ضبط احوالات ځینې کسان ونیول. مگر شپه‌پاڼه بیا خپره شوه. نادرخان‌دضبط احوالات رئیس ته‌امروکړ چه دکابل دښار دټولو باسوادو لست ماته‌راوړه: کله چه‌لست جوړ شو نادرخان هغه‌وکوت او په‌خپل قلم یې یو زیات شمیر خلک په نخښه کړل. دغه خلک چه ونیول شول؛ بیانو شپه‌پاڼه خپره نه شوه.

نادرخان هوښیار او ځیرک سړی ځ. مگر هدفونه یې محدود او شخصي وو. ده دانگلیس، هنداوروسیې له خوا ځان بیغمه‌کړ. داسې چه‌دپښتنو له‌غزاگانو سره یې همدردي ونه‌کړه او دروسانو په‌گټه یې ابراهیم بیگ چه‌دروسیې مخالف اودمرکزي آسیا دمسلمانانو یو مبارز ځ؛ له افغانستان څخه وشاړه او داخلي مخالفین یې چه زیاتره روڼ‌فکره وو؛ وځپل. خپل مخالفین یې بې له‌محاکمې اعدام کړل. لکه‌دغلام نبي خان څرخي وروڼه، نایب‌سالار پینه‌بیگ چترالی.که‌یې محاکمه هم کړل؛ بیا هم دمحکمې فیصله‌یې عملی نه‌کړه. لکه‌محمدولي‌خان دامان‌الله خان وکیل چه محکمې دبند فیصله کړې وه؛ مگرده اعدام کړ.

البته دغو اعدامونو او د زیات شمیر منورینو بندیانیدل په خلکوکښې ویره پیدا کړه دابراهیم صفـــا (مشهور پوه او شاعر) بله قصه دده دمشر ورور استاد انورخان

بسمل ده.

نادرخان دکابل ادبي انجمن جوړکړ او انورخان بسمل يې رئيس وټاکه. بلـه ورځ ئې نادرخـان بسـمل ته وويل: زه غـواړم تاسو مـادمنورينو له مـفکورو څخـه باخبـره وساتئ. انورخان بسمل فکروکړ چه دابه يوه جاسوسي وي. په ځواب کښې يې څه ونه ويل. بسمل کندهارته ولاړ. هلته محمدگل خان موممند دتنظيمېي رئيسړ ؤ. له دې سببه چه انورخان پخپله شاعر او اديب ؤ او پلارېي ناظر صفرخان مشهور سړی ؤ. دبسمل هرکلی يې وکړ او ورته وئې ويل چه څه مرستـه درسره کولای شم؟ انورخان بسمل ورته وويل چه د حج وخت دی يو پاسپورټ د کندهار له ولايتـه راکړه. چه حج ته لاړشم. هغه پاسپورټ ورکړ. انورخان حج ته لاړ. بيرته چه راتی په هندوستان کښې داجمير شريف زيارت ته لاړ او لـه هغـه ځـايه يې نادرخان ته وليکل چه زه دچشتي طريقې پيرويم. دلته چه راغلم ماته داسې الهام وشو چه څه موده دلته واوسم او دافغانستان دپاره دعـأ وکړم. نادرخان پوه شو چه بسمل دده خبره په عجيبه توگه وغورځوله. منتظر ؤ چه بسمل بيرته راشي. له بيرته راتگ سره سم يې هغه بندي کړ چه څوارلس کاله په بند کښې پاتې شو.

نادرخان ځينې نورکارونه وکړل؛ لکه دمجلس امداديه ملي په نامه ديوې مؤسسې جوړول چه سرې مياشتې ته ورته ؤ. يا دارالايتام نادري (مرستون) دکابل دعلي آباد روغتون طبي مکتب. ددره شکاري لاره او څه اصلاحي کارونه يې هم وکړل. مگر دبې محاکمې اعدامونو په تيره بيا دهغو چه خلکو کښې يې نيک شهرت درلود؛ لکه عبدالرحمن لودي چه دکابل ښاروال ؤ او بدقولی، دی يوظالم سړی معرفي کړ. دامان الله خان اداره يې فاسده وبلله او دهغـه نژدې مأمورين يې له بدبختـی سره مخامخ کړل دهغوئ ماشومان يې له تحصيل څخه محروم کړل. دنادرخان په اداره کښې هم هندي مسلمانانو لوړ موقعيت درلود. لکه الله نوازخان وزير او سفير، ذوالفقار خان وزير او سفير، شاه جي نايب سالار. په معارف کښې مولوي محمد

یعقوب حسن دتألیف رئیس او دکتوران لکه دکتور عبدالعزیز ، قریشي ، همایون اوټور میافاروق دسپورټ رئیس اونور. له دغې جملې څخه ځینې دخپلو احساساتو پربنیاد غوښتل چه افغانستان کښې واوسي. مګر ځینو یې داوضاعو څارنه کوله. په دغه وخت کښې چه نادرخان دافغانستان په تأمین بوخت ؤ؛ دسرحد پښتانه له انګریزانو سره په جګړه بوخت وو او پرله پسې یې غزاګانې کولې. مګر نادرخان دغه غزاګانوته نه کتل چه یوه حساس ځلمي دعظیم جان په نامه خپل عکس العمل وښود او دانګلیس دسفارت درې تنه عمله یې ووژل. خلکو ویل چه نادرخان کله چه دعظیم جان دلایل دده ددغه عمل په باب واریدل، نادرخان وویل: ستا احساسات دقدر وړدي. مګر عظیم جان یې بې له علني محاکمې وواژه. او لس ګونه خلک نورئې راوستل او بندیان ئې کړل. نژدې ؤ چه دنادر افشار خاطره په ذهنونو کښې بیرته ژوندۍ شي.

نادرخان نژدې دنادرافشار خاطره ژوندۍ کړې وه. ویل کیږي چه عظیم جان د ۱۳۱۲ هـ ش د وږي په ۱۵ وټیول شو او په ۲۱ د همدغې میاشتې اعدام شو.

دهمدغې میاشتې په ۲۲ نیټه ئې خواجه هدایت دهزار جات دتنظیمې رئیس اعدام کړ. بیا یې د وږي په ۲٤ محمد مهدي منشي ، فقیراحمدخان دځنګلونو رئیس اوشیرمحمدخان اعدام کړل. دغیر مشهورو او بې نومو خلکو اعدام په توپ الوزول دوام درلود. چه بالاخره د ۱۳۱۲ دلړم په شپاړسم (دنوامبر ۸) ۱۹۳۲ دنجات دمکتب دلسم ټولګي دیوه شاګرد له خوا ؛ چه عبدالخالق نومیده؛ ددلکشاه په چمن کښې په داسې وخت کښې ووژل شو چه ده دمعارف شاګردانوته انعامونه ورکول.

عبدالخالق دغلام نبي خان څرخي دکور یو کاریګر چه له ده نه یې په زوره داسې اقرار واخیست چه ګواکې دڅرخي کورنۍ کومې میرمنې له ده سره ارتباط درلود او سیاسي اړخ یې ورنه کړ. له دې وروسته دسردارهاشم خان صدراعظم په مشرۍ نور اعدامونه شروع شول. چه په هغه کښې دعبدالخالق دکورنۍ ټول غړي اوملګري اعدام شول . څوک چه په کامل صورت بې ګناه خلک وو اودغلام نبي خان دکورنۍ

شپاړس نور غړي یې هم اعدام کړل.

خلک تر سخت فشار لاندې وو. بیګاري، رشوت، جاسوسي په کلکه روانه وه. په خلکو کښې داخبره مشهوره وه چه نادرخان ډیروخلکوچه دغرمې ډوډۍ خوړله اوسړی له ځانه ناخبره ؤ. مګر وروسته له غرمې اعدام شوي. په ملي تاریخ کښې نادرخان یوظالم. بدقوله او خپل چاری سړی پیژندل شوی. مګر داچه وروسته د غوائي دکودتا وروسته رژیمونو او په پښتو کښې د تنظیمو مشرانو څه کارنامې وکړې؛ دنادرخان اوهاشم خان دظلمونو خاطرې یې پرې هیرې شولې چه په خپل وار به خبرې وربانده وشي.

# محمد ظاهر شاه

په کال (۱۳۱۷هـ ل) کښې اروپا کښې دجګړې لړې خپرې شوې. هټلر جرمني يوموټى کړ اوداسې يې څرګنده کړه چه دجرمني ځمکه لږه ده او په لومړيو لويې جګړې کښې دجرمني حق خوړل شوى. ده ويل جرمني يو لوړ نژاد دى او د نړى لارښوونه بو يه چه دهمدغه ملت په لاس کښې وي. په دې کښې دهټلر دپاره تبليغ پيل شو او داسې وويل شول هټلر کله چه روسيه ونيسي افغانستان ته امان الله خان راولي اوترکراچۍ پورې زمکه بيرته ورسپاري. چه په دې توګه افغان ځلميانو ددوئ خبرې کولې.

په دې وخت کښې د يوسل واتيا تنو په شا او خوا کښې جرمني ماهران په افغانستان کښې وو. دکابل راډيو، نساجي او په داسې نورو بيلو بيلو برخو کښې دوئ کارکاوه. دنجات د ښوونځي ښوونکي هم دوئ وُ.

ورو، ورو هيوادونه جګړې ته جوړيدل. د انګليس لښکرو کښې د هند خلک اوسرحد څخه په زوره بوتلل شول او اتم نمبر اردو له دوئ څخه جوړه شوه. صدراعظم سردارهاشم خان په کلکه دحالاتو څارنه کوله. له يوې خوائې کورني حالات څارل. له بلې خوائې بهرني د افغانستان حکومت خپله بيطرفي اعلان کړه. جاپان، ايتاليا اوجرمني سره ملګري شول. کال (۱۳۲۱هـ ل) کښې اروپا د جرمني په لاس کښې وه (۱۳۲۲هـ ل) دروسيې خاورې ته ننوتل. د جرمني ملګري د (محور) په نامه يادېدل. انګليس، فرانسه، روسيه او امريکا (دمتحدينو) په نامه يادشول. خبره ايران او ترکيې ته هم ورسيده. دافغانستان بيطرفي ډيره مهمه وه چه وروسته له ډيرې مودې يوې لوبې ته ورګډ نه شو.

ACKU

په‌دې کښې لارې بندې شوې. تجارت نه‌کیدی. افغانستان ته‌گراني راغله. لاجگړې شدت نه ؤ موندلی. هاشم د ضروري شیانو ذخیره شروع کړه. تعاوني ډیپو، د شکرو انحصار، د پټرولو سپما او نور اقتصادي ورانديې لیدنې وشوې. چه‌په دې توگه‌د زیاتې گرانی، اونیستی مخه ونیوله شوه. تردې چه وزیران هم موټرو کښې کارته نه تلل. که‌نژدې به وو پلي. که لیرې به وو بگیوکښې تلل. د کوپون رواج پیدا شو.

له‌بلې خوایې هټلرته یو هیئت ولیږه چه دافغانستان دریغ ورته څرگند کړي. دجگړې په ورروستیو کلو کښې متحدینو له ایران، افغانستان او نورو هیوادو څخه وغوښتل چه جرمني ماهران دوئ ته په‌لاس ورکړي. څرنگه‌چه ایران دا کاروکړ. مگر افغانستان په‌دې باب لویه‌جرگه جوړه کړه او داسې فیصله وشوه چه جرمنیان باید روغ رمټ خپلې خاورې ته ورسیږي او همداسې وشول. دلته‌له یوې خوا دجگړې له کبله کارونه بند وو. او ماهرانوته کارنه‌ؤ. له‌بلې خوا افغانستان نه‌غوښتل دوئ ته ځواب ورکړي. نو په‌دې توگه‌یې دوئ ته خپل هیوادته دستنیدو مصئونه لاره پیدا کړه.

دپکتیا دولایت استازي زمرک خان دببرک خان ځدراڼ زوي ؤ. ده په‌لویه جرگه کښې وویل: « که‌متحدین زمونږ شرط ونه‌مني مونږ دپکتیا خلک چمتو یو دهند په سرحدو کښې له انگریزانو سره وجنگیږو. مونږ دافغانستان له‌حکومت څخه‌چه زمونږ حکومت دی، یوازې وسله غواړو؛ نه‌عسکر او نه د عسکرو یا جنگیالیو خرڅ او خوراک. ځکه جرمنیان، جاپانیان او ایټالویان زمونږ میلمانه دي او زمونږ دخدمت دپاره دلته راغلي دي. مونږ به هیڅکله هغوئ د هغوئ دښمن ته ونه سپارو! ».

همداؤچه همداسې وشول. لویه‌جرگه‌د (۱۹٤۱) دنوامبر په ٦ پای ته ورسیده.

دغازي عثمان خان خبره هم یاده شوه‌چه دافغان انگلیس دوهمه جگړه کښې یې

کړې وه . هغه دا چه يوه انگريزته يې ويلي ؤ «که تاسو برتانيه لرئ مونږ تلخانيه لرو مونږ لــه تاسوکم نه يو!». دغازي مطلب داؤ چه که تاسو پيسې او پانگه لرئ مونږ قناعت لرو.

دافغانستان دغه معقول حرکت دافغانستان حيثيت ته په نړۍ کښې گټه ورسوله. دافغانستان شاهي کورنۍ غوښتل چه جرمنيان په دې قانع کړي چه دامان الله خان غږ پورته کول پريږدي.

وزيرمحمدگل خان مومند ځينې سياستونه لاهغه وخت چه نادرخان په پکتيا کښې ؤ؛ غوره کړي وو. له هغې جملې څخه داچه افغانستان يوواحد هيواد دی. په شمال کښې ځمکه ډيره اوخلک لږدي، په جنوب او مشرق کښې ځمکه نشته. خلک ډير دي ښايي چه هغي خواته خلک وليږدول شي. بله داچه په هيواد کښې بايد يوه ژبه رسمي اوملي وي. چه په خپل کارپوه شواو له بهرنه دکلتوري تيريو مخه ونيول شي. په داسې حال کښې چه دفارسي ژبې دپاره په ايران، تاجکستان اوډيروځايو کښې کار روان دی. هسې خو فارسي په ترکيه او مغلي هند کښې هم درباري ژبه وه؛ خو هغوئ پريښوده. هندي اوترکـي يې رواج کړه. د روسيې درباري ژبه هم فرانسوي وه. هغوئ هم پريښوده. نو په کاردي چه دلته هم پښتو ژبه ملي او رسمي شي. دغه وخت لا دنازي جرمني خبره نه وه. مگر ځينو خلکو وروسته دا په دې واړوله چه گوک داسې فکروکړي هغه به نازي وي. اوداکار په (١٣١٠هـ ل) کښې پيل شو چه اووه کاله وروسته دنازي خبرې پيدا شوې. (افغانستان په پنځو ورستيوپيړيو کښې) دغه تعبيرسم نه دی راغلی.

په دې وخت کښې يو شمير دامان الله خان ددورې خلک بنديان وو. ځوانانو داسې فکر کـاوه چه دغــه خلک دې خــلاص شي او امــان اللهخــان دې بيــرتــه راشي. خوداکارنه شوکيدای. د نادرخان اوظاهرخان په ټوله دوره کښې دځوانانو، روڼ فکرو اوشاهي کورنۍ همدغه اختلاف ؤ.

کله چه عـمـومي جګړه پای ته ورسـيـده، بيـا هغـه پخـوانی نړۍ بدله شـوه. (۱۹۳۹-۱۹٤۵م) جرمني دمتحدينو له خواونيول شو. جاپان باندې د امريکې له خـوا اټيم بم وغـورځـول شـو. هند دخپلواکۍ په لوري روان شـو. په (۱۳۲٦هـ ش) (۱۹٤۷ع) دپاکستان نوی دولت جوړ شو.

په دغه وخت کښې د افغانستان خارجه وزارت دانګليس خارجه وزارت ته يو ليک واستاوه چه دافغانستان سيمې دې افغانستان ته پريښودل شي. کومې چه دګندمک او ډيورنډ او پخوا تر هغـه له افـغـانسـتان څـخه بيلې شوې دي. دانګليس خارجه وزارت ځواب ورکړ چه داخبره په کال ۱۹۲۱ کښې فـيـصله شـوې؛ بيـا خبرې نه وربانديې کيږي دانګليس مطلب داؤ چه که امير عبدالرحمن خان يوخپلواک پادشاه نه ؤ. امان الله خان خو خپلواکي اعلان کړه. مونږ هم ومنله. دا خبره دخپلواکۍ په تړون کښې نه ده راغلې.

دغه مهـال افـغـانسـتـان بايد پوځي ګام اخـستی وای؛ انګريزانو د سرحد له خلکو پوښتنه وکړه چه تاسو هندوانو سره اوسيدل غواړئ که مسلمانانو سره. ښکاره ده چه دوئ مسلمانان وو. مګر دريم سوال نه ؤ چه افغانستان يادشوی وای.

نويوه مسأله راپيدا شوه.

سردار محمد هاشم خان له صدارت څخه ليرې شو. او سردار شاه محمود خان چه پخوا دحرب وزير ؤ؛ صدراعظم وټاکل شو.

شاه محمود خان له ډيرو لانجوسره مخامخ ؤ. ځکه ددنيا بڼه بدله شوه. انګليس له ځنګه ليرې شو او شوروي اتحاد پاتې ؤ. له شوروي اتحاد سره ګوزاره ګرانه وه. نوشاه محمود خان دغه خبرې پيل کړې.

۱- ډيموکراسي او آزاد انتخابات.

۲- اقتصادي پلانونه.

۳- دپښتنو دحقوقو يا پښتونستان يادافغانستان دخاورو خبره.

شاه محمود خان له درې واړو خبرو سره ښه پرمخ لاړ. مگر دادومره آسانه خبرې نه وې چه په محدودو تعلیم لرونکوئې بې له اقتصادي تهدابه سرته رسولې وای.

په کال ۱۳۲۹ دښاروالۍ انتخابات وشول چه دکابل له ښار څخه ډپلوم انجنیر غلام محمد فرهاد کابل ښاروال په داسې حال کښې وټاکل شو چه دی جرمني ته دسروبي بریښنا دفابریکې دکارونو دپاره تللی ؤ او په غیاب کښې خلکو وټاکه.

وروسته دولسي جرگې انتخابات وشول چه له کابل څخه دکتور عبدالرحمان محمودي اومیرغلام محمد غبار تاریخ پوه وټاکل شول. آزادې جریدې ووتلې: لومړی انگار دفیض محمد انگار له خوا، بیا ندای خلق، وطن، ؤلس.

د (۱۳۲۹هـ ش) د وړي په نهمه دپښتنو دآزادو قبایلو او نورو سیمو قومونو مشران راغلل اود آزاد پښتونستان دجوړیدو فیصله یې وکړه او ؤلسي جرگې ډیورنډ خط لغو اعلان کړ. ښکاره ده چه دومره اوچت گامونه په داخل کښې دیوې پیاوړې اداري، اقتصاد اوډیرو پوهو هیواد پالوته ضرورت درلود.

ځینو اخبارو، وکیلانو او روڼ فکرو ددې پرځای چه دشاه محمود خان ملاتړ وکړي؛ په ده پسې یې راواخسته.

د ؤلس دجریدې په یوې گڼې کښې دمزارشریف داسدیې دمدرسې یوهٔ شاگرد چه امیرجان نومیده؛ یوه مقاله ولیکله. (تاته وایم) چه نیغ یې پرشاه محمود خان صدراعظم ورودنگلی ؤ. مقاله دمطبوعاتو دقانون خلاف وه. امیرجان بندي شو. نو له بندي خانې څخه یې سردار شاه محمود خان ته یولیک واستاوه. چه صدراعظم صاحب! زه بندي یم او هلته مزارکښې امتحانونه شروع دي. که زه هلته دآزموینې د پاره ورنه شم گواکې پاتې راځم. یوکال مې ضایع کیږي. نوهیله کوم چه اجازه راکړئ له خیره لاړ شم. شاه محمود خان په عریضه کښې ورته ولیکل چه رښتیا وایې پرې ږدئ چه لاړ شي او امتحانٌ ورکړي. بیایې مه څوروئ.

دشاه محمود خان په وخت کښې دسروبي دبریښنا فابریکه، دگلبهار دنساجي

فابريکه او د هلمند پروژې په لومړي سرکښې سمه نتيجه ورنه کړه . دا يوه پلمه شوه
چه هم دشاه محمودخان پرضدٖ او هم داچه دغه پروژه يوې امريکايي کمپنۍ
دموريسن کنوډسن په نامه جوړوله. دامريکې پرخلاف ئې د تبليغاتو لاره هواره کړه.
په دغه وخت کښې دويتنام جنګونه هم روان وو.

يوه ورځ دکتور عبدالرحمن محمودي دمحصلينو اتحاديې ته راغی چه زه هم هلته وٚم
دوه ګړۍ يې يوه اوږده وينا وکړه ، او دهلمند پر پروژې يې سخت انتقادوکړ او داسې ئې
وويل: چه دقره قل د پوستکو د خرڅولو له بابته په افغانستان بانک کښې سل مليونه
ډالره ټول شوي وو چه په دغو پيسو له افغانستان څخه پاريس جوړيدی شو. خو
افسوس چه دافغانستان دغه پانګه په وچ ډاګ کښې تويې شوه.

محمودي وويل: چه حکومت مونږته وايي داڅه چه تاسو وايئ ملت دانه غواړي
نو ای خلکو راشئ زما ګريوان ته لاس واچوئ چه مونږ دادا غواړو؛ څوزه خپل څيرې
ګريوان حکومت ته ښکاره کړم.

دشاه محمود په دوره کښې افغانستان له بهرنه پوروړی نه وٚ. دغه وخت کښې
سردار محمد داؤد چه حکومت کښې يې لوړ حيثيت درلود؛ ددفاع وزير او څو
وزارتونه يې نور هم څارل. يوه کړۍ يې جوړه کړه چه ګواکې سردارشاه محمودخان
دپښتونستان برخه سمه پرمخ نه بيايي. دوئ به داکار په سمه توګه وکړي . نو چه له
وزارت څخه وزګار شو؛ په دې باب يې فعاليت پيل کړ. دده په دې کړۍ کښې غلام
حيدر عدالت، حسن شرق، ببرک کارمل، ضياء قاري زاده او نور دا ډول خلک وو چه
هريوې وروسته راووتل او خپل کاريې وکړ چه پرخپل ځای به وويل شي .

د۱۳۳۹ کال د وري په لومړۍ ورځ چه شاه محمود خان دنوي کال دمېلې ورځ
پرانستله . آوازه ګډه شوه چه يوه کودتا کيدله .

دشپې اعلان وشو چه خواجه نعيم امنيه قوماندان، ابراهيم دګاوسوار زوي ،ګل جان
وردګ ، اسمعيل بلخي، په لوئې توطيې کښې ونيول شول او توطيه پاتې راغله. دغه

خلک بنديان شول. داسې ويل کيدل چه دوئ پراخې خبرې کړې او هره خوايې ارتباط نيولی ؤ. مگر دخلکو خوښه نه شوه. ځکه شاه محمود خان يوبې غرضه آزاد سړیؤ او په دې خوشحال ؤ چه خلک دی ښه وبولي. نو زياتره فاتحوته ورتی. حتی هرچا به چه ميلمه کړ، دی به ورغی.

خو وروسته ثرگنده شوه چه دغې ډلې دومره وران نيت نه درلود.

د ويښ ځلميانو تکل هم په همدغه وخت کښې پيل شو. دوطن په نامه هم يوه ډله جوړه شوه. په لومړي سر کښې شاه محمود خان ددغو ټولو ديموکراتيکو تکلونو هرکلی کاوه. خو د سردارمحمد داؤد ډلې دی په بې کفايتی يا د ادارې په کمزوری تورن کاوه. شاه محمود ځينې خلک ونيول. په تيره محمودي ،غبار چه دکابل وکيلان وو. ډپلوم انجنير غلام محمد فرهاد چه کابل ښاروال اودبريښنا لوي رئيس ؤ دسروبي دبريښنا مؤسسه يې خپله دبريښنا د شرکت په پانگه جوړه کړه. له بلې خوايې دکابل ښار ښه واړوله. غلام محمد فرهاد دښاروالی په يوه ټولنه کښې وويل: خپل وطن بايد پخپله جوړکړو او له بهرنه مرسته ونه غواړو. دکاردپاره مونږ استعداد لرو.

دغـه وخت دشوروي اتحـاد سفارت شاه دوشـميـره ولي زيارت تـه نژدې دسيند له غاړې سره ؤ؛ چه د نجات د ښوونځي مخامخ يادپامير سينما له څنگ سره دسفارت دمخې سړ ک ډمبرنه ؤ. ترافيک ډيرو و. خاورې دوړې سفارت ته ننوتلې. دشوروي سفارت يو ليک کابل ښاروالی ته وليږه چه مونږ ته اجازه راکړئ دغه دسفارت دمخې سړ ک پوخ کړو. کابل ښاروال فرهاد خپل معاون (مرستيال) راؤغوښت. هغه ته يې هدايت ورکړ چه ددغه سفارت ليک شاه محمود خان صدراعظم ته ورووړه. مرستيال محمد زمان نوميده چه کابل کښې قلعه زمان خان دهمده په نامه ده. محمد زمان وويل: ليک مې شاه محمودخان ته وړاندې کړ. هغه وکوت بيايې راته وويل: نه زويه که تاسو يوه لويشت دافغانستان خاوره په روسانو جوړه کړئ هغه تـه بيا افغانستان

مـه‌واياست روسيـه ووایاست. دفرهاد مطلب هم‌داؤ . بیا سړک جوړ شو . دوه درې ورځې یې ونیولې. دلته‌شاه محمودخان‌صدراعظم او غلام‌محمد فرهاد یوشانې فکر کاوه. چه له‌بهرنه مرستـه‌وانه‌خستـله‌شي چه‌ډیر گران عواقب‌لري. همداوجه وه‌چه افغانستان په دغه دوره کښې دهيځ بل هيواد پوروړی نه ؤ. دغه موضوع هم دشاه محمود خان پرضد دتبليغ يوه وسيله‌وگرځيده. چه‌گواکې پرته لـه‌بهرنۍ مرستې دملک پرمختگ امکان نه‌لري. صدراعظم شاه محمود ډارن دی . په سياسي او اقتصادي خبرونه‌پوهيږي.

په‌دې توگه داسې وښودله شوه‌چه‌صدراعظم نه‌شي کولای ملک اداره کړي . په دې کښې شک نشتـه‌چه‌دشاه محمود سفر امريکې ته‌او هلتـه دده‌خبرې دهلمند دپروژې په برخه کښې چه ناکامه‌ښودل کیده ؛ له امريکې مرستـه وغوښتله شوه چه دهلمند پروژه‌بايد حاصل ورکړي. ايـران هم‌دپروژې مخالف ؤ . دايې ويل‌چه دايران برخه اوبه‌لږې شوې دي. روسـان هـم دپروژې مخالف وو. ځکه‌دامريکائيانو راتگ افغانستان‌ته ددوئ خوښ نه ؤ.

# تبليغات له هرې خوا پيل شول

۱- دهلمند پروژې د افغانستان پانگه وخوړه او نتيجه يې ورنه کړه.

۲- توطيې ډيرې شوې او خلک له ادارې ووتل.

۳- سرمايه داري يا پانگه والي ښه سيستم نه دی.

٤- افغانستان په ديموکراسۍ نه شي چليدی.

۵- دپښتونستان خبره داخبارونو په سطحه پاتې ده.

له دې خبرو داثرگنديدله چه بايد سردارمحمد داؤد مينځ ته راشي. شاه محمود خان آزاد اخبارونه بند کړل. پر مظاهرو يې بنديزولگاوه. دی سره له ښو هيلو بې وسې شو.

شاه محمودخان استعفی وکړه او پخوانی صدراعظم سردارهاشم خان هم وفات شو په همدغه کال محمد داؤد لندن ته تللی ؤ. دانگليس دملکې دتاجپوشۍ په مراسموکښې يې گډون کړی او هم له لندن څخه مسکو ته راغی. د شوروي اتحاد دمشر ستالين دخښولو او پوځي برې په مراسموکښې يې گډون وکړ. په همدغه وخت کښې خلکو داويل چه محمد داؤد صدارت ته ځان جوړکړ.

# د سردار محمد داؤد راتګ
# د صدراعظم په توګه

په اتو بجو محمدداؤد دکابل راډيو څخه وينا وکړه او خپله وينايې داسې پيل کړه:

يارب تو آن کن که پايان کار    تو خوشنود باشی و ما رسته گار

په پای کښې يې وويل: مونږ دهيواد دپرمختګ او سالمتيا د پاره يو لړ پروګرامونه لرو او هغه سرته رسوو چه په دې برخه کښې مونږ ته هيڅ ملاحظه ارزښت نه لري. يعنې خپله ديکتاتوري ئې اعلان کړه . سردار محمد داؤد له پخوا په شدت اوليونتوب نوموړی ؤ. نو ده ددفاع وزارت په خپل لاس کښې وساته او جنرال محمدرسول يې دضبط احوالات رئيس مقررکړ.

عبدالملک عبدالرحيم زی چه ددفاع د وزارت دلوازمو رئيس ؤ؛ د ماليې وزير په توګه وټاکه . عبدالملک ادريم زی يو فعال سړی ؤ . کابل ښاروال دکتور سهيل شو سردارمحمد داؤد له شوروي اتحاد سره اړيکې ښې کړې.

پاکستان چه تر دې وخته فيډرالي دولهؤ ؛ يو يونټ اعلان کړ. ددغه يونټ مخالفت خان عبدالغفارخان پيل کړ ،اومحمد داؤد هم په دې مناسبت يوه ويناوکړه . د (١٩٥٥ع) دمارچ په ديرشمه دکابل دښوونځيو اوپوهنتونو زد کوونکو دداؤد خان دوينا په ملاتړ لويه مظاهره جوړه کړه. چه زه هم په کښې وم. کله چه مظاهره دپاکستان سفارت ته ورسيده؛ دغه سفارت دبهرنيوچارو وزارت ته مخامخ ؤ او دصدارت له څنګه سردارمحمد نعيم خان چه دبهرنيوچارو وزير ؤ؛ له کوره وتلی ؤ . وزارت ته روان ؤمظاهر چيانو ده موټر ودراوه او ورته وئې ويل چه پښتونستان او

افغانستان يوه خاوره ده. حکومت بايد دهغه ديو کولو دپاره جدي اقدام وکړي.

سردارنعيم خان وويل: ستاسو له احساساتو تشکر. حکومت ستاسو غوښتنې په نظر کښې نيسي اوغفلت نه کوي. تاسو خپلو مظاهرو کښې آزاد ياست.

له دې وينا وروسته دخوشحال خان او رحمان بابا دښوونځيو زدکوونکي دپاکستان سفارت ته ننوتل. دفترونه يې گډوډ کړل. کړکۍ يې ماتې کړې اودپاکستان بيرغ يې کښته کړ. چه دنورو ښوونځيو زدکوونکو يې مرسته کوله. کله چه لويه جرگه وشوه نوددغې لويې جرگې نايب رئيس وزير محمدگل خان مومند وتاکل شو. نوامبر (١٩٥٥ع).

وزيرمحمدگل خان مومند په خپلې وينا کښې وويل: « مونږ دالجزاير له مسلمانانو سره همدردي لرو. نوخپلو پښتنو وروڼو سره خو ضرور په غم او ښادۍ کښې شريک يو. نن چه هغوئ دخپلې خپلواکۍ د پاره هلې ځلې کوي؛ مشران يې دپاکستان په بندي خانو کښې پراته دي. دا زمونږ ملي وظيفه ده چه دهغوئ ترڅنگ ودريږو.

محمد داؤد يو مسلمان پښتون سړی دی. خو ده په کابينه کښې دمعارف وزير په پښتو نه پوهيږي او د مطبوعاتو وزير هم. نوڅنگه دومره لوي کار چه دمحکومو پښتنو خپلواک ساتل دي؛ ترسره کيدای شي. وزير محمد گل خان وويل: زه په دې خبرې خپگان څرگندؤم چه هر افغان چه دزدکړې دپاره جرمني، ترکيې، فرانسې، روسيې ، انگليس او امريکې ته لاړشي؛ بيا ددغو هيوادوپلوي کوي. زه حيران يم چه دافغان پلويان به چيرته وروزل شي؟ او کوم مطبوعات به د هيواد پالنې خپرونې وکړي؟

معارف اومطبوعات بايد دملي گټو، ملي تاريخ او ملي ژبې دتعميم وظيفه ولري تاسو اخبارونه او درسي کتابونه وگورئ چه پرکومه روان دي.

ده حکومت ته توصيه وکړه چه خپله کابينه بدله کړي او نوي وزيران بايد دافغانستان لوړې گټې وپيژني».

دوزيرمحمد گل خان له وينا وروسته ډاکټر عبدالمجيد دمعارف وزير او صلاح الدين سلجوقي دمطبوعاتو مستقل رئيس بدل شول. يوې لنډې مودې کښې چه محمدگل خان دلويې جرگې نايب رئيس ؤ ؛ ځنيو هوښيارو خلکوخپلې عريضې وروړې او امرونه ئې ځنې واخستل. وزيرمحمدگل خان په افغانستان کښې دلوړ رسوخ خاوندؤ. په هر ولايت کښې چه ده حکومت کاوه؛ خلک ورڅخه خوشحال وو.

لوئې جرگې فيصله وکړه : « حکومت کولای شي چه پرته له سياسي قيداو شرط له بهر ځخه مرسته ترلاسه کړي ». همداؤچه دشوروي اتحاد مخه د افغانستان په لورخلاصه شوه . ځکه يوازني هيوادچه نظامي او اقتصادي مرسته کوله؛ شوروي اتحاد ؤ.

په داسې حال کښې چه دپاکستان د سفارت مخې ته سختې او شديدالحن مظاهرې وشوې؛ ددې نه وروسته د پاکستان سره اړيکې وشليدې او پاکستان دافغانستان دترانزيټ لاره بنده کړه . چه په دې صورت کښې په شمال کښې شوروي اتحاد سره نوې تجارتي بندرونه پرانستل شول چه دوهمه لاره وه ؛ د شوروي اتحاد دپاره.

په ۱۳۴۰ کال (۱۹۶۱ع) کال کښې دوړي په لومړۍ ورځ په عسکري رسم گذشت کښې روسي جوړه شوې وسله او راکټونه وښودل شول . په دې مراسمو کښې د ايران اوځينو نوروهيوادو استازي هم بلل شوي وو .

دايران په مطبوعاتو کښې داخبره راغله چه دافغانستان عسکري طاقت که دکميت په لحاظ لږدی؛ مگر دکيفيت په برخه کښې ډير پياوړی دی. ايران هم له امريکې څخه وسله ترلاسه کړه. پاکستان هم. همداؤچه سوړجنگ دشوروي اتحاد او امريکې ترمينځ پيل شو. امريکې په پاکستان کښې داسې هډې جوړې کړې چه له پاکستانيانو هم پټې وې.

ملت تردغه وخته پاک ؤ او کله چه محمد داؤد د (۱۹۵۵ع) دمي په مياشت کښې دعمومي سفربرۍ اعلان وکړ؛ په ۲۴ ساعتو کښې دوه سوه زره خلک خدمت ته

ودريدل خو په‌دې وخت کښې سکندر ميرزا دپاکستان گورنرجنرال له سردارشاه ولي اوسردار شاه محمود خان څخه وغوښتل چه‌خپل وراره ته نصيحت وکړي. دايران پادشاه او دعربستان پادشاه په مينځ کښې شول او د جگړې مخنيوی يې وکړ. البته نورې نړۍ هم خپل هيئتونه کابل ته‌راوليږل. جمال‌عبدالناصر دمصر جمهور رئيس هم کابل ته‌راغی؛ چه‌دغه ټولې هڅې ددې د پاره وې چه جگړه پيښه نه شي. سکندر ميرزا هم کابل ته راغی او دپښتونستان مسأله يې تريوه حده ومنله. دغه مطلب دکتور طبيبي په خپل کتاب کښې چه ( يو ملت دخپلواکۍ په‌مينه کښې) نوميږي؛ ليکلی دی.

د سرې جگړې ماهرانو داسې لوبه کوله چه واړه هيوادونه‌نه پوهيدل او که پوهيدل غوښتل يې چه له‌لوبې گټه واخلي. داگټه يوازې سوريې او عراق واخسته. چه‌خپلې اړتياوې ئې په شوروي اتحاد پوره اودکمونستۍ مخه يې هم ونيوله.

## اقتصادي پلانونه :

عبدالملک خان چه هوښيار اوگړندی سړی ؤ. په لومړي پنځه‌کلن اقتصادي پلان کښې يې لارې، سيلوگانې، هوايي ډگرونه اوځينې داوبو بندونه جوړکړل. په ۱۹۵۷ کښې امريکې ته‌لاړ چه هلته ددوهم پلان او نورې اقتصادي مرستې ترلاسه کړي. دغه وخت افغانستان ته د شوروي اتحاد نظامي او غيرنظامي مشاورين. وسلې اوترقي يافته سامان راغلی؛ چه‌ددغسې بې دريغو اړيکو په نتيجه کښې‌دوه کاره وشول.

۱- دشوروي اتحاد هره خبره بايد منل‌شوې وای او که نه ټولې پروژې په ټپه دريدلې.

۲- دکمونست حزب دجوړيدو دپاره زمينه برابره شوه.

نور محمدتره کي ويل‌چه مصئونيت اوډوډۍ په‌دې حزب کښې دي. ځکه حکومت يوازې دغسې يوه حزب ته‌غږ نه‌شي کولای چه همدا اوس ئې ترې څو سوه مليونه ډالره پور اخستی دی...

نو تره کي په داسې حال کښې گوند د پاره فعاليت کاوه او د مسکو د خارجي نشراتو فارسي او پښتو کتابونه يې پرځوانانو ويشل.

په جمال مينه کښې حسن شرق خپل کور د تاس خبري آژانس ته په کرايه ورکړ. له دغه ځايه هرڅه ښارل کېدل او کمونست ځوانانو ته تنخوا ورکول کېده. چه شاگردانو اته سوه افغانۍ د پوهنتون دوه زره او د مامور دری زره تنخواه وه. چه دوئ د کمونستي مرام د پاره کار کاوه.

دا مسأله پټه نه پاتې کېده. يو زده کوونکی به نن خوار سبا به يې هرڅه درلودل بياځينو د نورو د تشويق د پاره خبره هم نه پټهوله. په محيط کښې خوره شوې وه. هرچا د لاجوردو گوته درلوده. او ال ايم امريکايي سگرټ او بنز موټر کښې سپريده. دغه سړی د کارگرې طبقې نماينده دی.

په دې ملي گټې هيرېدلې او د بهرنيو هيوادو لاسونه را اوږديدل. عمده سوال داؤ چه پانگه والي لاره ښه ده که سوسيالستي؟

له ملي غرور او ملي همت نه مخه وگرځوله شوه. د محمد داؤد د صدارت په وروستيو کلو کښې د شوروي اتحاد رسوخ ډير شو. تر دې حده چه ناتوڅرون مسأله وخيږله او اعليحضرت ظاهرشاه اړ شو چه محمد داؤد استعفی ته اړ کړي. مشروطه شاهي راولي. ترانزيټ لاره بنده وه. هيواد يو مخ شوروي اتحاد ته پاتې شو.

# دويمه ديموكراسي او اساسي قانون!

کله چه د افغانستان اقتصادي وضع دپوروونو دربخ پربنأ لهربړونو سره مخامخ شوه دنورو اقتصادي پلانودپاره دپيسو درک نه ؤ. پښتونستان جوړ نه شو. ددې دپاره چه دشوروي اتحاد لاس نور پراخ نه شي؛ يوه بله نسخه هم نوی اساسي قانون اوډيموکراسي وه.

نړۍ پهدوو بلاکو ويشل شوې وه. دامريکې سياست دايران او پاکستان پياوړي کول ؤ. افغانستان هڅه وکړه چه له محاصرې نه ځان وباسي. په ايران کښې دتودې حزب(کمونست) پهپاکستان کښې پيپلزپارټي، اوکسان پارټي. نو ښکاره ده چه افغانستان کښې هم بايد کمونست حزب جوړشوی وای. ددغه حزب دپاره نورمحمد تره کي کارکړی ؤ. کلهچه په کال ۱۹۶۳م محمد داؤد استعفی وکړه اودکتور محمد يوسف صدراعظم شو؛ د تره کي کار له مخکښې نه جوړ ؤ او لومړی حزب ؤ چهځان يی ځرگند کړ.

اعليحضرت ظاهرشاه دغهوخت يوازې ؤ. هاشم خان وفات شوی ؤ. د شاهي کورنۍ هغه پخوانی اتفاق نهؤ پاتې. سردار عبدالولي دظاهرشاه زوم د محمد داؤد سره مخالف شوی. ملکه او شهزاده احمدشاه بله خواؤ. ډيرې هڅې وشوې چه دشاهي کورنۍ اختلاف پهاتفاق بدل شي. بهر اودننه حالات بدل شوي وو. نو يوه سالمه ډيموکراسي هم يوه چاره وه.

کلهچه دکتور يوسف دډيموکراسۍ اعلان وکړ. دخلکو اعتبار نهکيده. په دغه وخت کښې په سرکاري مطبوعاتو کښې داسې مقالې خپرې شوې چه پرېخوانۍ وضع انتقاد ؤ.

په يوه مقاله کښې داسې مثال ورکړ شو . کله چه دآس له خولې قيضه وايستله شي آس فکرکوي چه قيضه يې لا په خوله کښې ده . اوس بايد خلک داومني چه ډيموکراسي راغلې ده . پادشاه د ډيموکراسۍ ملاتړکوي اوډيموکراسۍ حامي دی.
په کال ۱۹٦٥م کښې لومړۍ جريده دخلق په‌نامه ووتله . چه نورمحمد تره کی يې د امتياز خاوندؤ. البته دغه گوندي اخبارؤ. تردې دمخه دپيام امروز په نامه اخبارووتلی ؤ.

د ١٣٤٥ د ؤري په١٦ د افغان ملت جريده هم خپره شوه . ډيپلوم انجنير غلام محمد فرهاد يې دامتياز خاوندؤ. انجنير فرهاد وويل چه دملي گټوساتلو د پاره داکار ضروري دی.

دلته يوتوپير داؤ چه دمحمد داؤدخان د صدارت په دوره کښې کمونستانو ډيرکتابونه ترلاسه کړي وو . له ايران څخه دتودې دکمونست گوند جملې د (مردم) په نامه راتلې. ددوئ فلسفه پوره شوې وه اوڅه کدرونه يې روزلي وو. خو افغان ملت سمدم راووت . پرته له افغان تاريخه او کلتور نورڅه په لاس کښې نه ؤ.

دافغان ملت مشر انجنير فرهاد ، اوداسې نورخلک چه په‌قوم کښې يې رسوخ درلود ؛ سره ټول شوي وو. لکه عبدالله خان وردگ نايب الحکومه ، دعبدالملک خان عبدالرحيم زي کورنۍ ، حسين گل ځاځی ، حسين شيخ علي ، سيد مهدي آغا او نور. خوځوانانو ايډيولوژي غوښتله .

افغان ملت د عبدالله خان اڅکزي ، سيدال خان ناصرکليزي ونمانځلې . په بيلو وختوکښې ئې دوزير محمدگل خان ، په شاعرانو کښې ملنگ جان اونور . خان عبدالغفار نامتو مشر هم په‌لومړي سرکښې افغان‌ملت سره همکارؤ . دلوي افغانستان غوښتنه اوداسې نورې خبرې چه نه دکمونستانو خوښيدې نه داخوانيانو اونه‌ئې بهرکښې ملگري درلودل.

نوداچه افغانستان پرخپل تاريخ تکيه ولري. دې ته دچاپام نه ؤ. دغه وخت حالت داسې ؤچه يا په کمونستي بلاک او يا په سرمايه داري بلاک تکيه وشي. هغه هم دمزدورۍ په توګه.

ځوانان دژوند ښه والي پسې ګرځېدل. له دې امله چه په افغانستان کښې روڼ فکر او تعليم لرونکي مأمورين وو او ددولت مأمورين روڼ فکره وو. نو عوام ددوئ په مقابل کښې نه پاځېدل. ځکه دولت دپاچا ترسيوري لاندې او پاچا دخدای تعالی ترسيوري لاندې دی. خبرې يو قدسيت درلود. له همدې امله هرکال يوسل وشل زره کسه دعسکري خدمت دپاره چمتو کېدل. پرته له دې چه تنخواه وغواړي. يوازې په يوې ګېډې ډوډۍ او عسکري لباس کښې يې دوه کاله خدمت کاوه. ددولت دغه طلسم بايد ساتل شوی وای.

محمد داؤد چه غوښتل يې ملت له اوبو پورې باسي. داوبو په مينځ کښې ودريد. ظاهرشاه هم ملګري نه درلودل. په لومړي سرکښې ځيني دتجربې خلک به پاچا سره دمصاحب او مشاور په نامه کښيناستل. هغوئ مړه شول. ظاهرشاه ته نژدې خلک ده ته صادق نه وو. تردې چه کلک مخالفين وو. خليل الله خليلي ښکاره سقوي دده مطبوعاتي مشاور اومصاحب ؤ، دده سرمنشي حافظ نورمحمد کهګدای دمحمد زئيانو پرخلاف مقالې ليکلې. په داسې حال کښې چه دغه خلک دپادشاه پلرونه وو. دحافظ نورمحمد مقالې د(۱۳٤۹ هـ. ل) دژوندون په اونيزې مجلې کښې چاپيدلې. حتی د پادشاه او ملکې اړيکې هم ښې نه وې. محمد داؤد خپل کور دپادشاه د مخالفينو مرکز ګرځولی ؤ.

نوداسې ځانځاني جوړه شوې وه چه ملي ګټې دخلکو هيرې وې. يوازې عوامو دا انديښنه درلوده. خو هغوئ دولت ته لاره نه درلوده. د سردارمحمد داؤد په وخت کښې ؤلسي جرګه وه. خو وکيلان د ضبط احوالات له خوا په ګوته کېدل او محلي ولسواليو هماغه رالېږل. هغه وکيلان چه وروسته له قانون اساسي راتلل؛ بيا

دپيسو معامله وه. چه‌څوک ډیرپیسې لګوي. خودوکالت په دوره کښې به‌يې خپل لګښت بيرته ترلاسه کړ.

په‌دې ليکنه کښې يوازنی هدف دادی چه ولې هيواد ړنګ شو؟ اوڅه وشي چه بياداسې ونه‌شي!

مګر په دې کښې هيواد پالودکرارپرمختګ دپاره په صداقت کارکاوه اوسياسي حالاتوته يې نه کتل. که څه هم صادق خلک؛ عوام اوپادشاه مثبت ټکي وو. مګر بهرنۍ جاسوسۍ، سياسي او اقتصادي فعاليتونه په‌چټکۍ روان وو.

ډيرې پروژې له روسانوسره وې. څه له امريکائيانوسره. چين هند . عجبه داده چاچه پروژه درلوده ډله‌يې هم‌درلوده. حتی دمخفي پوليسو په‌مرکز کښې د هرهيواد پلويان ناست وو.

نوڅرګنده ده چه بدې ورځې راروانې وې. دغه نښې داسې شميرل کيږي.

۱- د شوروي اتحاد د پوځي، اقتصادي او کلتوري مرستې سره کورني کمونستان ؤ.

۲- دشوروي اتحاد دفعاليتو پرخلاف دامريکې فعاليتونه.

۳- دملي تاريخ اوملي ګټو هيرول.

٤- د ايران فعاليت په هزاره اوشيعه‌ګانو کښې چه ددوئ ملايان يې روزل.

۵- د پاکستان دجاسوسۍ پراخه‌دستګاه چه‌ټول پوليسي او نظامي لوړرتبه افسران په يوه نامه اوبل نامه حتی تجارت، سياحت او د مزارشريف د زيارت په بهانه به هرچا ؛ هرومرو افغانستان ليدلی ؤ.

کله‌چه ليکوال ددغو کرښو پښورکښې ؤ. دغه‌خلک يې وليدل چه‌کابل کښې دچرګانو کوڅه کښې ګرځيدل. له هغې ډلې يو هدايت‌الله خان دسند دپوليسو عمومي مشر اوبل دل جان خان جنرال د صوبه سرحد دپوليسو مشرؤ. او کابل ته دتاجر په توګه راغلي وو. ( ليکونکی چه له کارنه ايستل شوی ؤ نودوريو اوبدلو

په یوه دوکان کښې یې د توره بازخان څلورلاري کښې کار کاوه). چه دغه خلک یې هلته لیدل.

دغه ډول له ایران څخه وسلې او پیسې هزارگانوته راتلې. افغان ملت هم ونه شول کولای چه ملی خلک را ټول کړي. مخکښې تر هغه په فاشیستي نامه یاد شو. له پادشاه سره یې اړیکې ټینگې نه کړې. ځکه دلته د مرتجع له نامه ویریدل. له بلې خوا داسې خلک گوند ته ننوتل چه د نورو له پلوه رالیږل کیدل.

په پای کښې انجنیر فرهاد وویل: په افغانستان کښې دوینو تویدل راځي. تاسو که دهغه مخه نه شئ نیولای نو هڅه وکړئ چه دتاسو لاسونه په وینو سره نه شي.

دملي گتیو دپاره چاڅه نه شول کولای. ځکه دغه مسأله اقتصادي شوه. چا پیسې درلودې او چا په دولتي ادارو کښې پلویان درلودل.

# دلړم درېيمه نېټه

د (۱۹٦٥ع) داکتوبر په ۲٥ (۱۳٤٤ - دلړم دريمه) دکتور يوسف ددوهم ځل دپاره صدراعظم وټاکل شو. په دغه ورځ بايد ؤلسي جرگې ته تللی وای او دويسا رأی ئې اخستې وای. دکتور يوسف غوښتل چه دځوان نسل پلوي ترلاسه کړي. نودپوهنتون محصلين يې ولمسول چه دؤلسي جرگې ماڼۍ ته لاړ شي او دده پلوي څرگنده کړي. کله چه دپوهنتون زدکوونکي دؤلسي جرگې ماڼۍ ته ورسيدل؛ ددومره گڼې گوڼې دپاره دننه ځای نه ؤ. نو زدکوونکو ويل (مونږ علني شورا غواړو). شورا علني ده. مگر دومره خلک نه ځايږي. بيايې مکروفون دباندې راؤړ چه دادی واورئ. هرڅه چه دننه ويل کيږي؛ مونږ علني شورا غواړو. شعارشو او د ښار پرلوري راغلل. داکار دکمونستانو په خوښه ؤ. مگر انجنير عثمان چه په لنډي مشهورؤ؛ ډير فعاليت کاوه حال دا چه دغه سړی له هغوڅخه نه ؤ. چه په خلق يا پرچم ياديدل. ماښام دصدراعظم کورته راغلل. عسکراو پوليس هم ډير شول. ډزې وشوې اويو سړی مړ شو. کوم بل زخمي شو. دظاهرشاه په سلطنت کښې دا لومړنۍ بده پيښه وه چه په لوي لاس جوړه شوه. دکتور يوسف په يوه مطلب دخلق گوند په بل مطلب انجنير عثمان په بل مطلب دغه اورته لمن وهلی وه.

په حقيقت کښې هيڅ خبره نه وه. خو ډيره لويه شوه. د سردار ولي پرضد شعارونه ورکړی شول؛ چه دې خبرې هم سابقه نه درلوده. سبا آوازه شوه چه ډيرخلک وژل شوي. په کابل کښې به هره ورځ په طبيعي مرگ خلک مړه کيدل او په جوماتونو کښې به ئې فاتحه اخستله کيده. په دغه ورځ ټول په طبعي مرگ مړه شوي؛ دغه ټول دعقرب ددريمې دشهيدانو په نامه ياد شول.

اعليحضرت ظاهرشاه ښاغلی محمد هاشم ميوندوال دصدراعظم په توگه معرفي کړ په سهاريې نورمحمد تره کی وويل: چه دکتور يوسف دخلکو سړیؤ او ميوندوال دامريکې سړی دی.

ميوندوال پوهنتون ته لاړ. تور دستمال يې په غاړه کښې واچاوه. او د لړم دشهيدانو په غم يې خپگان وکړ. دپوهنتون زد کوونکو د ميوندوال تود هرکلی وکړ. ميوندوال وعده وکړه چه د لړم دحادثې خلکوته به جزأ ورکړ شي. ليکوال ددغو صحنو عيني شاهد دی.

بله ورځ تره کي دحسن خياط چه دعقرب په دريمه شهيد شوی ؤ کورنۍ ته يو څه پيسې په دې توگه چه دخلق دگوند غړو دغه بسپنه ټوله کړې ورکړې وه؛ اوددې صحنې عکس يې واخيست چه په عکس کښې يوازې نورمحمد تره کی، حفيظ الله امين، کريم ميثاق، دکتورشاه ولي ليدل کېدل. چه دا عکس شته او که کيدای شول؛ د لته به چاپ شي. چه بيادغه زړه سواندو خلکو څه وکړل؟

دلړم دريمه دلته پای ته ونه رسيده. څوکاله داسې رواج ؤ چه د لړم په دريمه به په کابل او نوروښاروکښې مظاهرې کيدلې چه د بې معنی مظاهرو په لړ کښې يوه هم همدا دلړم دريمه وه.

محمد هاشم ميوندوال يو پروگرام جوړکړ. (خلکوته ورځم). په ولاياتو وگرځيد اواوردې ويناوې ئې وکړې او د اصلاحي پروگرام په نامه يې ديوه گوند اساس کښيښود او يوه جريده يې دمساوات په نامه وايستله.

څرنگه چه ميوندوال صدراعظم شو نو خلکو فکر کاوه چه د صدارت په مقام کښې گوند جوړول ضرور دپادشاه په خوښه وي. ډير مأمورين دمأموريت دبقأ په خاطر دميوندوال گوند ته ورغلل. دميوندوال دگوند نوم مترقي ډيموکراټ شو او اسلام، ناسيوناليزم، ډيموکراسي او سوسياليزم ئې سره گډ کړل.

مخالفينو دوه انتقاده وکړل:

١- دصدارت اودولت دا مكاناتونه په گټه اخستلو ده حزب جوړكړچه ښه كارنه‌دی، مولانا قيام‌الدين خادم دافغان ملت په‌جريده كښې يوه مقاله وليكله‌چه :(حزب حكومت جوړوي كه حكومت حزب؟) .

٢-دده دحزب مرام يې يوه بې ښالمې اوبې‌مزې سلاته وبلله. مشكله خبره همداوه چه مرام بايد يامذهبي وي ياملي. ياسوسيالستي يادیموكراسي . له‌همدې امله افغان ملت هم‌ځانته افغان سوسيال ډيموكراټ ووايه‌او په حقيقت كښې ملي‌ؤ. په پای كښې دواړه مرامه ورڅخه لاړل . نه‌دا شو؛ نه هغه. دميوندوال حزب هم داسې‌شو هماغه‌افراطي‌اسلام اوافراطي سوسيالستي پاتې شول . خارجي لاسونه او بربادي چه تفصيل به‌يې‌راشي.

# اساسي قانون او پښتو ژبه

د اعلیحضرت امان الله خان او اعلیحضرت محمد نادرشاه په وخت کښې په قانون کښې دژبې موضوع نه ده یاده شوې. مگر دفتري ژبه د اعلیحضرت احمد شاه بابا له زمانې فارسی وه. په هغو زمانو کښې د بغداد، استانبول، ډهلي، بخارا، ثمرقند دسامانیانو په دربارو کښې هم فارسي چلیده. وروسته په ترکیه کښې ترکي، بغداد کښې عربي، هند کښې انگلیسي ازبکستان کښې ازبکي، پاکستان کښې اردو ژبې رسمي شوې.

امیر شیرعلي خان پښتو ژبه په القابو او عسکري منصبو اوقوماندو کښې راوسته. اعلیحضرت امان الله خان غازي پښتو مرکه جوړه کړه او غوښتل یې دمختلفو سیمو لغات راټول کړي او پښتو ژبه پیاوړې کړي.

په یوه مجلس کښې مولوي محمد حسین هندي امان الله خان ته وویل: تاسو چه پښتو رسمي کوئ؛ دننگرهار لهجه غواړئ که د کندهار. امان الله خان وویل د کندهار لهجه خوږه ده. مولوي وویل چه د کندهار لهجه زنانه ده. امان الله خان دومره عصبي شو چه تومانچه یې راوایستله. دغه مطلب دانقلاب افغانستان په کتاب کښې همدغه مولوي په اردو ژبه لیکلې. بیا پښتو مرکه وځنډیده.

امان الله خان له پښتو ژبې سره مینه درلوده. دامان افغان په جریده کښې پنځم کال لسمه گڼه (۱۳۰۳ هـ. ل) لمریز کال لیکل شوي چه د ترکیې سفیر په خپله وینا کښې د شیخ السفر په حیث وویل: ډیر به خوشحال وم که ما خپله وینا په پښتو ژبه چه داعلیحضرت خوښه ده؛ کړې وای. خو بیا هم اعلیحضرت په ترکي ژبه ښه پوهیږي او دغه ژبه ورته پردۍ نه ده. په ۱۳۰۸ کښې محمدگل خان مومند دکورنیو چارو

وزير په توگه خپله وينا په پښتو ژبه وکوله او په اخبارو کښې خپره شوه. بانکنوټ باندې دامان الله له وخته پښتو ليکل شوې وه.

داچه په اساسي قانون کښې راشي په کال ۱۳٤٤ کښې د لومړي ځل دپاره راغله. په دغه کال کښې انجنير غلام محمد فرهاد دکابل دخلکو وکيل په لويه جرگه کښې وټاکل شو. اعليحضرت محمد ظاهرشاه فرهاد ته وويل چه پردغې موضوع دې ډيرټينگار ونه کړي چه پښتو دې يوازنۍ ملي او رسمي ژبه وي.

البته دواړه ژبې به يعنې پښتو او دري رسمي وي. کله چه دا موضوع مطرح شوه ځينې وکيلانو داهم نه منله. فرهاد وويل: نه يوازې پښتانه په افغانستان کښې اکثريت دی. دسرحد پښتانه هم زمونږ وروڼه دي. د هغوئ سترگې زمونږ خواته اوړي.

رمضان علي شريفی دبهسود وکيل وويل: «څوک چه د پښتو ژبې نوم اخلی؛ په هوښياری کښې خاين دی اوکه نه پوهيږي جاهل دی». ددغه سړي ځواب پوهاند صديق الله رښتين ورکړی. داسې چه څوک دهيواد د محترمو شخصيتونو بې احترامي کوي، پخپله د يو بازاری او سپک شخصيت خاوندوي». فرهاد دلويې جرگې څخه ووت. کله چه دباندې ووت؛ مولوي عبدالرب د مولوي عبدالرزاق اندړ مشهور مجاهد زوي ورته وويل: پاپاجانه (فرهاد عاميانه نوم) تانه دي اوريدلي چه وايي: «هندوان پيسې گټي پښتانه قصې!».

دلته عبدالهادي داوي او نورومداخله وکړه. پښتو رسمي او ملي؛ دري رسمي ژبه شوه او په ۳۵ ماده کښې راغلل چه: «دولت مکلف دی د پښتو د پراختيا د پاره ور اقدامات وکړي».

په عمل کښې پښتو او له خوله فارسي سره برابره او مساوي هم نه وه. ټولې اداري په فارسي چليدلې او داچه ددولت مأمور بايد په دوو ژبو پوه وي داهم چانه منله او په ډير جنجال ؤلسي جرگې په ۱۳٤۵ کښې تصويب کړ. ددوسوو شپاړسو

وکيلانو له جملې څخه يوسل اتيا تنو په اکثريت فيصله وکړه. موضوع خلاصه شوه. خو عملي نه شوه.

ځينې تحليل کوونکو داهم ويل چه پښتنو ځوانانو چه دغه وخت ډير تعليم کړی ؤ دوئ ته کلتوري محروميت پيدا شو ؛ چه وروسته په بله څيره ځرگند شو.

شاهي کورنۍ څخه ځوانان په دې هم خوابدي وو چه دوئ په پښتو خبرې نه‌شي کولی؛ يائې نه کوي.

دخلق گوند له‌دې خبرې هم گټه واخسته او درحمان بابا اوخوشحال خان دښوونځيو زد کوونکوته يې ويل چه‌دکمونست خلق گوند دژبې مسأله دډيموکراتيک او اکثريت پۀ بناء حل کول غواړي.

کوم بدلون چه په‌نړۍ کښې او دننه هيواد کښې راغلی؛ ظاهرشاه داسې فکرکاوه چه دافغانستان خلک مسلمانان دي. کمونستي نه‌شي بريالی کيدای. له بلې خوا بيل‌قومونه پخپلو کښې نه‌شي جوړيدای. نو يوازنی محوربه شاهي نظام وي. چه داعليحضرت نادرشاه په کورنۍ کښې‌به پاتې وي.

تريوه‌ځايه خو دغه حساب سم ؤ. که بهرني عوامل سم څيړل شوي وای شوروي اتحاد، پاکستان، ايران هريوه خپل خپل غرضونه درلودل. ترټولو مهمه دشاهي کورنۍ بې اتفاقي وه چه سردار محمد داؤد يې په سرکښې ولاړ ؤ. غلام محمد فرهاد د ۱۳۳٤ په لويه جرگه کښې دغې خبرې ته دشاهي کورنۍ پاملرنه راوگرځوله ده په خپله وينا کښې وويل: « په شاهي کورنۍ کښې يووالی نشته اوکه دغه دوگوندي ملت ته کوزه شوه؛ بيا به لويه بربادي راشي. د اسلام دپاره دوطن دپاره. تاسو خپل دغه بيلوالي ته دوام مه ورکوئ. پخپلو کښې سره جوړ او يوموټی شئ! ». افراطي ځوانانو له فرهاد څخه گيله کوله؛ مانيجن ؤ. يعنې پريږده چه سره ورک شي. فرهاد ويل: دهيواد دپاره دغه مسأله ډيره گرانه ده. گاونډيان پردوو پښو ناست دي چه کله به په افغانستان کښې دپښې ايښودو ځای ومومي. ددوهمې ډيموکراسی

(۱۳٤۲- ۱۳۵۲هـ ش) له ستونزو ډکه دوره وه . په اساسي قانون کښې ویل شوي ؤ چه دشاهي کورنۍ غړي نه شي کولی په حکومت کښې برخه واخلي . چه په ښکاره ډول دغه ماده دسردارمحمد داؤد دپاره وه . دیوه سړي دپاره یوه ماده جوړول پخپله مناسبه خبره نه وه او محمد داؤد دومره خپلچاری سړی ؤ چه دشاهي نظام پرضد راپاڅید. دی نه پوهیده چه په ټولنه کښې په تیره بیادده په چارچاپیر کښې خپلچاري خلک را ټول شوي وو. پوهنتون، پولي تخنیک، انستیتوت اداره صنعت، عالي دارالمعلمینو چه څومره فارغان ټولنې ته ورکول ، دهغو دجذب دپاره په دولتي چاروکښې نورځای نه ؤ. نورې پانګه والې مؤسسې هم دومره ډیرې نه وې. نودغو فارغانو پخپله دیوه بدلون دپاره فعالیت کاوه.

ګاونډي هیوادونه په دې پوهیدل چه ظاهرشاه که نه وي په هیواد کښې بل نظام نه شي ټینګیدای. هغوئ هم ځوانانو ته دا خبره کوله چه پادشاه به ترکله ناست وي؟

دافغانستان په دومره خلکو کښې هیڅوک دا صلاحیت نه لري چه دمحمدزائیانو ځای ونیسي؟ نو هرچاته به داغیرت ودرید چه دا خو سمه خبره نه ده چه دهیواد دسروالۍ دپاره دې همدغه یوه کورنۍ وي.

نواعلیحضرت ظاهرشاه دټولو هدف وګرځید. دکمونستانو، داخوانیانو، دروڼ فکرو، دپاکستان ،دایران، دامریکې دفرانسې اود ټولې نړۍ. دظاهرشاه نژدې ملګري چه په ارګ کښې ورسره وو؛ خبره کورنۍ ته هم ورسیده . په داسې حال کښې چه دهریوه هدف په مخالفت کښې بیل ؤ.لکه چه وایي (د سپومسافرته یوه ده). یوازې عام خلک اوهیواد پال دګوتو په شمیر خلکو دانه غوښتل چه شاهي نظام ړنګ شي. خو هغوئ ددومره قوتونو مخه نه شوه نیولای. تراساسي قانون وروسته دظاهرشاه ربړونه نورهم زیات شول. ځکه ده ولیدل چه دده فرضیه غلطه وختنه. ټولو دده په وهلو شروع وکړه. نوتریوه حده دمحمد داؤد په راتګ راضي شوي ؤ. پرته له دې چه هغه سره خبرې یامفاهمه وکړي له اساسي قانون څخه دغه صدراعظمان

راغلل.

۱- دکتورمحمد یوسف.

۲-محمد هاشم میوندوال.

۳- نوراحمد اعتمادی.

٤- دکتور عبدالظاهر.

٥- محمد موسی شفیق چه په دې پنځو تنو کښې د سلطنتي دربار او د محمدزو دکورنۍ یوازنې اعتمادي ؤ.

صدراعظم د پادشاه له خوا ټاکل کیدۀ او ؤلسي جرګې د ویسا رأی ورکوله. په نورو هیوادو کښې هرګوند چه په شورا کښې اکثریت لاره؛ هغه صدراعظم دراوۀ خودلته دپادشاه له خواټاکل کیده اوؤلسي جرګې مانه. چه نه منل بې له پادشاه سره هرومرو دټکر معنی درلوده. له دې بابته په لومړي سرکښې ټولو صدراعظمانو داعتماد رأیه واخستله. بیا وروسته به مخالفتونه پیل شول.

د پنځو صدراعظمانو څخه هر یو به په ځانګړي تور، تورن شو.

۱- دکتور یوسف دعقرب ددریمې پیښې مسئول اوبیا دلاجوردو غل شو.

۲- محمد هاشم میوندوال له رسمي مقام څخه د خپل حزب په ګټه کاراخست او د سي آی اې ملګری شو.

۳- نوراحمد اعتمادي دروسانو ملګری او دمحمدداؤد دپاره دمثبت تبلیغ په تور تورن شو.

٤- دکتور عبدالظاهر په محیل توب او په سیاسي چارو کښې په بې کفایتۍ متهم شو.

٥- موسی شفیق دهلمند داوبو دکشالې په فیصله کولو له ایران سره په معامله او له پاکستان سره دډیورنډ دخط دمنلو په تور. پرته له دې چه کومه رسمي خبره شوې وي؛ تورن شو.

حکومتونه چټک بدليدل . وضع په هيڅ توګه نه ښه کيدله . موسی شفيق په دغو کارو بريالی شو .

١- دډيرو مظاهرو مخه ونيوله شوه

٢- نرخونه ښه وو .

٣- ددولت بودجه برابره يامتوازنه شوه.

٤- له ايران او پاکستان سره شخړې په کميدو راغلې.

دغه وخت محمد داؤد د جمهوريت له پيغام اوخپلو چپي ملګرو سره راغی او دافغانستان هوسا ژوندئې برباد کړ . ځکه خلکو دغه وخت دپانګې په کاراچولو وړو صنايعو راوړلو ، دکرنې داصلاح دپاره له ځاګانو داوبو ايستل ؛ د کرنې د پاره ، اصلاح شوي تخمونو راوړل، کيمياوي سرې رواج، دونو پيوند د چرګانو ، غواګانو ساتل . . . پيدا شول البته په دې ټولو اړخونو کښې دڅوکلو تجربه اوحکومتونو کارکول هم اغيزه درلوده چه يوې ښې نتيجې ته سره رسيدلی ؤ. که يويادوه ګامه داقتصادي او اجتماعي وضعې په ښه والي کښې اخستل شوي وای؛ بيا دکمونستی شعارونوته ځای نه پاتې کيده .

ظاهرشاه د ١٣٥٢ کال دغبرګولي په پای کښې دمعالجې دپاره اروپاته لاړ . دکال (١٩٧٣ ع) دجون په (٢٥) نيتهه .

# د پاکستان زېږېدل!

« آزادي په نيمه شپه کښې » داسې يو تحقيقي کتاب دی چه دوو امريکائي ليکوالو (ليري کولنس) او (دامينکيو) ليکلی دی . دغه کتاب د هندوستان د خپلواکۍ په باب مفصل معلومات لري او په امريکه کښې يو له هغو کتابو څخه دی چه ډېر خرڅ شوی .

په هند کښې هندوان او مسلمانان اوسېدل؛ چه دواړو دانګريزانو ترجغ لاندې ژوند کاوه. په (۱۹۴۷ع) کښې د هندوانو مشر ګاندي جي اود مسلمانانو محمد علي جناح ښکاره خلک وو.

دکتاب په ۱۰۶ مخ کښې ددغو دواړو مقايسه پيل کيږي:

په دې کښې شک نه دی په کارچه دمحمد علي جناح پلار اومور مسلمانان وو. مګر محمد علي جناح شراب څکل، د خنځير غوښه يې خوړله. هرسهارېې ږيره خريبله. لمونځ يې نه کاوه . د جناح په نظريه کښې د خدای او قرآن د پاره ځای نه ؤ. د هغه سياسي رقيب ګاندي جي په ډېرو قرآني آياتو پوهېدی. سربېره پر هغه ګاندي جي دهند دنورو اديانو په باب هم دمعلوماتو خاوندؤ. دجناح يوځو جملې اردو زده وه.

جناح ته دهندوستان تودې هوا ، ککړتيا او بيروبار خوندنه ورکاوه. ګاندي جي دريل ګاډي په درېيمه درجه کښې سفر کاوهٔ اوجناح به په اوله درجه کښې سفرکاوهٔ جناح يو منظم او فيشني سړی ؤ. ښکلی باغ ئې درلود . حتی دانګلستان مشران به دده باغ ته دتماشې د پاره راتلل. جناح دپوهنتون يوه استاد ته ډېر ورته ؤ.

تردې چه يو سياستمداروي په ظاهرکښې دده په مقابل کښې گاندي جي يو خوارنجوکی گيدړ غونډې ؤ. جناح په مسلمانانو کښې ملگري نه درلودل. يوه خورېې فاطمه جناح ورسره وه. مگر داچه دهند دمسلمانانو دپاره ئې د يوه بيل ملک غږوکړ؛ نو پيروان يې پيدا کړل. مونټ بيټن اوجناح شپږ جدي ملاقاته وکړل. (داپريل ۱۹٤۷ په‌لومړيو ورځو کښې) جناح مونټ بيټن ته وويل:« زهٔ دمسلم‌ليگ ديکتاتور يم هرڅه کولای شم».

زهٔ به هرچل اوچم په کارکړم؛ څو دپاکستان خوب رښتيا شي.



سردار محمد داود خان

# سردار محمد داؤد او دده جمهوريت

د۱۹۷۳ دجولای په ۱۷ د۱۳۵۲ د چنگاښ په ۲۶ دسهار په اوو بجو دمحمد داؤد غږ د افغانستان له راډيو څخه پورته شو. تيره شپه ماښام دعراق په سفارت کښې يوه لويه ميلمستيا وه چه هغې ته دموسی شفيق د کابينې غړي او لوړ رتبه عسکري صاحب منصبان راغلي وو. مجددي حضرات هم وو. ببرک کارمل دشورا ( ؤلسي جرگې) غړي د صدارت پارلماني رئيس ... ليکونکی هم ديوه ژورنالست په توگه هلته ؤ. پارلماني رئيس ياسين نسيمي په داسې حال کښې چه ببرک کارمل هم ولاړ ؤ دببرک کارمل له همکاريو څخه خوښي څرگنده کړه. کارمل هم څرگنده کړه چه په ظاهرکښې جنجال کؤم مگر په حقيقت له دولت سره مرسته کوم. دسفارت په باغ کښې ميلمانه کوټې کوټې ولاړ ؤ. په حالاتوپې خبرې کولې. غوره خبره داوه چه په همدغه ورځ اعليحضرت ظاهرشاه دايران پادشاه اوذوالفقارعلي بهټو درې واړه په لندن کښې وو. داسې څرگنديدله چه په سيمه کښې څه راتلونکي دي. ذوالفقارعلي بهټو د پاکستان صدراعظم ؤ. بهټو مخکښې ترديې چه صدراعظم شي کابل ته په خصوصي توگه راغلیؤ. په ښکاره يې داوويل: چه دی دمنطقې په حالاتو يوکتاب ليکي.

دموسی شفيق ددولت ټول مهم ارکان دشپې تر۱۲ بجو په دغه ميلمستيا کښې وو. او په يوه بجه عسکري قطعات خوځيدلي وو. چه ځينو وزيرانو هغه ليدلي هم ؤ خو هيڅوا دافکرنه کاوه چه سبا به افغانستان يوې بدې پولې ته اوړي.

کله چه داؤد خان څرگنده کړه: چه دډيموکراسۍ لس کلنې دورې هيواد له خطر سره مخامخ کړی. نوده اودده ملگرو تصميم ونيو چه شاهي دورې ته خاتمه ورکړي.

اود خدای خوښی هیله جمهوري نظام اعلان کړي. شاهي نظام په افغانستان کښې پای ته ورسید . اردو او خلکو انقلاب وکړ.

شهزاده احمد شاه چه دسلطنت دمقام وکیل ؤ؛ محمد داؤد خان ته په مخابره کښې وویل: چه زما پلار اعلیحضرت ظاهرشاه څلویښت کاله خدمت کړی؛ ددې ورته دی چه په دې توګه ستاسو له خوا ایسته کړی شي . محمد داؤد ورته وویل: دلته زما په شا او خوا کښې په سلهاؤ د اردو صاحب منصبان ولاړ دي که ته موافقه ونه کړې نودوئ به په سختۍ سره داکاروکړي.

جنرال سردار عبدالولي چه د مرکزي قواؤ قوماندان ؤ؛ ضابطان ورغلل او دده تسلیمي یې وغوښته . ده مقاومت وکړ. دده کوریې په توپ وویشته . دسردارولي میرمنې خپل میړه ته وویل چه تسلیم شه . ته مې پر لوي الله سپارلی یې . دسردار ولي له تسلیمیدو سره کابل دمحمد داؤد خان لاس کښې کښېووت.

داهم په چاپیریال کښې خپره شوه چه دسردارمحمد داؤد کودتا داعلیحضرت په خوښه وه . دغه وخت له یوې خوا خلکو داسې فکرکاوه چه محمدداؤد داعلیحضرت دتره زوي او د خور میړه دی. نوکه دکورنۍ په خوښه داکار شوی وي بیا خو ددوئ عکس العمل ګټه نه لري . دولایاتو والیان اوعسکري قوماندانان هم تسلیم شول. دکودتا په ورځ یو ټانک دابن سینا له روغتون سره په سیند کښې ولوید. ټانکیست چه حبیب الله نومیده؛ مړ شو . دهغه یوه سری نمانځنه دشهید انقلاب په نامه وشوه.

سردارمحمد داؤد دانقلاب د لارښود اوددولت دمشر په توګه ونومول شو. داسې وویل شول چه یوه انقلابي شورا دچارو واګې په لاس کښې لري . د خلکو ډیره تلوسه وه چه انقلابي شورا ؤ پیژني. بله ورځ د انقلابي شورا عکس په اخبارونو کښې خپور شو چه خلک یې ماڼیجن کړل. په عکس کښې حسن شرق ، سیدعبدالله ، فیض محمد ، غوث الدین فایق، قادر، ګلاب زوي، محتاط ، قدیر، دغه عکس خلک

خواشيني کړل. له يوې خوا بې تجربې ضابطان؛ له بله پلوه چپي.

بيانو خلک دکابينې داعلان په تمه وو چه هلته به گوندې سم خلک راشي. کله چه کابينه اعلان شوه نو خلک نورهم بې هيلی شول.

١- ددولت مشر او صدراعظم سردار محمد داؤد.

٢- دصدراعظم مرستيال محمد حسن شرق

| | |
|---|---|
| ٣- ددفاع وزير | غلام حيدر رسولي متقاعد ډگروال |
| ٤- د بهرنيوچارو وزير | محمد داؤد او وحيد عبدالله مرستيال |
| ٥- داخله وزير | فيض محمد جگتورن |
| ٦- دعامه گټو وزير | غوث الدين فايق |
| ٧- دپوهنې وزير | پوهاند قيوم وردگ |
| ٨- دمطبوعاتو وزير | دکتور عبدالرحيم نوين دطب دکتور |
| ٩- دمخابراتو وزير | عبدالحميد محتاط ضابط |
| ١٠- دماليې وزير | سيدعبدالاله د تجارتي بانک مدير |
| ١١- دکرنې وزير | جيلاني باختري دکارمل خپل |
| ١٢- دسرحداتو وزير | پاچاگل وفادار ضابط روسي ميرمن |
| ١٣- دعامه روغتيا وزير | دکتور نظرمحمد سکندر. |
| ١٤- د تجارت وزير | محمدخان جلالر |
| ١٥- عدليه وزير | دکتور عبدالمجيد |
| ١٦- معادن او صنايع | |

اساسي قانون له مينځه ولاړ. آزاد اخبارونه ودربدل ډيموکراسی کډه وکړه. ؤلسي جرگه اومشرانو جرگه له مينځه لاړل اويوازې دلارښد محمد داؤد دوه سترگې دي اودملت هيلې.

**خلکوته خطاب:** دا دمحمد داؤد اوږده وينا وه چه په راتلوونکي کښې يې ددوه گوندي دولت وعده کړې وه. خلکوته خطاب دده خپل يادداښتونه وو چه د پرچميانو له خوا لاسوهنه او سمون په کښې شوی ؤ. د ببرک کارمل کور ته دده ملگري ورتلل.

داسې ښکاريدله هلته هم مرکزدی او خلک دخپلو ترفيعاتو دپاره هلته هم ځي.

محمد داؤد ټولو هغو افسرانوته چه کودتا کښې يې برخه اخستې وه دوه ، رتبې ترفيع ورکړه . يوه رتبه ټولوته چه په دې توگه کمکي ضابطان ټول ضابطان شول.

دافغانستان اردو کښې انضباط له مينځه ولاړ . دعسکري ددغو صاحب منصبانو حيثيت په دې ټيټ شو چه دوئ ټولو قسم کړی ؤ چه پاچا ته به وفاداروي. دخدای، وطن او پادشاه د پاره به ځانونه وژني. نور نو له اردو څخه ددين اودولت دخدمت روحيه لاړه.

محمد داؤد هڅه کوله چه ډير کاروشي؛ خو دخلکو رضائيت په لاس ورشي. خوداکارنه کيده.ځکه کودتا دده نه وه. دی استعمال شوی ؤ. شوروي اتحاد يا روسي مشاورينو دهرڅه څارنه کوله . پرچميان دؤلسوالانو په توگه هرچيرې دکورنيو چارو دوزارت له خوا ټاکل شوي وو.

دمعارف سيستيم دروحيې سره سم اصلاح شو. ډيرې پروژې مينځ ته راغلې. مگر دا دمحمدداؤد خان کارؤ . روسي مشاورينو او پرچميانو خپل کارکاوه.

کله چه داؤد خان غوښتل نور خلک ددولت چاروته راوبولي. پرچميانو هغه محاصره کول اوکارته به يې نه پريښودل.

محمدزايي سپين ږيري محمد داؤد خان ته ورغلل . د محمدزائيانو دراتلونکي په باب يې ده نه پوښتنه وکړه . دده استدلال داؤ چه کودتاچيان به ورو، ورو له صحنې وباسي. خو په دې کار نه بريالی کيده. محمد داؤد سخت پښيمانه ؤ . په پاکستان کښې جنرال ضياؤ الحق کودتا وکړه ، اوسمدلاسه کابل ته راغی او محمد داؤد خان ته

يې وويل: چه ماسره يوازې د اسلام او مسلمان په توگه خبرې وکړي. محمد داؤد ورته وويل: تر هغه ځايه چه د اسلام خبره ده؛ مونږ هم مسلمانان يو.

تاسو ډاډه واوسئ چه کله داسلام خبره راشي مونږ به ستاسو ملاتړوکړو. تاسوټول مسايل داسلام په لار حل کولای شئ داښه خبره ده. داسې ښکاري چه دمحمد داؤد او ضياؤالحق ترمينځ تر ډيره حده موافقه راغلې وه. بيا محمد داؤد خان د پاکستان له خوا ترپوه حده ډاډه ؤ. په داسې حال کښې چه ذوالفقار علي بهټو مخکښې ترهغه حکمتيار، رباني، مسعود په غير کښې نيولي وو. په پنجشير، لغمان، لوگر اوځينې ځايوکښې دوئ يو لړ تخريبونه وکول. ترديې چه د جمهوريت جشن نه شو کيدای.

کله چه بهټو په پېښور کښې وويل: «د پښتونستان موضوع ئې دابد دپاره پای ته ورسوله!». د هغه وجه داوه چه بهټو دننه په افغانستان کښې مزدوران وموندل. ترديې چه احمد شاه مسعود يې دکوماندويي تعليماتو دپاره مصرته استولی ؤ. ځينې وايي چه ليبيا ته هم تللی ؤ.

په (۱۹۷۸م) چه محمد داؤد پاکستان ته لاړ؛ دهغه ښه هرکلی وشو. مخکښې تر هغه محمد داؤد عمره حج ته تللی او دده دحج عکسونه خلکو په شوق اخستل. محمد داؤد په لاهور کښې وويل: «دغه مسأله چه دافغانستان او پاکستان دليرې والي سبب شوی ؤ کيدای شي چه زمونږ د نژدې والي سبب شي».

د سردار محمد داؤد په ذهن کښې د پښتنو دډير امتياز او دهغوئ خوشحالي اوسوکالي وه. د افغانستان هيله ده؛ پښتانه چه خوشحاله اوسرلوړي وي مونږ بله هيله نه لرو. له بلې خوا ده غوښتل له روسيې ځان ليرې کړي. اسلامي هيوادو سره ئې خپلې اړيکې سمې کړي. مصر پاکستان، عربستان ته دده سفر په همدغه قصد ؤ. دده هيله داوه چه ددغو هيوادو په وسيله له امريکې سره دده اړيکې سمې شي. خودمحمد داؤد دې هڅو ځای نه نيوه ځکه روسان او ددوئ ملگرو په اردو کښې

پوره لاس درلود.

ددفاع وزير غلام حيدر رسولي نه شول کولای دهغوئ مخه ونيسي. غلام قادر چه په قادرسگ مشهور ؤ او اسلم وطنجار، رفيع اوداسې نورو خلکو چه ټول پرچميان ياخلقيان وو. ځانونه يې رسولي ته نژدې کړل. حتی قادر چه دمسلخ رئيس ؤ؛ دده له خوا بيرته د هوائي قواؤ دارکان رئيس وټاکل شو. څلورمه زغره والٔ قواء هم رفيع پرچمي ته ورکړ شوه. خپل لاسونه اوپښې يې په خپله وتړلې.

د محمد داؤد دکودتا په لومړيو شپو ورځو کښې دده مخلص جنرال خان محمدخان چه په مرستيال مشهور ؤ. لومړی ددفاع وزارت ته لاړ او ځان يې ددفاع وزير ؤباله کودتاچيانو هلته پرې نښود. بيا سرحداتو وزارت ته لاړ. دوه درې ورځې هلته ؤ؛ هلته يې هم پرينښود. جنرال حيران شو. بياهم ددفاع په وزارت کښې يو بل جنرال دعبدالکريم مستغني په نامه ؤ چه په کارپوهيدهٔ. محمد داؤد خپل لږ دوستان مقررکړی شول، لکه عبدالله خان وردگ دننگرهار والي، جنرال نعيم وزيري. جنرال موسی... مگر هريو به محاصره کيدهٔ. دوئ پوهيدل چه کودتا دسردارمحمد داؤد نه ده، بلکه سردار استعمال شوی. ددې دپاره چه دهٔ په عسکري او خلکو کښې بيا هم پلويان درلودل اوداعليحضرت دتره زوي ؤ.

جنرال خان محمد خان سردارمحمد داؤدته ورغی. ورته وې ويل: په دغو ضابطانو کارنه کيږي. اوس چه تاسو جمهوريت اعلان کړ؛ دايو مهم گام دی. مگر دجمهوريت دټينگولو دپاره دهيواد باتجربه خلک راولئ. چه افغانستان بربادنه شي او تاسو تاريخ ته مسئول ونه گرځئ.

جنرال خان محمد خان وويل: چه دهٔ محمد داؤد خان ته وويل: چه محمد هاشم ميوندوال صدراعظم کړي او ديوسل اوپنځوس نوروکسانو نومونه ئې ورکړل چه له هغوئ څخه ددولت په چارو کښې کار واخلي.

له همدغه ځايه دغه فکر پيدا شو چه داکومه غوټه نه وي؟

جنرال خان محمد ليکونکي ته وويل چه ستا نوم مې هم ورکړی . جنرال خان محمد خان په قرغه کښې خان عبدالغفارخان او خان عبدالولي خان ته ميلمستيا وکړه . ليکونکی هم هلته ؤ ؛ چه دايوه بله بيلگه وه چه گواکې خان محمد پراخه فعاليت پيل کړی دی.

کودتاچيانو محمد داؤد ته وويل: چه دغه يو سلو پنځوس تنه بايد تهول ونيول شي محمد داؤد وويل: په لوي لاس يوه هنگامه جوړوئ. په دې کسانو کښې دهيواد مشهور خلک دي. تاسو يوازې دميوندوال او خان محمد خان څارنه په داسې توگه وکړئ چه انساني وي.

په دې کښې محمد هاشم ميوندوال له خارج څخه راغلی او دمحمد داؤد ليدوته ورغی. بله ورځ زه ليکونکی او امين واکمن د ميوندوال ليدوته ورغلو، له ميوندوال څخه مو پوښتنه وکړه چه تاسو محمد داؤد وليد؟ ده وويل: هو! څه مو سره وويل ميوندوال وويل: چه جمهور رئيس محمد داؤد ، يوازې زما د صحت پوښتنه وکړه . چيرته مې معالجه وکړه. کوم درمل خورم . يعنې لکه چه هيڅ خبره په هيواد کښې نه وي پيښه شوې. يوازې شخصي خبرې يې وکړې.

بيامو ميوندوال ته وويل: تاسو څه فکرکوئ؟ ميوندوال موسکی شو. وئې ويل: «پښتو کښې متل دی چه وايي: وگته پيل وخوره».دوئ گټلې ده. مگر زما په عقيده محمد داؤد سپين ږيری دی . جمهوري ميراثي هم نه ده. نو هرومرو پخپله غواړي چه يو خدمت وکړي او ښه نوم پريږدي!».

څو ورځې وروسته امين واکمن راته وويل: که زه نه وای ته په بلا کښې تللی وې» ما وويل: څنگه؟ ده ويل هغه ورځ چه ميوندوال کره لاړو ؛ ميوندوال زما په خاطر تاته خپلې خبرې ونه کړې؛ کنه ته به يې هم په خپل لست کښې شامل کړی وای».

استخباراتو دکودتا چيانو څارنه پيل کړه . خو کتل يې چه دلست کسان يو له بله خبرنه دي. بيا هم دوئ نه شول کولای يوازې جنرال خان محمد خان او ميوندوال ونيسي . دهند يوژورنالست کابل ته راغلی ؤ. دهند دسفارت مطبوعاتي اتاشې ده ته

میلمستیا وکړه. ژورنالستان او ځینې کسان یې ورؤبلل. په هغه کښې ښاغلی میوندوال ببرک کارمل او دغه لیکونکی هلته تللي وو. دهند سفیر او د عراق سفیر، راغلي وو. ما غوښتل چه محمد هاشم میوندوال سره څو خبرې وکړم. څو وارې ورنژدې شوم خو ببرک کارمل دی نه پرېښوده او ورسره ئې خبرې کولې.

لیکونکي غوښتل چه ولاړ شي. دمیوندوال پام شو. وئې ویل لږ ودرېږه! په دې وخت کښې ئې کارمل ته وویل: خوشحال شوم بیا به خبرې وکړو.

میوندوال له لیکونکي څخه پوښتنه وکړه: چه وروره څه خبرې دي؟ لیکونکي ورته وویل خلک فکر کوي چه محمدداؤد د یوه مثبت بدلون مخه ونیوله. میوندوال وویل: څو ورځې به وګورو چه څه کیږي؟

ده فکر کاوه چه خلک به یو تصمیم ونیسي. یا به محمد داؤد خان خپله کوم اقدام وکړي. ځکه محمدداؤد سرتنبه شخص او خپل ځان ورته هرڅه ښکاري. له زمانې بې خبره هرڅه دی؛ مګر په پوهه او عهد کښې خیانت نه کوي. دی غواړي چه ځان او محمدزائیانو ته ښه نوم وګټي. خپلې خطا ته یې پام شوی دی.

له دغې میلمستیا یوه ورځ وروسته میوندوال، جنرال خان محمد، ماما زرغون شاه شېنواری، ډګروال سیدامیر، عارف شینواری څوکسه نور لکه اکرم پیلوټ، بازمحمد وکیل، کواټ خان ډګروال په دې پلمه ونیول شول، چه د پاکستان په تحریک یې کودتا کوله. ددوئ په کورونو عسکري پهرې ولګیدلې. خلکو کښې ویره پریوته. څو میاشتې وروسته ۲۰ اکتوبر ۱۹۷۳ ئې میوندوال ووژهٔ. داسې خبرخپور شو چه ګواکې په کمربند او نکټایي سره یې ځان په خپله غرغره کړی دی.

کله چه میوندوال بندي ؤ. حکومت وویل: چه ژر به اسناد خپاره شي. سندونه چه داعتراف تر عنوان لاندې خپاره شول. دومره خبره وه «اعتراف کوم چه زهٔ داسې خلکو سره ناست یم ما لویه اشتباه کړیده!».

چه په حقیقت کښې ددې جملې معنی داده چه ښو خلکو سره نه یم ناست. چه په

فراه او نيمروز كښې داوبو لګولو يوه پروژه پيل شي. ځكه هلته ځمكه بيخي ډيره او نيمروز ته يې يو وخت دآسيا دغلې كندو ويل. بيا له دغه ځايه سابه ،ميوه ،غوښه او نوردكرنې توليدات تازه دخليج سيموته په يوه ورځ كښې رسيږي او ايران به په بندر كښې افغانستان ته ځاى وركوي.

بله داوه چه كه ايران داومني چه حضرت على (رض) واقعاً په مزارشريف كښې دى نو په ميليونو زيارت كوونكي چه اوس كربلاته ځي؛ هغه به افغانستان ته مزارشريف ته ځي. موسى شفيق غوښتل چه ايران او پاكستان سره شخړې حل كړاى شي.

په همدغه مقصود موسى شفيق په كال (١٣٥١هـ. ل) كښې داخلي آزاد او حكومتي ژورنالستان ورو غوښتل او دغو ټكوته يې اشاره وكړه چه په دې كښې دافغانستان سوكالي پرته ده. ليكونكى هم ديوه ژورنالست په توګه هلته ؤ. نو موسى شفيق ته ئې وويل دايران شاهنشاه ډيرمشكلات په ايران كښې لري. په تهران كښې هره ورځ خلك وژل كيږي. ما زندران ته څوك تلاى نه شي او پاكستان په بلوچستان كښې له بلوڅو سره جګړه پيل كړې، ايران مونږ ته هيڅ نه شي كولاي. ځكه پخپله ټينګ نه دى. پاكستان كښې به بلوڅ فكركوي چه دا سودا ددوئ په سروشوه. موسى شفيق په ځواب كښې ورته وويل چه دا مسألې بايد دوه په دوه وڅيړل شي.

موسى شفيق هوښيار سړى ؤ. داچه امريكايي ليكوال انتوني آرنولډوائي ميوندوال دموسى شفيق پرضد دكودتا فكردرلود. داسمه نه وه. ځكه محمد هاشم ميوندوال حالات خرابه ليدل؛ نو له دغو حالاتو نه دافغانستان ايستل دده په فكر ديوې متحدې جبهې له لارې كيداى شول. له دې امله يې په ډيره حوصله مندى ټولوته بلنه وركوله چه سره نږدې شي. دده په مساوات كښې د ببرك كارمل نښه هم بيان كړل او دهرچا مګر ورو ستيو پيښو ثابته كړه چه دميوندوال دافكر هم سم نه ؤ.

دتحقيق هيئت چه پرچميان ؤ ؛ هڅه يې کوله چه په ميوندوال باندې دروغ ووايي او په دې توگه هماغه ديو سلو پنځوسو تنو لست چه جنرال خان محمد خان دشخصي ښه نيت پربناء جوړکړی ؤ، ټول ونيسي او په خپل فکر مخالف عناصر له مينځه يوسي.

دميوندوال ديوه شخصي ملگري خبره ده چه ميوندوال ده ته ويلي ؤ يوه ورځ دروس دسفارت دريم سکرتر ده ته کورته ورغلی ؤ او دده نظريې دافغانستان او محمد داؤد دجمهوريت په باب غوښتې ؤ. ښاغلي ميوندوال ورته ويلي چه سردارمحمد داؤد يومحترم سړی دی . مگر بين المللي حالات پيچلي دي. حالاتو سره مقابله به ورته گرانه شي. دغه دپلومات همدغه خبره محمد داؤد ته ورسوله.

دمحمد هاشم ميوندوال له مرگ څخه وروسته دده ملگري هم په اعدام محکوم شول. داسې هم ويل کيدل چه محمد داؤد دميوندوال په وژنې خواشينی ؤ . ځکه دی پوهيدی چه دافغانستان خلک دسياسي شخصيتو پر مرگ خوابدي کيږي. هغه نادرشاه چه غلام نبي څرخي وژلی هغه يوه ډيره ترخه تجربه وه چه نـــه يـــوازې نادرشاه دغلام نبي خان دکورديوه نوکر له لاسه ووژل شو؛ بياهم خلکومعاف نه کړ.

يوکال مخکښې تردې چه د محمد داؤد تخته نسکوره شي خلق او پرچم يوه اعلاميه خپره کړه چه دوئ يو شوي دي.

ځکه محمدداؤد په چټکۍ سره غوښتل چه دروسانو له تأثيره هېواد ؤباسي. په دې وخت کښې دايران پادشاه ډمرستې وعده وکړه . چه له هراته ترکابله به د اورگاډي پټلۍ وغزوي او نورو پروژو کښې به هم مرسته وکړي. داسې آوازې هم خپرې شوې چه عربستان دروسانو يا شوروي اتحاد ټول پور يولاس بيرته ورکوي.

هماغسې چه دموسی شفيق د صدارت په دوره کښې له ړېرونو دوتلو لاره برابره شوې وه روسانو بيره وکړه محمد داؤد بې راؤست. يو ځل بيا دغه خطر پيدا شو چه افغانستان دژوند يوه بله لاره ومومي.

دموسی شفيق په دوره کښې يوه مهمه پروژه دا وه لکه څرنگه چه موسی شفيق

چادنیمروز پروژې ته پری نه ښود؛ میوندوال یې متحدې جبهې ته نه پرېښود.ځکه خلق پرچم تر روسانو زیات روسان وو.

افغـانسـتـان دژوند ډېرې لارې لري. ځمکه تراصولي کرنې لاندې نه ده راغلې. غرونه تش ولاړ دي. دشمال گاز او پټرول، دجنوب پټرول کتـوازکښې ، دحاجي گگ اوسپنه دعینکومس، دکوکچې د سیند سره زر، دنیمروز په سلهاؤ نور لکه دمیرزکې خزانه چه لاړه برباده شوه. دځمکې لاندې خزانې ....

مگر خبره داده چه یوه خلک اویوه ملت غواړي خوچه له خارجیانو سره دمعاملې په درک پوه شي.

عبدالملک خان عبدالرحیم زي داخبره کړې چه که موقع په لاس ورشي؛ دی کولای شي دافغانيې ربیه له ډالر سره مساوي کړي. عبدالملک خان دمحمد داؤد دمالیې وزیرؤ دده دصدارت په دوره کښې دی هم دروسانو بندي ؤ . ځکه ده غوښتل چه پانگه والي راولي او روسانو پرې نښود. څه هم دده غرور او د شاهي کورنۍ په مقابل کښې بې اعتنایي وه . کله چه په کال( ۱۳۴۹- ۱۳۵۲هـ. ش ) پورې دعبدالملک عبدالرحیم زي مقالې دافغان ملت په جریده کښې خپریدلې او د محمدداؤدد صدارت ددورې پر اجراآتو یې اعتراض کاوۀ د افغان ملت غړو دمحمد داؤد له یوه ملگري له عبدالله خان وردگ څخه هیله وکړه چه دی دې د محمد داؤد کورته لاړ شي او له دهٔ څخه دې د عبدالملک خان دگناه او جرم پوښتنه وکړي. ځکه دی محاکمه نه شو او جرم اعلان نه شو. دوه ویشت کاله یې په بند کښې تیر کړل.

عبدالله خان داکار وکړ. کله چه بیرته راغی وئې ویل: زهٔ دمحمد داؤد.څنگ ته کښیناستم . تسبیح مې اړولې اودهٔ سره مې خبرې کولې. کله چه دعبدالملک خان دجرم او گناه برخې ته ورسیدم چه څه گناه یې درلوده؟

محمد داؤد لاس اوږد کړ زما له لاسه یې تسبیح واخستې. دتسبیحو یوه دانه یې دووگوتو کښې ونیوله. وئې ویل :« په خدای که به ددې یوې دانې په اندازه گناه په

کښېږ وي ! » دعبدالملک خان دبرائت دپاره همدغه جمله کفایت کوي. له دغسې کړکېچنو حالاتو سره مقابله گرانه وه. وروسته څرگنده شوه ؛ سره جگړه وه. د روس اوامریکې ترمینځ یودبل فعالیتونه یې شنهول. له بلې خوا دخلکو غوښتنه دژوند دښه کیدو دپاره.

تول طلسم داعلیحضرت ظاهرشاه سلطنت ؤ. ځکه ظاهرشاه په عوامو کښې محبوب ؤ. روڼ فکرو خپلو امکاناتو ته نه کتل. اروپا او امریکاته یې کتل. اودایې تلوسه وه چه ولې د امان الله خان غورځنگ له منځه لاړ؟ او له ظاهرشاه څخه دامان الله پرپرتله خوښ نه ؤ او له محمد داؤد څخه نه ؤلس خوښ ؤ او نه روڼ فکره او یوه خلک.

کله چه خلق او پرچم سره یوشول. هرڅوک په دې پوهیدل چه دا دروسانو کاردی. په دې وخت کښې دجزأ قانون تصویب شو؛ چه دحزبونو دکار مخه یې نیوله. خلق پرچم او افغان ملت ته بلنه ورکړه چه دوئ سره یوځای شي. دافغان ملت مشرانو پردوودلیلونو داغوښتنه ونه منله.

لومړی داچه محمد داؤد په هرصورت ترنورمحمدتره کي او ببرک کارمل ښه سړی ؤ. دوهم داچه کمونستانو سره یوځای کیدل وطن پرستي نه وه. مگر ددولت ډیرمأمورین په پټه کمونستانو سره یوځای شول. چه وروسته یو یو ښکاره کیدهٔ. هغوئ داسې فکر کاوهٔ چه امریکه له موټرِ نه لیرې ده. روس پوله په پوله راسره پروت دی. په پای کښې که افغانستان ددوئ په مرسته جوړ شي؛ بیا به گورو.

دسردارمحمد داؤد د صدارت په دوره کښې. افغانستان داسې پړاو ته ورننووت چه دعبدالملک خان عبدالرحیم زي دیوې مقالې له مخې چهٔ دافغان ملت په جریده کښې خپره شوه « محمدداؤد افغانستان داسې کندې ته وغورځاوهٔ چه له دې کندې څخه ئې دنړۍ هیڅ طاقت نه شي ایستی».

لومړی دی دشاه محمود په کراره دوره راؤغورځید. دوهم پلا دډیموکراسۍ اودموسی شفیق پردوره چه افغانستان ته دکندې نه دوتلو لاره جوړیدله. د شهید

سيدبهاؤالدين مجروح په وينا« دښامار بيرته‌راتگ » ؤ.

تاريخ وښودله چه نه يوازې په بدنيت يوهيواد نړيږي. په ښه نيت او ځان غوښتنې هم نړيږي.

محمد داؤد په همغه اندازه چه ځان يې له كمونستانو ليرې ساته او له روسيې سره سړيدۀ هغومره غرب خپلې مرستې پيل كړې. داسې ښكاريدۀ كه دی دكمونستانو په ورۀ كولو بريالی شوی وای ښايي چه مرستې ډيرې شوې وای. دغه مرستې لږې لږې وې بيا هم ديوۀ سوكاله افغانستان څېره ښكاريدله. ددغو مرستو زياته برخه بې عوضه وې. چه په پای كښې دافغانستان بانک درې‌سوه پنځوس ميلونه ډالره درلودل. ديوۀ ډالر نرخ ۳۵ افغانيوته ورسيد او يوه افغانۍ درې نيموپاكستاني اوهندي روپيو سره برابره شوه.

محمد داؤد په‌ښكاره پركمونستانو حمله‌وكړه: « هغه كسان‌چه مونږ فاقد دايډيولوژي بولي؛ زمونږ دناسيونااليزم له غروره بې‌خبره دي ».

كله‌چه محمد داؤد دملي غورځنگ گوند جوړكړ؛ دهغه دپاره يې هم يوه خلک نه درلودل. سيدعبدالاله ترقي وكړه. د جمهور رئيس مرستيال شو. پوهاندقيوم وردگ عزيزالله واصفي، قدير نورستانی، دكتورعبدالمجيد او داسې‌نور. په‌داسې‌حال كښې چه‌دكمونيزم دايډيولوژۍ سره‌مقابله له يوې خوا اواخواني سره له‌بلې خوا؛ دا دومره ساده خبره نه وه‌چه هم ځوانان اوهم عوام جذب كړي. هغه‌خلک‌چه ملي غورځنگ ته راغلي وو ايډيولوژۍ ته‌نه‌ؤ راغلي. ددۀ شخصيت او قدرت ته راغونډ شوي ؤ اودچوكيو دپاره راغلي وو.

محمد داؤد په‌خپله يوه بله وينا كښې په لغمان كښې وويل: « ځينې‌خلک غواړي،افغانستان د ترقۍ په نامۀ يوې بلې سقوۍ سره مخامخ كړي او ځينې غواړي‌چه‌داسلام په نامه‌يې مينځنو پيړيوته بوزي. مونږ معتدل‌ناسيونالستان‌يو ».

څرنگه‌چه دغه يوبل گوند دافغان ملت‌په نامه موجودؤ او هغه دده په فكر افراطي ناسيونالست ؤ. نو دمعتدل ناسيونالست عنوان يې غوره كړ. دغه وينا چه دۀ په

لغمان کښې کوله. حاضرینو په‌خپلو کښې خبرې کولې. دلغمان والي خلکوته اشاره وکړه چه ششش یعنې غلي شئ خبرې مه‌کوئ. دلارښود خبروته‌غوږ ونیسئ. دحاضرینو یوه برخه ششش ششش پیل کړ چه‌دایې ښودله چه دمحمد داؤد ویره یا گرانښت ئې له‌زړو وتلی دی.

پرافغان ناسیونالیزم یاملي مفکورې کارنه ؤ شوی. اوس هم نه‌دی شوی. دملي تاریخ دلیکلو یو هدف هم دادی چه ملي تاریخ ملي مفکوره راولي. نو محمد داؤد کولای شول چه دوخت له لیکوالو یې مرستـه غوښتې وای. لکه پوهاند حبیبي، پوهاند رشاد، پوهاند رښتین، مولانا خادم، بینوا، مؤرخ غبار، مؤرخ کهزاد، الفت چه دغه‌وخت لاژوندي ؤ. له‌دوئ څخه یې ورو‌ستی علمي او ملي گټه دهیواد دپاره اخستې وای. نوي په سلوکښې دکمونستې او اخوانیانو مخه نیوله کیده. البته سید شمس‌الدین مجروح او دده زوي سیدبهاؤالدین مجروح په همغو پوهانو کښې وو چه سم فکر اوسمه مفکوره یې ځوانانوته ورکولی شوه. خو محمد داؤد دومره مغرورؤ چه حتی پوهانو اوعالمانوته‌یې هم مراجعه نه کوله. که څپل مشکل یې دجلالر او حسن شرق پرځای دغو خلکوته ویلی وای؛ یایې دجنرال خان‌محمد لست ته په ځیرکتلي وای. میوندوال یې صدراعظم کړی‌او دکتور عبدالحکیم طبیبي یې دبهرنیوچارو وزیر وای. دې عمل به له وحید عبدالله اوسیدعبدالاله ډېر توپیر درلود. مگر دی واقعاً پخپله په لومه کښې نښتی ؤ چه ځان یې نه شو خلاصولی.

محمد داؤد خان په‌پای کښې دې ته رسیدلی‌ؤ چه دافغانستان جمهوري اسلامي افغانستان یادافغانستان اسلامي جمهوري هیواد. کله چه‌دی له‌پاکستان‌څخه بیرته راتې؛ لومړی ده غوښتل‌چه دتورخم له‌لارې راشي په‌دې توگه آزاد قبایل اودننگرهار او لغمان له‌خلکو سره وگوري. نو په‌لارې ځینې دروازې اوشعارونه وو چه هغه یو شعار داهم ؤچه ژوندی‌دی وي دافغانستان اسلامي جمهوریت. بیا هم دده اراده عملي نه شوه اودامنیتي دلایلو په نامه نیغ کابل کښې کوز شو. په پای کښې دغلام حیدر رسولي فعالیتونه هم باید وڅېړل شي.

غـلام حـيـدر رسـولي يو مـحـمـدزی ډگـروال دغـزني دمكلفـيت عـسكري مـدير يومسلمان سړیؤ چه تل به په زيارتو اوفقيرانوگرځيدهٔ او د محمد داؤد ملگریؤ.

غـلام حـيـدر رسـولي هم پوهـشـویؤ چه وضع ورانه ده . نودهٔ غـوښتل چه يوه بله كودتا وكړي اوبيرته اعليحضرت راولي. په داسي حال كښې چه ددفاع وزيرؤ . دی بيا پخوانيو كودتاچيانوتهنژدې شو. لكه قادر او وطنجار، رفيع . . . دوئ ئې بيرته په حساسوځايو كښې چه د كلي حيثيت يې درلود ؛ مقرركړل. لكه چه مخكښې وويل شول او دوئ ته يې څه نقدې پيسې هم وركړې.

پهدې كښې ميراكبر خيبر ووژل شو چه داهم د «كي. جي. بي» كارؤ. چه هم يوه هنگامه جوړه شي او هم ميراكبر چه ځانته دافغانستان لينن وايي؛ له مينځه ولاړ شي.

دميراكبرخيبر دجنازې مراسم اوپرقبرباندې دنورمحمدترهٔ كي او ببرک كارمل خبرې چه دواړو وويل:

«ددوئ د قدرت مخه نوره څوک نه شي نيولی» محمد داؤد ته يوځرگند اخطار وركړ شو. دخلكو تبصره داوه چه اخوانيـان داړې غورځوي او كمونستان داكاركوي نوښكاري چه اصلي جگړه ددغو دوو ډلو اوددوئ دخارجي استادانو ده. نورې خبرې په سيند لاهودې. دخيبر لهمړي سره پهزرگونو خلک روان شوي وو. ليكونكي له ډيرو خلكو پوښتنه وكړه چه ولې تاسو ديوه كمونست جنازې ته تللیواست؟ دټولو ځواب داؤ چه د «سيل دپاره!» . دغه سيل ډيرگران ؤ . دوئ نه پوهيدل.

(د١٣٥٧هـ ل) د غوئې په شپږمه اعلان وشو څه كسان د شر او فساد په تور ونيول شول. يو سړی دنورمحـمـد تره كي په نوم او نوردخلق او پرچم مشران لكه كـارمل، اناهيتا ، حفيظ الله امين نه وو نيول شوي.

د غوائي په اوومه كودتا پيل شوه. څلورمې زغره والې قوې ددفاع دوزارت په لور حركت وكړ غلام حيـدر رسولي ددفـاع وزير لاددفاع په وزارت كښـې ناست ؤ. الوتكې په هوا شوې. جنرال مـوسی خـان ووژل شـو چه دهوايي قـواؤ قـومـاندانؤ. قومانده قادر داركان رئيس واخستـه. محمد داؤد هم فكركاوهٔ چه داكار به د رسولي

وي، رحيم پنجشيري چه د اعليحضرت شخصي نوکرؤ؛ دغه وخت په مکروريانو کښې اوسيدهٔ.دوربين يې په لاس کښې او الوتکې يې کتلې. ډيرخوشحال ؤ. کله چه پخپله جيپ کښې دښارمينځ ته راغی او هلته ئې پرچميان اوخلقيان پرتانکو وليدل بيرته لاړ. ويل يې داخوکمونستان دي.

غلام حيدر رسولي تر هغه ونه ښوريد چه ددفاع وزارت په توپ وويشتل شو. پياده ئې دقرغې او دارالامان په لورحرکت وکړ.

يوهٔ اعتباري سړي له هوايي ميدان څخه وويل چه په دغه ورځ درسولي ميرمن له بهرنه راغله. دې ته يې وويل کودتا ده. دې وويل پوهيږم. رسولي چيرته دی؟ له دغو څونښو پوهيدل کيږي چه رسولي دکودتا طرح درلوده. له همدغو خلکو سره. دومره چالاکي دوئ کړې وه چه ټول امکانات يې درسولي په وسيله برابرکړي وو. دمازيګر په دريو بجو لومړی وطنجار او بيا قادر اعلان وکړ چه قدرت دخلق په لاس کښې ولويد او د نادرخان دکورنۍ اقتدار دتل دپاره پای ته ورسيد.

دکودتا پلان سم جوړشوی ؤ چه وارهٔ وارهٔ مقاومتونه په عسکري مرکزو کښې ډيرژر له مينځه لاړل. کودتاچيانو ته دراديوله لارې وويل شول: هرچيرې چه دانقلاب مخالفين ګوري بايد وځپل شي. بيانو د اپوښتنه نه وه چه چا ځپل مخالفين وژل که دانقلاب(!).

دماښام په اتو بجو اعلان وشو «چه محمد داؤد او محمدنعيم چه د ليونو په شان يې مقاومت وکړ او د انقلاب واکمنوته تسليم نه شول. په نتيجه کښې دواړه ووژل شول!».

هغــــه چا چه (١٣٥٢هـ. ل) دچنګاښ په ٢٦ د خلکو دځنډنۍ هيلې يعنې دجمهوريت اعلان يې کړی؛ د(١٣٥٧هـ ل) دغويي په اوومه ووژل شو او افغانستان يې روسيې او کورنيو کمونستانو ته پريښود.

# د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه دوره او د ابدالي دولت ختمیدل

اعلیحضرت محمد نادرشاه د (١٩٣٣ع) کال دنوامبر په اتمه په داسې حال کښې ووژل شو چه دهٔ دمعارف زدکوونکوته انعامونه ورکول. دنجات دښوونځي دیوهٔ زدکوونکي له خوا په تمانچې وویشتل شو. دغه زده کوونکی دلسم ټولګيؤ. عبدالخالق نومیدهٔ اودغلام نبي خان چرخي په کور کښې یې کارکاوهٔ. دغه وخت دوه نظریې وې چه عبدالخالق دغلام نبي بدل واخیست او داکار په افغانستان کښې وفادار نوکران کوي. بله نظریه چه حکومت خپره کړه هغه داسې وه چه دغلام نبي خان دکورنۍ له کومې ښځې سره دهٔ اړیکې درلودې هغې داشرط کښېښود چه ته به نادرخان وژنې.

کله چه نادرخان ووژل شو. یو څه شور ماشور جوړشو. نژدې هیجاني خلکو دمعارف ټول شاګردان چه هلته وو. وژلي وو. خوسپه سالارشاه محمودخان مداخله وکړه او دمعارف زده کونکي یې کوروته ولیږل.

په(١٩٩٣م) کال کښې په دې باب دګډ هیواد په جریده کښې چه کاناډاکښې خپریدله ، داکرم لودین له خوا دانظریه هم خپره شوه چه ګواکې نادرخان دروسانو له خوا وژل شوی دی.

داسې ویل کیدل چه باید هلته یو موټر وای او عبدالخالق یې وروسته دنادرخان تر وژلو تښتولی وای. هلته یو موټر ؤچه څوک په کښې نهٔ او عبدالخالق دلارۍ موټر لاندې ننووت.

په همدغسې حالاتو کښې محمد ظاهر دمحمد نادر اتلس کلن زوي دشاهي کورنۍ

قومي مشرانو اوروحانيونو پـــه يوې ورې غونډې جرګې کښې په پادشاهۍ وټاکل شو. محمد ظاهرشاه يوعاجز اوبې دعوی ځلمی ؤ. د زړهٔ په زور اودخپلو ترونو په ډاډينې يې په دلکشاه کښې دعسکرو سلامی ته ورووست.

صدراعظم بيرته دظاهرشاه ترهٔ سردارمحمد هاشم مقرر شو. بل ترهٔ يې سردار شاه محمود دحرب وزير شو. فيض محمدخان دبهرنيو چارو وزير، محمدګل خان مومند داخله وزير، فضل احمد مجددي دعدليې وزير، سردار احمد علي خان دپوهنې وزير، ميرزا محمد خان يفتلي دماليې او تجارت وزير، الله نوازخان هندي افغان دعاموګټو وزير، محمد اکبرخان دطب مستقل مدير او رحيم الله خان دپست تلګراف او تلفون مستقل مدير. ( چه دغه کسان ماتول ليدلي ؤ ) .

حکومت چه ټينګ شو؛ دعبدالخالق کورنۍ لکه پلار، کاکا ورونه اودوستان يې ټول اعدام شول اودې خبرې داويره پيداکړه چه جرم سرايت کوي. که يوسړی به له خپل سره تيرشو نو هرومرو يې دخپلې کورنۍ او دوستانو پرواکوله.

دغه وخت کښې په هندوستان دانګريزانو راج چليدهٔ آزاد قبايلو خپل جنګ کاوهٔ په ايران کښې رضا پهلوي سپه سالارپادشاه ؤ چه هغه هم يوعسکرؤ اودملک په انتظام بوخت ؤ. شمالي جمهوريتونو کښې شوروي اتحاد ؤ.

څنګه چه په هندوستـان کـښـې ډيورنډ خط پورې دانګليـسـانو حکومت ؤ نوانګليسانونه پريښودل چه شوروي اتحاد دافغانستان لورته پښې راوغځوي. يوازې يوځه تجارت په مينځ کښې ؤ.لکه اورلګيت، قند، ګړې، لوښي، کلوشې ،ټکران، مالوچو، ميوې، وړۍ او غوړي لرونکې دانو په بدل کښې.

دروسانو نظامي اتاشه ځان له عسکري حالاتو خبراوهٔ. د انګريزانو سفارت دکابل په باغ بالا کښې ډيرفعال ؤ. سربيره په هندي افغاني خلک لکه په اردوکښې شاه عبدالله شاه جي نايب سالار، ذوالفقارخان، الله نوازخان، ځينې تاجران لکه مولوي محمدصديق، په معارف کښې مولوي يعقوب حسين په بل عبارت هرځای کښې

داسې مشکوک خلک وو چه ګواکې انګلیستان له هرڅه خبریدل. حتی دالمپیک رئیس یعقوب سکوت. افغانستان خپلواک ؤ.مګر دومره نه چه دسرحد له پښتنو سره مرسته وکړي.

په داسې حال کښې چه دوئ له انګریزانو سره دعزل اوجنګ په حال کښې وو. یا نظامي قراردادونه په پراخه اندازه وکړي. یادطبیعي منابعو څخه لکه پټرول، اوسپنه ... څخه کارواخلي . په دغو صورتوکښې مداخله کیدله. نوظاهرشاهي سلطنت په نرۍ پوله روان ؤ او کـه چیرې موازنه خرابیدلی؛ بیا حالات بدلیدل او دانګلیس او روس شخړه رامینځ ته کیده .

کله چه ما له نایب سالار عبدالرحیم خان ساپي سره څوک چه دهرات نایب الحکومه ؤ اوبیا دفواید عامې وزیراو دصدارت معاون شو . په کال (۱۳۲۷هـ ش) دعلي آباد په شفاخانې کښې وکتل. دهٔ راته وویل: « چه دافغانستان موقعیت ډیر حساس دی. تاسو داسې کار ونه کړئ چه تباه موکړي. ستاسو خدمت به داوي چه دوطنپرستۍ روحیه ژوندۍ وساتۍ اوهڅه وکړئ چه خلک لوست لیک اومعلومات پیدا کړي. دا خبرې په ورو اندازوسرته نه شي رسیدلی! » ربښتیاهم دغسې وو. سپین ږیري اودتجربې خاوندان که څه هم له ظاهرشاهۍ او هاشم خاني صدارت څخه راضي نه وو. مګر دپخوانیو حالاتو په تناسب اودسیاسي جغرافیې په اساس یې دغه سلطنت ښه باله.په دې خبره تول خواشیني ؤ چه ډیره موده مو دډیورند ها خوا پښتانه چه ځانونه یې افغانان بلل ؛ یوازې پریښې وو.

دظاهرشاه دسلطنت په دوران کښې لرلږ کارکیدهٔ. ملي بانک جوړ شو. دسویس دوسلې دکمولو په کنفرانس کښې دافغانستان ګډون (١٩٣٤ع).

امریکې افغانستان په دغه کال کښې په رسمیت وپیژاند. له ایران سره سرحدي شخړې دعبدالرحیم خان په کوښښ اوافغاني جنرال قونسل عبدالعزیز حیرت اونوروافغانانو په مرسته نسبتاً په ښه صورت خلاصې شوې اوسرحد دترکیې په

حکمـيت دجنرال فـخـرالدين التـای په مـشـرۍ وټاکل شـو. دملي تاريخ تکل له لويوگامونه وړوگامونوته راغی. چه په هغه کښې دعبدالرحيم خان گام دقدر وړ دی.

کله چه ظاهرشاه پادشاه شو؛ يو کال وروسته (١٣١٣هـ ل) دافغانستـان دمکتبونو شمير٣٩ ؤ چه ٦١٥٧ تنه زدکوونکي يې درلودل. (دپوهاند حبيبي پښتنې ليک)

په کال (١٣٥٢هـ. ل) کښې دافـغـانسـتان په پوهنتـونو کـښـې ١٢٢٤٩ تنه زد - کوونکي وو. چه ٩١٧٥ دکابل پوهنتون کښې او په کال (١٣٥٦هـ ل) يعنې دغوائي دکودتانه کال مخکښې د افغانستان د عالي تحصيلاتو په مؤسسوکښې ١٤٣٨٨ تنو زد کـړه کـولـهٔ. (خپلواکـۍ مـجله پوهاند حـمـيدالله امـين) چه پـه ١٣٧٢ داسلامي حکومت راتلو سره صفرته ورسيد. البتـه پـه پورتني شمير کښې دعالي ليسـو مينځنيو اولومړنيو ښوونځيو شميرنه دی شامل.

دظاهرشاه پردورې ايرادونو معقوله ښه نه درلود ه . هغه ځه چه دانتقاد وړؤ ؛ هغه داؤ چه دافغانسـتـان تاريخ ته پاملرنه نه کيده. گواکې تاريخ له نادرخان ددهٔ دپلار له دورې پيل کيږي. دغـه کرارگامونـه اخستل لکه دپلخمري دنساجي فـابريکې جوړيدل ، دبغـلان دقند فـابريکه ، ځينې داوبو لگولو بندونـه ، د کندهار دوړيو اوبدلوفـابـريکه، له ترکيې ځـخـه دعـسکري منصبدارانو راغوښتـل؛ ځوداردو په اصلاح کښې مـرستـه وکړي. د ادبي انجمن جوړيدل ، دپښتـو ټولنې جوړيدل ، دچک وردگ دبريښنا فابريکه، په مـعارف کـښې دپښـتـو درسي کتـابونه چاپيـدل په (١٣١٦هـ .ل) کـښې دجـرمني دلوفت هانزا الوتکه هره هفته يوه پلا کابل ته رالوتله .

کـارونـه دصدراعظم هاشم په لاس کـښـې وو. شـاهي کـورنۍ پـه لومړي سرکښې يوښـه ترتيب درلود او هغـه داؤ چه دوئ به په شـاهي ارگ کـښـې وخت ناوخت سـره غونډې کولې . چه په هغه کښې به ظاهرشاه ، هاشم خان، شاه محمود خان، شاه ولي خان ،علي مـحـمـدخـان، مـحـمـد داؤد او مـحـمـد نعـيم ناست وو. بيـا دوئ له نورو محمدزايي سپين ږيرو سره مصلحت کاوهٔ. او دوئ دوظيفې دتقسيم له مخې صدراعظم

له‌حکومتي مشرانو، شاه محمودخان عسکري صاحب منصبانو او شاه ولي قومي مشرانو سره خبرې کولې. تر هغه چه په دغه غونډه کښې اختلاف څرګند شو. سردارهاشم خان، له‌سردارمحمد داؤد او سردار محمد نعیم سره، ظاهرشاه له‌خپلو زومانو سره لکه سردار عبدالولی دشاه‌ولي خان زوي او ملکه شهزاده احمدشاه سره دلته شاه محمودخان تریوه‌ حده یوازې ؤ. له‌خپلو زامنو سره. سره له دې چه خلک دومره خوشحال نه وو. مګر دقوم سپین‌ږیري چه سقوي‌دوره یې په یادوه، په قطعي صورت سره دپادشاه مخالف نه‌وو.

حتی عبدالرحیم خان ساپی نایب الحکومه وزیر اودصدارت معاون بندي شوی‌اوډیر رټرول شوی ؤ. دځ دانه تاییدوله چه دظاهرشاه پادشاهي دې‌ختمه شي. عبدالملک خان عبدالرحیم زی‌چه‌دوه‌ویشت‌کاله بندي ؤ؛ د مصلحت له مخې یې‌ویل: «دافغانستان خلک دانقلاب زورنه‌لري. که‌نه‌مابه‌داکارکړی‌ؤ». وزیرمحمدګل خان مومند چه‌ډیر تکول شوی‌ؤ؛ هم بې‌نظمي یې ردوله. په ساعتو به‌یې ګیلې کولې خودپاشاهۍ ختمیدل یې دهیواد په‌ګټه نه‌بلل.

وزیرمحمدګل‌خان ویل: «ما دداخله وزیر په‌توګه هغه‌څه‌لیدلي چه انګریزان دلته خلک‌لري!» اوددغو خلکو لست وروسته پاکستان ته پاتې شو. چه وروسته به‌بحث وربانديې وشي.

# چرخ افغان

کله چه زه دځیلو لیدنوکتنو خبرې کوم؛ نوضرور لوستونکوته داسوال پیداکیږي چه مطلب له دې لیدنوڅه ؤ؟

زمادکورنۍ ماحول دسیاسي خبروؤ. زما پلار حاجي سید احمد خان څوودونه کړي وو. ماماګان مو ډیر وو. زما مشرورور غلام سرورخان فرهاد دافغانستان لومړنی تلګرافي ؤ چه له ارګ څخه یې دامان الله خان پیغام اروپا کښې محمدولي خان دافغاني هیئت مشرته مخابره کړ. چه ځواب یې راغی او امان الله خان غازي څوداني سرۀ زر ورکړل. تر هغه کشرورور مو د برق انجنیرؤ. زمونږ له ماماخیلو ځینې دسقو اوځینې دامان الله خان او نادرخان جنرالان وو. ددغو تګ او راتګ زمونږ وکور ته زۀ له ډیر مسایلو سره بلد کړم. کال (۱۹۴۸ع) کښې زۀ اووۀ لس کلن ؤم. دغه وخت مو دچرخ افغان په نامه ټولنه جوړه کړه. ټول دهمدغه عمرځلمیان وو او دکابل په ګذرګاه کښې اوسیدلو. نو مونږ غوښتل چه لومړنی بدلون راولو او داعلیحضرت امان الله نهضت بیرته ژوندی کړو او دافغانستان تاریخي حقوق ترلاسه شي. حتی دخــــاورې وحدت چه په نونسمه پیړۍ کښې تجزیه شوې وه؛ نو په دغه مقصود او مرام مو له ځینو مشرانو سره خبرې پیل کړې. چه دغو مشرانو لکه وزیر عبدالرحیم خان کوهستاني ساپي، وزیــرمحمدګل خــــان مومند، میرغلام محمد غبار، ځینو نورو مشرانو چه زمونږ په کورنیو پورې یې اړه درلوده. خودغو مشرانو مونږ منع کړو چه د ظاهرشاهي سلطنت به نیمګړتیاوې ډیرې لري خو ترهغه وروسته یو قماردی چه دګټېلو هیله یې لږه ده او که مو بایلوده ؛ هیواد به برباد شي. مسؤولیت به ستاسو په غاړه وي. که څیرې مونږ دغه مشورې نه وای منلې نو زمونږ حرکت تر نورو دمخه ؤ.

اوس چه (۱۳۷۲هـ. ل) دی؛ هیـواد برباد شـو. خـو د غـوئي په لاس.زمـونږ دمذاکرولږی په مزارشریف کښې ترعجب خان اپریدي مشهور مجاهد او غازي. اوجنرال عطاء محمد توخي پورې ورسیدې.

چرخ افغان یوتخیلي شخصیت اومشرۀ چه ځای یې تش ۀ او هغه مو یوله دغو مشرانوته پریښی ۀ.

دچرخ افغان ټولنې دشاه محمود خان دصدارت په دوره کښې ځینې شبنامې خپرې کړې او نهضت کښې یې برخه واخسته. کله چه دمحمد داؤد دصدارت په دوره کښې (۱۳۳٤هـ ل) دۀري په نهمه یوه لویه مظاهره دباغ عمومي له پله څخه شروع او کله چه څلورمې کارتې کښې ددرملو دپیوته ورسیده ؛ په زرهاؤ زدکوونکي او خلک ورته راغلل. دوري په ۸ د پاکستان دسفارت ترمخې مظاهره شوې وه چه د بیرغونو معامله په کښې راغله. مګر دۀري د ۹ مظاهرې بل شکل درلود چه د حبیبیې له ښوونځي نه دڅلورمې کارتې او پوهنتون په لوروخوځیده.

دچرخ افـغـان ټولنې یو بل فـعـالیت چه د چهـاردهي دډنډ په نـامـه ئې یوکلپ جوړولو؛ چه زیاتره یې سپورتي رنګ درلود. کله چه د سپورتي کلپ درسمي کیدو پانه دالمپیک ریاست ته لاړه؛ چه په صدارت کښې ۀ؛ سردارشاه محمود خان صدراعظم وغوښتل چه دغو ځلمیانو سره وګوري. د چرخ افغان ټولنې، دسپورتمینانو په توګه د ۱۳۳۰ د چنګاښ په اتمه له شاه محمود خان سره په ریشخور وکښې وکتل. او دهغه خبر په راډیو او اخبارو کښې خپور شو.

دچرخ افغان دټولنې دځینو غړونوموئه:

۱- عبدالکریم ورد ګ (وروسته دطب دکتور)

۲- عمادالدین عمادي (وروسته لسانسه حقوق)

۳- وکیل احمد (دطب دکتور)

٤- بشیر اتل (وروسته استاد په پوهنتون کښې)

۵- صبورعظيمي ( داقتصادلسانس وكيل التجار )
۶- عثمان سليمانخيل ( وروسته دآريانا نماينده جرمني كښې )
۷- رحيم الهام ( وروسته پوهاند )
۸- محمد علم ناخدا ( وروسته داحصايې متخصص )
۹- محمد ناصر ناصري ( وروسته دكتور اوډگروال ) .
۱۰- شاه عبدالله دليري ( وروسته دكانو متخصص )
۱۱- سعدالدين شپون ( وروسته دپوهنتون استاد )
۱۲- قدرت الله حداد ( وروسته دافغان ملت مسؤل مدير )
۱۳- اصغر نورستاني ( وروسته دحقوقو لسانسه له جرمني نه )

له دغو كسانو ځينو حلقوي يا زنځيري اړيكې درلودې. دچرخ افغان تولنه دظاهرشاهي په ډيموكراسۍ لسيزه كښې جوړه شوه.

مطلب له دغو ضمني خبرو څخه دادی چه دهيواد پوه خلكو ويل هرځومره چه پوهه ډيره شي؛ ديوه بدلون عملي كيدل دبري په لورې تلای شي او كه داسې نه وې نوترتباهۍ همدغه حالت ډيربښه دی. له بلې خوا خلكو دظاهرشاه شخصيت باندې دومره اعتراض نه درلود. ځينې داوايي چه هيواد پالو او صادقو خلكو ته يې مخه نه وركوله. مگر داچه ظاهرشاه دهيواد شتمني دباندې ايستلې په دې برخه كښې ثبوت ترلاسه نه شو. په داسې حال كښې چه افغانان هرځای ورسيدل اوله هرڅه خبريدل.

پوهاند حبيبي چه په ۱۳۱۳ هـ ش دهيواد ټول ښوونځي ۳۹ ښودلي ؤ؛ په ۱۳۴۰ يعنې اووه ويشت كاله وروسته ۱۲۴۸ دهلكانو ښوونځي ، ۱۷۸ دنجونو ليسې اودزد كوونكو شمير د نجونو او هلكانو شمير دوه سوه پنځه اتيازره دوه سوه يونوي ته رسيدلی ؤ . حال داچه شپږويشت كاله دمخه دغه شمير شپږ زره يوسلو اووه پنځوس تنه ؤ چه دده دپادشاهۍ ترپايه يعنې ( ۱۳۵۲هـ ل ) كښې دغه شمير څلور سوه زروته

نژدې کيدى.

په همدغه تناسب تجارت، صنعت او ټولو مسايلو تو پير کړى ؤ. مګر چاپې اول سرته نه کتل. آخر سربه يې له نورو هيوادو سره مقايسه کيدى او په دې مقايسه کښې د منابعو او سياسي مشکلاتو فکر چاهم نه کاوه.

په همدغـه دوره کښې کاغذي نوټونه د ماليې دوزارت له خوا خپاره شول . دغه نوټونه د غازي امان الله خان په دوره کښې لږ وو.

مګر له دغو اصلاحاتو او کرار فعاليتو سره د سردارهاشم خان صدراعظم قوي استخبارات د محمد شاه خان تر مشرۍ لاندې خلک سخت ويرولي وو. دغه استخبارات دومره پياوړي ؤ چه عبدالله خان ورد ګ د ننګرهار اعلى حاکم وايي: «صدراعظم محمد هاشم خان ماته امروکړ په ښيوه کښې يو سړى وژل شوى دهغه تحقيق وکړه او نتيجه ماته ووايه!».

دغه راز سردارهاشم خان ترهغې نه ويده کيده څو ئې دافغانستان د ټولو ولاياتو او اعلى حکومتو احوال او خيريت نه ؤ اخستى.

له دې سره سره دافغانستان منورين چه د غازي امان الله خان پلويان وو؛ په محبسونو کښې پراته وو. د دغه بنديانو حالات به خلکو ويل او افسوس به يې کاوه.

پرتاريخ خبرې نه کيدلې. ځکه له يوې خوا نادرخان د سردار سلطان محمد خان طلائي له اولادې څخه ؤ چه پېښورېې سکهانوته پريښى ؤ. له بلې خوا د سردار پاينده خان زامنو افغانستان وران کړى ؤ. له امان الله خان سره هم ددوئ پرته وه. نو تاريخ همدغه ؤ چه د نادرخان ذکروشي.

نادرخان پوه سړى ؤ. خو دزړه نه يې څوک نه پوهيدل. اصلاحات يې پيل کړل، خو دخپل نظارت لاندې. چه دظاهرشاه په دوره کښې تعقيب شول. د نادرخان او ظاهرخان دوره په داسې حال کښې چه ډيره په زړه پورې نه وه. خلکو هغه منله. ځکه له بې نظمۍ ويريدل او موږ حتى دغازي امان الله خان له رجالو پوښتنه کوله؛ ددغې

کورنۍ بد بهيې ويل . مگر دنظام دبرباد ۍ پلوي نه وو.

دظاهرشاه دوره يوهٔ عادي متداوم خوراک ته ورته وه. چه ترلوړې ډيرښه وه. خو پهډيره کرارۍ ډيرلږ څه کيدل. اوس د خلکو منطق داؤ چه تر بې نظمۍ اوبربادۍ همدغه نظام، سره له ټولو بديو ؛ آرام پرمختگ ښهدی؛ څو معارف او اقتصاد په کافي اندازه پراخه شي.

دنادرخان څلور ورونهوو.

١- سردار هاشم خان

٢- سردارمحمدعزيزخان

٣- سردارشاه ولی خان

٤- سردارشاه محمودخان

سردار هاشم خان او سردار محمد عزيز خان له يوې موره ؤ. چه هاشم خان اولادنه درلود. نو د خپل سکني ورور اولاديې لکهخپل اولاد روزهٔ. چه هغه محمد داؤد او محمد نعيم ؤ. دواړه يې پهلږ عمرخپلې کابينې کښې ونيول چه نعيم خان دمعارف اوخارجه وزارت دپاره او محمد داؤد پهعسکرۍ کښې کارکاوهٔ .

کلهچهدچرخ افغان ټولنې سردارشاه محمودخان سره پهريشخورو کښې وکتل: سردارشاه محمودخان وويل: « ددې دپاره چه سپورټ عموميت پيداکړي مادسپه سالاراودحربيې د وزير په حيث سپورټي لباس واغوست. او دالمپيک بيرغ مې په اوږه کړ اوداعليحضرت لهمخې دسپورټمينانو پهکتارکښې د سلطنتي لوژله مخې تير شوم». « اوهمدغه رازمې په اردوکښې د سپورټ دپاره کار وکړ. ما ديوهٔ افغان په حيث دسپاهي پهتوگه داستقلال په جگړه کښې برخه واخيسته. دابه ښه خبره نهوي چهسړی نوړوته ديوهٔ کار خبره وکړي او پخپله ترې گوښه شي».

په شاهۍ کورنۍ کښې شاه محمودخان داسې ښکاره بدي نهدرلوده او هڅهيې داوهچه خلکوته نژدې شي. هماغه ؤ چهټولمړی آزاد انتخابات ددهٔ دصدارت پهدوره

کښې وشول چه د اوومې دورې په نامه يادېږي اوهمدغې دورې کښې شورا يا ؤلسي جرگې فيصله وکړه چه د ډيورند خط باطل دی او په رسميت نه پيژندل کيږي. په دې دوره کښې دکتور عبدالرحمان محمودي او ميرغلام محمد غبار له کامې څخه وکيلان وو.

له ظاهرشاه سره مخالفت دمنورو خلکو له خوا د غازي امان الله خان په تناسب ؤ. له هغه څخه مطلب بله مقايسه نه وه.

# د مروې او پنجدې خبرې

سید قاسم رښتیا په خپل یوه یادداشت کښې دغه موضوع داسې ثبت کړې ده :

مرو او پنجده چه دافغانستان پخوانۍ خاوره وه په کال (۱۸۸٤م) چه امیر عبدالرحمن پادشاه ؤ ؛ د روسیې او بریتانیې دتعهداتو په خلاف دروسانو له خوا ونیوله شوه. انګلیسان دروسانو له دې خلاف ورزۍ ډیر پریشانه شول ؛ چه روسان هرات ته نژدې شول او دافغانستان دشمال غربي سرحدونو کاریې چه دافغان انګلیس ددوهم جنګ له کبله پاتې ؤ، له سره پیل کړ او یو هیأت یې هلته ولیږه.د (۱۸۸۵ع) دمارچ په ۳۰ روسانو ناڅاپه حمله وکړه او دغه مهمه سوق الجیشي منطقه یې ونیوله. دغه وخت کښې افغاني قواوؤ د جنرال غوث الدین په مشرۍ په کلکه مقابله وکړه. مګردغه افغاني قوه دعادي حالاتو دپاره وه. جنرال هم شهید شو او نور عسکر هم. دغه وخت امیرعبدالرحمن په راولپنډۍ کښې انګریزانو سره په خبرو بوخت ؤ.

دامان الله خان په پادشاهۍ کښې په (۱۹۲۰ع) بیا دغه موضوع پورته شوه او لینن اعلان وکړ چه روسیه به هغه ځمکې خوشې کړي چه تزاري حکومت په زوره نیولې افغاني نماینده محمد ولي خان په تاشکند کښې دروسیې له نماینده سره دپنجده او بخارا د آزادۍ په برخه کښې خبرې وکړې. مګر پرته له هغه چه افغاني نماینده مسکو ته ورسیږي؛ روسانو وویل چه دپنجده له خلکو پوښتنه وشوه؛ هغوئ نه غواړي افغانستان سره یو ځای شي. حال داچه داسې نه ؤ شوي او داهم لکه دپښتنو دسیمو دریفرنډم په شان یوه دسیسه وه. او دافغانستان نمایندګان په یوه کښې هم موجود نه وو. چه له بین المللي اصولو مخالف ؤ.

په هغه تړون کښې چه دمحمد ولي خان او دروس خارجه وزیر چچرین ترمینځ لاس

ليک شوی په هغه کښې دا راغلي چه دافغانستان غصب شوې خاورې به بيرته ورکـوي او دغه تـړون هرپنځه کاله وروسته تاييد شوی؛ يعنی دا دافغانستان ځرګندحق دی.

دپنجده مساحت (۱۱۰۰ کيلومتر مربع دی) او دبادغيس دولايت يوه برخه ده.

ليکونکی په دې عقيده ولاړ دی، څو افغانان يوټينګ او پياوړی مرکزيت ونه لري او په کلکه خپلو ملی مسئلو ته پاملرنه ونه کړي خپل ملي او تاريخي حقوق نه شي ترلاسه کولای. دافغانانو په تيت وپرک کولو کښې ډيرې هڅې شوي د افغـانانو سره په فرعي خبرو درې نسلونه تباه کيږي. پيړی تيريږي زمونږ مصيبتونه لاپسې زياتيږي.

# دافغان او انګلیس دو یمه جګړه

په ملي تاریخ کښې به دامیر شیرعلي خان دغه یون ونه بخښل شي چه دهٔ خپلو عسکروته وویل: چه دانګریزانو مقابله ونه کړي . په داسې حال کښې چه دهٔ پنځوس زره پوځ درلود او دوهمه جګړه هم د ملت له خوا وشوه. ( په دې معنی چه حکومت یا دولت لاړشي؛ جګړه ملت ته پاتی شی) .

دافغان انګلیس دوهمه جګړه لکه لومړۍ جګړه دروسیې دبې ځایه فعالیت له کبله پیل شوه . په داسې حال کښې چه روسان په عملی توګه دانګریزانو مخې ته نه دریدل.

له امیر دوست محمد خان ترورروستي محمدزائي پادشاه محمد ظاهرشاه پورې ټولو داغوښتل چه دافغانستان له لاسه وتلې خاورې بیرته افغانستان سره یوځای شي. مګر دا کاردوئ پخپله نه کاوهٔ. دې ته ناستۇ چه انګریزان دغه ځمکې بیرته ددې دپاره ورکړي چه دوئ دانګریزانو دوستـان وو او په خطرناکو حالاتو کښې چه انګریزان دهند دبلواکوونکو سره په جګړه کښې وو؛ یاپې روس ، فرانسې ، جرمني سره مخالفتونه ډیر وو. مګر افغانستان دانګلیس ددوستۍ په وجه له داسې مواقعو څخه لکه لومړۍ او دوهمه نړیواله جګړه؛ ګټه وانه خسته. یا هغه وخت چه له سکهانو سره په جګړه بوخت ؤ؛ یاد هندوستان خلکو بلواجوړه کړې وه. په داسې مهالونو کښې دوئ کرار ناستۇ چه انګریز به دبخشش او انعام په توګه دجګړو په پای کښې دافغانستان خاورې بیرته ورکړي. خو انګریزانو که څه هم کله هم داسې ښودله؛ مګر په عمل کښې هې ترپایه داسې ونه کړل.

امیرشیرعلي ۱۸۷۹م کښې غوښتل چه روسان راشي او په افغانستان کښې له

ACKU

انگريزانو سره جگړه پيل کړي.

دروسانو استازي استلاتوف له يوه نايب يوه ډاکتر او پنځوس سپرو سره کابل ته راغی. دوئ دا وويل: اورگاډی به‌راولي. دافغانستان له خاوري به‌هندته دورننوتو گټه واخلي. افغانان به‌وسله ترلاسه کړي. کله چه هند فتح شو؛ بيا به‌دافغانستان خاوري سند، بلوچستان اوسرحد ته بيرته ورکړي. دا يوه ښه باوري‌وه څه‌چه روسانو (۱۸۷٤م) ويل؛ هغه‌بې سل کاله وروسته هم نه‌شول کولای. امير شيرعلی‌خان په (۱۸۷۹م) کښې مزار شريف ته‌لاړ. چه له‌روسانو سره له‌نژدې خبري وکړي.

حافظ نورمحمد کهگدای چه‌داعليحضرت محمد ظاهرشاه منشي ؤ؛ په يوه مقاله کښې ليکلي ؤ،چه‌اميرشيرعلی چه کابل کښې دقام مشران سره جرگه‌کړل اوخپل تصميم بې څرگند کړ چه‌دی پادشاهي پريږدي او دوئ دې دهٔ ته ووائي‌چه‌پادشاهي چاته‌ورکړي؟

خلک حيران او هيښ شول چه څه ووائي؟ په دامينځ کښې يوه وويل چه ستاسو څنگه خوښه‌ده‌څوک دې پادشاه‌شي؟ دهٔ وويل: زما په‌فکر ميرحاجي دميرواعظ صاحب زوي چه‌پلاربې هم روحاني اومجاهدؤ؛ زوي‌ئې هم! يوه پلاغونډه کښې چوپه چوپتيا شوه. بيا يوه غبرکړ چه زمری زوي دې يعقوب خان راوله.

يعقوب‌خان دا وخت دپلار په محبس کښې بندي ؤ. دی بې چه راوُست. دومره‌ډار شوی‌ؤ،چه‌فکربې وکړ پلار دې وژني. امير يعقوب خان مخکښې تردې دښه شهرت خاوندؤ او دپلار دپادشاهی د ټينگيدو دپاره بې ښې جگړې کړې وې. په زمری هم ياديده. مگر دپلاربې مينې توب اودده په بند کښې ساتل؛ ده‌خپله زړورتيا له لاسه ورکړې‌وه. بيا نو هغه جنگيالی يعقوب‌خان نه‌ؤ. مگر ملت په‌دې نه‌پوهيدهٔ.

ځينی خلک دده دفاتح ورور سردار ايوب‌خان پلويان وو. داسې ښکاري‌چه دامهال خلکو امير شيرعلی‌خان اودده کورنۍ تر امير افضل‌خان اميراعظم‌خان ښه

بلله وروسته تر هغه چه امير شيرعلي خان په مزارشريف كښې مړشو؛ بيا هم ملت دده كورنۍ ته وفاداري ښودله.

امـيـر شيـرعلي خـان دوه پلا پادشاهي كـــړې. دده په دوهمه پادشاهۍ كښې (١٨٦٣ - ١٨٧٨م) كښې يولړ اصـلاحـات وشـول. لكه منظـمـه اردو پښتو قوماندې او عسكري او غير عسكري نومونه، لكه« پښه پرځاى» «تيارسى» «سلام كې» «عادي قدم مرش» . غنډ مشر، تولى مشر، سل مشر، زرمشر. صدراعظم (لوي مختار) دكورنيو چارو وزير (لوي مين غرو) خارجه وزير (لوي مين باندې) اونور دولتي نومونه. دغه راز امير شيرعلي، دپوستې اوډاگ اصول فعال كړل. يوه ماشينخانه، مطبعه اخبارچه شمس النهار نوميده، دعسكرو يونيفورم ... يعنى دغربى نړۍ ځه نخښې نښانې راغلې. د غازي امان الله خان له يوې وينا داسې ځرگنديږي چه امير شيرعلى غوښتل ځه زدكوونكى اروپاته وليږي چه زدكړه وكړي.

«غبار» مؤرخ وائي چه دغه اصلاحي پروگرامونه د سيدجمال الدين افغان له پلوه وركړ شوى وو. كيداى شي هندى مسلمان مشاورينو داوړانديز كړى وي.

كله چه په (١٨٧٨ع) انگليسانو امير شير علي خان ته اخطار وركړ؛ بيابې دجگړې اعلان وكړ. امير شيرعلي خان دخپل زوي شهزاده عبدالله جان دمړينې په وير كښې ؤ. حتى ځوورځې چاونه شول كولاى چه دى په حالاتو پوه كړي.

انگريزانو له خپلو لويو جنرالانو سره لكه فريډرگ رابرټس له كرمې دلوگر په لورې جنرال سموئيل براون دخيبر له لارې، جنرال ستيوارټ دكندهار له لوري په افغانستان يرغل وكړ. بيا هم دنوامبر مياشت وه چه دانگليسانو منظمې فرقې اوتوپخانې راغلې، اودافغانستان خلكو يوځل بيا دانگريزانو په وينو خپلې منگولې سرې كړې، دولت او حكومت نه ؤ. خو ملت په خپلو اصولو جگړه پيل كړه. چه تفصيل به يې دلته وگورو، ځكه په ملي تاريخ كښې داهميت وړدى.

دمير غلام محمد غبار دليكنې له مخې هغه عسكرو چه له دريو لارو پرافغانستان

بریدوکړ؛ شمیرېې شپیته زره وو. او هغه عسکرچه امیرشیرعلي خان درلودل؛ پنځوس زره وو. مګر خبره داده چه دغو عسکروته وویل شول چه دانګریزانو له عسکروسره جګړه مه کوئ او دهیواد دساتنې دروندبار تش لاس ملت ته پاتې شو. چه دانګلیس دولس فرقې ، سمبال عسکرو اولوئې توپخانې سره وجنګیږي.

ملي پاڅون له یو او دوو څخه پیل شو. خلکو دشپې له پلوه پرانګریزانو یرغلونه کول او هغوئ ته یې دسر او مال تاوانونه رسول. کله چه دکندهار ښارته ورسیدل؛ یو پنه ګنډونکی له ځایه پاڅید او له خپلې «رینې» سره یې سنت جان انګلیس افسر وواهه. دغه کندهاري پنه ګنډونکي جګړه پیل کړه او پخپله ځای پرځای شهید شو. مګر جګړه پیل شوه. همدغه یې اعلان ؤ. وریسې یو بل ځلمی له چړې سره پرانګریزانو ورؤغورځید. دتوپخانې یو لفتننټ او درې کسه یې ووژل. پخپله هم ټوټې ټوټې شو. څوتنه طالبان دانګلیس دتمرین پرډګر ورغلل؛ یوشمیر یې ترې مړه کړل. نوراحمدکندهاري څوتنه انګریزان مړه کړل. بیا دیوه خسبه پلار پرانګریزانو ورغی. دوه تنه یې ترې مړه کړل اوځلوریې ټپیان کړل. په قلات او ګرشک کښې داسې بریدونه وشول چه فرقې تارمار کیدلې. له یوې خوا بلې خواته تللې.

په (۱۹۷۹ع) کښې چه روسان راغلل حکومت او دولت خودروس مربیان وو. ملت همدا ډول یو یو راپاڅید. لکه په کابل کښې یوه قصاب یوروسی وواژه او غړیې وکړ ماخیل پور واخیست. ستاسو خوښه؟

د افغان انګلیس جګړه په پای کښې په یوهٔ لوي ملي پاڅون بدله شوه. چه تفصیل یې ضروري دی. ددې د پاره چه افغانان په خپله تاریخي وظیفه پوه شي.

له ختیځ لوري د ۱۸۷۹م دنوامبر ۲۱ په علي مسجد کښې افغانانو پر جنرال سموئیل براون او جنرال ماډباډو راؤغورځیدل. هغوئ یې تیت او پرک کړل. بارکش یې ترې یوړل. دنوامبر ۲۲ داپریدیو یرغل پیل شو. مومند هم جګړې ته راغلل. خوکله چه دقبایلو له علاقو تیر شول؛ جلال آباد ته ننوتل.

ACKU

لږ وروسته چه خلکو خپل مشران ومونډل د کندهار په جبهه کښې دميوند جګړه؛ چه په تاريخ کښې مشهوره ده او انګليسانو بده ماته وخوړه. ايوب خان په لوګر کښې غلام حيدرخان څرخي، په غزني کښې ملامشک عالم، په وردګو او ميدان کښې غازي محمدجان خان، په تګاب کښې محمد عثمان خان ساپی، په شمالي کښې ميربچه خان؛ مشران سره غونډ شول. هره خواېې انګليسان له ماتې سره مخامخ کړل. کله چه انګليسان پوه شول؛ چه بيا به د دوئ لښکر تباه شي. لکه چه اووه ديرش کاله دمخه شوی ؤ. نو هڅه يې وکړه چه يودوست پادشاه پيدا کړي او همدغه موضوع يې اعلان کړه؛ چه انګليسان دافغانستان له خاورې څخه وزي. همدا چه افغانان خپل پادشاه پخپله خوښه وټاکي؛ نو افغانانو پر پادشاه خبرې کولې.

۱- امير يعقوب خان، ۲- ايوب خان دميوند فاتح، ۳- امير عبدالرحمن خان کوم يو به دافغانستان دپادشاهۍ دپاره مناسب سړی وي؟

اميرعبدالرحمن خان ويل: زهٔ غواړم انګليسان له خپلې خاورې وباسم او جهاد پيل کـــړم. په حقيقت کښې ځينې نور خلک هم وو. چه دهغوئ په برخــه کښې دافکرچانه کاوه چــه ګواکې لـــه دوئ څخه دی کوم يو پادشاه شي. لکه ملامشک عالم، محمد جان خان ورد ګ، غازی محمد عثمان خان ساپی، ميربچه خان، غلام حيدرخان څرخي، ميرحاجی... يعنی پادشاه بايد دپادشاه له کورنۍ څخه وي. نو ځکه دبل چا پادشاه کيدل مطرح نهٔ ؤ.

په افغانستان کښې دکورنۍ خبره مهمه ده. څرنګه چه سيستان کښې وروسته له هغه چه ديعقوب صفاري او عمرليث صفاري ښې دورې تيرې شوې وې؛ د سيستان خلک کلونه کلونه په دوئ پسې ګرځيدل؛ چه پادشاه بايد ديعقوب او عمر له کورنۍ څخه وي؛ چه دغزنوی تر دورې پورې بې دوام لاره؛ چه وروستنی پادشاه بې امير خلف نوميدهٔ.

يادسوريانو، غزنويانو... يوازې په هند کښې دغلامانو دوره راغله؛ چه پادشاهان

شول او تر غوريانو وروسته غلامان راغلل.

افغانستان کښې شاهي کورنۍ ښه بولي. څرنگه چه د ميرحاجي په راپور کښې مو ياده کړه. اوس چه ١٩٩٧م کال دی؛ طالبانو اتيا په سلو کښې خاوره نيولې؛ بيا هم د پخواني پادشاه خبرې کيږي.

د وردگو ديوهٔ شخصيت ډگروال دستگيرخان خبره ده: کله چه امير شيرعلي خان مزارشريف کښې وفات او زوي ئې امير محمديعقوب خان هندوستان ته بندي ولاړ نو د کابل خلکو محمدجان خان ته وويل چه ځوک نشته. پادشاهي ونيسه. دهٔ په ځواب کښې وويل: «زهٔ غريب قوم لرم؛ هغوئ په جنجال کښې نه اچوم!».

که چيرې ١٨٨٠م کال دامير عبدالرحمن خان پرځای غازي محمدجان خان پادشاه شوی وای؛ آيا بهتره به وه؟ مگر د خلکو دروحيې له مخې داسې نه کيدل. امير عبدالرحمن خان يو شهزاده ؤ. پلار يې پادشاه ؤ. انگليسان پوهيدل؛ ځکه ئې له امير عبدالرحمن خان سره رابطه ټينگه کړه.

د ميوند فاتح غازي ايوب خان او امير محمد يعقوب خان يې په هند کښې وساتل چه امير عبدالرحمن له دوئ (انگليس) سره سم وچليږي او که نه يو به له هغو دوو راولي.

د (١٩٨٠-١٩٩٧) په افغانستان کښې پادشاهان ډير وو. مگر ډوئ پاچاهان نه شول. قاتلان، غله او د پردیو مزدوران شول. وليدل شي اوس ملامحمدعمر داطلسم ماتولی شي؟ پرته له دې چه د يې دکوم پادشاه دکورنۍ نژدې غړی وي او دافغانستان مشرتابه يا پادشاهي په غاړه واخلي. هله به رښتيا وای چه يو لوي بدلون راغلی وای نوی افغانستان او نوې ځپه به وای.

که چيرې دافغانستان دوضع ښه کيدل بيا شاهي کورنۍ ته لاړه؛ نو دا به زمونږ دملت يوځانگړې خصوصيت وي چه نورملتونه يې نه لري. له (١٣٥٧-١٣٧٦هـ. ش) په هيڅ قوت او په هيڅ صورت چادافغانستان پاچاهي يامشرتابه

ترلاسه نه کړه . که پخواني شوروي اتحاد پادشاهان ودرول؛ یاپاکستان دامریکې په مشرۍ ایران او نور چه په ملیونو ډالره مصرف اوسلهاؤ زره خلک مړهٔ شول. خو چه پادشاه نه ؤ،پادشاه نه شول. اوداخبره دې څوک بیا نه آزمائي. ځکه‌درې پلا پوره شوې.(۱۸٤۲ع) امیردوست‌محمد (۱۸۸۰ع) امیرعبدالرحمن خان (۱۹۹۷م ) بیا هم داعلیحضرت محمدظاهرشاه خبرې را پورته شوې. که‌څه هم عملې څه نه لیدل کیږي که بیا هـم داموقع دپادشاه کورنۍ ته برابره شوه؛ نو د تاریخ دغه سبق چه درې ځله تکرار شـــو؛ بویه بیـا هیرنه شي. که څـه هم شرایط اووضع ډیره بدله شوې ده.

دافغان انګلیس دلومړۍ او دوهمې جګړې ترمینځ اووهٔ‌دیرش کاله تیرشوي وو چه‌دغـه مـوده دیوهٔ اروپائي‌هیـواد دپاره‌ډیرمـهال‌دی. چه په‌تخنیک، صنعت او تاکتیک کښې ډیر پرمخ ولاړشي؛ نوانګلیسـان ترلومړۍ جګړې په دوهمـه‌جګړه کښې ډیر پیـاوړي شوي وو. مګر افغـانانوسره دلومړۍ جګړې تجربه وه او دغه احساسات چه‌دغه لوړمیراث د «غزأ» په نامه وساتل شي؛ له دوئ سره ؤ.

افغانانو په شلمه پیړۍ کښې ۱۹۷۹م له شوروي‌اتحادسره چه‌دنړۍ له‌دوو لویو طاقتوڅخه‌یو طاقت ؤ؛ پنجه ورکړه او روسان بې له هیواده وشړل اوشوروي اتحاد اوکمونستي امپراتوري ونړیده. پاکستان ، ایران او نور هیوادونه په‌خپلو اهدافو کښې ناکامـه شول. افـغانسـتـان دطالبـانو له راتګ سره خپله‌ملي اسلامي لاره ونیـوله. طالبـانو دنړۍ مـسلمـانانوته ډیرې هیلې وغوړولې. دنړۍ له‌ګـوټ‌ګـوټ څـخـه مسلمانانو د طالبانو مرکز کندهارته مخه‌وکړه . طالبانو اسلام لکه‌صدر داسلام تطبیق کړ.

په (۱۹۹۷ع) کښې چه‌طالبان دافغـانسـتـان شـمال ته ورسـیـدل ؛ یوځل دنړۍ سیاسي څیره بدله شوه.

دکال (۱۹۹۷ع) دجون په میاشت کښې دنړۍ اتوصنعتي‌هیوادو په‌امریکې کښې

دنیورښارکلوراډو کښې دافغانستان دموضوع دحل دپاره خبرې وکړې. دایران او امریکې ترمینځ پټې خبرې پیل شوې. او دامریکې جمهوررئیس کلنټن ایران لوي هیوادوباله. حال داچه امریکې ایران تروریست با له او ډیر ترتیبات یې دایران پرضد نیولي وو.

دروسیې خارجه وزیر وویل: چه طالبان یو واقعیت دی. دهندوضع دطالبانو په مقابل کښې نرمه شوه. ایران هم نرم شو او وئې ویل: غواړي طالبانو سره خبرې وکړي هند او پاکستان خپل اختلافات نرم کړل. روسیې، امریکې، ایران ځینې غربي هیوادونه او پاکستان پخپلو کښې د افغانستان پر موضوع خبرې پیل کړې.

هرڅوک چه غواړي ددغو بدلونو خبرونه ولولی د۱۹۹۷م دمی، جون، جولای اخبارونه دې وگوري.

دا دی چه دطالبانو دچټک پرمختګ مخه ورو، ورو ونیوله شوه. بیا هم وکتل شي چه طالبان څومره دځپلې قرباني، جنګی طاقت او زړورتیا په اهمیت پوهیدای شي. شمال کښې دطالبانو په مقابل کښې دروس، ایران، امریکې، پاکستان ګډې دسیسې روانې دی.

طالبانو دافغانستان اخلاقي اعتبار بیرته راؤست او دایې ثابته کړه چه پښتانه خپله زړورتیا لري او هم دا استعداد لري چه د خپلو نیکه گانو تاریخ ژوندی کړي. نو پاکستان ته خپلو خلکو وویل چه له اورسره لوبې نه دي په کاز. هند هم پوهیدی چه طالبان به دکشمیر مرسته وکړي. ایران ته دوه خطره ؤ: لومړی دسني مذهب یومرکز پیداکیدل. دوهم د فارسي ژبې حوزې ورانیدل. ځکه د مرکزي آسیا او ایران ترمینځ افغانستان یوخنډؤ. که افغانستان کښې پښتو ژبه ټینګه شي؛ د فارسي دپاره ځای نه پاتې کیږي. ایران کله چه ولیدل طالبان قوت لري، نوداایران خارجه وزیر علي اکبر ولایتي د۱۹۹۷ع دجولای په لومړی نېټه په یوه مرکه کښې وویل: مونږ دپښتنو دښمنان نه یو. دادی گلبدین حکمتیار پښتون دی. دلته مونږ سره دی. دغه راز صبغت

الله‌مجددي هم راغلی ؤ. له‌بلې خوا مولوي محمد نبي محمدي ديوې درې سوه کسيزې شورا پيشنهاد کړی دی. ددې ټولو خبرونتايج به‌بيا وروسته څرګند شي.

مهمه خبره داده چه دافغان انګليس دوهمې جګړې په پای کښې اميرعبدالرحمن خان راغی. دګندمک اوډيورنډ معاهدې لاسليک شوې. افغانستان ته سياسي اواقتصادي لوي تاوان ورسيد. سل کاله وروسته ۱۹۷۹ع کښې روسان کابل ته ننوتل.په ۱۸۷۹م انګليسان ننوتلي وو. په ۱۹۹۲م دمجاهدينو په نامه زياتره مليشه او شورای نظار او جمعيت کابل ته ننوتل. ددوئ راتګ تر روس او انګليس دواړو ترونکی دردؤنکی اوځورؤنکی ؤ.

زما مطلب بياهم ژور سوچ دی چه ولې داسې وشول؟ او څه‌وکړو چه دغه‌حالات تکرار نه‌شي؟ د افغان انګليس لومړۍ جګړې کښې ملي خائنان لږ وو. په‌دوهمه کښې ډير اودروسانو په‌راتګ کښې ترهغه هم لا ډيروو. له بده مرغه نن (۱۹۹۷ع) خاين کمونستان ژوندي دي. په‌روسيه، اروپا، امريکې کاناډا، استراليا او... له شرمه ډک ژوند کوي. هغوئ چه ټول هيواد يې وران کړ او دوه مليونه افغانان يې ووژل. هو! دوئ همدغه غوښتل چه‌غرب کښې غربي ژوند وکړي. خو په‌ډيره ګرانه‌بيه‌يې دامتاع واخسته. دکمونستانو دمرکزي کميټې غړي وزيران او جنرالان زيات ژوندي دي اوخپل نهايي آرمان کورکالی ډوډۍ شراب کباب ته رسيدلي دي.

دوئ هڅه‌کوی خپل دغه يون ته يو تحليل او دليل ومومي. مګر په‌دې نه شي بريالي کيدای.

په ۱۹٤۰م کښې زه په‌خبرو پوهيدم. دافغانستان انګليس ددوهمې جګړې شپيته کاله تيروو. يعنی هغه‌کسان چه‌دغه مهال اتياکلن وو دوهمه جګړه يې ښه‌په يادوه.

ماله‌سپين ږيرو اوريدل چه‌دوئ دغازي محمدجان خان وردګ او ملامشک عالم او سردار ايوب خان قصې کولې او ددوئ دخپل مهال خبرې وې. دوئ ويل: غازي محمدجان خان دنګ اوغښتلی سړی ؤ. ده يوسپين آس درلود چه‌ده به په هره ورځ يو

پاووازده ورکوله. ده دوی ښځې درلودې. محمدجان خان توپچي غونډ مشر و (دامیرشیرعلي په لښکروکښې ) ملا دین محمد مشک عالم ډنگر سړی و . غازیانو به په کټ کښې له یوه ځایه بل ځای ته وړ ځو دجهاد فتوا ورکړي.

دسردارایوب خان نوی ځواني وه. دی چه دمیوند جنگ ته روان و توره پگړۍ سره ماغوتی کرتی او برجس یې په ځان کښې و.

پرښکلی آس سپور و. ډیر خلک په لاره کښې ورسره یوځای شول. چه دی په دومره ښکلې ځوانی کښې روان دی؛ جهاد ته راځي. مونږ به هم ورسره لاړ شو . داقصه مشهوره ده چه غازی محمدجان خان سهر وختي کابل ته ورسید . دانگلیسانو چاونی دشیردروازې دغرهٔ په لمنه کښې وه . له چاونۍ دوي ښځې ووتلې په چادري کښې پټې کښته دچنداولو په لور رواني وې. محمد جان خان وپوښتل چه دا ځوانۍ څوک دي؟ کله چه عسکر بیرته راغی؛ په ډیره عاجزۍ یې وویل: زما بیبیانې وې ( اشاره دمحمدجان خان دووښځوته) محمدجان خان په غصه وویل څه بدکوې؟ هغوئ وردگوکښې دي! عسکر وویل: څه زما ښځې څه ستاښځې څه د بل. خو افغان ناموس مشترک دي! محمدجان خان وویل اوس پوه شوم چه ته څه وائې؟

کله چه محمدجان خان په قصه پوه شو. بیرته وردگوته لاړ او دغازیانو په ټولو لوېې لاس پورې کړ.

ددوهمې جگړې ځانگړی حال هماغه و ؛ چه سردارانو هریوهٔ پرته له ایوب خان څخه انگریزانو ته داښودله چه دوئ انگلیسانو ته وفادار خلک دي. حتی امیرعبدالرحمن خان چه په لکونو مجاهدین پرې را ټول شوي وو د خلکو قوت ته یې پام نه و . بې له کوم شرط یې انگریزان ومنل . امیریعقوب خان، امیرعبدالرحمن خان ،سردارمحمدولي خان سردارحسن خان ، سرداراسلم خان ټول دانگریزانو په خدمت کښې وو . ملت په خوست ، میوند، کابل او کوهستان کښې شپیته زره انگلیسان ،لسگونې فرقې داسې محاصره کړې وې؛ چه هیڅ کوم له خپلو مرکزونو څخه وتلی نه شول اوچه وتلی و

داسي تحکول شوي ووچه په زرهاؤ مړهٔ شوي دي. په کابل کښې له شا او خوا ووهل شول. ټول په شيرپور کښې محاصره شول. په ميوند کښې ووهل شول. دکندهار په ښارکښې محاصره وو. دوه وارې رابرټس او لښکرېې له خوست څخه ووت. بيرته کرمې ته په شالاړل.

انگليسان ټول تباه کيدل. مگر يو سوال دی او هغه دمشرتابه دی. چه مونږ يو نابغه مشر بايدولرو. سردارانو له لومړي سره (۱۷۷۹م) پرته له هيواد بربادولو، نظام اوپانگه له مينځه وړلو، بل کار نه درلود. په خپلو کښې يې هم اتفاق نه درلود. پرديونه دمرستې اخستلو اوخپلوکښې جنگيدلو کار نامې ددوئ دي.

داهم يوميراث دی اودا چه ملت ميړانه کوی لوی طاقتونه په څمکه وهي، داهم يوميراث دی. چه مونږ ددغه ميراث ساتنه غواړو. وروسته له هغه چه (۱۹۹۲ع) دنجيب حکومت ړنگ او دی د ملگرو ملتو دفتر کښې قيدي پاتې شو. بيا هيواد خرځول ډير شول. تنظيمونه، کمونستان هريوهٔ پرروس، ايران، پاکستان او هرچا خرڅ شول. خو ملت هيواد وژغورهٔ او ملت ثابته کړه چه وروسته له اعليحضرت محمد ظاهرشاه چاددوئ قيادت ونه شوکولای.

محمد داؤد، نورمحمد تره کی، حفيظ الله امين، ببرک کارمل، نجيب الله، صبغت الله مجددي، برهان الدين رباني، احمد شاه مسعود، گلبدين حکمتيار هيڅ يودپخواني دولت د يوهٔ عمومي مدير حيثيت ترلاسه نه کړ؛ بلکه ټول قاتلان، خائنان او وطن پلرونکي شول. داؤد خان چه اصلاً خاين نه ؤ؛ هم په دې رديف کښې راغی؛ څکه اعمال يې دغسې وو.

په دوهمه افغان انگليس جگړه کښې خاين خلک سرداران وو. لکه سردار شير علي خان دکندهار والي چه همدايې انگليسانوته ويل چه ماديوهٔ هندي نواب په ډول د کندهار دنواب په توگه وپيژنئ.

مونږ خپل ملي رسالت لرو. دهغه ساتل ضروري دي او دافغان دپاره دهغه څيړنه

پېژندنه، ساتنه، روزنه، پالنه حتمي امردی. ولې ونه شول کولای چه دخاین اوصادق لیکې وپیژنو؟ صادقان بریالي دې خائنان پاتې راغلي.

دد ې خبرې څه علاج په کاردی چه دهیواد پالنی احساس کمزوری نه شي اوملتپالنه پیاوړی پاتې وي. ویل کیږي په پخواني شوروي اتحاد کښې دوه سوه زره افغانان مهاجر دي. ددوئ ډیره برخه هماغه خلک دي چه هلته یې تعلیم کړی، په اروپا کښې هم هغه تعلیم یافته چه سوسیالستي یاکمونستي افکاریې درلودل.یایې دکمونستي حزب اودولت سره همکاري کړې که څه هم دکارانرژی لري، مهارت او تعلیم لری. مګر له شرمه ځان نه شي ښودای لکه چه تول مړهٔ وي.

رباني او مسعود ،ازبک ملیشه ،هزاره بیرته همغه روسیې ته سلامي شوي چه زمونږ هیواد دوئ وران کړ. ایران هم خپل فعالیتونه له روسیې سره ګډ کړي اودافغانستان په باب ګډ پلان لري. په دې کښې شک نشته چه عام تاجک ، ازبک ، هزاره دیموتې افغانستان ارمان کوي.

دافغان انګلیس دوهمه جګړه اودانګریزانو ننوتل افغانستان ته (۱۸۷۹م) او دروسانو ننوتل افغانستان ته په (۱۹۷۹) کښې سل کاله وړاندی وروسته دي. مګر دملي خیانت له مخې ډیر ورته دي اوډیره ځیرنه غواړي. چه علتونه ئې ځرګندشي اوپه راتلونکې کښې دهغه مخه ونیوله شي. کیدای شي دوطن دوستی احساس نه درلودل ، ځوانمردي نه پیژندل. وروري خواخوږي نه درلوذل نوبیا دیوی تربیې کلتوري ضرورت ځرګنددی. له همدې کبله پښتو پښتونولي او پښتون پاتې کیدل لازمې دی . افغانولي هم پښتونولي ده.

تاریخ دراتلونکی ژوندانه دتنظیم دپاره دی. له دي کبله په کار دي چه دافغان دملي تاریخ دهرې دورې محاکمه وشي چه دښو ستاینه او د بدوغندنه وشي.

جنرال فریډریک رابرټس دانګلیس دلوي پوځ قوماندان د کال (۱۸۷۹ع) دسپتمبر په شپږمه ځرګنده شوه؛ چه دانګلستان پوځ د امیرمحمد یعقوب خان په

غـوښـتـنـه راغلي چه ددهٔ حکومت ټينګ شي . بيـرته ؤزي.مـونږ غله او واښـه او نورشيان دورځې په ترخ کښې په نغدو پيسو اخلو.

په ۱۹۷۹م روسانو هم دغه خبره کوله چه مونږ دافغانستان دحکومت په غوښتنه راغلي يو. مطلب موتاسو سره مرسته ده اوخپلو لښکروته ئې محدود قطعات ويل.

دروسانو لښکريو لک او شل زره ؤ. دانګليسانو شپيته زره. يعنی نيمائې . انګليسانو په دوهمه افغان انګليس جګړه کښې وشول کولای يو سړی پيدا کړي چه دافغانستان په خلکو کښې رسوخ ولري او دانګليسانو هم کلک دوست وي. خو روسانو هرڅومره چه هڅه وکړه داسې سړی په لاس ورنه غی.

تره کي ،امين، کارمل، نجيب، رباني، مسعود ته ئې لمن ونيوله. خودغوخلکودافغانستان دردونه ډيرکړل او پخوانی شوروی اتحاديې دامريکې لاس پوڅی کړ. ځکه دغو خلکو په ملت کښې حيثيت نه درلود.دخلکو ذهنيت له دغي قصې څرګنديږي.

عبدالرسول سياف چه شاهي دوره کښې د شرعياتو استاد ؤ؛ بيا پېښورکښې داتحاد مشر شو. عربستان له دهٔ سره ډيره مرسته وکړه . وسله او پيسه ورسره ډيره ده.

يوهزاره مشر چه په بچه ملنګ مشهور ؤ،سياف ته ورغی.څو وسله او پيسه ورکړي.سياف وسله او پيسه ورکړه . خو نه هومره چه بچه ملنګ غوښتله. ددوئ ترمينځ خبرې ترخې شوې.( بچه ملنګ په هزاره کښې يو ښکلی ځوان ؤ) بچه ملنګ سياف ته وويل؛ ای سيافه ته يو معلم وې. ماواليان ليدلي دي.دخلکو له نظر تره کي ،امين، کارمل، نجيب، رباني، مسعود ، ګلبدين او ټول معمولي خلک وو. مګر سردارعبدالرحمن خان يوشهزاده ؤ.

روسانو لومړی هڅه وکړه؛ امريکائيانو هم. چه دافغانستان يومهم سړی دځان ملګری کړي. خو مهمو خلکو داکارونه کړ. لکه محمدګل خان مومند ، عبدالملک

عبدالرحيم زی ، غلام محمد فرهاد ، او نور. خارجي نوکري يوازې تيتو خلکوکوله. چه ناکام شول. په (١٨٩٧م) کښې امير يعقوب خان سردارولي محمدخان خپل ترۀ رابرتس ته وليږۀ ؛ چه انگريزان ترکابله رانه شي. خو سردارولي محمدخان انگريزانوته وويل چه دی پخپله دانگريزانو د پاره مناسب سړی دی چه باید د امير يعقوب پرځای پادشاه وټاکل شي. اميريعقوب خان چه خبرشو پخپله چهارآسياب ته انگليسانوته ورغی اودچهارآسياب له غونډيو يې دميړني ملت حملې ليدلې چه لکه زمري پرانگريزانو غورځيدل . اميريعقوب دافغان ملت پر بريو خواشيني څرگندوله.

ملت چه اميريعقوب خان ښه باله دهغه وجه داوه چه اميريعقوب خان دخپل پلار دپاره ښې جگړې کړې وې. زړۀ ور او مشهور سړی ؤ. دوهمه داچه اميرشيرعلي خان خپل زوي يعقوب خان د وليعهدۍ په خاطر بندي کړی، چه اميرشيرعلي غوښتل خپل کوچنی زوي شهزاده عبدالله وليعهد کړي. نودملت خواخوږي اميريعقوب سره وه . خو دملت دتوقع او هيلو په خلاف اميرمحمد يعقوب خان په اووه کاله بندي خانه کښې له مينځه تللی ؤ . روحې اوجسمې ناروغ ؤ. دا يوه بده پيښه وه چه ملت په خپل انتخاب کښې تيروت اوډيره ناوړه نتيجه يې ورکړه . همدا ډول په دوهم انتخاب يعنی عبدالرحمن خان کښې هم .

# د افغان د ملي تاريخ

## دپای خبرې!

ما چه ددغه تاريخ لړۍ پيل کړه ، غوښتل مې چه دا داسې يو تاريخ وي څو افغانانوته دلوړ نظر او مثبت کردار فکرورکړي شي . د مثال په توګه ميرمحمدصديق فرهنګ «دافغانستان په پنځو وروستيو پيړيو کښې کتاب» کښې داعليحضرت تيمورشاه په باب دوه مطلبه پرله پسې ليکي: په لومړي مطلب کښې وائي: «تيمورشاه په خپل حرم کښې درې سوه ښځې درلودې».په دوهم مطلب کښې وائي: «مګردی ويښ او هوښيار سړی ؤ. هرې جګړې ته چه تللی؛ بريالی راغلی. او دخپل پلار (احمدشاه بابا) امپراتوري ئې ساتلې وه . اوس لومړی مطلب دملي تاريخ دپاره يوه ذاتي معامله ده رښتياده نه ده څومره به مبالغه وي؟ مګر دوهم مطلب دده ٔ جنګي سفرونه شمال اوجنوب کښې او دده ٔ ښه عسکري استعداد او پخپله د جنګ جګړو کوماندې په لاس کښې اخستل،دعسکروليکې کتل ؛ دا هغه مثبت فعاليتونه دي چه دملي تاريخ دپاره ګټوردي . يو افغان پادشاه بويه ويښ او هوښياروي او وخت له لاسه ورنه کړي.

ما هڅه کړې چه له تاريخ څخه هغه مطلب راواخلم کوم چه ملي تاريخ ته ګټه لري. يو اولاد غواړي چه دخپل پلار په باب مثبتې خبرې واوري؛ څودهغه پرښتې خپل شخصيت سم کړي. په دې کښې شک نشته چه يو پلار په شخصي اوخصوصي ژوند کښې کمزوري لري.چه هغه بويه اولادته انتقال نه شي. په امريکې ، جرمني ، فرانسې او نورو هيوادوکښې په ښوونځيو، پوهنځيو او پوهنتونو کښې ملي تاريخ

لوستل کيږي؛ نو ځکه سم امريکائيان، فرانسويان، جرمنيان.... ورڅخه جوړشي، تاسو يې ګورئ، دوئ خپلې ملي ګټې ښې پيژني اوخپل هيوادونه، نه رنګوي، زمونږ خلکو دا کار وکړاوخپل هيواد ئې رنګ کړ. هغه هم تعليم لرونکو. نو ښکاري چه يادودوئ تعليماوزد کـړې نيـمګړې وې؛ ځکه ئې ملي ګـټـې نه پيژندلې. يادا بهددوئ ناپوهي وداو کهيې پيژندلې او نه يې ساتلې نوخائنان به وو. پهبل عبارت پهدوئ کښې شخصيت بې ودې پاتې ؤ.

پهراتلونکي کـښـې بويه ملي تاريخ وليکل شيپه ښوونځيـو، پوهنځيـواو پوهنتونوکښې دملي تاريخ سبق ووايهشي.

دافغانستان تاريخ سم نه دی بيان شوی،چا چه تاريخ ليکلی؛ ددښمنانو خبرې بې ليکلې. که څههم دوئ ځان بيطرفه ښيي. حال دا هغه څوک چهملي تاريخ ليکي؛ هغه بيطرفه نه وي. هغه طرف لري. ملي مؤرخ خپل ملت تهدخپلواکۍ اوپرمختنګ لاره جوړوي.

کلهچهيوه کونډه مـور خپل زامن سـره کښينوي، خپلوزامنوتهڅـه وائي؟ چه ستـاسو پلار څنګه سړیؤ؟ دروغجن ؤ. نورعيبونهئې همدرلودل؟ دغه مور خپل اولاد په خپل لاس نهبې لارې کوي. مـور خپل اولادته وائي ستـاسو پلار يو مـيړنی دوډي مار، زيارکښ او رښتين سړی ؤ او تاسوته پهکاردي دخپل پلار شمله وساتئ. دهغه نوم لوړ کړئ. ارمانونهيې بشپړ کړئ.

زمونږ پهوخت کښې حتی په ښوونځي کښې داخبره تاريخ کښې راغلې وه چه هغهپادشاه دخپل ورور سترګې وکښلې.

يا پهاووم ټولګي کـښـې دکـلاه آثور دمدنيت خـبـرې وې،هغـه همداسې نهچه دافـغـانسـتـان دلرغـوني تاريخ پهاړه وي. پرتـهلهدی چه مـونږ خپـل تاريخ وپيژنو. دنورو هيـوادو تاريخ مـو لوست. داسې خبروته بويهچه په راتلونکې کـښـې پاملرنه وشي. چهملي تاريخ دمثبتو اړخونو څخه وليکل شي.

ACKU

زما تاريخي نظر داؤ چه افغانستان کښې وروسته له ۱۹۷۹م څخه چه روسان راغلل اوهيواد وران شو. په کاردي چه شپږم تکل راشي.

دافغانستان دطبيعت له مخې چه روڼ فکره پاتې راغلل ؛ تعليم لرونکو ماته وخوړه او له هيواد څخه وتښتيدل. نو طبيعي خبره ده چه دملا اوطالب مؤسسه ژوندۍ وه او دوئ به راتلل .

مونږ پخپلو سترگو وليدل چه پخواني شوروی اتحاد ، څنگه راوخوځيد. په اقتصادي، عسکري پوهنې او سياسي مؤسسو کښې بې خلک وموندل اودغه خلک چه زمونږ افغانان وو؛ د روس ځاروانان شول او خپل ملي ناموس بې هغوئ ته وسپاره ددوئ دليل داؤ چه غوارو دشوروی اتحاد په مرسته خپل هيواد ودان کړو. نو بويه چه دهغوئ ايډيولوژي، سيستم او اصول خپل کړو . يعنى ښائې خپله ملي مفکوره ، دين، کلتور، تاريخ ، ملي پيژندنه او هرڅه له لاسه ورکړو . په ۱۹۷۳م کښې دظاهرشاه دولت له مينځه لاړ. په ۱۹۷۹ کښې روسان افغانستان ته ننوتل . په ۱۹۹۲م تاجک ،ازبک، هزاره کابل ته راغلل. سمدلاسه يې داوويل: چه وار ددوئ دی.

په ملی اوبين المللی راپورونه کښې هغه څه چه پيښ شوي؛ راغلي. فلمونه او اسناد موجود دي. داسی څرگنده شوه چه نه اسلام نه افغان نه انسان، نه ناموس هيڅ پاتی نه شول . تفصيل راغلی دی.

زما په عقيده د شلمې پيړۍ معارف له مينځه ولاړ. داسې چه يوه برخه يې کمونستان شول او قدرت ته چه ورسيدل بله برخه بې ددوئ له پلوه ووژل شول . دريمه برخه وتښتيده. نو افغانستان تش شو. بداخلاقه جنگيان او بې وزلی ؤلس پاتې شو. يوازنۍ مؤسسه چه پاتې وه. ملا، جومات او طالب وه، چه په ۱۹۹٤م کښې راڅرگند شول. د۱۹۹٦ په سپتمبر کښې بې کابل ونيوه، دکابل پخوانی واکوال رباني او مسعود شمالي سيموته وتښتيدل. د۱۹۹۲ داپريل په مياشت کښې په

مزارشريف کښې پرچمي جنرالان، کمونست مليشه قوماندانان لکه رشيد دوستم ، مؤمن، نادري، عظيمي ، دلاوريه يوې غونډې کښې دحکومت دنيولو فيصله کړې وه. بيرته سره شمال کښې يعنی مزارشريف کښې يوځای شول. دملي يووالي مزی شليدلی ؤ. د شمال ددسيسې ترشا ، روسيه ، ايران، هند او دطالبانو پلوي پاکستان او عربستان **او**امريکې ملګري کوله . هماغه‌لويه‌لوبه وه ؛ چه په نولسمې پيړۍ کښې دروس او انګليس ترمينځ پيل شوې وه . مونږ ونه شول کولی له‌دغې لوبې ځان وباسو.

دنادرخان کورنۍ که‌څه هم دامان‌الله خان‌پلويانو ښه نه‌بلله. مګر ترهغه وخته پورې چه‌ددغې کورنۍ ترمينځ اړيکې ښې وې او مشران يې ژوندي وو او پخپلو کښې يې مشورې کولې ؛ دوئ افغانستان ښه ساتلی ؤ .

په‌تيره‌بيا ددوهمې عمومي جګړې په دوران کښې (۱۹۳۹-۱۹۴۷م) دغه قضاوت تـه‌سړی هغه مهال رسيږي چه‌په ۱۹۹۷م کال کښې افغانستان ته وګوري. کله‌چه مې دغه‌کرښې ليکلې راډيوکسټ د سايکل په غږ دغه‌بيت ووايه: « په‌دې کور اور ولګيد دکور له‌ځراغه ». يعنی افغانستان هم دافغانستان له‌ځراغه چه‌هماغه تعليم لرونکي وو اور واخيست اوله‌دې سترګې نه شي پټيدای.

زما په سياسی ژوند کښې داسی پيښې شوی چه‌دخارجی دولتو غږو غوښتی چه‌ما په‌لومه کښې ونيسی مګر زه لکه‌وحشی مرغه لومی ته‌نه‌تلم.

خوسرد له‌دغوټولو ناخوالو دافغانستان ملت‌خپله تاريخي لاره مومي. کله چه ملت خپله لاره ومومي؛ بيا نودا دروڼ‌فکرو اعتراضونه اهميت نه‌لري. نن چه‌د۱۹۹۷ دجون دوهمه ده، هلته په افغانستان کښې دطالبانو او د هغوئ د مخالفينو ترمينځ جګړه‌روانه‌ده. دسالنګ لار د مخالفينو په لاس کښې اوګلبهار طالبانو نيولی دی. ګلبهار، چاريکار اوجبل‌السراج سره‌څنګ په څنګ‌دي. او د اويا کيلومتره شا اوخوا کښې له کابله‌ليری‌دي. خو په همدغه حال کښې دطالبانو قوتونه له سالنګه هاخوا

پلخمري او ايبکوته رسيدلی دی. او مخالفينو دخبرو وړانديز هم کړی. په شمالي ولاياتو لکه بلخ، جوزجان، فارياب، سمنگان، تخار، بدخشان، سرپل کښې دمخالفينو واکداري ده؛ چه حزب وحدت دايران پلوي، جنبش ملي شمال ددوستم کمونست مليشه، جمعيت برهان الدين رباني شورای نظار احمد شاه مسعود، دوئ د۱۹۹٦ په اکتوبر کښې په خنجان کښې يوترون لاسليک کړ چه په حقيقت کښې د۱۹۹۲ داپريل دترون په لړه کښې ؤ.

چه په لومړي ترون کښې ۱۹۹۲ دايران داسلامي جمهوريت نماينده ناست ؤ. په دوهم کښې ۱۹۹٦ دروسيې نماينده او په بله خواکښې (طالبان) پاکستاني ځينې زاړه جنرالان.

اوس به دځمکني سياست له مخې موضوع وڅيړو. له لرغونو مهالونو څخه افغانستان دعسکری سيلابو په لاره کښې پروت دی چه دچين له لويديځې غاړې راغلي اوبيا لويديځ اوجنوب ته تللي دي.

هيرودوتس په خپل تواريخ (٤٥٩ ق م) کښې د سکائيانو او پارسيانو جگړې يادوي. بيا افغانستان هندته دننوتو ور يعنې دروازه وه. هرڅوک چه هند تلل نو پر افغانستان تيريدل . بيا دروس او انگليس لويه لوبه پيل شوه . پنځه ديرش يرغلونه ايران پرلويديځ افغانستان کړي او پنځه ديرش ځله بيرته په شا وهل شوی دی. له هندوستان سره سرحد په ډير ربړ تاکل شوی چه هماغه سند، پنجاب، ملتان او کشميردی. له چين سره تبت او کاشغر، ايران سره دخزر غاړې خراسان او ايرانی بلوچستان دی. په شمال کښې مرو. سرخس، فرغانه او بخارا .

کله چه ۱۸۰۹ م انگليسي هيئات د جنرال الفنستون په مشرۍ له شاه شجاع سره پښور کښې وکتل، ددوئ مطلب داؤ چه دفرانسې ناپليون له ايران څخه غوښتي ؤ چه دافغانستان له لارې پرهند په گډه حمله وکړي نوانگريزانو شاه شجاع ته وويل چه دهغو مخه ونيسي . وروسته چه دفرانسې زور خلاص شو، روسانو غوښتل تودو

اوبوته دافغانستان لهلارې نژدې شي. او انګليسانو دهغو مخه نيوله. مطلب دادی چه دافغانستان جغرافيوي موقعيت افغانستان تهدغه ستونزې رامينځ ته کوي.

اوس هم روسيه هماغه د تودو اوبو پهخاطر دمرکزي آسيا جمهوريتونه ويروي چه خپل نظامي حضور ټينګ کړي. ايران غواړي چه دفارسي ژبې حوزه ايران- افغانستان او تاجکستان ولري او ايران يې مشروي.

هند ترهندوکښ ( ايندوکش) خپل بولي[۱]. نوپهدې صورتونو کښې پاکستان دهند په خيالي سيمه کښې راځي او دافغانستان يوه برخه هم.

دمرکزي آسيا جمهوريتونه، غواړي چهځان له روسيې ليرې وساتي او هرڅومره چه کولای شيږهومره ځان جنوب او امريکېته نژدې کړي. په اقتصادي او سياسي برخوکښې پهلويديځ اړه ولري.

نو بويه چه افغانستان په سيمه اونړۍ کښې خپل دوستان اودښمنان وپيژني.

سوال دادی چه افغانستان ولې دافغانانو پهلاس ړنګ شو؟

ناپوهي، لوږه، بې همتي، بداخلاقي، حيوانيت څه سبب ؤ؟ ددغه سوال ځواب ساده ښکاري؛ خوساده نه دی. بويه غورپرې وشي اوسمځواب ترلاسه شي او بيا دهغه علاج په کاردی.

دطالبانو نسخه او معالجه ډيره معقوله ده.دافغانستان دحالاتو له مخې نه دنړۍ دهوسا هيوادو لهنظره، حتی زما لهشخصي نظره ؛ مګر که افغانستان اودهغه ټول حالات، لهغلا، وژنې، بې ناموسی، چور، لوټ؛ له تعليم لرونکو څخه ترعوام پورې بيا طالبان تر اوسه ښه روان دي او وروسته نه شي اټکل کيدای. افغانستان دوه حالتهلري؛ چه يو به يې حتمي وي يا به افغانستان دپښتنو پهاعتبار افغانستان وي، چهدولس زره کاله دمخه دسوريانو، سکائيانو، متانو، کاسيانو، دولتونه په

---

۱- پنډت جواهرلال نهروخپل کتاب دنړۍ تاريخ کښې داخبره کړې ده.

ښارونو کښې موجود وو. يا به هغه افغانستان وی چه احمدشاه بابا جوړ کړی ؤ. يعنی هرڅوک چه افغانستان کښې اوسيږي؛ افغان دی. که چيرې داسې وي احمدشاه بابا دهيواد بابادی. افغانستان مو وطن دی. هغه هم لوي افغانستان باندې عقيده درلودل. که داسې نه وي نو هيواد به دپښتنو په اعتبار وي.

همدلته دی؛ کله چه مونږ دپښتنو تاريخ مرتب کړ. دافغانستان ديوه پياوړي قوم په اعتبار دافغانستان دټولو قومونو اعتباردی. ځکه مونږ شريک کورلرو او ورونه قومونه دي. مگر که دغه نور قومونه دپښتنو تاريخ کلتور ادب اومشران ونه مني بياهم وروري به وي؛ په دې شرط چه سپکاوی بې ونه کړي اوکه سپکاوی وشي، جگړې وکړي له پرديو اوغليم هيوادو څخه مرسته وغواړی دا رښتيا لويه بدمرغي ده. وينی به توئې شي، دغالب او مغلوب کاربه شي. وروري به بې خونده وي.

کله چه دپښتنو پادشاهی ده دغو پادشاهانو نورقومونه پالل؛ پښتويې نه کوله دځينو اشخاصو په اند داکاردملي يووالي دپاره ډير اغيزمن ؤ. مگر يو وخت دومره ډيره شوه چه پښتنوته ناهيلي پيدا شوه: چه په خپل کور کښې پردی شول. ژبه يې دوزخي، پخپله ناپوه اوله ښاری ژوند څخه ناخبره پښتون په پای کښې وخوځيد.

دغه خوځښت دخلق په کمونست گوندکښې څرگند شو. چه دا ددوئ ډيره لويه گناه، غلطي او خيانت ؤ. ځکه عام پښتانه بې مقابلې ته پاڅيدل. مگرداټوله بدمرغي له ۱۹۷۰م پورې څومره بدې پيښې چه راغلې؛ دا ددوئ دغلطی نتيجه وه اوخدای خبر چه ترکله به دوام کوي؟

دعلمی تحليل له مخی احمقان وو اوچه په کال (۱۹۹۷ع) کښې په زرهاؤ په روسيی اروپا اونوروځايوکښې سره له دې چه تعليم لری؛ خر مخی. شرميدلی او بيکاره دی. ژوندی مړه او تباه دي.

پښتانه اوس په غوڅ اکثريت طالبانو سره دي اوځکه دغه تکل بريالی دی. په تيره بيا چه بين المللي حالات ورته سم دي، اودا په تاريخ کښې ورروسته له ډيرې زمانې يوه

موقع په لاس ورغلې ده.

له پاکستان سره انډول هم سميږي. ځکه دګاز او تيلو پيپونه چه له افغانستان څخه تير شي، بيا که افغانستان دکراچۍ بندرته اړوي پاکستان به هم دتورغونډۍ بندرته اړه ولري. نو په يوه توګه سمندرته لاره جوړه شوه. پاکستان به افغانستان ته او افغانستان به پاکستان ته اړوي. په دواړو هيوادوکښې به مرکزي کردار دپښتنو وي.

مهمه خبره داده چه دودۍ به پيدا شي؛ خو چه پښتو ژبه، ادب، تاريخ او کلتور پياوړی وي.

دنړۍ فلسفي دورتيرشوی. مسايل اقتصادي، دګټې او تاوان دي. نور معيارونه نه دي پاتې. اسلام دافغانانو دين دی، او ددوئ اړيکې له خدای تعالی سره. مګر لکه چه وليدل شول په ١٩٩٢ کال مسلمان مجاهدينو کوم دين او اخلاق نه درلودل. اوطالبانو دژوندی کيدو يوازنی دليل همدا ؤ اکثريت هم ورسره مل شو.

راتلونکی افغانستان به په اقتصادي لحاظ ښه وي آبادي به وشي، تجارت او کرنه به وده کړي که دافغانستان دتاريخ هينداری ته وګوري هغه غلطۍ چه شوی وې دهغو مخه ونيول شي. ملي تربيت مينځ ته راشي چه افغانستان دافغان په لاس وران نه شي او افغان، افغان مړ نه کا.

همدادی چه نوی نسل بويه ملي تاريخ وګوري او دليکوالو دادنده ده چه دتاريخ مثبتې خواوې د سر مشق په توګه دراتلونکو افغانانو دپاره وليکي. په دې برخه کښې اوس ډير کتابونه شته چه په دې برخه کښې ډيره مرسته کولای شي.

دهيرودوټ تواريخ چه دنړۍ لومړنی تاريخ دی؛ دپکتيا، پاکت، سکا، ذکر په کښې په تفصيل سره راغلی. بيا دآرنولډ ټاين بي تر وروستي کتاب پورې چه (١٩٧٣ع) کښې چاپ شوی؛ دافغان دقومونو ډيرې وياړلې قصې لري. چه له نيکه مرغه اوس دغه کتاب شته. په تيره بيا دافغانستان دجهاد په دوران کښې پر

افغانستان زښته ډيرکتابو ليکل شوي يعني په اتيايمه لسيزه کښې ترهربل وخت پر افغانستان ډيرکتابونه‌ليکل شوي. چه پخوا دغه‌کتابونه او مدرکونه نه ؤ. زه غواړم چه‌بيرته خپلی خبری ته‌راوگرځم چه ولې دافغانستان پوه او روڼ فکرو خپل خلک ووژل او خپل کورېې وران کړ؟

څوک وائي پرديو ولسمول. څوک لـه اصله خاين‌او بد خلک وو. روزنه يې نه وه شوې.

بنيادي خبره‌داده‌چه دوئ دغرب دمدنيت‌وږي وو. دوئ ښه ژوند ښه‌کور، ښه‌په اروپائې سينگار ښځه يې غوښتـه. پلوونـه شراب کباب اروپائي نڅاوې او ددوئ دسرمايه داری مظاهرئې خوښ ؤ. خوناړې يې دکمونستی وهلې.

دسرمايه داری د مظاهر د ترلاسه کولو دپاره يې غلامي، خيانت، جنايت په‌ملي اوفردي سطح ومنله. داعليحضرت محمد ظاهرشاه (ارتجاعي) دولت‌څخه يې‌دومره شاته بوتلو چه هغه دوره يو ارمان شو.

مادي، معنوي اوځـاني تاوان لـه شمـاره وتلی‌دی. نوپه دي حـالاتوکښـې راتلونکی کهول غربي کلتور دې وغواړي؛ خونه دملت‌په وينو اودهيواد په‌بربادی.

په کال ۱۹۷۸م کښې به‌مو دتره کي سالگره ليدلې وي؛چـه څومره غټ محفل ؤ. «سالگره» دچا ميراث دی؟

دکيک غوڅول اوتول دغرب ميراث پيروي اوافتخارؤ؛ چه د انقلاب په نامه کيده. دريشی، نکټائې، تول اوتول د هغه غرب ؤچه‌دوئ به ورته بد او خراب ويل؛ ويسکی شراب ښه ؤ؛ غرب بدؤ.

بيا هماغه کمونستان غرب ته وتښتيدل او هلته‌په کرار شول. شراب کباب او غرب هرڅه ورته ورسيدل.

کمونستان خلقي او پرچمي د بخښلونه‌دي. دوئ شرميدلي دغرب دمدنيت مينان وو چه‌ددغه ارمان دپاره يې يو ملت يو هيواد، يوکلتور او يوتاريخ برباد کړ.

# ژوندی مآخذ

کوم کتابونه چه ما ددغه تاریخ په لیکلو کښې کتلي؛ د هغو نومونه مې ورکړي خو زما په ژوند کښې څه ځانګړی چاپیریال ؤ ؛ چه زما په معلوماتو کښې بې مرسته کوله . هغه زمونږ کورؤ. دلته زمونږ ماماګان د پکتیا اعزازي جنرالان وو. له بلې خوا زما دورونو ملګري تعلیم لرونکي وو. روڼ فکره وو. زما مشران ورونه دا وو: « انجنیر غلام سرور فرهاد ، ډپلوم انجنیر غلام محمد فرهاد ، سخي احمد فرهاد ، عزیزاحمد فرهاد او شفیع احمد فرهاد ، ما ددوارو ډلو خبرې دلایل او منطق اوریدل.

دژوند له پنځلس کلنۍ نه له اعلیحضرت امان‌الله سره زما علاقه ډیره وه . شاه محمود افغان،شاه اشرف افغان، وروسته کلو کښې له میرویس بابا او احمدشاه بابا سره مینه ډیره شوه او دا مینه ګروهنه بەتر پایه پاتې وي. که خدای کول .

دلته غواړم هغه مشران اورجال چه ما پخپل ژوند کښې لیدلی او ددوئ خبرې مې اوریدلي دهغوئ نومونه راوړم . داخبره اوس دومره غوره نه ښکاري؛ خو وروسته نسل ته اهمیت لري.

١- عبدالعزیز بارکزی د اعلیحضرت غازي امان‌الله خان ددورې دحرب او داخله وزیر،داستقلال دجګړې سپاهي .

٢- عبدالهادي داوي لیکوال ،شاعر، ملي شخصیت داماني دورې دتجارت وزیر سفیر.

٣- محمدګل خان مومند لیکوال ، جنرال ،وزیر، ملي مشر.

٤- یاورمحمود خان بارکزی د غازي امان الله خان یاور او اداري شخصیت .

٥- سید عبدالله پاچا قوماندان د امان الله خان د خصوصي ګارډ .

ACKU

٦- يعقوب خان ( وزير دربار ) غازي امان‌الله خان.

٧- عبدالاحد وردگ وزير داخله دغازي امان‌الله خان دنادري دورې د شورا رئيس .

٨- عبدالرحيم خان ساپی اماني دوران ډگرمن، سقوي نائب الحكومه، ظاهرشاهي دفوايدعامه وزير ، محبوس .

٩- سورجرنيل محمدعمرخان ناصري داستقلال دجگړې يو قوماندان، دسيدال ناصر له اولادې څخه .

١٠- معين افضل ناصري جنرال .

١١- د اعليحضرت غازي امان الله خان ددوری رون فكره ، داوی، غبار ، بسمل، صفأ ، قومي مشران.

١٢- زمرک خان ځدراڼ،د ببرک خان زوي، میر غوث‌الدین دجانداد خان زوی احمدزی .

١٣- عجب‌خان افریدی اوشهزاده‌خان‌په مزارشریف کښې .

**صوبه سرحد :**

١٤- خان عبدالغفارخان

١٥- خان عبدالولي خان

١٦- افضل خان

١٧- اجمل ختک

١٨- خليق صاحب

١٩- ولي محمد توفان

٢٠- هميش خليل

## بلوچستان :

۲۱- خان عبدالصمد خان

۲۲- او اعزازی جنرالان چه قومي اونظامي خلک وو. جنرال عطاء محمد دسردار عبدالله خان توخي زوي، جنرال هاشم خان لوگری، جنرال اعظم گل خان توتاخیل، جنرال جیلاني توتاخیل ( تورن جنرال) دفراه او چخانسور قوماندان، جنرال سرکي خان احمدزی، جنرال پیرمحمد خان تره خیل، جنرال اصیل خان منگل، نصرالله خان ډگرمن منگل، ډگرجنرال ځلمی خان منگل، ډگرجنرال سربلند ځاځی ،جنرال عبدالغني احمدزی، جنرال سودا بهسخي سقوي جنرال.

دې کتبې شک نشته چه اعلیحضرت پادشاه ښه سړی دی. مگردی یوازې دی اوددهٔ هغه خلک چه ددهٔ په دوره کښې ئې وزارتونه کول بیا دوئ له پادشاه سره ونه دریدل. ددهٔ وزیران، جنرالان، والیان نه داعلیحضرت په فکرکښې وواونه دهیواد ډیروېې مخالفت هم کاوهٔ. دوئ ډیر ناځوانه خلک وو. په سلام علیک لانه ارزیدل داخبره هم دځیرلو دده چه ناځوانمردي له کومې خواراغله؟ داوطن خو د ځوانمردانو اومیړنو وو.

نو اعلیحضرت محمد ظاهرشاه په تاریخ کښې دښه نامه خاوند دی.په داسې حال کښې چه دی لا ژوندی دی. ( جون ۱۹۹۷ ) وینو چه په شلوکلو کښې دده ترپادشاهۍ وروسته څوک پهدې بریالي نهشول چه همغسی یو دولت جوړکړي.

طالبان کهبریالي نه شول بیا به حالات نورهم خراب شی. همداوجه ده چه ډیر خلک ناهیلي شــوي. که څه هم په پای کښې به هماغه نقشه عملي شي او پښتانه به یوځای شي.

دپښتنو لارښوونه ضروري ده. ځکه کهدوئ پښتو او پښتونولي ونهلري،بیا هیڅ نهلري. دپښتنو مشران چه په حالاتو پوه دي سرله اوسهدې ددغو خبرو تبلیغ او

تلقين پيل کړي او پښتانه دې خپل يووالی او رزمي روحيه وساتي.

جنرال عبدالرؤف محمدزائي ، جنرال سيدکريم خان علوي.

ددغو رجالو نومونه مې ځکه راوړل چه ښرگنده ده؛ دوئ زمونږ د ژوند په مهال کښې وو او ددوئ خبرې پخپله دمآخذو اهميت لري. همدا ډول ما په افغانستان کښې، کابل، کندهار، مزارشريف، بغلان، کندوز، پلخمری، لشکرگاه، ننگرهار، پکتيا، لغمان، کونړونه ليدلي، په بهرنيو هيوادوکښې په (۱۳۴۱) ايران ته په رسمي سفر لاړم. په (۱۹۷۱م) کښې هند ته دبنگله ديش کانفرانس ته لاړم. بيا ۱۹۸۷م کښې اتريش، جرمني، هالنډ، ډنمارک، سويډن، ناروی ته په رسمي سفر تللي وم. پاکستان مې کتلی اووه کاله په پېښورکښې او دادی لس کاله کيږي په امريکه کښې يم.

زما بنستيزه هيله داده چه ددی خبرې جرړه ښرگنده شي؛ چه څنگه افغان بی شماره افغانان وژني او هيواد ورانوي، له‌دوئ څخه (جهادی رهبران) ډيرې په سوونو ميليونو ډالر لري. حال دا چه مونږ ته په امريکه کښې يو ميليون ډالر دومره ډيرې پيسې دي چه سړی په‌لوړه سويه‌چليدای شي.

بيادوئ خو اروپائي او امريکنی کلتور هم نه لري. چه پيسې مصرف کړی شي رښتياخبره داده چه ددې جنگيالو پيژندنه گرانه خبره ده. څنگه کيدای شي چه خپل خلک دپرديو د ياره مړهٔ کړو. دوئ څه فکر کوي؛ څنگه قناعت کولای شي؟ په دې کښې له بيلو اړخو څخه پردې خبرې غور په کاردی چه يوه نسخه په‌لاس راشي‌او راتلونکي نسل ته ورکړ شي. دکمونستانو خو معلومه شوه چه پرغرب يې اعتراض درلود. په حقيقت کښې بې هماغه غربي ژوند غوښت. په تاريخ کښې خبره ښرگنده ده چه د افغانستان کمونستان خلق پرچم شعله البته خلق پرچم دغه جنايتونه دغربي ژوند «کور، کالي، ډوډی» (شراب طبعاً ورسره) د پاره چه‌په

سلهاؤ زرو خلک يې مړهٔ کړل. روسان يې راوستل. هيواد يې ړنګ؛ افغاني کلتور، تاريخ او اقتصاد يې برباد کړ او چه ژوندي تر يورپ او امريکې ورسيدل، په کرار شول.

بايد په همدې ترتيب د مجاهدينو ( دتنظيمو په سطح) اصلي هدف له دغو جناياتو څرګندشي. کـه څه هم په کـال ۱۹۹۲م ۱۳۷۱هـ. ش کښې دومره ښکاره شوه چه داقليتو عقـده داکثريت په مقابل کښې او له بلې خـوا د اطرافي عقده د ښاری پـه مقابل کښې وه.

چه داسې لنډه شي:

۱- دغربي ژوندغوښتل دانقلاب په نامه.

۲- داقليت عقده داکثريت په مقابل کښې په داسي حال کښې چه اکثريت تردوئ بدژوند درلود.

۳- دکليو عقده دښار دخلکو په مقابل کښې؛ ځکه په کـال ( ۱۳۷۱هـ. ش ) کښې ازبک مليشې، تاجکو اوهزاره ؤ کابل کښې لوټ مار، لواطت، زنأ اوهره بد اخلاقي وکړه په داسې حال کښې چه د کابل خلک پښتانه نه وو او که وو نو په لومړي سرکښې ووتل. خپلو سيمو يا پاکستان ته لاړل. خو کابل کښې پاتې نه شول. دې نه ښکاری چه د ښاري ژوند په مقابل کښې دوئ عقده پيدا کړي وه او په دغه وخت کښې دکابل دبې وزلو خلکو هندومسلمان هرڅه له لاسه ورکړل اوښکاره ده چه داخلک نه مسلمانان نه افغانان او نه انسانان وو.

يوهٔ ليکوال غفارحامد وليکل داسې ښکاري چه له کومې بلې سيارې راغلي وي. ددوئ ببرسرونه او ځوړندوېښته کميسونه، خولې پاينڅې د افغانستان د هيڅ سيمې سره شباهت نه لري. چرس بې څکول. شراب بې څښـل او زړهٔ سوی بې هيڅ نه ؤ. دوئ ولې داسې وحشيان وو؟

په دې برخه کښې ژوره څیړنه په کار ده. که دغه کیفیت باندې وپوهیدو؛ بیا به راتلونکي نسل ته وروایو چه له دغو مسایلو ځان وساتي. په داسې حال کښې چه دډیموکراسۍ په لسیزه کښې (١٩٦٥-١٩٧٣) په کابل کښې ټول سفارتونه په سیاسي لاره کښې فعال وو. ډیرخلک پوهیدل چه دافغانستان ملت په غلطه لاره بیولی کیږي.خو له خارجي کومکویې ځانونه ساتل اودملت په سریې قمارنه واهه. نو خارجیان گرځیدل چه ټیټ، ډوډۍ غړیې خلک وموميِ او هغه یې وموندل.

دجهادپه کلونو کښې (١٩٨٠م - ١٩٨٩م) د حکمتیار او رباني،مسعود ترمینځ جگړې روانې وې. دوئ پخپلو کښې ډیر ووژل.

دیوې ژورې څیړنې له مخې دومره افغانان روسانو نه دي وژلي. څومره چه افغانانو افغانان وژلي. زهٔ غواړم همدغه علت وڅیړل شي. دوستان له دی سطحي خبرې تیر شي. مگر زما ټینگار دادی چه خبره بویه څرگنده شی. په علمي توگه پرې پوه شو. قاري تاج محمد په غزنی کښې په سوونو خپل دجهاد ملگری ووژل. مسعود له سیدجمال سره بیا له آغا شرین سره په شمالي او تخار کښې شپږ سوه تنه اعدام کړل چه په راپورونو او ورځپانو کښې راغلي. اسمعیل خان پــه هلمند کښې دوه سوه تنه دولتي مامورین اعدام کړل. گلبدین دری زره تنه په پېښور کښې مړه کړل او داسې هر یوه. ددغو اعمالو په مقابل کښې طالبان را پاڅیدل. تردغه مهاله چه داکرښې لیکم او د١٩٩٧ دجون نهمه ده. طالبان یوملی اسلامی نهضت دی. شپږم تکل دی. دحالاتو طبیعي عکس العمل دی. ملامحمد عمرامیرالمؤمنین، تاریخی شخصیت دی. لکه میرویس بابا، احمدشاه بابا ... بیا که حالات بدل شی او طالبان پاتی راشی او خپله دیني ملي وظیفه تر سره نه کړي اوافغانستانٰ له دې مصیبتونه ژغوري، په هغه کښې څه نه شم ویلای. خودعاً کوٌم چه داسې ونه شي که نه وي. پخواني رجال نشته، تعلیم یافته پخپله مصیبت وگرځیدل. گاونډیان لیرې نژدې بې رحمه دې. پهٔ هیڅ شي مو اسره گیر نه دي.

هیڅوک لاره نه‌لري. دقومي مشرانو پخوانی قدرت پاتې نه شو. دقومونو هغه ترون یووالی اومینه پاتې نه‌شوه. یوازنی لاره چه ټول افغـاني خصـوصیـات ئې راژوندي کړي؛ هغه همدغه طالبان دي.

زهٔ یوخپلواک سړی یم. د غازي امان‌الله خان داصلاحاتو پلوي. امریکې کښې اوسیږم. له‌دیني مسایلوګوښه پاتې یم. که زما د طبع پوښتنه وشي،طالبان مې نه دي خوښ اوکه دافغانستان‌دبقأ او موجودیت او تاریخ سوال راشي زهٔ ځانته دعاٗ نه‌کوم،طالبانوته‌یې کوم او دامې خدای تعالی ته هیله‌ماتې‌ده چه ای خالقه ته پوهیږې چه ماخپله‌برخه طالبانوته ورکړې اوتردې پورته مې څه په‌وس کښې نه شته.

تریوهٔ مهاله مافکرکاوهٔ چه زما اخلاق صفردي. وروسته مې چه دانسانانو خوړل ولیدل؛ نو ویل مې کاشکې په‌دغه مهال کښې نه‌وای...

ماته یوهٔ مجاهدوویل: ما په سوونو ځوانان ووژل،چه‌دکمونستانو مظاهروته تللي وو. حال‌داچه دی پوهیدی چه هغوئ یې مظاهروته په زوره بیول. یا هغه افرادچه له‌لاروکورونو نیول کیدل اوعسکری ته‌یی بیول؛ کله به‌چه مجاهدینوته تسلیم شول هغوئ به‌اعدام کړل.

دا به ومنو چه دشوروي اتحـاد ( پخـوانی) امریکی ، ایران ، پاکستـان او نورو جاسوسي ځانګو یو دبل دوهلو دپاره هنداسی غوښتل. خبره داده چه افغانان ولې دخپلو افغانانو په برخه کښې داسې بې رحمه اوبې لوره دي؟ یو شمیر نور خلک چه امریکې او اروپاته ورسیدل؛ بیایې خپل تاتوبی داسې هیرکړ چه یوه ورځ یې په دی باب یوه خبره هم ونه‌کړه. یوه ورځ حاجي حیات‌الله راته وویل: استاد قاضي عبدالظاهر سامي ویل: چه ټل حکومتونه یا پادشاهان ګرم نه‌دي؛ ملت هم ملامت دی. چه دهنجا سره کلک ونه دریدل. قاضي صاحب دامیرشیرعلي خان او امان‌الله خان مثال ورکاوهٔ چه‌دواړه‌بدخلک نه‌وو. خو چاونه ساتل. امیرشیرعلي او غازي

امان الله خان که دساتلونه وو، نودشړلو خو هم نه ؤ.

مگر خبره داسې نه ده . هغه شخصيتونو چه وکولای شول د افغانستان خلک ځانته راکاږي هغوئ لوي کارونه وکړل. لکه ميرويس بابا او احمد شاه بابا يعقوب صفار ، سبکتگين غزنوي، اونور. اوس ملامحمد عمر داکارکړی دی. البته دځينو هيوادوګټې به په دې کښې هم وي. مگر ابتکار او د خلکو جلب اوجذب دده کاردی.

په اصل کښې دافغانستان ساتل او امنيت په کښې راوستل غوره خبره ده. نن دافغانستان موقعيت توپير لري. نن مونږ په خپله خوا کښې تاجکستان ، ازبکستان اوترکمنستان لرو. پرون يوازې پخوانی شوروي اتحادؤ . که تاجکستان دتاجک ترشاودريږي. ازبکستان دازبکو ، ترکمنستان دترکمنو ، ايران دشيعه او هزاره ترشا افغانستان ختم شو. مونږ ځمکنۍ بشپړتيا او يووالی غواړو او داپه عذر په لاس نه راځي. مگر داچه ذيوه ملي نهضت په څير راغلی وي او داسي توفاني وي؛ چه هرخنډله لارې ليرى کړي . طالبان همداسې دي.

مگر د (١٩٩٧ ع) دمی دمياشتې له نولسمې وروسته يوه ناوړه پيښه وشوه . هغه داچه په شمال کښې دملي اسلامي جنبش يو جنرال چه عبدالملک نوميده؛جنرال رشيددوستم ته را پاڅيد . عبدالملک فکرنه کاوه ، چه دوستم به ژر وتښتوي. نوطالبانو سره يوځای شوچه يولږ موافقې ئې هم وکړې. همداچه دوستم وتښتيد اوعبدالملک طالبان ځان سره مزارشريف ته بوتلل؛ يوه پلا صحنه واؤښته . دحزب وحدت کسانو پرطالبانو ډزې وکړې. کله چه طالبانو ځانونه جوړول؛ دجنبش خلکو هم ډزې پرې پيل کړې ظاهري پلمې ئې داوی طالبانو درسول پهلوان عکسونه چه د عبدالملک ورورؤ او تيرکال وژل شوی ؤ؛ څيرى کړل؛ چه ددوئ اصول دادی. مگر ددغه کار ترشا روسان وو او ايران چه له ګډې پولې څخه را واؤښتل .

عبد ملک دا کارهم دخپل ورور دپاره کړیؤ او طالبانو غوښتل دخپلو اصولو له مخې وسله ټوله کړي. نو جنبش خپل میلمانه چه طالبان وو؛ اسیران کړل. وئې وژل. احمد شاه مسعود هم پرجبل السراج اوګلبهار حمله وکړه. طالبان په پلخمري او نورو ځایو کښې چه له سالنګ هاخوا دي؛ بند پاتې شول.

له دغه عملیاتو سره دایران په ابتکار یوه متحده جبهه جوړه شوه؛ چه هغه ته ګلبدین، سیداحمدګیلاني، رباني، مسعود او هزاره حزب وحدت راغلل. دوئ او جنبش او جعفر نادري داسمعیلیه مشر په ایسار شوو طالبانو بریدونه پیل کړل.

له بلې خوا طالبانو جګړ مار ټولول چه ځان له دې لویې تباهۍ وژغوري.

دا دغه مهال دی چه افغانستان په دوو برخوکښې روس، ایران، هند، پاکستان، عربستان، امریکې، که دیوه خپلواک افغانستان سوال نه وی نو دډیرو دلایلو له مخې امریکه تر روسیې مونږ ته ښه ده او پاکستان تر ایران او عربستان ترهندوستان چه دځمکني سیاست له مخې مو هغه ځیرلې ده.

دافغانستان تاریخ زیږنده او خوځنده تاریخ دی. چه مونږ هغه سوریانو، سکائیانو، له دورو ګورو، چه کله دغه تاریخ شل زره کاله مخکښې درومي، چه په دې برخه کښې مخکښې خبرې شوې؛ نو ځکه کوم تاریخ چه د ملي تاریخ په توګه مرتب شي دهغه دپاره به دغه لیکنه یو لومړنی تهداب وي.

یوه ورځ یوه ایراني ۱۹۹٦م زاته وویل: تاسو افغانان ترمونږ ایرانیانو ښه خلک یاست. ځکه له (۱۹۸۰- ۱۹۹٦ع) په ایران کښې هماغه رژیم دی، کوم چه دخمیني بللای شي. مګر په همدغه موده کښې تاسو افغانانو څو رژیمه له پښو وغورځول. (تره کی، امین، ببرک، مجددي او رباني) یعنی تاسو یې له پښو غورځوئ او غوځ عمل مونږ نه شو کولای.

داخبره سمه ده. ملت به ټول نامطلوب جریانونه ووهي. څو یو مطلوب حرکت

راشي.ترهغـو چه يوسم ملي نظام راځي؛ ډيرې وينې به تويې شــوې وي. ټولو دښمنانو بـه ماتې خوړلې وي. همدا وجه وه چه زمونږ سپين ږيرو ويل: دخدای د پاره دا نظام مه ورانوئ؛ چه بيرته يونظام جوړول ډيره گرانه خبره ده.

تاريخ لوستل، په تاريخ پوهيـدل، له تاريخ څخه سبق اخستل، ښـه تاريخ پريښودل گټور دي او داچه نه وي يو ملت نه‌ملت کيږي اودخلکو يوه ډيري ته ملت نه‌ويل کـيږي. ملت هغـه‌ډله ده‌چه‌خپلې گډې گټې اوتاوانونه وپيژني. يودبل په څنگ کښې دښې بدې د پاره ولاړ وي. دافغانستان پـــه باب کښې دکانگرس دبين المللي چـارودمـشر BENJAMIN AGLMAN ليک چه دخارجه‌چارووزيرې ته يې ليکلی: ۵ جون ۱۹۹۷: ددغـه ليک په يوه‌برخـه کښې راغلي؛ لهبده مرغـه هلتـه تقريباً کوم مشر نشته؛ نه‌کومه مؤسسه په‌افغانستـان کښې پاتې ده. چه بيخي له اعتـباره نه‌وي لويدلی. په‌دغه اوږدو جگړو او وينې توييدوکښې همـداسې کـيږي. يوازې پخواني پادشاه محمد ظاهرشاه خپل وقار ساتلی دی.

# د افغان ملي تاریخ

## ضمیمې

ACKU

# د هيروډوټس تواريخ او پښتون

ويدا ، اوستا او زند مذهبي سندرې چه دافغانستان دخاورې محصول دي؛ تريوه مهال پښه منبع بلل کيده ، خو وروسته نورې ليکنې،کيندنې او ميندنې وشوې؛ چه مونږ کولای شو پرهغو لارو ولاړنه شو. نيغې او روښانه لارې ونيسو.

ماهڅه کړې چه دافغانستان تاريخ څيړنه په څه نوو لارو بوزم.

له هغې جملې يوهم ملي تاريخ دي چه ملي تاريخ دملت دپاره سرمشق دی. که ملي تاريخ په ښو اوبدو پيښو وليکل شي لکه چه تر اوسه ليکل کيږي. بيا دافغان اولاد دهغه توپير نه شي کولای ( څه زمونږ پلرو هم داسی کړی دی )نومثبت تاريخ ليکل په کاردی ديوه ملي شخصيت ذاتي اعمال په مونږ پورې اړه نه لري. مونږ ته يې هغه اعمال مهم دي چه دهيواد دژغورنې اوآبادولو دپاره ئې کړی دی.

که ووايو په ۱۸۰۹ م کال کښې اعليحضرت شاه زمان دخپل ورور شاه محمود له پلوه له پادشاهۍ ليرې کړی شو. کفايت کوي. چه ونه ويل دخپل ورور سترگې يې ړندې کړې او نورې داسې ډيرې خصوصي خبرې . مهمه خبره داده چه په ۱۸۰۰ م کال کښې دانگليسانو او ايران ترمينځ داتړون وشو چه که شاه زمان دهند په لورې وخوځيد؛ ايران به په مشهد او نيشاپور حمله کوي او که شاه زمان دخراسان په لوری وخوځيد ؛ انگليسان به پر پنجاب حمله کوي.

دغې معاهدې ( انگليس - ايران) زمونږ امپراتوري ونړوله.

دوهمه خبره داده چه د تاريخ څيړنه ښائي په داسې لارې وشي چه دمطالعه کوونکي ذهن گډوډ نه شي.

دريمه داچه څرگنده شي داپې څمکه او داپې خلک:

ACKU

له تاريخه مطلوب دهيرودوتس تواريخ دي چه ٤٩٠-٤٢٠ پخوا تر ميلاده ژوندی ؤ. په دغه كتاب كښې پښتون په دوو صورتونو يادشوی: يو پخپل نامه پاكت - پاكتي - پاكتيسيا (Pact.Pacty Pactycia) پاكتيانو دځرمنې كرتۍ اغوستې او تورې به يې ترملاوې.

دوهم صورت دپښتنو دقومو نومونه دي: لكه سكائيان او د هغوئ اړوند قبائل.

وروستـی ځيـرنې داهم وائي چه مـاديان، پارتيـان اولوديان؛ هم ټول آريائي اواريائي ژبې دي او دافـغانستـان له شمـال شرق نه تللي. چه دهيرودوټ تواريخ زمونږ دپاره ډيره ښه منبع ده. د اوستا، ويدا، زند زمانه چه ١٤٠٠ پخوا ترميلاده اټكل كيږي؛ مگر ځرگنده نيټه نه لري او له كيندنو ځرگنديږي چه دافغانستان، مدنيت دری زره كاله مخكښی تر ميلاده دی.

مدنيت چه له كرنې او مـالدارۍ راتيرشوی؛ لـه اوبدلو، رنگ آميزۍ اوله فلزنه دكار اخستلو پورې ډله ئيز كار او نور.... مدني خصوصيتونه لري.

سكائيان چه ساكزي او ساكان دي اوساكستان يې وطن ؤ ؛ دهيرودوټ په تواريخ كښې په مفصله توگه پيژندل شوی.

دغه پيژندنه له دود دستور، كړه وړه قومونو، جگړو، جرگو سره ده او هم دپكت او پښتون خبرې لري.

هيرودوټ په لومړي سركښې د سكائيانو يوه قصه كوي: «دسكائيانو يوه ډله چه شپـانه ؤ؛ لـه خپلو گـاونډيانو سره ئې شـخړه وه. دوئ دمـا دځمكې تـه لاړل. دمادپادشاه چه ددیا اكو لمسیؤ؛ هغوئ يې وساتل اوله سكائيانو څخه ئې ؤغوښتل چه ددوئ زامنوته سكائي ژبه او دغـشي ويشـتلو فن وروښـيي. دمـا د پادشـاه كياگسار نوميده!». له دی واړه مطلب څخه ځرگنديږي:

الف: سيمه يا پناه وركول كوم سكائيان چه ماديانوته ورغلي وو.

ب: د سكائيانو ژبه يوه مهمه ژبه ده؛ چه دوئ دزدكړې مينه درلوده.

ج : سکائیان پهجګړیزو فنونو کښې ګړندي وو.

دهیروډوټ په تواریخ کښې (٦٣ مخ) کښې لیکل شوي:« ساکانو دمصر پهلوري ورودانګل. مګر پهفلسطین، پسامتیخ او د مصر فرعون دهغوئ مخهونیوله اوهغوئ ته ئې مالونهورکړل. دهغوئ عذر یې وکړ؛ څو چه بیرته لاړشی اوهغوئ د سورئې عسقلون ته په شاشول. د ساک لښکرې بې له دې چه چاته تاوان ورسیږي دښارونو له مینځ نه تیر شول. دوئ یعنی ساکو اووه ویشت کاله پرآسیا حکومتوکړ».

لهدې کرښو ښکاري چه ساکان ترمصر پورې تللي او دفرعون عذریې منلی او له ښارونو پهداسې صورت کښې تیرشوي چه چاته یې تاوان نه دی رسولی.

دهیروډوټ له خبرو داسې څرګندیدیږي چه ساک او ماد په شریکهحکومت اویوسل وشل کـاله یې دآسـیا واګې پهلاس کـښـې وې. داهغـه وخت ؤ چهلا کـوروش او هخامنشان نه وو را اوچت شوي. یعنی مخکښې دپارس اوکوروش لهلوړیدو ساک چهدپښتنو یو مشهور قوم دی پر آسیا حکومت کاوهٔ.

په تواریخ کښې لیدل کیږي چه کوروش هخامنشيڅنګه دیوې پښتنې میرمنې لهلاسهوژل کیږي چه تفصیل به یې دلته راواخلو.

پهدې مهال کښې دپارس پادشاه ډیر پرمخ تللیؤ. لودیا اومادیایی لاندې کړی ؤ مګرساکان په افغانستان کښې په خپل قدرت ولاړوو.

دکوروش اوماساګتیانو په باب هیروډوتس داسې لیکي : وروسته دآشور لهنیولو کوروش ته دماساګتیانو دلاندی کولو سودا پیدا شوه . دوئ دجیحون دسیند هاخوا دایسدونانو د سیمې مقابل کښې پراتهؤ. داخبره مشهوره ده چهدغه قوم ( ماساګیت) ګڼ اوجنګیالی دی اوځینې واي دوئ دساکانو لهجملې څخه دي اوداځرګنده نهده چه جیحون څهډول یو رود دی».

# دکوروش مرگ په افغانستان کښې

دهیرودوټ له قوله خزر او ققفاز ختیځه خوا کښې پراخی سیمې دي چه پای ئې ځرگنده نه ده. ددغو سیمو ډیره برخه دماساگیت هستوگنځی دی چه کوروش غوښتل هغه لاندې کړي. په دغه مهال دماساگیت ټولواکمنه تورموروس نومیده ؛ چه دخپل میړهٔ له مرگه وروسته دپادشاهی پرتخت ناسته وه.

کوروش هغې ته پیغام ورکړ چه کوروش غواړي ،له هغې سره وادهٔ وکړي. مگر سم ځواب یې تر لاسه نه کړ. ځکه ټولواکمنه پوهیدله چه دکوروش قصد دانه دی . غواړي چه دهغې، هیواد لاندې کړي . نوکوروش ولیدل چه دده مطلوب ترلاسه نه شو؛ نو نظامی لاره یې غوره کړه. ټولواکمنی تورمورس کوروش ته داسی پیغام ورکړ:

ای پادشاه تاته نصیحت کوُم له دی کاره لاس واخله. ځکه په هیڅ توگه ته په خپل مقصود نه شی بریالی کیدای. پرخپل قوم او ملت چه حکومت کوي خوشحال اوسه او زما سلطنت زما خلکوته پریږده. افسوس چه زما خبره به ونه منی. نو واوره که غواړې ماساگیتانو سره خپل طاقت وآزمائې؛ نو پل پررود مه جوړه وه ؛ چه گران چاردی. زمـا لښکرې بـه له رود نـه درې ورځـې لاره شـاته لاړی شي اوته وراندې راشـه ! یا دغومره لارته شاته لاړ شه چه زه درشم ! ».

کوروش له خپلو مشاورینو سره مشوره وکړه . په پای کښې کوروش تـه خپلو مشاورینو مشوره ورکړه چه پریږده دا درې ورځې لار شاته لاړه شي.

« کوروش چه دیوی ورځې لاره ووهله څه لښکرې هلته پریښود. پخپله بیرته دسیند پـه لوري لاړ. د ماساگیت لښکرو پردغو پارسي لښکرو حمله وکړه ټول ئې مړهٔ کړل. سپارگاپیس دټولواکمنې زوي دماساگیت دلښکرو مشرؤ. هلته یې ولیدل؛

ښه خواړه اومشروبات دي. هغه ئې له خپلو سپاهيانو سره وخوړل ؛ مست او خراب شول . چه پارسيان راغلل اوشهزاده چه حالت ئې خراب ؤ ؛ ونيوهٔ.

کله چه شهزاده په سدراغی. وېې ليدل چه اسيردی. ځان ېې له غيرته مړکړ. همدا چه تهولواکمنه د خپل زوي له مرگـه خبره شوه له خپل ټول طاقت سره پرکوروش باندی راغله سخته جګړه ونښته . د کوروش لښکرو ماته وکړه او پخپله کوروش اسير شو چه په افسانوی توگه يې مړکړ. چه دوينو طشت کښې يې دکوروش سر ور واچاوهٔ او په لوړ غږ ئې وويل: «وڅکه ظالمه چه وينې دې خوښيدلې . دا دايران ياپارس لومړنی لوي پادشاه دی چه دافغانانو په لاس ومړ. له نيکه مرغه دغه ښښتانه قامونه اوس هم له خپلو نومو سره شته اودا دجيحون دواړه غاړو ته اوسيدل. دا دغزنويانو ترمهال پورې همداسې ؤ.

# سکائيان او داريوش

تاسوتردې ځايه دساکانو اوکوروش حالات زده کړل. وروسته له دې د سکائيانو اوداريوش حالات وګورئ.

مخکښې تردې چه دغه نوي مطلوب ته ورننوزو يو رڼاوی (توضيح) ضروري بولم. چه ساکان يا ساک همدغه ساک قوم دی چه موږ يې لرواوډيرې سيمي هم په افغانستان کښې دساکو په نامه دي. ټول تاريخ پوهان په دې متفق دي چه ساکو خپل وطن ساکستان وباله. چه عربو هغه سجستان باله او پارسيانو سيستان او «طبري» لوي افغانستان. د سند او جيحون ترمينځ دا ټول هيواد سيستان بولي. نور پوهان هم داخبره کوي چه په هغه مهال کښې افغانستان سيستان بلل کيده يعنی دساکانو ځمکه يا هيواد. مګر هيروډوټ دساکستان په ځای سکائيه وايې. په تواريخ کښې راغلي چه ساکانو اړوند قبائل درلودل چه هيروډوټ ددغو قبائلو دلوئې جرګې ذکر په هغه مهال کښې کوي چه داريوش غوښتل دساکو پرهيواد بريدوکړي. نو دساکو پادشاه اعليحضرت ايدان تورسوس داتو قبيلو مشران جرګی ته راوبلل.

ددغو قبائلو، نومونه دهيروډوټ کتاب کښې راغلي چه ډيريې هماغه تلفظ سره پاتې دي؛ کوم چه دوه نيم زره کاله مخکښې په تواريخ کښې راغلي. او دهغو اته قبيلو نومونه دادي:

١- اګاتيرسی، ٢- نري، ٣- اندروفاګی، ٤- ملانکلاني، ٥- ګلوني ،٦- بوديني، ٦- سارماتي، ٨- توري.

له دې وروسته هيروډوټ ددغواتو قبيلو په باب خپل معلومات بيانوي. په حقيقت کښې دوئ ټول سکائيان لکه چه اوس پښتون دټولو پښتنو ګډ نوم دی هغه

مهال ساک عام ؤ. په داسې حال کښې چه هيرودټ دباکتر، بلخ او پکتيکا پاکت پاکتي ذکر کوي. خوښکاري چه دساک نوم لوړ ؤ.

نري : « دغه قوم دعقايدو او دود دستور له مخې لکه ساکان دي». دا د هيرودوټ په نظر دوئ سره ورته دي. مگردی نه پوهيږي چه ديوهٔ قام بيلې پښې دي چه قامونه هم بللای شي.

. اندروفاگي : « لکه سکائيان جامې اغوندي».

« ملانکلاني تورې جامې اغوندي نور ساکانوته ورته دي».

بوديني : گڼ شمير خلک دی شنی سترگی او ويښته يې سره دي. دوئ يوښار لری چه گلونيس نوميږی او کورونه ئې له لرگيو جوړ شوي . د دوئ ژبه نيمائې سکائي اونيمائي يوناني ده.

سارماتي: زړور قوم دی ددوئ ميرمنې ترهغې وادهٔ نه کوي څو ديوهٔ دښمن وينې دجگړې په ډگر کښې تويې نه کړي.

ددغوقامونو مشران لوئې جرگې ته راوبلل شول چه دداريوش مخه ونيسي . داجرگه په آزاده توگه وه او هرچا خپل گروهه وايه . گلوني، بوديني اوسارماتي مشرانو ومنله چه له ساکانو سره دريږي.

آگاتيرسی، نري، اندروفاگي، ملانکلانی، توري مشرانو داسې وويل:

کله چه تاسو يعني ساکانو پرپارسيانو حمله کوله تاسو له مونږه پوښتنه ونه کړه اوس چه داريوش پياوړی شوی او تاسوته را روان دی، مونږ نه مرسته غواړئ.

ترڅو موچه پرپارسيانو حکومت کاوه هرڅه ستاسو وو. اوس يې په مونږ مخه نيسئ هو! که هغوئ پرمونږ را ودانگل؛ مونږ به دهغوئ د ماتولو دپاره له ټول طاقته کار واخلو. کله چه داريوش دساکانو خاورې ته راغی،ساکانو مخه ورته خوشې کړه خو دخوړو دپاره يې څه پرې نه ښودل چه سړي يا آسان يې وخوري دداريوش لښکرې دننه په سکائيه کښې وړاندې لاړل. سکائي سپرو لاره پرې کړه،له شاپرې راغلل.

دداريوش لښکريان بې مړهٔ کړل او دا چار بيابيا وشو. داريوش وپوهيدهٔ چه دادمخې خوشې کول يو چل دى. چه بيا مونږ په بې اوبو او شنو دښتو کښې ووهي.

نوداريوش، «اعليحضرت» ايدان تورمورروس ساک پادشاه ته وليکل: «اى ځوانه! ترڅو تښتې؟ که زورورېې پريوهٔ ځاى ودرېږه چه جګړه وکړو اوسره معلومه يې کړو اوکه لهٔ ماسره دمقابلې توان نه لرې نو له سرګردانى ځان خلاص کړه، اوبه او خاوره دتسليم دنخښې په توګه خپل سرورته را وليږه اوخبروته چمتو شه».

«اعليحضرت» ايدان تورمورروس پهٔ ځواب کښې داريوش ته وليکل: «اى دپارسيانو سروره! ته زما دجګړې پهٔ لاره نه پوهيږې. زماتښتيدل له ډاره اوکم زورى نه دي. زهٔ له هنڅا ويره نه لرم اوکله مى هم دچاپروانه ده کړې. دا زمونږ لاره پهٔ ښارونو اوآباديو کښې ورک نه يې پهٔ دښتو او بيديا کښې ورک. تاځان زماسرور بللى. زهٔ بې له خدايه چه زما هست له هغه دى او «هيستيا» بل سرورنه لرم اونه تاته اوبه او خاوره ليږم!»

ايدان تورمورروس سکا ئي پادشاه داريوش ته يوه مرغى، يوه چونګښه اويومږک وليږه اودهغه معنى اوسه پورې زمونږ د افغانانو اصطلاح ده چه که مرغى غوندې والوزې که چونګښې غوندې اوبوته لاړه شې؛ يامږګ غوندې په سوړه ننوزې. خلاصى دى نشته، دداريوش لښکرمات اوګوډ ستړى ستومانه پخپله هم دغسې ؤ. کرباس داريوش ته وويل چه اعليحضرت ما پخوا اوريدلي ؤ چه سکائيانو سره مقابله ګرانه ده. اوس وګورئ ددوئ په خاوره کښې دوئ څومره کښته پورته وځغلولو او که ژرونه وزو؛ ټول به تباه شو.

داريوش داخبره ومنله او په يوه منډه دسکائيانو له خاورې دسين له لارې ووت اوسکائيان چه سيند ته پسې ورسيدل؛ داريوش تيرشوى ؤ او پول يې وران کړى ؤ. په دوهم اقدام کښې داريوش بيا ناکام شو».

داخبره غلطه ده چه هخامنشيانو افغانستان نيولی ؤ او زمونږ مؤرخين تيروتلي کليفورډ بارسورث دسيستان دتاريخ پـــه شرح کښې داخبره تاييدوي چه دوئ زمونږ د خـاوري پـــه نيولو نه دي بريالي شوي. مگر سکائيانو دهغوئ خاوره دهيروډوټ په تاييد نيولې وه.

داريوش دهغو ملکونو، نوم په خپل قلمروکښې يادوي چه دهٔ له هې تحـفې اوسوغاتونه ليږلي . په پخواني او اوسنی دولتي مشرانو کښې دادودشته چه يوبل ته سوغاتونه ليږي.

دکوروش اوداريوش په حال چه خبرشو دفيروز ساساني حال به له طبري تاريخ څخه زده کړو.

تردې ځايه مودساکانو اوهخامنشانو حال بيان کړ اوس وگورئ چه دپښتون ياپکتون حال په لرغونی تاريخ کښې څه ډول دی؟

دهيروډوټ په تاريخ کښې د پاکتي سيا پاکت پاکتي ډېروځايو کښې رأغلی مگر په لومړی سر کښې پاکتي يس ديوه سړي نوم دی چه دلوديا په قوم پورې اړه لري. کوروش ليديا (لوديا) لاندې کړه . د لوديا پادشاه کرزوس چه يوهوښيار سړی ؤ؛ له کوروش سره اسير ؤ چه هرې خواته يې له ځان سره بيوهٔ.

« پاکتي يس » دلوديا خلک دکوروش خلاف زاؤپارول . دا قصه څه اوږده غوندې ده.

مطلوب داچه پاکتي يس دشخص دنامه په توگه راغلی؛ چه مشهور سړی او په لوديا پورې ئې اړه درلوده .

پاکتيسيا Pactycia :

پاکتيسيا دسيمې او هيواد په توگه چه خپل اصلي ځای کښې دهيروډوټس په کتاب کښې راغلي دی ۲۲۷ مخ :

« دهند دسیمې پای داوسني پارس له‌خطې لیرې جنوب کښې پروت دی. دغه ځای هیڅکله د پارسیانو لاس ته نه‌دی ورغلی. په شمالي برخه کښې دکاسپاتیرانو په گاونډکښې دپاکتیسیا په‌سیمه کښې یوه بله‌طایفه اوسیږي چه د هغوئ ژوند دباکتر یا بلخ خلکوته ورته دی‌او دهندیانو په مینځ کښې جنگیالي دي او دسروزرو دلاس ته راوړو کارکوي! ».

« دهند په شمالي برخه کښې کومه سیمه چه پاکیتسیا نومیږي دباکتراو بلخ خلکوته ورته‌دي جنگیالی خلک دي. »

داریوش مخکښې له‌دې چه‌دساکانو پرهیواد حمله‌وکړي چه‌ذکر یې مخکښې راغلی. یوه ډله یې دسند« آباسین » لورته ولیږله؛ چه ځرگنده کړي د سند اوبه په کوم ځای کښې بحرته توئیږي.

تواریخ ۲٦۸ مخ : « داریوش سکولاکس خپل یوویسامن سړی چه له کاسپاتیروس ځخه پاکتیسیاته‌لاړشي؛ د ختیځ خواته دې وگوري. وروسته له‌دیرشو میاشتوهغه مقصدته ورسید چه‌فرعون له‌مصر ځخه فنقیان استولي وو.

خو دهیروډوتس تواریخ په نورو ژبو نه‌ؤ ترجمه شوی. زمونږ مؤرخینو ویل چه هیروډوټ پکتویس چه‌مطلوب ئې پښتون دی؛ یادکړی، اوس هغه برخې را اخلو چه‌پاکتیسیا ، دځمکې اوسیمې په‌توگه پاکت سړی پاکتي جامې په بیلوبیلو ځایوکښې یادې شوې.

۳۷٦ مخ تواریخ

« بلخي په‌قوس کښې باکتر یا لکه مادیانوخولی په سرکولې له‌غشي لیندې، خنجر او تبرزین‌سره گرځیدل . سکایونوم دی؛ چه پارسیانو ددغه قوم ټولو قبیلو ته ویل. د سکائي قوم دغه‌ټولنه دبلخیانو وه . خوارزمیان سغدیان او گنداریان او دادي مادي غشي، لښدې اودځرمنې چپنې درلودې . ښې ښکلې جامې ئې آغوستې او لکه

د پاکتيانو يې دځرمنې کرتې اغوستې».

که سرې ښه ځيرشي؛ پاکتانه، بلخيان، سکائيان گنداريان، پارتيان، ماديان له پاکتيسيا دسند په حوزه کښې ترباکتر يا بلخ سغد، فرغانه، د خزر غاړې، شمالي ايران دکميريان (کامرخيل) ترکريميا لودياترکيې پورې؛ کاسي قوم چه هيرودوټ يې کيسنيا بولي. ټول پښتانه وو. چه بيل بيل نومونه يې درلودل. مگر يو له بله ښې اړيکې، ورته لباس او دودونه يې په تاريخونو کښې ځرگنددي، اوډير ښه سنديې خپله خلک دي چه مونږ. همدا اوس لوديان، کاسيان، ساکان، بلخيان، پکتانه کاميرخيل، مادي يامدي لرو. بودين خيل، توري نري اندړ... قومونه لرو. شيرواني دوټانې، جدون اونور له نيکه مرغه نه يوازې پکتان، يا دشوي د هغوئ اړوند قبائل ترهغه ډير تاريخ کښې شته اوراغلي او بله مهمه علامه داچه نومونو يا تغييرنه دي کړې اوکه کړې هې دي، ډيرلږ؛ چه هغه هم د ژبې په تلفظ پورې اړه لري. ماله ډيرو پکتيا والو اوريدلي چه کابل ته يې «کوبل» وايئ.

«کاسي» په همدغه تلفظ دي؛ آريائيان دي. له شمال شرقي افغانستان ځخه تللي؛ ژبه ئې له همدغو ځانگوده چه پښتوده. پر بابل باندې ئې شپږ پيړې پادشاهي کړې. مگر دا خبره مه کوئ چه دوئ پښتانهٔ نهٔ دي؛ ځکه پرپښتنو دا ډول ويارنې دچا نه لوريږي. ددغو مسايلو پوره ثقه اسناد به ورکړشې.

سام دغوري پادشاهانو نوم دی چه سامي قوم يعنی عربو هيځکله پرځان نه دی ايښی. پوهاند رشاد دلودي پښتانه په کتاب کښې ليکي چه دتاريخي سام ترون پښتنو سره دی. سلطان شهاب الدين سام اونور.

سام، ساک، سور، شنسب رستم سام نريمان ټول دپښتنو په سيمو کښې وو. چه دلرغونې زمانې روغوونکي دي.

دتواريخ ځينې نورمعلومات:

پښتانه چه دخپل تاريخ په لټه کښې دي؛ دهيرودوټ تواريخ يوه ډيره مهمه منبع ده چه دومره ډير معلومات بيا په بل هيڅ کتاب کښې موندهٔ نه شي.

دلته ځيني ضمني معلومات را اخستل چه ډېر اهميت ور دي د (٢٢٤ مخ ٢٢٣)

د هيروډوټ په گروهنه، کوروش او کمپوچيه ته بيلو قومو کالنۍ پيسې ورکولې. چه دشاهي عايد په نامه ياديدهٔ. مگر په دې ترڅ کښې د پښتنو په باب عجيب معلومات ترلاسه کيږي.

دا به يوه بيلگه وي چه پښتانه چيرته چيرته اوسيدلي:

اوم - ستاگديان، گنداريان اپارتيسه ټول ١٧٠ تالان

دولسم - دبلخ باکتريا خلک ٣٦٠ تالان

ديارلسم - پاکتي سيا او ارامنه ٤٠٠ تالان

څوارلسم - سگارتيان، زرنگيان، کمانيان او تيانيان، سي يان او دفارس دخليج خلک چه پادشاه به بنديان هلته ليږل ٦٠ تالان

پنځلسم - سکائيان او خزريان.

شپاړسم سنديان او آريايان ٣٠٠ تالان

په دې لړکښې پاکتي سيا په ارمنستان کښې هلته هم دپکتيا ولايت شته چه په همدغه نوم دی او دباکتر بلخ، پاکتيا په افغانستان کښې پاکتيا په ارمنستان کښې گنداريان، ستاگديان اپارتيان يوځای ښودل. لوړه څيړنه غواړي؛ چه آيا دغبار خبره ستاگديان شيتک او ختک دي؟

سگارتيان هيروډوټ پاکتي (پکتيک) بولي چه دفارس خليج ته تبعيد شوي دسکائيانو شتون په خزر کښې سنديان او آريايان.

دهيروډوټ تواريخ په حقيقت کښې دپښتنو تاريخ دی. څه په يوه ډول څه په بل ډول. څرنگه چــــه يوازې دساک ياسکاخبره دومره څيړل شوې چه دکتاب ډيره برخه يې نيولې ده.

دحرگه اولوبې جرگې دپناه ورکولو او دلودې ميرمن پاکلمني او ډير نور داسې دقايق لري: چه پښتونولي ترې څرگنديږي.

دهيروډوټ دنظرياتو په رڼا کښې « بارتولډ » اوغبار (ميرغلام محمد) په کال

( ۱۳۱۰هـ . ل ) يعنی اووه شپیته کاله د مخه داعليحضرت محمد نادرشاه په عصرکښې دکابل په مجله کښې مفصل څه‌ليکلي ؛ خو بيا داخبره دومره نه ده څيړل شوې .

دغه‌کتاب‌او مروج الذهب - ابهام‌دپښتنو په تاريخ کښې نه‌پريږدي .

مروج‌الذهب دمسعودي ليکنه د سوريانيانو په برخه کښې اود هغوئ دپادشاهانو په‌برخه کښې ښه‌معلومات لري، دی دوه ډيری مهمی خبری کوي . يوه داچه سوريائيانو وروسته‌له‌توفانه بادشاهي جوړه‌کړه . بله‌داچه‌ددوئ مرکز غزني او بست‌لعس ؤ. چه خبره له ابهامه ؤباسي پښتانه کولای شي خپل تاريخ ددغو معلوماتو په‌رڼاکښې له‌سره وليکی او دانگليسانو اودهغوئ د هندی نوکرانو له معلوماتو دې ځان وژغوری.

مسعودي چه د بغداد دی پنځه ديرش کتابونه ئې ليکلي.دی‌هم لکه هيروډوټ په سفرونو بوخت ؤ . له خلکو يې پوښتنی کړې ؛ تاريخونه يې ليدلي؛ څه تيارهٔ رڼا لري، مگر ډير معلومات يې راغونډکړي؛ ۳۳۲ هـ کښې گرځيده چه‌دخزر په شا او حوا کښې ئې «شيرواني» ، «جدون» او «دوتاني» پادشاهان ليدلي او د حزلجيانو ذکر کوي. کله‌چه‌دترک او خلج اوصاف اوځايونه بيانوی هغوئ هم پښتانه‌دي.

زهٔ به هڅه وکړم‌چه ځينی برخې عيناً نقل‌کړم. ځکه مونږ د پښتنو په‌برخه کښې ډيرې سپورې واوريدې.

دشاهي عوايدو په‌برخه کښې چه هيروډوټ يادونه‌کوي؛ په‌څوارلسم شميرکښې هغه‌قومونه ښئي چه‌داريوش دپارس په‌خليج کښې بنديان کړي.په‌دې ډله کښې سارگاتيان اوزرنگيان د هيروډوټ خبره ده ؛چه سارکائيا نيمه‌پاکتيان‌اوزرنگيان دسيستان‌باساکستان خلک دي او په‌خليج يادخزر اوشااخوا کښې يې شيرواني ، جدون دوتاني نه‌ليدل.دوي هلته شته‌دي‌مگر چه ژبه يا بله نخښه نه‌وی نو پيژندل يې گران دی دهيروډوټ په‌کتاب کښې پکتيک راغلی‌چه مطلوب ئې پکتانه دي.

بل قوم کاسي ياکاسيان‌دي چه‌هلته يې هستوگنه‌درلوده.

دکتـاب ژباړونکی وائي چه کـاسي قـوم، کـاسيـا دځای نوم دی. په اوسني خوزستان کښې دساکانو، پادشاهان« مادليس » « پرتاتو » او« ايدان تورموروس».

که چيرې مونږ سوريائي پادشاهان، کوشاني يفتلي پادشاهان يادولی؛ بيا به چانه ويل چه پښتانه دسليمان له غره را ووتل او په اتلسمه پيړی کښې مطرح شول.

دهيرودوټ په تواريخ کښې يوازې د ساکزو او پارس جګړې دي. همداچه کوروش وژل کـيږي اوداريوش مـاته کـوي. بيـا هخامنشـان يـونان تـه مـخه کـوي. څو يوناني سکندرپرې غورځي او داقصه ختميږي.

سا ک اوکريميـا : پـه دې برخـه کښې دومره ډير معلومـات نه دی ترلاسه شوی. مګر هيرودوټ دتواريخ په ۲۳ مخ کښـې ليکي: آرويس پادشـاه « پري ين » ونيـو او پرميلط يې حمله وکړه. دده دپادشاهی په دوره کښې کيمريان دسکائې وحشي قوم له خوا له خپلې سيمې وشړل شول؛ آسياته راغلل.

اوپه ۶۱ مخ کښې : دآستياګس دپادشاهۍ لوي ګام پرتينوا باندي دلښکرو وروړل ؤ. غوښتل ئې هغه ښار له مينځه يوسي اوخپل دپلار ماته پرځای کړي.

پـه داسي حال کښې چه دتينوا ښاريې په محاصرې کښې ؤ. د سکائيانو يوه لويه ډله دخپـل پادشاه مادس د پرتاتو زوي دهغه پرسپاهيانو ورودنګل. ساکان کميريان پسې شوی ؤچه له اروپا شړل شوي وو او دغه مهال دماد په سيمه کښې اوسيدل.

بيا په ۲۶۵ مخ کښې دا عبارت دی ساکانو پرماديانو برې وموندچه مخکښې له دوئ ئې اته ويشت کاله پرپورتنی آسيا حکومت کاوه. هغوئ دکيمريانو په تعاقب دلته راغلي وو. ددغسی حالاتو په رڼا کښې کيمريان آسياته راغلي او دلته پاتې شوی هم دی دامعلومـه نه ده چه سکائيـانو له دوئ سره څـه بدی درلوده. د مؤرخ غبـار اوبارتولډ په عقيـده هغوئ اوس پښتـانه دی اودکاميرخيل په نامه ډير په لوګر کښې اوسيږی. پښتون دنژاد خبره نه ده ؛ دميرانی اوناريتوب خبره ده.

# افغان – پښتون
# او د هغه تاريخي څېړنه

د تواريخو له مخې سکائيان اوسکائيه، باکتر (بلخ) اوپاکتيسيا Pacticia دافغانستان لويه ځمکه يادلوي افغانستان سيمه، ياحوزه ده.

دخوشحالي ځای دی چه ددغه مدعأ د پاره اوس ډېر شواهد او اسناد موجود دي.

دافغان او افغانستان نومونه له پورتني وينا سره تضاد نه لري، داعليحضرت احمد شاه بابا په اسنادو کښې دولت افغانيه ويل کيده چه بيا په افغانستان واوښت. د افغان نوم په څلورمه هجري پېړۍ په عربي ليکنو کښې راغی، او پوهاند حبيبي داسي شواهد سودلي چه دافغان کلمه د تخت جمشيد په کتبو کښې راغلی او دغه کلمه د زړور او اصيل معنی لري او پادشاه چه هخامنشي پادشاه دی ځان افغان بولي.

پوهاند حبيبي دافغان او افغانستان په برخه کښې ډېری خبرې کړي، چه د پاملرنې وړدي اودافغان مؤرخ په توگه مونږ ته سنددی. خوښايي پردي هې ونه مني. يا څه بل تعبير ورته پيدا کړي. لکه چه وائي سيدجمال الدين افغان نه ؤ. تخلص يادوهم نوم يې افغان ؤ.

ايراني حکومتونو اوليکوالو په دې برخه کښې اود تاريخ په باب لاپخوا خپرونی کړې وی اوخارجي پوهانو اوليکوالو ته يې غلط معلومات ورکړی ؤ. بيا په دايرة المعارفو کښې چاپ شوی دی. زمونږ د پاره چه حقايق زمونږ په گټه دي په کار دي چه د تاريخ د پوهي په برخه کښې غفلت ونه کړو.

په هند کښې چه پښتنو اوږد پېړۍ حکومت کړی؛ اوس داخبره په داسې کتابو کښې نه کوي په ميليونو پښتانه اوس هلته ژوند کوي چه ژبه او پښتونولي يې

هيره ده . ايراني کتابوکښې دهوتکو افغان حکومت نه ياديږي. حال داچه دواړه د تاريخ برخې دي. ددې د پاره چه خپل ځان وپيژنو؛ دهغه د پاره بايد نقشه ولرو چه دهغې له مخې يوځوان ځيرونکی مطلب ته ورسي. بويه خپله مطالعه داسې تنظيم کړې :

| | |
|---|---|
| دبشر پيدايښت | هبوط په جنوب لويديځ آسيا کښې |
| دسړي عقلمند کيدل | هومو ساپين |
| دځمکې ، ځنگلونو او باتلاقو | |
| تابع کول | |
| مهاجرتونه او ليږد | |
| دښو او آبادو ځمکو په لوريون | |
| صنايع او تجارت | |
| ملي خوځښت | |

بهرنی ليکوال او تاريخپوهان کله چه د نړۍ يا د سړي له پيداوښت نه را په دې خوا تشريح کوي: له نيکه مرغه تکي په تکي دافغانستان يادونه کوي.

افغانستان په لرغونو مهالونو کښې

افغانستان او درې مدنيتونه ( پاکت ، سور ، سکا )

افغانستان او اسلامي غورځنگونه

دصفاري ( سکزي ) غزنوي او اسلامي خوځښتونه

افغانستان او د چنگيز « بلا »

افغانستان او ملي خوځښت

افغانستان او اروپائي « بلا »

# افغانستان د سباوون په‌لور

دافغانستان دتاريخ دا دول تشريح دزدکړې د پاره لاره سموي.

مخکښې ترد‌ې چه‌دغومباحثوته‌لاس وروړو؛ په‌کار دي چه‌دتاريخ مبحث وڅېړل شي. هغه دادی چه تاريخ يو تور اوسپين تصوير دی. تياره‌او رڼا. په تياره برخه کښې‌داسې خبرې راغلي چه‌دنه منلو دي. لکه « د ضحاک په‌اوږو دوه ماران راووتل؛ چه‌خوراک يې‌دسړي دکوپړۍ ماغزه ؤ. د خدای مخلوق په‌عذاب ؤ اوضحاک نړۍ نيولی‌وه، يو ښښ‌خيل ددم ثرمن وڅيرله او بيرغ يې جوړکړ. خلک يې ويارول. ضحاک مړ شو فريدون پادشاه‌شو اوهغه اووه سوه کاله ژوندی ؤ ».

دتوراوسپين دابيلگه يوه نمونه‌يامثال دي چه‌رښتيا او غلط سره يوځای شوي اودضحاک دپادشاهۍ ځای باميان ښودل شوی. څه وخت غور او باميان يوه‌سيمه‌وه اوغور دآهنگرانو ياصنعت مرکز ؤ.

ويل کيږي؛ ښنسب او سور د ضحاک له‌نسله‌دي کوم‌چه د غوريانو غورځنگ پيدا شو او هندته‌لاړل او هلته‌يې ځوپيړۍ پادشاهي وکړه.

ددغه تاريخ لومړی سرتياره‌دی. خوغوری پادشاهان‌وروستۍ پېښې دي او روښانه‌دی. دافغانستان‌لرغونی تاريخ له‌دي تکو جوړدی او دتاريخی ژور وڅيړنو له مخې همدغه پښتانه‌دي چه د (پاکت - سور - ساک) د سيحون اوجيحون مدنيت دسند مدنيت، دهېرمند ياساکستان مدنيت‌ئې. په‌لرغونی افغانستان کښې جوړکړی. پښتانه قبائل وو او نورې قبيلې وروسته له نهمې ميلادي پيړۍ جوتې شوې. عربو د يرځله دېوې سيمی خلک بلې سيمی ته ليږدولی لکه چه په اتلسمه پيړۍ کښې دنادرافشار وخت (۱۷۳۰ - ۱۷٤۰م) افشار، بيات او بختيار قومونه يې افغانستان ته راوستل او غلځيان يې هاخوا بوتلل.

افغانستان کښې پخوا يوازې پاکت، سور، ساک اودهغو اړوند قومونه وو. پښتانه ؤ؛ چه له سغداوفرغانې اودخزر اوکريميا له شا اوخوا تللي اروپائې شوي، ايران کښې ايرانيان شوي، هندکښې هنديان شوي. اوڅه بيرته کابل، پکتيا، لوگر پېښور اوننگرهار او کندهار کښې ځاى په ځاى شوي؛دتمدن په تاريخ کښې راغلي: «سړي چه داويا اتيا کلو شي په ډيرو حقايقو پوه شي او ډير سوالونه ورته پيدا شي چه حل کولاى يې نه شي.که څه هم نړى ډيره پرمخ تللې ده».

دامثال مې ځکه دلته راوړ چه ځوانان دې دتاريخ په څېړلو لاس پورې کړي؛ چه زاړهٔ شي بيا پسې رسيداى نه شي.

دپاملرنې وړ خبره ده چه افغانستان ( د پاکت، سور، ساک) اقتصادي،سياسي موقعيت له مخې شپږ اووهٔ زره کاله دمخه داهميت وړ ؤ اوهغه مهال بيرته راتلونکى نه دى.ځکه دنړى بدلونونه، داسې ښئي. پښتانه بويه په چټکى سره ځانونه چمتو کړي.

دتمدن دتاريخ په ۴۱ مخ کښې داسې راغلي: «دمديترانى دهند داقيانوس «پورتاژ» حوزه دتاريخي اهميت له څنډې ترټولو مخکښې ده.

ددغه پورتاژ په مينځ کښې او جنوب لويديځ آسيا، دکالبو (مالونو) وړل راوړل په دوو برخو کښې سره ځاى په ځاى شوي وو. يو دسورئې په شمال کښې دلويديځ وتلې برخه د فرات رود او د مديترانى په شمال ختيځ کښې ؤ او دوهم يې په نننى افغانستان کښې ؤ چه دهندوکش دغرولړى او د سيحون او جيحون حوزه يې دسند له حوزى سره يو ځاى کوله.( آموآباسين) او په هغه کښې يې لاره کړې وه.

دسورئې شمال دوچې لهلارې اوسيندونو لهلارو له مصر سره لگيدلى ؤ اودسيند له لارې يې دمديترانې څنډو جبل الطارق اوآرام اوقيانوس سره تړل شوى ؤ. او د بوسفور درودانيل سره برابره اروپا سره يو ځاى شوى ؤ او بيرته د سيحون او جيحون سيمو اوهند سره وصل شوى ؤ، افغانستان دخزر ددروازو له لارو له بين

النهرين دسورئي شمال سره متصل شوی ؤ. يعنی دولگا د حوزي کښته برخه بيا سيحون اوجيحون د «روسي د ستپ» برابر له چين سره دبنکيانگ او له هند سره دسليمان دغرونو له لارو.»!

دا دډيرو زړو زمانو نقشه وه چه افغانستان ( پاکت، سور، ساک). باکتر ( بلخ )، سند، هيرمند، سيستان، سياسی او اقتصادی تړون په نړی کښې ؤچه « آرنولډ تاين بي» تشريح کړی او په سمه توگه يې بيان کړی. په طبري کښې راغلي چه ځلور پيغمبران سوريانی اود حضرت رسول الله (ص) له قوله پښتانه هغه لومړنی خلک دی چه خط يې ايجاد کړی او مهال ويش يی ټاکلی دی.

تاريخ دا ډول دی. اوس چه هرڅه دي؛ وي به. مگر دوئ له خپله تاريخه نه دي پوهيدلي. دنوو ځوانانو دادنده ده چه ځان او نور په تاريخ پوه کړی دتاريخ په متن کښې ځکه دا خبره کيږی چه پښتانه له خپلو پلرو پورو ړی دی تاين بی دا خبره کوی چه سومری آريائيان دی او ژبه يې له آري ژبو څخه دی او دا خبره ثابته ده چه سومری خط لومړنی خط دی، سور سوريانی سومري هماغه يو خلک دی آريائيان ټول له يو ه ځايه خوځيدلي چه د « اورسی ستيلپونه» بلل کيږي او دافغانستان له شمال شرق نه راغلي کاشغري اوکاشغري چيني باب کاس - کاسی او غرچه په حقيقت کښې هم غردی. چه د آمو دسيند په جنوبی او شمالی غاړو کښې په لويديځ لور تللي دي.

له دی وروسته به دپښتون، افغانستان اوافغان په برخه کښې ځيني متونونه راواخلو چه اصلي چوکاټ هماغه (پاکت، سور اوسکا ) دی.

ديار هبوط : ويل کيږي چه سړی په جنوب لويديځ آسيا کښې جوت شوی، مسعودي په مروج الذهب کښې وائي ديار هبوط يعنی د انسان دپيدايښت ځای کندهار کښې دی اودغه نوم تر اوسه د « دهراوت» په څير په ارزگان کښې ديوې ولسوالی نوم دی. مسعودي په خاصَ توگه دغه ځای دهبوط بولي. مگر په عام صورت دآسيا جنوبْ لويديځ دی؛ چه افغانستان هم په جنوب لويديځ آسيا کښې دی.

دتمدن دتاريخ په ۶۳ مخ کښې ليکل شوي:« سومريان دکرنې او اوبو د پاره دجله

اوفرات سمي ته راغلي. دغه ډېرلرغوني خلک دي؛ چه خط يې درلود. ليک لوست يې کړی دی. سومريان نژدې عربستان ته ميشته شوي؛ لکه: سومري، اور، اوروک، مګرسومريان له عربستان څخه نه دي راغلي؛ ځکه دهغوئ ژبه هيڅ عربي پيوند نه لري کوم آثارچه اوس په لاس راغلي هغه ښئي؛ چه ډېرلرغوني مدنيت دسومريانو دی.خط او د معابدو معماري يې غوره اسناد دي.

همدغه کتاب ٦٤ مخ: « سومري تمدن يو لرغوني تمدن دی چه تصوير او ليک لري او تراوسه پېژندل شوی. دوئ د زراعتي توليداتو اضافه محصول درلود چه په برابره اندازه يې پرهغو وګړو ويشل چه تولنيزې چارې يې سرته رسولي!».

په ٦٥ مخ کښې لولو: « سومريانو ښاري دولت درلود حکامو ياچارواکو هم دخلکو په خوښيو کښې ګډون کاوه اوله هغوی سره يې څنګ په څنګ دسامان آلاتو دجوړولو په برخه کښې برخه اخسته.»

مونږ په دې ليکنه کښې په ورو ورو داسنادو له مخې خپل مطلوب ته روان يو. او بوډ خبره به له ځانه ياله خپلي ګېډې ونه کړو. خودا به ثابته شي.

دتمدن په تاريخ کښې په زړه پوری مطلب ياد شوی؛ چه دغه مطلب نه يوازې هغه عمومي نظريې په شک کښې راولي. بلکه دافغانستان په تاريخ کښې يو نوی باب دی.

ضروري يادونه: دسند، هيرمند پرغاړو چه کوم ښارونه جوړ شوي په اوسنۍ جغرافيه کښې ورسته له ١٨٧٥م دانګليسانو دلاس وهنې اوښکيلاک له امله يوڅه وړاند ورسته دي.

دتمدن تاريخ ٩٥ په ٩٤ مخونو کښې دغه مطلب ثبت شوی: « داچه دسند دحوزې اودايلام دسيمې ترمينځ درې زره کاله دمخه يومدنيت غځيدلی وی،ثابته نه وه. مګرنن په سيستان کښې دافغانستان او ايران په سرحد کښې داوسني سرحد په سيمه کښې يو ښار موندل شوی؛ چه دهلمند دسيند په وروستۍ برخه کښې دی. مخکښې تر همدې ځه: هيرمند سيند خپل لوری بدل کړی؛ دغه ښار سوئ ښار نوميږی. داسې

ښکاري چه دغه خلک په کرنه او مالدارۍ پوهېدل او فلزات پېژندل او له مسو څخه لوښي او سامان جوړول ، په اوبدلو پوهېدل. رنګ جوړول او ډېرو نورو صنايعو باندې پوهېدل. دافغانستان ترکمنستان په سرحد کښې ئې نښې نښانې شته او د سومراکد له مدنيت سره يې تجارتي اړيکي درلودې. ددغه ښار شته والی ۲۹۰۰ مخکښې ترميلاده اټکل کيږي.

په ترکستان او ايران کښې وروسته ۲۸۷۲ دکولړ سمت انګليسي له حکميت سره دامير شيرعلی خان او اميرعبدالرحمن خان په ۱۸۸۵م مهال کښې افغانی خاوری بيلی شوې چه انګريزانو کړی دي.

له دغو څېړنو څخه څرګنديږي چه د سند ، هيرمند او آمو مدنيت او تمدن دافغانانو ميراث دی او ښائي چه ددريو تمدنو له لرلو سره چه دبين النهرين تمدن هم ددوئ دی. څکه آريائيان او سانسکريټ ژبې دي اود سند د حوزې نښانې هلته ليدل شوي.

داسې دمديترانې غاړوته تللي؛ تر انګلستان پورې رسيدلی او هلته يې سکاټلنډ جوړ کړی؛ دچا چه دلته ساکستان هيواد ؤ.

زما مطلب دادی چه داکرښې وګوری او سمه څېړنه را واخلئ. او خپل تاريخ روښانه کړئ؛ چه ډېر په تيارهٔ کښې پاتې دی.

پښتون دتمدن په تاريخ کښې له پيدايښت نه تراوسه پورې تل مطرح دی. پښتون تاريخ پښتنوته دشيرشاه ، بهلول لودي ، سکندر لودي ، ميرويس نيکه ، احمدشاد بابا په اعتبار ډير روښان ښکاري. مګر پښتنانه دبشر دتکامل په سيرکښې نه دي مطالعه شوي او داکار په نا مستقيمه توګه د تمدن په تاريخ کښې راغلی . کومې هلې ځلې چه پښتنو په تاريخ کښې کړي؛ هغه ډيرې لرغونې دي.

په دې پوهيږو چه په پښتنو کښې نالوستي ډيردي. مګر دهغه په څنګ کښې د پښتنو په لوستی خلکو کښې يو ملي خوځښت راغلی؛ ليکوال ، شاعران فعال هڅويان (فرهنګيان) په ډيره چټکۍ سره مخ په وړاندې درومي.

کله چه زما دملي تاريخ فلسفه او پښتونولۍ رساله چاپ شوه؛ مخالفين له

ښکنځلونه وزګاريدل؛ خو زما اصلي تاريخ همدغه دی چه تاسوېې ګورئ؛ چه ديوځ پښتون يود ځلمي په هانداو همت چاپيږي او دغه پښتون عبدالقيوم مومند دسباوون دخپرونکی مؤسسې چلوونکی دی. خدای تعالی دې هر يو پښتون ځلمی دملي برخې خاوند کړي. آمين.

دتمدن تاريخ «دسومري مدنيت په باب داخبره د تعجب وړبولي چه دکرنې اضافه توليد مې پرنورو فعالو خلکو په مساوی توګه ويشلی؛ له دې چه حاکمه طبقه ترې ګټه واخلي. دمصر دفراعنو مدنيت وروسته له سومري مدنيت دنړۍ مهم مدنيت دی.

زمونږ دپاره دسومراکه اوسند د حوزې اړيکي دااهميت وړدي. لکه چه دسند سومر او مصر تجارتي کړی دود ځايه له افغانستان نه تيريدله.

نن دملي تاريخ دا دول بيان يو نوی صورت دی او دغه ليکونکی غواړي حقيقت له ابرو را وايستل شي. کـوم مطلوب چه هيـرودوټ دکـوروش اوداريوش له جګړو اودکوروش وژل دتولواکـمنې تورمـوروس په لاس دتمدن په تاريخ کـښـې يوځ ايراني ترجمه کړی. دکوروش جګړه په آسيا کښې له يوه ايرانی قوم سره يادوي. دساکستان او اوساکو نوم نه اخلي. تولواکمنه تورموروس خوبيخی نه يادوي. بيـاهم هلتـه چه دافغانستان نوم راځي يله چارده نه لري او هغه يادوي.

دوی وائي: سکائيان ايرانيان او کوشانيان ترک دی. دوئ ولی داسې وائي؟

ددی دپاره چه ورو ورو د پښتون پر تاريخ خاورې واړوي.

تردی ځايه مود افغانستان برخه په زاړه تاريخ کښې وليده. زردښت هم په بلخ کښې زيږيدلی او دپښتون له کهاله ؤ؛ چه د هغه شرح او تفصيل به يو څه راشي.

دملي تاريخ فلسفه به داوی چه راتلونکی دهغی له مخی تنظيم شي. دين، کلتور او هڅوب به کښې څرګند شي. مهمه لادا ده چه هر پښتون ځان د تاريخ به بهيرکښې ووېنې او حمله دمد: برسرد کړي. هاند او هڅه يې د تيراوراتلونکي ترمينځ دوصل کړی دی.

«ټانګ يې» په دې برخه کښې چه لومړنی مدنيت د «سند» دی؛ له جنوب لويديځ

آسيا نه تر بين النهرين پورې تللی او سومری مدنيت يې رامينځ ته کړی ؛ شک نه لري او هغه نه ردوي. اوداً نظر هغه مهال پيدا شي چه د سوئ ښار څرګنديدل په سيستان او د افغانستان او ترکمنستان په سرحد کښې د افغانستان نوي سرحدونه هماغه دي چه د امير شيرعلي خان له دورې ۱۸٦۸م وروسته رامنځ ته شوي.

دسند مدنيت په دې له سومري مدنيته مخکښې دی چه په سومر او مصر کښې دسند دمدنيت نخښې نښانې ليدل کيږي.

دسور اوسومر ياسوريا (دلمر رب النوع) درک تاين بي دپاره هم ګران دی. ځکه هغه دسور، سوريا، سورج، سورلمر په سوررنګ، او پښتو کښې چه سور بيلې بېلې معناوې لري؛ نن هم مروجې دي؛ نه پوهيږي.

ما په لومړي سر کښې دا خبره کړې؛ .مونږ خپل تاريخ پخپله ليکلای شو. سند همدغه اباسين دی؛ چه د پښتنو ترون ورسره دی او بيا ټاکسيلا کوم ښارچه اوس موندل شوی او د تاريخ دمطالعي مخه ئې ګرځولې؛ د حسن ابدال او راولپنډۍ ترمينځ پرو ت دی او له پېښوره ښايي پنځوس کيلومتره واټن ولري. مګر کله چه د سند حوزه ويل کيږي؛ هغه دګندهارا تړوله سيمه نيسي. دګندهار او ننګرهار ترون له همدغه مرکز سره دی.

ننګرهار کابل زابل کندهار

سند

له بلې خوا پنجاب او شمالي هند نه خوځيدلي دي.

**کاسي پښتانه او بابل:** داچه څنګه پښتانه بيل قبايل د پښتون ترسرليک لاندې را ټول شوي؟ همدغه ددوئ نيک مرغي ده. د تاريخي آثارو دتحليل له مخې کاسي ياکاسيت (Kassite).

له همـغـه لوري راغلي؛ چه نور آريائي قـامـونه راغلي او دلويديځ پـه لور وړاندې تللي؛ دوئ ډير پخـواني خلک دي؛ چه تاريخ يادکـړی، د تمدن تاريخ داســې ليکي: کاسي بربريان (۱۷٤۳) کاله دمخه ترميلاد پربابل کښته شوي».

متاني پښتانه او بين النهرين : دمتاني او کاسي په تلفظ کښې څه توپيرنه دی راغلی متاني چه دغلز واصلي نوم دی او فکرکيږي چه د بې بې متو اولاد وي چه متاني با لهٔ شي. دا بسيط فکردی. اوس وګورئ دوئ څه ډول تعريف کيږي . يعنی هم کاسي اومتاني دتمدن تاريخ ۹ . ۱مخ : « کله چه هيکسوسيانو پرمصر او هوريانيان Hurions دختيځ ترکيې (اوسنۍ ترکيه هغه مهال داترکيه نه وه) دپراخو څپو په ترڅ کښې بين النهرين اوسورئې ته راغلل . سانسکريټ ويونکي مهاجمين په ۱۸ پيړۍ مخکښې ترميلاده متاني دولت په بين النهرين کښې جوړ شو او د کاسيانو حاکميت پربابل باندی . د ژبپوهنې شواهد شته او ددغو شواهدو شتون ښئې چه ددوئ تر سا څه دباوۀ چه دوئ دجنوب لويديځ آسيا له شمالي برخو راغلل! ».

« دغـه مـهـال دسند مـدنيت مـوجـود ۀ . دسند دمـدنيت مـهـال ويش او خط دماداوسومراکه په آثاروکښې چه تاريخ يې پخوا تاکل شوی ۀ؛ څرګنددی اودسارګون له دورې وړاندې دی کاسيان اومتاني چه آريايې دي له افغانستان څخه تللي؛ ژبه يې هم له همغه ځانګوده. چه پښتو ورته وايه شي. نو مجهول څه نه پاتی کيږی. په لوی افغانستان کښې چه کوم سکا، ساک، کاسي، متاني، شيرواني، جدون، لودي، دوتاني چه د خزر غاړو کښې وو او کريميا او مديترانې پـوړې، کيدای شي يوه يوه برخه يې پاتې وي . يا بيرته خپلو عزيزانوته راغلي وي.

پښتون، پښتو ژبه اوپښتونولي دلته ساتل شوي؛ چه ډيره لويه نيک مرغي په کښې نغښتې وه که خدای مه کړه دا هم نه وای دلاس تينګولو ځای به نه ۀ پاتې.

دسند حوزه :

جنوب لويديځ آسيا ، هرات ، خزر ، عراق ، سوريه ، ترکيه ، هنګري

ساک ، دوتاني ، شيرواني ، لوري ، کاسي ، متاني

دلته به اوس تاسو يوه ډيره مستنده خبرداولئ. ديښتنو دقومونو شتون په شمالي ايران اوترکيې او سوريې او عراق د مسعودي په مروج الذهب اودهيرودوت په تواريخ

کښې راغلي او راځي چه دتمدن تاریخ په ۱۸۹ مخ کښې د« تاین بي » له قوله څه وائي ؟: « د « اورسي » دکډوالو یرغل یالیږ د شواهد؛ په جنوب لویدیځ آسیا کښې په( اتم او اووم ق م) پیړۍ کښې له یهودي ، یوناني اوهم آشوري منابعو څخه اخستل شوی، هیروډوټ چه خپل اثار ئې په (پنځم ق م ) پیړۍ لیکلي،د هغوئ حضور يې د مازندران دسیند شمال او توري بحیرې په غاړوکښې تایید کړی.

لوي سکندر( ۳۲۵ - ۳۲۷ ق م) په همدغو صفاتو او نومونو دسند په حوزه کښې لیدلی دی ».

له دې عبارته د ورته قومو شتون د سند په حوزه دتورې بحیرې اودمازندران دسیند په شمال کښې تائیدیږي. نو په دې توگه دا سوال حل دی. کاسي، ساک، متاني که هلته وو: دلته يې څه کول؟که دلته وو ؛ هلته يې څه کول؟

همدغه مهاجرین دمازندران او توری بحیریه په دواړو غاړو ترار وپا رسیدلی چه ساکان يې عمده ډله وه.

سکندر دسند په حوزه کښې ډیر دولتونه او قبایل ولیدل چه خپلواک وو ». دا خبره هم دتمدن دتاریخ ۲۷۳ مخ کښې لیکل شوې.

مونږ غواړو دوې خبرې مطرح کړو: لومړی پښتون . دوهم ځمکه ، ځکه په وروستیو کلوکښې دملي هویت کال پیدا شو« افغانستان در پنج قرن اخیر » . هغه کتابڅ چه احمد شاه بابا ته يې « جاه طلب » وویل او پښتانه يې داسې وښودل چه دسلیمان په غرهٔ کښې اوسیدل. څوک ئې بني اسرائیل بولي او څوک يې آریائیان اوڅوک يې دقیس عبدالرشید اولاد. کتاب داهم ویلي چه د شهزاده حسین غوري اومتو ناروا اړیکې پیدا شوې؛ دهغوئ زوي ته ئې غل زی وویل؛ چه غلزی په حقیقتکې غل زی دی.

دغه کتاب پلویان وموندل . ددوئ دلایل په محلي روایاتو بنأ شوي وو. دغه مهال باید پښتانه ځلمیان له شک او ابهام څخه وتلي وای. نوما دغه مدارک عيناً نقل کړل.دنړی له ډیرو مشهور او معتبرو کتابو څخه اودغو اصولوته دوام ورکوم: ۱۷۲ مخ

هماغه کتاب: « له هغه مهال څخه‌چه آریائیان داورسی له‌غونډیو را وخوځیدل او دهند په لوری روان شول؛ دهغوئ لومړی ثابت‌ځای دسند حوزه ده. له جغرافیائي شواهدو څرګندیږی چه ویدا دتألیف په مهال کښې دآریائیانو له‌عادتو څخه ؤ».

بیا لیکي: « سانګریټ ژبه یوه مقدسه ژبه پاتې شوه!».

سـانګریټ هندي ژبه نه‌ده. هلتـه تللې ده. لکه چه نوروځـواؤ ته‌تللې ده. هخامنشیانو چه‌دزردښت دین‌یی ومانه؛ ددوئ د امپراتورۍ د پراختیا یوسبب‌همداؤ چه شاه اوهیـوادو ددغه دین د پاره سوغـاتونه لیږل مګر پرته له دیني تړون څخه شمالي افغانستان دهخامنشیانو په ولقه کښې‌نه ؤ او خپلواک ؤ. سیاسي اړیکې د باکترا او پاکتیسیا ترمینځ ؤ. چه د سند اود سیحون او جیحون حوزه تړې روغه شي.

له‌دې لیکنې هم مطلوب دادی چه ځمکه او خلک وپیژندل شي.

لومړی تیری د یوناني سکندر ؤ. په‌دغه مهال کښې په افغانستان دباکتریانو امپراتوری‌وه‌چه هیرودوټ باکتریان او پاکتیان یوشاني خلک بولي. او تاین بي وائي: « دپارتیا په ختیځ کښې د سیحون اوجیحون په‌حوزه کښې (باکتر – سغد) د هند په شمال غرب کښې یولړ بریاوي ترلاسه شوي».

بیا لیکي: « دلوي سکندر په‌مخه کښې نظامي مقاومت په باکترا او سغد کښې تر نورو ځایو کلک ؤ». (۳۱۷ مخ).

ځینې ایراني لیکوال په‌دې ربړ اختنه دي چه نه شي کولای زړور قوم‌ته ایراني ونه وائي. کله‌داسې لیکي داریوش ایرانی‌ؤ. خودساکانو پادشاه ایدان‌هم ایرانی ؤ. حتی وروستـه‌به‌خبرې پرې وشي چه میرویس بابا او احمدشاه بابا، غوریان، غزنویان‌ټول ایراني بولي. که څوک ورسره ټینګ شي بیا وائي مقصود مو آریائي دی نه ایراني. البته دلته‌یوالتباس شته. مګر په زړو اثارو کښې اریائیان، آریاییان بللی شوي‌، نه‌ایرانیان.

د سوري تمدن دعوی هرڅوک کوي. مګر ویل شوي. « که شپه تیاره ده منې په شمار دي». دسند په‌حوزه کښې چه کوم ښارونه موندل شوي‌، هغه‌ډیرې شکمنې

خبرې دشکه وباسي.

د هندوکش شمال او جنوب باکترا و پاکتیا یو خلک دي؛چه باکتریان کله دسختو یرغلونو سره مخ شوي او دپاکتیا سیمه غرنۍ وه. څوک ورتلای نه شول. د روسانو دمقاومت په دوران کښې هم پرته دخوست اوگردیز له ښارگوټو نوره پکتیایې ونه شوه نیولی. دخوست لاره له هوا نه وه او ځمکنۍ لاره یې نه درلوده.

د آزادو قبایلو سیمې هم داسې دي چه تیري کوونکو ونه شول کولای هلته ورسیږي دلوي افغانستان په مفهوم چه مونږ پوهیږو او په بله ژبه هغه ته دافغانستان حوزه ویلی شو ؛ کوشانیانو یوه کاسه کړه. یووالی یې ورویاښه.

په دې پوهیږو د سومري تمدن دنړۍ لومړئ مدنیت دی چه آثاریې شته. اوس پوهان دغې پریکړې ته په غوځه توگه رسیږي چه ددغه مدنیت دزیږیدو ځای به دسند حوزه وي.

# کوشانیان

کوشانیان له هماغه لوري راغلي چه نورآریائي قومونه راغلي دي.

مخکښې تردې چه دکوشانیانو مبحث ته ورننوزو؛ دوه نورې پیښې دیادولو دي چه یوئې دسکندر راتگ دی او بلهئې د موریا چندراگوپتا رسیدل. کومې ناخوالې چه شوې وې،هغه کوشانیانو روغې کړې. چه غوره یې ملي یووالی دی. دسکندر پاتې کسانو په باکتر کښې دباکتر یوناني گډ مدنیت جوړکړی ؤ اوگوپتا هم رسیدلی چه یوبل ته یې ځمکې او سیمې سپارلې.

افغانستان تل په فتور اوناتار کښې داسې شي چه هره خوایې یوگاند خپل کړي. لکه په اتلسمه میلادي پیړۍ کښې چه بخارا، هند، ایران، شمال جنوب غرب ته راننوتلی وو. خو میرویس نیکه دا وضعه پای ته ورسوله. د افغان بیرغ په ډهلي، اصفهان اوبخارا کښې ورپید.

په ۲۲ بخوا تر میلاده کوشانیانو داکار وکړ چه دپردو لاسونه یې لنډ کړل. د سند حوزه یې د سیحون او جیحون له حوزې سره یوه کړه.

کوشانیان څوک دي؟ دغه سوال ته یو جامع ځواب دتمدن په تاریخ د« تهاین بې» له خوا لیکل شوی؛ چه کټ مټ یې نقل شي.۳۱۹ مخ.

دپارتیانو، ساکانو، کوشانیانو ټول اوټولو اصل او ریښه پوونده کوچیان دي سانسکریټ ویونکي دي؛ چه داورسي لهغونډیو راکښته شوي اوشا اوخوا ځمکو ته تللي او میشته شوي دي.

په‌دوئ کښې کوشانیان خپلواک وو. چه له‌چیني، یوناني، ایراني تمدن سره یې اړه نه‌درلوده او ژبه‌یې بیله وه.».

ورپسې ليکي: « هرمايوس Hermaeus وروستی يوناني پادشاه په افغانستان کښې اودهرمايوس ميرمن کاليوپ Colliope دپارتيـانو او سکائيـانو په لاس ووژل شول. » په دې صورت کښې ديونانيانو جرړې ووتلې. داخبره دويلو ده چه پارت سکا ټول قومونه يوموټی شوي وو.

دغه مهال په نړۍ کښې څلور طاقتونه وو. چه يو يې په افغانستان کښې ؤ او هغه کوشاني امپراتوري وه. بل يې دروم. بل يې دپارت اوبل يې دچين. ددغو څلورو امپراتوريو اړيکې دوستانه وې.

په تيره بيا کوشانيان دښو اړيکو په ساتنې کښې نوميالي ؤ او دکوشان ددوستانو په نامه نور هيوادونه دوئ سره يوځای شوي وو.

دکوشانيـانو دولت په سياسي، اقتصادي اوملي سويه يو بشپړ دولت ؤ. ځکه له روم او چين سره يې دوستانه او تجارتي اړيکې درلودې. دهند هغه برخه چه په کوشاني امپراتورۍ کښې نه وه؛ مگر دکوشان دوستۍ صفت يې درلود.

صنعت، تجارت، رنگ جوړول نقاشي، مجسمه جوړول، دټکرانو اوبدل، شعر او ادب وسله بند پوځ له هره اړخه چه وکتل شي؛ يو افغـاني دولت ؤ. يوازنی توپير ددين موضوع وه؛ چه دکوشاني دولت جوړيدل په ۲۲۰ پخوا ترميلاده؛ يعنی اته سوه کاله د محه ؤ.

« بهوراکنشکا » لوي کنشکا ددغه دولت مشرؤ.

کومه کتيبه چه دکنشکا په سرخ کوتل کښې لاس ته راغلې؛ پوهاند حبيبي هغه په پښتو ټکو لوستې؛ رسم الخط ئې يوناني دی.

تراوسه پورې چه کومې خزانې ترلاسه کيږي. هغه دکوشانيانو دي؛ چه ددوئ شتمني بې پايه شتمني ده.

دامهال (۲۲٤ پخوا ترميلاده) چه څلور امپراتورۍ وې؛ چين، کوشان. پارت او روم څومره نږديوالی چه دپارت اوکوشان ترمينځ ؤ؛ دنورو ترمينځ نه ؤ. (يعنی چين او روم) کوشان او پارت ورته او نژدې ؤ. ژوند کلتور... کښې او دتمدن دتاريخ په

۳۳۷ مخ کښې ليکل شوي:

« دپارت او کوشان ترمينځ ديوځلوي سياسي توارث شتون ليدل کيږي ».ددې خبرې معنی داده چه کوشان او پارت يو خلک دي چه په همدغه مهال کښې دوي امپراتورۍ وې. سکائيانو دهند مهاشترا او نورې سيمی نيولی وې. دغه دوي امپراتورۍ دکوشان او پارت وی او دغه لويه سيمه له جنوبي هند نيولې ترباکتر، سغد او فرغانه ترترکيې پورې. سکاکوشان او پارتيان ؤ،چه ديوې ژبې،نژاد اوکلتور خلک ؤ.

دآزاد خان سليمانخيل خبره ده چه وائي آذربايجان،شيراز،اصفهان له ماسره دی،احمد شاه ډهلي ته رسيدلی ۱۷۶۲م ».

لوي پښتانه لوي فکرونه لري. آزادخان افغان غوښتل افغانستان ايران او هند يو هيواد کړي. دآزاد خان پاتې خلک بيرته افغانستان ته‌راغلل او په‌لغمان کښې ميشته‌شول يعنی همدا چه پښتانه له هلوځلو پاتې دي او توفانونه پرې راغلي بيا خپلو ورونړوته دغرو لمنوته راغلي.

کوشانيانو ترنهمې ميلادي پيړۍ له عربو سره مقاومت وکړ. خو په همدغه پيړۍ کښې يعقوب صفاري خپل يو غليم پسی کابل ته راغی اورتبيل چه دده دښمن ته يې پناه ورکړې وه،مات شورتبيل کوشاني پادشاه يو مدبر زړور پادشاه ؤ .ده دکابلستان سيمه له سنده‌تربلخ اوبست اوکندهار پورې ساتلي وه.

په لسمه ميلادی پيړۍ کښې سبکتگين کابل ته راغی او له هغوئ سره ئې دخپلې واکمنۍ خبرې وکړې.

دسبکتگين د زمانې ټول مسايل روښانه وو. مگر له‌دغه‌مهال اونيتې وروسته ورو ورو دکوشانيانو نوم ورک شو، او دا خبره روښانول په کاردي چه کوشانيان څه شول؟ کوم تاريخي سند نشته؛ چه کوشانيان يو مخ له مينځه تللي وي.

په افغانستان کښې مخکښې له‌کمونستي کودتا ديونسکو په‌مرسته دکوشانيانو دڅيړنې مرکز جوړشو . دوئ دبودائي آثارو څيړنه کوله. مگرداسې يوه ښکاره

ځيږنه ونه‌شوه ؛ چه دځو کتابو اتلسونو په ځير تولنې ته ورکول شوي واى اوداکار به هم بلې دورې ته پاتې وي.

## دکوشاني دولت غوره خصوصيات :

پـــــه تاريخ کښې راغلي چه يوه کوشاني امپراتوري وه اوبل هغه هيوادونه‌دي چه دکوشان‌دوستانو په نامهٔ ياديدل. کوم‌چه په ننني سياسي‌اصطلاح کښې هغه‌ته اقمار وائي شمالي هندله بلخ ياباکتر سره يوه ځمکه وه. د سيحون اوجيحون حوزه اوهلتـه‌له‌چين سره لگيـده‌او بلې‌خوا دايران شمالي برخه وه. دکوشاني امپراتورۍ مرکز کندهارۀ چه دسند مالونه به‌پارت‌اوله هغه ځايه روم‌ته‌تلل.

کوشانيـان‌په دننه او بهرد ښومناسباتو او اړيکوخاوندان وو. لکه جنوبي هنداو «پارتيا» چه هغه هم‌يوه‌امپراتوري چه کلتوري اونور خصوصيات يې کوشانيانوته ورته وو. «تاين بي» وائي چه لوي سياسي او تاريخي توارث لري. اوددوئ لړۍ له ٢٢٢ مخکښې لـه ميـلاده پيل شوي او ٩٠٠ مـيلادي پورې‌او ترزرمې مـيلادي پورې په‌خپل نامهٔ يعنې کوشانيان شتهٔ. يعنې يوولس پيړۍ‌دوام ئې درلود.

دتاريخ فلسفه په‌دې کښې‌ده؛ چه څنگه له‌کوشانيانو څخه دوه زره کاله وروسته (٢٢٢ق.م ١٧٤٧م) احمدشاه‌بابا سردله‌ټولو خصوصيـاتو هماغه ډول يوه امپراتوري بيا راژوندۍ کوي؟ که خصوصيات وڅيړل شي دملي تاريخ فلسفه ځرگنديږي.

کوشانيانو يوناني رسم الخط ليکلي؛ چه همدغه لاتين رسم‌الخط دى او يوناني ژبه‌اوسانکريټ دواړه بې ويل.

داحمدشاه بابا په امپراتورۍ کښې پښتو ويل‌کيده. مگر دفتري ژبه فارسي وه. اوس څه توپيرونه شته دى. مگر عمومي کړهٔ يوشاني بريښي.

دتمدن تاريخ ٣٣٤ مخ: «تگ او راتگ داوبو له‌لارې ديونان، مصراوهند ترمينځ ترلومړۍ‌ميلادي پيړۍ پورې ښه په لوړه کښې ؤ. داسې چه دهند په شمال لويديځ کښې کوشانيانو دغه سيمه له سياسي نظره له باکترسره يوموټې کړې وه.

او د تجارت د پاره بشپړ امنیت ؤ. له یونان څخه دعربستان په لور د اوبو بیړی سند ته رسیدلي او همداسې له شرقي هندڅخه د بنګال خلیج سیام او چین ته تللي ».

کوشاني امپراتوری بډایه، پرمختللې، یوموټی وه . له ګاونډیانو سره ښه سلوک او هغوئ ته په خپل سیاسي او اقتصادي غیرکښې ځای ورکول دکوشان دوستۍ په نامه یادیدهٔ.

کله چه دډیرو خصوصیاتو له مخې څیړنه وشي سکا، پارت اوکوشان چه یوخلک وو او په اقتدار اوواکمنی باندې وو. د هند، افغانستان او ایران سیمه یې نیولې وه. په ۱۷٦۲م کښې په شا اوخواکښې آزاد خان افغان په ایران کښې همدا اعلان وکړ چه دی غواړي هند، افغانستان او ایران یو هیواد کړي. دغه مهال آزاد خان اصفهان او شیراز نیولی ؤ. آذربایجان پورې ددهٔ په لاس کښې او احمد شاه بابا ډهلي ته رسیدلی ؤ.

دکتور ګنډاسنګه وائي کله چه آزاد خان افغان مړ شو؛ احمدشاه بابا هم خواشینی ؤ او هم راضي. ځکه له یوې خوا یو توریالی افغان مړ شو؛ له بلې خوا آزاد خان احمدشاه بابا سره په ملي سطحه یولړ خبرې درلودې. چه احمد شاه بابا دهغه له دغوغوښتنو سره د قوم مشورې ته سترګې په لارې ؤ.

# هيتاليان-يفتليان

څرنگه چه دافغانستان له شمال ختيځ څخه مو دډيرو آريائي قومونو راتگ وليدهٔ دالړی تر پنځمې ميلادي پورې روانه وه. د ٤٢٥م په شا اوخوا کښې يوه بله ځپه سپين ټولگی آريائيان راغلل؛ چه روميانو افتهاليت وبلل.

تاريخ پوهانددغوانساني ځپو علت دښوځمکو نشتوالی گڼي. چه د ښوځمکو په هڅه روانيږي. ديفتليانونه وروسته بيا د اورسي له غونډيو داسې ځپه نه ده راغلې.

پوهاند حبيبي يفتل هبتل ابدل بولي؛ چه په پای کښې ابدالي شوي دي.

دوئ بوځل بيا له لويديځ گاوندسره په جگړه اخته شول؛ چه ساسانيان وو. خو جگړه وروسته له بوې ماتې بفتليانو وگټله او ساسانيانو ومنله؛ چه دافغانستان يفتلي دولت ته به کالنی خراج ورکوي.

دطبري تاريخ په دې باب يوښه مطلوب بيان کړی. ( ٦٢٨ مخ) .

فيروز ساساني پادشاه د تخارستان په لوري وخوځيد؛ چه هلته دهياطلهؤ( يفتليانو ) پادشاهي وه. ديفتليانو پادشاه «اخشنوار» نوميدهٔ. په لومړي سرکښې يې د فيروز دپادشاهئ ملاتړ کړیؤ. د پيروز پريفتليانو ونه لوريده چه دتخارستان پادشاهي ولري.نوخپلو څلورو زامنو اوڅلورو ورونو سره دجگړې دپاره ورغلل. دوئ ټولو دپادشاه لقب درلود. په دغې جگړې کښې د فيروز څلور زامن اوڅلور ورونه اودی پخپله ټول ووژل شول . هياطله پرټول خراسان حاکمان شول او په دې جگړې کښې د ساسانيانو ډير مال، سرې اوڅاروي ديفتليانو لاس ته ورغلل . په دې مطلوب پسې طبري په ٦٣١ مخ کښې نوری په زړهٔ پورې څرگندونې لري.

«فيروز د «خشنوار» سيمې ته ورغی. «خشنوار» دخپل او فيروز دهيواد ترمينځ نخښې درولې وې او لوی خندقونه يې کنښتي وو. فيروز چه هلته ورسيد؛ پلونه يې

جوړ کړل او بيرغونه يې ودرول. څو په نخښه وي او دبيرته تگ ياماتې په صورت کښې لاره ورکه نه کړي.

کله چه فيروز داخشنوار پوځي تانې ته ورسيد؛ اخشنوار پيروز ته دده لیک اودتړون متن وښوده او ورته وئې ويل: چه خپله خبره مه ماتوه. فيروزونه منله . اوږدې خبرې بې ترمينځ وشوې. په پای کښې جگړه پیل شوه. اخشنوار له داسې سياست څخه کارواخيست چه دفيروز عسکر بايد دده يعنی فيروز په بدعهدۍ پوه شي اوداسې هم وشول. دفيروز عسکر سست وو اواخشنوار دفيروز ليک پرنيزه پورته کړاو وئې ويل: « خدایه دغه مکتوب ته عملي کړه . په دې مهال کښې فيروز مات شو. دبيرغونښې اولارې بې هيرې شوې. خندق ته ولويد. دفيروز کورنۍ ښځې، مالونه هرڅه « اخشنوار » ته پاتې شول.

دپارسيانو لښکرو داسې ماته وخوړه؛ چه تر دغه مهاله يې نه وه ليدلې . دټولواک اخشنوار يوه خبره دطبري له قوله .

« خدای تعالی ظلم نه خوښوي، او ظالمان سمې لارې ته نه راولي. دظالم پادشاه په هيواد کښې عدل او انصاف دظلم له لارې سرته رسيږي ».

که دپښتنو دتاريخي لړۍ کړۀ وړۀ په ځيروکتل شي؛ يوه روحيه او يوه فلسفه په کښې ليدل کيږي. که دسکانيانو له زمانې که دسوريانيانو له مهاله بيا په اسلامي دوره کښې .

همدا ډول دملي تاريخ فلسفه بللی شي.دا به تصادفي خبره نه وي . درې زره کاله وړاندې او وروسته يوشانې چاروشي.

له اخشنوار وروسته توره مانا TURMANA پادشاه شو . دی هم يوهوښيار سړی ؤ دهند په لورې يې مخه کړه او سيالکوټ يې خپله پلازمينه کړه . په داسې حال کښې چه ساساني پادشاهانو ده ته باج ورکاوه. لکه « پلاش » « کوذر » او نور.

اټکل کيږي چه توره مينه په ٥٠٢ م کښې مړ شوی وي. وروسته دده « ميهره

کوله» چه دپوهاند حبیبي له وينا سره سم «میهره کوله دلرله کاله» معنی لري اوپښتو کلمه ده. میرکوله ته زابلی میهره کوله وائي. دوئ بودائې دین نه خوښاوهٔ او داورستایوال وو. په دغه لیکنه کښې چه پښتانه قومونه له لرغونو زمانو کتل شوي؛ هغه داسنادو اومدارکو له مخې وو او پرته له سندو خبره کول گران وي.

مسعودي دسند رود ته مهران رود هم وايي (لمر، نمر، میهر، مهر) دهغه ترمخه مو «سور» «سورج» چه سین هم په لمر« سور ختیځ» لمرخاته سره څه اړیکې لري؛په پښتو کښې سورلمر اوژیر لمر دسهار او مازیگر لمر ته وائي.

دمازیگر ژیړیه لمره په روغو وایه د رنځورو سلامونه

لکه چه «میهره کولا» پادشاه دلمرزی معنی لري. افغانستان مرکزدی. که اریائیان هندیا ایران ته تللي. یعنی له افغانستان څخه تللي هغه هم داسی نه چه یوازې اوښتي وي. دوئ دلته اوسیدلي دي.

پوهاند حبیبي چه یفتلیان یپتلیان، اپتل، اتل، ابدل، ابدالیان، بللي؛ دکوشانیانو په باب بې څه نه دي ویلي.

کوشانیان په اول کښې کډوال وو. کیدای شي چه دکوش بل تلفظ کوچ وي کوشانیان، کوچیانیان وې او بیرته کډوال شوي وي اونوې پښې ځانگې او قومونه یې موندلي وي او په ډله یزه توگه هماغه کوچیان وي.

کوشانیان او یفتلیان نه یوازې دا چه د افغانستان اوسیدونکي دي. دافغانستان تاریخ په دوئ پورې تړلی. او مخکښې تراسلام ئې لوئې امپراتورۍ جوړې کړې وې.

دهغوئ کتیبې په افغانستان کښې موندل شوې اولوستل شوې دي. دوئ یوناني رسم الخط او ژبه له محلي ژبې سره یوځای ویله اولیکله.

زمونږ دتاریخ دغه برخه ډیر اهمیت لري. چه دغه دولتونه ډیر مدني وو. کومې څیزې چه د کوشاني او یفتلي موندل شوي؛ سکې باندې لیدل کیږي؛ هغه دهغه جامې اوگاڼې ښئي. ددوئ مخونه چه هم یو شمیر یې ږیرې لري اوخریلې ږیرې هم

ډيردي. دوی هرڅـه درلودل. لکه له فلزونوڅې ډير شيـان جوړول. رنګ، ټکر، دارو درمل،فـرشونه لکه لمڅي، ګليم، قـالين او داسې ختې درلـودل چه پاخه لوښي ترې جوړيدل. مجسمه جوړلو او نقاشۍ کښې ماهران وو.

دکوشانيانو او يفتليانو سکې په فن او تخصص برابرې دي. کومې څيړې چه ايستلې شوي چه د پادشاهانو په نزد دعکاسۍ په سويه حساسې دي.

ماهم دسکو يود زيرمه درلوده چه په هغه کښې کوشاني سکه په تيره بيا د سترکنشکا سکه ديمتريوس او نورۀ. زمونږ ترزمانو داسې سکې بازاروکښې ميندل کيدې. اوس په تاراج بازارو کښې موندل کيږي. ( دپېښور او پاکستان بازارونه) اودپېښور له سېسودغه زيرمې په بې رحمۍ ايستل کيږي چه دهمدغو کوشانيانو دزماني زيرمې دي.

دګرديزي او نورو تاريخو له مخې يفتليان په اسلامي دوره کښې له عربو سره په شمال کښې مخ کيدل او په جنوب کښې کوشانيان وو.

د ساسانيانو په نوله دوره کښې دهياطله او ددوی جګړې دوام درلود تخارستان او سغد کښې يې جګړې شوې: خو ساسانيانو برۍ ترلاسه نه کړ. سرحدونه يې ونيول «هرمز» ساساني په دې جنجال اخته ؤ.

دانوشروان په مهال مناسبات ښه ؤ . دګرديزي له وينا څرګنديږي چه د هياطله، چين اود روم اړيکې دکوشانيانو ددورې په څير ښې وې. څکه انوشيروان د يفتليانو پادشاه دچين فغفور او روم کسرا باقيصر ته مبارکي ورکړه.

دحضرت عثمان (رض) په خلافت کښې عبدالله بن عامر دخراسان والي وټاکل شو.

عبدالله عامر حاتم بن النعمان الباهلي څلور زره عرب او زر عجم ديفتليانو جګړې ته ولېږل. په دغو جګړو کښې دعربو يوڅي مشر احنف په سرتيپي شو.

عبدالله بن عامر دهرات له «دهقان» (چه هغه مهال يې دهقان مشرته وايه) سوله وکړه (٣١ هـ کال).

ربيع بن الحارث په مروکښې له يفتليانو سره په جگړه اخته شو او همالته په شهادت ورسيد.

دگرديزي په ٥٥٤مخ کښې يو عجيب مطلب راغلی:

« اماد يغمائيانو حال داؤ؛ څرنگه چه د ترک خاقان وليدل ؛ غلځيان ( خلځيان ) ډير شول او برى يې ومونداو د تخارستان له هياطله سره جرگه شوي او په خپلو کښې يې ودونه وکړل. دهٔ د ترکستان کمزوري وليدهٔ او له خپلې پادشاهئ وډار شو؛ چه رنگه نه شي . دخلځيانو مشر« شيرپرور »ؤ.

ددې خبرې رونول ضروري دي چه دافغانستان دتاريخ زياتره برخې ډيرې تت پاتې دي. ايرانيانو دهخامنشيانو او ساسانيانو شاهان دفردوسي له شهنامې اونورو مآخذرا اخستي او هغه يې ښودلي . په داسې حال کښې چه دسوريانيانو، سکائيانو يفتليانو کوشانيانو دپادشاهانو، نومونه ذکر شوي؛ خوچا پرې خبرې نه دي کړې.

له بلې خوا ډير افغانان او پښتانه اتلان دي چه هغوئ يې په خپل تاريخ کښې يادوي ددې لړی موندل او دهغه کړی گول؛ راتلونکي کول ته پاتې دي.

زمونږ اتلان رون او تت تاريخ دواړه پيژندل غواړي .کليفورډ بارسورث وائي چه گرشاشپ، ضحاک اورستم دافغانستان دي. مونږ نن په پښتنو قومونو کښې ابدالي او غلځي پيژنو. پرونی تاريخ د کوشاني او يفتلي دی چه کوشانيان غلځي قومونه دي او يفتليان ابدالي.

کوم مطلوب چه دگرديزي ٥٥٤مخ نه واخستل شو؛هلته ليدل کيږي چه د ترک خاقان وليدل؛غلځيان له ابداليانو سره جرگه شول او خپلو کښې يې روغه او ودونه وکړل.

دواړه پښتانه وو چه ودونه يې وکړل نورهم يو شول . دغه راز د سيستان تاريخ وائي چه يعقوب صفار چه دکابلشاه رتبيل يې مات کړ ؛ په لاره يې دترک اوخلج ښاروی اومالونه واخستل. څکه کابلشاهان کوشاني ؤ . د ترهٔ کي علځي ملاتړ ورسره ؤ؛ چه يعقوب صفار دهغوئ ښاروي او مالونه واخستل. مونږ نن په پښتنو قومونوکښې ابدالي او غلځي پيژنو . پرونی تاريخ کوشاني يفتلي دی: چه کوشانيان

غلځي قومونه دي او يفتليان ابدالي .

هغه هم سکزيؤ. مگردغه مهال سيستان په اسلام مشرفؤ او هغوئ نه ؤ. پوهاند حبيبي ديفتليانو دامپراتورئ په برخه کښې وائي چه ديفتليانو يوشمير زابل ته لاړل او په کتبو کښې ئې زابلي يپتلي چاپوله . هپتالي ليکل شوي وي.

زاولي هم ويل کيږي. مسعودي دزابلستان پادشاه فيروز بن کبک يادوي.چه يوه ډيره لوړه مانۍ ئې درلوده او سيلانيان د هغې د ننداري د پاره راتلل . دافغانستان چه د زرهاؤ کلورا په دې خوا له پارسيانو سره په جگړې کښې دی؛ لکه دسکائيانوجگړې له هخامنشيانو سره ؛ ديفتليانو له ساسانيانو سره؛ دهوتکو له صفويانو سره ؛ په نونسمي پيړۍ کښې دهرات له فتحعلي شاه قاجار سره. په تاريخ کښې دايران په مخه کښې افغانان ولاړ دي.

## دملي تاريخ ترېښت

## لويه خدايه لويه خدايه ستا په مينه په هرځايه!

شپې ورځې اوړي. تومن[1] رنگ، په داپيركښې خپل دپردي په ځير شول.

يوه ليكوال د افغانستان در پنج قرن اخير، په كتاب كښې وليكل چه « پښتانه دسليمان له غره راووتل. شا او خوا ځمكې يې ونيولې. په تاريخ كښې مطرح شول! ».

دپښتنو دجررو په برخه كښې يې دري نظره ويلي دي: افغان (!) ليكوال وائي آريائيان دي، ځينې وايي بني اسرائيل دي او دريم دقيس عبدالرشيد اولاد.

كله چه ماد كتابو په مرسته داخبرې وڅيړلې؛ ځرگنده شوه چه دپښتنو او افغانستان دنامهٔ په برخه كښې ليكوال په ناسمو لاروتللي وُ .

داپېره پردوئ نه اچوم. ځكه لازم آثار بې نه دي ليدلي، دمأموريت په څنگ كښې څېړنه هم نه كيږي. د څيړنې ضرورت هم دومره نهٔ ؛ لكه چه اوس ليدل كيږي. دا په دې چه دهويت بحران راغى.( ۱۳۷۱ هـ . ل ۱۹۹۲م) .

پرته له معلوماتو بې په عصبي توگه ډول ډول خبرې وكړې. دا چه دافغانستان نوم خراسان وُ؛ حال داچه هيڅكله نهٔ. زموږ مؤرخينو هم داغلطي كړې.كله چه ماددوئ مأخذونه وليدل؛ دوئ ته سم كتابونه په لاس نه وُ راغلي. نو ما دافغان ملي تاريخ ترنامهٔ لاندې ديوهٔ كتاب دليكلو په چارلاس پورې كړ. هغه هم ډير وځنډيد. ځكه كله چه به ما يوڅه وليكل؛ بيا به يوكتاب په لاس راغى چه په هغه كښې به تر هغه ښه او په زړهٔ پورې معلومات وُ؛ نو هغه به مې وليكل .

---

۱- تومن : وطن : چه په درست تومن او ښاردى = تن هم هغه زما ياردى «خوشحال ختيک»

په پای کښې مې د کارکتـابونه ومـوندل او زړه پاڼه یم چه تردغـه مهـال به همدغـه بشپړوي. مگر د تل د پاره نه. ځکه کښندنې څيړنې او ترجمې روانې دي.

نورڅه به وموندل شي. بیا دبل نسل کار دی چه دڅیړنې کار پرمخ بوزي زما اعتراض پرتپولو دی؛ که په پېښورکښې وو او که په کابل کښې او که په کوټه کښې.

دپښتون، پښتو ژبې او پښتونولۍ په برخه کښې کار ډیر نه دی شوی. داڅرگنده خبره ده چه پرغلونه او تیري ډیر ؤ.

داسې ډیر پیش شوي چه پښتنو پادشاهۍ جوړې کړي؛ خو ددې پرځای چه پښتو وروزي: پارسوئې روزلې. پــــه داسې حال کښې چه له یوه پښتنې مرکز څخه اداره روانه وه.

وائي ژبه د تفاهم وسیله ده. پښتو او پارسي توپیر نه لري. تریوه مهاله همداسې وه چه پارسي له ډهلې نیولې تر استانبول پورې چلیدله. مگر ترکانو، عربو، هندیانو دهغه لمنه ټوله کړه. ترکي، عربي، هندي یې غوره کړه. ایران پارسي رسمي ژبه کړه. تاجکستان هم پیدا شو، نه یوازې په تاریخ کښې مغلو پارسۍ ته ډیرکار وکړ؛ ایران هم د رسمي او ملي ژبې په نامه لگیادی کار کوي.

پښتو ژبه تر اوسه په افغانستان کښې هم رسمي ژبه نه ده اعلان شوې. په کال ۱۳۷۱ هـ. ش کښې د رباني مسعود له راتگ سره یې هلته هم لمن په بشپړه توگه ټوله شوه. نو چه دومره خپلچاري شوه. پښتانه باید یوځل پرخپلو ټولو حالاتو نوی نظر وکړي.

دافغانستان په شاهي اساسي قانون کښې پښتو اوفارسي رسمي ژبې وې او په ۳۵ ماده کښې ویل شوي ؤ: «دولت مکلف دی د ملي ژبې پښتو د تعمیم او پراختیا دپاره مؤثر پروگرام وضع او تطبیق کړي!».

په عمل کښې هرڅه «فارسي» ؤ. په مطبوعاتو کښې پښتو وه خو ترنیمائي خولا پریږده چه به اوړو کښې مالگه هم نه وه. دابحث مې له دې کبله را واخیست چه پښتو هیڅ ري رسمي او ملي ژبه نه شوه. نو چه داسې وي، په لویه پیمانه کار ورته

نه کیږي. په دادومره امپراتوريو کښې پښتو رسمي نه شوه او همدا وجه ده چه پښتو نسخې نشته او که شته نو وروستيو پېړيو کښې دي، په پټه خزانه کښې هم خبرې پيدا شوې، چه دهغې له مخې پښتو اتمې ميلادي پېړۍ ته رسيدله.

په پای کښې دامیدجريدې ۱۱۲ ګڼې په ۱۹۹۶م کښې دامیرکروړ لومړنی پښتون شاعر حماسي شعر په مسخرو وليکه. هغه هم يوځ استاد چه سمندرغورياني نوميدځ بل استاد دپوهاند دکتور جاويد په نامۀوويل: « غوري سلاطين تاجک او دري ژبې ؤ! » ۲۲۵ اميدجريده.

نو په داسې حالاتو کښې غورد او ژور معلومات دپښتنو په باب راټول شول او هيوادوالوته ورکړل شول.

افغانستان چه وروسته په کال (۱۷٤۷م) کښې بيا جوړ شو؛ دايو نوی شکل ؤ؛ چه ټول قومونه دهرې ژبې، نسل، دين او کلتور افغان بلل کيدل. کله چه احمد شاه بابا پادشاه ؤ: مسلمانان، هندوان، مسيحيان، زردشتيان، يهودان ټول دافغان تربيرغ لاندې و دريدل. پښتانه تاجک، ازبک، ترکمن، بلوڅان، شيعه، سني، اسماعيليه پرته له توپيره افغانان وو. ترهغه د مخې يوازې د پښتنو سيموته افغانستان ويل کيدځ.

تراحمدشاه بابا وروسته وضع بدله شوه. تيمورشاه له پښتنو ليرې ګرځيدځ. نه يوازې پايتخت له کندهارد کابل ته راغی؛ بلکه زياتره يې په غير پښتنو ويسا کوله. چه په همغه مهال کښې سردار جهان خان ده ته وليکل او څپله غاړه يې پرې حلاصه کړه.

دشاه زمان دهند په لورې پاملرنه ډيره وه. چه انګليسان له هغه ځمکې وشېرې.

شاه محمود او وزير فتح خان ايران ته نژدې شول. انګريزانو هم د شاه زمان دوهلو دپاره ايران سره يو ځای کيدل غوره وګڼل. جګړې ډيرې شوې. محمدزائي پادشاهانو داحمد شاه بابا قوانين ورو، ورو له مينځه وايستل.

دمثال په توګه له هندوانو، يهودانو جزيه اخستل،هندوې ژيرې برقعې په سرکولې. او يهوديو تورې. مسيحيان ورو، ورو ووتل. خبره فاميلي اوشخصي ګټيو ته ورسيده.

امـان اللهخـان او ظاهرخـان بيـا هم تريوځ حـده د ملت پالنې لاره نيـولې وه .
كمونستانو د (١٣٥٧- ١٣٧١) مليت‌هاى برادر وبرابر په نامه پښتانه ، تاجک ازبک هزاره ، اسماعليه بيل كړل . له هريوځ يې مليشې جوړې كړې.

چه‌په‌پاى كښې اقليتونـه سره يو ځاى شول . ( دمليشواوتنظيمو په‌سطح ) ئې په كال ( ١٣٧١ هـ . ل ) كښې كابل ونيو.

دغه‌مهال يو نوى عصرپيل شو. په ميځنۍ آسيا كښې دتاجكستان ، ازبكستان او تركمنستان جمهوريتونه موږ سره گاونډيان شول.

زموږ تاجک ، ازبک او تركمن نه غواړي له افغانستان‌څخه بيل‌شي. هغوئ وايي هروخت‌چه‌وي دغه ځايونه‌بيا روسان نيسي او له بلې خوا ددوئ دوستۍ خپلوۍ، مړى ژوندى دلته‌دي.

كومې خبرې چه په دغې ليكنې كښې راغي، هغه ټولې له‌معتبرو آثارو اخستل شوې‌چه مآخذ به‌په متن كښې ياد شي.

هيله من يم چه‌پښتانه و دغو خبروته پام وكړي او په سطحي نظر هغه ته‌ونه‌گوري.

پښتانه په‌داسې حال كښې‌چه نژدې سره پراته دي. په‌خوا كښې لکه پخوا لوى طاقت نه‌لري؛ نو ډيره ښه موقع ده‌چه‌خانونه سره‌راټول كړي. لومړى دې يو آباد او خپلواک هيـواد جوړكړي. بيادې ځانگړي او ټولنيز اقتصادته پاملرنه وكړي؛ چه پرپښتونولۍ ولاړ وي .

الٰهي دخپل حبيب لـه بركته داساده انشاء رنگينه د رحمان كړې!

# تواريخ[1] او پښتون

داسې برېښي چه دعقلمند سړيو، له تاريخ سره دپښتنو تاريخ پيل شوی او دغه اټکلونه چه پنځه زره کاله د مخه وو؛ يا بلخ بخدي، پکهت ويما پادشاه وي داسې نخښې نښانې شته؛ چه دوئ به تردې لا هم پخواني وګړي وي.

په وروستيو کرښو کښې به پوره خبرې پرې وکړو.

کـه دپښتــون نوم نه وي راغلی نودپښتـنواړوند قـومـونو، نوم ډير راغلی دی. هيـروډوټ (٤٩٠ - ٤٣٥) مخکښې ترميلاده لومړنی مؤرخ دی چه په سيمه کښې ګرځيدلی؛ خلکو سره يې خبرې کړې او څه ئې هم د روايا تو په توګه ليکلي دي. په خپل تواريخ کښې د پښتون نوم دقوم - دوطن او کلتور په بڼو کښې يادوي:

الف : پاکتيسي Pactycy پاکتي سړی ( پکتيکي ) .

ب : پاکتيسيا Pactycia دپاکت ځمکه چه همدغه کلمه پکتيکا هم لوستل کيږي .

ج : پاکتي ، شی ، متاع دپاکت Pacty

کومه په زړهٔ پورې خبره چه هيروډوټ ليکي هغه داده چه : « دپاکتيـسيا خلک اوباکتر يا (بلخ) خلک يوشان دي! » په خوي،خصلت او صورت کښې. يعنی له باکتر څخه هلته. يعنی جنوب او ختيځ اوجنوب لويديځ خواته تللي دي. بيا تر هندوستان پورې پراته دي. ياکيداى شي چه له پاکتيکيا څخه باکتريا ته تللي دي. پاملرنه وکړئ لومړني مثال ته د هيروډوټ له تاريخ څخه .

« دهند په وروستۍ برخه کښې دپارس له ځمکې ليرې په جنوب کښې هغه ځای چه هيڅکله پارس نه دی نيولی؛ په شمال کښې دکاسياتيريانو اوپاکتيسيا سيمه ده.

---

١- دهيروډوټس تاريخ په جمع تواريخ يادشوی The Histories

هلته يو قوم اوسيږي چه دباکتر خلکوته ورته دی. جګړ مارخلک دي» دهيروډوټس د تاريخ ۲۲٦ مخ.

پاکتيسيا په لاتين کښې داسې ليکل کيږي Pactycia چه پکتيکيا لوستل کيږي همدغه تلفظ چه اوس هم موجود دی؛ پښتونخوا هم همدغه کلمه ده.

داوستا او ويدامذهبي کتابونه دقيق مهال کښې نه دي ليکل شوي؛ چه هلته هم ديکت او قومونو نوم راغلي؛ مګر دهيروډوټ د ژوند مهال څرګند دی او کتاب يې هم تاريخ او هم جغرافيه ده.

دهيـروډوټ کـتـاب ۳۷٦ مخ کـښـې راغـلي: « ارتيـانيـان مـشي يان دارسـاس ترمشرۍ لاندې لکه پاکتيانو دڅرمنې کرتۍ اغوستي؛ ليندې، غشي او خنجرونه يې درلودل!».

په دغه مثال کښې دپښتنو لباس او وسله ښودل شوې.

داچه دسند حوزه دپښتنو سيمه ده؛ په دې کښې هيروډوټس مرسته کوي او داسې وائي: «داريوش غـوښـتل چه په دې پوه شي د سندرود چيـرته پـه سـمندر کـښـې توئيږي؟

ددې خبرې د څرګندولو دپاره يوه ډله خلک چه پر هغو يې ويسادرلوده؛ دغه سيند (سند) ته ئې ولېږل. ددغې ډلې مشرانو کار ياندی د سکولاکس په نامه ؤ.

له کاسياتيروس څخه پاکتي سياته لاړل. دوئ له ختيځ خوا څخه لويديځ خواته لاړل. وروسته له ديرشو مياشتو هغه مقصد ته ورسيدل چه فرعون فنيقيان ليږلي وو».

ترهغه وختهچه دهيروډوټ کتاب نهؤ ليدل شوی؛ له هغه ډير لږ معلومات اخستل شوی ؤ. په هغه کښې يو ليکوال چه علي رضوي نوميدئ او دافغانستان دتاريخ دټولنې غړیؤ؛ د خراسان په مجله کښـې يې ليکلي ؤ: «داهم معلومه نه ده چه دهيـروډوټ پکتـويس مطلب همـدغـه پښتـانه وي.» اوس وګـورئ چه په تـاريخ او جغرافيه دواړو کښې ثابته شوه چه پښتانه همدغه خلک دي. يوازی د ( «ک» او

«ښ») فرق دی. پکتانه یاپښتـانه پاکتیکیا چه هیرودوټ ذکر یاد کړي، ددوئ کلتور، ځمکه او نور خویونه باکتر، بلخ، پاکت، پاکتي پاکتیلی، پاکتیکیا؛ چه همدغه کلمې داسې هم لوستل کیږي. پاکتیسي، پاکتیس، پاکتیسیا په یوناني ژبه کښې څه تغیر راځي. بیا هم دومره توپیر نه لري. دا د ښتنو یوه خوا او پیژندنه وه

بیا له دې نه ځانګې پیدا شوې. قبیلې دي. دغه پښتانه اړوند قبایل په لرغوني تاریخ کښې دومره لوئې کار نامې لري؛ چه زه له خپله ژونده دغه خوشحالی لرم چه په دغو حقایقو پوه شوم او هغه مې ولیکل.

ACKU

# سور، سرياني ، آشور

په دغې ليکنې کښې چماله ډيرو کتابو کتـه اخستې ؛ خو ښنستې په دريو معتبرو کتابوچه په دريو زمانوکښې ليکل شوي؛ ولاړ دي. کولای شم چه د مأخذ و فهرست ډير اوږد کړم. خو دا کارنه کوم. ځکه تگ تکی (هدف) دپښتنو تاريخ روښانول دي. نه دخپلې څيړنې ښيگړه ښودل. ما په فهرستو کښې ليدلي چه دبې ربطه کتابونو، نوم هم اخلي.

لومړی کتاب : دوه نيم زره کاله دمخه ليکل شوی( يو څوکاله کم) ۴۹۰ ق م.

دوهم کتاب : يو زرو اويا کاله دمخه ليکل شوی.يعنی ۳۳۲ هـ

دريم کتاب : دوه ويشت کاله دمخه (۱۹۷۳م).

دخوشحالۍ خبره ده چه دغه درې کتابونه چه په بيلو ځايو اومهالونو کښې ليکل شوي مطلب په کښې روغ دی. يو د بل تائيد کوی. لومړی ليکوال هيرودوټ يوناني .

دوهم عرب مسعودي ، دريم اروپائي آرنولډتاين بي دی.

دريم کتـاب په دې ډير ارزښت لـري چـه د څيړنې تـولې علمي لارې پـــه کښې څارل شوې دي.

په پښتوکښې دسورکلمه ډيره زړه ده او له ښه مرغه چه اوس هم ژوندۍ ده . ددغې کلمې سابقه ډيرې زړې زمانې ته ځي چه لس زره کاله شي.

چه ورسره پښتو ژبه هم دومره لرغونې ده .

۱- سور - لمر

۲- سور - داغ ډير تود

۳- سور - رنگ « سورگل »

٤- سور - گل « سورساندی »

٥- سور - قوم

٦- سور - نوم

٧- سوريا : دلمر رب النوع ، مجسمه چه د خيرخانې له کوتله لاس ته راغله. د سوريا مرمري مجسمه دلمر لومړی رب النوع مجسمه ده ؛ چه دکابل موزيم ته سپارل شوې ؛ شاغلي کرل فرانسوي ايستلې ده.

( افغانستان د تاريخ په رڼا کښې مخ ٢٤٤ - احمد علي کهزاد )

٨- سور ، جدي سور شو جدي شو.

دسند (اباسين) په حوزه کښې سورياني مدنيت درې زره کاله مخکښې له ميلادد مينځ ته راغلی؛ چه لکه اوسنی مدنيت پرمخ تللی ؤ.

ابوالحسن بن حسين علي مسعودي په مروج الذهب کښې وائي وروسته له توفانه (دنوح ع) دزمانې توفان دځمکې پرمخ سوريانيانو لومړی پادشاهي جوړه کړه . د غزنې بست، زمين داور او لعس په ځمکه کښې ؤ.

له دې خبرې داسې څرگنديږي چه لومړی مدنيت دوی جوړ کړی . او لومړی پادشاد يې « سوشان » نوميده، دوی آبادی وکړې، ونې يې وکرلې . دومره پياوړي شول چه شاوخوا پادشاهان دوی ته تسليم شول او د آسيا پرلويه برخه يې پادشاهي کوله.

هيرودوټ هم سوريانيان يادوي؛ چه هلته يې د آسور دولت جوړ کړی چه يونانيان يې آشور بولي. چه کلده او آشور بللی شي.

موږ په دې پوهيدلو چه کلده، آشور دنړی له اوڅارو مدنيتوڅخه دي. چه اروپائي وروستی بنه ده . يعنی هم دغه مدنيت وروسته اروپاته لاړ . مگر په دې نه پوهيدو چه دا همدغه سوريان دي چه د آباسين له غاړو کندهار او په لويديځ لوري خوځيدلي دي. کله چه د ټاکسيلا ښار حسن ابدال پېښورته نژدې له خاوروراووت : کوم آثار چه دلته ښکاره شول؛ هغه په کلده او آشور کښې هم وو. چه دجله او فرات شا اوخوا يا

اوسنۍ سوريه او عراق دی هلته تللي دي. دنړۍ په دايرة المعارفو کښې هغه کرښې اوخطونه ښودل شوي چه دسند له سيمې ددجلې او فرات حوزې ته تللي دي.

سوريان عرب نه دي. د دوئ ژبه عربي ده او اوس په عربي هيوادو کښې شمېرل کيږي. دملي هويت ياپيژندنې يوه نخښه ژبه ده.

دا ډيره ښه خبره ده؛ چه مسعودي په ۳۳۲هـ کښې او «تاين بي» په کال (۱۳۵۲هـ ل) کښې يوه خبره کوي.

زمونږ گيلې مانې له خپلو ليکوالو دي؛ چه دوئ ولې خبره دومره لنده نيولې چه يووائي دسليمان له غره راغلل. بل وائي بني اسرائيل او بل دقيس اولاد بولي. داخبره بايدوکړم چه له دغو تحليلونو څخه يو هم بد نه دی؛ که بني اسرائيل دي؛ که دسليمان له غرهٔ راغلي يادقيس عبدالرشيد اولاد وي. خو بده داده چه دا حقيقت نه دی. که حقيقت داسې وای بيا به دهغه پرښست تاريخ دريدلی وای. زما مطلب دادی چه يو خو حقيقت څرگند شي. دوهم داچه پښتانه ځان وپيژني؛ چه د زرهاؤ کلو په ترڅ کښې له ډيرو سختو پېچومو تيرشوي او اوس هومره رېړ او مشکل نه لري چه ځان جوړ کړي.

تاين بي په خپل وروستي اثر «ځمکه دبشرمور» کښې ډير حقايق روښانه کوي. دی وائي «ليدی،لوديا، ماد، سکا، کاسيان ټول او ټول له اورسي غونډيو را اؤښتي. آريائيان دي او ژبه يې دسانسکريټ له ژبو څخه ده او په دې برخه کښې د ژبپوهنې شواهد شته».

همدا ډول «بارسورث» دسيستان په شرح کښې ليکي چه دغه آريائي قومونه دافغانستان جنوب ته تللي دي. دی وائي چه ترک او خلج چه تاريخ کښې ډير يادشوي.دوئ آريائيان دي.ترک نه دي».

پوهاند حبيبي له همدغو شواهدو دې نتيجې ته رسيږي چه دغه خلک تره کي او غلځي دي. پوهاند حبيبي مخکښې ترمړينې په هغه کتاب کښې چه دارمستتر فرانسوي پوه په (۱۸۸۸م) کال ليکلی ؛ دپښتونخوا دشعرهار اوبهار نوميږي. وائي

چه دنويو ليکوالو وظيفه ده چه دغه مسايل وڅيړي. دغه خبره ، دهٔکال مخکښې ترهغه ليکلې ده ( دکتاب په تقريظوکښې ) چه دی په حق رسيږي . پوهاند حبيبي په زين الاخبار کښې يادونې لري؛ چه خلج اوترک تره کې غلځي بولي.

اوس خبره نوره هم روښانه شوې؛ ځکه دحبيبي په ژوند کښې ځينې کتابونه لا په لاس نه وو راغلي. دمثال په توګه مروج الذهب وروسته له عربي په فارسي ترجمه شو چه په هغه کښې دپښتنو دقومونو په باب لکه غلځيان سوريان، جيدان ، دوداني ، ډير په زړهٔ پورې معلومات راغلي؛ چه پوهانو دکتاب عربي نسخه ليدلې؛ خو وروسته، نوځکه يې نوي نسل ته دا مسايل سپارلي .

پخوانۍ نظرئې دپښتنو په باب ردوي. داچه دقيس اولاد دی؛ يا بني اسرائيل . . .

دوه نيم زره کاله دمخه پښتانه او د هغه اړوند قومونه په تاريخ کښې مطرح ؤ. نه پوهيږم چه ولې پښتانه ليکوال بې خبره وو ، يا نه دي پسې ګرځيدلي.په کابل کښې پښتوټولنه په پېښور کښې پښتو اکيډمې چه وسايل او بوديجه يې درلوده ، سطحي تير شوي دي.

زهٔ چه امريکې ته راغلم ؛ دغه کتابونه مې واخستل. ورو ، ورو پوه شوم چه ډير غفلت شوی. اوس هم که پښتانه ليکوال چه په بهرنيو ژبو پوهيږي؛بويه چه په دې برخه کښې څيړنه وکړي. پښتوټولنې او پښتواکيډمې، هندي آثاروته پاملرنه کوله پاکتيسيا ، سکا ، کاسي ، اور ، لوي ، متاني ، دوداني ، جيدان ، سوريان ، لوديا او نور داسې قومونه ، مدنيتونه دي چه په ډيرو آثاروکښې ددوئ کړهٔ وړهٔ او چاروالي راغلي دي.

حتی کوشانيان داسې نه دي چه ترلسمې ميلادي پيړۍ پورې وو. عربو سره يې جنګونه وکړل. بيـا تري تم شـول . دا هيڅ عقل نه مني. چه يو ملت له مينځه لاړشي. دوئ خپل نوم بدل کړی؛چه څرګند مثال يې ساک دي چه د ابراهيم خيل نوم يې غوره کړی . دوئ به هم په غالب ګومان احمدزي شوي وي . يابه يې بل نوم غوره کړی وي. ځکه زهٔ په دې عقيده يم چه کوشانيان په اول سرکښې هم کډوال وو

او بیرته هم کډوال شوي چه کوچانیان شوي او دغه کوچیان له‌کوچ سره اړه نه‌لري.
کډه کیدل، کډوال یاليږديدل، کډوال په ایران کښې هم شته‌چه خانه‌بدوش ورته وائي
یاعشایر خانه بدوش.

نو داسي سکاري چه پښتانه قومونه‌دوه ډوله دي. یو هغه چه نومونه یې نه‌دي
عربي شوي: دهغوي مونډل په‌تاریخ کښې بې ربړه او آسان دي. مگر هغه‌نومونه‌چه
عربي شوي دهغوئ مونډل گران‌دي.

دهیروډوټ په کتاب کښې دیوهٔ پښتون قوم نوم دماساگیټ‌چه جنگیالي
اومیړني خلک‌دي؛ له آمو«جیحون» دې خواته اوسي. دوئ او سکائیان‌یو قوم بلل
کیږي.سکاخو‌هماغه‌ساک دی‌چه اوس هم شته‌چه‌بیایې ساکستان جوړکړ اوخلک یې
سکزي وو. ماساگیټ ددوئ اړوند قوم‌دی.

دماساګیټ‌ملکه تومورس نومیده. خورا باتدبیره میړنۍ ښځه وه. دهیروډوټ
له‌وینا: کوروش غوښتل چه‌دې سره وادهٔ وکړي: نودې ته‌یې حال ووایه، تومورس
ملکې ورته وویل: «ته‌مانه غواړې،ته غواړې چه زما هیواد خپل کړې. ځه‌په‌خپله
مخه مونږ پرخپل حال پریږده اوکه‌جگړه پیل کړې ستا په خیر به‌نه‌وي!».

کوروش ونه‌منله. جگړه پیل شوه. د ملکې زوی سپارگاپیس چه‌سپه سالارؤ.
اسیر شو؛ خوځان یې له‌عیرته پخپله مړکړ. دغې ملکې دلښکرومشري پخپله وکړه
او کوروش دپارس پادشاه یې ژوندی ونیو.

هغه محترمې ملکې دپسونو او غویو له وینو چه‌په همغه ورځ قصابانو حلال کړي
وو یو لوی لوښی له وینو ډک کړ او امرېې وکړچه دکوروش سر په وینو کښې ډوب
کړئ. بیایې کوروش ته وویل :« وڅکه ظالمه چه وینې دې ډیرې خوښېدې!»
دکوروش سرتر هغو په وینو کښې ؤ ؛ څو یې ساه وخته.

دمتال په‌توگه اوس مونږ مشوانی قوم لرو. ماساگیټ دابو، تلفظ دی چه
یونانیانو کړی دی. ساک، ماساک سره نژدې دي.

ساک او ماساک اوس نه پوهیږو چه‌دوئ څوک دي؟

تاسو دوئ پوه کړئ. داسمه ده چه مونږ پښتانه دیوهٔ پلاره یو. مگر دهغه په مهال او زمانه کښې توپیر شته.

داچه وګرې په جنوب لویدیځ آسیا کښې پیدا شوي او له دې ځایه خوارهٔ شوي؛ داهم څرګنده ده. جنوب لویدیځ آسیا کښې همدغه دسند بلوچستان، کندهار، هلمند اوسیستان سیمې راځي.

سوریاني پادشاهي دلته وه او مروج الذهب ۳۳۲ هـ ابوالحسن علي بن حسین مسعودي ددغه کتاب په ۲۰۳ مخ کښې داسې لیکل شوی: « هغه خلک چه د نړۍ د پادشاهانو په احوال خبردي؛ وائي چه وروسته له توفانه « د نوح (ع) توفان» لومړني پادشاهان سورياني دي. دهغوئ لومړنی پادشاه یو سړی ؤ. د سوشان په نامهٔ.د سریانیانو په تاریخ کښې لومړی سړی ؤ ؛ چه تاج یې پر سرکیښود او نور پادشاهان دهغه تابع شول. ددهٔ پادشاهي شپاړس کاله وه ؛ بیایې زوي « بربر » پادشاه شو. دی شل کاله پادشاه ؤ. ترهغه وروسته سیما سرپادشاه شو. بیا اهریمون . دهٔ ولایتونه وتاکل. ځمکې یې آبادې کړې. کله چه ددوئ کار نظم او تینګوالی وموند؛ دهند پادشاه ته ویره پیدا شوه، سوریان دسند شا اوخوا غزني بست لعس او داور خواته وخوځیدل او دهیرمند غاړوته.

دهیرمند په سیند کښې کشتۍ چلیدلې .مالونه یې له بسته سیستان ته وړل. په سیستان کښې له بادڅخه دژرندو په ګرځولو کښې ګټه اخستل کیده او په همدې توګه اوبهٔ دباد په وسیله له ځاګانو ایستلی کیدې ».

له دغو عباراتو څخه چه ۱۱۲۰۰ یوزرودوه سوه) کاله دمخه لیکل شوي. اوس یې ترجمه مونږته په لاس راغله . دغه لاندې موضوعات څرګندیږي:

۱- سوريانيان یاسوریان ډیر پخواني پادشاهان بلل شوي؛ چه وروسته له توفان (دنوح (ع) توفان) داسې اټکل کیږي چه اووهٔ زره کاله دمخه ؤ. یعنی هماغه پښتانهٔ ؛ دافغانستان په سیمه کښې چه هماغه ، غزني،بست او زمین داور (کندهار) دسند حدود هلمند او سیستان دی.

۲- نور پادشاهان ددوئ تابع وو.

۳- کشتئ بې درلودې، بادي ژرندې گرځیدلې.

٤- حدود او سرحدات یې ټاکلی ؤ.

٥- څرخه چه لومړنی ماشین دی؛ دوئ درلوده . دژرندې او اوبو د ایستلو.

٦-تجارت روان ؤ. ځکه کشتیو مالونه وړل.

په تیره بیا چه وروسته داخبره له کیندنو هم څرگنده شي.

په سریزه کښې ویل شوي چه یو پوهاند دکتور جاوید وائي دغورسلاطین تاجک دي حال داچه دمحمد سوري اولاد دی اوسوریان څرگند خلک دي.

دایوازې دسوریانو خبره وه.

شیرشاه سوري دهند داسې پادشاه ؤچه تراوسه ددهٔ ځینې اصلاحات په هند کښې چلیږي.

## سکائیان - ساک؛

دهیرودوټ په وینا په لرغونو زمانو کښې دآسیا ډیره برخه ددوئ په لاس کښې وه دوئ هم کډوال وو . مگر« ټاین بي » تاریخ پوه وائي چه ددوئ له کډو سره عسکر، کسب گر، عالمان، طبیبان هرڅه وو. چیرې چه به دوئ واړول ؛ هلته به یو ښار جوړ شو. تجارت کیدهٔ . کوم ځای به چه ددوئ خوښ شو؛ یوه برخه به هلته پاتې شول . نور به تلل. دوئ داور بلولو سامان، څرخې او داسې نور صنایع ئې درلودل ؛ چه هغه بې پرنورو قومونو پېړودل. سکائیانو اړونډ قومونه درلودل؛ چه په مهمو مسایلو کښې به دوئ دنورو قومونو مشرانوته بلنه ورکوله چه لویه جرگه جوړه کړي.

کله چه پارسیانو غوښتل دسکائیانو پرخاوره باندې برید وکړي . نودسکا مشرجرگه را ؤغوښتله؛ چه دا له ټولو لرغوني لویه جرگه ده ؛ چه مونږ ...ي حبریو. ( ٤٤٠ ق م)

په همدې توگه مونږ پوهیږو چه پښتونولي هم یخوانی ... ...ي.

## لويه جرگه او دهغه ضرورت

دوه نيم زره کاله دمخه (اټکل)

دسکائيانو سيمي ته هې سکائيه وايه. کله چه داريوش په لويديځې خوا بريالی شو نو يوازنی قدرت دسکائيانو ؤ چه دی دهغوئ مقابلې ته چمتو شو.

دی په دغه مهال کښې ډير پياوړی ؤ او ډيرې پانگې هې درلودې. ډير لښکر ورسره ؤ. کله چه سکائيانو «ماد» لاندې کړل ؛ اته ويشت کاله پرپورتنی آسيا باندې ددوئ حکومت ؤ. سکائيان په کيمريانو پسې راغلي وو. کاميرخيل اوس هم يوقوم دی. لوگر اونورو ځايو کښې. سکائيه هغه مهال له سبغور ترکيې نه پيل کيدهٔ له شمالي ايران نه تر افغانستان پورې، دسکائيانو پادشاه ايدان تورسوس نوميدهٔ.

دغه مراتب په زرهٔ پورې دې چه هرپښتون هې ولولي اوښه پرې ځان پوه کړي. همدا چه داريوش دسکائي خواته راغی؛ ټولواک ايدان تورسوس، لويه جرگه راؤغوښته چه په گډه دداريوش مخه ونيسي.

دغه لويه جرگه ددغو قبايلو له مشرانوڅخه جوړه شوې وه.

١ - توري

٢ - آگاتيرسي

٣ - نري

٤ - اندړوواگي

٥ - ملانگلاني

٦ - گلوني

٧ - لوديني

٨ - سارماتي

کله چه دلويې جرگې غونډه کښې په پوره خپلواکی سره بحث او خبرې وشوې او مسايل وڅيړل شول. دگلوني، بوديني او سارماتي دقبيلو مشرانو ومنله چه دسکائيانو ملاتړوکړي.

ACKU

دآگاتيرسي، نري، اندرواگي ،ملانکلاني اوتوري مشرانو داسې ځواب ورکړ:

« که تاسو يخپله له پارسيانو سره شخړې نه جوړولای اوپرهغوئ موبريدونه نکولای؛ تاسو په حقه واست او مونږ به درسره دريدلو او په ګډه مو هغوئ سره جګړه کوله. مګرحقيقت دادی تاسو بې له دې چه مونږ سره مشوره وکړئ؛ دپارس پرسيمې موبريدوکړ. تر هغه مهاله چه قدرت او توان مودرلود ؛ خپل کارموکاوۀ اوس چه هغوئ دغچ اخستلو دپاره راغلي له مونږ نه مرسته غواړئ؟

مونږ هغوئ سره بدنه دي کړي . که بيا هم هغوئ پرمونږ تيری وکړي؛ مونږ به ترخپلې وسې ورسره وجنګيږو . حمله تاسو پيل کړې وه؛ نه هغوئ او تاسو مونږ ونه غړولو؛ » له دې حکايته چه هيرودوټ ثبت کړی؛ څرګندېږي چه افغانستان تل افغانستان ؤ. داود يوه لويه جرګه چه خورا په ډيموکراسي خبرې په کښې شوې وې.

بيا هم يوه لاره يې پريښوده؛ چه که پردوئ حمله وشي دوئ به کلکه مقابله وکړي. د داريوش اوپارس پوځ په ناکامۍ سره دسکائيانو له ځمکې (سکائيه - ساکستان) څخه ووتل او هيڅ يې ترلاسه نه کړل . ډيره تباهي يې وليدله.

دسکاييه تولواک ايدان تورسوس وروستی پيغام دپارسيانو پادشاه داريوش ته داؤ: « ای دوستانو که مرغۍ غوندې والوزئ، که موږک غوندې په سوړه ننوزئ، که چونګښو غوندې اوبوته لاړشئ ؛ تاسودسکائيانو په لومه کښې لويدلي ياست . خلاصون مونشته. او خپل هيوادته تللای نه شئ؛ ».

دداريوش وروستی خبره داوه:« روغه خبره داده چه خپلې پښې له دې خاورې وباسو ».

محکښې مو وويل: چه دکوروش دملکې تورموسوس له خوا چه دسکائيانو يوه قبيله وه ؛ووژل شو.

له هغه زماني بيا تر اوسه پورې يرغلګر زمونږ له خاورې په بې پتۍ وتلي دي ۱۹۸۹ء دروسانو تروتلو پورې.

# کاسیان

داد پښتو یو بل قوم دی چــــه په لرغوني تاریخ کښې يې لويه برخه اخستې ده کاسیانو پر بابل حمله وکړه او هغه ښکلی ښاريې ونيوځ. ددوئ پادشاهي شپږ سوه کاله وه (۱۷٦۰ - ۱۱۸۵ پخوا تر میلاده).

کاسیانو څرخه ار عرابه جوړه کړه چه دآسانو په وسیله را کښل کیده. دمالونو اوسړیو دوړوړ ورو د پاره له هغه څخه کار اخستل کیدهٔ.

## لوديه، لودي:

دغه پیاوړی قوم پرکوچنی آسیا کښې چه اوسنی ترکیه به وي. په ۵۸۵ مخکښې ترمیلادده حکومت کاوه. هروډوټ وايي چه څو سکائيي ځلمیان دماد په خاوره کښې ؤ. هلته ئې دپادشاه زوي وواژهٔ. دلودي خاورې ته وتښتیدل. کله چه مادانو دغه ځلمیان بیرته غوښتل دلودئې بادشاه ورنه کړل. په دې چه دوئ ته يې پناه یا سیمه ورې وه. ددواړو ترمینځ جګړه ونښته. یوه ورځ لمرونیول شو. توره تیاره شوه. دوئ داسې وګڼله چه دغه وینې تویول دورونو ترمینځ دخدای دقهر سبب شو. جګړه ئې بنده کړه. دلودیا پادشاه کرزوس نومیدهٔ چه ډیر پوه سړی ؤ.

دده ٔ له خبرو څخه یوه داده: «په سوله کښې ځلمیان بوډاګان خــــاوروته سپاري او په جګړه کښې بوډاګان ځلمیان خاورو لاندې کوي. هغه څوک به احمق وي چه جګړه ترسولې ښه وبولي.».

مونږ ولیدل چه دپښتونولۍ یوه بیلګه جرګه او لويه جرګه سکائیانو جوړه کړې وه، دوهمه داچه لودیانو پناه اخستونکي بیرته ورنه کړل؛ چه خبره جګړې ته ورسیده.

همدغه راز هیروډوټ دیوې لودي ښځې پاکلمني بیانوي. چه دغه ټول عناصر

پښتونولي جوړوي.

همداراز دافغانستان په‌لويديځ سرحد کښې يوبل ښارموندل شوی‌چه ښکاري درې‌څلور زره کاله دمخه وي. دسند دمدنيت په‌لاره رنګ، فلز. اوبدل اوډېر لوښي په لاس راغلي دي. دغه ښار دسوئ ښار په نامه ياديږي.

په ۱۳۷۲هـ ش دپکتيا په ميرزکه کښې هغه پخوانۍ خزانه‌چه خلکو دټولواک ځمر په نامه پيژندله؛ هغه يې راوايستـه. په زرهاؤ دسرو زروسکې وې. دسپينو زرو دسروزرولوښي .کاچوغې ، ماران‌اونورشيان، پاکستاني اونورګڼه کيان ور ورسيدل. پکتيا والو دافکرونه کړ چه درې‌زره کاله دمخه ددوئ پلرونو دا استعداد درلود چه دومره پانګه ، هنراوفکري صنعت ولري؛ چه دا ميراث‌يې ورته پريښود . درې زره کاله وروستـه دوئ هغـه په‌ګـيـډه کـښـې واچول. او خـپله ګـيـډه يې نـه‌شوه ساتلی. زۀچه داکرښې ليکم ترپنځه شپيتو کلو اوښتی يم. ټول عمرمې خپله ګيډه په حلالو ساتلې. زۀچه له‌افغانستان‌څخه‌وتم ۱۳۵۹هـ لمريز کال و؛ ما هغه تاريخي آثار چه له‌بازاره مې په شلوکلو کښې اخستي وو هلته پريښودل .چه‌دا دافغانستان مال دی. زما دوتلو سبب داؤ چه ما دوه کاله سختـه بنديخانه تيره کړې وه . کمونست‌حکومت غوښتل‌ما بيا ونيسي. ما محبس کښې داعزم جزم کړ‌چه تاريخ به يوځل بيا ليکم اولولم . اوس پوازې داغوارم چه پښتون ځان په‌واقعي معنو کښې وپيژني اوفکروکړي چه لرغوني پښتانه دجيحون په دواړو غاړو توري بحيرې پورې اوورو‌کې آسيا کښې اوسيدل او پادشوي مدنيتونه‌ددوئ‌وو. شمالي ايران ددوئ‌و؛ جنوبي ايران پارس ؤ. بيا پردوئ له هرې خوا بريدونه وشول او دوئ په شا راغلل . پارسيان تل په هغو حالاتو کښې چه افغانان کمزوري کيدل‌حمله کوله او په‌دې کښې يې لټي نه‌ده کړې.

# خلقت او پښتون

يو حقيقت دادی چه سړی له عقل او شعوره برخمن وي. په همدغه حال کښې انسان هم شرارت لري؛ هم اخلاق. دسړي اخلاقي خوا دقدر وړ وي. تاريخ دانسان له شعوري او اخلاقي خوا خبري کوي. چه څنگه يې وده وکړه او څنگه يې له شيطاني اړخ سره مجادله وکړه؟

زمونږ په تاريخ کښې ډيره مهمه خبره داده چه په کال ۱۳۷۱هـ ۱۹۹۳م په افغانستان کښې اسلامي تنظيمونه راغلل. شرارت هسک ته وخوت. ددې خبرې توجيه گرانه شوه.

دانسان له پيدايښت څخه ډير کلونه تير شوي؛ خو عقل او تصور يې نه لارهٔ. کله چه عقلمند شو؛ دځمکې ، اوبو اوکرنې په اهميت پوه شول. له يوې خوا دغه عمل ته چه له ځمکې او اوبو گټه واخلي او له بلې خوا له شر سره پنجه ورکړي؛ نو تاريخ پيل کيږي.

له ښه مرغه داسې شواهد او اسناد شته، چه دپښتنو تاريخ دبشر له تاريخ سره پيل شوی او داچه ولې پښتون بيرته پاتې دی ؟ هغه په همغه عيب اونيمگړتيا بيرته پاتې دی چه اوس هې هم لري. زما وروستی هدف دادی چه ددوئ پام همدې خبرې ته راوگرځوم.

سومريان هغه مهاجردي چه دآسيا له جنوب لويديځ څخه بين النهرين ته تللي «تاين بي» تاريخ پوه او فيلسوف په ټينگه داخبره کوي چه « سومريان »« اور » «اوروک » « اريدو » لومړني خلک دي چه ځمکه يې رام کړه اوکرنې ته يې چمتو کړه او لومړني خلک دي چه کلي اوښارونه يې جوړکړل. چه همدغه تاريخ دولس زره کاله دمخه اټکل کيږي.

ټاين بي وائي: دغه خلک اريائيان ؤ او داخبره ناسمه بولي چه عرب ؤ. ځکه ژبه يې عربي ته نه ده ورته، سانسکريټ ته ورته ده.

څنگه چه سومري خط او د معابدو معماري چه دځمکې له تل څخه لاس ته راغلې دغه تمدن څرگندوي چه لومړنی بشري تمدن دی.

مځکښي مو په دې خبرې کړې وې چه سور - سورياني، سومري، سوري يوه پښتو رايجه کلمه ده او دسوريانو تاريخ. دلته بايد وويل شي داخبرې تر هغه ډيرې دمخه دي چه زند اوستـا، ويدا، يما، .... چه تر اوسه پښتـانه ليکوالو له هغو ځينې کلمې را اخستي او غوارې چه دپښتون تاريخ پرې مرتب کړي. دغې نظريې ته هغه نوي آثار تغيير ورکوي چه وروسته په کيندنو کښې تاريخ پوهانو ته په لاس ورغلي. که مونږ پښتنو ته داثابته شي چه پښتنو بشري تمدن پيل کړی؛ خط زمونږ ايجاد دی، ځمکه مونږ وکرله، ښارونه مونږ جوړ کړې؛ فلزمونږ و پيژاند... په داسې حال کښې چه اوس کډوال لرو. په غرونو کښې اوسيږو. وږي، ناپوه او برېنډ يو. يو دبل غليمان. نو په دې خبرو پوهيدل به څه گټه ولري؟

هيڅ؛ مگر که سر په گريوان کښې کښېـنه کړو افسوس به وکړو چه رښتيا ډير څه رانه پاتې شول. چه پخوا دنړۍ په سر کښې وو. اوس بې پای کښې يو. دهغه مهال دمالونو وړو راوړو دپاره دچين، دسند، بين النهرين، مديترانې ترمينځ تجارت روان ؤ. چه يو مرکزئي افغانستان ؤ او بل يې سوريه. دپښتون د تاريخ يو مهم خصوصيت دادی چه له کرنې صنعت او تجارت څخه پيل شوی، نه له جگړې او جگړ ماری چه وروسته نورو قومونو پيل کړه. پښتانه دجگړې شوقيان نه دي. پښتونولي دسولې او امنيت لارده. دوئ له لرغونې زمانې ټولنه په بيلو برخو ووېشله؛ چه ټول به دټولنې دښگړې دپاره په گډه کارکوي. لکه مشر، جرگه، ؤلس، کسب گر، عالمان، روحاني او گاونډيان؛ چه دهر يوه حقوق او وجايب څرگند وو. په دې توگه پښتونولي هم ډيره

لرغونې ده.

کله چه تاريخ په ځيروکتل شي پښتانه او دهغوئ اړوند قومونه سوله خوښورنکي دي. ډيموکراسي، ؤلسواکي خوښوي. خو دوئ چانه دي پرينښودلي او تل حمله پرې شوې او دبريد په مقابل کښې ټينګ دريدلي دي.

په ۸۵ هـ کال کښې حجاج بن يوسف خپل سپه سالار عبيدالله ته داسې فرمان ورکړ: «کله چه کابل ته ورسيدې، کلاګانې ونړوه. ځوانان يې ووژنه. ښځې يې اسيرانې کړه. بوډۍ ښځې او بوډاګان پريږدئ چه له لوږې مړهٔ شي؛ شتهٔ او مالونه ترې واخله!».

کابلشاهان چه يوه شول خبره داسې ده. دټولواک زنبيل شاه ترمشرۍ لاندې يې داسې کلکه جګـــړه وکــــړه او ټول يې مړهٔ کړل. چه ددغه لښکر نوم جنودفنأ شو. يعنې ترې تم لښکر.

ترهغه ډيرد مخه دپارسيانو داحال وو. دسکائيانو له پلوه برباد شول. ميرويس بابا، احمد شاه بابا ځوابي حملې کړې دي.

داجګړې دوئ له مجبورۍ کړې: چه دوئ دخزر دبحيرې غاړې پريښې؛ تل له دوو خواؤ پردوئ دباو راغلی اوجنوب لورته راغلي دي.

دخدای فضل دی چه تر اوسه دوئ له پښتو او پښتونولۍ سره پاتې دي.

# افغان

افغان چــه نن په نړۍ کښې ديوهٔ مړني قوم په توگه پيژندل کيږي؛ يو پخوانی نوم دی چــــه « اوغان »« اوگان » « ايگان » « ايغان » ... ياد شوی پوهاند حبيبي وائي چه دداريوش په کتيه کښې دانوم دزرور په نامه راغلی اوداچه داريوش ويلي زهٔ هم افغان يم. ديوهاند حبيبي دغه مقاله حسن فهيمي دگډ هيواد اخبارته ورکړې وه. چه کاناډا کښې خپريدهٔ ( ۱۹۹٤م).

افغانستان د اوسني افغانستان او لوي افغانستان يوې برخې ته ويل کيدهٔ. چه هلته پښتانه اوسيدل.

په مروج الذهب کښې چه په کال ۳۳۲ هـ کښې ليکل شوی دايغان په نامهٔ يو ځای ښودل شوی چه اوس به ېې تاسو ولولئ.

« داوخان او تبت کښې کاپران دی. او ښي خواته ئې داسې خلک اوسيږي چه هغه ته ايغان وائي او له هغه ځايه يورود بهيږي چه هغه ته دايغان رود وايي. دغه رود د ترک له راده چه هماغه ايغان دی سرچينه اخلي ».

اوخان ښائي واخان وي. دغه شانې دی ترکان غوريه وائي. چه ترکان غوريه جيحون (چه کله هغه ته دبلخ رود وائي) نژدې اوسيږي.

د ترکان غوريه مطلب بيا هم پښتانه دي او داخبر ثابته ده چه په دغو سيمو کښې ترک او خلج هماغه ترهٔ کي او غلځي دي.

مسعودي ۳۳۲ هـ کښې پخپله دغو سيموته راغلی او خپل اطلاعات يې ليکلي؛ دهٔ او نورو ليکوالو د ترهٔ کي غلځي په واقعي مطلب نه دی پوه شـوی. مگر ترک او خلج تل يو ځای ياد وي.

وروستيو ليکوالو لکه کليفورډ باسورث اوداروپا دختيځ څيړنو مرکز؛ دې نتيجې

ته رسيدلی؛ چه ترک او خلج ترک نه دي. اريائي او همدغه پښتانه ترۀکي غلځي دي ځينو داسې اتکل کړی چه ترک دي خوپښتانه شوي دي. داخبره که څه هم داسې نه ده خو ډير عيب هم نه لري. بيا وائي ددوئ په ژبه کښې يوه کلمه ترکي نشته او خپله ترک ترکيه وروستي نومونه دي.

ځکه پښتـو او پښتـونولی سره پښتـون، پښتون دی. هسې خو په هند او نوروجنوبي آسيـائي هيـوادوکښې ډير پښتـانۀ له څرگندو قبيلوڅخـه تللي او هلتـه يې ژبه او پښتـونولي له لاسه ورکړې؛ پښتـانه نه بللی کيږي. مگر چه پښتو اوپښتـونولي خپله کړي.

کله چه په لسمه ميلادي پيړۍ کښې دغزنوي دولت جوړ شو؛ دبيهقي تاريخ چه په هماغه دغزنويانو په دوره کښې ليکل شوی؛ ډير مسايل په لاس راکوي؛ لکه:

الف: د «افغان شال» په نامۀ پنځه ځايه يومرکز په غزني کښې ښودل شوی؛ چه هلته غزنوي دربارۀ.

ب: داچه درې زره سکزي عسکر د سلطان مسعود غزنوي په لښکرو کښې وو؛ چه هماغه سکائيان - ساک دي؛ چه څرگند تاريخ لري.

ج: کله چه سلطان مسعود غورته لاړ؛ هلتـه ئې ترجمانان ځان سره بوتلل چه هلتـه خبرې وکړي. له دې څرگنديږي چه د غور اميرانو په پارسي خبرې نه کولې. ځکه ژبه يې پښتو وه.

مروج الذهب چه ترکان غوريه وائي مطلب يې همدغه پښتانه دي. دافغانستان نوم په بيلو آثاروکښې وروسته له څلورمې هجري پيړۍ په اتلسمې پيړۍ کښې هالنډي شرکت چه واک نوميدۀ او اصفهان کښې ئې تجارتي فعاليت کاوۀ، داعليحضرت شاه محمود افغان او اعلی حضرت شاه اشرف په وخت کښې خپلو اسنادوکښې افغانستان يادکړی. له هغه څرگنديږي چه دافغانستان نوم که په رسمي توگه دافغانستان نوم نه ؤ مگر په اسنادوکښې په ۱۷٤۷م اعليحضرت احمد شاه بابا په هغه ليکونوکښې چه

دريم مصطفى ته ئې ليږلي دافغان او افغانستان نوم ياد شوی.

لوې افغانستان چه داحمدشاه بابا ترلارښوونې لاندې جوړ شو؛ ددهٔ امپراتوري په نړۍ کښې وروستۍ اسلامي امپراتورې ده. له هغې ورځې چه لوي افغانستان ونړيد بيا داسې لوې پياوړې اسلامي دولت نه دې جوړ شوی.

احمد شاه بابا داسلام اوپښتون وروستی شاهنشاه امپراتور دی. مونږ دمسلمان اوپښتون په توګه ټول افغانان ددغه اعليحضرت لارڅاران يو. مونږ وياړو چه الله تعالى مونږ ته احمد شاه بابا راکړی ؤ. ددهٔ په لوي نامهٔ زمونږ دزړهٔ پرهارونه رغيږي.

## د پام وړ خبرې:

دتيمورلنګ په يادښتو کښې دېرځايه دکندهار نوم سکندري راغلی. قندهار کندهار - ګندهار - ګنداري په ګندهارا پورې اړه لري. که چيرې سکندري وي مخکښې له دې چه کندهار شي؛ نو هغه په سکندريوناني پورې اړه نه لري. دهغه اړه سکا سره ده سکاندري ځکه سکا ترګندهارا مدنيت څخه ډېر مخکښې دی.

داسکندر چه «الکزاندر» Alexander ليکل کيږي.دی هسې په دامينځ کښې رالويدلی که نه سکاندره - سجاوند - سکاوند - سجستان - ساکستان، سيستان هماغه په سکا پورې اړه لري.

کوم سکندر پادشاه چه ذوالقرنين ياديږي؛هغه يوناني سکندر نه دی .هغه هم په سکاپورې اړونددی. ځکه سکائيان چه دهيرودوټ په قول مصر او عربستان ته رسيدلي؛ نوسکانشاه اوسکاندار کيدای شي،په کوم صورت ؟ سکندر شوی وي دصورة الارض په تعليقاتو کښې راغلي چه سکاندره او سجاوند چه په افغانستان کښې دي په سکاپورې اړه لري.

که افغانان دسکائيانو ، سکزو ، سکايه ساکستان تاريخ وګوري؛ بويه چه دافغانستان تاريخ له نوي سره وليکل شي . همدا شانې سوراوپاکتيسيا چه پاګتيګا وي؛ وڅيړل شي،نودافغانستان نوم ؟ښايي چه :

۱- پکتيکا ( پښتونخوا )

۲- ساکستان

۳- سورستان

٤- افغانستان وي.

احمد شاه بابا چه دافغان تر نامهٔ لاندې ټول قومونه راټول کړل او دا چه هرڅوک دافغانستان وي افغان دی. پرته له قوم، نژاد، ژبې، دين له توپيره افغان بللی شي. ځکه پښتونولي، افغانولي يا افغانيت اوکلتور چه د ژوند قانون بللی شي؛ نو افغانستان جوړ دی.

کله چه ۱۹۷۹ ء کمونست رژيم او روسان راغلل. دا يو ملي مصيبت ؤ ؛ ځکه دهغو په مقابل کښې بنسټ پال اسلامي خلک زرغون شول. دواړه دملي تاريخ غليمان وو. کمونستانو د قوم نوم په مليت بدل کړ چه افغانستان کښې بيل مليتونه دي. اسلامي بنسټ پالو ويل چه اسلام ملت قوم او سرحد نه لري.

ټول ملت پاڅيد. کمونستان او روسان يې ووهل. کله چه اسلامي ډلي کابل ته ننوتې قومي ژبني خبرې يې دکمونستانو په څير راپورته کړې. پنجشيريانو ځان په تاجکو گډ کړ. پر کابل قابض شول. نه پانگه پاتې شوه؛ نه پوهنه؛ نه وداني؛ نه خلک؛ داحمد شاه بابا افغانستان وران شو.

ددغه کور بيا جوړول بيا هم دافغانانو کار دی؛ چه وبه شي.خو اويا کاله وروسته پاتې شو.

نوځکه مود تأريخ ( الف - بې) له سره پيل کړه. ددې خبرې گټه داوه چه تاريخ وکتل شو او لارډ له تاريخه نيغه شوه.

داچه کله او څنگه ځيلو هدفو ته دبوهٔ ملت په توگه رسيږو ؟ دا دملت په تکلونو پورې اړه لري.

# شا او خوا حالات

د افغانستان پـــه چاپيريال کښې پوره بدلون راغلی. شمالي جمهوريتونه د ايران اسلامي انقلاب او هيواد، پاکستان کښې دحالاتو بدليدل. دافغانستان دپادشاهۍ زړې مؤسسې له مينځه تلل، سياسي اوديني مکتبونه جوړيدل. له ټولو خبرو سره سره يوه څرگنده خبره ده؛ چه ملت دهيچا ترشانه‌دی دريدلی او دوئ خپله رأيه‌ساتلې ده. سره له‌ډيرو ربړونو او بدمرغيو.

پښتانه دسرحد په دواړو خواؤ کښې حالات څاري. که څه هم دمشرتابه‌درک نشته. مگر تاريخ، پښتونولي او پښتوشته‌اوس دهغه‌له‌برکته دوئ په‌ځان پام کوي.

دوئ بايد په‌دې پوه شي چه د «سور» «سکا» له‌دورې څخـه بيـا داسلام تر راتگه وروستـه له هغـه دصفاري، غـزنوي، غوري، هوتک، ابدالي دورو پورې يو زيږنده تاريخ دی؛ چه دابه‌دوام لري.

پارسيان ،عرب، يونانيان ،مغل، انگريز،روس دا ټول زمونږ خاورې ته راغلي او بې بري تللي دي.

د تاريخ په‌اوږدوکښې پښتانه له‌خپلو اصلي سيمو چه د آمو سيند پردواړو خواؤ دخزر اوترکيې پورې په شمـالي ايران کښې پراته وو. له‌هغو ځمکو په شا راغلي؛ بيابې خپله خپلواکي ساتلې. او په هندوستان کښې ئې پادشاهي جوړې کړې. کله‌چه‌دغه تجربه سمه سرته ونۀ رسيده؛ ميرويس او احمدشاه بابا په نوي ابتکار لاس پورې کړ. په افغانستان کښې ئې دولت جوړکړ. شاه محمود دميرويس نيکۀ زوي ايران ونيو. احمدشاه بيرته دصفاريانو ،غوريانو، غزنويانو امپراتوري جوړه کړه.

افغانان بايد خپل حداو هډ وپيژني او هغه‌دې بيرته روغ کړي. ايران او پاکستان

چه دومره په افغانستان کښې لاس وهي په حقيقت کښې له ځانه ويره لري. ځکه دوئ سره زمونږ سيمې دي، په ايران کښې خراسان. په پاکستان کښې پښتونخوا يا پښتونستان. په شمال کښې پنجده مرو سرخس....

دمغلو په اوږده دوره کښې افغان محلي خپلواکو مشرانو په ډيره زړورتيا له دوئ سره جنگونه کول. خو دهغه يوه لويه برخه زمونږ له سترگو پټه پاتې وه او زمونږ تاريخ پوهانو ته هغه يادښتونه په لاس نه وو ورغلي.

دلته دگوډ تيمور او بابر يادښتونه په لاس راغلل او له هغو زۀ داسې پريکړوته ورسيدم چه هغه هم هيوادوالوته ووايم.

دبابر په زمانه کښې داسې يوملي پاڅون څرگند شو که هغه بريالى شوى واى؛ نو افغانستان به په پنځلسمې ميلادي پيړۍ يا دشپاړسمې پيړۍ په پيل کښې بيرته جوړ شوى ؤ. چه تفصيل به يې وروسته ورکړم.

دگوډ تيمور په زمانه کښې ۱٤٠۵م يو پادشاه دابدال کلزائي په نامۀ په غور کښې حکومت کاوۀ او دهرات پادشاه ملک محمد زشکي ؤ. دبابر په زمانه کښې بوداق کندهارى دکابلستان او واصفي هروي دهرات سلطان ؤ. چه هر يوۀ ئې دميړانې او توري هيڅ کمى نه درلود.

همدا ډول د غزنويانو په دوره کښې ددولت مشران لکه حسن ميمندي ابو فضل سوري او عسکرۍ کښې غلځيان او نور پښتانه وو. ددولت مرکز هم افغان شال ؤ. څرنگه چه عتبي وائي: « فخرج السلطان فی عساکرالترک والهند والخليج وافغانيه والغزنويه » يعنی سلطان (محمود) له ترک وهند څخه له خلج افغان او غزنوي لښکرو سره راووت.

سره له دومره څرگندو اسنادو دافغان اوافغانستان نومونوته په شک کتل شوي هرگوره دغه ليکوال له دغو ليکنو اوآثارو بې خبره وو. چه دوئ ددغو کتابو ذکر نه دى کړى.

ACKU

يوه ډېره مهمه خبره چه دلته بويه راشي هغه داده چه په پخوانيو ليکنو کښې هند يا چين ، پارس ، خان ، خاقان ، ترک ، خلج ... د جغرافيا او تاريخ له نظره له اوسني جغرافيې او تاريخ سره توپير لري. ځينې وائي دهند ځمکه له ملتان هاخوا پيل کيږي او کله له اباسين څخه هاخوا چين هم داسې دی. يوه زمانه په اوسني چين کښې دننه چين نه بلل کېدهٔ .يا پارس ټول اوسنی ايران نهؤ. يوازې داوسني ايران جنوبي برخه وه. چه داتاريخ ښائي په لوستلو کښې په پام کښې وي او ايران هم مطلب اوسنی ايران نه دی،مطلب آريانا دی.

# بوداق کـندهاری او
# د ملي يووالي غږ

ويليم ارسکين دبابر په کـتـاب کـښې دبوداق کندهاري يادونه کوي. اوس به دبوداق کندهاري ژوند او سياست وګورو.

د شپاړسمې پيړی په سرکښې ظهيرالدين محمد بابر ۱۵۰۸م پرهند او دافغانستان پرديرو سيمو حکومت کاوه بابر په لښکرو کښې نه يوازې پښتانه وو. دسلطان ابراهيم لودي چه دهند پښتون پادشاه ؤ؛ دهمدغه ابراهيم لودهي ترهٔ عالم خان لودي اودپنجاب والي دولت خان لودي بابرته بلنه ورکړه چه ډهلی فتح کړي.

ياداچه بابر له يوسفزو سره خپلوي وکړه. او دمبارکې په نامهٔ يې يوه ښځه وکړه ددې دپاره چه بابر سره په سلطنت کښې ګډون ولري. خوشحال خان هم دمغلو په خدمت کښې ؤ؛ خو وروسته يې خپله لاره بدله کړه.

چه پښتون شوم په داهسې سپينه ږيږ خدای مې بيا مهٔ کړه مغول وايم په خيره

خوشحال

خوشحال خان دخپلو غلطيو تاوان ورکړی: نه يوازې جګړې يې وکولې او مغلوته ياڅيد. بلکه په معنوي لحاظ يې دملتپالنې غږ پورته کړ: چه تر اوسه مونږ ددهٔ دملي پاڅون په کرښو روان يو.

دبابر په کتـاب کښې راغلي: «کله چه بابر دهند له چارو هوسا شوېنو علي خادم الحضوريې راوغوښت او هغه يې دکابلستان حکمران وټاکهٔ. دغه سهال بوداق ګندهاری پرکابلستان حکومت کاوهٔ چه بابر يې پردی بالهٔ . خادم الحضور بابر

ويوستندۀ چه اوس هلته څوک حکومت کوي؟

بابر وويل: بوداق کندهاری چه له ماسره اړيکي نه لري اونه پوهيږم چه هغه څه غواړي؟

مگر اوريدل کيږي چه بوداق کندهاری ځان د کابل خپلواک سلطان بولي».

دغه مهال کابلستان له پښوره تر کندهاره يا په بل عبارت پرته له هرات او بلخ ټول افغانستان کابلستان بلل کيدۀ.

خادم الحضور يوسړی کابل ته وليږۀ چه د بوداق کندهاري حال څرگند کړي. هغه سړي حال راوړ چه: «بوداق کندهاری لس زره سپاهيان لري. شا او خوا قبايل ورسره دي. هغۀ د کابلستان د پخواني والي امير بهادر خزانه ترلاسه کړې ده. بوداق کندهاری تکړه فعال جنگيالی سړیۀ او وينا وال. هوښيار، په ديني مسايلو پوه او ملي فکرې درلود.

علي خادم الحضور له يوۀ لښکر او خزانې سره د کابل په لوري وخوځيدۀ. هره گړۍ يې فکر کاوۀ چه بوداق به د لته او د لته مقابلې ته راشي.

حتی خادم الحضور ته دافکر زرغون شو چه بوداق کندهاری تښتيدلی او کابل به بې پرښی وي. خو بوداق کندهاری هم په جگړه پوهيدۀ. خادم الحضور د جلال په باغ کښې چه (بنائي همدغه د بابر باغ وي) واړول. خو بيا دافکر ورته پيدا شو چه په باغ کښې به يې کيدل خطر ولري. ځکه کيدای شي په محاصره شي. نو داسې پريکړه يې وکړه چه د علي آزادې دښتې ته لاړ شي او هلته اردوگاه جوړه کړي. ځکه که بې وسه ونه رسي د شاتگ لاره به هم لري. (علي آزاد دښته بنائي همدغه علي آباد وي چه اوس پوهنتون (جمال مينه) گڼل کيږي.

خادم الحضور وائي: دښنې شل وارې له خو به پاڅيدم؛ چه وگورم د بوداق دلښکر څوک شته؟ خو تر سبا يې درک ونه شو. همدا چه لمر څرک شو؛ بوداق له خپلو لښکرو سره راښکاره شو.

دعلي خادم الحضور په لښکرو کښې غوريان، پښتانه او کابليان وو. (د بابر په

زمانه کښې همدا چه غوريان، پښتانه اوکابليان ويل شوي، له اوسنيو افغان قومونو له قبائيلي تشکيل او ويش سره توپير لري. ځکه کابلستان ټول شرقي، جنوبي او لويديځ افغانستان ؤ. په کتاب کښې ويل شوي، کابلستان پرته له بلخ او هرات نور ټول افغانستان بلل کيدهٔ).

غوريانو يوډول وسله له اوسپنې جوړوله چه هغه ته يې «قلاب» وايهٔ. قلاب يوه گرده پره لرونکې (چړې غوندې پرې) چه په مينځ کښې په يوهٔ زنځير ټينگه شوې وه او زنځير څلور پنځه متره ليرې پرغليم غورځول کيدهٔ او قلاب به په کښې ښخ شو چه قلاب به بيرته راکش شو، غليم به ژوبل يامړ په ځمکه ولويداو دا وسله د توري او تلوار په تناسب ډيره اغيزناکه وه.

خادم الحضور قلاب لرونکي غوريان مخکښې واستوال. تلوار لرونکي کابليان وروسته. کابليانو او پښتنو داسې جگړه کوله؛ لکه چه يو عادي کارکوي.

په دې ترځ کښې بوداق کندهاري دملي يووالي اعلاميه په لوړ غږ ولوستله.

بسم الله الرحمن الرحيم

دبابر ديارہ جنگيالو! تاسو نه شرميږئ چه دکابلستان خلک ياست او دا هيواد ستاسو دی؛ پردي سړي راغلي، پرتاسو سلطنت کوي.

بابر چه له فرغانې راغلی: نو پردی ئې نه گڼئ؟

بيا بابر له دې ځايه هندوستان ته لاړ. يوبل پردی يې دامير بهادر په نامهٔ چه په اصل ديارس ؤ دلته راوليږهٔ او تاسو يې اړ ايستئ چه دهغه اطاعت وکړئ. بيا چه امير بهادر مړشو؛ له تاسو يې لاس وانه خيست. خپل خادم الحضوريې راوليږهٔ.

دغه سړی هم لکه بابر او امير بهادر يو پردی سړی دی. تاسو خپل يو سړی نه لرئ چه هغه خپل پادشاه وټاکئ؟

ستاسو غيرت بې مني چه ټول پښتانهٔ، غوري او کابلي ياست؛ خپل وروڼه دپردي ديارہ وژنئ؟ تاسو څنگه دامنلی شئ؛ چه بابر خپلو خلکو له فرغانې شړلی اوس پر تاسو حکومت کوي؟

تاسو چه خپلې تورې مو خپلو پښتنو، غوري اوکابلي ته تيرې کړې، څنگه اوپه کوموسترگو خپلو ميرمنو اوبچوته ورځئ؟

که ستاسو ميرمنې او بچې پوښتنه وکړي چا سره موجگړه وکړه؟

ايا ويلی شئ چه خپلو کابلې ورونو سره وجنگيدو! اودهغو وينې مو دپرديو دپاره توئې کړې.

آيا تاسو ځانونه مسلمانان بولئ او غواړئ چه دقيامت په ورځ محمد (ص) ستاسو شفاعت وکړي؟ځکه خپل ورونه مو وژلي دي؟

که دخدای رسول (ص) تاسو ؤپوښتي څوک مو وژلي دي؟ تاسو ويلی شئ چه خپل کابلي مسلمان وروڼه مو دپرديو دپاره ووژل!؟

کله چه غوري، پښتنو او کابليانو داديو والي او حق خبرې واوريدې؛ جگړه يې پريښوده. خادءالحضور يوازې پاتې شو او بوداق کندهاري هغه ژوندی ونيو.

غوريانو پښتنو او کابليانو خپل غوري پښتانه اوکابليان په غير کښې ونيول او پرخپلو غلطيو يې وژړل.

(اخستنه بابر او ايران دويلياء اسکين ليکنه)

بوداق کندهاري دخيبر غاړې بابرته ونيولې. خو بابر په ډيره هوښياری ترې تير شو بابر يوه ډله څارونکي ( طلايه کشاف) وليږل. بوداق فکر وکړ چه لښکر به وروسته وي طلايه يې پريښوده؛ چه په کرار تير او بابر ډاډه راشي. يعنې لاره خلاصه ده. خو بابر په بله لاره تير شو.

که چېرې بابر دبوداق لاس ته ورغلی وای بيا هماغه وخت خبره خلاصه وه او بوداق دبلخ هرات او خراسان په لوري خوځيدۀ.ددې پرځای چه لوي افغانستان ۱۷٤۷م کښې جوړ شي،په ۸۰۱۵م کښې به جوړ شوی ؤ.

دبوداق کندهاري نوم دومره آشنا نه دی.خوداسې ښکاري چه دی دکندهار له غيرتمنو ځوانمردانو څخه وي.

دتقدير لاس له دغه‌ميړني افغان سره مرسته ونه‌کړه ؛ که نه‌دی به ترميرويس بابا او احمدشاه بابا لرغونی يوبابا وای.

دبوداق کندهاري خبرې:

١- که‌سړی نه‌مړکيدای پيسو ډير ارزښت درلود. چه مړ کيږي‌نو پيسې په‌دې نه ارزي چه ايمان پرې بايلودل شي.

٢- ليونی د ورور په‌وژلو په‌ليونتوب نه خلاصيږي.

٣- بابر وطن نه‌پيژني ، پيسې پيژني. دپيسو دپاره يې خپل وطن پريښود نوروهيوادوته لاړ.

# خپلواک هرات

همداسې چه یوهٔ میړني کابلستان خپلواک کړیؤ. یوهٔ بل میړني هرات له شاه اسمعیل صفوي او بابر دواړو خپلواک ساتلیؤ . دغه میړنی واصفي هروي نومیږي.

د واصفي هروي هڅي دوياړ خبرې لري. چه اوس به يې وګورو.د بابر په کتاب کښې چه ويليم ارسکين ليکلی :« بابر يو سړی چه ميرزاحسين کوچک نوميدهٔ؛ دهرات والي وټاکهٔ. دا هغه وخت دی چه شيبک خان شيباني وژل شویؤ. یو بل میړنی واصفي هروي چه ملقب په شيخ الاسلام ؤ؛ پرهرات ورودانګل . حسين کوچک یې لیرې او پخپله یې داسې حکومت جوړکړ چه نه يې د بابر اطاعت وکړ او نه يې دشاه اسمٰعيل صفوي. چه دايران پادشاه ؤ. له دغه بدلون څخه نه بابر خبر ؤ ؛ نه اسمٰعيل.

کله چه دشاه اسمٰعيل استازی قنبرعلي بيګ هرات ته ورسيد؛ هلته يې يو لوي لښکر وليد. دهٔ فکروکړ چه دا به دميرزا حسين کوچک لښکروي. قنبرعلي سپين بيرغ پورته کړ. قنبر علي بيګ هم لښکر درلود. خبره یې وکړه چه زهٔ دشاه اسمٰعيل نماينده يم او پيغام لرم. واصفي هروي وويل تاته اجازه نه درکول کيږي چه هرات ته راشې. قنبر علي وويل چه شاه اسمٰعيل تاسره د دوستۍ اړيکې لري. واصفي وويل زهٔ هغهٔ سره هيڅ مناسبات نه لرم.

قنبرعلي وويل: بابر چيرته دی؟ واصفي : هغه دوزخ کښې دی.

د ګوږ تيمور او بابر له يادداښتو او تاريخ څخه داسې څرګنديږي چه دمغلو په اوږده دوره کښې کابلستان ، غوراو هرات کښې خپلواک پادشاهان وو. لکه بوداق په کابلستان کښې، ابدال خان کلزائي غورکښې، واصفي هروي او محمدزشکي په هرات کښې وو. چه د سلاطين افغانستان په نامهٔ يادیدل .

کله‌چه بابر غـواړي هندته ولاړ شي؛ امـيـر بهـادر ورتـه داسې وائي: کله‌چه گـوډ تيمـور هند فتح کاوۀ هلتـه محمـود خلجي پادشـاه ؤ. خو دغـه‌مـهـال ملوان اقـبـال پادشاهي لـه‌دۀ اخـسـتـې وه او محـمـود خلجي يې بندي کړیؤ. د افـغـانـسـتـان سلاطينو له‌گوډ تيمور سره دهند په نيولو کښې مرستـه‌وکړه. دبابر او ايران په‌کتاب کښې مهـمې خبرې دادي چه‌پښتـانه نارينه اوښځې جګړه کوي. دوئ تر عسکري انضباط لاندې نه‌راځي.

خپله‌خپلواکي يې په هره زمانه کښې ساتلې؛ خودملګرتيا او دخپلوی په‌توګه له ګوډ تـيمور او بابر سره هند تللي او هلتـه‌ئې پښتانه پادشاهان له‌پښو غورځولي. کتاب (بابراو ايران) وائي پښتنو سره دملتپالنې فکرنه‌ؤ.

ابدال خان کلزائی له تيمور سره او نور کلزي له بابرسره ملګري شوي؛ دمغلو په تولـه دوره کښې پښتـانـه خپلواک وو. له بلې خوا تيمـور اوبابر هغـه‌کړۀ او روبه‌چه نوروخلکو سره کوله؛ دوئ سره ئې هسې نه کول.

تيمور او بابر دواړه وائي پښتـانه لوړ پلن خلک دي. جګې پوزې لري. ويښته يې سرۀ اوسترګې يې شنې دي. داسې ښکارې ورروستـه‌له هغـه‌چه آريائي قومونه له شمال ختيځ آسيا څخه‌چه سرې سيمې دي؛ راغلل. بيا دچاپيريال له‌هوا سره ددوئ رنګونـه تر يوۀ حده بدل شوي؛بيـا هم تر اوسـه په‌دغـه بڼه پښتـانـه ډيردي. ويليام ارسکين دکتاب ليکونکی (بابر او ايران) وائي چه پښتانه اصيل آريائيان‌دي.

ګوډ تيمور چه دډيرو پادشاهانو سرونه يې پرې کړي ؛خو هغه مکالمه چه دۀله ابدال کلزي سره کړې او يځپله ګوډ تيمور ليکلې ابدال په توندی له‌دۀ سره خبرې کوي.

چه‌دادی دغه خبرې اترې دتيمور په حواله ولولئ:

ګوډتيـمـور په‌داسې حال کښې چه‌يو ظالم او په‌جګړې پوه سړیؤ ؛ يوتکړه ليکوال هم ؤ. سربيـره پرهغـه داصـولو خاونداو سخي سړی ؤ. مګر په ظلم او بې رحمی کښې هم‌بې ساری ؤ.

(۲۲۹ مخ دتيمور ليکنه زۀ يم نړۍ نيوونکی تيمور)

« کله‌چه زۀ سکندر ئي ته ورسيدم (کندهار) داسې هيواد تـه‌راغلی ؤم‌چه‌په هرپل کښې دښمن‌ته سترګې په لارې ؤم.زۀ ددغه هيواد په وضعيت نه پوهيدم. ما هلته دنګ خلک وليدل چه ويښته يې ژيړاوسترګې يې تورې وې.چه هريوۀ يې ځان په ځادرکښې تاوکړی ؤ. يايې پراوړه اچولی ؤ. ماته‌يې وويل‌دغه خلک پښتانه دي. چه غرونوکښې أوسيږي او دخپلو اړتياؤ داختلو دپاره ښارته راځي ».

تيمور او بابر دواړه وائي سکندر يه‌کندهار دی. که چيرې داسې وي؛چه سکندريه کندهار وي؛ نو په يوناني سکندر پورې اړه نه لري. هماغه سکاندر سکاپورې اړه لري.

تيمور وائي چه ما بلدو خلکونه پوښتنه وکړه چه ابدال کلزائي چيرته دی؟

هغوئ وويل فيروز آباد د هغه پلازمينه( پايتخت) دی او سوړ ځای دی. واوره په کښې ډېره اوري.( فيروز اباد په نورو تواريخو کښې دفيروزکوه په نامۀ يادشوی.).

تيمور وروسته ليکي چه‌دسکندر ئي ښار ( کندهار ) د يوناني سکندر له نامۀسره مناسبت نه‌لارۀ او داسې کلا نه‌ليدل کيده‌چه سکندرجوړه کړې وي. مګر فيروز آباد يو جنګي ښـار ؤ چه‌پريوې غـونډۍ باندې جـوړ شـوی ؤ او ديوۀ جنګي ښـارټول خصوصيات يې درلودل. دښار ديوالونه‌له‌ډبرو جوړوو. هلته‌څو ډوله تيرې وې چه توږل کيدای شوې.هغوئ يه‌دې کارکښې له پلرو پلرو ماهران وو. د باميان بتان هم ددوئ دلاس نخښه‌ده. ماته ويل شوي ؤ چه‌کلزائيان درانه تلوارونه جوړوي چه‌په يوګزار سرې وژني. زما لښکر دا امتيـاز درلود چه سـوارۀ وو. او کلزائيـانو آسـان نه درلودل.

ددوئ دجګړې ترتيب داسې ؤ چه دوئ ددايرې په څيـر دريدل. لـه هره پلوه چه حمله ورباندې کيدله؛ دوئ چمتو ؤ. دوئ اسيران نه نيول. دوئ مونږته ماته راکړه. بيا مونږ‌ باروتو څخه کار واخيست. چه‌دوئ هغه نه‌پيژندل. په شانه تلل. زمونږ څه لښکر دوئ سره په جګړه کښې ؤ. څه دفيروز دښار په لور لاړل. ماوليدل چه زمونږ لښکريان مړۀ کيدل. ماځان ښارته ورساوۀاو هلته‌چه نيژدې شو؛ په آذانو موشروع

وکړه . زهٔ پوهيدم چه کلزائيان آذان دسولې علامه بولي.نودښار خلکو مقاومت ونه کړ. ما خپلو لښکروته وويل چه دښار پرخلکو غرض ونه لرئ. په آذان آذان ننوتلو. ( الله‌اکبر ) !

ابدال کلزائي ټپي شوئ. کلزائيان چه څو پوهېدل مونږ ښارته ننوتلي وو. دخپلو کورنيو او بچود پاره يې جگړه پريښوده. زهٔ دابدال کلزائي په مانۍ کښې ؤم؛ چه دی يې زخمي راؤست. سخت ټپي ؤ.

# د ابدال کلزايي او گوډ تيمور خبرې

تيمور ليکي کله چه ابدال ېې کوټې ته راننه ايست، په قهربې پوښتنه وکړه : زه ېې ولې دلته راوستی يم؟

ما ورته وويل : ما غوښتل هغه ميړنی ووينم چه زما دوه نيم سوه تنه سپاهيان ېې وژلي دي.

ابدال کلزائي وويل: هغه ميړنی زه يم. که دې نن باروت نه وای استعمال کړي ماستا ټول لښکر واژه. اوس به ستا پرې کړی سر زما تر مخې پروت وٌ!

ما ابدال ته وويل: ته ډير زړور سړی يې. ستا په گوگل کښې د زمري زړه اېښودل شوی؛ خو ناپوه يې،نه پوهيږې،ته چه ماسره په داشان خبرې کوې؛ زه تاوژلی شم.

ابدال وويل: ما تاته داخبرې ځکه وکړې چه ته پوه شې؛ په داسې حال کښې چه ما ، ما ته کړې ټپي او اسيريم.خو له تا نه غوارم چه ما وبښې او له وژلو مې لاس واخلې.له تاويره نه لرم. همدا اوس دووکسانوته ووايه چه له تلوار سره ما ټوټې ټوټې کړي.

ما ابدال ته وويل: ته يو زړور سړی يې. که تا زما دوه سوه پنځوس تنه سپاهيان نه وای وژلي؛ ما له تاسره کارنه درلود او نن دلته نه راتلم.

ابدال چه زخمي او اسيرو، وخندل. سپين غاښونه ېې ښکاره شول. وئې ويل: ما غوښتل پوه شم ؛ دداسې يوه سړي چه هغهٔ ته امير تيمور وائي؛ دلښکرو وژل څومره خوندلري؟

امير تيمور وائي ما وويل چه ای ابداله! نن ما ستا ښارونيو اوهلته مې وژنه

اولوټ ونه کړ او اعلان مې وکړ چه دخلکو ځان او مال دې خوندي پاتې شي!

ابدال کلزائي په قهر او کرکې وویل: پرما احسان مه ږده. که تا دقتل اولوټ امر ورکړی وای؛ کلزائې نارینه ؤ ښستا لښکرېواژه.

ما وویل: ابداله تا زما دوه سوه پنځوس تنه سپاهیان په داسې حال کښې مړه کړل چه تا ته یې هیڅ تاوان نه ؤ رسیدلی. نو بویه د قانون په حکم او دجګړې داصولو له مخې باید ووژل شې.

زه په دې شرط ستا له وژلو لاس اخلم چه ته ماته باج راکړې او کلزائي زړور خلک زما په لښکرو کښې وي. ته او تانه به وروسته ستا زوي دغور دلوي هیواد پادشاه وي.

ابدال وویل: ژرمې ووژنه. ځکه یو کلزائي پاچا هیڅکله هم باج نه ورکوي.

ما وویل: زه تا اوس نه وژنم. ترسبا تاته مهلت درکوم. که سبا دې ماته مثبت ځواب رانه کړ؛ ستا سر پرې کوم.

ابدال وویل: که زر کاله مهلت راکړې؛ زه ستا شرط نه منم او ستا اطاعت به ونه کړم که ته ما مړ کړې دلته په غرونو کښې داسې خلک شته چه ستا لښکر به وخوري.

یوه ډیره سړه شپه تیره شوه. سبا مې ابدال را وغوښت او ده ته مې وویل: تا خپل فکر وکړ. دغور پادشاه ابدال وویل: ما د شپې فکر وکړ ما درته ویلي ؤ؛ ما مړ کړه ځکه زه به ستا اطاعت ونه کړم او خراج نه درکوم. ده ته مې وویل: زما زړه نه غواړي تا غوندې یو نارینه سړی چه زړور سپاهیان لري مړ کړم. بل کال زه هندوستان ته ځم او دغور له لارې تیریږم؛ دغور لار د خراسان تر لارې ښه ده. که ته له ماسره وعده کوې؛ چه زما دوست او ملګری کیږې او ما سره مرسته کوې تانه وژنم. کله چه ما پرهندوستان غلبه ومونده؛ ستا برخه به هم وي.

ابدال وویل: خراج نه درکوم او ستا اطاعت نه کوم. مګر کولای شم تاسره

دوست شم .

ما وويل : چه ددوستۍ لازم شرط دادی چه هيڅکله به پرما او زما پر لښکرو برید نه کوې او د ضرورت په وخت کښې به څپله مرسته نه سپموې.

ابدال ووېل: داکار به وکړم - ما وویل: ستا په خبره ويسا لرم او له تا غوندې يوهٔ میړني سړي نه وثيقه نهٔ غواړم! ».

داؤ دغور دپادشاه ابدال کلزائي جګړه او خبرې له ګوډ تیمور سره ؛ چه تیمور پخپل قلم ليکلي او تیمور په خپلو خاطراتو کښې داهم وائي چه دُ کروړونو انسانانو وينې مې توئې کړې. ډیر هیوادونه مې په آسیاکښې ترروم (ترکيې) نيولي ؛ ښارونه مې له بيخه نړولي.ښځې او وينځې مې نيولې، نارينه مې مړيان کړي؛ خو په غور ، زابل، کابل او پښتونخوا کښې ددهٔ وضعه داسې نه وه .

# محمد زشكي او تيمور

د افغـانستـان پـه تاريخ كښې ځينې نومـونه، نه‌دي راغلي؛ چه په ملي تاريخ كښې دهغوئ پيژندنه گټوره وه. چه‌له هغه‌شمـير څخه‌بوداق كندهاري، ابدال كلزائي، واصفي هروي او محمدزشكي دي. چه په‌لنډه توگه خبرې پرې شوي او دادى وروستى ميړنى محمدزشكي دى‌چه‌دگوډ تيمور له‌ليكنې هغه پيژنو. محمد زشكي هم دهرات سلطان ؤ؛ چه تيمور سره يې پنجه وركړه.

امير تيمور وائي ماله هرات‌څخه يوليک دهرات پادشاه محمدزشكي ته واستاوۀ چه زۀ هرات ته درځم او هلته څه موده اوسيږم. ته زما عسكرو او آسانوته خوراک او واښۀبرابركړه. زۀ به مناسبه بيه دركړم. د هرات پادشاه زماداگي مركړ. زۀدليک دځواب په انتظارؤم. كله‌چه ما بل ليک وليږۀ محمدزشكي دوهم قاصدهم وواژۀ. حال‌داچه قاصدانو گناه نه‌درلوده. زۀ پوه شوم چه دهرات پادشاه زما په حق كښې ښه‌نظر نه‌لري. هرات آباد ښارؤ. كله‌چه زما نيكه‌چنگيز هغه وران كړ؛ شپږزره كاروان سراى دكانونه او حمامونه يې درلودل. درې سوه نهه‌پنځوس مدرسې اوخانقاوې هلته وې. څلور څلويښت زره كورونه هلته آبادوو. كله‌چه زۀ هرات ته ورسيدم؛ هرات دهغه مهال پراختيا نه‌درلوده. بيا هم له لومړى درجه ښارونو څخه‌ؤ.

زما دلښكرو ډيره برخه په غـوركښې دكلزائيـانو له خواوژل شوي‌وو. ما پرهرات سمدستي حمله‌ونه كړه. هلته‌مې واورول؛ څو زما زوي شيخ عمرله خپلو لښكروسره راورسيږي.

شيخ عمر را ورسيد. زۀ پوه شوم چه دهرات پادشاه دښتې ته نه راوزي او په ښاركښې دفاع كوي. دهرات ښار مې محاصره كړ. هراتيانو دفاع كوله. زما عسكر يې

ورَل.

ما شاهرخ خپل زوي ته وويل: چه په‌حگړه کښې هرډول پوستوالی او نرمې دماتې سبب کېږي. شاهرخ (ددهٔ زوي) ښارته ننووت. لږ وروسته دلوگي غرونه له‌ښار څخه پورته شول. زهٔ پوه شوم چه‌ښاريې سوځولی دجگړ ماروله نارو، دښځو اوماشومانو له چغو او دديوالو له‌لويدلو مې خوند اخيست. دې غرونو ماته‌دښې موسيقۍ خوند راکاوهٔ. مگر جگړې دوام‌درلود. هراتي سپاهيان‌نه تسلميدل. ما نه غوښتل محمدزشکې سره خبرې‌وکړم. ځکه‌دهغه دمقاومت له کبله زما ډېر سپاهيان ووژل شول.

همدا ډول نادر افشار په ۱۷۲۹م کښې چه پرېښتنو برى وموند؛ ددوئ پښتونولۍ ته‌يې په درانهٔ نظر وکتل او دبي‌بي‌زينبې په‌پلوکښې يې ددوئ بنديان خوشې کړل. ټپيان او مړي يې ورکړل.

که زورډې دخداى له‌لويه زوره-چاليدلى زينبو وه؟ اوس زخميانوته ؤزي له‌کوره سرتوره. دابده ورځ ولى پرېښتنو راغله؟

اعليحضرت اشرف افغان په دريو جبهوکښې جنگيدلى ؤ. لويديځ کښې له ترکانو شمال کښې له روسانو او ختيځ کښې له نادر افشار سره. ډېر ستړى و؛ په‌همدغه مهال کښې هرات دابدالي پښتنو په‌لاس کښې وو. او کندهار دغلځو په‌لاس کښې. دغو دوارو، اشرف يوازې پرېښود او مرسته يې ورسره ونه‌کړه. خو کله‌چه نادر افشار فراغت وموند؛ دواړه يې نسکور کړل. او بي‌بي زينبه سرتوره له‌کوره ووتله.

په تاريخ کښې همدغه ټکى اهميت لري چه راتلونکى نسل دهغه لهٔ‌مخې خپلې غلطۍ سمې کړي. که چېرې د اشرف افغان ملاتړ شوى واى، تاريخ او جغرافيه به بل ډول ؤ. يعنې دواړه به‌ددوئ په گټه واى.

# سکائيان او پارس

دامير تيمور او بابر وضع مو له پښتنو سره وکتله. اوس به ډيرې پخوانۍ زمانې ته لاړ شو. دسکائيانو دپادشاه ايدان تورسوس او داريوش؛ دپارس دپادشاه مکالمه چه هيرودوټ ثبت کړې ده؛ وګورو. ددغې مکالمې ثبت ډير مهم دی. ځکه دپښتنو دکرکټر ښکارندوي دی. چه زمونږ سلسله له پارس سره ډيره لرغونې ده.

تر هغه وروسته به نوې زمانې ته راشو او دطالبانو غورځنګ به وګورو.

طالبانو چه کومه جنګي لاره غوره کړې؛ دا دسکا يا ساکو له جګړو سره ورته والی لري. پرته له دې چه طالبان په هغه خبروي. دا يو طبيعي ورته والی ښيي.

وروسته تر هغه چه داريوش پرسکائيه يا ساکيسا باندې يرغل وکړ. دپارس لښکر سرګردانه شو. هيڅ بې ترلاس نه کړل. په پای کښې داريوش ددوی په لاس ووژل شو؛ چه تفصيل ئې مخکښې ورکړ شوی.

کله چه داريوش مات شو؛ نو دسکائيه پادشاه ته يې داسې پيغام ورکړ: «ای حسابي ميړنيه! ترکله به تښتې؟ ته کولای شې له دې دوو لارو يوه ونيسې. که پوهيږې چه ماسره جګړه کولای شې تردې چه هرې خواته ځې په خپل ځای ودريږه او خپل زور وښيه او که پوهيږې چه وسه نه لرې؛ له وړاندې وروسته تللو څه ګټه؟ ښه داده چه خپل سردارته ه‌داريوش ته‌راوبه‌او خاوره دتسليم دنخښې په توګه را وليږې او خبروته کښينې!».

تورسوس داسې ځواب ورکړ: «ای دپارسيانو سرداره! ته زما دجګړې په طريقه نه شې پوهيدلای. زما تيښته له ډاره نه ده. زه هيڅکله له هيچا ډارنه کوم. دا زمونږ پخوانۍ لاره ده. د سولې په وخت کښې هم پر يوه ځای هستوګنه نه کوو. مونږ دمادي مسايلو پروانه لرو. مونږ باندې دپلرو هديرې ګرانې دي.

مونږ دجګړې پلويان نه يو. که تهٔ دوينو توييولوته تلولی يې؛ زمونږ د پلرو هديروته راشه. هلته به‌جګړه وګورې. زما دغه ځواب ستا دتهديد په‌ځواب کښې دی. تاځان زما سردار ښودلی، زهٔ بې له‌خدايه بل سردارنه‌لرم.

ای بلا زمونږ له خاورې ليرې ګرځه.

له‌کال ١٧٠٩- ١٢٠٠م بيا له ١٩٤٧- ١٨٠٠م پښتـانه‌لومړی دمـغلو او بيا دانګليسانو سره په اوږدو وختونو کښې په جګړو اختـه وو. په‌څو هيوادو کښې ميشته وو. هره برخه‌يې ترځانګړي د باو لاندې وه. دوئ دمغلو، صفويانو، انګريزانو له‌پلوه په دغـه تړوله دوره کښې چه شپږ اووهٔ پيړۍ يې نيولې وې؛ وهل کيدل. په ميليونو ککرۍ يې خاورې کړې.خوخپل موجوديت يې وساتهٔ.

اوس داسې وخت را ورسيد؛ چه پښتـانه ځانونه سره تړول کا . ځکه په خوا کښې يې لوي طاقت نشته١٩٩٦م

دشمال او جنوب اقتصادي لاروکښې پراتهٔ دي. ترپخوا ډير تعليم لرونکي،ليکوال او شاعران لري؛ عسکري او اقتصادي پوهان لري. عام‌پښتـانه هم‌په‌دې پوهيدلي چه دوئ دپښتانه په‌توګه ډيرتړکول شوي. ترپخوانۍ يوتربله خوا خوري ډېره شوې ده.

په‌پښـتنو کـښې له ١٩٤٧- ١٨٠٠م داسې پادشـاهان‌وو. چه هغـوئ دخـپلې پادشاهۍ په‌غم کښې وو. د انګليس او روس په رسه‌کشۍ کښې پښتانه ډيروځپل شول.

يوه خوا پښتونولې کمزورې شوه بله خوا زد کړه نه‌وه. نو داسې خلک ډيرشول چه دپيسو پيدا کولو فکر کښې شول.هرڅهٔ يې هيرکړل.

بله‌صدمه دا ورسيده‌چه ورروسته‌له ١٩٨٩م په شمال کښې تاجکستان، ازبکستان ترکمنسـتـان او نور مـينځ ته راغلل. د ايران اسلامي جـمـهوريت. نو دافـغـانسـتـان دتاجکو، ازبکو ترکمنو او هزاره دپاره يو بله مرجع ومونډله شوه. چه ملي يووالي ته يې ديکه ورکړه. نو له دې کبله مو پرپښتنو ډيرې خبرې وکړې.

په ١٩٧٩م‌چه د پخواني شوروي اتحاد لښکرې افغانستان ته ننوتې؛ افغانان په

ګډه پاڅيدل. خو په ۱۹۸۹ع چه روسان ووتل،شمالي جمهوريتونه ګمېريدل. هغه ملي روحيـه پاتې نه شوه. او دا يوه طبيـعي خبره وه. سره له دې چه تاجک،هزاره ازبک او ترکمنو کښې داسې خلک ډيردي چه افغانان دي او نه غواړي چه دافغان وياړلى نوم له ځانه ليرې کړي.

اوسنى افغانستـان داحمدشاه بابا دسياست لـه مخې هـــزاره،ازبک،تاجک پښتـانه.... ټول افغانان وو. ددغـه ميراث ساتنه زمونږ په ګټه دي. ځکه زمونږ زړونه داسې غواړي.

پاکستان چه داسلام په نامه جوړ شو،سره له دې چه دمسلمانانو ډيرکي په هند کښې پاتې شول په (۱۹۷۱ ع) يوه بله ټوټه دبنګله ديش په نامه ترې بيله شوه. نوددغه هيواد اصلي مقصود چه دهند دلوئې وچې دمسلمانانو هيواد به وي؛ ترلاسه نه شو. نو دغه هيواد د يوه پيوندى هيواد بڼه غوره کړه. دغه هيواد که وي که نه وي دپښتنو ترمينځ سرحد ورو وروخپل مفهوم له لاسه ورکوي.

يو موټى افغانستان جمع صوبه سرحد يا پښتونخوا جمع بلوچستان،سند او پنجاب دتاريخي او اسلامي اړيکو په حساب که يو هيواد نه وي،ګډې ګټې لري. ځکه په تاريخ کښې د سند مدنيت، ګندهارا، باکتريا، پاکتيا، صفاري، غزنوي، غوري، ابدالي؛ په لويديځ اړخ يعنې افغانستـان کښې ؤ. او محورېې پښتـانه قومونه دي دا دپښتنو يادونه دکوم اوچتوالي په خاطر نه ده.دموقعيت اوخصلت له کبله ده .که مونږ دسکائيانو دجګړو لاره وګورو؛ بيا دجهاد دورې ته راشو؛ ۱۹۸۹- ۷۹-۱۰م وروستـه چه په ۱۹۹٤م دطالبانو په نامه په جنوب لويديځ کښې حرکت وکتل شي؛ دوه نيم يادرې زره کاله دمخه او اوس دغه لارې طريقې يوشان دي.

همدغه وړاندې وروستـه تلل چه سکائيانو له داريوش سره وکړل؛ په لږو تلفاتو ډير پرمختګ؛ يوه لرغونې لاره ده. يا په شپه کښې پردښمن ورتلل او نور...

کله چه په ٥٨ هـ کښې مسلمانان کابل ته راغلل؛ دلته کابلشاهان (کوشانيان) وو،دوئ په دين کښې د خپلو عاداتو له مخې اختلاف نه درلود. اختلاف په جګړه

کښې دغالب لوري په شرایطو کښې ؤ. لکه دښځو اسیرې کول اودځوانانو مړئیان بیول.

پښتانه مړئیان نه ساتي. نه پخپله مړئیان کیږي. یا مړئیتوب مني. تاسو دابدال خان کلزائي خبرې ولوستلې؛ چه دهٔ ګوډ تیمورته څه وويل؟

دوی مسلمانانوته ویل: موږ دروغ نه وایو، حرام مال نه خورو. ناحقه خون نه کوو. زنا او لواطت په موږ کښې نشته.دبې وزلي مرسته ضروري بولو.

پښتانه له مسلمانانو سره جګړه نه کوي او که چیرې جګړه ضروري وي نو له دیني پوهانو فتوأ غواړي.لکه چه میرويس نیکهٔ ۱۷۹م دعربو له پوهانو فتوأ واخسته. بیائې له ایرانیانو سره جګړه پیل کړه.

**دطالبـانو تکل او جګړه:** د جهاد په کلونو کښې له‌روسانو سره له (۱۹۸۰- ۱۹۸۹م) پورې طالبان سره یول شول. لومړی یې دتنظیمو مشرانو‌ته داسې وويل چه جهاد د خدای دپاره وي؛ نه‌دنفس دپاره. چاددوئ خبره ونه منله. ځینې تنظیمو له‌ده غوندې مرسته ورسره وکوله اود خپلې عقیدې پربنسټ یې جهاد کاوهٔ. نوه یې دجانه‌یاداوهٔ او نه دوئ یه دې خبرو پسې ګرځیدل.

څو په ۱۹۹٤م دوئ دکوټې له‌لارې کندهارته راغلل او دلاروڅخه یې پاټکونه لیرې کړل. دوئ دتنظیمو فساد او خپلچاري وغندله. ویل کیدل چه‌دوئ پاکستان تنظیم کړي. په تیره بیا دپخواني جنرال نصیرالله بابر چه‌په دې وخت کښې دپاکستان دکورنیو چارو وزیر ؤ؛ نوم یادیدهٔ.

طالبانو چټک ملګري وموندل او پر کندهار قابو شول. دوئ یو مشر درلود چه ملامحمد عمر اخوند ؤ. دوئ تر غزني ولایتونه ونیول.تر غزني چه را ورسیدل هرچیرې یې د ساروأ حاوندانوته سزاګانې ورکړې. پلویان‌یې ډیریدل. لاکال تیرنهٔ ؤ چه کابل ته ورسیدل. کله وړاندې؛ کله وروسته کیدل. بې دریغه قربانئ یې ورکړې. سخت اسلامي قوانین یې عملي کړل.

په ۱۹۹۶ د سپتمبر میاشت کښې ننګرهارته ورسیدل. د همدغې میاشتې په ۲۷ يې کابل ونيوۀ. د همدغه کال په اکتوبر کښې دکابل په شمالي کښې په جګړه اخته شول.

طالبـان دلتـه کلک جنګونه کـول. مـقـابل لوري ته يې داسې خلک ۇ ؛ چه دروسيې، ایران او هند له خوا مرسته ورسره کيده . دغه حقيقت دهمدغې نيتې په ټولو خپرونو کښې ۇ. چاپي او غيرچاپي لکه راډيو او تلويزيون. دغه مطلب مې ځکه دلته وليکی چه سکائيانو او دوئ يوشاني جګړه کوله.يعنې څنګه چه ددوئ پلرودرې نيم زره کاله ډمخه دپارس لهلښکرو اوداريوش سره جګړه کوله. په همغه ترتيب جګړه دوئ هم کوله. طالبانو افغانستان له ورانيدلو وژغوره.

ټولې نړۍ ددوئ په خلاف خبرې پیل کړې. دهمدغې نيتې ورځپاڼې دي وکتل شي. (۱۹۹۶ سپتمبر - اکتوبر) او دغه خبرې لۀ عدالت او انصاف ليرې دي. زۀ به هغه خبرې يو څۀ وليکم څوڅرګنده شي چه نړۍ انصاف نه لري:

له ۱۹۹۲ څخه ۱۹۹۶ دسپتمبر تر ۲۷ پورې دعفوې بين المللي مؤسسې، دبشردحقوقو مؤسسې، دايشيا واچ مؤسسې او دامريکې دبهرنيوچارو وزارت پرله پسې رايوورونه ورکول چه په افغانستان کښې ښځې هغه جنګيالي چه دبرهان الدين رباني او مسعود پورې مربوط وو. دجنګ يو انعام بولي او پرهغو تيرى کوي. په ۱۹۹۳ کښې خوشحال خان مينې ته نژدې درې سوه ښځې لوڅې بنديانې وې چه طالبـانو خپل څادرونه ورکړل ؛ څو ځانونه پټ کړي. يوسل او پنځوس تنه ښځې دمرګ په حالت کښې ژورنالستانو وليدې او په ډله يزو قبرونو کښې هم لوڅې پرتې وې.

کله چه طالبان کابل ته ننوتل او هغه ښارئې ونيو. نو امرېې وکړ چه ښځې دې شرعي حجاب ولري او پرته لۀ شرعي محرمه دې نه وُزي او له نارينه ۇ سره دې په دفترو کښې کارنه کوي.

همدغه مسأله چه دښځو دحقوقو مراعت نه کيږي. ټولې نړۍ کښې مطبوعاتو او خپرونوته ووتله او په‌دې پلمه‌ېې دطالبانو حکومت په رسميت نه پيژاندۀ او مرسته ېې ورسره نه کوله. په‌داسې حال کښې چه روسيې، ايران او هند د طالبانو مخالفينوته مرستې ورکولې اوجګړه روانه وه. اولادوي هفتې د طالبانو له راتګ نه وې تيرې. نودټولې نړۍ دالويه بې انصافي وه. داخبرې مې له‌دې کبله وليکلې چه نړۍ انصاف نه‌لري. هغوئ چه‌له ښځو سره ناوړه او سپکه رويه‌[ادزنأعوله] دخلکو پرناموس تيرى ؤ. نوئخانونه ئې غلي کړى وو. يوازې بشري اخلاقي مؤسسې راپوروونه پرې ليکل.

# د افغانستان سياسي او ديني ـ مذهبي دريځ

ددې خبرې رونول ضروري دي چه دافغانستان ډيرکي (اکثريت) سني مذهبه مسلمانان دی. دهند مسلمانان هم سني مذهبه دي. چه پاکستان هې اوس په يوه برخه کښې دی. نودتسنن د مذهب پربنسټ هغه دايران ترشيعه مذهبه ښه بولي. مسلمان ترمسيحي او مسيحي تر هندو او دهرې غوره بولي.

په ۱۹۹٦ چه روس، هند او ايران له لږ کيو (تاجک ازبک هزاره) سره ودريدل؛ بله خوا پاکستان، عربستان او امريکه وه او پښتانه که څه هم امريکه ئې دسختې اوکلکې مسلمانۍ پلوي نه بولي.

دافغانستان خلک که دې ته اړشي؛ چه له دوو مثلثو يو ومني. يعنی روس، ايران، هند او دوهم مثلث پاکستان، عربستان، امريکه وي؛ دوهم به ومني. عربستان که هرڅنگه شي؛ داسلام مبداء له هغه ځايه ده. کعبه هلته ده.

روس تيری کوونکی بولي. پر افغانستان ېې پوځي يرغل کړی ۱۹۷۹م امريکه تر روس ښه بولي او ليرې پرته ده. په داسې حال کښې چه روس نژدې پروت دی دامريکې خطر لږ گڼي.

دوئ فکرکوي چه ايران په افغانستان کښې دخاورې دعوی لري او پاکستان ېې نه لري. په اتلسمه پيړۍ کښې ميرويس بابا دهند دمغلي مسلمان دولت سره ښې اړيکې وساتلې. ځکه ايرانيان کندهار کښې پراتۀوو. او احمدشاه بابا دجرگې په مشوره د هند په لوري وخوځيد. چه منتشر پښتانۀ سره يو کړي. په دې چاربريالی شو.

# د اوسنيو حالاتو کره کتنه

اوس چه کال ۱۳۷۵هـ لمريز او ۱۹۹٦ ميلادي دي او ددغه کال په نيمائي کښې بيا ترمني پورې ( وری، تله اولړم ، سپتمبر ،اکتوبر) په افغانستان کښې يو بدلون راغی. ددغـه بدلون څـيړل ځکه ضروري دي چه تاريخي اهميت لري. هغـه دا چه طالبانو درې برخې د افغانستان خاوره ترکنټرول لاندې راوسته. دحالاتو دغه څيړنه دهمدغه مهال ده.يابه سمه وي؛ يابه توربدلونونه راشي. که سم نه ؤ؛ زهٔ به هم نهؤم. بنياده نيمګړی دی. کيدای شي سم نه وي.

مايوه لنډۍ اوريدلی وه‌چه ويونکی (دلنډۍ) هيښ ؤ.

چيرته لندن چيرته چترال دی ! بې ننګي زور شوه پيرنګی چترال له ځينه

مونږ دنړۍ په يوهٔ ګوټ کښې پراتهٔ يو. همدلته، يونانيان ، عرب ، مغل ، انګريز روس ... راغلي او مونږ يې په عذاب کړي يو.

کله‌چه په کال ۱۹۷۳م په افغانستان کښې پادشاهي له مينځه ولاړه. په هماغه مهال يوه خلک خواشيني شول. ځکه دولت له مينځه ولاړ.

اعلیٰحضرت محمد ظاهرشاه فکر کاوهٔ چه کمونستان او اخوانيان به‌يوبل ځنثی کوي. دولت به‌پرځای وي. خوداسې ونه شول. هريو پرخپل وار راغلل ورانی يې وکړې. شوروي اتحاد مات شوی ؤ . دافغانستان په‌سرحدوکښې دتاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان جمهوريتونه جوړ شول . په ايران کښې اسلامي جمهوري چه فکر کيدهٔ دوام به ونه کړي؛ خو پاتې شو. يوازې پاکستان پرخپل حال ؤ.مګر پاکستان مخکښې په ۱۹۷۱م کال کښې نيم شوی اوشرقي پاکستان د بنګله‌ديش په نامهٔ تللی ؤ. ددغه کرسو ليکوال هم دبنګله‌ديش بين‌المللي کنفرانس ته بلل شوی وو.( سپتمبر ۱۹۷۱ ).

هلته کومه موضوع چه‌ما مطرح کړه؛ هغه داوه:« هرملت‌چه وګړي، ژبه، تاريخ او ځمکه لري؛ کولای شي هيواد او دولت هم ولري. » ما په‌پښـورکښې په‌يوه کنفرانس کښې ١٩٧٢م داخبره هم وکړه چه:« يوګوسلاويا، يواروپائي، صنعتي او کمونستي هيواد دی. خودغه هيواد کښې قومي اوکلتوري مسايل مطرح‌دي؛ چه‌په‌ څو برخو به‌وويشل شي. »( شهباز اخبار).

په‌افغانستان کښې هم‌پښتانهٔ، تاجک، اوزبک اوهزاره اوسيږي. نور قومونه هم شته‌اوس که تاجک تاجکستان ته‌لاړشي ازبک ازبکستان، هزاره دمذهب په حساب ايران ته. پښتانه څه وکړي؟

مخکښې موو‌ويل دظاهرشاه له تلوسره ابدالي لړۍ لاړه. چه هلته‌تول افغانان وو. نسل کلتور او ژبه سره نژدې ؤ.

په‌کال ١٩٩٢ داپريل په مياشت کښې مزارشريف کښې تاجک، هزاره، ازبک، اسماعيليه سره کښيناستل. دايران نماينده هم ؤ. ديوهٔ‌حکومت جوړولو پريکړه يې وکړه. پرچمي غير پښتانه هم ورسره وو. ببرک کارمل وويل:« يا همدا حکومت يادې افغانستان دژبې پربنياد تجزيه‌شي! ».

په١٩٩٦ دسپتمبر په مياشت کښې همدغه موضوع دخنجان په يوهٔ عسکري ترون کښې د رشيد دوستم، احمدشاه‌مسعود، کريم‌خليلي‌او اسمعيل‌خان بوځل‌بيا داقليتو له خوا مطرح شول. دغه وخت طالبانو کابل نيولی ؤ. ( ازبک، تاجک، هزاره) مقابلې ته‌چمتو شول او (طالبانودافغانستان‌درې برخې نيولې وې).

# طالبان څوک دي له کومه شول؟

چيرته چه جومات وي؛ ملاوي؛ طالب هم وي. جومات، ملا، مدرسه، مخکښې تردې چه عصري معارف راشي؛ موجود ؤ.چه دسواد يوازنۍ لاره وه. په تيره بيا چه پخوانۍ ملائي؛ يوازې اسلامي علوم نه‌وو. په هغه کښې ادبيات، رياضي، هندسه او نجوم هم شامل ؤ.

د ارشاد الطالبين کتاب، مجمع العلوم او مطلع الفنون کتاب ښې غوره مثالونه دي چه طالبانو لوستل او لکه دايرة المعارف هرڅه په کښې ؤ. تاريخ ادبيات، نجوم هندسه رياضي، فلسفه. حتى قيافه پيژندنه.

طالبان په ۱۹۹٤م دکويټې له لارې کندهارته راغلل. څنگه چه په‌لومړي گام کښې ښې دپاکستان يو تجارتي کاروان له پخوانيو جهادي قوماندانانو خلاص کړ او نصيرالله بابر دڅو غربي هيوادو له سفيرانو سره ترهرات پورې تللی ؤ. چه دامريکې او جرمني سفيران په پاکستان کښې هم ورسره وو. له ترکمنستان څخه دپايپ لين موضوع دتجارتي لارو او سړکونو د جوړولو مسايل مطرح شول چه مالونه تر پاکستان پورې ورسيږي.

نوداسې فکرکيدۀ چه طالبان به هم دهمدغې لړۍ يوه کړۍ وي. د رباني حکومت له‌کابل نه؛ دطالبانو غورځنگ يو سالم اسلامي غورځنگ بالۀ. دامنيت راوستل دوسلې ټولول، اخلاقي فساد ورځکول؛ هغه مثبت ټکي وو چه خلک طالبانو سره يوځای شول.

د« سر، مال او ناموس » ضمانت ورکول دا هغه خبره ده چه‌افغانان پرته‌له دې بل څه نۀغواړي. طالبانو دښځو پرگرځيدو او دنجونو پرښوونځيو بنديز ولگاوۀ. شرعي حجاب اوشرعي محـــرم لـــه ښځو سره دباندې له کوره حتمي ؤ؛ چه عام افغانان

دهغه مخالف نه وو.

دبين المللي راپورونو په استناد؛ زنأ، لواطت، غـلا، وژل: دبرهان الدين رباني او دهغه دمرستيال احمدشاه مسعود په څلورکلنه دوره (۱۹۹۲- ۱۹۹٦) کښې رواج درلود چه دافغانانو ملي او بين المللي حيثيت ته يې صدمه ورسوله. کابل په ځو برخو وويشل شو. لکه لويديځ کابل کښې حزب وحدت هزاره دايران پلوي، دکابل شمال شوراى نظار پنجشيري او جمعيت تاجک؛ ختيځ ترهوايئ ډگر پورې رشيد دوستم ازبک ،تپايمني واټ، اسماعيليه ،دارالامان حرکت اسلامي شيخ آصف محسني شيعه مذهب.لږ ليرې په چهارآسياب ،قلعه‌چه کښې دگلبدين حزب اسلامي ؤ.

حزب اسـلامي ويل: چه‌ددوستم کمـونست مليـشـه دې له‌کـابله ووزي، دگلبـدين داخبره سمه وه. مگر دی پخپله کال وروسته رشيد دوستم سره يوځای شو.

داگست په لسمه (۱۹۹۲ع) د گلبدين راکټونه پرکابل واوريدل. نوي مهاجرين پښتنو نورو خواؤ ته‌لاړل. فحاشي په نورو مهاجرو کښې وه. بې فـاميله پيغلې وې؛چه فـاميلونه يې په راکټو تباه شوي وو. ورځ نوره هم بده شـوه. مخکښې هم تنظيمونو افغاني ښځې پرعربو خرڅولې.نودطالبانوښه هرکلی وشو. طالبانو که دنورو خبرې منلې څه خپلی يې هم ذرلودې. خو کمونستانو؛ اخوانيانو، دايران پلويانو خپلې هيڅ نه درلودې. قول، همت، غيرت،شرافت، اسلام په دوئ کښې نه ؤ.دافغانانو وژنه لوتماري يې کارؤ.

جهاد ملت،کړ. پرته له جهاده ملت‌دوئ سره ونه دريد. مگر طالبانو سره‌خلک ودريدل. په ۱۹۹٦ په اکتوبر کښې دهيواد له‌څلورو برخوڅخه درې برخې له طالبانو سره وې. په پاتې يوې برخې کښې هم‌دطالبانو پلويان ډيروو.

# طالبان او ملي حاكميت

طالبانو يوه شورا درلوده او يومشر؛ ملا محمدعمر. دكابل له‌نيولو وروسته (۲۷ سپتمبر۱۹۹٦) طالبانو سخت مقررات په‌كابل كښې عملي كړل.

۱- هغه‌ښځې چه په‌دفتركښې كاركوي تربلې اطلاع پورې دې كوركښيني.

۲- سينماگانې دې بندې وي.

۳- په‌تلويزيون او راډيو كښې دې موسيقي نه‌وي.

٤- كستونه دې نه‌وي. ويډيوئي فلمونه دې نه‌وي.

۵- زناً، لواطت د مرگ سزا لري.

٦- شرابخواره، اتيا دُرې وهل كيږي.

۷- دنجونو ښوونځي دې اوس بندوي.

۸- دغلۀ لاس پرې كيږي.

دښاريانو او تعليم لرونكو يا غرب وهلو دپاره دغه مقررات دمنلو وړنه‌وو. مگر كليوال او خواران خوشحال وو. هماغه دسر، مال، ناموس ضمانت ددوئ دپاره كافي ؤ.

خو دغو مقرراتو په‌نړۍ كښې بل ډول انعكاس درلود. ډيرو هيوادو په همدې پلمۀ طالبان په رسميت ونه پيژندل. ملگرو ملتو سخت ليک طالبانوته واستاوۀ. مرستې بندې شوې. دپاكستان صدراعظمې بينظير بهټو هم طالبانوته وويل چه مقررات نرم كړي؛ خو طالبانو غوږ ونه‌نيو او خپلې روئې ته‌ئې دوام وركړ. بيا وروسته ئې وويل څه نرمي به راولي. دغه‌وخت ځينو داسې فكر كاوۀ چه طالبان دچانه مني اوداچه‌دوئ دچا په‌خبره اړوي، نه‌دي. دوئ مخالفينو سره چه‌دروس، ايران او هند په‌ښكاره او

بربنډو مرستـو ولاړوو او ټول اقليتونه وو. ښې جګړې کـولې. د۱۹۹٦ د اکتوبر له لومړۍ نيټې تر ۲٦ پورې درې سختې حملې يې کابل ته نژدې؛ په شا ووهلې. په ۲٦ داکتوبر يې وويل چه دبادغيس ولايت او څه فارياب طالبانو له جنرال دوستم څخه ونيول. دوستم په عصبيت ويل چه پاکستانيان طالبان پياوړي کوي. خو دې خبرې دومره اغيزه نه درلوده. ځکه په اسلام آباد کښې قاضي حسين احمد مظاهره کړې وه. خلک ټپيان شوي وو. موټرونه سوځيدل اورونه بل وو. په کراچي کښې پر بينظير بهټو او نصيرالله بابر دا الزام ؤ چه مرتضیٰ بهټو دوئ وژلی. البته دبې نظير بهټو دميړهٔ نوم آصف زرداري اخستل کيدهٔ. د قاضي حسين احمد پلويانو دقرآن شريف ټوکونه په لاس کښې نيولي او پوليسو ته يې مخکښې کول. پوليس هم مسلمانان وو. پر قرآن يې وارنه شو کولای. دپاکستان خپل مشکلات ډير وو.

که څه هم پاکستان طالبانو سره مرسته کوله. خو طالبان هومره دپاکستان په خوله نه وو او خپلې فيصلې يې پخپله کولې. دخلکو دسرمال او ناموس ساتل دتجارتي لارو خلاص ساتل دا هغه چارې وې؛ که دوست سړي ته ووائې يادښمن؛ خو خبره له ملي ګټو سره سمون لري. دافغانستان خلکو ته دين، ناموس، مال او سر لومړۍ درجه اهميت لري. نو داهغه مسايل دي؛ چه دهر چا له خوا وي؛ عيب نه لري او ضروري دي.

په هر حال طالبان يوه زړه مؤسسه ده؛ چه افغانستان کښې وو او خلکو ورسره بلد دي.

# طالبان او پاکستان

پاکستان یو ملک دی چه په کال ۱۹٤۷م دانګلیسانو تر وتلو وروسته داسلام په نامهٔ جوړ شو. په دغه موده کښې بې درې جګړې له هندوستان سره وکړې.
په پاکستان کښې لوړی اکثریت پنجاب او دوهم پښتانه دي چه په نونسمې پیړی کښې دافغانستان له بدن نه بیل شوي او انګریزانو په هند پورې وتړل. په پاکستان کښې ډیرکی سنې مذهب مسلمانان دي. نو دافغانانو له نظره تر ایران چه شیعه مذهب دی؛ ښه لیدل کیږي. ایران هرکله چه موقع موندلې؛ پر افغانستان بې دنګلي. نو پاکستان تر هند و او مسیحي هم ښه بولي. که څه هم دافغانستان دجهاد په دوران کښې بې دجهاد واګې د تنظیمونو په لاس ورکړې او خپل هدفونه بې غوښتل، دپښتونستان موضوع بې له مینځه وړله. دجهاد پیسی بې په خپل مصرف ولګولې....
څوکله چه د اسلام او سني مذهب خبره شي؛ بیا له روس ایران او هند سره دمقایسې خبره شي؛ پاکستان ښه بللی شي.
همدغې خبرې هم طالبانو سره مرسته وکړه. چه روس، ایران او هند دطالبانو مخالفینو سره ودریدل. پښتانه کولای شي دواړه خواوې وساتي. افغانستان او پاکستان. که پښتانهٔ یو موټی وي نو ملي خپلواکی او حاکمیت ته صدمه نه رسیږي. که یوموټی نه وي سل بلاوې نورې هم پرې رائحي.
په ۱۹۹۲م دامریکې دلاس انجلس ټایمز په اخبار کښې دآسیا دیو ویشتمې پیړی یوه نقشه خپره شوه چه دامریکې دخارجه چارو دوزارت چیف جیوګرافر هم منلې ده. ددغې نقشې له مخې به دواړه پنجابه یو کیږي او لوي پنجاب به جوړوي او

دافغانستان پښتانه به د پاکستان له پښتنو سره پښتونستان جوړوي. څه دافغانستان تاجک به له تاجکستان سره یو ځای شي او څه ازبک به ازبکستان سره .

سوال دادی چه دا نقشه دکوم تحلیل له مخې ده؟

کوم اقتصادي یا سیاسي پلان دی؟ یا خوب ؟

که دنقشي له مخې دواړه کشمیره یوځای شي او دواړه پنجابه هندي او پاکستاني نو په نقشه کښې دبلوچستان اوسندحال نه‌دی معلوم . په سند او بلوچستان کښې کله دا خبرې کیږي. دواړه ولایته به درې برخې کیږي. بلوڅ ، بروهی، پښتون، بلوچستان کښې سند کښې به سندي ، مهاجر او پښتانه وي.

نوکهٔ چیرې نقشه عملي کیږي بلوڅ سندي او پښتانه به‌ګډ هیواد لري. په تاریخ کښې هم دغسې ؤ. په‌بنیاد کښې هم ټول آرئیان دي او سرې تودې بې په‌ګډه سره لیدلي .دین، مذهب ، نسل یودی . یوازې په ژبه کښې په داسې حال کښې ( چه د ژبې ریښه هم یوه ده) توپیر لري.

په‌افغانستان کښې کهٔ خدای‌مه‌کړه : دنقشې عملي کیدوته وکتل شي. بیاهم تاجک، ازبک ، ترکمن او هزاره افغانستان کښې پاتې کیږي.خوګډ هیواد ، برابر حق، اسلامي شریعت به وي.

په‌سیمه کښې پنځه‌دیرش ترڅلویښت میلیونه‌پښتانه پراتهٔ دي. ددوئ یووالی دسیمې دثبات او امن دپاره ګټور دی.

که نقشه عملي اړخ ونه‌لري؛ بیا هم دغه‌پښتانهٔ ددواړو هیوادوګټې ساتلای شي ملي حاکمیت به هم خوندي وي.

زمونږ اراده تر هرڅه لوړه ده. شوروي اتحاد چه ۱۹۸۹م کښې مات شو. بل‌څوک هم خپله خوښه پر مونږ نه‌شي منلی. څو مونږ خپلې ملي ګټې په هغه کښې ونه ګورو. کومې تجارتي لارې چه له شمالي هیوادو پر افغانستان تیریږي؛ هغه نا انډولې له مینځه لیرې کوي؛ چه پاکستان سره دکراچۍ دبندر پربنسټ موجود ؤ

په هغه صورت کښې به تلپاتې ښې اړیکې ددواړو هیوادو په گټه وي.

مونږ باید دمیرویس بابا او احمد شاه بابا تعلیمات هیرنه کړو. چه مونږ ته يې لوي هیواد جوړ کړی ؤ.

د اکتوبر په ۲۸- ۱۹۹٦ په تهران کښې دافغانستان په باب یوسیمه ایز کنفرانس جوړ شو. دغه کنفرانس ته د روس ، هند، قزاقستان ، ازبکستان، تاجکستان ، قرغزستان او اسلامي کنفرانس نمایندگان بلل شوي وو. خود طالبانو او پاکستان استازي نهٔ ورغلي.

ایران سره له دې چه دربانی مسعود له حکومت سره يې بې دریغه مرستې کولې سیاسي فعالیتونه يې له حده ډیر وو.

# ايران او طالبان

ايران دخپل هويت دپاره په اسلامي نړۍ کښې دشيعـه مذهب غوره کړاو دنړۍ شيعه گانوته يومرکزؤ. په هراسلامي هيواد کښې شيعه مسلمانان ميشته دي. نو ايران دشيعه مذهب دامپراتورۍ تخيل لري. په اتومي اسلحې پسې گرځي. غواړي په نظامي برخه کښې ځان پياوړی کړي.

کله چه په افغانستان کښې سني مذهب طالبانو پرمختگ وکړ؛ ايران له هغو فجايعو سترگې پټې کړې چه جمعيت او شورای نظار ( رباني ، مسعود ، سياف) په افغانستان کښې له شيعه گانو سره کړې( افشار او چنداول) . . . وې. دطالبانو دمخالفت دپاره يې دشيعه گانو له قاتلانو سره لاس يوکړ. دغه وخت طالبان کابل ته نژدې شوي وو. رباني چه طالبان يې شه بلل ؛ طالبانو سره په جگړه شو.

که څه هم په لومړي سرکښې ١٩٩٢ تاجک، ازبک ، هزاره، اسمعيليه سره يو شوي وو : خو سياف وهابي چه رباني سره ؤ؛ پرشيعه گانو حمله وکړه.

دشمال اتحاد همدلته مات شو. بيا دگلبدين اسلامي حزب دوحدت حزب يعنې شيعه گانو سره ودريد. طالبانو حزب اسلامي ،حزب وحدت او ازبک مليشه له کابله وايستل . دوئ لاړل؛ په شمال کښې يې شورای همآهنگي جوړه کړه. رباني مسعود اوغير پښتانۀ پرچميان پاتې شول. تر دغه وخته ١٩٩٣ع نيمائې پورې هرات او څو ولايتونه نور درباني مسعود له حکومت سره وو. وروسته له هغه چه طالبانو کندهار کښې يود روسي الوتکه چه وسله او کارتوس يې درباني حکومت ته وړل؛ کښته کړه.

رباني مسعود هڅه وکړه چه اسمٰعيل خان دهرات والي کندهار په زوره ونيسي او

څه پنجشیـریان هم ورغلي وو چه د روسي طیارې اووۀ تنه عـمله له طالبـانو خلاص کړي. په همدغه مرحله کښي دهرات لښکر پوه شو چه جنگ دروسي طیارې دعملې دپاره دی؛ په شالاړل. زرکسه بې مړۀ شول. هرات دطالبانو لاس ته ورغی.

نو ایران په قصه پوه شو چه دشیعه مذهب مرکز په مقابل کښي چه ایران ؤ ؛ یو نظامي مذهبي ، سیاسي او سني مذهب غورځنگ مینځ ته راغی. نو ایران هڅه وکړه چه گلبدین رباني زاړۀ غلیمان سره یوکړي او درباني دحکومت دپاره هرډول پیاوړتیا برابره کړي.مگر ایران چه دافغانستان شیعه گان دسیاست قرباني کړيوو او رباني له ایران سره دفارسي ژبې د حوزې خبره پخه کړې وه. درباني دحکومت ستنې بې وخوځولې او عمرېې لنډ کړ. ځکه پاکستان، عربستان او امریکه دایران هلوځلوته په کرارنه کښیناستل. یعنې بیا دروس، ایران او هند گټې له پاکستان، عربستان او امریکې گټو سره په اختلاف کښې راغلې.

دایران یوه بله هڅه داوه چه دافغانستان نوم خراسان شي.په دې برخه کښې یوۀ افغان لیکوال میرمحمد صدیق فرهنگ په خپل کتاب کښې ( افغانستان په پنځو وروستیو پیړیو کښې) له حقیقته لیرې مسایل ولیکل؛ چه دافغانستان نوم تر نونسمې پیړۍ پورې خراسان ؤ.ښاغلي غبار او نورو لیکوالو هم داغلطه خبره کړې وه. په دې برخه کښې شواهد وښودل شول،چه دافغانستان نوم هیڅکله خراسان نه ؤ.

په کال ۱۹۹۲ دایران جمهور رئیس رفسنجاني هم وویل: « چه دافغانستان نوم باید دټولو افغانانو تمثیل وکړي » ایراني خپرونو ویل چه افغان یوازې دپښتون په معنی دی؛ نو ضروري ده چه دخراسان نوم پر افغانستان کښیښودل شي .

خلیل الله خلیلي شاعر عین نوم ولیکۀ. د سقو زوي حبیب الله بې عیار وبالۀ او دخراسان په باب دکتور مخدوم رهین اشک خراسان ولیکۀ . آزادبیگ پخوانی بخارائي مهاجر؛ چه پلارئې د بخارا خزانه تښتولې وه او پاکستان کښې بې ځمکه درلوده کمپ خراسان جوړکړ. غلام حضرت کوشان دنامه خراسان مجله خپره کړه.

خودې یوې خبرې هم ځای ونه نیو. په داسې حال کښې چه هغه اصلي خراسان چه دصفاریانو ، غوریانو ، غزنویانو او ابدالیانو په دوروکښې دافغانستان برخه وه په نونسمه پیړۍ کښې دشاه محمود سدوزي او وزیرفتح خان محمدزي د خیانت له کبله دایران ترقبضې لاندې راغلی ؤ؛ بل خراسان نه ؤ. اوس که دنقشې پرېنیاد پښتونستان یا پښتونخوا چه لرغونې پکتیکیا سره سمون لري؛جوړ شي؛دیره په زړهٔ پورې نه ده . خو د عمل او عکس‌العمل په سلسله کښې راتلای شي.کله‌چه داخبرې لیکم دیوهٔ فرانسوی لیکوال خبره را په‌یاد شي چه وائي: « نن هیلې نه‌دي پاتې؛بویه وکتل شي؛ چه پیښې د چاپه گټه اود چا په تاوان راځي! ».

که چیرې لوی پښتونستان جوړیږي‌دهغه پلازمینه به کندهار وي. دهغه‌گټه به داوي چه شمال هیوادوته نژدې او له کوټې لیري نه دی.

دپیغمبر (ص) مبارکه خرقه دمیرویس بابا او احمدشاه‌بابا مبارکې مقبرې هلته دي ؛ چه نظریرې لگیږي. څه برکت به ترې مونده شي.

# پښتانهٔ او د نړۍ نورې برخې

سوراوسکادوه پخواني پښتانهٔ قومونه دي؛ چه د بشري تمدن لومړني خلک بللای شي. داخبره نن په تواريخو، دايرة المعارفو، علمي مجلو او خپرونو کښې راغلې ده.

دمثال په توگه هردايرة المعارف کښې چه په امريکه او اروپا کښې وکتل شي دسکاټلنډ په تاريخ کښې هماغه شپږ زره کاله پخوا، له آسيا، بين النهرين، ليديا، اروپا او دمديترانې غاړو ته تگ، اوداچه سکاټلنډ يانوته يې په پخوانۍ زمانه کښې «پکتين» ويل: هماغه چه (پکتيسيا پاکتيس) چه هيروډوټ يادکړي؛ او مخکښې يې ذکر راغلی. داچه ساکسون همدغه ساک دي. سکينا په جرمني کښې. سکاټلنډ په انگلستان کښې همدغه ساک دي چه په افغانستان کښې دي. د۱۹۹۶ کال دسپتمبر په مياشت کښې دجرمني دسکينا په ولايت کښې يوه خزانه وموندله شوه؛ چه دسکائيانو پيسې، لوښي، جواهر او ډيره شتمني راوخته او جرمنيانو دملي شتمنۍ په توگه وساتل. لکه دپکتيا دميرزکې خزانه چورنه شوه. همداسې چه سور، سومر، سوريه مخکښې ياد شوي؛ په هند او نورو آسيائي هيوادوکښې استراليا کښې په نونسمې پيړۍ، کاناډا کښې سکسون ولايت...

مگر پښتو ژبه او پښتونولي اوداچه پښتون بايد دپښتانهٔ د پاره کار وکړي يو بنسټيز شرط دی.

زهٔ چه امريکې ته راغلم؛ ۱۹۸۷م کال ؤ. سم له واره مې پام شوچه داڅه وشول؟ بيا مې ځان سره وويل څه هلکه! په افغانستان کښې هم داخبار محررويم. ليکل دې کول. اوس يې هم کوم. کومه ورځ به دپښتنو په کارشي. که نورڅه نه وي؛ ستالهٔ افکارو سره به آشنا شي. دليک لوست سويه به دې ورڅرگنده شي.

۳۰ اکتوبر ۱۹۹٦ د لندن بي بي سي په خپل خبري سرويس کښې وويل: دترکيې خارجه وزير« چلر» وويل: چه رشيد دوستم دازبک مليشې مشر له ترکيې مرسته غوښتې چه په افغانستان کښې له طالبانو سره جګړه وکړي او دترکيې حکومت دده غوښتنه منلې ده.

په کال ۱۹۸۳م کنعان ايورن دترکيې جمهوررئيس پاکستان ته راغی. دافغانستان له مهاجرينو څخه يې يوازې ازبک او ترکمن ترکيې ته دمهاجر په توګه بوتلل. له دې کبله چه ازبک دترکانو يوه څانګه بولي. په ترکيې کښې داسې خلک ډيردي چه لويه ترکيه يابان ترکيزم غواړي.

جرمنيانو له هرځايه جرمنيان راغونډ کړي. مونږ پښتانه هم کولای شو؛ سره غونډ شو. خو توپيردادی چه پښتانه په پښتو او پښتونولۍ پښتانه بلل کيږي؛ نه په وينه او نسل.

# نوی افغانستان

کله‌چه دافـغـانسـتـان دشلمـې پـېړۍ دپوهنې مـحـصـول دشلمـې پېړۍ په وروستيو کلو کښې له مينځه ووت ؛ دنوي افغانستان ؛ نوې څپه ښکاره شوه.

دشلمې پېړۍ په‌سرکښې دامیرحبيب‌الله (۱۹۰۱- ۱۹۱۹م )دحبيبې او حربيې ښوونځي پرانستل شول چه زدکوونکي ئې له‌دوو سوو ډېر نه‌وو. دغازي امان‌الله‌خان په مهال کښې دغه‌ښوونځي (۳۰) ته‌وختل او زدکوونکي ئې دڅلورزره په‌شاوخواکښې وو.

دنادرشاه اوظاهرشاه په دوروکښې (۱۹۳۰-۱۹۷۳) دزد کوونکو شمېر اووه سوه زره او په لوړو زدکړو کښې پنځلس زره زد کوونکي وو.(د رسمي احصائيو له مخې)

په‌دې ډول پوهنه ودريدهٔ:

۱- د۱۹۷۸ داپريل له‌کمونستي کودتا وروسته اووهٔ ويشت(۲۷) زره تعليم‌يافته ووژل شول .

۲- په زرهاؤ پاکستان او ایران ته مهاجر شول. هلته بې عادي کارونه پيل کړل . لکه خټې خښتې ... او نور .

۳- درې سود زره اروپا ، امریکې، کانادا ، آسترالیا ، هند او نورو هیواد وته‌لکه روسيه ، تاجکستان، ازبکستان ... ته‌لاړل. په بيلو بيلو چارو مشغول شول. يعنې دشلمې پېړۍ دپوهنې مـحـصـول پو ويشـتـمې پېړۍ ته ونهٔ رسيـد. نوځکه نوی افغانستان شو.

حو بود لاره شـتـه ؛ چه‌يو آرام دولت جوړ شي؛ جرمنيان به پنځوس شپيـتـه زره افغانان را وليږي. په روسيه او جمهوريتو کښې اتيا برسل زره خلک دي؛ دوئ به‌هم

راشي.

بيا به دامريکې کنيډا او استراليا څخه هم پخپله خوښه خپل هېواد ته لاړشي. په همدې شان به له پاکستان ايران او نوروهيوادوڅخه خپلې خوړې اوګرانې پښتونخواته مخه وکړي؛ نو د شلمې پيړۍ او يو ويشتمې پيړۍ دوصل يوه کړۍ به جوړه شي چه اقتصادي او تجارتي لارې به فعالې شي بيا هم نوی افغانستان او نړۍ ته ځي وه. په داخل کښې چه اقليتو په دوو مرحلو کښې جګړې وکولې هغه دخولې خوند نه پاتې کيږي. اکثريت يعنې پښتانهٔ به داخله د ژبې او برخې خبرې ډيرې وکړې چه په دولت کښې به ډيره برخه غواړي.

اقليتونه پخپلو کښې هم نه دي جوړ. ژبه او مذهب سره توپير لري. لکه هزاره شيعه مذهب، تاجک سني دازبکو ژبه اوکلتور بيل دی نژاد هم. ايران تاجکستان ازبکستان او ترکيه به دوئ ولمسوي چه بيا به ديويشتمې پېړۍ په نيمائي کښې شخړې ډيرې شي. بيرته به دنقشې او بېلېدو خبرې راشي.

که چيرې يومدبر، عادل پوه مشر يا مشران اوښه ليکوال وي؛ کولای شي: يووالی او خپلواکي وساتي. اقتصادي ژوند به هم ښهٔ وي.

دپښتنو دپاره پښتو او پښتونولي خپل تاريخ او ادب ضروري دی. چه هرګام کښې بې له پامه ليرې نه کړي. هر ليکوال کهٔ په پښتو ژبه نورې مفکورې وليکي؛ دادروند مسؤوليت دی: چه بخښنه نه لري. همدغه پښتانهٔ کولای شي چه نور قومونه پرځان راټول کړي. داسې عدالت ولري چه دقوم، ژبې اونسل سوال پاتې نه شي. ټول قومونه ډاډه وي او ويسا ولري چه دا ددوئ هيواد دی اودائې خلک دي. په نړۍ کښې ډير اصول آزمويل شوي؛ خو پښتونولی کښې اسلام، ډيموکراسي، عدالت، اخلاق، امنيت، بشرپالنه، بشري کرامت او نورې ډېرې خبرې خوندي دي.

بويه مونږ پر مسايلو پرانيتې او ډېرې خبرې وکړو. زهٔ يو پښتون يم. په دې کښې شک نشته چه مليت مې افغان دی. کهٔ دافغانستان ملي يووالی وساتلی شيءدا ښه

خبره ده ؛ كه ونه شو؛ نوځرګنده ده چه ۱۹۹۲ داپريل دمياشتې ددسيسې مخه ونه نيول شوه او دافغانستان په تاريخ كښې دهغهٔ مسؤولين هماغه دمزارشريف دفيصلې خلک دي: دوستم دازبک كمونست مليشې قوماندان احمدشاه مسعود پنجشيرى دشوراى نظار قوماندان، علي مزاري د وحدت دحزب مشر هزاره ، نبي عظيمي دنجيب الله ددفاع مرستيال ، دايران د استخباراتو نماينده نجفي، برهان الدين رباني دجمعيت مشر ، جنرال مؤمن دتاجک مليشه قوماندان دى .

جنرال عظيمي دنجيب ددفاع مرستيال . دولتي قوتونه وسله وال غونډونه، هوائي ډګرونه لكه دشينډنډ، بګرام ، كابل ، هرات ، مزارشريف مسعود ته تسليم كړل او هرګډون كوونكي نظامي طاقت وسله ، پيسې او مشاورين درلودل. خارجي هيوادونه بې ترشا ولاړ وو. لكه روسيه ،ايران، هند، عربستان، پاكستان ، امريكه البته وروسته بدلونونه په كښې راغلل. كه بيا مو هم ملي يووالى وساتهٔ دابه زمونږ برى وي ، ځكه دخنجان په نظامي پكت كښې بياهم اقليتونه ناست وو. داځله دروسې قونسل ورسره ؤ.سپتمبر كال ( ۱۹۹٦ ع) مسعود شمالي كښې واړول. دمخه سيمه دجنګ سيمه شوه. چه دشمالي دخلكو بيخ باسي. شمالي هماغه دكابل شمالي سيمه ده چه كوهدامن اوكوهستان هم ورته وائي. تر سالنګ پورې سيمه ده.

له دې وروسته ازبک فشار لاندې دى . دابه هم مات شي.نو تاجک،هزاره،ازبک په تاريخ كښې له هيواد او خپلو قومونو سره سخته جفاً وكړه. په داسې حال كښې چه هزاره ، ازبک، تاجک او نور اقليتونه په عامه توګه دانهٔ غوښتل. په شاهي دوره كښې قومي خبرې په ملي بنې بدليدلې. په تيرۀبيا پلازمېنه كابل دټولو قومونو ښارؤ. همدلته پښتون ، تاجک،هزاره،ازبک او نور يوځاى سره ايشيدل او نوى افغاني تركيب ترې جوړيدهٔ. بيا دغه وضع اطرافوته تلله. كه څه هم جنرال اختر عبدالرحمن پاكستاني ويلي ؤ « كابل بايد وسوځي » هغه دګاډي دعرابې مثال وركړى ؤ چه لارې ئې له مركزه اطرافوته غځيدلې دي. ځوكابل وران نه شي. افغانستان نه ورانيږي. دهٔ داخبره هغه وخت كښې كړې وه چه روسان او دروس لاس پوڅې حكومت ؤ.

مگر کله چه په( ۱۹۹۲ع)کښې داقليتـو حکومت کـابل ته راغی؛ دوئ کـابل په نظامي برخو وويشه اوهره برخه يوهٔ اقليت سره وه. هغه دسولې امتزاجي کابل نهٔ. بيا دجنوب لهٔخوا اسلامي حزب په راکټونو پهٔ بې رحمۍ وويشتهٔ. کابل وران شو. په څلوروکلوکښې کابليان ووتل. بدخشيان او پنجشيريان ورته راتلل.

طالبان چه کابل ته راغلل هغوئ هم په وتلو شول.(بدخشيان اوپنجشيريان) نوی کابل به بل ډول وي. کابليان پېښور، ايران، مزارشريف او روسيې ته تللي؛ کورونه يې وران شوي؛ ژوند يې د سر گردانۍ شو.

دکابل دورانولو مسؤول رباني او مسعود ؤ؛ چه ځانونه يې کابل کښې ددېوالوترشا دخلکو په کورونو اوکوڅوکښې ټينګ کړل او مخالفينو وهل.

«کابل بايدوسوځي» دا د جنرال اختر دهيلې سره سم کارؤ؛ چه رباني مسعود او گلبدين وکاوهٔ. تاجکو يعني رباني اومسعود داکار بايد نه واى کړی. ځکه کابل دتاجکي کلتور يومرکزؤ. دا ددوئ دپاره يو آباد ښارؤ. هلتهژبهفارسي يادري وه. په زرهاؤ پښتانهٔ ازبک، کشميريان هنديان يې حل کړيؤ او ټول يې کابليان کړيؤ.

داسې ښکاري چهدوئ لهځانه کوم فکر نهدرلود. څهچه له دباندې ورته ويل کيدل هغه يې کول.

دکابل عمومي بڼهچه واوړي دخلکو او کلتور لهمخې پخوانى کابل بهنهوي. داخبره چهاوس جنرال اختر نشته؛ نودکابل سوځيدل يوې بلې عمليې سره مرسته کوي او هغهداچه پښتون کيدوته نژدې شوی دی.

انگليس سياست پوهان په نونسمې پيړۍ کښې څلورښارونهدافغانستان بنيادي ښارونهبولي : هرات، کندهار، کابل او پېښور.

اوس حالات داسې روان دي چه دغهڅلور ښارونه يوځاى شي. هره ورځ چه تيريږي دسرحد پښتانهٔله پاکستان څخه ليرې کيږي. داسې نهچه يو سياسي بدلون دی. بلکه يو کلتوري،ادبي او ديني حرکت دی؛ چه دوئ افغانستان او افغانستان دوئ ته نژدې

کوي.

بلخ او بدخشان چه آريائي قومونه هلته وو. باکتر يا بلخ پاکتيسيا دهيروډوټ په حواله هماغه يو خلک دي. دعامو خلکو له نظره هغوئ له افغانستان سره وفادار خلک دي. دغه ستمي سمتي حرکتونه روسانو پيدا کړل. چه لږ شمير خلک دهغوئ خبره مني.

که چيرې اوسني حالات متداوم شي؛ بيا به يوه بله بڼه رامنځ ته شي او داصلاح دپاره به مهال لهٔ لاسه وتلی وي او هماغه نقشه به عملي شوې وي.

مگر له ښهٔ مرغهٔ د۱۹۹۸ د اگست په مياشت کښې طالبانو شمالي ولايات ونيول . دهمدغه کال تر سپتمبر پورې باميان هم ونيول شو. په دې صورت مزارشريف اوباميان چه دايران دپاره ځالې وې؛ ورانې شوې. مگر ايران په سرحد کښې عسکر غونډ کړل او پلمهٔ يې هغه مشاورين کړل چه مزارشريف کښې دجگړې په دوران کښې وژل شوي. چه ايران دغه مشاورين دپلوماتان بلل. دطالبانو دې بريو؛ دننه او دباندې خلک وارخطأ کړل.هرڅه چه پيښ شول؛ وُبه ليدل شي. خو اوس دنقشې اوجزئې خبرې تللې دي.

# یامستعان!

# د تاریخ په لنه کښې

کال (۱۳۲۷هـ .ل)کښې دنجات په ښوونځي کښې د تاریخ یو استاد ؤ . دوست محمد نومیده. په ونه ټيټ، خوار، مښودې جامې په ځان کښې،په عمر به داویاکلو برېښېده. مونږ نه مخکښې شاگردانو ویل چه دی ډير پوه او په زړهاؤ تاریخي سنې يې په یاد دي. بې له دې چه کتاب ته وگوري،په هره تاریخي موضوع باندې په ساعتونو خبرې کوي، اخلاقو کښې يوه نمونه او مثال ؤ. آخري دغصې خبره یې «بدبخت» دی او له دې هاخوائې هیڅرې چاته سخته خبره نه په غیاب کښې اونه په حضور کښې کړې ده .

زد کوونکي خوشحال وو.چه اوس دوئ هم د دوست محمد ښوونکي د شاگردانو په کتار کښې راغلي. زهٔ هم ډيره په تلوسه کښې ؤم چه خپل دغه پوه او دشخصیت خاوند استاد وگورم . یوهٔ زد کوونکي خبر راؤړ چه استاد په دهلیز کښې را روان دی. ټول ددروازې په لور سترگې څلور وو. چه استاد را ورسید. ددهٔ په احترام ودريدو. دشاگردانو په ځیروکښې غرور او احترام ښکاريده. چه داسې یو نامتو استاد ددوئ ترمخې ولاړ دی. داستاد دواړه لاسونه ترمخې يو پربل ایښي لکه چه په لمانځه کښې وي.

استاد دتاریخ دمعرفی په باب خپلې خبرې شروع کړې. زمونږ ټولو دزړهٔ او سرغوږنه ددهٔ کلام ته متوجه وو.

استاد وويل: تاریخ یو په زړهٔ پورې مضمون دی. تاسو ته هغه خلک، ټولنه او حالات درپيژني چه تاسو هغه نه دي لیدلي. خو د تاریخ په سیر کښې هغه گورئ او هره

ACKU

لحظه نوره هم په زرهٔ پورې کيږي. له بلې خوا تاريخ پراخه ساحه لري؛ چه هيڅ بل علم دومره پراخه ساحه نه‌لري او تاريخي ذخيره هره گړی مخ په زياتيدو ده. هره ورځ چه تيريږي؛ دتاريخ يوه پانه اوړي، دتاريخ ساحه ځکه پراخه ده‌چه هره پديده يو تاريخ لري. مثلاً موټر، راډيو، برق‌او نور ... دبدلون او تکامل او دهغه کمي او کيفي تأثيرات په‌ټولنه او بشري ژوند کښې ښئي. دغه ټولې خبرې په تاريخ پورې اړه لري،دبشر دفکر تکامل او دهغهٔ عوامل هم تاريخ څيړي. تاريخ له انساني ژوند سره شروع شوی او دانسان له ژوند سره يوځای روان دی‌او توقف نه‌لري.

دکـائناتو تکوين او پيـدايښت او ژوند، داهم دتاريخ يوه برخـه ده؛ چه دتاريخ پوهانو له‌پلوه‌څيړل کيږي. تاريخ له ټولو علومو سره خوا په خوا تکامل کوي.

دۀ وويل: ژوند له اوبو سره تړلی دی. تاريخي لوی مدنيتونه دسيندونو پردواړو خواؤ څرگند شوي. په افغـانسـتـان کښې دآمـوسيند، مرغاب، هريرود، کـابل پنجشير، لوگر سره دبلخ، هرات، کابل، کاپيسا، زابل داباسين دگندهارا مدنيتونه جوړ شوي چه زمونږ د تاريخ موضوع ده.

کله‌چه بحري يا سمندري لارې نه وې؛ افغانستان دشمال، جنوب، شرق او غرب دتجارت، معماری او نورو فنونو مرکزؤ. دشمال جنوب، مشرق مغرب مدني آثار تجارتي جامې، روايات، قصې او ادبيات يو بل سره دلته مخامخ کيدل او له افغاني افکارو او مهارتونو سره يوځای نوي افغاني مدنيتونه پخوا تر اسلام او وروسته تر اسلام جوړ شوي؛ چه ټولو افغاني رنگ او کيـفيت درلود.* داستـاد خبرې دغو حدودو کښې وې چه زنگ ووهل شو او استاد له‌ټولگي ووت.

زما شوق له تاريخ سره پيـدأ شو او تل دتاريخ په لټه کښې ؤم. يوه‌ښه منبع دافـغاني سراج الاخبار وه چه دامير حبيب‌الله په دوره کښې په کال (۱۹۰۶م) خپريدهٔ. دامان افغان اخبار په‌خپله لومړی گڼه کښې ( پنځم کال ) د افغانستان جغرافيائي موقعيت يې ددوو قدرتو ترمينځ يعنې روسيه او انگليس چه سياسي، اقتصادي اجتماعي او نظامي حالات ؤ؛ څيړلي ؤ. هر افغان يې دخپل هيواد

حساس، موقعیت ته متوجه کاوهٔ. د امیر شهید حبیب الله په وخت کښې ترټولو یوه لویه او تاریخي لیکنه دسراج التواریخ کتاب دی. دغه راز دامیر عبدالرحمن خان لیکنه تاج التواریخ هغه لیکنې وې چه یو افغان طالب العلم بې تاریخي لټې دپاره رابالهٔ.

تر ۱۳٤۰ پورې لا داسې خلک ژوندي وو چه دامیر شیرعلي خان (۱۸۷۰م) ددورې قصې یې کولې له هغې جملې نه ملک سلام دمرغگیران او دین محمد آهنگرؤ. دمثال په توگه ملک سلام دمرغگیران دهوا دښه والي په باب ویل چه امیر شیرعلي خان په دې وجه مرغگیران ته راغی چــه کابل کښې د وُبا ناروغې وه. او دلته ئې میاشت تیره کړه.

دتاریخ په لټه کښې اخبارونه، قصې، فرامین دولتي سندونه شخصي یادداشتونه وصیت نامې، عکسونه، رسامې، سکې، قدیمي اولرغوني آثار دغه ټول شیان گټور بلل کیږي.

زهٔ دافغانستان دتاریخ په باب خارجي آثاروته دومره قانع نهٔیم؛ لکه داخلې آثاروته. لکه څنگه چه عزیز الدین وکیلي پوپلزائي خپل دکورنۍ سندونه خپارهٔ کړل.

دیوې تاریخي لیکنې په لړکښې داهم گرانه خبره ده چه دلوستونکو سویه په نظر کښې ونیول شي. په تیره بیا اوس چه تاریخ که دښوونځي زد کوونکو دپاره وي؛ یا حزبي ډلې ته؛ یا عام دمطالعې خاوندانوته. نو ښائي چه لیکونکی لږ اوډیر دغه ټول په نظرکښې ولري او څه هم متردد وي.

کوم تاریخي آثارچه ماته پهلاس راغلي؛ لکه دتیمورشاه دراني یو فرمان اوسکه داحمدشاه بابا سکه، دامیر شیرعلي خان یا امیر عبدالرحمان فرمان یادبودا سر، یا «درنادره» دنادر افشار دمنشي کتاب. یا جنگ ابراهیم بیگ او داسې نور دهجرت او تلاشیو په اثر اوس راسره نشته. ماله ظاهرشاه نه تر احمدشاه بابا پورې دسپینو زرو دټولو دورو سکې درلودې. ښائي چه اوس هم کابل کښې وي.

دامان الله خان ددورې انیس او امان افغان کلکسیون چهاوس ډاډه نهٔیم وي به او

که نه؟

دیوې ټولنې ژبه او ادب هم د یوهٔ موزیم شکل لري. چه ځینې کلمات. اصطلاحات متلونه او نورې قصې هم تاریخي وقایع یا پېښې ښئي. دلته یوڅو مثالونه وړاندې را اخلم.

په هندکښې به ماشومان میندو ویرول چه کابلي والا راځي او تا به خپل ګوډي کښې اچوي. همدغه مطلب ټاګور دهند مشهور لیکوال چه دنوبل جایزه ئې اخستې؛ په خپل کابلي والا لیکنه او فلم کښې را وستی دی. یا ایران کښې دغه حادثه وه چه افغان راځي. ږدې نه ښکاري؛ د افغان او ددغو خلکو ترمینځ په تاریخ کښې څه پیښې شوي دي. مونږ چه واړهٔ وو؛ لا دافسانهٔ بلوت قصه اوریدل کیده. افسانهٔ بلوت، پشت قلاکي بود؛ شاه حسین آمده بود. حلقه هارا تاو داده بود از بروتهایش خون چکیده بود.

یاداچه حساب له بغداد نه بیرته راګرځي ، یاڅو تریاق له عراقه راځي مار چیچیلی مري. هڅیوه دغه اصطلاح یوه تاریخي حادثه بیانوي.

عجبه خو لا داده چه دانګریزانو مثبت کلمات په عامیانه اصطلاح کښې منفي معنی لري. لکه دلیـر کلمه چه دمشر او لارښود معنی په انګلیسي کښې لري. پهٔ لېږ بدله شوې؛ بیکاره خوشې سړي ته اوس لېږ وائي. داسې مثالونه ډیردي چه بیل بحث او خبرې غواړي.

داحمد شاه بابا په سکه ئې لیکلي: له خدایه حکم وشو پراحمد شاه. سکه ووهه پرسپینو او سرو دماهي (یاکب) له شانه ترسپوږمۍ پورې. داخبره داښئي چه دغه عقیده لا موجوده ده چه ځمکه دغوائي پرښکر او غوائي پرکب ولاړ دی او د سکې لهٔ بیت نه مطلب دادی څو داځمکه او آسمان وي ستا سکه به چلیږي. یادغه ساحه ستاده.

داحمدشاه بابا دسکې پر یوهٔ مخ دتوري نقش دی او پنځه ستوري وریاندې کښلي او دا به پنځه عمده قومونه ښیي چه په افغانستان کښې دي او دملي وحدت

سمبول ؤ. توره خوښکاره ده‌چه دميړانې نخښه ده. افغان‌ميړنی قوم‌دی.

کله چه‌ما دغبار داحمدشاه بابا کتاب وکوت؛ يادهوتکو تاريخ، يا (سقوط دولت صفوی) دلکهارت ليکنه، يا سراج التواريخ. دفعتاً دغو ټکوته متوجه شوم.

۱ - مـيـرويـس او احـمـدشـاه ، دتدبيـر، سيـاست‌او اداري په‌لحـاظ نه يوازې دافغانستـان بې مثاله مشران وو. بلکه دنړۍ دشلمې پيړۍ دډپلوماسي بې په همغه مقياس زده وه چه وروسته به بحث پرې وشي.

۲ - ډير لږ افغانان خپل دغه مشران ددوئ په‌اصلي اندازه پيژني.

زهٔ دتاريخ په لټه کښې دمنظم کتابتون خاوند يم. مگر هره خبره دکتاب پربنسټ ده؛ چه منبع او مأخذ ورکولی شم.

اسـتـاد دوست مـحـمـد وروسـتـه د۱۲ ټولـگيـو دپاره تاريخ وليکهٔ اولرغـونی افـغـانسـتـان ئې ښـه معرفي کړی. دغـه راز داسـتـاد احمدعلي کهزاد آثار ډيرداهميت وړدي. دکهزاد ليکنې دلرغوني افغـانسـتـان او معاصرافغـانسـتـان په برخه کښې يوه خزانه‌ده. زمـا په‌ياد دي چه مشـهـور تاريخ پوه او فـيلسـوف آرنولډټاين بي‌کوم چه دنړۍ ترټولو پرېرکتـاب ئې دتاريخ دنوې فلسفې په نامهٔ ليکلی اوځوارلس زره مخه دي؛ کابل ته راغلی ؤ. ښائې کال(۱۳۲۹هـ.ل) ؤ اودملي تياتر په‌کوټه کښې ئې کنفرانس درلود. استاد احمدعلي کهزاد دهغه ترجماني کوله. استاد په‌فرانسوي پوهيدی. دټاين بي دکنفـرانس مـوضـوع داوه: «افـغـانـسـتـان دمـدنيـتـو دتقـاطعـو مرکزدی». په‌پای کښې ټاين بي وويل: «ستاسو موزيم ډير غني‌دی او ډيرمهم آثار لري.مگر ترټولو مهم اثر ستاسو دپاره پخپله احمدعلي کهزاد دی.

په همدې توگه دشپنگلر د«انحطاط غرب» کتاب هم وروسته تر «دتاريخ دنوې فلسفې» دنړۍ لوی کتاب دی؛ چه داتوزرو مخونو په حدودوکښې دی.

دغـه دوارړه کتابونه دشرق او افغـانسـتان دلرغوني تاريخ په باب‌مفصل بحثونه لري. داچه دچين اختراعات لکه کاغذ، باروت او نور په کومه لار غرب ته ورسيدل يا له هندنه درياضي حسـاب علم. هغـه افـغـانسـتـان ؤ اودوربښـمو تـاريخي لار

دباميانو مرکز - کاپيسا او نور مرکزونه.

مادغه کتابونه پخپله نه دي ليدلي.مگر دهغو دلنډيز ترجمه چه په ايران کښې شوې وه،هغه مې په دقت لوستي دي.

ځکه تاين بي خپل کتاب چه له سره کوت اووه کاله يې پرې تير کړي وو. ددغو دووکتابو دپوره لوستلو اوکتلو دعوى تراوسه چانه ده کړې.

ما دامريکې دکانگرس په کتابتون کښې يوه ورځ دافغانستان په باب دفهرستونو په کتلو تيره کړه. معنى داچه دتاريخ لتيه عمرنه عمرونه غواړي. همدغه وجه ده چه په تاريخ دپوهيدلو دعوى گرانه خبره ده. تاريخ خلک تماموي. څوک تاريخ نه شي تامولی.

دافغانستان لرغونى تاريخ يعنې درې زره کاله مخکښې له ميلاده تر ميلاد پورې او بيا داسلام تر راتگ پورې دا دومره اوږده دوره ده چه څيړل ئې يوبيل کار دی سربيره پرکتابو؛ دمذاهبو او اديانو څيړنه په همدغه سيمه کښې لکه زردشتي دين اوآثارې، بودائي او نور، دقديمي ښارونو پاتې برخې ليدل سکې، لوښي، اسباب، عبادت ځايونه، تجارت هنر، يوناني، افغاني آثار په زرهٔ پورې دي او گټور هم. مگر دملي تاريخ دپاره چه اوسنى سياست پرې ولاړ دی؛ دومره گټه (دهمدغې موضوع يعنې نننی کړنلارې دپاره) نه لري. موږ ته هغه تاريخ اهميت لري چه بيا افغاني دولتونه په معينو حدودوکښې جوړ شوي او آغيزې يې اوس هم دوام لري.

خارجي او بهرني يرغلونه او دهغوئ ورانکارې هم يوه بله برخه ده. دتاريخي لتې دکارچوکاټ جوړوي. خو زما مطلب له دغې ليکنې څخه يوازې دملي رغاونې برخه ده.

اوداکار څوگټې لري:

۱- ددولت دتشکيل، خپلواکی مسائل او ودانول زده کول دي.

۲- موضوع نه گډوډيږي او دا زما خپل مشکل ؤ: چه بهرني يرغلونه او بيل نسلونه او دغه پيښې به مې نه شوې سره بيلولی او ملي تاريخ راڅخه گونگ پاتې کيده.

دچنگيزخان له حملې نه (۱۲۲۰م) تر هوتکو پورې څلور پيړۍ يو اورد تاريخ دی. نو ما بهرنۍ حملې او کردارونه يوې خواته کړي او ملي دورې مې را اخستې. ځکه په هغو سرخوړول نه دي په ځکار. راغلل اولاړل . مگر دوطن اصلي خلک خوپاتې دي څوک دغلو جنجالونه څه کوي؟ د رغاونې اوجوړولو فکر زمونږ دپاره گټوردی او مونږ اړ يو چه خپل کور جوړ کړو. دغه جوړونکي تاريخ ته مونږ ملي تاريخ وايو. له هغوگوزارو سرد چه تيري کوونکو ته موورکړي دي.

يو دورځ دکتور فاروق اعتمادي په خپل درس کښې وويل چه «تاريخ تاريک است» يعني تاريخ تياره دی. داخبره سړي ته شک پيدا کوي او رښتيا هم دشک خبره ده مگر دتاريخ په لټه کښې ليکونکي هغه برخې چه خپل خاص هدف يې پرې بنا کړی؛ لکه اوس چه زه غواړم دافغـان دملي تاريخ جوړونکې برخې را واخلم. کوم چه دغه اوسنی افغانستان دهغه نه پاتې دی. ځانگړې اهميت لري . او داهغه ځرگندې برخې دي چه څوک پرې شکمن نه دي. يو ليکونکی وائي «تاريخ دتيرو پيښو يادول دي». يا «دتيرو خلکو امتحان اخستل دي» مگر داشه خبره ده چه يوه تاريخي غلطي بيا تکرار نه شي . کومه غلطي چه ناپليون کړې وه؛ هټلر هم هغه غلطي وکړه. څنگه چه دفرانسې لښکر د روسيې په يخ ژمي کښې تباه شو. دهټلر لښکرې څو پيړۍ وروسته هغسې شوې.

يا په افـغـانسـتـان کـښـې دانگريزانو غلطي روسانو تکرار کړه. ياداچه داخلي اختلافات مونږ ته په اتلسمه پيړۍ کښې په بده تمام شوي وو. په نونسمه پيړۍ کښې بيا تکرار شول. او شلمه پيړۍ کښې بيا تکراريږي.

په اتلسمه پيړۍ کښې که دکندهار شاه حسين اودهرات ابداليان له اشرف سره يو لاس وای؛ نادر افشار دافغانستان په نيولو نه بريالی کيده او په نونسمې پيړۍ کښې که سدوزائي شهزادگانو او بارکزو په خپلو کښې اختلاف نه درلودای؛ شاه زمان به دې بريالی و چه هندوستان له انگريزانو وساتي.

« افغانستان درقرن نزده » كتاب كښې ويل شوي؛ چه دشاه زمان په وخت كښې ايرانيانو پرمشهد حمله وكړه. شاه زمان دايران يو نماينده كابل ته راوغوښت. دميلمه په حيث يې وساتۀ او دخپلو لښكرو رسم گذشت يې وروښود. كله چه نماينده بيرته لاړ او خپل دسترگو ليدلي حالات يې بيان كړل؛ نو ايرانيانو خپلې لښكرې له مشهد يا دخراسان له سيمو وايستلې. مگر ددۀ وروږ شاه محمود له ايران نه مرسته اخلي او مشهد ورته تسليموي.

نو تاريخ كه دهغوئ آزموينه او امتحان وي؛ گټه يې داده چه بيا كټ مټ يوه غلطي تكرار نه شي. يقيناً هغه خلك چه په تاريخ پوه وي تأريخي مسؤوليت پرغاړه نه اخلي نۀځان تباه كوي؛ نه خپل قوم. نوځكه يو شمير دښمنان موږته وائي تاريخ پسې مه گرځئ. هغه تيرې خبرې دي. نوى كاروكړئ او نوى جهان جوړكړئ او خطر له دغه ټكي پيدا شي چه تاريخ ته په سپكۀ وكتل شي. زوړ وران شي نوى جوړيږي. لكه دلبنان ۱٤ كلن داخلي جنگونه. شاه محمود پاچاهي له خپل وروږ شاه زمان څخه اخلي او ملك ورانوي. دا هغه خطرناكې غلطئ دي چه تل يې موږ په ملي تاريخ كښې ناكامه كړي يو. كۀ تاريخ دتيروخلكو امتحان وي؛ دا امتحان هغه اخستلى شي چه پخپله خو دا صلاحيت ولري. زما دليكنې يو مطلب داهم دى چه موږ بې صلاحيته يو اوراتلونكي نسل ته بايد دغه صلاحيت برابركړو چه په خپل ملي تاريخ پوه وي.

تعميري فكراو په تعميري مقصودونو تاريخي لنبه ؛ ديوۀ هيواد دليكوالو دپاره ضروري خبره ده. په تيره ملي تاريخ دملي رغاونې دپاره چه دافغانستان دقومونو داتصال ټكى بياومومو.

كورنۍ روغه اوجوړونه دځرگندو ضرورتو پر بنسټ لومړى گام دى . كله چه دغه كار بشپړ شو ؛ وروسته دبهرني سياست وار راځي. مگر مخكښې ترهغه بهرنۍ اړيكې نه يوازې داچه گټه نه لري؛ بلكه دهغۀ پرځاى سخت تاوان هم رسوي. لكه چه اوس افغانستان او لبنان يې ښه مثالونه كيداى شي.

نوپردې بنأ دتاريخ لتـه ضـروري شي. چه دملي جوړښت په کـارکښـې تاريخي غلطئ تکرار نه شي.

يوه ورځ پـــه يـــوه راډيويي مرکـه کښې لهٔ مـا پوښتنه وشوه : چه ولې ددې پرځـای چه تاسـو[1] قـدرت په افغانسـتان کښې واخلئ؛ دخلق ډيموکراتيک گوند واخيست؟ ما په ځواب کښې ورته وويل ملت آماده نه ؤ او دهغه تاريخي مسؤوليت مو په غاړه نه شو اخستی، هغه وويل ملک خوبې له هغه هم وران شو. ما وويل ښه دی چه دوطن پرستو په لاس وران نه شو.

نو دملت ذهني آمادگي په بدلون کښې يو ضروري عمل دی. مونږ چه ليدل دبدلون ځرگند ضرورت ملت نهٔ محسوساوهٔ.

تاريخ ليکل پرواقعيتونو او له بيلو خواؤ دهغه څيړنه ده. بيا په ښوالفاظو دهغهٔ بيانول چه خلک هغه ولولي. دا په تاريخ ليکلو کښې يو ربړدی. دغه ليکونکی هڅه کوي چه بيامومي کومو برخوته دخلکو ضرورت دی او اشتياق لري چه هغه ولولي.

بله داچه دملي رغاونې (ساختمان) دپاره کومې برخې اغيزمنې دي. په غربي نړۍ کښې د وروستيو کلو دايرة المعارفو نه يوازې دافغانستان په باب نيمگړی معلومات ورکوي. دمثال په ډول« دنړۍ علم » چه امريکې کښې يې سلسله جاري ده؛ دايران په برخه کښې دصفوي دولت له سقوط سره سم دنادر افشار خبره شروع کوي. دلته دمحمود افغان او اشرف افغان ذکرنه کوي. دهند په تاريخ کښې دمغلو له دورې څخه نيغ دانگليسانو مداخلې ته ننوزي اود احمدشاه ابدالي ذکر نه کوي او دافغانستان په تاريخ کښې دصفاريانو ، غوريانو ، غزنويانو او هوتکو ذکر پريږدي او داحمد شاه ذکر کوي او دهغه قلمرونهٔ يادوي.

له دې خبرو داسې ځرگنديږي چه معلوماتونه له مخالفو منابعو اخستل کيږي . دهند په درسي کتابو کښې دتاريخ په برخه کښې دافغانانو نقش نه يادوي. خودمغلو او

---

۱ - هغه مهال زهٔ دافغان ملت په گوند کښې ؤم مطلب له تاسوگوند ؤ.

انګریزانو ذکر ږیږدی. دکتور عبدالحکیم طبیبي په دې باب یوه مقاله هم لیکلې ده.

دغه ډول افغانانو ته نه دي ویل شوي چه اتلسمه پیړۍ کښې په دنیاً او افغانستان کښې د تاریخ مهم تحولات مینځ ته راغلي چه په دې باب هم دکتور طبیبي یو لنډ مطلب په انګلیسي ژبه د عروة‌الوثقیٰ په مجله کښې لیکلی چه پښتو ترجمه به یې داسې وي.

# اتلسمه پیړۍ دټولو ملتونو دپاره
# دغرور او خوشحالۍ پیړۍ

اتلسمه پیړۍ بیشکه دډیروملتونو دپاره د تاریخ یوه روښانه پیړۍ بلل کیږي.
امریکائیان په سرلوړۍ سره خپله خپلواکي او داساسي قانون جوړول یادوي.
اروپائیان خوشحال دي چه دخپلو مفکرینو له برکته یې لکه مونتسکیو، ولتېر او روسو
.... دټولنپوهنې اصول خپاره کړل؛ چه په نتیجه کښې دفرانسې ستر انقلاب او
جمهوري نظامونه را مینځ ته شول.
دترکو دعثماني خلافت اسلامي ځېې شرقي اروپاته ورسیدې او لویه امپراتوري
یې جوړه کړه. روسانو لوي پیتر درلود چه دهغه اقتدار په تاریخ کښې روښانه دوره
ود. په آسیا کښې دهند دمغلو او ایران صفوي دولتونه داجتماعي فساد په وجه
دنړیدو په حال کښې وو. نادر افشار لویه فتحه ترلاسه کړه او ژر له مینځه لاړ.
په اتلسمه پیړۍ کښې دامریکې، فرانسې او افغانستان خلکو خپله خپلواکي دخپلو
مبارزو په اثر ترلاسه کړه. دافغانستان ملت اقتدارته ورسید.
لومړۍ دافغانستان هوتکو مشرانو او فرمان چلوونکو صفوي آقاته ماتې ورکړه او
دهغوی امپراتوري یې ونیوله. بیا هلته افغانانو دعثماني خلیفه او روسي پیتر
لښکروته په (۱۷۲۵ع - ۱۷۲٤ع) کښې دایران په غرب او شمال کښې ماتې ورکړه.
کله چه نادر افشار ووژل شو؛ افغانان بیرته را پاڅیدل او دکندهار دشیر سرخ لوئې
جرګې احمد شاه بابا په پادشاهۍ وټاکه. نوي مشر او دلوي افغانستان مؤسس داسې
واکمني چلوله؛ چه له خراسان نه ترډهلي او له تبت نه دهند تر بحیرې غځیدلې وه.

په هند کښې انگلیسي کمپنۍ له دهٔ یعنی احمد شاه بابا نه ځان لیرې ساتهٔ. یوازې ددهٔ حضـورته یې کله کله تحفې استولې.( او په مینځ کښې آزادې سیمې لا پرتې وې. ) څرنگه چه امریکائیـان دجورج واشنگټن او فرانسه دناپلیون دراتگ جشنونه نیسي؛ افغانان هم دخپل ستر مشر احمد شاه بابا ابدالي، او د لوي افغانستان دمؤسس دراتگ جشن نیسي او هغه لمانځي.

دکتور طبیبي دتاریخ پهلټه کښې دغې نتیجې ته رسیدلی؛ چه مونږ له تاریخ نه هیڅ نه دي زده کړي. مگر احمدشاه بابا زده کړي ؤ. دمثال په ډول کله چه محمود افغان ایران ته لاړ او هغه یې ونیو؛ له اصلي مرکز یعنی کندهارنه لیرې پاتې شو. اتهٔ کاله وروسته افغاني پاچاهي هلته ړنگه شوه. احمد شاه بابا ته دقوم مشرانو مشوره ورکړه چه دشرقي اوجنوبي افغانستان تأمین ضروري دی. نوهغه غلطي دهٔ ونه کړه. مگر که هاغه وخت دکندهار دغلځو او دهرات دابدالیانو ارتباط سره ښه وای؛ داسې تباهي نه راتله. چه نادرافشار افغانستان ونیو. په داسې حال کښې چه آزادخان افغان دایران په غرب کښې تر ډیره وخته ځان وساتهٔ او دنادرافشار تروژلو وروسته دایران دشاهي مقام دپاره لهدریو تنو نومیالو څخه یودی ؤ او نوردوه کسان حسین علي قاجار اوکریم خان زند ؤ. شاه رخ دنادر افشار لمسی داحمدشاه بابا لهخوا مشهدکښې ناست ؤ. نیشاپور او نور خراسان هم دافغانانو پهلاس کښې ؤ. دلته تاریخي غلطي (۱۷۵۱ء) داوه چه د آزادخان افغان او احمد شاه ابدالي ترمینځ مفاهمه نهوه. هاغه دغلځي، دراني یا ابدالي اختلاف ؤ او کهچیرې دغه اختلاف نه وای؛ منځنۍ او جنوبي آسیا به ټوله دافغانانو په لاس کښې وه او بیا په هیڅ ډول شرقي او غربي استعمار او تیرې وربانديې راتلای نهشو. بیا وروسته په نونسمې پیړۍ کښې لهٔ تاریخ نه دعبرت اخستلو خبره لاړه. افغانستان وار له واره کوچنی شو او ټول هم تر تیرې لاندې راغی. په سرونو او وینو مو دافغانستان دیوې برخې ازادي او خپلواکي ساتلې ده.

زما هدف په دې ليکنه کښې دهغه ضرورت څرګندول دي چه پښتانهٔ دځان او خپلو ورونړو قومونو دژغورلو دپاره هغه درک کړي. کوم چه دهغه دپاره يې دملي شعور په رڼاکښې درنې قرباني ورکړې دي.

دتاريخ لتېه هرسړي ته دغه امکان برابروي چه دخپل ملت په ژغورلو کښې مثبته برخه واخلي. پرته له هغهٔ دانسان بيالوژيکي يادېوهٔ عادي ژوي حالت پاتې کيږي. انساني مفکورې هغه څوک پرمخ بيولای شي؛ چه دهٔ خپل ځان ددې وړګرځولی وي چه خپله فردي او اجتماعي خپلواکي تأمين کړي. يوغلام فرد ياټولنه دانسانيت دپاره هيڅ خدمت نه شي کولای. ځکه هغهٔچه ځان نه دی خپلواک کړی،دبل دپاره به څه وکړي؟

نن دامريکې ملت چه د بشر دحقوقو ناري وهي؛ خپل حقوق يې تأمين کړي؛ دا چه داناره دروغ ده که رښتيا ؛ هغه دسياست موضوع ده . مګردتاريخ پرېناٴ دوئ دخپلو پلرو درناوی کوي او دهغوئ قرباني يې په نظرکښې دي. نه يوازې دخپل ملک دفاع په سرسختۍ سره کوي؛ بلکه دخپل ملک دګټو دساتلو دپاره پهٔ ټوله نړۍ کښې کار لري.

ملي احساس دملي تاريخ له مطالعې نه پيدا کيږي. که چا ملي تاريخ نه وي کتلی ملي احساس يې کمزوری وي. دبيالوژيکي ژوند په خوا دړومي. که داحمد شاه بابا اووهٔ بريدونه پرهند، او درې بريدونه دايران په لوري چا مطالعه کړي وي، نو دافغاني اتلانو سرښندنه ديوهٔ هيواد اوملت دجوړولو په لاره کښې حيرانوونکې دي. او ديوهٔ افغان او پښتانهٔ په حيث ډير مسؤليت احساسوي.

کله چه په ۱۹۷۹ کښې روسي لښکرې افغانستان ته راغلې او ملي جګړه پيل شوه. په خارج کښې يو شميرتش پهٔ نامهٔ افغاني ليکوالو دخراسان خبره راپورته کړه. يعني که دافغانستان نوم خراسان وای ډيره ښه وه . خو چه پښتانهٔ تاريخ کښې پاچاهان شول؛ بده شوله.لومړی استاد خليلي د « عياری از خراسان» وليکهٔ او د سقو

زوی حبیب الله یې یوعیار وښود. بیا اشک خراسان دکتور رهین ولیکي. امریکه کښي صدیق فرهنګ دافغانستان درېنځ قرن اخیر کښي په دې افسوس کړی چه دخراسان نوم لهٔ افغانستان څخه ایسته شوی. په پښتورکښي کمپ خراسان جوړ شو. امریکه کښي دخراسان په نامهٔ اخبار ووت. زهٔ په تاریخ کښي دې خبرې ته متوجه شوم؛ چه هیڅکله دافغانستان نوم خراسان نهٔ. خراسان تل د یوهٔ ولایت نوم دی؛ چه هماغه مشهد او نیشاپورئې مهم ښارونه دي. او داحمدشاه بابا په امپراتوری کښي شامل وو. نوما ورته ولیکل؛ چه دغسې یو خراسان چه تاسو یې خوب لیدلی؛ چیرته دی؟ څرنګه چه دتاریخ لټه څوک نه کوي؛ دوئ ته چا یوځواب هم نه شو ویلی.

زهٔ به هڅه وکړم چه دغه موضوع هم تریوهٔ حده روښانه کړم. دپښتنو لهٔ تاریخي نقش نه ځان تیرول او دخلکو ذهن ګډوډول دهرلیکونکي کار لهٔ علمي او عملي بڼې نه تبلیغاتي بڼې ته را اړوي. هغه هم چه له یوې ناسمې نیتې سرچینه آخلي.

دپښتنو تاریخ دقاضي عطاءالله او پښتانهٔ دتاریخ په رڼا کښي دظفر کاکاخیل دواړه په ښه تفصیل لیکل شوي.

کوم ناسم بحث چه دپښتنو دنسب په باب روان دی لکه دخراسان موضوع هم دردؤنکی دی. قیس عبدالرشید یا بني اسرائیل ګڼل؛ دواړه تاریخي لټه نه ښئي. پهٔ زاړهٔ تاریخ کښي دوه معتبرې منبعې هماغه دهیرودوټ یوناني مؤرخ او چیني زیارتکوونکي دي؛ چه دواړه دپښتنو ذکر د پکتون اودهغو دسیمو کوي. چه دغه معلومات دقیس او اسرئیلو له واقعاتو ډیرمخکښې دی. دافسوس خبره ده چه اوسنې تعلیم یافته هم پهٔ دغو اوتوبوتو سردي.

له ټولو جوته خبره دپښتنو دژبې ده؛ چه د هندو اروپائي ژبو په څانګوکښې یوځانګه ده او ددوئ جسمي رغاونه ده. خو ښکاره ده چه غرض بیل شی دی.

دغه خبره چه پښتانه بني اسرائیل یا عرب دي؛ لرو پښتنوکښې لیدل کیږي؛ نهٔ برو کښې. له دې معلومیږي چه دادنورو کاردی. مطلب داچه داهم له هغو مسایلو

څخه دي؛ چه سرې تاريخي لتې ته راکاږي.

په اتلسمه پيړۍ کښې چه شرقي خواکښې احمد شاه بابا او غربي خواکښې ميرويس نيکهٔ او دهغهٔ اولادو عمده مرکزونه ونيول؛ چه ددوو امپراتوريو مرکزونه وو. او هغه يې لاندې کړل؛ چه عبارت له ډهلي او اصفهان څخه دی. ډهلي او اصفهان کښې افغاني سکه وچليده. نو ددغه قوم په باب مطالعه شروع شوه. دا دغور له سلاطينو پرته تاريخ دی چه اووهٔ سوه کاله يې پرهندوستان حکم چليدی چه بيا دمغلو آفت له مينځه يووړ. مغل په ۱۲ پيړۍ کښې لکه سيلاب له شمالي چين نه مرکزي آسيا اوبيا کښته ترهندوستان پورې راؤبهيدل. مگر دهغوئ خلک پاتې نه شول. څوک ورته پاملرنه نهٔ کوي. مگر دپښتنو موجوديت په سيمه کښې هرومرو دمخالفو توجه راړوي او پــهٔ مصيبتونويې اخته کوي.

پښتانهٔ په هربل نامهٔ چه راپورته شي؛ دهغه دپاره تشويق کيږي. څوکه دپښتانه په نامهٔ راپورته شي،تکول کيږي. يوه ورځ پاچاخان راته وويل: « ميږي ته چه خدای په قهرشي وزرې وکړې نو ورک شي. پښتانهٔ ته چه خدای پهٔ قهرشي دقوم مينه ئې په زړهٔ کښې وروا چوي نو ورک شي! ».

داسې تلقين شوی که څوک پښتون ووائي؛ معنی يې دنورو حقوقو اخستل دي. نو ولې په اتلسمه پيړۍ کښې يوه داسې واکمني جوړه شوې؛ چه دډکټور گنډاسنگه په بيان داسې وه: له شمال نه آمو سيند او دکافرستان غرونه، جنوب خواته دعربو بحيره او دعمان خليج، لويديځ خواته يې خراسان، اوکرمان او ختيځ خواته يې سرهند او دتبت غرونو پورې رسيدهٔ.

درغاونې ملي تاريخ زده کول؛ دهر افغان ملي وظيفه ده. ما ديرش کاله ودغه تاريخ ته پاملرنه کړې؛ هغه څه چه شعوري زما پهٔ مغزوکښی وو؛ پهٔ کارؤ؛ چه څه منظمه مطالعه اوځيړنه ورسره واې. دژوند دبقأ سؤال په اقتصادي نا مساعدو شرايطو کښې غيرمترقبه پيښې او حادثې؛ ټول هغه علتونه دي چه دمنظم تحقيق مخه يې نيوله.

اوس هم دهغه مطلب بيان زما له وسه نه‌دی پوره چه دملي تاريخ، ملي وجدان، ملي شعور او ملي اخلاقو تصويرورکړای شم. خو کهٔ چيرې زما ليکنې څوک دخوشبينى يا بدبينی له مخې ترڅيړنې لاندې ونيسي او دهغهٔ دبشپړولو دپاره هڅه وکړي، زما دخوشحالی سبب به‌وي.

زهٔ دميرويس نيکهٔ او احمدشاه بابا دمعرفت په برخه کښې پاتې يم. ځکه هغه الفاظ او کلمات چه زهٔ ورباندې پوهيږم کافي نه‌دي او کوم کلمات اوسبک چه غواړم استعمال کړم؛ ويريږم چه کفر آميز نه وي.چه چا سره به په غضب اخته شم.

داحمدشاه بابا پهٔ برخه کښې چه يوهٔ افغان او مسلمان او يوهٔ سيکهـ او هندي څه ليکلي؛ د زمانې د فتوربنهٔ څرگندوي دي. او داحمدشاه بابا په باب خبرې به وروسته څهٔ په تفصيل سره وشي؛ دافغان بچي دپاره به ملي تاريخ تر يوهٔ حده معرفي شي.

له‌خدايه په‌دې هم راضي يم‌چه دامريکې په‌ځان ځاني ژوند کښې زهٔ دافغان په خدمت کښې يم او شپه ورځ فکراو انديښنه مې و دغې خواته ده.

درميان قعردريا تخته بندم کرده‌ای بازمی گويی هوشدار دامن ترمکن

ميرمحمدصديق فرهنگ د (افغانستان درپنج قرن‌اخير) کتاب کښې‌ليکي : احمد شاه‌شخص جاه‌طلب بود. او بل ځای کښې وائي: «باداشتن قطعه عسکر منظم، الماس کوه نور وجواهرات نتيجه انتخاب قبلاً معلوم بود ومی‌شود. جلسه انتخابات از همان صحنه سازی های باشد که بارها درتاريخ افغانستان تکرار شده‌است».

او دکتور گنډاسينگهـ وائي : چه احمدشاه دراني قوم‌ته وحدت ورکړ او هغه يې دپرديو له غلامی نه‌خلاص کړل.

احمدشاه‌بابا دوه هدفه تأمين کړل. قوم ته‌ملي وحدت ورکول او لوی افغانستان جوړول. له‌دې کبله دافغان په‌زړهٔ کښې لوړ مقام لري. کله‌چه احمدشاه بابا پاچا شو د(۱۷٤۷م) دی دپنځه ويشتو کلو ؤ. دوفات په وخت کښې يوپنځوس کلن ؤ. بياهم ددهٔ عمر دزاړهٔ سړي نه‌ؤ. ديوهٔ پاخه سړي په عمرؤ. مگرداچه له‌تنکی ځوانی

نه‌دۀ ته بابا ويل شوی؛ ددۀ په تولو لياقتونو او لويوالي اعتراف دی او دۀ ته دآخرني احترام حد دی چه دزړۀ له تل نه را پاڅيدلی اود بابا له ويلو سره هر افغان د هغه روح په خپل وجود کښې له خپل روح سره يوځاي محسوسوي؛ چه دا يو افغاني ملي خصوصيت دی.

ه «لومړی مقدمې پای»

چه پښتـــون شـوم په داهسې سـپـينه ږيره
خـدای مـې بيـا مـۀ کـړه مـغـول وايم په ځـيـره
ومـــغـــول وته بـه نن کـــړم اتـک پـوله
ملک به خـلاص کـړم دمـغـول له غـاله غـوله

وګوره خوشحال اعتراف کوي؛ چه په سپينه ږيره پښتون شوی او څه ښه اصول پۀ لاس راکوي؟ پښتون او پښتو ويل؛ دپښتانۀ صفت او تعريف نۀدی. څوک چه دپښتانۀ دپاره کارکوي؛ هغه پښتون دی.

مخکښې ترخوشحال پير روښان په ختهه پښتون نۀ؛ خودپښتنو دپاره يې کاروکړ پښتون شو.

له دې لنډ احوال نه داسې څرګنديږي؛ چه هرڅوک چه دهرچادپاره کـارکوي؛ لۀ هماغو څخه دی. که پښتون دبل چا دپاره کارکوي؛ پښتون نه‌دی. موهن لال هندی ؤ. دانګريزانو دپاره يې کار کاوۀ؛ دهند په تاريخ کښې يې نوم نشته. دانګليسانو پۀ تاريخ کښې يې نوم راغلی.

ګوره! که پښتون اوسيږۀ ! شرط دادی چه ځان به دپښتانۀ دپاره وقفوو.

زمونږ يو فارسي ژبی څلمی شاعر عبدالله فوژان داوسنيو حالاتو پۀ ارتباط وائي:

کـاش احـــمـد بدوبود دراينجـــا مـــيـــروس
باهزاران صف دلداده همـــچـــون « قـــرنـا »
تاکـه مـيـديد چه افـتـاده درين خـاک کـبـيـر
از اتـک تابرجـيــحـون همـه خـونين کـفـنا

تيغ در دست من وقلب برادر برخــاک
نيــزه دردست وی وسـينۀ من بوسـه زنا
خـجلت آباد زمـين را نبـود هيچ بيـاد
غـيـرقـابيل چنين، گـور برادر بکنا

بل ځای وايي:

کـای سـفرکـرده زشـهرنگۀ خـستـۀ من
شـيـره جـان به تو داده ام چون صـبـا برسـمنا
نه بدان بود کـه شـبـخـون زمـان چون برسـد
همـچـو آهو به وی غـمـزه کنان تاخـتنا

يا داچه :

پسرت در برتو دختر من برده عرب
ميفروشند گلم را - نه گهر - درعدنا

کوم اصول چه خوشحال وضع کړي؛ دهغه له مخې پښتون هغه دی؛ چه د پښتنو حيثيت وساتي. د پښتنو خدمت وکړي. پښتني نړی جوړه کړي. يعنی چه پښتون کيدل په عمل دي ؛ نه په ويناً. هرڅوک چه د پښتون خدمت کوي؛ پښتون دی . هغه څوک چه د پښتون خدمت نه کوي؛ پښتون نه دی. مګر که د پښتون خدمت کوي او پښتو هم وائي د پښتنو دسرتاج دی لکه پير روښان.

خوشحال وائي:

زهٔ غـلـيـم داورنـګ زيـب يـم
سـرپـه غـرهٔ پـه بيـابان
زهٔ پـه ننـګ د پښـتـانهٔ يم
دوئ نيـولي مـغـولان
لـکـه سـپي هسې جـاروزي
د مـغـل پـه آش ونـان

زمـــــالاس وربـانـدې رســـــــيـــــد

راواهـۀ نـه‌شي خــــپـل ځـــــان

څوک چه‌دبل دپاره کار کوي؛ خوشحال څه ورته وائي ؟ زمانه بدليږي خو د زمانې مغل نه‌بدليږي. دپښتو په ادب کښې مغل دقوم لۀمفهوم نه‌دظالم پۀ مفهوم ځکه وائي: چه نشه داستبداد لري په سرکښې - ماته يودی کۀ مغل دی کۀافغان

ياداچه : حميد بابا وائي:

تۀ له‌اصله له‌نسبه پښتنه يې   دا دظلم خوي دې‌زده کړله مغلو

يو به‌نسم مغلواله‌درقيب‌ستا   که‌رښتيا سره زوکړی پښتنې ؤم

هغـه‌بلوڅ ، ازبک، ترکمن... چه‌دمحـمـود افـغـان او احـمـد شـاه‌بابا تربيـرغ لاندې يرغلونه‌کول؛ او له ډهلي تر اصفـهـانه‌يې تورې وهلې. له‌داسې پښتنو سره نۀشي مقايسه کيدای؛ چه دهغوئ ددسيسو په‌اثر محمود افغان له کرمانه،احمد شاه له‌ډهلي نه‌او شاه زمان‌له لاهوره بيرته په‌بيړه کندهار او کابل ته راغلل؟ يه؛ مونږ چه پښتون وايو ؛ له هغو صفتونو سره‌دی؛ چه مخکښې بيان شول. کۀ هغسې نه‌وي؛ ختمه او ژبه پښتونواله نه‌شي پوره کولی.

مونږ وينو چه مغلواله ظلم؛ غـيرت او عـدالت پښـتونواله‌شـوه. مونږ چه‌داتولنې جوړوو؛ د (خاک کبير) د ارمان دپاره دي؛ چه دعبدالله فوژان شعر کښې ورته اشاره شوې.

اوس‌راځو دې خبرې ته چه ؛ مغلواله يو صفت شو او پښتونواله بل صفت. دغه مفهوم ژورفکر غواړي . کوم‌اصول بايد خپل شي؛ چه پښتون، پښتون شي؟

ددې سوال ځواب دپير روښان، خوشحال، ميروس ، محمود ، اشرف‌او احمد شاه پۀ اصولو کښې موندلی شو،اوس چه خبره دې ته را ورسيده؛ نو يو نوی سواد غواړي؛ چه‌ددغـه نوي سـواد ترلاسه کول هومره آسانه کارنه‌دی. يوازې پراحمد شاه‌بابا څلور سوه اثره ليکل شوي؛ بويه چه له‌ځان نه سوال‌وکړو؛ څو اثره مو لوستي دي؟

څـو دې توان رسي پەلوي درياب کـښـې گـرځـه
پـه ويالـۀ کـښـې دې زوال وينم نهنگـه!
دغـمـرزې پەتيغ يې خـورښـۀ يې خـوشـحـالـه
مـړني پـه روغ صـورت نـه ځي لـه جنگـه!
اتفـاق پـه پښـتـانـه کـښـې پيدا نه شـو
گـني مـا بەدمـغل گـريوان پاره کـړ
سـره يوتربل اختـه دي پخـپل کـور کـښـې
پـه نفـاق يې غـم ومـاتـه اجـاره کـړ

دخوشحال اجتماعي فلسفه په پښتني ټولنه کښې د ډير دااهميت وړ ده. افغاني روح له هغه څرگنديږي.

کله چه تاسو دخوشحال وصيت نامه ولولئ؛ هغه خپله جامعه دقبايلو يا اقوامو اوپښو په اساس نه تحليلوي. بلکه خوشحال جامعه دکردار کرکټر اواخلاقو اوکړو په اساس تقسيموي چه دا ډيره لويه خبره اودپام وړ ده.

اصلي مأمول ديوۀ آزاد خپلواک پـه عـدالت اوښو اخلاقو سمبال هيواد جوړول دي.

هغه خلک چه لږ پښتنو سره دمغلو دامپراتورۍ په مقابل کښې په سر اومال جنگيدلي؛ هغه بابا زي بولي. خپلوي، دوستي اوهرڅه له هغوئ سره ښائي او وائي چه دغه خلک دخپل پلار اولاد وبولئ.

هسې خو لۀ بابر مغلي سره هم پښتانۀ ملگري او دپښتون پادشاه ابراهيم لودي جنگ ته روان ؤ. ابراهيم لودي له پښو وغورځيد او د گورگاني دولتونه هلته پر پښو ودريدل. نو خوشحال ته دغه تجربه هم په مخه کښې پرته وه. اوس وگورئ وصيت نامه دخوشحال بابا په قلم؛ چه خپل زوي اشرف خان ته يې ليکلې ده.

دغه وصيت نامه به دافضل خان تاريخ مرصع کښې درج وي دوست محمد کامل

چاپ کړی دی. دغه وصيت نامه خوشحال له محبسه ليږلې ده:

**د وصيت نامې متن:**

اووۀ پرکه وصيت نامه مؤکده په ډير تأکيد مؤشحه په مبالغه شديد چه فرزند ارجمندي اشرف خان واړه فرزندان جميع هواخواهان ياران دي پۀ داعمل عامل وي، عمل دی دهر يوۀ برى تل وي.

دما دقيد په حادثه دولس په تفرقه اووۀ قسم عالم داخل دی که پردي دي که خپل دي، دهرچاسره موافق ددیو دکردار دعمل په مقدار سلوک راه ورفتار کار وبارکا. بويه چه تخلف تجاوز په کښې واقع نه شي.

اوقسم اول بابازي دي، بيا رحمت زي، بيا کمذات زي، بيا سعادت خيل، بيا مذبذبين، بياناقص خيل، بيا مردود خيل وبلل شي.

بابازى يا بائي زي لکه چه دما دپلار خونه هسې دی چه فرزندان په کښې ورغلل، داورنگ پادشاه بدي يې راسره واخيسته حق يې ددوستۍ دخويښۍ هرچه دياری آشنائي ؤ په ځای کړ.

رحتمزي رانيزي دي چه په داننگ ، شرم راسره شريک شول.

ديو دواړو اولسونو سره څو توان رسيږي ، نيکي بويه .

دپښتنو والي په کار د مغل په دربار ددوئ بهبود مې کوشش بويه سر او مال وملک ددیو په کار په رخنه کښې که په کار کيږي دريغ نه بويه. خويښي دوستۍ دې هم له دوئ سره وي. بلکه دواړه اکوزي سره دي.

داحال محکم مستحکم وي. کمذات زي کمال زي دي په داهسې وخت يې دهسې کمينۍ چاروکړه چه کډه يې ووهله. پښتنې يې سرتورې کړې . ددیو کمال نه وه زوال يې وه.

سعادت خيل هغه دی چه شرم وننگ يې وپاله، نمک مې يې حلال کړ ، دسردار متابعت يې په ځاي کړ. سعادت خان سره دما دزاهوزاده چه حيران پريشان سيکري

لره لاړل، سعادت د د يوداؤ چه داپت همت يې په ځای کړ. واړه سعادت خيل دي چه دماداولاد حکم وړوني دي دافرقه دې عزيزه مکرمه وي؛ دوستي خويښي دې په قام کښې هم له ديو سره وي. قلنگ ، عشر، راهداري هرمحصول تکليف دې تر هفت پښته پهٔ ديو نه وي. هرشان تقصير چه وکا تر اووهٔ نويته دې ور معاف وي. ددربان منع دې نه وي په وادهٔ په کوژده په شل په شومـه دې ورسره مدد کړی شي. پياده دې پهٔ سواره شمارلی شي سووردې په دوه سوارهٔ حساب.

مذبذبين هغه دي چه سعادت خان ورځنې لاړشه. دوئ متفرق لاړل؛ يا پهٔ وطن کښې په بدحال متحير پاتو شول . هيڅ يې نه زده وو چه څه وکړي دا فرقه هيڅ گرم نه دي دماداولاد څوک ورپاتونه شه، که څوک يې د ضرور دمخه ليدلی وي يايې دچاڅهٔ خوړلي وي؛ هم معاف دي.لکه کله چه کتل شول هسې دې کتل شي. انعام واکرام هرڅهٔ په ځای بويه په داکښې هغو چه دچامخ ليدلی نه وي هغه دې نتيجه بيامومي.

ناقص خيل هغه دي چه حق يې دبرادرئ دسالها پرورش په ځای نه کړ.

بس دسعادت خان نابوديی وليد بخرې هسې مهينې يې ددهٔ قبولي کړې ورسره په مثل بندوبست يې دملک کاوهٔ دانقصاني شول. نورپرخاش دې ورسره نه وي دير ديوه جنگه وتښ په بل جنگ په کارکيږي، ساتل دې شي دنقصان سره.

مردود خيل خودمعلوم دي، دديوه جزأ سزأ په خدای سپارلې که حق پوښي او کفران يې دنعمت کړی دی هغه هسې پاداش پاداشونه به پرې کيږي خپل شامت ورلره بس دی. چه تر اوسه لاس پرې آلوده نه شول اوس به څهٔ آلوده کيږي. خود صبر او دلوي نيت په توره دې غوڅيږي . (۱۰۷٦ هـ ق د رمضان ۱۰) .

ددې وصيت نامې نه معلوميږي، دپښتونولۍ له نظره چاچه پښتو وکړه هغه پښتون دی. ياداچه ملي هدفونه چه چا تعقيب کړل: هغه سيال او عزيز دی. څرنگه چه خوشحال دغه خلک بابازي بولي. له خپله کوره يې بولي.

خوشحال يو بل ځاي دغه مطلب ته په يوه بل صورت هم اشاره کوي.

چه دستارتړي هزار دي ددستار سړي په شمار دي

دلته خوشحال په ظاهري شکل کښې هم دافغان تشخيص کوي او معيار هغه همت او غيرت دی.

دخوشحال لوي ارمان دپښتنو دپادشاهۍ دي. دده په اصطلاح خپل حکم حکومت دی. دپير روښان اهميت هم په دې کښې دی چه ترخوشحال دمخه يې پښتانه پاڅولي وو. خوشحال وائي:

دبهلول او دشير شاه خبرې اورم
چه په هند کښې پښتانه وو پادشاهان
شپږ اووه پيړۍ يې هسې باچهي وه
چه په دوئ پورې درست خلک وو حيران
ياهغه پښتانهٔ نور وو داځهٔ نور دي
يادخدای دی نن داهسې شان فرمان
که توفيق داتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي په داځوان

ددغه سپين ږيري روڼ فکر مشر بل خصوصيت په اعتراف کښې دی. په خپلو کمزوريو اعتراف کوي او وائي په داسپينه ږيره چه زهٔ پښتون شوم يادخپلو زامنو لحاظ نه کول. ښهٔ ته يې ښهٔ او بد ته يې بد ويل او آزاد خيال درلودل؛ هغه صفتونه دي چه دخوشحال فکر تل ځوان دی؛ خو افسوس چه لا تر اوسه پښتانهٔ دده په پيژندنې بريالي نه دي.

# څلورم ملّي غورځنګ

مؤرخينو دچنګيز يرغل آفت بللی. په‌رښتيا هم آفت ؤ. ځکه دچنګيزخان خبره ده « هلته چه‌زما دآس سم ورسيږي؛ هلته‌بيا بوټی نه‌شين کيږي! ». دغه جمله ډيره ښه معرفي ده چه دچنګيز ورانکاري يوازې انساني ژوند ته خطر نه‌ؤ. حيواني اونباتي ژوند هم نه‌شو کيدای. هرډول آبادي يې ورانوله. هره پاڼه دونې اوکتاب يې سوځوله.

له‌وحشي مغلو تر اهلي مغلو درې نيمې پيړۍ تيرې شوې. دقوم، ملت، وطن، ملي هويت سوال نه‌ؤ پاتې. په دريو مرحلو کښې افغانان بريالي شول؛ چه تير برم بيا ترلاسه کړي. ( الحمدلله رب العالمين ).

۱- دخوشحال او روښان پير او يوسف زي يااسپه زو فکري اوحربي جهاد دمغلو په مقابل کښې.

۲- دميرويس بابا عملي ګام دملي ژوند دبيا ژوندي کولو په لاره کښې.

۳- احمدشاه بابا بريالی کيږي. دهٔ افغاني ملي حوزه تأمين کړه. سياسي او طبيعي سرحدات ئې سره يوکړل. چه دملي تاريخ دغه‌درې ملي مرحلې او دملي غورځنګ دوه مرحلې زمونږ د پاره دروند اهميت لري. او دادی دخدای په نامه په هغه پيل کوو.

دملي حاکميت، ملي وحدت او ملي تاريخ يوه تابلو دغور اوږده حکمروائي موجوده وه او کهٔ دوهم آفت يعنې انګريز نهٔ وای را رسيدلی؛ ليرې نه‌وه چه احمدشاه بابا دغه حکمروائي چه جوړه شوې وه؛ تر اوسه‌به زمونږ حالت طبيعي ؤ او دآسيا سرنوشت به دومره درد ناک نه ؤ.

نه‌خــــپله راکــــړه نـه خــــپله ورکـــړه

نــه خـــــــــپل حــکـم حــکــومــت دی

دبل حکم پرې زندان شي
چه په خپل حکم عادت دی

«خوشحال»

درست پښتون له کندهاره ترا ټکه
سره يو ننګ په کارپټ او آشکار

اوبيا :

دافغان په ننګ مې وتړله توره
ننګيالی دزمانې خوشحال خټک يم

### څوخبرې :

پښتانهٔ چه دمغلو اوچنګيز په آفت کښې لکه ټوله روسيه ترمسکو پورې او شرقي اروپا تر هند پورې وځپل شول؛ نو دغه قوم (پښتون) توره ونهٔ غورځوله؛ له هغه سره يې سم فکري او مذهبي بدلون هم رامينځ ته کړ. داسې چه پير روښان داسلام دين پهٔ پښتو ژبه بيان کړ. شيخ ملي دزمکو ويش او اجتماعي لارې جوړې کړې. ددې دپاره چه له يوې خوا دايران صفوي دولت دسيادت دعوی درلوده اوبله خوا مغلي هند داسلام دعوی ګيرؤ. نو دپښتنو دپاره څو ډوله سمون په کارؤ. څو لهٔ حالاتو سره سمه مقابله وکړای شي. په حقيقت کښې دغه تکلونه هم دملي تاريخ له مخې اخستل شوي؛ هلته چه دريمه هـ پيړۍ کښې صفاريان او طاهريان د بغداد دخلافت په مقابل کښې دريدلي وو؛ کله چه يعقوب صفار دبغداد په لوري لهٔ خپل لښکر سره وخوځيد؛ نو دبغداد خليفه دحضرت پيغمبر چينه پراوړه واچوله او دهغه (ص) امسائې پهٔ لاس کښې ونيوله ؛ پر يعقوب يې لعنت ووايهٔ . غشي ئې په ليندۍ کښې کښيښودل او دغربي افغانستان په لوري يې ګوزار کړل. دا ددهٔ دجنګ اعلان ؤ. يعنې دهٔ دخپل اقتدار دساتلو دپاره څنګه عجيبه طريقه ونيوله. دمغلو پادشاهانو چه دعياشۍ دربارونه ئې ددنيأ دپاره مثالونه دي؛ نڅا ، شراب په زرهاؤ ښځې ئې درلودې؛ خو بيا

هم ځانونه يې د شريعت ساتونکي بلل.

نوددغسې يوې مکارې سلسلې دپاره ددين داحکامو شرح دقوم دپاره په کاروه چه پير روښان داکار وکړ او قيام الدين خادم دپير روښان په باب مستقل کتاب ليکلی چه کابل کښې چاپ شوی. او دلته به هم بحث پرې وشي.

يوسف زي، ختک، مومند، ساپي او نورو قومونو دمغلو سره په ټول دوران کښې په دغو جنگونو لگيا وو. او قرباني يې ورکړې. دغه درشوت او امتيازاتو ورکول؛ دمغلو په وخت کښې شروع شوي وو. انگريزانو بيا همدغه لوبه ورسره وکړه چه خوشحال دغه شکايت کوي.

په بل غشي بل تويک ويشتلی نه يم که ويشتلی يم بيا هم په خپل تويک يم.

کمزورو پښتنو په امتيازاتو خپل قوم دبل په گټه اداره کړی؛ چه ملي تاريخ ئې محکوموي. مگر دواړه ډوله خلک ملي مجاهدين او خاين افراد؛ اوس بايد له تاريخ نه زده کړه ولري.

داڅرگنده ده چه بايزيد روښان په خيرالبيان کښې غوښتل چه اسلامي عقايد دپښتنو له خصوصياتو سره يوځای کړي او پښتنو ته داسې لاره وښيي چه سياسي او فکري خپلواکي ولري.

بايزيد روښان نه ويل چه زه پيغمبريم. ده ويل چه زه پير کامل او مکمل يم. يعنې غواړم چه نور تکميل شي. ده ډير اصلاحات راوستل. پښتانه ئې متحد کړل او دمغلو سره جنگونه شروع شول. ده دکامل افغان صفات او درجې وښودلې. چه څومره يو پښتون دخدای په عبادت کښې ټينگ وي او څومره بايد ميړانه ولري. کله چه نن پر مختلليو بشري مفکورو ته سرې وگوري؛ بيا ضرور داسؤال پيدا کيږي؛ چه بايزيد څنگه دغسې اصلاحات مينځ ته راوړي؟ پير روښان کندهار ته لاړ. ظاهر کښې داچه تجارت کوي. مگر ده هرچيرې د وحدت او خپلواکۍ فکري او سياسي تبليغ کاوه. څو

ددولت ورته پام شو. پیر روښان هغه مسایل چه اسلام کښې نه وو؛ مګر له اسلام سره يې منافات نه درلودل او دپښتنو له فطرت اوټولنيزو حالاتو سره سم وو؛ دهغه اجازه يې ورکوله.

اخوند درويزه ددۀ په مقابل کښې بل کتاب وليکی. دمخزن‌الاسلام په نامهٔ. څرنګه چه دغه کتابونه په پښتو وو، نو د پښتو ژبې دپرمختګ سبب هم شول؛ چه بيا وروسته پښتو ژبه د خوشحال خان او ددۀ دکورنۍ له خوا عالي مرتبوته ورسيده. بايزيد خپل کتاب داسې شروع کړ: ای بايزيده وليکه په رښتيا اولو يوالی دبسم الله توري،زۀ دهغه کسان مزد نۀ بې درکه کوم څوک چه کيلي او بيابې ورانوي.کوم تکی ياتوری چه دبيان دسموالی دپاره وي اوبيايې ليکي« يعنې دۀ ته دخدای تعالی له خوا حکم دی چه پۀ دې توګه دخپل قوم خدمت پيل کړي.

دمغلو دولت دی دمحاکمې دپاره قاضي ته وليږۀ. مګر بايزيد قاضي قانع کړ چه دغه خلک دوحې او الهام په توپير نه پوهيږي.

بايزيد روښان عليه‌رحمه جنګونه شروع کړل چه دروښانيانو له خوا پۀ ډيره ميړانه سرته رسيدل. کهٔ څه هم پخپله په ۱۵۷۸م کښې پهٔ شهادت رسيدلی؛ مګر تريوې پيړۍ لا زيات دغو جهادونو دوام درلود چه د پښتون قوم دژبې، دود، دستور، سياسي ويښتوب دپاره ډيرګټور ؤ.

دپښتنو فکري انقلاب او جنګونه اوپښتني وروروليدغه سرحد ته ورسيده چه يوځل بيا دغوريانو، لوديانو اوسوريانو تاريخ ژوندی شي.

ځکه مونږ مخکښې ويلی ؤ چه دچنګيز او مغلو درې سوه کلن يلغار په هومره شدت او ظلم هيڅ نهٔ پريښې. دغرونو پادشاهانو يا ملک الجبال وحدت ته اړه درلوده؛ ښکاره ده؛ چه دغسې پوهانو شاعرانو او سياسي يون ته ضرورت ؤ چه دافغان دبرم بيرغ پر اصفهان او ډهلي ورپيږي.

روښانيانو دپښتنو ترمينځ دواحدې لارې نيولو مفکوره ژوندی کړه؛ هغه تاريخي لړۍ ئې ورياده کړه چه پښتنو اووۀ سوه کاله پرهند حکومت کاوۀ. داسمه‌ده چه پښتنو

خپل مرکز هند گرځولی ؤ. مگر افغاني سیمې هم له دوئ سره وې او خپلې اړیکې ئې له پاتې افغانستان سره کلکې ساتلې.

وروسته ۱۳۱٦م سلطان بهلول لودي دډهلي پرتخت کښیناست.دهٔ په یوهٔ فرمان کښې خپلو افغانانوته ولیکل : خدای تعالی دهند پادشاهي ماته راکړې. مگر هغه څوک چه پردغې پراخې خاورې حکومت کولی شي؛ چه قوم ولري. نو تاسوته بلنه درکوم چه هند ته راشئ. دنظام په خدمت کښې داخل او ځمکې جاگیر واخلئ! ».

دغې لودې سلسلې ۱۵٤۵م پورې دوام درلود. یعنې یوازې لودیان چه وروسته له غلځیانو اقتدارته رسیدلي؛ دوه سوه نهه ویشت کاله کیږي. ابراهیم لودي دبابر په مقابل کښې ماته کوي ولې؟

بابر سره چه کابل ئې مرکز کړی ؤ؛هم افغانان وو. دیوسف زو په تاریخ کښې لیکل شوي؛ چه بابر یوازې ؤ. مگر دهٔ افغانان پرځان راټول کړل. او کله ئې چه قدرت وموند؛ خوارهٔ وارهٔ مغلان ئې پرځان راټول کړل. افغاني سلطنت ئې په مغلي بدل کړ. خوبیا شیرشاه سوري یو ځل بیا افغاني برم وښود ؛ پښتانهٔ بیرته پرهند مسلط شول.

اوس له ملي تأریخ نه څه باید زده کړو ؟ خپل ځان پیژندل، خپل قوم، خپل ملت، خپل خلک ، خپله ژبه ، خپل کلتور ، ورورولي ، عزیزولي ، میړانه، ځوانمردي.

مونږ به دخوشحال خټک پهٔ ملي غورځنگ کښې بیا له دغه آفت یعنې نفاق سره مخامخ شو. بیا اوبیا. نوځکه دښمنان مونږ له ملي تاریخ نه لیرې ساتي او عربي صرف نحو راباندې وائي او بیائې دانسانیت او برابرۍ دزیارکښانو سندرې راته شروع کړي.یعنې ملي تاریخ زده کول عیب دی؛ نور هرڅه هنر.

دغلځي لودي او سوري پادشاهانو فکر تردې اوچت ؤ. چه مونږ فکر کوو کهٔ چیرې د تاریخ پهٔ لټه کښې وگورو؛ دجنوبي او مرکزي آسیا پښپړه اداره او امنیت باید دیوهٔ مقتدر ، اومهذب ملت له خوا شوی وای.

# په تاريخ کښې چوپتيا

کله چه دشیـرشاه سوري سـترګـې پټې شـوې. لکه چه پښـتـون ويده شـو او دروښانيانو تر دورې پورې په درانده خوب ويده شو. چه په خيـرالبيـان څه را ويښ شول.

رشوت، جاګير، خانۍ، پادشاهانو سره دوستۍ او حتی خپلوۍ بدۍ، تربګنۍ، ضد، غچ اخستل؛ هغه نسخې وې چه مغلو عملي کړې وې او وروسته انګريزانو له همدغو نسخو کار واخيست.

له پخوا زمانې نه مخکښې تر ميلاده سکندر دپښتنو يادغرونو دپادشاهانو داخلي معـاملې خـپله دوی ته پريښـودې. لهباج خراج او مـاليې نه معـاف. خانۍ ئې په رسميت پيژندل شوې وې. ملي احساس يې مړ پاتی و. خوشحال پردوئ غږونه وکړل. چه څو مثاله ئې مخکښې بيان شوي.

دتاريخ چوپتيـائې ماته کړه. خو پهډيرو سختو قربانيو. کهڅيرې ددغـو قربانيو تفصيلي تاريخ وڅيړل شي‌هر پښتـون بهدخپلو پلرو پهمقابل کښې کمی احساس کړي. قبيلوي شعور يوڅه په ملي شعور بدلول ددې سبب شو چه دتاريخ څوک پيدا شي.

دپير روښان تبليغ او کامل او مکمل پيرکار داؤ؛ چه پښتنو ته استقلاليت ورکړي او داکار تر ډيره حده وشو.

لومړنۍ چوپتيا خو دپيرروښان، خوشحال خان، ميرويس خان نيکهٔ او احمدشاه بابا په برکت ماته شوه.

مونږ بهد اوسنۍ چوپتيا په باب کښې هم خبرې وکړو.

## افغاني اسلام :

پیر روښان کامل او مکمل د مغلي اسلام په مقابل کښې افغاني اسلام تبلیغ کړ او په پښتو ژبه یې تعبیر او تفسیر وکړ. لکه څنګه چه یعقوب صفار په دویمه هجري پیړۍ کښې دبغداد اسلام چه دواړو داسلام اصلي ماهیت بدل کړی ؤ او د خپل اقتدار دټینګولو دپاره ئې هغه استعمالاوه. دهٔ پر افغاني اسلام تکیه وکړه. اموي، عباسي او مغلي دربارونه چه دخپلو عیاشیو په وجه مشهور دي او په مقابل کښې پرمحمدي (ص) اسلام الفقر وفخري ودریدل. ځوانمردي، غریب نوازي راغله. او ملي افغاني اسلام چه داصلي اسلام روح او جوهر دی؛ دپښتنو او افغانانو له اسلامي احکامو سره اخښل شوی دی .

**خوشحال خان :** وروسته تر روښانیانو یو بل ملي غورځنګ دساپو له خوا شروع شو. داسې چه په ۱٦۷۰م داورنګ زیب پادشاهي وه. ددهٔ سپاهیانو په کونړونو کښې دغرو دپادشاهانو یوې پیغلې ته غوښتل چه په سپکه وګوري. ساپو داورنګ زیب سپاهیان ټول اعدام کړل. مغلي دولت له دغه مخالفت او پښتني قضاوت څخه په ویره کښې شو چه دغرونو پادشاهان په بشپړه توګه اطاعت نه کوي. نو یو درونډ لښکر یې کونړونو ته واستاوهٔ. او څرنګه چه ملي شعور ژوندی ؤ اودکامل پیر برکت موجود ؤ، ایمل خان مومند میدان ته راغی او مغلي لښکریې تار په تار کړ.

خوشحال خان او دریاخان دنوښار پر کلا حمله وکړه او هغه یې ونیوله. مغلو دشجاعت خان او جونت سنګهـ په مشرۍ بل لښکر ولیږهٔ چه پښتنو ته سبق ورکړي. خو پردغه لښکر بیا ایمل خان په کړ په کښې ور پیښ شو. پاک یې تباه کړل. هو! ایمل خان سره سیالي او مقابله تباهي وه. ځکه پښتانه دننګ په ډګر کښې سره یو وو.

پهٔ ۱٦۷٤م کښې اورنګ زیب پخپله حسن ابدال ته راغی؛ چه خزانه او لښکر

ورسره ؤ. له یوې خوایې پیسې خپرې کړې او له بلې خوا لښکرې. خوشحال خان ته یې بلنه ورکړه چه ته بهلوي خان یې. مگر خوشحال خان دغه بلنهونه منله او تیراته لاړ دپښتنو دیوځای کولو هڅې یې پیل کړې. دغه راز خوشحال خان مردان ته راغی چه یوسف زو سره روغه وکړي.

دغه وخت پښتانه ټول خپلواک شوي وو. یوسف زو ورسره (خوشحال خان سره) جوړه ونه کړه. چه دتاریخ په لټه کښې یوه ستره غلطي وه . چه ټول پښتانه ورسره مخامخ دي.

دمغلو بل لښکر دمکرم خان په مشرۍ دپښتنو سیمې ته ننووت. خو په خاپښې کښې ورسره ایمل خان مومند اودریاخان اپریدي مخامخ شول. اپریدو، مومندو ساپو ختکو او نورو پښتنو دغه دره دمغلو په وینو ولړله او ماتهیې ورکړه . دغه وخت دمغلو دولت دومره قوي ؤ؛ چه مقابله ورسره گرانه وه . مگر پښتنو دغه دولت کمزوری کړ . لیدل کیږي چه کهٔ پښتنو خپل یووالی ساتلی وای؛ هماغه وخت خبره خلاصه وه . دخپلواکۍ غوښتلو روح را ژوندی شو. پښتنو تهخپل قدرت معلوم شو. لهبده مرغه ایمل او دریا خان هم مړهٔ شول . ( ایمل خان اودریاخان چه مرگ خوبې نه وای) دغه افسوس یوازې دخوشحال خان نهٔ دټولو پښتنو افسوس ؤ.

دخوشحال خان پهدیوان کښې ددغو جنگونو ذکر په شعرونو کښې پهښه صورت شوی ؛ چهدپښتو د ادب حماسي برخه ده او هر افغان پرې لږ او ډیر خبردی . ځکه مو څومثالونه دروښانیانو له بحث نه مخکښې ورکړي؛ چه فکري خط ورڅخه څرگند شي.

دافغان په تاریخ کښې ډیره گرانه دوره همدغه وه ؛ چه دافغانستان ټوله ځمکه له دریو خواؤ تر اشغال لاندې وه . لوېدیځ کښې صفوي مقتدر دولت منگولې خښې کړې وې . ختیځ کښې د مغلي امپراتورۍ او دشمال په یوه برخه کښې دماوراؤالنهر

ACKU

دولتونو قبضه وه.

له‌دغې بدې ورځې وتل زموږ دملي تاريخ يوه غوره ځيړنه ده. چه زما دليکنې زيات فشار پر همدغې دورې باندې دی. چه موږ هغه ته‌ملي تاريخ وايو. دغه تاريخ بايد په‌ځيرتوب ولوستل شي. ددغو مشرانو ښهٔ او ناښه کردار او عمل بايد زموږ سر مشق وي.

ACKU

# دلومړي تکل اتلان

۱- پیر بایزید روښان دفکري تحرک لاربنود چه په ریاضت او مطالعه یې پښتنوته یوڅراغ په لاس ورکړ.

۲- خوشحال خان خټک شاعر، لیکوال، پوهاند، خان او سرلښکر.

۳- ایمل خان مومند، بې ساری مشر، سرلښکر؛ دمغلو دامپراتورۍ ملاماتوونکی.

٤- دریاخان اپریدی بې ساری مشر او سرلښکراو تنظیم کوونکی.

له بده مرغه دساپو او نورو مشرانو نومونو را تولول زیاته څیړنه غواړي؛ چه اوس ماته گران ښکاري او دا د نورو څلمو کار دی.

یادونه: خوشحال خان دفرانسې لوي شاعر مولیر، راسین اولافونتین او انگلیسي نامتو شاعر ملتن هم عصراو هم‌سویه پیژندل شوی. پښتو ادب او اجتماعي پوهه دخوشحال سوئې ته رسول گران کار دی.



میرویس خان نیکه

ACKU

# میرویس نیکهٔ

په ختیځ افغانستان کښې دروښانیانو، خوشحال خان او ملګرو یې مغلي امپراتوري کمزورې اوبې اعتباره کړه. دادی په لویدیځ افغانستان کښې دوهم تکل پیل کیږي (۱۷۰۰م).

ددغه ملي غورځنګ لاربنود، میرویس نیکهٔ دی. چه ددنیا ټول څیړونکي ددهٔ په نبوغ او تدبیر اعتراف کوي.

میرویس؛ نازو انا په دومره احتیاط ورزلو لکه چه دې دپښتنو دغه ملي امانت پیژندلی ؤ. نازو انا هیڅکله خپل زوي ته بې اوداسهٔ شیدې نه ورکولې. شاه عالم دمیرویس بابا پلارؤ. یوهٔ فقیر دهٔ ته ویلي ؤ؛ ستادغه زوي چه لوي شي؛ لوي کارونه به وکړي. بل روایت دادی چه نازو انا په خوب کښې کوم نیک سړی ولید. دغه خبره یې ورته کړې وه. په دواړو صورتونو مورا وپلار له لومړی ورځې پوهیدل. دپښتانهٔ دسترګو تور دافغان دبرم څراغ دلته دی.

مروجه علوم یې زده کړل. دتجارت په نامهٔ هرې خواته لاړ. خپل دوستان یې هرچیرې وپالل. دپښتنو په ښو او بدو پوه شو. د خپل لوي ارمان دپاره یې اوږدې نقشې جوړې کړې. د قبائلو دپخلا کولو کارئې کاوهٔ. او ملي شعورته یې دخلکو پام راګرځاوهٔ. میرویس بابا پښتو، فارسي او عربي دادیبانو په درجه زده کړي وه.

په تاریخ ښه پوهیدلو او دټولنې وضع ورته ښه څرګنده وه.

نازو انا د سلطان ملخي توخي لور وه. چه دټولو غلځو مشرؤ. میرویس بابا ویل: «چه دپښتنو په غرو اورغوکښې پوهان او دعقل خاوندان شته»؛ چه دغه خبره

وروسته ثابته شوه.

میرویس نیکهٔ ویل : تاسو که سره یو نه‌شئ؛ دپردیو جغ له‌خپلو اوږونه شئ لیرې کولی[۱] .

میـرویس ټولو پښتنو په تیره بیـا ابدالیانو سره اړیکې په‌ښېلو بیلو لارو ټینگې کړې. دغه وخت دصفـوي دولت له خـوا گرگـین د کندهار والي ؤ . هغـهٔ دپښـتنو له نفاقه گټه اخستله او تندسړی ؤ. مگر میرویس په ټولو پښتنو کښې وتلی سړی ؤ ځکه گرگین‌خان دهٔ ته دکندهار دښار مشري ورکړه. مگر میرویس چه‌دلوړو اندیښنو خاوندؤ او په پښتـو او پښتـوالي ولاړ شخصیت ؤ. دغه‌عهـده یې ونه‌منله‌-خپلو سیاسي اولښکري فعالیتوته‌یې دوام ورکړ.

گرگـین میـرویس بابا دسیـاسي بندي په توگـه صفـوي دربار اصـفهان تـه‌ولیږهٔ. میرویس وضع معلومه‌کړه؛ چه‌دربارکښې یوه ډله خلک دگرگین مخالفین‌دي؛ چه دبابا دکار خلک همدغه‌وو. دبابا ژبه کښې سحر ؤ. دهر ژړیې ددربار خلک جذب کړل او هره ورځ یې زیات معلومات ترلاسه کول. هرڅوک یې دفصاحت او پوهې تر تأثیر لاندې راتلل. فارسي ادب او نازکیو باندې پوهیدی.

دبابا کـار ښـه شـو او دپادشـاه په مجلسو کـښې به نـاستؤ. مگر لوئې اندیښنې ورسره وې. دگرگـین دښمنان یې زیات کړل. داچه میرویس بابا چه یو سیاسي بندي دی دا له هرچانه هیره شوه. دپښتون څراغ رڼایې صفوي دربار روښانه کړ.

میـرویس بابا ؤ غوښتل که اجازه ورکړشي چه‌دحج فریضـه ترسره کړي. کله‌چه بابا حجازته ورسید؛ بیا هم اصلي‌هدف ورسره ؤ. دعربو له‌پوهانو سره یې یو لړ بحثونه وکړل.دلتـه دی په‌دغـو عـالمانو پسې وگرځیـد او دوئ یې سره غـونډ کړل. نابغـه میرویس داسې عربي ویله‌چه‌دغه محفلونه‌یې ترتأثیر لاندې راوستل. په‌لنډه موده

---

۱- تمتمه البیان فی‌التاریخ الافغان سیدجمال‌الدین افغان

کښې په پردې هیواد کښې پردی ژبه. دهٔ دلته دافغاني فوق العاده سفارت وظیفه ترسره کړه. دوئ ته یې دگرگین ټول اعمال او ظلمونه څرګند کړل. بیاهم داسلام دعوی وه چه صفوي دولت یې پرپښتو درولی ؤ. پاتې یې چه هرڅه کول. په پای کښې میرویس نیکهٔ دعربو له دیني مشهورو عالمانو نه چه پښتانهٔ پرته له دې چه داسلام له نظره باغیان وبلل شي؛ حق لري چه دخپلو حقوقو او خپلواکۍ دپاره جهاد پیل کړي. یوه معتبره فتویٰ یې ترلاسه کړه.

بیرته اصفهان ته راغی او لیکلې فتویٰ هم ورسره وه. داکار هم له خطره ډک ؤ؛ چه فتویٔ څوک ونه ویني.

په دې وخت کښې روسانو یو ارمني سفیر دایران دولت ته ولیږهٔ. چه دتجارت او سرحدي مسایلو په برخه کښې خبرې وکړي. مګر له دغه سفیر سره ډیر خلک وو. لکه دسفیر مشاورین، نوکران، آشپزان، ساتونکي؛ چه پوره دیوهٔ دولت ارکان ورسره وو. ارمني تاجران هم ورسره وو.

خبره زرهاؤ ته رسیدله. نودایران پادشاه ته ویره پیدا شوه اوسفیر یې په سرحد کښې معطله کړ.

څرنګه چه ګرګین هم ارمني ؤ او نوی مسلمان شوی ؤ. میرویس بابا دغه قیمتي وخت ضایع نه کړ. دپادشاه او وزیرانو په ویره پوه شوی ؤ. نو سمدلاسه یې پیشنهاد وکړ: که سفیر له یوې خوا او ګرګین له بلې خوا پر ایران راشي؛ دصفوي دولت دپاره به خطر پیښ کړي. یوازنی سړی دی چه دګرګین مخه نیولی شي. نوپادشاه اودربار داخبره ومنله. میرویس سره له یو لړ امرونو، سفارشونو او صلاحیتونو بیرته کندهارته راستون شو.

ګرګین چه داحالات ولیدل؛ نو په دې فکر کښې شو چه دمیرویس خان دخپلوۍ او دوستۍ لاره تینګه کړي. له میرویس څخه یې وغوښتل چه خپله لوردهٔ زوي ته

ورکړي. څرنګه چه پښتانهٔ هره خبره په جرګه کوي؛ میرویس بابا داخبره هم جرګې ته وړاندې کړه او په شریکه یوې فیصلې ته ورسیدل. کوم سیاسي بندي چه اصفهان ته لیږل شوی ؤ؛ بیرته یې له ځانه سره ډیر سوغاتونه راوړي ؤ.

له هغې جملې نه دکندهار دښار دکلانترۍ فرمان، حاجي توب، سفارشونه اودعربو ددیني علماؤ فتوی اوزښته زیات معلومات. پهایران او عربو کښې له زبده علماؤ سره دوستي او پیژندګلوي.

جرګې فیصله کړې وه چه دمیرویس بابا دلور پرځای دې یوه بله نجلۍ په نظرکښې وي. ځکه دګرګین په مسلمانۍ کښې شک دی. ظالم سړی دی. دا بهدپښتنو سپکاوی وي. مګر خبره دې ته ونهٔ رسیده. مخکښې تردې چه خپلوي سرته ورسیږي؛ نورې خبرې اوډیرې مهمې پیښې وشوې. چه وبه یې ګورو.

پټه خزانه داهم وائي؛ میرویس بابا به چهله پښتنو سره کښېناست. نودرحمان بابا په دیوان بهیې فال هم کوت. یعنې دخلکو پهبیلو بیلو ذوقونو پوهیدی.

تاریخ سلطاني کښې لیکل شوي،په دغه وخت کښې په بلوچستان کښې اله ګوله پیدا شوه. ګرګین دبلوچستان په لوري له زرو سپاهیانوسره وخوځید او میرویس بابا تهیې وویل چهدی هم ددهٔ ملګرتیا وکړي. میرویس بابا درې زره غلځي ځوانانو سره پرګرګین راتاوشو اوګرګین یې مړکړ او ددهٔ سپاهیان یې هم ووژل. بیا دکندهار پرښار راوخرخید او په ښار ننوتل. دګرګین ټول سپاهیان او مأمورین یې مړهٔ کړل.

یو انګلیس سرجان مالکم وائي چه میرویس بابا ګرګین ته میلمستیا وکړه او ګرګین له سلو تنو سپاهیانو سره یوهٔباغ ته راغی. میرویس بابا پخپله پرګرګین خان وروډانګل. یاداسې.یاهغسې.مطلب داچه میرویس بابا اوټولو پښتنو غوښتل چه دصفوي دولت اقتدار ته پخپله خاوره کښې خاتمه ورکړي او هغسې یې وکړل. ګرګین اوټوله عمله فعله اوسپاهیان مړهٔ شول. کندهار خپلواک مرکز شو.

په ۱۷۰۷م کښې میرویس نیکهٔ دافغانستر نجات بخښونکي مشر پهصفت

د کندهار واګې په لاس کښې ونيوې. لومړنی ښار دلوي افغانستان په سيمه کښې رڼا شو. پښتانهٔ دخپل ګران مشر په مشرتابه ډاډه اوخوشحال شول.

پهٔ همدغه کال اورنګ زيب مغلي پادشاه هم مړ شو؛ چه خوشحال ددهٔ په باب داسې وائي:

چه په نام پښتون غوځيږي پرې خوښيږي
اورنګ زيب هسې پادشاه دی داسلام

ميرويس نيکهٔ دخوشحال دزړهٔ ارمان چه خپل حکومت ؤ؛ پوره کړ. هغهٔ داهم ويلي ؤ: « ځينې لوئې لوئې دعوې لرم په زړهٔ کښې » دافغان په ملي تاريخ کښې يوه روښانه ورځ، نيک مرغه ورځ او بختوره نيته همدغه ورځ ده.

پښتانهٔ که بل ځهٔ فکرکا ناپوه دي
بې له توري خلاصی نشته په بل کار
دخوشحال ختک خوښي پهٔ هغه ورځ ده
چه بريښنا وشي د توروهم د زغرو

ميرويس بابا دکندهار په ښارکښې خلک راغونډ کړل او يوه ډيره مفصله او مجلله وينايې وکړه. کهٔ مونږ سره يو نه شو دپرديو جغ له خپلو اوږو نه شو ايسته کولی.

عزيزان مو خوارهٔ، ملک موتباه کړې، يودبل په ښادۍ او غم ناخبره.

دادی دعربو ددينې عالمانو فتوٰی چه زهٔ يې تاسو ته لولم:

يادونه: کوم تصوير چه دميرويس بابا مونږ لرو؛ که پر هغه څه انتقاد موجود وي؛ بيا هم ترڅو چه ددهٔ د اصلي څېرې څه خصوصيات ترلاسه شي او يوبل تصوير وايستل شي چه ددهٔ نبوغ ديوهٔ پوهاند په حيث؛ سياسي تدبير او لښکري استعداد په کښې وښودل شي.

افغانستان په پنځو وروستيو پيړيو کښې ليکي: دافغان او پارس جنګ کتاب دميرويس بابا هغه ليک چه صفوي دولت او دهند مغلي دولت ته يې ليږلي ؤ؛ درج

ACKU

کړي چه دا دافغان دپلوماسۍ لومړی باب باید وګڼل شي.

دغـه لیکونـه یوځل بیـا دمـیرویس بابا نبوغ او هوښیـاري ښرګندوي. ځکه دغـه دولتونه یې په بیره او هیلو کښې لالهانده ساتلې. همدغه وجه ده چه صفوي پادشاه دګرګین او روغې ترمینځ ونه شول کولای کوم یو اختیار کړي.نوځکه یې دوه پلاسفیران کندهارته ولیږل. دکندهار دولت دواړهٔ سفیران کندهار کښې وساتل.

د ایران دولت څلور واره لښکرې دافـغـان دملي خپلواکـۍ دمـینځـه وړلو دپاره ولیږلې. او څلور واره یې ددوئ لښکرې محو کړې. کومه ملي جذبه چه دمیرویس بابا له خوا په پښتنو کښې پیدا شوې وه ؛ دهغهٔ له‌برکته د ایران لښکرې ماتې شوې.

دتعجب خبره خولاداده‌چه تاریخونه به‌دکندهار ټول اوسیدونکي ددولسو او څوارلس‌زرو په حدودو کښې ښئي. مګر غیرت او میړانه بل څه‌ده. چه مونږ اوس دغه ورک همت بیرته غواړو. په کال ۱۷۱۰م کښې دایران دولت یو ډیر قوي لښکر دخسروخان ترمشرۍ لاندې چه‌دغه خسرو خان دګرګین ورارهٔ او زیاتره ګرجیان دبدل داخستلو په روحیه چه ګرګین خان ګرجي ؤ،را ولیږهٔ.دغه‌لښکر دتاریخ لیکونکو په اتفاق نظر دیرش زره اوزیات جنګي او غیرجنګي سامان سره سمبال ؤ.

دمیرویس بابا په مبارک ګام او دپښتنو په واقعي پښتني غیرت دغه‌لوي تاریخي لښکر په کلّي صورت محو شو.

په ملي تاریخ کښې دپښتنو په‌لږ اتفاق معجزې سرته رسیدلي او داهم دتاریخ یوه معجزه بللی شي.

مګربلوڅانو دپښتنو ملا په‌دغې جګړې کښې ټینګه کړه. خسرو خان هم ووژل‌شو او لښکر، ونه شـول کـولای چه ایران تـه په شـا لاړ شي. دکندهار دولت ترفـراه اودموجوده بلوچستان یوې برخې ترغزني پورې، یوه ساحه پیدا کړه.

میرویس بابا پادشاهي اعلان نه کړه. هماغه دملي مشر اولارښود نوم یې درلود ځکه لا ټول افغانان خپلواک شوي نه وو. له غزني نه دختیځ اوجنوب پرخوا ترډهلي

هټکله او اگرې پورې دوئ خوارهٔ وو. او پرته له غزنیو سیمو چه دغرونو پادشاهان خپلواک وو. نور دهند دمغلي دولت په سیمه کښې راتلل.

خلیل الله خلیلي چه په بغداد کښې سفیرؤ ؛ ۱۳۴۷ هـ ش دمیرویس بابا یوه سکه یې چیرته انگلیسي آثاروکښې لیدلې وه؛ ددې دپاره چه محمد ظاهرشاه دوخت پادشاه خوشحال کړي ښو دژوندون په مجله کښې یې ولیکل چه داخبره سمه نه ده چه میرویس بابا ځان ملي مشر بالهٔ. هغه ځان پادشاه اعلان کړی ؤ.

دسکې له بیت څخه معلومیږي چه دهٔ ځان پادشاه بالهٔ. که څهٔ هم داخبره څه عیب نه لري مگر غلط پوهیدل دادي چه پرسکې لیکلي دي.

سکه ووهله پرډرهم دکندهار په هستوگنځي کښې

عادل خــان شاه عالــم نومیالي میرویس

دغه شاه عالم دمیرویس دپلار نوم دی. یعني میرویس دشاه عالم چه نومیالی او عادل خان دی.

خوافسوس چه میرویس بابا دخپلو نورو ملي ابتکاراتو وخت ونه موند. په ۱۷۱۵ع کښې دغه ستر پښتون مشر سترگې پټې کړې. او دخدای پاک درحمت غیږې ته لاړ.

موراو پلار : دمیرویس بابا پلار شاه عالم خان ؤ. هوتک ؤ. چه دغلځوخاني یې درلوده. دی یو مدبر ځوانمرد او هوښیـار سړیؤ اوځکه په ټولو غلځو او ابدالي پښتنوکښې درسوخ خاوندؤ. دهٔ هڅه کوله دخپلو یو په ذریعه پښتون ټبر متحد او یو موټی وساتي. چه په تاریخي لټه کښې یې مثالونه ډیر لیدل کیږي.

نازو انا دمیرویس بابا مور ده چه شاعره ، ادیبه او په شرعي احکامو پوهه میرمن وه دپښتني میرمنو په کتاب کښې ددې په باب معلومات شته او دغه شعریې ډیر شهرت لري.

سحرگه ۇ دنرگس لپمه لاندۀ
څاڅکي څاڅکي یې له سترګو څڅیدهٔ
ماوی څه دي ښکلی ګله ولې ژاړې؟
دهٔ ویل ژوند مې دی یوه خوله خندیدهٔ

بایدوویل شي چه څو پیړۍ وروسته اقبال لاهوري همدغه مضمون په فارسي شعر بیان کړ چه دژوند بیوفائي ښیي.

نازو انا خپله کورنۍ له پښتو ادب او پښتني کلتور سره بلده کړې وه. زینب دمیرویس بابا لورهم یوه ادیبه او شاعره وه چه دشعر نمونې ئې موجودې دي. چه له هغې جملې د حربي نابغه اتل سیدال ناصر په باب یې ویلي؛ مشهور دی.

که سردی اصفهان دملکو سردی
چه اصفهان نژدې کوي سیدال ناسردی

دغه شعر دلومړي ځل دپاره په مکمل صورت دافغان ملت په جریده کښې خپور شو او پهٔ کال ۱۳٤۷ هـ ش په شکردره کښې دسیدال ناصر په قبر وروسته تر هغه چه دافغان ملت معظم مشر غلام محمد فرهاد لهٔخواد یادګار ډبره کښېښودله شوه؛ دمظهرې پیغلې له خوا ولوستل شو. دغه لوحه دافغان ملت له خوا ترتیب شوې او شرحه پوهاند حبیبي لیکلې وه. دغې غونډې ته دشکردرې ناسر اود سیدال کورنۍ راغلي وو. یعنې دوه سوه اووهٔ ویشت کاله وروسته ددهٔ دقبر لوحه ولیکله شوه. دا دپښتانهٔ ددرانهٔ خوب یوبل دلیل دی، چه مونږ به دوهمه چوپتیا ورله ووایو.

کله چه میرویس بابا وفات شو. ددهٔ ورور میر عبدالعزیز دکندهار مشر وټاکل شو. په دغه وخت کښې محمود دمیرویس بابا زوي اتلس کلن ؤ. عبدالعزیز چه لکه میرویس بابا لوئې دعوې نه درلودې نو ددهٔ سیاست سوله غوښتونکی او په دې باب ددهٔ اړیکې له صفوي دولت سره داسې ښکاره شوې؛ چه په یو لړ خپلواکیو قانع ؤ. یا

په بل عبارت صفوي دولت ته بياهم دڅه رعايت په فکرکښې ؤ او دغه موارد څرګند شول او محمود دغه موارد قوم ته برښنډ ؤ ښودل. څرنګه چه ملي ګټې ترشخصي ګټو په افغاني ټولنه کښې محترمې وې؛ نو عبدالعزيز له مشرۍ خلع شو او سخته سزا هم ورکړل شوه . محمود دشاه محمود په نامهٔ دپښتنو پادشاهي اعلان کړه. که څه هم دی ځلمی ؤ.خو قوّت اوزړ ورتيايې له حده زياته وه .دعبدالعزيز زوي اشرف ؤ. چه وروسته شاه اشرف دی.اوس چه وګورو دملي مصلحت له مخې عبدالعزيز داشرف پلار په اعدام محکوم ؤ.مګر اشرف او محمود خوا په خوا کار کوي. چه دمحمود دپادشاهۍ په دوره کښې اشرف دتهران والي ؤ. چه په دې صورت کښې هر سړی پوهيدای شي چه دوطن په لارکښې پښتانهٔ ددغسې قربانيو ورکولو ته هم چمتو وو.

دملي تاريخ په اعتبار ددغه وخت مشران دکافي پوهې، انسانيت او وطن پرستئ خاوندان وو.

# شاه محمود افغان

شاه محمود دخپل پلار له جرګو نه ډير څه زده کړي وو. که څه هم تنکی ځوان ؤ؛ مګر د میرویس بابا مدرسه يې ويلي وه او په دې پوهيدلی ؤ چه د ايران په لوري حرکت وکړي او هغه فتح کړي او ايرانيي مشران تر عمره دغه خيال له ذهن نه وباسي چه پرپښتنو باداری وکړي. سره له دې چه ميرويس بابا د ايران پنځوس زره لښکر په څو حملو کښې تباه کړی چه دا پخپله لوي سبق ؤ. مګر شاه محمود پر ايران باندې ديرغل او بريد ترتيبات ونيول. څو چه د افغان راتلونکي نسلونه له دغه اړخه ډاډه وي. له بلې خوا د افغاني سيمې ديوې برخې خپلواکي تأمين شي؛ خو په ختيځ لوري لا پاتې ؤ.

# دافغانانو بريد پر ايران باندې

شاه محمود په‌خپل حرکت کرمان په‌آسانئ ونيوهٔ. که‌څه هم لومړی گام ؤ. د اوبو او وښودلړوالي له‌بابته يې سختئ وليدې او دکرمان ولايت ژر ترژره تأمين شو. صفوي دولت د لطفعلي خان په مشرئ يوقوي لښکر وليږهٔ چه دمحمود دپرمختگ مخه ونيسي (ما ډېر اصفهان کښې ددغه لطفعلي‌خان په نامهٔ ښکلی جومات اوبازار ليدلی دی).

شاه محمود په کرمان کښېؤ چه کندهار کښې يوه دسيسه جوړه‌شوه. مخکښې تردې چه شاه محمود کندهارته راشي دسيسه شنډه شوې‌وه او مجرمين‌اعدام شوي ؤ.

په ۱۷۲۲م کښې محمود بيا ديوهٔ زيات شمير جنگيالو سره وخوځيد او ترکرمان پورې يې له کوم مشکله ورسيد.

دشاه محمود لښکر له‌شپاړس تر اتلس زره پورې اټکل کېدهٔ او تردې زيات چانه دی ښودلی. څنگه چه‌ليدل کيږي ديوې زرې امپراتورئ دنيولو دپاره په داسې حال کښې ترسلو زرو زيات ايراني سپاهيان ايران کښې‌وو. دنهٔ‌منلو خبره ده. مگر ميرويس بابا داسې يوه دقيقه محاسبه کړې وه؛ چه نه‌يوازې لکه يو عالم اوسياست پوه بلکه لکه يوبزرگ اودخدای دوست‌چه‌په حالاتو پوهيږي؛ پوه ؤ. ښه نقشه يې جوړه کړې وه. چه شاه محمود دپلار خبرې په‌ډېر ذکاوت اوريدلې وې.

حربي اتل سيدال ناسر اوامان الله سلطان هم ورسره وو. په ايران کښې زردشتي، عرب‌اوسني‌مذهبه مسلمانان کردان چه‌دصفوي دولت له‌ظلم نه‌ډېر په‌عذاب وو؛ دشاه محمود راتگ يې دخدای رحمت بالهٔ. افغانانو لکه‌يو توفان پر ايران ورودانگل اوپه‌دوو مياشتوکښې يې نيمائي ايران فتح کړ او پای تخت اصفهان ته ورسيدل.

## افغاني روحيه او اخلاق :

تر اصفهان پورې شاه محمود دقواؤ مشرؤ. کله چه اصفهان ته ورسيدل ؛ دايران هوسا او په ښو وسلو سمبال لښکر مقابلې ته چمتو شو. او شمير يې پنځوس زروته رسيدهٔ. امان الله سلطان حربي اتل شاه محمود ته وويل: دا زمونږ کاردی اوس تاسو داصفهان ترفتحې پورې زما ترقوماندې لاندې کاروکړئ. اعليحضرت شاه محمود افغان دامان الله تر قوماندې لاندې ديوهٔ سپاهي په حيث حاضرؤ. دلته دهغه وخت يو ډيرمهم تاکتيک اجرأ شو. زما په تاريخي لټون کښې هغو ټکوته اشاره ده چه لويوالی او بزرگواري له دغو مشرانو زده کېدهٔ شي.

# د اصفهان فتح

د ۱۷۲۲ع دمارچ په اوومه دواړه لښکرې سره مخامخ شوې. امان‌الله سلطان دگلناباد دډگر قوماندانی وکړه.

يوې خواته‌دايران هوسا، په ښکلو جامو اودوخت په ماډرن وسلو سره په زيات شمير؛ بلې خواته ستړي ستومانه خړ کي افغانان؛ وسله هم کمه؛ شميرېې دايران دلښکرو له څلورمې برخې هم لږنوبرې دچا په برخه دی؟

هغه چه ښکلې خيمې لري. گټه‌ې ئې مړې‌دي؟

افغـانانو داوښانو پرشا يوډول واړهٔ توپونه درلودل. کله‌چه دايران لښکرو حمله وکړه. افغانان دخپل قوماندان په‌قومانده شاته لاړل اوهماغه وړو توپونو يې داوښانو له شا اور ؤغورځاوهٔ. ( دغو توپوته‌يې زنبورک وايهٔ). ايرانيان وارخطأ شول او ماته يې وکړه.دقومـاندان په قومانده افغانان بيرته پرې راغلل. ډيرېې مړهٔ کړل. توپونه ، وسلې او نور مهمات‌يې ترې ونيول.

ماښام شاه محمود دصفوي پادشاهانو قصرته ننووت. چه فرخ آبادکښې‌ؤ ، هغه يې دافغان شاهنشاهيت هستوگنځی وټاکهٔ.

د ايران پادشاه داصـفهان په‌ښارکښې ايسار پاتې شو. مگر دهغه زوي طهماسب له‌يو شمير نورو مشرانو سره وتښتيدل. څوبـل لښکر برابرکړي. بله داچه داصفهان ښارچه دآسيا يولوي اومشهورښارؤ؛ په هغه کښې پنځه سوه زره خلک اوسيدل او مونږ وويل چه‌دکندهار په‌ښارکښې ۱۲ - ۱۵ زره خلک اوسيدل.

داصفهان ښار له څلورو خواؤ محاصره شو او افغانانو خپلې پهرې ټينگې کړې.

حربي اتلان سيدال ناصر او امان الله سلطان او نور غلځي مشران شاه محمودته راغلل . ددغې فتحې مبارکي يې‌ورکړه. شاه محمود افغاني لښکروته‌مبارکي وويله

او شهيدانوته يې دعا وکړه. شهيدان يې دامانت په توګه خښ کړل. افغانانو نژدې اصفهان ته دجلفا سيمه ونيوله او دارمنيانو ميلمستيايې په نغدو ومنله. دغه ليکونکى دجلفا په لوئې کليسا کښې چه دشاه عباس په وخت کښې جوړه شوې ليدلې او هغه فرمان هم ؤ چه افغانانو ارمنيانو ته دسر او مال امن ورکړى ؤ.

داصفهان ښار سختې محاصرې لاندې ؤ. دخوړو ؛ وښو او نورو ضروري شيانو لارې پرې بندې شوې. لکهارت پهٔ سقوط دولت صفوي کتاب کښې ليکي چه افغانانو دښار شا اوخواکلي مجبوره کړل چه ښار کښې پناه واخلي: چا شاه محمود ته وويل چه دغه کار به دښاريانو دتقويې سبب شي . شاه محمود وويل: چه د ښارخواړهٔ به ژر تمام شي چه دځاى د کموالي او نورو مجبوريتوله مخې به ښاريان ژر تسليم شي. ځينې ښاريان له لوږې مړهٔ او خپل ځاروي يې هم خوړلي وو. دايران لښکرو يو بل تکل هم وکړ؛ چه دښار محاصره ماته کړي. مګر افغانانو بيا هم مات کړل. شاه محمود افغان دايران دټولواک په توګه ومنل شو.

شاه حسين صفوي چه وضع داسې وليدله. وروسته له ځو مجلسو اومشورويې په ګډه داتصميم ونيو چه فرخ آباد کښې چه پنځه کيلومتره له اصفهان څخه ليرې ؤ. دشاه محمود افغان مانۍ او حضورته لاړ شي.

د ۱۷۲۲م داکتوبر په يو ديرشمه دايران پادشاه له خپلو وزيرانو او ددربار د مشرانو په ملګرتيا شاه محمود افغان ته لاړل اوپخپل لاس يې دايران دپادشاهۍ تاج دشاه محمود افغان پرسر کښيښود اووئې ويل: چه خداى تعالى له ماواخيسته او تاته يې درکړه او خپله لوريې هم ورکړه. مګر شاه محمود وادهٔ درلود هغه يې ونه کړه.

لکهارت ليکي : ترهغه چه دشاه محمود خپله ميرمن لهٔ کندهاره راغله؛ شاه محمود هيڅ يوې ښځې ته ونهٔ کتل.

بله ورځ شاه محمود په خاصو مراسمو داصفهان ښارته ننووت؛ چه دسقوط دولت صفوي کتاب کښې دهغهٔ تفصيلات راغلي. کله چه شاه محمود سلطنتي هستوګنځي ته ننووت. دوه سوه پيغلې شمع په لاس ورته ولاړې وې. محمود سترګې پورته نهٔ

کړي . له پيغلو تيرشو. دغه ډول مراسم او ترتيبات دايران ددربار دناظم له خوا نيول شوي*وو. افغانانو دې ډول ترتيباتو سره تر آخره علاقه ونه ښودله.

دشاه محمود دپادشاهۍ دخبر له آوريدو سره له کندهار او دافغانستان له نورځايو خلک راغلل. تهران، شيراز اودايران زياته برخه فتح شوه.

شاه محمود محتکرينوته سزأ ورکړه. ځکه په داسې حال کښې چه خلک له لوږې مړه کيدل؛ لاهم دوئ غله ساتلې وه. ځينې يې دخپلو غله ځايو په چت کښې ځوړند کړل.

سيدجمال الدين افغاني په خپل تاريخ افغان کښې ليکي چه دايران خلک له دغه انتظام چه د ځلمي افغان پادشاه له خوا مينځ ته راغلی؛ خوشحال وو.

شاه محمود افغان قوي سړي ؤ. هرسهار به يې وروسته له لمانځهٔ خپلو عسکرو سره غيږې نيولې. دتورې گوزارېې دومره قوي ؤ؛ چه په آس به ولگيد؛ دوه نيمه به شو.

دهٔ په غير رسمي وخت کښې پښتنو سره آزاد اوبې تکلفه مجلس کاوهٔ. او لکه يوملگری به يې خبرې کولې؛ لکه چه شيرشاه سوري له افغانانو سره رسميات نه درلودل او همدغه رويه وروسته داحمدشاه بابا هم وه.

که څه هم د ايران پادشاه شاه حسين صفوي چه له دهٔ سره محبوس ؤ؛ مگر دغرمې ډوډۍ دپاره يې راغوښت اوځان سره به ئې يوځای کښيناوهٔ.

دصفوي پادشاه کورنۍ ترپايه پورې په عزت وساتل شوه. چه ډير وروسته بيا افغانانو انگليسي فاميلونه په عزت وساتل او بيا ډير وروسته عجب خان اپريد انگليسي پيغله په عزت وساتله. چه ټولو دافغانانو په عفت او پاکلمنۍ اعتراف وکړ.

په ښـــه خـــوي له بدخـــواهانو بې پروايم
پـه نـرمـــــی لـکـه اوبـهٔ داورســــــزأ يم
«رحمان بابا»

امان‌الله سلطان او اشرف ( شاه اشرف وروسته ) قم او کاشان فتح کړ. شهزاده طهماسب په داسې حال کښې چه پلار او تړوله کورنۍ یې له شاه محمود سره بنديان وو؛ مقابلې ته حاضر شو. مګر ماته یې وکړه او آذربایجان ته وتښتید. روسیې او عثماني دولت نه یې مرسته وغوښته. دغو دوو دولتو ځینې سرحدي سیمې ونیولې او له‌دغه حالاتو یې ګټه واخیسته. دایران فتح او دصفوي امپراتورۍ ترلاسه کول؛ ددې پرځای چه شاه محمودته غرور او خوښي پیدا کړي؛ تمامه شپه په عبادت بوختؤ او ترسهاره به یې دعسکرو خبراخیست. ریاضت یې شروع کړ. ډیرلږ خوراک او ترک دنیأته مایل شو. لومړنی نشاط او غیرت نیول اوخندایې پریښوده.

افغاني مشرانو چه‌دا حالت ولید چه شاه محمود دومره لویې فتحې او مقام ته دالله تعالی دعظمت په مقابل کښې په وړوکي نظر ګوري؛ مشوش شول.

شاه محمود ددغو ریاضتو په وجه کمزوری شو. ۱۷۲۵م کال کښې داووۀ ویشتوکلو په عمر دغه افغاني ستوری ولوید. دحق رضأ ته تسلیم شو او په‌ځوانۍ کښې ئې دافغان ایران پادشاهي په ریاضت او عبادت بدله کړه. له‌پادشاهۍ نه دزهادو او ولیانو لړۍ ته راغی.

# شاه اشرف افغان

اشرف خان دعبدالعزيز زوي چه يو زړور، هوښيار او پهٔ پښتونولی پوه سړی ؤ؛ دپښتنو له خوا پهٔ پادشاهۍ وټاکل شو. دهٔ ۲٦ داپريل کال ۱۷۳۵ کښې دافغان ايران د پادشاه په توگه شاهي تاج پهٔ سرکښيښود. مالکم انگليسي ليکوال وائي چه اشرف غوښتل بل څوک پادشاه کړي او پخپله ديوهٔ ادار چي اوسرلښکر پهٔ حيث کاروکړي. يو پښتون شاعر وائي:

ســـرزمـــا ســـرکـــوزي نه‌مـني دتـاج
کـــه‌نه تـاج زمـــا وســـرته‌دی مـــحـــتـــاج

افغاني مشرانو دی دپادشاهۍ دپاره مجبور کړ. شاه اشرف يوه دسيسه شنډه کړه. اوشهزاده طهماسب چه‌داصفهان په لوري را روان او قـوي لښکر ورسره ؤ؛ دسيدال ناسر له خوا ماته ورکړل شوه . سيدال ناسر قزوين فتح کړ.اشرف چه له داخلي چارو فارغ شو ؛ شهزاده طهماسب په‌آذربائيجان کښې ؤ. په‌دې وخت کښې د روسيې لوي پيتر مړ شو.

په‌داسې حال کښې روسي‌لښکر او عثماني‌لښکرې په شمال او ختيځ کښې ځينو سيموته داخل شوې. دشاه اشرف دپاره گرانه وه چه له‌داخلي مشکلاتو سره سره دغــه دوه قـوي دښمنان دايران لـه خاورې وباسي. مگر اشرف دواړو خواؤ ته لښکرې واستولې .دادی افغاني تورياليی دوه‌لويو طاقتوسره جگړه پيل کوي او کاميابي ترلاسه کوي.

دترکو عثماني خلافت‌داحمد پاشا ترمشرۍ لاندې پوقوي لښکر ايران ته وليږهٔ اشرف يو سفير استامبول‌ته وليږهٔ چه ترکان پوه کړي؛ افغاني پادشاه په‌رسميت وپيژني . اشرف دسني مذهب په رعايت له‌ترکانو سره دښو روابطو غوښتونکی ؤ. مگر

عثماني خليفه يو امپراتورؤ. چه ټول عربي هيوادونه يې نيولي وو. اروپا کښې يې مستعمره درلوده. چيرته يې داسې کول.

ترکانو شپيته زره پوځ او اويا (درانه) توپونه داصفهان په لوري واستول. اشرف ته يې وويل چه بيرته کندهارته لاړ شه او شاه حسين صفوي پادشاه دوئ ته تسليم کړه.

افغانانو چه خپل بنديان دصفوي پادشاه په ګډون لکه ميلمانهٔ په ښه توګه وساتل مګر دشهزاده طهماسب ياغي توب؛ دترکانو تقاضاً افغانان مجبور کړل چه له خپلو دغو بنديانونه تيرشي. حال داچه اشرف هم دشاه حسين صفوي سره يوځای ډوډی خوړه او ددوئ عزت يې کاوهٔ.

په ۱۳٤۷هـ ش کښې محيط طباطبائي يوهٔ ايراني ليکوال په يوې ايرانی مجلې کښې ليکلي وو: يوه ورځ دشاه اشرف افغان سره شاه حسين صفوي دغرمې په ډوډی ناست ؤ. دنورو خوړو سره شيدې وريجې هم پردسترخوان باندې وې. صفوي پادشاه له افغان اشرف نه پوښتنه وکړه: پهٔ دغه شيدو وريجو کښې کوم کوم شيان اچول شوي؟

اشرف وويل: شيدې، شکر او غوړي. شاه حسين صفوي بندي پادشاه وويل سربيره پرهغهٔ عبير او زعفران هم لري!

شاه اشرف وويل: زهٔ دومره په ورځنيو کارونو بوخت يم چه دغو شيانوته مې پام نه وي.

دمحيط طباطبائي مطلب لهٔ دې حکايت څخه داؤ؛ چه هلته اوس اصفهان کښې دبرج بارو اشرف په نامهٔ يوځای دی. ايرانيانو ويل دغه نوم بايد بدل شي چه ديوهٔ افغان نوم دی. محيط طباطبائي ويل چه اشرف افغان دومره وخت نه درلود؛ چه دغسې يوه وداني جوړه کړي. دغه ليکوال دافغان ملت په جريده کښې وليکل چه دومره يوه وړه خبره ددې سبب هم نه شي کيدای چه اشرف افغان برج وبارو اشرف نه وي جوړ کړی.

دغه ډول مخالف ليکوال وائي اشرفی، طلا چه معروف دي او پښتانهٔ ورته

اشرپي، وايي داشرف افغان په نامهٔ نهٔ دي. حال داچه دوئ بل اشرف پادشاه هم نه شي ښودلای. شاه اشرف افغان، پهٔ ډپلوماسۍ، جنگ او اداره کښې يو سترشخصيت ؤ.

مگر له يوې خوا مخالفين او له بلې خوا دافغانستان ورروستيو واکمنانو عجيبه بدبختي درلوده.

مثلاً محمد زائيانو ځان تاريخي منبع بالهٔ. دافغان تاريخ يې روښانه نهٔ کړ. محمد داؤد خان بـل تاريخ شروع کړ او خلقيانو بل. نتيجه داشوه چه يوهٔ هم ترسره نه شو کړای.

نور مثالونه نهٔ ورکوم. چه دغه ليکنه يې ځای نه لري. مگر هر افغان بايد ملي تاريخ په ځير او دقت وگوري. څه معمولي خبرې نه دي. دا وطن چه له بنسټ څخه هست شوی، دسترو ميړنو اونوابغو کارؤ. چه دافغان تاريخ پرې پوره رڼا نه ده اچولې.

بيرته راگرځو دشاه اشرف احوال اخلو. کله چه اشرف دترکو پيغام واخيست چه شاه حسين صفوي ځه غوئ ته تسليم کړي.دشاه حسين سر يې ترکو ته وليږهٔ په حقيقت کښې دشاه حسين صفوي قاتلان ددهٔ زوي شهزاده طهماسب ؤ؛ چه هرچيرې ئې پر افغاني لښکرو او تر اداري لاندې ځايو حملې کولې اود ترکو د باب عـالي فيصله وه چه اشرف دې کندهار ته لاړشي. شاه حسين دې دوئ ته تسليم او افغانان دې اصفهان خوشې کړي. دغه ساده اوامر چا منل! بيا شاه اشرف اوجنگي اتلانو؟

شاد اشعرف له ديرش زره لښکرو سره دترکو مقابلې ته له اصفهان نه ووت. اوس داشرف په اردوکښې کردان، عرب او سني مذهبه ايرانيان هم گډون لري. سرلښکر سيدال ناصر؛ او ستر بولندوئ اشرف.

د ۱۷۲٦ دنوامبر په شلمه همدان ته نژدې دواړه لښکرې سره مخامخ شوې. دغه وخت اشرف بيا يو هيئت دترکو اردو ځای ته وليږهٔ.هيئت ته يې وويل چه کله دلمانځهٔ وخت شو؛ يو دې له تاسو اذان ووايې او ټول دې په لمانځهٔ ودريږي. هيئت دغسې وکړل. دترکو سپاهيانو وليدل چه دا خو زموږ سني مذهبه مسلمانان دي. پهٔ کوم عقل دوئ سره جنگ کوو؟ دا يو مؤثر حرکت ؤ؛ چه اشرف افغان هغه تجويز کړ. که نهٔ دترکو

عسکر شپیتهٔ زره جنگیالي مجهزاو تربیه شوي وو؛ افغانان دیرش زره ؛ هغه هم بیل بیل قومونه لکه عرب او کرد . . .

ترکو صلح ونه منله. جنگ ونښت. د ترکو اوولس زره کسان مړهٔ شول. توپونه او حربي سامان ترې پاتې شول. دوئ وتښتیدل او زیات شمیر دافغانانو په لاس اسیران شول.

شاه اشرف له ترکانو سره بیاهم دښواړیکو غوښتونکی ؤ. دترکو اسیران او زیات سامان يې بیرته ورکړل . خپله بزرگواري يې دیوهٔ افغان په صفت وښودله. ترکانو شاه اشرف دایران دپادشاه په حیث په رسمیت وپیژاندهٔ او دسولې یوتړون لاسلیک شو دترکانو سفیر يې دراشد پاشا په نامهٔ داشرف دربارته ولیږهٔ او دافغانانو له خوا احمد خان بلوڅ دسفیر په توګه استامبول ته ولیږل شو.

کله چه افغاني سفیر استامبول ته سفرکاوهٔ؛ داستامبول ټول ښار سپین رنګ شو عسکري قطعات ودریدل . اودتوپونو یوویشت ډزې ددهٔ دهر کلي دپاره وشوې. دعثماني خلافت په مرکز کښې دهیڅ دولت پادشاه په دغه سویه نهٔ استقبال شوی. افغاني سفیر د سپین سفیر په نامهٔ یاد شو او دترکو په تاریخ کښې په همدغه نامهٔ یادیږي. داحمدخان بلوڅ په برخه کښې نورې خبرې هم لرو چه وروسته به وشي.

دغه دیپلوماسي اړیکي یوه غوره نمونه او افغان ترک ښې اړیکې له همدغه تاریخ څخه شروع شوې او دوستي مو تراوسه شته.

# افغانان روسانوته هم ماته ورکوي

لوي روسي پيتر لاژوندی ؤ . پر هندوستان باندې يې ديرغل لارې لټولې. چه شاه محمود افغان داصفهان پر تخت کښيناست نو پيتر دغه موقع ښه وګڼله؛ چه افغان پادشاه لا تر اوسه نوی او ټينګ شوی نه دی. لوي پيتر پخپله ديوه لوي لښکر سره قفقاز ته ننووت. ددربند او باکو ښارونه يې ونيول.

کله چه اشرف شاه افغان پادشاه شو لوي پتر مړ شو؛ مګر هغه نقشې يې پاتې وې چه ددهٔ دزوی له خوا عملي کيدلې. دی هم پيتر نوميدهٔ او دوهم پيتريې بالهٔ.

په ۱٤ دفبروری ۱۷۳۹ع کښې دردوسر په سيمه کښې افغاني لښکرې دحربي اتل سيدال خان ناسر په سرلښکرۍ يوله بله سره مخامخ شوې. افغاني لښکر روسي لښکروته ماتې ورکړه. لکهارت دصفوي دولت دسقوط ليکوال ليکي: روسي سرلښکر مارشال اورلوته امر وشو؛ چه افغاني سرلښکر سره خبرې وکړې. سيدال خان ناسر خبروته کښيناست.

روسي سرلښکر وويل: پوهيږئ چا سره جنګيږئ؟

سيدال: هو!

اورلو: پوهيږئ چه دوهم پيتر څومره لښکر اوتوپونه لري؟

سيدال: نه.

اورلو: مونږ کولای شو دلته دوه سوه زره عسکر راولو!

سيدال: پرخپلو بريتولاس تيرکړ او وئې ويل : اوس ورځه استراحت وکړه . سبا به ستاله دووسوو زرو لښکرو سره ګورو.

اورلو: جنګ کوئ؟

سيدال : شاه اشرف افغان زهٔ دجنگ دپاره راليږلی يم. زهٔ جنگ کوم. که پنځه سوه زره لښکر هم وي!

روسان حاضر شول چه سوله وکړي. په رشت کښې دافغان شاه اشرف په حقيقت کښې هم عثماني امپراتور او روسي امپراتور وپوهيدل ؛ چه افغانان ددوئ حيثيت پهٔ ټوله امپراتورۍ کښې له مينځه وړي. دوئ د جنگ داسې نوابغ او معجزه نه وه ليدلې.

دلته دومره ويل په کاردي چه چادتاريخ لټه نه وه کړې؛ که نهٔ انگريزان او روسان افغانستان ته نهٔ راتلل.

په داسې حال کښې چه داشرف افغان دولت دعثماني خلافت او روسي امپراتورۍ له خوا په رسميت وپيژندل شو او دسولې تړونونه لاسليک شول. په دغو دوو امپراتوريو کښې چه د آسيا او اروپا لويه برخه يې په لاس کښې وه؛ دافغان شهرت جگ شو. دغه وخت دافغانانو تاريخ پرمخ راښکاره شو. شاه حسين دمحمود ورور او دهرات ابداليانو چه دملي عظمت ددرک توان ورسره نهٔؤ؛ اشرف افغان يعنې سياستمدار، جنگيالی يې يوازې پريښود. دنادر افشار پيدا کيدل اودشهزاده طهماسب يوځای کيدل له هغه سره؛ دغه واقعات ددې سبب شول چه دافغان پله ډيوه ټټه شي او يوځل بيا دافغانستان تاريخ يوه لنډه موده په توره تياره کښې پاتې شي.

نادر افشار لښکرې جوړې کړې او فرانسوي توپچيان ورته راغلل. په پټه پيتر او عثماني خليفه هم مرسته ورسره وکړه. له خپلو سرحدي سيموڅخه يې خلک ورليږل او شاه اشرف ته له کندهاره مرسته ونهٔ رسيده . دغه بد مرغي راغله ؛ چه نادر افشار افغانستان او ايران ونيو او هندوستان ته ورسيد. څو چه يوولس کاله وروسته بيا دافغانستان په آسمان کښې يوبل ستوری ځليږي چه تفصيل ته به يې راشو.

سيدال ناسر يوه پلا پر نادرشاه داسې حمله وکړه: چه نژدې ؤ نادر افشار ونيسي مگر رابطه قطع شوه او نادر ددغه حربي اتل له لاسه خلاص شو.

دا دی دبي بي زينبې څو ساندې چه زما په ياددي ؛ دلته يې دپښتون بچي ته‌ليکم ښائي څه ناسم وي؛ چه زهٔ په شعرنه پوهيږم او تل مضمون ته زياته پاملرنه کؤم. بي بي زينبه دميرويس بابا لور او دشاه محمود خوروه.

که‌څاڅي له‌شنه زړهٔ مې وينې څاڅي

اصفهان پرون‌زمونږ ؤ نن نادرته نراوښځې په کښې ناڅي

کله‌چه نادر افشار دکلات په کالاکښې دسيدال ناسر سترگې باسي؛ زينبه وائي :

نادروښکې دسيدال ميړنی سترگې

له زمريانو سوې خالي دوطن درگې

بي بي زينبه بيا تړول قدرت دخدای بولي لکه‌خپل ورور شاه محمود .

او وائي:

که زور دی دخدای له لويه زوره

چاليدلي زينبو وه اوس زخميانوته له‌کوره ؤزي سرتوره!

سياسي اوحربي اتلان:

۱- ميرويس بابا

۲- شاه محمود - فاتح جنگيالی دايران افغاني پادشاه خدای پرسته ولي.

۳- شاه اشرف : فاتح سياست پوه دايران افغاني پادشاه.

٤- حربي اتل سرلښکر سيدال خان ناسر.

٥- حربي اتل سرلښکر امان‌الله خان سلطان

٦- احمدخان بلوخ ديپلومات. افغاني سفير دعثماني خلافت په‌دربارکښې.

۷- زبردست خان دشيراز والي؛ جنگي او اداري شخصيت

۸- آزاد خان افغان‌چه‌داحمدشاه‌بابا تروخت پورې ئې په غربي ايران حکومت کاوهٔ. او دايران دپادشاهی داوطلب وروسته ترنادرشاه افشار.

# یوبل افغان تاریخي ستوری

په افغاني اتلانو کښې ځینې زیات مشهور شوي او ځینو ته مساعد حالات په لاس نه دي ورغلي. مگر دهغوئ نبوغ ددرناوي وړ دی.

په دې کښې هیڅ شک نشته چه لراو بر پښتنو دخپلې خپلواکۍ او پښتني لویوالي دپاره ډیرې هڅې کړي او دنړۍ لوي طاقتونه يې مات کړي؛ چاچه دافغان پرمقدسې خاورې پښه ایښې؛ هغه پښه روغه نه ده وتلې او دغه ویاړ هر افغان ته په برخه دی؛ چه لهٔ تاریخ نه عبرت واخلي او په ځان کښې لوئي پیدا کړي. چه دغه لیکنه پرهمدې بنأ ده .

آزادخان افغان یو داسې تاریخي شخصیت دی چه ددراني احمدشاه دکتاب په اساس ئې یوه لویه نقشه درلوده .

آزاد خان چه دشاه محمود په زمانه کښې په ایران کښېۀ او د افغاني جنگیالو پهٔ لړکښې جنگیدهٔ. وروسته دشاه اشرف له وفات نه يې چه په شهادت ورسید او تاریخي غمجنه پیښه ده. آزادخان افغان په آذربایجان کښې پرقدرت پاتېۀ. نادر اُفشار ختیځ لوري او هندوستان ته متوجه شو. آزاد خان په خپله هوښیارۍ زړورتیا بیل بېل قومونه پرځان راټول کړل او خپل تسلط يې هلته ټینگ کړ. له شیعه مذهبو سره هم په ځوانمردۍ او عدالت چلیدهٔ. دټولو ډیر خوښ ۀ. او خپل حکومت يې پر لویدیځ ایران کاوهٔ. په یوهٔ ترتیب يې نادر افشار هم دفع کړیۀ. کله چه نادر افشار مړ کړی شو؛ په ایران کښې درې طاقتونه وو. کریم خان زند ،حسین علي خان قاجار او آزادخان افغان، آزادخان افغان له کریم خان او حسین علي قاجار سره جگړې وکړې.

گنډاسنگهـ دفیریر له قوله وائي: « آزادخان افغان دخپل ملت دنورو افرادو څخه ډیرسخت سر، زړور او منور سړی ۀ. ددهٔ عدالت، دبرابرۍ افکار او له شیعه گانو څخه

دده طرفداري دديږ سبب شوه ؛ چه زيات شمير پارتيزان دده په شا اوخوا را غونډ شي. کله‌چه‌دده خپل زياتيدونکى قدرت وليد ، په‌ښکاره يې دعراق خراسان او حتى افغانستان نيول اعلان کړل. چه‌د ده په عقيده سربيره پر ايران ؛ دافغانستان پادشاه هم بايد غلځى وي! ».

احمد شاه بابا دآزاد خان په‌پلان خبرؤ. او غوښتل يې له آزادخان سره مفاهمه وکړي. خو دهند په لوري زيات مشغول شو.

گنډاسنگه وائي « کله‌چه احمدشاه دآزادخان افغان‌چه په‌لويديځ او شمالي ايران کښې يو مغرور مشرؤ ؛ له‌مرگ نه خبر شو؛ يو دوه گونى او مخلوط حالت ورته پيدا شو. يعنى له‌يوې خوا بيغمي اوله‌بلې خوايې يوه بيقراري ورکړه »!

دلته داحمدشاه بابا لوئي ته دهر افغان پام راگرځي. چه که‌له‌يوې خوا دآزاد دپلان له‌پلوه بيغمه شو؛ له بلې خوا دداسې يوه افغان په‌مرگ سخت بيقراره شو.

دلته سړى پوهيداى شي‌چه کهٔ‌دآزاد خان او احمد شاه لاسونه سره ورغلي واى؛ نو دافغانانو برم به‌بل ډول تاريخ کښې ځرگند شوى ؤ. هماغه‌چه خوشحال خان ويلي ؤ « ځينى لوئي لوئي دعوې لرم په‌زړهٔ کښې ».

ترخوشحال وروسته دغه‌لوئي دعوې ځوځو ځله‌ځرگندې‌شوې. آزاد خان افغان لکه عمروليث ديوهٔ بدتصادف ښکار شو.

عـمروليث صـفـار چه‌ديعقـوب صـفـار ورور ؤ. يو عـيـار او ځـوانمرد ؤ. چه دده دځوانمردى قصې ډيرې دي. قوي او زړور ، دلوي لښکر او غني خزانې خاوند ؤ. کله چه‌دى داسمعيل ساماني دمقابلې دپاره لاړ؛ هجري دريمه پيړۍ کښې دده عظمت دومره زيات ؤ چه‌دامير اسمعيل‌ساماني درباريانو عمروليث ته خطونه واستول او امان يې ؤغوښت. له‌دغو خطونو يوه غټه کځوره جوړه شوه. يعنې‌ساماني دولت ورته تسليم ؤ . بدتصادف داسې پيښ شو؛ چه دعمروليث آس سر واخست او عمروليث بې نيغ داسمعيل اردوگاه ته ورساوهٔ او هغوئ ونيوهٔ.

آزاد خان هم د کریم خان زند په تعقیب چه د آزادخان له لاسه یې ماتې خوړلې وه او هند ته و تښتیدهٔ ؛ چه آزاد یوې تنگې درې ته ننووت. له درې خواؤ محاصره شو او پهٔ دغسې یوهٔ بد تصادف کښې دهٔ خپل قوت لهٔ لاسه ورکړ. له ورروسته حسین خان قاجار بریالی شو؛ چه خپل بل رقیب کریم خان زند له مینځه یوسي او قاجاري سلسله په ایران کښې تأسیس کړي. چه د رضاء شاه پهلوي تر راتگ پورې یې دوام درلود.

زهٔ چه وړوکی ؤم ؛ محمد نادر شاه په شهادت رسیدلی ؤ. د زړوښځو له خولې مې اوریدلي ؤ ؛ چه دانادرشاه ښه سړی ؤ. هومره ظالم نهٔ ؤ. لکه نادر افشار. نادر افشار دومره ظالم ؤ ؛ چه د ورځې ئې یوه کاسه د انسانانو سترگې ایستلې او دهٔ به معاینه کولې! » څرنگه چه مخکښې مو د ناسر سیدال خان دسترگو ایستلو ته اشاره وکړه . دا هم په روایاتو کښې راغلي؛ چه سیدال خان داشرف له شهادت نه وروسته د کندهار دفاع کوله. نادر افشار ورته پیغام ورکړ چه کندهار تسلیم کړه. له دې وروسته هغه ضمیمې دي؛ چه وروسته په لاس راغلې ؛ د افغانانو حالات ایران کښې په سمه توگه بیانوي:

# شاه محمود هوتک د هالنډ د کمپنۍ په راپورونو کښې

دا يوه په زړه پورې موضوع ده چه مونږ کولای شو؛ شاه محمود هوتک افغان اتل ټولواک ديوه اروپائې هيواد ديوې کمپنۍ په ورځنيو راپورونو کښې چه خپل هيواد يا دکمپنۍ مرکزته يې ليکلې، وگورو . دغه راپورونه دکتور ويليم فلور راټول کړي. چه دادی نن دافغانانو له نظره تيريږي. او په دې مينځ کښې دوه سوه او اويا کاله تيردي. ددغه راپور يوه ډيره لږه برخه دلته راوړل کيږي.

د ۱۷۱۹ داکتوبر په اتمه بيگلربيگي داسې خبرورکړ چه محمود افغان دميرويس زوي له دوو زرو جنگيالو سره له کندهاره وتلی؛ دسيستان مرکز يې نيولی اودکرمان په لوري روان دی. دغه خبر خلک هک پک کړل . دکرمان والي خلک راټول چه دفاعي استحکامات جوړکړي.

داکتوبر په ۲۰ خبر راغی چه محمود کرمان ته ننوتلی دی. يوه خبرلوڅي خبرورکړ چه محمود دکرمان پولوته ننوتلی دی. دکرمان بېگلربيگې د ښار مشران راټول هغوئ ته يې وويل: زما عسکر تر هغه لږدي چه وکولای شم؛ د افغانانو مقابله وکړم تاسو د خپلو ځانونو دپاره ځيبونه او د هستوگنې ځايونه ولټوئ . ماله خپلې عهدې استعفی ورکړه .

داکتوبر په ۲۱ دښار مشرانو او نورو خلکو خپل ضروري سامان واخيست او له ښاره ووتل.

داکتوبر په پای کښې دانگليس دکمپنۍ نمايندگانو خپل تجارتي مالونه پريښودل

او وتښتيدل.

دنوامبر په څلورمه د افغانانو دوه زره جنګيالي ددراب‌شاه په مشرۍ(دغه نوم تاريخونو کښې نه‌ليدل کيږي) دکرمان دروازوته ورسيدل.

دنوامبر په پنځمه شاه محمود، اسدالله خان سيستاني سره‌له‌درې پيلانو، څو توپونو، منجنيق او زياتو وسلو اواتۀ زره لښکر سره را ورسيد.

راپور وائي دافغانانو دومره لباس په‌ځان کښې نه‌ؤ؛ تورې يې تر ملاتړلې وې.

په لومړي سرکښې شاه محمود ښه رويه درلوده. حتی هغو سپاهيانو چه‌لاس غنزۀنې کړې وې؛ دتولو ترمخې په سزا ورسيدل. محمود خلکوته هدايت ورکړ چه خپلو کارونوته‌لاړشي. بيوزلي يې ويخښل او پانګه لرونکي يې ترفشار لاندې ونيول.

محموددخارجی کمپنيو مالونه‌بيرته واخستل‌او دکرمان دمشرانو ترمخې يې پۀ ودانيو کښې کښيښودل او پردروازويې مهراولاک وواهۀ.

محمود خلکوته ورېل هرڅيري چه غواړئ ژوندوکړئ. محمود ټول هيوادته ليکونه واستول اوددغه بري زيری او اطلاع يې ورکړه. دۀ ټول بنديان آزاد کړل. د۱۷۲۱ع داکتوبر په‌پنځه لسمه‌چه‌دافغانانو دوه لښکرې ايران ته ننوتلې؛ يولښکر داسدالله خان‌په مشرۍ اوبل يې دمحمود په مشرۍ اسدالله‌خان دمشهد په لوري روان‌دی اومحمود کرمان ته‌لاړ.

دنوامبر په لسمه ۱۷۱۹م محمود دايران‌دنورو برخو د نيولو دپاره وخوځيد. رضاؤالله‌سلطان يې له‌څلورزرو جنګيالو سره يزدته وليږۀ پخپله‌دلار دسيمې په لور لاړ. حسن آباد يې‌ونيو.

بل خبر را ورسيدچه محمود له څلور زرو جنګيالو سره د شيراز خواته لاړ. دانګليس دکمپنی کارکوونکي اصفهان ته وتښتيدل.

د۰ ۱۷۲ دجنورۍ په‌پای کښې خبر راغی‌چه محمود له‌يزدنه‌ګرځيدلی او کرمان کښې دمقابلې دپاره ناست‌دی.

محمود امر وکړ چه دښار شا اوخوا ديوالونه جوړکړي. محمود وويل دکرمان خلک دې د تشيع مذهب په تسنن بدل کړي او دغه دمذهب تغيير يې په زوره کاوه. يوه شپه محمود خوب وليداو سبايې له دې کارنه لاس واخيست.

محمود په کرمان کښې په خپل نامهٔ سکه ووهله. په کرمان کښې کراري شوه دکمپنيو نمايندګان هم بيرته راغلل. تجارت اوکاربار شروع شو. دښار ددفاعي ديوال کار هم په بيړه روان ؤ.

داصفهان دښار د کلابندۍ ورځني يادداشتونه کال( ۱۷۲۲ع):

دمارچ په لومړۍ ورځ خبر ورسيد چه محمود ( اعليحضرت شاه محمود افغان) دميرويس زوي (حضرت ميرويس نيکهٔ رحمة الله عليه) دښار څوارلس ميلۍ کښې دورزنه کلي ته ننوتلی دی. څرګنده نه ده چه دهغه غوښتنه اوهدف څه دی؟

همدا ډول خبر ورسيد چه سردار سيد عبدالله خان له خمشه څخه په يوهٔ ليک کښې دايران پادشاه ته ليکلي چه دهغه عسکردافغانانو دمقابلې دپاره لېږدي. نو دايران لهٔ پادشاه څخه يې غوښتي؛ چه له ښار څخه دې ووزي او مخامخ دې له افغانانو سره (راپور غلهٔ افغانان ويلي) جګړه وکړي او دی به دشالهٔ خوا نه پر افغانانو حمله وکړي.

دايران په مرکزکښې شپږ ويشت زره سپاهيان دي اوټول په دې باوردي چه دمحمود (اعليحضرت شاه محمود افغان) دعمر وروستۍ ګړۍ رسيدلي خدای دې وکړي حقيقت دغسي وي.

په دريم دمارچ ويل کيدل چه دايران عسکر ديرش زره دي. سيد عبدالله ليکلي چه دوه زره نازيان له دهٔ سره يوځای شوي او اوس دولس زره عسکر لري. ( چه دمرکز له عسکرو سره دوه څلويښت زره شي ) او هم په ښارکښې ډوډۍ کمه شوې اوګراني راغلې ده.

سيدعبدالله خپل خلک واستول چه دافغانانو شمير معلوم کړي. دوه افغانان ئې نيولي دوئ وائي چه افغانان ټول دولس زره تنه دي.

يوهٔ مخبر خبر راؤړ چه دافغانانو په عسکروکښې چه دولس زره دي؛ انګازې

خپـرې شـوې چه ډيرلـيـرې راغلي يو او ايرانيـان ډيردي. محـمـود چه دا انګازې واوريدې امرېې وکړ دغنيمت ټول مالونه دې وسوځول شي. ځودوئ بارسپک شي. محمود خپلو سپاهيانوته وويل: « تاسو به له دغه ښو خبرو سره څه وکړئ؟ ښه به داوي چه دمالونو له وړلو خلاص شئ او په زړ ورتيا وجنګيږئ. زما نيت دادی چه اصفهان ونيسم ياهرڅه له مينځه يوسم ».

مخبر وائي دمحمود منديل يوازې په يوې ښکلې ښځې ځان ښکلی کړی؛ توپير دومره دی؛ چه منديل شاه ښځه په چپه خوا تومبلې او محمود په ښۍ خواکښې. له محمود سره يو پيل اوپنځلس آسونو سره حرکت کوي او شپاړس توپونه ورسره دي.

دمارچ شپږمه محمود دکليو خلک بيولي اوخپلوعسکرو کښې يې داخل کړي او له هغو ايرانيانو يې توپک اخستلي چه يوشمير ښځې يې محفوظ ځای ته بيولې.

په نهم دمارچ دايران پادشاه له هالنډيانو، انګليسانو او فرانسويانو څخه چه ايران کښې وو؛ دافغانانو دمقابلې دپاره توپچيان وغوښتل.

موثوقو منابعو خبر ورکړ چه انګليسانو دايران دپادشاه دغوښتنې په ځواب کښې ويلي چه تاسو له دوه څلويښتو زروعسکرو سره نژدې ده، چه تسليم شئ. مونږ څه کولای شو؟

دمارچ لسم: دايران پادشاه پخوانی بيګلربيګي لطفعلي خان ورؤغوښت. له هغه څخه يې مشوره وغوښته؛ چه څنګه کولای شي پرمحمود غلبه پيدا کړي؟ هغه وويل بې له دې بله لاره نشته چه پيسې ورکړئ. زړور خلک عسکرۍ ته راوبولئ او دخلکو دورځنيو ضرورتونو د پاره دې يوسړی مقرر کړی شي چه دموادو دکمي اوګرانۍ مخه ونيسي او هم داسې څوک مقرر شي چه که سرداران او سپاهيان دافغانانو په مقابل کښې لکه د پخوا په شان شرمناکه ماته وخوري او وتښتي سرونه يې پرې شي.

بل خبر وائي محمود امر کړی چه عام خلک ونه وژل شي. که توپک ورسره وي يوازې توپک ترې واخلئ. دوو ايرانيانو يو افغان نيولی ؤ. ښارته يې راؤست او د

ایران پادشاه ته یې مخکښې کړ. دایران پادشاه له اسیر افغان څخه پوښتنه وکړه چه محمود څنګه ګوزران کوي او مونږ څنګه کولای شو هغه وپیژنو؟ اسیر افغان لږ چوپ پاتې شو،بیایې وویل کوم محمود یادوئ، اعلیحضرت شاه محمود افغان مو مطلب دی؟ اسیر افغان یې په‌لتو او متروکو وواههٔ اوسم یې زندان ته بوتی.

دمارچ په یوولسم یې څلور اسیر افغانان شاهي قصرته مخامخ راوستل چه ټول افغان اسیران همدغه څلورتنه‌وو؛ چه ګېډې یې دصفوي شهزاده په حکم څیرې کړای شوې . پرخرهٔ یې واچول او په‌ښار کښې یې وګرځول.

یو ایرانی سپاهي چه‌دمحمودله‌لښکرو تښتیدلی ؤ؛ مونږ ته وویل: محمود دولس زره لښکریان لري. غواړي چه دفرح آباد په لوري وخوځیږي او هلته دایرانیانو په انتظار کښې تم شي. دغه سپاهي وویل: دمحمود سپاهیان مصمم میړونه دي.

زهٔ ویره لرم چه ایرانیـان به‌دهغوئ مقـابله ونه‌شي کولای. دهٔ وویل: چه موسیو فیلیپ کولومب دتښتیدو په وخت کښې دیوهٔ افغان لهٔ خوا په نیزه ووهل شو او مړ شو. خبر را ورسید چه محمود دیوهٔ ساعت‌لار په اندازه ښارته نژدې شوی؛ مسیحیانو اوزردښتیانوته‌ئې هیڅ نه دی ویلي.

احمد آغا ایراني سرلښکر خپلو سپاهیانوته ویلي: هرڅوک چه‌دیوهٔ افغان سر راوړي؛ یوسل وشل محمودي جایزه‌لري. ( محمودي رایجه‌پیسه ).

په ۱۲ دمارچ مو واوریدل‌چه محمود نژدې ښارته رسیدلی او د یوساعت لارې په اندازه لیرې دی. زردشتیانو او مسیحیانوله‌محمود څخه امان ؤغوښت. محمود دهغوئ پرمرکزو غرض ونهٔ کړ. مازیګر خبرراغی؛ چه محمود دفرح آباد په‌لوري حرکت وکړ (د ایران دپادشاه قصر له‌ښاره دباندې) ؤ. په ۱۳ دمارچ خبرراورسید چه محمود یونیم ساعت له‌ښاره لیرې اصفهانک ته رسیدلی، مجهز سنګرونه‌یې جوړکړي. مونږ ته وویل شول ؛ یو شمیر افغانان دایران دلښکرو دحالاتو دمعلوملو دپاره راغلي.

دمارچ په ۱٤ خبرراورسید چه سیدعبدالله خان دایران پادشاه ته پیشنهاد کړی چه وروسته تر هغه‌چه پرمحمود افغان موغلبه وکړه؛ پرته‌له توپخانې نوره خزانه‌یې زما

دعسكرو ده. دايران پادشاه دغه غوښتنه ومنله او زياته يې كړه؛ كله چه پوره غلبه حاصله شوه؛ نورې پيسې به هم دركړم.

دغه راز خبر را ورسيد؛ چه محمود افغان نن دارمنيانو هديره وكتله او پرته له دې چه څوك يې په مقابل كښې ودريږي؛ فرح آباد ته واپس شو. داسې ښكاري چه زرورپادشاه دومره ډاډه دی؛ چه له چاويره نه لري. نن دوه تنه افغانان دايرانيانو له خوا ونيول شول.

دغو افغانانو څرګنده كړه چه لۀ اووه نوروكسانو سره له دې امله راغلي؛ چه دخلكو ذهنيت دشاه محمود په باب معلوم كړي. چه خلك حاضر دي دی په پادشاهۍ ومني كه نه ؟!.

په ۱۷ دمارچ خبر را ورسيد چه ددوو زرو پۀ شمير افغانان دارمنيانو او جلفاسيمې ته ننوتلي اودغه سيمې يې نيولې دي. يو ارمني چه تښتيدلی ؤ ؛ ويلي چه افغانانو څوك نه دي ځورولي او خلكو ته يې اجازه وركړې خپلې پيسې،سرۀ او سپين دې ځان سره واخلي.واموريدل چه محمود پرآس سپور له خپلو عسكرو سره فرح آباد ته ننووت.

خبرراغی چه افغانانو د اصفهان لويديځه خوانيولې. بيا وپوهيدو چه داخبر سم نه ؤ. افغانان تر اوسه جلفاً كښې دي.

دمارچ په ۱۹ مو واريدل چه افغانان په جلفاً كښې دي. څوك يې ځورولي نۀ دي مگر يو شمير ښځې او ماشومان تښتيدلي؛ اصفهان ته راغلي اودانګليسانو هستوګنځي سره غونډ شوي؛ چه نورځای نشته.

دمارچ ۲۱ چه دنوروز ورځ ده ؛ ايرانيانو كوم جشن نه درلود.

دمارچ په ۲۹ انګليسانو دايرانيانو دپاره توپونه وركړل او هغه يې په كارواچول داپريل په لومړۍ ورځ افغانانو هڅه وكړه پرښار حمله وكړي. مگر حمله ونه شوه. محمود داصفهان ځينو مشرانو ته ليكونه واستول چه تاسو ولې ملاحسين ( شاه حسين) ترماښه بولئ؟ زۀ به عدالت تأمين كړم او څوك چه دكوم مقام وړ وي هغه به

ورکړم. داپريل په ٤ محمود امروکړ؛ پرزاينده رود[۱] باندې دې دوه پلونه جوړشي او هم يې ويلي: که چا دجلفأ خلک وځورول سزاء به ورکړ شي.

داپريل په ۸ خبر راورسيد؛ چه دايرانيانو لښکرورځ په ورځ زياتيږي. مګر افغانان دعسکرو دزياتيدو هيله نه لري. وخت دايرانيانو په ګټه او دافغانانو په ضرر کارکوي افغـانان ټول دولس زره دي. ايرانيـان دا وخت دوه څلويښت زره عـسکرلري. چه له اصفهان څخه دفاع وکړي.

۱- راينده رود اصفهان ته نژدې يو لوی سيندی

# شاه محمود ولي الله ؤ

د تاریخ له پاڼو څرګندیږي چه اعلیٰحضرت شاه محمود رحمة الله علیه یو ځلمی ولي ؤ؛ دهٔ شاهي جوغه له سره ایسته کړه. دولجې مالونه یې بیرته ورکړل. دهېڅا ناموس ته ئې په سپکه ونه کتل. ښارونه یې وران نه کړل. دهٔ په ریاضت لاس پورې کړی؛ تل یې دالله تعالیٰ عبادت کاوهٔ. داجبار له مخې چه د ایران دشاهي کورنۍ ځیني غړي اعدام شول؛ شاه محمود ژړل او په خپلو متمویې خولهٔ لګوله او ځانته یې جزأ ورکوله. کله چه دهٔ په کرمان کښې شیعه ګان تسنن ته را اړول؛ نودشپې یې خوب ولید چه څوک ورته وائي: تهٔ څهٔ پوهیږې خدای له چا راضي دی ؟ نو په سبایې امروکړ چه دغه کارته دوام مهٔ ورکوئ.

اعلیٰحضرت وربشینه ډوډۍ له یوګوټ اوبو سره خوړله. پرسپیرې ځمکې پرپوزي یې لمونځونه کول. دهٔ شاهي دبدبه پرېښوده او دخدای دیوهٔ عاجز بنده حیثیت یې غوره کړ. دخدای تعالی دعظمت په مقابل کښې یې سرټیټ کړ. دولیانو ټول اوصاف په دهٔ کښې څرګند شول. دی یو فاتح ستر شاهنشاه ؤ. شل یا دوه ویشت کلن ځلمی ؤ. هیڅ نامحرمې ښځې ته یې ونه کتل. نو شاه محمود علیه رحمه یو ولي ؤ. خدای دې ئې په نیکۍ را ورسوي.

عجبه دنیا ده. دغه ولي پادشاه چا دولایت په مرتبه ونه پېژاند. مونږ دستر ټولواک ملي لارښود عالي صفات له بې طرفو او حتّی مخالفو منابعو څخه را واخستل. او دلومړي ځل دپاره مو دافغان اولاد پرې خبر کړ. نعوذ بالله خلک وائي چه دی دمزاج په اختلال اخته شوی ؤ. څوک چه دخلکو مالونه بیرته ورکړي، بندیان آزاد کړي، دخدای عبادت وکړي، ریاضت وکړي، پرمړو او وژل شوو کسانو وژاړي، ځانته سزاورکړي؛ دا

دمزاج اختلال دی؛ کەدولي خصلت؟

کلەچە داسلامِ تاريخ تەنظر وکړو؛ دغە صفات يوازې دوليانو صفات دي. پە هيڅ اسلامي پادشاه کښې دغە صفات نەدي ليدل شوي. يعقوب ليث صفار او احمد شاه بابا هم دوليانو صفتونە درلودل. مگر دولايت دمرتبو پە لحاظ شاه محمود ترټولو وليانو، زهادو او متصوفينو څخە لوړه مرتبەلري.

اعليحضرت ملي قايد شاه محمود افغان دافغان دسرتاج، دپښتونولۍ جوهر او دمکمل افغان يوازنۍ نمونە؛ چە شاهي دبدبې تەيې شاکړه او خداى تەيې مخ.

مادهالنډې شرکت د ورځنيو راپورونو لنډيز راواخيست. هر عاقل بنيادم ودغې نتيجې تە راکاږي چە شاه محمود يو ولي او بزرگ تير شوی دی شاه محمود رحمةالله عليە د څلورو يارانو پوخ ملگری دی. چەيوازې پە صدر داسلام کښې ددهٔ مثال ليدل کيږي. هيڅ کلە داسې فکرمهٔ کوئ چە تاسو بەپەآسانە شاه محمود درک کړای شئ.دغە خبره پە تاريخ کښې ژوره مطالعە غواړي.

دبرافتادن اصفهان او برآمدن محمود افغان کتاب چەپەايران کښې ترجمە شوی؛ لە همدغە کتاب څخە همدغې نتيجې تە رسيدلي يو؛ چە محمود بې مثالە ولي الله ؤ.

دهر افغان دپاره پە کاردي؛ چە هر ملي شخصيت وپيژني. ددوئ اعمال پرتلە کړي. او هغە خصلتونە دځان کړي؛ چە مثبتې اغيزې لري.

لەهمدې خصلتو څخە ملي کلتور جوړيږي. ملي کلتور هغەکړهٔ وړهٔ دي؛ چە زمونږ مشرانو درلودل. داچە شاه محمود خپلو عسکرو سره غيږې نيولې او اعتماد الدولە ورتە وويل: چە ديوهٔ پادشاه لە شان سره نەښائي چە لە سپاهيانو سره غېږې ونيسي. دهٔ پە ځواب کښې وويل: داسپاهيان نەدي؛ زما عزيزان دي. دوئ داسې دي لکە زهٔ او زهٔ داسې يم؛ لکەدوئ.

کەپردغې خبرې غور وشي څومره کيفيت لري. انساني، ملي اسلامي چەټول انسانان دخداى بندگان او ديوهٔ ملت غړي دي. مگر څوک کولای شي؛ چە دخودۍ اوځانځانۍ ښارمار داسې ووژني؟ د شاه محمود ځواب.

ببرک خان ځدران چه دعسکري فرقې سپاهیان یې مسلمان کړي وو. پخپله یې د اوبوجام اخستی ؤ، ولاړ ؤ. سپاهیانو دوډۍ خوړه. نوځکه ببرک خان ؤ. د پښتون روح پیژندل په کاردي. مرحوم قاضي عبدالظاهر خان سامي زما ددینیاتو استاد ؤ. یوه ورځ کورته ورغلم؛ دهٔ دلاس اوبهٔ راوړې. ما وویل استاده څه کوې؟ دهٔ وویل: په ښوونځي کښې مې شاګرد یې دلته مې مېلمه یې! دا افغاني کلتور دی.

# د ايران دفتح په دوران کښې

# افغان حربي اتلان-سياستمداران

# او اداري شخصيتونه

دحضرت ميرويس بابا (رح) دمکتب روزلي شخصيتونه مونږ ترډغه وخت پورې نۀ پيژندل. څو چه ۱۳٦۷ هـ ش يا ۱۹۸۷م ددکتور ويليم فلور او دهالنډي شرکت راپورونه خپارۀ شول. کوم چه په دغه دوران کښې په ايران کښې په تجارتي او سياسي هلوځلو بوختؤ . دهغوئ سپڅلي نومونه دادي:

۱- اعليحضرت شاه محمود افغان هوتک دحضرت ميرويس بابا رحمة‌الله عليه زوي.

۲- اعليحضرت شاه اشرف افغان هوتک دحضرت ميرويس بابا رحمة‌الله عليه وراره.

۳- امان‌الله خان سرلښکر دگلناباد فاتح

٤- نصرالله خان

٥- ملازعفران - قاضي القضات

٦- زبردست‌خان دشيراز والي

۷- ندأخان سپه سالار

۸- زلي خان صدراعظم يا اعتماد الدوله

۹- سيدال خان ناسر سپه سالار درودسر فاتح

۱۰- محمدخان بلوڅ دپلومات سفير .

ACKU

۱۱- باروخان هرمزکښې افغاني نماینده

۱۲- رضاؤالله خان دشاه محمود سرلښکر په یزد کښې

۱۳- الماس خان ددربار ناظر

۱٤- محمد نشان خان دخزانې ناظر

۱۵- خسروبیگ

۱٦- صفي قلي خان دزبردست خان مرستیال

۱۷- زاهد علي خان سرلښکر او په هرمزکښې حاکم

۱۸- امین بیگ دځهٔ مودې دپاره اعتماد الدوله

په کال ۱۷۲۵م داعلیحضرت شاه اشرف

## دولتي تشکیلات :

زلي خان - اعتماد الدوله

قادرخان - قورچي باشي

قاسم خان - تپیک چي آغاسي پرخپل مقام پاتی شو

محمدامین بیگ - قوللرآغاسي باشي

محمد شان خان - ایشک آغاسي باشي ( نوی نوم يې اخلاص خان)

ناصرخان - دیوان بیگي

اسمٰعیل سلطان - میر آخور باشي

میرزا رفعیا - مستوفي الممالک

میرزا اسمٰعیل - مستوفي خاصه

میرزا ابراهیم - منشي الممالک او داعتماد الدوله درقم واکدار

میرزا تقي - وقایع نویس

میرزا احمد - داصفهان کلانتر دپخوا پشان پاتې شو

میرزا مؤمن - داصفهان وزیر

ميرزا علي - دپخوانيو خاصه مستوفي

ملا زعفران - ملاباشي

ميان صديق - قاضي القضات يا نواب

برافتادن صفويان وبرآمدن محمود افغان

(اعليحضرت شاه محمود افغان) روز هفتم نوامبر ۱۷۲۲ع به تخت نشست ومجلس شاهی تشکیل داد. هلنديان در توصيف خلق وخو وهيأت ظاهري محمود (اعليحضرت شاه فاتح) می نویسند: « وجود مبارک » مردی است بیست وچهار ساله، خوش ریخت ودراجرای عدالت بسیار سختگیر. می گویند هوشیار است وشبها به بازرسی نگهبانان می پردازد بی آنکه به وضع هوا اعتنائی داشته باشد، بیشتر اوقات خود را در فضای باز وبی سقف می گذراند! » .

محمود در نخستین مجلس شاهي به همه درباريان خلعت ومنصب داد؛ به این تفصیل:

۱- امام علي خان برادر اعتمادالدوله. حکومت گمبرون (بندرعباس) ولار سابق داروغه اصفهان.

۲- میرزا زاهد علی مقام شاهبندر گمبرون

۳- محمدعلي پسر ميرزا رفيع وزير شيراز

٤- اسحاق خان تفنگچي باشي بحيث والي كهگيلويه

٥- امينعلي قلي خان بيگلربيگي د شستان

٦- ابراهيم خان والي كرمان بحيث حاكم شوستر

۷- ابراهيم خان پسر محمد زمان خان قورچي باشي « حاكم قم »

۸- دولت مراد قوللرآغاسي

۹- محمد يونس خان ديوان بيگي

دونفر اخير افغان بودند.

افغاني سياست پوهان او دايران

دپادشاهۍ دعوې

په دې بايد ځان پوه کړو چه افغانانو دافغاني دولت ترنړيدو وروسته (۱۷۲۹م) ډيرې هڅې وکړې چه هغه هيواد بيرته ترلاسه کړي.

کله چه اعليحضرت شاه اشرف افغان په شهادت ورسيد؛ دوو افغاني مشرانو دايران پريوې يوې برخې حکومتونه کول. چه مخکښې مو دآزادخان افغان ذکر کړی دی.

دادی دلته افغاني سفير دترکيې دخلافت په دربار کښې او داعليحضرت شاه اشرف د سياسي سلا کار محمد خان يادونه کوو. «دُرنادره» چه دنادر افشار دمنشي ميرزا مهدی په قلم ليکل شوی دی:

داسي وائي: محـمـدخـان بلوچ از نخست گردن کش وبدراه بود در زمـان اشـرف (اعليحضرت شاه اشرف افغان) به کار های دولتی وارد ونمايندگی او بدربار عثمانی رفت.

د درنادره له ليکنو څخه ځرگنديږي چه نادر افشار غوښتل دمحمدخان له سياسي او اداري استعداد څخه گټه واخلي. نو له دهٔ څخه يې هيله وکړه؛ چه ددهٔ ملگرتياوکړي محمدخان چه حالات ناسم وليدل؛ نو دنادر افشار هيله يې ومنله او د (کوه کيلويه) حکومت يې ومانهٔ. کله چه نادر افشار دبغداد په لوري ځوځيدهٔ؛ محمدخان ته يې وويل چه ددهٔ د پاره لښکر ټول کړي. محمدخان دلښکر له ټولولو سره سره له خلکو سره داسې سلوک کاوهٔ چه ټول خلک ددهٔ پلويان کيدل.

خلکو چه ددهٔ مقايسه له نادر افشار سره کوله؛ نو خلک په دهٔ خوښ وو. چه محمدخان دې ددوئ واکمن وي. دايران خلکو له دهٔ څخه غوښتل چه دوئ دنادر له ظلم څخه خلاص کړي. نو درنادره بيا ليکي: « در (چابد دقبلی) محمدخان خبر سر آمدن اسپ نادر وپراگنده شدن لشکرش را شنيده بخوی ناپاکی گرانيده وسران لشکرش را گرد کرد باآنان سگاليد (مشوره کرد) بگردن کشی آغازيد.

يعنې محمدخان چه دنادر حال خراب وليد له خپلو لښکري مشرانو سره جرگه شو

اودخپلواکۍ اعلان يې وکړ. په بهبان کښې ( دځای نوم ) نازيانو لښکرې او عام خلک ورسره يوځای شول او محمد خان يې دايران د واکمن په توګه ومانهٔ.دشوستر اودايران د نورو برخو خلک محمدخان سره يوځای شول. دحويزه خلک هم ورسره ودريدل. کله چه نادرافشار حالات داسې وليدل؛ نو له يو درانه لښکر سره دمحمدخان مقابلې ته را ووت محمد خان غرنۍ سيمې ونيولې او يوې سختې جګړې ته چمتو شو. کله چه دنادر لښکرو کښې اروپايي توپ ويشتونکي ماهران ډيرووءنو محمد خان دخپلو لښکرو له يوې برخې سره دهرمز خواته لاړ. نادرشاه شيراز ته راغی. وکيل جلايرې دمحمدخان مقابلې ته واستاوهٔ. محمدخان هوله او دقيس جزيره ترلاسه کړل.

په داسې حال کښې چه دمحمدخان کار مخ په وړاندې روانؤ. زيات خلک يې پلويان وو. دشيخ علاق يو عرب چه دنادر په مقابل کښې يې جنګونه کړيؤ،او بيا محمدخان سره يوځای شویؤ. په پټه کښې له نادرسره جوړه وکړه او دمحمدخان دناکامۍ موجبات يې برابر کړل

نو کله چه محمد خان سختې جګړې وکړې دشيخ علاق دخيانت پهٔوجه ونيول شو او لکه دسيدال ناسر پهٔخبرئې دمحمدخان سترګې هم ړندې کړې. دمحمدخان له پاځون سره؛ پرته له خراسان څخه ټول ايران کښې اله ګوله پيدا شوه. چه نادرافشار بيا يوه موده دمحمدخان له پلويانو سره په جګړه بوختؤ. وروسته له هغهٔ نادر ډير کلي وران کړل خلک يې ووژل . دنادر دپاره يوازنی ځای مشهداو نيشاپور ؤ چه دی په کښې اوسيدهٔ . دايران زياته برخه لاهم پهافغاني مشرانو لکه آزادخان او محمدخان پسې ګرځيدل. ( نادر افشار باد ببابچهٔ شادروان احمد کسروی).

د ژړا او ډير دافسوس ځای دی چه مونږ لهٔخپل ملي تاريخ څخه ليرې ساتل شوي يو. تاريخ مونږ ته پهٔ تحريف شوې بڼه ښودل شوی. مونږ چه دښوونځي هلکان وو؛ پهٔ تاريخ کښې ويل کيدل؛ امير کبير دوست محمدخان، وزير با تدبير فتح خان، غازي محمداکبرخان، پادشاه ترقي خوا امير شير علي خان؛ دا دمحمدزائيو هغه نوميالي خلک وو چه ددوئ خيانتونه به پهٔخپل ځای کښې وکتل شي. هغه بد خلک خوبې

لاځه کوي؟

دغـه ډول دډيرو نومـيـالو افـغـانانو نومـونه پهلاس راغلي چهدافغـان څلورم ملي غورځنګ لاربښوونه يې کوله. کوم چه معلومات مونږته دکتور ويليم فلور راغونډ کړي يعنی دهالنډ دنمايندګی را پوروونه دمحمود او اشرف پهدغـه وخت کښې، چه دوه ټوکه دي، دغه کتـابونه مـونږته دابښـيي چه افـغـانانوپهسيـاست او اداري چارو کښې پوره لياقت درلود. دوئ کولای شول بيلو بيلو بهرنيو هيـوادو سره لکهروسـيـه، ترکـيـه، هالنډ، انګليس سره دملي ګټو پربنأ ښې معاملې او جوړښت ولري.

محمدخان بلوڅ دسپين سفير په نامهٔ ياد شوی. دهغه وجه داده چه ددهٔد راتګ په وياړ داستـانبول ټول ښار سپـين رنګ شوی ؤ او لکه يو پادشـاه ددهٔ هرکلی وشو. په افغاني ملي نهضت کښې بلوڅان، ازبک، ترکمن، تاجيک دپښتنو پهڅنګ کښې ولاړوو. دوئ ددولتي تشکيل په برخه کښې پهڅګړو کښې ديوهٔ مقـصود دپاره په ګډه کار کاوهٔ. دوئ هڅه کوله چهسيمه ياملي حوزه متحده وساتي. لکهڅنګه چه آزاد خان افغان خپل پلان پهڅرګنده اعلان کړ، او هغهداؤ چه ايران افغانستـان، بلوچستان به ټول پهيوهٔ سياسي واحد کښې پرته له ظلم او استبداد څخه ژوند کوي. کهچيرې دغه وخت اعليحضرت احمدشاه بابا په لوي افغانستان کښېاو آزادخان افغان چهپه آذربايجان کښې يې حکومت کاوهٔ داصفهان په نيولو برياليي شوي وای: نو لهٔ ترکيې نه ترېنګاله به يوه حوزه وه. دنقشې اختلاف موجود ؤ. احمد شاهبابا دافغـانسـتـان دطبيعي حدودو په ساتلو کښې هڅه کولهاو دآزاد خان پلان تر هغه پراخ ؤ.

سيـدال ورته وويل: چه پهٔغړيدلو سترګو څنګه ښار تسليم کړم؟ سيـدال حربي اتل چه دنادر په لاس کښيـوت؛ نو لومړي يې دهغهٔ سترګې وايستلې. لهسترګو پاتې حربي اتل دکوهدامن پهٔشکردره کښې چه خپلو عزيزانو سره ميشت کړی شویؤ؛ وفات شو.

نادر افشار کهٔ څهٔ هم پهٔيوه لنډه موده کښې يوه لويهامپراتوري جوړه کړه؛ خو ډير ژربي لهٔلاسه ورکړه. ځکهدی نهايت ظالم سړیؤ. لهٔهند نه افغانستان او ايران پورې خلک ددهٔ لهٔ ظلمه پهٔعذاب وو. خلکو هره وسيله پهٔ کـارو له. لوي قـدرت او حقيـقي

قدرت دخدای تعالی دی. نو دخدای دقدرت نخښې له ولیانو او بزرګوارو سره وي.
پښتانهٔ او پنجابي مسلمانان او نور میا ن عمر صاحب ته چه دغه وخت لوی روحاني شخصیت ؤ؛ ورغلل. چه دی پهٔ روحاني کشف سره خبر ورکړي چه څنګه به دخدای تعالیٰ بندګان دنادر له ظلم نه خلاصیږي او دا پهٔ تاریخ کښې یوه ډیره عجیبه مخکښې لید یا پیشبیني وه:

حافظ مرعزي په شعرکښې دغه حادثه داسې بیانوي:
دڅمکنو دمیان عمرصاحب په باب چه لاهورته تللیٔ.

نوځـــوکنو صـــاحب روان شـــه — پهٔ دا لار دهندوســـتـــان شـــه
دا آواز شـــــــه پهٔ هـر لـور — چه داخـل شـــــه پهٔ لاهـور

یعني میان عمرصاحب لاهورته لاړ.

دلاهـور چـه عـلـمـــــــا وو — دفـنـونـو فـــــضـــــلا وو
پـه خـــــدمت واړه تـیـــــار — دمـــشـکل پـه استـــفـــسـار
څـو ک پـه عـرض دخـپـل حـاجـات — څـــوک پـه حل دمـــشـکلات
امــــــا وخت دنـادرشـــــاه ؤ — دهرچاتر حلقـــــه ســـاه وه

میان عمر صاحب ته یې وویل:

پهٔ درګـــاه دخـــدای قبـــول یې — پـه مـــجـلـس دپاک رســـول یې
ستـــا دعـــأ ده مـســتـجـابـه — پـه درګـــــاه عـــالیـــجنابـه
ســـتـــادعـــــأ لـري اثـر — مــــاتـوي دغـــرونـو ســـر
اوس دعـــــأ کـــــړه په دا باب — چه نـادرکـــړي خـــدای خــراب
چـه مـــیـــان صـــاحب نظرکــه — تـامـل یې پـه دفـــتــــرکـــه
یوســاعـت ګــوره خـامــوش ؤ — کـــه مظلوم وهلـی جـــوش ؤ
پـه تجـــدید دشـــــهـــریار — مـــنـورکـــــړې دا دیـــار
چـه رونـق شـي داســـــــلام — پـــرې عـــــــروج راشـي تمام
دا آرزوکـــــا بـنـدګـــــان — خـــدایـه تـه یې مـــهـــربـان

مقاصد ورته عیان کړې! مسخرېږي هندوستان کړې!
ښه پادشاه کړې ارجمند په زمین زمان بلند
دا دعا چه شوه تمامه په دا باب دخاص وعامه
په تقریر گوهر فشان شه په فصیح ژبه گویان شه
ښه کلام یې کړ بیانه په لاهور کښې زماجانه
په دا لور د کندهار بل به راشي شهریار
مصفا صوفي مذهب په مذاق بلند مشرب

گوهر بحر فتوت اختر برج شرف
شه شاهان جهان احمد شاه والاتبار



احمد شاه بابا

# احمد شاه بابا د تاريخ چوپتيا ماته کړه
# دافغانستان نوې امپراتوري

پير روښان، خوشحال خان، ايمل خـــان ، درياخـــان، ميرويس بابا ، شاه محمود ، شاه اشرف ، سيدال خان، امان الله سلطان دمليونو افغانانو دسترگو تور دافغانانو دمور زرغونې انا په غيږکښې وخندل. دافغان په آسمان کښې ستوری وځليد. شملې جگې شوې ١٧٢٢.

لږ صبر پهٔ کار دی چه احمد لوی شي. تولې چارې بهٔخدای سمې کړي. ( زرغونه)
کله چه احمدشاه بابا وځيريد؛ څو مياشتې وروسته زمان خان ددهٔ پلار چه دهرات والي ؤ؛ وفات شو. زرغونه انا چه له يوې خوايې زوي شوی ؤ او بلې خواته يې دزوې پلار زمان خان وفات شوی پهٔ عجيب حالت کښې وه. زرغونه انا پوهه وه؛ چه دهلک موقعيت په خطرکښې دی. دوئ دا وخت ملتان کښې وو.

نو انا داحمدشاه بابا دحمائې اوساتنې دپاره يوه عجيبه طريقه غوره کړه. داسې چه دې خپله لور دهرات نوي والي اسماعيل خان ته ورکړه او داحمدشاه بابا دپاره يې يوه ښه حمايه پيدا کړه.

پښتنو زرغونې ته کورودانې ووايهٔ. چه هم يې دهلک دپاره سيوری وموند او له بلې خوايې ځان خوانبې کړه او دسپين سرو کتارته راغله.

اسماعيل خان له احمد سره مينه درلوده . هغه يې شين ډندته وليږهٔ.زرغونې انا هم لکه نازو آنا خپل زوي دلويو کارو دپاره مأمور بالهٔ. دميرويس نيکهٔ او احمدشاه بابا په روزلوکښې د لوړوافکارو په ورکولو کښې ددواړو نقش مؤرخينو يادکړی دی. ( دپښتنې ميرمنو کتاب) دې وکتل شي.

له هغې مجلې يوه قصه چه زما پـه ياد ده؛ دلته يې ليکم: کلـــه چـــه احمد شاه بابا غوښتل د کندهار ښار شا او خوا کښې يو دفاعي خندق وکيني. خلک يې وګومارل د خلکو له شور ماشور نه زرغونه انا متعجبه شوه او پوښتنه يې وکړه چه څه خبره ده؟ چاورته وويل ادې بابا امر کړی؛ چه دفاعي خندق وکيندل شي.

زرغونې انا سمدلاسه امر وکړ چه احمد ماته راوليږئ. احمد شاه بابا ته خاص حاجب وويل چه مور تاسو همدا اوس په فوري صورت غواړي؟ احمد شاه بابا تعجب وکړ چه داخو د رسمي کارونو وخت دی مګر د زرغونې انا دامر په اثر ورغی.

احمد شاه بابا پهٔ احترام ودريد چه مورې څه امر دی؟ انا وويل داخلک څه کوي؟

احمد شاه بابا د کار غرض او خپل دلايل وويل:

زرغونې انا چه د احمدشاه بابا خبرې تر پايه واوريدې ؛ نو احمد شاه بابا ته يې وويل: پوهه شوم. سمدستي کاربند کړه. ته دښمن د افغانستان په سرحدونو کښې ودروه. دلته چه را ورسيـد؛ بيـا نو دا خندق تانه شي ساتلای او نهٔ دهيـواد دپاره ګټـه لري. دا يوې ځايه فکر او دلړ همت نخښه ده.

احمد شاه بابا سمدلاسه کار بند کړ. دا د افغانانو دپاره دلوړ همتی، يوښه سبق ؤ او دی.

احمد شاه بابا چه لس کلن شو؛ دده نقش د افغانستان په راتلونکي کښې ځرګند شو. دده متانت، وقار، ځيرې هرچاته دا فکر پيدا کاوهٔ چه دی به يو لوي سړی کيږي او پهٔ دې کښې پيشبينی، هم شوې دي.

د پښتنو په قومونو کښې دابدالي او غلزي ترمينځ رقابت او سيالي موجوده وه. چه کله هم دغې سيالۍ څه ښې نتيجې نه درلودې. مګر پهٔ مجموع کښې هومره بدهم نهٔ ؤ. ځکه دواړو دښه نوم او عزت ګټلو په وجه ګټور کارونه کړي؛ چه د افغان د صلابت سبب شوي دي.

کله داسې هم شوي؛ چه هرات کښې ابداليانو او کندهار کښې غلځيانو پهٔ يوهٔ وخت حکومت کاوهٔ چه د عامو پښتنو او افغانانو دپاره دواړه ښه وو.

نو احمد شاه بابا لهٔلس کلنۍ وروسته له خپل مشر ورور سره شاه حسين هوتک سره کندهار کښې نظر بند ؤ.

ځ نادرافشار يو کمال په دې کښې ؤ: چه د پښتنو له حال او خصوصياتو باخبره ؤ دبدمرغيو په لړ کښې دشاه اشرف کورنۍ اودشاه محمود زامن له نادرافشارسره بنديان وو. خوکله چه بي بي زينبه له ځوتنو غلزي مشرانو سره نادر افشار ته ورغله؛ چه بنديان خوشې کړي. نادر افشار پهٔ دې پوهيدی چه دبي بي زينبې پلو تش پرې نړدي. نو بنديان يې خوشې کړل. ځکه دی پوهيدی چه دښځې بې احترامي پښتنو ته لوی اهانت دی.

نادر افشار پهٔ دې هم خبر ؤ؛ چه دغلزو او ابداليانو ترمينځ رقابت موجود دی. احمد شاه بابا لهٔ لس کلنۍ وروسته له خپل ورور ذوالفقار خان سره په سياسي فعاليتونو بوخت ؤ. دهٔ ته دا فرصت نه ؤ چه لکه يو ماشوم بې غمه وي. دهٔ په دغه وخت کښې مروجه علوم ولوستل خلکو او مسايلو سره پوره آشنا شو. خپله نقشه يې درلوده. چه دحالاتو دهسکو او ټيټو څخه ځنګه ځان وباسي. داحمدشاه بابا متانت دومره زيات ؤ چه نادرافشار ورته وويل: ته پادشاه کيږې او چه پادشاه شوې زما دکورنۍ سره به بده وضع نه کوې. دايې هم ويلي ؤ؛ چه پهٔ هندوستان، افغانستان، ايران او توران کښې تر احمد آباده داسې با استعداده سړی دهٔ نه دی ليدلی او دغه خبرې ما دښوونځي په تاريخ کښې هم لوستې وې. بيا وروسته مې پهٔ سراج التواريخ کښې هم وليدلې.

نادرافشار عبدالغني خان الکوزی دکندهار والي وټاکی. دغه سړی داحمدشاه بابا ماما ؤ. نادرافشار په دې پوهيدی چه پښتانهٔ بهٔ له بل والي سره هماغه چاره وکړي چه ګرګين سره وشوه. له بلې خوا ټول تيري کوونکي دپښتنو کورنۍ خپلواکۍ سره هومره اړه نه درلوده. دګرګين په وخت دکندهار کلانتر دځهٔ مودې دپاره ميرويس نيکهٔ ؤ. دسکندر له زمانې اولهٔ هغو پخوا دغرو پادشاهانو خپلواکي درلوده.

نواحمد شاه بابا چه دغه مهال داوولسو کلو بهٔ ؤ چه نادر شاه افشار هغه ديرغمل پهٔ توګه دخپل ګارډ مشر وټاکهٔ. ځکه عبدالغني خان دبابا ماما دکندهار والي ؤ نادر

ويريدهٔ چه عبدالغني پهٔ مناسبه موقع کښې خپلواکي اعلان نهٔ کړي. داحمدشاه بابا تر کوماندې لاندې څلورزره ابدالي اونور افغانان له نادرافشار سره وو.

احمدشاه بابا دنادر افشار له حربي سفرونو او اداري نظام نه ډیرڅهٔ زده کړل. دافغانانو عزت يې ددهٔ په نظر کښې ډیر اوچت کړ. نادرافشار نه يوازې افغاني بنديان خوشې کړل؛ بلکه هېڅوک يې دافغانانو له جملې چه دهٔ سره جنګيدلي وو اعدام نه کړل. يوازې سيدال خان ناسر يې په سترګو ړوندکړ اوشکردرې ته يې واستاوهٔ. يقيناً سيدال هغه زمری وُ؛ چه نادر له دهٔ څخه په کرارنه پاتې کيدی. سيدال ناسر دپښتونوالې مجسمه وه؛يوه ژوندی. دا ټول دپښتنو وقار وُ؛ چه احمدشاه بابا دهغوئ نماينده او سفير وُ. د۱۷٤۷ع دجون په مياشت کښې نادر افشار دشپې لهٔ خوا ووژل شو اودنادر افشار ميرمنې احمدشاه بابا ته خبرورکړ او احمدشاه بابا سمدلاسه ور ورسيد. مخالفين يې تارومار کړل. دنادرافشار کورنۍ ته يې نجات ورکړ. دمخالفينو نقشه يې شنده کړه اودنادر افشار زوي يې دايران پرتخت کښيناوهٔ.

کله چه احمدشاه بابا داکارونه وکړل. دنادرافشار ميرمنې دکوه نور الماس او نورجواهرات ددهٔ لمنې ته ؤغورځول او احمدشاه بابا دوخت په حساسيت اوخپلو ملي وظايفو پوه وُ. سمدلاسه يې دکندهار په لوري يون وکړ.

احمدشاه بابا کومه وعده چه نادرافشار سره دنادر دکورنۍ دساتلو په برخه کښې کړې وه؛ هغه يې پرځای او لهٔ خپل حرکت سره يې د کندهار په لورداثابته کړه؛ چه ايران دايرانيانو افغانستان دافغانانو او هند دهنديانو. داحمدشاه بابا پهٔ ملتيا کښې څلور زرو افغانانو هم چه ددهٔ تر کوماندې لاندې وُ؛ کندهارته راغلل.

احمدشاه بابا مخکښې تردې چه کندهارته ورسيږي؛ دنادرافشار دمرګ دسياسي حالاتو خبرېې کندهارته ورکړ. څو دهندوستان څخه تر ايران پورې دلاروڅارنه افغانان په غاړه واخلي او پرې نږدي چه دنادر افشاردسلطنت مرکز ته څه نقد او جنس ورسيږي. دنادر افشار تر وژلې وروسته دافغانستان کامله آزادي او بشپړه خپلواکي مسلمه وه. يوازې دمشرتابه موضوع اوځينې ضروري انتظامات په کاروو چه دټولو

پښتنو مشرانو پهخوښه او مرسته سرته رسيدلې واى.

مخکښې ترديچه احمدشاه بابا کندهارته راشي؛ هرڅۀ برابر او دپوهيدلو وړۀ. پر ايران باندې دپښتنو بادشاهت دهرنسل د افغان پهياد ؤ. ځکه پهمينځ کښې وخت نه ؤ تير او اتلان دايران دفتح ژونديوو. آزادخان پهختيځ ايران کښې پراقتدار ولاړؤ.

پۀهندکښې نواب نجيبالله خان، احمدخان بنګښ اولس ګونهمقتدر واليان او پۀ زرګونو جاګيرداران موجود وو. چهددغو خورو او تيتو قوتونو يوځاى کول او واحد مرکزيت ورکول يوۀ مدبربابا ته اړه درلوده.

ACKU

# د احمدشاه بابا تاکل کیدل

# ۱۷٤۷ ع

څنګه چه دنادر افشار دمرګ او د احمد شاه بابا دحرکت خبر دکندهار په لوري ټولوته رسیدلی ؤ؛ نو کندهارکښې دپښتنو مشرانو انتظاردرلود چه احمد شاه بابا راورسیږي.
د بابا له رسیدو سره سم د مشرتابه خبره رامینځ ته اولویه جرګه جوړه شوه. بیل بیل مشران وو. لکه نورمحمدخان غلځی، محبت خان پوپلزی، موسی خان اسحق زی، نصرالله خان نورزی، حاجي جمال خان محمدزی او نور حاضروو. زیاتې خبرې دنورمحمدخان اوحاجي جمال په برخه کښې وشوې. اتهٔ ورځې بحث وشو. نورمحمدخان او حاجي جمال خان پاتې شول. احمد شاه بابا غلی ؤ. دجرګې نتیجې ته یې کتل. په حاجي جمال خان باندې یوډول اعتراض ؤ او پهٔ نورمحمد خان باندې بل ډول. یعني نورمحمدخان غلځی ډیر مدبر او پوه دی خو دتند مزاج خاونددی. یاحاجي جمال خان چه ډیر ښهٔ سړی دی؛ مګر ددهٔ دملایمت خبره هم له حده زیاته ده. پهٔ دغه شک اوتردیدکښې چه دافغان په راتلونکي سرنوشت کښې یې ډیره اغیزه درلوده؛ سترګې داحمدشاه بابا لورته واوښتې. ، صابرشاه متصوف یوه لنډه ویناوکړه او پهٔ هغې کښې داحمدشاه بابا بېلې بېلې ښېګړې بیان کړې. ددغه صوفي خبرې دومره بې آلایشه وې چه جرګه یې قانع کړه. بله داچه احمد شاه بابا هم خپل متانت او سړه سینه ساتلې وه. بې له مخالفته احمد شاه بابا وټاکل شو. متصوف صابر شاه دغنمو وږی راوړ او د احمد شاه بابا پر سر ئې کښېښود؛ چه داستا تاج اودعاً وشوه. پښتنو مشرانو پرډیرې لاسونه تیرکړل. ټول کندهار، هلمند، فراه اوکاکړستان خبر شول.

دخوشحالۍ نغارې وغږیدې. ډلې ډلې خلک لهٔلیرې، لیرې ځایو څخه‌را روان وو. چه دخدای سیورۍ خپل تولواک وګوري. داوخت احمدشاه‌بابا دپنځه ویشتو کلو ؤ.

احمد شاه‌بابا پښتنو مشرانو ته وویل: اوس هغه‌وخت را ورسید؛ چه دایران پرلوري حرکت وکړو؛ چه زمونږ شهیدان هلته زمونږ انتظار لري.

جرګې وویل: چه دهند پرلوري. زمونږ پښتانه عزیزان دپردیو په پنجوکښې دي. نو ښه‌به‌داوي چه دهغوي دخلاصون دپاره اقدام وکړو. احمدشاه‌بابا دجرګې فیصله تایید کړه چه‌دغه مطلب احمدشاه‌بابا عثماني خلیفه مصطفیٰ ته ولیکهٔ. مګرپهٔ داسې وخت کښې له‌کندهاره ترډهلي اواګرې پورې پښتانهٔ خپلواکٔ شوي وو. او احمدشاه‌بابا دایراني واکدارانو دغورتاوولو دپاره ایران ته سفربري کوله. نو عثماني خلیفه یې خبرکړ چه ترکان دې ډاډه اوسي؛ افغانان پرترکیې باندې دحملې خیال نه لري. عثماني خلیفه ته‌یې‌چه ځان‌ئې دمسلمانانو خلیفه بالهٔ؛ د ورور خطاب وکړ.

د احمد شاه بابا دغه لیکونه داستانبول پهٔ موزیم کښې موجود دي. عثماني خلیفه احمدشاه‌بابا ته ولیکل چه تاسو خپله سفربرې وکړئ. خو مونږ مرسته‌کولای نه شو احمد شاه بابا وویل چه مطلب ستاسو مرسته نه‌ده. همداچه تاسو خبرواوسیږئ څو کوم ګومان درته پیدا نهٔشي. ځکه افغان او ترک سره ورونه‌دي.

دلته احمد شاه‌بابا دشاه اشرف سیاست تعقیب کړ. دشاه اشرف افغان او احمدشاه بابا خارجي سیاست دترک په مشرانو کښې ددوستۍ یوه ولوله پیدا کړه. کله‌چه زما په یوهٔ مضمون کښې چه‌پهٔ کال ۱۳۳۵ دکابل پهٔمجله کښې دغه پورتني مطالب خپارهٔ شول. خدای‌بخښلي غلام جیلاني جلالي یوه‌بله‌مفصله‌مقالهٔ ولیکله اوپردغو مطالبوېې نوره هم‌رڼا واچوله.

ځینو خلکو پهٔدې موردکښې شک درلود. نودترکیې مربوطه څانګوته‌یې ولیکل چه که‌دغسې یوسند موجود وي،دوئ ( داطلاعاتو اوکلتور ) وزارت ته یې راولیږئ هغوئ‌ددغو لیکونو مکمل فوتوکاپي ګانې راولیږلې او په مستقل صورت کابل کښې چاپ شوې.

ACKU

داحمد شاه بابا په یوهٔ بیت کښې ویل شوي:

چه دهند دملکوفتحه مې روزي شوه
بس ایران لره پهٔ توغ پهٔ نغاره ځم

افغان بابا یوه ډله پوځ؛ پرته له دې چه دی ورسره وي؛ دغزني په لوري ولیږهٔ. لهٔ کندهاره تراټکه پښتانهٔ چمتو شوي وو چه داحمدشاه بابا هرکلی وکړي. ډیرکلونه دمخه خوشحال خان ویلي ؤ:

درست افغان له کندهاره تراټکه
سره یو د ننگ په کار پټ او آشکار

رښتیا چه ډیرښه ویلي ؤ. لکه چه یو پلان موجود ؤ. نوا پریدي علم خان وویل:

په دادور چه احمدشاه پاچاهي کړه
په هندو په مغل غم ؤ ماښادي کړه

داصحیح وه؛ چه ترغزني پورې دهند مغلي حکومتؤ. شمالي افغانستان دمحلي امیرانو په لاس کښې وو. دبخارا اوماوراء النهر حکومتونه؛ دادی اوس نوي کندهارکښې خپلواکي او افغان پادشاهي اعلان شوې. هرات، مشهد او نیشاپور دنادر افشار دحکامو پهٔ لاس کښې دی.

تقي خان اخته بیگي ۲٦ کروړه روپۍ دهند د پیښور اوکابل مالیات نادرافشارته وروړي چه کندهارکښې یې داحمدشاه بابا حضورته کښېښودلې. احمدشاه بابا تقي خان ښهٔ وساتهٔ او تقي خان خپل قزلباشان وهڅول چه نوي واکمن ته وفاداروي.

فیریر یوخارجي لیکوال لیکي: داحمدشاه بابا دشاهي تاج په سرایښودل ډیر ساده مراسم درلودل. یوهٔ مولوي دقرآن آیات ولوستل او غنم ئې پرې واچول اومولوي وویل چه احمدشاه دخدای او ملت له خوا ددې وطن پادشاه ټاکل شوی دی. پهٔ ۱۳٤۸هـ.ل کال کښې دبابر په باغ کښې کله چه افغان ملتیانو دخان عبدالصمدخان اڅکزي دبیا بندي کیدو پهٔ باب (دپاکستان خلاف) احتجاجي غونډه وکړه. ملي محبوب شخصیت غلام محمد فرهاد وویل چه مونږ هنگامه غوښتونکي خلک نهٔ یو. خدای غواړو. وطن غواړو. ملت غواړو. تردې وروسته بیا خدای وطن ملت یو دایمي شعار وگرځید. فرهاد

صاحب په دې خبر نهٔ چه دغه شعار داحمد شاه بابا د تاجپوشۍ په وخت کښې هم ورکړ شوی. یعنی زمونږ په ملی تاریخ کښې ملی شعور ډیر نقش لري. لکه څنګه چه خوشحال خان خټک اتیاکاله دمخه تر احمد شاه بابا ویلیٔ چه له کندهاره تر اټکه پښتانه دننګ په کارکښې سره یودي . احمدشاه بابا له کندهـــاره تر اټکه بی له جګړې یامهمې جګړې ورسید او هرځای کښې دده هرکلی وشو.

## الحکم الله یا فتاح احمد شاه:

دا د احمدشاه بابا درسمي فرامينو نخښه ده.داحمدشاه بابا لوي كمال په دې كښې ؤ چه سرکښو پښتنو سره يې کارؤ. مگر دهٔ دغه خلک منظم کړل. ځکه چه دی پهٔ ساده توګه اوسیدهٔ او پهٔ جرګه کښې په ځمکه له نورو پښتنو مشرانو سره يوشانې په يوهٔ شان لباس کښېناستی او پرته له هغه يې هم شاهي تخت نهٔ درلودی. غزني او کابل هم ډیر ژر په کندهار پورې وتړل شول.

۱۱۲٦ هـ ش کال یو نیک مرغه کال چه دملي رغاونې پراخ بنسټ جوړ شو. کوم چه دمیرویس نیکهٔ پهٔ مشرۍ پیل او داحمدشاه بابا په مشرۍ بشپړ شو.

احمد شاه بابا خپل ملت ته پهٔ درانده نظر کتل. نوځکه يې عثماني خلیفه مصطفیٰ ته ولیکل : وروره! ما دافغان والاتبار مشران راغونډ کړل. هغوئ مشوره راکړه.

بله داچه احمد شاه بابا لهٔ افغانانو سره په رسمي تشریفاتو خبرې نهٔ کولې.

تاریخ پوهان احمدشاه بابا دانسانیت په مقام کښې کامل انسان بولي. که څه هم هیڅ انسان کامل نه وي او کامل یو خدای دی. او بشر کمزورئ لري. مگر دتاریخ پهٔ شاهدۍ احمد شاه بابا کمزوري نه درلوده. چه پهٔ وروستیو کرښو کښې به ولیدل شي.

پهٔ ملي تاریخ کښې میرویسٌ بابا او احمد شاه بابا مثالي شخصیتونه دي. پهٔ دې معنی چه کهٔ یو افغان وغواړي ؛ خپل شخصیت تریوهٔ حده تکمیل کړي؛ نو ددوئ شخصیت دې و پیژني او له هغوئ دې زده کړي. خدای پاک دوئ ته یعنې افغانانو ته داسې مثالي شخصیتونه پهٔ نصیب کړي؛ چه دښمنان هم نه شي کولای؛ پهٔ دې خبرې اعتراف ونهٔ کړي.

# پښتانهٔ او بلوڅ

مونږ بايد داخبره هيره نه کړو چه دافغان پهٔ ملي رغاونې کښې بلوڅانو له پښتنو سره اوږه په اوږه توري وهلي اوکارونه يې کړي.

لومړی په کال ۱۷۰۷م ميلادي کښې؛ کله چه گرگين دبلوڅو دجنگ په نيت ووت.

ميرويس بابا دڅلوروزرو پښتنو سره دهغه مخه ونيوله.

دشاه محمود افغان سره دکرمان پهٔ کلابندکولو کښې ملگري شول. (بلوڅان) ۱۷۲۱ع دشاه اشرف افغان لهٔ خوا احمدخان بلوڅ دافغانستان لومړني سفير په حيث دعثماني خلافت په دربار کښې وټاکل شو.

دريم نصيرخان بلوڅ دنيشاپور پهٔ نيولو او دهند په يرغلونو کښې داحمدشاه بابا ملگری ؤ . شخصي دوستي يې له حده زياته وه. کهٔ څهٔ هم يوه پلا سره خوابدي شول خوبيرته سره پخلا شول. او دڅوند تر پايه سره اندیوالان وو.

دملي رغاونې تاريخ ښئي چه بلوڅو او پښتنو خوا پهٔ خوا يو ځای قربانۍ ورکړي لوي افغانستان د پښتنو او بلوڅو پهٔ مخکښ قوت جوړ شوی ؛ چه دغه خبره به پهٔ ملي رغاونې کښې دچا هيره نه شي.

پهٔ افغانستان در پنج قرن اخير کښې چه ميرمحمد صديق فرهنگ ليکلي؛ راغلی دي:

« ازآنجا که احمد شاه از آوان جوانی بکارهای لشکری مشغول ودرجنگهای مختلف شرکت کرده بود در اداره لشکر وفن محاربه تجارب قيمتداری اندوخته بود که اينک به کمک آن اردوی نيرومندی تشکيل داده وآن را درخدمت نقشه های جاه طلبانه اش قرار داد ».

دامثال مې ځکه دلته راوړ چه دغسې قضاوت دښمنانونه دی کړی .دافغان پۀنامۀ یوچاکړی دی. ځکه اوس څوک دملي رغاونې او افغانانوته ددريو طاقتونو ( مغلي ، هند ، ايران او ماوراء النهر ) لۀظلم او تيري نه نجات ورکولوته نقشه های جاه طلبانه وائي. یعنی غلامانه ذهنيت هم پۀ تاریخ لیکلو کښې ځان ښيي. مګر هغۀ ته پاملرنه نۀده پۀکار. ځکه د دغه مطلب ذکرمکرر شو چه يوملي ليکوال خپلو خلکوته دبيا جوړولو روحيه ورکوي. مګردملي رغاونې روحيه ورکول هم پۀ تاريخي حقايقو بناوي. چه مادغه هڅه کړې ده.

داحمدشاه بابا جنګونه لۀ آباسين نه هاخوا شروع شول. احمدشاه بابا دڅمکنو مياعمرصاحب ته ورغي. له هغۀ دعاً اخلي. کوم چه ددۀ دراتګ پيشبيني يې کړې وه. احمدشاه بابا دمياعمرصاحب په اجازه له اتلس زرو لښکروسره د١٧٤٧ع دډسمبر پۀ مياشت کښې دلاهور پۀ عزم لۀ اباسين څخه تيرشو. پۀ دغه سفرکښې متصوف صابرشاه کابلی هم داحمدشاه بابا ملګری ؤ. څرنګه چه علي هجويري يادا تا ګنج بخش دصابرشاه پلار يانيکه ؤ. نو صابر شاه مخکښې دزيارت دپاره لاړ. دلاهور مغلي صوبه دارته جاسوسانو اطلاع ورکړه. چه صابرشاه داحمدشاه بابا ملګری دی نوصابرشاه يې وغوښت او پوښتنه ئې وکړه چه ورورمې احمدشاه پۀ څه حال کښې دی؟ صابرشاه متصوف ورته وويل پۀ ادب خبرې کوه. هغه دلوي افغانستان پادشاه دی اوتۀ دهندوستان دپادشاه صوبه دارېې! مغرور صوبه دار صابرشاه چه يو متصوف ؤ پۀ شهادت ورساوۀ چه دلاهور دشاهي مسجد ترشاپې زيارت دی. که څوک ترلاهوره لاړشي؛ دهغه زيارت پۀکاردی.

احمدشاه بابا په داسې حال کښې چه قوي توپخانه يې نۀدرلوده او دلاهور ښارمحکم ديوالونه اوډير لوي لښکرهم موجود ؤ. مګراحمدشاه بابا دښار استحکام مات کړ او دلاهور صوبه دار دشپې په تيارۀ کښې دډهلي پهلوري وتښتيد.

دجنورۍ په ١٢ دلاهور دښار مسلمانان او هندوان دبابا حضورته راغلل؛ چه ددوئ ښار او ژوند پۀ امان کښې پاتې شي، احمدشاه بابا دغوښتنه ومنله او تسقچيان يې

مقرر کړل چه د خلکو سر او مال دې په امان وي. تقريباً د لاهور ښار هم په آسانۍ ونيول شو.

د هند حکومت يو قوي لښکر د احمد شاه مقابلې ته واستاوه. احمد شاه بابا هغه مات کړ. دغه وخت سرلښکر حربي اتل سردار جهان خان ؤ؛ چه دده حربي نبوغ څرګند ؤ.

د هند دولت يو زړور مغلي دولت ؤ. او افغاني لښکر دهغه په تناسب ډېر لږ ؤ او ډېره لاره يې وهلې وه. مګر د احمد شاه بابا او سردار جهان خان لياقت او کار پوهنې ده چه بريالي ګامونه واخستل شول. له کندهاره تر لاهوره افغاني دولت په څو مياشتو کښې بيا جوړ شو.

احمد شاه بابا د افغانستان تاريخي، طبيعي او سياسي حدود په ډېره کمه موده کښې تأمين کړل.

بريالی احمدشاه بابا کندهار ته راوګرځيد. دلته يو وړه دسيسه هم جوړه شوې وه؛ چه احمدشاه بابا هغه شنډه کړه.

احمد شاه بابا څوک نه وژل. مګر جرګې به کله کله دځينو دسيسه کوونکو د مرګ فيصله کوله او هغه وژنې به د پښتنو د جرګې او اسلامي شريعت په اساس وې. احمد شاه بابا يوه نهه کسيزه دولتي شورا درلوده چه ټولې چارې د دغه نهه کسيزې شورا له خوا تنظيم کيدې. احمدشاه بابا ديوه مطلق العنان پادشاه په توګه نه ؤ. شخصي حب او بغض يې نه درلود. (متعدد تاريخونه).

تردې جرګې دعبدالغني خان الکوزي چه داحمدشاه بابا ماما ؤ د اعدام فيصله وکړه. احمد شاه بابا دملي ګټو پر بنأ مداخله ونه کړه. (عبدالغني خان د نادرافشار له خوا د کندهار والي ؤ). دده ضبط نفس ډېر قوي ؤ.

# داحمد شاه بابا

## دوهم حربي سفر ( ۱۷٤۸ع)

احمد شاه بابا چه دشرقي افغانستان له مسايلو فراغت وموند؛ لوېديځ افغانستان ته ئې پاملرنه وکړه. داوخت داحمدشاه بابا شهرت هرې خواته خپور شوی او په آسيا کښې يې دمقابلې څوک نه ؤ. دده سياست تدبير ، حربي لياقت، تقوٰی په افغاني اصولو پابندي، افغانان انتظام او استحکام ته رابلل اودښمنان يې په ويره کښې اچول. احمدشاه بابا له پېښاوړي پوځ سره دهرات په لوري وخوځيد. دا وخت په هرات کښې دوه نادري واليان وو. احمدشاه بابا خبر ورکړ؛ خوهغوئ تسليم نه شول. مگر درويش علي خان هزاره تسليم شو؛ چه دننه په ښار کښې يو لوي خانؤ او نورو افغانانو مرسته وکړه. دښار دروازه خلاصه شوه. احمدشاه بابا ښار ته ننووت. مجرمينو ته يې سزا ورکړه او درويش علي خان هزاره يې والي مقرر کړ.

دغـه وخت احـمد شـاه بابا خپـل صدراعظم شاه ولي خان لـه ټولگي عـسکرو سره دميمنې په خوا شمالي ولاياتوته وليږهٔ. څو محلي ازبکي اميران پوه کړي؛ چه خپل مـرکزي حکومت سـره يوځـاى شي. دوئ په ژبه پوه خلک وو. فـيض آباد ، رسـتـاق، تالقان، خان آباد ،کندوز ، اندراب ، سمنگان ، خلم ، بدخشان ، بلخ ، شبرغان ،اندخوي ، ميمنه اومرو. اميران چه دبخارا او ترکمنستان حکومتو ته يې اطاعت نه کاوهٔ او ماليې يې دځان دپاره اخستې داحمد شاه بابا مرکزي دولت ته يې اطاعت وکړ.

شاه ولي خان صدراعظم په دغو ځايوکې ددولت مأمورين وټاکل. پخپله دپنجشير اوگلبهـار لهٔلارې کـابل، غزنې او کندهارته بيرته راغى. پهٔداسې حـال کښې خپل مـأموريت ئې ترسره کړ. چه له کندهاره ترکابله پورې دچاپزه وينې نهٔشوه. يوازې

پهٔ غزني او کابل کښې دمغلي هند حاکم ناصرخان لهخوا لږځهٔ مقاومت وشو. مگر ملت داحمدشاه بابا دهرکلي دپاره حاضرؤ. په شمالي ولاياتو کښې هم خبره پهٔ مصالحت خلاصه شوه. چهدا دافغان دملي وحدت يوه ښکلې نمونه وه چه پهٔ ختيځ شمال، جنوب او لويديځ کښې وليدل شوه. يعنې افغان ملت ديوهٔ مدبر مشر پهٔ انتظار کښې ؤ او احمدشاه بابا فرصت لهٔ لاسه ورنهٔ کړ. دملي وجدان او ملي شعور ښرگنده نمونهوليدله شوه.

احمدشاه بابا مشهدته لاړ او شاه رخ دخراسان دولايت مشر دهٔ ته تسليم شو. مگردده نايب ميرعلم د تربت جام پهٔ جگړه کښې ماته وکړه. احمد شاه بابا دی (شاهرخ) دمشهد پهٔحکومت مقرر او نور محمد افغان يې دهغه نايب وټاکهٔ. احمدشاه بابا دجام ، باخرز، خاف ، تربت او ترشيز سيمې دخراسان لهٔ ولايت نه خلاصې او دهرات پهٔ ولايت پورې يې وتړلې.

داحمدشاه بابا پهٔځوانمردی کښې داشامله وه؛ هغه کسان چهدهٔ ته تسلميدل؛ دهغو عزت به يې کاوهٔ او مقام به يې ورکاوهٔ. لهٔ هغې لومړی ورځې چه تقي خان دنادر افشار خزانه پهٔ کندهار کښې دهٔ ته تسليم کړه؛ تقي خان ددهٔ ددربار يو مهم سړیؤ. کهٔ څهٔ هم قزلباش ؤ. درويش علي خان چهدهٔ ته تسليم شو؛ دهرات والي شو. شاه رخ چه تسليم شو، دمشهد والي شو. البته ټول دافغان تربيرغ لاندې، ديوهٔ مقدس مرام دپاره چه وحدت، قوت او خپلواکي وه . داحمدشاه بابا دغه ځوانمردانه خوي دهرچا دپاره امانؤ. دی داسې مشر بابا اوټولواک ؤ؛ چه يوعمل هم دهٔ بې لهٔ مشورې سرته نهٔ دی رسولی. نوکله چه احمدشاه بابا دنيشاپور په لور وخوځيد کړنگ ژمی ؤ. ډير تکليف پيښ شو او تلفات يې ورکړل. خو احمدشاه بابا به چه کوم عزم وکړ؛ پهٔ شاتگ يې نهٔ درلود.

ټول مؤرخين متفق القول وائي احمدشاه بابا ظالم سړی نهٔ ؤ. مگر دافغانانو بې عزتی يې هم نهٔ زغمله. دادی زمونږ بابا پهٔدريم کال دريم حربي سفر کوي.

## دريم حربي سفر:

همدا چه هوا بيرته توده شوه؛ بابا بيا دنيشاپور په لوري وخوځيد. داځل بابا يو داسې توپ دکلا دورانولو دپاره جوړکړ چه دگولۍ وزن ئې د کابل په کاني دولس منه ؤ. عباس قلي دنيشاپور حاكم ډېر مقاومت كاوۀ. پۀ مخكښې ځلئې هم ښه جنگ كړی وه.

دتوپ گولۍ فاير شوه او دنيشاپور دښار ديوال يې وغورځاوۀ. كه څۀ هم توپ دگولۍ له ويشتو سره وچاودۀ او عباس قلي بيات دجنگ پهډگر كښې ونيول شو. لۀدې كبله چه عباس قلي زړ ورسړی ؤ او احمد شاه بابا سره اسير شو، بابا دی ونازاوۀ. اوډځان لهطرفه يې بيرته دنيشاپور حاكم مقرركړ. مگردده بيات قوم يې غزني ته راواستاوۀ.

داحمدشاه بابا دغه عالي خوېونهوو چه گنډا سنگهـ ددراني احمدشاه دكتاب ليكونكی وائي چه څومره مادااحمدشاه پۀ باب زياته څېړنه وكړه؛ هومره زۀ دده دعالي شخصيت تر تأثير لاندې راغلم.

قدم پۀ قدم دځوانمردۍ جلوې دافغان بابا معنوي ميراث دی. دليكوال هدف هم پۀ دې كښې دادی چه افغان بچي خپل شخصيت دهغې پهرڼا كښې بشپړ كړي.

دنيشاپور پهفتحه كښې نصيرخان بلوڅ لۀډېرې زړه سپړو سره حاضرؤ او خپل جنگي مهارتئې په ثبوت ورساوۀ. ددې دپاره چهداځل دنيشاپور كار خلاص شي؛ بابا سردارجهانخان او نصيرخان بلوڅ دواړه لهځانه سره بوولي وو. او همداسې وشول يعنې د نيشاپور كار تمام شو.

كلهچه احمدشاه بابا دنيشاپور پهچارو بوخت ؤ؛ دهرات والي پۀ يوه دسيسه لاس پورې كړ. مگر بابا ژر فراغت وموند او بيرته هرات ته راستون شو. ددرويش علي خان قضيه تر تحقيق لاندې راغله. شهزاده تيموريې دهرات والي وټاكی. او پخپله كندهار ته راغی. داوخت دنصيرخان بلوڅ اوسردار جهان خان پۀ همت تون او تبس ونيول شو. او علي مردان خان ووژل شو. د غه جنگ دايران پۀ تاريخ كښې سخت جنگ ؤ.

## څلورم حربي سفر او د کشمير يوځای کيدل:

کله چه احمد شاه بابا کندهار ته راغی. خبر شو چه د پنجاب والي د ماليې په ورکولو کښې مرکزي دولت ته پلمې کوي. (۱۷۵۰م) نو د څلورم سفر ضرورت مينځ ته را پيدا شو. احمد شاه بابا کابل او نيشاپور نه راغی. دلاهور والي ميرمنو يا معين الملک وار خطأ شو او له سکهانو سره يې لاس يوکړ. دهلي نه يې هم مرسته وغوښته او جنګ ته تيار شو. احمد شاه بابا سردار جهان خان او عبدالصمدخان له پېښوره لاهور ته واستول. کله چه احمدشاه بابا له آباسين څخه پوريووت؛ دلاهور والي دماليې ديوې برخې په ورکولو شروع وکړه. مګر د جنګ ترتيبات يې هم نيولي وو. يعنې چل ول او هرڅه، دلاهور لهٔ ښاردباندې.معين الملک چه دسکهانو، هندي او خپلې لښکرې راغونډې کړې او احمدشاه بابا ديوهٔ مکمل جنګ فکر نهٔ کاوهٔ خودسردار جهان خان پهٔ تدبير او ميړانه جنګ دافغانانو پهٔ ګټه تمام شو. والي تسليم شو. احمدشاه بابا له دهٔ پوښتنه وکړه چه کهٔ زهٔ ستا پهٔ لاس کښې لويدلای وای؛ تاڅهٔ راسره کول؟ معين الملک والي ورته وويل: چه تهٔ مې وژلې او ستا سر مې ددهلي دربار ته ليږهٔ. دلته داحمد شاه بابا روحي عظمت بيا وګورئ.

احمد شاه بابا ورته وويل: اوس چه تهٔ زما پهٔ لاس کښې يې زهٔ څه درسره وکړم؟ معين وويل: که سوداګر يې خرڅ مې کړه. کهٔ عادل پادشاه او مهربان پادشاه يې پهٔ ما رحمت وکړه او ومې بخښه!

احمد شاه بابا هغه وباخښهٔ او مهرباني يې هم ورسره وکړه. احمد شاه بابا دلاهور ښار ته پهٔ شاهانه صورت ننووت او پر خلکويې مهرباني وکړه او هغه پوځ چه بابا دعبدالله خان پهٔ مشرئ کشمير ته دهغه ځای دتأمين دپاره ليږلی ؤ. خبر راغی چه کشمير تأمين شو.

پهٔ دغه حربي سفر کښې کشمير، سند او پنجاب تأمين او په مرکزي دولت (کندهار) پورې وتړل شول.

ACKU

داحـمـدشـاه بابا دپادشـاهۍ ترڅلورم کـال پورې يعنې ۱۷٤۷ع - ۱۷۵۱ع پورې بلوچستان ،سند، پنجاب، کشمير، ډيره اسمعيل خان ډيره غازي خان، بلخ ، بدخشان اونورشمالي ولايات ، مرو، هرات نيشاپور، مشهد په بل عبارت ټول خراسان دلوی افغانستان په مرکزي نظام پورې وتړل شول. قوي لښکر، حربي سلاح خانه، بډايه بيت المال،اداري دولتي تشکيلات تر سره شول. چه کابل لاهور، مشهد، هرات، کندهار ، پېښور کښې په يوه وخت کښې داحمدشاه بابا په نامه سکې ضرب او چلند ته راووتلې . احمدشاه بابا خپل يو سفير ډهلي ته واستاوه چه افغاني حدود دډهلي په مغولي امپراتور باندې تصديق کړي او داکار وشو. احمد شاه بابا بيرته کندهار ته راستون شو او کورنيو چارو ته يې پاملرنه کوله.

# آزادخان افغان
# په اصفهان کښې سکه ووهله

لکه چه مخکښې هم ويل شوي ؤ آزاد خان افغان په آذربايجان کښې چه دايران شمال غرب کښې دی ؛ حکومت کاوه. آزادخان پر اصفهان ورغی . هغه يې تصرف کړ. دحبيبي مرحوم دپيښليک په حواله آزادخان افغان په کال ۱۷۵۵م کښې په اصفهان کښې سکه ووهله؛ چه داصفهان په موزيم کښې موجودې دي.

دغه وخت چه آزادخان غلځي په اصفهان کښې ديوه افغان په نامه ځان پادشاه اعلان کړ او نوی يې خپل پروګرام څرګند کړی ؤ. احمدشاه بابا له نيشاپوره ترهلي پورې او له آمونه دعثمان ترخليج پورې افغاني دولت جوړکړی ؤ. آزادخان اصفهان ته رسيدلی ؤ. نژدې ؤ دوه افغاني دولتونه سره يو شوي او لا پراخ دولت جوړ شوی وای.

افغان چه افغان ؤ؛ داسې هم کيدای شو ل چه پښتونولي او افغانيت اوځوانمردي موپريښوده چه دهمدغه ليکنې په وروستيو پاڼو کښې به يې وګورو چه خبره چيرته رسيږي. داخبره به دلته پريږدو. بيرته به لاړ شو احمد شاه بابا ته.

زه چه کلونه کلونه دتاريخ په لټه کښې ؤم. دافغانستان په خپرونو او ادبياتو کښې مې داحمد شاه بابا دعالي شخصيت او ځوانمردی خبرې نه وې نه ليدلې. ښکاره ده چه هرڅوک دخپل کمزوري شخصيت دپټولو دپاره دتاريخي ميړونو پرشخصيت پرده اچوي . ترڅې حده چه دايراني ليکوالو او انګريزانو غليمانه خبرې اوريدل کيدې.

ايا دميرمنو معين الملک چه په جنګ کښې اسير شو او احمدشاه باباته يې سخته خبره هم وکړه: « که ته زما په لاس کښې اسير شوی وای ؛ ستاسرمې پرې کاوه او دخپل امپراتور (هندي مغلي) پښوته مې غورځاوه » اوکله چه احمدشاه بابا ورڅخه

پوښتنه کوي: « اوس زهٔ څه درسره وکړم؟ وائي: که سوداګر يې خرڅ مې کړه. کهٔ عادل او مهربان پادشاه يې مرحمت وکړه. ومې بخښه! ». احمد شاه بابا دی بخښي او دزوي خطاب ورته کوي. دغه لويوالی عاليجنابي بيا چاکړې ده؟

خوبيا هم تأريخ چوپتيا اختياروي او يو خارجي په سلهاؤ داسې مثالونه ورکوي. فکر او قضاوت دهرچا خپل. مګر ملي تأريخ چورپټ پاتې دی؛ چه پهٔ همدې اثر کښې به يې مستند مثالونه وکتل شي.

## پنځم حربي سفر:

داحمدشاه بابا هر سفر ديوهٔ ضرورت لهٔ مخې کيدی. سکهانو پهٔ هره موقع کښې حمله کوله او احمد شاه بابا هغه لورته حرکت کاوهٔ. دوئ په غرونو اوځنګلونو کښې خوارهٔ شول. له بلې خوا دډهلي پادشاه هم غلی نهٔ . پهٔ هره مساعده موقع کښې به يې يوه مداخله کوله.

احمد شاه بابا حتی الامکان هڅه کوله؛ خبره پهٔ مصالحه روغه او جوړه حل شي. لهٔ بله پلوه دهٔ کوشش کاوهٔ دهرچا عزت خوندي وي. مګر لهٔ بلې خوا داهم ضروري وه چه دملي دولت سرحدونه محفوظ وي. نوشا اوخوا دولتونه يې مصالحې ته رابلل. ځرنګه چه دايران مشرانوته يې وويل : دخراسان افغاني حدودوته مه رائځئ! که نه زهٔ داتوان لرم؛ چه ټول ايران لاندې کړم.

احمد شاه بابا کولای شول؛ مرکزي آسيا، ايران، هندوستان او چيني ترکستان ونيسي. سرجان مالکم انګليسي ليکوال دا ددهٔ هوښياري بللې چه دهٔ داکارنه دی کړی. مګر يو افغان پوهيږي چه احمد شاه بابا يو مصلح، مدني افغان او حربي اوسياسي نابغه ؤ.

مؤرخ غبار مرحوم وائي چه « نادرافشار دکندهار ښار وران کړ. مګر محمود او اشرف داکارنهٔ دی کړی. دايران ټول ښارونه همغسې آباد ؤ! ». لا نوره آبادي يې هم کړې چه برج بارو اشرف يې يونمونه ده. پهٔ همدې ډول احمد شاه بابا نه يوازې ښارونه وران نه کړل. بلکه دخلکو عزت يې هم وکړ. بيرته به يې ددوئ خپل مشران پهٔ

حکومت مقررکړل. ( خطبه داحمدشاه بابا په نامه ویله کیده. سکه دده په نامه وه. فرامین دده په مهر صادریدل او مالیه مرکزي دولت کندهار ته راتله) نو محمدشاه او دده زوي احمدشاه مغلي په هند او شاهرخ د نادر افشار لمسی په مشهد او رضا قلي په نیشاپور کښې حکومت کاوه. مگر دپنځم حربي سفر سبب داؤ چه دهند مغلي امپراتور دلاهور په چاروکښې بیا مداخله وکړه. او هم یې دمرهټه‌یانو څخه مرسته وغوښتله چه کله احمدشاه درانی مومات کړ څلویښت سیمې به دمرهټې قوم ته وسپارم. :

## کوم سیاست چه انگریزانو هم تعقیب کړ:

کله چه احمدشاه بابا دنیشاپور په چارو بوخت ؤ؛ نو په هند او پنجاب کښې دده پرضد حرکتونه کیدل. دډهلي مغلي دربار په‌دې خبره پوه‌شو. هغه یې کوله چه په افغاني خراسان،طوس او نیشاپور اومشهد کښې حالات خړپړ کړي. نو احمدشاه بابا اړ شو چه پنځم حربي سفر وکړي. څو داغله دډهلي دربارته سم سبق ورکړي.

وروستنه به وگورو چه انگریزانو له ایرانیانو سره لاس یوکړ او شاه زمان یې دپنجاب او نیشاپور ترمینځ ستړی کړ.

په۱۷۵۳ کښې میرمنو یامعین الملک مړشو. یادسکهانو په‌جگړه کښې ووژل شو. دمعین دمیرمنې مغلاني بیگم اودنوروواکدارانو ترمینځ او ډهلي ددربار سره مخالفتونه پیدا شول. او پورته کرښوکښې یاد شوي مسایل هم داحمدشاه بابا دخوځیدو عوامل دډهلي په لوري برابرکړل. د۱۷۵٦ع دنوامبر په ۱۵ احمدشاه بابا دیوه مهم حربي سفر په غرض حرکت وکړ.

په‌همدغه وخت کښې احمدشاه دزمزمه په نامه لوي توپ جوړکړ. چه اوس هم په لاهورکښې موجود او ما هغه لیدلی دی.

کله‌چه‌بابا له لاهور نه دډهلي په لور روان شو په لارکښې نجیب الدوله داودزي نواب چه یو پښتون او په‌ختیه یوسف زی ؤ ؛ په دغه وخت کښې دهند دلښکرو سر لښکرؤ احمدشاه بابا ته راغی. دوستانه خبرې اودیدن وشو. چه احمدشاه بابا ډهلي

ته‌نژدې شو عـماد الملک غازي الدين دمغلو لوي وزير هم داحـمدشاه بابا حضور ته راغی او تسليم شـو دهند پادشاه ملقب په عـالمگيـر ثاني وليـدل چه مـقـابلـه نه شي کولای؛ نو لکه شاه حسين صفوي دايران پادشاه چه اصفهان ته‌نژدې دشاه محمود افـغان حـضـورته راغی اودايران دپادشـاهۍ مـبـارکي يې ورکړه او خپـل تاج يې دده پرسرکښيښود. عالمگير ثاني مغلي امپراتور نژدې ډهلي ته‌داحمدشاه بابا حضورته راغی او دهند پادشاهي يې ده ته تسليم کړه.

خواحمد شاه بابا په‌همـاغـه شرايطو چه خطبه ، سکه ، فرامـين اومـاليـه به‌دافغـان ټولواک په نامه وي؛ دی يې بيرته بادشاه مقررکړ. او تقچيـان يې وگومارل چه دخلکو سر او مال محفوظ وي. دغـه کردار اوعـمل هيڅ فاتح ملک له‌خپل مفتوح ملک سره حتی په شلمه پيړۍ کښې هم نه‌دی کړی او نـه مخکښې ترهغه شوی. په همدغه وخت کښې دډهلي په ضراب خانه‌کښې داحمدشاه دراني په نامه سکه ووهله شوه او دهند دشاهي کورنۍ سره خپلوي وشوه.

احمد شاه بابا له ډيرمال او پيسو سره کندهارته راغی. دآسيا لوي قوت په اخلاقي او مادي لحاظ افغانستان ؤ.

داپلا لاهورکښې تيموردبابازوي دوالي په توگه کښېناست. دهندسيمې يې هم اداره کولې. حربي اتل سپـه سـالارسردارجهـان خان دتيمـور دنايب په توگـه وټاکل شـو. احـمـدشـاه‌بابا دپادشـاهانو پادشـاه کندهارته راغی. دکندهار په‌ښـارکـښـې دستړواکمن په‌ليدو دحکومت سترگې روښانه شوې.

# دافغان ملي ترانه

احمد شاه بابا په پښتو ژبه په خپلو مبارکو الفاظو دغه شعر ویلی ؛ چه دافغان ملي ترانه ده. هر افغان نروي؛ که ښځه. ماشوم وي؛ که مشر. مکلف دی چه دغه ترانه یې زده وي.

## وطن ته

ستا د عشق له وینو ډک شول ځیگرونه
ستا په لاره کښې بایلي ځلمي سرونه

***

تا ته راشمه زړگی زما فارغ شي
بې له تا مې اندېښنې دزړه مارونه
که هر څو مې ددنیا ملکونه ډېر شي
زما به هېر نه شي داستا ښکلي باغونه
دډیلي تخت هېرومه چه رایاد کړم
زما دښکلي پښتونخوا دغرو سرونه
درقیب دژوند متاع به تار په تار کړم
چه په توره پښتانه کاگوزارونه
د «فرید» اود «حمید» دور به بیاشي
چه زه وکاندم پر هرلوري تاختونه
که تمامه دنیا یو خواته بل خوایې
زما خوښ دي ستا خالي تش ډگرونه
احمد شاه به دغه ستا قدر هېر نه کا
که ونیسي دتمام جهان ملکونه

احمد شاه بابا خپل هيواد سره مينه درلوده. افغان ملت ته يې وحدت او استحکام ورکړ. د پرديو له غلامۍ نه يې خلاص کړ او مونږ ته يې يوستر معنوي او مادي ميراث پرېښود. چه مونږ اوس د دغه ميراث په مقابل کښې مسؤوليت لرو.

افغان اوسيدل يوه خبره ده. افغان نه اوسيدل بله خبره ده. د افغان اوسيدلو په صورت کښې هر افغان سره داخبره مطرح کيدای شي هغه چه افغان اوسيدل نه غواړي هغوئ سره حساب ضروري خبره ده.

په همدغه وخت کښې چه احمدشاه بابا کندهارکښې ؤ چه پوه سردار جهان خان او نجيب الدوله ځينې ځايونه د مرکزي دولت کندهار د پاره ونيول او حاکمان يې د ځان له خوا وګومارل. له بلې خوا حالات په ډهلي او لاهورکښې ګډوډ شوي ؤ.

## شپږم جنګي سفر:

په (۱۷۵۸ع- ۱۷۵۹ع) يو لړ مهمې پيښې مينځ ته راغلې. دجلندر پوځي مشر ادينه بيګ، دسکهانو له مذهبي تعصب څخه ګټه واخستله. له هغو سره يې اړيکې ټينګې کړې. پخپله د هٔ ته دقدرت شوق پيدا شو. غازي الدين چه د ثاني عالمګير وزير ؤ او احمدشاه بابا برطرف کړی ؤ او د هند چارې يې نجيب الدوله يا نجيب الله يوسف زي ته سپارلې وې؛ دغه غازي الدين له مرهټيانو سره يوځای شو. عمادالملک ثاني عالمګير مړ او د هغهٔ زوي ئې د شاه جهان ثاني په نامهٔ پادشاه کړی ؤ.

نصيرخان بلوڅ د احمد شاه بابا ملګري هم ملګرتيا پرېښوده. حالات سخت خراب شول.

احمد شاه بابا له بلوچستان نه شروع وکړه. خپل ملګري ئې بيرته پخلا کړل. نصيرخان چه پخلا شو بيا ئې د عمر تر پايه د بې وفائۍ نوم وانهٔ خيست. بيا د پښور لاهور او هند په لوري وخوځيد. قدم په قدم کارونه بيرته سميدل. همدا چه د احمد شاه بابا د راتګ آوازه به ګډه شوه؛ بيا نو ياغيان او باغيان اوسرکښ پوهيدل چه؛ څهٔ به کيږي؟ ځکه د احمد شاه بابا حربي لياقت او لښکري انضباط په هيڅ بل سړي

کښې نه ؤ.

وائي چه احمد شاه بابا يوه ورځ استازى چېرته ليږلى ؤ؛ استازى دشپې له خوا را ورسيد او ځان سره يې ويل چه سبا به د بابا حضورته ورشم . خبر به يې کړم چه احمدشاه بابا په جنګي لباس کښې له خېمې را ووت او ځواب يې واخيست. دى پخپل کار کښې ډير جدي ؤ.

مرهټه، راجپوت، سکهـ اونور هندي قومونه دشيواجي په مشرۍ راټول شوي وو. درې لکه پوځ يې جوړکړى ؤ.

دپاني پت په ډګرکښې دواړه پوځونه سره مخامخ شول. احمدشاه بابا له داسې جنګي مهارتو څخه کار واخيست چه افغاني لښکر له خپلوکموقواؤ څخه په سمه توګه کاروا خستلى شي. دغه جنګ دهند په تاريخ کښې خورالوي جنګ تير شوى احمدشاه بابا پخپله قوماندانۍ اوسرمشرۍ دمرهټې قوت مات کړ. يولک کسان ترې مړه او په زرهاؤ اسيران شول.

احمد شاه بابا هندو اسيران خوشې کړل او مسلمان اسيران چه له هندوانو سره ملګري شوي وو؛ هغه ئې اعدام کړل. ځکه احمد شاه بابا دهند دمسلمانانو دنجات او ژغورلو په نيت دغې جګړې ته ملاتړلې وه . په زرهاؤ افغانانو خپل ځانونه ددوئ دپاره قربان کړي وو. په لکونو څاروي، خزانې، وسلې په ميدان پاتې شوي وو. چه ټول کندهار ته راوړل شول.

دادى ډهلى لکه پخوا د افغانستان ديوه نماينده دولت په توګه دمسلمانانو په لاس کښې پاتې شو.

بريالى احمد شاه بابا بيرته کندهارته راستون شو. ددراني احمدشاه کتاب وائي چه دغه فتح کولاى شو؛ داحمدشاه حربي نبوغ وبولو.

دپاني پت جنګ دا ثابته کړه چه؛ دهند يوازنى قدرت دافغانانو دى. دلته دتعجب وړ خبره ده چه حاجي جمال خان داحمدشاه بابا په غياب کښې پورته کيږي او دبريالي احمد شاه بابا دپاره تشويش پيداکوي. مګر دعبدالله خان ديوان بيګي په هڅه دحاجي

ACKU

جمال او داحمد شاه بابا د ورارهٔ چه عبدالخالق نومیدهٔ اودسیسه کښې شامل ؤ؛ ددوئ حرکت شنډیږي.

دغه وخت دکندهار نوی ښار جوړيږي . احمد شاه بابا ، چه دلوي افغانستان پهٔ تأمین بوخت ؤ ؛ یولړ نورو کاروته یې وخت نهٔ موند. خوسره لهٔ دې ددهٔ دلښکر ټوله وسله خیمې او دځرمنې شیان داخل کښې جوړیدل او دغو صنایعو وده کړې وه. احمد شاه بابا پخپله دکارځایوته ورتی اوکاریګروسره ئې خبرې کولې او دهغوئ مسایل یې پخپله حل کول.

دبیلو تاریخونو پهٔ حواله کله چه نادر افشار دشاه اشرف افغان پهٔ مقابل کښې جنګیدهٔ ؛ پنځوس فرانسوي توپچیان ورسره وو . دپاني پت پهٔ جنګ کښې دانګریزانو عسکري متخصصین موجود وو. چه داحمدشاه بابا لهٔ ویرې ډیر لیرې ګرځیدل. دا وخت انګلیسان دتاجرانو پهٔ نامهٔ وو . افغانانو هغوئ پسارتیان یعنې دکانداران بلل او بل کوم اهمیت یې نهٔ درلود.

دهغوئ پلان داؤ چه ورو ، ورو هندته ننوزي. مګر داحمدشاه بابا دولت سره نژدې نهٔ شول. البته دشاه زمان پهٔ وخت کښې څرګندشول ؛ چه ایرانیانو انګریزان دشاه زمان افغان لهٔ لاسه خلاص کړل. او پخپل ځای کښې به خبرې پرې وکړو.

څو کاله وروسته ۱۷٦۳م سکهان بیا پرپنجاب راغلل. احمدشاه بابا اوددهٔ ملګري نصیرخان بلوڅ پسې ورغلل او هغوئ یې بیا تار و مارکړل. احمدشاه بابا دکویټې یود برخه نصیرخان بلوڅ ته ؤ بخښله. ځکه نصیرخان دنیشاپور او دهند پهٔ جګړه کښې بې ساری شجاعت ښودلی ؤ. دغه وخت احمدشاه بابا ترډهلي پورې لاړ اوټولې چارې ئې یوځل بیا سمې کړې .

پهٔ همدغه کال دبنګال پادشاه میرقاسم احمد شاه بابا نهٔ ؤغوښتل چه ددهٔ مرستې ته ورشي.

# ولي احمد شاه بابا بنګال ته لاړنهٔ شو؟

انګريزانو د بنګال ځينې برخې دميرقاسم لهٔ لاسه ونيولې. ميرقاسم دبنګال پادشاه احمدشاه بابا ته وليکل چه دانګريزانو دشړلو دپاره ورشي.

۱- سکهانو حملې داحمدشاه بابا پرمتصرفاتو، همداچه احمدشاه بابا به پهٔ نيشاپور، کندهار، يابل ځای کې مشغول وو؛ سکهانو به پرلاهور حمله کوله. احمدشاه بابا به‌چه نژدې ځايوکښې وُ؛ دوئ به پهٔ غرونو او ځنګلوکښې پټ وو. که‌څهٔ هم څوځله مات شول. عذرونه يې وکړل. بابا به وبخښل او تړونونه به ئې ورسره لاسليک کړل. مګر دوئ داتړول پهٔ چل کول.

۲- پهٔ کندهار کښې جاه طلبو هم دبابا له‌ليريوالي استفاده کوله او ددسيسو پهٔ فکرکښې به‌شول. چه‌دپښتنو دضداودفکر دنارسائي نتيجه چه احمدشاه بابا څوځله دغه‌ډول دسيسې هم شنډې کړې.

۳- انګريزانو د اروپائي تحفو او وسايلو او مختلفو ذرايعو لهٔلارې دډهلي مشران دبابا پرضد لمسولي وو او پخپله نهٔ مخامخ کېدل.

٤- احمدشاه بابا کهٔ بنګال ته تللی وای؛ نو بايد ډيره موده پاتې شوی وای مخالفينو پهٔ نيشاپور، کندهار او پنجاب کښې لهٔدې موقع ګټه اخستله.

پهٔ ۱۷٦۷ احمدشاه بابا کندهارته‌لاړ. هلته خبر شو چه دبخارا پادشاه هم محلي ايران تحريکوي؛ چه ددهٔ د حاکميت لاندې راشي. هغه حاکمان او واليان چه پهٔ ۱۷۵۱م شاه‌ولي صدراعظم مقررکړي وو: دماليې پهٔ ورکولو کښې پاتې راغلي‌وو. همدادی چه بابا شاه ولي خان صدراعظم مخکښې وليږهٔ او پخپله وريسې ورغی.

دبخارا پادشاه ، د حضرت محمد(ص) مبارکه خرقه احمدشاه بابا ته ورکړه او د صلحې پیشنهاد ئې وکړ. ځوانمرد ، مسلمان واقعي پښتون ؛ رښتیني افغان اعلیحضرت لوي احمد شاه بابا دمبارکې خرقې په حرمت ټول معاف کړل. هیچاته یې سزا ورنه کړه او بیرته کندهارته ستون شو.

احمد شاه بابا مبارکه خرقه کندهارته نقل کړه او غوښتل یې چه ددهٔ دمقبرې په پاسني پوړ کښې کښېښودل شي. مگر تر اوسه داکارنهٔ دی شوی. دخرقې مبارکې بیل تعمیر دی چه پهٔ حقیقت کښې موقتي ؤ.

## داحمد شاه بابا وروستی حربي سفر:

کندهارته اطلاع راغلې چه دمشهد والي دشاه رخ میرزا زوي نصرالله دکریم خان زند نه مرسته غوښتې اوځهٔ نورخیالونه لري.

پهٔ ۱۷۷۰م چه احمد شاه بابا پوه شو چه پهٔ مشهد او نیشاپور کښې دمغلو او انگریزانو لمسون شروع شوی؛ نو افغاني خراسان ولایت کښې ناکراري پیدا شوه. بابا چه دپنځه ویشت کلو جنگو دلوي افغانستان دتأسیس او ټینگښت پهٔ چارو کښې ستړی شوی ؤ ؛ مشهد ته لاړ. بیا ځوانمرد مسلمان، واقعي پښتون، رښتینی افغان اعلیحضرت لوي احمدشاه بابا دشاهرخ میرزا چه ړوند اوزهیرؤ؛ دبابا درشل کښې پهٔ عذر پریووت او بابا وباخښهٔ.

## د افغان لمر ژیړ شو:

ځوانمرد ، مسلمان، واقعي پښتون ، رښتینی افغان اعلیحضرت لوي احمد شاه بابا دافغان روح ناروغ شو. هغه انسان چه هیڅ اخلاقي کمبود ئې نه درلود او کامل انسان ؤ. دځوانمردی، رحم او عاطفې خاوند؛ دشکر دناروغی او هغه تپ چه ددهٔ پرپزه پیدا شوی ؤ؛ دناروغی پهٔ حالت کښې ئې افغاني مشران راؤبلل او د خپل ولیعهد خبره ئې پورته کړه.

مشرانو وویل: چه د پښتنو درواجو په مطابق ستاسو مشر زوي شهزاده سلیمان به ولیعهد وي.

بابا وویل: ستاسو خبره سمه ده. چه د پښتنو روایات دغسې دي. مگر سلیمان ظالم سړی دی. ما یو سړی ورته سپارلی ؤ پرهغه ئې ډیر ظلم کړی ؤ.

مشرانو وویل چه تاسو هغه سړي نه راضي نه وئ او غوښتل مو سزأ ووینې.

بابا وویل : صحیح ده. ما دغسې یو سړی تیمورته هم سپارلی ؤ. هغه څه وکړل تاسو ته معلومه ده !

څنگه چه احمد شاه بابا پخپله ظالم سړی نه ؤ. نو ظالم سړی که دده اولاد هم ؤ؛ دی ترې بیزاره ؤ.

مشران قانع شول. بابا د ۱۷۷۲ د اکتوبر ۲۳ د جنت دزینت دپاره په علوي سفر ولاړ.

ACKU

# د احمد شاه بابا شخصیت

# د افغان د پاره سرمشق

ټول مؤرخین متفق الرأی احمد شاه بابا، پرهیزگار بولي او په شریعت کلک ولاړ،
ټول مؤرخین احمد شاه بابا مسلط پرخپل نفس بولي.
ټول مؤرخین احمد شاه بابا عادل، د رحم او عاطفې خاوند بولي. له سړي وژنې ځخه ئې کرکه درلوده. د جګړې په هره شیبه کښې چه به غلیم امان غوښتې په همغه شیبه کښې امان ورکړ شوی. هرچاچه ده نه غوښتي چه وبخښل شي، بخښل شوی. هیڅوک یې سپک کړی نه دی. قتل عام او ښارونه یې وران کړی نه دي. د عالمانو او روحاني خلکو درناوی ئې په هرځای کښې کړی دی.
د ښځو حرمت یې ساتلی. د هیڅ دښمن ناموس ته دده په دوره کښې په بد نظر کتل شوي نه دي.
ټول مؤرخین وایې احمدشاه بابا شاهي لباس نه اغوستی او پرتخت نه کښېناست.
ټول مؤرخین وایې احمد شاه بابا دعیش اوعشرت مجلس نه دی جوړ کړی؛ د موسیقی اوریدوته نه دی ناست.
احمد شاه بابا د ښکار شوق نه درلود. د ښکارځایو ته د مرغانو او ځارویو لیدو ته تللی خوښکارئې نه دی کړی اوپر ټولو حیواناتو او مرغانوئې زړه خوږیدی.
ټول مؤرخین وائي احمد شاه بابا هیڅ ډول اعتیاد نه درلود. احمد شاه بابا ساده خوراک کاوه او ساده جامې یې اغوستې. له شاعرۍ او لیکوالۍ سره یې علاقه درلوده.
د ټولو مؤرخینو په اتفاق نظر وائي چه جسماني تکلیف ئې چاته نه ورکاوه. تر دې چه خلک ئې له دې نه هم منع کړي وو چه د احمد شاه بابا په مخ کښې د هغه د احترام د پاره سر ټیټ کړي. خپلې کورنۍ ته ئې د هیواد په چارو کښې د مداخلې حق نه ورکاوه.

احمدشاه بابا په هيڅ جګړه کښې لۀغليمه تښتيدلی نۀدی.

احمد شاه بابا پۀ ورين تندي لۀ هرچاسره خبرې کولې.

احمدشاه بابا منصف سړی ؤ. هيڅکله ئې بې انصافي نۀده کړې

فيرير وائي دی ( احمدشاه بابا ) له دوه مخی، حرص او ظلم نه فارغ اوليرې ؤ.

الفنستن وايې : دی ( احمدشاه بابا ) خندان، مؤدب ورين تندی او د ښه سلوک خاوندؤ په رسمي او دولتي مـواقعـوکښې يې لوړ شان اوشوکت غوره کاوه او په نور مـواقعـو کښې ساده او عادي. لکه د نور وپښتنو اوسيدلی.

ډاکټـر ګنډاسنګهـ وائي: د احـمـد شـاه ( بابا ) نبـوغ دهغـه پۀغـوره پوځي شـهکاريو کښې خپله بشپړه څيره څرګندوي. دۀ دخپل پوځي اوسربازی دمسلک ترځنګ لوی بشري صفتونه درلودل. لوي افغان چه ديوۀ سرباز پۀ توګه خدای پيدا کړیؤ، پۀذاتي ډول دخلکو لارښود، رهبر يو زړۀ سواندواکمن، يو توانمند ادارچي او دپوهې او ادبياتو حامي ؤ.

دی زياتوي: دۀ ( احـمـد شـاه بـابا ) يوډير لوړ، زړۀ وکـښـونکی اوجـذاب شـخـصـيّت درلود. پۀ رښتياهم احمدشاه (بابا ) پۀخپل نوراني مخ او ښساري خوي کښې داسې څۀ درلودل ؛ چه د ټولو تمجيد او محبت دده پۀ برخه ؤ.

الفنسـتن زياتوي: دۀ هر زيارت علمـأ، فـقـرأ اوديندارە ملنګان دشپـې ډوډی تـه رابلل. دی پخـپله هم متـقي سپـيـڅلی سړی ؤ . تل يې ديوۀ ولي دکرکټـر ليـوالتـيـا درلوده. دی پخـپله پۀخـپل قـول ډير ټينګ ولاړ ؤ. ددراني احـمـد شـاه کـتـاب وائي: احمدشاه ډيرې ساده جامې اغوستې. پۀ سختی سره ددۀ توپير له نورو سره کېدای شو.

مهربان واکمن احمدشاه هيڅکله بې دليله اوبې احتياطه توره نۀايستله. دۀ هيڅ وخت ميل نۀدرلود؛ چه حتیٰ خپل سخت دښمنان مجازات کړي . دۀدمجرمينو دپزې اوغوږ پرې کول بند کړل او د مرئي دوژلو حق ئې لۀ خاوند نه واخيست.

احمد شاه (بابا ) غير متجانس قبيلې سره متحد کړې. او يومتجانس افغان ملت

ئې ترې جوړ کړ. دهٔ خپل ملت دبهرنيو دتسلط لهٔ جغ نه خلاص کړ. لهٔبيلابيلو افغاني سيموڅخه ئې يو سياسي واحد افغانستان جوړ کړ.

دفيرير پهٔ قول «داحمد شاه (بابا) حکومت يوفدرالي جمهوريت ته ورته ؤ او ددې پرځاى چه مطلقه پادشاهي وکړي؛ددغه جمهوريت مشرؤ. دهٔ خپلو خلکوته د آزادۍ اوملي غرور روحيه ورکړه. ددهٔ حضورته هم څوک نهٔ ټيټېدل. يوازې به يې پرتندي لاس کښېښود. همدغه طريقه سلام او احترام دواړه ؤ.

دښځو حقوق پهٔ ښهٔ صورت سره تأمين شوي وو. ددراني احمد شاه (بابا) کتاب کښې ليکي: احمد شاه (بابا) دښځو موقف اوچت کړ. دطلاق په موضوع کښې نارينه زيات امتيازات درلودل له مينځه يوړل. دهٔ پهٔ جدي توګه دکونډو ودول منع کړل. البته بې له خوښې ددې دپاره چه نجلۍ خارجي ميړهٔ وکړي. دپلارجايداد ځان سرهٔ بهرووړي؛ نو لونه ميراث اخستلی نهشي، اوهم ځيني دنجلۍ دجايداد پهٔ نظرکښې نيولو سره وادهٔ کوي. البته ناداري لور سره پلار، مور او ورور هر وخت بايد مرسته وکړي.

فيرير وائي: «هغه قوانين چه دهٔ (احمدشاه بابا) دخپل سلطنت پهٔ دوران کښې جوړکړل پهٔ سختۍ او شدت سره عملي کېدل. خپلې اولادې ته يې امر وکړ چه هماغسې چلند وکړي او بيل افغاني قبايل ئې دخپل قانون تابع کړل. ليکوال زياتوي: «دهٔ خوا خوږي او زړهٔ سوی پهٔ عين مؤدبانه شان او شوکت کښې نوروته وښود. احمد شاه بابا بې لهٔ دې چه سخته اوتنده خبره وکړي عدالت چلاوهٔ. دوست او دښمن صلح غوښتونکي اومتخلف هيڅ يوهٔ ددهٔ (احمدشاه بابا) لهٔ قضاوت څخه شکايت نهٔ درلود.

ګنډاسنګهـ وائي: هغه ستر کار چه احمدشاه ترسره کړ؛ داؤ چه افغانان يې ديوهٔ ملت پهٔ حيث متشکل کړل. دوئ ته ئې يوه خپلواکه ځمکه وبخښله او پهٔ نړۍ کښې دی (افغان بابا) دافغان ملت پلار بلل کيږي؛ ديوهٔ افغان پهٔ حيث دهٔ خپل ټول فعال ژوند دافغانستان دسر لوړۍ اوجلال دپاره وقف کړ.

احمد شاه بابا یو داسې معنوي اومادي میراث افغانانوته پریښود؛ چه هروخت دغه ملت وغواړي؛ کولای شي؛ خپل ملي ژوند تنظیم کړي.

## یوه مقایسه:

د خدای تعالی مهرباني او مرحمت دی چه داحمدشاه بابا په باب بهرنیو مؤرخینو په سلهاؤ کتابونه لیکلي اوټول دغه لیکوال داحمدشاه بابا دژوند اوشخصیت په برخه کښې یو شان عقیده لري؛ چه مخکښې په لنډه توګه دهغې یادونه وشوه.

اوس به دیوه دوو خلیفه ګانو دربار تاسوته دتاریخ په حواله وښیو؛ چه افغانان دخپل پلار دشخصیت په پیمانه پوه شي.

عیناً دهنګامهٔ تاریخ ۸۸ مخ:

گویند روزی معتصم بالله خلیفه ، مجلس شرابی بیاراست وهردم به سراپردهٔ مجاور رفته وبرمی گشت ، باز شراب می نوشید واز مردم نزد حضار به سراپرده می رفت.

چند بار این عمل را تکرار کرد تا آنکه به گرمابه رفت وسپس به حاضرین اعلام شد که خلیفه نابهنگام به مسجد رفتند ونماز می خواند. طولی نکشید که معتصم به مجلس بازآمد. قاضی یحیی که مقام ومرتبه او بیش ازدیگران بود ؛ پس از نیایش عرض کرد : یا امیرالمؤمنین عبادت خدا درهر زمان نیکوست ولی حمام ومسجد رفتن خلیفه درین موقع روز خارق العاده می نماید.

معتصم بالبخندی گفت: این نماز برای شکر نعمتی از نعمتهای خداست که درین ساعت سه دختر را بکارت برداشتم که آنهادختران سه دشمن من بودند. یکی دختر ملک روم ویکی دختر بابک خرم دین ودیگر دخترافیشن پهلوان بود .

دهغو کسانو دپاره چه په فارسي نه پوهیږي؛ دمعتصم بالله عباسي خلیفه خلیفة المسلمین ؤ. یوه ورځ ئې په مجلس کښې شراب څکل اوبیا به بل سرای ته لاړ. بیرته به راغی. ببا به یې شراب څکل او بیرته به لاړ. یوه پلا وویل شول خلیفه جومات ته

تللی اولمونځ کوي. لږ وروسته خليفه بيرته مجلس ته راغی. قاضي يحيیٰ چه لهٔ نوروئې مقام اوچت ؤ؛ وروسته لهٔ غورمالیو پوښتنه وکړه: يا اميرالمؤمنين! دخدای عبادت هر وخت کښې ښهٔ دی. مګر د ورځې پهٔ دغه وخت کښې عجيبه ده.

معتصم پهٔ موسکا وويل: دغه لمونځ دخدای دنعمتو ديوهٔ نعمت دشکر دپاره ؤ. پهٔ دغه ګړۍ کښې مې ددريو پيغلو پيغلتوب واخست؛ چه زما ددريو دښمنانو لوڼې وې يوه دروم دپادشاه لور وه. بله ئې دبابک خرم دين لور وه او بله يې دافيشن پهلوان لور وه.

دهند دمغلي پادشاهانو هم دغه حال ؤ. خو پښتانهٔ ئې پهٔ دې وژل چه داسلام دپادشاه پهٔ مقابل کښې پاڅيدلي. دغه ډول عباسي خليفه ګانو افغانان ځکه وژل؛ چه دپيغمبر دوارث يا خليفة المسلمين مخالف دي. ځکه يعقوب دوارث يا خليفة المسلمين مخالف دی. ځکه يعقوب صفار دهٔ ته پاڅيد او د خليفه فرمان ئې څيرې کړ. ماکولای شول پهٔ سلهاؤ داسې مثالونه وړکړم خو زمونږ هدف دانهٔ دی.

آيا که دغه ډول تيټ خلک له هغه افغان پادشاه سره مقايسه شي چه دوه ويشت کلن ځلمی ؤ او دهغه دربار چه د ايران د صفوي دربار وزير ورته پهٔ اصفهان کښې جوړ کړیؤ او د لګهارت لهٔ قوله دوه سوه ارمني او نورې ښکلې پيغلې يې شمع پهٔ لاس ورته درولې وې. افغان ځلمی شاهنشاه محمود لهٔ دغه مجلسه پاڅيږي او اتهٔ مياشتې پهٔ توره کوټه کښې ځان بندي کوي اودخدای عبادت کوي. وچه ډوډۍ او اوبهٔ ئې خوراک وي.

خدای دې وکړي چه پښتانهٔ او افغانان لهٔ خپلو مشرانو ډيرڅهٔ زده کړي او مطلب هم همدادی چه دملي رغاونې تاريخ رامينځ ته شي.

يوافغان به داياز او محمود لهٔ داستانه څهٔ زده کړي او څهٔ شخصيت به ورکړي يادنورجهان اوشاه جهان دتاج محل نه به څهٔ پندواخلي؛ چه پرپښتنوئې داسلام پهٔ نامهٔ حکومت کاوهٔ. دهارون الرشيد ميرمنې زبيده خاتون دبيسرو قصه چه هرڅوک مجبورؤ ؛ دزبيدې دپيزولاس ښکل کړي. ددغسې جبارانو پهٔ مقابل کښې مبارزه هم

لهٔ اسلام څخه مخالف بلل شوې او پهٔ زرهاؤ خلک شهیدان شوي دي.

وروسته لهٔ دغو مقایسو بیرته راګرځو د خپل بابا قصو ته؛ چه زړهٔ مو بیرته خوښي ومومي.

## قوي استخبارات:

د احمدشاه بابا عدالت او اداره بیله لهٔ معلوماتو؛ نه ؤ. څرنګه چه احمدشاه بابا دملت پلار ؤ؛ عامو خلکو ددې دپاره چه دعزت او شرف کورته صدمه ونهٔ رسیږي؛ نارینه او ښځو احمدشاه بابا او ددهٔ دولتي ارکان باخبره ساتل.

احمدشاه بابا دخلکو لهٔ پټو اسرارو هم باخبره ؤ. همداوجه وه چه ددهٔ پرضد څو دسیسې ژر څرګندې شوې اودامپراتورۍ دګوټ ګوټ لهٔ حالاتو باخبره ؤ. لهٔ همدې امله ده،کله به چه یوه دسیسه پهٔ نیشاپور یا ډهلي کښې جوړیدله؛ احمدشاه بابا به مقدماتي پوغ هلته استاوهٔ.

دولتي او قومي مشرانوته به ئې پهٔ مؤدبانه شکل یا پهٔ رمز کښې دځینو مسایلو یادونه کوله چه هغوئ ځانونه اصلاح کړي. او دا ئې پهٔ ځینو خلکوکښې دبابا دولایت یا کراماتو نخښې بللې. البته ددهٔ قوي استعداد او تحلیل؛ داخبارونو دربط ورکولو پهٔ برخه کښې فوق العاده ؤ. مګردی حریص نه ؤ. عیاش نهٔ ؤ. ظالم نهٔ ؤ. ددهٔ ټول ژوند دامپراتورۍ د خلکو دهوساینې دپاره وقف شوی ؤ. نوځکه یې خلکوته داسې اشارې ورکولې؛ چه هغوئ لهٔ خپل وجدان سره محاسبه وکړي او پهٔ دې صورت یې ملي وجدان ورروزهٔ.

## سیمه ایز ویش:

احمدشاه بابا پهٔ ختیځ او لویدیځ کښې تر ډیرو ځایو رسیدلی؛ مګر دلوی افغانستان سیمې ئې لهٔ مفتوحه علاقو پهٔ توپیرکښې ګڼل کېدې.

د احمدشاه بابا پهٔ وخت کښې افغانستان درویشت ولایتونه او اعلی حکومتونه لودل. دمؤرخ لهٔ قوله داحمدشاه بابا پهٔ کتاب کښې شل میلونه نفوس ؤ،چه هغه

وخت ډېرخلک ؤ. ځکه دنړۍ نفوس وروسته زيات شوی.

احمدشاه بابا دشمېر او نفوسو اداره هم درلوده.

درويشت ولايتونه او اعلی حکومتونه دادي: کندهار، هرات، کابل، بلخ ، خراسان، پنجاب ، کشمير، سند، سرهند، بلوچستان ، ډېره اسمعيل خان، ډېره غازي خان، شکارپور، سيوۍ، چچ هزاره ،ليـهـه، ملتان، فراه، ميمنه ، غزنی، پيښور ،لغمان بدخشان . لهٔ دغو درويشتو ولايتو او اعلی حکومتو څخه پهٔ مشکل نهه ولايتونه يا اعلی حکومتونه پاتې دي. ولې؟ ددغه سوال ځواب به پهٔ دوهمه برخه کښې راشي. ځکه لاهم يو څو خبرې د احمدشاه بابا پهٔ مورد کښې لرو. خو لنډ ځواب دادی چه دميرويس نيکهٔ او احمدشاه بابا خط پاتې شو. دهغه داصولو رعايت ونهٔ شو او مونږ پښتونواله او افغانواله پرېښوده.

مادي او معنوي ميراث افغانانو ونهٔ شو ساتلای او تباهي به لا دوام لري. څو خپلو اصولوته راونهٔ گرځو. ځکه ډېرمو بايللي اولږ پاتې دي.

## کاريگر ټولواک :

ميرغلام محمد غبار داحمدشاه بابا پهٔ کتاب کښې اوگنډاسنگهـ ددراني احمدشاه پهٔ کتاب کښې يوې بلې موضوع ته پاملرنه کوي. هغه داچه احمدشاه بابا دتوپ پهٔ جوړولو کښې خورا زيات مهارت درلود. پهٔ ۱۷۵۱م کښې دنيشاپور دمحاصرې دماتولو دپاره دهٔ يخپله توپ جوړکړ؛ چه دمحاصرې پهٔ ماتوولو کښې ئې مهم رول ولوباوهٔ. پهٔ ۱۷۵۷م کښې پهٔ لاهورکښې احمدشاه بابا دشاه نذيراستاد پهٔ مرسته يوتوپ جوړ کړ چه زمزمه نوميدهٔ. زمزمه اوس هم دلاهور دمرکزي موزيم ترمخې ولاړدی او دپاني پت پهٔ جگړه کښې استعمال کړای شو ۱۷۶۱ .

کتاب وړاندې ليکلي:احمدشاه ( بابا ) دجنگي تجهيزاتو او وسلو دفابريکو پهٔ برخه کښې شخصاً علاقمندي درلوده.

احمدشاه بابا پهٔ پښتو او فارسي ليکنې کولې. اشعارېې اوس هم موجود دي. پهٔ مروجه علومو تاريخ او ادبياتو ښهٔ پوهيدی. پهٔ پښتونواله اونورو افغاني رواجونو، ثقافت او هڅوب ترهرچا ښهٔ خبرؤ. افغاني تاريخي حدوديې سم پيژندل. چه دصفاريانو، غزنويانو او غوريانو له خوا تأمين شوي وو. پهٔ هند کښې د پښتنو پادشاهانو پهٔ تاريخ، داموي او عباسي خلفاؤ تاريخ او دايران پهٔ ټولو مسايلو پوره پوهيدلی ؤ.

بابا د تاريخونو پهٔ تاييد: حربي اتل، ادارچي، کاريگر، اديب، ولي الله او عالم ؤ. بيل بشري صفات او مهارتونه پهٔ دهٔ کښې يوځای شوي وو. (آنچه خوبان همه دارند توتنها داری).

## د احمد شاه بابا مبارکه څيره :

پهٔ ۱۷۶۷ع کښې چه داحمدشاه بابا نيک مرغه عمر د پنځهٔ څلويښتو کلو ؤ ؛ دوه هندي ليکوال ددهٔ پهٔ حضور مشرف شوي ؤ.

ددهٔ مبارکه څيره تعريفوي. پهٔ ونه جگ، غښتلی، مخ پهٔ څوربوالي، مخ يې گرد، زرهٔ راکښونکی، ښکلې توره ږيره، رنگ يې سپينوالي ته مايل دی. چه ددهٔ مخ ددهٔ عظمت او فوق العاده ذهن اوذکأښيي.

## عملي او اجتماعي پرمختگ :

داچه يو خپور ملت ته يې وحدت ورکړ او دهغه طبيعي حدود او سياسي حدوديې تأمين کړل. کندهار دصنعت او تجارت مرکزؤ. دبيلو بيلو صنايعو ماهران پهٔ کښې را غونډ شوي وو. دبيلو بيلو هيوادو سوداگرو دلته ژوند کاوهٔ.

دغير مسلم تاجرانو، صنعتکارو او اوسيدنکو دپاره پوره مصؤنيت موجود ؤ او خپلو مذهبي مراسمو کښې خپلواک ؤ.

دغه ښار پهٔ تمامه معنیٰ يو مدني ښارؤ. چه دغه حالت دافغانستان پهٔ ټولو ښارونو کښې موجود ؤ.

دکندهار، تاشقران، ښارونه جوړ شول. هرات، کابل، مشهد، نیشاپور، پېښور ښارونه ترمیم شول. داټیک اونورډیر واړهٔ ښارونه او مرکزونه جوړ شول. شاعران او لیکوال ددهٔ پهٔ محضرکښې حاضرؤ. علماؤ علمي بحثونه کول. ددهٔ دعصر وقایع پهٔ نظم او نثر لیکل شوي. داحمدشاه بابا پهٔ برخه کښې پهٔ سلهاؤکتابونه لیکل شوي خو تراوسه مونږ یومختصر معلومات پهٔدې برخه کښې لرو.

مونږ داحمدشاه بابا لهٔ پوره حالاتو وروسته خبریږو. هغه څهٔچه ددهٔ پهٔ برخه کښې پهٔ افغانستان کښې خپارهٔ شوي؛ ډیر لږوو. بوازې میرغلام محمدغبارچه کوم کتاب داحمدشاه بابا پهٔ باب لیکلی؛ داحمدشاه بابا شخصیت، کارنامې او رښتیاني عظمت پهٔکښې ثرګندشوی. دکتاب کمال پهٔ دې کښې دی چه کهٔلنډدی خومکمل هم دی. کهٔ چرې ټکي پهٔ ټکي حافظې ته وسپارل شي؛ ګټوره خبره ده. داچه احمدشاهي شهنامې لیکلی شوي؛ ډیرې لیدل شوې. مګر پهٔ متن یې نهٔپوهیدلو. لهٔ نیکه مرغه دسپیدې مجلې ددغو شهنامو څوبیتونه خپارهٔکړي؛ چه دډکتور پالوال پهٔمضمون کښې راغلی او دلته هم رااخستل کیږي.

داحمدشاه بابا میړانه او بشري اخلاق او ځوانمردي دبشریت پهٔ تاریخ، پهٔ بني نوع آدم کښې ډیر لږ لیدل کیږي.

محمود الحسني پهٔ دغو بیتوکښې داحمدشاه بابا توجه دهرات پهٔ لورښیي:

که جنبید شاه کواکب زجای / بهار است ونوروز عشرت فزای
طبل وعلم آمد ازماه ومهر / به میدان کین شهسوار سپهر
زبرق درخشان وبارنده میغ / فضای فلک شد پراز تیر وتیغ
فرو ریخت تیر تگرگ آسمان / زقوس قزح کرده برزه کمان
فروکوفت رعد از افق کوس جنگ / به جنبش درآمد سپهر دورنگ
برآنم که من هم درین نوبهار / روانه شوم سوی ایران دیار
نخستین زاعدا بگیرم هرات / زنم کوس اقبال برشش جهات
که آن ملک میراث آبایی ماست / تصرف درو غیراکی رواست
ازان پس سوی ارض اقدس روم / مشرف به فیض زیارت شوم
نشانم زنو شاهرخ را بتخت / شود تادل دشمنان لخت لخت
کنم برسریرش دیگر مستقل / که گردند بدخواه او منفعل
زاعدای آن شه برآرم دمار / نشانم فرو فتنهٔ روزگار
عطایش کنم جمله ایران زمین / بفرقش نهم تاج وبخشم نگین

**

وزان پس چنین یافت فرمان صدور / که لشکر کند سازآن راد دور
بنوعی که تا هشت ماه درست / نباید کسی را زکس توشه جست

**

سپاهی چو جمع آمد ازهر دیار / بفرمود خاقان جم اقتدار
که نام آوران سال لشکردمند / زخود وزره زیب وزیور کنند
کشیدند صف سروران سپاه / زگرد سپاه آسمان شد سیاه
سنانها بدوش یلان پرشکوه / چوبرق درخشان زبالای کوه
علمها چو خوبان بالا بلند / رساندند براوج گردون کمند
[illegible] آهنان با کمرهای زر / شد آراسته کوه هااز کمر
پلنگان کوه ونهنگان آب / نشسته براسپان صرصر شتاب
چه گویم زاسپان آگنده ران / که فربه شد ازوصف شان داستان
اگر بگذرد افتاب زشتاب / نیفتد برآن پرتو آفتاب
برفتن سبک روچو باد بهار / بلی چنین نیفتند از ودربهار
سبکبار زیر سلاح گران / چوآتش که باشد درآهن نهان

پی عرض لشکر سپه سروران　　نمودند پابوس کشورستان
کشادند زبان رابه صداحترام　　که ای آفتاب فلک احتشام
تویی آن سرفراز فرخنده بخت　　که آفتابت بود تاج وتخت
زتوهمتی جانفشانی زما　　کرم از تو کشورستانی زما
نمودند لشکرنویسان عمل　　بفرمان خاقان دین ودول
حواله نمودند ازبی شمار　　بهرکس زافواج نصرت شعار
زانعام واکرام وجودشهی　　خزاین شد ازدروگوهر تهی
باحسان درگنج زانسان کشاد　　که شد نام حاتم فلک را زیاد
کسی راکه شه چقه برسرنهد　　بپاداش آن در رهش سرنهد

**

شتابان بدرگاه شاه آمدند　　امان جویی زنهار خواه آمدند
کشادند لب به تقصیر خویش　　که لطف عامت زاندازه بیش
بدیها زنابخردی کرده ایم　　تونیکی کن از ما بدی کرده ایم
ببد خوبجز نیک خویی مکن　　بجای بدی جز نیکویی مکن
مده ناتوانی نکویی زدست　　که آید بد ازدست هرکس که هست

**

هژبران پرکین درآن داوری　　نمودند آهنگ جنگ آوری
هوا قیرگون شد زگردسپاه　　شده تیره رو دیدهٔ مهروماه
زغریدن کوس وشور یلان　　بلرزه درآمد زمین وزمان
زبس برق می زد سنان سپاه　　نظر خیره می شد درآن رزمگاه
زآن قبایان خنجرگذار　　ستاده بهرسو هزاران هزار
تفنگچی چه گویم بطرفی چه بود　　زجان مخالف برآرند دود

**

ACKU

درخشید تیغ خارا شگاف — ربوده سیاهی شب ازمصاف
زنیزه گذاران درآن دشت جنگ — نشان داده از نیستان وپلنگ
دهل میخروشید بسان شیر — یلان رابه پیکارکرده دلیر
کماندار وجوشن درآن صدهزار — پی حرب گردیده بس بیقرار
زآواز طبل وصدای یلان — برقص آمده اسپ درزیرران
گروهی زدرانیان ازهرات — همه رزم جوی وشجاعت صفات
گروهی زافغان بافروجاه — همه نامداران زرین کلاه
همه بوده ازملک احمدشهی — که سازند میدان زدشمن بهی
زمهمند وورد ک بسی نامدار — که بودند هریک چون اسفندیار
گروهی قزلباش وازبک بهم — زده از شجاعت چوشمشیردم
گروهی زبلخ وثمرقند ودشت — که پیکان شان ازحجر میگذشت
بس سیستانی وهم زابلی — زافغان غلجائي وکابلی
گروهی زتاجیک وتاتار وروم — گروهی دلاور زهرمرزوبوم

ACKU

# احمد شاه بابا او هندوستان

الفنستن دکابل سلطنت په کتاب کښې ليکي: « دپانی پت ترحگړې وروسته داسې ښکاريده چه ټول هندوستان داحمد شاه (بابا) په لاس کښې وي. خودی پرهغه پلان ودريد چه مخکښې ئې طرح کړی ؤ ».

هندوستان يو لوي او پراخ هيواد ؤ. په دغه صورت کښې چه دهٔ ټول هندوستان نيولای وای؛ هرومرو به مرکز هلته ؤ. نو دسوريانو، لوديانو، غوريانو تاريخ به يوځل بيا تکرار شوی ؤ. لکه څنگه چه پخوانيو پښتنو خپله ژبه او کلتور هلته دپيړيو په موده کښې هير کړ دغسې به بيا هم شوي وو. اوس هم په هند، کشمير او پاکستان کښې زيات شمېر دراني اوسيږي؛ خو دهمدغو ملکونو خلک دي.

بله دا چه احمدشاه بابا افغاني حوزه تأمين کړې وه. دچا دملک دنيولو اراده ئې نه درلوده.

ځينې ليکوال ديښتنو يورته تلل: دهندوستان، ايران او بخارا دهيوادونو دکمزوري حالت نتيجه بولي او دافغاني امپراتورۍ نړيدل دښا اوخوا دولتو قوي کېدل. خو کهٔ چيري لوی افغانستان دخپلو پښتنو په لاس نهٔ وای ړنگ شوی؛ دلوي افغانستان دولتو کولای شول؛ ځيل برم وساتي. څرنگه چه مخکښې موهم ديوهٔ انگليس لهٔ خولې داخبره کړې؛ چه « شاه زمان يرته لهٔ خارجي قدرته کولای شي: انگليسان لهٔ هندوستان څخه وباسي. نو ښه به دا وي چه پهٔ داخلي کړکيچو اخته وي! ». يرون، نن، سبا وطنپالنه او ځيل قوه سره مينه زمونږ د زړځو دړمل ؤ. دی او وی به

# زرغونه انا او ددې سبق!

ما چه د نازو انا مضمون ددعوت د جريدې دميرمنو په برخه کښې وليد. سمدلاسه بله آنا را پهٔ ياد شوه. مونږ ددې اناگانو چه څومره يادونه وکړو؛ هغه به بيا هم لږه وي. کومه قصه د زرغونې انا چه مالوستې: يامې آوريدلې هرگوره هيڅ مې نهٔ هيريږي. بويه داچه يو ځل يې ووايه کهٔ څوک خبرنهٔ وُ. ډيره به يهٔ زرهٔ پورې وي.

د زرغونې انا دلوړ شخصيت پهٔ باب دابس دی چه ددې پهٔ غيږ کښې احمد شاه بابا لوي شوی دی. لکه چه څرگنده ده داحمدشاه بابا لهٔ ځيږيدو سره ددهٔ پلار وفات شوی. او زرغونی انا خپل ذر دران پهٔ خپل تدبير او پوهې ساتلی او رسولی دی. زرغونه پرمونږ حقداره ده. مونږ لهٔ دې ممنون يو. دې پرمونږ احسان کړی. قصه داده!

احمد شاه بابا غوښتل دکندهار دښار چاپير دفاعي خندق وکيني. شور اوځوگ ؤ دخندق کارپهٔ بيړه روان ؤ. پهٔ دې کښې دزرغونې انا پام شوچه څهٔ روان دي!

- انا دا څهٔ روان دي؟

- د کندهار چاپير دفاعي خندق جوړيږي!

- انا امروکړ احمد راولئ!

يومشر مأمور داحمد شاه بابا حضورته ورغی - انا تاسو غواړي!

احمد شاه بابا راغی او دخپلې مور حضور ته پهٔ ادب ودريد چه مورې څهٔ امردی؟

- انا څهٔ شور او ځوگ دی؟

- احمد شاه، دفاعي خندق جوړيږي ددې د پاره چه ...

... ما داسې فکر نهٔ کاوهٔ چه ته پهٔ خندقو ځان ساتې.

... پهٔ ليری پولو کښې ودروه. چه ترديځايه را ورسيدهٔ بيا پهٔ خندق ځان ساتې؟

... تاريخ کښې ليدلی چه پهٔ خندق څوک بينگ پاتې شوي وي؟

خلکوته،خپلو هیوادوالوته دا پهٔ فکر کښې مهٔ ورکوه چه دښمن به تردې ځایه را رسیږي!

احمدشاه بابا: ښه موږې ستاسو امربه همدا اوس پرځای شي.

احمدشاه بابا د انا امر تهولوته ورساوهٔ. کله‌چه ددوئ دخبرې نزاکت ته پام‌شو پرآنائې آپرین‌وواپهٔ اوشکرېې ووایه ؛ چه خدای تعالی افغانانوته داسې مور ورکړې داسې آنا، سلامونه پردې انا . داسې سبق ئې خپلو زامنو او لمسیانو ته ورکړی چه کهٔ چا دغیرت دغه سبق دصالح اولاد پهٔ توګه اخستی‌وای؛ هیڅکله به‌ددغه ناتارښکار شوي‌نهٔ‌وای دزرغونې‌انا ددغه سبق لوستل او زده‌کول بیا خپلوراتلونکوته ویل زمونږ دړنځونو دوا ده. لوړ فکر، غیرت، همت لهٔ‌یوه پاخهٔ تهکي زده کیږي.

کله‌چه زرغونه انا کونډه شوه؛ دې دخپل زوي د ځیب (مصؤن) ساتلو دپاره داسې رویه غوره کړه؛ چه هم‌یې ځان پهٔ سپین‌سروکښې وشمارهٔاو هم‌ئې دزوي دپاره دښې تربیې لاره غوره کړه. ( درانی احمدشاه دکتور ګنډاسنګهـ ) احمدشاه‌بابا لهٔ دولس کلنی څخه بیا ماشوم نهٔ. یومدبر، حیاناک، زړور ځلمی ؤ. کله‌چه الله تعالی پریوهٔ قوم مهربان شي؛ بیا هغه قوم ته زرغونه انا پهٔ‌نصیب کړي. که‌بیاهم الله تعالی لهٔ‌دې توفانه وساتلو، مونږ به‌دنازو انا اوزرغونې انا قبرونه داسې جوړکړو چه‌دافغان انا عظمت لهٔ ورایه پهٔ‌کښې څرګندوي. هره‌افغانه ښځه چه هغه وګوري؛ لهٔ ځانه سره ووائي: چه زهٔ هم‌ددوئ پهٔ‌شانې افغانه یم. زما دنده به‌دهیواد پاره څهٔ وي؟

ؤلسي شاعر قاسم‌علي اپریدی‌چه هندوستان دانګریزانو پهٔ‌لاس کښې ویني؛ نو وائي:

اوس پهٔ‌هند چه خدای پیدا کړه فرنګي
دافـرقــه دنـصـاراؤده جـنـګـي
نـصـاراپهٔ هندوسـتـان حکومت کـانـدي
چیـرته‌لاړ هغـه‌ځـوانان شـمـشـیـرنـنګي
بقـالانؤسـپـاهي پهٔ هـندوسـتـان شـو

درویزه کاندي اشراف چونګي چونګي
حیف درحیف دی چه حرمت داشراف نشته
په اسلام هسې راغلې ده تنګي
احمدشاه درانی نشته دی یارانو
چه په سرکاندي افسرحبشي زنګي

تر دهٔ د مخه علم خان اپریدي ؤلسي شاعر داسې وویل:

پهٔ دا دور چه احمد شاه پادشاهي کړه پهٔ هندو پهٔ مغول غم ؤ ماښادي کړه

# د میرویس نیکه سیاست

میرمحمد صدیق فرهنګ دافغانستان درپنج قرن په کتاب کښې لیکي: میرویس (بابا) دهند امپراتور او دایران پادشاه ته داسې لیکونه واستول چه په هغه کښې ئې بوه ته هم مطلب په لاس نه دی ورکړی. ددغو لیکونه دامید او تهدید نه ډک ؤ. په حقیقت کښې ددغو بوهه او سیاست تردواړو اوچت ؤ.

دادی د ښاغلي بینوا دمیرویس نیکه له کتاب څخه دغه دواړه لیکونه رانقلوو چه دملي تاریخ لوستونکي دقت په کښې وکړي.

لومړی لیک: تر القابو وروسته « په دې تقریب کښې چه تاسو ماته اجازه راکړې وه او دمخه مې جسارت کړی، تاسو ته مې خپل عرض وړاندی کړی ؤ؛ چه باید دګرګین اوضاع او حالات تر مراقبت او څارنې لاندې وساتل شي. ځکه چه ما ویل ددغو حرکتونو به په مملکت کښې دفتنې سبب شي. اوس زما هغه پیشګوئي رښتیا شوه کوم وخت چه زه کندهار ته را ورسیدم. څه موده تیره نشوه چه دپښتنو قبیلې سره یوځای شوې او ددې کبله چه دګرګین ډیر ظلم او ځورونې نشو زغملای؛ نو په پای کښې یې ګرګین دښار تر کلا راوایست او هغه ئې په یوه کلي کښې په یوه هجوم ووژه، او بیایې د ښار کلا ونیوله. زه په دې وخت کښې په خپله ځمکه کښې مشغول ؤم. زه ئې دخپلې ځمکې څخه راوستلم اودخپلو ځانو مشر او رئیس یې وټاکلم. اوس یې ډیرې لویې ډلې او جمعیتونه جوړ کړي او په ښاڼي چه زما ددولت خیراندیش غوندې په حق کښې اشتباه وکړي. بلکه دالاهم دشکرځای دی چه په داسې نازک اوداختلال په وخت کښې کوم نایوه او ناحق شناس سړی یې د ځان په مشرتوب نه دی ټاکلی او زه یې وټاکلم چه داهم ستاسو ددولت نیک مرغي ده. ځکه ترڅو چه زه دپښتنو مشر یم ددې اختلال په رفع کولو کښې به درزه له کومې زیار وباسم. اِن شاءالله دتدبیر او فکر په واسطه هرمشکل آسانه کیږي داور به ورو، ورو مړتې او دا هیواد به دپخوا په څیر

نظام ما هوالمرام پيدا کړي. کهٔ پهٔ دې خصوص کښې تاسو ته څهٔ وويل شي؛ بايد تاسو اهميت ورنهٔ کړئ او ددې خوا ټول احوال او اوضاع ماته را وسپارئ . تر يوې مودې پورې بايد اغماض العين معامله وشي . نهٔ ښائي چه تهور وکړئ. او د خودبينانو پهٔ خولهٔ و داسې فتنې ته عسکر را ولېږئ. ځکه چه کهٔ عسکر راولېږلی شي؛ ټول پښتانهٔ ترلوئ او واړهٔ پورې دمقابلې دپاره پردوو پښو ولاړ دي. يا به پادشاهي عسکر دژوبليدو او مرگ سره مخامخ شي او يا کهٔ بيخي ډير عسکر راوليږئ.دخپل ژوند دساتلو دپاره به خپل مملکت دهند پادشاه ته تسليم کړئ. دا خبره داکثرو لهٔ خولو اوريدل کيږي. لنډه داچه پهٔ دې وخت کښې لازم دي چه ددې غوټې پهٔ خلاصولو کښې دتدريج او تأنې او احتياط څخه کار واخستل شي اودانکته ډيره مهمه ده. ددې انتظام دې بنده ته تفويض وبولئ. کهٔ څهٔ هم دا اشارت جسارت دی؛ مگر سره لهٔ دې هم کهٔ د اهمال او امهال پهٔ صورت دتأنې اوتدريج دقواعدو او اصولو مراعات ونشي؛ دلوي خداى پهٔ مرسته او فضل به پهٔ کاروکښې ډير سهولت او آساني پيښه شي!».

(تاريخ افغاني او افغان پارس جگړه):

ددغه ليک پهٔ متن کښې دقت پهٔ کاردی او د زمان دشرايطو پهٔ حساب ، يوه لوړه ډپلوماسي پهٔ کارشوې ده.

دوهم ليک – دهند دربارته: وروسته تر القابو!

مونږ پښتانهٔ نسبت وټولو گاونډيانو ته دهند دپاچا پهٔ گاونډيتوب ډير افتخار کوو ځکه زمونږ پهٔ مذهب او دين کښې راسره شريک دی او لهٔ همدې نقطه نظره ټينگ اميد او اعتماد لرو؛ چه دضرورت پهٔ وخت کښې به زمونږ سره ملگرتيا او مرسته وکړي. پښتانهٔ دپارس دپاچا پر خلاف مصمم دي. ځکه چه هغوئ زمونږ دمذهب پرخلاف زمونږ دجگړې دپاره عسکر را استوي. څنگه چه اوس هلته (هندکښې) امنيت دی، نو کهٔ يو دسته عسکر زمونږ دکمک دپاره راوليږلی شي دلوي خداى پهٔ مرحمت به دخپل دين او مذهب پردښمنانو برى ومومو او پردوئ به غالب شو.

پښتانهٔ ژرور دي او ښائي چه ځيني مقتضيات به لهٔ ښهٔ مرغه موږ سره مرسته وکړئ؛ چه ددوقشرونو (هنداو پښتون) سره ديو ځای کيدلو پهٔ وخت کښې وکولای شو چه دپارس ځينې توابع؛ دپارس دحکومت پرضد وپاروٌ!».

ميرويس بابا پهٔ دغو ليکونو کښې هيڅ يوهٔ ته داسې مطلب پهٔ لاس ورنهٔ کړ چه گواکې پښتانهٔ لهٔ خپلواکی آوٌښتي او ددې يا هغه اسارت به وٌمني. بلکه دواړه پاچاهان يې پهٔ تردد کښې اچولي دي. بينواٌ ليکي؛ ميرويس نيکهٔ پهٔ حقيقت کښې ځانته وخت ترلاسه کاوهٔ او دغه دوه پياوړي گاونډيان ئې لهٔ جدي او فوري تصميم څخه ليرې ساتل.

دلته دي چه دافغانستان دجوړولو تاريخي ضرورت څرگنديږي. چه بيا احمد شاه بابا هغه ته بشپړ واقعيت وباخښهٔ. هرکله چه دافغانستان دجوړيدلو تاريخي ضرورت موهير شو؛ افغانستان هم وران شو. مادغه مطلب پهٔ يوهٔ راډيو تلويزني مرکه کښې د ۱۳۷۰ کال کښې دغبر گولي پهٔ آخره کښې ووايهٔ او دافغانستان لهٔ راډيو تلويزيون څخه خپور شو. بله چاره نهٔ وه. بايد دغه ټکي ته اشاره شوې وای؛ پهٔ هره وسيله چه وه.

د ميرويس بابا پهٔ نبوغ او هوښياری دښمنانو هم اعتراف کړی. دملي تاريخ لوستونکي دې ددغه بابا سياسي حرکات تل خپل سرمشق وبولي.

اوس دا خبره گرانه ده چه ووايو پښتنو خپل هيواد جوړ کړ. ځکه د نورو قومونو چه کوم لوستي خلک دي؛ هغوئ دومره موږ ته نازولي دي؛ چه دهغوئ پهٔ خاطر دغه خبره گرانه بريښي. مگر پښتون اړ دی؛ چه بيا ځانته هيٌواد جوړ کړي. کهٔ خدای مهٔ کړه پهٔ افغانستان کښې نورې خبرې دتجزيې او مليتوراپيدا شوې؛ چه نهايت کښې به دهيڅ يوهٔ پهٔ گټه نهٔ وي.

پښتانهٔ وائي «پلار گټلې زوي ته آسانه ده!». موږ پرتيار کور راغلي يو. دانهٌ ده راته څرگنده چه ددغه کور پهٔ جوړولو کښې څومره ربړ او زحمت گالل شوی. ځيني هيوادونه آسانه جوړ شوي؛ لکه پاکستان چه دهندو او مسلمان پهٔ ويش کښې راووت. دافغانستان پهٔ جوړيدو کښی داخبره نهٔ وه شامله. خوشاٌخوا ټول مسلمان ملکونه وو.

د ژبې او نسل خبره هم نه وه. ځکه افغانستان کښې مختلفې ژبې او نسلونه وو. دغور سلطنت لاپخوا تالا شوی ؤ. چنگيز او دهغهٔ پاتې کسانو ځوپيړی پښتانهٔ وټکول. پهٔ قوم کښې يې هم زورنه ؤ پاتې. مگر دوه خبرې وې؛ چه لوي افغانستان موجوړ کړی لوموړی ضرورت ، دوهم ښه رهبري چه بايد ووايو هرسهار ماښام پر ميرويس او احمدشاه سلام.

داحمدشاه بابا لهٔ دورې وروسته افغان کلمې يوداسې مفهوم وموندچه هرڅوک د افغانستان دخاورې دي؛ افغان دی. چه پرته لهٔ پښتنو نور قومونه هم افغان ياديږي.

پهٔ دې نوي مـفهوم کښې لهٔ (۱۷۴۷م نيولې تر ۱۸۰۰ع) پورې. لهٔ مشهد او نيشاپور نيولې ترسرهند پورې ټول افغانان ياديدل. ددغه نوي مفهوم دماتولو دپاره ډيرو قدرتو ډيره موده کار وکړ؛ څو لوئي افغانستان ټوټې ټوټې شو. مگر مفهوم پرځپل ځـای پاتې دی.تاجـيک، هزاره ، ازبک؛ حتی هندوان چه دننه پهٔ افـغـانسـتـان کـښـې اوسيدل؛افغانان او د امان الله خان پهٔ اساسي قانون يا نظامنامه کښې پهٔ مساوي توگه افغانان لهٔ بشپړوحقوقو څخه برخمن شول. پښتانهٔ چه دولتونه ئې جوړکړل؛ اصل کښې داديوهٔ ضرورت له مخې ؤ. کهٔ نهٔ پښتنو دمغلو داميپراتورۍ پهٔ جوړولو کښې پوره برخه درلوده او لهٔ بابر سره پښتـانهٔ لاړل. د ابراهيم لودي پهٔ مـقـابل کـښـې وجنگيدل. خان جهان لودي ، شيرشاه سوري ، پير روښان، خوشحال خان؛ ايمل خان، درياخان دې نتيجې ته رسيدلي وو چه نور پښتانهٔ بايد لهٔ خپلو متحدينو سره دملي دولت دجوړولو دپاره هڅه وکړي. ديوهٔ بشپړ ملي دولت پهٔ جوړولو احـمـد شـاه بابا برياليی شو. خو دغه لوي هيواد داروپا دنوي انقلاب او دهغه دسياسي او استعماري فعاليتو پهٔ اثر وژان شو.

ددغه ورانښت لويه وجه داوه چه افغانان داروپائي نړۍ لهٔ تحولاتو بې خبره وو او دغې نا خبرۍ خورا ډير عالمونه تباه کړل. دهند پهٔ مغولي اميراتورۍ کښې پهٔ زرها ؤ پښتانهٔ منصبداران، واليان، جاگيرداران وو؛ چه هغه امپراتوري ئې پرېښودرولې وه. چه دافغان اشراف او مغل پهٔ کتاب کښې دهغوئ نومونه او فهرستونه چاپ شوي دي.

نظام جوړول او سوله راوستل : دپښتنو حوښ دي. خو دکتابونو په حواله دوئ دې خبرې ته اهميت نه ورکوي؛ چه دنظام په سرکښې بايد پښتون دريدلی وي. مگر دا چه دوئ دهمدغو نظامو له پلوه وتکول شول ؛ کوم چه ددوئ دمتو په زور جوړ شوي وو.

په ١٤٤٤م اسلام خان لودي دسلطان بهلول لودي ترۀ يو ولايت جوړ کړ؛ چه مرکزيې ست پورۀ؛ چه تول لما يا بهاولپور په کښې شامل ؤ. دلودي ددې ځانگې حکومت تر ۱۷۰۰م پورې دوام وکړ. پنجاب، خوشاب کښې پښتانۀ په کرنې بوخت شول. دپنجاب په گرداس پور کښې کافي ډېر پښتانۀ ميشتۀ وو. کاکازو په تجارت لاس پورې کړ. همدغه راز دامرتسر په بيلو بيلو برخو کښې پښتانۀ هستوگن شول. ميانوالې ته پښتانۀ په يوولسمې پيړۍ کښې راغلي وو. کۀ څۀ هم سلطان محمود وليږدول. مگر يوسل پنځوس کاله وروسته، نيازي پښتانۀ بيرته دلته ځای په ځای شول. ايساخيل هم راغلل. په کال ١٥٤٠م کښې؛ کله چه دسلطان محمدغوري سلطنت ؤ، ډېر پښتانۀ هندوستان ته راغلل؛ گوهانا جهجر کښې ميشتۀ شول او دغه پښتانۀ زياتره کاکازي او غورياني وو. افغانان دسلطان سکندر لودي په وخت کښې لود يانې ته راغلل. دسلطان سکندر دوه جنرالانو محمد يوسف اونهنگ خان دپښتنو ملاتړ کاوۀ.

شپاړسمې پيړۍ کښې پښتانۀ بنگال او بيهارته رسيدلي وو. په ١٥٦٣م کال کښې ميرزا سليمان کرياني دبنگال او بيهار خپلواکي اعلان کړه او دی دبنگال او بيهار مشر شو؛ چه په دغه وخت کښې زيات پښتانۀ دلته ميشتۀ شول. دافغانانو ميشتۀ کيدل په راجستان جهازپور، هندوون، ايتهدا، اجمير، دنگان پور او نور هند کښې ځای په ځای کيدل چه ١٤٨٢ع کښې لودي سلطنت جوړ شو.

داسې ښکاري پښتانۀ پرته له دې چه کوم خاص هدف ولري؛ لۀ خپلو غرنيو سيمو څخه دهند په لوري خوځېدل. مگر بوخت ددوئ دې خبرې ته پام شو؛ چه دهند پۀ نويه ابادۍ کښې دوئ ډوبيږي. نو ځکه احمدشاه بابا دکندهار مرکزيت ټينگ کړ. دهند پښتانۀ؛ دپيړيو په ژوندانه کښې خپله ژبه او کلچر لۀ لاسه ورکړ. نو ځکه پښتانۀ پاتې نۀ شول دتاريخ لۀ بيان سره سم اوس پۀ هند کښې شائی ترپنځوس ميليونو

رسيدلي وي.

پښتون يوازنى قوم دى چه دغلامى دوره يې نۀده تيره کړې او دغه قوم دمارکس دپنځۀ دورو فارموله ماته کړې ده. دمارکسيستانو پۀ عقيده پښتانۀ سم فيوډالي دورې ته را تير شوي. چه ددغه مطلب ذکر مخکښې راغلى دى.

مگر کومه ملي موضوع چه دهوتکو او بيا داحمدشاه بابا پۀ دوره کښې ليدله کيږي دظلم اوتيري پۀ مقابل کښې دپښتنو پۀمشرى دبيلو، بيلو قومونو يوځاى کيدل دي. کوم چه افغانستان، ايران او هندوستان کښې رامينځ ته شوي وو. داسې چه پۀ ايران کښې عرب، زردشتيانو، کردانو، ارمنيانو اوسني مذهبو، بلوڅو، پهٔ هندکښې، مسلمانانو پۀ شمال کښې، تاجيکو، ازبکو، ترکمنو اونورو پۀ افغاني لښکرو او اداره کښې برخه درلوده چه افغاني نظامونه يادولتونه ترې جوړ شوي. ددې خبرې توضيح ياڅرگندونه گرانه ده چه پښتانۀ بې تعصبه خلک دي. داصولو رعايت کول، ميړانه او ځوانمردي اوٌاحمدشاه بابا سلطنت دهرچا دپاره دامن او عدالت مرجع وه. پښتانۀ پۀ خپلو سيموکښې نورو ته ځيب ورکوي اوهغوئ لۀدښمنانو ساتي. دمثال پۀډول کۀ تاسو يوې پښتني سيمې ته لاړشئ؛ ستاسو د سر او مال ساتنه دهمغه قوم پرغاړه ده چه تاسو ورسره اوسيږئ. دغه تأمين دپښتني دولت لۀپلوه هم ورکول کيدۀ چه اوسنى نړى کښې دغه خبره پۀ مشکل سره عملي کيداى شي. داچه پښتنو پۀ کوم حيثيت ميدان ته را دنگلي؛ دغه حبره ددقت وړده. دتأريخ لۀ ځيړنې داسې څرگنديږي؛ چه پښتنو دانۀ ويل چه نريم. پښتون يم. داخبره داسې کۀم بالعموم دهغه وخت پښتانۀ دظلم او ناروأ پۀ مقابل کښې را پاڅيدلي دا ددې دپاره نۀ چه پر پښتنو ظلم کيدۀ بلکه دمظلوم دملاتړ او مدافعې دپاره پاڅيدلي. دعدل او انصاف دپاره يې قربانى ورکړي. دوئ ديوۀ مظلوم دساتلو دپاره لس تنه قرباني ورکوي او داخبره پۀزرهاوٌ پلا ثابته شوې. دپښتنو دکرکټر مطالعه وه چه دښمنانو وکولاى شول؛ ددوئ لۀ خصوصياتو او اخلاقو څخه بده استفاده وکړي. اوس دوستان هم بايد دغه اخلاق

اوکرکتېر ځان ته معلوم کړي. که څهٔ هم پهٔ تاوان ئې وي. داخلاقو بدلول پهٔ کار نهٔ دي. بلکه نورې معالجې ته ضرورت دی؛ چه دعلاج او مخنیوي نورې لارې ولټول شي.

د (افغان اشراف اومغل) کتاب کښې لیکي: پښتانهٔ له خاورو او دوړو راجګ شول او لوئې امپراتوری ئې جوړې کړې. همدغو افغانانو پهٔ هندوستان، افغانستان او ایران کښې ستر دولتونه پرځای ودرول. لودي او سوري پښتنو پهٔ هندوستان، ابدالي پښتنو افغانستان او هوتکو ایران کښې. داپرته لهٔ غوریانو دي چه دغزنوي لهٔ سلطنت وروسته یې خپله حوزه تأمین کړې وه. پښتانهٔ داتجربه لري؛ کهٔ خواری، اوسولې ته چانهٔ پرېښودل؛ دجهان خان لودي دافکارو پربنیاد باید یو غوره ګام اوچت کړي.

رتیاجوشي دافغان اشراف او مغل کتاب ځینې جملې دشیرشاه سوري اوخان جهان لودي لهٔ افکارو رانقلوي؛ چه وروسته همغه افکار دخوشحال خان پهٔ اشعارو کښې لیدل کیږي. سوري شیرشاه وائي: « افغانان پهٔ توره او پوهه کښې ترمغلو کم نهٔ دي او داچه دوئ هندوستان لهٔ لاسه ورکړ دهغه سبب ددوئ پخپلو مینځو کښې بې اتفاقي ده » دغه جمله تاریخ عباس خان شیرواني کښې راغلې. ( مخ ۱٥٦ تاریخ شیرشاهي)

خوشحال خان وائي:

هرچاره دپښتون ترمغل ښه ده
اتفاق ورځخه نشته ډیر ارمان

یاداچه دجهان خان لودي لهٔ خولې دهمدغه کتاب پهٔ قول لیکي: « پښتانهٔ چه پهٔ سوله کښې خپل حق لهٔ لاسه ورکړي،نو باید پهٔ توره یې بیرته وګټي! ».

خوشحال خان وائي:

پښتانهٔ که بل څهٔ فکر کا ناپوه دي
بې لهٔ تورې خلاصی نشته پهٔ بل کار

څرګنده داده چه خوشحال خان دشیرشاه او جهان خان لودي پهٔ نظریاتو پوره خبرؤ او همدغه تاریخي تجربې دي چه وروسته بیا احمدشاه بابا پهٔ دې بریالی شو؛ چه پښتانهٔ

ACKU

حتى ټول افغان په اتفاق کړي. اوداسې لوي هيواد جوړکړي چه سم دامريکې له آزادۍ اودفرانسې له لوي انقلاب سره په يوه عصرکښې روان وي.

دسوري او لودي تجربه کافي بلل کيده ؛ چه داحمدشاهي لوي افغانستان دبې اتفاقۍ اودملي ګټو نه پيژندلو په اثر نه واى وران شوى.

ميرويس بابا او احمد شاه بابا له خپل تاريخه خبرۀ او ددوئ کار او عمل دپټو سترګو نهٔ. مګر شخصي سلطنتونه چه له امير دوست څخه شروع شول او په ظاهرخان ختم شول؛ له تاريخه بې خبره وو. او دوئ بې ټيورۍ شخصي او فاميلي بادشاهۍ جوړولې. چه زياتره يوې خانۍ ته پاتې کيدې. نه پادشاهۍ همداوجه وه چه دسرحد پښتانه په دغه ټوله موده کښې له انګريزانو سره جنګيدل؛ مګردوئ سترګې ړندې کړي او غوږونه يې کاڼه کړي؛ څکه دوئ مفکوره نه درلوده.

دافغان اشراف او مغل کتاب کښې راغلي: کوم فعال کارچه افغانانو دهند په سياست کښې دسلطنت په ذوران کښې سرته رسولى .(۱٤۵۱- ۱۵۲٦م) پورې ددوئ دپاره دشان او شوکت دوران بلل کيږي. څکه دغه دوران دلودي افغانانو سلطنت دى چه ۷۵ کاله ئې دوام کړى. مګر وروسته تر هغه چه مغلو اقتدار ترلاسه کړ؛ بيا هم دپښتنو شأن پرځاى ؤ. که څه هم دامپراتورۍ په سرکښې مغل وو. مغل ددوئ په اهميت پوهيدل.

څرنګه چه خان جهان خان لودي په داسې حال کښې چه لوړ مقام ئې په مغلي دربارکښې درلود؛ ده محسوسه کړه چه انفرادي حيثيت کومه ګټه نه لري. مګر داچه شاته يې خپل قوم ولاړ وي. نوڅکه ده پښتانه سره ټول کړل او دمغلي امپراتورۍ په مقابل کښې ودريد.

# دوه لارې

لکه‌چه تاريخ ښودلې؛ پښتانهٔ پهٔسوله او عدالت کښې خوشحال وي. خو دظلم او تيرې پهٔصورت کښې دوئ تورې ته‌لاس وروړي؛ کهٔ لازمه وي؛ امپراتوري ګانې هم جوړوي. خان جهان خان‌لودي چه ياغي شو او دا صلاحيت ئې وموند چه‌پادشاه شي. مګر دهٔ پادشاهي ونهٔ کړه. وئې‌ويل: « زما عمر تر پنځوسو اوښتی؛ زهٔ نهٔشم پوهيدای چه وروستـه ترمـا به زمـا زامن دسلطنت دساتلو دپاره مناسب وي. کهٔ داسې نهٔوي؛ سبا به‌پښتانهٔ وائي چه دپادشاهی دپاره زمونږ معمولي روزګار هم لهٔلاسه ووت! ».

او خوشحال‌خان هم داسې خپل‌تردد څرګندوي:

کهٔ‌ کښينم ننګ او ناموس ځي
کهٔ پاڅم پاڅي توفان

کهٔ چيرې لراوبر پښتـانه سره يوځـای شي‌او يودولت جـوړکړي؛ چه پـه‌دې صورت کښـې‌به څه دافـغـانسـتـان او څه دپاکسـتـان‌نقشه بدلون ومومي. دا به‌ديوه سـخت ضرورت پهٔ وخت‌کښـې يوه ناچاري وي. اما کـهٔ‌پهٔ‌دې دواړو خواؤ کـښـې لکه‌ نور؛ دآب ژوند ولري.

خـان جهـان خان لودي ويل: « چه زمـونږ ذات او موجـوديت ته خطر پيښ دی. زهٔ ياغی يم. خو زما زړهٔ ياغي نهٔدی. يا خدايه! ».

يعنی مطلب يې دادی چه « مونږ حاضر يو؛ پهٔ وروری، سولې ، امنيت او دعدالت پهٔ سيوري کښې لهٔدوئ سره ژوند وکړو. مګر کـهٔ‌دوئ زمونږ لهٔ ذات او موجوديت سره مـخالف وي نومـونږ مـجبوريو او داحق لرو؛ چه تورې تـه لاس کړو ». مـحمد غوري، بهلول‌لوّدي، سکندر لودي، ابراهيم لودي ،شـيـرشـاه سـوري، خـان‌جـهـان‌لودي ، پيرروښان ، خوشحال ، ميرويس بابا ، شاه‌محمود افغان،شاه اشرف افغان ، احمدشاه بابا ، شاه‌ولي‌خان، سردارجهان‌خان ؛ هريوهٔ يوه مفکوره درلوده ؛ چه‌بحث غواړي.

# پښتون

# دافغان ملي تاريخ کښې

پهٔ طبري تاريخ کښې راغلي چه ابوذرغفاري (رض) وائي: پيغمبر صلی الله عليه وسلم ماته وويل: « ای ابوذره ، څلور تنه لهٔ پيغمبرانو سرياني وو. آدم (ع) ، شيث (ع) ، نوح (ع) او اخنوخ ( ادريس ) ».

اوس به دغه مبارک حديث راواخلو او دافغان دملي تاريخ پيل به لهٔ همدې وينا وکړو پوهان وائي: « سړی يا انسان لومړی په جنوب لويديځ آسيا کښې پيدا شوی » دمسعودي لهٔ قوله (۳۳۲هـ) ديار هبوط پهٔ کندهار کښې دی. چه اوس هغهٔ ته (دهراوت) وائي: ديارهبوط يعنی چيرته چه انسان کښته شوی .

بابر اوګوړ تيمور پهٔ خپلو ليکنو کښې کندهارته سکندره وائي. چه بيا سکندر يه شوې. مونږ پهٔ خپلې ليکنې کښې پهٔ همدغو خبرو پسې چه دپيغمبر صلی الله عليه وسلم او تاريخ پوه او فاتحانو دي؛ ګرځو. ځکه يو هم بې لهٔ يوهٔ دليله نهٔ دی ويل شوی ، او پيغمبرصلی الله عليه وسلم دخدای پهٔ حکم پهٔ وړاندې وروستـه ټولو پيښو خبرؤ. « صدق رسول الله » دانسان پيدا کيدلو ته هبوط وائي چه لهٔ آسمانه (جنت) ته ځمکې ته کښته شو .

لوي تاريخ پوه « آرنولډټاين بي » پهٔ دې ټينګ دی چه بشر پهٔ جنوب لويديځ آسيا کښې پيدا شوی : کندهار دسند دحوزې او بين النهرين ترمينځ دارتباط يو مرکز ؤ.

دانسان دپيدا کيدلو او عقلمند کيدو ترمينځ يوه لويه دوره تيره شوې ده . څوک سم نهٔ شي پوهيدای چه دغه دوره به څومره وي؟

پهٔ تاريخ کښې لومړی قصې وې چه تاريخ پوهانو پردغو قصو يوڅهٔ مرتب کړل. خو

ACKU

سم تاريخ يا نيتيه يې نۀده ځرگنده. ځيني پۀعقل برابر نۀراځي. اووۀ سوه كاله ديوۀ انسان عمركول چه واڼي فريدون اووۀ سوه كاله ژوندى ؤ. ياسلطان سكندر دوه ښكرونه درلودل اود ضحاك پر اوږو ماران را وتلي وو. البتـه ځۀ ورته والى؛ ياډير عمر كول يو ځۀ به ؤ.

پۀليكنه كښې به ځرگنده شي چه يوناني سكندر دفليپ زوي بل څوک دی اوسكندر ذوالقرنين بل دی.

ښستيزه خبره دانسان ده او دهغۀ عمل؛ چه پۀ ټولنيزه بڼه يې كوي. ياىې كړى دى. تاريخ سړي ته ښيي چه څۀ شوي اوڅۀ به كيږي؟ ډير خلک پۀ تاريخ عقيده نۀلري او ساده فكركوي چه تير هير دى.

داسې نۀده. لۀ تاريخه پنداخستل پۀ كار دي. لكه پۀ اتفاق اويووالي كښې هرمهال برى وي او پۀ بې اتفاقۍ كښې ماتې راتلل.

ښۀمثال چه لس واري وويل شي؛ بياهم ضرورت دى؛ چه وويل شي. هغه دادى چه پۀ اتلسمه پيړۍ كښې اصفهان دافغانانو پۀلاس كښې ؤ او نادر افشار پۀ خراسان كښې پياوړى شو. اشرف افغان دهرات لۀابداليانو اوكندهار لۀغلځو مرستـه وغوښته. هغوئ پۀ معمولي دلايلو مرسته ورنۀكړه. پۀلږ مهال كښې چه اشرف افغان ماته وخوړه نادر هرات اوكندهار ونيول او مشران دنادرافشار بنديان شول.

ددې خبرې گټه داده چه پښتون بويه داسې ونۀكړي. چه بيايې داسې وكړل؛ بيابرباد شول. پۀ نونسمه پيړۍ كښې دسدوزو اوبارکزو داختلاف لۀ كبله سكهان ورباندې زور ورشول. پېښور اودهغۀ شا او خوا ځمكې يې لۀلاسه ووتې.

تاريخ يوهيدل د راتلونكي ژوند دپاره گټه لري!

پښتانۀ يو تاريخ لري. چه پۀ نړۍ كښې داسې تاريخ دبل چاپۀ نصيب شوى نۀدى څنگه موضوع ته لاړشم ؟ چه پورتنۍ خبره ثابته شي!

كۀ مخكښې لۀ هغه پښتنوته ووايم چه وړيا څۀ پۀلاس نۀ درځي. گرندي شئ ميړني شئ. پۀ هرحال دوي حوزې دي. دسند هيرمند اودسيحون اوجيحون. دغو درې واړو حوزو كښې پښتانۀ وو او هغه مدنيتونه چه نوميالي دي .

پهٔ مروج الذهب کښې راغلي؛ چه لهٔ توفانه وروسته لومړنی پادشاهي دځمکې پرمخ سوريانيانو جوړه کړه. تاج ئې د پادشاه پرسر کيښود. دغه پادشاه سوشان نوميدهٔ. آبادئ وشوې. حدود وتاکل شول.

سور يوه کلمه ده؛ چه پهٔ اوسنی او پخوانی پښتو کښې ډيرې معناوې لري.

لکه: سور - رنگ

سور - ډير تود سوځوونکې

سور - لمر

سور - احساساتي، هيجاني

سور - لگيا بوخت

سور - گل

سوري - قوم

سوريا - دلمر رب النوع

دسورياني قوم پادشاهي دمسعودي لهٔ قوله غزني. بست لعس او دهيرمند ناوه وه ئي چه دهند پادشاه ددهٔ «سوشان» لهٔ قوته وډار شو. جگړې ته راغی. خوشاوخوا پادشاهان دسوشان تابع شول.

دسند حوزه دآباسين شاوخوا ده. آباسين لهٔ کابله روان دی.

دسند دحوزې مهارتونه پهٔ بين النهرين (دجله فرات) کښې ليدل کيږي. بيا لهٔ هغه ځايه د مديتراني پرغاړو اروپا ته رسيدلي دي.

سور او ساک: پهٔ لرغوني تاريخ کښې سور - سوري - سورياني - سومر - آسور - دخط، ارابې (عرابه)، اوقات يامهال ويش ددوئ دی. پهٔ ۱۹۷۳م کښې مشهور تاريخ پوه تاين بي (دبشر تاريخ لهٔ پيل نه تر اوسه پورې) پهٔ کتاب کښې دسورياني مدنيت اغيزه دمصر دفراعنه پهٔ مدنيت کښې گوري. چه لهٔ بين النهرين څخه هلته تللي دي. نو د پيغمبر صلی الله عليه وسلم خبره رښتيا ده چه خط دسريانيانو ايجاد دی

اوځلور پېغمبران هم سرياني دي. چه سوريان دي. چه زمونږ لهٔ هيواده دکندهار پهٔ لار هغوسيموته تللي دي.

پهٔ افغانستان کښې ساکان نهٔ يوازې پخپله دقوم پهٔ صورت کښې موجود دي ډېرې ځمکې او سيمې ددوئ پهٔ نامهٔ دي. لکه پهٔ کابل کښې دشيو کيوساک، پهٔ ميدان گرديز او ډيرو ځايو کښې ساک دځاى اوخلکو نوم دي. کوم ځاى چه پهٔ تاريخ کښې ساکستان ياسيستان دى؛ دا همدغه ساک، سکزي سکائي سيتي دي چه لهٔ لرغونو زمانو څخه څو زره کاله مخکښې دسکائيانو او دهغوئ اړوند قومونه موجود وو. لکه توري، نري، گلاني.

هيرودوټ دتاريخ پلار سربيره پردې چه (۴۹۰-۴۲۵ ق م) دسکائيانو معرفي کوي،وائي چه دهٔ هغه کنډوالې ليدلي چه لهٔ پخوانيو سکائيانو پاتې وې. پهٔ دې توگه دسکائيانو او دسوريانو لرغونتيا دکلونو پهٔ حساب نهٔشي ځرگنديداى. دوه نيم زره کاله خودهيرودوټ کيږي. اوخداى خبرڅومره لا پخوا ددوئ ودان ښارونه وو. چه کنډوالې يې هيرودوټ ليدلي. دمتاني، کاسي او نورقومونو چه لرغوني مدنيتونه؛ پهٔ بين النهرين اوسنئ ترکيې او کريميا پورې دخزر غاړې بابل چه ښېر. اووهٔ سوه کاله حکومتونه ښارونه وو. تاين بي پهٔدې برخه کښې پهٔ قاطع صورت وائي چه: دا قومونه آريائي دي. لهٔ شمال شرقي افغانستان او د«اورسي لهٔغونډيو» راغلي؛ ژبه يې، هندو اروپائي دهٔ. نو دوئ لهٔ سامي نژاد سره اړه نهٔلري.

تاريخ داڅرگندوي چه کله دغه قومونو ماته خوړلې او يرغلونه وربانديې راغلي نودافغانستان جنوب او شرقي خواته تللي دي. چه بيا متاني، کاسي، ساک اوسکزي او سوريان دلته ليدل کيږي؛ چه دپښتانهٔ تر عنوان لاندې راټول شوي؟ پښتونولي ئې اصول،پښتو يې ژبه، او پښتون يې نوم دي. دسيحون او جيحون نه نيولې؛ دسند ترحوزې پورې ددوئ ځمکه او سيمه ده.

پهٔمقابل کښې پارس يوازې دايران جنوبي برخې ته ويل کيږي. اوس پوهان پهٔدې

عقيده دي چه هخامنشان دافغانستان جنوب اوشرق ته نهٔ دي رسيدلي، مگر پخپله خوښه خلک هخامنشانوته تللي او پهٔ عسکرئ کښې ورسره ملگري شوي ؛ چه دتخت جمشيد پهٔ کتيبو کښې ددوئ نومونه ليکل شوي يا هغو پادشاهانو چه دوئ ته تحفې او سوغاتونه ليږلي؛ بيا ددوئ تصويرونه پهٔ ډبروکښې کښل شوي. اوس دوئ ؛ ددوئ سيمې؛ خپلې ياد امپراتورئ برخې بولي.

هخامنشان اوساسانيان، لهٔ ساکو، يپتلي (يفتلي) او کوشانيانو سره جنگيدلي اوماته يې خوړلې؛ مگر کله چه دهغوئ لهٔ يونانيانو سره جگړه کيدله ؛ يارومیانو سره. بيا دسکائيانو لښکرې مرستې ته ورغلي.

ماد، پارت لوديا قومونه هم دنړيدلو پهٔ وخت کښې افغانستان ته راغلي او دپښتون عنوان لاندې دمدي خيل (مدا خيل) مادي خيل لودي، پهٔ نامهٔ پاتې دي ځينو قومونو خپل نومونه عربي کړي او اوس نهٔ پيژندل کيږي.

لکه ساک چه ابراهيم خيل شوي. مونږ دپښتنو دقومونو دوه ډوله نومونه لرو: لکه (خالص) پښتو لکه ځاځي، منگل، اڅکزي، متاني، کاسي، ساک، کاکړ... او عربي شوي لکه احمدزي، ابراهيم خيل، اسماعيل زي، علي خيل، پاينده خيل، چه نظر اسلامي احساساتو ته عربي نومونه يې خوښ کړي. خولهٔ اصلي نوم سره ډيرې خبرې روښانه کيدلی شي.

پهٔ افغانستان کښې سجاوند، سکاندر او نور دسکائيانو پهٔ نامهٔ دي. سکائيان ترمصر پورې تللي او داسيا يوه لويه برخه ددوئ پهٔ لاس کښې وه.

## سکاتهلند خبره :

سکاتهلند يعنې دساکو ځمکه، کله چه تاسو دايرة المعارفو ته وگورئ: يعنې هريو دهرکال چه وي تاسو دسکاتهلند برخه وگورئ هلته ئې ليکلي چه شپږ زره کاله دمخه دوئ راغلي. دوئ ته يې پکتيس وايهٔ. پخوا زمانو کښې دوئ خپلې ږيرې او بريتونه رنگول. «غبار» دبار تهولډ لهٔ قوله وائي چه پکتيس هماغه دهيرودوټ پاکتيسا دي

اوساک پخپله ساک دي چه لهٔ مینځنۍ اوشرقي اروپا څخه هلته تللي دیرکلونه دمخه رومیانو دوئ ته پاکرویل؛ چه دباکتر لهٔ کلمې سره سمون خوري.

دسکاتېلند خلک؛ زړور، مـغـرور او لهٔ ځـانه راضي خلک دي؛ چه سـوابق او خصوصیات یې د پښتنو دي. دساکسینا ولایت پهٔ جرمني کښې همدغه لړۍ ده.

کوم سکندر چه پهٔ کلام پاک کښې یاد شوی او ډیرو ځایو کښې سکندره همـاغـه سکاسره تعلق لري. گوډ تیمور وائی چه دهٔ سکندریه (کندهار) کښې داسې څهٔ ونهٔ لیدل چه گواکې دمقدوني سکندر څخه پاتې وي.

بابر اوگوډ تیمور دواړه پښتانهٔ چه پهٔ خپل وخت کښې لیدلي؛ وائي ددوئ رنگونه سرهٔ او ژیړ ویښتان یې درلودل او شنې سترگې. پښتانهٔ غروکښې اوسیدل او دخپل ضرورت وړشیانو داخستلو دپاره دورځې ښارونو ته راتلل. نودسور اوسکا تاریخ دبشر لهٔ تاریخ سره تړلی دی. کهٔ ښه ځیرنه وشي؛ څرخه، خط، مهال ویش اورلگیت، اوبدل چه دبشر دتمدن بنیاد دی؛ دپښتنو پهٔ لاس جوړ شوي.

ددوئ کـاروانونه به چه چیـرته دمـه شـول؛ هلتـه به یې بازار جـوړ کـړ. پوهانو ځوانانو ته سبق وایهٔ. ماهرانو به خپل مهارت ښودهٔ. پنهوبکرداورلگولو دوه آلې دي؛ چه شینکي وابسهٔ به یې لگول. بیـا به اورترلاسه شو. دوئ به اورلگوني جوړول؛ او اروپاته به ئې لیږل اوهرځای به اخستل کیدل. دغه کاروانونه دآمو دسیند پهٔ کښته خوا او پورته خوا تلل؛ چه کمکۍ آسیا اومدیترانې ته رسیدلي او د جنوب خواکښې هندوستـان ته تللي او کله هم دجنوب شرق پهٔ لوروړاندې ورغلي. دوئ کـشتـۍ درلودې چه لهٔ اوبو به پرې تیریدل.

## بادي ژرندې:

مسعودي ۳۳۲ هـ وائي دهیرمند پهٔ سیند کښې کشتۍ چلیدلې او پهٔ سیستان کښې بادي ژرندې وې او لهٔ دغو ژرندو دوه کاره اخستل کیدل. هم ئې لهٔ ځاگانو اوبهٔ ایستلې؛ او هم یې غنم اوړهٔ کول.

بیاطبیعي او غیـر طبیعي پیښو، یرغلونو، جګړو ددوئ ورخ بده کړه. بیـا جنوبي اوشرقي غرونوته تللي.

## کاشغر :

دا لهٔ دوو کلمو جوړ شوی؛ کاش + غر یعنې دکاسیانو غر دغه خلک دفرغانې او دآمو دسیند شمالي ځمکو او دخزر پهٔ غاړو کښې اوسیدل. ځکه بابل ته ننوتل او هلته ئې شپږ سوه کاله حکومت وکړ.

نو دپښتنو هرقوم دیوهٔ مدنیت میراث دی؛ چه بیا خواران شوي او لهٔ خپلو ځمکو بشري امواجو ایستلي دي. او د سیحون او جیحون لهٔ حوزې دسند حوزې ته راغلي. (هیروډوټ ۴۲۵ - ۴۹۰ ق م) پهٔ تواریخ کښې یوه عجیبه خبره کوي: دی وائي چه دسند پهٔ حوزه کښې دپاکتیا خلک دباکتریا خلکوته ورته دي. دا ددې خبرې کلک ثبوت دی پاکتیسیا چه دباکتریا پاکتر پاکتیا اوپهٔ جنوب کښې دپکتیا خلک یو خلک دي.

هیـروډوټ پاکتي، پاکیـتسیا ډیره یادوي دسکائیـانو دجګړو، لباس او دهغوئ دژوند لهٔ اصـولوڅخه ښهٔ معلومات لري. خو دهیروډوټ کـتاب ترډیره وخـته نهٔ ترجمه شوی.او چه ترجمه شو،بیا خاصې طبقې ځان سره ساتهٔ . عام خلک پرې خبر نهٔ وو. دادی اوس پهٔ پاړسو ترجمـه شوی او هرڅوک یې لوستلی شي. زمونږ مؤرخین دهغهٔ پهٔ ځینو مطالبـو لهٔ نورو منابعو څـخه خبـر وو. مګرکـتاب دوئ تـه پهٔ لاس نه ؤ ورغلی او هم دعربي تاریخ پوهانو کتابونه وروسته ترجمه شوي.

یعنې اوس مونږ کـولای شو دافـغـان او پښـتـون تاریخ لهٔ سـره مـرتب کـړو. هیڅ اندیښنه نهٔ ده پهٔ کار.

د پښتانهٔ تـاریخ ددولس زرو کلودی. دوئ لهٔ پخوانه پښتـونولي درلوده. کوم شی چه ددوئ نیمګړتیاوه پهٔ خپله ژبه یې لیک لوست نهٔ کاوهٔ.

داچه مـونږ دپښتنو تاریخ دولس زرد کـاله بولو. دهغـه وجه دادهٔچه دسـور اوسکا

خبرې تردې لا زړې دي.

کوشانیانو دسندحوزه دباکتریا سره یوه کړه. دا زمونږ تاریخي میراث دی چه دسند سیحون اوجیحون حوزې دي.

دپښتونولي برخه هم ډیره زړه ده. دپښتونولۍ برخه ده چه هغه باید په نظر کښې ولري او دادی چه وائي: « پښتانهٔ قصې گټي. خو څوک پیسې گټي » اقتصادي ژوند دومره چه پښتونولي وساتي. چه پښتونولۍ ته ضرر ورسوي؛ هلته اقتصاد هم نهٔ دی پهٔ کار.

دوه زره پنځهٔ سوه کاله دمخه دسکائیانو دیوهٔ قوم چه سرماتي نومیدل؛ دا اصول ؤ. چه ددوئ ښځې وسله بندې وي. دهیرودوټ لهٔ وینا څخه داسې پته لگي چه دغو ښځو ترهغې وادهٔ نهٔ کاوهٔ څو به ئې چه دیوهٔ دښمن وینې دجگړې پهٔ ډگر کښې تویې نهٔ کړې. دا خبره ډیره زړه ده،خودغیرت او همت لوړه څوکه ده.

یوځل بیا پهٔ پښتونولۍ سمبالیدل ضروري دي. ورک دې ددنیا غمونه کړي او پښتونولي دې وساتي.

کوشانیانو پهٔ کابلستان کښې ډیر مقاومت وکړ. ددوئ پادشاهان داخلک وو:

۱- رتبیل

۲- زنبیل

۳- زنبورک

٤- زگیر

۵- شیر

٦- آسما

دکابل دغرو دپاسه دیوالونه ددوئ دزمانې دي. پهٔ کابل کښې داقصه مشهوره ده چه دغـرو ددیوالونو دجوړولو دپاره خلک گومارل شوي او چه چا به انکار کاوهٔ؛ پهٔ دیوال کښې به یې پهٔ پخسو کښې کښیښود. دجنگ حالت ؤ او دیوالونه دفاعي ؤ.

بوه ورځ دیوهٔ ځوان داشر وارؤ. دځلمي نوې ناوې وه دی، وویل چه نن ستا پرځای

زۀ دکاردپاره ځم، پۀ همدې يې سلا شوه.

ناوې ټيکرى لۀسره واچاوۀ. ډير پۀ نره يې کـاروکړ. مـازيگرچه دښارحاکم دکـار دليدو دپاره راغى او ظالم سړى ؤ. ناوې بيرته ټکرى پرسرکړاو لۀ حاکم نه يې مخ پټ کړ.

دحاکم پام شو؛ چه ښځې لۀ دومره خلکو مخ نه پټاوۀ او لۀ مايې پټ کړ؛ ولې؟ حاکم غږ وکړچه دا نور نارينه نۀدي چه لۀدوئ دې مخ نۀپټاوۀاو لۀ مايې پټوې؟

ناوې وويل: هو همداسې ده؛ کۀدوئ نارينه واى تاپردوئ دومره ظلم نۀشو کولاى چه يو لۀغره رغړوې اوبل پۀ ديوال کښې ږدې. دوئ بەداکار پۀ تاکړىواى.

خلک پۀ غيرت راغلل. حاکم يې پۀديوال کښې کښيښود. چه تر اوسه همالتەدى.

کوشانيان څۀ شول؟

پۀ نهمه ميلادي پيړۍ کښې يعقوب صفار لۀ رتبيل شاه سره جگړې وکړې. پۀلسمه ميـلادي پيړۍ او څلورمـه هجري پيړۍ کښې دغزنويانو پۀ وخت دوئ وو اودسلطان مـحمـود او ددۀ دپلار پۀ وخت (سبکتگين) کښـې دوئ مـسلمانان شول. بيـا ددوئ ښکاره څۀ پته نۀلگي.

نوداسې ښکاري چەدوئ دوې لارې ونيولې. يوې برخې يې کوچييـانى ژوند بيرته خپـل کړ او بلەبرخـه يې چەاسلام ئې راوړ او همـاغـه وخت يې يو عـربي اسـلامي نوم اختيـارکړ؛ چه لۀ مـونږ نه پټ پاتې شول. دمـثـال پۀتوگه دوئ احـمدزي شوي چه احمدزي هم کوچيان دي. هم پۀ کليـو ښاروکښې دي. دا زما اټکل دى. دځينو دلايلو لۀمخې لکه دا چه کوچيـان ځانله کوچيـانيـان هم وائې چه همـاغـه، کوشـانيـان دي ياکـوشـانيـان ديوې بلې ژبې تـلفظ دى؟ پۀاصل کـښـې کـوچيـانيـانُ دي. دوهم داچه دکـوچيـانو ډيره برخـه پۀ احـمدزو گـډيږي. احـمـدزي کلک اوجنگيـالي خلک دي. پۀ تجارت او مالدارۍ کښې دمهارت خاوندان دي.

ددغه سوال ځواب چه کوشانيان څۀ شول؟ کۀبل څوک ئې ورکولاى شي؛ صرفەنۀ

ده پهٔ کار. ځکه چه دامهمه خبره ده.

دیفتلیانو یا بیتلیانو پته شته؛ چه همدغه ابدالیان دي. دکوشانیانو پته هم بویه څرگنده شي. تاریخونه وائي چه هماغه یفتلیان وو. چه وروسته کوشانیان شول.

دغه صراحت ته څوک نهٔ دي راغلي؛ چه ووائي دغه قومونه ټول پښتانهٔ دي او هم ساک، کاسي، سوري، متاني، کوشاني، بیتلي، غوري، غلځي، لودي، مادي، پارتي، ټول موجود دي.

هر پښتون قوم لکه دوتاني، شیرواني او نور پهٔ یوه پادشاهۍ پورې اړه لري.

پښتانهٔ دهیروډوټس پهٔ تواریخ کتاب کښې ډیر یادشوي. پاکتیسیا ددوئ ځمکه؛ پاکتي ددوئ لباس او رواجونه، پاکتیسي سړي. دهیروډوټ مهمه خبره داده چه وائي دسند پهٔ حوزه کښې دپاکتیسیا اوباکتر - بلخ خلک یوشان دي. سکندر هم چه دسند حوزې ته راغی؛ ددغه خبرې پخلی کوي.

اوس داخبره لهٔ شکه وتلې چه پاکتر پاکتانهٔ پکتون پښتون پښتانهٔ پښتو شوي دي. او پکتیکا پښتونخوا همدغه یوه خبره ده. مگر دپښتنو دقومونو خبرې لکه سوري، ساک، کاسي، لودي .... ډیر شهرت موندلی دی.

پښتانهٔ، ددوئ ځمکه، تاریخ، ژبه، خلک یوې داسې مرحلې ته رسیدلي؛ چه خپل وجود راټول کړي.

تردغه مهال پورې زمونږ لیکوالو پهٔ ویدا او اوستا کتابونو خبرې کولې؛ چه هلته پکت پکهت، بحت، بخدي یاد شوي او شپاړس قبیلې توتې ځمکې چه هغه پهٔ افغانستان کښې دي؛ مگر کله چه دهیروډوټ کتاب عام شو او ترجمې یې هره خوا خپرې شوې؛ نهٔ یوازې دپکتیسیا پاکتي ځمکې خلکو او نورو خصوصیات راغلي؛ بلکه دنورو پښتنو قومونو دساک، ساکستان قصه ډیره روښانه شوه. دجرگې او دپښتونولۍ نورې نښې نښانې څرگندې شوې دي.

نهٔ دکلمې پهٔ څیر؛ دفصلونو دبحث پهٔ څیر پهٔ کښې راغلي. چه یو یوځ ... المللي یانړیوال سند دی.

پښتانهٔ دسند دباکتر اوسیحون جیحون دمدنیتو وارثان دي.

دافغانستان تاریخي اعتبار دخلکو اوځمکې لهٔ مخې خلک سوري ساک او ځمکه همدغه سیستان ، تخارستان، کابلستان ، زابلستان، یفتلیان، کوشانیان او غلځیان دي.

د احمدشاه بابا افغانستان پهٔ ملي عدالت ولاړ ؤ. یعنې هرڅوک چه دافغانستان دی افغان دی. مگر دغه افغانستان پهٔ څو مرحلو کښې وران شو. لومړۍ مرحله ۱۹۲۹م کله امان الله خان پهٔ ننگرهار کښې دشینوارو پهٔ سمولو بوخت ؤ. لهٔ کوهدامن څخه سقویانو پر کابل راودنگل اودتاجکو پهٔ نامه ئې حکومت کول پیل کړل. وروسته لهٔ نهو میاشتو پښتانهٔ راغلل او هغه یې وشاړهٔ. ځکه هغه یو غل ؤ. دا دتاجکو غلطي وه چه هغهٔ پسې ودرید ل.پهٔ دوهمه مرحله کښې کمونستان دپخواني شوروي اتحاد یاروس مزدوران وو؛ چه دین ، کلتور، تاریخ او ملت یې ونهٔ منل. دملیت ها یعنی ملتونو خبره یې پورته کړه. کارگر اوزیارکښ یې ووایهٔ ؛ دریمه مرحله ۱۹۷۱ م پهٔ مزارشریف دغیر پښتـانهٔ مجاهدینو او کمونستانو کفر او اسلام پریښود. پهٔ یوهٔ ائتلاف کښې پهٔ داسې حال کښې چه دجهاد او کمونست حکومت ډیره وسله ورسره وه؛ دپښتنو پهٔ خلاف پاڅیدل. روسیه ،ایران، هند پاکستان، تاجکستان، ازبکستان هریو پهٔ افغانستان کښې دخپلو ډلو ترشا ودریدل. وسله او پیسه یې ورکوله. دغه وخت دملي هویت خبره پیدا شوه ؛ چه افغانستان دپښتنو پهٔ اعتبار افغانستان دی؛ کهٔ پښتانهٔ نهٔوي افغانستان به نهٔوي.

دویٔ داخبره هم پورته کړه چه دافغانستان نوم خراسان ؤ؛ خراسان دې بیا دافغانستان نوم شي. دغو حالاتو پښتانهٔ لهٔ خوبه پاڅول.

کوم افغانستان چه لوي افغانستان بللی شي؛ هغه یفتلیانو، کوشانیانو، سکائیانو مخکښې تراسلامه تأمین کړی ؤ. وروسته لهٔ اسلامه صفاریانو، غزنویانو، غوریانو، هوتکو او ابدالیانو تأمین کړیؤ. مگر دپښتنو لرغونې ځمکې تردې لا پراخې وې.

داڅیړنې دنړۍ پوهانو کړي؛ هغوئ موږ تـه لارې لیکې پهٔ گوته کړي. پخوانیو پوهانو داخبره کړې ؛ چه پښتانهٔ دنورو ژبې ژر زده کوي او ددې پروانهٔ لري چه خپله

ژبه پربږدي. دنوي نسل پام دې خبرې ته اوس اوښتی؛ چه دژبې په اړتيا پوهيږي. ژوند بويه چه دوام وکړي. افغانان هم خپل ژوند ته دوام ورکوي. خپل غړي ټولول په کاردي. او خپل اصول پيژندل.

داحمدشاه بابا ددولت مطالعه په تيره بيا ددولت ټولنيز قوانين؛ وگورو چه پرکومو اصولو ولاړ وو؟

ترهغه ځايه چه زما ځيرنه اجازه ورکوي؛ دپښتونولی پراصولو ولاړ وو. البته شريعت دومره زورور ؤ چه يوه سرې په جومات کښې خپله دده (احمد شاه بابا) پايڅې غوڅې کړې؛ چه ترشرعي اندازې زياتې او اوږدې وې.

**ددرب خلک شاته را روان دي**

احمد شاه بابا دډهلی له فتح چه لويه سوبه وه؛ کندهار ښارته ننووت؛ چه ډيره دبدبه اوخوشحالي وه. دښار يوهتيوان لاس پرتندي نيولی؛ بابا ته گوري؛ په لوړ آواز ئې وويل دزرغونې زوي بيا په درب کښې دی!

بابا خپلو عسکروته اشاره وکړه ؛ وئې ويل ددرب خلک شاته را روان دي. نو دتاريخي مدارکو له مخې دافغانستان نوم که پاکتيا، ساکستان وای؛ سم ؤ. بيا چه ورو ورو افغانستان شو ؛ بيا ښه خبره ده. ځکه افغان دپښتون معنی لري او ترپښتون نرمه کلمه ده.

ډير رواج شو. کله چه مونږ تخارستان وايو ؛ دا لکه اوسنی تخار ؛ يو وړوکی ولايت نه ؤ. دآمو شمالي او جنوبي برخې په کښې راتلې.

کابلستان دکابل ولايت؛ دکابلستان ساحه ترکندهار، ننگرهار او پېښوره رسيده زابلستان، سيستان هريو دافغانستان لويه برخه وه. غزني ياغور، کندهار، په ټوله نړۍ کښې دارواج دی؛ چه يو هيواد ديوې سيمې ياکورنۍ په نامه يادشي. لکه خلافت بغداد، عثماني خلافت ،روم، پارس، دهند مغلي دولت .... او نور

مگر دهخامنشيانو او ساسانيانو ددولت په مقابل کښې سکائيه ؤ. چه دساکانو ځمکه ده او يومخ په جگړه سره اخته وو. شمالي ايرانـه ترسوريې پورې ددوئ پادشاهي وه. هيرودوت داهم وائي چه په مصرکښې سکائيان له فرعون سره په جگړه

اخته شول. دومره لوئي باعظمته قوم ؤ؛ چه اوسه پورې يې تولـه نړۍ حيرانه کړې ده.

دکليفورډ بارسورث لهٔ قوله چه سيستان کښې داسې دولت دوئ جوړ کړی؛ چه داوسنۍ مدني نړۍ ويلفير يارفاهي اصول يې درلودل.

نومونړ دهغوئ مشران بايد وپيژنو. نومونه ئې عام کړو؛ چه ځينې نومونه يې دادي. دهيروډوټ دتواريخ پهٔ حواله تولواکمنې تومو روس ، دماساگت قوم مشره؛ هيروډوټ وائي داقوم ډير او ښهٔ جنگيالی دی. ځيني وائي دوئ دسکائيانو يوه برخه ده. کوروش دپارس پادشاه دهمدغې تولواکمنې پهٔ لاس ووژل شو.

دتولواکمنې زوې سپارگاپيښ نوميدهٔ؛ چه دکوروش پهٔ لاس کښېوت اودهٔ لهٔ غيرته ځان پخپله وواژهٔ.

۲- تورسوس دسکائيانو پادشاه چه داريوش ئې لهٔ پښو وغورځاوهٔ.

۳- ماديس - پرتاتوا چه اشقري کيتو کښې يې نومونه راغلي دي.

ACKU

# دپاکتيسيا خاوره Pactycia

Pactycia پهٔدې برخـه کـښـې هيـروډوټ دتواريخ ۲۲٦مخ وائي « چه دغـه خلک (پاکتـيسـيـا ) جنگيـالي او دباکـتـريا بلخ خلکوته ورته دي . دغـه سيـمـه هيڅکله دپارسيانو لاس ته نهٔده ورغلې. دوئ دطلا تجارت کوي ».

البته دباختر پاکتر ځينې خلک دهخامنشيانو پهٔ عسکرو کښې داخل شوي؛ بيا دوئ پهٔخپلو کتيبو کښې ددوئ نومونه ليکلي او داسې تبليغ کيږي؛ چه دغه ټولې سيمې دهخامنشيانو پهٔ امپراتورۍ کښې شاملې وې. لنډه دا چه دپښتنو سيموته نهٔ دي رسيدلي او سکائيان ورسره پهٔجګړه بوخت وو.

کومې خبرې چه دپښتنو پهٔ باب وشوې ؛ پهٔقطعي صورت سره هغه نظريې لهٔ مـينځـه وړي؛ چه ځـوک يې بني اسرائيل يا دقـيس اولاد ګڼولي. خـوښـائي قـيس عبدالرشيد يو پلاروي . دغلزو پهٔ باب دمتو او غوري شهزاده روايت هم لهٔ بيخه غلط دی. ځکه متاني ډير پخواني خلک دي.

# د پارس د ساماني پادشاه فيروز مرگ د يفتلي پادشاه لهٔ خوا

فيروز د پارس پادشاه دهياطله قوم خواته ولاړ. چه تخارستان ونيسي. کهٔ څهٔ هم هياطله دفيروز مرسته دپادشاه کيدو پهٔ برخه کښې کړې وه. فيروز ددوئ جگړې ته ورغی. هياطله ؤ فيروز او دهغه څلورزامن او څلورو ورونه مړهٔ کړل. دخراسان خاوره ئې هم ونيوله.

دهياطله پادشاه «اخشنوار» مخکښې تردې چه له فيروز سره دسولې تړون لاسليک کړی ؤ؛ فيروز چه دهياطله سيمې ته نژدې شو؛ هلته «اخشنوار» هياطله پادشاه لوي خندق کيندلی ؤ. فيروز چه خندق ته ورسيد؛ پلونه يې وتړل او بيرغونه يې ودرول؛ چه دبيرته تگ لار ورکه نه کړي.

کله چه فيروز داخشنوار پوځي اډې ته ورسيد؛ اخشنوار ددهٔ دسولې دتړون پاڼه پهٔ نيزې جگه کړه. وئې ويل: «خدايه داتړون تهٔ عملي کړه!».

فيروز او دپارس لښکرو داسې ماته وليده چه هيڅکله نهٔ وه ليدل شوې.

تولواک اخشنوار وويل: «خدای تعالی ظلم نهٔ خوښوي او ظالمان نهٔ اصلاح کوي دظالم پادشاه پهٔ خاوره کښې انصاف پهٔ ظلم لاس ته راځي!». «اخشنه – طبري تاريخ ۶۳۱ مخ».

دافغانستان دخلکو دا تاريخي وظيفه ده؛ چه تيري کوُنکي مات کړي او دخپلواکۍ لاره نړيوالوته وښيي.

تراوسه چه سړی پوهيدای شي؛ فيروز وروسته له کوروش دوهم پادشاه دی؛ چه دافغانانو له لاسه وژل شوی. البته ځرنگه چه تاسو په تفصيل کښې وليدل؛ دپارس

پادشاهانو هڅه کوله چه زمونږ خاوره ونيسي؛ خو سرونه يې خاورې شول. وروسته تر دې درې نور دپارس پادشاهان دافغان لهٔلاسه وژل شوي.

ساک نهٔيوازې دآسيا پهٔ تاريخ کښې بلکه دنړۍ پهٔ تاريخ کښې يو خوځنده او زړور قوم ؤ. ساک او دهغوئ اړوند قبائل بيرته جنوبي او شرقي افغانستان ته راغلل او خپله خپلواکي او موجوديت ئې ترډغه دمه وساته. دسکائيانو جنگی تاکتيکونه څرنگه چه هيرودوټ بيان کړي؛ يوځل بيا دطالبانو پهٔ جگړو کښې وليدل شول. چه دغه موضوع دڅيړلو وړ ده.

احمدشاه بابا يومدني دولت جوړکړ. دومره پهٔډيموکراتيکو اصول ولاړ ؤ؛ چه اروپائي ليکوال هغه ته دلويديځې ډيموکراسۍ پيروکار وائي. حال داچه کهٔداسې وي اروپائيان داحمدشاه بابا لاروي دي. نه احمدشاه بابا دهغوئ.

پښتانهٔ مسؤوليت لري؛ چه‌خپل تاريخ او تاريخي رسالت وساتي. دوئ بايد پهٔ پښتونولۍ سمبال شي. يا پښتونولي خپله کړي. پښتون بې مخی نه‌وي. هيڅ هغه څوک چه پښتونولي نهٔلري؛ پښتون نهٔبلل کيږي؛ کهٔ څهٔ هم لهٔ اصل او نسبه پښتون وي.

سکائيان دنړۍ پهٔ تيره بيا دافغانستان په تاريخ کښې يوه ډيره مهمه برخه‌ده؛ چه له‌بده مرغه دې خبرې ته پاملرنه نه ده‌شوې. دځمکې او خلکو په اعتبار سکائيانو يا ساک سربيره پردې چه‌صفاري دولت يې جوړکړی؛ لومړنی ملي تکل ؤ؛ وروسته لهٔ اسلامه دبيهقي پهٔ حواله دسلطان مسعود غزنوي پهٔلښکروکښې درې زره سکزي او نور خلځيان اوتره کي وو چه پهٔ هندوستان کښې يې سربښندنې وکړې. او ډير يې هلته پاتې شول.

سکائيان مصرته رسيدلي او دمصر لهٔ فرعون سره يې جگړه کړې‌دوئ دکوروش او داريوش سره هم سختې جگړې وکړې. کوروش يې وژلی او داريوش يې پهٔ بدحال شړلی دی. ساک او ساکزي؛ دساک په نامه سيمې چه اوس دساکو پهٔ نامهٔ ياديږي؛ سکاندره سجاوند ،سيستان اونورې سيمې اوس هم‌ددغه لوی‌قوم پهٔ نامه‌دي. سکائيه ددوئ هيواد ؤ. ساکستان هم‌دوئ جوړکړې. خو ساک او ساکستان دخلکو

هیر شول او هیڅ‌چا داونهٔ ویل چه دافغانستان نوم سکائیه یا ساکستان ؤ. هسې خو پهٔ ایران کښې تاریخ دپارس او پارسیانو پهٔ نامهٔ دی. پهٔ داسې حال کښې چه پارس یوازې دایران جنوبي برخه شیراز دی. دبابر او ګوډ تیمور پهٔ وخت کښې پارس همدغه ؤ. ایراني لیکوالو پهٔ دې برخه کښې پهٔ زرهاؤ کتابونه لیکلي. سربیره پردې دوئ خارجي دایرة‌المعارفوته همدغه خپل معلومات ورکړی دی.

سکندرذوالقرنین هم دساکو لهٔ جملې څخه دی. ځکه سکائیان مصر او عربستان ته رسیدلي وو. سکانشاه هم دسکائیان پادشاه ته ویل کیدهٔ. سکائیانو کله پهٔ ایران کښې لاس پوځي پادشاهان درول؛ چه دوهم فرهاد د همداسې یوې معاملې قربانې شو. یعنې سکامرکړ او خپل ژوند یې لهٔ لاسه ورکړ.لکه‌چه دا موضوع کلیفورډ بارسورث دسیستان دتاریخ په شرح کښې یادوي.

کوم‌ګتهور کتاب چه دنړۍ مشهور تاریخ پوه په ۱۹۹۷م کښې خپور کړی؛ «ځمکه دبشرمور» نومیږي . دغه کتاب دهاین بي وروستی کتاب دی.

دغه کتاب کهٔ څهٔ هم دټولې نړۍ تاریخ دی؛ مګر دافغانستان برخه پهٔ کښې ډیره ده. دطبري تاریخ ۲۰۱۵مخ کښې یو مهم مطلب راغلی؛ چه زمونږ لهٔ مدعا سره مرسته کوي. کله‌چه عرب سیستان ته راغلل؛ دعربو او دسیستان دخلکو ترمینځ سوله وشوه. بیا دسیستان په باب داسې لیکي: «سیستان بزرگتر از خراسان ومرزهای آن بیشتر بود که‌با کندهار وترک واقوام بسیار؛ جنگ داشتند وناحیه مابین سند تانهر بلخ مقابل آن بود و پیوسته از خراسان بزرگتر بود ومرز آن سختر بود ومردم آن بیشتر.».

سیستان چه پهٔ حقیقت کښې هاغه ساکستان دی؛ ترخراسان لوي دی او دغه هیواد لهٔ سنده دبلخ تر نهر پورې چه مطلب جیحون دی؛ یوه ناحیه یا هیواد بولي؛ چه تل لهٔ خراسان څخه لوي ؤ. سرحدونه ئې ټینګ او خلک یې ډیر.».

همدغه خبره ده؛ چه دآباسین او آمو ترمینځ ځمکې دترک وکندهار او نورو

قومونو دي. دا يوه ځمکه او هيواد بلل‌شوی؛ چه ترخراسان لوي دی.نو پهٔپای کښې داسې ويلی‌شو:

۱- سيستان چه ساکستان دی دسند او جيحون ( آباسين آمو ) حوزه يې نيولې ده.

۲- دسيستان دولت پهٔ آبادی، عايدات او اجتماعي مرستو لهٔ مخې دنړی لهٔ پرمختلليو هيوادو څخه ؤ.

۳- کهٔ ساکستان یاPactycia پاکتيسيا ، پکتيکا يا پښتونخوا چه لهٔباکتر پاکتر پکتيا پکتانه شوي دي؛ دافغانستان نوم وای؛ منطقي وه. مګر دتاريخ لهٔ مخې خراسان دافغانستان نوم نهٔؤ. بوازې يو ولايت دی.

٤- دپښتنو لرغونی تاريخ هغه نه‌دی؛ چه زمونږ تاريخ پوهانو بيان کړی.

٥- خلج او ترک هماغه غلځي او تره کي دي ؛ چه پوهاند حبيبي داخبره دګرديزي پهٔ حاشيو کښې راوستې ده.

دافغانستان پهٔ شا اوخوا کښې ازبکستان، تاجکستان ، ترکمنستان اوايران لهٔخپلو لاس وهنو سره ؛ دافغانستان ملی وحدت ته صدمه رسولې او دهغه حل دوئ لارې لري. یا په پوره طاقت دافغانستان ساتل. یا افغانستان دپښتنو په اعتبار پيژندل؛ چه دواړه صورتونه امکان لري.

کله‌چه دميرويس نيکه او احمدشاه‌بابا حرمت ونه‌ساتل شو؛ هغه پښتانه چه په څه پوهيدل؛ ډير خواشيني شول. همدوئ‌وو ؛ چه‌له( ۱۳۷۱ -۱۳۷٦ هـ لمريز ) پورې دميرويس نيکه او احمد شاه‌بابا په نامه غونډې، ليکنې ستاينې پيل شوې.

له‌بلې خوا دمخالفو ليکوالو سره په قلمی جګړه بوخت‌ؤم ؛ دتاريخ مطالعې ته‌مې دوام ورکړ. اوس چه تاسو دغه کرښې لولئ ؛ هر مطلب له‌يوه معتبر کتاب څخه اخستل شوی او ښه کتابونه‌پهٔلاس راغلي. که زه وکولای شم ؛ خپله مطالعه لهٔ افغانانو سره‌شريکه کړم.

زه خپلو فکرو، سره مشغول يم . ددنيا له‌ډيرو چارو څخه يې وايستلم. مګر راضي يم. ځکه کهٔ نورنه پوهيږي زه‌خوپوهيږم او قانع يم. خپل يادداشتونه می‌راټول او پهٔ يوهٔ کتاب کښې مې ځای کړل.

ما لهٔ پښتنو مشرانو سره خبرې هم کړي. زما دعمر دوره همداسې وه؛ چه دغه مهال سرحدونه يو پهٔ بل پسې ماتيدل. دا خوا دېخوا، يالروبرسره تلل راتلل. او پهٔ ډير پراخ وخت کښې مو مسايل سره وڅيړل. اوس چه دپښتنو پهٔ شااوخواکښې ابرقدرت يا لوي طاقت نشته. ددوئ د ودې دپاره زمينه برابره شوې ده.

دطبري تاريخ کښې ۲۱٤۹ مخ کښې يوځل بيا ددې خبرې پخلي شوی؛ چه دافغانستان تاريخي خاوره هماغه تاريخي خاوره ده!« گويد: پس يزدگرد باکسان خود سوی مروه رفت از اولاد دهقانان گروگانها همراه داشت و از سران قوم فرخزاد باوی بود . چون به مروه رسيد؛ از پادشا هان برضد عربان کمک خواست و نامه نوشت به فرمانروايان چين وشاه فرغانه وشاه کابل وشاه خزر. »

ددې مطلب تفصيل دادی چه دحضرت عمر خطاب (رض) دخلافت پهٔ دوران کښې عرب داسلام تربيرغ لاندې اوسني ايران يا پارس ته راغلل. يزدگرد ساساني وروستنی پادشاه وتښتيد او مروته راغی. بيايې پادشاهانوته ليکونه واستول او لهٔ هغوئ څخه يې دعربو پهٔ ضد مرسته وغوښته او دغه پادشاهان؛ دچين پادشاه دفرغانې پادشاه دکابل پادشاه اودخزر لهٔ پادشاه څخه عبارت ؤ.

داسې ښکاري چه دچين ، فرغانې او خزر پادشاه پهٔ مينځ کښې دکابل پادشاه ؤ. خزر دايران شمال او خراسان سره جوخت دی. فرغانه آموسيند نه بره ده. بيرته دهند چين، فرغانې او خزر ترمينځ ځمکه دکابلشاهانو وه چه کوشانيان وو. رتبيل ، راسل زنبيل يې پادشاهان وو. چه مخکښې خبرې پرې شوې دي.

مخکښې داهم ويل شوي: چه کله هندوسند، چين، پارس ويل کيږي دا لهٔ اوسنی يعنې زمونږ د زمانې لهٔ سرحدو او حدودو سره توپير لري. سيستان ، کابلستان ، زابلستان، تخارستان او تيره زمانه کښې باکتر، بلخ ، پکتا ، پکتيسيا ، ساکستان دافغانستان خاوره وه.

# چه نهٔ کوي نوځهٔ کوې؟

بارسورث دسيستان دتاريخ په باب يولنډيز (مخ ۱۱۸) کښې ليکي.

په کال ٦٧٩م کښې حجاج عبيدالله ته دافغانستان دختيځو او جنوبي سيمو پهٔ باب داسې فرمان ورکړ: «لهٔ هغو مسلمانانو سره چه تاسره دي؛ لهٔ زنبيل سره جگړه پيل کړه. بيرته مهٔ راځه. ځودې دهغوئ ځمکې نهٔ دي ويجاړې کړې، کلاگانې يې ونړوه. جنگياليي يې ووژنه، زامن يې اسيران کړه».

کله چه عبيدالله دغه قاطع ويجاړوُنکی فرمان ترلاسه کوي؛ نو لهٔ شلو زرو غښتلو سپاهيانو سره دکابل پرلوري راځي.

دغــه ټول لښکر ووژل شي اوځکه ورتـه (جنودفنأ) يعنې ترې تم لښکر وائي او دهمدغه ناتار پهٔ برخه کښې اعشي عرب شاعر پهٔ يوه ټوټه شعرکښې خپل وير داسې ځرگندوي:

داسوځوونکی غم پهٔ کوگل کښې څهٔ شی دی؟
دا د اوښکو سيلاب ولې بهيږي؟
لهٔلورې ئې دخپلو آسانو اونسل غوښې وخوړې!
کوم لښکر داسې ترې تم شوی؟
چه کابل کښې زموږ لښکر ترې تم شو!
خپلو ميرمنوته ووايأست!
دومره وژاړئ چه ستوني موبند شي!
ځکه بيرته څوک نهٔ درځي، ټول سرهٔ شوي دي!
ای عبيدالله څهٔ وشول چه لهٔ تا

شل زره زغره وال وسله وال ځوانان مړه شول؟
داخو دکوفې اوبصرې غښتلي؛ خوښ شوي؛ ځوانان وو!
له مقدسو ښارونو!
ته دهغو سالارو ې تباه دې کړل
داسې چه لاهم دجګړې اور ژبه راباسي
او زمونږ ځوانان په ګیډه منډې!

## لومړی ملي غورځنګ :

دغه غورځنګ هغه مهال پیل شو؛ چه دبغداد دخلافت له خوا دغربي او شمالي افغانستان یوه زیاته برخه اداره کېدله او پاتې برخو هم یو ډول باج ورکاوه: ( دوهمه هجري شمسي پېړۍ او میلادي پېړۍ).

هغه وخت کښې دخلافت عاملانو په ظلم دبغداد دپاره کالنی خراج ټولاوه او هغه به یې ورله لېږه. دخلافت همدغه پیسې په کارو ې. نورنو عاملانو چه هرڅه کول؛ په دوئ پورې یې اړه نه درلوده.

دغه وخت په سیستان او دزرنج په ښارکښې ددغو ظلمونو چاره په مختلفو صورتونو ولټول شوه. نورو ځایوکښې « بابک خرم » ډېر په سختۍ سره دعربو مقابلې ته راپاڅېد اولښکرې یې جوړې کړې. دزردشت دین یې اصلاح کړاو خپله مبارزه یې شروع کړه . مریانو یازنګیانو هم بغاوت وکړ. دخوارجو په نامه نورخلک هم پاڅېدل. حتی غوښتل یې چه یومذهبی کتاب ولیکي؛ څو دقرآن پاک مقابله وشي. دغه ټول تکلونه دظالمو حاکمانو دلاسه پیدا شوي وو. خلک هک پک او اریان دریان وو چه څه وکړي؟ مسلمانان دغسې یوې مسلمانۍ ته په فکرکښې وو.

د افغانستان له خوا دوه ډوله مبارزه شروع شوه. برمکیانو چه یوه علمي کورنۍ وه په دربار کښې یې نفود وکړ؛ چه له هغې لارې اصلاحات راولي.ابو مسلم خراساني په جنګ کښې اموي خلافت په عباسي خلافت بدل کړ. خو دظلم لمنه ټوله نه شوه.

پهٔ بست او زرنج کښې يوه بله روحيه را پيدا شوه ؛ چـــه دخلکو لـهٔ روح سره يې پوره اړخ لگاوهٔ. هغـه ځوانمردي او ميړانه وه. مړنو ميړنتوب اساسي چاره وگڼله. نامـيړهٔ اونامـرده خلکو نه يې بد راغلل. تسليم طلبو ، غـوړ مـالو، ورغ تيـرؤنکو؛ دملت پرضد دظالمانو مرسته کوله. ډيره غټه ناځواني وه.

نولومړی ملي غورځنگ پهٔ ميړانه او ځوانمردۍ پهٔ پښو ودريد؛ چه تر اوسه دافغان ملت اصلي او اساسي جوهر تشکيلوي.

ميړانه اوځوانمردي څهٔ شی دی؟

ميړانه دوه برخې لري. لومړي داسلام لهٔ ارشاد سره سم ؛ پرخپلو نفسي هيلو باندې برى مـوندل او دوهمـه برخـه دمـيـړنو کـارونه کـول. لکه دمظلوم سره دريدل او دظالم ټکول؛ دروغ نهٔ ويل او پرخپله خبره دريدل. پرظالم او ناځوانه سخت گوزار کول.

يومـيړنی دمالگې خوړلو، دوستۍ اووعدې حرمت ساتي. خپل فکري او جسمي طاقت دمظلومانو دحق اخستلو پهٔ لاره کښې خرڅول يامصرفول.

پښتونولي ددغو ځوانمردیو اوناريتوب يوه مجموعه ده؛ چه وروسته يې دقانون او انساني خوي او خصلت بڼه غوره کړې ده. ځوانمرد ته پهٔ عربي کښې فتی وائي او يو شاعر احمدشاه بابا دځوانمردۍ او ميړانې دبحر گوهر بولي.

گوهر بحر فتوت اختر برج شرف     شه يی شاهان جهان احمدشاه والاتبار

ميـړانه او ځوانمردي يانارينتوب هغـه محـور دی؛ چه افغـانـان پرهغـه محـور خپل غـورځنگ پرمـخ بيائي. نارينه پيسـې اودنيـائي متـاع نهٔ غـواړي. ښـهٔ نوم، ښهٔ عمل کلکوالی خپل صفت بولي.

نارينه اومـيـړنی سړی مظلومانوتـه پناه ورکوي. پهٔ سر اومال دهغـو ساتنه کوي. دخدای پاک سره مينه او دهغه عبادت پهٔ خپل روح او زړهٔ سره کوي. ريأنه بده مني، ميړهٔ سړی دبل گټه پهٔ خپل تاوان مني او الهي مقدرات پهٔ خوښۍ قبلوي.

وائي چه پادشاه عمروليث صفار (۸۷۸- ۹۰۰م) له کرمان څخه دسيستان لوري روان ؤ. (محمد) ددهٔ زوي هم ورسره ؤ. محمد ښکلی او زړور ځوان ؤ. په لارکښې ناروغ شو، او عمرو نهٔشول کولای چه ددهٔ دپاره پاتې شي. دی سيستان ته راغی. دزوي دپاره ئې طبيب او نورخلک وگومارل، امرئې وکړ چه هرودوگړيو کښې دهٔ ته دزوي احوال ورکړي. احوالونه پرله پسې راتلل. پخپله ئې غوږته خلاصه کړه. پرځمکه ئې مصلّه وغوړوله. کښيناست . همالته ئې وچه ډوډۍ لهٔاوبو سره وخوړه او پهٔ لمانځهٔ لگياؤ. اوليکلي احوالونه ئې دزوي پهٔ باب لوستل. اتمه ورځ دجمازه سپرلو مشر راغی او مکتوب ورسره نهٔؤ. ليکونکي دمحمد د مړينې خبره نهٔؤ ليکلې. عمروليث پاچا دهغه لهٔخيرې پوه شو؛ چه دخدای امر اجرأ شوی نووئې ويل (ماشوم فرمان وموند؟). دجمازه سپرو مشر وويل خدای دې دپادشاه عمر ډيرکړي، عمروليث پاچا وويل لهٔ خدای تعالی نهٔراضي او شکر گذاريم؛ هرڅهٔ ئې چه وغوښتل وئې کړل اوهرڅهٔ چه ؤغواړي کوي يې».دسپرلو مشر تهٔئې وويل: چاتهڅهٔ مهٔوايه. ددسترخوان مشرته ووايه چه عام او خاصوتهٔلويه ميلمستيا جوړه کړي. سندرغاړي را ؤغواړي؛ چه سبا عام دربارکوٌم. ټول لښکر، عام خلک، وزيران او ددولت ارکان راغلل. ورځ ئې پهٔ خوشحالۍ تيره کړه. ډول ډول طعامونه او نعمتونه وخوړل شول. دميلمستيا پهٔپای کښې پادشاه وويل: مرگ حق دی. زهٔ اووهٔ شپې بې خوبه اونهر دالله پهٔ دربارکښې پهٔعذرکښې ؤم. دطبيبانو هڅو گټه ونهٔ رسوله. ځکهٔدخدای حکم دغه شان ؤ. زما زوي محمد مړ شو!

اوس نارې سورې گټه نهٔلري. خپلو کورونوته لاړ شئ. دخدای تعالی دارادې پهٔ مقابل کښې تسليم او شاکر واوسئ. ټولو دميړني پادشاه پر روحې قدرت او دايمان پهٔ درجې آفرين ووايهٔ. لهٔ پورتنۍ قصې نهٔچه واقعي قصه ده ، ديوهٔ نارينه صبراو تسليم؛ ميړانه او غيرت پهٔښه توگه څرگنديږي.

عمروليث ديعقوب ليث ورور ؤ؛ چه وروسته لهٔ دهٔ پادشاه شوی ؤ. دواړه دځوانمردانو لهٔډلې څخه ؤ. پهٔ ملي تاريخ کښې لومړنی ملي غورځنگ دی. دبغداد

دخلافت پهٔ مقابل کښې. وروسته تر اسلام نه. يعنې پهٔ دوهمه هجري پيړۍ کښې شروع شو. هغوئ د اداري قلمرو ساحه او پر اختيا لهٔ هنده تر عراقه او پهٔ شمال کښې مرکزي آسيا يو شمير ملکونه شامل وو. مرکزئې زرنج، مهم تجارتي مرکز دبست ښار ؤ.

دلومړي ملي غورځنگ يا ملي رغاونې پهٔ پوله کښې نارينتوب اوځوانمردي اصلي عنصر ؤ. پهٔ بنيادي توگه پهٔ افغانستان کښې دملي شخصيت اوملي دولت دپاره ځوانمردي پهٔ هغه تعريف چه مخکښې وشوه جوړوُنکی عنصر دی. نژاد او قبيله هغه عناصر دي چه اهميت لري. مگر دځوانمردۍ پهٔ اندازهٔ ئې اهميت نهٔ ليدل کيږي.

يو تازه مثال ببرک خان ځدراڼ دحبيب الله خان، امان الله خان پهٔ وختونو کښې دی. هغه ډير مشهور ؤ. هر افغاني قوم هغهٔ ته احترام درلودٌ. ببرک او زمرک ددهٔ زامن هر کال به ئې دپکتيا عسکري فرقې ته ميلمستيا کوله. دغه عسکرچه دشمال مرکز ختيځ او لويديځ او لهٔ بېلوبيلو خلکو څخه وو؛ دهٔ رابلل اودټولو عزت به ئې داسې کاوهٔ چه دی به دميلمه پال پهٔ حيث آخرسرکښې داوبو جام پهٔ لاس ولاړ ؤ. دغه ډول اخلاق دگردې پښتو نخوا پهٔ ټولو مشرانو او کشرانو کښې موجود وو. او درناوی ئې پهٔ ټولو قومونو کښې يو شان کيدی.

# لومړني ملي نهضت ته تاريخي کتنه

په دريمه هجري پيړۍ کښې ۲۳۹هـ ۸۵٤م يعقوب ليث دبغداد حاکم له پښتو وغورځاوه. دسيستان اودغربي افغانستان خپلواکي ئې اعلام کړه. بيا دخراسان په لوري وخوځيد. په نيشاپور کښې ئې دطاهري کورنۍ وروستی امير چه دبغداد په نمايندګۍ ناست ؤ. تسليم کړ. يعنې (وئې غورځاوه) او خپله توره ئې وايسته چه زه پادشاه يم. خليفه هم دتورې په زور ناست دی. زما هم دغه توره حکم او فرمان دی.

بيا يعقوب چه يو ځوانمرد او عيارؤ دنورو عيارانو په مرسته ئې خلک پرځان راټول کړل او يو ملي وحدت ئې رامينځ ته کړ. خلک له باج ورکولو او ظلم نه خلاص شول دنورو ملکو له خوا په رسميت وپيژندل شو.

يعقوب ليث صفار خپلې لښکرې دبغداد په لوري وخوځولې. معتمد خليفه ډيروارخطأ شو. ځکه دزرنج لښکرې ددجلې سيندته رسيدلې وې. نو خليفه داسې يو ليک ديعقوب صفار په نامه واستاوه: «جهان موتاته وسپاره چه ته دهغه واکمن واوسې!». يوه خطبه زمونږ بس دی. ځکه مونږ دمصطفی له اهل بيت څخه يو اوته دهغه ددين قوت يې. ته هند، چين، ترکستان اوسرانديب اوسمندرونو ته رسيدلی ئې ستا حق په ټول اسلام واجب ګرځېدلی. مونږ فرمان ورکړی چه په حرمين کښې ستا خطبه ولوستله شي. کوم عدل چه ستا په دورکښې دی؛ دابوبکر(رض) او عمر(رض) په دورکښې نه ؤ اوته کولی شې مسلمانان سره يوکړې». (هنګامه تاريخ).

ويل کيږي چه خليفه دغه ليک په صداقت نه ؤ ليکلی. يوازې غوښتل ئې چه يعقوب له جګړې نه منصرف کړي.

دځوانمردانو دولت؛ ابادي، علم، صنعت او ادب راؤست. عربي ژبه ئې ليرې کړه

او عربي قيادت سره ئې پرې کړل.

يعقوب ترپايه شاهي ښکلا او دبدبه نهٔ درلوده. ساده جامې ئې اغوستې. اوساده خوراک ئي کاوۀ. لکه چه احمدشاه بابا پهٔ اتلسمه پيړۍ کښې دغسې ساده او د عامو خلکو ژوند کاوۀ.

وروسته لهٔ يعقوب نه ددهٔ ورور عمرو چه يو زړور ځوانمرد ؤ؛ پادشاه شو. لهٔ غريبو خلکو ماليه نه اخستل کيده او معذورو خلکوته لکه شل، گوډ، ړاندهٔ اونورو ناروغانو ته ددولت لهٔ خزانې نه تنخوا ورکول کيده؛ چه پهٔ خپل نوعيت کښې لکه دشمالي اروپا هيوادونو پهٔ شان يو پروگرام عملي کيدهٔ. مگر دغه پهٔ شلمه پيړۍ کښې؛ خو پهٔ افغانستان کښې پهٔ نهمه پيړۍ کښې دغسې يو دولت موجود ؤ.

° افغانستان دخپل جغرافيائي موقعيت پهٔ اساس تر اوسه دلويو قدرتو لهٔ خوا ځپل کيږي او پهٔ وار وار دغه ملک وران شوی دی. خو ځوانمردان ئې بيرته جوړوي. مگر د وروسته پاتې کيدو مخه نهٔ نيول کيږي. ځکه پيړۍ پيړۍ پهٔ دغه حالت اخته، يو ملک دی.

دځوانمردۍ پر بنسټ ولاړ افغاني لومړنی غورځنگ دعباسي خلافت څخه نهٔ يوازې خپل خلک خپلواک کړل؛ بلکه دخلافت دعمالو لهٔ جنجال څخه ئې ځينې نور هيوادونه هم آزاد کړل.

عفت او پاک لمني دځوانمردۍ يوه بله برخه ده. چه پهٔ ملي تاريخ کښې دهغه ذکر راغلی؛ لهٔ بهرنيو ليکوالو سره لهٔ بدبينی؛ ددوئ پاکلمني ستايلي ده. لکهارت د سقوط دولت صفوي؛ پهٔ کتاب کښې دمحمود افغان پاکلمني چه ۲۲ کلن ځلمی ؤ؛ يادوي. چه اصفهان کښې دوو سوو ايراني او ارمني ښکلو شمعې پهٔ لاس نجونو؛ ددهٔ هر کلی وکړ. خو ده يوې ته هم پورته ونه کتل.

هنگامه تاريخ وائي: يوسړی ديعقوب دمانۍ ترمخې خپه ناست ؤ. پادشاه پوښتنه ځنې وکړه چه ولې خپه يې؟

هغهٔ وویل چه دویلو خبره نهٔ ده. یعقوب ورته وویل: هرڅهٔ چه وائې؟ وواپه! هغهٔ وویل: ستا لهٔ سرهنگانو څخه یو سرهنگ هره شپه یا یوه شپه وروسته زما کورته دبې ناموسۍ دپاره راځي.

یعقوب وویل: لاحول ولا ... ولې دې پخوا ماته نهٔ وویل. تهٔ لاړشه خپل کورته. هر کله چه هغه سرهنگ راغیٔ ته دماښې شاته راشه. دلته به یو عسکر ولاړ وي تاسره به لاړشي او ستا غچ به واخلي.

نوموړی کورته لاړ. پهٔ هغه شپه سرهنگ رانهٔ غی. پهٔ بله شپه راغی. نو سړی پهٔ منډه دماښې شاته راغی. هلته یو عسکرولاړ ؤ. عسکر پوښتنه وکړه چه راغلې؟ دهٔ وویل هو! عسکرورسره لاړ. هلته ئې پهٔ کټ کښې سرهنگ وروښود. عسکر توره جگه او پرسرهنگ یې راکوزه کړه. سرهنگ ئې دوه نیمه کړ. عسکر وویل چراغ بل کړه. سړي چراغ بل کړ. ویل ئې اوبهٔ راکړه. اوبهٔ مې ورکړې، چه دعسکر مخ ته مې وکتل: پخپله پادشاه یعقوب ملک دین و دنیا ؤ.

یعقوب وویل: پهٔ خدای قسم چه ماته دې دغه خبره کړې؛ ما داوبو او ډوډۍ څکه نهٔ ده کړې. ځان سره مې ویلي ؤ؛ څو ستا حق پرځای نهٔ کړم؛ لهٔ څهٔ شي څکه نهٔ کوم.

بیائې وویل دامړی را واخله! دی مخکښې زهٔ ورپسې. دسرهنگ مړی ئې پهٔ یوهٔ خندق کښې واچاوهٔ. ماته ئې وویل: تهٔ لاړ شه کورته. سبائې د جهرچیانو پهٔ وسیله امروکړ؛ هرڅوک چه غواړي دخلکو دناموس احترام ونهٔ ساتي؛ هغه خندق ته دې لاړشي نتیجه دې پخپله وګوري.

دافغان ملي تاریخ ددغو خصوصیاتو پربنأ جوړ شوی دی. یعقوب خلیفه ته وویل: زهٔ دخهمتا جامې پهٔ ځان کښې لرم. پیاز او ډوډۍ مې پهٔ جیب کښې وي. پهٔ شپه او ورځ کښې یو سل اویا رکعته لمونځ کوم؛ چه فرض او نوافل دي. اماتهٔ پهٔ عیش او نوش لګیا ئې. ستا دربار افسانوي درباردی. تهٔ څنګه داسلامیت دعوی لرې. چه دمسلمانانو قتل عام روا بولې؟

# د امير خلف صفار حكم

امير خلف صفار وروستنى صفاري پادشاه ؤ. دهٔ لهٔ سمسورتيا سره ډيره علاقه درلوده. يوه ورځ امير پهٔ ښکار پسې وتلى ؤ. يو ځاى ته ورسيد؛ چه شا او خوا ځمکې سمسورې وې او يوه ټوټه ځمکه شاړه پرته وه. اميرد کلي لهٔ خلکونه پوښتنه وکړه چه دغه ټوټه ځمکه ولې شاړه ده؟

خلکو وويل: چه دغه ځمکه ديوې بوډۍ ده. خو څه نهٔ لري؛ چه ورته ئې وکري.

امير ډير پهٔ قهر شو؛ چه تاسو دکلي خلک دومره ميړانه نهٔ لرئ؛ چه دغې بيچاره بوډۍ ته دغه يوه ټوټه ځمکه پهٔ آشروکرئ؟

څوزهٔ بيرته راځم: دغې ځمکې کښې ميوه لرونکې ونې وي او ښائي ښه آباده شي.

اميرخلف حکم وکړ چه کهٔ چيرې دکونډو، زړو او ماشومانو ځمکه بې کره پاتې وه دولت ته کلي مسؤول دى او سخته سزا به ورکړ شي. تر اوسه پورې دکونډو، بوډاګانو او ماشومانو ځمکه دکلي دخلکو لهٔ خوا دځوانمردۍ پهٔ حساب کرل کيږي او دژمي خس اود سون لرګي دغو معذورو اوبې وزلوته پهٔ اشر برابريږي.

## يادونه:

ددې دپاره چه دصفاريانو يا د لومړني ملي غورځنګ پهٔ باب بشپړ معلومات ترلاسه شي؛( دسيستان تاريخ) او د (يعقوب ليث صفار) کتابونه دې وکتل شي.

البته ايراني ليکوال دشرقي ايران پهٔ نامه افغاني وياړنې دځان بولي. مګر بست او زرنج دافغانستان دي او ؤ. لوستونکي دې هغهٔ ته پاملرنه نهٔ کوي. دافغانستان خلک پهٔ داسي حال کښې چه د حافظ او سعدي شيرازي لهٔ اشعارو او آثارو سره ډيره مينه لري.

# لومړنی ملي تکل

## اسلام او لوي افغانستان

اوومه میلادي پیړۍ وه چه داسلام رڼا په خپریدو شوه. افغانستان که څهٔ هم دافغانانو په لاس کښې ؤ؛ خودرې برخې ؤ. هماغه کوشانیان، یفتلیان اوسکائیان وو؛ چه کابلستان؛ تخارستان او سیستان ئې په لاس کښې ؤ.

په کابلستان کښې کوشاني پادشاهان لهٔ (رتبیل، زنبیل، زنبورک) څخه عبارت:

په تخارستان یفتلیان او په سیستان ساکزیانو حکومت کاوهٔ. هره سیمه دومره لویه وه؛ چه په حقیقت کښې هماغه لوي افغانستان لهٔ سغد او فرغانې نه ترسند او ملتان کرمان او خراسان پورې ؤ. خو یوه کاسه نهٔوه. هر یو خپلواک او زورورؤ او پښتانهٔ هم.

لهٔ سیستان او خراسان څخه اسلامي لښکرې دافغانستان شمال او جنوب ته وخوځیدې.

دطبري تاریخ افغانستان یو هیواد بولي. خودسیستان پهٔ نامهٔ. دطبري پهٔ ۱۵۰۲ مخ کښې داسې راغلي: « سیستان بزرگتر از خراسان ومرز های آن بیشتر بود که باقندهار وترک و اقوام بسیار جنگ داشتند و ناحیه مابین سند تانهر بلخ مقابل آن بود و پیوسته از خراسان بزرگتر بود ومرزهای سختر بود ومردم آن بیشتر. ».

دطبري پهٔ خبره لهٔ آمو نه ترسند پورې یو هیواد ؤ او هغه سیستان ؤ. یاسکستان چه عرب ئې سجستان بولي او پارسیان یې سیستان. پهٔ اصل کښې ساکستان یعنې دساکانو سیمه یا هیواد دی.

پهٔ لومړي ځل دحضرت عمر (رض) دخلافت پهٔ مهال دعربو لښکر دمکران لهٔ لوري دپښتنو سیموته نژدې شو. خبریال حضرت عمر (رض) ته څرګنده کړه چه داسې ځای ته

رسيدلي يو چه؛ « سيمې ئې غرنۍ، خلک ئې ميړني، ميوه ئې خوندني، اوبه ئې ثړبنې دي ».

حضرت عمر (رض) وويل سجع وايې که خبر؟ سجع نهٔ وايم؛ خبر دی. حضرت عمر (رض) وفرمايل : دغې سيمې ته وړاندې مهٔ ورځئ.

# سکزيان يا صفاريان

کله چه حضرت عثمان بن عفان (رض) خليفه شو؛ يو بل لښکر کابلستان ته وليږل شو .( دطبري ۸۹ ۰ ۲مخ ) دغه لښکر دعبدالله بن عامر ترمشرۍ لاندې ؤ. لښکر هلته ورسيد. کابل دسيستان برخه وه او تر خراسان لوي ؤ.

څنگه چه معاويه مړ شو؛ دکابل خلکو پاڅون وکړ. وائي چه لومړی ليک چه حضرت عثمان (رض) خپلو عاملانو ته وليکی؛ په دې مضمون ؤ: « امابعد خدای لاربښودانو ته ويلي چه ساتونکي وي؛ نهٔ خراج اخستونکي. ددغه دين مخکښان ساتونکي وو؛ نهٔ خراج اخستونکي. څهٔ نهٔ دي پاتي؛ چه ستاسو لاربښوونکي خراج اخستونکي شي اوساتونکي نهٔ وي . کهٔ چيرې داسې نهٔ وي؛ شرم، امانت او وفانهٔ پاتې کيږي!».

حجاج بن يوسف عبيدالله ته فرمان ورکړ: « کله چه کابل ته ورسيدئ کلاگانې ونړوئ، ځوانان ئې مړهٔ کړئ، ځوانې ښځې ئې راولئ. بوداگان اوماشومان پرېږدئ!» کله چه کابلشاهان خبر شول، نوجگړې ته چمتو شول او داسې جگړه ئې وکړه چه دعربو لښکر ترې تم شو او ځکه خو دغه لښکرته جنود فنأ وائي.

سيستان ديولړ پاڅونو مرکز ؤ. لهٔ بلې خوا زرنج لوي ښار ؤ. هلته علم او تجارت ؤ دشگو مخې ته ئې بندونه جوړ کړي. بادي ژرندې گرځيدلې اوبه ئې لهٔ ځاگانو ايستلې اودهيرمند په سيند کښې بيړۍ گرځيدلې. لهٔ بست څخه مالونه زرنج ته وړل کېدل. دساکستان دخلکو رياضي زده وه. څرخه ئې جوړه کړې؛ اجتماعي اصول ئې پر رفاه ولاړ وو. ناروغو، يتيمانو، ماتوگوډو؛ مسافرو، بنديانو، زړو، نارينهٔ او ښځوته ددولت لهٔ پلوه وظيفه يا تنخوا مقرره وه.

سيستان ته دحضرت عثمان په خلافت کښې عبدالله بن عامر را ورسيد. دسيستان

لښکرو لهٔ ښاره دباندې سختې جګړې وکړې. ډيرمسلمانان پهٔ شهادت ورسيدل.
کله چه دسيستان خلک بيرته ښارته ننوتل ؛ داورځيو (آتشکده ها ) مؤبدان دسيستان پادشاه اران بن رستم بن آزاد بن بختيارته مشوره ورکړه؛ چه زمونږ پهٔ کتابو کښې داسلام زيری ورکړ شوی.

دسولې دخبرو پهٔ مهال کښې چه داسلام شرايط دوئ ته وويل شول ؛ ساکزو وويل: څهٔ توپير نشته. مونږ لهٔ لرغوني مهالو دروغ نهٔ وايو. ناحق وينې نهٔ تويوو. حرام مال نهٔ خورو. دچا پهٔ مال ، ناموس اوژوند تيری نهٔ کوو. ښځې مو پاکلمنې دي. زنأ اولواطت جواز نهٔ لري او سخته سزأ لري. نو زمونږ داصولو ( پښتونولی)او اسلام ترمينځ توپير نشته . ستاسو اصول او انتظام منل ، مونږ ته طبيعي ده. خو ربيع چه يو ظالم سړی ؤ؛ وويل دعقل خاوندان داسې ويناٴ کوي چه تاسو وکړه. دبست خلکو لهٔ ربيع سره جګړه وکړه او تسليم نهٔ شول.

بيا عبدالرحمن سمره « آران» دهغه هرکلی وکړ او لهٔ ربيع ئې خوښي څرګنده نهٔ کړه دصورة الارض پهٔ وينا قرنين يو وړوکی ښاردی. پهٔ سيستان کښې دڅروزن پهٔ دوه کروهي کښې دبست پهٔ لوري.

دقرنين پهٔ ښار کښې دمسګرو يوه کورنۍ وه . مسګرته پهٔ عربي ژبه کښې صفار وائي دادصفار کلمه لهٔ دغې کورنۍ سره دومره مشهوره شوه چه دقوم او هيواد ځای ئې ونيو. صفاري دولت يادېدهٔ؛ پهٔ داسې حال کښې چه قرنين، سيستان او دغه خلک ساکزيان دي؛ چه سکزيان هم بلل کيږي.

هلته څلور وروڼو دسکزي کارکاوهٔ. چه يو ئې يعقوب ،بل ئې عمرو بل علي اوطاهر نوميدل او ددوئ پلار ليث نوميدهٔ . لهٔ دغو وروڼو يو لوي ميراث پاتې شو؛ چه هغه ميړنتوب او عياري ده. دغه عياري پهٔ نهمه ميلادي پيړۍ کښې پهٔ افغانستان کښې ددولت پهٔ سويه وه . پهٔ يوولسمه پيړۍ کښې اروپا ته ورسيده . هلته د mieg-thood پهٔ نامه ياده شوه. مړنتوب هماغه پښتونولي ده ! چه پهٔ پښتنو کښې تر اوسه پاتې ده .

پښتنانهٔ چه نن دسور ، ساک، کوشاني ، يفتلي، صفاري، غوري ، هوتک ، ابدالي ميراث لري؛ ميړنتوب هم ورسره دی. دغه ميړنتوب يا پښتونولي دصفاري دولت لړې دد.

دصفاريانو پلازمينه زرنج اوس دناد علي پهٔ نامهٔ يوه ولسوالي ده چه دهغه لهٔ کنډوالو تراوسه ديوهٔ برم ننبې ښکاري. پهٔ تاريخ کښې ئې دغه ښار پيغله ښار ويلی ځکه د چا لاس پرې نهٔ شو برکيدای.

مخکښې ترديې پهٔ دې برخه کښې چه سيستان په اصل کښې ساکستان يعنی دساکو ځمکه ده . ساک ، ساکزي، سکزي ، همدغه اوسني ساک دي؛ چه دافغانستان په بيلو، بيلو ځايو کښې ساک هم دځمکې نوم دی؛ هم دخلکو. کابل، گرديز. ميدان اوډيرو نورو ځايو کښې دساکو پهٔ نامه سيمې شته. خو دومره پهٔ قاطعيت چا نهٔ دي ويلی. مگر کله چه پرنگيانو پهٔ دې برخه کښې پهٔ زغرده خبرې وکړې بيا لړې لړې خبرې پيل شوې.

پهٔ دغې ليکنې کښې هڅه شوې چه لږ و ډير هغه روحيه ولري پهٔ کوم مهال کښې چه ليکل کيږي. دسيستان چه هماغه ساکستان دی؛ ځينې خصوصيتونه پهٔ نړۍ کښې يو څرگند غورځ والی لري او هغه دادي:

الف : تجارت اوبېړۍ چـلول؛ دهيرمند پـــهٔ سيندکښې مخکښې تر ميلاده (۵۰۰-۱۰۰۰) کاله.

ب : لومړنی ماشين يا «څرخه» «ارابه» پيژندل اوپهٔ کارول.

ج : لهٔ سرپټو څاگانو څخه په فني ډول اوبه دڅکاک او باغونو دپاره ايستل.

د : له همدغه سيستم داوړو دپاره کاراخستل: دغلو دانو اوړه کول.

هـ : پهٔ رياضي او هندسه پوهيدل. او دباددچليدلو سمتونه اومهالونه پيژندل.

و : دعوايدو اومصرف سنجول، پراختيائې اوټولنيزو مرستوته پيسې درلودل.

ز : دماليې اصول درلودل. دلږو عوايدو خلک لهٔ ماليې معافول.

دسکائيـانو دولت دمـړنو اوځـوانمردانو څـخـهٔ. ددولت پهٔ ټولو اړخـونو کـښـې

دميړنتوب اصول چليدل.

خوارج هم پهٔ سيستان کښې راغونډ شوي وو؛ چه دخلافت دمخالفت يو مرکزؤ. لهٔ هغې ډلې نه يو سړي دحمزه پهٔ نامـهٔ لهٔ اموي او عباسي خلافت سره کلکې جګړې وکولې او ډير تاوانونه ئې ورواړول.

حمزه ته عبدالله هم وائي. مګر اصلي نوم ئې حمزه بن ادرک ؤ. دا دادرک نوم تر اوسه هم رواج لري.

خوارج پهٔ اصل کښې عرب وو. چه سيستان ته راغلي وو. څو دخلافت لهٔ کړاونه ځان وساتي. هلته ئې د حملې دوستان وموندل.

حمزه ته سجستاني هم وائي. ډير ظالم اوبيباکه سړیؤ. پرځان ئې دامیرالمؤمنین نامـه کښېښوده او شاعـران ئې ځان سره ګرځول؛ چه شعر ورته ووائي او ددهٔ جنګي عمليات ثبت کړي. وروسته پر دغه حمزه د حضرت پيغمبر (ص) د ترهٔ حضرت امير حمزه ګومان کېدهٔ. او ددهٔ جنګونه داسې ياديدل؛ چه ګواکې دغه حمزه پهٔ حقه غزا کوي. تراوسه ئې شهرت او نوم پهٔ عامه خلکو کښې دامير حمزه (رض) پهٔ نامه دی. ددهٔ يو د نظم کتاب هم ځای پهٔ ځای موندل کيږي.

حمزه د عيسی بن علي بن عيسی بن ماهان ته ډيره کلکه ماته ورکړه. عيسی دلوت ددښتې لهٔ لارې خراسان ته خپل پلار ته ورغی.

حمزه دسيستان ؤ. دسيستان پهٔ تاريخ کښې راغلي؛ ديعقوب صفاري لهٔ قوله چه عبدالله د سيستان هيڅ سکزيان نهٔ دي ځورولي.

خوارج څنګه چه ئې لهٔ نوم څخه څرګنديږي رټل شوي معنی ورکوي. څو دوئ دمسلمانانو سره لهٔ نفاق او جګړو لاس په سر شول او دا دوه صورته لري. وائي چه لهٔ اسلامه وتلي اوداهم وائي چه لهٔ اسلام نهٔ دي وتلي لهٔ شيعه، سني وتلي څو مهمه خبره داده چه لهٔ عربي هيوادو څخه سيستان ته راغلل. لهٔ دې ځايه ئې دخلافت عـاملان ځغلول. او دافغانستان خاوره شته. دا چه افغانستان نوم کله او څنګه ايښودل شوی؟

دا دافغانستان په ماهيت هويت کښې اغزمن نه دي. چه خلک او ځمکه وي؛ نو واک ئې خپل دی؛ چه کوم نوم پردي؟

زهٔ غواړم چه پهٔ خپلو ليکنو کښې دوه کاره وکړم. دا چه ځومره ئې کولای شم؛ هغه به وروسته ځرګنده شي. لومړی ښائي دپښتنو تاريخ دآسيا او بشري مدنيت په ځپو کښې وځيړل شي. دوهم دا چه بايد د دوئ اصلي خوي او کړهٔ وړهٔ او کرکټر روښانه شي؛ چه پښتونولي وي. اوددغه مطلوب دپاره دصفاريانو دولت چه دمړنو اوميړنتوب دولت دی؛ ځيړل ضروري دي. همدغو دري قومي ځانګو چه کوشان، ييتل او ساک دي؛ مخکښې تر اسلام او وروسته تراسلام دهمدغو ساکو، غلځو، ابدالو خوځښتونه دي چه افغانستان ئې تر اوسه را رسولی دی.

مګر دپښتنو راتلونکی کهول بويه چه يو موتی منظم او پهٔ پښتونولی سمبال کړي. چه دلويديځې نړۍ مدنيت مخ پهٔ نړيدو دی. او هغه دبري لوړې ځوکې ته چه رسيدلي ؤ نور دوام نه شي ورکولای.

مونږ هم خپل موجوديت او ملي مواريث ساتو. نو يعقوب صفار پخپله ساده جامې «خمتا» اغوستې او ساده خوارهٔ لکه دوډۍ او پياوه ځورل. پرلځي کښيناستل او پردال (سپر) ئې ډډه وهله. دی ملک دنيـأ بلل کيـدهٔ چه شا اوخوا هيوادونه ئې تابع وو. يعقوب صفار يوځل بيا کوشاني او ييتلي (يفتلي) امپراتوري پهٔ اسلامي دوره کښې جوړه کړه. دهٔ سخته پاکلمني راوسته. غلا، دروغ او حرام خوړل ئې منع کړل. دميړنتوب او ناميړنتوب ترمينځ ئې کرښه راکښه.

دحمزه دجګړو او يعقوب ترمهال پورې پنځوس کاله تيرشوي ؤ.

دسيستان دتاريخ شرح کښې راغلي؛ ۷۹۵م ابراهيم بن جبرييل دسيستان عباسي والي، ديحيٰ برمکي دزوي فضل ترمشرۍ لاندې دزمينداور (کندهار) زابلستان او کابل ځخه اووهٔ ميليونه لوټ شوي مالونه بغدادته وليږل او دغه مال لهٔ خلکو پهٔ زوره اخستل شوی ؤ.

دصفاريانو دپرمختګ دپاره حالات جوړ شوي وو.

يعقوب په زرنج کښې له خپل پلار او ورونو سره په مسگرۍ بوخت ؤ. مگر داکار ددهٔ دقناعت ور نهٔ ؤ. تل به ئې لهٔ ميړنو سره ملگرتيا کوله. دی يو قوي او غښتلی سړی ؤ.

(۲۰۵ هـ ۸۲۱م) دا هغه مهال دی چه طاهر زواليمنين دعباسيانو له پلوه په خراسان کښې حکومت کاوهٔ.

داچه ځيني خلک بلخ وفرغانه وسغد او ماوراؤالنهر خراسان بولي ؛ هغه وجه داده چه نيشاپور دعربو سياسي او عسکري مرکز ؤ. لهٔ دغه ځايه به ئې چه هرڅومره فتوحات کول مرکز ئې همدا ؤ. چه دايو مؤقتي اداري مرکز بلل کيدهٔ. چه بلخ، باکتر، ماوراؤالنهر، سيستان هريو ځانته يو تاريخ، کلتور او حدود لري.

طاهريان خپلواک نهٔ وو. چه باج او خراج ورنهٔ کړي. يادبغداد خلاف توره پورته کړي. او دعې کورنۍ پنځوس کاله ولايت کړی او خطبه ئې دبغداد دخليفه گانو پهٔ نامه لوستي ده.

طاهريانو وروسته پهٔ ظلم لاس پورې کړ او خلک ترې پهٔ عذاب وو. مگر صفاريانو دهغوئ ستې وايستې او يعقوب ورپسې خراسان ته ورغی.هلته ئې خپله مشهوره خبره وکړه چه خلکو ورته وويل: که دخليفه په فرمان راغلي ئې؛ هغه مونږ ته وښايه. او کهٔ پهٔ خپله راغلي ئې واپس لاړ شه!

يعقوب وويل: فرمان لرم . سبا ئې تاسو ته ښيم.گړ خلک سبا پرهغه ځای چه يعقوب سودلی ؤ ؛ سره غونډ شول. څو فرمان وگوري. بيا اطاعت وکړي. يعقوب ودريد اوخپل حاجب ته ئې وويل : فرمان راوړه ! حاجب پهٔ يوهٔ هوار لوښي کښې چه پټنوس غوندي ؤ او يو وريښمين دسمال پرې پروت ؤ ؛ ديعقوب حضورته وړاندې کړ. يعقوب، خلکوته وښوده چه دغه زما فرمان او منشوردی؟ کهٔ څوک ئې نهٔ مني؛ وړاندې دې راشي.

ايا خليفه بې لهٔ تورې چا پهٔ حلافت کښېنولی دی ؟

دسيستان پهٔ تاريخ او نورو تاريخو کښې داخبره راغلې او دراتلونکي کهول د پاره

دمیړانې یوه نمونه شوه . خوشحال وائي:

پښتانهٔ که بل څهٔ د فکر کا ناپوه دي بې لهٔ توري خلاصی نشته پهٔ بل کار

دسیستـان تاریخ چه لیکوال ئې پیژندل شوی نهٔ دی؛ لکه پټه خزانه ډیرې تیارې رڼاکوي ځکه تاریخ پهٔ قصو بنأدی او قصې جوړیدای شي.

ښه بهداوي چه د صفاریانو پهٔ برخه کښې دسیستـان لهٔ تاریخهٔاصلي خبرې او مطالب را واخستل شي. کهٔ څهٔ هم گردیزي - مسعودي ، طبري او نور تاریخونه مطالب لري ؛ چه دصفاریانو دبشپړ تصویر د پاره به تري گټه واخستل شي.

مخکښې مو ویلي دي چه سیستان پهٔ اصل کښې ساکستان دی اوصفاریان سکزي دي. خوځنگه چه هغه دعربو دین؛ ژبه او فرهنگ پرتهولې سیمې خپور ؤ ؛ نوکوم نوم چه دوئ دساکستان ملي دولت ته ورکړ؛ هماغه مشهور شو.

داخبره چه خوارج یا دخلافت غلیمان؛ دپناه او مبارزې د پاره لهٔ کوفې اونورو عربي سیمو څخه سیستان ته راتلل او دلته به خوندي کیدل . پخپله دڅیړنې وړده؛ چه دغه مسایل ترې څرگندیږي.

۱- داقتصادي وضع ښه والی

۲- دخلکو میلمه پالنه

۳- دعقیدې آزادي

پهٔ پای کښې دخوارجو جرړې چهدبغداد خلافت نهٔشوې ایستلی؛ یعقوب وایستلې. همدغه سبب ؤ؛ چه خلافت پهٔلومړي سرکښې لهٔ یعقوب څخه خوښي څرگندوله.

یعقوب به پیاز او وچه ډوډی لهٔ ځان سره گرځوله. چهاصلي خوراک او حالت هیرنهٔ کړي . دهٔ دیوهٔ سپاهي تنخوا اخستلهاو معتمد به چهغړوکړ؛ یعقوب! دی به ورغی او هماغهدیوهٔ سپاهي مقرره تنخوا به ئې واخیسته چه پهٔدې صورت کښې ددهٔ مقام دخلکو پهٔ نظرکښې لوړ ؤ.

# ساک ،ساکستان، سکیستان سیستان

تاریخ پوهان پهٔ ښکاره داخبره کوي چه ساکو خپل نوم خپلې سیمې ته ورکړ چه ساکستان شو. عربو سجستان وبالهٔ. فارسیانو سیستان کړ.

مونږ چه لهٔ ساکو پاتې شوي وګړي یو؛ دعربو ژبه وکړو کهٔ دفارسیانو؟ مونږ بویه هغه بیرته ساکستان کړو.

ساک یولوي نوم دی. دومره لوي قوم تیرشوی؛ چه څوک ئې تصورنهٔ شي کولای دغه ملي تاریخ کښې به ساک وپیژندل شي.

دساک نوم تر آرین ، آریانا ، آریائي خورا روښان او پیاوړی دی.

| | | |
|---|---|---|
| ساک | ساک | ساک |
| ساکستان | سکاندر | ساکزي |
| ساکانشاه (اعلیحضرت) | سکندر | سکزي |
| ساکسون | سکاوند | میرنتوب |
| سکسینا | سکمش | عیاري |
| سکاټلنډ | ساک قوم | پښتونولي |
| | ساک سیمه | |

دغه نومیالی قوم یوډیر لوي پیاوړی پښتون قوم دی؛ چه دبشر پهٔ مدنیت کښې لویه برخه لري.

دصفاریانو دولت پهٔ ساکستان کښې یوډیر پرمختللی دولت ؤ؛ چه پهٔ هغه سویه بیا پهٔ اروپائي ځینو سکاندویائي هیوادوکښې لیدل کیږي.

سکاندیناوي هیواد هماغه دساکستان پهٔ ارتباط تولنیزې ښېگړې اودهوساینې پروگرام لري؛ چه پهٔ نهمه پیړۍ کښې ساکستان یا سیستان درلودې.

نودسکاخیړنه دومره لنډه نهٔشي کیدای. مگر دا به‌یوه سریزه وي. صفاري دولت پهٔ حقیقت کښې سکائي دولت‌دی. ددغه دولت پهٔ برخه کښې څیړنه نهٔده شوې. اخلاق اوکړهٔ ئې یومثال دی.

یعقوب، شاه‌محمود هوتک ،احمدشاه بابا چه ځلمي پادشاهان وو؛ دپاکلمنۍ شهرت‌لري. هماغه دی‌چه یعقوب دبغداد خلیفه ته وویل: چه‌تهٔ شپه او ورځ شراب اولهٔښځو سره معاشرت‌کوې اوزهٔ شپه او ورځ یوسل اویا رکعت لمونځ کوم. تهٔ مسلمان‌شوې او زهٔ مسلمان نهٔ شوم. یعقوب‌د دهٔ ترمخه‌توره وایسته او وئې ویل: چه زما اوستا ترمینځ به‌دغه تورفیصله کوي. زما اوستا ترمینځ دغه توره ده. یابه تهٔ ئې یا زهٔ کهٔمړ شوم تهٔ به زما لهٔغمه‌خلاص اوکهٔژوندی وُم ؛ ددغه تورې په ژبه به خبرې وکړم.

سیستان دخلافت پرخلاف دملي او خارجي غورځنگو یو پیاوړی مرکزؤ. څنگه‌چه آرنورلډ ټاین بي وائي‌چه دکوشان او پارت ترمینځ لوی سیاسي توارث شته. دغسې سیاسي اوټولنیز توارث‌دافغانستان پهٔ تاریخ کښې شته. ساکستان هم مخکښې تر اسلام دکوشاني او یفتلي امپراتورۍ ځای نیولی او پهٔدریمه اسلامي پیړۍ کښې ئې یبا خپل‌خاص مقام‌حاصل کړ. چه ساکزیانو پهٔ ساکستان کښې دغه امپراتوري پهٔ اسلامي نړۍ کښې ژوندۍ کړه.

ددې دپاره چه مغالطه رانهٔ شي؛ دصفاریانو پرځای ساکزیان او دسیستان پرځای ساکستان وایو. چه اصلي او حقیقي څیره خپله کړي.

ساکستان دهیرمند درود لهٔبرکته دومره ښېراز او ودانؤ ؛ چه ټولو شاوخوا هیوادوته ئې غله اودانه لیږله. چه دآسیا کندو بلل کیده.

ددغه هیواد دعایدا و مصرف بوهبیلگه پهٔلاس راغلي او دخوښي ځای دی چه‌ډیرو

هیوادوکښي دغه استعداد اوس شته.

اوس چه سوئ ښاريه پهٔ ساکسّتـان کښې څرګنده شوې ؛ درې زره کاله مخکښې ترمـيلاده يو مـدنيت ښيي. چه پهٔ فلزکاري او نساجي، رنګول، کرنې او مـالداری پوهيدل. چه دسند دحوزې خصوصيات لري لهٔ کلدې او آشور سره يو شاني دي.

ابن حوقل پهٔ ۳٦۰هـ کښې سيستان لويه سيمه بولي؛ چه پراخ نعمت اوخواړهٔ پهٔ کښې وو او خلک ئې مارهٔ وو. ابن حوقل دخلځ، کابل، غور خلک دښو خلکو پهٔ نامهٔ يادوي. دزرنج ښار ديارلس دروازې درلودې او دغومره بازارونه.

دساکستان دعوايدو اومصارفو يو شمير ابن حوقل بيانوي؛ چه دغه وخت سيستان پهٔ خپل اوچت مهال کښې نهٔدی. مگر لهٔ دغو اعدادو او شمشيرونو نه دساکستان ښهای والي او نعمت څرګنديږي. او هم اداري تشکيلات چه پهٔ هرصورت دتاريخپوه دپاره دکار وړ دي.

ابن حـوقل وائي: دسـيـســتـان او الرخج کندهار پرته بست يو مليـون دينار خـراج مسلمـانانوته ورکـاوهٔ او دری سوه زره ورق يعنې دزروسکې. بست يو لک دينار اتيا زره ورق يعنې دزروسکې او دغه اندازه لږه ده ؛ ترهغې چه مؤرخ يعقوبي ياده کړې ده.

ځينې دسيستان خراج درې نيم ميليون درهم ليکي. پهٔ سيستان کښې لوړه نهٔوه .

۱ – مـصـرف دښـار چاپيرددېوالونو جوړوي: يوسل اوشل زره درهم ( ۱۲۰۰۰۰ درهم)

۲ – دهغو ځمکو دآبادولو دپاره چه سيلابو وړې وې ( ٤۰۰۰۰درهم).

۳ – دولاياتو دښارونو دجوړولو دپاره ( ۵۰۰۰۰ درهم)..

٤ – دبنديانو دساتلو ديارد ( ۲۰۰۰۰ درهم).

۵ – دحوماتو دپاره، دخادمانو، قاريانو او امامانو دپاره ( ۳۰۰۰۰ درهم).

٦ – دجاسوسانو او عريفانو څوک چه خلک پيژني. ددوه منه دوډی پهٔ اندازه او پهٔ روزه کښې ۲۰ درهم هره ورځ ورکول کيدل.

۷ – دولايت دمؤذنانو دپاره ( ۲۰۰۰۰ درهم).

۸ – د ناروغتونو ديارد ( ۱۰۰۰۰ درهم).

۹ – ديوليسو، والي او شرط دپاره ( ۳۰۰۰۰ درهم)

۱۰- دعدليې دپاره (۵۰۰۰۰ درهم).

۱۱- دامنيت دپاره (۲۰۰۰۰ درهم).

۱۲- دعامه گټو دپاره لکه پلونه؛ لارې، کاروانسرايونه (۳۰۰۰۰درهم).

۱۳- هرکال لهٔ پنځه سوو تر زرو پورې مرئيان اخستل کيدل او آزاديدل.

۱٤- ټول هغه مسافر يادنورو سيمو خلکوته چه لاروکښې وو؛ خوراک ورکول (۲۰۰۰۰ درهم).

۱٦- دزړو نارينهؤ، ښځو، بې وزلو او خوارانو دپاره صدقه ورکول (۲۰۰۰۰ درهم).

همدغه دصفاريانو دولت دمېړنو يا پښتونولۍ دولت ؤ. لکه چه ومولېدل دميلمنو پاللو دولتي بنسټ مونږلې وه. چه مسافروته خرڅ او ډوډۍ ورکول؛ لهٔ هر لوري چه راغلي ؤ؛ ناروغان او بنديان ساتل. دبوډاگانو، ماشومانو، ړندو، گوډو او نورو معيوبينوته ددولت لهٔ خزانې خرڅ ورکول؛ لهٔ هغو کسانو چه عايدئې لهٔ ۵۰۰ درهمو لږ ؤ؛ ماليه نهٔ اخستل؛ ټول هغه مسايل دي چه پهٔ لويديځ کښې ورته وېلفير سيستم وائي. يا رفاهي اصول بلل کيږي.

مونږ چه دصفاريانو پردولت خبرې کوو؛ دايوه خوانهٔ لري. صفاريان دافغانستان لومړنی اسلامي هيواد دی. سيستان چه پهٔ اصل کښې ساکستان دی؛ دافغانستان ډيره برخه احتوا کوي. دوئ سکزي پښتانهٔ دي.

دسيستان تاريخ ډير مواد پهٔ لاس راکوي. مگر کومه خبره چه طبري کړې؛ دډير اهميت وړده؛ چه داباسين او آمو ترمينځ سيمه سيستان دی. پهٔ تاريخ کښې ډير ټکي شته چه بويه روښانه شي. لهٔ هغې جملې دترک مسأله ده؛ چه لهٔ خلج سره يوځای ياديږي او دوئ پښتانهٔ دي. ځکه چيرته چه کابل او غزني ياد شي؛ بيا د خلج او ترک خبره هم راشي؛ چه پيوونده خلک دي او پهٔ ټول هيواد کښې يون لري.

دصفاريانو پهٔ برخه کښې عادي تاريخ هم بيانيدای شي. مگر دلته مطلوب ملي تاريخ دی؛ چه مونږ لهٔ هغهٔ ځخه ديوهٔ ملت اوهيواد دساتلو او پاللو تاريخي وظيفه لرو.

# پارسي، فارسي یا دري ژبه

مخکښې مودې خبرې ته اشاره وکړه چه دافغانستان دصفاريانو دوره دشرق په تاريخ کښې يوه ډيره مهمه دوره ده.

له هغې لړې يوه هم فارسي ژبه ده. مخکښې له هغه دفارسي ژبې کومه نسخه نشته او دسيستان تاريخ دغه مطلوب ته داسې اشاره کوي: دسيستان دتاريخ ۲۰۹ مخ کښې راغلي چه خوارجو ديعقوب له لاسه ماته وخوړه. يوه شاعر په عربي ژبه ديعقوب صفار ستاينه وکړه. يعقوب وويل: په هغه څه چه زه نه پوهيږم؛ ولې ويل کيږي؟

ددربار خلک وډار شول. محمد بن وصيف چه درسايلو ليکونکی او اديب سړی ؤ؛ په فارسي شعر ئې ديعقوب په ستاينه کښې ووايه. « وبدان روزگار نامهٔ فارسي نبود » «واولين شعر اندر عجم اوگفت».

ديعقوب ستاينه په فارسي شعروشوه.

دسيستان تاريخ په ۲۱۲ مخ کښې داسې ليکي: « بازمحمد بن مخلد هم سکزی بود مرد فاضل بود وشاعر، نيز پارسی گفتن گرفت و اين شعر رابگفت: » محمد بن مخلد چه پخپله سکزي هم پارسي پيل کړه « پارسي گفتن گرفت »

يعنی تر اوسه ئې نه ويله اوس ئې شروع کړه.

همدغه دپارسي ژبې پيلامه ده. دپارسي دادب په تاريخ کښې همدغه شعر بلل شوی چه ديعقوب ستاينه په کښې شوې او ځينې نور دحنظله بادغيسي شعر لومړی پارسي شعر بولي. چه هغه هم همدغه پيړۍ او همدغه ځای دی.

نو دپارسي ژبې پاتوبی ايران نه دی. افغانستان دی. که لومړنی شعر حنظله ويلی وي يامحمد بن وصيف؛ په دواړو صورتونوکښې دفارسي زيږون افغانستان کښې

دی.

داسې بريښي چه پارسي په يوه توګه شتون درلود. مګر دساکستان اوسکزيانو ژبه نهٔ وه. ځکه دسيستان تاريخ پهٔ تعجب سره دغه خبره کوي چه محمد بن مخلد سکزي هم پارسي ژبه پيل کړه؛ چه دري هم بللای شي.

وروسته لهٔ صفاريانو،غزنويانو فارسي وروزله او هغه ئې هندته ورسوله. بيا غوريانو اوسوريانو هم دليک او ادب دپاره پهٔ کاروله. فيروز شاه سوري پهٔ پښتو مين ؤ. دخورشيد جهان پهٔ قول ددهٔ دربار کښې پښتو ويل کيده. مګر خلکو ليک پهٔ فارسي کاوهٔ.

مغلو نوره هم پياوړې کړه. دري يا فارسي ژبه چه پياوړې او ګړندۍ شوه بيا نو ايران خپله رسمي ژبه کړه.

يعقوب صفار وروسته لهٔ دغې پيښې عربي ژبه لهٔ دفتر اوديوان څخه وايستله امرئې وکړ چه هېڅوک به عربي نهٔوائي او نهٔ به ئې ليکي.

عربي پهٔ نهمه ميلادي پيړۍ کښې پهٔ ساکستان کښې څرګنده شوه. وروسته لهٔ يوهٔ اوږدهٔ سفرنه ايران ته ورسيده. دايوه تاريخي پيښه وه چه وروسته لهٔ هغهٔ ترې د پښتنو پهٔ ژوند منفي آغيزې جو تې شوې. دا مهال پښتانهٔ اتکلي څلويښت ميليونه دي (افغانستان، پښتونخوا، بلوچستان او سند) ډيره پراخه ځمکه لري. مګر پښتو رسمي او دولتي ژبه نهٔده.

دادهمغې يوې ورځې چه پهٔ زرنج کښې ديعقوب ستاينه پهٔ عربي ژبه شوې وه او محمد بن وصيف سکزي ديعقوب دخوشحالولو دپاره يو زبردسته مبالغه لرونکی شعروواية؛ چه څو بيته ئې دادي:

ای اميری که اميران جهان خاصه وعام
بنده وچاکرومولای وسگانند وغلام
ازلی خط ورلوح که ملکی بدهيد
بی ابی يوسف يعقوب بن ليث همام

بلتـام آمـد زنبـيل ولتی خـورد پلنگ
لتـره شـد لشکر زنبـيل وهبـاگـشت کنام

لمن الملک بخـواندی تـوامـيـرا به يقـين
باقليل الفـيـه کـه زاد وران لشکرکـام

عـمـر عـمـار تراخـواست وزوگـشت بری
تيغ توکـرد مـيـانجی بميـان ددودام

عـمـراونزد تـوآمـد چونـوح بزی
دراکـارتـن اوسـراوبـاب طعـام

پاسنی شعرډير وران دی؛ مگر لومړی ثبت شوی شعردی. په پارسي کښې کوم بل فارسي شعر چه عبدالله سجستاني (ساکستاني) وائي مادحنظله بادغيسي په ديوان کښې لوستی يو روايت دی او داشعر يو واقعيت دی. نوکولای شو همدغه شعر دفارسي لومړنی شعر يا ليکلې نسخه وبولو. خو له همدغه وران شعرسره دتاريخ بهير واوښت. دادی تراوسه ئې نه شوراګرځولی.

داکار په هغه مهال کښې دعربو خلاف يون ؤ. مگر که سکزو خپله ژبه ويلی وای او غزنويان ياد (افغانشاٖن) له مرکزه دپارسي پرځای پښتـو روزلې وای؛ اوس به دسيمې بڼه بله وای. موڼږوينو پارسي تپل شوې ژبه وه. نه په سند او نه بايد کابل کښې پاتې شي. په ترکئې کښې فارسي «رسمي ژبه وه». اوس دافغانستان له ډيرو سيمو څخه دوتو په حال کښې ده. په ماوراءالنهرکښې يوازې تاجکستان او په نورو هيوادو کښې يوازې ايران کښې پاتې شوه.

په ۱۹۹٤م ايران هڅه وکړه چه په کابل کښې درباني مسعود له ورکوتي حکومت سره دفارسي ژبې حوزې په نامه د ايران، افغانستان، تاجکستان ترمينځ يووالی راشي چه يوځل بيا ازبکستان، او ترکمنستان، پاکستان او هندکښې وغځيږي. دايران دپاره يو خوږ خوب ؤ. چه له استانبول څخه نيولې ترډهلي پورې فارسي رائج وي. مگر بيا

هسې نه کيږي. هغه مهال ، فارسي يوه داسې ژبه نه وه چه يو ملی حکومت ئې دناسيوناليزم په ځيرتر شاولاړ وي.

اوس دايران امپراتوري يادترکانو پان ترکيزيم تحقق نه شي موندلی. دهغهٔ وجه دا ده چه ايران او ترکيه هغه سياسي، نظامي، اقتصادي او علمی وسه نه لري؛ چه دومره لوي چارترسره کړي. کوم بل شعر چه گومان کيږي دفارسي لومړنی شعر دی، هغه به د «عروضي ثمرقندي» په چهار مقاله کښې راغلي؛ هغه به هم ذلته راوړو چه هغه دادی:

عبدالله خجستانی (ساکستانی) چه لهٔ صفاريانو سرهوران شو او خراسان ئې خپل کړ. چادی وپوښتيدهٔ؛ تاخو خرهٔ پول ځنگه دې دخراسان اميري ترلاسه کړه ؟ دهٔ وويل: په بادغيس کښې مې يوه ورځ دحنظله بادغيسي ديوان لوست؛ چه دغو دوو بيتوته ورسيدم:

مهتري گربکام شيردر است
شوخطرکن زکام شعر بجوی
يابزرگی وعزونعمت وجاه
ياچومردانت مرگ رويا روی

ددې پرځای چه دا دوه بيته په پښتو واړول شي ښه به داوي چه دخوشحال ختهک دوه بيته راوړل شي. چه هم مطلوب ادا شي او هم د خوشحال شعر ولوستل شي:

مردان خپل هوډ نه پريږدي لهٔ لاسه
کهٔ ئې سر شي دخوني زمري ترزامه
په جهان دننگيالو دي دا دوه کاره
يابه وخوري ککرئ يابه کامران شي

ـ کهٔ دپارسي ژبې همدغه عمروي بيا خو پښتو دپتې خزانې پهٔ وينا ترهغهٔ دمخه ده چه دامير کروړ جهان پهلوان حماسي شعردی.

زهٔ یم زمری پردې نړی له ما اتل نسته
پهٔ هندو سندو پر تخار او پر کابل نسته
بل پهٔ زابل نسته لهٔ ما اتل نسته
غشی دمن مې ځي بریښنا پر میرڅمنو باندې
پهٔ ژوبله یونم یرغالم پر تښتیدونو باندې
• پهٔ ماتیدونو باندې لهٔ ما اتل نسته
زما دبریو پرخول تاویږي هسک پهٔ نمنځ او پهٔ ویاړ
دآس له سوومې ځمکه ریږدي غرونه کاندم لتهار
کړم ا یوادونه اوجاړ لهٔ ما اتل نسته

ځینې پښتانهٔ لیکوال د پټې خزانې د کتاب چه محمد هوتک د شاه حسین هوتک پهٔ پادشاهی کښې لیکلې؛ شک ښیي. د دې لیکوال پهٔ ګیروهه تاریخ د ثبت خبره ده. دسیستان د تاریخ لیکوال څرګندهٔ دی او پهٔ ایران کښې ملک الشعراء بهار. موندلې پټه خزانه پهٔ افغانستان کښې پوهاند عبدالحئ حبیبي دواړو هغه تولنې ته پهٔ خپل مسؤلیت وړاندې کړې او تولنې منلې ده:

دصفار یعقوب پهٔ برخه کښې «هنګامهٔ تاریخ» لیکي چه یعقوب خپل نسب ساسانیانو ته رسوي او دا رواج شته چه ځینې خلک خپله شجره پادشاهانو ته رسوي مګر یعقوب تر هغوئ لوي سړی ؤ؛ چه دی ځان هغوئ ته منسوبوي. سلطان محمود غزنوي دځان پهٔ باب یو څهٔ وائي مؤرخین بل څه.

تر هغه ځایه چه لیدل کیږي دمؤرخینو خبره منله شوې ده. یعقوب سکزی ؤ او سلطان محمود د مور له خوا پښتون او ددهٔ پلار سبکتګین دساماني دولت یو منصبدار ؤ چه غلام هم ؤ.

مګر داچه سبکتګین دیوې جرګې لهٔ خوا ټاکل شوی؛ دا ددهٔ دشخصیت لهٔ مخې ؤ چه داکار پهٔ افغانستان کښې دیر ځله شوی دی.

لهٔ همدې کبله ویل کیږي چه پښتون دنژاد نوم نهٔ دی. میرانه، نارینتوب او پښتونولي ده. یعقوب، سبکتګین، پیر روښان او نور داسې مثالونه شته چه دغه مدعا ثابتوي

خوشحال وائي:

مردان خپل هوډ نه پريږدي له لاسه

کهٔ ئې سرشي دخوني زمري ترزامه

بيا وائي:

پهٔ جهان دننگيالو دي دا دوه کاره

يابه وخوري ککرۍ يابه کامران شي

لهٔ دې بحث څخه څرگنديږي چه افغانان ميړانه غواړي. نهٔ نسب او نژاد.

يعقوب ليث خوارج مات کړل. کابلشاهانوته دجگړې دپاره ورغى. ځکه چه هغوئ ددهٔ مخالفينو ته پناه ورکړې وه.

دسيستان لهٔ تاريخ څخه داسې ښکاري چه کابلستان، گرديز او زابلستان کښې هرځای يوه پادشاهي وه.

کابل کښې رتبيل شاه، زابل کښې فيروز بن کبک اوگرديز کښې ابو منصور افلح بن محمدۀ. دلته دفيروز بن کبک او ابو منصور افلح لهٔ نومو څخه ښکاري چه دوئ مسلمان وي. پوآزې کابلشاه هان رتبيل اوزنبيل تردغه وخته پرخپل زاړهٔ دين وو.

کومې سوبې چه يعقوب دکابلشاهانو اوخوارجو پهٔ ايل کولو کښې وکړې؛ خلافت خوشحال ۇ او خليفه چه پهٔ دومره زمانه کښې پر خوارجو اودکابل پرپادشاهانو برى نهٔ ۇ موندلی او کلک تلفات ئې ليدلي وو؛ نو يعقوب ليث ته ئې ددغو فتوحاتو مبارکي ورکړه او امر يې وکړ چه ديعقوب نوم پهٔ خطبو کښې وويل شي او پهٔ عربستان کښې ئې د دهٔ نوم لوړ کړ. چه داسلام يوه پايه ده. مگر د يعقوب ليث جوړه رانهٔ غله. خراسان او فارس ئې دخپل هيواد برخه وگرځوله.

PROPERTY ACKU 23609

# يعقوب كوم اصول مونږ ته پريښودل؟

پښتانهٔ د تاريخ پهٔ رڼا کښې ديعقوب ليث صفار پهٔ لښکرو کښې دغلځو او نورو پښتنو ذکر کوي چه داسلام دخورولو پهٔ برخه کښې ئې پهٔ غزني ، کابل او دگنداهارا پهٔ نورو سيمو کښې هڅې کړې دي.

دپښتنو او صفاري کورنۍ تعلق يوه ثابته خبره ده. پښتانهٔ دتاريخ پهٔ رڼا کښې داهم ليکي چه دغزني ښار ديعقوب لهٔ خوا جوړ شوی؛ نو دغزني گرد چاپير او پهٔ غورکښې همدغه پښتانهٔ مېشت وو.

ديعقوب او پښتنو پهٔ دې هم جوړه وه چه پښتونولي دځوانمردۍ تنظيم شوې برخې دي. يعقوب هم يو ځوانمرد ؤ اوپهٔ ځوانمردۍ ئې خلک پرځان راټول کړي؛ يعقوب خپلو ټولو دښمنانو ته پناه ورکړې ده . دغه کار احمدشاه بابا هم کاوهٔ. يعقوب ساده ژوند کاوهٔ. احمدشاه بابا هم کاوهٔ. دغه راز پهٔ زرهاؤ مثالونه نور موجود دي چه يعقوب دخوي او خصلت لهٔ مخې پرپښتونولۍ ولاړ سړیؤ. لهٔ دې نه داڅرگندېږي چه دميړانې او نارينتوب خپلول پښتونولي يا افغانيت يا افغانولي ده.

مونږ پهٔ تفصيل سره گورو چه دصفاري دولت اصول تر اوسه پهٔ افغانستان کښې لکه دمظلوم حق اخستل، پرښځو تعرض نهٔ کول، دميلمه عزت ساتل او نور عيناً تر اوسه موجود دي. دغه عالي خويونه پخوا هم موجود وو. خو ديعقوب او صفاريانو دولت پهٔ همدغو اصولو ولاړ او چليدهٔ . کهٔ مونږ لومړنی افغاني ملي نهضت وروسته تر اسلامه وگورو؛ پهٔ حقيقت کښې يو افغاني دولت پهٔ همدغو اصولو جوړيدای شي.

د شاه محمود ، شاه اشرف ، احمدشاه بابا پهٔ کړو وړو کښې دغه د ميړانې او نارينتوب اصول گورو. برم او جلال هم ددویؤ ؤ؛

# DE AFGHAN MELI TARIKH

Author:
**Qudratullah Hadad "Farhad"**



وزیر محمد اکبر خان

په نولسمه پیړۍ کې
جزائیل توپک
توره
نیزه
موزې
او
کالي
داټول په افغانستان
کې جوړ شوي وه.
په شلمه پیړۍ کې
امریکا یې زاړه کالي
او هرڅه بهرني شول
او یوې ستنې ته اړوو.

Published By:

Sapi's Center for Pashto Research and Development
Add: Flate Number 409, 4th Floor, Gulhaji Plaza, University Rd., Peshawar.
Ph. & Fax: 091-5704506
email: scprd@psh.paknet.com.pk

میرویس کتاب پلورنځی
بوردناصرباغ سرک، اوله‌کوڅه دریم‌اوڅلورم نمبر
دوکانونه تیلیفون:۰۲ ۰۹۱۵۸۵۲۳، موبائل:۰۳۳۳_۹۱۸۲۶۹۷